صحرایی دہ اِنَّ الْبَقَرَ عَلَيْنَا بے شکہ داغوا چہ دہ گدہ وہ سوی دہ پرموږ باندے ځکہ چہ شر پرے او ځوانے غواوی ډیرے دی وَاِنَّآ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ او بیشکہ موږ چہ یوکہ دخدای اراده وے لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۷۰﴾ خانخا لاره پیدا کونکے یوو دے غوا اوو دے قاتل تہ په حدیث شریف ځکنی راغلے دی چہ کہ یے ان شاء الله نه وای ویلے نو هیڅکله به یے داغوانه ولے پیدا کړی قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ نو موسےٰ ووېل چہ بیشکہ چہ خدای وایی اِنَّهَا بَقَرَةٌ چہ بیشکہ دایوه غوا ده لَّا ذَلُوْلٌ چہ نه داسے کارنده ده تُثِيْرُ الْاَرْضَ چہ ځکہ اړوے وَلَا تَسْقِى الْحَرْثَ او نه اوبه کوی په ارهټ سره کښت مُسَلَّمَةٌ ساتلے سوی ده دکار رویا د عیبو یا د رنګو رنګو څخه لَّا شِيَةَ فِيْهَا نسته هیڅ مخالف رنګ ددے ژړ رنګ سره په دے کښی قَالُوا الْئٰنَ بیا دوی ووېل چہ اوس جِئْتَ بِالْحَقِّ ط ته راغلے په حق سره او په رشتیا سره اوغوا دې و موږ ته بنکاره کړه روایت دے چہ په دوی کښی یو سړی وو د پرصالح وو او دده یوکوچنے زوی اویوه پے گیلگی وه چہ مرکیدے نو د اگیلگی پے په ځنګل کښی ایله کړه او سوال یې وکړے وړب تہ اللّٰهم انی استودعتها حتے تکبر یعنے اے ربه داگیلگی می پرتا امانت کړه ددے خپل زوی د پاره ترڅو چہ لوئیږے او بیا غوا سوه چہ مذهبه یے نوم وو او دوی ځنی راښوه په دومره پیسو سره چہ ددے څرمن په ډکیږے ځکه چہ بله غوا په دی صفت سره په هغے ملک کښی نه وه فَذَبَحُوْهَا نو داغوا دوے حلاله کړه وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۱﴾ او دوی نه وه نژدے وو دی ته چہ داکار وکړی په سبب د ډیر قیمت ددے یا د بیرې د بے شرمی د قاتل په بنکاره کیدو سره او ددے قصی سر په اخر کښی بیان سوی دی چہ هغه دادے وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا او یاد کړی هغه چہ تاسی یوسړی مرکړی فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا نو بیا تاسی پخپل مینځ کښی

سره په جنګ سواست په هغه مړے کښې چه هریوه به وهغه بل ته ویل چه تاوشړلے دے وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا اوحال داچه خدای ښکاره کونکے وه دهغه شی كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿۷۲﴾ چه واست تاسی چه تاسے پټاوی هغه شی چه دقاتل د عامیل وه فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ نو موږ ورته وویل چه تاسی دامقتول ووهے بِبَعْضِهَا ؕ په یوه توته سره دبدن د ے غوا چه هغه شړ به یا غوږ یا لکه وه د هغے نوهغه مقتول پے په وواهے نوهغه شړوندی سوا وخپل قاتلان ویے وښول چه دوا ډه ویے خپل ورپرونه وه او بیا هغه نے الحال مړسو نوبیا پروردګار وایے كَذٰلِكَ هغداسے لکه عامیل چه ویے شړوند ے کړے يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى لاشړوند ے به کړے خدای مړی په قیامت وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ اودربنیې وتاسے ته ښے دخپل قدرت لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۳﴾ بنایې چه تاسے عقل وکړے ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ نوبیا وړوسته ترهغه بیا سخت سوه زړونه ستاسے مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وړوسته ترشړوند کیدو د عامیل یاوړوسته تردے ا یا تو او معجزو چه مخکے ذکر سوی دی فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ نوداډ زړونه داسے دی لکه د ډبرے په سختی کښې اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ بلکه ډیر سخت دے تردے د ډبری هم په قسوة "سختی" کښې حُکه چه وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ او بیشکه بعضی د تیږو څخه چه دے لَمَا يَتَفَجَّرُ خامخا هغه دے چه راڅټکیږے او بهیږے مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ دهغے څخه لوے وَ لَ وَاِنَّ مِنْهَا اوبیشکه چه بعضی دد ے تیږو څخه لَمَا يَشَّقَّقُ خامخا هغه دے چه وچوی فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ نوده هغے څخه اوبه ساروونړی یعنے چینی وَاِنَّ مِنْهَا اوبیشکه بعضے د تیږو "ډبرو" څخه لَمَا يَهْبِطُ خامخا هغه دے چه راګیله سی دغره د سر څخه مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ د ډبرے څخه د خدای وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اوخدای نه دی ناخبر عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ د هغه کارو څخه چه تاسے یې کوے اے یهودو اَفَتَطْمَعُوْنَ ایا تاسے طمع کوی اے مؤمنانو اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ ؕ د ے چه دا یهود به باور وکړے ستاسی په ویلو

سره یعنی ستاسے په دعوت سره به ایمان راوړے وَقَدْ كَانَ اوحال داچه په تحقیق سره وه دموسےٰ په زمانه کښی فَرِيقٌ مِّنْهُمْ یوڅوله دوے دڅومه څخه يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ چه دوے به بے واسطے کلام دخدای په کوه طور کښے چه مشتمل وو پر راز اوپراحکامو اوسرے ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ بیا - ترهغه وروسته بیے داحکم په بل شان سره کړے مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وروسته تر هغه چه دعقل په کال سره بیے وفهماوی یعنے چه دوی به بیا وخپل قوم ته راغله نو دوی ته به ویے وویل چه موږ پخپله دخدای کلام واورېدے او اوامر اونواهے دده مگر په اخر کښی بیا رب داسے وویل چه که څوك طاقت لرے نو په دے اوامرو اونواهیو سره عمل کوی اوکه طاقت نه لرے نو مهه یے کوے معاف یاست یامعنے داچه دوے تورات اوری اولولی یے او وروسته تر کمال فهم بیا تحریف پکښی کوے لکه درجم ایت یا نعت درسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ (۷۵) اوحال داچه دوے به پوهیده چه دا افتراء ده پرخدای وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اوچه پیښ سے دامنافقان چه په دوے کښی دے پرمؤمنانو اصحابو قَالُوْٓا اٰمَنَّا نو دوے وایی چه موږ هم ایمان راوړی دی وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اوچه بیل اوجلاسے بعضے ددوے چه کشران دے اِلٰى بَعْضٍ دبعضو نورو سره چه مشران دے لکه کعب بن اشرف اوحیی بن اخطب قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ نو دامشران وایی چه ایا تاسے حال وایاست او اظهار کوے واصحابو ته بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ په هغه خبرو چه خدای دهغه دعلم دروازے پرتاسے خلاصے کړی دے چه هغه نعت درسول صلے اللہ علیہ وسلم دی په تورات کښے لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ ددے دپاره چه جهگړه اوحجت بازی وکړے اوحجت ونیسی پر تاسے په هغه خبره چه دتاسے څخه یے نه ده کړے وی عِنْدَ رَبِّكُمْ ځ په نزد درب ستاسے دقیامت په ورځ چه حق وتاسے ته معلوم وو په تورات کښی نو تاسے ولی

عمل نه په کاوے اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾ نو ایا تاسے عقل نه کوے چه دښمن ته
حجت په لاس کښے ورکوے اَوَلَا یَعْلَمُوْنَ ایا دا یهود نه پوهیږے اَنَّ اللّٰهَ
یَعْلَمُ چه بیشکه خدائے پوهیږے مَا یُسِرُّوْنَ په هرهغه شیا نو سره چه دوی
پټوے چه هغه د رسول علیه السلام سره عداوت دے وَمَا یُعْلِنُوْنَ ﴿۴۴﴾ اوپه هغه
شیا نو سره چه دوے په ښکاره کوے چه هغه دوستے ده د رسول علیه السلام سره
وَمِنْهُمْ اُمِّیُّوْنَ اوبعض دده یهود یا نو څخه نا خواندهٔ اوجاهلان دے لَا یَعْلَمُوْنَ
الْکِتٰبَ چه په تورات الله پوهیږے اِلَّآ اَمَانِیَّ مگر دخپل نفس ارزوگانے یعنے هڅه
چه په د نفس پرهوا برابر ده هم هغه وایه اوهم په کوی اِنْ هُمْ او دوے نه دے
اِلَّا یَظُنُّوْنَ ﴿۴۸﴾ مگر گمان خپل چلوے. بیله دلیله فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ نو افسوس دی
هغوکسانو لره یَکْتُبُوْنَ الْکِتٰبَ چه دخپله لاسه کتاب لیکی بِاَیْدِیْهِمْ تر پخپلو لاسو
سره ثُمَّ یَقُوْلُوْنَ بیا دوے وخلکو ته وایه هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ چه دغه حکم د خدای
څخه راغلے دی په تورات کښے اوپه دے کښے یے غرض داوی لِیَشْتَرُوْا بِهٖ چه
واخلے په دے حکم سره چه خود ساخته «دځانه جوړ سوی» نعت د رسول دی ثَمَنًا
قَلِیْلًا د لږ مبلغ نو دجاهلانو څخه د یهودو فَوَیْلٌ لَّهُمْ نو افسوس دے دوی لره
مِّمَّا کَتَبَتْ اَیْدِیْهِمْ د هغه حکمه څخه چه دځانه دوے لاسو لیکلی دی وَوَیْلٌ لَّهُمْ
د حکم په عوض کښے اوبیا افسوس دے دوے لره مِّمَّا یَکْسِبُوْنَ ﴿۴۹﴾ د
هغه کار څخه چه دوے یے کوی وَقَالُوْا اودوے وایی لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ هیڅکله
به موږ مسه نکړے اوږد دوږخ اِلَّآ اَیَّامًا مَّعْدُوْدَةً د مگر یوڅو ورځو یه
شمار سره چه هغه څلویښت ورځے دی دجهته څخه دعبادت وگیلگی قُلْ
اَتَّخَذْتُمْ تر دوے ته ووایه اے پیغمبره چه ایا تاسی اخیستی ده عِنْدَ اللّٰهِ
عَهْدًا د خدایه څخه دے وعده چه عذاب به نه درکوی ما سیوادے ورځو
څخه نو که یے وعده کړیے وی فَلَنْ یُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ نو خدای د سړ څخه

خپله وعده نه خلافوے اَمۡ تَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ او که تاسے وایاست او جوړوے پرخدای باندے درواغ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۰﴾ هغه خبرے چه تاسے نه په پوهیږے داسے نه ده لکه دوے چه وایی بَلٰى مَنۡ بلکه داسے ده چه هرهغه څوك كَسَبَ سَيِّئَةً چه بدی وکړی وَّاَحَاطَتۡ بِهٖ اوړل چاپیره سے پرده باندی خَطِيۡٓـَٔتُهٗ گناه ده یعنی کافرسے فَاُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ نو داکسان داورا هل دے هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۸۱﴾ دوے به په دے دوزخ کښی همیشه وی وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا او هغه کسان چه ایمان یے راوړی دے پرخدای اوپرړ لیږل سوی دده وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او دوی نیك کارونه کوی اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ ۚ داکسان دجنت اهل دے هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۸۲﴾ دوے به په دے جنت کښی همیشه وی وَاِذۡ اَخَذۡنَا اویاد کړے هغه چه موږ واخیسته مِيۡثَاقَ بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ عهد دبنی اسرائیلو څخه لَا تَعۡبُدُوۡنَ چه تاسے دبل هیڅوا عبادت مه کوی اِلَّا اللّٰهَ قند مګر یوازی دخدای چه هم دے لائق دے دعبادت دا نهی دے دنفی په صورت کښے وَبِالۡوَالِدَيۡنِ او نیکی کوے دښپل مور او پلار سره اِحۡسَانًا نیکی وَّذِى الۡقُرۡبٰى او دخپلوانو سره وَالۡيَتٰمٰى او دیتیمانو سره وَالۡمَسٰكِيۡنِ اودنادارانو عاجزانو سره وَقُوۡلُوۡا لِلنَّاسِ حُسۡنًا او وخلګو ته ښه یا خوږه خبره وایاست وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ اولمونځ کوے سره درعایته دحقو لو حقوقو وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ اوخپل زکوٰة ورکوی ثُمَّ تَوَلَّيۡتُمۡ نو بیاوړسته ترهغه تاسو شاکړه تولوودے میثاق ته اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡكُمۡ مګر لږ وه دتاسے څخه یعنی دپخوانیو څخه ستاسی وَاَنۡتُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۸۳﴾ اوتاسی هیشه اعراض کونکے یاست روایت دے چه دمدینی دیهودو دوی طائفے وے یوه بنی قریظه اوبله بنی نضیره اود مدینے خلك هم دوے طائفے وه یوه اوس اوبله خزرج وه اودهجرت دمخه یے سره عداوت وو بنی قریظه د اوسیانو معاونان وه او بنی نضیره خزرجیانو معاونان وه اوکله چه به دا یهود سره مخامخ سوه نودے

به هم پچیل مینځ کښے سره وشړل خلاف دخپل دینه او هر څوك چه به مغلوبه سو نو هغه به ږے جلا وطنه کړه او څوك چه به ځنې بندی سو نو فدیه به ږے ورکړه اوهغه به ږے راخلاص کړی نو نازل سو وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ اویاد کړے هغه چه موږ ستاسے څخه عهد واخیستی یعنی ستاسی دنیکه گانو څخه په تورات کښی لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ چه تاسے مه تویږے وینی خپلے داهم لهی دے په صورت کښی دنفی یعنے د قریبانو یا دنورو مسلمانانو یا دهغه چا چه بیا تاسے پر قصاصیږی وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ او مه باسی خپل خاونه یعنی خپل خَيْلٌ مِّنْ دِيَارِكُمْ دخپلو کورونو څخه په ظلم سره ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ بیا اقرار وکړے یعنی قبول کړه نیکه گانو ستاسے دا احکام وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ (۸۴) اوتاسو اوس د مدینی یهودو شاهدان یاست پردے چه داخبره ستاسے اجداد وکړے وه او ستاسے دین هم داسے وه ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ بیا تردے شاهدے ورسته تاسے هغه خیانتگر یاست تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ چه تاسو وشرنی غربیان اقرباء «قربان» وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ او باسے یوه ډله د تاسے څخه چه مغلوبه سی مِّنْ دِيَارِهِمْ دخپلو کورونو څخه تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ یو تر بله سره متفق کیږی اوملاتړی کیږے په دے ایستو کښے پردوے باندے بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ط په گناه اوپه ظلم سره وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى اوکه داسلوبه کسان تاسے لره راسے بندیان تُفٰدُوْهُمْ نو تاسے دبند یانو پرځای فدیه ورکړے اودوے دبنده خلاصوی او اخراج «ایستل» پے هم کوی وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اوحال داچه شان دادے چه حرام کړه سوی دے عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ د پرتا سے ایستل دوے دخپلو کورونو څخه اوداهُوَ ضمیر شان دے متعلق دے په مُحَرَّمٌ کښے پورے اوداپه مبتدا کښے جمله معترضه وی یا داضمیر مبهم دے اواِخْرَاجُهُمْ پے تفسیر دے یا راجع دے وهغه اخراج ته چه په مُحَرَّمٌ کښی پروت دے اوداخراجهم پے

عه یعنی لفظ دهو مبهم دی ۱۲ عه یعنی بیان د لفظ دهو دے ۱۲

بدل دے یا بیان دے کذا قال البیضاوی اَفَتُؤْمِنُوْنَ ایا نو تاسے ایمان راوړی بِبَعْضِ الْكِتٰبِ پر بعض توراة چه فدیه ورکوے وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ اوکفر اختیارو ے پر بعضو نورو چه قتل او اخراج کوے فَمَا جَزَآءُ مَنْ نو نه ده جزاء هغه چا يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ چه کوی داسے چه بعض منی او بعض نه منی دتاسے اِلَّا خِزْيٌ مگر شرمول فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ په دے دنیا کښی چه هغه قتل دے دبنی قریظه وو اوشرل دے دبنی نضیر و وخیبر ته وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اوبیا به دقیامت په ورځ دوے ردکړه سی اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ وسخت عذاب ته چه دوزخ دے وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اونه دے خدای ناخبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۵﴾ دهغو کارو څخه چه تاسو یے کوی اے یهودو په دے کښی التفات دے دغیبته څخه وخطاب ته اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا دا هغه کسان دی چه رانیسی دوی الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ز دا خوارژوند دے دے جهان په بے انتهاء نعمتو سره دا اخرت فَلَا يُخَفَّفُ نو سپك به نه کړه سی عَنْهُمُ الْعَذَابُ دوی څخه عذاب نه په دنیا کښی دجزئی په کمولو سره اونه په اخرت کښی په خروج سره دوزخ څخه وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۸۶﴾ او نه به دوے سره مدد اوکومك وکړه سے په هیڅ شی کښی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا اوخامخا پ تحقیق سره موږ ورکړے وه مُوْسَى الْكِتٰبَ وموسیٰ ته تورات وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ اوپے درپے موږ راولیږل ورسته تر ده بِالرُّسُلِ ز پیغمبران لکه یوشع او داؤد اوسلیمان اوالیاس اوزکریا علیهم السلام وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ اوورکړے وے موږ وعیسیٰ ته چه زوی دبی بی مریمی دے ښکاره معجزی لکه د مړو ژوندی کول اودا کمه اودابرص روغول اودا سے نوری ډیری وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ اوموږ دے قوی کړی وه په پاکیزه روح یا په جبرائیل یا په انجیل یا په اسم اعظم سره اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ ایا نو هر کله چه وتا سے ته راسے یو پیغمبر بِمَا لَا تَهْوٰٓى په هغو احکامو سره چه نه یے خوښوے اَنْفُسُكُمُ

ع ۱۰

عه یعنی مورزاده ورونداو چیبنو لے ۱۲

نفسونه ستاسے اِسْتَكْبَرْتُمْ ج نو لویے اوکفر اختیار کړی د منلو څخه د هغه احکامو فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ ز نو یوه فرقه دده وے دروغجن بولے لکه موسے اوعیسے علیهما السلام وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ (۸۷) او بله فرقه ددوے وژلے لکه زکریا او یحیی علیهما السلام وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ط او دا یهود وایے چه زمونږ زړونه په پرده وکښی دے یعنے کانه دے د قرآن د فهمولو او درسول ﷺ د دعوت د قبلولو څخه اوپه واقعه کښی داسے نده لکه دوی چه وایی بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ بلکه دوی خدای تر تلی دے د خپل درگاه څخه په سبب سره د خپل کفر فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ (۸۸) نو لږ ددوے څخه ایمان راوړی لکه ابن سلام اوده ملگری وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ اوهرکله چه دوی لره راغلے کتاب مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ د جانبه څخه د خدای مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ء په داسے حال کښے چه رشتیا بلونکے او موافق دی په قولو اصولو کښی د دین د هغه تورات سره چه ددوی سره دی او دلَمَّا جواب محذوف دے اوهغه دادے چه ددی سره یے هم قبول نکړی وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ اوحال داچه دوی وه مخکے ترنازلیدلو د قرآن يَسْتَفْتِحُونَ چه فتح اونصرت به یے غوښتی د خدایه څخه د مشکلاتو په وخت کښی د قرآن اود صاحب د قرآن په نوی سره اوویل به یے اللّٰهُمَّ انصرنا بنبی اخر الزمان المنعوت فی التورٰنة عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ پرهغو کسانو چه کافران به وه د عرب د طا ئفو څخه فَلَمَّا جَآءَهُمْ نو هرکله چه بیا راغلے دوی لره مَّا عَرَفُوْا هغه رسول ﷺ چه دوے په تورات کښی پیژندلے وو او عامد پکښے محذوف دی اے عرفوه كَفَرُوْا بِهٖ نو کفر وے اختیار کړی په ده پوری فَلَعْنَةُ اللّٰهِ نو د خدای لعنت دی عَلَى الْكٰفِرِيْنَ (۸۹) پر کافرانو بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بد دی هغه شی چه خرڅ کړے دی دوی بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ په هغه شی سره خپل ځانونه چه شے

عه یعنی اے خدایه مدد راکړی د موږ ته په پاکه نبی سره چه د اخری زمانے نبی دی لکه چه په تورات کښی یے صفت کړے دے دوی ۱۲

شی دادے اَنْ یَّکْفُرُوْا چه دوے کافران کیږے بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه قرآن سره چه خدای رالیږلے دی بَغْیًا اَنْ یُّنَزِّلَ اللّٰهُ دویرے کینی اوبغض څخه دے خبرے چه رالیږے فِیْ خدای مِنْ فَضْلِهٖ د خپله فضله څخه وحی اوکتاب عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ پرهغه چا چه دده اراده وسی مِنْ عِبَادِهٖ ۚ ده د خپلو بندگانو څخه فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ نو دایهود اخته سو په یوه غضب سره عَلٰی غَضَبٍ د سرپیره پر بل غضب باندی چه یو انکار دے د رسول اود قرآن څخه اویل انکار دی د عیسیٰ اود انجیل څخه وَلِلْکٰفِرِیْنَ اودے کافرانولره عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۹۰﴾ سپکونکے عذاب وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا اوهرکله چه ودی یهودونه وویل سے چه ایمان راوړی بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ پرهغوکتابوچه خدای رالیږلے دی قَالُوْا نُؤْمِنُ نو دوی وایی چه موږ ایمان راوړو بِمَآ اَنْزَلَ عَلَیْنَا پرهغه کتاب چه پر موږ باندے رالیږل سوی دی یعنے تورات وَیَکْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ اودوی کفر اختیار وی پرهغه کتاب چې بیله تورات څخه دے وَهُوَ الْحَقُّ اوحال داچه دا بیله تورات څخه هم حق دے مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ؕ په داسے حال کښې چه رشتیا کونکے دی دهغه تورات چه ددوے سره دی قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ تاورته ووایه اے رسوله دهغه یهودو ته چه دوی وایی موږ تورات منوچه ولے به تاسو وخپل اَنْۢبِیَآءَ اللّٰهِ پیغمبران د خدای مِنْ قَبْلُ پخوا تردے اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۹۱﴾ که تاسے ایمان راوړی وئ نو یا ست پر تورات باندی وَلَقَدْ جَآءَکُمْ او په تحقیق سره وتاسو ته راغلے وو مُّوْسٰی موسے بِالْبَیِّنٰتِ په بښکاره معجزو سره چه هغه نه شیان وه لکه د سورة اعراف په مینځ کښې یعنے شپاړسمه رکوع کښے راغلے دی او خدائ فرمایلے دے فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰیٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فَاسْتَکْبَرُوْا وَکَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِیْنَ یعنے خدای پاک وایی هرکله چه دوی ایمان راوړلو څخه منعه وکړه نو موږ پردوی باندی طوفان

اوملځ اوسپرې اوچینګونې اوسرې وینې اوداسې وي چې په تفصیل
سره بیان سوی وي نو دوې دا ایمان راوړلو څخه تکبر وکړي اوددې وویسو
ګنهګار قوم ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ بیا تاسې ګیلګي په خدایي سره وښوي مِنْ
بَعْدِهٖ وروسته تر تللو موسې وکوه طور ته وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾ او حال دا
چې تاسې ظالمان واست پرخپلو ځانونو باندې وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ اویاد
کړے هغه چې موږ واخیستې عهد ستاسې وَرَفَعْنَا اوموږ پورته کړي فَوْقَكُمُ
الطُّوْرَ سرپرې پورې وستاسې کوه طور اوبیا موږ وویل خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ
واخلئ هغه تورات چې موږ تاسې ته درکړي دی بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا په کوشش
اوپه عزم سره اوداخبره د منلو پاره واورئ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ووې
وویل چې موږ اوریدلی دے قول ستا اوموږ نه دے منلی امر ستا وَاُشْرِبُوْا
اوورته چې ښیښل سو په دوے یعنې واچول سوے فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ ددوی په زړه
کښے ګیلګي یعنې محبت دده بِكُفْرِهِمْ په سبب سره دکفر دوی قُلْ بِئْسَمَا ته
ورته ووایه اے پیغمبره چې بد دی هغه کار يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ ایمانُكُمْ چې امرکوی
وتاسې ته په هغه کار سره چې انکار دی د رسول اود قرآن څخه ایمان ستاسې
اِنْ كُنْتُمْ که تاسې یاست مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ ایمان راوړونکي پرخدای روایت
دے چې هرکله یهودو ووویل چې جنت خاص موږ لره دے اوبل هیڅوک به
ورنسې ننوزي نو نازل سو قُلْ اِنْ كَانَتْ ته ورته ووایه اے رسوله چې که په
رښتیا سره مقرر وے په نزعم ستاسې سره لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ تاسې لره سرایونه
اونعمتونه دهغه جهان عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً په نزد د خدای یوازې مِّنْ دُوْنِ
النَّاسِ بیله نورو خلکو فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ نو تاسې د مرګ (غوښتنه) وکړي خکه
چې هرڅوک ځان حق شمیري نوهغه په دې محنت سره ای کښې څه غواړي اِنْ
كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۹۴﴾ که تاسې رښتینې یاست په دے دعوئ کښې دخالصواني جنت

کښے خپل ځان لره وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا او دسره به دوے د مرګ ارزو ونکړی هیڅکله بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ط په سبب سره د هغو عملو چه د دوی لاسونو مخکښے لیږلے او استولے دے چه هغه قتل د انبیاؤ او تغیر د نعت د رسولؐ دی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۵﴾ او خدای ښه خبردار دے په احوالو د ظالمانو سره وَلَتَجِدَنَّهُمْ اوخامخا به ته دا یهود پیدا کړی اَحْرَصَ النَّاسِ د ټولو خلګو عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ پرژوند باندے وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ او خصوصًا د هغو کسانو نه چه مشرکان دے يَوَدُّ اَحَدُهُمْ دوست ګڼی «خوښوی» او ارمان کوے یو د دے یهود وښځه لَوْ يُعَمَّرُ کاشکے چه وده ته وکړه سوای وای عمر اَلْفَ سَنَةٍ ۚ زر کاله وَمَا هُوَ او نه دے دا کس بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ چه خلاص وینکے سی د عذاب څخه اَنْ يُّعَمَّرَ دا چه د ټول عمر ورکړه سی وده ته او داهلته چه ضمیر راجع وی واحد هم ته او ان یعمر فاعل وی د مزحزحه یا راجع دے وهغه شئ ته چه یعمر دلالت پرکوی او ان یعمر څخه بدل دی یا هُوَ ضمیر مبهم دے او ان یعمر یے مفسر دے کذا ذکره البیضاوی وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ او خدای ښه بینا دے بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ پرهغو کارونو باندی چه دوی یے کوے روایت دی چه هرکله یهود وو ویل چه جبرائیلؑ پرمحمدؐ باندی پیغام راوړے او دے زموږ دښمن دے ځکه چه دے رسولؐ زموږ په اسرارو سره خبروے او بل داچه زموږ پرنیکه ګانو څه حوادث راغلی دی هغه قوله دده څخه دے او میکائیلؑ وموږ ته هیڅ بدی نه ده راړسولے او سره ددے چه دی صاحب د ارزاقو «رزقونو» او د عیش د فراخے هم دے نوګه وه پیغام راوړی وای نو موږ به په ابوالقاسم ایمان راوړی وای نو نازل سو قُلْ مَنْ كَانَ ته ورته وایه اے رسوله هرهغه څوک چه وے عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ دښمن د جبرائیلؑ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ نو بیشکه چه ده راوړی دے دا قران عَلٰى قَلْبِكَ پرزړه ستا بِاِذْنِ اللّٰهِ په اذن سره د خدای مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ په دا سے حال کښے چه تصدیق کونکے

عه ای وما احد هم بمزحزحه من النار تفسیره ۱۲

دے د هغه کتا بو چه مخکے تره ے قرآن نازل سویدے لکه تورات، انجیل، زبور او نورے صحیفے وَهُدًى وَّبُشْرٰى او رهنما یی او زیرے کو نکے دی لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۹۷) و مؤمنا نو ته د رضوان او د جنت او دیدار مَنْ كَانَ هر هغه څوك چه دے وی عَدُوًّا لِّلّٰهِ دښمن د خدای وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او د ده د ملا نکو وَرُسُلِهٖ او د ده د پیغمبرانو وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ او خصوصًا د جبرائیل او میکائیل فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدا ے عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ (۹۸) دښمن د دے کافرانو وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ او خامخا بیه تحقیق سره مو د ریږلے دی وتا ته اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۚ ډیرې نښو نه د قرآن واضح وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ او کافر نه اختیا روی په دے اٰیتو سره اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ (۹۹) مگر فاسقان اَوَكُلَّمَا آیا هر کله عٰهَدُوْا عَهْدًا چه وعده وکړے دا یهود وعده د ایمان یا د نه کولو د معاونت د مشرکا نو سره نَبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ط نو دا وعده ما ته کړے یوه تولې ډوی ډنډه بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ (۱۰۰) بلکه اکثره د دوے ایمان نه راوړی پر تورات باندے وَلَمَّا جَآءَهُمْ او هر وخت چه ډوی لره راغلے رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ رسول د خدای د طرف څخه چه مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ دا سے رسول چه تصدیق کوونکے د د هغه تورات چه د دوے سره دی نَبَذَ فَرِيْقٌ نو ډوه غوړ ځاوے یوے فرقے مِّنَ الَّذِيْنَ د هغو کسانو څخه اُوْتُوا الْكِتٰبَ چه ورکړه سوی وه د دوے ته کتاب كِتٰبَ اللّٰهِ کتاب د خدای وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ د ډوسته ترخپلو شا د وکَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (۱۰۱) گویا چه دوی نه پوهیږے چه دا رسول او دا کتاب د خدای څخه را غلے دی وَاتَّبَعُوْا او دا یهود پیروی کوے د هغه شی تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ چه وایی اولوستے به دیوانو عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ په نوم مانه کښے د سلیمان علیه السلام دیاچاهے روایت دی چه هرکله دیوانو سلیمان په نوم مانه کښے سحر، جادو، مشهورے کړے او کاهنانو تصنیفونه پکښے وکړل چه موجب د سبب، د فتنی د عالم سو نو سلیمان هغه کتابونه سره راجمع

کړه او ترڅپل تخت لاندے یے په یوه صندوق کښے دفن "پټ" کړه اوبیا دده تر وفات وروسته هغه کتابونه شیطانانو زړا وکښل او وخلکو ته یے وویل چه سلیمانؑ دا ملك په دغه کتابونو مسخر کړے وو نوځکه یے تر تخت لاندے دفن کړے وه نوبیا تردے وروسته به یهودو وسلیمانؑ ته نسبت دساحر "جادوګر" کاوے نوناز ل سو وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ اوکفر نه ووا ختیار کړے سلیمانؑ د جادو په کولوسره وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا اولیکن شیطانان کافران سوی وه د جادو په کولوسره يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ چه وخلګونه به یے جادو وزده کاوے وَمَآ اُنْزِلَ اوپیروے کوے دا یهودو هغه شی چه ږا لیږل سوی وو عَلَى الْمَلَكَيْنِ پردوو ملائکو باندی بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ د بابل په ښهر کښی چه یو هاروت اوبل ماروت وو روایت دے چه دادریس علیه السلام په زمانه کښے ملائکو دانسانانو څخه عملونه ولیدل چه اسمان ته به ورته نوروے وویل چه اے ربه دا انسان دده عصیان سره د خلافت څه لایق دے بیا رب ورته وویل چه که تاسے ته دا نفس اوشهوت درکړم نو دده ی څخه به زیات ګناهونه وکړے نو دوی ؤ یراستبعاد وکړے نو امر وسو چه تاسے څوك غوره کړے "وتاکی" چه حقیقت معلوم سی نو دوے هاروت او ماروت غوره کړه د ؤ یرصلاح په سبب سره نو نفس بشرے او اسم اعظم یے ورکړے او ښکے ته مقرر سوه د پاره د قطع وخصوصا نو د وړځی به یے حکم کاوے اود شپی به اسمان ته تله یوه وړځ زهره نوے یوه ښځه وراړه ږا غله چه د ؤیره ښایسته وه او دوے په مبتلا سوه او څپل مطلب یے ځنی وغوښتے نو دے ویل که شراب وچیښی اوخون وکړے او وبت ته سجده هم وکړے دوے تر دوو و رځو پورے اِبَا "منعه" کوله په دریمه ورځ یے پیالے دشرابو وړاړه ږا وړے او دوے وچیښلی نو مست سوه او نړ ایه وکړه اوناګاه یے هلته یوسړے ولیدے چه ولاړ و و نو دخوفه څخه وانشاء "ویږی څخه درسره کیږه"

عه یعنی ځیسلے کولو او دوه جګړو پریکولو لره ۱۲

پے مرکړے او بیا پے وبت ته سجده هم وکړه نو دا سمان څخه بند سول بیا زهره ورته وویل چه هغه چیشی وه چه تاسے په هغه سره واسمان ته تللاست هغه وماته هم را نږده کړے نو اسم اعظم پے ورښوولے چه دے وه لوست نو دریم اسمان ته ولاړه او ستورے سوه او دوے ادریس علیہ السلام ته راغلل اودے پے ورب ته شفیع کړے نو امر وسو چه یو عذاب قبول کړے دد نیا یا دا خرت نو دوے د دنیا عذاب قبول کړے اوس د بابل په څاکښی دسر په بیښتا نو راځړیږے کذا ذکرہ الجلبی» او بل د دوے ته سحر «جادو» هم ورښوول سوے وه ځکه چه هغه نر ما نه کښی به ساحرانو «جادوګرانو» پیغمبرے دعوه کوله چه دوے پے وفهیمانو «پوهانو» ته ورزده کړے چه هغه بیا د ساحرانو سره مدعیان سے او حق او باطل سره بیل اوجلا سے لکه چه وایے وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ او دوے به تعلیم نه کاوے د دے جادو وهیچا ته حَتّٰى يَقُوْلَآ تر هغو چه دوے به وویل اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ بیشکه هدا خبره ده چه موږ ازما یښت یو د خدایه فَلَا تَكْفُرْ نو ته کفر مه اختیاروه د جادو په نږده کولو سره د پاڼ دعمل په اعتقاد کولو سره د جواز فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا نو دوے به دے د دواړو څخه زده کاوے مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ هغه شے چه دوے به جدا ئے اچوله په هغه سره بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ط په ما بین کښی د سړے او ښځے دده وَمَا هُمْ اونه وه دوے بِضَآرِّيْنَ بِهٖ هیڅ ضرر رسونکے په دې سحر سره مِنْ اَحَدٍ وهیچا ته اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ط مګر په اذن سره د خدای وَيَتَعَلَّمُوْنَ اودا یهود زده کوے مَا يَضُرُّهُمْ هغه شے چه ودوے تضرر رسوے وَلَا يَنْفَعُهُمْ د اونفعه نه رسوے ودوی ته وَلَقَدْ عَلِمُوْا ارخا ځا په تحقیق سره دوے پوهیږی لَمَنِ اشْتَرٰىهُ چه خا ځا هغه څوک چه را نیسی جادو بیعه نږده کوے پے مَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ نسته ده له په هغه جهان کښے مِنْ خَلَاقٍ قف هیڅ حصه دنیکی وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا اوخا ځا بد دے هغه شی چه دوے خوځ کړے دی بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ د په هغه شی سره چه سحر دے خپل ځانونه لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ (۱۰۲) که دوی وای چه

عد یعنی عقیده دستاسی داده چه دا سحر کول یو روا او بنه کار دی ۱۲

پوهیدلاے نږدا سے به یے نه کول وَلَوْ اَنَّهُمْ اوکه بیشکه دوے اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا ایمان راوړے وای پرږسول اوپرکتاب اوپرهیزیے کړے وای دسحرہ اودیهودیته څخه لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ثواب نوخامخا به یے دخدای دطرفه څخه جزاء پیدا کړے وای غوره اوبهتره تردے رشوت چه دوے یے اخلے په تبدیل شره دنعت درسول لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ (۱۰۳) که دوے وای چه پوهیدلاے نږدا سے به یے نه کول روایت دے چه هرکله مؤمنانو ورسول ته کلمه دراعنا ویل یعنی نږ مورږ رعایت وکړه په پوهولو اوپه اوریدلو سره نږ مورږ دخبرے بیا به یهود دهم دوے په تبع سره دالفظ وایي مګر په بل نیت سره ځکه چه دالفظ په عبرانی کښے فاحشه اونږ ورسول دے نږپروردګار دا سے لفظ ورسنبوے چه معنیٰ یے هم داوی اوفحش په کښے نه وے نوناڑل سو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا تاسے لفظ دراعنا مه وایاست وَقُوْلُوا انْظُرْنَا اووایاست لفظ دانظرنا وَاسْمَعُوْا اواوړے دا امر دنږه په غوږ وسره وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ (۱۰۴) اومقرر دے دهغه کافرانو ته چه دالفظ دراعنا وایے په نیت سره دسب «بشکلو» ودردناکه عذاب مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دوست نه گنی «نه خوښوی» هغه کسان چه کافران دے مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ دیهود وڅخه وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اونه مشرکان اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ واچه راوه لږول سے پرتاسے باندے مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ یوخیر یعنی وحی اوقرآن دوبه ستاسے څخه وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ برَحْمَتِهٖ اوخدای خاصوے بخپل رحمت سره مَنْ يَّشَآءُ هرهغه څوك چه اراده یے وسی وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ (۱۰۵) اوخدای چه دے خاوند دلوے فضل دے روایت دے چه هرکله یهود یا مشرکانو به ویل چه اوپرتعجب دے وکړلو ته چه وخپلوا صحابو ته یوکار وواي اوبله وخ یے بیا

ع ۱۳

ع ۱۴

ع ۱۵

ع ۱۶

ع ۱۷

ع ۱۸

ع ۱۹

ع ۲۰

ع ۲۱

ع ۲۲

ع ۲۳

ع ۲۴

ع ۲۵

ع ۲۶

ع ۲۷

ع ۲۸

ع ۲۹

ع ۳۰

ع ۳۱

ع ۳۲

ع

ځنې منع کړے او دځکنی کار ځمنه مخالف کا دور ته وایی نو نانزل سو مَا نَنْسَخْ هغه چه موږ یے منسوخه کوو مِنْ اٰیَةٍ یو ایت د قرآن په خپل حکمت بالغه سره دیو مصلحت د پاره اَوْ نُنْسِهَا یا یے موږ هیر وو د مؤ منانو د زړه وځمنانو بِخَیْرٍ مِّنْهَآ نو سو به ښه راوړو غوره ترهغه پخوالے لکه نسخ د لسو کا فرانو اوپرځای یے دوه مقرر ول په غزا کښے اَوْ مِثْلِهَا یا دهغه په مثل سره بنا بر مصلحت باندے لکه تحویل د بیت المقدس ځمنه وکښے ته اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۰۶﴾ ایا ته نه یے پوه سوے چه په تحقیق سره خدائے پرهر شی باندے قادر دے اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ ایا نه پوهیږے ته چه بیشکه خدای چه دی لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ هم ده لره د پاچاهی د اسمانو او د ځمکے وَمَا لَكُمْ او نسته تاسے لره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدائے ځمنه مِنْ وَّلِیٍّ هیڅوك دوست وَّلَا نَصِیْرٍ ﴿۱۰۷﴾ او نه هیڅوك مدد کار ﴿روایت دے چه هرکله یهود و یا مشرکانو ټوپل چه محمدؐ دے تیا رلیکل سوے کتاب راوړے په یوه وار سره لکه د موسےٰ ؑ ته چه راغلے وو نو نازل سو اَمْ تُرِیْدُوْنَ ایا تاسے اراده لرے اَنْ تَسْئَلُوْا رَسُوْلَكُمْ دے چه تاسے سوال وکړے د خپله رسول ځمنه كَمَا سُىِٕلَ مُوْسٰى لکه چه سوال کړه سوے وه د موسےٰ ؑ ځمنه مِنْ قَبْلُ ؕ مخکی ترد ے چه سوال دا رِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً وو وَمَنْ یَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ اوهرهغه څوك چه بدل وے کفر بِالْاِیْمَانِ په ایمان سره یعنے ایمان ورکوے او کفر اخلے فَقَدْ ضَلَّ په تحقیق سره چپ سو سَوَآءَ السَّبِیْلِ ﴿۱۰۸﴾ د مینځ ځمنه د سمے لارے وَدَّ كَثِیْرٌ دوست گڼی ﴿غوښتی﴾ دیر مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ د یهودو ځمنه لَوْ یَرُدُّوْنَكُمْ داچه تاسے او ړی مِّنْۢ بَعْدِ اِیْمَانِكُمْ د ږمونږ ستاسے ایمان راوړلو ستاسے كُفَّارًا هغه کافران لکه مخالص اوپاران دوه چه

لہ یعنی که چه خدائے فرمایے د وه چه یو مؤمن دی دلسو کا فرانو ځمنه نه تبسّی بیائے څه ربانی وکړه او دے فرمایل چه یو مؤمن دے د دو د کافرانو ځمنه نه تبسّی ۱۲ سه یعنی مخ گرزول د بیت المقدس ځمنه وکعبې شریفې ته ۱۲ سه یعنی وښیه د موږ ته اے مولے الله تعالےٰ پیغمبر اوپښکاره کړه ۱۲

متوجہ سوے وہ وحذیفہ او وعمار بن یاسر تہ چہ یہود یان سے حَسَدًا مِّنْ
عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ وجهته څخہ دکینی د خپلوځانونو څخہ د بل چا په ویلو سره مِّنْۢ
بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ وروسته ترهغہ چہ بشکاره سو لَهُمُ الْحَقُّ ودوے تہ حق
چہ رسول او قرآن او دین د اسلام دے فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا نو تاسے عفوہ کوے
او مخ گرزوے ددوے څخہ او قتال "جنګ" مہ وروسره کوے حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ د
ترهغو پورے چہ خدای خپل فرمان راولیږے په قتال "جنګ" یا په جزیہ سره
اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ چہ خدا ے عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ پرهر شے باندے قادر دے وَاَقِيْمُوا
الصَّلٰوةَ او برپا کړئ لمونځ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ط او ووروکوے خپل زکوٰة وَمَا تُقَدِّمُوْا
اوهرهغہ چہ تاسے پے څخنی ولیږے لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ د خپلوځانونو لپاره د
مال څخہ لکہ صدقہ یا نفقہ یا نور خیرات تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ط نو بیا به ئے تاسے
پیدا کړے د خدای څخہ اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ چہ خدا ے بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۰﴾ پرهغو
عملو چہ تاسے پے کوے ښہ بینا دے وَقَالُوْا اووایے دا یهود او نصاریٰ لَنْ يَّدْخُلَ
الْجَنَّةَ دسره به داخل نه سے وجنت ته اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا مګر هغہ څوک چہ
یهود سے وی دا یهود وایې اَوْ نَصٰرٰى ط یا نصرانی وے دا نصاریٰ وایې تِلْكَ
اَمَانِيُّهُمْ ط دادوے د ارزوګانے دی قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ تہ ورته ووایه اے
رسوله چہ راوړے خپل دلیل اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ که تاسے رښتیا ویونکے
یاست په دے دعوے کښے داسے نه ده لکه دوی چہ وایې بَلٰى تہ مَنْ اَسْلَمَ بلکه
هرڅوک چہ وسپارے وَجْهَهٗ لِلّٰهِ خپل ځان وخدای ته وَهُوَ مُحْسِنٌ اوحال
داچہ دے نیکوکار وے فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ نو مقرر دے ده لره اجر دده عِنْدَ رَبِّهٖ ص په
نزد د رب دده وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ اونه به وے هیڅ بیره پردوے وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ ع ۹ ۱۳
اونه ددوے خفه کېږے د تصور څخہ د زوال دده حال تر ابد الابد پورے

لہ دا دواړه د مسلمانانو او پیغمبر ﷺ یارانو نومونه دے ۱۲ سے یعنی ښه په حضور سره لږ ځ اداوکوی سره د
اداء کولو د وقو لو حقوقو دده ۱۲

روایت دے چه دیهود واحبار او دنجران نصارا یوه ورځ مدینے ته راغلے
اوه رسول علیه السلام په محکمینے سره په نزاع سوه اوهر یوه ابطال ودین د
هغه بل کاوے نو نازل سو وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ او ویل یهودیانو لَيْسَتِ النَّصٰرٰى
چه نه دے نصارای عَلٰى شَيْءٍ پرهیڅ شی وحق دین څخه وَقَالَتِ النَّصٰرٰى اوویل به
نصارا و لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ چه نه دے دایهودیان عَلٰى شَيْءٍ پرهیڅ شی باندی دډین
متین څخه وَهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ د اوحال داچه دادواړه طایفے دخدای کتاب
لولی "تلاوت یې کړی" اوپه تورات کښے تصدیق دعیسیٰ پروت دی اوپه انجیل کښے
تصدیق دموسے پروت دے كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ همدا سے وایي هغه کسان هم لَا
يَعْلَمُوْنَ چه نه پوهیږي دے لکه بوجسیان یا مشرکان دعرب مِثْلَ قَوْلِهِمْ په
مثل اوپه شان دوے دویلو فَاللّٰهُ يَحْكُمُ نوخدای به حکم وکړے بَيْنَهُمْ يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ ددوے په مینځ کښے دقیامت په ورځ فِيْمَا كَانُوْا په هغه شی کښے چه دوی
دے فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ چه په هغه شے کښے دوے اختلاف کوے وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوك
دے په یرظامِمَّنْ مَّنَعَ نړهغه چاچه منعه کوے اوبندوی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه
دخدای اَنْ يُّذْكَرَ دوے څخه چه یادکړه سے فِيْهَا اسْمُهٗ په هغو کښے نوم ده یعنی
لمونځ یا تسبیح وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا اوسعے اوکوښښ کوے دی په نړولو اویجارولو کښے
دوے مسجد ونه لکه بخت نصر یا دمکے مشرکان چه هغه مسجد اقصیٰ نړولے وه او
دوے مسجد حرام ویجارکړید ے درسول علیه السلام په ایستلو سره ومدینے ته اَولٰٓئِكَ
داکسان چه دے مَا كَانَ لَهُمْ نسته دوے لره اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ داچه دوی به
دوے مسجدونه داخلیږے اِلَّا خَآئِفِيْنَ ۭ مگرچه دوے به بیریدونکے وی
لَهُمْ فِي الدُّنْيَا مقرر دے دوے لره په دے جهان کښے خِزْيٌ شرمول یعنی
رسوایي اوخواریه اوجزیه وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ او دے دوی لره په هغه جهان
کښے عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾ لوے عذاب روایت دے چه اصحابو یوه ورځ

په چپا و سره قبله ورکړه او هر یوه په تحرۍ سره لمونځ وکړے بیا چه دنا سوه نو معلومه سوه چه تر لولو لمونځ چپ کړے وو بیا چه مدینے ته راغله نو د رسول علیہ السلام څخه یے د قضایے اجازه وغوښته نو نازل سو وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ او خاص خدائے لره دے طرف دے لمر خو تو وَالْمَغْرِبُ ت او طرف دے لمر لویدو هم فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا نو هر طرف ته چه مخ گرزوے فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ط نو هم ودغه جانب ته دے جهت د طاعت د خدائے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائے وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ فراخوونکے د مغفرت او د عطا دے او ښه دانا دے په کار سازے سره د مطیعانو د فرمانبردارانو وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ او دا یهود او نصارٰی او مشرکان د عرب وایے چه نیولے دے خدائے وَلَدًا لاندے یهود عزیرٌ وایي او نصارٰی مسیحٌ علیہ السلام او مشرکان ملایکے سُبْحٰنَهٗ پاکے ده ده لره د هر عیبه څخه داسے نه ده لکه دوے چه وایي بَلْ لَّهٗ بلکه دے ده لره پر طریقه د مملوکیت سره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هر هغه چه په اسمانونو کښے دے که ملایکے دے او که نور څه دے وَالْاَرْضِ ط او چه په ځمکه کښے دی که عزیرٌ او که مسیحٌ او که نور څوک دے كُلٌّ لَّهٗ قَانِتُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ تو له وده ته فرمانبردار ده او مغلوب په دے

بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط نوے پیدا کوونکے د اسمانونو او د ځمکے دے وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا او په هغه وخت کښے چه دے د یوه کار اراده وکړے فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ نو بیشکه هغه خبره ده چه وهغه ته وایي كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۱۱۷﴾ چه سه نو هغه سی وَقَالَ الَّذِيْنَ او وایي هغه کسان لَا يَعْلَمُوْنَ چه نه پوهیږے که جاهلان دے او که متجاهلان دے لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ ولے خدائے نه موږ سره خبرے نه کوے اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ط یا ولے نه راځے یو موږ ته یوه نښه سته پر صدق باندے كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ هم اسے به ویل هغوکسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه تر دوے مخکے وه یهود او نصارٰی مِثْلَ قَوْلِهِمْ ط په مثل د ویلو سره دوے چه هغوبه ویل چه اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ط

عه په چپا و کښی یعنے په کافرانو پسے یے چپاؤ کړے وو ۱۲ منه یعنے په زور سره یے خان جاهل او ناپوهه حساب کړے وی ۱۲ ۱۲

سره یو رنګه سویدے نه ږ ونه دوے قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ په تحقیق سره موږ بیان کړے دی نبی د توحید اود نبوت لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ (۱۱۸) وهغه خلګو ته چې یقین طلبګاران دے اِنَّآ بعثکه موږ چې یو اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ لیږلے یے موږ ته د حق سره چه قرآن دے بَشِيْرًا او ګڼډیږا ډ زیرے کونکے پر مؤ منانو او بیرونکے د کافرانو وَّلَا تُسْـَٔلُ اوته نه پوښتل کیږے عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ (۱۱۹) د دوزخیانو په هکله وَلَنْ تَرْضٰى اوهیڅکله به راضے نه سے عَنْكَ الْيَهُوْدُ د تا څخه یهود وَلَا النَّصٰرٰى اونه نصارا حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ط ترهغو پورے چه ته دوے د دین پیروی وکړے قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ ته ورته ووایه چه بیشکه رهنمایے د خدا ے چه ده هُوَ الْهُدٰى ط هم غه رهنمایے ده په واقعه کښے وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ او که ته پیروے وکړے د دوے د اړزوګانو دین بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ د هغه علم څخه چه درسته ترهغه شی چه تا ته راغلے دے مِنَ الْعِلْمِ ۙ دعلم څخه یعنی د وحی د دین څخه مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ نه به وے تالره د خدای څخه یعنی د عذاب څخه ده مِنْ وَّلِيٍّ یوکومه دوست خلاصوونکے وَّلَا نَصِيْرٍ (۱۲۰) او نه یوکوم مدد ګار اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ هغه کسان چه موږ ورکړی دی ته تورات ورکړی دی که مراد ابن سلام وے یا انجیل که مراد اصحاب د جعفر طیار وے چه د حبشو څخه ورسره راغلے وه يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ط تلاوت کوے یې "وایې" په حق تلاوت کولو ډیر" سره اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ط واکسان چه د ے ایمان راوړے پروی کتاب وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ اوهغه څوک چه کافر شے په ده سره فَاُولٰٓئِكَ نو واکافران چه دے هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۱۲۱) هم دوے زیانکاران دے يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا اے د یعقوب اولاده یاد کړے نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ هغه نعمتونه اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ چه ما پرتاسے وکړے وه پرتاسے باندے وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ او بیشکه زه چه یم ما تاسے غوره کړے پاست عَلَى الْعٰلَمِيْنَ (۱۲۲) د خپلے زمانے پرټولو خلګو باندے وَاتَّقُوْا یَوْمًا او وه بیرږدے

د عذاب څخه د هغې ورځې لَا تَجْزِیْ نَفْسٌ چې لیږے کولے به نه شی هیڅ نفس کافر
عَنْ نَّفْسٍ شَیْئًا د هیڅا څخه هیڅ قدر عذاب وَّلَا یُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ او نه به قبلیږے
د دے کافر نفس څخه فدیه د خپل ځان وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ او نه به نفعه رسوے د دے
نفس کافر ته زاړے د هیڅا وَّلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ (۱۲۳) او نه به وی د اکافران په دغه ورځ
کښے چې مدد به ورسره وکړه سے وَاِذِ ابْتَلٰٓی او یاد کړه اے رسوله هغه چې وازما یه
اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ ابراهیم خپل رب بِكَلِمٰتٍ په یو څو کلمو ترسره د اوامرو او دنواهیو څخه
یا د حج په مناسکو سره یا په نسوکا روسره چې هغه دا دے فرق[1] د بینتانو دسرا و
مضمضه او استنشاق او مسواك او قص د شارب بینو او نتف د ابطینو او تقلیم
د اظفارو او حلق د عانے او استنجاء په او بو سره او ختنه فَاَتَمَّهُنَّ ط نو ده ۱۱ او امر
پورے کړه قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ نو رب ورته وویل چې بیشکه زه ستا گر زونکے یم لِلنَّاسِ
اِمَامًا ط خلکو لره پیشوا ترقیامته پورے په دین کښے قَالَ وَمِنْ ذُرِّیَّتِیْ ط بیا ابراهیم
وویل او بعض د اولاد څخه زما دے هم پیشوایان وے قَالَ لَا یَنَالُ نو رب ورته
وویل چې نه رسیږے عَهْدِی الظّٰلِمِیْنَ (۱۲۴) عهد د رحمت زما ظالمانو ته یعنے کافرانو
ته وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَیْتَ او یاد کړه هغه چې موږ وګرزول کعبه مَثَابَةً لِّلنَّاسِ ځای د
ثواب پیدا کولو خلکو لره وَاَمْنًا او ځای د امن چې هیڅوك پرچا تعدے نسے کولای
وَاتَّخِذُوْا او نیسی اے مؤمنانو مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ د ځای څخه د درید لو د ابراهیم
یا د هغه ځای څخه چې وه ته منسوب دے مُصَلًّی ط ځای د لمانځه یا د رکعتو د
طواف یا د دعا وَعَهِدْنَآ او پیغام کړے وه موږ اِلٰٓی اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ ودے دواړو
پلار اوزوے ته اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ دا سے چې پاك کړے عباد تخانه زما د هغه ټولو پاکه
اوهر نالائقه شی څخه لِلطَّآئِفِیْنَ وَالْعٰكِفِیْنَ د مسافرانو او مقیمانو لپاره د طواف

[1] فرق څرنګ چې د رسول څخه مضمضه خوله پرېښودل استنشاق پزه پرېښودل قص د شارب بینو بریته نه کړچنی کول
نتف د ابطینو د څنګو د بینتانو کښل تقلیم د ظفارو پرېکول د نو کانو حلق د عانې هریل د بینتانو د نامه لاندې
اوخت سنتول استنجاء په او بو سره مشواك د یل ۱۲

کونکو او دمستکفانو وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾ او دپاڼو د راکمانو ساجدانو یعنے مصلیانو
وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ او یاد کړه هغه چه ابراهیم وویل رَبِّ اجْعَلْ اے زما ربه ته
وګرځوه هٰذَا دا ځای چه کعبه ده پکښے واچوله بَلَدًا امِنًا بنار په امان د محتے
او د خسف او د مسخ یا د ظلمه ځخه د ظالمانو وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ اوس وزی ورکړه
واهل ته ددے مِنَ الثَّمَرٰتِ د هرقسم میووځخه مَنْ اٰمَنَ د هرهغه چا ته چه
ایمان یے راوړے وے مِنْهُمْ بِاللّٰهِ د دوے ځخه پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او پر
ورځ د قیامت قَالَ وَمَنْ كَفَرَ بیا رب وویل او وهغه چا ته به یے هم وركوم
چه کافر دے ځکه چه دا رحمت عامه دے اودا مامت سوال چه تاکړے وه هغه
رحمت خاصه وه ځکه تخصیص پکښے وسو فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا نزعیش به ورکړم وروے
کافرته لږ یعنے په د نیا کښے ثُمَّ اَضْطَرُّهٗ بیا به یے په خواری سره بونړم اِلٰى
عَذَابِ النَّارِ د وعذاب ته ددوزخ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۲۶﴾ او بد ځای دی د
استوګنے فائدہ ددے دعا په سبب سره جبرائیل په امر د رب سره د فلسطین
ځخه یو بنار راوړے چه د یرمیوه دار وه او اوره واره یے پرکعبه راوګرزاوی او
دمکی ځخه یے درے منزله لیرے کښیښوے نو ځکه یے طائف بولے او اکثره میوے
دمکی ته هم دوغه طائف ځخه راځی وَاِذْ يَرْفَعُ او یاد کړه هغه چه پورته کول به
اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ ابراهیم علیه السلام بنیخونه دیوالو مِنَ الْبَيْتِ دکعبے وَاِسْمٰعِيْلُ د
او اسماعیل علیه السلام هم چه نرومی به یے تیږے «دبرې» راوړی او پلار به یے اینبودلی
او دواړو به ویل رَبَّنَا اے زمونږ ربه تَقَبَّلْ مِنَّا قبول کړه دا خدمت د مونږ
ځخه اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۲۷﴾ بیشکه ته چه یې هم ته ښه اوریدونکے دوګا
یے ښه دانا یے زمونږ په نیتونو وَرَبَّنَا وَاجْعَلْنَا اے زمونږ ربه مونږ دواړه
وګرځوه مُسْلِمَيْنِ لَكَ غاړه اینبودونکے وتاته وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ س
اونړمونږ د اولاد ځخه هدا سے خلق پیدا کړه چه وتاته غاړه اینبودونکے وی وَاَرِنَا

مَنَاسِكَنَا اورا وښیه وموږ ته ځایونه داداءکولو حج زموږ وَتُبْ عَلَيْنَا او قبوله کړه توبه زموږ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (۱۲۸) بیشکه ته چې یې هم ته یې د پرتو به قبلونکے اومهربانه رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ اے زموږ ربه او پیدا کړه په دوے کښے رَسُولًا مِّنْهُمْ رسول د دوځے يَتْلُوا عَلَيْهِمْ چه تلاوت کوے پردوے اٰيٰتِكَ ایاتونه ستا چه قرآن دے وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ او ورزده کوی ودوے ته قرآن وَالْحِكْمَةَ او امر او نهی او حلال او حرام وَيُزَكِّيهِمْ ط او دوے پاکوے دګنا هوځمه إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (۱۲۹) بیشکه ته چې یې هم ته غالب او قادر یې پرقبلولو دد ُعا زموږ خاوند د ډیرحکمت یې فائدہ ددے دعا په سبب سره پروردګار زموږ رسول علیہ السلام د اسمٰعیلؑ د پشته څمنه پیدا کړے ځکه چه داحدیث دے انا دعوة ابراهیم یعنے زه غوښتل سوے د خپل پلار یم چه ابراهیمؑ دے وَمَنْ يَرْغَبُ او څوك دے چه څنګ اومیل کوے عَنْ مِّلَّةِ إِبْرٰهِمَ د دین څمنه دابراهیم علیہ السلام یعنے څنګ ځنی کوی إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ د مګر هغه څوك چه خپل ځان خواروے وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ اوخامخا په تحقیق سره موږ غوره کړے وه دے فِي الدُّنْيَا په دے جهان کښے په نبوت اوخلت او په عمارت سره دبیتی وَإِنَّهُ فِي الْاٰخِرَةِ او بیشکه چه دے په هغه جهان کښے لَمِنَ الصّٰلِحِينَ (۱۳۰) خامخا د نیکانو اوخاصانو څخه زما دے إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ یادکړه هغه چه وده ته خپل رب وویل اَسْلِمْ چه غاړه کښیږده زما و قضا ته قَالَ اَسْلَمْتُ ولوده وویل چه غاړه مې ایښے ده لِرَبِّ الْعٰلَمِينَ (۱۳۱) ورب ته د تمام جهانونکتهٔ منا سب دا سے وه د ما قبل سره چه اَسْلَمْتُ لَكَ یې ویلی وای مګر ده عدول وکړے ولرب العٰلمین ته نو په دے سره ده علت دوجوب د اسلام بیان کړے یعنے دے خو مربّی دی د هرچا او مربّی ته ګردن نهادنی «غاړه ایښول» واجب ده نوده ته هم واجب سوه

ع ۱۵ ۱۰ ۱۵

عه یعنے بنی کړی وه موږ او بیا خلیل کړی وه موږ او بیا موږ ته ما موره کړی وه دخانه کعبے په جوړولو لپاره

عه یعنے او تاته غاړه ایښوله ۱۲

وَوَصّٰی بِهَآ او وصیت کړے وه په دے ملت یا په کلمه سره د اسلمت لِاِبْرٰهٖمُ بَنِیْهِ ابراهیم علیه‌السلام وخپلو زامنو ته وَیَعْقُوْبُ ؕ او یعقوب هم وخپلو زامنو ته د اسی وصیت کړے ووچه ورته ویلے یے وه یٰبَنِیَّ اے زما زامنو اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰی بیشکه چه خدائے غوره کړے دی لَكُمُ الدِّیْنَ وتاسے ته دین د اسلام فَلَا تَمُوْتُنَّ نو مګر سره تاسے مه مری اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ مګر چه تاسے مسلمانان اوسے په دے کښے مقصود نهی ده د ترک څخه د اسلام د مرلو څخه لکه چه ویل کیږے لَا تُصَلِّ اِلَّا وَاَنْتَ خَاشِعٌ روایت دے چه یهود و د رسول علیه‌السلام ته ویل چه تا ته دا معلومه ده اوکه نه چه یعقوب علیه‌السلام وخپلو زامنو ته په وخت کښی د نزع د یهودیت وصیت کړی وه نو نازل سو اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ ایا تاسے حاضر واست اِذْ حَضَرَ یَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ؕ چه راغلے دیعقوب علیه‌السلام ته مرګ یعنی علامی د مرلو اِذْ قَالَ لِبَنِیْهِ هغه وخت چه ده وخپلو زامنو ته ویل مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِیْ ؕ چه د چا عبادت به کوی زما تر مرلو وروسته قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ دوی ووویل چه موږ به ستا د رب عبادت کوو وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ او د رب د پلرونو ستا اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ چه دادی سره دے او د ترره ته یے هم پلار ووویل تغلیبًا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ دا سے خدای چه یو دے او شریک نه لرے وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾ او موږ د وه ته غاړه اینبوکے یو تِلْكَ اُمَّةٌ ۚ دا یوه ټولی وه قَدْ خَلَتْ ۚ چه په تحقیق سره تیره سوله لَهَا مَا كَسَبَتْ دے دے امت لره هغه چه دوے یې کسب کړی دے وَلَكُمْ ۚ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ او دے تاسے لره هغه چه تاسے یې کسب کړی دے وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ او نه به پوښتل کیږے عَمَّا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۴﴾ د هغه کار څخه چه دوے وه چه کول به یے هغه کار وند وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا او وایی اهل کتاب و مؤمنانو ته چه یهودشے د ایهود وایی اَوْ نَصٰرٰی یا نصرانیان سے د نصاری وایی تَهْتَدُوْا ؕ چه سمه لار پیدا کړے

عه یعنی لمونځ مکروه اے لمونځ کونکی مګر په هغه حال کښی چه تدبیر ویونکے یے د خدای څخه ۱۲ ۱۲

قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ وو ایه اے رسوله چه نه یهودیت کوو او نه نصرانیت کوو بلکه متابعت کوو دین وا ابراهیم علیه السلام حَنِیْفًا ط چه مایل وو دهر باطل څخه وحق ته وَمَا كَانَ او دے نه وو مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ د مشرکانو څخه قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وایاست اے مؤمنانو چه ایمان راوړے دی موږ پرخدای باندے وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا او پرهغه کتاب چه رالیږل سوے دے و موږ ته چه قرآن دی وَمَآ اُنْزِلَ اوپرهغه چه رالیږل سوی دے اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وابراهیم علیه السلام ته چه هغه لس صحیفے وے وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ اوودوے دروسره وو ته وَالْاَسْبَاطِ او د لمسیانو ته ددوے اګرکه «کرشمې» ودوے ته علیحده کتاب نه وو راغلے مګر هر کله چه دوے عاملان وو په احکامو د صحیفو د ابراهیم نو ګویا که پردوے هم دا صحیفے نازلے وے لکه قرآن چه موږ ته هم راغلے دی وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى اوپرهغه کتاب چه ورکړه سوے وه و موسے علیه السلام ته چه تورات دے وَعِيْسٰى اووعیسے علیه السلام ته چه انجیل دے وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ اوپرهغو کتابونو اومعجزو باندې چه ورکړه سوے دی ونورو پیغمبرانو ته مِنْ رَّبِّهِمْ د طرف څخه ددوے دخپلو ربه لَا نُفَرِّقُ موږ فرق نه کوو په اصل رسالت کښې بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ د دے پیغمبرانو څخه په یوه کښے دیوه هم ددوے څخه چه دیهودو په شان یو منو او بل نه منو وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ او موږ وده ته غاړه ایښوونکے یو فَاِنْ اٰمَنُوْا نو که دوے ایمان راوړی یعنی دا یهود او نصارا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ لکه تاسے چه ایمان راوړے دے پرهغه شی یعنے پرمحمد رسول نو اوګنا بو چه فرق پکښے نه کوے او قوله منی فَقَدِ اهْتَدَوْا نو په تحقیق سره بیا بے سمه لارې پیدا کړه وَاِنْ تَوَلَّوْا او که دوے شا کړه اوستاسے په شان ایمان رانه وړی فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ نو بیشکه هغوی خپره ده چه دوی په عداوت کښې دے فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ نو ښه ردے چه دفعه ګړے دتاسے څخه شر دده ے یهودو او نصارا ے وو اوخدای به ستاکافی سی فائدې داوعده بیا

رب ترسره کړه په قتل سره دبنی قریظه وو او په اخراج سره دبنی نضیر و او په ایښودلو سره دجزیې پرډوے اود نجران پرنصارٰی وو باندی وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۱۳۷) اودے ښه اوریدونکے دے داقوالو دے ښه دانا دے پراحوالو دوی اوداسے وایی چه موږ قبول کړے دی صِبْغَةَ اللّٰهِ ، رنګ د خدای یعنی دین دده اونه هغه رنګ د نصرانیت چه نصارٰی وو به وخپلو نرامنو ته ورکاوے ورږوسته ترتعمید لوڅ اوورځو ترولاوته په شرو اوبو سره چه دبل دین څخه پاک سے ماسیواد دین څخه د مسیح علیه السلام اوویل به یے صِبْغَتَهُ بالنصرانية وَمَنْ أَحْسَنُ اوڅوک دے دیرښایسته مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ز ترخدای دجهته د رنګ وَنَحْنُ لَهُ عٰبِدُونَ (۱۳۸) اوموږ ده لره طاعت کونکے یو روایت دے چه هرکله یهود و ومؤ منانو ته وویل چه پیغمبران قوله دبنی اسرائیلو څخه وه اوکه دے پیغمبرانی نوره دے به هم دبنی اسرائیلو څخه وای نونازل سوقُلْ أَتُحَاجُّونَنَا تاسو رته ووایه چه ایا تاسے د موږ سره جګړه کوی فِي اللّٰهِ دخدای په دین کښے اوبل په دے کښے چه ده دے غوږ کړے دے دعربو څخه وَهُوَ رَبُّنَا اوحال داچه دے زموږ رب دے وَرَبُّكُمْ ، اورب ستاسے دے وَلَنَا أَعْمَالُنَا اوده موږ لره جزاء نر موږ دعملو وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ، اوده تاسے لره جزاء دعملوستاسے وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ (۱۳۹) اوموږ ده لره خالص کونکے یو داعتقاد اودخپل عمل أَمْ تَقُولُونَ ایا تاسے وایاست إِنَّ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْمٰعِيلَ وَإِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ چه بیشکه داپیغمبران اوپیغمبرزادګان چه وه كَانُوا هُودًا دوی یهودیان وه دایهود وایے أَوْ نَصَارٰى ط یا نصرانیان وه وانصارٰ وایے قُلْ ءَأَنْتُمْ أَعْلَمُ تاسو رته ووایه اے رسوله چه ایا تاسے ښه پوهیږی د انبیاؤ پراحوالو أَمِ اللّٰهُ ط اوکه خدای وَمَنْ أَظْلَمُ اوڅوک دے ویرظالم مِمَّنْ كَتَمَ نزهغه چاچه پټوے شَهَادَةً عِنْدَهُ هغه شاهدے چه ثابته وه دده څخه یعنی شاهدے درسالت درسول چه ده لره راغلے وه مِنَ اللّٰهِ ط دخدای څخه

پہ تیرو کتا بو کښے وَمَا اللّٰهُ اونہ دے خدائے بِغَافِلٍ نا خبرہ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۱۴۰) د هغو کارونو څخہ چہ تاسے یے کوی پہ دے کښے التفات دے د غیبتہ څخہ خطاب تہ تِلْكَ اُمَّةٌ دا یو تولی دہ قَدْ خَلَتْ، چہ پہ تحقیق سرہ تیرہ سوے دہ لَهَا مَا كَسَبَتْ دوے لرہ دے هغہ چہ کسب یے کړے دی دوے وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ، اودی تاسے لرہ هغہ چہ کسب یے کړے دی تاسو وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ اونہ بہ پوښتل کیږے تاسے عَمَّا د هغہ کارونو څخہ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۴۱) چہ دوی وہ چہ کول بہ یے هغہ کارونہ

روایت دے چہ هر کلہ رسول د خدائے صلی اللہ علیہ وسلم د مدینی تہ راغلے او پہ دی سرہ ما مورہ سو چہ لمونځ بیت المقدس تہ کوہ نو یهود و بہ ویل چہ اگر کہ دی زمونږ پہ دین نہ دے مگر قبلہ خو یے همدا زمونږ قبلہ دہ یا بہ یے داسے ویل چہ دہ پخوا د سرہ قبلہ نہ پیژندلہ اوس چہ زمونږ لمونځ پیژی او لیدی نو قبلہ ورتہ معلومہ سوہ او دہ خاطر شریف پہ دے خبرہ سرہ د پیر ملال سو نو نازل سو

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ ژر دے چہ وایی دا لیونے احمقان جاهلان مِنَ النَّاسِ د خلکو څخہ نکتہ پہ دے سرہ د استقبال سرہ اخبار دی د غیبہ څخہ یعنی ژر دے چہ نور بہ تاسو ته موږ ه کړو پہ توجہ سرہ دکعبے او یهود او منافقان بہ وایی پر طریقہ د طعن سرہ مَا وَلّٰهُمْ څہ شی دے چہ دا مؤمنان یے وگرځول عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ د هغہ خپلے قبلے څخہ كَانُوْا عَلَيْهَا ولاړ چہ دوے وہ پر هغہ قبلہ باندے چہ بیت المقدس وہ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ تہ ورتہ ووایہ چہ خاص خدائے لرہ دے مشرق چہ کعبہ دہ پکښے وَالْمَغْرِبُ او مغرب چہ بیت المقدس پکښے دی يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ بوابرو ے دی هغہ څوك چہ اراده یے وے اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۱۴۲) و سمے لارے تہ چہ دین د اسلام او قبلہ د ابراهیم دہ وَكَذٰلِكَ اوهمدا سے لکہ چہ موږ هدایت کړے دی وتاسے تہ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا گرځولے یاست موږ تاسے

یو تولی غوره پہ علم او پہ عمل او پہ عدل کښے

عہ یعنے پرومی درکړی دہ پہ احکامو د شریعت او بیا ے توفیق د عمل درکړے دے پر احکامو باندی او بیا تاسے عادلان کړے یاست د شاهدی پہ پارہ ۱۲ ۱۲

لِتَكُونُوا شُهَدَآءَ دیاوے دوے چہ تاسے د قیامت پہ ورځ شاهدان سے د طرفہ څخہ د تیرود سولو نو عَلَى النَّاسِ پرهغوخلکوچہ منکران وو د رسالته څخہ داسے چہ تاسے به شاهد ے دوایاست چہ دوے پیغام رسولے وہ وَيَكُونَ الرَّسُولُ اوسے رسول علیہ السلام عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ط پرتاسے شاهد یعنی مُرکی وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي او نه دے کړے موږ طرف د ځ گورنو لوستا هغه قبله كُنْتَ عَلَيْهَا چہ ته دے پرهغه باندے نو هجرت مکے چہ کعبه ده إِلَّا لِنَعْلَمَ مگر دوے د دیاره چہ معلوم یعنے بیل کړو موږ ذکره دے سبب چہ علم دے اومراد څخہ مسبب دے چہ تمیز دے مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ هغه څوك چہ درسول پیروے کوی دوے قبلے په نوتجه کښے مِمَّنْ يَنْقَلِبُ د هغه چاچہ بیرته گرځے عَلَى عَقِبَيْهِ ط پرخپلو پوندو باندے یعنے چہ کافرکیږے وَإِنْ كَانَتْ او بیشکه چہ دا قبله ده یا دا اجمل یا دا تحویل دے وقبلے ته لَكَبِيرَةً خانخا دیر سخت کار دے پرتولوخلکو باندی اوواِنْ مخفف دے د مثقل څخہ نه نافیه اودلیل پے دخول دلام دے إِلَّا عَلَى الَّذِينَ مگرنه دے سخت کار پرهغوکسانو باندے هَدَى اللَّهُ ط چہ سمه لار خدای درښوولی ده . اوعائد پکښے محذوف دے چہ هُم ضمیر د مفعول دے روایت دے چہ بیا یهود و وویل نو هغه مسلمانان چہ پخوا تو تحویل مړه دے هغه گمراهان ولاړه یا اصحابو درسول کریم څخہ سوال وکړے چہ څه حکم دے د هغه اهل اسلامو زمونږ چہ ترتحویل مکے مړه دے نو نازل سوو مَا كَانَ اللَّهُ اونه دے خدای لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ط چہ خراب کړے ایمان یعنے منځونه ستاسے إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ بیشکه چہ خدای پرخلکودے لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۴۳﴾ خانخا د پرمهربانه اوبخښونکے دے روایت

لہ او پاکونکے او نه دیکے ستاسی یعنے دا پاك به دے چہ دا امت زما د رو هیڅی نه دی بلکه ژښتیا دیر نیکے دی ۱۲ منه فائده پہ پر ځای کښے چہ په کلام ربانی کښے د ضمائر لفظ لاسے یعنے چہ الله پاك د ځمان ته اشاره کړی دی نو څخہ څخہ لفظ څخہ جلالت کول مراد دی نه منځے نکه چہ کریی خپله د اخلے نو اعتراض پرالهی یعنے پخوا مو د عالمان نه وه بلکه اکسی عالمان سو لکه چہ ظاهر لفظ څخہ د اصلو مهرے نالهم ۱۲ منه یعنے د ځی صیغه د فعل ماضی معلومے ده او الله فاعل دی او مفعول پے ضمیر د جمع دی هغه محذوف دی دیاره د کوتاه والے د خبری ۱۲

دی چه هرکله دا طعنه[1] پرده ثقیله سوه نو تل به یے ورب ته سوال کاوی او بیا بیا به یے مخ دوحی وطرفته گرزاوے نو نازل سو قَدْ نَرٰى په تحقیق سره موږ وینو تَقَلُّبَ وَجْهِكَ بیا بیا گرزول دمخ ستا فِي السَّمَآءِ ۚ داسمان وطرفته وکیے د شوقه څخه فَلَنُوَلِّيَنَّكَ نو خاخا به وگرزو وضرور بالضرور تا قِبْلَةً تَرْضٰىهَا وهغه قبلے ته چه ته هغه قبله خوسنوے فَوَلِّ وَجْهَكَ نو ته مخ خپل وگرزوه شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وطرفته د مسجد حرام یعنے وکعبے ته روایت دے چه د هجرت په دویم کال د بدر ترجنګ دوے میاشتے مخکے ورسوسته ترهغه چه یوکال او څلور میاشتے لمونځ د بیت المقدس ته سوی وه چه دا ایت راغلے د دوشنبی په ورځ درجب په مینځ او دوه رکعته لمونځ دما پسینن یے کړے وه دبنی سلمو په مسجد کښے نو مخ یے وگرزاوے د لمانځه په مینځ کښے وکعبے ته او بیا دوه رکعته یے وکړه نو ځکه مسجد القبلتین بلل کیږے او بعضے مقتدیان ورسره وگرزیدل او بعضے ولاړپاتے سوه او مرتد سول وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ اوهرچیرے چه تاسے اوسی یعنے په شرق یا په غرب کښے یا په بر یا په بحر کښے فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ نو گرزوے خپل مخان دلمانځه په وخت کښے شَطْرَهٗ ۚ وطرفته د مسجد حرام وَإِنَّ الَّذِينَ اوبے شکه هغه کسان أُوتُوا الْكِتٰبَ چه ودوی ته ورکړه سوے دی کتاب لَيَعْلَمُونَ خامخا دوی پوهیږے أَنَّهُ الْحَقُّ چه بیشکه دا تحویل یا توجه وکعبے ته حق دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّهِمْ ۗ د طرفه څخه ددوے د رب به څکه چه په تورات کښے راغلے دی چه دے به لمونځ کوی وقبلتینو ته اوورسیږے قبله به یے کعبه وی وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اوخدائے غافل نه دے عَمَّا يَعْمَلُونَ (۱۴۴) د هغه انکاره څخه چه دا یهود یے کوی وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ او قسم دے که ته راوړی وهغوکسانو ته أُوتُوا الْكِتٰبَ چه ودوے ته کتاب ورکړه سوی

[1] دا طعنه پرده ثقیله سوه یعنے هرکله چه کفارو پرده باندی دا الزام ویلو لکه چه زموږ د قبلے ته لمونځ کوی نو زموږ دین بهم څنګیږی کړی خیږوی ۱۲ منه یعنے هغه جماعت ددوو قبلو چه دوه رکعته یے وبیت المقدس ته کړی وه او دوه رکعاته یے وکعبے ته وکړه نو ځکه ددوو قبلو مسجد ورته وایے ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

دے بِکُلِّ اٰیَةٍ هر معجزه او حجت او دلیل پردے چه کعبه قبله ده مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ دوے به ستاد قبلے پیروے ونه کړے یعنے دکعبی حکمه چه انکار یے دعنادپه وجه دی نه دجهل په وجه وَ مَاۤ اَنْتَ او ته نه یے بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ متابعت کونکے د دوی د قبلے حکمه چه ما مورٌ نه یے وَ مَا بَعْضُهُمْ اونه دے بعض د دوے بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ پیروے کونکے د قبلے د بعض نور وحکمه چه قبله د یهود و د مغرب ته ده چه صخره ده اوقبله د نصارٰے د وو مشرق ته ده نو موافقت یے سره محال دے وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اوکه بالفرض والتقدیر پیروے وکړے اَهْوَآءَهُمْ د دٰا ارشٓ وکا نو د دوی مِّنْۢ بَعْدِ مَا د ورسته ترهغه جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ لاچه تا ته علم رالغلے دے پردے چه قبله د ابراهیم علیه السلام حقه ده اِنَّكَ اِذًا بیشکه چه ته په دغه وخت کښی یے لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ خامخا به د تولی څخه د ظالمانو اَلَّذِيْنَ هغه کسان اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چه موږ ورکړے ده توراة او ورکړے دی يَعْرِفُوْنَهٗ دوے د دا رسول پیژنے كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ لکه چه دوے خپل زامن پیژنے یعنے د پیر بنه یے پیژنے بیشکه اوشیبه وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ اد بیشکه یوه فرقه دده وے څخه چه ده لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ خامخا پټوے حق چه ده نعت دے وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ اوحال داچه دوی پوهیږے چه موږ حق پټوو اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ حق دے ثابت دے د ربه څخه ستا فَلَا تَكُوْنَنَّ نو ته مه کیږه اے رسولهٗ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ د شك راوړونکو څخه په ظاهر کښے خطاب دے وده ٔ اومراد پکښے امت دے لکه په دغه تیرسوی ایت کښے چه اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ وَلِكُلٍّ اوهر چالره ددے اهل ادیانو څخه وَّجْهَةٌ یوه قبله ده هُوَ مُوَلِّيْهَا چه دے مخ کونکے دے ودغه قبله ته یا خدای گرزنکے دده دے مخ دے ودے قبلے ته یا لِكُلٍّ معنے اداچه هر صنف داصنافو څخه دبنی اد مولره بیله بیله قبله ده لکه په دے نظم کښے چه لیکل سوی دی

ده یعنے پیروی وکړه ستاامت ددوی دارزوګانو یعنے دکافرانو نو بیشکه ته یعنے ستاامت به ظالمانو څخه وے ۱۲

نظم

عالم ته فکر ونیسه بیاکوره — قبله دهرچا بیله بیله ورورځ
قبله دتن پرور وخوب خوراک (پیښی اوسږ ژر ۱۲) — قبله دعاقلانو فکر ادراک
قبله دونیا دار وسیم وزر — قبله دباچانو تاج افسر
قبله د غافلانو جاه او مال (مال جمع کول ۱۲) — قبله د ذاکرانو ذکر او حال
قبله دحریصانو د مال جمع — قبله د صابرانو صبر او قنع
قبله دسرو دیانو دے رباب — قبله د زاهدانو دے محراب
قبله د کبراهانو دے تلبیس (وعظ کول ۱۲) — قبله دعالمانو دے تدریس (درس وترس ۱۲)
قبله دجاهلانو دے بدکار — قبله دسالکانو دی اسرار
قبله دکافرانو د ے زنار — قبله دعاشقانو مخ دیار
قبله د مشرکانو دے ضلال — قبله دعارفانو دی وصال (پښه ورکیدل والله ۱۲)

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ط نو تاسے تو تربل و پرانده کیږے د طاعاتو ته او دقبول و جهاتو ته چه یوه څنے توجه ده وکیے ته أَيْنَمَا تَكُونُوا هر چیرے چه تاسے اوسے يَأْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيعًا ط رابه ولے اوحاضر به کړے خداے تاسے وحشرگاه نه دجزا دمنلو اعمالو د پاره یعنے مسلمانان اوکافران او منافقان مطیعان اوعاصیان إِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خداے عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۱۴۸﴾ پرهرشی بنه توانا دے وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ او د هغه ځایه څخه چه ته ووزی اے رسوله وسفرته

عه یعنی چه دخپل ځان بنه پرورش کوی اوبنه یے اسوده ساتی ۱۲ سه یعنی فکر کوی په ذات او په صفاتو او په نعمتو کښی د پرودگار او بیا یے پوه کړے چه د هغه شیا وُ ته ۱۲ عه طاعت کوئ والله ۱۲ ص

نه طاعت کوئ والله ۱۲

تُوَلِّ وَجْهَكَ نوخپل مخ کړنۍ وه په لمانځه کښې شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د مسجد حرام وطرفته وَ اِنَّهٗ لَلْحَقُّ اوبیشکه دا تحویل وکړے ته چه دے خامخا حق دے حُکه چه دے راغلے دی مِنْ رَّبِّكَ د ورب په څخه ستا وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اوخدائے نه دے غافله عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۱۴۹) د هرهغه کار څخه چه تاسے یې کوی وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ اود هغه ځاپه څخه په هر وخت کښے چه ته ووزی وسفر ته فَوَلِّ وَجْهَكَ نو ته خپل مخ په لمانځه کښے وګرنۍوه شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د مسجد حرام وطرفته وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ اوهر چیرے چه اوسے اے مؤمنانو فَوَلُّوْا اُوْجُوْهَكُمْ نوتاسے ګرنۍ دے خپل مخان شَطْرَهٗ د مسجد وجانب ته لِئَلَّا يَكُوْنَ دده دپاره چه نه وی لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ټاسے خلګو لره یعنے یهود و او مشرکانو لره پرتاسې بانديې حجت اوجګړه چه یهود به وایی چه نږمونږ دین څخه منکر دے اولمونځ نږمونږ قبلے ته کوے او مشرکان به وایی چه دعوے دوین د ابراهیم علیه السلام کوے اومخ پے دهغه قبلے څخه وبل طرفته ګرنۍ ولے دے اِلَّا الَّذِيْنَ مګرهغه کسان ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ټه چه ظالمان دے ددے یهود او مشرکانو څخه چه یهود وبه ویل چه د خپل قوم دین پے غوڑه کړے او وطن پے یاد سو او مشرکانو به ویل چه نږمونږ دین حق ورته بنکاره سو نو حُکه پے بیا نږمونږ قبلے ته مخ راوګرځاوی فَلَا تَخْشَوْهُمْ نوتاسے ددوے څخه مه بیریږے چه طعنے به وایی وَاخْشَوْنِيْ اوه ما څخه وه بیریږه اونږما پے فرمانے مه کوے وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ او دوبیر ددے دپاره چه نږه خپل نعمت پوره کړم چه بنکاره کول دے دین د احکامو پرتاسے باندے وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ (۱۵۰) او دریم ددے دپاره چه بنایی چه تاسے بیاوحق تیسمه لار پیدا کړے یا هدایت په نعمتونه د آخرت دے یعنے تمام به کړم پرتاسے

خپل نعمتونه په اخرت کښے كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ لکه چه موږ پرتاسی انعام کړے وو په دنیا کښے چه موږ راولیږلے دے رَسُوْلًا مِّنْكُمْ پیغمبر په تاسے کښے ستاسے د جنسه څخه يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا چه وایے "تلاوت کوی" پر تاسے باندے اٰیتونه زموږ د قرآن وَيُزَكِّيْكُمْ اوتاسے د شرک څخه پاکوے وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ اوتاسے ته قرآن او حلال اوحرام درښیي وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا او درښیي وتاسے ته هغه شیان لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (۱۵۱) چه تاسے نه واست چه پخپل فکر سره په پوهیدلی واست فَاذْكُرُوْنِيْٓ نو تاسے ما یاد وے په لمانځه کښې په ذکر او په تسبیح سره اَذْكُرْكُمْ چه زه به هم تاسے یاد کړم یعنی ثواب ونه او مغفرت اوجنت اونور ما دیدار به درکړم وَاشْكُرُوْا لِيْ او شکر کذاره "شکر کښے" اوسے وما ته نور ما پر نعمتو باندے وَلَا تَكْفُرُوْنِ (۱۵۲) او نور ما د نعمتو بے قدرے مه کوے په عصیان اوتافرمانی سره يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اے مؤمنانو اسْتَعِيْنُوْا مدد غواړی د خدایه څخه بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ په صبر کولو سره د منافعیو اود نفس د خواهشاتو څخه یا په روژه او په لمانځه سره چه د عبادا تو سره دے اود رب سره مناجات دے ځکه چه را غلے دے الصلوٰة معراج المؤمنین اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائے مَعَ الصّٰبِرِيْنَ (۱۵۳) د صابرانو سره دے په مدد کولو او په حفظ کښے او په حمایت کښے روایت دے چه د بدر په جنګ کښے څوارلس اصحاب شهیدان سوه نو مؤمنانو وویل چه غربیان مړه سوه اودد نیا د لذتو "څیزونو" او نعمتو څخه د څوندو محروم ولاړه نو نازل سو وَلَا تَقُوْلُوْا او تاسے مه وایاست لِمَنْ يُّقْتَلُ د هغه چا ته چه وژل سوے دے فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ د خدائے په لاره کښے یعنی چه دوی په جهاد کښے مړه دی بَلْ

ع ۱۵ ۲

عه د هغو شیانو څخه چه خدائے خپلې مخلوقې کړی دی ۱۲ منه یعنی دا المرتبې چه دی معراج د مؤمن دی یعنی سبب د پرته کیدلو او مخلوقې کړی دی د خدائے تعالیٰ ۱۲

اَحۡیَآءٌ بلکه ژوندے دے وَلٰكِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ اولیکن تاسے په کیفیت سره
دده حیوٰة نه پوهیږے ځکه چه ستاسے توعقل وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ او خامخا به موږ تاسے ازمایو بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَالۡجُوۡعِ په یوه
شی سره د ویرے د دښمن اودلوږے څخه د مخطی وَنَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ او د
نقصانه څخه د مالو په سرنگارلیدا فاتو سره وَالۡاَنۡفُسِ اود نفسو په قتل
او په مرلو او په ضعف او په مرض سره وَالثَّمَرٰتِ ۱ او د میدو په
افاتو سره او په وو او ارضیه ۲ وسره یا مراد خوف د خدای څخه یا لوږه د
درولے او نقصان د زکوٰة او امراض د بدن او موت او اولاد دے لکه چه
په حدیث قدسی کښے ولد پشره بلل سوی دی هغه دادے چه اقبضتم ثمرة
قلبه اکریث وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾ الَّذِیۡنَ اوښایره ورکړه د طرف څخه د پور د رګار
دپاره واحسانو پرهغو صابرانو اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِیۡبَةٌ ۙ چه د ورسیږی د
دوے ته څه غم لوی یا د پیر لکه چه په حدیث شریف کښے راغلے دے كُلُّ
مَا سَآءَ الۡمُؤۡمِنَ فَهُوَ مُصِیۡبَةٌ ۙ قَالُوۡۤا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۱۵۶﴾ نو دے
وایی چه بیشکه موږ مال د خدای او بندګان ده یو او بیشکه موږ خاص
وده ته بیا ورتلونکے یو په قیامت کښے اُولٰٓئِكَ داصابران او مستوجبان
چه دے هم په خوله اوهم په نړه سره عَلَیۡهِمۡ صَلَوٰتٌ ۬ دے پوره دے باندی
افزائے درحمت اود مغفرت مِّنۡ رَّبِّهِمۡ د جانبه څخه د خپله سره به وَرَحۡمَةٌ ۟

---

۱ وراه دی یعنی فکر د اوعقلو ستاسی شه د رکسیږی ۱۲ منه په ضعف یعنی اول قوی دی بیا پاتی ضعیف کړی ۱۲ منه په زور
پرزور والے سره یعنی خرابان دی بیا پے زاره کړی ۱۲ منه افات سماویه یعنی بزل یا تندره پرے راولیږی نو هلاک به یی کړی ۱۲
۲ ارضیه یعنی ملخ یا چیلیه پرے مسلط کړی او خراب پے کړی ۱۲ منه قبضتم لوی یعنی هرکله ویره مؤمن زوی یا لور مړ سی او
هلته کښے روح د بدنه وځی نو هیڅوری نو رب العزت څنی پوښتنه د کړی چه ایا تاسے د بدنه وزړه میره قبض کړے او تر اخره ۱۲
۳ یعنی هر مصیبت چه مؤمن سره پیښ کیږی نو د بدنه تر مصیبت د ډیر سخت وی بدنه یا د زړه خپه د مؤمن ته تکلیف
په رکسیږی او غصه کړی یعنی په بدنه مصیبت وی ۱۲ منه مسترجعون یعنی د وی آیت د ویر ځکه چه انا لله وانا الیه راجعون وی د وی ژوند په
خطا او اکثر خپه سوے ګڼی چه خراب او بد پیښ دے نو زړه ښه ګڼی چه ډیر ښه پیښ دے ځکه چه د الله ملک دے او هغه خدای دے ۱۲

او مهربانی او نعمت یا جنت وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ (۱۵۷) او دوے چه دے هم دوے لارې پیدا کونکے دے وتسلیم[1] او رضا بالقضاء ته روایت دے چه د جاهلیت په زمانه کښې به کفارو دصفا او مروه په مینځ کښے طواف کاوے چه د مسجد حرام وشرقی طرفته دے اودوه بتان پے هم پرایښی وه چه مسه کول به پے بیا چه مکه فتحه سوه او هغه بتان مات سوٗ نو مؤمنانو داطواف دکفارو د ځمنه پریښووی نو نازل سو اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ بے شکه صفا او مروه چه دے مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ج دعبادت دنښو ځمنه دے چه حج دے فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ نو هرڅوك چه اراده[2] د بیتې وکړے د حج یا ره اَوِ اعْتَمَرَ یا د عمرے فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ نو پرده هیڅ وبال نسته اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ماپه دے سره چه پرد واړو طواف وکړے یعنے چه د دواړو په مینځ کښے اوده واړه وځغلے وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا او هرڅوك چه په رغبت سره یو نیك کار وکړی فرض یا نفل فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدای شَاكِرٌ عَلِيْمٌ (۱۵۸) قد ردا نه جزا ورکونکے[3] ودے ته دنیکے اوښه داناد ے دده په نیت سره اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان چه دے یهود و داحبارو[4] ځمنه يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا چه دوے هغه شی پټوی چه موږ په تورات کښې نازل کړے دی مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى دښکاره احکامو ځمنه لکه د رجم[5] ایت اورهنمایی چه هغه نعت د رسول[6] دے مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ وروسته ترهغه چه موږ هغه هدیٰ بیان کړی دی لِلنَّاسِ دخلکو د پاره یعنی وبنی اسرائیلو ته فِي الْكِتٰبِ په تورات کښے اُولٰٓئِكَ داحق پټوونکے چه دے يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ لیږے کړی دے دوے خدای د خپله رحمته ځمنه وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ (۱۵۹) اولعنت وایے پردوی باندے لعنت ویونکے د ملائکو او پیرانانو

[1] تسلیم[1] یعنے خاوند ایښودل او رضی کیدل په حکمونو سره د خدای چه یو د هغو ځمنه قضاء ده یعنے حکم کول د خدای دی په سرګردانو سره ۱۲ [2] اراده وکړه د بیت یعنی د تللو او حاضریدلو اراده وکړی د طرف بیت الله ته ۱۲ [3] د رجم یعنے سنګسارول د زنا کار نو یعنے چه بیځایه اوسړے د واړو داده کړی دی او بیازنا وکړی نو سنګسار به وے ۱۲

او انسانانو څخه اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مګر هغه کسان چه وګرځيدله دشرک څخه يا دنفت د پټولو څخه وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا اوصالح يې کړے خپل عمل اوښکاره يې کړه هغه پټ کړی خپل فَاُولٰٓئِكَ نو دا کسان چه دی اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ج رجوع کوم پرودوے د دوئے په قبلولو سره او په رحمت سره وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ (۱۶۰) اوهم دا زه يم بيا بيا قبلولونکے د دوئے اوهم بانديم اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بيشکه هغه کسان چه کافران سوی دے وَمَاتُوْا اوهم كُفَّارٌ او مړه سوی وی اوحال داچه دوی کافران وے دمرلړ په وخت کښی هم اُولٰٓئِكَ دوے چه دی عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ دے پردوی باندے لعنت دخدای وَالْمَلٰٓئِكَةِ اود ملائکو اهم وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ (۱۶۱) او دټولو انسانانو زيادټولو مؤمنانو خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ج دوی به هميشه وے په دے لعنت يا په اوږکښی لَا يُخَفَّفُ نه په سپکيږے اوکميږے عَنْهُمُ الْعَذَابُ دا دوے څخه عذاب وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ (۱۶۲) او نه به وے چه مهلت به ورکړه سے يا درحمت نظر پرو سی وَاِلٰهُكُمْ اوخدای ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج يو معبود دے چه شريک نه لري لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نسته لايږد عبادت هيڅوک مګرهم دے دے الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ (۱۶۳) چه روز ے رسانه اوهم بانه دی ع ۱۶ ۲ ۱ ۲ ۱ ۲ ۱

را تلو کښے یا په اوښ دیدو او په لښدیدو کښے یا په تیارہ کیدو او په رڼا کیدو کښے دوے وَالْفُلْكِ الَّتِيْ او په هغو کښتیو او اګومو کښے تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ چه سړو ان دی په دریاب کښے بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ په هغو مالونو او تجارت چه هغه وخلکو ته نفعه رسوے په ربړ "کښے" سره وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ او هغه چه خدائے را لیږلے دی مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ د اسمان د طرف څخه یا د اوربل څخه او به فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ نو ژوندے یعنے ښارغونه کړے په سره بَعْدَ مَوْتِهَا د روستہ تر وچوالے دوے وَبَثَّ فِيْهَا او خپاره کړے پے دی په دے مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ټول دهر قسمه ژنده سره وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ او په را الوړلو ولو کښے د خلورو قسمه بادو چه قبول، دبور، شمول، جنوب دے وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ او په هغه اوربل کښے چه مسخره کړه سویده د ډب وامر ته بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ په مابین کښے د اسمان او د ځمکے لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ خامخا د کم رکم دلیلونه دے پر وحدانیت باندے د خدائے دهغو خلګو دپاره چه عقلونه لري او په دې دلیلو کښے فکر کوی وَمِنَ النَّاسِ او بعضے د خلګو څخه مَنْ يَّتَّخِذُ هغه شوك دی چه نیسی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا بیله خدایه څخه شریکان چه بتان دی يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ د چه دوے مینه کوی پر دے بتانو باندے په مثل سره د هغې مینې چه پر خدائے باندے پے کول بنایے وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا او هغه کسان چه ایمان پې راوړے دی اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ د پیرفوے دی او ثابت دے په محبت کښے خدائے لره وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا او که لیدلای وای هغو کسانو چه ظلم پے کړے دے د شر پکا نو په ښو لوسره اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ د په هغه وخت کښې چه دوے

عه قبول وهلہ بادته وایی چه دقبلے نه سمسوی ج کړی نو دښ د طرف څخه راځی د لمر ختو د جانبه څخه او دبور وهنه بادته وائی چه سمسوی شاد قبلے نه کړی نو دښ د جانبه څخه راځی یعنی د لمر لویدو د طرف څخه او جنوب وهنه بادته وایی چه د قبلے د راسته اوښی جانبه څخه راځی او شمول وهنه بادته وایی چه د قبلے د چپه لاړ څخه راځی والله اعلم واحکم په مجمع البحار نومی کتاب کښې دی ۱۲ منه یعنے بنده کړه سوی او تابع کړه سوی ده ۱۲

بروبنی عذاب دہ دوزخ د قیامت پہ ورځ اَنَّ الْقُوَّةَ چہ بیشکہ غلبہ اوقدرت چہ دے لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ قولہ خاصخہ اے لرہ دے وَّاَنَّ اللّٰهَ اوبیشکہ خدای چہ دی شَدِيْدُ الْعَذَابِ (۱۶۵) ډیر سخت دی عذاب دہ اوجواب د لَوْ محذوف دے چہ کہ د دوی تہ دا امور معلوم وای نو بتان بہ پیے پہ خدایی سرہ نہ وہ نیولے اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا یادکرہ ھغہ چہ بیزاره بہ سے ھغہ کسان چہ متبوعان اومشران دے مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا د ھغو کسانو څخہ چہ تابعان اوکشرلاوی وَرَاَوُا الْعَذَابَ او دوکہ واره طاپئے بہ عذاب وویني وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ (۱۶۶) اوپرے بہ سی پردے باندے ھغہ قولہ واسطے چہ پہ دنیا کیے وی دچلوالے اودیاسے وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا اوو بہ وایے ھغہ کسان چہ تابعان وہ لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً کاشکے کہ وای موږ لرہ بیاورتلہ ودنیا تہ فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ نو موږ بہ دده دے چلوتہ بوعاز څخہ بیزاره سوی وہ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا لکہ دوکچہ دموږ څخہ بیزاره سوہ كَذٰلِكَ همدا ډول چہ دوکے تہ بے وروښولہ سختے دعذاب اوبیزاره يُرِيْهِمُ اللّٰهُ وروبہ ښيي خدے اودوکے تہ پہ قیامت اَعْمَالَهُمْ ھغہ خپلے عملونہ دده دے حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ۭ افسوسونہ پروے اوداویے لفظ د کے مفعولہ غواړي اول مفعول يے هُمْ دے اودوهم يے اعمالهم دی اودیم يے حسرت دے وَمَا هُمْ اونہ بوے دوکے بِخٰرِجِيْنَ ع ۴ مِنَ النَّارِ (۱۶۷) کو تونکے دده وبنځ اوداوبنځہ هیڅکله د راوتلو دے چیرتہ بوبہ وجاهلیت پہ زمانہ کښے حلال پرځان حرام کړے وہ لکہ بحیرہ اوسائبہ اوصیلہ اوحام اوداسے نور چارپایان هم اوبل

عہ بحیرہ دہغہ اوښی تہ وایی چہ څلوربنی خیری کړے اوسکوی اوسائبہ دہغہ اوښی تہ وایی چہ د خپلو بتانو پہ نامے کښلے کړے سوی دے اوصیلہ دہغہ پسہ تہ وایی چہ دپنځو دروسرہ پیچسته اویوکھا سوی دے اوحام دہغہ نر اوښس تہ وائی چہ حمایت کړے او اولاد تہ دی دچلے شاروایت دی چہ دجاہلانو دا عادت وہ چہ هرڅہ اوښہ بہ چہ پنځہ واره لنگ سوہ اوچہ هغہ پنځم بچے بہ ښے نر وی نو دے جاہلانو بہ هغے خلورو باندے خپلو د برخیرے کړی نو بیا بہ پے لوښل اوبارول اوسپر بدل پر منعمہ کړہ او ابدہ بہ ښے کوم نو بحیرہ بہ ښے د رښتیا ویلہ اوخپلو پہ هغو ناجوړو باندے افترا سوہ دہ پہ دیل کار سره پاکہ نہ رڅ سوم پاکہ نہ لاړ سوم او نوازانہ اوښہ ښے سائبہ دی نو بحیرې پشان بہ ہیڅ گټلہ او سپرلہ کولہ بچے ښے کار سره بہ نہ پہ کاوی اوچہ پیرہ بہ اوږه واره لنگہ سوی نو کہ د اوم پہ لمړی نر اولاد وہ نو حلال بہ پاتے کیږی اوپرانی نارینہ دوہ پہ بے بیا خوارئ اوکہ د اوم اولاد وہ بے بچے نہ وہ نو بیا هم حلال بہ پاتے کیږی اوکہ بہ هر اګاہ کښے بہ یو بچے ښے نر اوښہ سره د اوښلے وہ نو بیا هم حلال بہ پاتے کیږی

کښت چه وښتا نو برخه به یې مقرره کړې وه او بعضې حرام به یې حلال کړی وه لکه هغه اولاد وحیرے اود سائبے چه مونږ پرې یاد لے وی لکه چه په سورة مائده او انعام کښے یې بیان دی نو نازل سو چه یَا اَیُّهَا النَّاسُ اے خلکو کُلُوْا مِمَّا فِی الْاَرْضِ خورے هغه شیانو څخه چه په ځمکه کښے حَلٰلًا طَیِّبًا حلال او ښه وَلَا تَتَّبِعُوْا او پیروے مه کوے خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ د شیطان دقدمو ینے په شیطان پسے مه ځئ چه دده په وسوسو سره حلال حرامو ی او حرام حلالوی اِنَّهٗ لَکُمْ بیشکه چه دے تاسے لره عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۱۶۸﴾ ښکاره دښمن دے اِنَّمَا یَاْمُرُکُمْ بیشکه هم اخبره ده چه امرکوے دے وتاسے ته بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ په هغه بد سره چه عقل نفرت ځئ کوے او په هغه ناکاره کار سره چه شرع یې قبیح بولے وَاَنْ تَقُوْلُوْا او امرکوے دے چه ووایاست یعنے په درواغو سره تاسے وترے عَلَی اللّٰهِ پرخدای باندے مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ هغه خبرے چه تاسے نه په پوهیږ ے لکه پید اکول د شیرکانو او تحریم د حلالو او تحلیل د حرامو وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ اوچه وویل سے ورته اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ چه پیروے کوے هغه کتاب چه خدای رالیږ لے دی یعنے قرآن قَالُوْا نو دوے وایے چه مونږ د قرآن پیروی نه کوو بَلْ نَتَّبِعُ مَآ بلکه مونږ پیروے کوو د هغه شی اَلْفَیْنَا عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا چه مونږ پرهغه شی خپل پلرونه پیدا کړے دی چه هغه دبتانو عبادت دے اوتحریم د بحائرو اود سوائبو دے نو رب العزت وایی اَوَلَوْ کَانَ اٰبَآؤُهُمْ ایا دوے د خپلو پلرو پیروے کوی اگرکه ددوے پلرونه وه لَا یَعْقِلُوْنَ شَیْئًا چه نه پوهیدل له په هیڅ شے سره ددین د احکامو مخه وَّلَا یَهْتَدُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ او نه یې د حق ته لاره پیدا کړے وه وَمَثَلُ الَّذِیْنَ اوحال د هغو کسانو چه دک اوداځکه[1] چه دلته مضاف پکښے محذوف دے اے ومثل داع الذین کَفَرُوْا اچه

[1] یعنی د حرامو والے د حلالو او حلالو د حرامو ۱۲ [2] او داځکه لفظ د بلونکی په معنے کښی ما ځکه تیر کړی چه دلته مضاف پکښی محذوف دی چه هغه لفظ د داع دی یعنے داع مضاف او الذین یې مضاف الیه دی فافهم ۱۲

کافران سویے یعنے حال د بلنی ددوے وخدای تہ کَمَثَلِ الَّذِیْ لکہ دھغہ غوبہ یا شپانہ حال دے یَنْعِقُ بِمَا لَا یَسْمَعُ چہ نارے وھے وھغہ چارپایا لونہ چہ ھیڅ نہ اوریے یعنی لونرھیخ نہ فہموے دے داغویان او پسونہ دوہ دنار وٹخہ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ط مگر تشتہ بلنہ اوتش آواز یعنے لکہ غوا او پسونہ چہ تش اوازونہ وغوبہ یاد شپانہ اوریے او معنےٰ نسی ٹخے فہموی ھدا سے کافران ھم تش دعوت درسولؐ اوسری اوتدبر او تفکر نہ پکښی کوی چہ مُوَجِّبٌ دھدایت سے صُمٌّ کا نہ دے داوریدو ٹخہ دحق بُکْمٌ گنگیان دی دتکلمہ ٹخہ پہ حق سرہ عُمْیٌ کا نہ دی دلیدلو ٹخہ دحق فَهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ لوزدو ھیڅ عقل نہ لری چہ وحق تہ لاړ پیدا کړے ھر کلہ چہ رب العزت اول خطاب وکړی وتولو خلگو تہ او مثال پے ھم پہ کفارو پورے وایی دپارہ دتنبیہ د مؤمنانو نو ومؤمنانو تہ پے دخاص خطاب ارادہ وکړہ لونوپے ویل یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو کُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ ماخوری دپاکیزہ وریعنے دحلالو ٹخہ دھغو شیانو رَزَقْنٰكُمْ چہ موږ وتاسے تہ درکړے دی وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اوشکرگذاری کوے خدای لرہ ددے نعمتو اِنْ كُنْتُمْ کہ تاسے یاست اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۷۲﴾ چہ خاص ھم وہ تہ عبادت کوی ھرکلہ چہ رب العزت فارغہ سو دبیا نہ ٹخہ دحلالو نوراوہ پے وکړہ دبیا نولو دحرامو نوپے ویل اِنَّمَا حَرَّمَ بیشکہ ھمدا خبرہ وہ چہ خدائے تعالےٰ ځلورشیان حرام کړیدی عَلَیْكُمُ الْمَیْتَةَ پہ تاسے مردارہ یعنے ھغہ چہ مرہ وے بیلہ زکوٰۃ اوبیدحلالولو، ماسیوا دماھے اولمڅ ٹخہ چہ دا پہ حدیث سرہ روا سوید وَالدَّمَ اووینہ غیر دایښی او توری ٹخہ چہ داھم پہ حدیث سرہ روا سوی دے وَلَحْمَ الْخِنْزِیْرِ اود خنزیر غوښہ اوداحرمت پے ونوږ اجزاؤ

لہ چہ نارے وھی یعنے اوازونہ پہ زورہ کوی ۱۲ سکندہ فہموی یعنے نہ پہ لږ ھیر ہ ی ۱۲ سکندہ ٹخکلمہ ٹخہ یعنی دغیرو کولواوخولے غوږ ٹولو ٹخہ پہ حق سرہ ۱۲ سکندہ یعنی ھرڅہ دخنزیر حرام دی بیلہ غوبے ٹخہ ھم یعنے پہ وکی کلمی پے ھم حرامی دی او بیشترتی ھم حرام دی ۱۲ منہ ۹

نه هم شامل دے وَمَآ اُهِلَّ اوهغه مذبوحه چے بوغ سوی وی "یاد کړه سوی وی"
بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ج پرهغه باندے غیږد خدایه تخمه یعنی دذبحی "حلالولو" په وخت کښے دبل
چا نوم پریاد سوے وی لکه د بُتانو یا د پیغمبرانو فَمَنِ اضْطُرَّ نوهر څوك چه
اړکړه سویا په سبب سره د لوږے یا د اکراهٍ[1] چه د هلاك خوف "ورګډیږ" پکښے وی
اوخوراك نخی وکړے غَيْرَ بَاغٍ په داسے حال کښے چه دلذت اوشهوت طالب نه وی
اود معصیت نه وے وَّلَا عَادٍ اونه د شرع څخه تجاوز کونکے وے چه هغه خوراك
دحاجت په قدر سره وے یا تورځ[2] راکښو نکے نه وے پر بل مسلمان باندے فَلَآ اِثْمَ
عَلَيْهِ نو هیڅ وبال نسته پرده باندے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (۱۷۳)
بخښونکے دے وهغه چا ته چه د ضرورت په وخت کښے د اشیاؤ خوری اود پرهر باند
دے چه د ضرورت په وخت کښے پے د اشیاؤ مباح کړی دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه
هغه کسان چه دیهودو احبارو څخه يَكْتُمُوْنَ چه دوی پټوے د رشوت[3] په قبلولو
سره مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ هغه چه خدای رالیږلے دی مِنَ الْكِتٰبِ د تورات څخه وَيَشْتَرُوْنَ
بِهٖ اودوے اخلے په دی پټولو سره ثَمَنًا قَلِيْلًا لږ قیمت اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ
داکسان چه دے نه خوری یعنی نه اچوی فِيْ بُطُوْنِهِمْ په خپلو نسو کښے اِلَّا النَّارَ
مګراورد دوزخ یعنی موجبات داور وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ اوخبرے د منفعت به خدای نه
درسرهٔ کوے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ د قیامت په ورځ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ج اونه به یے پاك کړی وَلَهُمْ
عَذَابٌ اَلِيْمٌ (۱۷۴) اودے دوے لره دردناکه عذاب اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ
داهغه کسان دے چه دوی دګمراهے پیروان دے یعنی دیهودیت بِالْهُدٰى په
ایمان سره وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ج اوعذاب ابدی پر بخښش[4] صمدی فَمَآ اَصْبَرَهُمْ

[1] اکراه یعنی چه زور پرو کړه سی یعنی چه ظالم ورته ووایی چه ژر سره دامرداره وخوره کښی وَرنه دی ۱۲ [2] یعنی یو مسلمان هم دده په شان وږی دی اوهغه څه لږ قدر مردار ه پیدا کړی دی چه فقط دهغه کار په کیږی نو دی ورسی اوپر هغه تورو راوکا ږی چه ژر سره دار اکړه کښی وَرنم دی ۱۲ [3] یعنی رشوت دخلکو څخه اخلی او قبلوی یُ او دا حق پټوی ۱۲
[4] یعنی عذاب چه همیشه به وی هیڅ انتها نلری پر بخښش د خدای چه دهغه څخه غنی دی ۱۲

نوروے څه شی صبر ناکه کړیدے یا دوی څونه د پرصبر ناکه دے که فصل تعجب سے
عَلَى النَّارِ (۱۷۵) پراو ربانده ے ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ داعذاب دوے لره په دی سبب
سره دے چه بیشکه خدای نَزَّلَ الْكِتٰبَ ما بالحق په حق سره او بیا دوے پکښی سره مختلف سو چه بعضو ایمان پرلاوړی او
بعضو نه پرلاوړے وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا او بیشکه هغه کسان چه اختلاف
کوے فِي الْكِتٰبِ په توراة یا قران یا په نورو کتابو کښے لَفِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ (۱۷۶) خامخا
په داسے عناد کښے دی چه د پرلیرے دی هغه دحق د لاری څخه روایت دی
چه هر کله دده ے نه یا تو ترنزولِه اهل کتابو داواورېدله چه د موږ ته نسبت د
شقاق سویدے نو دوے وویل چه موږ خو هم پرخدای ایمان راوړی دے او
لمونځ کوو وخپله قبلی ته نو په موږ کښے شقاقت او ضلال څه غواړی یا ورسره
ترنزوله د توجه دایا تو وکړے نه هرے طائفے به ویل چه نبکی خو خاص دا توجه
د موږ د قبلی ته ده نو د پاره د رد د دوی د قول نازل سو لَيْسَ الْبِرَّ نه ده نیکے
اَنْ تُوَلُّوْا دا کار چه تاسے گرزوی وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ خپل مخان ای
نصارٰی وو په لمانځه کښی د مشرق وطرفته وَالْمَغْرِبِ او د مغرب وطرفته ای
یهودو څکه چه دا دواړه منسوخ سوی دے وَلٰكِنَّ الْبِرَّ اولیکن نیکے چه ده یعنے
خاوند د نیکو چه دی مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ هغه څوک دے چه ایمان یے د اوړی دے
پرو حدانیت د خدای باندی نه لکه یهود او نصارٰے چه زامن د شریکان ورلره
پیدا کوی وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او د اخرت پرورځ د تولو حقو توسره نه لکه یهود او
نصارٰے چه اخرت هریو څان لره بولے وَالْمَلٰٓئِكَةِ او پرملائکو تولو باندے
نه لکه دوی چه د جبرائیل علیه السلام سره بغض کوی او د نورو سره محبت کوی
وَالْكِتٰبِ او پر تولو کتابو باندے نه لکه دوی چه بعضے منی او بعضے نه منی
وَالنَّبِيّٖنَ او پر پیغمبرانو باندی پر تولو نه لکه دوے چه د څینو رسالت

منی او دځیلوونه منی وَاٰتَی الْمَالَ عَلٰی حُبِّهٖ او ورکوے مال په محبت سره د خدائ یاسره د محبته د دے مال ذَوِی الْقُرْبٰی د خپلوانو نادارانو ته وَالْیَتٰمٰی او یتیمانو ته او خپلوان پریتیمانو په دے سبب سره مقدم سوه چه په خپلوانو کښے دوه خیراته دے لکه چه حدیث دی چه صَدَقَتُكَ عَلَى الْمَسٰكِيْنِ صَدَقَةٌ وَعَلٰى ذِیْ رَحِمِكَ اثْنَتَانِ صَدَقَةٌ وَّصِلَةٌ وَالْمَسٰكِيْنَ او دهغو نادارانو ته چه سوال نه کوے وَابْنَ السَّبِيْلِ او د مسافرانو ته وَالسَّآئِلِيْنَ او د سوال کونکو نادارانو ته وَفِی الرِّقَابِ او په گردنو ازاد ولو کښے یعنے مکاتبانو ته یا وبنده یانو ته د خلاصے د پاره وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ او خپل لمونځ کوے وَاٰتَی الزَّكٰوةَ او خپل زکوٰة مفروضه ورکوے او هغه محکے مال ورکول چه ویل سویدے هغه هسی ثوابے دی وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ او بل وفاکونکے د ے پخپله وعده سره او د اعطف پر من اٰمن باندے دی اِذَا عٰهَدُوْا په هغه وخت کښے چه دوی وعده وکړے یا د خدای یا د بنده سره وَالصّٰبِرِيْنَ او اخرین د ے صبر کونکولره او د اواو عاطفه نه دی بلکه ابتدائیه دی حُكْمِ چه دا څان ته کلا مدی او دا نصب د والصّٰبِرِيْنَ بنا پر مدح د ے یعنی اَمْدَحُ الصّٰبِرِيْنَ فِی الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ پر سختیو نادارے او د رنځ ناجوړی کښے وَحِيْنَ الْبَاْسِ طاو په وخت کښے د جنګ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا ذکر سوی هغه کسان دے صَدَقُوْا چه دا سته یے کړیده په دین کښے اوپه متابعت کښی د حق اوپه طلب کښے د نیکی وَاُولٰٓئِكَ او دوے چه دے هُمُ الْمُتَّقُوْنَ (۱۷۷) همدوے څان ساتونکے د ے د هر نالایقه کار ه څخه د روایت دے چه هر کله په جاهلیت کښے په مابین کښے د نضیر واو

عه یعنی خیرات ستاسے خیرات کونکے پریوه فقیر نا دار باندی یوخیرات دی او ثواب دی دی او خیرات او نفقه ستاپر یوخپل فقیر باندے یعنے چه یوستاخپل دی اوبل فقیر هم دے نو دادوه خیراته دی یعنے دوه ثوابونه دی یوثواب د خیرات اوبل ثواب د صلهٔ رحمی دی ۱۲ منه مکاتب هغه مریبی ته وایی چه یوه مولے د خپل مریبی ته د وایی چه ته ما ته دوه زره روپی راکړه نوته ازادیی ۱۲ منه چه پر فرض سوی دی وخدای دجانبه څخه ۱۲

د قریظه وو یاد اوس ا وخزرج سره خونونه پور وه او یوه طائفه چه به پرهغه بلے غالبه وُده غالبے طائفے به پرخپل مریبي اصیل سره قصاص کاوے او پوښتنه به یے سره اوپر یوه سره به یے دوه قصاصول نو بیا چه دورداسلام سو او دواړه رسول صلی اللہ علیہ وسلم لږه پوښتنه کولو سره را غلے نو نازل سو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو کُتِبَ عَلَیْكُمُ الْقِصَاصُ فرض کړه سوے دی یعنے فرض کړی دی ما پرتاسے قصاص یعنے مماثلة اوبرابرے فِی الْقَتْلٰی ط په وژلو سوو کښے چه عمداً اوی اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ اصیل سره به قتل کیږي چه پراصیل وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ اومریبي پرمریبي باندی وَالْاُنْثٰی بِالْاُنْثٰی ط اوښځه پر ښځه اوداحکم داسلام پهاول کښے وه اواوس د اما م اعظم په نزد منسوخ سویدے په ۱ یت سره وَاَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ آیة مَنْ عُفِیَ لَهٗ نوهر څوك چه وده ته عفوه وکړه سوه مِنْ اَخِیْهِ شَیْءٌ د قصاص څخه د خپل اسلاے ورور څخه یولږ یا ډیر شی اوپه تنکیږدشی کښے ودے ته اشاره ده چه عفوه د بعض قصاص یا عفوه د بعض وارثانو مسقط د قصاص ده او جزاء د مَنْ شرطیه داده چه فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ نو متابعت لازم دے وقاتل ته د عافی په ښه وجه سره یعنے د دیت ورکول دے په رضا اوبه رغبت سره وَاَدَآءٌ اِلَیْهِ اوسپارل د دیت دی د عفه عافی چه د مقتول وارث دے بِاِحْسَانٍ ط په نیکه وجه سره یعنے شر اوپوړ یا مخنے د اخذ د عافی باندے لازم ده اِتِّبَاعٌ بالمعروف چه دیت دے په تندے او سختے سره نه څنے غواړے او پر قاتل باندے لازمه ده اداء په احسان سره چه شر اوپوړ دے پے ورکړے ذٰلِكَ تَخْفِیْفٌ داعفوه اودیت سپکول دبارد ے پرتاسی باندے مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ط د ربه څخه ستاسے او مهربانی ده چه اختیار پے

عه عافی یعنی عفوه کړنکے چه والی د مقتول دی ۱۲

وتاسے تہ درکړے او یو شی بے پرتاسے لازم نہ کړے لکہ قصاص پر یہود و او دیت پر نصارا ے و فَمَنِ اعْتَدٰى نو هر څوك چہ ظلم بے وکړے پہ وړ لوسرہ دقاتل بَعْدَ ذٰلِكَ وروسته ترے عفوے یا دیته فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ نو ده لره دردناکه عذاب دے پہ آخرت کښی پہ سړه او سړه یا پہ دنیا کښے پہ قتل واجب سړه وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ اوے تاسو لره پہ قصاص کښے حَيٰوةٌ ژوند او بقا ځکه چہ څوك د قتل اړ ده وکړے او بیا د بیړی څخه د قصاص څنے منعه سی نو قاصد او مقصود به دواړه ژوندۍ پاتہ سے يٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ اے د خالص عقلو خاوندانو لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ بنایی چہ تاسے ځان وساتے د بے موجبه قتله څخه روایت دے چہ هر کله د جاهلیت پہ زمانه کښے خلکو د بیګانه ګانو د پاره وصیت کاوے پہ سړو ے او د سړ او والدین او اقربا ے څپل بہ یے محرومه کړه بیا چہ د اسلام دور راغلے نو نازل سو كُتِبَ عَلَيْكُمْ فرض کړه سوید ے پرتاسے باندے اِذَا حَضَرَ پہ هغه وخت کښی چہ حاضر سے اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ پریږه دتاسے څخه علامے د مرګ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۨ ﴿۱۸۰﴾ که ده پریږ ایښے دے مطلق مال یا د یر مال الْوَصِيَّةُ وصیت کول فرض دے لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ د مور او پلار او د نورو خپلوانو د پاره بِالْمَعْرُوْفِ ج پہ انصاف سړه حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۸۰﴾ مقرر سوی احکم پہ حقه سړه پرځان ساتونکو باندی د شرك څخه او د احکم بیا منسوخه سوه د میراث پہ آیت سره فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ نو هر څوك چہ د اوصیت بدل کړے بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ وروسته ترهغه چہ د اوصیت واورے فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ نو بیشکه چہ هغه خبره ده چہ وبال د دی بدلولو چہ د عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ط خاص پرهغو کسانو د ے چہ د د ے ایصاء "وصیت" تغیر او بدلول کوے او د موصے د د ے وبال څخه بیزاره د ے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چہ خدای سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۸۱﴾ ښه اوریدونکے دی د وصیت د موصے او د تبدیله

"بدلولو څخه"

خُمہ د مبدّل "بدلولو" د اناوے پر احوالو دوا پرو فَمَنْ خَافَ نوهغه وارث یا وصی یا قاضی یا امام چه وه ببریږي مِنْ مُّوْصٍ د وصیت کونکے څخه جَنَفًا په وصیت کښے ډیل کولو څخه تر حق چه وصیت به وکړے د قولو مال یا د بعض مال یا و بعضے وارثانو ته په سهوه سره اَوْ اِثْمًا یا دګناه په قصد سره چه وصیت به وکړے نږیات د ثُلُث څخه یا غنے او عاجزو به محروم کړے فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ نو صلح وکړے د وارثانو اود موصٰی لهم په مابین کښے د موصی ترمرګ وروسته د شرعے په موافقت سره فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ د نو پروے صلحه کونکے باندے هیڅ وبال نسته حُکمِ چه اصلاح یے کړیده نه فساد اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸۲﴾ بخښونکے او مهربانه دے پرهغه چا چه د یو احتیاط کوی د ده په احکامو کښے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ فرض کړه سویدی پر تاسو روژه كَمَا كُتِبَ لکه چه فرض کړه سوی وه عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ پرهغو خلقو باندے چه مخکے تر تا اوسوه تر اادم علیه السلام پورے لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ بنایے چه تاسے ځان وساتی د ګناهو څخه حکمِ چه مُروِّشوه د نفس د تُندے ماتولو کے ده چه هغه بیخ دے د قولو ګناهو اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ګڼلو ورځو سره شمار سره چه هغه نه ویشت یا څلویښت ورځے دی او چاوبلے دے چه مراد پرې دے ایام موسره ایام بیض دے او عاشورې ورځ ده چه په اول د اسلام کښے د یهودو روژه فرض ده بیا په ماه رمضان سره منسوخ سوه فَمَنْ كَانَ نو هرڅوک چه وه مِنْكُمْ مَّرِيْضًا د تاسے څخه سړے "مریض" چه طاقت یے د نیولو د روژے نه د رلودی یا یے سړے "مرض" په زیاتیدی اَوْ عَلٰى سَفَرٍ یا هغه په سفر کښے وے چه هغه موجب د قصر وی اوروژی وخوری

لہ ثلث یعنی د دریمی حصے د مال ۱۲ لہ موصٰی لهم یعنے هغه کسان چه وصیت کړه سوی وی وهغوته ۱۳ لہ ایام بیض یعنے په هره میاشته کښے د دیارلسمی او څوارلسمی او پنځلسمی روژے نیول دی ۱۴ لہ چه هغه سفر سبب د کوتاه کولو د لمانځه وی چه پنځه شاړه درے شپږ اوه رکوع دے ۱۲

فِدۡیَةٌ مِّنۡ اَیَّامٍ اُخَرَ ځ نو لازم دے پر دہ روژہ نیول په شمار دوسرو د افطار ولو "روژې خوړلو" دنورو وروستو پیلہ ماہ رمضان "روژې دمیشتې" وَعَلَى الَّذِیۡنَ اوپرهغوکسانو یُطِیۡقُوۡنَهٗ چه طاقت لرے دنیولو اونه یے نبسی اوداحکم داسلام په ابتداء کښې وو بیا په فَلۡیَصُمۡهُ سره منسوخه سو یا مراد په یطیقونه سره عدم طاقت دے بنا پردے چه لا پکښې مقدر دے یعنے لا یطیقونه یا همزه دباب دافعال دسلب دپاره دے یعنے چه طاقت ځنے مسلوب وی چه شیخ فانی یا دده په مثل وی فِدۡیَةٌ طَعَامُ مِسۡكِیۡنٍ (یعنے کره سوسیری روټی) فدیه ورکول دے په برابرے دهرے روژی دیومسکین خوراك چه هغه د امام اعظمؒ په مذهب نیم صاع دے فَمَنۡ تَطَوَّعَ خَیۡرًا نو هرڅوك چه زیات ورکړے پخپل رغبت سره څه خیر یعنے پیسے علاوه تروے فدیې فَهُوَ خَیۡرٌ لَّهٗ طنو دا تطوع غوره دے ده لره وَاَنۡ تَصُوۡمُوۡا اودا چه تاسے درخصت (انتظار) سره روژه ونیسی خَیۡرٌ لَّكُمۡ داغوره ده تاسے لره اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ که تاسے پاست چه دروژے په فضیلت سره پوهیږے شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ دروژے میاشت هغه ده اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ چه رالیږل سویدے په دے کښے قرآن په شپه کښے دلیلة القدر په یوه وار سره دلوح محفوظ څخه وبیت العزت ده اوبیا دهغه ځایه څخه پورسول علیه السلام باندے تو پته تو پته "لږ لږ" په قدر وحاجت سره په دریشتو کالو کښے هُدًى لِّلنَّاسِ چه لارښوونکے دے وخلکو ته وَبَیِّنٰتٍ مِّنَ الۡهُدٰى اوښکاره ایتونه دے دحلالو اوحرامو دحدود واود نورو قولو احکامو وَالۡفُرۡقَانِ ۚ اوبیلونکے دحق او دباطل دے فَمَنۡ شَهِدَ نو هرڅوك چه حاضره پخپل وطن کښے یعنے مسافر نه وو مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ دتاسے څخه اے مکلفینو په دے میاشت کښے د اهله که الشهر مفعول فیه سے یا معنے داچه راحاضر سوے دے دے میاشتے ته

ف۱ یعنی طاقت نلری دروژے نیولو ۱۲ ف۲ مکلفینو یعنے پته تکلیف داحکامو مرشرعیه وو درباندے کړه سویدی یعنے چه عاقلان اوبالغان واست ۱۲ ف۳ یعنی دمضان روژه ونیسی ۱۲

یعنے ژوندے وی رتہ ژر وسیدہ او روغ او مقیم وہ فَلْيَصُمْهُ نو پکار دے چہ دے دے میاشتے روژہ دے ونیسے وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا او ھغہ څوک چہ مریض وی اَوْ عَلٰى سَفَرٍ یا پہ سفر کښے وی او افطار وکړے فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ نو پردہ لازم دے شمار پورہ کول دنورو ورځو سیواہ روژے میاشتے د تکرار د تصریح د پارہ دے پہ دے ژر چہ پہ تیرایت سرہ یواځے تخییر د مقیم منسوخ سو یکے نہ داد وارہ يُرِيْدُ اللّٰهُ خدای ارادہ لرے بِكُمُ الْيُسْرَ نرتا سے او اسانے چہ مسافر او مریض پے مخیر کړیدے وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ او دسختے ارادہ نہ لرے پرتا سے وَ لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ او بل دد دے دپارہ چہ تاسے پورہ کړے شمار میاشتے وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ او بل چہ تاسے خدای پہ لویہ سرہ یاد کړے عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ پردے چہ برابر کړے یاست دہ تاسے پرسمہ لار چہ داسلام دین دے او حلال او حرام لمونځ روژہ حج او نرکوہ پے درتہ بیان کړیدے وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (۱۸۵) او بنایی چہ تاسے شکر وکاږے یا پرخصت یا پراسانی یا پرثواب روایت دے چہ اصحابو سوال وکړے د رسول علیہ السلام څخہ چہ زمونږ رب نژدے دے کہ لیږے کہ نژدے وی نو پټ آواز پہ ورتہ کوو اوکہ لیږے دے نو پہ ژوره آواز پہ ورکوو نو نازل سو وَاِذَا سَاَلَكَ او چہ پوښتنہ وکړے د تا څخہ اے رسولہ عِبَادِيْ عَنِّيْ زما بندگان چہ مَا څخہ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ نو بیشکہ چہ زہ پر نژدے یم پہ علم او پہ اجابت سرہ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اورمراو قبلوم سوال دبلونکی اِذَا دَعَانِ او پہ هغہ وخت کښے چہ ما وبولی فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ نو پکار دے چہ دے وی ھم اورے اوغوږ دے وما تہ ونیسے هر دخت چہ زہ بے ولوم ایمان اوطاعت تہ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ او پہ کار دے چہ چل ایمان دی محکم لرے پر ما باندے لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ (۱۸۶) بنایی چہ دے ګمراہی نہ لاربائے وی ھمیشہ روایت دے چہ درو سترہ فرض کیدلی د روژی د میاشتے پہ ابتداء کښے حکم داسے وہ چہ ترلمر لوړد درو سترہ بہ د روژا تے تہ د ماتو لو رخصت نہ وہ ترخو چہ بہ پے د ماخوستن لمونځ کړی نہ وو یا بیدہ سوی بہ نہ وہ اوکہ بہ پے لمونځ وکړے یا بہ پے خوب مابین کښے بیدہ سوے نو بیا بہ افطار

(۱۸۷) ترلیلہ خرے بہ ورتہ حرام وہ نو ناجاء ہ و بعض اصحابو څخہ ترلسا څخہ درو سترہ

عہ یعنے زنانے او مسافر حکم ھمیشہ ہمدا ئی چہ روی میاشتے روژہ دے پہ ھر ہر یو کښے ۱۲ منہ یعنے پورہ د روژو سترہ روی پہ ھغہ سوال او جواب د دوو کسانو الفجر ۱۲ منہ د لمر غروب وسیدو د درو سترہ روژہ د افطار رخصت روی پہ دی طبرو کښے چہ طعام او څښاک او جماع دے ترلمر خوستن پورے کوی ۱۲

په غلبه د شهوت پرطریقه د نسیان سره مباشرت صادر شو بیا چې په رمضان خبر شو نو پیرپښیمانه شو او رسول علیه السلام لره راغلی او واقعه یې ورته بیان کړه نو نازل شو اُحِلَّ لَكُمْ حلال کړه شو تاسی ته لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ په شپه د روژی کښی لوبی او جماع اِلٰى نِسَآئِكُمْ له بنځو خپلو سره هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ دوی اغوستن یعنی لاندی پرستن (لباس) دی ستاسی دپاره وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ط اوتاسی هم اغوستن یعنی پرستن یاست ددوی لپاره عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ پوه دی خدای په دی چې بیشکه تاسی كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ واست چې خیانت یعنی ظلم کوی پرځانونو خپلو فَتَابَ عَلَيْكُمْ پس رجوع پې وکړه پرتاسی په رحمت او په رخصت سره وَعَفَا عَنْكُمْ ج اوعفوه پې وکړه له تاسی څخه د تیر خیانت فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ پس اوس مجامعت کوی له دوی سره په شپو د روژی کښې وَابْتَغُوْا مَا اوغواړی هغه شی كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ص چې لیکلی دی خدای تاسی ته په لوح محفوظ کښی یعنی اولاد چې مقصود اصلی پکښی هم دادی وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا اوخوری اوچښی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ ترهغو پورې چې بنکاره شي لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ تاسی ته سپین تار د صبح صادق مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ له تور تاره د شپې څخه مِنَ الْفَجْرِ ص له صباح (سهار) څخه ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ بیا پورې کړی روژی خپلې اِلَى الَّيْلِ ج ترشپې پورې وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ اوجامعت مه کوی له دوی سره وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ لا او حال داچې تاسی به یاست معتکفان فِي الْمَسٰجِدِ په مسجدونو کښې تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ داچې دی حدونه د خدای دی چې ده مقرر کړی دی فَلَا تَقْرَبُوْهَا پس مه نژدی کیږی دی حدونو ته كَذٰلِكَ هم داسی لکه چې دا بیان پې کړه يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ نښې خپلې د خلقو ته له امر او له نهی او له وعده او وعید لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ بنیاپې چې دوی ګمان وساتی له مخالفته څخه په دی حدودو کښی وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ اومه خورئ

له (یعنی جماع له خپلو بنځو سره په شپه د روژې سره مه کوی)

ته چې اراده د اعتکاف کیږی دی تاسو او په مسجدونو کښی به ناست یاست ۱۲

مالونه خپل چه واقع دی بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ په مینځ ستاسو کښے په نارواسره یعنے بیله
اذنه د شارع دیو بل مالونه مه سره خوړهے لکه په غلا یا په غصب (زور زیاتی)
یا په جواری (خُمار) یا په زنا وعقود وفاسده ووسره وَتُدْلُوا بِهَا اومه غورځوئے
دامالونه پرطریقه د رشوت سره یا شریعت ددی مالو اِلَى الْحُكَّامِ حاکمانو
ظالمانو تہ لِتَاْكُلُوا فَرِيقًا دپاره ددی چی وخوړی یو معاونت ددی حاکمانو
سره څه قدر مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ له مالونو څخه د خلکو بِالْاِثْمِ په ظلم سره لکه ۲۰
قسم یا شاهدان د دروغو وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۱۸۸) او حال داچی تاسی پوهیږئ ع ۱۴
چی داظلم دی روایت دی چه معاذ بن جبل او ثعلبه انصاری سوال وکی له
رسول علیه السلام څخه چی څه حکمت دی چی میاشت اول مهینه (نوی) وی
بیا کوار کوار زیاتیږی تر څو چی کرد ی شی بیا ور وکمیږی چه ورکه شی نو
نازل شو يَسْـَٔلُوْنَكَ پوښتنه کوی دی وی له تا څخه ای رسوله عَنِ الْاَهِلَّةِ له
میاشتو یعنی له نوی پاتیدو او کمیدو څخه ددوی قُلْ هِيَ ورته ووایه دا میاشتے
چی دی مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وختونه دی د خلکو لپاره د مصالحو ددین او د
دنیا ددوی چه هغه هم په دی پورے موقوف دی لکه زمانه د حمل یا د
رضاع یا د عِدَّتِ یا د عقد و یا د مزدورۍ نکته ددوی سوال وکمیدو
او زیاتیدو وکړی و واو جواب په فائده سره راغلے دپاره د اشارت ودی ته
چی تاسے لره په دی سوال کی هیڅ فائده نشته نو مناسب داسی ده چی سوال
دمقصود وکړی وَالْحَجِّ ط او خصوصًا دپاره د حج ځکه چه موسم د حج او د تروپی
او عرفی او وقوف اوږی د جمره وو او نحر دا قول هم پردی موقوف دی
روایت دی چه په زمانه د جاهلیت کښے به چا احرام د حج یا د عمرے
وتاړی نو په دروازه به کور ته نه راتلی بلکه څولۍ به په پا م راوختل او چا به

دیوال سوری کی نو په دی سوری به راننوتل

لے کار و نه ددی ۱۲ منه د تی ورکولو ۱۲
سه ویشتل د جمره وو ۱۲ منه د ریدل د عرفات ۱۲

اودا پی نیکی شمیر له اوتارك ددی به یه فاسق بالی نو نازل شو وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ
اونه ده نیکی په دی کښنې تَاْتُوا الْبُيُوْتَ چی راشی تاسی وکور وته مِنْ ظُهُوْرِهَا
له طرفه د شا د دوی وَلٰكِنَّ الْبِرَّ اولیکن نیکی یعنې څښتن د نیکی چی دی مَنِ اتَّقٰى ج
هغه څوك دی چی وویریږی له قهر د خدای اوځان سا تی د جاهلیت له کار وځخه
وَاْتُوا الْبُيُوْتَ اوننوزی وکور وخپلوته په احرام کښنې یا بیله احرامه مِنْ
اَبْوَابِهَا ص له دروازو د دی کور وځخه وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه بیریږی له خدایه
څخه لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾ ښه پی چی تاسی برې پیدا کی روایت دی چی یو
کال رسول علیه الصلوٰة والسلام له څو اصحابو اسره مکی ته روان شو په
نیت د عمرې اوځد یبیه نومی یوځای دی مکی ته نژدی چی هلته راغی نو
قریشو حصار کړه او په دی پی صلحه سره وکړه چی راتلونکی کال ته راشه درې
ورځې به مکه درته خالی کړو نو عمره اداکړه بیا دا بل کال چی روان شوه د
پاره د قضا پی د تیرې عمرې نو اصحاب په ویره کښنې وه چی مبادا کفار جنګ
را باندی شروع نه کړی په حرم ﷺ او په احرام او په شهر حرام کښنې او پر مو ږ به
قتال حرام وی نو نازل شو وَقَاتِلُوْا اووڅر فی او جنګ کوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
الَّذِيْنَ په لاره د خدای کښنې هغه کسان يُقَاتِلُوْنَكُمْ چی وڅر فی تاسے وَلَا تَعْتَدُوْا او
اومه تیریږی له حده یعنې تاسی ابتداء مه کوئے په جنګ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی
خدای لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ نه خوښوی تیریدونکی له حده اوداایت بیا
منسوخ شوے دی په ایت د سیف په دی مخکښنی ایت سره چی دادی وَاقْتُلُوْهُمْ
اووڅر لئے دوی حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ په هرځای کښنې چه تاسے پیدا کی دوی یعنې
په حرم کښنې وی اوکه په حل کښنې وَاَخْرِجُوْهُمْ اوو باسی تاسی دوی مِنْ
حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ له هغه ځایه چه ایستلی ئی واست تاسی یعنې له مکی وَالْفِتْنَةُ

علیه یعنې چی هرځای د حرم دی اوهم نیت د حج ترلی دی موږ او بیا مباشته حرامه ده ۱۲ منه شهر له
وطنه جهاد یعنې تاسی ئی له وطنه خپله شی ئی ۱۲ او اوس شیخ متعلقه الصفحه الاتیه بقول ے چه جلاوطنی ده ۱۲

او شرك دده وی یا هغه محنت دده وی چه پرتا سے پی سزا و ستلی دی چی جلا وطنی ده
اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ د هیر سخت دی له وژ لو ستا سے اګر که په حرم او په احرام او په
شهر حرام کښی وی وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ او ابتداء مه کوی په جنګ له دوی سره عِنْدَ
الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ په څنګ د مسجد حرام کښے یعنی درست حرم کښی حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ
فِيْهِ ۚ تر هغوچے دوی پرتا سے جنګ شروع کوی په دی حرم کښے او اول هم دوی
هتك[1] د حرمت وکی فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ پس که جنګ شروع کی دوی پرتا سی فَاقْتُلُوْهُمْ ط
پرتا سی هم وژنی دوی كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾ همدا رنګه ده جزاء د کافرانو
فَاِنِ انْتَهَوْا پس که منعه شوه دوی او سرا وګرزیدل له شرکه فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه
چه خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾ بخښونکی دے تیر شرك او معصیت دی مهربان دے
جنت به ورکی وَقٰتِلُوْهُمْ او وژنے دوی حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ ۚ تر هغوچی پاته نشے
په عالم کښی کفر وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ط او خالص شے دین خدای لره فَاِنِ انْتَهَوْا
پس که سرا وګرزیدل دوی له شرکه فَلَا عُدْوَانَ پس نسته هیڅ ظلم یعنے جزآء د ظلم اِلَّا عَلَى
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾ مګر پر ظالمانو اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ شهر حرام چے دی مقابل دی بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ
له شهر حرام سره یعنی هرکله چے دوی اول په تیر کال کښے هتك د حرمت کړی وو
چے تاسے ئی له عمرے څخه منعه کړئ است نو که په جنګ د رغله تاسی ئی هم وژنی چے
دهغه عوض شے لکه چی وائی وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ط او حرمتونه په برابری سره دے
فَمَنِ اعْتَدٰى پس هرڅوك چی تیرے وکی عَلَيْكُمْ پرتا سی په منع له بیته فَاعْتَدُوْا
عَلَيْهِ پس تیری وکړی تاسے هم پر هغه او ذکر د تعدّی دلته محض د مقابلی له
رعایته دی بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۠ س په مقابله د هغه کښی چے تیری ئی کړی
وو پرتا سی وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووپریږی له خدایه چی له رخصته تیری و نه کړے
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شی چے بیشکه خدای مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ له پرهیزګارانو سره

[1] یعنے مات کړی هغه عزت د دی حرم ۱۲ ته یعنی تعدی خو ظلم ته وائی نو معنی ئی دا سی شوه چی تاسی هم ظلم کوی پروا نه د مقابلی خو خدای یعنی هغه اول لفظ د تعدّی دوه نوله ئی هم راوړی پهلے تاسو جزاء ظلم د دوه دی لره وی

مل دی وَ اَنْفِقُوْا اوورکول کوی ای غنیا نو فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره دخدای کښی
وغاړ یانوته وَ لَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْکُمْ اومه غورځوی ځانونه خپل په لاسو خپلو سره
اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وهلاکت تدچی بخل دی وَ اَحْسِنُوْا ۛ اونیکی کوی یعنی احسان
کوی له غاړ یانو سره په معاونت دمال یادهرچا سره په هرڅه کښی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چې خدای یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۹۵﴾ مینه لری له نیکانو سره وَ اَتِمُّوا الْحَجَّ وَ الْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ
اوپوره کړے حج او عمره دواړه سره له ټولو حقوقو خدای لره نه لکه کافران چې
تلبیه به یې دبتانو په نومو کوله فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ پس که منع کړه سولاست تاسے
له اتمامه څخه ورسته تراحرام ترلو په سبب دډبمن یا دمرض او تاسو ارادہ
وکړه دوتلو له احرامه څخه فَمَا اسْتَیْسَرَ پس واجب دی پرتاسے ورکول دهغه
ژندہ سرچې اسانه وی وتاسی ته مِنَ الْهَدْیِ ۚ له پیشکشی چې اوښ دی یا
غوا یا پسه چې حرم ته وه لیږل سے او هلته ذبح شے وَ لَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ
اومه خرابست اے محصرانو سرونه خپل حَتّٰى یَبْلُغَ الْهَدْیُ ترهغه وخته
چې ورسیږی داهدیه مَحِلَّهٗ ؕ ځای د ذبح خپلے ته اوبخوا تری منع دے فَمَنْ كَانَ
پس هرڅوک چې وی مِنْكُمْ مَّرِیْضًا له تاسے ژوندۍ (مریض) اَوْ بِهٖۤ اَذًى یا وی په
ده پوری علت مِّنْ رَّاْسِهٖ له طرفه دسره دده لکه سپږی یادانے دسره ردی
یا پرهار او محتاج شے وسرخریلو ته فَفِدْیَةٌ ۚ مِّنْ صِیَامٍ پس لازمه ده پرده
فدیه له روژے نیولو دی ورځو اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ یا له خیرات ورکولو
شپږ: ومسکینانو له هریو له نیمه صاعه یا پسه خیرات کول دی فَاِذَاۤ اَمِنْتُمْ پس بیا
چې په امن شوی له دښمنه یا له ژوندۍ فَمَنْ تَمَتَّعَ پس هرڅوک چې نفعه اخلی
بِالْعُمْرَةِ په عمره سره مخکې ترحج چې هغه نفع قرب دخدای تعالی دی یا باحت د

له یعنی هغه شیان به نه ورکوی په لاره دخدای کښے غاړ یانو لره اوبخل به ورسره کوی ۱۲ سکه هغه الفاظ دحج چې لبیک لبیک دی ۱۲ سکه ای بندکړه شو ودکولو څخه دحج ۱۲ سکه اومخکی درسیدلو دهدیے څخه سرخریل منع دی ۱۲ سکه یعنی مباح کیدل دهغو شیانو چې پرده بانډی منع وو کول دهغو ۱۲

ممنوعا تودی په وتلود احرام چې دا اباحت ورلره حاصل شي اِلَى الْحَجِّ تر وخته دا حرام دحج پورې پس هرڅوك چې اراده دذې اباحت وکې فَاسْتَيْسَرَ پس واجب دې پرده ذبح کول دهغه نرنده چې اسانه وي وده تَه مِنَ الْهَدْيِ ج له پیشکشي چې پس له احرام دحج ډبح کې او خیرات ئې کې اوکه ډې دې پخپله خُندې وخورې هغه ورې وادې اود شکرانه ده د توفیق اداء کولود دوارو عبادتو چې عمره اوحج دې فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ پس هر څوك چې نه کې پیدا هدیه فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ پس واجب دې پرده ورځه نیول دري ورځې فِي الْحَجِّ په وخت دحج کښې په مابین دا حرامینود عمرې اود حج کښې او غوره اُومه اتمه نهمه دذې الحجې دې وَسَبْعَةٍ اواوه ورځې بیا ورځه نیول دې اِذَا رَجَعْتُمْ ط چې راوګرځې اوفارغ شئ تاسي له افعالو څخه دحج تِلْكَ عَشَرَةٌ کَامِلَةٌ ط دالس ورځې شوې پوره چې عوض دې له هغه هدیې څخه ذٰلِكَ لِمَنْ دا تمتع هغه چاله دې لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ چې نه وي اهل دده یعنې مسکن اووطن دده حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ط ګاونډي دمسجد حرام اوهغه په نزد دامام اعظم دمکې څخه ترمیقات پورې دې حُکه چې په دې ګاونډیانو تمتع اوقران نشته

۲۴ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووویریږئ له خدایه په هرڅه کښې خصوصاً په احکامودحج کښې
ع ۱۸ وَاعْلَمُوْٓا اوپوهه شئ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ (۱۹۶) چې بیشکه خدای سخت عذاب ورکونکې دې سرکشانو لره اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ج موده دحج چې ده میاشتې دي بنکاره چې شوال اوذوالقعدة اولس ذذې الحجې دې اودا اوګیا ورځې دې په سبب سره موده دحج ده چې څه افعال دحج چې دې هغه تولې په دوې کښې اداء کیږي اوخارج له دوې څخه منعه دې اګرکه احرام پې دهغه هم منعقد کیږي اما سره ګراهته فَمَنْ فَرَضَ پس هرڅوك چې لازم کې پرخپل ځان فِيْهِنَّ الْحَجَّ په دې میاشتو کښې حج په احرام یا په تلبیه یا په سوق دهدیې سره په مذهب حنفې کې

له یعنې میاشت کیدل دهغه شیانو حج پوره باندې منعه ووکول دهغو ۱۲ سه یعنې احرام مکروه نیت دحج کولو جوړ کې اوبې وخته له دې ورڅخه ترلې مکروهې لیکن منعقد وي دې ۱۲

فَلَا رَفَثَ پس نه دی کوی اونه یادول دجماع دښځو په مخکښی اونه پوچه خبره
وَلَا فُسُوْقَ لا اونه دی کوی فسق یعنے گناهونه او په کاره نوم بلل او نورو ناروا
وَلَا جِدَالَ اونه دی کوی جګړه (جنګ) له خادمه له ملګری سره لکه چی قریشو
به کول له نورو عربو سره په وقوف کښے اودانفی په دے تیرودری سره وو
کښی په معنا دنهی دی لکه چے بیان شوه فِی الْحَجِّ ط په ایامو دحج کښے اوداکارونه
اګرکه همیشه منع دی اما په حج کښے ډیرافحش ناروا دی لکه نرناد زامړه سړی
وَمَا تَفْعَلُوْا او هغه چے کوی ئی تاسے مِنْ خَيْرٍ له نیک کاره يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ط یوهیږی
په هغه خدای روایت دی چے اهل یمن به حج لره بے توښی راتلل او ویل به ئی
چی موږ متوکلان یو اوبیا به پرلونږو خلکوتاوان شوه نو نازل شو وَتَزَوَّدُوْا او
توښه درسره اخلے دحج دلاری فَاِنَّ پس بیشکه خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى زغوره دتوښو
پرهیزګاری ده له سوالله او له ملالله څخه دخلکواو یا له عصیانه او له نیرانه څخه د
خالق وَاتَّقُوْنِ اووویریږی زماله عذابه څخه يٰٓاُولِی الْاَلْبَابِ (۱۹۷) ای خاوندانو
دخالصوعقلو روایت دی چے بعضی حاجیانو به څه مال هم له ځانوسره
راوړی دپاره دسوداګری اوبعضی به دبل چاکرایی وکړه اوعرب به ورته ویل
چے داَجِّ لَاحَاجَّ یعنے بے حاصله دی اوحاجیان ندی نو نازل شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ
جُنَاحٌ نشته پرتاسی وبال اَنْ تَبْتَغُوْا ددی چے غواړی تاسے په موسم دحج
کښے فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ط روزی له رب به خپله په واسطه دسوداګری یادکرایی
په شرط ددی چے مقصود اصلی ستاسی حج وی فَاِذَآ اَفَضْتُمْ پس چی راوګرزیږی
(راکښته سے) مِّنْ عَرَفَاتٍ له عرفاته څخه فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یادکړی خدای په
تلبیه[1] په تهلیل په دعا یا په یوځای کولود لمانځه دمابنام دلمانځه دماخوستن
سره عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ص په مزدلفه کښی چے په مینځ دعرفات اودمنی کښے ده

[1] یعنی په وخت دورسیدلود عرفات پرغونډی ۱۲ سه یعنی په دی الفاظوسره چے لبیک اللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ دی تراخره پوری ۱۲ سه او په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویلو سره ۱۲

وَاذْكُرُوهُ او یادوی دی کَمَا هَدٰىكُمْ لکه چې ښوولی ئی ده تاسی ته لارې د مناسکو چې وَاِنْ كُنْتُمْ او بیشکه چې وی تاسے مِنْ قَبْلِهٖ پخوا (نخکی) له هدایته یا له بعثت د رسولهٗ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۱۹۸﴾ هرا ئینه له ناپوهانو څخه په ایمان په طاعت په ذکر په عبادت روایت دی چې غیر له قریشو نورو ټولو عربو به هم وقوف په عرفات کاوی او دوی به په مزدلفه کاوی د پاره دامتیاز اولویې او فخر او ویل به ئی چې نحن قطان حرمه فلا نخرج منه یعنی موږ اوسیدونکی د حرم د خدای یو پس نه ورو د باندی (بیرون) له حرمه نو نا رښتیا شو ثُمَّ اَفِيْضُوْا پس له دی واورې ای قریشو خاص تاسے راکښته کیږئ مِنْ حَيْثُ تاسی هم له هغه ځایه اَفَاضَ النَّاسُ چې راکوز یږی نور خلك یعنے له عرفات څخه و مزدلفې نه راوځوک واپې چې مراد په دې خطاب دافیضوا سره عام مسلمانان دی او له لفظ د حیث مزدلفه مراده ده یعنی بیا راکوز (راکښته) شے ای مسلمانانو له مزدلفې هم لکه چې له عرفات څخه راکوز شوی واست له هغه ځایه چې راکښته کیدل به نور خلك وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ او بخښنه غواړی له خدایه څخه له دی مخالفت څخه په وقوف کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۹﴾ بخښونکی مهربانه دے روایت دی چې په جاهلیت کښے چې اشراف د عربو به له چې څخه فارغ شول نو په جبل رحمت یا حرم څخه به و دریدل او فخر به ئی کاوی په لویې او په شهرت د پلرو او نیکه کانو خپلو نو نارښتو شو فَاِذَا قَضَيْتُمْ پس هرکله چې ترسره کړی تاسے مَّنَاسِكَكُمْ عبادات د حج خپل فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یاد وی خدای كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ لکه یادول ستاسی چې و پلرو نه خپل په جاهلیت کښې له فخره اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا بلکه د یر زیات یادول له هغوئ څخه چې هغوی ته لویې هم ده

له یعنے پخوا له لارې پیدا کولو و دین د اسلام نه یا پخوا له لیږلو تر درسول علیه السلام څخه تاسی نه وی

له یعنے دیاره د جدا ئی له نور و خلقو څخه یعنی چې موږ خولوی اوغټ اوغټ امیران یو نو موږ څرنګه له دی عاجزانو سره په یوځای کښے و دریږو ۱۲

ورکړي وه فَمِنَ النَّاسِ پس بعضی له خلکو څخه مَنْ يَّقُوْلُ هغه څوك دی چې وائی رَبَّنَآ اٰتِنَا اے زمونږ راکړه وموږ ته مال اوجاه فِي الدُّنْيَا په دی جهان کښې یعنی دنیاوی غواړی وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ او نشته ده لره په هغه جهان کښی مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾ هیڅ برخه که داسائل کافروی یا دنوږ و مسلمانانو قدر که دی مسلمان وی وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ او بعضے له دوی څخه هغه څوك دے چې وائی رَبَّنَآ اٰتِنَا اے زمونږ راکه موږ ته فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً په دی جهان کښے هم څه غوره برخه یعنی صحت اوعافیت اوعلم اوخلوص اوتوفیق اوصالحه بڼځه اوسلامتی دایمان وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً او په هغه جهان کښی ښه غوره برخه یعنی مغفرت اورضوان اوامان له دوزخه اوخلود په جنت کښے اوحورې اودیدار وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ اووه ساته موږ له عذاب دوزخه اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی لَهُمْ نَصِيْبٌ مقرره ده دوی لره غټه برخه مِّمَّا كَسَبُوْا له هغو عملو څخه چې کړی دی دوی وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾ اوخدای ډیر ژر (کونکی دی په حساب کښے روایت دی چې حساب دتمام عالم به په قدر د میږی یا بزی لوشلو یا په ږپ دستر کی کی تر له وشے وَاذْكُرُوا اللّٰهَ اویادوی خدای یعنی تکبیر وایاست په وخت درمی (ویشتلو) دجمارو (څلو) کښے اووو وسته ترملا نځه فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ط په هغه ورځو کښے چې په شمار دی چې هغه درے ورځے دتشریق دی یوولسمه دووولسمه اودیارلسمه روایت دی چې په جاهلیت کښے به بعضو اعرابو ویل چې څوك دوے ورځی ورمی وکی اودریمی ورځی ورمی ته پاته نشے هغه اثم (ګناهکار) دی اوبعضو به ویل چې دریمی ورځی رمی ته پاته شے هغه اثم دی نو دپاره درد

له یعنی که داسائل کافروی نو په قیامت کښے به ورلره هیڅ برخه نه وی خو په دی دنیا کښے ئی مزی دی اوکه چیرې داسوال کوونکے د دنیا مسلمان وی نو یعنی ئی داسی سوه چې نه به وی دغه مسلمان لره درجے په مثل د درجو دنوږ و مسلمانو څخه چې ده څلمه مزدورے په دنیاکی ځیستے ده

د قول د دوی نازل شو فَمَنْ تَعَجَّلَ پس هرڅوك چې تلواړ وکړي د اتلو مکې ته فِيْ يَوْمَيْنِ په دوو ورځو کښې چې یوولسمه دوولسمه ده یعنې په دې دواړو ورځو کښې رمي وکې او د دریمې ورځې رمي ته پاته نه شي فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ج پس نشته هیڅ وبال پرده چې اکتفاء ئې وکړه په دوو ورځو کې کرکه تاخیر افضل دی وَمَنْ تَاَخَّرَ اوهرڅوك چې مدار شي (یعنې پاته شي) او دریمه ورځ هم رمي دجمار وکې بیا مکې ته ړوان شي فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ لا پس نشته هیڅ وبال پرده هم په دې کښې چې تاخیر ئې وکې لِمَنِ اتَّقٰى ط هغه چا ته چې پرهیزګاري کړې وي لره فسوق فث له جدال له وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه ویریږي له خدایه څخه وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اوپوه شې چې بیشکه تاسې اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ خاص هم ده ته حاضر اوجمع به کړه شي اوهرڅوك به جزاء د عمل خپل پیدا کړي ړ وایت دی چې یو منافق اخنس بن شریق نوم ړسول علیه الصلوٰۃ و السلام لره راغلے په ورین تندی به ښې خوږې خبرې کولې او خدای به ئې شاهد کړې چې زړه په زړه کښې صاف اوصادق یم او بیا چې به له مدینې څخه بیرون شونو هلته چې به د چا کښت وو هغه به ښے په اور وسوا ود مسلمانانو ځاړوی به ئې هم په توره ووهل نو نازل شو وَمِنَ النَّاسِ مَنْ او بعضے له خلکو څخه هغه څوك دی يُعْجِبُكَ قَوْلُهٗ چې تعجب ړا ولی تالره کفتار دده له جهته دې پرخوږې والی فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په باب د معاش د دنیا او په مصالحو دده کښې وَيُشْهِدُ اللّٰهَ اوشا هدګی دی خدای عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ لا په هغه نیت چې په زړه دده کښې دی یعنې داسې دعوی کوی چې زړه اوخوله می سره یو دی په اخلاص کښې وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ او حال داچې دی د پرسخت دے

لہ یعنی پاته کیدل د رمیې ورځې ته بښه خوږه دی ۱۲ منه یعنې څان ئې ساتلی وی په ایامو د حج کښې له جماع کولو څخه له ښځې ځپلو سره اوهم له یاد ولو د حاجو ئې مخکښې اوهم له خبرو اوپوچو خبرو څخه ۱۲ سله هدایت کول څان ئے ساتلی وی له نارواوو او خبرو اوکارو اوهدایت کله څان ئې ساتلی وی د چکرې څخه ۱۲

په جګړه او په عداوت کښی وَاِذَا تَوَلّٰی اوچے بیرته وګرزی له رسول سَعٰی فِی الْاَرْضِ نوچت (شر) ګرزی په محله د مدینی کښی لِیُفْسِدَ فِیْهَا د پاره د دی چی فساد وکی په دی کښے وَیُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ط او خراب کی کښت او څاروی په سوځلو اووژلو سره وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ او حال داچی خدای نه خوښوی معصیت او فساد وَاِذَا قِیْلَ اوچے ووایل سے لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ دی منافق ته چی وویریږه له خدایه څخه اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ نوده نیسی دی غضب د جاهلیت په کولو دګناه فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ط پس بس دی ده لره دوزخ د پاره د عذاب وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ اوهر اینه بد بستر دے دا اور روایت دی چے صهیب بن سنان رومی په مکه کښے مشرکانو مړکا وی او ده قوله مال خپل په خپله فدیه کښے ور کی او مدینی لره ړاغلے نو په مدحه د ده کښے یا په مدحه د هر مجاهد کښے یا په مدحه د هر امر بالمعروف اوناهی عن المنکر کښی نازل شو وَمِنَ النَّاسِ اوبعض له خلکو څخه مَنْ یَّشْرِیْ هغه څوك دی چے خرڅوی نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ حان خپل د پاره د طلب مَرْضَاتِ اللّٰهِ د رضا د خدای یعنی تیریږی له سره او له مال له خپله په رضا د خدای کښی وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾ او خدای ډیر مهربانه دی پر هغو بندګانو نو خپلو چے حان فدا کوی او له خپله سره تیریږی په رضا د ده کښے روایت دی چے ابن سلام او نور د ملګرو ده پس له اسلامه هم په تورات عمل کاوی او تعظیم د سبت به ئی هم کاوی او شیدی اوغوښے د اوښانو نه به ئی نه خوړی نو په حق د دوی کښے یا په حق د منافقانو نو کښے چی لسانی ایمان ئی راوړی وو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ ای هغه کسانو اٰمَنُوا ادْخُلُوْا اے ایمان ئے راوړی دی ړانتوزی فِی السِّلْمِ کَآفَّةً ص په اسلام کښی یا په طاعت د خدای کښے قوله وَلَا تَتَّبِعُوْا او پیروی مه کوی خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ ط د قدمونو د شیطان یعنی د ده په وسوسه

له یعنی هر سړی چے امر کولو نکی دے په نیکے او منع کولو نکی دی له کاره او ښکته څخه ۱۲ سبت د ورځی د سبت یعنی د خالی ۱۲

پسی مه حُی اِنَّهٗ لَکُمْ بے شکه دی تاسی ته عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۲۰۸﴾ د بنمن دی بنکاره
فَاِنْ زَلَلْتُمْ پس که ولغزیدی تاسے یعنی چپ سو است له قبوله د اسلامه یا له
طاعته د خدای مِّنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْکُمُ الْبَیِّنٰتُ چے راغلے دی تاسی ته
بنکاره دلیلونه پردی چے د احق دی فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ پس پوه شے چی بیشکه
خدای عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ ﴿۲۰۹﴾ دے زبردست غالب څښتن د حکمت دی چے عذاب نه ورکوی
هیڅا ته بیله حقه هَلْ یَنْظُرُوْنَ آیے مَا یَنْظُرُوْنَ یعنے انتظار نه کوی دوی
اِلَّآ اَنْ یَّاْتِیَهُمُ اللّٰهُ مگر دی چے راشی ورلره خدای یعنے عذاب دده فِیْ
ظُلَلٍ په سایه وانو کښے مِّنَ الْغَمَامِ له اوریځو سپینی چے امید د باران ځندی
کیږی اوناگاه ځندی عذاب پیدا شے وَالْمَلٰٓئِکَةُ اوراشی ورلره ملائکی د
عذاب وَقُضِیَ الْاَمْرُ او ترسره شے کار د عمل ورکړی . شی دوی ته وَاِلَی
اللّٰهِ اوخاص وخدای ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۲۱۰﴾ بیرته کړنه ول کیږی قول کارونه ۲۵ ع ۹
یعنے اګرکه اوس اختیار د تصرف هرچا لره دی اما په قیامت به خاص خدای لره
وی سَلْ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ وپوښته ای رسوله بنی اسرائیل یعنی یهود د مدینی
یا مؤمنان د بنی اسرائیلو کَمْ اٰتَیْنٰهُمْ چے څومره ورکړی دی موږ دوی ته
مِّنْ اٰیَةٍۭ بَیِّنَةٍ ؕ لنبے اوپیغا مونه بنکاره یا ایتونه د تورات ناطق په رسالت د
محمد صلے اللّٰه علیه وسلم اوپه صحت د دین د اسلام یا د معجزی بنکاره لکه
عصا اوید بیضاء اومن اوسلوی اوداسی نورې دیرے وَمَنْ یُّبَدِّلْ اوهر
څوک چی چپ اوبدل کی نِعْمَتَ اللّٰهِ نعمت د خدای چے صفت د رسول دی
مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ پس له هغه چے راغلے وو دا نعمت وده ته په تورات کښی
فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چے خدای شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾ سخت دی عذاب دده په
دنیا کښے په قتل اوپه جلاوطنی سره اوپه اخرت کښے په عذاب ابدی سره

لہ یعنی هغه ایتونه چے کویان دی د رسول والی د محمد علیه السلام ۱۲ لہ یعنی په شمار لوله وطنه خپله که ایمان
نه راوړی سے ۱۲

روایت دی چه اغنیاؤ د قریشو به خندل پر فقراؤ د اصحابو باندی لکه بلال او عمار او صهیب او ابن مسعود رضی الله عنهم او ویل به یې چه دې په دې خوارانو زمونږ مخې مسخرکوی که دده دین حق وای نو اشراف او اکابرو به ایمان ورباندی راوړی وو نو نازل شو زُيِّنَ لِلَّذِينَ بنایسته کړه شوی دی هغو کسانو ته یعنی شیطان بنایسته کړی دی كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا چې کافران شوی دی دالږ شوندون او معاش ددې جهان وَيَسْخَرُونَ او مسخری کوی دوی مِنَ الَّذِينَ اٰمَنُوا ام پر هغو کسانو باندی چې ایمان یې راوړی دی وَالَّذِينَ اتَّقَوْا او هغه کسان چې ځان یې ساتلی دی له شرکه چې دافقراء دی فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط دپاسه ددی کافرانو به وی په ورځ د قیامت کښی ځکه چې فقراء به په علیین کښی وی او دا کافران به په سجین کښی وی وَاللّٰهُ يَرْزُقُ اوخدای روزی ورکوی دیره فراخه مَنْ يَّشَآءُ وهغه چا ته چې اراده یې وشي بِغَيْرِ حِسَابٍ (۲۱۲) بې حسابه لکه قارون شداد فرعون دپاره داستدراج اوکه فراخی کرامت وای نو پرمؤمنانو باندې به دیره فراخی وه لکه چې عبدالرحمن صاحب ولی دې

برابر به له څه ایه سره نه شی	شهزاده اوشهر یار دد ې دنیا
همیشه به ئې یو پند دغم پرسر وی	چې په سرئ وی د ستاردی دنیا
تر هرچا به دپیغمبر څخه وه دیره	څه قرب وی یا وقار دی دنیا

كَانَ النَّاسُ وو خلک په ابتداء کښی یعنی ادم علیه السلام او اولاد یې أُمَّةً وَّاحِدَةً قت یو قوله په یو دین د حق کښی بیا سره مختلف شوه فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ پس راولیږل خدای پیغمبران لکه شیث او ادریس او دا سې نورهم مُبَشِّرِيْنَ زیری کونکی دی پر مطیعانو د ثواب وَمُنْذِرِيْنَ ص اووېرونکی دی د عاصیانو له عذاب یا معنې داچې خلک قول یو قول په یوه دین وکفر وو لکه

پەزمانه دنوح او دابراهیم علیهما السلام

له پورته په اسمان کښی وے ۱۲
له کښته له قرلونهمکوڅخه دې ۱۲

کښے پس راولیږل خدای دوی وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ اوراوی لیږل له دوے سره کتاب چے بیانوونکی دوین وو بِالْحَقِّ په حقه سره لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ دپاره ددی چے حکم وکی خدای یا پیغمبر په مابین دخلکو کښے فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ په هغه شی کښی چے اختلاف کړی دی دوی په هغه کښی چے دین د اسلام دی وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ او اختلاف نه دی کړے په حق یا په کتاب یا په اسلام کښے اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مګر هم هغه کسان چے وسړه شوی و وکتاب چی یهود او نصاری دی چی دوی تبدیل او تحریف پکښے کاوی مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ چے راغلے وو دوی لره بښکاره دلیلونه په صدق د دین اسلام باندے اودا اختلاف ددوی په دین کښے له جهته د اختلاف درأی څخه نه وو بلکه بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ په سبب دکینی ووچے په مینځ ددوی کښی ده فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ پس برابرکړه خدای هغه کسان اٰمَنُوْا اچے ایمان یی راوړی دی له دی اُمته څخه لِمَا اخْتَلَفُوْا هغه شے ته چی اختلاف کړی وو دے یهود او نصاری وو فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ په هغه شی کښے چی عبارت دی له حقه څخه بِاِذْنِهٖ ط په امرخپل. اے ظهرالله المؤمنین باذنه الحق الذی اختلف فیه الیهود والنصٰری معنٰی داچے بښکاره که خدای مؤمنانو ته په امرخپل سره هغه حق چے مختلف وه په هغه کښے یهود او نصاری حاصل داچی پیږنږ وکی خدای پرمؤمنانو هغه اشرفه قبله چے اهل کتاب پکښے مختلف وه چی یهود وو مغرب ته مخ کړی وو او نصاری وو مشرق ته او په واقعه کښے اشرفه کعبه وه چے په وسط کښے ده خیرالامور اوسطها. یا پیږنږ وے کړه هغه غوږه وږځ چی دوی پکښی اختلاف کړی وو چے یهود و سبت غوږه بلله اونصاری وو یکشنبه او په واقعه کښے غوږه وږځ جمعه وه چے سیدالایام ده وَاللّٰهُ يَهْدِيْ اوخدای برابروی مَنْ يَّشَآءُ هغه

شوك چی اراده یی وشے

له یعنی څکه چے پیغمبره خدای فرمایلے دے چی بهتر د کار وهغه میانه دکار ودی ۱۲ که یعنی سرداره دقبلوورځخه ده ۱۲

اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۲۱۳﴾ وسمی لاری ته روایت دی چے هر کله سختی ډیره شوه پرفقرآءو دمهاجرینو په سبب درنځ اودخوراك اودپوښاك اودعیال ځکه چے مالونه پرې موټل په مکه کښے پاته شوی وه اوساعت ډیرورباندی تنګ شوی وو نو نازل شو اَمْ حَسِبْتُمْ ایاگمان کوی تاسے ای مهاجرینو اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ ددی چے ننوزی تاسے وجنت ته وَلَمَّا یَاْتِكُمْ اوحال داچی له سره نه ده راغلی پرتاسی سختی مَّثَلُ الَّذِیْنَ په مثل د سختۍ دهغوکسانو خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ط چے تیرشوی دی پخوا له تاسی ځخه یعنی پیغمبران اوامم مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ چے رسیدلی وی ودوی ته سختی اولوږی اوتندی اونا کامونه وَالضَّرَّآءُ اورنځونه وَزُلْزِلُوْا اووبه لرزول شول په ډیرو سختیوکښې پشان دزلزلی حَتّٰی یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ ترهغو پورې چے وبه ویل پیغمبر وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ اوهم هغوکسانو چے ایمان ئې راوړی وو له ده سره یعنی تولوبه په جمع سره وویل مَتٰی نَصْرُ اللّٰهِ ط چے کله به وی مدد دخدای یعنی کا شکې چے ژر راشی اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ واورې چے بیشکه مدد دخدای چے دی قَرِیْبٌ ﴿۲۱۴﴾ نژدی دی مؤمنانو ته روایت دی چے یوزړوپرسې وو ډیرمالدارچې عمروبن جموح انصاری نومیدی له رسول علیه السلام ځخه سوال وکی چے کومرشے په لارهٔ دخدای کښې ورکړم نو نازل شو یَسْئَلُوْنَكَ پوښتنه کوی دوی له تاځخه مَاذَا یُنْفِقُوْنَ ط چے څه شی ورکی دوی په لارهٔ دخدای کښے قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ ووایه دوی ته هرشے چې ورکوی مِنْ خَیْرٍ له مال ځخه فَلِلْوَالِدَیْنِ پس موروپلار ته دی ورکوی چے دا ډیرغوره دی نکته دوے سوال دتعین دمال کړی وو اواجواب په تعین دمصرف راغلی یعنی په هغه سوال کښے هیڅ فائده نشته هرشے چې دچا دتوانه کیږی هم هغه دی ورکوی بلکه سوال دمصرف پکار دی چے چاته ئې ورکړو

عه یعنی خاوند دوړ ګولو ۱۲

وَالْاَقْرَبِيْنَ اوخپلوانولره چې صلهٔ رحمي هم پکښې اداء شي وَالْيَتٰمٰى اويتيمانو
لره چې قادر نه دي په کسب باندې وَالْمَسٰكِيْنِ اوناداارانولره چې له قوته عاجز
وي وَابْنِ السَّبِيْلِ ط اومسافرلره چې کور ئې لیرې دي وَمَا تَفْعَلُوْا اوهغه چې
کوئ ئې تاسو مِنْ خَيْرٍ دنيك کاره فَاِنَّ اللّٰهَ پس بيشكه چې خداى يې عَلِيْمٌ (۲۱۵)
يې هغه ښه دانادي كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ فرض کړه شوې دي پرتاسې جنګ
کول دکفارو سره وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ج اوحال داچې داجنګ کول مکروه طبعًا دي
تاسي ته وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا اوښايي داچې مکروه ګڼئ تاسې شَيْـًٔا يوشي وَّهُوَ خَيْرٌ
لَّكُمْ ج اوحال داچې هغه به درغوړه وي تاسې لره وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا اوښايي دا
چې خوښوي به تاسې شَيْـًٔا يوشي وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ط اوحال داچې هغه به درپرد
وي وتاسې ته وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخداى پوهيږي په بهبود ستاسي وَاَنْتُمْ اوتاسې
لَا تَعْلَمُوْنَ (۲۱۶) نه پوهيږئ په بهبود خپل روايت دي چې دويم کال د هجرت
دوے میاشتې مخکې تر بدر په اخر کښې د جمادي الثاني د میاشتې رسول عليه
الصلوٰة والسلام دخپل تره زوی چې عبدالله ابن جحش وو په چپاو کولو پر
کافرانو باندې مقرر کې بطن نخلې ته په کاروان د قريشو پسې اوجنګ وشو او
مشرکان څوك مړه شول اوڅوك بنديان شول اوکافران ئې راوستل او د
اصحابو په ګمان جنګ د جمادي الأخر په میاشت کې وو اوپه واقعه کې غره د
رجب وه نوکفارو وويل چې محمد صلے الله عليه وسلم اوس شهر حرام هم
حلال کړه چې خپل لښکرئ په خون ریزي ماموره کې اواصحاب په دې
قتل سره ملامال شوه اوله رسول عليه الصلوٰة والسلام څخه پې پوښتنه وکړه
يا کفارو پرزسان وکړي نوناراض شو يَسْـَٔلُوْنَكَ پوښتنه کوي دوی له تا څخه
عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ له شهر حرام قِتَالٍ فِيْهِ ط دجنګ په دې کښې دابدل اشتمال

دی له شهر حرام څخه

ع ۲۶

ع یعنی په طبیعت کې ئے بد بولی اوخوښ مونه وی ۱۲
ت د تره زوی یعنی د پلار د خور نه وی ۳

قُلْ قِتَالٌ فِيهِ وويايه ورته چې جنګ په دې کښې كَبِيرٌ ط ويره لويه ګناه ده اوالکثرو علماؤ ويلې دي چې دا منسوخ شوې دې په ۱ ايت د سيف سره وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ اومنع کول د مشرکانو چې دې دلاري د خدای ځخه لکه رسول عليه السلام چې دوی له عمرې ځخه منع کړي دي وَكُفْرٌ بِهٖ اونه منل د خدای لکه چې دوی ئې نه منی وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ق اومنع کول چې دې له مسجد حرامه لکه چې دوی منع کړي دي وَإِخْرَاجُ أَهْلِهٖ مِنْهُ اوايستل د اهل د مسجد چې دې له مسجده لکه چې دوی مهاجرين ايستلي دي نو دا تيرځلور واړه کارونه چې دي أَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ج ډيرلوی دي په نزد د خدای تر قتال له د شهر حرام ځخه وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ او شرك يا اخراج ۲ يا انواع د سختيو تيرولو چې دي پر مؤمنانو ډيرلوی دي مِنَ الْقَتْلِ ط له قتل په شهر حرام کښې وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ اوهميشه به وي داکفار چې جنګونه به کوی له تاسې سره حَتّٰى يَرُدُّوكُمْ تر هغې چې بيرته وګرزوی تاسې عَنْ دِينِكُمْ له دينه خپله إِنِ اسْتَطَاعُوا ط که لاس ته ورسيږي وَمَنْ يَرْتَدِدْ اوهرڅوك چې دې وګرزي مِنْكُمْ عَنْ دِينِهٖ له تاسې ځخه له دين خپله فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ پس مرشي اوحال داچې دې کافر وي يعنې په کفر کښې مرشي فَأُولٰئِكَ پس داکسان چې دي حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ خراب شوي دي تيرعملونه ددوی چې ئې کړي وو په وخت د اسلام کښې فِي الدُّنْيَا هم په دنيا کښې چې سرونه اومالونه اوښځې ئې مباح شوي وَالْآخِرَةِ او په اخرت کښې چې له ثوابه له جنته له ديداره محروم شوو وَأُولٰئِكَ اوداکسان چې دي أَصْحٰبُ النَّارِ ج اهل د دوزخ دي هُمْ فِيهَا دوی به په دې دوزخ کښې خٰلِدُونَ ۲۱۷ هميشه وي إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا بيشکه هغه کسان چې ايمان ئې راوړی دي وَالَّذِينَ هَاجَرُوا اوهغه کسان چې وطن ئې پرايښی دي دوی د

---

۱ يعنې اګرکه جنګ کول په ميا شتو حرامو کښې لويه ګناه ده ليکن د ځلور واړه کارونو چې دي ويره لويه ګناه ده ۱۲ منه ۲ يعنې اوستل د مؤمنانو له کفر وځخه ډيره ګناه ده ۱۲ منه ل

خدای د پاره وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ لا اوجهاد ئی هم کړی دی له کفار و سره په لاره د خدای کښے اُولٰٓئِكَ یَرْجُوْنَ د اکسان چے دی امید لری رَحْمَتَ اللّٰهِ ط د مهربانی د خدای وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دهر خطا اودهری کم احتیاطی دی چے تری صادره شوی وی رَّحِیْمٌ (۲۱۸) مهربانه دی چی زیاتوی اجر او ثواب روایت دی چے په شان د شرابو کښے خلور ایتونه نازل شوی دی اول په مکه کښی چے دیر صفتئ شوی دی په سورهٔ نحل کښے اود ویم بیا په مدینه کښے چے حضرت عمرؓ سوال وکړو له رسول علیه السلام څخه چے د اشراب دیر ورکونکی دعقل دی مورِ ته یو امر پکښی وکه نو نازل شو یَسْـَٔلُوْنَكَ پوښتنه کوی دوی له تا څخه عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَیْسِرِ ط له حاله څخه د شرابو اود جواری (ځمار) قُلْ فِیْهِمَآ ووایه ورته چے په دی دواړو کښے اِثْمٌ كَبِیْرٌ گناه ده لویه په سبب د جګړے او د دواغو اود پوچ ګوئیې اودنورو لوسره وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ زاو نفعی دی خلکو ته په شرابو کښی په سبب د هضم د قوت اود تواضع اود ځجرات اود سخاوت اود سود اکړی او په جواری (ځمار) کښے په سبب د بے مشغله مالداری او خند لو پر فقراء و باندی وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ اوضرر ددی دواړو د پیرزیات دی مِنْ نَّفْعِهِمَا ط له نفعی څخه ددی دواړو لکه مخ کښے بی چے بیان شوی دی اوهغه نور دوه ایتونه چے د حرمت قطع دی هغه په اخر د سورهٔ مائدی کښے ذکر دی روایت دی چے عمر بن خطاب رض بیا د رسول صلے اللہ علیه وسلم څخه سوال چے مصارف خواوس را ته معلوم شوا ما دا معلوم نه شو چے څه ورکړم نو نازل شو وَیَسْـَٔلُوْنَكَ او پوښتنه کوی له تا څخه مَاذَا یُنْفِقُوْنَ ۙ چے کوم څیز ورکه دوی په لاره د خدای کښے قُلِ الْعَفْوَ ط ورته ووایه چے زیاتی له حاجته څخه اودا په اول د اسلام کښے فرض وو بیا منسوخ شو په ایت د زکوٰة سره كَذٰلِكَ همدا شان لکه چے دزیاتی ورکولو ئی بیان وکړو يُبَیِّنُ

اللّٰهُ بیانوی خدای ۔

له پوښتنے چی سره د شراب پیښه هغه وخت چه حاجز طبعی نشه ۱۲ نشه او وخت سره نشی ۱۲

لَكُمُ الْاٰيٰتِ تاسے ته بنیے د مهر بانی خپلے لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾ بنائی چے تاسے فکر وکړی فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ په کار رو د دنیا او د اخرت کښی نو هر کار چے تاسی ته پکښی نفعه وی په هغه کښے کوښښ کوی او چے پکښی ضرر وی د رته د هغه کار څخه په دوار وکښے نو څان وساتئ د هغه څخه روایت دی چی هر کله ایت د اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا تر اخره پورې نازل شو نو د وی تولو له یتیمانو څخه بیزاره شوه او حال ئے رسول علیه السلام ته بیان کی نو نازل شو وَيَسْـَٔلُوْنَكَ اوپوښتنه کوی دوی له تا څخه عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ له معاملے د یتیمانو څخه قُلْ ورته ووایه اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ چے سمول او ساتل د مال د دوی هم دوی ته دیر غوره دی له بیزاری د دوی څخه وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ اوکه له ځانه سره ئے یو کړی دوی تاسے فَاِخْوَانُكُمْ ؕ پس دوی دینی ورونه دی ستاسی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ اوخدای پیژنی خرابونکی د مال د دوی مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ له ساتونکی د مال څخه وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وی د خدای پاك لَاَعْنَتَكُمْ ؕ نو هر اینه سختی ته به نیولی وای تاسو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای عَزِيْزٌ غالب دی حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾ حکیم دے چی په حکمت ډیل معامله کوی روایت دی چے رسول علیه الصلوٰة والسلام مرثد مکے ته وړولیږی او هلته عناق نومی یوه بنځه وه راغله چے په جاهلیت کښے د ده منکوحه وه او ورته ئے وویل چے ما په نکاح کړه او دی چے مدینی ته راغے نو رسول علیه السلام څخه ئی پوښتنه وکړه نو نازل شو وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ او مه په نکاح کوی مشرکی بنځے حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ ترهغوچے ایمان راوړی روایت دی چی د عبدالله بن رواحه یوه توره مینځه وه چے ازاده ئی کړه او بیا ئی په نکاح کړه او یوه مشرکه دیره بنایسته او مال لاره چا ورکوله هغه ئی ونه کړه هغلکو به ئی ویل چے بنایسته اصیله ئی ونه کړه او توره او مینځه ئی وکړه نو نازل شو

لہ یعنے هغه کسان چے خورې مالونه د یتیمانو په ظلم سره تر اخره ۱۲ لہ یعنے د رته به ئے فرمایلے وو چے بکل مال د یتیمانو نه مه نژدی کیږئ سے ۱۲

وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ اوهر ایښه مینځه مؤمنه چې دی خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ غوره ده له مشرکې بڼځې ځکه وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ج او اګرکه تعجب راولی تاسے له دامشرکه وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ او په نکاح مه ورکوی مؤمنی بڼځې مشرکانو ته حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ترهغه چې ایمان راوړی دوی وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ اوهر ایښه مؤمن مریې چې دی خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ غوره دی تراصیل مشرك وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ط اګرکه تعجب راولی تاسے ته دامشرك اُولٰٓئِكَ دامشرکان اومشرکې چې دی يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ج بولی اورد دوزخ ته وَاللّٰهُ اوخدای چې دی يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ بولے جنت ته وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ج اوبخښنے ته په اراده او په توفیق خپل سره وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ او بیانوی احکام خپل له خلالو او له حرامو لِلنَّاسِ خلکوته لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۲۲۱) ښائی چې دوی پند واخلی روایت دی چې د جاهلیت په زمانه کښے خلکو به له حائضې بڼځې سره خوراك اوسکونت یوځای نه کاوی لکه یهود او مجوس بیا چې دوخ اسلام شو نو ابو الدحداح له رسول علیه السلام څخه سوال وکی د معاملے کولو له حائضې سره نو نازل شو وَيَسْـَٔلُوْنَكَ اوپوښتنه کوی دوی له تا عَنِ الْمَحِيْضِ ط له حاله د حیض څخه قُلْ هُوَ اَذًى لاورته وایه چې دایوه پلیتی ده ضرر رسونکی چې له نزدیکته ئے طبع نفرت کوی فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ پس په څنډ (لیرې) شے او ځان وساتی له ښځو څخه فِي الْمَحِيْضِ لا په حال د حیض کښے وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ اومه نزدې کیږی دوی ته يعنے جماع مه کوی ورسره حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ ترهغو چې پاکی شے په دریدو دوینو په اکثره موده ئے چې لس ورځې دی اګرکه غسل ئې لا نه وی کړی یا په اقله موده له لسو اما چې غسل وکی یا چې وخت د صلوٰة کامله پر تیر شے نو په نزد د امام اعظم رح وطی ئې روا شی فَاِذَا تَطَهَّرْنَ پس چې غسل وکی دوی یا پاکی شے فَاْتُوْهُنَّ پس راځے دوی ته مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ له هغه طرفه امر درکړی الله چې امر کړی دی تاسے ته خدای چې هغه .

قبل[1] دے نه دُبران[2] الله بیشکه چے خدای یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ مینه لری له بیا بیا توبه کونکو سره وَیُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ﴿۲۲۳﴾ او مینه لری له ځان ساتونکو سره له فواحشو او له جماع د حیض او د دبره روایت دے چی یهود و به ویل چے څوك د شا له طرفه جماع وکی نو ولد ئے کوږ ستر کی راځی او د دی خبرے پو ښتنه له رسول علیه السلام څخه وه شوه نو نازل شو نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ط ځای دکر لود نسل ستاسی دی فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ پس راځی کښت خپل ته اَنّٰى شِئْتُمْ نږ په هر ځای په هر وخت په هر شان چی اراده وشے ستاسی یعنی له مخ وی او که د شا وی او که په اړخ وی او که په ولاړه وے او که په ناسته وی په شرط د دی چے وطی په ځای د حرث کښے وی نه د فرث کښے وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ط او مخکښی ولیږی ځانونو خپلو له او مفعول ئے محذوف دے ای یجب تقدیمه یعنی هر هغه چے واجب دی مخکښے لیږل ئے لکه نیك عملونه یا طلب د اولاد صالح یا تسمیه[3] شوه وَاتَّقُوا اللّٰهَ او وه ویریږی له خدایه څخه په هر وخت وَاعْلَمُوْٓا او پوهه شے اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ط چے بیشکه تاسے پیښیدونکی (ملاقی کیدونکی) یاست په خدای یا په عمل خپل وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲۲۳﴾ او نږیږے وکړه ای رسوله پر مؤمنانو د ثواب د جنت د دیدار روایت دی چے عبدهٔ ابن رواحه د خپلے خور له خاوند ه څخه مرور شو او قسم ئے وکی چے خبری او احسان به نه وږ سره کوم او له دښمنانو سره به ئے صلحه هم و نه کړم نو نازل شو وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ او مه ګرځوی نوم د خدای عُرْضَةً لِّاَیْمَانِكُمْ مانع او بهانه د قسمونو خپلو یعنی له هغه شیانو څخه چے تاسی قسم کړی وی ځکه چے د دلته ذکر د یمین دی

[1] چے قبل وی یعنی چے و راندی (مخکی) طرف وی ۱۲ [2] نه د بر یعنی د وږ سته طرف ځکه چی هغه ځای د مرداری او د کښت نه دی ۱۲ [3] یا تسمیه یعنی بسم الله ویل په وخت د جماع کښے یعنی چی نژدی کیږی نو ښځه ته نو وا سے دی وائی اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّیْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّیْطٰنَ مَا رَزَقْتَنَا نصیب لکه چے داسی په حدیث کښے راغلے دی یعنی مدګر نږه وه ای خدایه شیطان لږ په هغه شے کښے چی په نصیب کړی دے ځی یا نصیب مه

اومراد په محلوف علیه دی په سبب د پیوستوب دده له یمین سره حاصل دا چې قسم کوے بیادا قسم مانع واقع کوی اَنْ تَبَرُّوْا له دی څخه چې احسان وکړی له خپلوانو اودوستانو سره وَتَتَّقُوْا اوله دی څخه چې ځان وساتی له مروته او له تکلمه ددوی سره وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ط اوله دی چې صلح وکړی په مابین د خلکو کښے وَاللّٰهُ اوخدای سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾ اوریدونکی د قسمو دی دانادے په نیتو ستاسے لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ نه نیسے تاسی خدای بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ په ناپوهے سره په قسمو ستاسے کښے اوقسم لغو په نزد دامام اعظم دادی چې څوك قسم وکی پرېو کار اودی په اعتقاد خپل کښے رشتینی وی او په واقعه کښے هغه کار مخالف وی له اعتقاده دده څخه وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ اولیکن نیسے تاسی بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ط په هغه کار چې په قصده کړی وی زړونو ستاسے وَاللّٰهُ اوخدای غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾ بخښونکی دی د هغه قسم چې په ناپوهے سره وی صبر کونکی دی چې هیڅوك نه نیسی د ناپوهی په قسم سره

ورائیت دی چې د جاهلیت د خلکو به خپله بنځه خوښه نه وه نوقسم به ئے وکی چې څوکاله به وررنډے نه شم نوبنډه به ناسته وه بیا چې دورد اسلام راغلے نو نازل شو لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ دی هغوکسانو لره چې قسم کوی دوی مِنْ نِّسَآئِهِمْ له نژدیکته څخه د بنځو خپلو داخبر وو مقدم او مبتداء ئی داده تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ انتظار کول د څلورو میاشتو فَاِنْ فَآءُوْ پس که بیارجوع وکړه دوی اونژدیکت ئی وکی په د غو میاشتو کښے فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾ بخښونکے د قسم ماتولکی دی په دی ځای کښے مهربانه دی چې قسم ماتول ئے مباح کړی دی د لته څخه چې روا کړی ئی ده کفاره دیمین وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ اوکه اراده وکړه دوی د طلاق په ترك درجوع سره ترتمامیدو د څلورو میاشتو پورې

له یاغه هغه شی چې قسم خوړلی شوی وی په هغه سر ۱۲۰

فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چه خدای سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ﴿۲۲۷﴾ اوریدونکی دقسم دی دانا په نیت دی بیاکه څلور میاشتے پوره شوی اودوی رجوع ونه کړه نو په نزد د اما م اعظم طلاق بائن واقع شو وَالْمُطَلَّقٰتُ اوطلاقے کړه شوی ښځے بالغې چې دوی اِیْسٰی اوځامله نه وی اونژدیکت ورهره شوی وی یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ انتظار دی کوی په صبرکولو د نفسونو خپلو سره ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ط تردری حیضوکاملو پورے وَلَا یَحِلُّ لَهُنَّ اوروانه دی ښځولره اَنْ یَّكْتُمْنَ داچے پټوی به دوی مَا خَلَقَ اللّٰهُ هغه شے چې پیدا کړی دی خدای فِیْٓ اَرْحَامِهِنَّ په رحمونو د دوی کښے - ولد دے یا حیض دی دپاره د دی څرګندصله شے اوموده پراوږده نشے یا بیاطلاق ته ئې حاجت نه شے پس له ولادته اِنْ كُنَّ که وی دوی یُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ چې ایمان ئې راوړی دے پرخدای وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ط او پس ورځ د قیامت وَبُعُوْلَتُهُنَّ اومړونه د دوی چے دی اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ لائق دی په بیرته اړتینے کولو د دوی سره فِیْ ذٰلِكَ په دی موده د تربص کښے په رجعت سره اِنْ اَرَادُوْٓا که عزم لری دامړونه په دے رجعت سره اِصْلَاحًا د اصلاح په خیل مینځ کښے وَلَهُنَّ اودی د غو ښځولره حقوق پرمړو خپلولکه مهر نفقه پوهکول په ضرور یا تودین او خوښه معامله اوترک د ضرر مِثْلُ الَّذِیْ په شان د هغو حقوقو عَلَیْهِنَّ چے پرد وی دی د مړو نو لکه منل د امر ساتل د مال اودناموس د دوی اونه وتل له کوره خپله بیله اجازی د دوی او احسان له خپلوانو د دوی سره بِالْمَعْرُوْفِ په هغه وجه سره چے موافق وی هم له شرع هم له عزت سره وَلِلرِّجَالِ عَلَیْهِنَّ دَرَجَةٌ ط اوده نارینه وولره پردی ښځو باندی مرتبه او بهترې اونورياتو دحق حکمه اختیار د نفقې او د طلاق او د رجعت او د نورو وړو

لہ یعنے رجوع که ونه کړی ښځو خپلو ته ۱۲ ۲ یعنی اګرچے بل چا په نکاح وانه خسته نو هم حلال لیږی ده لره ۱۲ ۳ یعنے ناامیدی له نکاح څخه په سبب د مړ والی یا د وړ والی او کوالی (کوچنے والی) ۱۲ ۴ حکمه چې د دی ډول بیابله موده ده لکه چے ذکر به شی ۱۲ ۵ یعنے که په دی موده د انتظار کښے رجوع وکړی ښځو خپلو ته ۲ ۶ هغه شیطان چے ضرور دے په دین کښے ۱۲

۲۴۰ ۱۲ کار وچے ددوی په لاس کښے دی وَاللّٰہُ او خدای عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ ﴿۲۴۰﴾ غالب دی چې حکم ئے نه ږ دیږے حکیم دی چې مصلحت گوری نو هغه کوی روایت دی چې په جاهلیت کښے به طلاق له شمار نه وو نو یوه سړی به لس طلاقه په یو وار واچول او بیا به ئے رجوع وکړه هدا سے په ځوځو وار به بیا چې دوږ داسلام شو نو یوه انصاري وخپله میږه څخه په شکایت رسول علیه السلام لره راغله چې دا میږه می څووار طلاقه کړی یم او بیا رجوع راته وکړی نو نازل شو اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ص طلاق رجعي یا شرعي چې دی دوه واړه اچول دے جلاجلا نه په یوه وار لکه طلاق دجاهلیت ځکه چې دوه یادری طلاقه په یوه وار اچول په نزد د امام اعظمؒ بدعت دے یا معنی دا چې طلاق رجعي دوه دی او یو هم دی ځکه چې درے شی خو بیا رجوع نشته بے حلالی لکه را به شے او پس له هغه چې دوه طلاقه واقع شو فَاِمْسَاكٌ بِمَعْرُوْفٍ پس واجبه ده په تا سے ساتنه د مطلقی په رجعت سړه په احسن وجه او دا امر دی په صورت د اخبار اَوْ تَسْرِیْحٌ بِاِحْسَانٍ یا پریښودل دی په ښه وجه یا په عدم د رجوع ترهغه چې بائنه شے یا په طلاق ثالث سړه روایت دی چې جمیله نومی ښځه د ثابت انصاري رسول علیه السلام لره راغله او ووئی ویل چې ما تر ئے په مهر کښے یو باغ راکړی دی او اوس ئے بیرته ورکوم او ځان خندی خلاصوم د اخر نکه دی نو نازل شو وَلَا یَحِلُّ لَكُمْ او ورته وانه دی تا سے لره ای خاوندانو اَنْ تَاْخُذُوْا چې واخلے تا سی مِمَّآ اٰتَیْتُمُوْهُنَّ له هغه ماله چې ورکړی وی تا سے دوی ته په مهر کښے شَیْـًٔا هیڅ شے مگر په خُلْع کښې ږ وادي لکه چې وائی اِلَّآ اَنْ یَّخَافَآ مگر هلته ږ وادی چې ویریږی د ازوجین اَنْ لَّا یُقِیْمَا چې وبه نه ساتی د ازوجین حُدُوْدَ اللّٰہِ لاحکمونه د خدای چې پد حقوقو د ږ وجیت کښے دی فَاِنْ خِفْتُمْ پس که ویریدلست ای حاکمانو قاضیانو اَنْ لَّا یُقِیْمَا

لہ یعنی یوه ښځه له انصارو نه ۱۲ لہ د هغې ښځې طلاقه کړی شوی ۱۲ لہ په نه کولو د رجوع سره دوی ته ۱۲ لہ خلع دیته وائی چې سړی وښځې ته ووائی چې ماته مثلاً سل درهمه راکړه نو تا به خلاصه کړم ۱۲

چے وبه نه سائی د از وجین حُدُوْدُ اللّٰهِ لاحکمونه دخدای په معامله د زوجیت کښے
فَلَاجُنَاحَ عَلَيْهِمَا پس نشته هیڅ وبال په دواړو یعنے په خاوند د اخیستو او پرښځے
دورکولو فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ط په هغه شے کښے چې فدیه ورکه ښځه اوځان خلاص
کړه په هغه شے سره که له مهره وی او که له غیر مهره وی تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ دا
طلاق اورجعت اوخلع حدونه دخدای دی فَلَا تَعْتَدُوْهَا ج پس مه تیریږے
تر په مخالفت سره وَمَنْ يَّتَعَدَّ اوهرڅوک چې تیرشے حُدُوْدَ اللّٰهِ له حدوڅخه
دخدائے فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ پس داکسان چې دی هم دوی ظالمان دے
فَاِنْ طَلَّقَهَا پس که طلاقه ئے کړه بیا په دریم طلاق سره پس له هغه پخوانو دوو
طلاقو فَلَا تَحِلُّ لَهٗ پس نه ده ورواد ا ښځه ده لره مِنْۢ بَعْدُ پس له دی دریم طلاق
حَتّٰى تَنْكِحَ ترهغوچې په نکاح واخلی دا ښځه زَوْجًا غَيْرَهٗ ط خاوند غیر له پخوانے
څخه اوهغه دخول ورسره وکی فَاِنْ طَلَّقَهَا پس که بیا طلاقه کړه دی دویم زوج
په خپل رضا اورغبت سره فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ پس نشته هیڅ وبال پر دی پخوانے
زوج اَنْ يَّتَرَاجَعَآ چې بیا رجوع وکړی دواړه سره ونوی نکاح ترپس له عدته
دده ویم زوج اِنْ ظَنَّآ که گمان وو دده دواړو وَاَنْ يُّقِيْمَا دده چې پرځای به ولری
دواړه حُدُوْدَ اللّٰهِ ط احکام دخدای په دی باب کښے وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ اودا
مقرری دخدای دی يُبَيِّنُهَا چې بیانوی ئے دی لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾ هغه قوم
ته چې پوهیږے وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ او په هغه وخت چې طلاقے کړی تاسے
ښځے خپلی فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ پس ورسیږے دوی قریب وخپلی مودی ته یعنی
چې عدت ئے تیرید وته نژدی شے اودا حکه چې لفظ داجل لکه چې په تو له مودې
واقع کیږی هم داسے واقع کیږی پر بعض هم فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس وساتے دوی
اورجوع وکړی ورته بِمَعْرُوْفٍ په ښه وجه نه دپاره د اضرار اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ

لہ ضرر د سولو دوی ته ۱۲ اللطیف وغفر لکاتبہ ولوالدیہ وللمؤمنین آمین

بِمَعْرُوْفٍ ص یا خوشے کړی دوی په بنه وجه چے بی اضراره حاکم نفس شے رایت دی چے سړے به بنځه خپله طلاقه کړه او چے عدت به ئے نژدی شو نو رجوع به ئی وکړه او بیا به ئے طلاقه کړه دپاره د اضرار او هدا سے او یزاند به ئی ساتله نو نا نرل شو وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا اومه سائی دوی په رجعت سړه محض دپاره دضرر رسولو دوی ته لِّتَعْتَدُوْا اج دپاره ددی چے ظلم وکړے یا ئے خلعه تا اړی کړے وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوك چے داسی کار وکړی فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ پس په تحقیق ظلم ئے وکړے پر ځان خپل وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اومه نیسے تاسے اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا احکام دخدای ځای د مسخرو وَاذْكُرُوْا اویاد کړی نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ نعمتونه دخدای پرتاسے چې څلور ښځې ئے درته رواکړی دی او رجعت ئی هم درته مباح کړی دی وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ اوهغه چے را لیږلے دی ده پرتاسی مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ له قرآنه او له سنته يَعِظُكُمْ بِهٖ پند درکوی په دے قرآن سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا او ویریږی له خدایه او پوهه شے اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۳۱﴾ پرهر شے دانادی رو ایت دی چې معقل بن یسار خپله خور وکړه وعبد الله بن عاصم ته او هغه طلاقه کړه اویا دعدی تر پوره کیدو ځنی پښیمانه شو او اراده ئی درجوع وکړه نو معقل قسم وکړے چے بیا به ئی درته نه پریږدم او یا داخطاب عام دی چے دامنع دی په مؤمنانو کښے تر قیامته موقوفه وی نو نا نرل شو وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ اوپه هغه وخت چے طلاقه کړی تاسی ښځې خپلی فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ پس ورسیږی دوی اخر دعدت خپل ته یعنے پیر له بائن کیدو دطلاقه بیا اراده وکی رجعین دتجدید دنکاح په خپل رغبت سره فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ پس مه منعه کوی دوی اے اولیاؤ اَنْ يَّنْكِحْنَ له دی چے په نکاح کښیوتری دوی اَزْوَاجَهُنَّ د یخوا نیو مړو نو خپلو یا معنے داچې

مه منعه کوی اے طلاقونکو له دی چے بل څوك میړه

له یعنے سنت د پیغمبر څخه او بنځه او خاوند نو یوالی نکاح یعنے د بیا تر لاسه کولو نکاح

کوی د وی پس له بینو نته ستا سے اِذَا تَرَاضَوْا په هغه وخت کی چے د واړه سړی راضے شے بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ط پخپل مینځ کی په وجه شرعی سره ذٰلِكَ دا منع چے ده له بندلو يُوْعَظُ بِهٖ پند ورکول کیږی په دی سړه مَنْ كَانَ مِنْكُمْ هغه چا ته چے دی له تاسے څخه يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ چے ایمان لے راوړی دی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ط او په ورځ د قیامت ذٰلِكُمْ دا ترك دمنع اوضرر چے دی اَزْكٰى لَكُمْ غوره دی تاسے ته چی له دی گناه به خلاص سے وَاَطْهَرُ ط او پاکیزه دی چے دوی په حرامو کښے اخته نشے وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدای پوهیږی په بهبود ستاسے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۲﴾ او تاسی نه پوهیږی په بهبود خپل وَالْوَالِدٰتُ اوهغه میندی چے مطلقی وی يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ ټی دی ورکوی اولاد خپل ته لیکن استحباناً یا وجوباً کهیری طفل د بل چاتے نه ړ ودی یا دائِی نه پیدا کیږه یا ئی پلار عاجز وو له اجرت ورکو لو څخه دا دائِی حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ دوه کالهپوره لِمَنْ اَرَادَ هغه چا لره چے اراده لرے اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ط دا دی چے پوره کی دی موده دتی ورکولو وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ اوده پرهغه چا چے ولد ورلره زیږول شوے دی یعنے پر پلار رِزْقُهُنَّ روزے دوی وَكِسْوَتُهُنَّ اوجامے دوی بِالْمَعْرُوْفِ ط میانه حاله دطاقته دده اپلار سره لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ نه شے مکلف[1] کولای هیڅوك اِلَّا وُسْعَهَا مگر په قدر دطاقت دده لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ضرر دی نه رسوی مور د ولد پلار ددده ته بِوَلَدِهَا په سبب د ولد خپل سره چے پس له الفت ښولو ولد او پس له راضے کیدو دوی په هلك باندی بیا هلك وغوړ ځوی پلار ته چے نور تے نه ورکوم یا د یر اجرت غواړم وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ اوضرر دی نه رسوی پلار د ولد والدی ته بِوَلَدِهٖ ق په سبب د ولد خپل سره چے هغه به په رضا سره تے ورکوی اودے په نرورہ هغه ولد خپل څندی آخے یا خوراك اوجامه نه ورکوی یا له اندازی څخه کم ورکوی اوداهلته که لَا تُضَارَّ په صیغه د معلوم

[1] له نه شے مکلف کولای یعنے نرور نه شے کولاے پر هیچا ۱۲

سره وی او که بجهوله وی نو معنی دا چے ضرر دی نه شے ر سولای مور ته په جهت دولد دی او پلار ته په جهت دولد دده وَعَلَى الْوَارِثِ او دی پر وارث دولد که پلار ئے مړ و وِمْثْلُ ذٰلِكَ ج په مثل دغه شیانو چے پر پلار ووا وا په نزد امام اعظم ؒ پر هغه وارث دی چے ذی رحم محرم وی فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا پس که اراده وکړه دے مور او پلار د پر یکولو دتے شخه عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا په هغه ر ضا سره چے صادره وی له دی دواړو وَتَشَاوُرٍ په مصلحت د دواړو سره فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ط پس نشته هیڅ وبال پردی دواړو په دی کښے چے مخکی د دوو کالو شخه ئے پری کی یا ور وسته وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اوکه قصد لری تاسے اَنْ تَسْتَرْضِعُوْٓا اولاد دی چی دائی و نیسے د یا ړه دتی ور کولو اَوْلَادَكُمْ اولاد خپل نه فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ پس نسته هیڅ وبال پر تاسے اِذَا سَلَّمْتُمْ په هغه وخت کی چے وسپاری تاسے دائی ته مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ط هغه مبلغ چے اراده کړی وی تاسی د ور کولو دے ته په خوشحالی سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ویریږی له خدایه شخه په ور کولو د اجرت کښے وَاعْلَمُوْٓا او پوهه شی اَنَّ اللّٰهَ چے بیشکه خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ پر هغو کارو چے کوی ئے تاسی بَصِيْرٌ ﴿۲۳۳﴾ بنه بینا دی وَالَّذِيْنَ او هغه کسان يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ چے مړه شے له تاسی وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا او پریږدی بنځے يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ انتظار دی کوی په صبر کولو د ځان خپل سره اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ج څلور میاشتے اولس شپے سره دور ځو دا هلته که مینځه او حامله نه وی او که مینځه وه نو عده ئے دوی میاشتی او نځه شپی او ور ځے ده او که حامله وه نو عده ئے تر لنګیدو پورې ده فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ چے هر کله ور سید لی دوی اخر د عدی خپلی ته فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ پس نشته هیڅ وبال پر تاسے ای حاکمانو فِيْمَا فَعَلْنَ په هغه کار کښی چے کړی وی دوی فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ په حق د ځان خپل کښے یا له اختیار ه چے تزیین او تطییب خپل دی او طلب د نکاح

له یعنی بناسته کول او جوړول ۱۲ ته یعنی په ځان پورې خو شبو ئی محښل ۱۲

دی بِالْمَعْرُوْفِ ط په وجه شرعی سره وَاللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ په هغه کارو چے تاسی ئی کوی خَبِیْرٌ ﴿۲۳۴﴾ آگاه دی وَلَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ او نشته هیڅ وبال پرتاسے ای طلب کارانو د نکاح فِیْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ په هغه کار کښے چی کنایه اورمز وکړی تاسے په هغه کار مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ له طلبه دهغو ښځو چے په عدت کښے وی اَوْ اَكْنَنْتُمْ یا پټه وړه ساتی تاسے دا طلبگاری فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ ط په زړه ونو خپلو کښے یعنے رغبت چل که ښکاره کوی معتدی ته اوکه زړه کښے ساتی په دواړو کښے باك نشته اما که ښکاره کوی نو په کنایه وائے لکه چے ته ښایسته یا صالحه ئی یا ما له تا غوندے ښځه پکاره او تصریح مه کوی عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ پوهیږی خدای چے بیشکه تاسی سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ زړی تاسے یاد ی به کړی تاسے دوی اوصبر به ځندی ونه کړی نو ښکاره کړی ورته رغبت خپل وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا او لیکن وعده ورسره مه کوی پټه د جماع یاد نکاح اِلَّاۤ اَنْ تَقُوْلُوْا مګر دا سی کوی چے وائی دوی ته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۬ خبره په رمزاو په اشاره سره نه په تصریح او په عبارت سره وَلَا تَعْزِمُوْا او اختیار مه کوی عُقْدَةَ النِّكَاحِ و ترلود نکاح له دوی سره حَتّٰى یَبْلُغَ الْكِتٰبُ ترهغو پورې چے ورسیږی هغه مقرری د خدای چی عدده اَجَلَهٗ انتها خپلی ته وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شے چے بیشکه خدای یَعْلَمُ مَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ پوهیږی په هغه شے چی په زړو ستاسے کښے دی فَاحْذَرُوْهُ ۚ پس ویریږی ترې وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ او بیا پوه شے چی بیشکه خدای غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ ﴿۲۳۵﴾ بخښونکی د ګناهو دی صبر کونکی دی چے هیڅوك نه رنه نیسی روایت دی چے یوسړی له انصارو ښځه په نکاح کړه او مهر ئے مسمّٰی نه کړی او مخکی تر دخول ئے طلاقه کړه نو تا نه ل شو لَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ نشته هیڅ وبال پرتاسی اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ که طلاقے کړی تاسے ښځے خپلی مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ تر څو چے مسه کړی نه وی تاسے اومراد له مسه په نزد د امام اعظم رح خلوت صحیحه دی چی خالی وی له مانع د دخوله

ع ۳۴ ۳۵

عه یعنے په نفسونو او په زړونو خپلو کښے ۱۲ ۵ یعنے معین او معلوم ۱۲

اگر که دخول ونه شے اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ ترهغه چے مسیٹی نه کړی تاسے دوی ته اوداآو په
معنٰی دحتےدے فَرِيْضَةً ط مهر حُکه چے د مهر مسیٹی حکم په مخکښی دی پس طلاقی
کړی تاسی دوی وَّمَتِّعُوْهُنَّ ج اوځه ورکړی ورلره چے یادګاری اوبرخورد ارے
ئی وه شے عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ په پرمارہ (مالداره) باندی په قدر د طاقت دده وَ
عَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ج او پرنادار باندی په قدر د طاقت دده مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ ج
متعه ورکول دی په وجه شرعے اوعرفے سره چے هغه په نزد د امام اعظمؒ قمیص
او پروڼی اوچادری ده حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۳۶﴾ چے حق واجب دی پرمسلمانانو باندی
وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ اوکه طلاق کړی تاسے مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ مخکی تردی چے مسه
کړی وی تاسے دوی وَقَدْ فَرَضْتُمْ اوحال دا چے مسیٹی کړی وی تاسے لَهُنَّ فَرِيْضَةً
دوی لره مهر فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ پس لازم دی پرتاسے ورکول د نیم دهغه مهر چے
مسیٹی کړے وی تاسے اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ مګر که عفوه وکه دوی دقول که عاقل وے
او بالغ وی اَوْ يَعْفُوَا الَّذِيْ یا عفوه وکی یعنے قول ورکی هغه سړی بِيَدِهٖ عُقْدَةُ
النِّكَاحِ طچے په لاس د دهکښے ده غوټه د نکاح یعنے زوج وَاَنْ تَعْفُوْٓا اودا چی
عفوه وکړے اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ط دا کار د پرهیزګاری ته یعنے که ښځی
قول وبخښے نو دا دوی له د پره غوره ده اوکه سړی قول ورکه نو دا هغوی لره
د پره غوره ده حُکمه چے احسان دی له جانبینو وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ اومه هیروئ
مهربانے او احسان بَيْنَكُمْ ط سړه په مینځ خپل کی یعنے سړی دِی دی ته وکوری
چے دی ښځے نرما ښځه هیڅ نفعه وانه خیسته نو په قول مهرئے خو شحاله کړه او
ښځه دی دِی ته وکوری چے د ے سړی پرما هیڅ نفعه وانه خیسته نو دا مهر
خوور بخښه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۷﴾ پرهغو کارو چے
کوی ئے تاسی بنه بینادی حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ فهمداری کوی پر قولو لمنځو
یعنے په وړ وحقو قوئے لکه وخت، طهارت، اذان، اقامت، جمع، جماعت

خلوص نیت، حضور، خشوع، خضوع، طمانیة، قیام، قراءت، رکوع، سجده، قومه جلسه اوهمداسے نور حقوق فرائض، واجبات، سنن، مستحبات څکه چے کمال د لمانځه موقوف دی پردی شیانو باندی وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى او خصوصًا په میانځنی لمونځ کی چے په اکثرو روایاتو کښے د ماځیګر لمونځ دی څکه چے د اوخت د ډیر اشتغال دے څکه چے په مځکنی شپه راځی وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ اوودریږی خپلے ته قٰنِتِيْنَ (۲۳۸) په ویره یا په ذکر یا په اوښه قیامه فَاِنْ خِفْتُمْ پس که چیرے ویریاست له دښمنه څخه یا د غلو څخه یا د یو بل شے څخه فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا پس اداء کوی لمونځ د پیاده ټکه سره یا پر سور لی او په دی دواړو کښے توجه و قبله ته شرط نه ده عذر په وجه فَاِذَآ اَمِنْتُمْ پس چے پرامن سواست د خوفه څخه فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یاد وی خدای یعنے لمونځ کوی سره له تیرو شرائطو كَمَا عَلَّمَكُمْ لکه چے درښولے ئی دی تاسے ته مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (۲۳۹) پر هغه شان لمونځ چے نه واست تاسے چی په پوهیدلاست مځکی وَالَّذِيْنَ او هغه کسان يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ چے مړه شی له تاسے څخه وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ځاځ او پریږدی بنځے وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ لازم دی چے وصیت دی وکی دوی د پاره د بنځو خپلو په حال د حیلوة کښے یا دا امر دی له خدایه څخه مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ د متعی ورکول دی تر یوه کاله پوری چے نه وزی اوجامه اومسکن دی له ترکی څخه دده غَيْرَ اِخْرَاجٍ بیله ایستود خپله کورنه څخه یعنے چی هیڅوک دی ئی نه باسے فَاِنْ خَرَجْنَ پس که پخپله وولی دوی له کورنه اما پس له پوره کیدو د کال فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ پس نشته هیڅ وبال پرتاسے ای اَوْلِيَآؤُ د نورو فِيْمَا فَعَلْنَ په هغه شے کښے چی دوی ئی وکی فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ په حق د ځان خپل کښے یعنے زینت یا طلب د خاوند مِنْ مَّعْرُوْفٍ ط په موافقت د شرعے سره وَاللّٰهُ او خدای عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ (۲۴۰) غالب دی په کړدن کښ نو دده د

لہ یعنی د هغه مال څخه چی پاته شوی له ده څخه ۱۲ سه خپلو نو خاوندانو ددی بنځے ۱۲ سه جوړول دکاپل ۱۲

امره څه حکیم دی چې مصلحت کوری هغه کوی اوداوصیت بیا منسوخ شوی دی په ایت د میراث سره اوداکال منسوخ شوی دے څلور و میاشتو اولسورځو سره وَلِلْمُطَلَّقٰتِ اودی طلاقو کړے شوو لره مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ ط نفقه په اندازه سره حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾ مقرر شوی دی پرهیزګارانو لره د شرک څخه یعنې پرمسلمانانو كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ هدا سے لکه دا احکام چې ئې بیان کړه بیا نوی خدای لَكُمْ اٰيٰتِهٖ تاسے ته احکام خپل لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ بنا ئې چې تاسی عقل متوجه کړی احکامو دده ته **روایت** دی چې په ملك د واسط کښے یو بنارو وچې وُ باپرسا غله اودوی اته یا څلویښت یا او یا زره مخلوق وه نو دا قول و تبنتیدل اوخدای قوله مړه کړه او ورسته تراتو ورځونو بیا ژوندی کړه په دُعاد حزقیل سره لکه وائی چې اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا هغه کسان چې وتلے وه مِنْ دِيَارِهِمْ له کورونو خپلو وَهُمْ اُلُوْفٌ اوحال دا چې دوی په زرګونو وه حَذَرَ الْمَوْتِ له ویرې د مرګ څخه فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ پس وویل دوی ته خدای مُوْتُوْا وامړئ شے پس قوله مړه شوه په یوه ساعت کښے **نکته** په دې کښے اشارت دی ودی ته چې ای مؤمنانو هرکله چې له مرګه په تیښته نه سے خلاصیداست نو غوره داده چې د امر لره دی په لاره د خدای کښے چې یوسنه ځای خوونیسے ثُمَّ اَحْيَاهُمْ بیا ئې ژوندی کړه قول اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای لَذُوْ فَضْلٍ هر اینه خاوند د مهربانی دی عَلَى النَّاسِ پرخلکو چې داسی عجائب ورته ښکاره کوی دپاره د عبرت وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چې دی خصوصًا بنی اسرائیل چې داسی معجزې وینې او پند نه په اخلی لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ شکر نه باسے وَقَاتِلُوْا اوجنګ کوی ای مؤمنانو فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے وَاعْلَمُوْٓا اوپوه شے اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای سَمِيْعٌ اوریدونکی دی دا قوالو بیرته پاته کیدونکو له عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾

۳۱ ع ۱۵

سے یعنی چې وودوی له ورسره سلو یا ته کیدونکو له غزا څخه چې هغه داسے وی که داوګ نه زمونږ غزا ته نه وای تللی نو نه به وه مړه شوی ۱۲

دا نادی په نړۍ ونوددوی مَنْ ذَا الَّذِیْ څوك دی هغه کس یُقْرِضُ اللّٰهَ چے قرض ورکوی خدای ته یعنے غازیانو لرچه اسباب دغزا نلری قَرْضًا حَسَنًا بنه قرض یعنے له پاکه ماله یا بے له منته یا بیله بدله یا ثر فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ پس چے زیات اوغبرکړی کی خدای ورلره ثواب ددی قرض اَضْعَافًا کَثِیْرَةً ط غبرګونی ډیر تر لسو تر سلو تر اُوسو تر اُو نر روپوری په تفاوت دمصارفو اود اخلاص سره وَاللّٰهُ یَقْبِضُ اوخدای تنګوی روزی دچا وَیَبْصُۜطُ ص اوفراخوی دچاپه مقتضٰے دحکمت بالغه سره وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ۲۴۵ اوهم ده ته بیا بیول کیږی دپاره دجزاء داعمالو خپلو روایت دی چے جالوت لوی بادشاه وو له کفارو د عمالقو وچے بنی اسرائیلو پوسی راغلی وو او څلور سوه څلویښت مشران ئے ځندی بندیان کړه اود وی ئے له خپل وطنه څخه وشړل اواولاد ئے تری وکړ نراوی لوددوی ارادہ دجنګ وکړه لکه چے وائی اَلَمْ تَرَ ایا نه وینی (ننګوری) اِلَی الْمَلَاِ هغه یوه ډله تہ مِنْۢ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ له اولاده دیعقوب مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰی له پس له وخته دموسے اِذْ قَالُوْا لِنَبِیٍّ چے وویل دوی یو پیغمبر ته لَّهُمُ ابْعَثْ چے راغلے وو دوی ته چے په اصح دروایاتو شمویل وو چے مقرر کړه لَنَا مَلِكًا موږ له یو بادشاه نُّقَاتِلْ چے جنګ وکړو موږ په تدبیر او په اتفاق د هغه سره فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط په لاره د خدای کښے له جالوت کافر سره قَالَ هَلْ عَسَیْتُمْ نو وویل شمویل چے آیا نژدی یاست تاسے ودی خبری ته چے اِنْ کُتِبَ که فرض کړه شے عَلَیْكُمُ الْقِتَالُ پر تاسے جنګ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ط داچے بیا به و نه کړی تاسے جنګ یعنی زه خو داسے ګومان کوم چے په ځان به ئے فرض کړی او بیا به ئے ونه کړے قَالُوْا وَمَا لَنَا وویل دوی اوڅه عارض دی موږ لره اَلَّا نُقَاتِلَ چے جنګ به نه کوو موږ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے وَقَدْ اُخْرِجْنَا اوحال داچے په تحقیق سره ایستل شوی یو موږ په ظلم سره مِنْ دِیَارِنَا له کور وخپلو څخه

وَ اَبْنَآئِنَا ط اوله نړۍ منو خپلو څخه فَلَمَّا كُتِبَ پس هر کله چې فرض کړه شو عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ پر دوی جنګ تَوَلَّوْا انو شا کړه مولو اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ د مګر بر. و له دوی څخه چې دری سوه اوديارلس تنه وو وَاللّٰهُ اوخدای عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۴۶﴾ښه دانادے په احوالو د ظالمانو نوچې جهاد تله ئې شا کړه پس له غوښتلو روایت دی چې هر کله شمویل باد شاه له خدایه وغوښت نو یوه همسا (لکړه) راغله چې دا دهرچا پر قد برابره شوه هم هغه لائق دی د باد شاهۍ نو پر مخلوق راغلها و د هیچا په قد برابره نه شوه ناګاه یو سړی شپون یا رنګریز یا سقا وچې شاول ئې نوم وو او د پرا و بن دوو او طالوت با له (بل) کیدی چې راغلے نو هغه همسا پر برابره شوه لکه چې وائی وَقَالَ لَهُمْ اوو ویل و دوی ته نَبِيُّهُمْ پیغمبر د دوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چې دی قَدْ بَعَثَ لَكُمْ په تحقیق سره مقرر کړی دی تاسو ته طَالُوْتَ مَلِكًا طالوت باچا قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ نو ویل دوی چې څرنګه به وی لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا ده لره باچاهی پر موږ باندی وَنَحْنُ اَحَقُّ اوحال داچې موږ د پرلائق یو بِالْمُلْكِ مِنْهُ په باچاهی سره قرده ځکه چې دی اراذلو څخه اوبل داچې دی له اولاده څخه د بنیامین دی او په هغو کښے نه پیغمبری شته اونه باچاهی وَلَمْ يُؤْتَ اوبل داچې نه ده ورکړه شوی ده لره سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ط فراخے د مال یعنی دی دولت نه لری مفلس محض دی او باچاهی بی دولته ممکنه نه ده قَالَ نو وویل دوی ته پیغمبر علیه السلام اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ چې بیشکه خدای غوره کړی دی عَلَيْكُمْ پر تاسے وَزَادَهٗ بَسْطَةً اوزیات کړی ئې دی له جهته د علم فِي الْعِلْمِ په علم کښے یا په تدبیر د باد چاهی کښے وَالْجِسْمِ ط او په تنه کښی او باد شاهی د پوهاں او جسیم څخه پکار ده چې په مصالحو د حکم ښه پوهیږی او هیبت هم د هرچا څخه دی کړی وَاللّٰهُ اوخدای يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ ورکوی باچاهی خپله مَنْ يَّشَآءُ ط هغه چا لره چې اراده ئې وشی وَاللّٰهُ او

خدای وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۴۷﴾ خاوند دی دلوی فضل دانادی لائق اونالائقه پیژنی روایت
دی چه دوی بیاسوال وکی دپیغمبره څخه چې موږد تسلی لپاره یوه نښه غواړو
پر باچاهی دده نوده دره به څخه سوال وکی اونښه راغله لکه چه وائی وَقَالَ لَهُمْ
اوو ویل دوی ته نَبِيُّهُمْ پیغمبر د دوی اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ بیشکه نښه د بادشاهی ددې
چه دده اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ داده چې راله شی تاسے ته صندوق د شمشاد ودری
ګزه اوږد ددوه ګزه پلن فِيْهِ سَكِيْنَةٌ چې په ده کښے دل ارامی ده مِّنْ رَّبِّكُمْ له طرفه د
ربه ستاسی یعنے چه هغه لښکر کښے چې به د اصندوق وی نوهغه به په جنګ
کښی زړه ور وی اوماتی به نه کوی ځکه به موسےٰ په هرجنګ کښے دځان سره ساتی
وَبَقِيَّةٌ اوپس مانده دی مِّمَّا تَرَكَ له هغه شیانو څخه چې پرایښی دی اٰلُ مُوْسٰى
فرزندان د موسےٰ وَاٰلُ هٰرُوْنَ اوفرزندان د هارون یا پخپله دوی خوهله که
لفظ د اال دپاره د تعظیم وی اوهغه پس مانده څیلی اوهسا د موسےٰ اوپکړی
(لنګوټه) د هارون اوشه ماتے ماتی تختے د تورات هم پکښی وی اوشه تربیې
دتیه هم پکښے وو تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ط چې رابه ئی وړی ملائکی له اسمانه څخه
نوداصندوق راکوزه (راکښته) کی ملائکو اودوی په هوا کښے لیدی چه له پاسه
راغلے اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چې په راتلو د دے صندوق کښے تاسے په دې هَيْئَةٍ
لَاٰيَةً لَّكُمْ هلا یښه یوه غټه نښه ده تاسے لره په دې باچاهی د طالوت اِنْ كُنْتُمْ
که ئے تاسے مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ باور کونکی فَلَمَّا فَصَلَ پس هرکله چې راپیرون شو
طَالُوْتُ پا لښکرو لا طالوت له بناړه دایلیا له اتیا زره لښکره سره په ایا مُوْد
د دیرې ګرمی کښے قَالَ نو وویل طالوت اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای مُبْتَلِيْكُمْ ستاسو
ازمیښت کونکی دی ستاسی په یوه والله سره چه ستاسی په څکښی به راشی او
مطیع اوعاصی به بیل شی اودی ته ظاهر فلسطین والی فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ پس هرڅوک
څوک چه وچښی اوبه له دی ولی څخه فَلَيْسَ مِنِّيْ نو پس هغه نه دی له ما څخه

یعنی نه ما له تابعانو وَ مَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ او هغه څوک چې ونه چښي دا او به فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ پس هغه بیشکه له ما څخه دی یعنی نه ما تابع دی اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً مګر هغه څوک چې واخلی یوورغوی او به بِيَدِهٖ ۚ په لاس خپل سره روایت دی چې هرکله لښکر په دی واله نه لاړل او له تندی ډیر وار خطا وو ځو له په سبب د ګرمی نو نه ریاتو فسونه د لګ کړه لکه چې وائی فَشَرِبُوْا مِنْهُ پس وئ چښلے دا او به یې مړه ګیده له دی نهر فلسطین څخه اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ط مګر لږ وو له دوی څخه چې د ری سو دیار لس تنه وه چې فقط یو یو ورغوی او به ئې وچښلی فَلَمَّا جَاوَزَهٗ پس هر چې تیر شو له دوی له دی ولی څخه هُوَ وَالَّذِيْنَ طالوت او هغه کسان اٰمَنُوْا مَعَهٗ لا چې ایمان لے ؤ راوړی وو له ده سره قَالُوْا نو وویل د غه کسانو چې او به ئې ډیری چښلی وی لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ نشته هیڅ طاقت موږ لره نن ورځ د جالوت بِجَالُوْتَ له جالوت سره چې پنځه سوه مَنَه شړے او سپینه پرپرته وه له وسلے او هر څه او اووه نیم شله مَنَه شړے خوئ خول وو وَجُنُوْدِهٖ ط او لښکر ده سره چې اته لاکهه ئ ډیره سوارہ او جنګیالی دی قَالَ الَّذِيْنَ وویل هغو کسانو يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ چې یقین ئ وو پردی چې بیشکه دوی مُّلٰقُوا اللّٰهِ لاړل تلونکی دی خدای له چې د ری سوه دیارلس وو كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ ډیری دی دوی وځو لیو څخه چې مؤمنان مخلصان وی غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً م چې غالب شوی دی ځو الوی لښکر باندی چې سرکشان او کافران وی بِاِذْنِ اللّٰهِ ط په اذن او په مدد کاری د خدای سره وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۲۴۹﴾ او خدای له صابرانو سره دی وَلَمَّا بَرَزُوْا او هر کله چې وو اته مؤمنان جنګ ته او صفونه ئ راسته کړه لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ د پاره د قتال د جالوت او د لښکر د ده قَالُوْا ارکښا نو وویل دی مؤمنانو اله ر به موږ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا توی کړه په موږ د اسے کا سے او مشکونه د صبر کوم ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا او کلک کړه د ښمن ته قدمونه نه موږ چې توی

ورته ولاړ او سو وَانْصُرْنَا او مدد وکړه له موږ سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾ پر دی قوله د کافرانو باندی روایت دی چې پلار د داؤد ایشیا نومیدی اوده اوه زامن وو کشر یې کښنې داؤد وو چې رَمَّهُ بِئُوْلَه اوایشیا له شپږو تولو مشرانو سره په لښکر د طالوت کښنې وو شموئیل ؑ ته وحی وشوی چې مرلړ د جالوت د داؤد ؑ په لاس سره دی نو دی پلار راوه بالی او په دغه لاره کښنې درې تیږې وړته وویل چې موږ درسره واخله یکاږ به دی شو نو دری سره یې تو بندۍ دان کښنې واچولی او طالوت وویل هر چا چې جالوت مړکی نو خپله لور به سره دینمی باچا هغه ورکړم او داؤد ؑ وویل چې نه ورځم بیا چې دی له جالوت سره مخامخ شو هغه دری سره تیږې یې په مچلوغه کښنې کښیښنوی چې وروبې غورځوی نو دری سره د جالوت پر سینه ومښتی او یوځای ورننوتے او دشاله طرفه یې دری ځایه ووتی او په لښکر کښنې تر اخره ولاړی او دری کوڅے ئے پکښې وه ایستی چې اکثر لښکر په تباه شو لکه چې وائی فَهَزَمُوْهُمْ پس مات یې کړه دا کافران بِاِذْنِ اللّٰهِ قف ؕ په توفیق د خدای سره وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ او مړکی داؤد ؑ جالوت کافر وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ او ورکړه ورلره خدای بادشاهی په اول کښنې نیمه اوبیا پس مړکه د طالوت درسته وَالْحِكْمَةَ اوپیغمبری وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ او وئی ښوول ورته له هغه شیانو څخه چې اراده ئی وکړه لکه ساز زمل د زغرو او خبری د مرغانو او چاړیا نو او د نورو د ډیرو شیانو وَلَوْلَا اوکه نه وای دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ حصارول (د فعه کول) له طرفه د خدای د دی خلکو بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لا بعض له دوی چې کفار دی په بعض نورو سره چې غازیان دی د مؤمنانو لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ نو هر ایښنه خراب شوی به وو تمام روی زمین په فساد او په ظلم او په قتل د کفارو سره وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدای چې دی ذُوْ فَضْلٍ خاوند د لوی مهربانۍ دی عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾ پر خلکو باندی تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ دا تیری قصے د معجزا تو د ښنے د قدرت د خدای دی نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ چې لولو (تلاوت) کوو ئی موږ پرتا اې پیغمبره بِالْحَقِّ ؕ په حق سره وَاِنَّكَ او بیشکه ته چې لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾ هر ایښنه له رسولانو ئی ته

عه یعنی پسونه په سے ځرو له (پیرولا) ۱۲ سے یعنی په کوډی (تیږه) هکښی ۱۲

تِلْكَ الرُّسُلُ د اپیغمبران چې ذکر شول فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عُورځ کړی دی موږ بعض د دوی عَلٰى بَعْضٍ هر پربعض اګرکه په اصل درسالت کښے سره برابردی لیکن په نورو خواصو کښے سره متفاوت دی لکه چې وائ مِنْهُمْ مَّنْ بعض له دوی څخه هغه دی كَلَّمَ اللّٰهُ عائد په کښې محذوف دی ای کَلَّمَهُ اللّٰهُ چې خبری ورسره کړی دی خدای بی واسطے چې اول ئ دادم علیه السّلام اوبه واسطی دموسٰے علیه السلام سره او اخری د محمد صلے اللہ علیه وسلم سره وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ او پورته کړی ئ دی بعض د دوی په مرتبه کښے لکه محمد صلے اللہ علیه وسلم چې وده ته ئ هغه څه ورکړی دی چې د حدّ د شمار څخه بیرون دی وَاٰتَيْنَا اوورکړی وی موږ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ عیسیٰ ع ته چې زوی د بی بی مریمی دی بنکاره معجزی لکه څوندی کول د مړو او اوږغول د سندو او د برګو (پیس نیولو) وَاَيَّدْنٰهُ اوقوی کړی وو موږ دی بِرُوْحِ الْقُدُسِ ط په جبرائیل علیه السلام سره چې هرکله به د رسره کلرنه یدی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وای د خدای مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ اختلاف به نه وو کړی چې سبب د قتل دی هغه کسانو مِنْۢ بَعْدِهِمْ چې پس له دی پیغمبرانو وو مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ چې راغلی وی دوی لره بنکاره معجزی لکه چې مخکی بیان شوی دی وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا اولیکن اختلاف برپا یه کړه دوی فَمِنْهُمْ پس بعض له دوی مَّنْ اٰمَنَ هغه څوک دی چې ایمان ئ راوړی دی وَمِنْهُمْ اوبعض د دوی څخه مَّنْ كَفَرَ ط هغه څوک دی چې کفر ئ اختیار کړی دی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وای د خدای مَا اقْتَتَلُوْا نه اختلاف به نه وو کړی دوی چې موجب د قتل د دوی شو وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدای يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾

سلم لکه چې ورته ئ فرمایلی وو چې يٰمُوْسٰٓى اِنِّىْ اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِىْ وَبِكَلَامِىْ یعنی ای موسٰے ما ته په رسالت او کلام سره د خلقو پرمخ غوره کړی یې ۱۲ منه رحمه سر به

کوی په حکمت بالغه سره هغه چې اراده ئې وشي هدایت دچا او د کمراهی د چا
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا او ورکوی مالونه په زکوٰة یا په جهاد کی
یا په نورو صدقاتو کښے چې واجب دی مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ له هغه مال نه څخه چې درکړی
دی موږ تا سے ته مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ چې راشی هغه ورځ لَّا بَيْعٌ
فِيهِ چې نه پکښی خرڅول او نه بیول شته چې څوك ځان خپل را ینسی اوله عذابه
څخه خلاص شی وَلَا خُلَّةٌ او نه پکښی زاړی او دوستی شته چې څوك له چا
سره مدد وکړی وَلَا شَفَاعَةٌ او نه پکښی سوال او زاری شته امّا کافرلره او
هر چې مؤمن دی هغه لره شته چې دچا پاره ئې وکی لکه انبیاء او علماء او صلحا
به ئې د مسلمانانو لپاره کوی وَالْكَافِرُونَ اوکافران چې دی هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿۲۵۴﴾ هم
دوی ظالمان دی له هری وجهې چې ایمان پرخدای نه راوړی او عبادت دبل چا
کوی اوزکوٰة نه ورکوی اللّٰهُ خدای چې دی لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ نشته لایق د عبادت
هیڅوك مګر هم دی دی یوازی الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۚ چې همیشه ژوندی دی محکم
ولاړ دی په کلهاني او په تدبیر د مخلوق لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ نه راځی پرده پرکالی
(پریشانی د خوب) وَلَا نَوْمٌ ۚ او نه خوب چې یوان غافل شے د تدبیره څخه د مخلوق
لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ دی ده لره هرهغه چې په اسمانونکښے دی وَمَا فِي الْأَرْضِ ؕ اوهر
هغه چې په محکمه کښے دی مَن ذَا الَّذِي څوك دی هغه يَشْفَعُ عِندَهُ چې شفاعت
به کوی دده په وړاندی په قیامت کښی بنیٰ دی که عالم دی که ولی دی که صالح
دی إِلَّا بِإِذْنِهِ ؕ مګر په اذن دده سره یعنی بیله اذنه ئې هیڅوك خوله نشی غوړولے
لا ی يَعْلَمُ مَا پوهیږی په هغه احوالو دوی بَيْنَ أَيْدِيهِمْ چې په مخکښی د دوی دی
یعنے دنیوی وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ او په هغه احوالو چې وروسته دی تر دوی یعنی اخروی

لہ یعنی د دنیا څه احوال د څلکو چې دی له عمرو اوله خوشحالیو له نیکو او له بد و له قسمتو او له رزقو اوله
روڼتو له مګرکو په دی خو لو د غه الله بنه پوهیږی او پرعالم او دانا دی ۱۲ سے یعنی د اخرت څه
احوال چې دی په هغو هم دی بنه پوهیږی یعنی علم د دوی وړ ته نه رسیږی ۱۲

وَلَا يُحِيطُونَ اواحاطه نشی کولای دوی یعنی علم دوی بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ پرهیڅ شی له علمه څخه دده إِلَّا بِمَا شَاءَ ج مګر په هغه شے چی اراده شوی وی دده د خبرولو دهغو وَسِعَ ارت اومحیط دی كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ علم دده یا ئی قدرت یا ئی پاچاهی یا ئی هغه کرسی چے فلك البروج دی پرتولو اسمانونو باندی وَالْأَرْضَ ج اوپر ځمکه باندی لکه چی حدیث وارد دی مَا السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ فِي الْكُرْسِيِّ إِلَّا كَحَلْقَةٍ مُّلْقَاةٍ بِفَلَاةٍ وَلَا يَئُودُهُ ۚ حِفْظُهُمَا ج اونه ستومانه کوی دی سائنه ددی اسمانونو او ځمکی وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ اودی ډیر بلند شان دی په باچاهی اوپه غلبه خپلو کښے هم ډیر لوی دی په صفاتو د کمال کښے ر روایت دی چے دوه نږامن دا بوالحصین انصاری نصرانیان شوه اوده ورسول علیه السلام ته وویل کله ستا اجازه وی دوی به په ښ وره مسلمانان کړو نو نازل شو لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قتلا نشته هیڅ زور اوجبر په قبلولو د دین کښے قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ په تحقیق سره بنکاره ده لا مِنَ الْغَيِّ ج له ګمراهی څخه یعنی حق اوباطل هرڅوك پخپله پیژنی اوداحکم په اول داسلام کښے وو بیا منسوخ شو په آیت د سیف سره فَمَن يَكْفُرْ پس هرڅوك چے ایمان نرا نه وړی بِالطَّاغُوتِ پر شیطان یا پر بتانو وَيُؤْمِن بِاللَّهِ اوایمان راوړی پرخدای فَقَدِ اسْتَمْسَكَ پس په تحقیق سره منګولی ښځے کړی بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ق په هغه پرې محکم چی قران دی ځکه لو طرف بندۀ[1] څخه دی له جهته دوصفیته اوبل طرف ئی دبنده څخه دی له جهته د قرائته اودعمله لَا انفِصَامَ لَهَا ط چے له سره نشته اوميدل[2] اوغوږ یدل دی پرې لږه یعنی داقران داسے محکم اوتاؤ کړه شوی احکام دی چی هیڅ شك اوشبه پکښے

[1] یعنی نه دی دا اووه اسمانونه لوی په جنت اوپه مقابله د کرسی کښی مګر په مثل دریوی کړی دی یعنی دی وکړی چے غوږ محولی شوی وی په بیابان کښے مطلب داچے په نظر سره اسمانونه هغه کرسی - ډیره لږده فافهم ۱۲ [2] یعنی یوطرف ئی خدای څخه دی ځکه چی خدای دغه لاس غوږ کړی ده اوخوښه کړی ده نو بیا ئی دیاره د مهربانی اوپیرزینی ودی عالمانو ته بیان کړی ده نو هغه اخیر طرف ئی گویا که دمؤمنانو څخه شوکه عمل په دغی لاس وکړی یعنی ایمان یوازی پرحقیقی الله باندی راوړی ۱۲

نشته وَاللّٰهُ اوخدای سَمِیْعٌ اوریدونکی دی د قراءت دقران عَلِیْمٌ (۲۵۶) دانادی
په عمل کونکو په احکامو ددہ اَللّٰهُ خدای چی دی وَلِیُّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دوست دی د
هغه کسانو چې ایمان ئی راوړی دی یُخْرِجُهُمْ راباسی دوی مِنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکیو
څخه دکفرادوګمراهی اِلَى النُّوْرِ ځانا ایمان اود هدایت ته وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا اوهغه
کسان چې کافرشوی دی اَوْلِیٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ دوستان ددوی شیطانان دی
جنی یا انسی یُخْرِجُوْنَهُمْ چې راباسی دا شیطانان دوی مِّنَ النُّوْرِ له ځانا ایمان
فطری څخه اِلَى الظُّلُمٰتِ وتیارودکفرعملی ته اُولٰٓئِكَ داکسان چې ایمان فطری ئے
په کفرعملی بدل کړی دی اَصْحٰبُ النَّارِ ملګری دی داورددوزخ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ
دوی به په دی دوزخ کښے همیشه وی **روایت** دی چې هرکله ابراهیم علیه السلام
بتان دکفار ومات کړه اونمرود بن کنعان بن سخاریب په غضب شو اوډیاره دسوځلو
ددہ ئی ډیرخس (لوښی) جمع کړه اوبیا دیاړه دغورځولو ئی دی راحاضرکی لونمرود ور
څخه پوښتنه وکړه چې ته دا څه موږ خدایان نه منی او ما نوی ئی نوستا خدای څوك
دی لکه چې وائی اَلَمْ تَرَ ایا نه وینی ته (ګورې) اِلَى الَّذِیْ هغه احمق ته چې بیعقل
دی حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ چې جګړه اوحجت بازی ئی وکړه چې نمرود دی د ابراهیم ؑ سره
فِیْ رَبِّهٖٓ په حق درب دده کښے اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ م په بدل ددی نعمت کښے
چې ورکړی وه ورلره خدای باچاهی د تمام روی زمین اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ په هغه
وخت کی چې وویل ابراهیم علیه السلام رَبِّیَ الَّذِیْ رب زما هغه قادر مطلق دی
یُحْیٖ چې اول څوندی کول کوی یعنی له نیستی ؑ څخه عالم هستی ته راباسی وَیُمِیْتُ لا

له یعنی له ډیرنا څخه دایمان چې په وخت د پیدا کیدو لو کښے له دوی سره وی نو هغه هر څندی یو سے
او بنه ئی کافر کړی لکه په حدیث کښے راغلے دی مَا مِنْ مَّوْلُوْدٍ اِلَّا یُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ الْاِسْلَامِ
فَاَبَوَاهُ یُهَوِّدَانِهٖ اَوْ یُمَجِّسَانِهٖ الخ معنے داچې نشته څوك له زیږدو ل شوو څخه مګرچې زیږدول
شوے وی پردین داسلام باندی نو بیا هغه مورا وپلار ددہ چې وی یا ئی یهودی کړی که دوی یهودیان وے
او یا ئی نصرانی کړی که دوی نصرانیان وی او یا ئی مجوسی کړی که ے مور او پلار مجوسیان وی ۱۲ علیه یعنی
له نشتوالی څخه مخلوق وشته والی ته راباسی ۱۲

او بیا وئرل کوی قَالَ اَنَا اُحْیٖ نو وویل لمړودچی زه هم ژوندی کول کوم وَاُمِیْتُ د
اووژل کوم نو یو بندی واجب[1] القتل ئی ازاد کی او یو بیکاه ئی مړی کا قَالَ اِبْرٰهٖمُ
بیا وویل ابراهیم په لسان دحجت سره فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چی خدای چی دی
یَاْتِیْ بِالشَّمْسِ لمر خیژوی مِنَ الْمَشْرِقِ دطرفه څخه دمشرق فَاْتِ بِهَا پس ته
ئی لمر وخیژوه دالمر مِنَ الْمَغْرِبِ دطرفه دمغرب فَبُهِتَ الَّذِیْ کَفَرَ د پس حیران شو
اوشرمنده شو هغه چی منکر وو له خدایه څخه وَاللّٰهُ اوخدای لَا یَهْدِی الْقَوْمَ
الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۵۸﴾ لامړه دحجت[2] باندی نه بنیی وډلی دظالمانو نه چی هغه ویلی ولی
چی ستا رب دیئ راوخیژوی روایت دی چه حضرت عزیر بن شرحیا چی له
اکا برو دا حبارو څخه وو او تورات یئ درست په یاد وو یوه ورځ پر خراب بنار
باندی راغلی چه بامونه او دیوالونه یې سره لاندی باندی پراته و و او خلق یئ
قتول سپین هډوکی مړه پراته وو دَی پرځره سپوږمۍ وو سره له خپلے توښے چی
تازه اِنځر او انګور وو دخوړلو لپاره او تازه شیده او شیره دانګور وو په دچینلو
لپاره چه ودی کښه والوا وکړو ته ئی وکتل نوروی ویل چه اَنّٰی یُحْیٖ لکه چی والئ
اَوْ کَالَّذِیْ ایا نه وینی (گرینی) نه هغه چا ته او داځکه چی داکاف زائده دی او
دا الَّذِیْ عطف دی پر تیر الَّذِیْ باندی یعنی اَوِ الَّذِیْ مَرَّ عَلٰی قَرْیَةٍ چی تیر
شو پر یو بنار باندی چه ایلیا یا بیت المقدس دی په هغه وخت کښے چی بخت
نصر خراب کړی وو او خلق یئ وژلی وو وَّهِیَ خَاوِیَةٌ اوداقریه یعنی دیوالونه
ددی لویدلی پراته وه عَلٰی عُرُوْشِهَا چت پر باموړ (چتو) خپلو باندی قَالَ نو وویل

---

[1] یعنی یو بندی چی واجب وه وژل د هغه یعنی چی خون یا بله لویه گناه یه کړی وه ۱۲

[2] یعنی دالمر چه د طرفه څخه د مشرق ورځئ دانره راولم نو میبایدچی ستاسی خدای د
یې دمغرب څخه راولی لکه په حدیث کښی راغلی دی گله داسی مړ وویلی وای نو فی الحال
به له طرفه دمغرب دالمر راختلی وای والله اعلم ۱۲

حضرت عزیرم لیکن داعتراضه پخپل قصور نه داستبعاده اَنّیٰ یُحیٖ چی څرنګه به بیا ابادهٔ کی یا څرنګه به بیا ژوندی کی اَهٰذِهِ اللّٰهُ داقریه یااهل ددی خدای بَعْدَ مَوْتِهَا؞ پس له مرګه داهل ددی یا پس له خرابوالی څخه ددی فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ پس مرګی دی خدای مِائَةَ عَامٍ سل کاله ثُمَّ بَعَثَهٗ ط بیا پی ژوندی کی پس له دی سلو کالو څخه قَالَ نو وویل ملکی ودہ ته کَمْ لَبِثْتَ ط چی څومودہ مدار(درنګ) دی کړی دی د لته قَالَ ووییل حضرت عزیرم لَبِثْتُ یَوْمًا چے مدار می کړی دی یوہ ورځ سلامته څکه چے دده روح قبض کیدی څابنت وو او بیا چی ژوندی کیدی ما ځیکر وونوداسی ووییل بے التفاته اوچی لمر ته پی وکتل چے لا ولاړ وونو داسی پی وویل اَوْ بَعْضَ یَوْمٍ یا یوہ حصه دورځی چی له څابنت څخه ترما ځیکره پوری دہ قَالَ بیا ووییل ملکی بَلْ لَّبِثْتَ بلکه مدار(درنګ) دی کړی دی مِائَةَ عَامٍ سل کاله فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ پس وہ کورہ خورلك خپل ته چی اِنځر او انګور دی وَشَرَابِكَ اوشراب خپل ته چی شیده اوشیره دانګور وو وہ لَمْ یَتَسَنَّهْ؞ چی هیڅ تغیر ئی نه دی کړی په دومره کلو کښی څکه چی اِنځر اوانګور دواړه داسے تازه پراته وه لکه چی هغه ساعت شکید لی وی اوهم داسی شیده اوشیره هم وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ اووہ کورہ خره خپل تچی پی خورلکه اوپی چینبا که ژوندی اوتازه روغ جوړ ترلی ولاړدی بیاړب العزت وایی چی دامی ددی وَلِنَجْعَلَكَ چی درکړه چی عبرت په واخلے ته وَلِنَجْعَلَكَ اوبل ددی پاره چی وګرځوو موږ تا اٰيَةً لِّلنَّاسِ ننبه دقدرت خپل وخلګو ته څکه چے پس له سلو کالو چے خپل قوم لره راغلی اوویے ویل چے نړه عزیرم نوهیچا باور نه ورباندی کاوی بیا چے تورات پی په یاد ورته تیرکړی نو باور پی وشو څکه چی تورات دبل هیچا په یاد نه وو او بیا چی خپل کورته

عه یعنی اقرار ئی وکی په خپل کوتاه فکری یعنی زما فکردی خبری ته نه رسیږی چی خدای به دابنهر بنه اباد کړے اودا خبره ئی له جهته داستبعاده نه ده کړی یعنی چی داژوندی کول اوابادول لیری اوبعید کښی دخدای له قدرته بلکه له جهته دکوتاه فکری څخه ووځکه دانبیاؤ سره داعقیده هیڅ قدری مناسب نه ده ۱۲ عبدالوهاب ؒ

را غلی لمسیان ئی و لیدل نزاره سپین بزربری دی اودی لا هم هغسی حیوان تور زبری وو نو ځکه نښه د قدرت شوه وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ اووګوره هډوکی دانسانانو نه چی اوس سپین پراته دی کَیْفَ نُنْشِزُهَا چه څرنګه ژاوبنورو وو (راوښورو) موږ دا هډوکی یعنی هر یو دبل وطرفته دپاره دپیوند ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ط بیا اغوند و په دی هډوکو غوښه چی ستاتسلی وشی اما د اهلته که مراد هډوکی دانسانانو وی یا دخره وی که خرهرشوی وی فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ لا پس هرکله چی ښکاره سود احال وده ته اومعاینه ئی وکړه قَالَ اَعْلَمُ نوئی وویل چه اوس پوهیږم په عین الیقین ۲ره لکه چی پخوا پوهیدم په علم الیقین سره اَنَّ اللّٰهَ چی بیشکه خدای عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۲۵۹ پرهرشی قادر دی وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ اودیادکه هغه چی وویل ابراهیم علیه السّلام رَبِّ اَرِنِیْ ای ربه زما و بنیه وماته كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰى ط چی څرنګه ژوندی کوی ته مړی قَالَ نو وویل ورته رب چی اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ط ایا ستاباور لا نشته قَالَ بَلٰى نو وویل ابراهیم علیه السلام چی شته وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِیْ ط اولیکن چه په مشاهده سره تسلی شی زړه زما قَالَ فَخُذْ نو وویل ورته چی پس ونیسه اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ څلور مرغانو څخه چی طاوس اوچرګ اوکاږکه دی څلورم پی کبوتره یا تیوس دی فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ پس ورانوزه دی که (راوه بوله) دا څلور سره وځان ته اوهر یو بیل بیل (جلا جلا) وګوره چی یقین دی خاص شی او بیا پی ذبحه که او دهرڅه سره ئی ښنه میده که او بیا تول سره خلط کړه ثُمَّ اجْعَلْ بیا کښیږده عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ پر هر یو غره چاپیره چی دی تا ته مِّنْهُنَّ جُزْءًا له دوی څخه توتی توتی اوسره ونه ئی دځان سره وساته ثُمَّ ادْعُهُنَّ بیائی دروبولە په نامه چی راسی په اذن دخدای سره يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ط نوزاړه شی درته په ځغاسته وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ اوپوه سه چی بیشکه خدای عَزِیْزٌ غالب دی نوداسی خوارق ورته اسان دی حَكِیْمٌ ۲۶۰ حکیم دی نوهرکار ئی په حکمت سره دی

ع ۳۴ ۳

عه یعنی لیدل ئی وکړه ددی شیا نو ۱۲

روایت دی چې هرکله رسول علیه السلام اراده د غزا د تبوك وکړه په هغه ایامو کښې چې ډیره ګرمی او ډیره تنګدستی وه او ډیر قوی دښمن او ډیر لږ وطن ته سفر وو او عثمان رضی الله عنه زر اوښان سره له اسباب او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه څلور زره درهمه وغاړه یا لوتله ورکړه نو نازل شو مَثَلُ الَّذِيْنَ مثال د مال د هغه کسانو يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چې ورکوی دوی مال لونه خپل فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې یعنې په غزا یا په نورو خیراتو کښې كَمَثَلِ حَبَّةٍ په شان د دانې د تخم وي اَنْۢبَتَتْ چې زرغونه کړی دا دانه سَبْعَ سَنَابِلَ اووه وړۍ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ په هر وړۍ کښې مِّائَةُ حَبَّةٍ ط سل دانې وی وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ اوخدای زیاتوی لِمَنْ يَّشَآءُ ط وهغه چا ته چې اراده ئې وشی یعنې مثلاً یوه روپۍ به وی دیوه سړی خو په لسو به مجرم شی او دبل دا به په سل او دبل دا به په اووه سوه او دبل دا به اووه لاکه او داتول په سبب د تفاوت د اخلاص او د محبت او د محنت د هرچا دی وَاللّٰهُ اوخدای وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۱﴾ ارت دی فضل دده دانا دی په نیت او په قدر مبلغ دورکونکو اَلَّذِيْنَ هغه کسان يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چې ورکوی مال لونه خپل فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای یعنې جهاد یا په بل خیرات کښې ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ بیا نه پسې کوی دوی مَآ اَنْفَقُوْا په هغه شی پسې چې ورکړی دی دوی مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ بار او داحسان او نه رسول دانازار چې قولی وی یا فعلی وی لَهُمْ اَجْرُهُمْ مقرر دی دوی لره اجر دوی یعنې عوض د داد خپل عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب خپل وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ او نشته هیڅ ویره پر دوی د عذاب یا د نقصان د ثواب وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾ او نه به وی دوی چې غمجن کیږی به په فوت د ثواب سره قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ خو ښه جواب ورکول د سائل ته وَّمَغْفِرَةٌ او عفوه ده ته که د ډیر الحاح او شور وکی خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ د ډیر غوره دی له هغه خیرات چې يَّتْبَعُهَآ اَذًى ط

عه یعنی نه ورته په خوله څه وایی او نه په بدن څه کاروی ۱۲

چې ورپسې ازار رسول په منت یا په پیغور دسوال سره وَاللّٰهُ غَنِيٌّ او خدای بې پروادی دچا دخیرات څخه حَلِيمٌ ﴿۲۶۳﴾ صبرناك دی چې څرنه نیسی څوك په مَن او په اذیٰ سره يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ مه خرابوی خیرات تاسو نه خپل بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى لاپه با رولو سره داحسان او په رسولو ازار سره كَالَّذِيْ يُنْفِقُ په شان دهغه چاچې ورکوی مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ مال خپل دپاره دښوني وخلګو ته وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ او ایمان نه راوړی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ دقیامت یعنی داسې معامله نه کوی لکه دمسلمانانو ځکه چې دامال په واقعه کښې دخدای دی اودوی ئې لګوی په هوا دنفس خپل سره فَمَثَلُهٗ پس مثال دده چې دی كَمَثَلِ صَفْوَانٍ په شان دښوی تیږی دی عَلَيْهِ تُرَابٌ چې پرهغه خاوره پرته وی فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ پس ورسیږی دی ته سخت باران - فَتَرَكَهٗ صَلْدًا پس پریږدی دا باران دغه تیږه پاکه صافه همداسی حال دی د منافقانو ریاکارانو چې دوی لکه ښوی تیږه داسی دی او په داسی ریاورکول د دوی لکه خاوره ده لوڅ هر کله چې باران دعدل په قیامت کې پرراسی نو دده ورکولو هیڅ اثر به نه سی پاته لَا يَقْدِرُوْنَ نه به قادر کیږی دوی عَلٰى شَيْءٍ پرثواب د هیڅ شی مِّمَّا كَسَبُوْا د هغه څه چې کسب کړی دی دوی وَاللّٰهُ اوخدای لَا يَهْدِي نه لاره ښیی الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾ پرلاره نه برابروی قوم دکافرانو وَمَثَلُ الَّذِيْنَ اومثال دهغه کسانو يُنْفِقُوْنَ چې ورکوی اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مالونه خپل دپاره دطلب مَرْضَاتِ اللّٰهِ درضا دخدای وَتَثْبِيْتًا اودپاره دثبات اودصدق چې پیدا شوی دی مِّنْ اَنْفُسِهِمْ له خپلوځانونو څخه دده دوی كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ په شان دباغ دی چې په لوړه ځمکه وی چې لمر او باد پرې ږیږی له هرڅه پاته په امان وی اَصَابَهَا وَابِلٌ چې وه اوریږی پرده سخت باران فَاٰتَتْ اُكُلَهَا پس ورکه یعنې ونیسی میوه خپله ضِعْفَيْنِ ۚ دوچنده یعنی لکه بل باغ چې په دووکالو

عه یعنې شبنم خو پرضرور اوریږی ۱۲

کښی ئی نیسی نودی ئی په یوه کال کښی ونیسی فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا پس که ونه اوریږی
پر وَابِلٌ فَطَلٌّ ۱ باران پس پرخه پ۱ اوریږی وَاللّٰهُ اوخدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾
پرهغه کار وچی کوی ئی تاسی بینادی بیا اوس سړب العزت پرسړ یا کارانو باندی بل
مثال لګه چی وایی اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ ایا دوست کښی یودتاسے څخه اَنْ تَكُوْنَ داچی وی
لَهٗ جَنَّةٌ ده لره یو باغ مِّنْ نَّخِيْلٍ له خرما وو څخه وَّاَعْنَابٍ اوله انګورو څخه تَجْرِيْ
چی بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی تر ونوزده څلور قسمه ۲ ولی دی لَهٗ فِيْهَا
وی ده لره په دی باغ کښی مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ له هر قسمه میوو څخه وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ
اوسړ سید لی وی وده ته نړ بښت وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۲ اووی ده لره اولاد
ضعیفان یعنے وارہ نا دارہ چے غیر له دی باغ څخه ئی بله حیله نه وی فَاَصَابَهَآ
اِعْصَارٌ پس راشی پردی باغ بربکی ۳ فِيْهِ نارٌ چی په هغه کښی اوسړ وی فَاحْتَرَقَتْ
پس وسوزی دا باغ په شان دبیان دی تیر بیان د جها د او د خیرات يُبَيِّنُ
اللّٰهُ بیانوی خدای لَكُمُ الْاٰيٰتِ تاسی ته نښی دمهربانی خپلی لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾
بنا ئی چی تاسی بنه فکر وکړی په احسانو او په نعمتو دده کښی هماسی حال دی د
سړ یا کارانو چی دوی لکه هغه سړ و پرعیال دارہ دی اود اخیرات ئی لکه هغه باغ دی
چی دوی ئے دمنافعو په طمع دی او حساب د قیامت لکه هغه بربکی چے دی او عدل
الٰهی په حق د دی قلف ۴ خیرات کښی لکه هغه اوسړ دی دبربکی هر کله چی پرسړ شی نو
داد قلف خیرات به په وسونړی اودوی به حیران پاته شی سړ وایت دی چی اغنیاؤ
دانصارو به غوسړ خرماوی پوهی کړی او بیکاره به ئی فقراؤ دمهاجرینو ته په خیرات
وسړ کولی او په زکوٰة کښی به ئی هم هغه بیکاره شی چی پیدا به ئے کی هغه به ئی
وسړ کاوی نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ای مؤمنانو اَنْفِقُوْا وسړ کوی په لاره د خدا

---

۱ یعنی شبنم خو پرضرور اوسړ یږی ۱۲ ۲ یعنی والدګان شید وا او والدګان شړ ابو او واللّٰه ذشاتا و
وَاُمٌّ ذاو بو ۱۲ ۳ بربکی و هغه ته وائی چی دانړ والونړی اوخاوی خزلی سړ یږی شی او په
تاوید وسړ پوسړ ته خیژی ۱۲ ۴ قلف نا کاسړ اونا بوه نا قبوله ۱۲

کښی مِنْ طَيِّبٰتِ مَا له پاکیزه دهغو شیانو څخه کَسَبْتُمْ چې په کسب کمالی دی تاسی په سوداګری یا په بل څه وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ او له هغه شیانو نه چې ایستلی دی مونږ وتاسی ته مِنَ الْاَرْضِ مس له ځمکی څخه له دانو یا میوو یا کانونو یا نورو څه وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ اومه اختیار وی نا کاره شی دپاره دورکولو وخدای ته مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ چې له دی ناکاره څخه به ورکوی زکوٰة او خیرات وَلَسْتُمْ اوحال داچې نه یاست تاسی بِاٰخِذِيْهِ اخستونکی ددی ناکاره پخپل حق کښی هیڅ کله اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا مګر که سترګی پوښی کړی فِيْهِ ۔ په اخستو ددی ناکاره کښی نو هرهغه شی چې پرځان ستاسی هیڅ رغبت ورته نه کیږی اوهغه بیا خدای له ورکوی د اداخلاص سره دیره منافی ده وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ اوپوه شی چې بیشکه خدای غَنِيٌّ بې پروادی له ناکاره شی ستاسی څخه خوښونکی دی دغورځ مال ستاسی اَلشَّيْطٰنُ شیطان چې دی يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ ویروی تاسی له تنګدستی څخه وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ اوامرکوی تاسی ته په بخل اوپه منعه دخیراتو وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ اوخدای وعدګوی له تاسی سره په سخابانډی مَّغْفِرَةً مِّنْهُ د بخښنی دده وَفَضْلًا ۔ اوډیر ورکړه په عوض ددی زکوٰة اوخیرات کښی هم په دنیا اوهم په اخرت کښی وَاللّٰهُ او خدای وَاسِعٌ ډیرارت دی فضل دده پرسخیانو عَلِيْمٌ ﴿۲۶۸﴾ ښه ځانادی په ورکړود دوی باندی يُؤْتِي الْحِكْمَةَ چې ورکوی حکمت یعنی قرآن اوهغه علم اوعمل چې موجب د رضاد خدای وی مَنْ يَّشَآءُ ۔ وهغه چاته چې اراده ئې وشی وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ اوهر څوک چې ورکړل شی ورته حکمت فَقَدْ اُوْتِيَ پس بیشکه ورکړه شی ده ډیره خَيْرًا كَثِيْرًا خیرډیر وَمَا يَذَّكَّرُ اوعبرت نه اخلی په دی پندو اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۶۹﴾ مګر خاوندان دخالصو عقلونو وَمَآ اَنْفَقْتُمْ اوهرهغه چې ورکوی تاسی مِّنْ نَّفَقَةٍ خرڅول دمال خپل لږ یا ډیرپټ یا بښکاره فرض یا نفل په اخلاص یا په ریا خدای ورته یا غیرورته اَوْ نَذَرْتُمْ نذر یا لازم کړی وی تاسی پرځان

عه د سر ونر روا د سپینو نرسره واو لعاو فی ۱۲

مِّن نَّذْرٍ له نذر څخه په شرط یا بې شرطه په طاعت یا په معصیت فَإِنَّ اللَّهَ پس بیشکه چې خدای يَعْلَمُهُ ط پوهیږي په اود هغه په موافق به بیا جزا درکوی وَمَا لِلظَّالِمِينَ اونشته هغه ظالمانو لره چې انفاق اونذر په ناروا سره کوی یا وفا په نذر سره نه کوی یا له خیراتو څخه منع کوی مِنْ أَنصَارٍ ﴿۲۷۰﴾ هیڅوک مدد کونکی اوساتونکی له عذابه څخه إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ که بنکاره ورکوی خیراتونه فَنِعِمَّا هِيَ ج پس ښه کار دی دا ځکه چې دبل چا مینه به هم ورته پیدا شی په دې لیدلوسره وَإِن تُخْفُوهَا او که ئې پټوی وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ او ورکوی ئې ونادارانو ته فَهُوَ پس دا پټ ورکول خَيْرٌ لَّكُمْ ط ډیر غوره دی تاسی لره لیکن په نفلی خیراتو کښې اوهرچې فرضې دی په هغو کښې بنکاره ورکول غوره دی دپاره د دفعې دتهمت وَيُكَفِّرُ عَنكُم او وبه ورڅوی خدای د تاسی څخه دا استیناف دی مِّن سَيِّئَاتِكُمْ ط بعض له ګناهو څخه ستاسی یعنې هغه چې د خدای او ستاسی ترمینځ دی وَاللَّهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۲۷۱﴾ پر هغه کار وچې کوی تاسے اګاه دی روایت دی چې هرکله قبیلې چې ښځه د صدیق اکبر وه خومشرکه وه چې سوال پې وکی له خپلې لورڅخه چې بې اسماء وه اودی له رسوله اجازه وغوښته لوده منعه وکړه چې مضطره شی او اسلام راوړی یا انصار وبه مخ کی تر اسلام و یهودو ته ورکړه کول له جهته دهغه خویښیو چې ددوی په منځ کښې سره وی بیا چې دورد اسلام شو نو دوی هغه منعه کړه نو نازل شو لَّيْسَ عَلَيْكَ نشته پرتا هُدَاهُمْ پرلاره برابرول د دوی وَلَكِنَّ اللَّهَ اولیکن خدای چې دی يَهْدِي مَن يَشَاءُ ط برابروی پرلاره هرهغه څوک چې اراده ئې وشی وَمَا تُنفِقُوا او هغه چې ورکوی ئې تاسی مِنْ خَيْرٍ له مال څخه فَلِأَنفُسِكُمْ ط پس دپاره دځان ښېګړې مودی داورکول په واقعه کښې وَمَا تُنفِقُونَ اوورکول نه کوی تاسے اِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ط مګردپاره د طلب د

له په شپږمه سرۍ یعنې نذرمنلو کښې وې تاسی پرځان ښېګړه داسی تاسی ویلی ئې چې که دا کار زما وشو نو پرچا وا ظلم دی ۳۲ له دپاره دې دثبوت یعنې چې نذر کول او ورکول په هلکانو په هلکیو کښې ډیر ښه دی خو ښځینه به وا ځینې ځای له دلته څخه ملګرتیا ده ۱۲ شرح کښې ی ۳ له استیناف دی ۱۲ منه

رضا د خدای وَمَا تُنْفِقُوْا اوهغه چې ورکوی ئے تاسے مِنْ خَيْرٍ له مال يُوَفَّ اِلَيْكُمْ پوره به درورسول شی وتاسی ته وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ (۲۷۲) اوتاسے چې یاست هیڅ ظلم به ونه کړل شی پرتاسے په کمولو د ثواب سره روایت دی چې څلور سوه مهاجرین ووچې په یوه صف کښې به ناست وو محض د پاره د جهاد او د تعلم د قران حکم چې اصحاب صفه بلل کیږی او دوی ډیر نادار وه نو رب العزت اراده وکړه د بیان د استحقاق د دوی نو نازل شو لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ دا صدقات ستاسی هغه فقراؤ لره دی یعنی دلته مبتدآء پکښې محذوف ده چې اَلصَّدَقٰتُ ده اُحْصِرُوْا چې حصار کړه شوی دی دوی یعنی خپل ځان ئې پخپله بند کړی دی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے یعنی په عبادت او په جهاد کښے لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ چې طاقت نه لری هغوی ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ د تلڼ په مځکه کښې د پاره د سوداګری یا د بل کسب له جهته د اشتغال په عبادت او په غزا يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ ګمان کوی پردوی هر ناخبره په حال د دوی اَغْنِيَآءَ د غنیانو مِنَ التَّعَفُّفِ ج په سبب د سوال نه کولو د هیچا څخه تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ پیژنے به ته دوی په نښو د دوی سره چې ژیړ رنګ اوږ چ صورت او کمزورۍ په ملاا و روانی اوښکی دی له ویری د خدای لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ خواست نه کوی دوی له خلګو څخه اِلْحَافًا په الحاح او په کوشش سره وَمَا تُنْفِقُوْا اوهر ایښنه هغه چې ورکوی ئے تاسی مِنْ خَيْرٍ له مال څخه فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای په عَلِيْمٌ (۲۷۳) پوهه دانا دی جزا ښپوره درکړی بیله نقصانه روایت دی چې صدیق اکبر څلوښت زره دینارو خیرات کړه د اسے چې لس زره د شپی اولس زره د ورځی اولس زره پټ او لس زره ښکاره او د علی په لاس کښې څلور سو درهم وه اونو ر توان ئې نه وو نو نوه هر یو د درهم د شپی خیرات کی او یو د ورځی او یو پټ او یو ښکاره نو په مدحه د دوی کښې نازل شو اَلَّذِيْنَ هغه کسان يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چې ورکوی دوی مال خپل د خدای په جهت بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ هم د شپی او هم د ورځی سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

هم پټ اوهم بنکاره فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ پس مقرر دی دوی لره ثواب د خیرا تو د دوی
عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب د دوی وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ اونشته هیڅ ویره پر دوی له
هیڅ وجهی وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۷۴﴾ او نه به وی دوی چې غمجن کیږی به هیڅ کله اَلَّذِيْنَ
هغه کسان چې دی يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا چې دوی خوړی سود یعنی اخلی ئې د خلګو څخه
لَا يَقُوْمُوْنَ نه به پاڅیږی دوی له قبرو څخه اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ مګر داسی لکه چې
پاڅیږی هغه څوك يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ چې رسولی وی ورته شیطان مِنَ الْمَسِّ ط
له لیونتوبه اوداکلام په زعم د عربو دی چې دوی ګمان کوی چې په هر چا چې لاس د
شیطان وه لګیږی نو لیونی شي یعنی سود خوړ به په قیامت کی داسی کوږ وویږ لکه
ګوزن وهلی اودعرصات خلك به ئې په دی نخښه سره پیژنی چې داسود خوړ دے
ذٰلِكَ داشرهول د دوی چې دی بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا په دی دی چې بیشکه دوی وائی اِنَّمَا
الْبَيْعُ بیشکه هم د اخبره ده چې بیع چې ده مِثْلُ الرِّبٰوا م په شان د سود ده په
ګټلو د مال کښې نو بیع خوړ وادہ نو سود هم رشوا اودوی ر بوا مثل وګوزن ول
د پاره د مبالغی وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ او حال دا چې رواکړی ده خدای بیعه وَحَرَّمَ
الرِّبٰوا ط اوناروا کړی ئې دی سود فَمَنْ جَآءَهٗ پس هر څوك چې راشی ورلره
مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ پند له ر به خپله فَانْتَهٰى پس راوګرځیدی دی له سود څخه
فَلَهٗ مَا سَلَفَ ط پس دی ده لره هغه مبلغ چې تیردی یعنی هر څه چې پخوا له نهی څخه
ده اخیستی وی هغه به بیرته نه ګرځوی وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ط او کار ددہ په اینده کښې
مفوض دی خدای ته چې دی ئې بنده او هغه ئې رب دی وَمَنْ عَادَ اوهر هغه
څوك چې بیرته وګرځیدی ورو اکولو د ربوا ته فَاُولٰٓئِكَ پس دا روا کونکی چې دی
اَصْحٰبُ النَّارِ ج اهل داور ددوزخ دی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۷۵﴾ دوی به په دی

لہ یعنی داسی ئې ویلی چې په تحقیق سره بیعه په مثل د سود ده یعنی سود خوړ بر نښه شي او ورته وادی نو بیعه ځکه هم روا قرار شوه اوداسی ئې ویلی چې په تحقیق سره سود په مثل د بیعې دی یعنی چې بیع خوړ وادہ نو سود هم رشوا شوه پاره د مبالغی په خپلو نارواوو کښې ۱۲
عه یعنی سمارا شوی دی ۱۲

دوښ خکښی همیشه وی یَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا کوی خدای مال د سود یعنی برکت څنډے
واخلے اوکه نور مال ورسره گډ شے هغه به هم بے برکته شی وَیُرْبِی الصَّدَقٰتِ ط
اوښ یا توی خیرات ونه یعنی هغه مال چے زکوٰة اوخیرات څندی وركړل شی یا زیاتوی
اجر او ثواب ددی خیرات وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ اوخدای نه خوښوی كُلَّ كَفَّارٍ هرڅوك په
كفر كښے چی پس له تحریمه ئ حلال بولی اَثِیْمٍ (۲۷۶) هغه گنهگار چی بی باكه ښ بوا
خوښ وی اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بے شكه هغه كسان چی ایمان ئ راوړی دی پر تولو اوامرو
اونواهیو وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه كوی دنیكو وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ اوبرپا یه كوی
لمونځ خپل وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ اوورسره كوی زكوٰة د مال خپل لَهُمْ اَجْرُهُمْ دی دوی لره
اجر د عملودوی عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب دده وی وَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ اونشته هیڅ
ویره پردوی دعقبنی وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ (۲۷۷) اونه به وی دوی چی غمجن كیږی په پرتیږو
روایت دی چی دثقیف وله قریشو سره معامله وه د سود بیا چی مكه فتح سوه
اورسول علیه السلام حرمت د ربوا بیان كی نو ثقیفو وویل چی موږ داحكم هلته
منوچی نه موږ تولے ښ بوادی نه لرو كی اوله موږ څخه دی دسره نه غواړی او پردی
صلحه وشوه بیا چی ثقیفو سخت طلب برپا یه كی چی سراو سود دواړه پرده غه ځای
غواړو نو قریشو پیغام ولیږی مدینی ته نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ
ای مؤمنانو ووپرږی له خدایه څخه وَذَرُوْا مَا بَقِیَ اوپرږدی هغه مبلغ چی
پاته شوی دی مِنَ الرِّبٰۤوا له سود څخه اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ (۲۷۸) كه یاست تاسی مؤمنان
په ښ شتیا سره فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا پس كه ونه كی تاسی داكار یعنی پرږینوول د پاته ښ بوا
تاسی ونه كړه فَاْذَنُوْا پس اگاه شی اوخپل حان تیار كړی بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ په جنك
له طرفه د خدای وَرَسُوْلِهٖ اودرسول ۴ ددده وَاِنْ تُبْتُمْ اوكه توبه وگاړ شی

له یعنی په تولو اوامرو اونواهیو د خدای معنی اچی هغه شیاں چی خدای فرمایلی دے
كول دهغه شیانو نوهغه كوی اوهغه شیاں چی خدای څندی منعه كړی ده هغه نه كوی ۱۲

له اخیستو د ربوا څخه فَلَكُمْ رُءُوسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ پس دی تاسے لره سرمایې دمالو ستاسی لَا تَظْلِمُوْنَ مه ظلم کوی تاسی چے سود به هم غواړی وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۹﴾ او نه دی ظلم وشی پرتاسی چې رأس المال به درڅخه کړی وی څوك داد واړه امره دی په صورت داخبار یعنی مه تاسی سود غواړی او نه دی دوی رأس المال کړی وی وَاِنْ كَانَ اوکه وو قرضدار ستاسے ذُوْ عُسْرَةٍ چینتن دناداری او وَاِنْ كَانَ تامه دی په معنیٰ دوَقَعَ ځکه ذُو مرفوع دی یعنی که واقع شوی وو غریم ستاسی ناداره فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ؕ پس کا ته یعنی مهلت دی مدیون ته تر وخته د توانګرتیا اواسانی د ده پوری وَاَنْ تَصَدَّقُوْا او داچی بخښنه وکړی وناداره مدیون ته دقول رأس المال یا د بعض خَيْرٌ لَّكُمْ ډیره غوره دی تاسی تر اِنْ كُنْتُمْ که یاست تاسی تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸۰﴾ چې پوهیږی په بهبود خپل وَاتَّقُوْا يَوْمًا اووېرېږی له هغه ورځې تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ چې بیر ته بیول کیږی تاسی په هغه ورځ اِلَى اللّٰهِ وخدای ته دپاره د حساب ثُمَّ تُوَفّٰى بیا به ورکړه شی پوره كُلُّ نَفْسٍ هر نفس ته مَّا كَسَبَتْ جزا د هغه عمل چے کړیدی ده له نیکو یاله بدو وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۸۱﴾ او دوی چې دی ظلم به وشی پردوی له هیڅ وجه نه په کمولو دنیکیو او نه په زیاتولو بدویو روایت دی له ابن عباس څخه چې هر کله رب العزت پوره مؤمنانو ته وعده فرمانبرداری په عوض کې د سلم رواکی نوښارل شو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا ای مؤمنانو اِذَا تَدَايَنْتُمْ په هغه وخت کې چے دین داری کوی سره په خپلو کښے بِدَيْنٍ په هغه قرض سره چے مشروط وی په عوض په عقد شرعی سره اوابن عباس ویلے دی چې مراد له دی قرین سلم دی اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى تر یو وخته معلومه پوری لکه اول درجب یا وسط د شعبان یا اخر د رمضان نه تر منی یا تر څو مې یا تر غوښه چے سبب اوموجب د نزاع کیږی فَاكْتُبُوْهُ ؕ پس وکاږی پرکاغذ داعتوله معامله

له قرضدار ۲ ستاسی فقیر وو ۱۲ له مدیون ته یعنی قرضدار ته ۱۲ له تواګری یعنی ترغنی والی پورے ۱۲ له ناداره مدیون ته یعنی فقیر قرضدار ته ۱۲ ۵ یعنی معامله د قرضدار ۱۲ له یعنی چې شرعاً کړی شوی دی هغه قرض ستا ۱۲ ۷ عوض مشروط ۱۲ ۸ سبب د وکاږلے ۱۲

یعنی هغه قول شیان چې شرط دی په صحت د سلم کښې چې هغه په نرد د امام اعظم رح
اوّوه شیان دی اوّل تعیین[1] د جنس د مسلم فیه دی مثلاً چې غنم دی یا جوار دی
دوّم تعیین د نوع دده دی چې ابی دی یا المی دی دّریم تعین د وصف دده دی چې کره
دی یا ناکره دی او یا سړه دی او یا سپین دی څلّرم تعین د قدر دده دی چې خورو وار
دی یا د وه نیم پنځم[2] سپار ل د مقدار د رأس المال دی چې لس سړې دی یا شل -
شپږم موده د سپارلو ده چې میاشت ده یا دوی اووم ځای د سپارلو دی چې بصره
ده یا کوفه او که یو دی اوو شرطو پکښې ذکر نه شو نو دا سړی روا شوه وَلْيَكْتُبْ او می
باید چې وه دی یې کی بَيْنَكُمْ ستاسی په مینځ کښې كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ سړی لیکونکی په
انصاف سره یعنی واقعی دین دی لیکی نه کم او نه زیات وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ او منعه دی
نه کوی هیڅ لیکونکی اَنْ يَّكْتُبَ له دی څخه چې ولیکی كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ لکه چې ښوونه
کړی ده وړ ته خدای فَلْيَكْتُبْ ج پس میباید چې وه دی لیکی په هم هغه شان سره او
تغیر و تبدیل دی نه کوی وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ او میباید چې اقرار دی وکی پخپله یا دی ولیکی
په کاتب په اقرار خپل سره هغه څوك عَلَيْهِ الْحَقُّ چې پرده دین[3] دی د رب السلم
چې بله وړځ بیا هم دی مشهود[4] علیه دی وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ او میباید چې دی
وویریږی له خدایه څخه چې رب دده دی وَلَا يَبْخَسْ اونه دی کموی په وخت د اقرار
کښې مِنْهُ شَيْئًا ط له هغه حقه چې پرده دی هیڅ شی یعنی دَیِ هم نه زیادت او
نقصان او تغیر او تبدیل نکوی په اقرار کښې فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ پس که وو هغه څوك
عَلَيْهِ الْحَقُّ چې دی پرهغه دین سَفِيْهًا بے وقوفه یعنی لیونی یا کم عقله اَوْ ضَعِيْفًا
یا عاجزه یعنی هلك یا شیخ فانی اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ یا قادر نه وو اَنْ يُّمِلَّ هُوَ پردی چې
اقرار وکی دی پخپله څخه چې لُنګ یا د بلی ژبې وو لکه عرب او ترك فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ

[1] یعنی معین ولے د جنس د هغه شی چې سلم کړی شوی دی په هغه کښې ۱۲ [2] نه دین
دی د رب السلم یعنی قرض دی د هغه سړی چې هغه ورده ته سړې د پاره د سلم ورکړی ۱۲
[3] یعنی پرده په شاهدی ورباندې گوږی ۱۲

پس میباید چې اقرار دی وکړی ولی دده له طرفه دده یعنی واکدارئ کې دی ئې قوفه یا عاجزه وو یا وکیل ئې کې دی کنګ وو یا مترجم ئې دبلی ژبې وو یا لَعَدْلِ ط په انصاف سره یعنې واقعې دی وائ نکم اونه نریات اوَاسْتَشْهِدُوْا اوحاضر کړی پردی عقد خپل شَهِيْدَيْنِ دوه شاهدان مِنْ رِّجَالِكُمْ له هغه چې سړي وستاسی یعنې هغه دوه تنه چې مسلمانان، عاقلان، بالغان، اصیلان وی او شاهدی دکافر له سره قبوله نه ده مګر په نزد دامام اعظم په خپل جنس کې قبوله ده یعنې په کفارو کې فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا پس که نه وه دادواړه شاهدان یعنې په سبب دکوم عارض پیدا نشوه رَجُلَيْنِ سړي دواړه تنه فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ پس یو دی سړی اودوی ښځې دی وی مِمَّنْ تَرْضَوْنَ له هغه چا څخه چې تاسے پرې خوښ یاست او عائد پکښې محذوف دی اے ترضونه مِنَ الشُّهَدَآءِ له شاهدانو او دوی ښځې دیوه سړي پر ځای دی پیاره مقرری شوی اَنْ تَضِلَّ کله هیره کې داشاهدی اِحْدٰىهُمَا یوله دی دواړه وڅخه فَتُذَكِّرَ پس یاد به کې اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ط یوه له دوی څخه وبلی ته ځکه چې په دوی کښې عقل کم اوهیره ډیره وی وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اومنعه دی نه کړی شاهدان اِذَا مَا دُعُوْا ط په هغه وخت کښې چې راوه بلل شے دوی وتیرولود شاهدی ته چې لازمه ده یا شاهدکولو ته چې مستحب دی اوداما زائد دی وَلَا تَسْئَمُوْٓا اومه ملال کیږی ای معامله دارانو اوسام وملالی ته وائ لکه چې ویلی دی **بیت** سَاَمْتُ تَكَالِيْفَ الْحَيٰوةِ وَمَنْ يَّعِشْ ثَمَانِيْنَ حَوْلًا لَّا اَبَا لَكَ يَسْاَمُ

اَنْ تَكْتُبُوْهُ له دی څخه چې وه ئ لیکی صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا البته وی اوکه ډیروی داحق یا داکتابت اِلٰٓى اَجَلِهٖ ط تردی حال چې رسیدونکی وی داحق یا داکتابت ترهغه وعدی

له یعنی دوی لپاره ۱۲ سه معنی داچې شاعر ویلی دی چې ملال شوم ژوند په تکلیفونو څخه کې اوداڅلویښت کاله عمر دی چې ژوندی پاته شی اتیا کاله نوخامخا یعنې ضرور ضرور بالضرور ملالته کیږی یعنې ژوند ګرم نیم بلکه هر څوک چې څومره عمر ته ورسیږی نو هغه خفه کیږی ځکه چې ډیر عاجزه شی اوهر چا ته محتاجه وی په هر څه کښې فافهم ۱۲

یعنی خرخوتکے اوسلا نیوتکی ۱۲

خپلی چے متعاقد ینو مقررہ کړیدہ اوداهر یو حال دی له مفعوله شخه دتکتبوه
ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ دا لیکل ستاسی دپرابردی عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدای وَاَقْوَمُ
لِلشَّهَادَةِ اوډیر محکم دی دپاره د اداء د شاهدی چے که هیرے شی نو هر
کله چې لیکل شوی وګوری بیا به ئې په یاد شی وَاَدْنٰۤى اَنْ لَّا تَرْتَابُوْۤا اوډیر نزدے
دی ودی ته چې شک مند نه شی تاسے په مقدار د حق اود مودی کښے اِلَّاۤ اَنْ
تَكُوْنَ مګر که وی د اعمامله ستاسی تِجَارَةً حَاضِرَةً سوداګری لاس په لاس
تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ چے اړوکې سړ تاسی په مینځ خپل کښے فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ پس
نشته پرتاسی هیڅ وبال اَنْ لَّا تَكْتُبُوْهَا ځاط په دی کښی چے و نه لیکی د اعمامله
ځکه چے لاس په لاس ده نو هیره او نزاع پکښی نه راځی وَاَشْهِدُوْۤا اوشاهدان
نیسی اِذَا تَبَايَعْتُمْ وُ په هغه وخت کښی چی خرڅول یا راپیول سره کوی وَلَا
يُضَآرَّ کاتبؔ اوضرر دی نه رسول کیږی لیکونکی ته یعنی زور دی هیڅوک
نه پرکوی وَّلَا شَهِيْدٌ ڈ اونه شاهدی ته یعنی که معذور وی نو په زوره دی ئے
نه شاهدکوی وَاِنْ تَفْعَلُوْا اوکه وګړی تاسے د اضرر رسول کاتب اوشاهد ته
فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ ط پس بیشکه چے داکار ګناه ده پیوسته په تاسی پورې وَاتَّقُوا
اللّٰهَ ط اووویریږی له خدایه په مخالفت د اوامرو اود نواهیو ددده وَيُعَلِّمُكُمُ
اللّٰهُ ط او ښوونه درته کوی خدای دهغه احکامو چے ستاسی ددین اوددنیا
خیر وی پکښی وَاللّٰهُ اوخدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۲﴾ پرهر شی دانادی وَاِنْ
كُنْتُمْ اوکه یاست تاسے عَلٰى سَفَرٍ په سفر د اعلیٰ په معنی د فی دی یعنی فی سفر
وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا او بیا نه ګډی پیدا تاسے لیکونکی سره د اسبابو د لیکلو فَرِهٰنٌ پس
ګروی ده وثیقه په هغه ځای کښی اورهن جمع د رهن ده یعنی که کاتب نه
وو نو ګروهم موجب دی د تسلی د زړه او د نه هیریدلو د عقل او د نه نقصا
نید لو د مال په مثل د کتابت مَّقْبُوْضَةٌ ط چے قبض کړه شوی وی ځکه چې قبض

په رهن کښی په نزد د جمهورو شرط دی غیر له امام مالک او په دی کښے سفر شرط نه دی بلکه په اقامت کښی همداسی حکم دی ځکه چې رسول علیه السلام خپله زغره گرو ایښی وه په مدینه کښی یهودی ته په شل صاع اوربشو کښے د پاره دعیال خپل او سفر دی د پاره یادشوی دی چې کاتب پکښی هم یافت وی فَاِنْ اَمِنَ پس که وَلْيُؤَدِّ بیاوئ وکړو بَعْضُكُمْ بَعْضًا بعضو ستاسو په بعضو باندی بی کنابه بی شاهدانو بی رهنه فَلْيُؤَدِّ الَّذِی اؤتُمِنَ پرمنبایاید چې اداءِ دی هغه څوک چې باور ئې پرسویدی چې مدیون دی اَمَانَتَهٗ امانت دداَئن بے انکاره بی نقصانه وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ او میبایدچې وویریږی له خدایه چې رب دده دی او خیانت دی پکښی نه کوی وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ او مه پټوی شاهدی ای شاهدانو یا ای مدیونانو نوچې اقرارهم گویا شاهدی ده پخپل ځان وَمَنْ يَّكْتُمْهَا اوهر څوک چې پټه کړی شاهدی فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ پس دی چې دی گنهگاره دی زړه ددده اونسبت دگناه زړه ته وشو ځکه چې دهغه محل دی دپټولو وَاللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ (۲۸۳) په هغه کار زده چې کوی بے ۳۹ ع ۲ ۷ دانادی لِلّٰهِ خدای له دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ هرهغه چې په اسمانونو کښے دی لکه ملائکی یا ستوری یاټول سمایات چې د بندهٔ له ادراک بیرون دی وَمَا فِی الْاَرْضِ او هرهغه چې په ځمکه کښی دی لکه بنی آدم او حیوانات او خزندهٔ او پرندهٔ او عناصر او موالید اونور ټول سفلیات چې عقل ئې دا حاطی ځمکه عاجز دی وَاِنْ تُبْدُوْا اوکه بنکاره کی تاسے مَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ او هغه اراده اونیتونه چې په زړونو ستاسی کښی راځی اَوْ تُخْفُوْهُ یا ئې پټ کړی چې خوله پرونه بنوره ی يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ حساب به وکی د رسره خدای په هغونیتواوعزمولیکن چې په هغه شیانوچې داختیاره وتلی دی لکه حدیث دنفس یاوسوسه د


له پسوس وکښی ننوتو نکی ۱۲ سه الوتونکی ۱۲ سه یعنی اور، اوبه، خاوره اوباد ۱۲
عه نزیږیدونکی ۱۲ سه کښتنی د ځمکی شیان ۱۲

شیطان فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ پس بخښنه به وکی پس له حسابه و هر هغه چاته چې اراده ئې وشي وَيُعَذِّبُ او عذاب به ورکی مَنْ يَّشَآءُ ط و هر هغه چا ترڅو اراده ئې وشي وَاللّٰهُ اوخدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۸۴﴾ پر هر شی قادر دی که غفران دی که عذاب ر روایت دی چې هر کله دا ټیرایت نازل شو نو اصحاب بې طاقته شوه او عرض ئې وکی چې یا رسول الله کلفنا من العمل ما لانطیق به او نأخذ بکل ما حدثت به انفسنا معنیٰ داچې اے رسوله دالله پاك مکلف کړه شوی یو موږ په هغه عمل چې طاقت ئې نه لرو ایا موږ به نیول کیږو په هر هغه شی چې زړه موږ په زړه وکښنے خطور کوی او سړه دی چې دا داختیارې وتلی دی نو رسول ورته وویل چې تاسی هم غواړی چې دبنی اسرآئیلو[1] په شان وو ایاست چې سمعنا و عصینا چې په سبب دی قول ډیره سختے اوخواړی پرراغلی وه بلکه تاسی داسی وایاست چې سمعنا واطعنا نو دوی ټولو ویل چې سمعنا قوله واطعنا[2] امره اوبل دا چې هرکله سرب العزة په دی سورت کښے احکام اوحدود او قصے د تیرو پیغمبرانو اونښے دخپل قدرت سره لیږلے نو اراده ئې وکړه د ختم دسورت په تصدیق د رسول او د مؤمنانو په دی څلورو ډاډ و شیانو نازل شو اٰمَنَ الرَّسُوْلُ ایمان راوړی دی پیغمبر او باور ئې وکړی دی پرطریقه د قبلولو دخپل ځان او د سرو لو نورو خلکو تر بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ پرهغه شی چې سره لیږل شوی دی وده تد مِنْ رَّبِّهٖ له جانبه د رب دده چې قرآن دی وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط او مؤمنان هم ایمان سره راوړی دی او باور ئے کړیدی پرطریقه د اقرار او د تصدیق سره كُلٌّ ټول یعنے رسول او مؤمنانو دا ټولوں عوض دی له ضمیره د غائبینو ای کل واحد منهم یعنی هر یولے دوی ځمه اٰمَنَ بِاللّٰهِ ایمان سره راوړی دی پرخدای چې واحد لاشریك انرلی ابدی موصوف په ټولو صفاتو

[1] یعنی اسرائیلو په هرحکم د خدای کښے سستی اوشك اوشبه کوله اوویلے به ئی چې اوس وپه غوږو خبره ستا اوبے فرمانی کوو له حکمه ځمه ستانو په عذاب شول تاسے هم د هغوی په شان عذاب غواړی بلکه هرحکم د خدای چې واوړی تاسو وایاست چې اوړو او طاعت کوو ۱۲ [2] یعنی خبرې د خدای او طاعت کوو د امرد خدای جل جلاله ۳

دکمال او پاك دی له عیبه او نقصانه وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او پرملائکو ده چے مقرب بندگان دی دده اونه ذکور دی او نه اناث او یوطرفة العین بے فرمانی نه کوی وَكُتُبِهٖ اوپر کتابونو ده چے قول حق او قدیم دی کلمه چے صفات دی دقدیم او قوله ده څخه راغلی دی وَرُسُلِهٖ تف اوپرسولانو ده او معصوم دی له دروا غو څخه هرڅه چی لے راوړی دی قوله حق دی له خدایه او همداسی وائی دوی چی لَا نُفَرِّقُ فرق نه کوو موږ په اصل رسالت کښی بَيْنَ اَحَدٍ په مابین د یوه کښی هم مِّنْ رُّسُلِهٖ تف له استازو ده څخه لکه یهود او نصاری چے بعض منی او بعض نه منی وَقَالُوْا او وائی دوی یعنی هم رسول اوهم مؤمنان سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا واوریدی موږ او امر او نواهی سنتا۔ غُفْرَانَكَ غواړو موږ بخښنه ستاد لته فعل پکښی مقدر دی ای نطلب غفرانك رَبَّنَا ای ربه زموږ وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾ او خاص تاته دی بیا درتله او حاضریدو ده رجا لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نه مکلف کوی خدای یعنی امر او نهی نه کوی نَفْسًا هیچا ته اِلَّا وُسْعَهَا مگر په قدرت د طاقت دده یعنی تاسے نه نیسی په هغه څه چی ستاسے له طاقته بیرون دی لَهَا مَا كَسَبَتْ دی دې نفس لره ثواب د هغه نیکیو چے کړیدی د هغو وَعَلَيْهَا او با ر دی پرده مَا اكْتَسَبَتْ طوبال دهغه بدیو چے په دې کوښښ د نفس سره کړی دی ده بیا مؤمنانو ته ربنا تعلیم سوال وکی چے له ما د اشیاؤ په دی شان غواړی چے رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اے ربه زموږ مه نیسه موږ په عقوبت اِنْ نَّسِيْنَآ که په هیره کوم امر ستا فوت شوی وی له موږ څخه اَوْ اَخْطَاْنَا ناڅ یا په خطا کوم نهی ستا صادره شوی وی له موږ څخه رَبَّنَا ای ربه زموږ وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اومه اچوه پرموږ اِصْرًا درونده بار كَمَا حَمَلْتَهٗ لکه چے اچولی ووتا بار عَلَى الَّذِيْنَ پرهغو کسانو مِنْ قَبْلِنَا چے مخکی له موږ څخه وو یعنی بنی اسرائیل چی په دیرو سختو احکامو مأمور شوی وو لکه ځان وژل یا وطن پریښودل په قبول د توبے کښی او پریکول د پلیت (مردار) ځای د جامی او د پوستکی او پخوس نخوړل

په شپه او ورځ کښے او پنځوس ورځے په کال کښی او څلرمه حصه دمال ـ ورکول په زکوٰة کښی او سونرل دمال دغنیمت او دکوره ایستل دحایضے او نه کیدل دلمانځه بی جماعته او نورې دیرې کارونه ټر ټبّانای ر به نرمونږ وَ لَا تُحَمِّلْنَا او مه باورمونږ مَا لَا طَاقَةَ لَنَا په هغه تکلیف چے نه وی هیڅ توان مونږ لره بِهٖ ج په اخستو دهغه وَاعْفُ عَنَّا وتفه او محوه کړه پخپل فضل مونږ څخه کبیره نرمونږ وَاغْفِرْ لَنَا وتفه او وبخښنه ومونږ ته صغیره نرمونږ وَارْحَمْنَا وتفه او مهربانی وکړه پرمونږ په قبلولو دطاعاتو نرمونږ اَنْتَ مَوْلٰنَا هم ته ئی بادار او مدد کار زمونږ فَانْصُرْنَا پس مدد وکړه له موږ سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۶﴾ پرډله د کافرانو حدیث دی چے مَنْ قَرَءَ الْاٰيَتَيْنِ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فِيْ لَيْلَةٍ کفتاه یعنی هرڅوك چې ووائی دوه اٰیتونه له اٰخره د سورة بقری څخه په شپه کی نو لیس به ئی شی د دفع دهر شر لره یا دورد وڅخه ددی شپے په بل حدیث کښی دی چې من قرء هما بعد العشاء الاٰخرة اجزءَ تاه عن قیام اللیل یعنے هر چاچی ولوسته داد واړه اٰیتونه پس له لمانځه دماخوستن څخه نو کافی به شی ورلره له تولوحقوقو د شپے خیزی ددی شپی څخه روایت دی چے هرکله دا اٰیتونه نازل شول نورسول علیه السلام به وه لوستل اوپس دهری کلمی څخه به ئی ویل کیدل فَعَلْتُ ۲



الٓمّٓ ① تفسیر دددی مقطعاتو په سرد سورة بقرة کښے تیرسو روایت دی چې نصاریٰ دنجران رسول علیه الصلوٰة والسلام لره راغله نوزده واسلام ته سرا وبلل او دوی وویل چے مونږ خپل دین لرو بیاده ورته وویل چے تاسی له خپل دینه بیزاره شوے یاست په سبب دنسبت دبنځو اودفرند نو دخدای ته نزدوی وویل چې عیسےٰ علیہ السلام

---

۱ یعنی امرورته کړه شوی وو ۲ یعنی وکړو اوقبول کړو ما سوال ستا ۱۲ ۳ یعنے تا سے وایاست چے بی بی مریمه بنځه دخدای ده او عیسےٰ ۴ نروی دخدای دی ۱۲

خو نه وی دی د خدای ځکه چې بل پلار نه لری بیا ر سول علیه السلام و ویل چې تا سے پنځله قائلین یاست پر دی چې عیسیٰ لره صورت جسمانی او خوب او خوراك او ګوزار یدل او فنا شته او خدای د دی تر لو څخه منزه دی نو دوی تر له خجل او چپ شول او د مجلس څخه ولاړ شوه نو د دی په تصدیق کښې نازل شو اَللّٰهُ خدای چې دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لا نشته لایق د عبادت هیڅوك مګر هم دی دی یوانږی بے شریکه اَلْحَیُّ چې همیشه ژوندی دی او فنا نه لری او بل هر شے فنا لری اَلْقَیُّوْمُ ۲ چې همیشه پر یوه حال دی په حیلوة او په اُلوهیت او په وحدانیت خپل کښے بی تغیره او بے تبدیله او بل هر شی تغیر لری نَزَّلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ را لیږلے دی ده پر تا دا قرآن بِالْحَقِّ په حق سره یعنی په عدل او په صدق اخبار و او په واضح دلیل سره په دی چې دا قرآن له خدایه څخه را غلی دی مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ پردی حال چې موافق دی له هغه کتابونه چې پخوا تر ده نازل شوی دی په وحدانیت په رسالت په قیامت په اصولو دډین کښے وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ اوړا لیږلے دی ده تورات پر موسیٰ وَالْاِنْجِیْلَ ۳ او انجیل پر عیسیٰ مِنْ قَبْلُ پخوا له نزول له څخه دقرآن هُدًى لِّلنَّاسِ پردی حال چې راهنما وه دا دواړه یهود و او نصاریٰ ووته وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ۚ اوړا لیږلے دی ده هرهغه کتاب چې بیلونکی د حق او د باطل دی نکتې په راوړلو د لفظ د نزّل په حق د قرآن کښے اشارت دی په تدریج سره وړا تلود قرآن تر چې په درویشت کالو کښے پوره شوی دی او په لفظ د انزل په حق د تورات او انجیل کښے اشاره ده په یوه وار راتلو د دی دواړو ته تیار پر تخته یکل شوی اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بے شکه هغه کسان چې کافران شوی دی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ په آیتو د خدای باندی که قرآن دی او که نور کتابونه دی لَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ ؕ مقرر دی دوی لره عذاب ډیر سخت له جهته د کفره وَاللّٰهُ عَزِیْزٌ او خدای ډیر غالب

---

۲ یعنی په درجه د سر جمله سره په سر تلو سره ۱۲

دی په حکم خپل کښے چې حکم ئے هیڅوك نه شی ردولای ذُو انْتِقَامٍ ④ خاوند د سخت عذاب دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای لَا یَخْفٰی عَلَیْهِ شَیْءٌ پټ نه پاته کیږی پرده هیڅ شے له مافوق یعنې څمنه ترمّاتحت الثرا ے پورې فِی الْاَرْضِ نه په ځمکه کښې وَلَا فِی السَّمَآءِ ⑤ او نه په اسمان کښې او علم د عیسیٰ ؑ په بعضو پټو وو او پرا کثرو نه وو او دا منافی دی له خدای سره هُوَ الَّذِیْ دی هغه خدای دی یُصَوِّرُکُمْ چه سا نرۍ صورتونه ستاسے په قدرت کا ملې سره فِی الْاَرْحَامِ په رحمونو میندو کښې کَیْفَ یَشَآءُ ط پرهر شان چې اراده وشی دده چې څوك نارینه کې او څوك ښځه کې او څوك توره کې او څوك سپین کې او څوك بنایسته کې او څوك بدرنګه کې اودا سے نورهم او عیسیٰ ؑ په دی هم قادر نه وو نو دی خدای نه شو لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لایق دعبادت هیڅوك مګر هم دی دی نوے بې شریکه او درسے نه دی لکه چې نصاریٰ وایي اَلْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ⑥ دیر غالب دی او دانادی په تدبیر کښې چې هیڅ تدبیر ئے له حکمته خالی نه وی هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ دی هغه خدای دی چې رانیږلے دی ده عَلَیْكَ الْکِتٰبَ په تا قرآن مِنْهُ اٰیٰتٌ چې بعض له دی قرآن ایتونه دی مُّحْکَمٰتٌ چې محکم کړی شوی دی یعنې معنیٰ ئے داسې بنکاره ده چې هیڅ اجمال اوخفا پکښې نشته حُکمه هیڅ تاویل نه غواړی لکه اَنَّ اللّٰهَ بِکُلِّ شَیْءٍ علیم یا لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ هُنَّ اُمُّ الْکِتٰبِ چې دا محکم ایتونه اصل دی د قرآن اواصل له دی جهته دی چې متشابهات دوی ته رجوع کیږی وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ط او نور بعض ایتونه دی چې هغه متشابه دی یعنې د سرنګار نالې معنې احتمال لری لکه اَلرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ استویٰ چې شو چې استویٰ کلمه په معنیٰ د کښینستلو راځے او کله په معنیٰ د تصرف اما هر کلمه چې منسوب کښینا ستلو وخدای ته روا نه دی حُکمه چې دا خاصه د جسم ده اودی له جسم منزه دی په دلیل لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ دی

عه یعنې خدای په هر شیئ پوره دی ۱۲ سه یعنې نشته په مثل د خدای هیڅ شئ ۱۲ سه یعنې سکرنرول کیږی ۴

نو دا متشابه دی و محکم ته ګرځوی او معنی د تصرف ترې مراده ده **فائده** اقسام د محکم دری دی ځکه چې مراد لې بنکاره وو هغه ظاهر دی اوکه ځندی زیات واضح وو هغه نص دی اوکه نور ځندی هم نور یات واضح وو هغه مفسر دی اوهم دا سے اقسام د متشابه هم دری دی ځکه که مراد لې بنکاره نه وو هغه خفی دی اوکه ځندی نور یات پټ وو هغه مشکل دی اوکه ځندی نور هم زیات پټ وو هغه مجمل دی فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ پس هر چې هغه کسان دی چې په زړونو کې وی کجی میلان دی له حقه ځمخه و باطل ته لکه اهل بدعت فَيَتَّبِعُوْنَ پس پیروی کوی دوی مَا تَشَابَهَ د هغه ځایونه قرآن چې متشابه وی یعنی چې په لفظ کښے ئې احتمال جاری کیږی او معنیٰ ئې مشکله وی مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ له دی قرآن ځمخه د پارې د طلب د فتنې یعنی د لغزولو د عوامو لکه نه ویښت (۲۹) مقطعات چې شوه یا آیت يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ یا اینما تولوا فثم وَجْهُ اللّٰهِ یا الرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى چې پخپله ئې خپل ځان لره لاس او مخ او مکان او جهت ثابت کړی دی اوهم دا سی نور متشابهات هم و تعالیٰ عَنْ ذٰلِكَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ط وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ج او د پارې د لولو د معنیٰ د دی متشابه په خپله مقتضیٰ باندی او د خپل نفس په هوا بے له اذنه د شارع وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗ اوحال دا چې نه پوهیږی په هغه معنیٰ د دی متشابه چې حمل ئې پر هغه معنیٰ واجب دی اِلَّا اللّٰهُ مګر خدای او بل هیڅوک نه په پوهیږی ځکه چې مراد د هغه لفظ چې په معنیٰ خپله ظاهر لدلالة نه وی هغه بے متکلمه بل هیڅ معلوم نه وی وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ او هر چه هغه چې پاخه دی په علم کښے لکه مؤمنان د اهل کتابو یا بل هر څوک چې د دیر پوه وی يَقُوْلُوْنَ وائی دوی اٰمَنَّا بِهٖ لا ایمان راوړی دی مور پردی متشابه په پر مثل د ایمان نر مور په محکم باندی كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ج یعنی دا ټول چې دی یعنی که محکم دی که متشابه دی له طرفه د نر مور نر

عه یعنی لوی دی خدای له مکان او جسمه او له جهته په لویو لـ لوی سره ۱۲

راغلی دی وَمَا يَذَّكَّرُ او پند نه اخلی په دی اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۷ مګر خاوندان د عقل خالص اود اړ سخان وا ئی رَبَّنَا اے ربه زمونږ لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا مه چپوه له حق څخه زړونه زمونږ بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا پس له هغه چی پرسمه لاره مو برابر کړی یو تا مونږ وَهَبْ لَنَا او راکه مونږ ته مِنْ لَّدُنْكَ سَرَحْمَةً ځ خاص له خپله د ربا ره مهربانی په توفیق او استقامت سره اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۸ بے شکه چی هر ته ئی د پیر ورکونکی رَبَّنَآ اے ربه زمونږ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ بے شکه چی ئی ته یوځای کونکی د مخلوقاتو تولو په هغه وخت کی چی پس له مرګه دی بیا ژوندی کړه لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ د داړه د حساب د هغه ورځی چی نشته هیڅ شك او شبه په را تلو د هغے کښے څکه چی تاویلی دی اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيْهَا نو وعده حقه شوه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چی دی لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۹ نه خلافوی وعده خپله اود ااتفاقاً دے له خطاب څخه وغیبت ته روایت دی چی نصاریٰ وو د نجران یا یهودو یا مشرکانو د عربو به د پیرفخر کاوی پر رسول علیه السلام دا سے چی مونږ د ده څخه غوره یو څکه چی دی مال ډیر لری او نه اولاد لری او مونږ هم غنیان یو چی د پیر اولاد لرو او هم د پیر مال لرو نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بے شکه هغه کسان چی کافر دی لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ له سره به دفع نه کی د دوی څخه اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ نه مالونه د دوی او نه اولاد د دوی مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا له خدایه یعنے له عذابه د ده څخه هیڅ قدر نه د پیر نه لږ نه په دنیا نه په اخرت کښے وَاُولٰٓئِكَ اود دوی چی دی هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ۱۰ هم دوی دی خس (خاشاك) د دوزخ یعنے دوی به په دوزخ کښے داسے سوځی لکه خس په اور کښی اوحال د دی کفارو په نه دفع د عذاب کښی یا په سوځولو د دوزخ یا په تکذیب ستاکښی كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ لا هسی دی لکه حال د ټابعانو د فرعون وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ د او لکه حال د هغه کسانو چی

عہ یعنی بے شکه چی قیامت را تلونکی دی نشته هیڅ شك په را تلو د قیامت کښه ۱۲
صہ یعنی نسبت د دے اغوستے کولو تاته اے محمده چی رسول نه ئی ۱۲

مخکی ترفرعونیانو تیرشوی دی لکه عادیان اوثمودیان اوداسی نور کفارشوه
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ج چې نسبت ددراغو به لئ کاوی واٰیتونو مونږ ته فَاَخَذْنٰهُمْ اللّٰهُ
پس ونیول دوی خدای په عذاب سره بِذُنُوْبِهِمْ ط په سبب دکنا هوچپلوو اللّٰهُ
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۱﴾ اوخدای چې دی ډیرسخت دی عذاب دده روایت دی چې
هرکله رسول علیه الصلوٰة والسّلام له جنګه څخه دبدر ښیرته مدینې ته راغلے نو
یهود ئ قول راجمعه کړه اواسلام ترلئ راوبلل نودوی ورته وویل چې مه غرّه
کیږه په دی چې یوشوقریش کم فکره دی مړه کړه چې په تدبیر دجنګ هیڅ نه
پوهیده نونازل سو. قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ووایه ای رسوله وهغه کسانوته چې
کافران شوی دی سَتُغْلَبُوْنَ ژر دی چې مغلوبه به شی تاسے یا په قتل سره لکه
بنی قریظه چې پس له جنګه څخه داحزاب چې نه شوه جنګیالی په یوه ورځ کښی د
مدینې د خندق پرغاړه قتل شوه او اهل ددوی قتل مریان اومینځ شوی اویا په
شرلو سره د بنی نضیرو چې تولې خیبر ته وشرل سوه او یا په هسې غلبه سره لکه -
خیبراومکه چې فتحه شوه او یا په ایښودلو دجزیې سره لکه قول کفارچې شوه
وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ط اوراجمعه به کړه شی قول ددوزخ ته د پاره د تعذیب وَبِئْسَ
الْمِهَادُ ﴿۱۲﴾ اوبد بسترډی داد دوزخ اوبعض مفسرین وائی چې داتیرایت په حق د
یهودوکښے نه دی بلکه په حق د اهل مکه کښے دی اوداوعده دغلبې په ستغلبون
کښی بیا په ورځ دبدر واقع شوه قَدْ كَانَ په تحقیق سره چې وو لَكُمْ اٰيَةٌ تاسے
لره اے قریشو یا ای یهودو یا اے مؤمنانو ډیرلوی عبرت فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ط
په هغو دوو فرقو کښے چې سره مخامخ شوی په ورځ دبدر فِئَةٌ تُقَاتِلُ یوه فرقه
وه چې جنګ ئ کاوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره دخدای کښی چې هغه رسول ووسړ
له دری سوه ۳۱۳ یارلسو اصحابو چې اویاکښی مهاجرو او اونور قول له انصارو او
دوه اسان اوشپږ نور غږی اواته توری وی په تمام لښکرکښے وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ اوبله

عمیقے مه مغروره کیږه اوغلیږه ۱۲ یعنی ځکه اونارمن اولوږن اوه اسے نور چپلوان اوخوښان ددوی ۱۲

فرقه وه چے هغه ابوجهل وو سره له نه نیم سوه قریشو ﴿يَرَوْنَهُم﴾ چې لیدل به دی مؤمنانو دا کفار ﴿مِّثْلَيْهِمْ﴾ په دوه چنده ترخپل لښکر یعنې اګر که دوی په واقعه کښې نه نیم سوه وه لیکن مؤمنانو به په قدرت شپږ سوه او شپږ ویشت لیدل د پاره ددی چے پر بالادست سی ځکه چې دوی سره وعده شوی وه چې په دوه چنده خپل به تاسے غالب سے او یا معنیٰ دا چے لیدل به دی کافرانو دا مؤمنان په دوه چنده خپل یعنې یو نر راو نه سوه او یا په دوه چنده له مؤمنانو یعنې شپږ سوه او شپږ ویشت به ئې لیدل حاصل دا چے یا دی مؤمنانو به کم لیدل دا کفار د پاره ددی چے پرنر په ورشی او یا دی کفارو به ډیر لیدل د امؤمنان د پاره ددی چے ورته بے نرډه شی ﴿رَأْيَ الْعَيْنِ﴾ لیدل ښکاره بیشکه بې شبهې ﴿وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ﴾ اوخدای قوت ورکوی او نر په ورکوی ﴿بِنَصْرِهِ مَن يَشَاءُ﴾ په مدد خپل هغه څوك چې اراده ئې وشی د مدد له هغه سره ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾ بیشکه چے په دی کولو او نر یا تولو کښے ﴿لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ﴾ (۱۳) هر اینه ډیر لوی پند دی وخاوندانو د بصیرت لره یعنی هغه چاله چے د زړه ستر ګی لري ﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ﴾ بنایسته کړه شوی دی وخلګو ته یعنی وکفارو ته ﴿حُبُّ الشَّهَوَاتِ﴾ مینه د مشتهیاتو د نفس یعنې د هر هغه شی چې نفس ئې غواړی ﴿مِنَ النِّسَاءِ﴾ له ښځو څخه چې لوی دام د شیطان دی ﴿وَالْبَنِينَ﴾ اوله زامنو څخه چې ډیر محبوب دی طبعًا ﴿وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ﴾ اوله هغه قنطارونو چے جمع کړه شوی یا ښځ کړه شوی وی په ځمکه کښے اوقنطار یو لك دینارونه یا دك پوست (څرمن) دغوایی یا هسے ډیر مال ته وائی ﴿مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ﴾ له سرو اوله سپینو زرو څخه ﴿وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ﴾ اوله اسانو نښانه دار وځخه لکه غرمحجل یا چاوك یا رهدار ﴿وَالْأَنْعَامِ﴾ اوله نرو وچارپایانو څخه لکه لیلان او اوښان او غوایان اوونرۍ او پسونه ﴿وَالْحَرْثِ﴾ د اوله کښته

---

۹۵ غرمحجل هغه اسې ته وائی چے په تندی کی ئې یو سپین داغ وی یعنی د ښپو تر سپین وی اورهدار وهغه اسې ته وائی چے تولنګی او قدم کولکی وی پرلاړه ۱۲

یا له هغه محکی څخه چې کښت پکښې کړل کیږي ذٰلِكَ دا شپږ سره شیان دي
مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا معاش دی ددی واړه ژوند وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ اوخدای چې دی
دده سره حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾ خو بیا یې ده عاقبة قُلْ اُؤُنَبِّئُكُمْ ووایه ددوی ته چې ایا
خبر کړم تاسے بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ط په غوره شی له دی شپږو شیانو څخه چې معاش
د دنیا په سارې یې لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مقرر دی د هغه کسانو له چې ویریږي له خدایه
او پرهیز کوی له نارو جَنّٰتٌ ښیږي ونو عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب د ددوی جَنّٰتٌ ښیږي
باغونه چې بهیږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د دونو یاد بنګلو د ددوی څلور قسمه
ولی دا وبود شود دخمرو د شا تو چې وړه قطعه دهغې محکی دجنت بهتره ده
له تمام دنیا سره له مَّاۗءٍ فيها لکه حدیث دی چې لموضع سوطٍ من الجنة خیرمن
الدنیا وما فیها خٰلِدِيْنَ فِيْهَا چې همیشه به وی د ددوی په دی باغونو کښې
وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ او ښځې به دی د ددوی لره هلته هم له حورو هم ادمیانو
پاکې کړه شوی له تر لوعیبو څخه چې په دنیا کښې ئې لرل لکه حیض او نفاس
یا له بدبوګنې او بدخویې وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ط اوړ ضامندی به وی د ددوی لره
له طرفه د خدای او دا رضوان د ددوی لره ډیر بهتره دی ترحورو او قصورو له
میوو پورو معمورو ولکه ایت دی چې وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ یعنې رضا د خدای
تر هرڅه بهتره ده وَاللّٰهُ اوخدای بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۱۵﴾ښه لیدونکی دی د حال د
بندګانو او ګاه دی هم په نیکی هم په بدی هم په صلاح هم په فساد د دوی
او متقیان چې دی الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ هغه کسان دی چې وائي د دوی په اخلاص
د زړه سره رَبَّنَآ اٰمَنَّا بیشکه مونږ چې یو ایمان راوړی دی مونږ پرتا پرږ سولانو پر

عه یعنې بنه والی او بنه مزی دهغه لوی ژوندن چې اخرت دی ۱۲ عه یعنې سره له هغه نعمتو او شیانو چې په دنیا کښې دی ۱۲ صه یعنې هرایښه ځای دیو کروړی ایښو ولو له محکی دجنت نه هغه ځای بهتر دی له تولې دنیا څخه اوله هغه نعمتو څخه چې په دی دنیا کښې دی ۱۲

کتابو پر ملائکو پر حشر[1] پر نشر پر حساب پر کتاب پر صراط پر میزان پر جنت پر دوزخ
فَاغْفِرْ لَنَا پس وبخښه وموږ ته ذُنُوْبَنَا ګناهونه مور وَقِنَا اووساته موږ
په قیامت کښې عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۶﴾[2] له عذابه تخمه داوردد وبزخ اَلصّٰبِرِيْنَ اڅرین دی
پر هغومؤمنانو چې صبر کونکی دی په عبادت او په سختیو د روزګار کښې وَالصّٰدِقِيْنَ
اوچې راستی کونکی دی په گفتار[3] او په کردار کښې وَالْقٰنِتِيْنَ اوچې فرمانبرداری کونکی
دی په اوامرو او نواهیو د کردګار کښې وَالْمُنْفِقِيْنَ اوچې د حلال مال ورکونکی دی
په رضا د خدای په لیل او په نهار کښې وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ اوچې بخښنه غوښتونکی دی
بِالْاَسْحَارِ ﴿۱۷﴾ په هر سهار د رب په دربار کښې اود اپنځه سره منصوب دی په مدح[4]

نکته اشعار

دانکته عجیبه واوره که فهیم طلبګار	چې په دی پنځه الفاظو دی مراد پنځه اخیار
په صابرکښې اشارت دی سُو ل ته چې دی تل وو	ډیر صابر په بارد وحی په توفیق د کردګار
په صادق کښې اشارت دی صدیق ته چې فرمایلو	دی په صدق او یقین کښې حُکه دی شو یار د غار
په قانت کښې اشارت دی فاروق ته چې دی ډیرو	د خالق فرمان منونکی حُکه دی شو دَرّه دار
په منفق کښې اشارت دی عثمان ته چې مدام وو	دی سخی په ډیرو ورکړود دولت دحق په لار
مستغفر کښې اشارت دی حیدر ته حُکه تل وو	په طلب د مغفرت کښې د اصحاب ذوالفقار

الٰہی د دوی ترڅنګه سعادت ددوا ورو کونو
روزی د مراد علی کړی هم نصیب ئی کړی دیدار

روایت دی چې یوځل عالمان له اهبار و د شام څخه مدینې ته راغله اود رسول ﷺ
څخه ئی سوال وکړی چې بهتره کلمه او غوره شهادت په کلام د خدای کښې کوم دی نو نازل
شو شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دی وائی خدای یعنی بیان یا حکم کوی یا وائی چې بیشکه حال

---

[1] په جمع کولو د خلکو د پاره د حساب نشر یعنې تار په تار بهر کول د خلکو د قبرونو څخه په ورځ د حشر ۱۲ [2] یعنی هر رشتیا وائی او هر په رشتیا سره عاملونه بندګی ۱۲ [3] یعنی د پنځه سره چې دی الصّٰبِرِيْنَ او الصّٰدِقِيْنَ او الْقٰنِتِيْنَ او المنفقین او المستغفرین چې دی د اهر پر منصوب دی که بنا بر مدح یعنې خدای وائی زه مدح اصطبرین یعنې ثنا و وصف کوم دوصف کونکی تر ۱۲ خرو ۱۲

دا وی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لا چے نشته لایق د عبادت هیڅوك مګر یوازی هم دی دی بے شریکه وَالْمَلٰٓئِكَةُ او ملائکی هم قول په دی شان شاهدی وائی په اقرار سره وَ اُولُوا الْعِلْمِ اوخاوندان د علم چے انبیاء اوعلماء دی هغه هم قول په همدی طریقه شاهدی وائی په ایمان راوړلو اوپه دلائلو ویلو سره په وحدانیت دده باندی قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ط په دی حال کی چے ولاړ دی هر یو له دی اولی العلم څخه په دی شاهدی کښے په عدل یعنے موافق له نفس الامر سره له دی جهته چی په دلائلو سره ثابت کړی دی داوحدانیت یا معنے داچے خدای شاهدی وائی په وحدانیت خپل په دی حال چے دی شاهد یا حاکم دی په حق سره یعنے مطابق له واقع سره یا معنے داچے پدې دی حال چے دی مقیم اوثابت دی په عدل په بندګانو خپلو په قسمت دارزاقو اودا اجالو اودثوابونو اودعذابونو اودا وامرو او دنواهیو په لایق اوپه احسن وجه سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ معنے ائی تیره ده اوس الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾ چے دیر غالب قوی دانادی په هر څه قال علیه السلام «حدیث» مَنْ قَرَءَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ عند منامه خلق الله منها سبعين الف خلق يستغفرون له الى يوم القيمة ومن قال بعدها وَ انا اشهد بما شهد الله به واستودع الله هٰذه الشهادة وهی لی ودیعة يقول الله يوم القيمه ان لعبدی عندی عهد و انا احق من وفی بالعهد ادخلوا عبدی الجنة کذا ذکره صاحب المدارك اِنَّ الدِّيْنَ بیشکه قبول اوغوره دین چی دی په ادیانو کښے عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ وتقدیر په نزد د خدای دین داسلام دی یعنے دین د محمد صلے الله علیه وسلم نه دین د یهودیت

عه یعنی هرچا چے ولوستلو دا آیت چے تیرشو په وخت د بیدیره کید وکښه یعنے چی بیدیره ی دا آیت دی وائی نو پیدا به کړی خدای پاك له دی څخه او یا یعنے د ری نیم شلی خلك چی هغه هر یو به بخښنه غواړی د خدای څخه دده لپاره تر روځی د قیامت پورې اوهر څوك چی سه وائی پس له لوستلو د دی آیت دا خبره ښه هم شاهدی وایمه په هغه شی چے شاهدی ویلی ده په هغه سره خدای او امانت ایږدم د شاهدی د خدای سره بیا په روځ د قیامت به خدای وائی چی په تحقیق سره د دی بنده زما د ما سره وعده اوامانت شته اوزه چے یم هغه لائق اوروا کونکی یم په وعده وخپلو سره یعنے د دی بنده سره ما وعده وجنت کړی وه نو داخل کړی دا بنده زما جنت ته «واحدیث په تفسیر مدارك کښے دی»

او د نصرانیت وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ او اختلاف نه دی کړی هغه کسانو اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی دوی لره کتاب چې یهود او نصاریٰ دی او د دا اختلاف یا په دین د اسلام کښے ووچے بعضو به حق بالله او بعضو به باطل او بعضو خاص بالله په عرف پورې او په وحدانیت د خدای کښے ووچے یهود و به عزیرؑ نړوی د خدای بالله او نصاریٰ وو به د دری خدایان بلل او یا په رسالت درسول کښے ووچے چا به منلو او چا به نه منلو او یا په دری سره ووکښے اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ چې راغله دوی لره پوه په حقیقت دامر په واسطه د اُیتو او معجزو سره یعنے پس له هغې چې په دلائلو سره ښه ورته معلومه شوه چې دا رسول او قرآن دواړه حق دے اما اختلاف ئې پکښے وکړی بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ط بخض په سبب د هغه کښے چې په دوی کښے وه نه له جهل څخه وَمَنْ يَّكْفُرْ اوهر څوك چې نه منی بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ایتو نه د خدای یعنے قرآن یا نورې معجزې فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای سَرِيْعُ الْحِسَابِ (۱۹) ډیر ژر رکونکی دی د حساب یعنے پورهٔ حساب به ورسره وکی پس له مرګه او بیا به جزا ورکی په قدر د عمل فَاِنْ حَآجُّوْكَ پس که جګړه کوی د اکفار له تا سره پس له دی دلائلو هم فَقُلْ اَسْلَمْتُ پس وایه ودوی ته چې سپارلی دی ما وَجْهِيَ لِلّٰهِ څان چې خدای ته او له څان څخه ئې تعبیر وکی په وجه سره حکمه چې دا اشرف د تولو اعضاو وظاهري وړ دی او د قوی او دحواسو مظهر دی وَمَنِ اتَّبَعَنِ ط او هر هغه څوك چې پیروی کوی زما هغه هم څان سپارلی دی وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اوووایه وهغه کسانو ته اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی ودوی ته کتاب یعنے یهود او نصارا وَالْاُمِّيّٖنَ او مشرکان د عرب ته هم ووایه چې ءَاَسْلَمْتُمْ ط آیا اسلام راوړی تاسے

عه مظهرې یعنے ظاهر کونکی دی یعنے چې غږ ئې زیږ دی نو دلالت کوی په ناجوړ والی باندی او چې سور خوشرنګه وی نو په جوړ والی باندی دلالت کوی ۱۲ صه یعنی څوله رشتینوالی ستا کوی ای پیغمبره یعنی چې دین ستا حق دی ۱۲ ـ او څوله دروغجنوالی ستا کوی یعنی دین ستا نه منی ۱۲

او دا استفهام دامردی یعنی اسلام راوړی فَإِنْ أَسْلَمُوا ۱۶ پس که اسلام راوړی دوی فَقَدِ اهْتَدَوْا ۱۶ پس په تحقیق سره پیدا ئے کړه سمه لاره وَإِنْ تَوَلَّوْا اوکه ئې شا کړه یعنی داخبره ئې ونه منله فَإِنَّمَا پس بیشکه هم داخبره ده چې عَلَيْكَ الْبَلَاغُ ط دی پرتا تش رسول دپیغام وَاللَّهُ اوخدای چې دی بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ع ۲۰ښه بینادی پرا حوالو د بندګانو یعنې په تصدیق او په تکذیب د دوی او دا آیت بیا منسوخ شوی دی په آیت د سیف سره روایت دی چې بنی اسرائیلو په یو ساخت په یوه ساعت کښې د ۴۳ څلویښت پیغمبران شهیدان کړل او یوسل ۱۱۲ او درې او عابدان چې د دوی له قومه وو د دوی دی قتله ځکه منعه کړه نو هغه ئے هم په آخر د هم دغه ورځې کښې مټول شهیدان کړل نو په حق د هغه قاتلانو او د هغه اولاد د دوی کښې چې راضی وو په دی قتل له معاصرانو د رسول علیه السلام د هغو وارو په حق کښې نازل شو إِنَّ الَّذِينَ بیشکه هغه کسان يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ چې کافران شوی دی په آیتونو د خدای یعنې په قرآن چې هغه اهل کتاب دی وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ او وژني دوی پیغمبران بِغَيْرِ حَقٍّ لا یعنې بی له موجبه د قتل په اعتقاد د دوی کښې هم اګر که پیغمبرانو نه لره په واقعه کښې له سره موجب د قتل نشته وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ اووژني دوی هغه کسان يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ چې امر کوی دوی په عدل او په انصاف سره مِنَ النَّاسِ له خلګو نه غیر له پیغمبرانو فَبَشِّرْهُمْ پس زیری وکه پردوی بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۲۱ په عذاب د درد ناکه سره أُولَٰئِكَ الَّذِينَ داهغه کسان دی حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ چې برباد شوی دی عملونه د دوی چې په صدقه یا په صله رحمی یا په نورځه ئې حاصل کړی وو فِي الدُّنْيَا هم په دنیا کښې چې له نعمت او له شرمندګی په خلاص نه شو وَالْآخِرَةِ او هم په آخرت کښې چې له عذابه د دوزخ ځخه په خلاص نه شو وَمَا لَهُمْ او نه به وی دوی لره په قیامت کښې مِنْ نَاصِرِينَ ۲۲ هیڅوک مدد کونکی په دفع د

عذاب کښی روایت دی چے په یهود و کښی دوو کسانو زنا وکړه نو رسول علیه السلام لره ئی راوستل او ده حکم د سنګسار ولو پرو کړی نو یهود د حکمه څخه د رجم یعنی منکر شوه چی حکم د رجم خدای هیچیری نه دی کړی نو تورات ئے راوړی او حکم د رجم ئی پکښی ولیدی نو سنګسار ئی کړل او یا رسول علیه السلام و مدرسی ته د دوی ورغلی او دوی ئی راوبلل و اسلام ته نو نعیم او حارث نوی کافران شوی وو نو هغوی و ویل چے ته په کوم دین ئی ده و ویل علی ملة ابراهیم نو دوی و ویل چے ابراهیم (۴) خو یهودی وو بیا رسول علیه السلام و ویل چے راځئی تورات وګورو هغه زمونږ حکم دی نو دوی له دے څخه منعه وکړه او شا ئی کړه نو نازل شو اَلَمْ تَرَ ایا نه ګورې ته اِلَى الَّذِيْنَ و هغو کسانو ته اُوْتُوْا نَصِيْبًا چے ورکړه شوی وه دوی لره غټه برخه مِّنَ الْكِتٰبِ له تورات څخه يُدْعَوْنَ چے و بلل شے دوی اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ وکتاب د خدای ته چی قرآن یا تورات دی لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ د پاره د دی چے حکم وکی دا قرآن یا تورات د دوی په مینځ کښے او هغه اٰیت د رجم یا دین د ابراهیم ثُمَّ وو دوی ته بنکاره کی ثُمَّ يَتَوَلّٰى بیا پس له دی بللو څخه مخ وګرزاوی فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ یوه ټولی د دوی څخه چے هغه مشران د یهود وو وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ (۲۳) او حال دا چے دوی تل څنډه کونکی دی له حقه ذٰلِكَ دا اعراض د دوی چے دی له حکمه د تورات څخه له دی وجهی دی بِاَنَّهُمْ قَالُوْا چے بیشکه دوی وائی لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ له سره به نه ورسیږی مونږ ته اور د دوو ورځو اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ص مګر څو ورځی پرې چے شمار چې هغه خلویښت ورځی دی په سبب د عبادت د ګیلکی چی نیکه ګانو د دوی کړی وو وَغَرَّهُمْ فِيْ دِيْنِهِمْ اوغره کړی دی دوی په حق د جزا موند لو د عملو خپلو کښے مَّا كَانُوْا هغه ګمانونو خپلو چے وو دوی يَفْتَرُوْنَ (۲۴) چی په دروغو ئی ترلی دی پر خدای چے وائی

عه یعنی زه پر دین د ابراهیم علیه السلام یم ۱۲ عه یعنی منصف او درم ګری دی ۱۲
سه اعراض یعنی مخ ګرزول او نه منل ئی ۱۲

نحن ابناء الله واحباؤه فلا يعذبنا بذنوبنا الا مدة يسيرة يعنى موږ زامن او دوستان د خداى يو نو عذاب به نه راكوى موږ ته پر گناوو نو موږ مكرلږ موده فَكَيْفَ پس څه حال به وى د دوى إِذَا جَمَعْنَاهُمْ په هغه وخت چې راجمع كړو موږ دوى لِيَوْمٍ د پاره د حساب د هغه ورځې لَا رَيْبَ فِيهِ تن چې نشته هيڅ شك په راتلو د هغې ورځې كښے وَوُفِّيَتْ اوپوره به وركړشى كُلُّ نَفْسٍ وهر شخص ته مَا كَسَبَتْ جزاء د هغه عمل چې كړى وه دا هُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿۲۵﴾ اوحال داچې دوى چې دى هيڅ قدر ظلم به ونه شى پردوى نه په كمولو د نيكو اونه په زياتولو بد يوسره روايت دى چې هر كله قريشو اراده د راتلو وكړه مدينې ته اورسول عليه السلام په مصلحت دسلمان فارسيؓ سره له ويرې د دوى خندق وكيندى اوناگاه يوه شپه سخته پربنبه پكښې پيدا شوه دوى رسولؐ په خبركى نو دى راغلى اودا پربنبه ئې په پلك ووهله نو يوه پارچه خُندى بيله شوه اولويه لمبه ئې وكړه چې غږونه د مدينې او بنارونه د مدا ين اوګنګرى د ماغوږ كسرئ په وليدل شوى اوچې دويم وار ئې ووهله نو بيا ئې لويه لمبه وكړه او بنارونه د يمن بنكاره شوه بيا رسولؐ وويل چې څرګندې چې زما اُمت به د دې ليدل شوو ځايونو متصرفان شي نو منافقانو پخپلو مينځو كښے سره وويل چې دوى له ويرې د دښمنه په كاله كښے بې خندقه ځان نه شى ساتلاى او دا ملګرى څپل تيرباسى په دې چې فارس اورومو اويمن به تاسے ونيسى نو نازل شو قُلِ اللَّهُمَّ ووايه ترچې اى پروردګاره مَالِكَ الْمُلْكِ اے واګډاره د باچاهى تُؤْتِي الْمُلْكَ وركوى ته دا باچاهى مَنْ تَشَاءُ وهر هغه چا ته چې اراده وشى ستا وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ او بيرته اخلے دا باچاهى مِمَّنْ تَشَاءُ ز له هر هغه چا څخه چې اراده وشى ستا وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ او عزت وركوى ته هر هغه چا ته چې اراده وشى ستا په ايمان او په معرفت سره لكه رسول چې شو سره له تابعانو څپلو وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ ط اوخوار اوذليل كوى هر هغه څوك چې اراده وشى ستا په كفر او په ذلت دهغه لكه ابوجهل سره له تابعانو څپلو

عه هر شخص لره يعنى كه نارينه وى او كه ښځه وى ۱۲

بِيَدِكَ الْخَيْرُ ط خاص ستا په قدرت کښې دی خیر اِنَّكَ بیشکه چې ته عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۶﴾
پرهر شی قادر ئې هم په ورکولو هم په بیرته اخستلو او هم په عزت او هم په ذلت تُوْلِجُ
الَّيْلَ ننه باسی ته شپه په النَّهَارِ په ورځ کښې وَتُوْلِجُ النَّهَارَ او ننه باسی ورځ فِي الَّيْلِ
په شپه کښې یعنی په هره ورځ له یوطرفه یوه یا پاره چه له ورځې څخه کموی او په شپه
کښې ئې کښیباسے او له بله طرفه یوه یا پاره چه له شپې څخه کموی او په ورځ کښې ئې کښیباسے
ترڅو چې دا نږدې مانه دورځې وگرزی شپه شی او نږدې مانه دشپې وگرزی ورځ شی
وَتُخْرِجُ الْحَيَّ او باسی ته څوندی مِنَ الْمَيِّتِ لکه مړی لکه حیوان له نطفې یا مرغه
له هوا یا وئی له دانې یا مؤمن له کافره وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ او باسی مړی مِنَ الْحَيِّ زلمه څوند
څخه لکه نطفه د حیوان څخه یا هوا د مرغه څخه یا دانه د وئی یا کافر د مؤمن څخه وَ
تَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ اوروزلی ورکوی ته وهر هغه چا ته چې اراده وشی ستا بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿۲۷﴾ بې حسابه یعنې ډیره وافره روایت دی چې بعض انصار وله مشرکانو د
یهود وسره یاری درلوده او عقد د مواخات شوی وو نو پرور دکار له دی
دوستی څخه منعه وکړه اونازل شو لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ نه دی نیسی
مؤمنان کفار اَوْلِيَآءَ یاران اود وستان مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ج بې له مؤمنانو
څخه یعنې مؤمنان که یاری اود وستی کوی نو میبایدچې له خپلو مؤمنانو سره ئې
وکړی او د کفارو سره دی نه کوی وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوك چې وکړی دا کار
یعنې دوستی له کفارو سره فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ پس نه دی دا شخص له دوستی د خدای
یا له دینه دده فِيْ شَيْءٍ په هیڅ شی کښې یعنی دی په دوستی یا په دین د خدای
کښې هیڅ برخه نه لری حُكمه چې دهغه دی اود وستی د دښمن دده سره منافی ده اِلَّآ
اَنْ تَتَّقُوْا امکر ږه وادا د وستی اما په ظاهر کښې سره د بغض قلبی چې ویریږی تاسے
پرسر او پرمال خپل په سبب د غلبی د دوی او خان سانی مِنْهُمْ تُقٰىةً ط له دوی
یعنې له ضرره ئې په ویریدو سره وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ او ویروی تاسی خدای نَفْسَهٗ ط د

عذاب خپله یعنی له هغه عذاب چې محض له قهاریته دده څخه ولاړ شوی دی وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿۲۸﴾ او خاص خدای ته ورتله ستاسی دی نو میسایدچی هروخت په خپلو اقوالو او افعالو او اخلاقو فهمدار اوسی چې باید په ورځ د قیامت څخه ای څخه عذاب د ربانډی سخت نه شی قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ هغه دوستی یا دښمنی له کفار وسره چې په زړو ستاسو کښې پرته ده أَوْ تُبْدُوهُ یا ئې بنکاره کړی تاسے يَعْلَمْهُ اللَّهُ د پس پوهیږی خدای په هر یوه بالکل څکه چې پټ او بنکاره ده ته یوشان معلوم دی وَيَعْلَمُ مَا او پوهیږی دی په هر هغه شی فِي السَّمَاوَاتِ چې په اسمانونکښې دی له جمله وو علویاتو وَمَا فِي الْأَرْضِ او په هر هغه شی چې په ځمکه کښې دی له جمله وو سفلویاتو وَاللَّهُ او خدای عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۲۹﴾ پر هرشی بنه قادر دی يَوْمَ تَجِدُ په هغه ورځ چې بیا به موې او دا تعلق بنسیې له مقدره سره چې واحذر وادی یعنی وویریږی له هغې ورځې څخه چې بیا به موې كُلُّ نَفْسٍ هرنفس مَا عَمِلَتْ هغه عمل چې کړی دی ده مِنْ خَيْرٍ له نیکی مُحْضَرًا حاضرکړه شوی وده ته وَمَا عَمِلَتْ او هغه عمل چې کړی دی ده مِنْ سُوءٍ له بدی یعنی دفترونه دنیکواو بدو خپلو به قول په ستر ګو وبینی تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا دوست به ګنی دا نفس وارمان به کوی ددی چې کاشکی په مابین دده نفس کښې وَبَيْنَهُ او په مابین ددی ورځې کښې أَمَدًا بَعِيدًا مودده وای لیری یعنی اوږده وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ او ویروی تاسے خدای نَفْسَهُ د له عذابه خپله څخه او دا تکرار پاره د تاکید دی وَاللَّهُ او خدای رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾ ع ډیر مهربانه دی پر بندګانو خپلو

ع ۳ ۱۰ "

روایت دی چې رسول صَلَّى اللَّهُ عليه وسلم یوه ورځ په ډله د قریشو راغلی اودوی بتانو ته سجدی کولی نوده ورته وویل يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ واللّٰه لقد خالفتم ملّة ابیکم ابراهیم اودوی ورته وویل ما نعبدهم الا ليقربنا إِلَى اللَّهِ زلفیٰ او یا داچی یهود او نصارٰی دو

عه یعنی ای د قریشو د قریشو قسم دی وی زما په خدای چې تاسے مخالفت کړی دی له دینه د ابراهیم خلیل الله څخه ۱۲ سه یعنی موږ عبادت نه کوو د ګډ بتانو مګر د پاره د ګډ چې نژدی کړی موږ د خدای ته په نژدیوالی سره ۱۲

وویل نحنُ ابناء اللّٰہ واحبا ؤہ یعنے مودبزامن دخدای اود وستان دخدای یو نو نازل شو قُلْ اِنْ کُنْتُمْ ووایه دوی ته که یاست تاسی تُحِبُّوْنَ اللّٰہَ چی محبت لری له خدایه سره فَاتَّبِعُوْنِیْ پس پیروی کوی زما یُحْبِبْکُمُ اللّٰہُ چے دوستان وکړی تاسے خدای وَیَغْفِرْ لَکُمْ اوو به بخښی تاسے ته ذُنُوْبَکُمْ وګناهونه ستاسی وَاللّٰہُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دی ډیرګنا هو وتابعانو زما ته رَّحِیْمٌ (۳۱) ډیرمهربان دی پردوی کما قیل

نظم

تعصّی الاله وانت تظهر حبهٗ	هٰذا لعمری فی الفعال بدیع	
لوکان حبك صادقاً لاطعتهٗ	ان المحب لمن یحب یطیع	
ان کنت فی دعوی المحبة صادقاً	لا ادّعوی الحُبّ منك سنیع	
فاخترمتابعة الرسول فانه	مستشفعٌ ومشفعٌ و شفیع	

قُلْ اَطِیْعُوا اللّٰہَ ووایه دوی ته چی فرمان ومنی دخدای په اوامرو او نواهیوده کښی وَالرَّسُوْلَ ﷺ او درسول دده په احکاموشرعیه ووکښے فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شا کړه دوی اواطاعت دخدای اودرسُول ﷺ قبول نه کی فَاِنَّ اللّٰہَ پس بیشکه چی خدای لَا یُحِبُّ الْکٰفِرِیْنَ (۳۲) دوست نه کښی کافران فَاِنَّہٗ هرکله چی پروردګارِ بیان کی لزومرد متابعت درسولانو او بل دچے دغه متابعت موجب دمحبت دخدای دی نو ارادہ ئی وکړه چی بیان کی مناقب ددوی دپاره دحرص په متابعت ددوی باندی نو نازل شو اِنَّ اللّٰہَ اصْطَفٰٓی اٰدَمَ بیشکه چی خدای غوره کړی دی اوادم ؑ په نبوت په رسالت په تعلیم داسما ؤ په

عه یعنے ته نافرمانی کوی له خدایه اوحال دادی چی نه ظاهروی محبت ستاله ده سره دا دعوی ستاچی ده نشوه دی وی زما په عمرخپل چاچه په قول کارروکښے دیره عجیبه نوی پیدا ده که چیری وی محبت ستاصحبت له دغه خدایه سره په رشتیا هرالبته طاعت دده به کوی ته محکه په تحقیق سره هرعاشق دمعشوق خپلے طاعت کوی حکم ئی ښے که چیری ته په دعوئ دمحبت خپل رشتینی ئی اودا خبره نه وی چی دعوئے دمحبت له تاڅخه نارواوی یعنی چی په دروغو دعوئ دمحبت کوی اوپه واقعه کښی محبت دی نه وی نو پس غوره کړه پیروی درپیغمبر خپل محکه چی په تحقیق سره دا پیغمبر چے وی طلب دشفاعت به کولے شی له ده څخه پښے عالم به ده ته وائی چے ته زما موښ شفاعت وکړه اوبیاشفاعت ده قبول کړه شوی ئی په درګاه دخدای کښے اوشفاعت هم دی دی زمتابعت ئی ضروری شو ۱۲

سجده ملائکو په پیدا کولو بے والد ینو په ابوت د تمام بشر خصوصاً د انبیاؤ د علماؤ
د اولیاؤ د اصفیاؤ سره وَنُوحًا او نوح هم په نبوت په ټول سالت په طول د عمر
په منسوخ کولو د پخوانی شریعت سره وَاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ او ابراهیم یا ال دده لره چې
اسمٰعیل او اسحٰق او دوی اولاددی اورسول هم په دی ال کښے داخل دی
وَاٰلَ عِمْرٰنَ او ال د عمران چې موسیٰ او هٰرُوْنَ دی یا ال د هغه بل عمران چې د
بی بی مریم او عیسیٰ دي اودی دواړو عمرانینو په مینځ کښے یو نږ راوالته سوه
کاله وه عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ په درست خلګو د خپلے زمانی په حال دکید ودی
دواړو ال لوکښے ذُرِّيَّةًۢ م ذریه یعنے اولاد پیدا شوی دی بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ط بعض
له دی ذریة له بعض نور وځنے لکه موسیٰ او هٰرون له عمران او دی له بصهراو
دی له قاهث اودی له لاوی اودی له یعقوب او هم داسی عیسیٰ له مریم
او دا له عمران اودی له ماثان او دا پیړی بیا په درې دیرش په یهودا ابن یعقوب
لګیږی کذا فی البیضاوی، وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ اوخدای اورید ونکی دی د هر قول عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾
دانادی په هرفعل اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ یاد که هغه چې وویل ښځې د عمران
چې نوم یې حنه وو لور د فاقوذا په ایام د حمل کښے رَبِّ اِنِّيْ ای ږ به زما بیشکه نږ
چې یم نَذَرْتُ لَكَ نذر می کیخو د تاله مَا فِيْ بَطْنِيْ هغه شی چې په نس زما کښے
دی په حال دکید ودده کښے مُحَرَّرًا خالص د پاره د عبادت ستا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ج پس
قبول که ته له ما دا نذر اِنَّكَ بے شکه ته چې یې اَنْتَ السَّمِيْعُ هم ته یې
اورید ونکی د دی کفتار نږ ما الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾ دا نیت نږ ما فَلَمَّا وَضَعَتْهَا پس هر کله
چې یې وزیږ ولو او هغه نفس چې د دی په نس کښے وو قَالَتْ نوو ویل بی بی
حنے په طریقه د غږ ږ او د خفګان سره رَبِّ اِنِّيْ ای ږ به زما بیشکه نږ چے
یم وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ط وه می نږ یزه وله د انجګه وَاللّٰهُ اَعْلَمُ او حال دا چې خدای
ښه دانادی بِمَا وَضَعَتْ ط په هغه چې دی ونږ یزاوه او دا مقوله د خدای ده
یعنی دا رښتی خبره ده چې و اللہ اعلم بما وضعت ده ۱۲

وَلَيْسَ الذَّكَرُ اونه دی هغه نارینه فرنزند چی ما غوښتے وو كَالْاُنْثٰى په شان دی بنځی چی راکړه شوی ده وما ته وَاِنِّيْ او بیشکه زه چی سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ نوم کښینوے مادی بی بی مریم او معنیٰ ئے دوی په ژبه داده چی مینځه د خدای وَاِنِّيْ او بیشکه زه چی اُعِيْذُهَا بِكَ پناه ورکوم دی ته په تا پوری وَذُرِّيَّتَهَا او اولاد د دی لره هم پناه ورکوم مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۳۶﴾ له شیطان چی تر تلی شوی دی له تا څخه او حدیث دی چی ما من مولود یولد الا الشیطن یمسه حین یولد فیستهل صارخا من مس الشیطن یمسه الا مریم وابنها فنقبلها ربها پس قبوله کړه دا بی بی مریم رب ددی په ښای د نارینه کښے بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ په ښه قبلولو سره وَّاَنْۢبَتَهَا اونږغونه ئی کړه نَبَاتًا حَسَنًا په ښه ږغونه کولو سره چے عیسیٰ ئے غوندی نړوی تخم پیدا شو وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا اوکفیل یعنی ضامن کی خدای ددی بی بی مریم نږکریا ئے ددے وپرورش ته ئی مقرر کی په دی چے بی بی حنې پس له ولادته دا په اوښی کښے و تړله او بیت المقدس لره ږاغله او متولیا نوے مسجد ته ئی وویل دونکم هٰذه النَّذِيْرَةَ یعنی درواخلی دا نذرګوتی نوے دوی په دی دیر خوشحاله شوځکه چی د مشر لور ئی وه نونږکریاء وویل چے نړه به ئی واخلم چی تر وړ ددی دما څخه ده نوے دوی وویل چی بی قرعې ئی نه درکوو او دوی اووه ویشت تنه وو نوقول ږودلره راغله او قلمونه ئی په اوبو کښے وغورځول نوقلم د نږکریاء سر بیړه داوبو پرسر و درید ی اود نوږو قلمونه په تل کښی کښیناسته نونږکریاء داچیل کوږته یووړ او تربیت به ئی ددی کاوی ترهغه پورې چی لوشوه اوچا ویلی دی چے هم هغسی لاوړه وه چی مسجد له ئی ږاوسته او په مسجد کښے یره عبادت خانه په هغه کښی ئی دیره کړه دیاره دعبادت اوقلف به ئی ور پسی قلف کی اوکله به ئی دځان سره یووړ حُكَمَا دَخَلَ عَلَيْهَا هر

عه یعنی نه وی هیڅوك زیږ ول شوی چی زیږ ول شوی وی مګر شیطان ئی مسه کوی یعنی لاس په وهی په وخت د زیږیدو لو کښے پس وګزنږی دی اوازکونکی له دی مسه کولو د شیطان څخه چی مسه کړی ئی وی مګر بے بی مریم اوزوی ددے دواړه ئی نه مسه کړی چی خدای له شیطان څخه په کرم سره ساتلی وو

کله چې به را ننوتې پردې زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ لا زکریاؑ په هغه محراب کښے چې ددې عبادت خانه وه وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا نو بیائې پیدا کې ددې سره روزي یعنې میوې به ورسره پرتے وې ددو بې دا په ژمې کې او دژمې دا په دوبې کې هرکله چې په څوواره ئې ولیده نو قَالَ يٰمَرْيَمُ وویل زکریاؑ چې ای مریم اَنّٰى لَكِ هٰذَا له کومه راغلې دي تاله دا میوې چې مخالف دې له میوو دد نیا څخه قَالَتْ هُوَ وویل دې چې دا رزق مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له طرفه دخدای دې یعنې له جنت څخه راغلې دې او په یوه روایت کښے دا ولاړ وه چې دا خبره ئې وکړه د عیسیٰؑ پشان اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ روزي ورکوي وهرهغه چاته چې اراده ئې وشي بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ بې حسابه یعنې ډیره فراخه اووافره هُنَالِكَ په دغه وخت کښے چې رنکا رنګ میوې ئې ولیدې بې موسمه خپل دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ وه بالې زکریاؑ رب خپل قَالَ رَبِّ نوویې ویل ای ربه زما هَبْ لِيْ راکه وما ته مِنْ لَّدُنْكَ خاص له فضله خپله ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً فرزند پاك چې بې بې حنې زمے شنډې لره دې بې بې مریمه ورکړې ده اوبیا بې بې مریمې لره دې دا رنګ میوې ورکړې دې او ذرّیت اطلاق پرواحد او کثیر یورنګ کیدلای شے اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾ بیشکه ته اوریدونکې دد عا ئې یعنې قبلونکې ئې فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ پس ورته نارې کړې ملائکو یعنې جبرائیلؑ او داجمع دپاره د تعظیم ده وَهُوَ قَآئِمٌ اوحال داچې ولاړوو يُصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ لاچې لمونځ ئې کاوې په عبادتخانه کښې اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ چې بیشکه خدای زیرې کوي پرتا يَحْيٰى په یحییٰ نومې چې به ستانه وې وې په دې حال کښے چې مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ باور کونکې یا ایمان راوړونکې به وې پرهغه کلمه مِّنَ اللّٰهِ چې له طرفه دخدای ئې څخه ده یعنې پرعیسیٰؑ چې اول ده ایمان پرې راوړې دې او عیسیٰؑ له دې جهته کلمه بللې کیدلای شي چې په کلمه کُنْ سره پیدا شوې دې وَسَيِّدًا اوسړدار به وې

د خپل قوم په علم په حلم په تقویٰ کښے نوځکه

عه یعنې چې ده لاهم په ورکړو قوالې په زاکو کښے خپلې کړې دې ۱۲ سه دریځه پرا ولاد او ګوتو ته ماښ شان ویل کښے ګڼي ۱۲

ئی عزم دگناه هم نه دی کړی له سره وَّحَصُوْرًا او حصار کړه شوی دی له ښځو سره له قدرته پرجماع او یا له هر عیبه وَّنَبِیًّا او پیغمبر به وی مِّنَ الصّٰلِحِیْنَ ۳۹ له تولی یا له نسل د صالحانو څخه قَالَ رَبِّ وویل زکریا چی ای ر به زما اَنّٰی یَکُوْنُ لِیْ څنګه به پیدا شی ما ته غُلٰمٌ هلك وَقَدْ بَلَغَنِیَ الْکِبَرُ او حال دا چی په تحقیق ر سید لی دی و ما ته ز وړوالی لحکه چی دی د نه ۹۰ نوی کالو وو او بی بی یو کال څنډی کښړه وه وَامْرَاَتِیْ عَاقِرٌ او ښځه می شنډه (وچه) ده قَالَ لوو وویل جبرائیل علیه السلام کَذٰلِكَ اللّٰهُ هم داخدای چی دی په شان د پیدا کولو د ولد له شیخ فانی او له نړی شنډی څخه یَفْعَلُ مَا یَشَآءُ ۴۰ کوی هغه کار چی اراده ئی وشی که مخالف وی له عادته او که موافق وی قَالَ بیا وویل زکریا رَبِّ اجْعَلْ ای ر به زما مقرره کړه لِّیْ آیَةً نښه دحمل چی موجبه د تسلی او د شکر ګذاری زما شی قَالَ اٰیَتُكَ نو وویل جبرائیل نښه ستا چی ده اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ داده چی خبری به نشی کولای ته له خلګو سره ثَلٰثَةَ اَیَّامٍ دری ورځی سره له شپو چی فارغ سے ته ذکر او شکر ته اِلَّا رَمْزًا مګر په اشاره به ئی کولای شی په لاس یا په سر یا په ستر ګو سره وَاذْکُرْ رَّبَّكَ او یاده ر ب خپل کَثِیْرًا د یر ځکه چی له مجلس د خلکو به فارغ سی وَسَبِّحْ بِالْعَشِیِّ او تسبیح وایه دده په اخر د ورځی کښے چی له ز واله تر غروب د مخے ۱۱ وَالْاِبْکَارِ ۴۱ او په اول د ورځی کښی چی له طلوع د فجره څخه تر څاښت پورې دی وَاِذْ ۱۲ قَالَتِ الْمَلٰٓئِکَةُ او یاد کړه هغه چی وویل ملایکو یٰمَرْیَمُ اے مریم اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ بیشکه چی خدای غوره کړی ئے ته په کرامت په عبادت په تربیت چې ل سره وَطَهَّرَكِ او پاکه کړی ئی ته له بد و اقتولو او افعالو او اخلاقو څخه وَاصْطَفٰكِ او غوره کړی ئی ته عَلٰی نِسَآءِ الْعٰلَمِیْنَ ۴۲ پر ټولو ښځو د زمانی خپلی یٰمَرْیَمُ اقْنُتِیْ ای مریمی فرمانبرداره شه لِرَبِّكِ وَاسْجُدِیْ د رب خپل او سجده کوه همیشه وده ته وَارْکَعِیْ مَعَ الرّٰکِعِیْنَ ۴۳ او رکوع کوه ور ب خپل ته له نورو رکوع کونکو سره یعنی لموځ کوه له جمع د مصلیانو سره

ذٰلِكَ داقصه دبی بی حنی اودبی بی مریم اوذکریاء اودیحییٰ چی ده مِنْ اَنْۢبَآءِ
الْغَيْبِ له اخبارو دغیبوده چی دپاره دښکاره کولو دمعجزی ستا نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ط
رالیږو موږ داقصه وتاته وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اونه وی ته ای رسوله حاضره
احبارو دبیت المقدس ځخه اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ هغه وخت چی وغورځول
دوی قلمونه خپل په اوبو کښے دپاره ددی چی په قرعه معلومه که اَيُّهُمْ چی کوم
یو له دوی ځخه يَكْفُلُ مَرْيَمَ کفیل یعنے متولی به شي دساتنی دبی بی مریم وَمَا
كُنْتَ لَدَيْهِمْ اونه وی ته ددوی سره اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ په هغه وخت کښے چی
دوی جګړه سره کوله دپاره دکفالی ددی اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ یادکه چی وویل ملایکو
یعنے جبرائیلؑ يٰمَرْيَمُ ای مریمی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی خدای يُبَشِّرُكِ زیری کوی پرتا
بِكَلِمَةٍ په کلمه خپله سره چی عیسیٰؑ دی چی راغلی ده داکلمه مِّنْهُ ڰ له ده ځخه اسْمُهُ
الْمَسِيْحُ چی اسم لقب ئی مسیح دی او مسیح په عبرانی په معنیٰ د مبارك دی او
اسم علم ئی عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ عیسیٰ دی زوی دبی بی مریم وَجِيْهًا په دی حال
چی مخور به وی خدای ته فِي الدُّنْيَا هم په دنیاکښے په طاعت او په پیغمبری سره
وَالْاٰخِرَةِ اوهم په اخرت کښے په لوی مرتبه او په شفاعت سره وَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۴۵﴾
او له خاصانو دخدای به وی وَيُكَلِّمُ النَّاسَ اوخبری به کوی له خلکو سره فِي الْمَهْدِ
په نړۍ کولو کښے یا ستا په غیږ کښی یا په وخت دمکیوالی کښی روایت دی چی عیسیٰؑ
لا دموږ په ښو کښے ووچی مجلس به ئی له دی سره کاوی اوچی دا به په مشغوله شوۍ
نوده به په زړه تسبیح ویل چی اواز به ئی بیرون اوریدل کیدی وَكَهْلًا او په
هغه وخت کښی چی ویښته به ئی څه توراوځه سپین وی چی په دی دوارو
و ختو کښی به یو شان خبری کوی یا مراد له کَهْلًا ځخه خبری دی پس له نزوله ـ
حکم چی دی خوان بیول شوی وو اسمانونه وَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۴۶﴾ اوله صالحانو ځخه
به وی اوداوری سره حالونه دی له ضمیره دیکلم ځخه قَالَتْ رَبِّ بیا وویل دی

چې ای ربه نړما آنّیٰ یَکُوْنُ لِیْ خرنګه به پیدا شی مالره وَلَدٌ نړوی وَّلَمْ یَمْسَسْنِیْ او حال دا چې نه یم مسه کړی نړه بَشَرٌ ط هیڅ نارینه له ا دمیا نو څخه نه په نکاح اونه په سفاح سره قَالَ کَذٰلِکِ نو وویل جبرائیل هم داسی ستا په شان بیله مسه دنارینه څخه اللّٰهُ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ط الله پیدا کوی هغه چې اراده ئې وکړی حُکم چې اِذَا قَضٰٓی اَمْرًا په هغه وخت کې چې مقرر کړی دی یو کار فَاِنَّمَا پس بیشکه هم داخبره ده یَقُوْلُ لَهٗ کُنْ فَیَکُوْنُ ﴿۴۷﴾ وایی هغه شی ته چې پیدا شه نو پیدا شی هغه فی الحال په هغه دم پې معطله وَیُعَلِّمُهُ الْکِتٰبَ اونړده به کې خدای وده ته هر کتاب چې له ده څخه نړاغلی دی وَالْحِکْمَةَ او حکمت یعنې علوم د حلا لواو د حرامو اود نړو واحکاموشرعیه وو یا مراد له کتابته کتابت دی او له حکمته بیان دی په څرنګه ویلی شوی دی چې پخپله نړمانه کښې وپرخوشنو لیل وخوښ نړبانه وو وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ ﴿۴۸﴾ او خصوصًا توړاتة او انجیل تخصیص ددی دواړو دپاړه دشرافت ددی دی وَرَسُوْلًا او پیغمبر به ئې اِلٰی بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ لا بنی اسرائیلو ته چې دوی ته به وایی اَنِّیْ قَدْ جِئْتُکُمْ بیشکه چې زه په تحقیق راغلی یم وتاسی ته بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّکُمْ لا په غټه نښه له طرفه د ربه ستاسی په صدق خپل باندی او د لته مراد له ا یته جنس دی نه یو ا یت فرد حُکم چې بیا په مخکښې (پرانستکی کی) ئې ښکاره کړی دی اوله نښه دا چې اَنِّیْٓ اَخْلُقُ لَکُمْ بیشکه نړه جوړوم وتاسی ته مِّنَ الطِّیْنِ له خټو څخه کَهَیْئَةِ الطَّیْرِ په شل دشکل دمرغه فَاَنْفُخُ فِیْهِ پس پوه به کړم په دی شکل کښې فَیَکُوْنُ طَیْرًا ﴿۴۹﴾ پسې شی به دا شکل په دی پوکولو سره مرغه شړوندې الوتونکی بِاِذْنِ اللّٰهِ ج په امر دخدای سره وَاُبْرِئُ الْاَکْمَهَ او دویم دا چې ړاغوم به ړوندمادړزاده یا هوار ړمخې بیله ستړګو وَالْاَبْرَصَ او دریم برلپ وَاُحْیِ الْمَوْتٰی او څلورم دا چې څړوندی کوم به مړی بِاِذْنِ اللّٰهِ ج په فرمان د خدای سره حُکم چې نړه بنده یم او د اخاصی د خدای دی روایت دی چې ده څلور مړی ژوندی کړی دی

چی یو ئ سام بن نوح وو چی قریب پس له څلور زره کلو څخه ئ ژوند کړی وو او بیا
فی الحال پیرته مړ شو او دوه نارینه نور او یوه ښځه وه چی بیا دیره موده دادری
سره پاتیدلی وو بلکه اولاد ئ هم شوی وو وَاُنَبِّئُكُمْ او یخو څه داچی خبروم به تاسے
بِمَا تَاْكُلُوْنَ په هغه قسمه طعاموچے خوری ئ تاسے وَمَا تَدَّخِرُوْنَ لا او په هغه
چے ذخیره کوی ئ تاسے یعنی سانی ئ فِیْ بُیُوْتِكُمْ ط په کور و خپلو کښے اِنَّ فِیْ
ذٰلِكَ بیشکه چی په دی یخو معجزو کښے لَاٰیَةً لَّكُمْ هر اینه غته نښه ده تاسی لره
په صدق زما سره اِنْ كُنْتُمْ که یاست تاسی مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۴۹﴾ باور کونکی په دی معجزو
یا ایمان راوړونکی په پیغمبری زما سره وَمُصَدِّقًا او بل را غلی یم وتاسی ته په دی
حال چے باور کونکی یم لِّمَا بَیْنَ یَدَیَّ پرهغه کتاب چی یخوا له ماڅخه تا نازل شوید ی
مِنَ التَّوْرٰىةِ چی عبارت دی له تورات څخه وَلِاُحِلَّ لَكُمْ او بل را غلی یم وتاسی ته
د پاره د دی چی حلال کړم پرتاسی بَعْضَ الَّذِیْ بعض له هغو شیا نو څخه حُرِّمَ
عَلَیْكُمْ چے حرام کړه شوی وو پرتاسے په شریعت د موسیٰ کښے لکه واز گله او
ماهے او غوښه د اوښ او داسی نور د پیرشیان چی په اخر د سورۃ انعام کښی
ذکر شوی دی او تعظیم کول د خالی د ورځی وَجِئْتُكُمْ او را غلی یم وتاسی ته بِاٰیَةٍ
مِّنْ رَّبِّكُمْ ځنی په هر هر قسم معجزو له طرفه د رب ستاسی فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووپریږی
له خدایه په بی فرمانی نه ما کښے وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۵۰﴾ او قبول کړی فرمان زما په بللو
کښے وحق ته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی خدای رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ رب زما اورب ستاسو دے
فَاعْبُدُوْهُ ځکه پس عبادت کوی دده نه زما هٰذَا صِرَاطٌ دا عبادت دده لار ده
مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۵۱﴾ سمه برابره رسونکی ومقصود ته فَلَمَّاۤ اَحَسَّ عِیْسٰی پس هر کله
چی وه لیدی عیسیٰ علیه السلام مِنْهُمُ الْكُفْرَ له دی یهود وڅخه کفر چے هغه مصلحت
وو وده ته قَالَ نو وویل ده مَنْ اَنْصَارِیْۤ څوک دی مدد کار زما په دے
حال کښی چی نړه تلونکی یم اِلَی اللّٰهِ وخدای ته قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ نو وویل هغه

خاصانو دده یا رنگر یزانو نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ موږ یو مدد کاران د خدای یعنی دوی
دده اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ ایمان راوړی دی موږ پر خدای وَاشْهَدْ اوشاهد شه ته ای عیسیٰ
بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾ په دی چی بیشکه موږ مسلمانان یو بیا حواریو نو ورته سوال
وکی چی رَبَّنَا اٰمَنَّا ای ر به ر موږ ایمان راوړی دی موږ بِمَا اَنْزَلْتَ پر هغه
کتاب چی ر لیږلی دی تا یعنی انجیل وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ اوپیروی کړی ده موږ د دی
ر سول چی عیسیٰ دی فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ پس ولیکه موږ له هغو خلکو سره چی
شاهدان دی په وحدانیت ستا او په حقیقت د رسولانو او دکتابونو ر ایت دی چی
یوه شپیه دی بنی اسرائیلو په مکر او په فریب سره عیسیٰ ؑ یه یوه کوته کښی حصار (بند)
کی او په داصبا قول سره راجم شول اوخپل مشر ئ ر ولیږی چی عیسیٰ ؑ راوباسه
چی په دار ئ کړو او دی لاد شپی ملائکو له زندانه څخه ایستلی وو او اوسمان ته ئی
بیولی وو بیا چی هغه مشر ئ کوتی ته ننوتی نو عیسیٰ ؑ پکښی نه وو او دی خدای
د عیسیٰ ؑ په شکل کی بیا چی کله ر اوو تی نو دوی سره ناری کړی چی عیسیٰ دی ر اوو
نو دار ته ئی ر وان کړی اوده ناری وهلی چی نه عیسیٰ نه یم ستاسی مشر یم اما په
دی هیڅ باور نه کی او په دار ئی کی لکه چی وَاِلٰى وَمَكَرُوْا اوفریب ئی وکی په عیسیٰ
باندی چی په چم سره ئی په کوته کښی بند کی وَمَكَرَ اللّٰهُ او جزا دده ی مکر ور کړه
خدای دوی لره چی خپل مشر ئ یخپل لاس مرکی په بد رنګی سره په کمان د عیسیٰ ؑ
وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ اوخدای بهتر د تو لو جزا ور کونکو دی مکار انو لره هم په دنیا
اوهم په اخرت کښی په سبب د مکر او د فریب د دوی اِذْ قَالَ اللّٰهُ یاد کړه هغه چی
ووی خدای یٰعِيْسٰى ای عیسیٰ ؑ اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ چی بیشکه ز ه قبض کونکی د بدن ت
یم له ځمکی یا د ر وح ستایم په خوب سره چی په کوته کښی به بیده او بیا په اسمان کښی
به وبیښ شی چی په اړام سره ولاړ شی بیا هم د انړ پخپله بی واسطې دبل چا قبضو نکی
د ر وح ستایم په خپل اجل سره او له قتله د مخلوقه دی ساتونکی یم وَرَافِعُكَ اِلَىَّ

او پورته بیوونکی ستایم خپل ځان ته یعنی اسمان ته وَمُطَهِّرُكَ او پاکوونکے ستایم یعنی ساتونکی دی یم مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا له هغو کسانو څخه چې کافران دی او طلبګار د قتل ستادی وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ او کړونکی یم دهغه کسانو چې پیروی ئې کړی ده ستا یعنې مؤمنان له امته ستا فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سره پورته پرهغو کسانو چې کافران شوی دی په تا چې هغه یهود دی یعنی دوی به همیشه په یهود وغالب وی اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ج تر ورځې د قیامته پورې هم په حجت او هم په توراتو کښے ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ بیا په اخرکښے خاص ما ته دی راتلے ستاسے دتولو یعنی ستا او د تابعانو او د منکرانو فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ پس حکم به وکړم ستاسی په مینځ کښی په حق سره فِيْمَا كُنْتُمْ په هغه شی کښے چې یاست تاسی فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾ چې په هغه شی کښی اختلاف کوی تاسی چې یهود یانړی موسٰی منی او نصاریٰ یانړی عیسیٰ منی او محمدیان قول منی فَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هرچې هغه کسان دی چې کافران شوی دی لکه یهود او نصاریٰ فَاُعَذِّبُهُمْ پس عذاب به ورکړم دوی له عَذَابًا شَدِيْدًا عذاب سخت فِي الدُّنْيَا هم په دنیا کښے په قتل اوخواری او په لزوم د جزئ سره وَالْاٰخِرَةِ زاوهم په اخرت کښے په څوڅو قسمه عذابونو په څلورو د وبزخ سره وَمَا لَهُمْ اونه به وی دوی له هیڅوك مِنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ له مددګارانو په دفع د عذاب کښی وَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهرچې هغه کسان دی چې ایمان ئې راوړی دی لکه اُمت د رسول علیه السلام چې شو وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی د نیکو فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ط پس پورې به ورکی خدای دوی له اجرونه د دوی هم په دنیا کښے په نیکنامی سره اوهم په عقبیٰ کښی په جنت په حورو په قصورو په انواعو د نعمتو په رضوان په دیدار سره وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۷﴾ اوخدای نه خوښوی ظالمانو ذٰلِكَ دا تیرحال د پیغمبرانو چې دی نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ لولئ موږ پرتا اوداقصی چې دی مِنَ الْاٰيٰتِ له نښو د پیغمبری ستادی حُكْمِ چې اخبار

عه یعنی په هیڅه والی په د وبزخ کښے ۳

د غیبودی وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ (۵۸) اوله پنده محکمه څخه دی حُکه هیڅ تغیر نه لری روایت دی چی هر کله نصاری د نجران و رسول ته وویل چی ته وایئ چی عیسیٰ زوی د خدای نه دی نو تاځوك هم لیدلی دی چی بے پلاره پیدا شوی دی نو نازل شوا إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ بیشکه حال د عیسیٰ چی عِندَ اللَّهِ په نزد د خدای په بی پلاره پیدا کیدلو کَمَثَلِ آدَمَ په شان د حال د آدم دی چی هغهٔ بی پلاره پیدا شوی وو بلکه آدم خُندی نر یات دی حُکه چی هغه بی مور او سره له دی چی هغه خو تاسے زوی د خدای نه بولی نو دا فرق ئی سره په څه کښی دی خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ چی جوړ ئی کی په قالب کښی له خاورو څخه چی له تمام زوی زمین څخه ئی سر سری په ملائکو راجمع کړی وو او بیا ځلویښت ورځی بعد ئی پخپله راوکښے ثُمَّ قَالَ لَهُ بیائی وویل ودی جسم ته كُن فَيَكُونُ (۵۹) چی شوندی شه په روح سره پس شوندی شو نو لکه چی خاورے ئی په کُن سره آدم کړی وی همداسی ئی بادهٔم په کُن سره عیسےٰ کی اودا حال د عیسےٰ چی دی الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ حق دی چی راغلی دی له رب ستا ای رسوله فَلَا تَكُن پس له سره مه کیږه مِنَ الْمُمْتَرِينَ (۶۰) له شك راوړنکو فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ پس هر څوك چی چکړه کوی له تا سره په باب د عیسیٰ یعنے په دی کښی چی بنده او رسول دی مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ پس له هغه څخه چی راغلی تا له علم په بنده والی دده سره فَقُلْ تَعَالَوْا ایس ووایه ودوی ته چی راځی د پاره د مباهلے نَدْعُ أَبْنَاءَنَا راچے وبولو موږ هم زامن خپل وَأَبْنَاءَكُمْ او زامن ستاسے وَنِسَاءَنَا او بنځے زمونږ او بنځے ستاسے وَأَنفُسَنَا او ځانونه هم زمونږ او هم ستاسی یا وابسته دده وار وطائفو هم راحاضر کړو په یوه میدان کښے ثُمَّ نَبْتَهِلْ بیا به سره تباهل وکړو د لته ذکر د افتعال دی او مراد خُندی تفاعل دی او تفسیر د تباهل

مه یعنی پوکی جبرائیل ؑ په کړیوان د بی بی مریم کښے ۱۲ سه حُکمه چی تباهل په وزن د افتعال سره په ویلو دیوه طرف سره راځی او په وزن د تفاعل سره په ویلو د دواړو طرفو سره راځی ومقام د تفاعل دی ۱۲

دا دی چې فَنَجْعَلْ پس وبه ګرځو وو یعنې وبه وایو مونږ لَّعْنَتَ اللّٰهِ لعنت د خدای دی عَلَى الْكٰذِبِيْنَ (۶۱) پر درواغجنو په حق د عیسیٰ کښې روایت دی چې هر کله دا آیت نازل شو نو رسول ﷺ نصاریٰ و مباهلې ته راوبلل او دی هم راغلی او د دواړه امامان ئې هم د ځان سره راوستل سره له مور او پلاره دد وی او دی ځلور سره ووتر ئې وویل چې هر کله ما دعا کوله نو تاسے امین کوی بیا چې نصاریٰ و ودوی لیدل نو هیبت ئې وشوله مباهلې څخه اوصلحه ئې وکړه پردې چې هر کال به دوه زره حلے درکوو إِنَّ هٰذَا بیشکه دا حال د عیسےٰ ؑ چې تا ته بیان شو لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ هر ایښه دا خبره ده چې عیسیٰ ؑ بنده او رسول دی او نه خدای او نه ئې زوی دی وَمَا مِنْ إِلٰهٍ او نشته هیڅ څوک لایق د عبادت إِلَّا اللّٰهُ ؕ مګر یوازی خدای دی نه عیسےٰ وَإِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدای چې دی لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (۶۲) هر ایښه هم دی ډیر غالب دی په انتقام اخیستو کښې محکم دی په خپل تدبیر کښې فَإِنْ تَوَلَّوْا پس که شاکره دوی له قبلولو د دی احکامو — فَإِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای عَلِيْمٌ ۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ (۶۳) ښه پوه دی په احوالو او په جزاد مفسدانو قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ووایه چې اے یهودو او نصارٰی وو د مدینې تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ راځئ هغه خبرې ته سَوَآءٍ ۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ چې برابره متفق علیها ده زمونږ او ستاسې په مینځ کښې یعنې په قرآن او په تورات او په انجیل کښې چې هغه دری شیان دی أَلَّا نَعْبُدَ اول دا چې عبادت به نه کوو دری سره طائفې إِلَّا اللّٰهَ مګر یوازې د خدای بیله عیسیٰ او عزیر وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا او دوهم دا چې شریک به نه نیسو په ده پورې هیڅ شی وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا او دریم دا چې نه دی نیسی بعض له موږه بَعْضًا أَرْبَابًا بعضی نور خدایان مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ بیله خدایه لکه یهود چې د خپلو عالمانو په خوله حلال حرام او حرام حلال کوی او نه لکه نصاریٰ چې خپلو

---

۱۲ یعنی امام حسن ؓ او امام حسین ؓ چې لمسیان د رسول علیه السلام وه ۱۲ سه یعنی چې اتفاق کړه شوی دی زمونږ او ستاسې پرهغه خبره کښې ۱۲

عالمانو ته به ئې سجدی کولی دوارو بی اذنه د شرعی فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شا
کړه دوی له دی د روسره خبر و تخمه چی د دی سره کتابونه پرمتفق دی
فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا پس ووایه وودوی ته چی شاهدان اوسی بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾
پردی چے بیشکه موږ مسلمانان یو نه تاسی څکه چے تاسی د خپل پیغمبر حکمونه
مَنْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ اے یهودو او نصاریٰ وو لِمَ تُحَآجُّوْنَ ولی جګړه کوی فِيْٓ
اِبْرٰهِيْمَ په حق د ابراهیم کښے چی یهودیان ئې یهودی بولی او نصرانیان ئې
نصرانی بولی وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ اوحال داچے نه دی رالیږل شوی تورات
وَالْاِنْجِيْلُ اوانجیل هم اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ مګر د پرېس له نږمانی د ابراهیم څکه
چی دی د زمانی د موسیٰ څخه نږ رکاله مخکی وو او له عیسیٰ څخه دوه سوه کم
دری زره کاله مخکی وو اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۵﴾ ایا پس هیڅ عقل نه لری تاسی چی داسے
بے وقوفه خبری کوی هٰٓاَنْتُمْ واوږی تاسی چی یاست هٰٓؤُلَآءِ هغه احمقان
یاست حَاجَجْتُمْ چے جګړه کړی ده تاسے له دیره حماقته فِيْمَا لَكُمْ په هغه شی
کښے چی ووتاسے لره پرې عِلْمٌ ؕ پرهغه شی پوهه څکه چی تورات او انجیل د واړو پر
ږغید لی دی چی هغه نعت د رسول دی چے تاسے پس له لیدو په دواړو کښے
قول بدل کړی دی فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ پس ولی جګړه کوی فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ په هغه شے
کښے چی نشته تاسے لره پرې عِلْمٌ ؕ پرهغه شی پوهه هیڅ قدر چی هغه حال د
ابراهیم دی څکه چی تورات او انجیل کښے دهغه هیڅ قدر بیان نشته اوتاسی ئې
له خپله خانه تخمه څوك یهودی بولی او څوك ئې نصرانی بولی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوحال
داچے خدای ښه پوهیږی په هغه شی چی تاسی پکښے جګړه کوی وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾
اوتاسے نه پوهیږئ په حقیقت دحال مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ نه وو ابراهیم يَهُوْدِيًّا یهودی
وَّلَا نَصْرَانِيًّا اونه نصرانی وَّلٰكِنْ كَانَ اولیکن وودی حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ چپ له فاسد
عقیدو پاك موحد کردن نهاده خدای ته وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۶۷﴾ اونه وو

دی له مشرکانو یعنی له یهود و څخه چې حضرت عزیرؑ و رسره شریکوی اونه له نصرا
و و څخه چې عیسیٰؑ و رسره شریکوي روایت دی چې هرکله قریشوا یلچیان
ولیږل و نجاشي ته چې دا مهاجرین موږ نه راکه او هغه ئ جعفر طیارؓ سره مناظره
وکړه او ایلچیان ئې ډیر خفه کړه نو جعفرؓ وویل چې خدای به ډله دابراهیمؑ نه
تاسو په تارکوی ایلچیانو وویل چې ډله دابراهیمؑ څوك دی نجاشي وویل چې دا
جعفرا و ملګری دده او پیغمبر د دوی دی نو په تصدیق د دی قول د نجاشي
کښے نازل شو اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ بیشکه ډیر نژدی چې دی له هغو خلکو یا بْرٰهِيْمَ
ابراهیمؑ ته لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ هغه ائینه هغه کسان دی چې پیروی ئې کړی ده دده
یعنی خپل امت ئې وَهٰذَا النَّبِيُّ او بل دا پیغمبر دی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه
کسان دی چې ایمان ئې راوړی دی له امته دده وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۸﴾ او
خدای دوست دی د مؤمنانو روایت دی چې هرکله یهود و حذیفه یمانی
او عمار بن یاسر او معاذ بن جبل و بلل دین د یهودیت ته نو نازل شو وَدَّتْ
طَّآئِفَةٌ دوست ګڼلی او ارمان کوی یوه طائفه مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل
کتابو څخه یعنی له یهود و څخه لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ط دی چې ولغزوی تاسے له خپل دین
څخه او دا لَوْ په معنیٰ د اَنْ دی وَمَا يُضِلُّوْنَ او نه لغزوی دوی په واقعه کښے
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ مګر ځانونه خپل ځکه چې وبال او عذاب ئې هم دوی ته راجع کیږی
وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾ او دوی نه پوهیږی په دی چې دا زیان هم نه موږ ته دی
يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ اے یهود و او نصارٰی وو لِمَ تَكْفُرُوْنَ ولی کفر اختیار وی بِاٰيٰتِ
اللّٰهِ په هغه ایتو د خدای چې په تورات او په انجیل کښے راغلی دی په نعت د
رسول کښے وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾ او حال دا چې تاسے شاهدی وایاست په
حق والی د تورات او د انجیل يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ اے یهود و او نصارٰی وو لِمَ
تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ ولی کله وی حق په دین د اسلام یا ایتونه

عه یعنی له خپله ځان جوړ کړی او صفتونه سے دی پیغمبر لره

د تورات دی پالیلی طلی له باطل سره چې دین دیهودیت او د نصرانیت دی یا هغه خود شی ختنه نفت ستاسی دی چې مخالف هم له واقعې اوهم له تورات دی وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ اوپټوی حق وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۷۱﴾ اوحال دا چې تاسی پوهیږئ چې موږ حق پټوو روایت دی چې هرکله کعب بن اشرف یا څو احبار و خیبر د اسی فریب بناء کی چې اول د ورځی کښې به ئی دین د اسلام قبول کړو او بیا په اخر د د ورځی کښې به ئی بیرته پریږد و او دابه وایو چې دا دین د الله باطل بنکاره شو نو شاید چې بعض اصحاب ئی هم پریږدی په دی چې د اخلاقو څو په علم کښې پوهنه دی او منصفان هم دی حکه ئی دا دین قبول کی اوهرکله چې دوی بیا بیرته وګرځیدل نو معلومه شوه چې دا دین باطل دی نو د پاره د بنکاره کولو د د ی فریب و مؤمنانو ته نازل شو وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ اووائی یوه طائفه سره په خپل مینځ کښې مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ له یهود و څخه اٰمِنُوْا اچی ایمان راوړے بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ پرهغه کتاب (قران) چې رابږل شوی دی عَلَى الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا پر هغه کسانو چې ایمان ئی راوړی دی وَجْهَ النَّهَارِ په اول د ورځی کښې چې منصفان ورته بنکاره شے وَاكْفُرُوْٓا اخِرَهٗ او بیا ئے کافران شے په اخر د ورځی کښې چې دا دین ورته باطل بنکاره شی لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ بنائی چې دوی هم بیرته وګرځی (پریږدی) روایت دی چې هرکله دا فریب د دوی خدای و مؤمنانو ته بنکاره کی نو بیا ئی د مدینې و یهود و ته وویل وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اوتصدیق خپل مه بنکاره کوی وهیڅوک ته اِلَّا لِمَنْ مګر وهغه چا ته اود الام زائده دی تَبِعَ دِیْنَكُمْ چې تابع دی د دین ستاسی چې یهودیت دی قُلْ اِنَّ الْهُدٰى ووایه د دوی ته چې بیشکه دین د حق هُدَى اللّٰهِ هم دا دین د خدای دی چې اسلام دی او دا جمله معترضه مقوله ده د خدای چې واقع شوی ده د فعل او د مفعول په مینځ کښې چې فعل لا تؤمنوا دی او مفعول دا قول د یهود و دی

عه یعنی له خپله ځانه جوړ کړی اوصاف ستاسے دی پیغمبر لره ۱۲

چې اَنْ يُّؤْتٰٓى ددی خبری چې ورکړه شویدی یعنې مه بنکاره کوی تصدیق
د دی خبری اَحَدٌ بل چا له غیر له تاسے هم مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ په شان دهغه
فضل اوعلم اوحکمت چې درکړه شوی دی تاسی ته اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ یا د اچې غالب
شی دا مؤمنان پر تاسی په حجت بازی کښې عِنْدَ رَبِّكُمْ ط په نزد درب ستاسے
په وړځ دقیامت یعنې دا قولی خبری هیڅ اته مه بنکاره کوی غیر له خپلو هم
دینانو حاصل دا چې اګر که تاسی ته دا خبره ښه معلومه ده چې په واقعه کښې
دوی له ره هم علم او فضل او حکمت ورکړه شوی دی ستاسے په شان اوبل دا
چې په حجت کښې به هم دوی په تاسے غالب وی په وړځ دقیامت اما د احال
ومؤمنانو ته مه بنکاره کوی چې زړور به شی در باندی او مشرکانو ته ئې هم
مه بنکاره کوی چې مبادا د دوی دین ئے خوښ نه شی قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ وو ایه چې
بیشکه فضل یعنې علم اوحکمت چې دی بِيَدِ اللّٰهِ ج په لاس د خدای کښې دی يُؤْتِيْهِ
مَنْ يَّشَآءُ ط درکوی ئے وهغه چا ته چې اراده ئې وشی رسول اوامت ددده ته
وَاللّٰهُ وَاسِعٌ اوخدای چې دی لوی دی رحمت ددده عَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ ښه دانادی په
لائقانو د فضل يَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ چې خاصوی په رحمت خپل سره چې اسلام یا
قرآن یا پیغمبرد مے مَنْ يَّشَآءُ ط هرهغه څوك چې اراده ئے وشی وَاللّٰهُ او
خدای ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾ څښتن دلوی فضل دی پرمؤمنانو وَمِنْ اَهْلِ
الْكِتٰبِ او بعض له اهل کتابو څخه مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ هغه څوك دی چې که امین
کړی ته دی بِقِنْطَارٍ په قنطار سره چې زر اوواوه سوه اوقیې دی اوهره
اوقیه څلویښت درهمه ده يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ج نو بیرته به ئے وسپارې داتول
مال وتاته لکه عبد الله بن سلام چې شو چې قریشی یو قنطار سره زر ددده سره
اینبی وه بیا چې هغه ئې ځندی طلب وکړی نو امانت ئې ورو سپارل بیله
خیانته وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعض له دی اهل کتابو څخه هغه څوك دی اِنْ تَاْمَنْهُ

بِدِينَارٍ چے کہ امین ئی کړی تہ پہ یو دینار لَا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ نہ ادا به نہ کہ دا دینار وتاتہ إِلَّا مَا دُمْتَ مکرچے هميشه اوسے تہ عَلَيْهِ قَائِمًا پرده ولاړ د پاره دغو ښتو دامانت خپل لکه يهودچي شو چے دوی د پرخپلا نتګردی یا فنحاص بن عازورا چے یوقرښتی ورته یو دینارامانت اینے وو بیادی پرمنکر شو ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ داخیانت ددوی په دی سبب دی چے بیشکه دوی — قَالُوا وائے دوی لَيْسَ عَلَيْنَا چے نشته پرموږ فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ ځ په حق ددی امیانو کښے چے اهل کتاب نه دی هیڅ ګناه او عذاب په اخرت کښے اودابه ئی ځکه ویل چے ددوی اعتقاد داوو چے هرڅوك چی په تورات نه پوهیږی هغه امی دی اومال ئے پرموږ حلال دی اودوی به ویل چے په تورات کښے حکم هم داسے دی ځکه پروردګار وائی وَيَقُولُونَ او وائی دوی عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ پرخدای درواغ داچے تورات کښے هم داسے حکم دی وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۵﴾ او حال داچے دوی پوهیږی پخپل درواغو بیاپروردګار وائی بَلَىٰ ولی نشته پردوی عذاب بلکه شته دی پردوی عذاب — اوګناه دخیانت مَنْ أَوْفَىٰ هرڅوك چے وفاوکی بِعَهْدِهِ په هغه وعده دخدای چی په تورات کښے ئی رابیرته وه په متابعت درسول یا په اداء کولو دامانت وَاتَّقَىٰ اوپرهیز وکی دحرامو څخه فَإِنَّ اللَّهَ پس بیشکه چے خدای يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿۷۶﴾ دوست کونی پرهیزګاران روایت دی چے هرکله احبارودیهودو نعت درسول علیہ السلام اوحکم دامانت اودرجم چی په تورات کښے وو په لږ رشوت بدل کی نو نازل شو إِنَّ الَّذِينَ بیشکه هغه کسان يَشْتَرُونَ چے پیری او بدل اخلی بِعَهْدِ اللَّهِ په هغه عهد دخدای چے دوی کړی وو په ایمان راوړو درسول ﷺ او په وفادامانت وَأَيْمَانِهِمْ او په قسمونو چیلوچے دوی کړی وو اوداسے ئی ویلی وو چے والله لنؤمنن به ولننصرنه یعنی قسم دی چے به ایمان پرراوړو اومدد یه

ور سره کوو ثَمَناً قَلِيلاً مبلغ کم چے څه قدر او ور ښې وی یا څوګړه خامتا وه
أُولَٰئِكَ داکسان چے دی لَا خَلَاقَ لَهُمْ نشته هیڅ برخه دوی لره فِي الْآخِرَةِ په
هغه جهان کښے وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ او خبری دوخ شمالی به هم ور سره وه نه کی
خدای وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ او نظر د رحمت به هم ونه کی ود وی ته يَوْمَ الْقِيَامَةِ په
ورځ د قیامت وَلَا يُزَكِّيهِمْ او نه به ئے پاك کی له ګناهو او نه به ښه پر وولے
وَلَهُمْ اومقرر دی دوی لره عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۷۷﴾ عذاب د دردناك وَإِنَّ مِنْهُمْ
او بیشکه بعض له دی اهل کتابو څخه لَفَرِيقاً هرا ډینه یوه ټولی ده لکه کعب بن اشرف
او مالك بن ضیف او دا سے نور احبار رشول يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ چے اړوی دوی ژبی
خپلی بِالْكِتَابِ په کتاب د خدای کښے یعنے ایتونه د تورات په بلع چیه کوی لکه ایت د رجم
یا د امانت یا د نعت بنوی او له خپله ځانه عبارتونه پکښی اچوی لِتَحْسَبُوهُ مِنَ
الْكِتَابِ ۚ دپاره د دی چے وګڼی تاسے دا عبارت د دوی له کتابه (تورات) څخه وَمَا هُوَ مِنَ
الْكِتَابِ ۚ او حال دا چے نه د دی دا خود ساخته عبارت له کتابه (تورات) څخه وَيَقُولُونَ
او صرف د دهوکی ور کولو د پاره هم په دغه طریقه باندی اکتفا نه کوی بلکه په ژبه
سره هم وائی هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ چے دا لفظ یا مطلب دا الله پاك د نزد څخه الفاظ یا
قواعد نازل شوی دی دهغی څخه ثابت دی وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ حالانکه هغه
په هیڅ شان د خدای د نزد څخه نه دی پس د هغوی د روغ کیدل لازم شوه وَ
يَقُولُونَ اوصرف د دهوکی ور کولو د پاره هم په دغه عملی طریقه باندی اکتفاء نه
کوی بلکه په ژبه سره هم وائی عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ پر خدای د رواغ چے د خپل کلام
نسبت د خدای ته کوی وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۸﴾ او حال دا چے دوی پوهیږی په خپلو
درواغو روایت دی چے هر کله نصاری وویل چے عیسیٰ علیہ السلام دعوه د خدائی
کړی وه او خپل امت ئی د ځان په عبادت ماموره کړی وو یا کوم اصحابی ؓ ورسول
علیه السلام ته وویل چے که اذن وی چے موږ د تا ته سجدی وکړو او ده په جواب

کښه وویل چې لایَنْبَغِیْ ان یسجد لاحد من دون الله ولکن اکرموا نبیکم واعرفوا الحق لاهله نو نازل شو مَا كَانَ لِبَشَرٍ نه بنائی هیڅ بشر لره اَنْ یُّؤْتِیَهُ الْكِتٰبَ پس له دی چې ورکی ده لره خدای کتاب وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ دا احکامو شریعیه وو او نبوت ثُمَّ یَقُوْلَ لِلنَّاسِ بیا پس له دی قوت والی دی وخلکو ته کُوْنُوْا عِبَادًا لِّیْ چې شي عبادت کونکی لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه وَلٰكِنْ کُوْنُوْا اولیکن شئ تاسی رَبّٰنِیّٖنَ عالمان اوعاملان بخپل ځان او معلمان دنورو خلکو وبِمَا كُنْتُمْ اوپه سبب دی چې یاست تاسو تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ چې تدریس کوی یعنې وخلکو ته بنو ونه کوی دا احکامو شریعیه وو وَلَا یَاْمُرَكُمْ اونه بنائی داچې امر وکی دا بشر تاسے ته اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ دی خبری چې دملائکو عبادت کوی اویهود عزیرؑ او نصرانی د عیسیٰؑ اَیَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ ایا امر کوی دا بشر تاسے ته په کافر کید وسره بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ پس له هغه چې یاست تاسی مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ غاړه اینبودونکی ودین دا سلام ته ۸ ۹ ۱۲

روایت دی چې هرکله خدای اراده وکړه دښکاره کولو د مرتبې او د قرب او د شرافت او د علوشان د رسول علیه السلام په اولینو او په اخرینو په جن ا و انس او په ملائکو او انبیاؤ او اصفیاؤ او په سا ئرو مخلوقاتو کښے نو نازل شو وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ او یاد کړه هغه چې واخیسته خدای مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ عهد له نبیانو اوهرچې امتونه ددوی دی هغه خو تابع دی ددوی په دی خبره کښی لَمَآ اٰتَیْتُكُمْ هرائینه هغه شی چې درکړم زه تاسے ته مِنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ له کتابه او له حکمته ثُمَّ جَآءَكُمْ پوره ده په دی کتاب ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ بیا پس له هغه راشے وتاسی ته هغه پیغمبر چې نوم ئی محمدؐ دی مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ چې منونکی دی د هغه کتاب او د حکمت چې دتاسے څخه دی لَتُؤْمِنُنَّ به نو هرائینه ایمان به راوړی خامخا پرده وَلَتَنْصُرُنَّهٗ او هرائینه

عه یعنی نه بنائی داخبره چې بعضو دی وکړه شی بیچا ته بیله پروړه گاره لیکن عزت او حرمت دښی خیل دی کوی او بیا هغه حق چې سجده کول دی اهل اولائق خپل لره یعنی سجدا بیله خدایه هیڅا ته مه کوی نه ما ته او نه بل چا ته ۱۲

سه چې کتاب او حکم او نبوت دی ۱۲

مدد به کوی ورسره ضرور که ستاسے پهرنه مانه کښے پیدا شو اوکه نه وونو هر یو دے
خپل امت ته اوصاف ددے ظاهر کړی او بیا دی ئې ماموړ کړی په مدد کاری ددے او دا
تیر فعلین انشا دی په صورت د اخبار قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وویل رب چے ایا اقرار وکړی
تاسے وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اووا خیسته تاسے په دی ایمان راوړو او په مدد کولو
د رسول باندی اِصْرِیْ د عهد او پیمان نه ماچے همداسے به وکړو قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا وویل
هغوی موږ اقرار وکړو قَالَ فَاشْهَدُوْا بیا وویل رب پس شاهدان شے۔
هر یو پر بل باندی وَاَنَا مَعَكُمْ اوزه له تاسے سره مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ (۸۱) له شاهدانو یم پردی
اقرار فَمَنْ تَوَلّٰى پس هرڅوك چے شاکړی ودی ایمان او نصرت ته بَعْدَ ذٰلِكَ پس له
دی عهده فَاُولٰٓئِكَ پس دغه شاکونکی چے دی هُمُ الْفٰسِقُوْنَ (۸۲) هم دوی فاسقان
دی چے عهد ته ئې شاکړی ده اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ ایا پس له دینه د خدای يَبْغُوْنَ غواړی
دا کافران بل دین وَلَهٗٓ اَسْلَمَ اوحال دا چے خاص ده ته غاړه ایښی ده مَنْ فِي
السَّمٰوٰتِ هرهغه چا چے په اسمانونو کښے دی وَالْاَرْضِ اوچې په ځمکه کښی دی۔
طَوْعًا وَّكَرْهًا هم په خوښه اوهم په نا خوښه وَاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ (۸۳) او بیا خاص
هم وده ته بیرته به بیول کیږی داطاعتگران اوکارهان ځکه قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ۔
ووایه چے ایمان راوړی دی موږ پر خدای چے واحد بلا شریك دی وَمَآ اُنْزِلَ
عَلَيْنَا اوپرهغه قرآن چې راليږل شوی دی پرموږ وَمَآ اُنْزِلَ اوپرهغه چې راليږل شوی وو
عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ پرابراهیمؑ چے هغه سل صحیفے وی وَاِسْمٰعِيْلَ واسحٰق
اوپه اسماعیلؑ او په اسحاقؑ چے دواړه دده زامن وو وَيَعْقُوْبَ اوپر یعقوبؑ
وَالْاَسْبَاطِ اوپراولاده دده فائدہ کا اګرکه دوی لره علیحده کتاب نه وو راغلے
اما هرکله چے دوی هم عمل په صحیفو د ابراهیمؑ کاوی نو نسبت ئې دوی ته هم صحیح
دی لکه موږ چے وایو قرآن پرموږ راغلے دی وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى اوپرهغه توراتو
چے د سړکړی شوی دی موسے علیه السلام وَعِيْسٰى اوعیسیٰؑ نه چے انجیل دی وَالنَّبِيُّوْنَ

عه هغه دین ایښودلگی په خوښه ۱۲ عه هغه دین ایښودلگی په ناخوښه ۱۲

او نورو پیغمبرانو ته لکه شیث او ادریس او شعیب او داود چې شو چې دوی ترهم کتابونه راغلے وو مِنْ بَعْدِهِمْ له جانبه دربه دوی لَا نُفَرِّقُ فرق نه کوو مونږ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ز په مابین دیوه کښے هم له دوی څخه په ایمان راوړو کښے یعنی مونږ پرټولو ایمان راوړی دی او دیهودو او نصاریٰ وو په شان نه کوو چې بعض ئې منے او بعض ئې نه منی وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾ او مونږ وده ته غاړه ایښوونکی یو په ټولو اوامرو او نواهیو کښے وَمَنْ يَّبْتَغِ اوهرڅوک چې غواړی غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا بیله دینه د اسلام څخه بل دین فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ پس له سره به قبول نکړه شے له ده څخه وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اوحال داچې وی به دی په اخرت کښی مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ له زیانکارانو څخه په سبب د ترک د دین د اسلام روایت دی چې یو ټولی د کفارو اسلام راوړی وو او بیامرتد شول او له مکی څخه لاړه نو دوی په حق کښے نازل شو كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ څرنګه به سمه لاروښائی خدای قَوْمًا كَفَرُوْا هغه ټولی ته چې کافر شوی دی بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ پس له ایمانه دوی وَشَهِدُوْا اوحال داچې شاهدی ویلی وه دوی پردی چې اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ بیشکه دارسول حق دی وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ او راغلے دی دوی ته بښکاره نښے یعنی قرآن یا نورې معجزی وَاللّٰهُ اوخدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾ سمه لار نه بنیې هسے ټولی ته چې ظالمان وی په دے چې ایمان ئې په کفر بدل کړی دی اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی جَزَآؤُهُمْ جزاء دوی چې ده اَنَّ عَلَيْهِمْ داده چې بیشکه همیشه دی پردوی لَعْنَةَ اللّٰهِ لعنت د خدای چې هغه لیرې والے دی له رحمته دده وَالْمَلٰٓئِكَةِ اودملائکوهم چې هغه بلزاسی ده له دوی څخه وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۷﴾ او د ټولو میانو ټولو چې هغه ویل دی پردوے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ همیشه ، به وی دوی په دی لعنت کښے یعنی په دوزخ کښے په سبب د دی لعنت لَا يُخَفَّفُ سپیڅ به نه کړے شی عَنْهُمُ الْعَذَابُ له دوی څخه عذاب د دوزخ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾ او نه به وی دوی چې مهلت به ورکړه شے دوی

لره اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مگر هغه کسان چے پیرته راوګرځی واسلام ته مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ۔
پس له دی مرتدکیدو څخه وَاَصْلَحُوْا تن اونیکی ئے اختیارکړه فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ پس
بیشکه خدای بخښونکی دی رَّحِیْمٌ ﴿۸۹﴾ مهربانه دی پرښه ګانو خپلو اِنَّ
الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چے کافر شوی دی له یهودو یه عِیْسٰی اویه انجیل
بَعْدَ اِیْمَانِهِمْ پس له ایمان راوړو ددوی پرموسیٰ او پر تورات ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا
بیا زیات شوی دی له جهته دکفره ددوی پر رسول علیه السلام یعنی اول ئی کفر
یکچنده وو بیا دوه چنده سو لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ج له سره به قبوله نه کړه شے له
توبه ددوی وَاُولٰٓئِكَ اوداکسان چے دی هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾ هم دوی دی ګمراهان
اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چے کافران دی وَمَاتُوْا اوهُمْ كُفَّارٌ اومړه
شے اوحال داچے دوی لاهم هغسے کافران وی په وخت د مرګ کښے هم فَلَنْ یُّقْبَلَ
پس له سره به قبول نه کړه شے مِنْ اَحَدِهِمْ هغسے له یوه له دوی څخه مِلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا
ډکوالے یعنی پیمانه دتولی ځمکی له سره زر وَّلَوِ افْتَدٰی بِهٖ اواګرکه فدیه ورکی دا
قول نه رحاصل داچے که هریو کافر تمام روئی زمین په سره زر پیمانه کړی اوبیا
دځیل ځان په فدیه کښے ئی ورکوی نو له عذابه دوزخ به په خلاص نه شی
اُولٰٓئِكَ داکسان چے پرکفر مړه دی لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ مقرر دی دوی له عذابه
دردناکه وَّمَا لَهُمْ اونه به وی دوی لره مِّنْ نّٰصِرِیْنَ ﴿۹۱﴾ هیڅوك له مدګارانو ع ۱۱ ۱۸
څخه چے له عذابه ئے خلاص کړی

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ له سره به بیانه مومی تاسے نیکی کامله یا جنت حَتّٰى تُنْفِقُوْا
ترهغو پورې چے ورکړی تاسے په جهت دخدای مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۭ له هغه ماله چے
دیر پرمین یاست تاسے وَمَا تُنْفِقُوْا اوهغه چے ورکوی ئی تاسے مِنْ شَیْءٍ له کوم
شئ څخه که لږ وی که دیر فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چے خدای بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ پرهغه
ښه دانادی روایت دی چے هرکله یهود و وویل رسول ته چے ته وائی زه

پردین دا ابراهیمؑ بہ او غوښے او شیدی داوښانو چے په هغه حرام وو اوته ئې خوری
نو نازل شو كُلُّ الطَّعَامِ هرقسم طعام چے دی که اوس که غیر دی داتول كَانَ حِلًّا
وو حلال لِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وزامنود یعقوبؑ تر اِلَّا مَا حَرَّمَ مگر هغه شے چے په خپله
حرام کړی وو اِسْرَآءِيْلُ یعقوبؑ عَلٰى نَفْسِهٖ پرخپل ځان او هغه. غوښه اوشیدے
وی داوښانو نو مِنْ قَبْلِ اَنْ یخوا له هغه تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ط چے رالیږل کیدی تورات
قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ ووایه چے راوړئ هغه نسخه د تورات چے صحیحه ده فَاتْلُوْهَا
پس وی وایاست تاسے چے حرمت دد ی شیانو په معلوم شے اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۹۳﴾
که یاست تاسے رښتینی او بیا یهود و اِبَا وکړه له حاضرولو څخه د تورات نو د روغ
ئے وهرچاته بنکاره شوه فَمَنِ افْتَرٰى پس هرچا چے و ترل عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پر
خدای دروغ چے دا په ابراهیمؑ هم حرام وه مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ پس له هغه چے بنکاره
شوه دا خبره چے حرمت دد ی شیانو نه وو فَاُولٰٓئِكَ پس دادروغ
ګویان چے دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ هم دوی ظالمان دی چے حق ئې پرایښے دی
قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ وفت ووایه چے رښتیا و یلی دی خدای چے دا حلال وو پر ابراهیمؑ
اوتاسے دروغ وایاست چے پرحرام وو فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ پس پیروی وکړی
تول د دین دابراهیم علیه السلام حَنِيْفًا چے پېڅه وو له هره باطله دینه څخه اومۅحّد
وو وَمَا كَانَ اونه وو دی مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾ له مشرکانو څخه روایت دی چے
هرکله یهود و وویل و مؤمنانو ته چے زمونږ قبله ستاسے له قبلی څخه پخوانی ده
نو نازل شو اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ بیشکه اوله کوټه د مخکی پرسر تُوْضِعَ لِلنَّاسِ چے ساز ه
کړه شوی ده خلکو لره د پاره د عبادت لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ هرائینه هغه ده چے په مکه کښے
یعنے کعبه شریفه لکه حدیث دی چے اِنَّ المسجدَ الحرام وضع قبل بیت المقدس
باربعین سنة مُبٰرَكًا په دی حال چے وکه وه له برکته اومنفعته وَهُدًى اولامړ

مه چې ګرزیدونکی و وله هر باطله څخه وحق ته ۱۲ منه ۱۲ خدای پاک فی واحد لاشریک ګمنلو ۱۲ سه پیغه په
تحقیق سره د مسجد حرام چے دی اینبودے شوی دی او جوړ کړه شوی دی اول له بیت المقدس څخه
خلویښت کاله ۱۲ منه ۲

د خدای یا د جنت بنسونکی دہ لِلْعٰلَمِیْنَ (۹۶) تا مو خلکو ته فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ دی په دے کښے نښی بنکارہ لکه چیپیدل د مرغانو له بامه ځمه د کعبی او مقهوره کیدل د هر بد اختیاره لکه اصحاب فیل اوورکول کیدل د تیږو د رمی په منیٰ کښے او یوځای گرځیدل د لیوانو د هوسیو سره په حرم کښے او یوه غټه نښه یکښی مَّقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ځای دی د دریدلو د ابراهیمؑ او دا یوه تیږه ده چے په وخت د هسکولو (جګولو) د دیوالو د کیښے چے دی پرد ریدے نو قدمونه ئې تر یرکو یکښی ښخ شوی وه وَمَنْ دَخَلَهٗ او هر څوک چے داخل شو په دی کعبه کښے کَانَ اٰمِنًا شی به په امان له عقوبته تر څو چے یکښے وی وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ اولازم دی خدای له پرخلکو حِجُّ الْبَیْتِ قصد د بیت الله شریفی په نیت د حج مَنِ اسْتَطَاعَ هر هغه چا چے طاقت لری اِلَیْهِ سَبِیْلًا دی بیت ته دلاری چے هغه په نزد د امام اعظمؒ شپږ شیان دی صحت د بدن او د بصر قدرت پرنراد او پرړ له امن دلاری چے غالب یکښے سلامتی وی نفقه د عیال چې تر بیرته راتلو ده پوری روایت دی چے هرکله اٰیت د حج راغلی نو رسول ﷺ قول اهل اډیان راجمعه کړل له جهته د عموم د خطاب اوورته ئے وویل چے اِنَّ اللّٰهَ کَتَبَ عَلَیْکُمُ الْحَجَّ ځمکو الو د مؤمنانو خلقو د امر قبول کی او باقی یَحُجُّوا طاعت ووویل چے نه ایمان پرړاوړ و او نه ورته لمونځ کوو او نه د حج له ورځو نو نازل شو وَمَنْ کَفَرَ او هر څوک چے کافر شے فرضیت د حج باندی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چے خدای غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ (۹۷) بے پروا دی له د رستو عالمیانو څخه قُلْ یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ ووایه چے ای اهل کتابو لِمَ تَکْفُرُوْنَ ولی کفر اختیار روی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ﷺ په ایاتو د خدای پوری چے دال دی په صدق د رسولؐ خصوصًا په باب د حج کښے وَاللّٰهُ شَهِیْدٌ اوحال دا چې خدای

ف۱ مطلوبه کیدل او په ځهر اخته کیدل د هر بد او نا کاره سړی په دی کښے ۱۲ ف۲ عده یعنی هغه وړی وړی ډبرے چے په وخت د حج کښے په مزدلفه کښی خلاص هلته د رای سره جمرې په و لی نومیږی د دی چے د بر مخلوق وی اوه یوی د بړو وُلی یکښی خدای ئې پخپل قدرت سره ورکړی په هغه ځای کښے د یوی نه معلومه وجه لکه په حدیث شریف کښے راغلے دی چے مقابل له خدای و اسمان ته خیژوی ۱۲ ف۳ یعنی په تحقیق سره خدای فرض کړی دی پر تا سے تل خانه کعبه ته پس قصد کړی تا سے وړی کعبی ته ۱۲

شاهد او خبره اردی عَلٰی مَا تَعْمَلُوْنَ (۹۸) پرهغه کار وچے کوی ئے تاسے قُلْ یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ووایه چے ای اهل کتابو لِمَ تَصُدُّوْنَ ولی اړوی عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لاری د خدای چے دین د اسلام دی مَنْ اٰمَنَ هغه څوک چے ایمان ئے راوړی وی لکه عمّار او نور ملګری دده یا عام مسلمانان تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا په دی حال کښے چې پیدا کوی تاسے سمی لاری د خدای لره کور والی په تبدیل د نعت محمدیؐ او په انکار له د یرو احکامو او په جنډ اچولو د مؤمنانو وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ط اوحال داچے تاسے شاهدان یاست هم له تورانه اوهم له انجیله پردی چے غوره دین په تولو ادیانو کښی اسلام دی وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اونه دی خدای نا خبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۹۹) له هغوکارو چے کوی ئ تاسے روایت دی چے شاش بن قیس یهودی یوه ورځ په د له داوس او دخزرج تیرشو اودوی خوږ مجلس سره کاوی نو یوه ورځ لی ئے وروليږی او تیری دښمنی اوجنګونه اوپیغورونه ئ ورياد کړل او په جنلې ئ سره واچول نو دیر مخلوق راجمع شو او ناری شوی السلاح السلاح اورسول ئ پخپله راغی اودوی ته ئے وویل چے تاسی بیا هغه د جاهلیت کارونه برپا یه کړه پس له رڼو سی اودوستی او اسلامه اونږه لاهم په مینځ کښے ناست یم نو پینیمان شو او وسلے ئ وغورځولی او سره غاړه په غاړه شو نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنْ تُطِيْعُوْا اګه فرمان ومنی تاسے فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ د یوی فرقې له هغوکسانو اُوْتُوا الْكِتٰبَ چے ورکړه شویدی وراړه کتاب لکه شاش بن قیس او ملګری دده يَرُدُّوْكُمْ نو بیرته به وګرځوی تاسے بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ پس له ایمان راوړی نو تاسے كٰفِرِيْنَ (۱۰۰) کافران وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ اوڅرنګه به کفر اختیا روی تاسے وَاَنْتُمْ اوحال داچے تاسی چے یاست تُتْلٰى عَلَيْكُمْ لوستل کیږی پرتاسے اٰيٰتُ اللّٰهِ ایتونه د خدای یعنی قران وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ط اودی په تاسے کښے استاذی دده وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ اوهغوک چے منګولی ئے بنځی کړی په خدای پښے په دین یا په کتاب دده فَقَدْ هُدِيَ پس په تحقیق برابر کړی شوی دی اِلٰى صِرَاطٍ

عه په بدلو لو د صفت د محمد صلے اللہ علیہ وسلم ۱۲ عمه یعنی راواخلی وسله راوا خلے وسله ۱۲

ع ۱۶ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۱۰۱﴾ لا ری سمی او لندی ته يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ای مؤمنانو وبیریږی له خدایه حَقَّ تُقٰتِهٖ حق د بیری دده اوعلماء وائی چه دا په دری کارو سره کیږی چی تل فرمانبرداری کوی او هیڅیری گناه نه کوی او تل شکر گذاره وی او هیڅیری بی قدرۍ نه کوی او تل یاد کاره وی او هیڅیری هیروی نه کوی او دا حکم بیا په نزدې اکثرو منسوخ شوی دی په دی آیت چه فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ یعنی پرهیزگوی چه مقدور وی ستاسی وَلَا تَمُوْتُنَّ اوله سره مه مری تاسی اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ مگر هله چه یاست تاسی مسلمانان اودا ځکه په حقیقت کښی امر دی یعنی مدام په اسلام کلک اوقائم اوسے چی که هرو خت مرګ راشی پرتاسی نو په حال د اسلام کښی به ګُلار شے وَاعْتَصِمُوْا اومنګولے ښځ کړی په رشتیا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا په یوی دخدای چه قرآن دی قول لکه چه حدیث کښی راغلے دی القرآن حَبْلُ اللّٰهِ المتین الخ وَّلَا تَفَرَّقُوْا اس او مه سره مختلف کیږی لکه اختلاف د یهود او نصاریٰ وو یا لکه اختلاف ستاسی چه وو یخوا په زمانه دجاهلیت کښی وَاذْكُرُوْا اویادکړی نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ نعمت دخدای پرتاسی چه هغه اسلام اوقرآن اوهجرت د پیغمبر تاسی ته دی او یادکړی اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً هغه وخت چه واست تاسی د یونمان سره پخلو کښی په اسلام سره فَاَصْبَحْتُمْ پس سواست تاسی بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ج په رحمت دده سره ورونه په دین کښی یا لکه دیوی مور زامن په دوستی اوپه محبت کښی وَكُنْتُمْ اووا ست تاسی عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ په غاړه د کندی مِّنَ النَّارِ له اوره د دوزخ په سبب د مګړاهے اودکفر فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا پس خلاص ئی کړلاست تاسی له هغه کندی یا له اُوره په اسلام سره كَذٰلِكَ هم داسے لکه چی دا تیر بیان ئی وکی دعداوت اوبیا د محبت ستاسی يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای لَكُمْ اٰيٰتِهٖ تاسی ته ښنی د قدرت اود وحدانیت خپل لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ ښا ئی چه تاسی محکم شی په هدایت خپل وَلْتَكُنْ اومیبا ید چه وی دی همیشه مِّنْكُمْ اُمَّةٌ له تاسی یوه ټولی يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ چه بولی خلګ ښیکی ته که د دین که د دنیاوی یا الفت او اتفاق ته یا لمانځه ته لکه مؤذنان وَيَاْمُرُوْنَ

عه یعنی داچه ولا تموتن دی ۱۲ منه یعنی د قرآن چه دی پری دی دخدای چی محکم دی ۱۲

بِالْمَعْرُوْفِ او امر کوی وخلکو ته په معروف سره یعنی په هغه کار چې عقل وشرع ئې دواړه خوښوی یا له قرآنه او له حدیثه دواړه سره موافق وی وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط اومنع کوی دوی له منکر یعنې له هغه کاره چې شرع اوعقل ئې دواړه نه خوښوی یا چې له قرآن او له حدیثه سره مخالف وی وَاُولٰٓئِكَ اوداسې خلق نه دی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ هم دوی برئیالی دی فَاُولٰٓئِكَ په اتفاق دعلماوو دا ایت صریح دی په دې کښې چې امر دمعروف اونهی دمنکر څخه فرض کفایۍ دی په سبب دمِنْ تبعیضیه سره وَلَا تَكُوْنُوْا او مه کیږئ تاسے كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا په مثل دهغه یهودو او نصارئ وو چې طالبی شوه سره لکه سامریه او موشکائیه له یهودو او ملکائیه او نسطوریه له نصاریٰ وو وَاخْتَلَفُوْا او مختلف شوه سره په دین کښې مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ط چې راغلی وو دوی لره بشکاره دلیلونه یعنې تورات او یا انجیل کښې موجب داتفاق په کلمه د توحید وَاُولٰٓئِكَ اودامتفرقان مختلفان چې دی لَهُمْ مقرر دی دوی لره عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۰۵﴾ عذاب لوی يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ په هغه ورځ چې به سپینې شی بعض مخونه یعنی دمؤمنانو وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ او تور به شی بعض مخونه د کافرانو فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ پس هرچې هغه کسان چې تورشوی دی وُجُوْهُهُمْ قد مخونه ددوی ورته وبه ویل شی اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ایا کافران شوی واست تاسے پس له ایمان راوړلو ستاسے او مراد له دی څخه یا مطلق کافران دی حکم چې ایمان ئې په ورځ دمیثاق راوړی وو او یا منافقان دی چې په ظاهر کښې خو ئې ایمان راوړی وو اګرکه په باطن کښې لږ نه وو او یا اهل کتاب دی چې پرړسول ئې ځکې ټ ظهور ایمان راوړی وو او بیا پس له ظهوره کافران شوه او یا مرتد شوه فَذُوْقُوا الْعَذَابَ پس وڅکی داعذاب ده وبرخ بِمَا كُنْتُمْ په سبب دوی چې واست تاسې تَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ چې کافر کیدلاست پس له ایمانه وَاَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ او هرچې هغه کسان چې سپینې شوی دی وُجُوْهُهُمْ مخونه ددوی فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ پس په رحمت دخدائ

عه یعنی برې او خلیه موندونکی دی په نفس او شیطان باندې ۱۲

کښے به وی یعنی په جنت کښی هُمْ فِیْهَا وی به داسپین ښی په دی رحمت پاته جنت کښی خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ همیشه نه به مری او نه به ځندی ونړی تِلْكَ اٰیٰتُ اللّٰهِ دا ټیر احکام اواخبار نښے دخدای دی بعض د وَعد اوبعض د وعید اوبعض د عبرت نَتْلُوْهَا عَلَیْكَ چے لولونی مونږ پرتا په واسطه د جبرائیلؑ سره بِالْحَقِّ ؕ په حق یعنے په عدل سره په جزا دنیکانو اود بدانو کښی وَمَا اللّٰهُ اونه دی خدای یُرِیْدُ ظُلْمًا چی اراده لری د ظلم لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ د پاره د عالمیانو چے بی گناه و نیسی یا عذاب پرنږ یات کی یا ثواب پرکم کی وَلِلّٰهِ اوخاص لره دی پرطریقه د ملکیت سره مَا فِی السَّمٰوٰتِ هرهغه چی په اسمانو کښے دی وَمَا فِی الْاَرْضِ اوهرهغه چے په ځمکه کښی دی وَاِلَی اللّٰهِ اوخاص خدای ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۱۰﴾ بیرته گرنږول کیږی تولے کارونه روایت دی چی هر کله اُبی بن کعبؓ وویل مالك بن الصیف یهودی ته چے نږمونږ دین غوره دی ستاسے لره دین څه اومونږ غوږ یو لره تاسے نو د پاره د تصدیق ددی نازل شوکُنْتُمْ واست تاسے ای اُمّته د رسولؐ لاپخوا په علم دخدای کښی یا په لوح محفوظ کښے یا په کتابو د ټیرو پیغمبرانو کښے اواوس هم یاست خَیْرَ اُمَّةٍ غوږ د هرهغه امت اُخْرِجَتْ چے ایستل شوی دی له عدمه وجوده ته اوظاهر شوی دی لِلنَّاسِ خلکوته فائده غوږ والی ددی اُمت په دی سبب دی چے دوی په ورځ د میثاق په جواب د اَلَسْتُ بربکم کښے تلوار کړی دی تر نورو اُمموا و یا چے دوی د رسولؐ تر بیرغ لاندے دی لکه چے محمد بصیری قدس الله سرّهٗ ویلے دی . بیت

لما دعی الله داعینا لطاعته باکرم الرسل کنا اکرم الامم

ترجمه :- هرکله چے وبالی رسول نږمونږ خدای بهترد رسولانو مونږ بهترشو داممواو دی خدای په دی حدیث قدسی کښے غوږ بللی دی چے انتم خیر الرسل وامتك خیر الامم اوما غوږ والی ددوی په هغو درو شیانو دی چے ځمکښی ذکر

عه یعنی په ورځ د وعدی اخیستو دخدای له نږ وحانونځمه چے الست بربکم وی نه تاسے ولی وه ۱۲
عه یعنی ته چے ای محمدؐ بهترد تولو نږسولانو یؐ او امت ستا بهتره د تولو امتونو دی ۱۲

دی لکه چه وائی تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ چه امر کوی پرهرڅیز په کولو دنیکی وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ او منع کوی هرڅوك له بدو څخه وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ط او ایمان راوړی پرخدای یعنی مدلومت پرکوی اوهروخت ئی تجدید کوی وَلَوْ اٰمَنَ اوکه ایمان راوړی اَهْلُ الْكِتٰبِ بنی اسرائیلو پرپیغمبر سول او پرمنزّل دده چه قرآن دی اوباور ئی پروکړی لَكَانَ نوهرا ئینه ووبه دا ایمان خَيْرًا لَّهُمْ ط هیر غوره دوی لره مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ بعض له دوی مؤمنان دی لکه ابن سلام اوملګری دده وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ (۱۱۱) اونه یات له دوی څخه فاسقان دی لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ له سره به ضرر نه رسوی دوی وتاسے ته له هیڅ بابه اِلَّآ اَذًى ط مګر لږ یعنی تش دخولی بهتان یا بیرول له جنګه یابلل چپل دین ته وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اوکه جنګ کوی له تاسے سره دوی يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ تف نو وبه ګرځوی دوی تاسے ته شا خپله یعنی وبه تښتی درڅخه ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ (۱۱۲) بیا به مدد ونه کړه شے ورسره پس له ما تی نه دخلګو او نه دخالق ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ مقرر کړه شوی دی پردی یهودو خواری یعنی جزیه یا خوف د فقر اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا هرچیری چه بیاموندای (پیدا کیږی) شے دوی نوهغه خواری به ور سره وی په هر وخت کی اِلَّا بِحَبْلٍ مګر په هغه وخت کی چه ځان ئی مُښلولی وی په هغه پری پوری مِّنَ اللّٰهِ چه له طرفه دخدای دی اوهغه پری عهد دی وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ اوهغه پری پوری چه له طرفه دخلګو دی چه مؤمنان دی اوهغه ذمه ده دمؤمنانو او امان دی ددوی په اذن دخدای سره پس له قبولو د جزیی وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ او بیرته وګرځیدل دوی یعنی ولږل شول په قهر مِّنَ اللّٰهِ له جانبه دخدای یعنی لایق شوه دقهر وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ط اومقرر کړه شوی دی پردوی فقر په عوض ددی کښے چی دوی به ویل اِنَّ اللّٰهَ فقیر ونحن اغنیاء یا ویره دفقر سره له توانګری ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ داذلت اومسکنت اورجوع په غضب په سبب ددے دی چه بیشکه دوی كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ وو دوی چه له هیره عناده ئی کفر اختیار کړی وو

عه یعنی په تحقیق سره خدای ضعیفردی اوموږ غنیان یو ۱۲

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ په اٰیتو دخدای یعنی په قرآن پورې یا په نورو معجزو پورې یا پوځتل به ئې اٰیتونه دتورات وَيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ اووژل به دوی پیغمبران یعنې نیکه کا نودوی اودوی هم په راضې دی بِغَيْرِ حَقٍّ ط بې موجبه د قتل په اعتقاد دوی کښې ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا دا کفر او قتل په سبب ددی دی چې بې فرمانۍ کړیده دوی له خدایه څخه وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ اوو دوی لاپخوا له دی څخه چې تیرید له به له حد ودوځه دخدای فائدہ هرکله چې بیان کې رب العزت حال داکثرو فاسقانو د اهل کتابو نو ارادہ ئې وکړه دبیان دحال د بعض له دوی چې مؤمنان دی نو نازل شو لَيْسُوْا سَوَآءً ط نه دی داقول اهل کتاب سره برابر مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ بعض له اهل کتابو چې دی اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ یو قولې ده ولاړ ثابت پردین د اسلام یا په حد ودود خدای یا مستقیم پرلاړ دخدای اودا قولې یا یهود ددی لکه ابن سلام اوملګری دده اویا نصرئ دی چې هغه یوسل او څلویښت ۱۴۰ تنه دی چې دوه دیرش ۳۲ له حبشو او څلویښت ۴۰ له نجران او اته شپیته ۶۸ له رومه چې امت دعیسیٰ ؑ وو او بیا ئې ایمان پر رسول هم راوړی دی يَتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ لولی دوی اٰیتونه دخدای یعنې قرآن اٰنَآءَ الَّيْلِ په ساعاتو د شپې کښې وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ اوحال داچې دوی سجده کوی د تلاوت یا تهجد کوی يُؤْمِنُوْنَ ایمان راوړی دوی بِاللّٰهِ پر وحدانیت دخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په را تلونکو قیامت وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ او امرکوی وخلکوته په ایمان او په کولو د نیکی سره وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ او منع کوی خلک له کفره او له نورو بدیو څخه وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ط او تلوار کوی په کولو د ښو کارو کښې وَاُولٰٓئِكَ اودا کونکی ددی تیرو کا روچې دی مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ له صالحانو څخه حساب دی دخدای په نزد وَمَا يَفْعَلُوْا اوهرهغه څه چې کوی ئې دوی مِنْ خَيْرٍ له نیک کاره فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ط پس له سره به بې قدرۍ ونه کړه شي له دوی سره په کمولو د حساب وَاللّٰهُ اوخدای عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ ښه دانادی پرپرهیزګارو

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ له سره به دهغه

عه یعنی پس له سره به پټ نه کړه شي له دوی څخه دغه ښه کار چې ثواب به ئې ورنه کړل شي ۱۲

نه کی له دوی څخه اَمْوَالُهُمْ مالونه دوی وَلَآ اَوْلَادُهُمْ او نه فرزندان دوی مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له خدایه یعنی له عذابه دده هیڅ قدر شے وَاُولٰٓئِكَ او داکفار چے دی اَصْحٰبُ النَّارِ اهل دی دوزخ هُمْ فِيْهَا لٰخٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ دوی به په دی اوږکښی همیشه وی مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ مثال دهغه مبلغ چے ورکوی ئی داکفار یا منافقان یا یهود فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دی واړه ژوندون کښے كَمَثَلِ رِيْحٍ په مثال دباد دی فِيْهَا صِرٌّ چے وی په دی بادکښی دیره یخنی اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ چے وړ سیږی دابادکښت دهغه قوم ته چے شرك اوپه معاصیو سره ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ظلم ئی کړی وی پرځانوڅپلو فَاَهْلَكَتْهُ ط پس هلاك کی دابادهغه کښت وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ او ظلم نه دی کړی پردوی خدای وَلٰكِنْ اولیکن اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ پرځانوڅپلو به ئی ظلم کاوه فائدہ یعنی لکه چے هغه په کښت مبلغ ولګوی اوهم پکښے خپل ځان وسولوی او بیا هیڅ قدر نفعه ځندی وانه خلی هم داسے داکفار هم مالونه صرفوی په جنګوا و په نورشو تو کښے اوهم ځانونه وژنے او نقصان دسرا ومال ئی دوی ته هیڅ قدر نفعه ونه رسوی روایت دی چے څرکله بعض اصحابو له یهود وسره یا له منافقانوسره دوستے اوښاری پرپایه کړی وه په سبب دخپلوی یا دمرضاع یا د ګاونډیتوب نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مومنانو لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مه پیدا کړی پښه دوستی له هیڅ فرقے سره مِّنْ دُوْنِكُمْ پرته له تاسے یعنی غیر له خپلو مؤمنانو نبل دهیچا سره دوستے مه کوی ځکه چے لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا هیڅ کمی نه کوی دوی ستاسے په دین او په دنیا کښے دفساد یعنی ځوچے وسع ئی سیږی هومره فساد په تاسے کښی اچوی وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ج دوستګنی دوی ضرر او مشقت ستاسی قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ پرته تحقیق بنکاره شویده بغض او دښمنی مِنْ اَفْوَاهِهِمْ له خولوڅخه دوی یعنی له خولی څخه دوی دزړه احوال معلومیږی وَمَا تُخْفِيْ

عه رضاع یعنی چے سړه ئی یوځای رودلی وو ۱۲ عمه کاوندی توب یعنی چی یوځای یا نژدی به یو دبل سره او سیدلی ۱۲

صُدُورُهُمْ اوهغه بغض اوعداوت چې پوتوی ئې سینے ددوی اکْبَرُ زیات دی لهٰذا هغه چې دوی په شر به وائے قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ په تحقیق سره بیان کړه مو ورته تاسے ته ایتونه په باب ددوستی دمؤمنانو اوددبنمنی دمخالف د ینوکښے اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ (۱۱۹) که یاست تاسی چې تعقل کولای شی ددوستی اوددبنمنی هَآ اَنْتُمْ واوری تاسے چې یاست اُولَآءِ هغه سادګان یاست تُحِبُّوْنَهُمْ چې مینه کوی پردوے وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ اودوی مینه نه کوی پرتاسے وَتُؤْمِنُوْنَ اوحال دا چې تاسی ایمان راوړی بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ پرکتابونو تولوچے له خدایه څخه راغلی دی اودا اهلته که مراد جنس شے یا په درست کتاب ددوی وَاِذَا لَقُوْكُمْ او په هغه وخت کی چې پیښ شی دوی پرتاسے قَالُوْٓا اٰمَنَّا نوواٸی چې ایمان راوړی دی موږ هم ستاسے په شان وَاِذَا خَلَوْا او په هغه وخت کی چې یوازی شے دوی سره پخلو کښے عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ نوچیچی دوی په تاسے ګوتی خپلی په سبب دد بنمنی ستاسے مِنَ الْغَيْظِ له دیره قهره اوبغض خپل سره قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ط ووایه ورته مره شے په سبب دغصی خپلی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۱۱۹) بیشکه چې خدای بنه داندی په هغه کړه چې په سینوکښے وی او په هغه کینه اوحسد چې په زړه نوکښی وی نوجزاء د خپل عمل به هرچا ته ورکړی اِنْ تَمْسَسْكُمْ که ورسیږی وتاسے ته حَسَنَةٌ کوم قسم خوبانی لکه ارزانی یا فراغی یا تصرف یا غنیمت تَسُؤْهُمْ زنوخفه کوی داستاسی خوبانی دوی وَاِنْ تُصِبْكُمْ اوکه ورسیږی وتاسے ته سَيِّئَةٌ کوم قسم خفګان لکه قیمتی یا تنګی یازخم یا هزیمت يَّفْرَحُوْا بِهَا نوخوشحاله شے دوی په دی خفګان ستاسے وَاِنْ تَصْبِرُوْا اوکه صبروکړی تاسے په هغو سختیو چې تاسے له کفار وڅخه ورسیږی وَتَتَّقُوْا اوځان وه ساتی له دوستے اولهٔ کلو نه ددوی څخه لَا يَضُرُّكُمْ نوضرر به و نه رسوی تاسے ته كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ط دامکراوفریب ددوی هیڅ قدر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای بِمَا يَعْمَلُوْنَ په هغه کارو چې کوی ئې دوی مُحِيْطٌ (۱۲۰) چاپیره کید ونکی دی علم

عه یعنی چې پیژنی له دوستی له چاسره مناسبه وه اودبنمنی له چاچاسره مناسبه ۱۲ ص

دده روایت دی چې هرکله ابوسفیان په دریم کال د هجرت له دری زره ولښکرسره چې
اوه سوه پکښې زغره پوش وو او دوه سوه سواره په اراده د جنګ راغله او د اُحدسره
کښته سوه اورسول علیه السلام هم ورروان شو په وړځ د جمعې په اومه یا په دولسمه د
شوال له مدینې نو وکسا نو سره او دری سوه منافقان پرلاری خُندی راغله او اووه سوه -
اصحاب ورسره ولاړه دکفارو وسخی ته اوعبدالله بن جبیر رضی الله عنه ئې له پنځو سو تیراندازو سره
په کنډو د اُحد باندی مقرر کی چې که مورچه غالب شو او که مغلوب شو تاسو هم پردی
ځای ولاړاوسی بیاهرکله چې جنګ بنا شو اوکفارمات شو او مؤمنان په لوټ ولګیدله
نو دهغه کنډ وخلاړ اکثر په لوټ پسې بې اذنه راکښته شول اوکفار له هغه کنډ وشخه
بیرته راوګرځیدل او اویا تنه اصحاب له امیرحمزه رضی الله عنه سره یکځای شهیدان شوه او
درسول علیه السلام غاښې مبارک هم مات شو نو په بیان ددی حال کښې نازل شو وَاِذْ
غَدَوْتَ او یاد کړه ای رسوله چې راووتې ته چا بنت مِنْ اَهْلِكَ له عیال خپله یعنې
له حجرې څخه دبې بې عائشې تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ چې تیاروله دی مؤمنانو ته مَقَاعِدَ
لِلْقِتَالِ مورچې دپاره د جنګ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾ او خدای اوریدونکی دی
داقوالوسته سره دنادی په نیتو ستاسی اِذْ هَمَّتْ په هغه وخت کې چې اختیار
وکړی طَّآئِفَتٰنِ مِنْكُمْ دوو فرقو له تاسه ای انصارو چې بنو سلمه له اوس اوبنو
حارثه له خزرج وو اَنْ تَفْشَلَا دددی خبرې چې بې زړه شے او بیرته وګرځی له منافقانو
سره اوولی به بیرته ګرځیدل وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا اوحال داچې خدای یارا وساتونکی
ددوی دی اوتوکل ئې ولی نه کاوی وَعَلَى اللّٰهِ اوخاص پرخدای فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۲﴾
میایدچې توکل دی وکړی مؤمنان چې دی ئې ناصرشے په شان دبدرلکه چې وَلَقَدْ
نَصَرَكُمُ اللّٰهُ اوپه تحقیق سره مدد کړی وو له تاسه سره خدای بِبَدْرٍ په جنګ دبدر کښې
چې ځای دی په مینځ دمکې اومدینې کښې وَاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ اوحال داچې تاسی ذلیلان
عاجزه واست په نظر دبنمنانو کښې حُکمه چې تاسی دری سوه ۳۱۳ دیارلس تنه واست او

ده ۔ یعنې دغنیمت په مال اخته شوه ۱۲

دوی یونۍ ژغکیالی وو فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ویره وکړی له خدایه لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (۱۲۳)
بنائی چې تاسے شکر وکړی پر نعمتو دده اِذْ تَقُوْلُ یاد که هغه چې وویل تاپه ورځ
د بدر لِلْمُؤْمِنِيْنَ د مؤمنانو ته اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ ایا بس به نشي ستاسے اَنْ يُّمِدَّكُمْ
رَبُّكُمْ داچې مدد وکړی له تاسے سره رب ستاسے بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ په دری زره سورو
سره مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ (۱۲۴) له ملائکو څخه چې را لیږل شوی وی له پاسه اوچاویلی
دی چې دا نزول ددری زره ملائکو اووعده دپنځو زرو په ورځ داحُد وه لیکن په
شرط د صبر اود تقویٰ لکه چې وائۍ بَلٰٓى ولے به بس نه شی بلکه بس به شی اِنْ
تَصْبِرُوْا که صبر وکړی په جنګ کښی وَتَتَّقُوْا اوپرهیز وکړی له مخالفته درسول
وَيَاْتُوْكُمْ اوراشی دامشرکان پرتاسے مِّنْ فَوْرِهِمْ لهذا یونا څاپه په دغه ساعت
بے مداره يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ نومدد به وکړی دتاسی سره رب ستاسے بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ په
پنځه زره سورو سره مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ له ملائکو څخه مُسَوِّمِيْنَ (۱۲۵) نښه کونکی داسانوخپلو
په سپینو وریږو په لکیو یادګانو خپلو په سپینو پګړیو چې شملې ئے پرشا
اویزانه وے اماهرکله چې دوی صبراوپرهیزونه کړو نوملائکی راته غلے وَمَا جَعَلَهُ
اللّٰهُ اونه دی ګرځولی دا امداد یا انزال خدای اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ مګر محض زیری قدر
تاسے لره د فتحې وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ او دپاره ددی چې پرارام شے زړونه ستاسے
په دی وعده دنصرت سره وَمَا النَّصْرُ اونه دی دامد په واقعه کښی اِلَّا مِنْ عِنْدِ
اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ (۱۲۶) مګر له جانبه دهغه خدای چې ډیر غالب او پرحکمت دی
نه له لښکرو او له ملائکو اود املائکی چې خدای رالیږلی وی په ورځ دبدر
لِيَقْطَعَ طَرَفًا دپاره ددی چې پرې کړی یوځنډ مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا له هغو کسانو څخه
چې کافران دی یعنی څه ځندی مړه کی اوڅه ځندی بندیان کی لکه چې اوتیا تنه
مشرکان ئے مړه کړه اواوتیاتنه ئې بندیان کړه اَوْ يَكْبِتَهُمْ یائی خوار اوزار کی فَيَنْقَلِبُوْا
خَآئِبِيْنَ (۱۲۷) پس بیرته ولاړ شے په ماتی ناامیده له خپلی برخې روایت دی چې

ع۱۵ مدد کول او نازلول د ملائکو ۱۲

هرکله ﷺ رسول له قتله او له بدرنگی څخه دخپل تره خبر شو نو په ډیره کینے دا راوګرزیده چې دی کفارو په حق کښی څه بنیری وکړم یا چې وځولی دده مات شو نو ئې ویل کیفَ یفلحُ قومٌ خضبوا وجه نبیهم بالدم یعنے څرنګه به خلاص شے هغه قوم چې سور کړی ئې دی ځپ دپیغمبر خپل په وینو نو نازل شو لَیْسَ لَکَ مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ له دی کاره ددوی اختیار دهیڅ شی او دایوه جمله معترضه ده چې په مینځ د معطوف علیه کښے را غلی ده دیاره دا ګاڼے پردی چې ته رسول ئے او پرتا رسول دپیغام دی اوتور کل اختیار د رب دی که ئې هلا کوی او که ئے ما توی اَوْ یَتُوْبَ عَلَیْهِمْ یا رجوع کوی پردوی په توبه قبلولو دوی سره په مسلمانولو دوی اَوْ یُعَذِّبَهُمْ یا په عذابولی دوی نو داهم مناسب دی ځکه چې فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ پس بیشکه چې دوی ظالمان دی وَ لِلّٰهِ اوخاص خدای لره دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ هرهغه شی چې په اسمانونو کښی دی وَ مَا فِی الْاَرْضِ اوهر هغه چې په ځمکه کښی دی یَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ بخښنه کوی وهرهغه چا ته چې اراده ئې وشے وَ یُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ او په عذابوی هرهغه څوك چې اراده ئې وشی وَ اللّٰهُ او خدای غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۹﴾ بخښونکی دګناهو دی مهربانه دی پربندګانو خپلو با ندی روایت دی چې په جاهلیت کښے به یوه سړی وبل ته درهم ورکی یو په دوو ترمیاشتے پوری او بیا پس له میاشتے به ئې ورته ویل چې دا مبلغ می اوس راکه او یا ته پرما سود علاوه که اونږه به موده علاوه کړم نو په منع د مطلق سود کښی خصوصًا په دی شان کښی نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا مه خورئے اومه اخلی سود اَضْعَافًا پردی حال چې په غټ ګرځ وچنده سره وی او بیا هسی اضعاف مُّضٰعَفَةً ځې چې بیا بیا غټ کړی شوی وی په ډیا تولو سره یعنے بیا بیا ډیا تول مه کوی وَ اتَّقُوا اللّٰهَ او وویریږی له خدایه اوږیږامه کوی لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ بنائی چې تاسے خلاص شے له قهره دده وَ اتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْۤ اوڅان وسائق له هغه اوره اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۳۱﴾ چې تیارکړه شوی دی کافرانو ته

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ او فرمان ومنی د خدای وَالرَّسُوْلَ او د رسول عليه السلام لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ (۱۳۲) بنائی چے تاسی مرحوم شی یعنی رحم درباندی وشی وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ او تلوار وکړی بخښنے ته مِّنْ رَّبِّكُمْ له ربه خپله یعنی تلوار او ډیرحرص کوی په هغه کار وچے رب پرراضی کیږی او وتاسے ته مغفرت کوی چے هغه کلمه دشهادت ده یا په ترتیب کول د فرضو یا تکبیر اولی یا اول صف یا استغفار یا اخلاص دی وَجَنَّةٍ او تلوار کوی هغه جنت ته چے په فراخی کښے عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ پلنوالے د هغه اووه سره اسمانونه دی وَالْاَرْضُ او مځکه ده یوازی پلنوالے ئی په قدر ددی تولو دی او دا اوږد والی ئی له سره اندازه نشته اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ (۱۳۳) چے تیارکړه شوی دی پرهیزګارانولره اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ هغه کسان چے ورکړه کوی د خدای په جهت فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ هم په ارزانی اوهم په قیمتی کښے یا هم په توانګری اوهم په تنګدستی کښے وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ اوچے ځانونکی د قهر وی سره له قدرته په انتقام وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ ط اوچے عفوکونکی د تقصیراتو وی له خلکو وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ (۱۳۴) او خدای خوښوی نیکی کونکی روایت دی چے یوه ورځ بنهان تمار لره یوه بنځه راغله چه ده خرما خرڅوله اوده په بها نه د غوره خرما وو دننه بوتله او هلته ئی غیږ پرورګرزول اوقبله (چه) ئی خندی واخیسته نو دی بنځې نصیحت ورته شروع کی چے له خدایه وویږه اونارواماته کوه نو دی پښیمانه شو اورسول ئی لره راغلے اوحال ئی ورته بیان کی اونبی ﷺ ملامتیا پرو ویله اووه ئی ویل چے زه لا په تاسے کښے ناست یم اوتاسے داسے کارونه کوی نو نازل شو وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً چه وکی دوی نالایقه کار لکه زنا یا مطلق کبیره گناه اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ یا ظلم وکی دوی پرځانونو چیلو لکه بدګفتار یا صغیره یا مقدمات د زنا لکه لمس یا معانقه یا تقبیل شو ۱۰ او بیا پس له کولو د ے فاحشے یا ظلم ذَكَرُوا اللّٰهَ یاد کی دوے

---

۱۰ یعنی چه خرما به ئے خرڅولے ځکه چه تمار ورته ویل کیږی ۱۲ عفا عنه و مبی راوانی، کاروونه د زنا ۱۲
عه لاس وهل په اچتے بنځه باندے ۱۳

خدای یعنی دوه قهر عاصیانو نه یا له مغفرته دده تائبانو نه فَاسْتَغْفَرُوا پس بخښنه وغواړی دوی له خدایه لِذُنُوبِهِمْ د پاره د ګناهو خپلو وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ او څوك دی چې بخښي ګناهونه یعنی بل هیڅوك نشتون ګناهونه نه بخښي اِلَّا اللّٰهُ قسم مګر خدای وَلَمْ يُصِرُّوا او مدامومت نه کوی دوی عَلٰى مَا فَعَلُوا پر هغه ګناه چې کړی ده دوی په غلبه د شیطان وَهُمْ يَعْلَمُونَ (۱۳۵) او حال دا چې دوی پوهیږی چې موږ بد کړی دی اُولٰٓئِكَ دا متقیان چې دی جَزَآؤُهُمْ مَغْفِرَةٌ جزا ددوی بخښنه ده مِنْ رَبِّهِمْ له رب یه ددوی وَجَنّٰتٌ جنتونه تَجْرِي او باغونه دی چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د بنګلو یا د ونو ددی خلور قسمه ولی د اوبو د شیدو د شرابو او د شاتو خٰلِدِينَ فِيهَا چې همیشه به وی دوی په دی باغونو کښی وَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِينَ (۱۳۶) او ښه دی اجر د عمل کونکو د مغفرت او جنت قَدْ خَلَتْ په تحقیق سره تیر شوی دی مِنْ قَبْلِكُمْ پخوا له تاسی سُنَنٌ لاحادثې په پخوانیو امموکی لکه طوفان یا غرق یا خسف یا مسخ یا تند باد یا تند اواز فَسِيرُوا والی فِي الْاَرْضِ پس وګرځی په محکمه کښې فَانْظُرُوا پس وګورئ کَيْفَ كَانَ چې څرنګه و وعَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ (۱۳۷) اخر کار د نسبت کونکو د رسولانو نه هٰذَا دا قرآن یا دا قصه د بدر او د اُحد یا دا حال د پخوانیو بَيَانٌ لِلنَّاسِ بنوونه ده وعوامو خلګو ته وَهُدًى او لارښوونه برابروی دی وَمَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّقِينَ (۱۳۸) او پند دی پرهیزګارانو نه وَلَا تَهِنُوا او مه سستیږی له جهاده په سبب د شکست خپل وَلَا تَحْزَنُوا او مه خفه کیږی په زخم او په قتل خپل او په فوت د غنیمت وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ او تاسی هم برالی یاست محکمه چې په بدر کښې پر دوی زیات شوی واست یا چې تاسی سره وعده د غلبې شوی ده لکه په دی آیت کښې چې ده اِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُونَ یا چې ستاسی جنډ خدای او د دوی د شیطانی دی یا چې ستاسی مړی په جنت

عه په ۱ امت د نوح علیه السلام ۱۲ سه ۵ د هیبل په درباب کښې لکه قوم د فرعون ۱۲ سه ۵ د هیبل په دچه محکمه کښې لکه قارون ۱۲ سه ۵ لکه پر عاد یا ثمود ۱۲ سه یعنی په تحقیق سره د له نرمو برچه ده هم دوی غالب دی ۱۲

کښے دی د دوی دا په دوبرخ کښی دی نو سُستی مه کوی اِنْ کُنْتُمْ که یاست تاسے مُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۳۹﴾ مومنان نظم

سُستی مه کوی په جنګ کښی	هم خفګان په ما اصّاب
تاسے یاست ددوی د پاسه	که ایمان لری په اَبْ
تاسے مری د رب په لارے	شهیدان جنت ما بْ
دوی په لاری د شیطان مری	اوس ئے ځای ځوښی کباب

اِنْ یَّمْسَسْکُمْ که ورسیدی وتاسے ته قَرْحٌ زخم په اُحد کښی فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ پس په تحقیق سره رسیدلی وو قوم دکفارو ته هم قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ط زخم په شان د زخم ستاسے په بدر کښے او دوی په بے زړه نه شو نو تاسے هم مه بے زړه کیږی وَتِلْكَ الْاَیَّامُ اوداورځی د ژوندون چے دی نُدَاوِلُهَا چو رلوو (گرزوو) ئی موږ بَیْنَ النَّاسِ ۚ په مابین دخلګو کښے چی کله دا غالب هغه مغلوب شی اوکله هغه غالب اودا مغلوب شی ۔ بیت :۔ فَیَوْمًا عَلَیْنَا وَیَوْمًا لَّنَا وَیَوْمًا نَسَآءُ وَیَوْمًا نَسُرُّ (ترجمه) : کله کله پرموږ راشی اوکله نه موږ شے ۔ کله شو موږ خوشحاله کله شوخفه اوکله تنګ اوچوړ لوو (گرزوو) موږ دا ورځی دپاره دپرو مصالحو وَلِیَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او د پاره ددی چی معلوم کړی خدای هغه کسان چے ایمان ئی راوړیدی په علم شهودی سره لکه چے معلوم وو وسره ته په علم غیب سره چی څومره قد رصبر او استقامت لری وَیَتَّخِذَ مِنْكُمْ اوبل دپاره ددی چے ونیسی خدای بعض له تاسے شُهَدَآءَ ط شهیدان یاشاهدان له طرفه دپخوانو انبیاؤ پرامتودوی وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۰﴾ اوخدای نه خوښوی ظالمان وَلِیُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اوبل دپاره ددی چے پاک کړی خدای مومنان له ګناهونو څخه په انواعو د سختیو سره وَیَمْحَقَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۴۱﴾ اوهلاک کړی کافران

عه یعنی په تحقیق سره ۱۲ له زموږ چے ده هم دوی غالب دی ۱۲ سه هم پرهغه شی باندی چے رسیدلی دی تاسے ته له زخم څخه ۱۲ سه په هرجوړ ۶ کولو سره وخدای ته ۱۲ سه یعنی شهیدان مری اوجنت ستاسے ځای دی ۱۲ صه یعنی دوبرخے ځای دی اوغوښے به ئی په اور کباب یږی ۱۲

أَمْ حَسِبْتُمْ ایا گمان کوی تاسے ای ملاتی کړو نکو په اُحد کښی أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ دی چې داخل به شی تاسے په جنت کښی وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اوحال دا چې له سره معلوم کړی نه دی خلی هغه کسان جٰهَدُوْا مِنْكُمْ چې جهاد ئی کړی دی له تاسے څخه وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ او نه ئی دی معلوم کړی صابران حُکه چې په تاسے کښی دا دواړه طالفې نشته حاصل دا چې بیله صبره په محنت د جهاد باندی طمع مه کوی د جنت وَلَقَدْ كُنْتُمْ او هرا ئینه په تحقیق واست تاسے ای غائبانو له جنګه څخه د بدر تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ چې ارزو به کوله تاسے د مرلو یعنی د شهید کیدو مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ مر پخوا له هغه چې تاسے پیښیدا ست پردی مرلو فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ پس په تحقیق سره وه لیدی تاسے دا مرلو په وخت د اُحد وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾ اوحال دا چې تاسی کتل چې ستاسے ملګری یکښی شهیدان شول روایت دی چې هرکله رسول علیه السلام زخمی شو او په شهیدانو کښے ولویدی او شیطان اواز وکی چې الا ان محمداً قد قتل یعنی واورې چې محمد په تحقیق سره شهید شو او اکثر خلك و تښتیدل او هرچا چې نوی اسلام ئی راوړی و و هغو اراده وکړه ددی چې څوك ابو سفیان ته وسیله کړو چې خطدامان راکړه راواخلی او رسول علیه السلام ناری وهلی چې الیّ عباد الله یعنی ماته راسے ای بندګانو د خدای نو اصحاب وخلوړ غله او ده ډیر ملامت کړه چې ولی وتښتیدلاست دوی وویل حُکه چې موږ ستا د قتل اواز واورېدے نو نازل شو وَمَا مُحَمَّدٌ اونه دی محمد علیه السلام اِلَّا رَسُوْلٌ مګر یو استاذی دی قَدْ خَلَتْ په تحقیق سره تیر شوی دی مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ د پخوا له ده څخه نور ډیر استاذی اَفَائِنْ مَّاتَ ایا پس که وفات شے دی اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ یا شهید کړل شے نو بیرته به ګرځۍ تاسے عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ د په پوندو خپلو بیخو بیا به کافران شے وَمَنْ يَّنْقَلِبْ اوهر څوك چې بیرته ګرځی عَلٰى عَقِبَيْهِ پر پوندو خپلو بیخو بیرته کافر شے فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا پس له سره به ضرر ونه رسوی دی وخدای ته دهیڅ شی بلکه خپل

ځان به خوارکی روایت دی چې هرکله ا نس رض وویل که محمد علیه السلام شهید شو نو رب خوئ ځ روندی دی نو همدا سې جنګ کوی لکه چې ده کاوی او توره ئې راوه کینه او جنګ ئې وکی ترڅو چې شهید شو نو نازل شو وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (۱۴۶) او ثر ردی چې جزا به ورکړی خدای شکر ګذارانو ته وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اونشته اونه ښائې هیڅ ځ روندی لره أَنْ تَمُوتَ دا چې مړ شي إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ مګر په اذن د خدای سره یعنې په هغه وخت کی چې امر وشي ملك الموت ته په قبض د روح دده كِتَابًا مُؤَجَّلًا چې ولیکل شي دامرلۍ په وخت مقرر سره چې له هغه وخته څخه نه مخکی کیږی او نه وروسته کیږی یعنی مُټ کوی په جهاد او له مرګه مه بیریږی چی مرلۍ ئې بی اجله نه ساحُی وَمَنْ يُرِدْ او هرڅوك چې غواړی په دی جهاد سره ثَوَابَ الدُّنْيَا حاصل د دی جهان یعنی غنیمت نُؤْتِهِ مِنْهَا نو ورکوو مو ورته هغه لره بعض له هغه حاصله یعنې هغه قدر چې مو ورلره مقرر کړی وی وَمَنْ يُرِدْ او هرڅوك چې غواړی ثَوَابَ الْآخِرَةِ ثواب او جزاء د هغه جهان نُؤْتِهِ مِنْهَا نو ورکوو مو ورته هغه لره ثواب وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ (۱۴۵) او ثر ردی چې جزا به ورکړو شکر ګذارانو لره وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ او ډیر تیر شوی دی له پیغمبرانو قَاتَلَ چې جنګ ونه کړی دی له کفارو سره مَعَهُ چې ولاړ به وو دده سره رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ خدائی سړی ډیر له حده تیر لکه عالمان او عابدان او متقیان شو یا نور هسې مخلوق فَمَا وَهَنُوا پس هیڅ قدر به نه سُستیدل دوی لِمَا أَصَابَهُمْ په سبب د هغه سختی چې رسیدل به دوی ته لکه زخم یا قتل یا نوری سختی فِي سَبِيلِ اللَّهِ په لاره د خدای کښې یعنې په جهاد کښې وَمَا ضَعُفُوا او نه به ضعیف کیدل په جنګ کښې وَمَا اسْتَكَانُوا او نه به کښته کیدل ودښمن ته اوتاسے په جنګ د اُحد کښې د ښمن ته هم او بی صبره اوهم سُست اوهم ضعیف اوهم کښته شوی وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (۱۴۶) اوخدای خوښوی صبر کونکی په قضاء رب خپل وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اونه به وو ویل

ددی مجاهد ینو په وخت د جنګ کښی اِلَّآ اَنْ قَالُوْا امکرد ابه ووچے ویل به دوی رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَآ ای ر به ز مور بخښنه مور ته ذُنُوْبَنَا گناهونه ز مور وَاِسْرَافَنَا فِیْٓ اَمْرِنَا او تیریدل ز مور له حده درفما نه په دی کار ز مور کښی وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا او محکم کړه قدمونه ز مور په وخت د جنګ کښی وَانْصُرْنَا او مدد وکړه له مور سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ (۱۴۷) پر دی قوم کافرانو باندی فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ پس ورکی دوی له خدای ثَوَابَ الدُّنْيَا هم حاصل ددی جهان چے نصرت او ظفر او غنیمت دی وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ او هم غوره حاصل د هغه جهان چی جنت او رضا او دیداردی وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ (۱۴۸) او خدای خوښوی نیکوکاران - روایت دی چے هر کله منافقانو وویل ومؤمنانو ته چے پیغمبر خوشهید شو نو تاسے اوس بیرته خپل پخوانی دین ته وګرځی نو نازل شو یٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ای مؤمنانو اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ که فرمان ومنی تاسے د هغه کسانو كَفَرُوْا چے کافران دے يَرُدُّوْكُمْ چے بیرته به وګرځوی تاسے عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ پر پوندو ستاسے یعنی تاسے به بیرته کافران کړی فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ (۱۴۹) پس به وګرځی تاسے زیانکاران به شی نو د بنمنانو خپلو یاری او فرمانبرداری مه کوی بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ بلکه خدای یار او مددګار ستاسے دی وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ (۱۵۰) اودی بهتر دمتو لو مددګارانو دی سَنُلْقِيْ ز ردی چه وبه غورځوو مور فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ په زړونو د هغو کسانو كَفَرُوا الرُّعْبَ چے کافران دی ویره بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ په سبب ددی چی شریك نیولی دی دوی په خدای پوری مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ هغه شی چے نه دی رالیږلے خدای په شریك نیولو دهغه سُلْطٰنًا ؕ کوم دلیل وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ اوځای دوی اور دے وبئس خرد ی وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ (۱۵۱) او بد دے ارامګاه ده دادوښ ظالمانو روایت دی چی هر کله رسول علیه السلام له احده څخه بیرته مدینی ته راغلی نو بعضی اصحابو وویل چی دا خواری موږ ته له کومه څخه راپیښه شوه

سره له دی چے خدای وعده د نصرت کړی وه نو نازل شو وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ اوهر ایښه په تحقیق سره رښتینی کړی وه له تاسے سره خدای وَعْدَهٗ وعده خپله د نصرت اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ په هغه وخت کی چے وژل تاسے دوی په اول د جنګ کښے بِاِذْنِهٖ په اذن او په نصرت دده سره حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ ترهغو چے بی زړه سواست تاسے وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ اوپخپلو کښے سره مخالف سواست په کار د جنګ کښی وَعَصَيْتُمْ اوبے فرمانی وکړه تاسو له خپله امیره چے عبد الله بن جبیرؓ وو او له خپله ځایه ړاکښته سواست نو پرده ی غم مبتلا سواست مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ پس هغه چے وښووی خدای وتاسے ته مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ هغه شی چے خوښوی ئی تاسے چے نصرت اوغنیمت وو مِنْكُمْ مَّنْ بعض له تاسے هغه څوک دی يُّرِيْدُ الدُّنْيَا چے غواړی متاع د دی جهان یعنی غنیمت حُکمه چی مخالفت ئی وکړو اوخپل بندر ئی پریښووی وَمِنْكُمْ مَّنْ او بعض له تاسے هغه څوک دی يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ چے غواړی ثواب د هغه جهان حُکمه چے مخالفت ئی و نه کړی او پرخپل ځای شهید شو ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ بیا پس له غلبی ستاسے بیرته ئی راوګرځوله ولاست تاسی له دوی څخه او دوی لے دریاندی غالب کړه لِيَبْتَلِيَكُمْ ؕ د پاره د دی چی وازمایځ تاسے چی په سختی کښے صبر لری اوکه ئی نه لری یعنے معامله دازمیونکیو د رسره کوی وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ؕ اوهر ایښه په تحقیق سره عفوه ئی وکړه وتاسی ته چی پخپل تقصیر ئی پښیمان کړه لاست یا عفو ئی په دوی قتل نه کړه لاست وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ اوخدای څښتن د فضل اود رحمت دی عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ پر مؤمنانو اِذْ تُصْعِدُوْنَ یاد کړی هغه چی پر وړاک میدان ځغاستلاست تاسے له ویری څخه د کفارو وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ اونه وه د ریدلاست یو بل ته سره اوهیڅ التفات نه کاوی تاسے ورسول علیه السلام ته چی دی راببرته (راشا) پاته شو وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ او حال داچے رسول علیه السلام بللاست تاسے فِىْٓ اُخْرٰىكُمْ ورروستو له تاسے چے ناری ئی

وهلی لِمَ عَبَّادَ اللهِ انا رسول الله فَاتَاکُمْ پس جزاد رکړه خدای تاسے تہ غَمًّا خفگان د زخم د مرلو د مالتی بِغَمٍّ په سبب د هغه خفگان چے تاسی رسول علیہ السلام تہ رسولی وو چے له بندہ ځخه راکښته سواست بیله اذ نه لِكَيْلَا تَحْزَنُوْا د پاره د دی چې خفه نشی که لکیلا متعلق شے په عفا پوری یا د اچے خفه شی تاسی که متعلق شے له اثاب پوری نو لاپکښے زائد شو عَلٰى مَا فَاتَكُمْ پر هغه شی چے فوت شو یدی له تاسے ځخه چې فتح او غنیمت دی وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ؕ او نه پر هغه شی چے رسید لی دی و تاسے ته چې زخم او مرلو او مالتے ده وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ او خدای بنه خبر دی بِمَا تَعْمَلُوْنَ پر هغو کارو چے کوی ئ تاسے ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ پس له هغه راولیږه خدای پر تاسے مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ پس له دغه غمه اَمَنَةً نُّعَاسًا دل ارامی چے پرکالی وه يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ د چا لاندی ئ کله چه نوله تاسے ځخه چې خلص مؤمنان وه وَطَآئِفَةٌ او یله قوله د منافقانو چے وه قَدْ اَهَمَّتْهُمْ چے په حقیقت سره چے په غم کښے اچولی وو دوی اَنْفُسُهُمْ خانونه چې يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ گمان به ئ کاوی پرخدای غَيْرَ الْحَقِّ بیله گمانه د حق ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ گمان د خلکو د جاهلیت چې هغه داوو چې دا دین د رسول به ترسره نشی يَقُوْلُوْنَ وائے دوی هَلْ لَّنَا ایا شته مونږ لره مِنَ الْاَمْرِ له هغه کار چې وعده ئ له مونږ سره شوی وه چے هغه نصرت اوغلبه وه پرکفار وَمِنْ شَيْءٍ ؕ څه برخه یعنے هیڅ نشته قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ ورته ووایه چے بې شکه خه کار چې دی كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ د قول خدای له د اوده په فرمان کښے دی که غنیمت هزیمت دی يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ پټوی دا منافقان په زړو خپلو کښے مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ هغه خبری چې نه ئ بنکاره کوی تاته لهٔ ویلی د قتل يَقُوْلُوْنَ وائی ئ دوی پټ پټ سره خپلو کښی لَوْ كَانَ لَنَا که وی مونږ لره مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ ؕ له دی کاره چے نصرت او غلبه ده څه برخه مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ نو نه به ووقتل شوی مونږ په دی جنلاه د احد کښے قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ ورته ووایه که واست تاسے ئ بُيُوْتِكُمْ په کور خپلو کښی لَبَرَزَ الَّذِيْنَ نو هغه ایښنه راوتلی به وو میدان

---

۱۵۳ یعنے ما اراده نه کړله ای بندګانو خدای نه چے یم رسول د خدای یم ۱۲ منه یعنے شکست نه کفارو ۱۲

دجنډ ته هغه کسان کُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ چې مقرر کړه شوی وو پر دوی قتل په دربار
درب کښے اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ځایونو کښ ولو ته په احد کښے او پس له غمه ئې بیا
امن راوست پرتاسے یو دپاکولو ستاسے وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ او بل دپاره ددې چې
وازمائی اوکه بنکاره کی خدای مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ هغه اخلاص چې په سینو ستاسے
کښې دی وَلِيُمَحِّصَ اودپاره ددې چې لیږی کی دی مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ط هغه وسوسے
چې په زړو ستاسے کښې دی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۴ اوخدای ښه دانادی بِذَاتِ الصُّدُوْرِ (۱۵۴)
په هغه اندیښنو چې په سینو کښې پرتې دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان تَوَلَّوْا مِنْكُمْ
چې شاتی کړه اومات شوه له تاسے یعنی له کفارو څخه يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ په هغه ورځ
چې مخامخ شوی سره دوی طائفی یعنی مؤمنان اوکافران په احد کښې اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ
الشَّيْطٰنُ بیشکه هم داخبره ده چې لغزولی وو دوی شیطان بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ
په سبب دبعض هغه کارو چې کړی وو دوی چې هغه مخالفت وو له امره څخه د رسول ۴
وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ اوهرا ئینه په تحقیق سره چې عفوه کړی ده خدای عَنْهُمْ له دوی
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ ۢ بیشکه چې خدای بخښونکی دگناهو دی حَلِيْمٌ (۱۵۵) ع ځښتن دحلم
دی چې هیڅوك په گناه ژر نه نیسی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَكُوْنُوْا امه
کیږی كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لکه هغه کسان چې پکښې کافران دی یعنی منافقان وَقَالُوْا
لِاِخْوَانِهِمْ اووائی دوی په حق د هغه ورونو چې لوړ کښې چې حسبیان یا نسبیان دی
اِذَا ضَرَبُوْا په هغه وخت کی چې ولاړشے داورونه ددوی فِي الْاَرْضِ په محکه کښې د
پاره دسوداگری یا د لوړخه اوهلته مړه شے اَوْ كَانُوْا غُزًّى یاوی داورونه ددوے
غازیان یعنی جنګیدونکی له مخالف دینو سره اوچا مړه کړه نومنافقان د هغو په
حق کښې وائی لَوْ كَانُوْا عِنْدَنَا که وای دامسافران اوغازیان مو بر سره اوپه سفر
او په غزا نه وای وتلی مَا مَاتُوْا نو نه به وو دوی مړه وَمَا قُتِلُوْا ۚ اونه به وای
وژل شوی لِيَجْعَلَ اللّٰهُ دپاره ددې چې کاندی (وه گرزوی) خدای ذٰلِكَ داگمان ددوی

چے په حضور دده وی خلك نه مری حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ط غمه او ارمان په زړو ددوے کښے وَاللّٰهُ يُحْيٖ او خدای ژوندی کول اوژوندی پریښول کوی چی اراده ئی وشے اوددوی په حضور هیڅ نه کیږی وَيُمِيتُ ط او هم دی وژل کوی نه سفر او نه جنك وَاللّٰهُ اوخدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ په هغه صبر او ثبات چی کوی ئی تاسے بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾ ښه بینا دی وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ اوهر اینه که ووژل شی فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای یعنی په جهاد کښی اَوْ مُتُّمْ یا پخپله مړه شی پرخپل فراش په رضا د خدای کښی لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ نو هر اینه بخښش چے دی له جانبه د خدای وَرَحْمَةٌ او رحمت دده چی دی خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ د هغو څه دی له هغه مال نه چے جمع کوی لے دوی وَلَئِنْ مُّتُّمْ اوهر اینه که مړه شے پخپل مرگ ای مؤمنانو اَوْ قُتِلْتُمْ اویا ووژل شی لَاِ اِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ نو هر اینه خدای ته به راجمع کړل شے ئے قول فَبِمَا رَحْمَةٍ پس محض په سبب د هغه مهربانی چے پرتا شوی ده ای رسوله مِّنَ اللّٰهِ له خدایه لِنْتَ لَهُمْ ج نرم کړه شوی ئی ته دوی ته وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا اوکه وی ته تند خویه یا سخت گویه غَلِيْظَ الْقَلْبِ سخت دل نا مهربانه لَا نْفَضُّوْا نو هر اینه تار پتار شوی به وو دا اصحاب مِنْ حَوْلِكَ ص له چاپیره ستا یعنی له سره به درته نه ووتلیك شوی فَاعْفُ عَنْهُمْ پس عفوه کوه له دوی هغه تقصیرات چی ستا په باب کښی د خدی شوی وی وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ اوبخښنه غواړه له خدایه د پاره د دوی د تقصیرا تو چے درب په باب خدی شوی وی وَشَاوِرْهُمْ اومصلحت کوه له دوی سره د پاره د خو شیانو لولو دوے فِي الْاَمْرِ ج په هغه کار کښے چی وحی درته پکښی نه وی راغلی فَاِذَا عَزَمْتَ پس په هغه کار کی چی اراده دی وکړه پس له مصلحته فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط پس توکل وکړه پرخدای نه پر مصلحت اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾ خوښوی توکل کونکی اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ که مدد وکړی له تاسے سره خدای لکه په جنك د بدر کښی فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ج پس پیدا به نه شے هیڅوك غالب پرتاسے وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ

لکم اوکه پریږدی تاسے او مدد درسره ونکړی فَمَنْ ذَا الَّذِیْ پس څوك دی هغه کس
یَنْصُرُكُمْ چے مدد به کوی درسره مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ پس له ده یعنے له خدلانه دده معنے دا
چے هیڅوك نشته وَعَلَى اللّٰهِ اوخاص پرخدای فَلْیَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ میبایدچی توکل
دی وکړی مؤمنان روایت دی چے هرکله له غنیمته څخه دبدر یوځاد ورك شو
اومنافقانو وویل چے دا به پیغمبرڅخان لره اخیستی وی نونازل شو وَمَا كَانَ لِنَبِیٍّ اونه
دی لائق هیڅ پیغمبرلره خصوصًا سړدراردد واړو جهانونلره اَنْ یَّغُلَّ ؕ دا چے خیانت وکړی
دی په مال دغنیمت کښے وَمَنْ یَّغْلُلْ اوهرڅوك چے خیانت ئی وکړو په غنیمت کښے یَاْتِ
بِمَا غَلَّ نوراته شی داخائن له هغه شی سره چے خیانت ئی پکښے کړی وی یاهم هغه
شے بعینه یابارد وبال دهغه یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ۚ په ورځ د قیامت ثُمَّ تُوَفّٰى پس له هغه
به پوره ورکړه شے كُلُّ نَفْسٍ هرچا ته مَّا كَسَبَتْ جزاد هغه کار چے کړی وی ده په دنیا کښے
که خیروی اوکه شروی وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ اودوی چے دی هیڅ ظلم به پرونه کړل
شے په وخت د جزاء کښی اَفَمَنِ اتَّبَعَ ایا پس هغه څوك چې پیروی وکړی دی
رِضْوَانَ اللّٰهِ د رضادخدای لکه مهاجرین او انصارشول كَمَنْۢ بَآءَ په شان د هغه
چادی چے بیرته راشے بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ لرلی په هغه قهرچے له خدای څخه وی لکه منافقان
اوکافران شول وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ اوځای دده دوزخ دی وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۱۶۲﴾
اوبدځای دورتلو دی دادوزخ هم دا پیغمبران اواهل د امانت اوتابعان د رضا
دحق چے دی دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ څښتنان دلویو مرتبو دی دخدای څخه وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ
اوخدای بنه بینا دی بِمَا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ په هغه کارو چے کوی ئے دوی لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ
هراښئه په تحقیق سره احسان کړی دی خدای عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ پرمؤمنانو اِذْ بَعَثَ
په دی چې راولږلے دی ده فِیْهِمْ رَسُوْلًا په دوی کښے پیغمبر مِّنْ اَنْفُسِهِمْ له جنسه
څخه ددوی یعنی له بنی آدمو یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ چے لولے پردوی اٰیٰتِهٖ ایتونه دده یعنی
قران وَیُزَكِّیْهِمْ اوپاکوی دوی په ایمان سره له بنیری دکفره یاقبلوی زکوٰة ددوی

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ اوور بنيې ودوی ترقرآن وَالْحِكْمَةَ اوحديث وَاِنْ كَانُوْا اوبيشكه شان دادی چے وو دوی اودا ان مخففه دی له مثقله څخه اواسم ضمير دی پکښی مستتردی اودا مخکښی لام فاصله دی مِنْ قَبْلُ پخوا له بعثت د رسول لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ هرا ښکاره گمراهی کښی او بیا په دعوت دده سره اکثر پرلار شوه

ربا ع

اول پټه وود باطلو په ظلمت کښے قول جهان
بیا په نور د پاک رسول سره داد واړه شوه رښان
لکه شپه چے وی تاریکه ښه او بد نه معلوم میږی
چی نور وخیژی رښکاره شے نو ښکاره شے سود او زیان

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ ایا هر کله چے ورسیدی دی وتاسی ته له کفارو څخه په جنګ د اُحد کښی مُّصِيْبَةٌ غم د جُرح او قتل اود هزیمت قَدْ اَصَبْتُمْ اوحال دا چے په تحقیق سره رسید لی وو تاسو په مصیبت رسو لو کښے دوی ته په ورځ د بدر مِّثْلَيْهَا دوه چنده له دی غمه حُکمه چے دوی له تاسو څخه په اُحد کښی اویا تنه وژلی دی اوتاسے له دوی څخه په بدر کښے اویا تنه وژلی وو او اویا تنه مو په بند نیولی وو قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا د نزول تاسے له ډیره تعجبه چے له کومی خوا راغلی داغم موږ لره سره ددی چے موږ مؤمنان یو اورسول علیه السلام هم په موږ کښی حاضر دی قُلْ هُوَ ووایه ورته دا چے مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ د ستاسے له خپله ځانه دی حُکمه چی مخالفت کړی دی تاسو چے له خپله ځایه راکښته شوی یاست و لوټ ته بیله اذنه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾ پرهرشی ښه قادر دی یعنی هم په برځ اوهم په لری وَمَآ اَصَابَكُمْ اوهغه غم چے رسید لی دی تاسے تهٔ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ په هغه ورځ چے مخامخ شو سره دواړه لښکره یعنی د مؤمنانو او د کافرانو فَبِاِذْنِ اللّٰهِ پس دا الحکم په امر د خدای سره دی وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ اوبل د پاره دی چے معلوم او ښکاره کړی خدای مؤمنان په علم شهودی سره لکه چے ورته معلوم دی په علم غیب سره چی دوی خومره استقامت لری وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

عه یعنی غم د پر هار او د وژلو او ټپښتی ۱۲ سه یعنی هم په غلبه وکړو لو هم په شکست ورکولو ۱۲

او دپارهٔ ددی چے معلوم او بنکارهٔ کی خدای هغه کسان نا فَقُوا ته چے منافقان دی وَ قِيلَ لَهُمْ اوو ویل شے ودی منافقانو ته چے پرلاړی بیرته ګرځیدلی وو ومدینے ته تَعَالَوْا تَاتِلُوا چے راځی واحُد ته اوجنګ وکړی له کفارو سره فِي سَبِيلِ اللّٰهِ په لارهٔ د خدای کښی اَوِ ادْفَعُوا یاد فع کړی د اکفارله خپله ځانه څخه یعنی راځے نږمو بر سره جنګ لره یا په جهت د خدای او یا د پارهٔ د دفع د دوی له ځانه که مدینی لره راشے او تاسی او مونږ مټول وشرنی قَالُوا نو وویل دوی لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا چے که مونږ پوهیدای چے جنګ به رشتیا کیږی لَّا تَّبَعْنٰكُمْ د نوهرا ئینه در پسی درغلی به وومونږ لیکن مونږ پوهیږو چے جنګ هیڅوك نه کوی نوځکه بیرته ستاوګرځیدو هُمْ لِلْكُفْرِ دوی وکفر ته اودالام په معنی د الی دی يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ چے داخبره ئی کوله اَقْرَبُ مِنْهُمْ ډیر نږدی وه له دوی څخه په نسبت سره لِلْاِيْمَانِ ج د ایمان ته یعنی هرکله چی نسبت د دوی کفر او ایمان دواړو ته واخلی نو دوی د کفر جانب ته ډیر نږدے دی اګرکه په ظاهر کښے ځانونه خپل مؤمنان بولی يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ وائی دوی په خولو خپلو سره مَّا لَيْسَ هغه کلمه د توحید چے نشته ئی پر تصدیق فِيْ قُلُوْبِهِمْ په زړونو دوی کښی وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ اوخدای ښه پوه دی بِمَا يَكْتُمُوْنَ (۱۶۷) په هغه کفر او حسد او عداوت چی پټوی ئی دوی په زړه کښے اَلَّذِيْنَ قَالُوْا هغه منافقان چے وائی لِاِخْوَانِهِمْ و روڼو خپلو ته له منافقانو څخه وَ قَعَدُوْا اوحال داچے دوی پخپله ناست وو راپټ شوی وو له جنګ څخه لَوْ اَطَاعُوْنَا که خبره منلی وای د اُحد خلکو نږمونږ او دوی هم له مونږ سره بیرته راغلے وی مَا قُتِلُوْا نو نه به ووقتل شوی قُلْ فَادْرَءُوْا اووایه ورته پس دفع کړی عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ له ځانونو خپلو مرګ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (۱۶۸) که یاست تاسے رشتینی په دی خبره کښی چی تاسے څخه دفع د موت شته او په کشاف کښی راغلے دی چی په دغه ورځ او یا تنه منافقان پخپل مرګ مړه شول **روایت** دی چے هرکله

عه یعنے باور او یقین ۴

شهیدانو د اُحد له ډیره افسوسه وږب ته سوال وکړو چې کاشکی داڅوندی مؤمنان ژموږ له معاش او خوشحالی خبر شے چې په ډرنو دشنو مارغانو کښے ننوزی واو په جنت کښے گرزی و اونعمتونه خوړی واواوبه دفردوس اعلیٰ له ولوځمه چښو اود شپی په بنا خو دطوبیٰ کښی کښینو چے دوی هم په جهاد ډیرمت وکړی نو نازل شو وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ اوله سره مه گڼی هغه کسان چے په صدق دنیت سره قُتِلُوْا وژل شوی دی دوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے یعنے په جهاد کښے اَمْوَاتًا مړه یعنے داقسم مقتولان مړه مه گڼی بَلْ اَحْيَآءٌ بلکه دوی ژوندی دی عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب خپل يُرْزَقُوْنَ(۱۶۹) چې روزی ورلره ورکول کیږی دمیوو دجنت ځمنه فَرِحِيْنَ بِمَآ پردی حال چے خوشحاله دی دوی په هغه شیا نو اٰتٰهُمُ اللّٰهُ چے ورکړیدی دوی لره خدای مِنْ فَضْلِهٖ لا له فضله خپله چے هغه جنت اونعمتونه اورضادی وَ يَسْتَبْشِرُوْنَ اوخوشحاله کیږی دوی بِالَّذِيْنَ پسرا تلو دهغه کسانو لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ چے نه دی رسیدلی اونه دی پیوسته شوے په دین پوری مِّنْ خَلْفِهِمْ لا دوړوستو دوی اَلَّا خَوْفٌ دی خوشحالی چې نشته هیڅ قدر ویره عَلَيْهِمْ پردوی له هیڅ بابه وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ(۱۷۰) اونه به دوی غمجن کیږی هیچیری يَسْتَبْشِرُوْنَ خوشحاله کیږی بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ په هغه نعمت چے راځے دوی ته له خدایه وَفَضْلٍ لا او په هغه زیاتی شی له نعمته چے رهنما او دیلارډی وَاَنَّ اللّٰهَ اوددی چے بیشکه خدای لَا يُضِيْعُ نه عبث کوی اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ(۱۷۱) اجر دمؤمنانو غازیانو

ع ۱۷ ۱۹

روایت دی چے هرکله ابوسفیان له اُحده بیرته روان شو اوپر لارې پښیمان شو نو اراده د رجوع ئې وکړه اورسول علیه السلام چے په مدینه کښے په دی خبر شو نو اصحابو ته ئې وویل چے صبا بیا په دښمن پسی تلل دی نو صبا بیا په یکشنبه روان شو سره له دی ستومانی او ډیرو پرهرد خو چې نه کړه له مدینی ځمنه لیری شو او حمراء الاسد باندی ئې وارول نو

ابوسفیان و بیریدی او بیر ته ولاړی نو نازل شو اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا افرین دی پر هغو کسانو چې له ډیره صدقه ئې غاړه کښینوه وه لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ امر دخدای او د رسول ته چې په دښمن پسې بیاړوان شول مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ څه چې رسیدلی وو دوی ته زخم چې ټول سره غوښه غوښه وو لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مقرر دی هغو کسانو لره چې نیکی ئې کړی ده په وفا کولو سره په عهد مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا له دوی څخه او پرهیز ئې کړی دی له مخالفته څخه رسول اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾ اجر ډیر لوی **روایت** دی چې هرکله ابوسفیان له اُحُد روان شو نو رسول الله ﷺ ناری کړی چې آی محمد صلی الله علیه وسلم ستا او زموږ وعده راروان کال ده چې موسم دبدر وو اوده په جواب کښې وویل چې ان شاء الله بیا چې کال ته ابوسفیان له مکې څخه راروان شو نو پښیمانه نه شو او نعیم نومی سړی ته ئې لس اوښان ومنل چې ولاړشه او رسول علیه السلام وه ویروه بیا چې نعیم راغلے او دوی تیاری کاوی نو ورته ئې وویل چې مه ځې دومره مخلوق درته جمع شوی دی چې یو به هم ځندی خلاص نه شی نو رسول صلی الله علیه وسلم قسم وکړو چې ورځم نو ولاړه اواته شپې ئې هلته وکړی او ټولو به ویل چې حَسْبُنَا اللّٰهُ ونعم الوکیل او هلته د مؤمنانو لاس ته ډیر مال رالی په سوداګرۍ سره او خوشحاله بیرته راغله نو نازل شو اَلَّذِيْنَ هغه کسان یعنی داغاړه اینبو ونکی هغه دی قَالَ لَهُمُ النَّاسُ چې ویل ودوی ته بعض خلکو لکه نعیم اِنَّ النَّاسَ چې بیشکه خلق چې دی یعنی ابوسفیان او لښکرده قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ په تحقیق سره جمع شوی دی تاسے ته دپاره دجنګ فَاخْشَوْهُمْ پس وه بیریږی له دوی څخه فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا پس زیات کړی دی ویرولود نعیم ددی مؤمنانو یقین او دلاوری وَّقَالُوْا او ویل دی مؤمنانو حَسْبُنَا اللّٰهُ بس دی موږ ته خدای په یاری او په مددګاری کښے وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ او ښه وکیل دی دی فَانْقَلَبُوْا پس بیرته کوږ و لره راغله

عه یعنے بس دی موږ ته خدای او ښه وکیل دی ۱۲

مؤمنان بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ په نعمت سره له جانبه د خدای چې هغه سلامتی ده
له دښمنه وَفَضْلٍ او په ډیر سود (ګټه) سره لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ لا په دې حال چې
ونه رسید ی و دوی ته هیڅ خفګان یعنې نه زخم اونه قتل اونه هزیمت وَاتَّبَعُوْا
رِضْوَانَ اللّٰهِ او پیروی وکړه دوی د مرضی د خدای په فرمانبرداری د رسول وَاللّٰهُ
او خدای ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ څښتن دلوی فضل دی اِنَّمَا بیشکه هم دا خبره ده
ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ چې دا اواز ګډونکی د اجتماع د کفارو تاسی ته شیطان دی يُخَوِّفُ
اَوْلِيَآءَهٗ ډارې چې پیروی تاسے ای مؤمنانو له د دوستانو خپلو څخه چې کفار دی او
دلته مفعول اول محذوف دی ای يخوفكم كذا في تفسير الجلالين والجويز فَلَا
تَخَافُوْهُمْ پس مه پیریږی له دوی څخه وَخَافُوْنِ اووه پیریږی له ما څخه اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ که یاست تاسے مؤمنان وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ اونه دی خفه کوی تا
هغه کسان يُسَارِعُوْنَ چې تلوار کوی دوی فِي الْكُفْرِ په مدګاری د کفر کښې لکه
منافقان یا مرتدان شوا اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ بیشکه چې دوی لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ له سره به هیڅ ضرر
ونه رسوی دوی خدای ته شَيْئًا د هیڅ شے بلکه ضرر یې هم دوی ته راجع دے
له دی جهته چې يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده لري خدای اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ دا دی چې ورنه
کړی دوی لره حَظًّا فِي الْاٰخِرَةِ ج هیڅ برخه د ثواب په هغه جهان کښې وَلَهُمْ
او مقرر دی دوی لره عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ عذاب لوی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان
اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ چې اخیستی دی دوی کفر په بدل د ایمان کښې لَنْ يَّضُرُّوا
اللّٰهَ شَيْئًا ج به نه رسوی وخدای ته دوی ضرر هیڅ شے وَلَهُمْ عَذَابٌ
اَلِيْمٌ ﴿۱۷۷﴾ او دوی لره دی عذاب دردناک وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ او ګمان دی نه
کوی له سره هغه کسان كَفَرُوْٓا چې کافران دی له یهود و او له نصارا ی و او له
مشرکانو او له منافقانو داسے چې اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ بیشکه دا چې مهلت ورکوو موږ
دوی لره خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ د غوره دی ځانونو دوی لره اوپه واقعه کښې داسے

نه ده بلکه اِنَّمَا نُمْلِیْ لَهُمْ بیشکه مهلت ورکو و موږ دوی لره لِیَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ دپاره دی چې زیات شی دوی له جهته دګناه وَلَهُمْ اودی دوی لره عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۱۷۸﴾ عذاب سپکونکی مَا كَانَ اللّٰهُ نه دی خدای لِیَذَرَ الْمُؤْمِنِیْنَ چې پریږدی مؤمنان عَلٰی مَآ پرهغه حال اَنْتُمْ عَلَیْهِ چې یاست تاسے پرهغه حال یعنے چې مخلصان او منافقان سره ګډ وډ یاست حَتّٰی یَمِیْزَ الْخَبِیْثَ ترهغه چې بیل کی پلیت مِنَ الطَّیِّبِ ۭ له پاکه یعنی منافق له مخلصه د روایت دی چې هرکله کفار وویل چې که محمد ﷺ په رښتیا پیغمبر وی نو موږ ته دی وښیي چې له موږ څخه به څوك ایمان راوړی اوشوك به ئې نه راوړی نو نازل شو وَمَا كَانَ اللّٰهُ اونه دی خدای لِیُطْلِعَكُمْ چې خبر کړی تاسے عَلَی الْغَیْبِ په پټو اسرارو وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدای چې دی یَجْتَبِیْ غوره کوی دپاره د اطلاع دغیب مِنْ رُّسُلِهٖ له رسولانو څخه مَنْ یَّشَآءُ ۠ هر هغه څوك چې اراده ئې وشی فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړی تاسے پرخدای وَرُسُلِهٖ ۚ اوپر رسولانو دده چې غوره بندګان دخدای دی وَاِنْ تُؤْمِنُوْا اوکه ایمان راوړی تاسے وَتَتَّقُوْا او پرهیزوکړی له بد و څخه فَلَكُمْ پس دی تاسولره اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۷۹﴾ اجر لوی وَلَا یَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ اوګمان دی نه کوی له سره هغه کسان یَبْخَلُوْنَ چې بخل کوی دوی بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ پرهغه مال چې ورکړی دی لره خدای مِنْ فَضْلِهٖ له فضله خپله هُوَ خَیْرًا لَّهُمْ ۭ چې دا بخل غوره دی دوی لره بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۭ بلکه دا بخل ډیر بد دی دوی لره — سَیُطَوَّقُوْنَ ژر ردی چې طوق ورنه به واچول شے په ګردنو ددوی کښے مَا بَخِلُوْا بِهٖ هغه مال چې بخل کړی دی دوی په هغه مال یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ۭ په ورځ د قیامت وَلِلّٰهِ اوخاص خدای لره دی مِیْرَاثُ السَّمٰوٰتِ میراث د اسمانونو وَالْاَرْضِ ۭ اودځمکی یعنے دادواړه به فنا شے اوهرڅه به ئې مالك حقیقی ته پاته شے وَاللّٰهُ اوخدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ پرهغه کارو چې کوی ئې تاسے خَبِیْرٌ ﴿۱۸۰﴾ ښه خبردی نو دمړو لوجزا به درکړی د روایت دی چې هرکله ایت دا قرضوا اللّٰه قرضًا حسنًا راغلی نو یهود و

---

۱ یعنے زمکه اواسمانونه ۱۲ حسه یعنے بادشاه په رښتیا سره چې الله پاك دی ۱۲

دویل چے خدای هیڅ نه لری اوحتاج دی او مورږ غنیان یو ځکه دی له مورږ څخه قرض غواړي نو نازل شو لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ هراڅه په تحقیق سره واوریدی خدای قَوْلَ الَّذِيْنَ کفتار دهغو کسانو قَالُوْٓا چے وائ دوی اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ بیشکه چې خدای نا دار دی وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ م او مورږ غنیان یو ځکه دی قرض راڅخه غواړي سَنَكْتُبُ شر دی چے و به لیکو په کراماً الکاتبین مَا قَالُوْا هغه چې وائ دوی وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ او بل به ولیکو وژل دد وی پیغمبرانو لره یعنې چې نیکه ګانو ددوی وژلی دی بِغَيْرِ حَقٍّ لا په ناحق په اعتماد د دوی کښې هم وَنَقُوْلُ ذُوْقُوْا او وبه وایو مورږ ددوی ته په قیامت کښې چې وڅکی تاسے عَذَابَ الْحَرِيْقِ (۱۸۱) عذاب سیږو نکی اوس اُذْلِكَ دا عذاب چے دی بِمَا قَدَّمَتْ په سبب دهغه کارودی چے پخوا لیږلی دی اَيْدِيْكُمْ لاسونو ستاسے یعنی چے تاسی کړی دی او یا نیکه ګانو ستاسی کړی دی اوتاسے پرراضے یاست لکه قتل د انبیاوو یا عبادت د ګیلګی یاد اسے نور کارونه شوه وَاَنَّ اللّٰهَ اوبل دا چے بیشکه خدای لَيْسَ بِظَلَّامٍ نه دی ظلم کونکی لِّلْعَبِيْدِ (۱۸۲) پر بندګانو څیلو اوبل ئے واوریدی اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا د هغه کسانو چے وائ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای عَهِدَ اِلَيْنَآ پیغام کړیدی و مورږته اَلَّا نُؤْمِنَ دی چے ایمان دی رانه وړو مورږ لِرَسُوْلٍ په هیڅ رسول حَتّٰى يَاْتِيَنَا تر هغه چے راوړی مورږ لره بِقُرْبَانٍ په داسے قربانی تَاْكُلُهُ النَّارُ ط چے ئ وخوړی اور اودا یوه معجزه وه د پیغمبرانو د بنے اسرائیلو چے قربانی به ئ وکړه نو پیغمبر به ئ ودریدی په سوال وخدای ته نزاور به راڅخه له اسمانه اودا قربانی به ئ رسوه اوداسه ئ د قبلیدو نښه وه قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ ووایه ورته چې په تحقیق راڅخه ووتاسے ته رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ رسولان پخوا له ما بِالْبَيِّنٰتِ په بښکاره معجزو بَوَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ اوبه هغه معجزه هم چې ووایه تاسے چې قربانی ده فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ پس نو ولې قتلول تاسے دوئ

عه یعنی په هغه دوه ملاکړ چې هر سړی سره مقرر ئ دی د پاره د لیکلو د عملونو د وګ اوکرام الکاتبین لـ نوم دی ۱۲

لکه زکریا او یحییٰ یا داسے نور رسول یعنی نیکه کانو ستاسے و ژلی وو او تاسے په راضے یاست اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ (۱۸۳) که یاست تاسے رشتینی په دی کښی چی هغه پیغمبر منی تاسے چے قربانی په اور وسوځی قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ رُسُلٌ مِّنۡ قَبۡلِىۡ بِالۡبَيِّنٰتِ چے راغلی وو په ښکاره معجزو وَالزُّبُرِ او په هوا عظو یا په احکامو شرعیه وو سره وَبِالۡكِتٰبِ الۡمُنِيۡرِ (۱۸۴) او په داسے کتاب چی بیا نونکی دی رڼا لو اودحلالو حرامو كُلُّ نَفۡسٍ هر متنفس ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ ؕ څکونکی دمرګ دی یعنی قول به و مرے که نیکان وی که بدان وی وَاِنَّمَا او بیشکه هم داخبره ده تُوَفَّوۡنَ چے پوره به درکړل شے وقولو ته هم بنکانوته اُجُوۡرَكُمۡ اجرونه دعملو خپلو دنیکو نیك اود بدو بد يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ په ورځ د قیامت فَمَنۡ زُحۡزِحَ پس هرڅوك چی لیرے کړه شے عَنِ النَّارِ له اوره وَاُدۡخِلَ الۡجَنَّةَ او داخل کړه شے په جنت کښے فَقَدۡ فَازَ ؕ پس په تحقیق سره بریالی شو وَمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَاۤ او نه دی ملکی ژوندون اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ (۱۸۵) مګر رخت دی دغرہ کیدو ځکه چے اوس د یره غوره بنکاره کیږی وخلګو ته او بیا په اخرت کښے به د یرمنا کاره وخیژی لَتُبۡلَوُنَّ قسم دی چے به وازمیلی شی تاسے خامخا فِىۡۤ اَمۡوَالِكُمۡ په مالو خپلو کښے په امرد زکوٰة یا په رسید و دافاتو سره وَاَنۡفُسِكُمۡ ؕ نفسو او په ځانونو خپلو کښی په جهاد په قتل په زخم په بندیه رنځ په نور و سختیو سره وَلَتَسۡمَعُنَّ او هرا ئینه وا به وری تاسے ضرور به ضرر مِنَ الَّذِيۡنَ له هغه کسانو څخه اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ چے ورکړه شوی دی دوی لره کتاب مِنۡ قَبۡلِكُمۡ مخکی له تاسے وَمِنَ الَّذِيۡنَ اوله هغه کسانو اَشۡرَكُوۡۤا چے شریکان نیسی په خدای پوری اَذًى کټیرًا اذیت رنځ د یر یعنے داسی خبری به تری واوری هم دخپل ځان اوهم درسول په حق کښے چی ستاسے زړه به په ترخو رکیږی وَاِنۡ تَصۡبِرُوۡا او که صبر وکړی تاسے په دی وارو وَتَتَّقُوۡا او پرهیز وکړی له مخالفته نو ما فَاِنَّ ذٰلِكَ پس بیشکه دا صبر او تقویٰ چی دی مِنۡ عَزۡمِ

عه هر ساه اخستونکی یعنی ژوندانه ۱۲

اَلْاُمُوْرِ ﴿۱۸۹﴾ له محکمو کارو وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ او یاد کړه هغه چې و اخستی خدای مِیْثَاقَ الَّذِیْنَ عهد له هغو کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چې ورکړه شوی دی و ر لره کتاب چې تورات او انجیل دی یعنی له عالمانو دوی په دی خبره لَتُبَیِّنُنَّهٗ چې بیانوی به تاسے د کتاب خامخا خصوصًا نعت د رسول لِلنَّاسِ خلکو ته وَلَا تَکْتُمُوْنَهٗ اونه به یې پټوی فَنَبَذُوْهُ پس وغورځاوه دوی د اعهد یا کتاب وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ د شا و ر وسته یعنی هیڅ التفات یې ور ته وه نه کی فَالْهٰدٰی دا آیت دلیل د وجوب دی پر علماؤ چې بیانوی دی حق وخلکو ته او نه دی پټوی د پاره د غرض فاسد چې هغه اسانی ده پر ظالمانو یا خو شحالی ده د دوی یا د نفع یا د ضرر خاتته یا بخل په علم کوی او په حدیث کښی دی چې مَن کتم علمًا عن اهله اُلجم یوم القیامة بلجام من نار یعنی هرچا چې پټ کړی علم له اهل علمُ قیضه بر شی په قیضه د اور سره کذا فی المدارك وَاشْتَرَوْا بِهٖ اووی پیرودیه هغه عهد یا کتاب یعنی عوض یې پر و اخستی ثَمَنًا قَلِیْلًا د مبلغ کم فَبِئْسَ مَا یَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ پس بد دی هغه شی چې پیرۍ دوی روایت دی چې هرکله ر سول علیه السلام له یهود و څخه پوښتنه وکړه د یوه شی چې په تورات کښے و و او دوی هغه پټ کړی او وده ته یې خلاف جواب ورکړی او په ظاهر کښے یې وده ته داسی وضعه بنکاره کړه چې مور ته وتاته موافق جواب درکړی دی نو مور ته لایق د مدحې یو او دوی په دی کار خو شحاله شو نو نازل شو لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ گمان مه کوه ای ر سوله پر هغو کسانو یَفْرَحُوْنَ چې خو شحاله کیږی دوی بِمَآ اَتَوْا په هغه کار چې کړی دی دوی چې پټول د نعت دی وَّیُحِبُّوْنَ او مینه کوی دوی فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ پس له سره مه کنه دوی بِمَفَازَةٍ خلاصیدو نکی مِّنَ الْعَذَابِ له عذابه څخه وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ له عذابه د اخرت یا له عذابه د دنیا لکه قتل او جلا وطنی او خواری او جزیه ﴿۱۸۸﴾ او دی دوی لره عذاب د رد ناك وَلِلّٰهِ او خاص خدای لره ده مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهی د اسمانو وَالْاَرْضِ ط او د ځمکی وَ

اللہ اوخدای عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۸۹﴾ پرهرشے بنه قادردی روایت دی چې هر کله قریشو وویل ورسولؐ ته چې معجزه دموسیٰ علیه السلام عصا اوید بیضاء وه اودعیسےٰ مړی کول اوپاندہ اوبرلاړ رغول وو اوته که داکوٗه صفا دسرونړ وکی نومور به ستا دخدای قدرت و منو دیاره دبیان دی چې غیرله کوٗه صفا نوری نښے دقدرت هم ډیری دی دانازل شوا اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ بیشکه چې پیدا کولو د اسمانونړ هغه چې په دوی کښے دی وَالْاَرْضِ اود ځمکی سره دهغه چې په دی کښے دے وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ اوپه مختلف کیدو دشپی کښے وَالنَّهَارِ اود ورځی کښی په کیدو او په نه یا تیدو کښے یا په رڼا او تیارہ کیدو کښے لَاٰیٰتٍ هرائینه څوڅو قسمه نښے دی په وجود دصانع حکیم واحد قدیم قادرعلیم باندی لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ خاوندانو دخالصو عقلولره څکه چې دانقلیات دعالم دلالت کوی پروجود دمحدث واحد قدیم څکه چې که قدیم نه شے نوزدی به هم محتاج شی وبل محدث ته اوهغه بیا وبل محدث ته وهکذا یابه دورلازم شے اویا تسلسل اوداخو دواړه باطل دی نو لازم شوچې دی قدیم دی ابتداء اووا حد دی څکه چې که خدای متعدد وی نوخراب شوی به وو دا څکی اواسما نونه کما قال جل شانه لوکان فیهما آلهة الا الله لفسدتا اودخاوندان الَّذِیْنَ هغه کسان دی یَذْکُرُوْنَ اللّٰهَ چې یادوی دوی خدای قِیٰمًا وَّقُعُوْدًا هم په ولاړی اوهم په ناستی وَّعَلٰی جُنُوْبِهِمْ اوهم چې په اړخو پراته وی یعنے په هروخت کی ئے یادوی یامُراد دری حاله دلما څخه دی یعنے صحت اودوه دمرض وَیَتَفَکَّرُوْنَ او فکرکوی دوی پرطریقه داستدلال فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ په پیدا ایښت داسمانونوکښے وَالْاَرْضِ اود ځمکی کښے چې څرنګه عجائب دی پکښی چې اسمان ارت دی اوځمکه تنګه

عه یعنی داغږاوغونډی دی د صفا ۱۲ سه یعنی پیدا کونکی حکیم یعنی هرکار ئی د حکمت دی ۱۲ صه واحد چې نوردی په بادشاهی او په خدائی کښے قادر قدرت لری عالم پوهیږی ۱۲ سه یعنی که چیرې وای په دی څکه اواسمانونو کښی معبودان اوخدایان تاثیر کونکی بیلدالله نوهرا ئینه خراب شوی به وو دا څکه اواسمانونه ۱۲ لعه یوه صحت یعنی چې سړی جوړ وی نوپه ولاړی دی لمونځ کوی اوچې ناجوړه وی نوپه ناستی دی لمونځ کوی اوکه ډیر ناجوړ وی بیے طاقته وی نوپه پروت دی لمونځ کوی ۱۲

اودی صاف دی اوداخیرته ده اوګلوی دی اوداوږه ده اودی هواردی اودا
ناهواره اودی ښوی دی اوداژیږه اودی مسین دی اوداډاخاورو اودی له ستورو
ډک دی اوداخالی ده هرکله چې دارنګارنګ تغیرات وګوری نوله ډیره حیرته
ووائی رَبَّنَا ای ربه زمونږ مَا خَلَقْتَ هٰذَا نه دی پیدا کړی تادا تمام عالم یا طلاع
عبث په مسخره وسُبْحٰنَكَ پاکی ده تاله فَقِنَا پس وساته مونږ عَذَابَ النَّارِ (۱۹۱)
له عذابه داوږه ددوزخ ځکه رَبَّنَا ای ربه زمونږ اِنَّكَ بیشکه ته چې لی مَنْ
تُدْخِلِ النَّارَ هرڅوک چې ننباسی لی په اوردوزخ کښی فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ دپس په
تحقیق سره وشرماوی تادی په عالم کښی او سپک اوهلاک دی کړی وَمَا
لِلظّٰلِمِيْنَ او نشته ظالمانوله یعنی کافرانوله مِنْ اَنْصَارٍ (۱۹۲) هیڅوک له یارانو او
مددګارانو رَبَّنَآ ای ربه زمونږ اِنَّنَا بیشکه مونږ چې یو سَمِعْنَا مُنَادِيًا واوریدی
مونږ یوغ دیو جاړچی (اوازکونکی) يُّنَادِيْ چې ناری وهی او بولی خلګو چې هغه رسول
علیه السلام یاقرآن دی چې ترقیامته ناری کوی په ژبه دبیان لِلْاِيْمَانِ ایمان
راوړوته اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ یعنی داسی وائی چې ایمان راوړی ای خلګو پرربکم چې
فَاٰمَنَّا پس ایمان راوړی مونږ رَبَّنَا ای ربه زمونږ فَاغْفِرْ لَنَا پس وبخښه مونږته
ذُنُوْبَنَا ګناهونه زمونږ وَكَفِّرْ عَنَّا اووړ ژوه له مونږ څخه سَيِّاٰتِنَا واړه ګناهونه
زمونږ وَتَوَفَّنَا اووفات کړه اوبیا حساب کړه مونږ مَعَ الْاَبْرَارِ (۱۹۳) له نیکانو سره
رَبَّنَا ای ربه زمونږ وَاٰتِنَا اوراکړه مونږ ته مَا وَعَدْتَّنَا هغه شیان چې وعده کړی
ده تاله مونږ سره دهغو عَلٰى رُسُلِكَ په ژبه درسولانوخپلو وَلَا تُخْزِنَا اومه
رسواکوه مونږ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ د په ورځ دقیامت په اولینو او په اخرینوکښې اِنَّكَ
لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ (۱۹۴) بیشکه چې ته نه خلاف کوی وعده خپله او په تفسیر بیر
کښې راغلی دی چې اول له دی پخوا رَبَّنَا رسول ویلی دی اودویم صدیق اکبرؓ او
دریم فاروقؓ او څلرم عثمانؓ او پنځم مرتضیٰؓ نوډیره دښکاره کولو دقبول دی

سوالو نازل شو فَاسْتَجَابَ لَهُمْ پس قبول کړه دوی لره د اسوالو نه رَبُّهُمْ رب د دوی او د اسے ئې و رته و ویل چے اِنِّیْ لَآ اُضِیْعُ بیشکه چے نه ضائعه نه عبث کوم عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ عمل د هیڅ عمل کونکي له تاسے څخه مِّنْ ذَكَرٍ له نارینه څخه وی د اعمل اَوْ اُنْثٰى یا له ښځو څخه وی حُكه چے بَعْضُكُمْ بعض ستاسے چی دی مِّنْ بَعْضٍ ج له بعضو دی یعنی نارینه له ښځو او ښځې له نارینه وو دی او د اقوال بیا په یوه ډله بنی آدم دی نو زه هم په یوه ډله قبلول کوم نقل دی له امام جعفر صادق رح څخه چے هر چا چی غم غالب شو او ده د اپنځه سره رکعته ووایل نو خدای به ئې له غمه شر رخلاص کړی او مراد به ئې حاصل کړی فَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا پس هغه کسانو چے پرې اینبی دی دوی شرك یا وطن او خپلوان د دیاره دینۍ وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ او وویستل شوی دے په لارې نه ماکښے دوی له مینو (کورونو) خپلو وَاُوْذُوْا فِیْ سَبِیْلِیْ او نه وسره ول شوی دی په لارهٔ زما کښے یعنی په سبب د دین زما وَقٰتَلُوْا او جنګونه ئې کړی دی له کفارو سره وَقُتِلُوْا او وشرل شوی دی لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ هرا ئینه خامخا به وړ شوهم له دوی څخه سَیِّاٰتِهِمْ ګناهونه د دوی وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ او هرا ئینه داخل به کړم دوی جَنّٰتٍ جنتونو تَجْرِیْ په هغه باغونو کښے چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج لاندی د قصورو یاد ونو د هغو څلور قسمه وَلی دا اوبو د شید و د شرابو د شاتو اوجزا به د نیکو و رکړو موږ د دوی ته ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط په جزا ورکولو د نیکو سره له جانبه د خدای وَاللّٰهُ او خدای چې دی عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ (۱۹۵) د ده څخه ده نیکه اوښه جزا

روایت دی چے هرکله مشرکانو غیشو نه کول او پر فقراء و د مؤمنانو زړه سخت وه اود دوی په زړونو کښې به ډیر ګران ښکاره د مجبب کار دی چې بُت پرستان دا سې خوشحاله دی او خدای د وستان دا سے بد حاله دی نو دا پاره د تسلی د دوی نازل شو لَا یَغُرَّنَّكَ نه دی تیریږی باسے له سره تا تَقَلُّبُ الَّذِیْنَ ګمراه کړوا چو ریدل د هغو کسانو چے کافران دی فِی الْبِلَادِ (۱۹۶) په دی ښارونو کښے د پاره د سوداګری او د

ف۱ یعنی ظهر و رته ر سول څوی دی ۱۲ منه یعنی جدا شوی دی له وطنه ۱۲

سیلو ځکه چې د اګرنه یدل د دوی مَتَاعٌ قَلِيلٌ تدعیش لږ دی ثُمَّ مَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ط بیا پس له مرګه ځای د دوی دوزخ دی وَبِئْسَ الْمِهَادُ (۱۹۷) او بد ځای دی د دیره کیدو دا دوزخ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا لیکن هغه هغه کسان چې پیریږی رَبَّهُمْ له ربه خپله لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ دی دوی لره باغونه چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د قصورو یا دونو دهغوځلورقسمه ولے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وی دوی په دی جنتو کښے نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط په دی حال کښے چې پیشکشی او مهمانی ښه وی له جانبه د خدای دا بابا غونه دی جنتیانو لره وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ اوهرڅه ښه هغه شی چې د خدای څخه دی خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ (۱۹۸) هغه ډیرغوره دی نیکانو لره له دی فانی عیشه وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ او بیشکه چې بعض له اهل کتابو لَمَنْ يُّؤْمِنُ هرڅوک دی چې ایمان راوړی بِاللّٰهِ پرخدای وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ او پرهغه کتاب چې رالیږل شوی تاسے ته ای محمدؐ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ او پرهغه کتاب چې رالیږل شوی دی ودوی ته چې تورات دی که مراد له اهل کتابو څخه ابن سلام او اصحاب دده وی او انجیل دی که مراد څندی نجاشی او اصحاب دده وی خٰشِعِيْنَ په دی حال کښې چې بیریدونکی یا تواضع کونکی وی لِلّٰهِ خدای لره لَا يَشْتَرُوْنَ نه پیریږی دوی بِاٰيٰتِ اللّٰهِ په آیتو د خدای یعنی په احکامو د تورات یا په پتولو د نعت نبوی ثَمَنًا قَلِيْلًا مبلغ لږ اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی له اهل کتابو څخه داکارونه پکښې دی لَهُمْ اَجْرُهُمْ دی دوی لره اجرددوی هم دپخوانی دین اوهم دډی دین محمدؐی عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد رب ددوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای سَرِيْعُ الْحِسَابِ (۱۹۹) ژر کونکی دی د حساب يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ای مؤمنانو صبرکوی په اداد فرائضو یا په جهاد کښې وَصَابِرُوْا اوغالب اوسی همیشه په صبرکښې پرکفارو باندی وَرَابِطُوْا اوترلی لری همیشه تیارا سونه خپل په بندرونو جهاد کښې اوخپل ځانونه هم

عه د تقوی یعنی بنګلو او مانیو ۱۲ عه مهمانی میلمستیا ۱۲ صه توا ضع کونکی عاجزی کونکی ۱۲ سه نعت صفت ۱۲ سه مبلغ قیمت ۱۲

هر وخت تیا ر لری جهاد ته وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه بیر یږی له خدایه لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰﴾ بنا ئی چې تاسی بریالی شے قال علیه السلام اقرؤا الزهراوین البقرة وسورة آل عمران فانهما یاتیان یوم القیمة کانهما غمامتان اوغیابتان اوفرقان من طیر صواف تحاجان عن اصحابهما

سورة النساء مدنية

اٰیاتها ﴿۱۷۶﴾ رکوعها ﴿۲۴﴾

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ اے خلگو وه بیر یږی تو له له ربه خپله څخه یعنی له قهره اوله عذابه دده څخه الَّذِیْ هغه رب چې په قدرت کامله سره خَلَقَكُمْ پیدا کړی ئی یاست تاسی مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ له یوه شخصه چې ادم ؑ وَّخَلَقَ مِنْهَا اوپیدا ئی کړه همدله دغه نفسه زَوْجَهَا جفت (جوړه) ده ده چې بی بی حوا ؑ وه په دی شان چې په جنت کښی یوه وړه جبرائیل علیه السلام وړه یښتی د چپه طرفه ډاډم علیه السلام را وه ایسته او بی بی حوا ؑ ئی څندی سازه (جوړه) کړه وَبَثَّ مِنْهُمَا اوخواره ئی کړه پرتمام روی زمین له دی دواړو څخه یه واسطه د تولد تناسل سره رِجَالًا كَثِيْرًا سړی ډیر وَّنِسَآءً اوښځی ډیری وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ او وه بیر یږی له خدایه چې په وخت د مدد غوښتو کښی یو له بله بلله تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ سوال کوی یو له بله په هغه څای سره وَالْاَرْحَامَ د اوبل بیر یږی له قطع د څیلوی له اقرباؤ سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای كَانَ عَلَيْكُمْ دی پرتا سے رَقِيْبًا ﴿۱﴾ نگهبان نومیا ید چې په هیڅ وخت په هیڅ حال یه هیڅ حرکت یه هیڅ سکون له ده څخه غافله نه شی ﴿روایت دی چې یوه سړے څخه د عظفانه د څیل یتیم وړاړه د ډیر مال وو چې بیا هغه بالغ شو نو څیل مال ئی څندی طلب کی او هغه منع وکړه نو نازل شو وَاٰتُوا الْيَتٰمٰۤى او ورکړی اے ولیانو یتیمانو لره اَمْوَالَهُمْ مالونه د دوی روایت دی چې د دوی به څیل خوارمور ؤ نه او پسونه له سړی څخه ویتیمانو تر کړه او د دوی چاغ به ئی څیل ځان ترکړه او ویل به ئی

عه فرمایلی دی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې وایاست دوه سترورې یعنی سورة بقرة او سورة آل عمران ځکه چې رابه شی دوی تو ئی داسو ریځی او یا دوی تو لړی د مرغانو نصف تر ونکو یعنی دوه چهترې چې جګړه برکوی له جانبه د مدګرو څیلو یعنی چې څوک ئی وائی د هغوی خلاصی به له مخدایه غواړی ۱۲

چے شاۃ بشاۃٍ یعنی پسه پسه شونونازل شو وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ او بدل مه اخلے ناپاك بِالطَّيِّبِ ص په پاك باندی یعنی مه اخلی هغه مال دیتیم چی ستاسی په حق کښی ناپاکه دی په بدل دخپل پاك مال کښے وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ اومه خورې مالونه ددوی کله کړی إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ط له مالونو خپلوسره إِنَّهُ كَانَ بے شکه چی دی داخورك یا بدلول یا مال دیتیم حُوبًا كَبِيرًا ۲ گناه لویه بیا هغه سړی چے داواوس بدل نوئی وویل نعوذ بالله من الحوب الكبير اومال ئی تول پروړه وسپاری روایت دی چے هرکله عن پوبه له مالونه دیتیم خپل ځان ساتی نوتازل شو وَإِنْ خِفْتُمْ اوکه و یریدلاست تاسے أَنْ لَا تُقْسِطُوا له دی چی برابری به ونه کړه شے فِي الْيَتَامَىٰ په حق دیتیمانو کښے فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ پس په نکاح واخلی تاسے هغه چی خوښی شی ستاسی مِنَ النِّسَاءِ له بنځو ثْنَىٰ دوی دوی وَثُلَاثَ اودری دری وَرُبَاعَ ۳ اوخلور خلور اودادواړه - واوونه په معنیٰ دآوْدی حاصل داچے که مال ثخمه دیتیم ویره کوی نوله نر ناهم ویره کوی اوله بنځو سره معامله په نکاح کوی نه یه سفاح اوله ډیرو بنځو ثخمه هم ویره وکړی اوله خلور وثخمه زیاتی مه کوی فَإِنْ خِفْتُمْ پس که ویریدلاست تاسے أَلَّا تَعْدِلُوا له دی چی برابری به ونه کړی شے دډیرو بنځو په مینځ کښے فَوَاحِدَةً پس یوه اخلی أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكُمْ ذٰلِكَ واخلی چے مالکان شوی وی دهغو أَيْمَانُكُمْ ط بنځی لاسونه ستاسی اودا کنایت دی له مالکیت ثخمه یعنی که داغواړی چے بنځی ډیری وی اوقید دعدل پکښی نه وی نو مینځی پیدا کړی چی په هغوکښے هیڅ قید نشته ذٰلِكَ داکول دیوی اصیلی یاډیرو سُرِّيَّاتو چے دی أَدْنَىٰ ډیرنژدی دی أَلَّا تَعُولُوا ۳ ودی ته چی میل یاظلم و نه کړی تاسی وَآتُوا النِّسَاءَ اوورکړی بنځو صَدُقَاتِهِنَّ مهرونه ددوی په حال دکید و ددی مهرونه وبښی نِحْلَةً ط عطا له خدایه پرډوی باندی فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ پس که د ډیرو دوی تاسی لره پخپله خوښه اودرتیری شی عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ له کومه شی له دی مهرثخمه نَفْسًا په خوښی دخپلی طبع فَكُلُوهُ پس خوړی هغه

عه حکم نه بدل له اضافت ثخمه ۱۲

درکړی شی اولګوی ئې پخپلو مصارفو هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا ④ بې ګناه بې ضرره کذا فی المدارک وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اومه ورکوی یعنی مه سپاری لیونو اوکم عقلوته یعنی ښځواووارثه اولاد خپل ته اَمْوَالَكُمُ الَّتِيْ هغه مالونه خپل جَعَلَ اللّٰهُ چې کړی دی خدای دا مالونه لَكُمْ قِيٰمًا تاسی لره سبب د قوام د بدن او ترسره کولو د تولو کارو یعنی هم د دنیا لکه خوراك، چښاك، پوښاك، مسکن اوباقی اسباب د معیشت شو او هم د دین لکه حج عمره، نفقه، خیرات، ضیافت اوباقی مصارف دینیه شوه وَّارْزُقُوْهُمْ اوروزئ ورکوی دوی لره فِيْهَا په دی مالونکښې وَاكْسُوْهُمْ اوجامه هم ورکوی دوی لره وَقُوْلُوْا لَهُمْ اووایاست دوی ته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑤ خبره خوږه نرمه یا معنیٰ داچې مه سپاری ای ولیانو په لیونو او په ښځو او په یتیمانو هغه مالونه د دوی چې ستاسے په تصرف کښې دی تر وخته د هوښیارۍ او د بلوغ د دوی پوری اوخوراك اوپوښاك وسره ورکوی اود لاسه کوی ئې چې دامال ستاسے دی اوتاسی له ئې ساتو وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى اووازمایاست تاسی یتیمان که نارینه وی په تمیز په بیع په شراء په حفظ د مال سره اوکه ښځه وی نو په څرخ په ګندولو په شربلو په پخولو په نورو کارو د کالو سره حَتّٰٓى اِذَا ترهغه وخته بَلَغُوا النِّكَاحَ چې ورسیږی دوی وحد د نکاح ته یعنی حد د بلوغ ته چے هغه په نزد دامام اعظم نارینه په احتلام یا په پوره کید وسره دا تلسو کالو دی اوښځے په حیض یا په حمل یا په پوره کید و داو ولسو کلو سره دی او فتویٰ پرهم دی ده ځکه چې عمر و نه د دی زمانی کوتاه دی فَاِنْ اٰنَسْتُمْ پس که بیا ومونډی تاسے مِّنْهُمْ رُشْدًا له دوی څخه پس له بلوغه هوښیاری په معامله او په ساتنه د مال کښې فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ پس وسپاری ودوی ته اَمْوَالَهُمْ ۚ مالونه د دوی اوکه پس له بلوغه هم هوښیار نه شو نو له سره مال مه پرسپاری دا په نزد د یانو او د امام شافعیؒ او په نزد د امام اعظمؒ پس له پنځه ویشتو کلو مال پرو سپاری اګرکه هوښیار نشی هم وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اومه خوړی دامالونه

سه یعنی په ځایو نګښت ۱۲ هه یعنی دامعنی ئې په مدارك کښې نږدې ده ۱۲ سه یعنی حکم پر مذهب د یانو کول کیږی ۱۲

د دوی اِسْرَافاً بیری له حد شرعی وَّبِدَاراً او په جلتی سره اَنْ یَّکْبَرُوْا له ویری د دی چی لوی به شی دوی او بیا مال به ئی نه شو خوی وَمَنْ او هر هغه څوك كَانَ غَنِیّاً چی وی نوا نگر فَلْیَسْتَعْفِفْ ج پس میبا ید ځان دی وساتی له خوراك څخه د مال ئی وَمَنْ او هر څوك كَانَ فَقِیْراً چی وی دی نادار ه فَلْیَاْكُلْ پس میبا ید چی خوری دی بِالْمَعْرُوْفِ ط په انصاف یعنی په قدر د حاجت سره چی هغه ضرورې خوراك او پوښاك دی فَاِذَا دَفَعْتُمْ پس په هغه وخت چی وسپاری تاسی اِلَیْهِمْ اَمْوَالَهُمْ د دوی ته مالونه د دوی فَاَشْهِدُوْا پس شاهدان د نیسی عَلَیْهِمْ ط پر دوی چی بیا تهمت یا جگړه یا قسم درته متوجه نه شی اوکه شاهدان نه وو نو په وخت د انکار کښی امام اعظم ؒ وائی چی قول د ولی دی سره د قسمه وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دی خدای او د اَ زائده ده حَسِیْباً ⑥ حساب کونکی او بیا جزا ورکونکی ر وایت دی چی هر کله بنځه د اَوس بن صامت انصاری ر سول ؐ له ر اغله چی د اَوس ؓ پیر مال وو او قول ئی ترور وو اختی او یو ه نړۍ او دری می لونی ځندی پاته شوی وو او مور ښ ته ئی هیڅ ر انه کړه بیا چی ترور ونه ئی ر اځا ضر کړه نو هغوی و ویل چی نر مور ښځوانی د جاهلیت عادت دادی چی میراث قول د جنگیالی وی او د بنځو او د وړو برخه پکښی نه وی نو نازل شو لِلرِّجَالِ نَصِیْبٌ ده سړو لره برخه که پکښی لوی وی که واړه مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ له هغه مال چی پر اینبی وی بیړته مور او پلار ؤ دوی وَالْاَقْرَبُوْنَ ص او نور و اقربا ؤ د دوی وَلِلنِّسَآءِ نَصِیْبٌ او د ه بنځو لره برخه که پکښی لوی وی اوکه وړی مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ له هغه مال چی پر اینبی وی بیړته مور او پلار د دوی وَالْاَقْرَبُوْنَ او نور و اقربا ؤ د دوی مِمَّا قَلَّ مِنْهُ له هغه مبلغ چی کم وی له دی مال څخه اَوْ كَثُرَ ط یا ډیر وی نَصِیْباً مَّفْرُوْضاً ⑦ برخه مقرره کړه شوی له خدایه بِاَنَّ نزول له دی ایت مال د اَوس ئی له ترور ونو ځخه بیړته طلب کړو اما هر کله چی وارث ټوب معلوم شو او تعین د حِصَصُ لا معلوم نه وو نو امانت ئی وساتی وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ او په هغه وخت چی حاضر شی وېش

د میراث ته اُولُوا الْقُرْبٰی هغه خپلوان چې په دی میراث کښے برخه نلری وَالْیَتٰمٰی اوهغه چے بیگا نه وی وَالْمَسٰکِیْنُ اونادارہ محتاجان فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ پس ورکړی تاسے دوی ته هم له دی مال څخه څه قدر وَقُوْلُوْا لَهُمْ اووایاست ودوی ته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑧ خبره خوږه اونرمه پسته چې خوشحاله ولاړشے اوداحکم بیا منسوخ شویدی په ۱ یت د میراث سره وَلْیَخْشَ الَّذِیْنَ اومیبایدچې ودی بیریږی هغه کسان یعنی وصیان لَوْ تَرَکُوْا که پریږدی دوی مِنْ خَلْفِهِمْ له مرګه چله ذُرِّیَّةً ضِعٰفًا اولاد عاجزان خَافُوْا عَلَیْهِمْ نو ویریږی به دوی په دی اولادچې د تربیت ئ هیڅوك نشته نو خراب به شی لکه چې په هغه خپل اولاد زهیریږی میبایدچې په دی پردی یتیمانو دی هم داسے زهیریږی — فَلْیَتَّقُوا اللّٰهَ پس میبایدچې ودی له خدایه وَلْیَقُوْلُوْا اومیبایدچې ودی وائ دوی قَوْلًا سَدِیْدًا ⑨ خبره محکمه سازه خوږه اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان — یَاْکُلُوْنَ چې خوری دوی اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی مالونه دیتیمانو ظُلْمًا په ظلم یعنے بی اذنه د شرع اِنَّمَا یَاْکُلُوْنَ بیشکه هم داخبره ده چې خوری ئ دوی یعنی اچوی فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ۱ په نسوخپلوکښی اور وَسَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا ⑩ اوځړیدی چې داخل به شی دوی په لمبو ع
داور کښے یُوْصِیْکُمُ اللّٰهُ امرکوی وتاسے ته خدای اوفرض کوی پرتاسے فِیْٓ اَوْلَادِکُمْ تاپه حق داولاد ستاسے کښی یعنی په حق د میراث د رلوددوی کښی داسی چې لِلذَّکَرِ یو نارینه له مقرره ده برخه له میراث څخه مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ ج په مثل د برخی ددوو ښځو فَاِنْ کُنَّ پس که وی دا میراث وړونکی نِسَآءً خالص ښځے فَوْقَ اثْنَتَیْنِ پورته دوو اودد ووهم داحکم دی فَلَهُنَّ پس مقرر دی .دوی لره ثُلُثَا مَا تَرَکَ ج دوه برخے له دروبرخود هغه مال چې پرایښے دی مړی وَاِنْ کَانَتْ اوکه وه دا ښځه وَاحِدَةً یوه فَلَهَا النِّصْفُ ط پس دی دی لره نیم مال ۵ ترکی وَلِاَبَوَیْهِ اومورا وپلار ددی مړی لره لِکُلِّ وَاحِدٍ هر یوڅه مِنْهُمَا السُّدُسُ له دی دواړو شپږمه برخه ده مِمَّا تَرَکَ له هغه مال څخه چې پرایښی دی میت اِنْ کَانَ لَهٗ وَلَدٌ ج که وی دی میت لره فرزند

۵ مال پاتر شوی له مړی ۱۲

که نارینه وه اوکه بنځه فَاِنْ لَّمْ یَکُنْ پس که نه وو لَّهٗ وَلَدٌ ده لره فرزند وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ اوحال دا چې میراث وړی د میت خالص مور او پلار دده یعنې چې بل وارث ورسره نه وو فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ع پس د مور د میت لره دریمه برخه د ترکې اوباقی قول د پلار دده فَاِنْ کَانَ پس که وو لَهٗۤ اِخْوَةٌ دی میت لره ورونه یا خویندی اعیانی یا علاتی یا اخیافی دوه یا زیات فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ پس ده مور د میت لره شپږمه برخه د ترکې اماداتیرې قولې برخې چې دی مِنْۢ بَعْدِ وَصِیَّةٍ پس له ادا کولو دهغه وصیت دی یُّوْصِیْ بِهَاۤ چې وصیت وکړی میت په هغه سره اَوْ دَیْنٍ د یا پس له ادا کولو دهغه قرض دی چې په میت د چا پاتې وی اٰبَآؤُکُمْ پلرونه ستاسے چې دی وَاَبْنَآؤُکُمْ اوزامن ستاسے چې دی لَا تَدْرُوْنَ نه پوهیږی تاسے چې اَیُّهُمْ اَقْرَبُ کوم یو له دوی د یو نزدے دی لَکُمْ نَفْعًا تاسے ته له جهته د نفع او خدای په پوهیږی او دا نوع قسمت فرض دی فَرِیْضَةً مِّنَ اللّٰهِ د په فرض کید و له جانبه د خدای اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای کَانَ عَلِیْمًا حَکِیْمًا ﴿۱۱﴾ ښه دانادی ښښتن د حکمت دی وَلَکُمْ نِصْفُ مَا اود دی تاسو لره نیم د هغه مال تَرَكَ اَزْوَاجُکُمْ چې پرایښي وی ښځو ستاسی اِنْ لَّمْ یَکُنْ که نه وو لَّهُنَّ وَلَدٌ ځ دوی لره فرزند یو یا د یو نر یا ښځه له تاسے یا له بل نه وی یا لمسے یاورسې کښته فَاِنْ کَانَ پس که وو لَهُنَّ وَلَدٌ دوی لره فرزند فَلَکُمُ الرُّبُعُ پس د ه تاسے لره څلرمه برخه مِمَّا تَرَكْنَ له هغه مال چې پرایښے وی دی ښځو اماداهم مِنْۢ بَعْدِ وَصِیَّةٍ پس له اداد هغه وصیت دی یُوْصِیْنَ بِهَاۤ چې وصیت وکړی د اښځې په هغه سره اَوْ دَیْنٍ د یا پس له هغه قرضه چې په دوی د چا پاتې ته وی وَلَهُنَّ الرُّبُعُ او دی د ازواجو (زوجاتو) ستاسے لره څلرمه برخه مِمَّا تَرَكْتُمْ له هغه مال چې پرایښے وی تاسے اِنْ لَّمْ یَکُنْ که نه وو لَّکُمْ وَلَدٌ ځ تاسے لره فرزند یو یا د یو نر یا ښځه له دوی یا له نور و ښځو فَاِنْ کَانَ پس که وو لَکُمْ وَلَدٌ ځ تاسے لره فرزند فَلَهُنَّ الثُّمُنُ

هه اخیافی وهغه ته وائی چې مور او پلار ئې یو وی او علاتی وهغه ته وائی چې پلار ئې یو وی او مور ئې بیله وی او اخیافی وهغه ته وائی چې مور ئې یوه وی او پلار ئې بیل وی ۱۲

پس ده دوی لره اتمه برخه مِمَّا تَرَكْتُمْ له هغه مال چې پرابنبی وی تاسے امادا هم مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس له ادا دهغه وصیت دی تُوصُونَ بِهَا چې وصیت وکړی تاسی په هغه سره اَوْ دَيْنٍ یا پس له هغه قرضه چې پرتا سے له بل چا یا ته وی وَاِنْ كَانَ اوکه وو رَجُلٌ يُّوْرَثُ هغه سړی چې میراث ځندی وی ل کیږی یعنی میت كَلٰلَةً بې موړه او بې پلاړه او بې اولاده وو اَوِ امْرَاَةٌ یا ښځه وه هم داسے کلاله وَّلَهٗ اَخٌ اوحال داچې وو دی کلاله لره یووړ ورما دری اَوْ اُخْتٌ یا خورما دری فَلِكُلِّ وَاحِدٍ پس دی هر یولره مِنْهُمَا السُّدُسُ ۚ له دی ورورہ اوخور (یعنے دمورلہ طرفہ) شپږمه برخه د ترکی فَاِنْ كَانُوْٓا پس که وو دا ورونه یا خویندی دکلاله اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ زیات له یوه ورورہ یا خور فَهُمْ شُرَكَآءُ پس شریکان دی فِي الثُّلُثِ په دریمه برخه د ترکی کښے اما دا هم مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس له هغه وصیته دی يُّوْصٰى بِهَآ چې وصیت کړی شوی دی په هغه سره اَوْ دَيْنٍ یا پس له هغه قرضه چې په کلاله دچا یا ته وی غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ په دی حال چې ضرر رسونکی نه وی دامړے اومقرضه دین یعنی نه دی کوی وصیت او بے موجبه اقرار په دین محض دپاره دکمولود حصو دوارثانو یا ورثیات له ثلث وصیت دِی هم نه کوی وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ داوصیت دی یعنی امر دی تاسے ته له خدای په وصیت کولو سره وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدای ښه دانادی په نفع په ضرر ستاسے حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ډیر صبر کونکی دی چې هیڅوك په گناه شړلو نه نیسی فَائِدَةٌ دادمعلومه وی چې وصیت په دی څلورو سره وو موضعو کښے مؤخر له دَيْنٍ په عمل کښے اما په آیت کریمه کښے مقدم ذکر دی دپاره داهتمام په ادا دده یعنی لکه په ادادین کښے هیڅوك تغافل نه کوی هم داسے په وصیت کښې دی ئ هم نه کوی تِلْكَ داتیرا حکام چې دی د یتیمانو او د میراث او د وصیت او د دین حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ پولے دی داحکامو د خدای وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ اوهرڅوك چې فرمان ومنی د خدای وَرَسُوْلَهٗ او

عہ یعنے وصیت کونکی ۱۲ عہ یعنی اقرار کونکی ۱۲ سہ یعنی په ځان کښے ۱۲ ے یعنی کوشش ۱۲ لعہ یعنی غفلت ۱۲ صہ یعنی خلاف داچې یو سړی مرشے اوهم قرض پر پاتے شی اوهم ے وصیت کړی وی نو اول بہ له مالہ دده ځمہ قرض ادا کیږی اوکه د قرض ځمہ شمہ مال پاتہ شو نو هلتہ بہ په وصیت عمل کول کیږی او خدای وصیت ځکی وکړی دی د پارہ دوے چې خانکا وصیت دمړی بر پاپہ کوی او غفلت پہ کښے مہ ځکوی ۱۲

د رسول دده يُدْخِلْهُ نوداخل به کړي خداى دافرمان منونکى جَنّٰتٍ تجرۍ په هغوباغونکښې چې بهيږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندى د بنګلو يادونو دهغوځلورقسمه ولى خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط هميشه به وى دوى په دى باغونکښې وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (۱۳) اودا دخول په مطيعانو په جنت کښې پرطريقه د خلود سره بري دى ويلوى سر روايت دى چې عيينه بن حصين وويل چې نږه خو ميراث بنخوا وو پرو (کوچنيانو) لره نه ورکوم اويوازى ئې پرجنګ الوتيښم نونازل شو وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ اوهر څوك چې سرکشى وکړي له امره د خداى وَرَسُوْلَهٗ اوله امره درسول ده وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ اوتيرشي له پولو ده يُدْخِلْهُ نَارًا نوداخل به ئې کړي په اور کښې خَالِدًا فِيْهَا ۪ چې هميشه به وى په دى اورکښې وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ (۱۴) اودى ده لره عذاب سپکونکى ۔ ع ۱۳

نظم

د ميراث مى تحت اللفظ درته وويايه فى الحال	يو په دى چې په او بږده دى طبيعت نشى ملال
اوبل دى لره چې تفصيل مى په يوه نظم کښې دى کړى	که شانونه ئې وى گوره چې معلوم شى درته حال
(ارثيه)، نوى کتاب دى چې تاريخ دى غفار	بيا مى شرحه ده پرکړي پس له متن په يوه کال
د شرحې نوم "تراثيه" ده دواړه کړي دى مراد	رب دى شى پرمهربانۍ چې روزى ئې کړي وصال

وَالّٰتِيْ اوهغه بنځې يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ چې وکړي بدکار يعنى زنا مِنْ نِّسَآئِكُمْ له بنځوستاسو څخه يعنى مړوخى فَاسْتَشْهِدُوْا پس شاهدى وغواړى اے حاکمانو قاضيانو له هغه چا څخه چې قذف ئې ورته کړى دى چې کړى دوى عَلَيْهِنَّ پردى بنځو اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ څلور عاقلان، بالغان له تاسے يعنى له مؤمنانو فَاِنْ شَهِدُوْا پس که شاهدى اداکړه دى څلورو ورڼو نا فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس بند يوانى کړى تاسے دا بنځې فِى الْبُيُوْتِ په کوټو کښې حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ ترهغوچې قبض کړى ارواح ددوى مرګ يا ملك الموت اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ يا پيدا کړى خداى په دى مينځ کښې لَهُنَّ سَبِيْلًا (۱۵) دوى لره لاره د خلاصے له بنده وَالَّذٰنِ او هغه دوه کسان چې دى يعنى سړى او بنځه چې لوڼدان وى يَاْتِيٰنِهَا چې وکى دوى دا فاحشه يعنى زنا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ له تاسے پس دسزا نځوى دوى په قهر په ملامتيا ويلو ردوى چې نه شرميږى اوله

عه يعنى خاوند دارى ۱۲ سه يعنى بنځه نږه زنا ۱۲ سے يعنى په حق دهغوبنځو کښې چې يوالە بلە سره نږه نا کړى يعنى بنځه په بنځه ۱۲

خدایه نه بیربری فَإِنْ تَابَا پس که توبه کار شوله دی وَأَصْلَحَا او بنه لارئی وه نیوله
فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا پس څنډ وکړی له دوی څخه او هیڅ غرض مه په لری إِنَّ اللَّهَ بیشکه چې
خدای كَانَ تَوَّابًا ترحِيمًا (۱۶) دی توبه قبلونکی مهربانه اوداد واره ایتونه بیا منسوخ شوی دی
په ایت د الزانیة والزانی او ابن بحروائی چې احسن د توجیها تو دادی چې ایت وَاللَّتَانِ
يَأْتِيَانِ په حق د سحاقو کښے دی او ایت وَاللَّذَانِ په حق د دوو نارینه وو لوطیا و کښې دی
نو بنا پردی دا ایت منسوخ نه دی او داحکم پر خپل حال باقی دی کذا فی التفسیر الاحمدی إِنَّمَا التَّوْبَةُ
بیشکه هم داخبره ده چې قبلول د توبې دی عَلَى اللَّهِ پر خدای لیکن نه پر طریقه د وجوب بلکه پر
طریقه د وفا په وعده لِلَّذِينَ خاص هغه کسانو لره دی يَعْمَلُونَ السُّوءَ چې کوی دوی بدی
یعنی گناه بِجَهَالَةٍ په ناپوهی سره ثُمَّ يَتُوبُونَ بیا پس له هغه توبه وکاږی دوی مِنْ قَرِيبٍ
په نژدی زمانه کښے یعنی پخوا له حاضریدو د مرګه فَأُولَٰئِكَ پس داکسان چې دې
يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ رجوع کوی خدای پردوی په مغفرت سره وَكَانَ اللَّهُ اود ی خدای
عَلِيمًا حَكِيمًا (۱۷) بنه دانادی په نیت د تائبانو حکم کونکی دی پردی چې پښیمانی توبه ده وَلَيْسَتِ
التَّوْبَةُ او نشته قبلول د توبې لِلَّذِينَ هغه کسانو لره يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ چې کوی
دوی گناهونه حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ تر هغوچې حاضر شے أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ یوه د دوی ته مرګ قَالَ
نو پس له هغه وائی دی إِنِّي بیشکه زه چې تُبْتُ الْآنَ توبه می وکښه اوس وَلَا الَّذِينَ
او همدا سے نشته قبلول د توبې د هغه کسانو لره يَمُوتُونَ چې مری دوی وَهُمْ كُفَّارٌ او حال
داچې دوی کافران وی په وخت د مرګ کښے هم أُولَٰئِكَ داکسان چې دی أَعْتَدْنَا لَهُمْ تیار
کړیدی موږ دوی لره عَذَابًا أَلِيمًا (۱۸) عذاب د دردناک روایت دی چې عادت د جاهلیت
د خلکو دا وو چې څوک به مړ شو نو چې په ښځې به ئې کوم سړی له وارثانو نو یا له اقربا وُ دده
خپل نږدی وا چاوی نو ښځه به هم دهغه شوه نو یا به ئې پخپله وکړه بی مهره او یا به ئې پربل
چا خرڅه کړه په مهر او په اول د اسلام کښے به هم خلکو هیلا سے کول بیا نازل شو۔

مم یعنی په حق د هغو ښځو کښے چې یوه له دښے سره زنا کوی یعنی ښځه په ښځه ۱۲

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا يَحِلُّ لَكُمْ روانه دی تاسے لره اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ داچی
په میراث واخلے تاسے ښځی کرهًا ط په ناخوښه بی رضا دووی روایت دی چی هغه
خلګو به د اسے کول چے خپله ښځه به د چا خوښه نه وه نوښه او تنګه به ئی کړه چی خلع
وکړی اوله مهر څخه ټیره شے نو نازل شو وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اومه حصاروی دانیځ -
لِتَذْهَبُوْا د پاره ددی چے یوسی تاسے یعنی ټیرته واخلی بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ بعض
له هغه مال چے ورکړی دی تاسے ودوی ته په مهر کښے اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ مګر هلته چی راشے
دوی یعنی وکړی بِفَاحِشَةٍ کوم قسم بدکاری لکه نشوزنا یا زنا مُّبَيِّنَةٍ ج بنکاره یعنی که
نا شزه یا زنا نیه وی اوتاسی طلب دخلع څخه دی کوی نو بالک نشته وَعَاشِرُوْهُنَّ اوړوند ګار
کوی له دی ښځو خپلو سره بِالْمَعْرُوْفِ ج په احسن وجه قول په فعل په نفقه په مسکن کښے
فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ پس که خوښی نه وی ستاسے دا ښځی فَعَسٰٓى اَنْ پس بنائی داتکرهُوْا شَيْـًٔا
چے نه به خوښوی تاسے یوشی وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ اوحال داچے به کښیږدی خدای په دی شے
کښے خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾ ثواب ډیر یا فرزند صلح روایت دی چے په جاهلیت کښے دچا چے
به کومه ښځه خوښه شوه په حسن یا په مال نوخپله ښځی ته به ئی عذر جوړ کړو اوتنګه
به ئی کړه چی دامهر په خلع بیرته څندی واخلے او په دی مبلغ بیا بله په نکاح واخلی نو
نازل شو وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اوکه اراده وکړی تاسے اِسْتِبْدَالَ زَوْجٍ د بدلولو دپاره ښځی
مَّكَانَ زَوْجٍ د پرځای د بلی ښځی یعنی چی یوه طلاقوی او بله اخلی په نکاح سره وَّاٰتَيْتُمْ
اوحال داچی ورکړی وی تاسے اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا کوی یوی ته له دوی څخه پیرمال په مهر کښی
فَلَا تَاْخُذُوْا پس مه اخلی تاسے بیرته مِنْهُ شَيْـًٔا ط له دی مال څخه څیز شے اَتَاْخُذُوْنَهٗ
آیا اخلے تاسی دامال بُهْتَانًا تاپه دروغو موجبه وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۲۰﴾ او په ګناه بنکاره څکه
چی مال دغیر اخلی په زور وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ اوڅرلګه به اخلے تاسی دامال د مهر بیرته وَقَدْ
اَفْضٰى اوحال داچی په تحقیق سره رسیدلی دی بَعْضُكُمْ بعض ستاسے اِلٰى بَعْضٍ بعض نوره ته
پرطریقه د مباشرت سره وَاَخَذْنَ مِنْكُمْ اوبل اخستی دی دوی له تاسے مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا
﴿۲۱﴾

عهد کلك چی هغه ایجاب اوقبول دی روایت دی چې جاهلیت کښی بعض بی باکانو او ناداناتو به دخیلو پلرونځی په نکاح اخستی نو په منع ددی کښی نازل شو وَلَا تَنْكِحُوا اومه اخلی په نکاح مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ هغه ښځې چې په نکاح کړی وی پلرو ستاسے اوامام اعظم وائی چې مراد له دی نکاح څخه وطی دی یعنی مه وطی کوی هغه ښځې چې وطی کړی وی پلرو ستاسے په نکاح یا په ملك یمین یا په نر نامِّنَ النِّسَآءِ له ښځو اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ط مگر په هغه چې په تحقیق پخوا له دی تیر شویدی یعنی هغه عفو دی اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً بیشکه چې داکار دی ډیر بد و عقل ته وَمَقْتًا او ډیر مبغوض شرعی ته وَسَآءَ او بده ده دا سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ لاره عرفته هرکله چې په ایت دولاتنکحوا سره په بیان د محرماتو کښے شروع وشوه نو لسان دوحی مقتضیٰ بیان دباقی څوارلسو قسمو محرماتو هم شے چې اوه ډومبی نسبی واوه ورسته سببی دی نو نازل شو حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ حرام کړه شوی ده پرتاسے اُمَّهٰتُكُمْ میندی ستاسے وَبَنٰتُكُمْ اولونی ستاسی اوداڅلورمه قسمه که بی واسطے وی اوکه په واسطه سره وی لکه دوا ړه قسمه اناګانی اودواړه قسمه لمسی شوی وَاَخَوٰتُكُمْ اوخویندی ستاسے وَعَمّٰتُكُمْ اوخویندی دپلرو ستاسے وَخٰلٰتُكُمْ اوخویندی دمیندو ستاسے وَبَنٰتُ الْاَخِ اوورېرۍ ستاسے وَبَنٰتُ الْاُخْتِ اوخورزی ستاسے اوداپنځمه سره وردسته که اعیانی وی اوکه علاتی وی اوکه اخیافی وی حکم ئې یودی اوداڅوه نبسی دی وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اوهغه میندې ستاسے اَرْضَعْنَكُمْ چې ئې درکړی وی تاسے ته وَاَخَوٰتُكُمْ اوخویندې ستاسے مِّنَ الرَّضَاعَةِ له جهته دتی سره دو لو لقوله علیه السلام یحرم من الرضاع مایحرم من النسب وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ اومیندې د ښځو ستاسے یعنی خوابنے وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ اوهغه پرورګی ستاسے چې فِيْ حُجُوْرِكُمْ چې په غیږ وستاسے کښے ئې تربیت موندلی وی اوپیدا شوی وی دوی مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ له هغه ښځو ستاسے دَخَلْتُمْ بِهِنَّ زچې دخول کړی وی تاسے له دوی سره فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا پس که چیرې نه واست تاسے دَخَلْتُمْ بِهِنَّ چې دخول موکړی وی له دوی سره فَلَا جُنَاحَ

یعنی پخپله نه دوحرامی خو له یوه بل سبب څخه حرامی شوی دی ۱۲ عه مینځ اړه چې حرامیږی ښځه له جهته دنسب او تر دو لو څخه دهغو پشان چې حرامیږی له جهته د نسب څخه ۱۲

عَلَيْكُمْ رئیس نشته هیڅ وبال پرتاسے وَحَلَائِلُ اَبْنَاۗئِكُمُ الَّذِيْنَ او ښځې د هغه زامنو ستاسے مِنْ اَصْلَابِكُمْ چې له شاؤ ستاسے وی وَاَنْ تَجْمَعُوْا اوبل دا حرام کړه شوی دی چې جمع وکړی بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ په مابین دوو خویندو کی یعنې چې دوی خویندی سره یوځای په نکاح واخلے اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ط مګر چې پخوا له دی تیر شوی دی یعنی هغه عفوه دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ غَفُوْرًا دی بخښونکی دګنا هو رَّحِيْمًا (۲۳) مهربانه پرېښودکانو باندے

وَالْمُحْصَنٰتُ

او بلې حرامې دی پردی مړو ښځې مِنَ النِّسَاۗءِ له ښځو مګر الَّا مَا مَلَكَتْ مګر هغه مړوښځې چې مالکان شوی وی دهغو اَيْمَانُكُمْ ج ښځې لاسونه ستاسے یعنې ډیرې دی مړوښځې مطلق حرامے دی پرتاسے مګر هغه مړوښځې چې تاسی له دارالحرب څخه په سبی راوستلی وی بی مړولو اودا حکم په نزد امام اعظمؒ په وقوع د فرقت سره دی په سبب د تباین د دارینو په سبب سره او یاران ئې په مطلق سبی سره وائی او محکم لری كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ج د افرض دخدای چې پرتاسے لازم شوی دی په حق د محرما تو کښے وَاُحِلَّ لَكُمْ اوحلال کړه شوی دی تاسے ټه مَّا وَرَاۗءَ ذٰلِكُمْ هغه ښځې چې بغیر له دی ښځو سوا نو دی اَنْ تَبْتَغُوْا دپاره دی چې د غواړی تاسے دا نا محرمی ښځې بِاَمْوَالِكُمْ په مالونو خپلو سره یعنې په مهر و مُّحْصِنِيْنَ په دے حال چې ساتونکی اوسی په نکاح سره د خپل دین غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ط نه د ناکو نکی فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ پس هر هغه شی چې معاش کړی وی تاسے بِهٖ مِنْهُنَّ په هغه شی له دی منکوحو خپلو څخه لکه خلوت یا ملاعبت یا قبله یا جماع فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ پس ورکړی د وی لره مهرونه د وی فَرِيْضَةً ط په دی حال کښے چې مقرر کړه شوی دی دا مهرونه په وخت د نکاح ترلو کښے وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اونشته ګناه پرتاسے فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ په هغه شی کښې چې راضے شوی وی سره د واړه ډلو مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ط پس له کیدو په نکاح ترلو سره یعنې که ښځه ئې ګډوی له مقرر کړه شوی څخه یا ئې ځاوند زیاتوی نو بالک نشته یا معنی داچې په هرشان چې بیا راضے شے په کیفیت د نفقې او صحبت او مفارقت اِنَّ اللّٰهَ

ع۵ یعنی یوځای والی په یوه کور کښے چې ښځه اوخاوند د واړه یوه ګونبه ځای تر شے ۱۲ سه زوجیین یعنی ښځه اوخاوند ۱۲ سه نفقی یعنی خرچ خورلے ۱۲

بیشکه خدای کَانَ عَلِیْمًا دی سنه دانا په نفع سته حَکِیْمًا ﴿۲۴﴾ د پرحکمتی چے فرمایلی ئی دی وَمَنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ اوهرهغه څوك چې طاقت نلری مِنْكُمْ طَوْلًا له تاسے له جهته دتوانګری اَنْ یَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ دد ی چې په نکاح واخلے اصیلی مؤمنی بڼځے فَمِنْ مَّا پس په نکاح دی واخلی کومه یوه له هغو مینځو څخه مَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ چے مالکان شوی دی دهغو بڼے لاسونه ستاسے مِنْ فَتَیٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ط له هغو مینځو ستاسی چے مؤمنی دی اوتید د مؤمنو په نزد امام اعظم ؒ استحسانی دی نه وجوبی حُکمه چې دی کنابیه هم روا وائی قیاس پراصیله وَاللّٰهُ اوخدای اَعْلَمُ بِاِیْمَانِكُمْ ط د پرښه دانا دی په ایمان ستاسی بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ج بعض ستاسے له بعضو دی یعنی اصیلات له مریو څخه اومریان د اصیلاتو نو څخه پس نو له دی نکاح شرم اوعار مه کوی چے قول دیوه نیکه لمسیان یاست چې آدم علیه السلام دی فَانْكِحُوْهُنَّ پس په نکاح واخلے دبل چا مینځی بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ په اجازه دخاوندانو نودوی وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ اوورکړی دوی ته یا مالکانو دوی ته مَهْرَهُنَّ نه دوی بِالْمَعْرُوْفِ په ښه وجه چې ننګی اوخفګان پکښی نه وی مُحْصَنٰتٍ په دی حال چے ځان ساتونکی وی له نارواووڅخه غَیْرَ مُسٰفِحٰتٍ چې نه بنکاره کونکی دی زنا وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ج اونه ښونکی وی د پټو یارانو فَاِذَآ اُحْصِنَّ پس په هغه وخت چې ودنی کړه شوی وی دوی فَاِنْ اَتَیْنَ پس که راته وکړه دوی بِفَاحِشَةٍ په فاحشه یعنی نرنا فَعَلَیْهِنَّ پس دی پرده وے نِصْفُ مَا نیم دهغه عَلَی الْمُحْصَنٰتِ چې پر اصیلو پیغلو دی مِنَ الْعَذَابِ ط له حد چې هغه ښځوس دهری دی ذٰلِكَ لِمَنْ دا په نکاح اختسل دمینځو هغه چاله دی خَشِیَ الْعَنَتَ چې بیریږی له مشقته مِنْكُمْ ط له تاسے څخه یعنی له دی څخه چې په نرنا به ګرفتار شی وَاَنْ تَصْبِرُوْا اوداچې صبروکی تاسے له مینځو خَیْرٌ لَّكُمْ ط د پرغوره دی تاسی لره حُکمه چې اولاد ستاسی نه مریان کیږی لکه حدیث دی چې الحرائر صلاح البیت والاماء هلاك البیت وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دی وفی صبرونه رَّحِیْمٌ ﴿۲۵﴾ مهربانه دی چې نکاح دمینځو ئی هم روا کړی د یُرِیْدُ اللّٰهُ اراده لری خدای لِیُبَیِّنَ لَكُمْ چې بیان کړی تاسو ته احکام دحلالو اودحرامو

ع ۱۳ ۱

له معنی داچې امیه بنځے چې دی سبب دجوړښت ګډوډی اومیښتی چې دی سبب دوبا نولوګډوډی ده ۱۲

وَيَهْدِيَكُمْ او وښيي وتاسي ته سُنَنَ الَّذِيْنَ لاري دهغو کسانو مِنْ قَبْلِكُمْ چې تېر شوي له تاسي څخه وو لکه پيغمبران يا صالحان چې تاسي هم دهغو په پله ولاړشئ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ او توفيق درکړي توبې ئې درکړي ووتاسي ته وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخداى ښه داناده حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ په حکمتي دي په هر کار کښې **روايت** دي چې يهود وعلاني خوښيدي اووېرې او خوږې روا کړي وي بياچې **آيت** د حرمت د دُنيا راغلے نو يهود وبه ويل چې دتمامتو اوخالصتو توني دي هم حرامي شي لکه چې ميندې ئې حرامي دي نو نازل شو وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اوخداى اراده لري اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ تر چې کوشه د توبې پرانزي **خلاصه** کړي پرتاسو وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ اوغواړي هغه کسان يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ چې پيروي کوي دوي دارنګه نفس اَنْ تَمِيْلُوْا د دي چې کابره شئ ولاړي ته دحق مَيْلًا عَظِيْمًا ﴿۲۷﴾ په ډېر کږ. بدوسره يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده لري خداى اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ج دودي چې سپک کې له تاسو څخه بار د تکالیفو يا دعبادتو وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ او پيدا کړه شوى دى انسان ضَعِيْفًا ﴿۲۸﴾ کمزورى چې طاقت د ډېر روند بار نلري يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ مه خورى مالونه يُوبل بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ په مينځ خپل کښې په ناروا لکه په غلا يا په جوارى يا په سود يا په زور کولو يا په دروغو يا په تګې يا په نا حق دعوى يا په فاسد وعقد اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً مګر په دې وجه چې وى دا پر طريقه د سوداګرى عَنْ تَرَاضٍ په خوښې دواړو مِّنْكُمْ ته له تاسي وَلَا تَقْتُلُوْٓا او مه وژنئ اَنْفُسَكُمْ خپلو نه خپل يعنې نور مؤمنان لان المؤمنين كنفس واحدة يا خپل ځان مه وژنئ لکه بعض نادانان يا هغه کار مه کوى چې سبب د قتل ستاسي وى يا ځان مه هلاکوى په حرام خورى سره يا په ګناهو يا په هوا د نفس يا په موجبا تو د قهر د خداى اِنَّ اللّٰهَ بيشکه خداى كَانَ بِكُمْ دى پرتاسي اى اُمته د رسول رَحِيْمًا ﴿۲۹﴾ ډېر مهربانه ځکه تاسي اُمت مرحومه بلل کيږئ وَمَنْ اوهر هغه څوك يَّفْعَلْ ذٰلِكَ چې وکړي

عه يعنې په هغه کار وپسې ستاسي پکښې خير او فائده وى ۱۲ سه يعنې د خوښيدو ۱۲ صه يعنې خوښيدى د ميندو ۱۲ سه يعنې اداچې ځکه د اترل مؤمنان چې دى په مثل د بوفس دى يعنې خداى تعالىٰ د فرمايل چې مه وژنئ نه ځانونه خپل يعنې مه وژنئ مؤمنان مسلمانان ۱۲ سه يعنې د هغه امت چې رحمت کړه شوى دى پرتاسي له جانبه ۱۵ الله پاك ۱۲

دا کار رونه عُدُواً نا پر طریقه د تیریدو د له حق وَّظُلْماً او په ظلم سره فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ پس زر دی چې داخل به کړو موږ دی نَاراً په اور دوزخ کښې وَكَانَ ذٰلِكَ اودی دا کار عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾ پرخدای د پراسانه اِنْ تَجْتَنِبُوْا که ځان وساتی اوځنډ وکړی كَبَآئِرَ مَا له غټو هغو کناهو تُنْهَوْنَ عَنْهُ چې منع شوی یاست تاسے له هغه نُكَفِّرْ عَنْكُمْ نو وبه ړ وو موږ له تاسے سَيِّاٰتِكُمْ وا ړه کناهونه ستاسے وَنُدْخِلْكُمْ اود ننه به کړو موږ تاسے مُّدْخَلاً کَرِيْماً ﴿۳۱﴾ په ډیر ښه ځای کښې چې هغه جنت دی ۔

ربا عی	رب ولی مؤ منانو تل نما یه ویره اوسی سیئات به د رسه توی کړو تاسی پاک به اکلد شوکړو
	ځان ساتی له کبائرو او په مال د چا مه بلوسی او داخل به موږ جنت کړو نوی میدان به وا ړه یوسی

روایت دی چې اُم سلمیٰ عرض وکړی ورسول ترچې نارینه په خدمت د جهاد مشرف دی او ښځی خندی محرومی دی او په میراث کښې هم دوی پرښځو دوچند دی نو کاشکی زه هم نارینه وای چې په جهاد کښې می نصیب شوی وای نو نازل شو وَلَا تَتَمَنَّوْا اَمَا او ارمان مه کوی د هغه شی فَضَّلَ اللّٰهُ چې غوره کړی دی خدای په هغه شی بَعْضَكُمْ بعض له تاسے چې نارینه دی عَلٰى بَعْضٍ پر بعضو ستاسے چې ښځې دی لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ ده نارینه وولره برخه مقرره له ازله مِّمَّا اكْتَسَبُوْا له له ثوا به دهغه عملو چې کړی دی دوی لکه لَمُوْنَخ، زکوٰة، روژه جهاد، علم، سخا سختی نفس سره یادا سی نو ری نیکی وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ اوده ښځو لره هم برخه مقرره له ازله مِّمَّا اكْتَسَبْنَ له له ثوا به دهغه عملو چې کړی وی دوی لکه لَمُوْنَخ، روژه، زکوٰة، پاکوالی، خیره منل د خاوند، ساتنه د مال دده نو یو دبل ارمان مه کوی وَاسْئَلُوا اللّٰهَ او وغواړی د واړه طالبی له خدایه مِنْ فَضْلِهٖ فضل او مهربانی د ده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ دی پرهر شی عَلِيْماً ﴿۳۲﴾ ښه دانا روایت دی چې په جاهلیت کښې یوسړی به بل

عه یعنی پرطریقه د تیریدو له حق شمه ۱۲ سه یعنی نوی میدان او مکان به قول وګرځی ۱۲ سه لکه صلاة، زکوٰة، صوم جهاد، علم، سخا، بجاهده د نفس ۱۲ سه لکه صلاة، زکوٰة، صوم، عفت، اطاعت د زوج، حفظ د مال د ۱۲ ۵

په نړۍ وه یوی او بیا په میراث کښی برابر لهٔ چې اولاد سره شریک کړی نو په منع دد وی کښے نازل شو وَلِكُلٍّ ا و هر چا لره[له] تاسے جَعَلْنَا مَوَالِيَ مقرر کړی دی مور و ارثان اختیار کړی د چې لو برخو میتًا له هغه مال څخه تَرَكَ الْوَالِدٰنِ چې پرا ینبی وی مور او پلار ددہ وَالْاَقْرَبُوْنَ او نور، وخپلوانو ددد وی یعنی دا ترکه د وارثانو برخه ده تاسے لپ بل چا ته مه ورکوی روایت دی چې هر کله ابیتونه د میراث راغلے نو اصحابو عرض وکړی و رسول ته چې له مور څخه بعض کسان دی چې د میراث اخستو قسمیان لری اوس مور د هغوسره څرنګه معامله وکړو نو نازل شو وَالَّذِيْنَ او هغه کسان چې دی عَقَدَتْ چې غوټه کړی وی و رسره پیوند دد وستی اود ورورولی اَيْمَانُكُمْ ښے لاسو ستاسے فَاٰتُوْهُمْ پس ورکړی دوی لره نَصِيْبَهُمْ د برخه ددوی او صورت یې دا دی چې یو سړی ازاد بچی مجهول النسب وو ائې بل چا ته چې ته می پخپل لاس والی کړی په دی چې که ما جنایت وکړه نو تاوان یې پرتا او که نړه مړشوم نو میراث می هم ستا دے او هغه بل دا قبول کړی نو په نزد د امام اعظمؒ د امیراث ورلره ثابت شو برخلاف د امام شافعیؒ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ دی پرهر شی شَهِيْدًا (۳۳) ښه خبردار ه روایت دی چې حبیبه د سعد بن ربیع ښځه له خپله خاونده ډیره سرګشته وه نوده یوه چاپیره پرځ وو هله اودی خپل پلار ته وژړل نو دوا په رسولؐ ته راغله اوده حکم په بدل اخستو وکی نو نازل شو اَلرِّجَالُ سړی چې دی قَوَّامُوْنَ ګمارل شوید ی عَلَى النِّسَآءِ پر ښځو لکه حاکمان پر رعیت له دو وجهتو چې یو عَطَّابِيْ دی لکه چې وائې بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ په سبب د دی چې غوره ګړی دی خدای بَعْضَهُمْ بعض له دوی چې نارینه دی عَلٰى بَعْضٍ پر بعضو چې ښځې دی په عقل په علم په صبر په حلم په فکر په پوهه په عصوبت په سهم په اذان په اقامت په جمع په امامت په جمعه په جماعت په خطبه په رفاعت په عزت په شرافت په امارت په خلافت په رمی په قوت په جهاد په ځوانمردی په سخا په حزم په پیغمبری په عزم او بل کسبی دی لکه چې وائې وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا او په سبب د دی چې ورکوی دوی مِنْ

ع ۸ ۲

---

۵ یعنی چې مور سره قسم ګړی وی ۱۲ منه یعنی چې نسب دده معلوم نه وی ۱۲ سه یعنی خدای تعالیٰ څوک نه ورهکړی دی بیله کسب کولو ۱۲ صه یعنی پخپله ئې حاصل ګړی دی ۱۲

اَمْوَالِهِمْ ؕ له مالونه خپلو په ځمکو او په خرڅ ورکولو دوی کښے او هرڅه چې ښځې دی هغه پردوه قسمه دی لکه چې وائی فَالصّٰلِحٰتُ پس هرڅه نیکانی ښځې دی قٰنِتٰتٌ فرمانبرداری دی ازواجو حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ ساتونکی دی پښتی شاګ ازواجو ځان او کور او مال د دوی بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ په سبب دهغه شی چې ساتلی دی خدای دوی لره چې ازواج ئې مامور کړی دی په ځمکه په نفقه په بنه خوږه معامله یعنی په جلب د هرخیر او په سلب د هرشر حدیث دی چې خیر النّسآء امراة اذا نظرت الیها سرّتك وان امرتها اطاعتك واذا غبت عنها حفظتك فی مالها ونفسها وَالّٰتِیْ او هرچې هغه ښځې تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ چې بیریږی تاسے له سرکشی د دوی فَعِظُوْهُنَّ پس نصیحت وکړی ورته او پوهی ئې کړی په حقوقو او په تعظیم د ازواجو وَاهْجُرُوْهُنَّ او ځان تول کړی ځندی که نشوز ئې بنکاره کی او په نصیحت سمی نه شوی فِی الْمَضَاجِعِ په ځایونو د خوب کښی یعنی شا کړی ورته یا اغوستن تری بیل کړی اما په یوکټ کښے یاجماع ترك کړی وَاضْرِبُوْهُنَّ ج اووی وهی په بی داغ وهلو سره که په بیلتون هم سمی نه شوی او بیا دوباره نشوز ئې وکړو فَاِنْ وعظ په وخت د خوف د نشوز کښے دی او هجر په وخت د ظهور د نشوز کښے دی او ضرب په وخت د تکرار د نشوز کښی دی فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ پس که غاړه ئې کښینوه د رته فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ پس مه لټوی پردوی باندی سَبِيْلًا ؕ لاره یعنی بهانه د پیښولو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ دی بلند شان لوی یعنی هرکله چې دی سره له دومره لوئی تاسے ته بخښنه کوی نو میباید چې تاسے خو دوی ته په طریقه اولی سره عفوه وکړی وَاِنْ خِفْتُمْ اوکه بیریدست تاسوای حاکمانو یا والیانو زوجینو شِقَاقَ بَيْنِهِمَا له نا سازی څخه په مابین د دی دواړو کښے فَابْعَثُوْا پس ورولاړ کړی یعنی مقرر کړی حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ مینځګړی پوهنده له خپلخانی زوج څخه چې دده مافی الضمیر معلوم کړی وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا

ګه معنی داچې پیغمبر ﷺ فرمایلی دی بهترې ده ښځو هغه څخه ده چې هروخت ته ورته نظر وکړی نو خوشحاله کړی تا یعنی بنایسته وی اوکه ته ورته څه کار وائی نو اطاعت کوی ستا او هروخت چې ځندی ولاړ شی یو چیرې یعنی په سفر یا هیسے بهر ته نو دا ښځه ساتنه کوی ستا پرمال او په نفس چې کښے یعنی نه مال ستا وبل چا ته ورکوی او نه ئې ناوچا سره کوی ۱۲

او بل مینځګړی پوهنده له خپلخانی څخه دښځې چې هغه ددی ما فی الضمیر معلوم کړی او حکمین ځکه له خپلوانو مقرر ځی چې دوی تر احوال دده وار وښنه معلومه وو اِنْ یُّرِیْدَآ که اراده وکی د احکمین یا نر و جین اِصْلَاحًا د سازښت یُّوَفِّقِ اللّٰهُ نو موافقت به پیدا کی خدای بَیْنَهُمَا په مابین د زوجینو کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای کَانَ عَلِیْمًا خَبِیْرًا ﴿۳۵﴾ د ی بنه دانا په مصالحو د زوجینو بنه خبردار په مقاصد و د حکمینو وَاعْبُدُوا اللّٰهَ او عبادت کړی د خدای وَلَا تُشْرِکُوْا بِهٖ او مه شریکوی له ده سره په دی عبادت کښې شَیْئًا هیڅ شے نه ملائکی نه نبیان نه لمړنۍ سپو برمی نه اوس اوشلور خصلته محکم و نیسی چې هغه له حقوقو د بندګۍ دی اَلْوَفَآءُ بالعهود والرضآء بالموجود والحفظ للحدود والصبر علی المفقود او باقی تو اح حقوق د بندګانو دی اول خندی مور او پلار ځی لکه چې وَبِالْوَالِدَیْنِ او احسان کوی د مور او پلار سره اِحْسَانًا احسان کول او حقوق د دوی ته پردی هم قولی او هم فعلی لکه په تر و ند کښې ور کړه ده په وخت د احتیاج کښې او ادب دی په کلام په مجلس په تلپ کښې او اطاعت دی په غیر منهیٔ عنه کښې او پس له اوقا تو دعا او استغفار دی دوی لره او عزت دی د اشنایانو د دوی وَهٰکَذَا همداسی حقوق دی د استاذ پر شاګرد او د پیر پر مرید لا تر نورو یات وَبِذِی الْقُرْبٰی او له خاونده د نزدیکی سره او که د انزدیکی د قریب وی او که د یاری د دوستی وی په تقدیم د سلام په معاونت که ظلم پرکیدی په لیری کولو د بغض د کینې له زړه اګر که کله نزاع واقع کیږی په معامله کښې وَهٰکَذَا وَالْیَتٰمٰی او له یتیمانو سره په مرحمت په معاونت که ظلم پرکیدی یې نه خوښ ال دمال دده وَهٰکَذَا وَالْمَسٰکِیْنِ او نادارانو

عه یعنی وفا په وعدو چې له چا سره وکړی ۔ او بل ر ضا کیدل او خوشحالۍ کیدل په هر هغه شی چې موجود او پیدا شے او بل ساتل د حدود شرع یعنی دا سے کار و ندکړی چې حد د شرع پرچاری کیږی لکه زنا، یا غلا یا نور حد ود او صبر کول دی پر ور ک شوی شی چې خندی ور ک شے یا دی څوک مړ شے نو دی صبر پرکړی ۱۲ عه یعنی بل فرمان ور ل د پلار او مور دی په هر هغه شی کښې چې منع خندی نه وی کړه شوی یې نه وی او په ناروا دا کښې او په ناروا وو کښې فرمانبر داری د مور او پلار نشته ۱۲

سره په شفقت په احسان په بی پروا کولو دده له سوالله وهکذا وَالْجَارِ ذِی الْقُرْبٰی اوله هغه کاونډی سره چې خپل هم وی وَالْجَارِ الْجُنُبِ اوله هغه کاونډی سره چې بی گانه وی په کهربانی یا قرض یې ورکړه د طعام او د شراب او د لباس او پټ خورلک د هغه شی چې دده نه ښه نه وی په معاونت د غمو او د حادثو په نه جګولو د بیوالو خپلو چې هوا پرینږدۍ نه شی په نه بندولو دا بو دده که دناوی او که د حیلی وی وهکذا حدیث دی لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَبْدٌ کَانَ یَامَنُ جَارُهٗ بوائقه لیکن خپلوان مقدم دی په بیګانه وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ اوله هغه ملګری سره چې نژدی وی اړخ ته لکه زوجین هریو له بل سره یا ملګری د سفر یا سبقی یا مجلسی یا مصلی یې خنډ کښې پس حقوق د زوجې پر زوج نفقه، کسوت، سکنیٰ قسم دی چې تر بیوی پورته وی بل تعلیم دی د هغه احکامو چې ددی ورته احتیاج وی لکه صلوٰة، صوم، حیض، نفاس استحاضه بل تادیب ورکول په وعظ په هجران په ضرب په سیاست وهکذا او حقوق د زوج اطاعت دی په هرکار د دین او د دنیا کښې بل حفظ د مال دده، نه وتل له کوره بی اذنه دده، بل نه ساتل د نفس له دې څخه مګر په منع د شارع سره وهکذا او حقوق د باقی خلورو ملګرو چې دی معاونت بدنی او نصرت او حمایت او تعلیم او نصیحت او ترک د غیبت او عفوه د تقصیر او ده وَابْنِ السَّبِیْلِ لا اوله رهروی یا له هغه میلمه سره چې بی بلله راشي په شفقت په احسان په نرم کلام په بنه طعام الی ثلثة ایام وهکذا او دده حق تر اړه بل سوی میلمه زیات دی وَمَا اوله هغه مینځو او مړو سره مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ څه چې مالکان شوی وی د هغوینې لاسونه ستاسې په تلطف په نظر د شفقت وهکذا۔

نظم

د ایت کښې لس حقونه دی اول حق د کردګار
دویم حق د والدینو یعنی حق د هور او پلار،
دریم حق د نژدیګا نو چې خپلوان وی که یاران
بل یتیم دی بل ناداره شپږم خپل چې ستاوی جار

عه معنیٰ دا چې نه به داخلیږی جنت ته هغه کس چې خلاص او بیغمه نه وی همسایه دده له حادثو او غمونو ۱۲
عه بی مودی وینه وتل شوه ۱۲ سه لکه په وخت د حیض او د نفاس کښې ۱۲ صه تر د رور څو پورې ۱۲

او ومرحاردی بیکانه بل همنشین چی وی د خنډ
لکه زوج شو یا زوجه شوه یا ملګری شو پر لار
یا ملګری دسبق شو یاد صف یا د مجلس
او نهم ئی رهرودی یا میله د خپل اختیار
اولسم ئی دی مریونه دد ے لس واړه حقوق
په تفسیر احمدی کښی دی راوړی بے شمار

اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یُحِبُّ نه خوښوی مَنْ کَانَ هغه څوک چی وی مُخْتَالًا لانخره کونکی متکبر چے په دی اهل حقو قو شرمیږی او حقوق ئی نه اداکوی فَخُوْرًا ﴿۳۶﴾ دیرفخر کونکی خود بینه چی خپل ځان ته غوره وی اونور خلك ئی پر نظر کښے هیڅ نه راځی
وَرَاَیْتَ دی چے یهود واونصاریٰ وو به یو بل ته سره نصیحت کاوی چے رسول او مهاجرو ته هیڅ مه ورکوی چے ژر محتاج اوحیران شی اوله پای څخه ونوبړی نونازل شو —
الَّذِیْنَ نه خوښوی خدای هیڅ یهود اونصاریٰ یَبْخَلُوْنَ چے بخل کوی بخیله هم وَیَاْمُرُوْنَ النَّاسَ او امرکوی نور وخلکو ته هم بِالْبُخْلِ په بخل سره وَیَکْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ چے ورکړیدی دوی ته خدای یاهغه نعت د رسول چی په تورات کښے خدای رالیږلی وو ودوی ته مِنْ فَضْلِهٖ له خپله فضله وَاَعْتَدْنَا اوتیارکړی دی مونږ —
لِلْکٰفِرِیْنَ کافرانو ته عَذَابًا مُّهِیْنًا ﴿۳۷﴾ عذاب سپکونکی وَالَّذِیْنَ اونه خوښوی هغه کسان یعنی منافقان او مشرکان یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چے شندُی دوی مالونه خپل اولښکری پرې جمع کوی رِئَآءَ النَّاسِ د پاره د ناموس اودښودُلی وخلکو ته وَلَا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ اوایمان نه راوړی دوی پرخدای وَلَا بِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ اونه پر ورځ د قیامت وَمَنْ یَّکُنِ الشَّیْطٰنُ اوهرهغه څوك چے وی شیطان لَهٗ قَرِیْنًا ده دلره همنشین اویار په دنیا کښے فَسَآءَ قَرِیْنًا ﴿۳۸﴾ پس بد دے دا شیطان په حال دکیدودده کښے همنشین او یار پاخرت کښے هم وَمَاذَا عَلَیْهِمْ اوڅه زیان اوو بال به وو پردی کفارو لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ کهایمان ئی راوړی وای پرخدای

عه یعنی له خلو پینو پر یوشی یعنی هیڅ قدر سخاوت نه کوی ۱۲ سه یعنی ځان بنکاره کولو ۱۲

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت چې جزاء عمل حقه ده وَاَنْفَقُوْا امتا او وښندې نه ئې کړي وي
له هغه مال چه رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ط چې ورکړي دي ورلره خدای وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای بِهِمْ
عَلِيْمًا ﴿۳۹﴾ پرده وی یعنی پرا قوالو پرافعالو په احوالو دوی ښه خبردار نو وجزا به ورکی ورته
لره پوره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا يَظْلِمُ ظلم نه کوی پرهیچا مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ع په قدره درونده
والی دسره میږی یا دیوه بخری دگرد وَاِنْ تَكُ اوکه وی دامثقال ذره ری حَسَنَةً نیکی
په دفتر دمؤمن کښې يُضٰعِفْهَا نو غبرگه به کړي خدای دا حسنه وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اوورپه
کړي خاوند ددی حسنی لره خاص له خپل جانبه بی استحقاق محض په خپل فضل اَجْرًا
عَظِيْمًا ﴿۴۰﴾ ثواب ډیرلوی فَكَيْفَ پس څرنگه به وی حال ددی کفارو اِذَا جِئْنَا کله چې راوبه ولو مونږ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ ۲ له هراُمته بِشَهِيْدٍ یوشاهد
چې شاهدی ولولی پرا قوالو اوپر افعالو ددوی چې هغه به پیغمبر وی دهغه امت
وَجِئْنَا بِكَ اوراوبه ولوتا هم عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ پردې امت ستاباندی شَهِيْدًا ﴿۴۱﴾ شاهد
پر مؤمنانو دایمان اوپرکافرانو دکفر اوپرمنافقانو دنفاق يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ
دوست به وکړی هغه کسان كَفَرُوْا چې کافران شوی دی په خدای وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ او
بے فرمانی ئې کړی ده له رسوله دده لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ط چې کاش شکی که هواره
کړه شوی وای پردوی مځکه یعنی دوی به ارمان ډکړی چې اوس مونږ دمړو په شان
په مځکه کښې ښخ پراته ولی یاله مځکې سره مونږهم مځکه شوی وای چې دا سخت عذاب راباندې
نه تیریدای وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ اونه به شي پتولای دخدای ښه حَدِيْثًا ﴿۴۲﴾ هیڅ خبره
روایت دی چې عبد الرحمٰن بن عوف بعض اصحابولره ناری دشراب تیارکړه په هغه
ایامو کښې چې شراب لا رواوه بیاچې ناری وشواو شراب هم تولووڅښل ناگاه دماښام
اذان شوچې یو ددوی څخه دمخه شواو قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ئې شروع کړی نوځلور ځایه

عه یعنی په لاره دخدای کښې ئې ورکړی دوی ۱۲ عه کلمه د لاچې په معنیٰ دینست راغلے یو په لا اعبد کښې اودویم په
ولا انتم عابدون کښې اودریم په ولا انا عابد کښې مطلب داچې ای کافرانو مونږ ستا سے دا نه معبودانو تاسے زمونږ
(خدای) واینه معنی اوده داسے وایې چې مونږ ستاسے دامنلواتاسے زمونږ خدای نه منی له وجې دبیهوشی څخه ۱۲
(از تفسیر خدای) (خدای)

لانافیه پکښے دی هغه څلورمره ئی پریښوده نو نازل شو یَآ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ مه نژدی کیږی و لمانځه ته وَاَنْتُمْ سُکٰرٰی او حال داچے تاسی بی سوده یاست حَتّٰی تَعْلَمُوْا ترهغو چے پوه شی مَا تَقُوْلُوْنَ په هغه قرائت چی تاسی ئی وایاست په لمانځه کښی وَلَا جُنُبًا او نه په داسے حال کښی چے تاسی جُنب یاست اِلَّا عَابِرِیْ سَبِیْلٍ مگر چے یاست تاسی تیریدونکی پرلاری یعنی مسافران نه موندونکی دابو څکه چے حکم بیا د تیمم دی نه دغسل لکه چی په اخر د آیت کښی دی یامراد له صلوٰة څخه موضع د صلوٰة دی یعنے مه نژدی کیږی و مسجد ته په داسے حال کښے چی تاسے بی سوده یاست یا جنب یاست مگر تیریدونکی په لاره د مسجد کښے یا په وخت د ضرورت کښی حَتّٰی تَغْتَسِلُوْا ترهغو چے غسل وکړی او بی غسله مه نژدی کیږی روایت دی چی په غزا دبنی مصطلق کښی یوه شپه لښکر پرچول واړول بیا چے اراده د کوچ ئی وکړه د چرگانو د اذانو پروخت چی لمونځ واوبوته ور سوو ناگاه اهیل دبی بی عائشی څخه ورک شو او لښکر ورته ولاړوو او اکثر پکښے جنب وه نو قول د رسول الله په شکایت راغله چی لمونځ قضاکیږی او او به نشته نو نازل شو وَاِنْ کُنْتُمْ مَّرْضٰٓی اوکه واست تاسے ریځوران په وخت د جنابت کښی اوْ استعمال د اوبو له ضرره بیریدست اَوْ عَلٰی سَفَرٍ یا په سفر باندی روان واست اَوْ جَآءَ اوبیا راشے اَحَدٌ مِّنْکُمْ یوله تاسے مِّنَ الْغَآئِطِ له صحرا گبت یعنی له بولو اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ یا جماع وکړی تاسے له ښځو سره فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً پس پیدا نه کړی تاسے اوبه یعنی پراستعمال ئی قادر نه واست څکه چے یا له سره اوبه نه وی یاکه وی نو لیږی وی یا اسباب د وصول نه وی ور ته په مینځ کښی مانع وی ورته لکه ماران یا لیوان یا دښمنان فَتَیَمَّمُوْا پس قصد وکړی صَعِیْدًا طَیِّبًا د خاورو پاکی یعنی د هرهغه پاک شی چے له جنسه د محکی وی په نزد د امام اعظمؒ لکه خاوره یا شگی یا تیږه اگرکه گرد ورباندی نه وی یا داسے نور شیان شوه اودوه ضربه دی ووهی په دواړو لاسو خپلو پرهغه صعید طیب باندی یوضرب د مخ پاره اوبل د واړو لاسونو د

عه یعنی د غاړی هار ۲

چپه لاس دښے لاس پاره اوښی لاس دچپه لاس پاره لکه چے وائی فَامْسَحُوْا پس مسحه
کړی تاسے په اول ضرب سره دواړه لاسونه خپل بِوُجُوْهِكُمْ په درستو مخانو خپلو وَاَيْدِيْكُمْ
اوپه دواړو لاسوخپلو په دویم ضرب سره دواړه لاسونه ترځینګلو پورې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای
كَانَ عَفُوًّا دی عفوه کونکی چے دا سختی ئې درته اسانه کړی غَفُوْرًا ﴿۴۳﴾ بخښونکی چے د تیمم
رخصت ئې درکړی اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ ایا نه گورې ته وهغوکسانو ته اُوْتُوْا نَصِيْبًا چې ورکړه
شوید ودوی ته برخه مِّنَ الْكِتٰبِ له علم د تورات یعنے احبار د یهود و يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ
چے رانیسی دوی گمراهے په هدایت سره یعنے غوره کوی یهودیت پردین د اسلام پس له یقینه
پردی چے داهم هغه پیغمبردی چې اوصاف ئې په تورات کښی راغلے دی وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ
تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾ اوارادہ لری دوی ددی چے تاسے هم ورکه کړی ای مؤمنانو لاره د
حق وَاللّٰهُ اَعْلَمُ او خدای ښه پوه دی بِاَعْدَآئِكُمْ د په دښمنانو ستاسے چې یهود دی وَكَفٰى
بِاللّٰهِ اوبس دی خدای اودا ب زائده ده وَلِيًّا ئ دوست او متولی ستاسے وَكَفٰى بِاللّٰهِ
اوبس دی خدای نَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ مدد گار ستاسے پرد دښمنانو ستاسے باندی چې هغه دښمنان
مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا له هغوکسانو ندی چے یهودیت ئې اختیار کړیدی يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ تغیر
ورکوی دوی اوړوی هغه کلمات د نعت رسول ﷺ چے په تورات کښی راغلی وی یا آیت د
رجم عَنْ مَّوَاضِعِهٖ له ځایونو خپلو څخه یعنی د الفاظو د تورات پرځای نور الفاظ ایږدی له
خپله ځانه وَيَقُوْلُوْنَ اووائی دوی په خولو سَمِعْنَا واوریدی مورږ گفتار ستا وَعَصَيْنَا او
ونه مانه مورږ امرستا اما په زړه کښے وائی وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ اووااورهٖ د اویل نه مورږ
په دی حال کښے چې اورولی شوی دی ئې د بد و الفاظو یادهیڅ لفظ یعنی کوئ یا مرګ
یا هیڅ نه اورې وَّرَاعِنَا اولفظ د راعنا وائی یعنی رعایت کوه نه مورږ اوپه مورږ هم فهم
لره اما د اهلته که له رعایته څخه شی اوکه له رعونته څخه نو نسبت دی د نادانی اود
احمق نعوذ باللّٰه منها پس دا دواړه لفظه یا په ظاهر کښے مدح ده او پکښی بنیری یا
زړورول دی لَيًّا ئ په حال د اړولو اود تا وولو د وی د هغه الفاظو چې دوه مخ لری

بِاَلْسِنَتِهِمْ په ژړ بوده دوی وَطَعْنًا فِی الدِّیْنِ د اوپه حال د طعن او د قدح دده دوی په دین د اسلام کښے چې دوی وائی چې که دوی شتیا پیغمبر وی نو زمونږ په نیتو به خبر شوی وو حاصل دا چې دوی په خپلو رسول کښی هغه الفاظ وائی چې په ظاهر کښی بنه اوپه باطن کښی بدوی وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا اوکه بیشکه دوی ویلی وای سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا واورېدی مونږ ویل ستا او قبول کی مونږ امرستا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا اواورځ اونظر لره پرمونږ او لفظ د مسمع ئی ورځ نه ویلای لَکَانَ نو هرا ښه وو بده اویل خَیْرًا لَّهُمْ د پرغوړه دوی لره وَاَقْوَمَ او ډیر برابر وَلٰکِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ اویلکن لیرې کړی دی دوی خدای له خپله رحمته بِکُفْرِهِمْ په سبب د کفر خپل فَلَا یُؤْمِنُوْنَ پس ایمان نه راوړی له دوی څخه اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۴۶﴾ مګر کم خلق لکه ابن سلام او ملګری ده یا پر ایمان یعنے بې فائدی چې بعض رسولان منی او بعض نه منی یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اے هغه کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چې د رکړه شویدی تاسے ترکتاب اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا ایمان راوړی پرهغه قرآن چې را لیږلی دی مونږ پر محمد صلے الله علیه وسلم باندی مُصَدِّقًا یه دی حال چې باور کونکی اورښتینی بلونکی دی یا موافق دی په اصولو د دین کښے لِّمَا مَعَکُمْ له هغه تورات سره چې تاسے څخه دی مِّنْ قَبْلِ اَنْ پخوا له هغه وخته نَّطْمِسَ وُجُوْهًا چې هوار وو مونږ مخونه یعنے چې خوله او لوزه او سترګی او وږی ځندی لیرې کوو او هوار وو ئی سمه تخته فَنَرُدَّهَا پس ګرځوو بیا دا هوار مخونه عَلٰۤی اَدْبَارِهَا په شکل د څټانو د دوی یعنے لکه څټ چې هواردی همداسے مخ به هم هوار کړو یا پخوا له هغه چې ردکړو مخونه طرف د څټانو ته یعنی چې مخونه هوار وو او د اخره اس په څټ کښی پیدا کړو یا پخوا له هغه مشر انو لره یا به ئی پریښاسو او خوار وو ئی اَوْ نَلْعَنَهُمْ یا شرمو او رسوا کړو مونږ دا مشران یا قول اهل کتاب په تر تلو د رحمت څخه یا په مسخ کولو سره کَمَا لَعَنَّاۤ لکه څنګه تر تلی او مسخ کړی وه مونږ اَصْحٰبَ السَّبْتِ د ملګری د خالی چې په دی ورځ د بنکار څخه ډډ ما هیا نو منع کړه شوی وه او دوی منع نه شوه نو قول بیزوګان شوه وَکَانَ اَمْرُ اللّٰهِ اودی امر یا وعید د خدای مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾ کیدونکی خامخا روانې دی چې یو

عه ستر ګی او پوزه او غوږونه او خوله ۱۲

نړو پرسړی رسول علیہ السلام لره راغلے چې تمام عمری په گناهو کښے تیر شوے دے اما له شرک څخه مې ځان ساتلی دے او اوس پرهغو گناهو پښیمان یم نو نړ ما به څه حال وی نو نازل شوا اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یَغْفِرُ اَنْ نه بخښے هیڅوا ته داکار یُّشْرَكَ بِهٖ چے شریك ونیول شی له ده سره څوك وَیَغْفِرُ مَا او بخښی هره گناه دُوْنَ ذٰلِكَ چه کښته وی له دغه شرکه څخه کبیره وی که صغیره لِمَنْ یَّشَآءُ ۚ ده هرهغه چا ته چې اراده وشے وَمَنْ یُّشْرِكْ بِاللّٰهِ اوهر څوك چې شریك ونیسی په خدای پورې کومه شی فَقَدِ افْتَرٰۤی پس په تحقیق سره وئ ترل په خدای پورې اِثْمًا عَظِیْمًا ﴿۴۸﴾ دروغ ډیرلوی ورلیت دی چې بعض یهود وخپل هملکان رسول لره راوستل چې داطفلان گناه لری که ئ نه لری ده وویل چې نه ئ لری نو دوی وویل چې مور هم له گناه پاك یو د دوی پشان څکه چې گناهونه دصبا بیگاه لره اود بیگاه صبا له راوبخښلی شے نو نازل شه اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ ایا نه وینې ته هغه کسان یُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ چې پاکوی دوی ځانونه خپل اوهم داحکم دی دهرهغه چا چې خپل ځان ستایی په نیکی په تقوی په طاعت سره او په واقعه کښی داسے خبره نه ده بَلِ اللّٰهُ یُزَكِّیْ بلکه خدای پاکوی مَنْ یَّشَآءُ ۚ هغه څوك چې اراده ئ وشی وَلَا یُظْلَمُوْنَ اوظلم به ونه کړل شے پرمزکیانو اونه پرزاکیانو فَتِیْلًا ﴿۴۹﴾ په قدر د پلتی دهغه خیری چې په گوته منبلو سره پیدا کیږی اُنْظُرْ کَیْفَ وگوره چې څرنگه یَفْتَرُوْنَ ترې دوی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ پرخدای د دروغ د بخښلو دگناهو د صبا بیگاه ته اود بیگاه داصبا ته وَكَفٰى بِهٖۤ اوبس دی دا دروغ اِثْمًا مُّبِیْنًا ﴿۵۰﴾ گناهونه بنکاره روایت دی چې کعب بن اشرف اوحیی بن اخطب له د لی دیهود وسره مکی لره وغلے چې قریش قسمیان کړو اومدینی له پرې وکړو پاره د جنګ نو قریشو ورته وویل چې تاسی اومحمد صلی اللہ علیہ وسلم دواړه کتابیان یاست له مور سره به تگی وکړی نو اول راشئ اونر مور د خدایانو ته چې جبت اوطاغوت دی سجدا وکړی اوچا طاغوت ته شیطان ویلی دی چې نر مور باور وشے نو سجدا ئ وکړه او ابوسفیان له دوی څخه

سے یعنی دگوری دهوکه نوشته ۱۲ ۔ ھ یعنی ویر ول له خدا نه ۱۲ متعلق سبعه گذشته پاڼه ۲۳۶ لغات دیره ۱۲

پوښتنه وکړه چې زمونږ دین غوره دی او که محمدؐ؟ یهود وویل چې ستاسے دین ددوی له دین څخه غوره دی نو نازل شو اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اٰيانه ګورې ته وهغوکسانو نه اُوْتُوْا چې ورکړه شویده دوی لره نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ برخه له کتاب نه چې تورات دی يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ ایمان راوړی دوی پرګټ چې سجده وریته کوی وَالطَّاغُوْتِ او پر شیطان چې متابعت ئې کوی وَيَقُوْلُوْنَ اووائی دوی لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا په حق دهغه کسانو کښے چې کافران دی هٰٓؤُلَآءِ داکافران قریشو چې دی اَهْدٰى پر برابر دی مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا له هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی پر محمدؐ باندی سَبِيْلًا ﴿۵۱﴾ له جهته دلارې ـ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ داحکم کونکی چې دی په غوره والی دکفارو هغه کسان دی لَعَنَهُمُ اللّٰهُ دچا لیرې کړی دی دوی خدای له خپل رحمته وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ اوهر هغه څوک چې لیرې کړی دی خدای له رحمته خپله فَلَنْ تَجِدَ پس هیڅیرې به نه کړې پیدا لَهٗ نَصِيْرًا ﴿۵۲﴾ ده لره مدد ګار په دفع دعذاب کښې اَمْ لَهُمْ ایا شته دی یهود ولره نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ برخه له بادشاهی دد نیا یعنی نشته اوکه وی فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ پس په دغه وخت کښې چې بادشاهان وی هم به ورنه کړی دوی وخلګو ته یا اصځا بوته له دیره بخله نَقِيْرًا ﴿۵۳﴾ په قدر دنقیر چې هغه پوستکی دی په زړی (زاکو) دخرما باندی اوچیر خاص چې دوی خوار او مسکینان وی اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ بلکه کینه کوی دوی له خلګو سره یعنی له رسول علیه السلام سره اوله اصحابو دده سره عَلٰى مَا په هغه شی اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ورکړی دی دوی لره خدای چې هغه عزت اونصرت اوغلبه اولوفی ده مِنْ فَضْلِهٖ ؕ له فضله خپله فَقَدْ اٰتَيْنَآ پس په تحقیق سره ورکړیدی مودِ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ اولاد دابراهیمؑ له چې موسیٰ اود اؤدؑ اوعیسیٰؑ وکتاب چې تورات اوزبور اوانجیل وو وَالْحِكْمَةَ اونبوت یا علم دحلالو اوحرامو وَاٰتَيْنٰهُمْ اوورکړی ووموږ دوی ته مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾ بادشاهی لویه لکه یوسف او داؤدؑ او سلیمانؑ یامراد له اٰل دابراهیم څخه رسول علیهم السلام دی اوله کتابه قرآن اوله حکمته

---

۱۲ یعنی ملګرو خپلو لره ۱۲ عه حاصل داچې که چیرې دوی بادشاهان شے او مالګانه وخلګو شے نوهم به تابعانو خپلو لره څه شی ورنه کړی اوسږ له دی چې دوی پخپله خوار او عاجزان دی نوځکه نه چا لره څه ورکړی ۱۲

شریعت او له ملکه عظیم څخه دوامردی شریعت دی ترقیامته ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ﴾ پس بعض له یهود و هغه دی ﴿اٰمَنَ بِهٖ﴾ چے ایمان ئی راوړی دی پر رسول ﷺ یا پردی حال د ال د ابراهیم ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ﴾ او بعض له دوی هغه دی ﴿صَدَّ عَنْهُ﴾ ط چے څنډ ئی کړی دی له رسول ۴ یاله دی حال څخه ﴿وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ﴾ او بس دی دوزخ د پاره د عذاب د کافرانو ﴿سَعِيْرًا﴾ (۵۵) اور بل کړه شوی ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ﴾ بے شکه هغه کسان ﴿كَفَرُوْا﴾ ایا ﴿بِاٰيٰتِنَا﴾ چے نه منی او پټوی ایتونه زمونږ یعنی قرآن یا نوری معجزی ﴿سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا﴾ ژر دی چے داخل به کړودو ے په اور کښے ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ﴾ هرکله چے پاخه شے او وسوځے ﴿جُلُوْدُهُمْ﴾ پوستکی د دوی په دی اور ﴿بَدَّلْنٰهُمْ﴾ بدل به کړو مونږ دوی له ﴿جُلُوْدًا غَيْرَهَا﴾ پوستکی غیرله هغه - پخوا نو سوځل سوو یعنی د اپوستکی به بیا بیا تنکی کوو په هر شپه اوورځ کښی او یا ژړه واړه ﴿لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ﴾ ط د پاره د دی چے وځکی دوی عذاب هرساعت تازه تازه ﴿اِنَّ اللّٰهَ﴾ بیشکه چے خدای ﴿كَانَ عَزِيْزًا﴾ ادی زبردغالب چے هیڅوك ئی عذاب دفع کولاٰنه شے ﴿حَكِيْمًا﴾ (۵۶) پرحکمته دی هیڅ کار ئی له حکمته خالی نه دی ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ او هغه کسان چے ایمان ئی راوړی دی ﴿وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ او عملونه ئی کړی دی نیکو ﴿سَنُدْخِلُهُمْ﴾ ژر دی چے داخل به کړو مونږ دوی ﴿جَنّٰتٍ﴾ جنتونو ﴿تَجْرِيْ﴾ په هغه باغونو کښے چې بهیږی ﴿مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ﴾ لاندی د بنګلو یا دونو د دوی څلور قسمه ولی ﴿خٰلِدِيْنَ﴾ همیشه به وی دوی ﴿فِيْهَآ اَبَدًا﴾ ط په دی باغونو کښے مدام بی انتها ﴿لَهُمْ فِيْهَا﴾ دوی له دوی لره په دی باغونو کښی ﴿اَزْوَاجٌ﴾ ښځی ﴿مُّطَهَّرَةٌ﴾ پاکی کړه شوی له حیضه له نفاسه له نورو وتولونا پاکیو ﴿وَّنُدْخِلُهُمْ﴾ او داخل به کړو مونږ دوی ﴿ظِلًّا ظَلِيْلًا﴾ (۵۷) په اوږده سوړی کښے یعنی په نعمت دائمی کښے ځکه چے په جنت کښے لمر نشته نو سوړے به له کومه وی روایت دی چے په ورځ د فتحی د مکی کیلی د کعبی د عثمان بن طلحه سره وه ځندی طلب شوه د پاره د دخول د رسول علیه السلام او وه منع وکړه او وویل ئی چی که زه

ع یعنی حاصل دا چی مراد له دی سوری څخه نعمتونه دی او سوری نه دی چے په جنت کښی به سوری نه وی فافهم ۲

پوهیدلای چے رسولؐ دی نو خندی منعه کړی به ی نه وه بیا حضرت علیؓ خندی پرزور واخسته بیا عباسؓ رسولؐ ته وویل چے داکیلی اوس وما تہ راکه نو نازل شو اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ بیشکه خدای امرکوی پرتاسے اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ دی چے و سپاری پردی اما نتونه اِلٰٓى اَهْلِهَا خښتنانو خپلوته بیا رسول علیه السلام کیلی بیرته عثمان ته ورکړه اودا حکم په هر امانت کښی جاری دی ترقیامته وَاِذَا حَكَمْتُمْ اوپه هغه وخت کی چے حکم کوی تاسے ای عالمانو خاکما نو بَيْنَ النَّاسِ په مابین دخلکو کښے نو بیا امرکوی خدای اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ د ددی چے حکم کوی په انصاف اویوه طرف ته میلان مه کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای فرمایلی وی یوامر نِعِمَّا بنه کاردی هغه يَعِظُكُمْ بِهٖ طاچے پند درکوی تاسے ته هغه کارچے اداد امانت اوعدل دحکومت دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ سَمِيْعًا دی بنه اوریدونکی د اقوالو ستاسی بَصِيْرًا (۵۸) بنه لیدونکی دی د افعالو ستاسے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ای مؤمنانو اَطِيْعُوا اللّٰهَ فرمان ومنی د خدای په فرانضوکښی وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ او فرمان ومنی درسولؐ په سنتوکی وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ او د خاوندانو امرله تاسے مسلمانانو یعنی د حاکانو یا د عالمانو نو خپلوچے دوی له حاکما نو هم دپاسه دی فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ پس که په چکړه سواست تاسے د اولی الامرسره فِيْ شَيْءٍ په کوم کار د دین کښے فَرُدُّوْهُ واړئ اِلَى اللّٰهِ پس رد کړی تاسے د اکار خدای ته یعنی قرآن ته وَالرَّسُوْلِ اورسول

عه داهلته که حکم ده وی مخالف نه وو له حکمه د خدای اودرسول ځکه اوکه مخالف وو نو هرگز نه ئے منل کیدلای اگرکه حاکم یا عالم یا پیر یا مور او پلار وی هم ۱۲

ته په حیات دده کښی اوسنت ته یعنی حدیث ته پس له وفاته دده اِنْ كُنْتُمْ که یاست تاسے تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چے ایمان راوړی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ د قیامت ذٰلِكَ خَيْرٌ دا رجوع خدای اور سول ته د ډیرغوره ده تاسے د نا قص فکره څخه وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾ او ډیره ښه ده دا رجوع له جهته د عاقبت روایت دی چی دیوه یهودی له منافق سره جګړه وه نو یهودی به ویل چے ستا پیغمبر لره څو او منافق به ویل چے ستا کعب بن اشرف له څوا خرد واړه رسول لره راغله او منافق پراسلامت شو بیا چی بیرون (وباندی) راغله نو منافق وویل زه بیا په عمرؓ شریعت کومړ چے هغه لره راغله نو یهودی وویل چے دی پیغمبرؐ پرکړیدی منافق وویل رشتیا ده خونږه په راځے نه یم پرتاسی اوس بیاکومړ نو عمرؓ کوم ته ولاړے او تورۀ ئی راوړه او د منافق گردن ئی پریکړی نو جبرائیلؑ راغلے چے عمرؓ حق او باطل سره بنه بیل کړه او رسولؐ ورته وویل چے انتَ الفاروق نو نازل شو اَلَمْ تَرَ ایا نه گورے ته اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ هغه کسانو ته چے وائی دوی اِنَّهُمْ اٰمَنُوْا چے بیشکه دوی ایمان راوړی دی بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ په هغه قرآن چے راليږلی شوی دی وتاته وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ او په هغه چی راليږل شوی دی پخوا له تاچے کتابونه دی دنورو پیغمبرانو يُرِيْدُوْنَ اراده لری دوی سره له دعوی د ایمان اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا دی چے وزوړی شریعت چیل اِلَى الطَّاغُوْتِ هغه چا ته چی ډیر باغی دی له خدایه چے کعب بن اشرف دی وَقَدْ اُمِرُوْٓا اوحال دا چے په تحقیق ما مور شوی وو دوی اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ په دی چے نه به منی او باور به نه کړی په دی طاغوت یعنی په حکم دده سره وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ او اراده لری شیطان اَنْ يُّضِلَّهُمْ دا چے ګمراهان کړی دوی ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۶۰﴾ په هغه ګمراهی چی ډیره لیری وی له لاری د حق وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اوپه هغه وخت کی چے وویل شے دوی ته تَعَالَوْا اِلٰى مَآ راځئ وهغه شریعت ته اَنْزَلَ اللّٰهُ چے راليږلی دی خدای په قرآن کی وَاِلَى الرَّسُوْلِ اور رسول ته دده دپاره د قطع د خصومت رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ نو وینی به ته دا منافقان يَصُدُّوْنَ عَنْكَ چے څنډ کوی دوی له تا د ډیره عناده صُدُوْدًا ﴿۶۱﴾

مه یعنی او عمره ته ئی فرق کولکی په منځ د حق او د باطل کی ۱۲ منه پخے د پاره د پریکولو او د خلا صولو جګړه د خدای

په څنګه کولوسره فَكَيْفَ اِذَا پس څه حال به وی د دوی په هغه وخت اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ چې ورسیږی دوی ته غم د قتل د منافق بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ په سبب د هغه کار چې یې څواکړی دی او لیږلی دی لاسونو د دوی چې هغه په څنګه کیدی دی له ده او ورته دی طاغوت ته ثُمَّ جَآءُوْكَ پس له هغه بیا راشی دوی قول د پاره د طلب د دیت د قتیل یا د پاره د عذر يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ قسم کوی په خدای په دی خبره چې اِنْ اَرَدْنَآ اراده نه ده کړی مونږ په دی حکم د عمر کښې اِلَّآ اِحْسَانًا مګر ښیګړه د خصمینو وَّتَوْفِيْقًا (۶۲) او موافقت د دوی نه د مخالفت سره د منافقانو هم قسم خواړه هغه کسان دی يَعْلَمُ اللّٰهُ چې پوهیږی خدای مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ته په هغه نفاق چې په زړه د دوی کښې دی فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنګ وکړه له دوی یعنی له قبلولو د دی باطل عذر سره د دوی وَعِظْهُمْ او نصیحت وکړه ورته چې نفاق پریږده د او دروغ پس له دی څخه وَقُلْ لَّهُمْ او ووایه ودوی ته فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په باب د نیاکو د نفسونو د دوی کښې قَوْلًا بَلِيْغًا (۶۳) خبره بنه اثر ناکه شاید چې تاثیر شي وَمَآ اَرْسَلْنَا او نه دی لیږلی مونږ مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ رسول اِلَّا لِيُطَاعَ مګر د دې چې فرمان ومنل شی د ده باِذْنِ اللّٰهِ د په اذن د خدای سره وَلَوْ اَنَّهُمْ اوکه بیشکه دا منافقان اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ په هغه وخت کې چې ظلم کړی وو دوی پر ځانونو خپلو په انکار له حکمه ستا جَآءُوْكَ راغلے وی تا ته فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ پس بښنه وغوښتې وی له خدایه وَاسْتَغْفَرَ اوبښنه وغوښتې وای لَهُمُ الرَّسُوْلُ دوی لره رسول هم لَوَجَدُوا اللّٰهَ نو هرا ئینه پیدا کړی به وو دوی خدای تَوَّابًا ډیر قبلونکی رَّحِيْمًا (۶۴) ډیر مهربانه پرتا شا نو روا دی دی چې د زیږه له حاطب سره جګړه وه پراوبه خور باندی او رسول علیه السلام لره راغله نو ده زیږه ته وویل چې خپله ځمکه او به کړه بیا او به همسایه ته پریږده نو حاطب په غصه شو او داسے د شوخی الفاظ ئې وویل چې دلالت ئې کاوی پر میلان د رسول جانب د زیږه ته نو نازل شو فَلَا وَرَبِّكَ پس نه دی ایمان دا سے لکه چې دوی ئې ګڼی قسم دی په رب

عه یعنی وړل شوے چې هغه منافق وو ۱۲ منه یعنی په ځمکه او پر والہ باندی ۴

ستا او د الّا نښلوونکی دی چې تاکید د معنی دقسم کوی او جواب دقسم دا دی چې لَا یُؤْمِنُوْنَ
لره نه وړی دوی واقعې ایمان حَتّٰی یُحَکِّمُوْکَ ترهغه چې حَکَم کی دوی تا فِیْمَا په هغه
حادثه کښې شَجَرَ بَیْنَهُمْ چې اختلاف واقع شوی وی په مابین د دوی کښې ثُمَّ لَا یَجِدُوْا
پس له هغه بیا نه پیدا د دوی فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ په زړو خپلو کښې حَرَجًا تنګ
دلی او شك له حکمه چې کړی وی تا اګر که له طبع د دوی د یر مخالف وی وَیُسَلِّمُوْا
تَسْلِیْمًا ﴿۶۵﴾ او غاړه کښیږدی دوی حکم ستا ته په غاړه ایښوولو سره په ظاهر او په
باطن کښې رِضَاتِ دی چې هر کله زړه یږ او حاطب له محکمی څخه راوو ته نو مقداد -
پوښتنه ځنی وکړه چې شریعت چا وګاته حاطب وویل چې د تروړ زوی ئی وګاته او
یهودی هلته ولاړ وو هغه وویل چې رنډ دی ورك شی د دا سے خلګو چې رسول
ئی هم بولی او بیا تهمت هم پرې وائی موږ په یوه ګفت د موسے سره او یازده خلګو چې
ګناه ځندی شوی وه پریږده ځای څانونه سره قتل کړه او هیڅوا پرځیل پیغمبر تهمت ونه
وایه نو نازل شو وَلَوْ اَنَّا اوکه بیشکه موږ کَتَبْنَا عَلَیْهِمْ فرض کړی وای پردی مدعیانو
د ایمان اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَکُمْ د اچې مړه کړی تاسے څانونه خپل لکه چې بنو اسرائیلو ژر
وو اَوِ اخْرُجُوْا یا وه وزی تاسے ټول مِنْ دِیَارِکُمْ له هَوْیلیو له وطنو خپلو لکه چې
بنی اسرائیل وتلی وه مَّا فَعَلُوْهُ نو وبه نه کړی دوی دا کار اِلَّا قَلِیْلٌ مِّنْهُمْ د مګرلږ
خلګو له دوی به کړی وو لکه ثابت بن قیسؓ او عمار بن یاسرؓ او ابن مسعودؓ چې دوی دری
سره وو هغه یهودی ته ویلی وو چې قسم دی که ده راته وویل چې څانونه قتل کړی نو
موږ به ئی قتل کړو وَلَوْ اَنَّهُمْ اوکه بیشکه دی منافقانو فَعَلُوْا مَا کړی وای هغه کار چې
پند ورکول کیږی او امر کیږی ودوی ته په هغه کار چې متابعت د رسولؐ دی او غاړه
ایښوول دی وحکم شرعی ته لَکَانَ خَیْرًا لَّهُمْ نو هرا ئینه ووبه دا کار د یر غوره دوی
له په دُنیا او په اخرت کښې وَاَشَدَّ تَثْبِیْتًا ﴿۶۶﴾ او د یر کلك به وو دا کار له جهته د محکم
والی د ایمان وَاِذًا لَّاٰتَیْنٰهُمْ او بیا په وخت د حصول د تثبیت کښې هرا ئینه ورکړی

ف۱ یعنی له کور و او له وطنو څخه نو ۱۲ ف۲ یعنی په وخت د حاصلولو د محکموالی د ایمان ۱۲ منه

به وو موږ دوی لره مِنْ لَّدُنَّا خاص له خپله جانبه اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۶۷﴾ ثواب ډیرلوی وَ لَهَدَيْنٰهُمْ او هرا ئینه برابر کړی به وو موږ دوی صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾ پرهغه لار چې سمه ده رسول دی چې ټوبان ازاد کړده د رسول علیه السلام یوه ورځ ډیر خفه وو نو رسول علیه السلام و پوښتی چې ولی خفه ئ ده وویل چې نن ورځ له تاسره نا ستیم اودیدن دی کولای شم اوبیا په هغه جهان به ته په فردوس اعلیٰ کښې اوسی اوزه به خدای زده چې چیرې اوسم اوستاله دیدنه به محرومیږم نو نازل شو وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ او هرڅوک چې فرمان ومنی د خدای په ټولو اوامرو او نواهیو کښې وَالرَّسُوْلَ او د رسول په احکامو د دین کښې فَاُولٰٓئِكَ پس داکسان مَعَ الَّذِيْنَ له هغه کسانوسره به وی په هغه جهان کښې اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ چې مهربانی کړې ده خدای پر دوی مِّنَ النَّبِيّٖنَ له پیغمبرانو وَالصِّدِّيْقِيْنَ او له راست ګویانو وَالشُّهَدَآءِ او له شهیدانو وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ او له هغه نیکانو چې خبرې اوکړې رونه اوحالونه ئ ټول له شرعی سره موافق دی وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ اوڅه ښه دی داڅلورسره طالفی رَفِيْقًا ﴿۶۹﴾ له جهته د ملګرتیا له دوی سره ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ د داملګرتیا له دوی سره محض فضل دی له جانبه د خدای وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دی خدای عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾ له جهته د عملونه په نیتو او په مطلبوستاسے يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو خُذُوْا اخذ ترکم واخلے وسلی د پاره دجهاد فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ پس ځئ په کفارو پسی د ولی د له هرطرفه اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿۷۱﴾ یا ځئ سره له یوه طرفه وَاِنَّ مِنْكُمْ او بیشکه بعض له تاسے لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ چې هرا ئینه د پرتا خیرکوی او بیرته بیرته پاتے کیږی چې ابن ابی اونور منافقان دی چې په ورځ د احد پرلاړی بیرته وګرځیدل فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ پس که ورسیږی تاسوته مُّصِيْبَةٌ څوک غم لکه قتل اومات قَالَ نو وائی دامنافق قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ په تحقیق مهربانی کړې ده خدای پرما اِذْ لَمْ اَكُنْ له دی جهته چې نه وم مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾ له دی غازیانو سره حاضر په جنګ کښې وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ اوکه ورسیدی وتاسے ته فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ

بنیکره له طرفه د خدای چے فتح یا غنیمت دی لَيَقُوْلَنَّ نو هرا ئینه وائے دی خامخا اودا سے وضعه کوی په ظاهر کښے كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ ؤ چے گویا که ته نه وائی چی نه وه بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ په مابین ستاسے اودده کښے مَوَدَّةٌ ۙ دوستے اوشناخت یعنے خان یخی ناګانه ګنی اووائی يٰلَيْتَنِيْ ای کاشکی زه كُنْتُ مَعَهُمْ چے وای زه ددی غازیانو سره په غزا کښے فَاَفُوْزَ پس بریالی شوی به وم زه یعنی برخه به می اخستی وه له غنیمت څخه فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۳﴾ برخه دیره لویه فَلْيُقَاتِلْ پس ی باید چے جنډ دی کوی له کفارو سره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے الَّذِيْنَ هغه کسان چی په بازار د معامله کښے يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا خرڅوی دوی داژوند چے لږ او څرفنا کیږ ونکی دی بِالْاٰخِرَةِ ؕ په هغه اخرت چے ټرونډ ون او نعمتونه اولن تونه ئ انتها نلری وَمَنْ يُّقَاتِلْ اوهرچا چے جنډ وکړو فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښی فَيُقْتَلْ پس شهید کړه شے اَوْ يَغْلِبْ یا غالب شی پرد بنمن فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ پس ژر دی چے ورښه کړو مور ده ته په هغه جهان کښے اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۷۴﴾ ثواب دیر لوی وَمَا لَكُمْ اوڅه مانع دی تاسے لره ای مسلمانانو لَا تُقَاتِلُوْنَ چے جنډ نه کوی تاسے فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښی وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ او د پاره د خلاصولو هغه عاجزانو چے اسلام ئ راوړی دی په مکه کښی اوهجرت ته ئ هیڅوک نه پریږدی مِنَ الرِّجَالِ له سړو څخه لکه سلمه ؓ، ولید ؓ، عباس ؓ، ابوجندل ؓ یا داسی نورشوه وَالنِّسَآءِ اوله ښځو څخه لکه ام شریک ؓ ام عبدالله بن عباس ؓ یا داسے نورې شوی وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ اوله هلکانو څخه لکه ابن عباس ؓ یا داسے نورشوه اوهغه عاجزان يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ چے وائی دوی له ویږه افسوسه ای ربه زمور اَخْرِجْنَا مِنْ وباسه مور هٰذِهِ الْقَرْيَةِ له دی کلی څخه چی مکه ده الظَّالِمِ اَهْلُهَا ج چے ظالمان دی اوسید ونکی ددی کلی وَاجْعَلْ لَّنَا اوپیدا کړه مور لره مِنْ لَّدُنْكَ له خپل جانبه څخه په فضل خپل سره وَلِيًّا ۙ کومه دوست اومتولی دقولو کارونو مور وَّاجْعَلْ لَّنَا اوپیدا کړه مور لره مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ له خپل درباره

کو مدد گار چے له دښمنانو موږ خلاص کړی اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چے ایمان ئی راوړی دی پرخدای پر رسول علیهما یُقَاتِلُوْنَ چې جنګونه کوی دوی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدآے کښے وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا اوهغه کسان چے کافران دی یُقَاتِلُوْنَ جنګونه کوی دوی که مشرکان اوکه یهودیان اوکه نصرانیان دی فِیْ سَبِیْلِ الطَّاغُوْتِ په لاره د شیطان کښے چې سړه یا غیا نوډی فَقَاتِلُوْٓا پس وڑئی ای دوستانو د خدای اَوْلِیَآءَ الشَّیْطٰنِ ع دوستان د شیطان اِنَّ کَیْدَ الشَّیْطٰنِ بیشکه مکر اوفریب د شیطان چے دی کَانَ ضَعِیْفًا ۝ یرکمزوړی وَاٰتِیَت دی چے بعض اصحابو لکه عبدالرحمٰن بن عوف اوسعد بن ابی وقاص اومقداد بن اسود یاد اسے نوږشوه چے دوی به پیه مکه کی د یرارمان کاوی د جهاد اوبیاچه مدینی لوړه راغله اوقتال واجب شونوډئی څنګه د یره سُستی بنکاره شوه نوپه ملامتیا د دوی کښے نازل شوا اَلَمْ تَرَ ایا نه گورې ته اِلَی الَّذِیْنَ هغه کسانو ته قِیْلَ لَهُمْ چې ووایل شو د دوی ته په مکه کښے کُفُّوْٓا اَیْدِیَکُمْ ځپے منع کړی تاسے لاسونه خپل له جنګه د کفارو وتر هغوی چے امر نه دی راغلے له خدایه وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ اودروی لمونځ خپل وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ او ورکوی زکوٰة خپل پیسو مستحقینو ته فَلَمَّا کُتِبَ پس هرکله چے وليکل شو په مدینه کښے یعنی واجب کړه شو عَلَیْهِمُ الْقِتَالُ پرډوی جنګ له کفارو سره اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ ناګاه یوه فرقه له دوی څخه چې دهغوی یَخْشَوْنَ النَّاسَ بیریږی له خلګو یعنی له کفارو څخه کَخَشْیَةِ اللّٰهِ لکه ویره له خدایه یعنی لکه چے څوك له خدایه بیریږی اَوْ اَشَدَّ خَشْیَةً ۚ بلکه د یرزیات له ویرې د خدای هم اودا ویره له کراهت طبعی وه له موته نه له گردن کښے له امر د خدای وَقَالُوْا رَبَّنَا اووائی دوی اے ربه زمونږ لِمَ کَتَبْتَ ولی دی واجب کړی عَلَیْنَا الْقِتَالَ ۚ پرمونږ جنګ دکفارو سره لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ ولے دی مهلت را نه کړی مونږ لوړ اِلٰٓی اَجَلٍ قَرِیْبٍ ؕ تر نژدی اجل پورې چے پخپله مړه وای مونږ پرخپل فراش قُلْ ووایه دی پیرزند وکوته مَتَاعُ الدُّنْیَا معاش دی دجهان چے دی قَلِیْلٌ ۚ د یر لږ دی نظر وهغه

عه یعنے دی مؤمنانو لره دومره فریب نه شے ورکولای لکه چے خدای کافرانو لره لاری کوی اوپه ځان وړه کری ئی ۱۲ تر تاسے ځندی مه پریږی ۱۲ عه یعنے هغه چالرهیچ لائق وی د زکوٰة چے فقیر دی ۱۲

جهاد نه ته وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ او اٰخرت ډیر غوره دی تر دنیا لِمَنِ اتَّقٰى هغه چا ره چې ډیر ډیر ویریږی له خدایه وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾ او ظلم به و نه کړه شے پرتاسے په قدر د پتلی خیری چې په ګوته منلو پیدا شے اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا هر چیرې چې اوسی تاسے يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ لاندے به کړی تاسے مړه وَلَوْ كُنْتُمْ اګر که اوسے تاسے فِيْ بُرُوْجٍ په مانیو یا په قلعو یا په برجو داسمان کښی مُّشَيَّدَةٍ ډیر محکم کړه شوی دی وَاِنْ تُصِبْهُمْ او که ورسیږی دی منافقانو ته حَسَنَةٌ کومه ښیګړه لکه فراخی او ارزانی يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ نو وائی دوی چې دا نعمت چې دی مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه د خدای دی وَاِنْ تُصِبْهُمْ او که ورسیږی دوی سَيِّئَةٌ سختی لکه تنګی او قحطی يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ نو وائی دوی چې دا زحمت چې دی مِنْ عِنْدِكَ له تا ځخه دی ځکه چې په هغه کال چې ته مدینی لره راغلے نو نږدے خونه قول کم شوه او میوی کمی وشوی قُلْ كُلٌّ ووایه ورته دا قول چې دی که تنګی ده که فراخی ده که قحطی ده که ارزانی ده بلکه هر خیر او شر چې دی مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ له جانبه د خدای دی فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ پس چې څه ده پیشه د قوم د یهود و او منافقانو نه لَا يَكَادُوْنَ چې نه دی نږدی د اسے حال ته يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾ چې پوه شے په خبره پوهیږی مَآ اَصَابَكَ هر هغه چې ورسیږی ته ای پیغمبره یا بنی آدم مِنْ حَسَنَةٍ له کومې ښیګړې فَمِنَ اللّٰهِ پس هغه تر له له خدایه ده وَمَآ اَصَابَكَ او هر هغه چې ورسیږی وتا ته مِنْ سَيِّئَةٍ له بلا او له سختی فَمِنْ نَّفْسِكَ پس هغه تر له ستا له خپلې ځانه ده چې په سبب د ګناه وستاده وَاَرْسَلْنٰكَ او لیږلی دی مو ږ ته اے پیغمبره لِلنَّاسِ رَسُوْلًا خلګو ته تر نبوت استاذی وَكَفٰى بِاللّٰهِ اونبس دی خدای شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾ شاهد په رسالت ستا مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ هر هغه څوک چې فرمان ئی ومانی د رسول عليه السلام فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ج پس په تحقیق چې فرمان ئی ومانه د خدای هم ځکه چې دی امر نه کوی مګر په طاعت د خدای وَمَنْ تَّوَلّٰى او هر څوک چې شا ئی کړه تا ته

عه دا ئی پیغمبر د خدای ته ویل ۱۲ منه یعنی په اراده او په حکم د خدای سره دی که ارتوالے راولی او که تنګوالی ۱۲ سه چې پوه شے په خبره یعنی په قرآن ځکه چې که دوی پوهیدای او عقیده ئی وائی پوردی قرآن نو معامله مه شوی به وه دوی ته چې هر څه د خدایه ځخه دی نه دبل چا ځخه ۱۲

او ستا فرمان لے ونه مانی فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ پس نه ئی لیږلے موږ ته عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾ پرو ئے نگهبان له گنا هو څخه او څوك وائی چے دا حکم په آیت د سیف سره منسوخ شوی دی وَ يَقُوْلُوْنَ او وائی دا منا فقان په هغه وخت کی چے ته ئی پکوم کار را مور کړی طَاعَةٌ زمے کار را ومنصب زمونږ فرمانبرداری ده نو دا طاعة خبر شوے مبتدا، محذوفی چے امرنا دی فَاِذَا بَرَزُوْا پس په هغه وخت کی چے راووزی دوی مِنْ عِنْدِكَ له ته څخه بَيَّتَ طَآئِفَةٌ نو د شپی وائی یوه ټولی بلی ته مِنْهُمْ له دی منا فقانو څخه غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ پرته له هغی خبری چے وائی دوی دورځی تاته یا ته وائی دوی ته څکه چے تا ته قبول او فرمانبرداری په بنکاره وائی او په زړه کښے ئی رد اوبے فرمانی ده نو لفظ د تقول یا غائب مؤنث دی چے ضمیر د طائفی ئی فاعل دی یا مخاطب مذکر دی وَاللّٰهُ يَكْتُبُ اوخدای لیکی په لاس دملائکو په اعمالونامو دوی کښے مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ هغه تل پیرونه چے د شپی ئی تړی دوی تاته فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنډه وکه له دوی چے له جهته د لسانی اسلام حکم د قتل پری نشته وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ د او توکل وکړه یعنی خان وسپاړه پر خدای وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دی خدای وَكِيْلًا ﴿۸۱﴾ ولاړ په مصالحو د عبادو اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ط ایا پس ولی فکر نه کوی دا منا فقان په قرآن کښے پر طریقه د فصاحت اود بلاغت اودا عجاز سره چے یقین ئی پر دی چے دا کلام د حق دی وَلَوْ كَانَ اوکه وای دا قرآن مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ له بل چا څخه بی له خدای یعنی کلام د مخلوق ولی لکه دوی ئی چے کنی لَوَجَدُوْا فِيْهِ اختِلَافًا په دی قرآن کښی مخالفت کَثِيْرًا ﴿۸۲﴾ د یر یعنی تناقض ۱ په معاینو اوتفاوت په الفاظو کښے له جهته د فصاحت اود بلاغت څکه چی کلام بشری له دوی څخه د یرکم خالی کیږی وَاِذَا جَآءَهُمْ او په هغه وخت کښے چی راشی دی منا فقانو ته اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ کومکار له امنه څخه یعنی خبر له قوت اوله ځپلے د مسلمانانو اَوِ الْخَوْفِ یا له ویرې د دوی په سبب د جمع د کفارو یا له ماتے د چپا و یا نو اَذَاعُوْا بِهٖ ط نو خور کړی دوی دا امر او د احال په د یرشور سره په تمام

۱ تناقض یعنی د یوه آیت څخه په یوه شان خبر او د بل څخه په بل شان خبر ۱۲

عالم کښے پخواله تحقیقه اودا خوروول بیا موجب دویرفتنو شے وَلَوْ رَدُّوْهُ اوکه پری
اینبے وای دوی دا کار اِلَى الرَّسُوْلِ فکر مبارك د رسول علیہ السلام ته چے اعلم الناس دے
وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ او خاوندانو د امرته چے کبار د اصحابو یا امیران د چپا وودی مِنْهُمْ له
دوی څخه لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ نوهرا ئینه معلوم به وو تدبیر دی کار هغه کسانو ته
يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ چے جلا او بیلولای شے نیك له بد څخه مِنْهُمْ له دوی وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ او
که نه وای فضل خدای عَلَيْكُمْ پرتاسے په لیږلود رسولانو وَرَحْمَتُهٗ او رحمت دده په
را لیږلود کتابو لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ نوهرا ئینه پیروی به کړے وه تاسے د شیطان یعنی
قول به په فکر کښے پاته واست اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾ مګر لږ و له تاسے چې محکی له بعثه ئې پخپل فکر
سره ایمان راوړی دی لکه ورقه بن نوفل او قیس بن ساعده او زید بن عمرو او بحیرا راهب
یا دا سے نور شوه وَاِذَا جَآءَهُمْ دی چے په غزا د بدر صغری کښې رسول علیہ السلام خلك ماموره
کړه په وتلو جنګ ته او بعض پکښے ستومانی ښکاره کړه نو نازل شو فَقَاتِلْ پس جنګ کوه
ته یوازی ای رسوله که بل چا د رسره نه کا وی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ج په لاره د خدای کښې
لَا تُكَلَّفُ نه شی مکلف کولای ته په حق د جهاد کښے اِلَّا نَفْسَكَ مګر خاص د خپل ځان
په حق کښے بیا چے دی بدر صغری لره روان شوې او یا تنه و رسره و لاړه وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ج
او رغبت پیدا کوه د مؤمنانو په جنګ د مشرکانو ځکه چے پر تا خاص ترغیب دی نه تکلیف
عَسَى اللّٰهُ بنائی چے خدای اَنْ يَّكُفَّ چے حصار ی کړ له مؤمنانو بَاْسَ الَّذِيْنَ جنګ د هغو
کسانو کَفَرُوْا اچے کافران دے یعنی مشرکانو د قریشو وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا او خدای د پر سخت دی په
هیبت کی له قریشو وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾ او د پر سخت دی په عذاب د رکولو کی مَنْ يَّشْفَعْ
هر چا چے خیرخواهی وکړه په حق د بل چا کښې شَفَاعَةً حَسَنَةً په درخواست بنایسته
سره چے هغه چا ته نفعه په وړ سیږی یا ضرر څنډی په د دغه شی مثلاً يَكُنْ لَّهٗ نو
وی به دی خیرخواه لره نَصِيْبٌ مِّنْهَا ؕ برخه له دی شفاعته وَمَنْ يَّشْفَعْ اوهرچا
چے بدخواهی وکړه په حق د بل چا کښې شَفَاعَةً سَيِّئَةً په درخواست نا کاره سره

چې په هغه سره ضرر چاته ورسیږي یا نفعه خندې ښه شے یَکُنْ لَّهٗ نوې به دې لپاره خواه لږه مِّنْهَا حصه له هغه وباله دبد خواهي وَكَانَ اللّٰهُ اودې خداى عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ پرهر شې مُّقِيْتًا (۸۵) نگهبان یاتوانا وَاِذَا حُيِّيْتُمْ اوپه هغه وخت کې چې پېشکشي درکړل شے وتاسے ته بِتَحِيَّةٍ په پېشکشي دې دين محمدي سره چې اَلسَّلَامُ عليكم يا سلام عليكم دې يعنې که څوک سلام درواچوي فَحَيُّوْا اپس پېشکشي وکړي تاسے هم هغه ته يعنې سلام ورنه يات کړي بلکه وبرکاته هم ورسره ضم کړي اَوْ رُدُّوْهَا اويا وګرځوي هم هغه تحيه بېرته بے زياده ته روايت دې چې سلام اچول سنت دي اوردول فرض کفايۍ دي غير له شپږو خايو په نزد امام اعظمؒ پر خطيب پر قاري د قرآن پر راوي د حديث پر مدام کرد علم پر مؤذن پر اقامت کونکي اوپه نزد د نور وعلماؤ وپردي لکه هغه تېرشپږ اوپر درود ويونکي اوپه مابين د سنتو اود فرضو اوپر شطرنج کونکي يا امثال دده اوپر سرود وهونکي اوپر هغه ناست پر قضاء حاجت او پر لڅ اوپر کوترباز د پاره دګټلو اوپر بېګانه پېغلي اوپر کافر مګر د پاره د حاجت اوپه هغه ځاى کښے چې اچول د سلام منعه دي هلته ئ رُدَّ هم نشته اِنَّ اللّٰهَ بېشکه خدائ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ دې پرهر شې حَسِيْبًا (۸۶) حساب کونکي يعنې حساب به د ورسره وکړي هم د سلام اوهم د ردد سلام اود نور واعملوا اَللّٰهُ خداى چې دې لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لائق د عبادت هيڅوک مګر يوازې هم دې دى لَيَجْمَعَنَّكُمْ قسم دې چې راجمع به کړي تاسے ځانونه په محشر ګاه کښے پس له شړوندونه اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ورځې د قيامت ته لَا رَيْبَ فِيْهِ چې نشته هيڅ شك په دې ورځ يا په دې جمع کې وَمَنْ اَصْدَقُ اوڅوک دې د پرته شتيني مِنَ اللّٰهِ ترخداى حَدِيْثًا (۸۷) له جهته د خبرې يا د وعدې روايت دې چې يو قول د منافقانو اجانت وغوښته له رسول عليه السلام د بانده کيدو چې له مدينې وواته نو ولاړه اوپه مشرکا نو ګډ شوه اومؤمنان پکښے مختلف شول چا به ويل

۱۳ ع ۱۱

عه چې په دوى سلام اچول نشته اوکه چا ورواچولو نو اخستنه ئ نشته ۱۲

چې مسلمانان دی اوچا به ویل چې کفار دی نو نازل شو فَمَا لَكُمْ پس څه باعث دی پر تا سے چې شوی یاست فِي الْمُنٰفِقِيْنَ په باب دی منافقانو کښے فِئَتَيْنِ دوی طائفې وَاللّٰهُ اوخدای اَرْكَسَهُمْ ړدکړی دُی دوی بیړ ته کفر ته بِمَا كَسَبُوْا د په سبب د هغه عمل چې کړی دی دوی چې هغه لحوظ دی له مشرکانو سره اَتُرِيْدُوْنَ ایا اراده لری تا سے اَنْ تَهْدُوْا د دی کار چې پرلاړ برابر کړی تاسی مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ د هغه څوک چې گمراه کړی دی خدای وَمَنْ اوهر هغه څوک يُّضْلِلِ اللّٰهُ چې گمراه ئی کړی خدای فَلَنْ نَّجِدَ پس نه به مومی ته لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾ ده لره هیڅ لاره د هدایت وَدُّوْا دوست کړی دا مرتدان لَوْ تَكْفُرُوْنَ داچې کاشکی کافران شے تاسی هم كَمَا كَفَرُوْا لکه چې کافران شوی دی فَتَكُوْنُوْنَ پس شے به تاسے او دوی سَوَآءً برابرسره په کفر کښی فَلَا تَتَّخِذُوْا پس مه نیسی تاسے هیڅوک مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ له دوی څخه دوستان حَتّٰى تر هغو چې ايمان راوړی او ايمان به ئی هلته حساب شی يُهَاجِرُوْا چې هجرت وکړی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شاکړه دوی له ايمانه اوله هجرته فَخُذُوْهُمْ پس ونیسے دوی اوبندیان یې کړی ئی وَاقْتُلُوْهُمْ اووژنی ئی حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ هر هرځای کښے چې بیا مومی تاسے دوی وَلَا تَتَّخِذُوْا او مه نیسی تاسے هیڅوک مِنْهُمْ دَلِيًّا له دوی دوست دار وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾ او نه یار اِلَّا الَّذِيْنَ مگر مه وژنی او مه بندیان کوی هغه کسان له دوی يَصِلُوْنَ چې ځان پیوند کړی او امان ورړوی اِلٰى قَوْمٍ هغه قوم ته بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ چې په مابین ستاسے او په مابین د هغه قوم کښے مِّيْثَاقٌ یوعهد اوپیمان وی لکه اسلمیان یا بکریان یا خزاعیان چې رسول علیه السلام له دوی سره عهد کړی وو چې هر څوک چې تاسے له ره راغلی وی هغه له ماځخه هم په امان دی اَوْ جَآءُوْكُمْ یا امان و رورې دوی هغه قوم ته چې راغلی وی داقوم تاسے ته حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ په دی حال چې تنګی شوی وی سینی د دوی اوبدئ گنی اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ دا کار چې جنګ وکړی دوی له تاسے سره اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ د یا جنګ وکړی دوی له قوم خپل سره چې کفار دی

یعنی چے له مینځه ناست وی چے هغه بنی مدلج وه چے له رسول علیه السلام اوله قریشو سره هم داعهد ئ کړی وو چے مور له یوه سره هم ملاتړ نه کړو اوله مینځه ناست یو یا معنیٰ داچے هغه څوک هم مه وژنی تاسے چی له مینځه ناست وی اوکه تاسے ته په ستومانی راغلی وی چے نه تاسے وژل او نه خپل قوم وژنل وَلَوْشَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وای دخدای لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ نو هرائینه مسلط کړی به ئی وو دوی پرتاسے فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ پس هرائینه جنګ به ئی کړی وو له تاسے سره فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ پس که څنګ وکړو دوی له تاسے څخه فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ پس نه وژنی دوی تاسے وَاَلْقَوْا او راوړاندی کړی دوی اِلَيْكُمُ السَّلَمَ تاسے ته صلح او امان وغواړی له تاسے فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ پس نه دی مقرر کړی خدای لَكُمْ عَلَيْهِمْ تاسے لره پردوی سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾ هیڅ لاره نه د قتل اونه د اخستو د مال اود احکم بیا منسوخ شوی دی په آیت د سیف سره سَتَجِدُوْنَ ژر ردی چے بیا به موی تاسے اٰخَرِيْنَ یو بل قوم چے غطفان یا بنی اسد دی چے مدینی لره راغله او تش لسانی ئ اسلام ئ لاوړه يُرِيْدُوْنَ اراده لری دوی اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ دی چے په امان شے له تاسے او بیا له مدینی چے ولاړه نو بیا بیرته کافران شو وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ دا و په امان شے له خپله قومه هم کفار دی كُلَّمَا رُدُّوْٓا هر کله چے و بالله شے د اغطفان یا بنی اسد اِلَى الْفِتْنَةِ فتنی ته چے کفر یا جنګ دی له مؤمنانو نو سره اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ نو بیرته واچول شی په دی فتنه کښی یعنے هر کله چی خپل قوم ئ وبولی چی راځی ده مسلمانانو جنګ له نو دوی بیا ورلره راغلے وی فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ پس که کناره نه شو دوی له جنګه ستاسے وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ او راوړاندے نه کړی دوی تاسی ته صلح اوطلب د امان وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ او حصار نه کا دوی لاسونه خپل له جنګ ستاسے فَخُذُوْهُمْ پس ونیسے دوی وَاقْتُلُوْهُمْ او وژنی دوی حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ۚ په هرځای کښی چی لاس بری یا موی تاسے پردوی وَاُولٰٓئِكُمْ اوداتولی چے دی جَعَلْنَا لَكُمْ د رکړی دی مور تاسے لره عَلَيْهِمْ پردوی سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾ ګم حجت بنکاره ۱۲ ع ۹

روایت دی چے عیاش نومی سړی وو په مکه کښی چے مسلمان وو هغه پت ولاړی مدینی ته او ابوجهل په چل سره بیرته راوست او ترلی ئی لمرتہ واچاوی بیاچی ډیرئ په عذاب کړی نو له خوفه دکفرکلمه ئی وویله بیا یوه سړی حارث نومی پیغور وړلره وکړی چے که دین داسلام حق وو نو څو ځله دی ترک کړی او که باطل وو نو ته پرې باطل وی نوزده له قهره قسم وکړی چی مړ به دی کړم او عیاش بیا مدینی له را غلی او اسلام ئی تازه کړی او حارث هم ورپسی راغلی اوده هم اسلام راوړی اما پشا لاعیاش په حارث پسے گرنږیدے بیاچے حارث پرعیاش پیښ شو نومړے کی او چے له اسلامه ئی خبرشو نو په ډیرخفګان رسول له راغلے نو نازل شو وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ او نه بنائی او نه دی روا هیڅ مؤمن له اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا د اچے مړکی دی بل مؤمن پخپل اختیار اِلَّا خَطَـًٔا مګر په قتل خطاء سره چے دا خطا بیا په قصد کښے راغلے وی لکه چی کوم شی ولی په دی ګمان سره چی دا ښکار دی اوهغه په واقعه کښے آدمی وی یاکوم سړی ولی په دی ګمان سره چے حربی دی اوهغه مسلم وی اوکه په فعل[1] کښے راغلے وی لکه چی ښه ولی او پرآدمی ولګیږی فائدہ هرکله چے څوک[2] په خطاسره چا مړکړی نو دا مقتول به یا مؤمن اویا به مؤمن غیرمعاهد وی اویا به ذمی وی کله مؤمن وو نو پرقاتل دوه شیان لازمیږی لکه چے وائی وَمَنْ قَتَلَ اوهرڅوک چے مړکی مُؤْمِنًا خَطَـًٔا کوم مؤمن په خطاسره فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ پس ازادول د داسے مړبې دی مُّؤْمِنَةٍ چے مُؤمن وی ځکه ده ځومؤمن وښځه لی دی نو اوس دی مؤمن څوندی کی او ازادول هم څوندی کول دی چے رِق اثرد موت حکمی دی چے هغه کفردی وَدِيَةٌ اوبل دیت دی چے هغه په نزد دامام اعظمؒ خاص له دریو شیا نو څخه ورکولای شے له ذهبو (سرزرو) یونږ ردینارو دی او له فضه وو (سپینوزرو) لس زره درهمه دی او له اوښا نو سل دی چے شل ئی ابن مخاض اوشل بنت مخاض یعنے یوکلنی او شل بنت لبون یعنے دوه کلنی اوشل حِقّة یعنی دری کلنی او شل جذعی یعنی څلورکلنه او بیا په دری

[1] یعنی خطاپه ډیشتو کی راغلے وی لکه چی ډبنه ولی لیکن څخه کوږ شے اوپر سړے ولګیږی ۱۲ منه [2] یعنی چے مسلمانا نو وړلره پاته اوسیدلے سړے امن وزکړی وی ۱۲

کالو کښے ور ورسول شے کہ دائی التفسیر الاحمدی مُسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ سپارل شوی وارثانو د مقتول تہ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا دمگرکہ عفوہ وکړہ وارثانو اودا هلته که مؤمن وواوکه مؤمن غیر مهاجر وو نو پرقاتل یوخیزلازم دی لکه چے وائے فَاِنْ كَانَ پس که ووا مقتول مِنْ قَوْمٍ لہ داسے قوم څخه عَدُوٍّ لَّكُمْ چے دښمنانو ستاسے وی یعنی حربیان وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال دا چے دی مؤمن وی خوهجرت ئی نه وی کړی فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ط پس ازادول دمؤمن مریې دی یوانړی اود یت په دی قسم کښے نشته حکمه چے دیت حق دوارثانو د اودی وارث نه لری اوکه د می وو نو بیا قاتل بیا ازادول اودیت دی لکه چے وائ وَاِنْ كَانَ اوکه وو دا مقتول مِنْ قَوْمٍ لہ داسے قومه بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ چے په مابین ستاسے اوپه مابین دهغه قوم کښے مِّيْثَاقٌ عهد ذمی وی فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ پس یودیت دی سپارل شوی اِلٰٓى اَهْلِهٖ وارثانو د مقتول تہ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ اوبیا ازادول دمؤمن دی فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ پس هر څوك چے پیدا نکړی مریې او نه د ومره مبلغ چې مریې په واخلے فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ پس روژے نیول دی دوو میاشتو چے پرهغه لازم دی مُتَتَابِعَيْنِ زړله پسے چے فرځه په مینځ کښے نه راشے تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ط دپاره د قبلولو توبے چے له طرفه د خدای ده یعنی چې دی پښیمانه اوتائب شی خدای ته وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای عَلِيْمًا ښه دانا په حال دقتال اود مقتول حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾ حکم کونکی دی په دیت اوکفارت سره روژو چے دی مقیس نومی سړی خپل ور ورمقتول پیدا کی په محله د بنی النجار کښے چې رسول علیہ السلام ئی په خبر کړی نوده زهیرؓ نومے سړی چے اصحابی وو ورسره ولیږی چے مشرانو د بنی النجار ته ووایه چے یاقاتل پرمقیس وسپارئ اویاد یت ورکړی نود وی سل اوښان مقیس ته ورکړه بیا دی اومقیس مدینې لوړ ته لاتله نا گاه زهیرؓ ئے پرلاړی مړکړو اود ی مکی لوړ ولاړ نونازل شو وَمَنْ يَّقْتُلْ اوهرڅوك چے مړکړی مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا اګر مؤمن په قصده اوداقتل

عه یعنی په مینځ کښه ئ قضا نه کړی ۱۲ منه یعنی دا مقیس اونزهیره واړه مدینې ته ورسوان شوه هر کله چے نږدی شوه وشیطانے وسوسه ورته راپیدا کړه شوه اونزهیرئ ئے په ګناه مړکړ اومکی ته ولاړی موټه شوه

روا گنی فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ پس جزا دہ دوزخ دی خٰلِدًا فِیْهَا پہ دی حال کښے چی هیشه به وی دا ر واګنو نکی ددی قتل په دوزخ کښے وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَیْهِ او په قهر دی خدائے پرده وَلَعَنَهٗ او لیری کړی دی خدای دی له رحمته خپله وَاَعَدَّ لَهٗ اوتیار کړی ئی دی ده لره عَذَابًا عَظِیْمًا ﴿۹۳﴾ عذاب ډیر لوی اوچا ویلی دی چے مراد له خلود څخه ډیر مدت دی نو بنا پردی مراد له قاتل په عمد سره روا ګنو نکی نه شو بلکه معنی داده اسے شوه چی ډیره موده به وی په دوزخ کښے روا لے دی چے په یوه قوم پسی چپا وولاړی نو هغه وتښتیدل اوپه دوی کښے یو سړی وو مراد ښائی چے مسلمان وو هغه پرځای پاته شو چے دچپا وپایو تکبرونه ئی واوریدل نوده هم تکبیرونه وویل پدې وخت کښے اوسلام ئی هم پرد وی واچوے اوکلمه ئی هم پدې وخت کښے ووایله اوهغی له راغله اواسامه بن زید دی مرکړی اومال ئی هم تالاشو بیا چے رسول ﷺ له راغله نو اسامه ئی ډیر وترانی چے مسلمان دی مرکړی او اسامه ووایل چے دتوری له ویری ئی کلمه ویلی ده نو رسول ﷺ ورته ووایل هَلَّا شَقَقْتَ قلبه نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا ضَرَبْتُمْ په هغه وخت کښے چی تللی اوسے فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاړه دخدای کښے په جهاد پسے فَتَبَیَّنُوْا پس بنه تحقیق کوی وَلَا تَقُوْلُوْا اومه وایاست لِمَنْ اَلْقٰۤى هغه چاته چے واچوی دی اِلَیْكُمُ السَّلٰمَ وتاسی ته سلام لَسْتَ مُؤْمِنًا چے نه ئی ته مؤمن اودا کلمه دی له بیری ویلی ده تَبْتَغُوْنَ غواړی تاسے عَرَضَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ز مال ددی فانی دنیا اوکه واقعے غنیمت غواړی فَعِنْدَ اللّٰهِ پس دی دخدای څخه مَغَانِمُ كَثِیْرَةٌ ط غنیمتونه ډیر اوکه مرادس له بیری څخه کلمه ویلی وے هم تاسے ډیر بد کړی دی لکه چے كَذٰلِكَ كُنْتُمْ هم داسے وۤ اتاسے مِّنْ قَبْلُ پخوا له دی یعنی په اول کښے تاسے هم له بیری ایمان راوړی وو فَمَنَّ اللّٰهُ پس احسان اومهربانی وکړه خدای عَلَیْكُمْ پرتاسے چے استقامت ئی درکړی پر دین کښے فَتَبَیَّنُوْا ط پس بنه تحقیق کوی اودهیڅوا مال په بهانه مه تالاکوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ دی

---

۹۳ یعنی هیشه والی ۱۲ منه یعنی د ډیر وخت کول په دوزخ کښے ۱۲ سه یعنی ولی دی نه ځیری زمونږ دهغه چے ایمان دی پکښے ځمل دی ۱۲ ۱۰ حکم چی ناګنی ماتاړ وا اوحلال ګنو کی دحرام موکافر دی ای کافر لره هیشه واځی دی په دوزخ کښے

پرهغه کار وچے کوی ئی تا سے خَيْرًا (۹۴) ښه خبردار لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ نه برابریږی
د خدای په نزد هغه کور ناست مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ له مؤمنانو څخه بیا د احکم نازل شو نو ابن
مکتوم فریاد وکړی چے نړه خو په ستر گو معذوریم نو نږ مابه څه حال وی نو بیا پرږ سول
پرکالئ وحی را غله بیا چے را بید ارشو نو کاتب ته ئے وویل چے ولیکه غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ
بی له خاوندانو د سړو څخه (ضرره) او د عاجزی یعنے غیر له سړو څخه نو او بی قوتو وَالْمُجٰهِدُوْنَ
اوجهاد کونکی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لارد خدای کښے بِاَمْوَالِهِمْ په مالونو خپلو لکه چی په پاس
یا په وسله یا په توښه یا په نورشے ئی لګوی وَاَنْفُسِهِمْ ط او په نفسونو خپلو فَضَّلَ اللّٰهُ د ویره
نړیا ته ګورنږ ولی ده اللّٰه تعالیٰ الْمُجٰهِدِيْنَ هغه کسانو لره چے جهاد کوی بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ
په مالونو خپلو سره او په سرو خپلو سره عَلَى الْقٰعِدِيْنَ په نسبت د کور کښینا ستونکو دَرَجَةً ط
د رجه یعنی اللّٰه تعالیٰ د ویره نړیا ته ګورنږ ولی ده د هغو کسانو نږ چے جهاد کوی په مالو او سرو سره
په نسبت د هغو کسانو چے په کور وکښے ناست دی وَكُلًّا اوټولو لره یعنے د مجاهدینو سره هم
او قاعدینو سره هم وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ط وعده کړیده اللّٰه تعالیٰ د بښه کور وَفَضَّلَ اللّٰهُ
الْمُجٰهِدِيْنَ نړیات کړی یک خدای جهاد کونکی عَلَى الْقٰعِدِيْنَ پرناستو باندی اَجْرًا عَظِيْمًا (۹۵)
په ثواب لوی سره دَرَجٰتٍ پاڼے دی د هر چا بیلی بیلی په آخرت کښے مِّنْهُ له جانبه د خدای
او په جنت کښے او یا پاڼے دی چے د هرے پاڼے تر بلے پورے او یا کاله لاړه د ډیر تیز اس ۱۳
وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ط او بخښنه او همرهبانی ده وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای غَفُوْرًا رَّحِيْمًا (۹۶) ع ۱۰
بخښونکی د ګناهو همرهبانه پربندګانو روایت دی چے بعض مسلمانانو هجرت نه ووکړی له
مکی سره له قدره تر لکه قیس بن فاکه او قیس بن ولید او دا سے نور څوک بیا چے جنګ د بدر
وشو نو دوی هم له مشرکانو سره بدر له را غلی وه او هلته د مسلمانانو لاسه مړه شوه
نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چے ارواح د دوی قبضه لره ملایکو
ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په دی حال کښے چی ظالمان وو دوی پرځانونو خپلو په ترلا د فرض سره چے هجرت
دی حُکم چے په هغه وخت کښے هجرت فرض وو یعنے په ابتداء د اسلام کښے د پاره د معاونت

عه یعنی خاپو ته د عزت او کرامت دی چے بعض له بعضو څخه او وخت د ۱۳ جلالین

د مسلمانانو اوشك نسته په نسخ دوی کښے اوپه دی زمانه کښے که نه قادر کیدی په اقامت د دین څپل په سبب د ظالمانو اود کافرانو هم پرفرض دی اوکه قادر کیدی نوفرض نه دی کذا فی التفسیر الاحمدی قَالُوْا فِیْمَ كُنْتُمْ د وویل ملائکو دوی ته چے په کومه کار کښے واست تاسے له دینه څخه او په کومه طاعت کښے واست په موحدانو کښے اوکه په مشرکانو کښے قَالُوْا كُنَّا وویل دوئے چے ووموږ مُسْتَضْعَفِیْنَ فِی الْاَرْضِ د ضعیفان په ځمکه د مکی کښے اوعاجزان لهرچا قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ بیاوویل ملائکو چے ایا نه وه اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً ځمکه د خدای ارته فَتُهَاجِرُوْا فِیْهَا پس چے هجرت کړی وای تاسے په دی ځمکه کښے فَاُولٰٓئِكَ پس دا تاسو کان د هجرت چی دے مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ د ځای د دوی دوزخ دی وَسَآءَتْ مَصِیْرًا (۹۷) اوبدٗ دی دا دوزخ ځای د رجوع اود اتاسو کان به قول په دوزخ کښے وی اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِیْنَ مگر هغه واقعے ضعیفان عاجزان مِنَ الرِّجَالِ له سړیو وَالنِّسَآءِ اَوِ الْوِلْدَانِ اوله ښځو اوله هلکانو لَا یَسْتَطِیْعُوْنَ چے نه توانیږی اونه لری دوی حِیْلَةً هیڅ قدرحیله واسطه وتاوله مکی ځخه په سبب د فقر اوعاجزی وَّلَا یَهْتَدُوْنَ اونه پیژنے دوی سَبِیْلًا (۹۸) لار د مدینی یا د بیرون وتلو له مکی فَاُولٰٓئِكَ پس دا عاجزان چے دی عَسَى اللّٰهُ سنائی خدای اَنْ یَّعْفُوَ عَنْهُمْ د چے عفوه وکړی دوی ته وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای عَفُوًّا اعفوه کونکی له مغدورانو غَفُوْرًا (۹۹) بخښونکی دگناهو دوی وَمَنْ یُّهَاجِرْ اوهرڅوك چے هجرت وکړی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښے یَجِدْ فِی الْاَرْضِ نو پیدا به کړی دوی په ځمکه کښے مُرٰغَمًا کثیر ځایونه د اړام دیر وَّسَعَةً او فراخے د رزق یا د اظهار د دین د روایت دی چے هر کله اٗ یتو نه دهغه د غله پر ترك د هجرت اوضعیفان د مکی چے په خبر شو نو جندب بن ضمره خپلو نه امنو ته وویل چے مبادا په تاسو کانو د هجرت کښی حساب نشم نوتاسے می په کټ کښے واخلے اوزه به لاړ م د رته بنسیم نو زما منو په کټ کښے مدینی ته روان کړی او په لار کښے د هغه سخت په عذاب شو نو بیخے لاس څپل ئی پرچپ لاس کښیښودے اوووی وویل چے اے خدایه دا یو لاس

عه خلاصه محض دا ایت داوه چے څوك مړ شے او هجرت ئی نه وو کړی سره له دی چے قادر وو پر هجرت او منگولی ئی لګولی وی په شریعت نو دا سزا ده په جهنم کښے وی ۱۲ عه اسباب د سفر له قوته اوله ماله څخه ۱۲

ستا پر نامه او دا بل در سولؐ پرنامه او هغه بیعت می درسره وکړی چې ر سولؐ درسره وکړی دی اووفات شو نو بعضے اصحابو وویل چې که مدینی ته ر سیدلی وای نو ایمان به ئې کامل شوی و و نو نازل شو وَمَنْ يَّخْرُجْ او هر څوک چې وو نږی مِنْۢ بَيْتِهٖ له کوره څله مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ په دی حال کښے چې هجرت کونکی وی وخدای ته وَرَسُوْلِهٖ او ور سولؐ دده ته چې په علم یا په جهاد یا په حج یا په طاعت یا په قناعت یا په زهد یا په ر زق حلال طیب پسې وتلی وی ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ پس له هغه لاندی کړی دی مرګ په مینځ د لاسی کښی مخکی ترې سید و و مطلب ته فَقَدْ وَقَعَ پس په تحقیق سره واقع یعنے لازم شو په مقرر لو دده سره اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ د اجر دده پرخدای په دی تولو ځایو کښے ډکدا فی المدارک وَكَانَ اللّٰهُ ١٤ اوډی خدای غَفُوْرًا بخښونکی دګناهو دتا خیر کونکو په هجرت کښے رَّحِيْمًا ۝ مهربان ۱۰ ع ۱۱ سبب د بښه نیت ددوی وَاِذَا ضَرَبْتُمْ او په هغه وخت کی چې اراده وکړی تاسے دسفر فِي الْاَرْضِ په مخلکه کښے فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ پس نشته پرتاسے جُنَاحٌ هیڅ وبال اَنْ تَقْصُرُوْا په دی کښے چې کم کړی تاسے ر کعاتو نه مِنَ الصَّلٰوةِ د ۳ له لمانځه څخه اماله ر باعی نه له ثلاثی اوله ثنائی ۲ او یا په اجماع ثابت دی فائدګ اوله ثنائی سفر په نزد دامام اعظمؒ د دروروځو منزل دی په ډیرو لنډو و ورځو کال کښے تر وخته د زوالله سره له دمو نې میانه تلګ سره او تیز او کرار تلګ ته هیڅ اعتبار نشته یعنے که دا مسافت په یوه ورځ کښے قطع کړی هم به مونږ سفر انه کوی اوکه نیم ددی مسافت په شلو ور ځو کښے قطع کړی هم به مونږ پورې کوی کذا فی التفسیر الاحمدی والدرالمختار اِنْ خِفْتُمْ که ویرید لاست تاسے او دا قید اتفاقی اوعادی دی نه احترازی اوداقسم قید په قرآن کښے دی لکه وَلَا تکرهوا فَتَيٰتِكُمْ علی البغاء ان اردن تحصنا اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ له دی چې قصد دقتل یا دجرح یاد اخذ ستاسے

عه لکه مونږ پښین اودمانړ نګر او دماسخام ۱۲ عه لکه مونږ دسابا هر شو ۱۲ سه لکه مونږ دسحر ۱۲ له یعنے داچې الله ﷻ فرمایلے دی چې کوتاه والی په طاقه کښے کوی که چیرې و یریږی له فتنې دکفارو پس اقید د ویرې چې دی هیڅ اتفاقی دی که چیرې ویره وی هم تاسے قصر کوی اوکه ویره نه وی هم تاسے قصر کوی اود اصطب ګ نه دے که چیرې ویره وی نه تاسے قصر کوی اوکه ویره نه وی قصر مه کوی ۱۲ له الله پاک په سورۂ نور کښے فرمایلے دی چې نه ور د مه کوی تاسے ای یاد ارانو پیرو نځو خپلو باندی په ر نا کولو سره که چیرې اراده لری دا مینځ و ځانو سانګو لمه زنا څخه حاصل د چے خپلو مینځو باندی نا ټد مه بر یږدی که ددوی رضاوی اوکه نه وی فاقهم ۱۲ منه فکر مناسب دی پرته نګښا ګه

بہ وکړی هغه کسان کفروا اطچې کافران دی اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ بیشکه کافران چې دی كَانُوْا لَكُمْ دے
دوی تاسے لره عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾ دښمن ښکاره ر وَاِذَا غطفان کښینے چې
صفونه له دوارو طرفونو اړاسته شوه ناګاه لمونځ دمانبین راغلے چې دوی پرلمانځه وویدل
اوکفار روئے تماشه کوله بیا پس له سلامه کفار وده پراسرمان وکړو چې موږ پې وخت دسجدے
کښے حمله ولی نه پروکړه لونچا پې دوی کښے وویل چې یو ساعت پس بهدوی بیاهم داسے کوی
خوتاسے خپلمان ورته تیار کړی بیا ما زیګر لاند وولاغلے چې صلوٰة خوف راغلے اونازل شو
وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ او په هغه وخت کښے چې اوسے ته په دوی کښے ای رسوله پې وخت دخوف
کښے فَاَقَمْتَ پس اراده دی کړی وه دورکولو لَهُمُ الصَّلٰوةَ دوی لره د لمانځه نولښکر دوے
طائفی کړه فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ پس ودی دریږی یوه طائفه مِّنْهُمْ مَّعَكَ له دوی څخه له
تاسره پرلمانځه او بله طائفه دی ستاشاته ودریږی مخ پردښمن وَلْيَاْخُذُوْٓا اومیبایدی
چې دی واخلے دا طائفه چې مخ پردښمن ولاړه ده اَسْلِحَتَهُمْ وخپل وسلے خپلی توکے یا دا
مصلیان دی واخلے هغه قدروسلے چې لمانځه ترڅنګ نه رسوی لکه توره یا خنجر یا
مثل دوی فَاِذَا سَجَدُوْا پس په هغه وخت کښے چې سجده وکړه دوی یعنی یورکعت پوره
وکړی فَلْيَكُوْنُوْا پس ولاړه دی شے دغه طائفه چې یورکعت ئې وګذاره مِنْ وَّرَآئِكُمْ
طرف دشاستاسے ته مخ پردښمن دپاره دچوکیداری وَلْتَاْتِ اومیبایدی چې دی راشی
طَآئِفَةٌ اُخْرٰى هغه بله طائفه لَمْ يُصَلُّوْا چې لمونځ ئې نه دی کړی بلکه نیت ئې لاهم
نه دی کړی فَلْيُصَلُّوْا پس میبایدی چې ودی ګډاری دوی دا باقی پاته یورکعت مَعَكَ
له تاسره وَلْيَاْخُذُوْا اومیبایدی چې دی واخلے دا مخ پردښمن دله حِذْرَهُمْ قول اسباب
دساتنے دځان خپل له دښمن لکه سپر یا زغره یا خول وَاَسْلِحَتَهُمْ او وسلے خپلی توکی
لکه توره اونیزه اوغشے اولینده یادا مصلیان دی واخلے هغه قدروسلے چې لمانځه ترڅنګ
خلل نه رسوی او طریقه داده کولو دهغه یورکعت چې له دوارو طائفو پاته دی په نزد د
امام اعظم ؒ داسے ده چې امام به سلام وګرزوی اوهغه اوله طائفه بهڅې اودویم رکعت

به وکړی ځان ته یې قرائت ځکه چې وی لا ځنې دی اود احکم دلاحق ترک دقرائت دی او سلام به وګرځوی اود وی به بیا خ پردښمن ودریږی اوورسته یې طائفه به ورسره شي اودویم رکعت به وکړی ځان ته اما سره له قرائت ځکه چې دوی مسبوق دی اوحکم دمسبوق لوستل د قرائت دی کذا فی التنویر الامدی سره وایت دی چې رسول علیه السلام په یوه غزا کښې کفارو وهل اوښتیان ئې کړه اومالونه ئې تړی راوستل بیا یوه وړځ دی حاجت ته ولاړی نو یو کافر چې پهلوان وواو حویرث ئې نوم وو چې هغه پټ ورپسې راغے اوپرسر ئې ودریدے اوورته ئې وویل چې اوس به دی څوک را ځنه خلاص کړی نو رسول علیه السلام وویل چې خدای اوسوال ئې وکړی اللّٰهُمَّ اکفنی حویرثا بما شئت چې حویرث قوړ پرپوته کړه نو پرځمکه را ولویدے اوتوړ ځنی پریوته (ایده سوه) اورسول علیه السلام را واخسته اوحویرث ته ئے وویل چې اوس به دی څوک راځنه خلاص کړی هغه وویل چې هیڅوک نسته بیا پرسل هغه امرو شو په ګرزنو ولود وسپے سره اونازل شو وَدَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا دوست ګڼی هغه کسان چې کافران دی لَوْ تَغْفُلُوْنَ چې کاشکے که غافلان شے تاسے عَنْ اَسْلِحَتِکُمْ له وسلاحونو وَاَمْتِعَتِکُمْ اوله سرختو او له نورو اسبابو خپلو څخه فَیَمِیْلُوْنَ عَلَیْکُمْ پس نوحمله به وکړی دوی پرتاسے مَّیْلَةً وَّاحِدَةً یوحمله وَلَا جُنَاحَ اونشته هیڅ ګناه (وبال) عَلَیْکُمْ پرتاسے اِنْ کَانَ بِکُمْ که وو په تاسے پوری اَذًی مِّنْ مَّطَرٍ سخته له جهته دباران چې وسلے ئې درڼی کړی وی اَوْ کُنْتُمْ مَّرْضٰٓی یا یاست تاسے سرغوران نو وبال نشته اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَکُمْ ج دی دی کار چې کیږی تاسے وسلی خپلے وَخُذُوْا حِذْرَکُمْ ط اووانخلے په هرحال کښے اسباب دخپل ځان دساتلو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای اَعَدَّ لِلْکٰفِرِیْنَ تیار کړیدے کافرانو له عَذَابًا مُّهِیْنًا (۱۰۲) عذاب سپکونکی په دی مخکښے ایت کښے تفاسیر و خلور قسمه مبهمے اکړیده اماد لته بالذات مقصود داده چې فَاِذَا قَضَیْتُمُ الصَّلٰوةَ

---

۱۰۲ لاحق ودی ته وائے چې اول سرکعتونه د امام سره وګذاری اوورسته سرکعتونه په څه غذر رسولو پاته شے نو پاته سرکعتونه به بے لوستلو د قرائتو ګذاری اومسبوق دی ته وائے چې په ورسته رکعت کښې اما پسې سلام ورسره او څه ملونځ څنډی ولاړ شے نو هغه تیر سوے ملونځ ډګذاری سره له قرائتو ۱۲ منه یعنی اے خدایه وساته مالدحویرث کافر څخه په هرشان چې ستا سره رضا وی ۱۲

پس په هغه وخت کی چے ارادہ وکړی تاسے دا داء کولو د لمانځه فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یاد وی خدای یعنی ګذاری د الموخ قِيٰمًا په ولاړی کے روغ واست وَقُعُوْدًا او په ناسته کے دوکاڑے نه واست وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ او په اړخو خپلو که دنا سته هم نه واست فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ پس په هغه وخت کی چے پرارام شے په سبب د روغوالے سره فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ پس ودروی الموخ یعنی پوره ئی ګړی په قیامه په قعوده په رکوع په سجده سره اِنَّ الصَّلٰوةَ بیشکه الموخ چے دی كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ دی پرمؤمنانو كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ فرض کړه شوی مؤقت په اوقاتو معلوم موکښے روایت دی چے هرکله پس له جنګه د اُحد رسول ﷺ په ابوسفیان پسے بیاروان شوا و اصحابؓ په سبب د ډیرو پرهر و د نګیړه وو او د زړه رښتیا ئی ارام نه وو نو نازل شو وَلَا تَهِنُوْا او سُستی مه کوی اے مؤمنانو فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ په طلب د کفارو او په جنګ د دوی کښے اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ که یاست تاسو چے خو ښ یږی په پرهر فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ پس بیشکه دوی هم خو ښ یږی كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ لکه تاسے چی خو ښ یږئ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ او علاوه لاډ چے تاسے امید لری د خدایه شخه مَا لَا يَرْجُوْنَ ؕ د هغه نصرت اونواب چے دوی ئی اُمید نه لری وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای عَلِيْمًا ښه دانا په نیتو ستاسے حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾ ع حکم کونکی په اوامرو اونواهیو روایت دی چے یو سړی وو له قومه دبنی ظفر طعمه نومیدی د شپی له خپل ګاونډی د کوره لږ یوه زغره چے داو ږو په کوڅه کښے پرته وه هغه ئی له ګوډی سره پته کړه اوځنډ ید بن سمین یهودی کره ئی پته کښیښوه اوګوډی سوړے وو پرده رسته لاړاوسره ځندی توی شوی وه اوصباچے زغره لاطعمه طلب شوه هغه قسم وکړی چے نه ی اخستی ده او نه په خبر یږ ید بیا دواړه په کرښه پسے زید کړه ولاړه نوهغه وویل چے بیګاه طعمه یو زغره د اوسره و په ګوډی کښے زما کره امانت ایښی ده او لوڼ ږ یهود یا لوڼ شاهدی پرادا کړه بیاچے رسول ﷺ له راغله نو بنی ظفر وورته وویل چے که طعمه پرشو نو مسلمانان به د ډیر ځمل شے او رسول ﷺ اراده وکړه د زجر یاد قطع د لاس د یهودی نو نازل شو اِنَّآ اَنْزَلْنَآ بیشکه موږ چے یو رالیږ لے دی موږ اِلَيْكَ

ع ۱۳

عه یعنی ناجوړه وی اوده ولاړی طاقت نه لری ۱۲ عه یعنی تعین کړی شوی دی په وخت پلوړه ۱۲

اُلْكِتٰبَ بِالْحَقِّ تا تہ قران پہ حق لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ دپارہ دی چے حکم کوی تہ پہ مابین دخلکو کښے بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ط پہ ھغہ طریقہ سرہ چے ښودلی دہ تا تہ خدای وَلَا تَكُنْ اومہ کیږہ تہ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴿۱۰۵﴾ دپارہ دغیانتگرو جگړہ کونکی لہ بے گنا ھانوسرہ وَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ط اوبخښنہ وغواړہ لہ خدایہ لہ ھغہ ارادی چے دی کړی وہ یهودی تہ اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ خدای كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۶﴾ دی بخښونکی دبخښنہ غوښتونکو پرھرمانہ پردوی وَلَا تُجَادِلْ اوجگړہ مہ کوی لہ بے گنا ھوسرہ عَنِ الَّذِيْنَ لہ طرفہ دھغو کسانو يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ط چے خیانت کوی دوی دخپلو خپلوسرہ یعنی بنے ظلم چے بے گناہ ـ گنھگاروی اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ خدای لَا يُحِبُّ مَنْ نہ خوښوی ھغہ څوك كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿۱۰۷﴾ چے وی خیانتگر گنھگار چے مُصِروی پہ خیانت کښے او دوب وی پہ گناہ کښے یعنی طعمہ لکہ چے ولیی شوی دی دده پہ حق کښے چے مرتد شو پہ اخر کښے اوبیا ولاړی مکی لږہ اوھلتہ دشپی دچاکنړئ واھلہ چے دیوال پرړا ولوبیدی اومرشو يَسْتَخْفُوْنَ چے شرمیږی دوی اوپټوی داخیانت مِنَ النَّاسِ لہ خلکو وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ اونہ شرمیږی دخدای وَهُوَ مَعَهُمْ اوحال داچے دی لہ دوی سرہ دی یعنی خبر دی پہ قولوا قولوا فعا لواحوالو ددوی اوپوہ ذرہ ھم نہ دده څخہ پتہ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ پہ ھغہ وخت کی چے دشپی تدبیروئ تری اووائ دوی مَا لَا يَرْضٰى ھغہ چے نہ خوښوی خدای مِنَ الْقَوْلِ ط لہ خبری چی ھغہ خبرہ داوہ چے طعمہ دِی نزغرہ دشپی دنږدیدکرہ وغورځوی او بیادی قسم وکړی چے مانہ دہ پتہ کړی وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای بِمَا يَعْمَلُوْنَ پہ ھغہ کارو چے کوی ئ دوی مُحِيْطًا ﴿۱۰۸﴾ احاطہ کونکی پہ علم قدیر خپل سرہ هٰٓاَنْتُمْ واورې تاسے چی یاست ای بنی ظفر هٰٓؤُلَآءِ بیا واورې چے ھغہ څوك یاست چے لہ دیرہ جملہ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ جگړہ کوی لہ طرفہ دوی خیانتگرو لہ بے گناہ سرہ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ژوند پہ دی نړندگی فانی کښے فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ پس څوك دی چے جگړہ بہ وکړی لہ خدای سرہ دوی

عہ دوی ایت شمہ دامعلومہ شوہ چے جگړہ کول دطرفہ دھغہ چا څخہ چی حقدار ی دھغہ معلومہ نہ وی لہ یو بے گناہ سرہ ناروادہ ۱۲

خیانتگرو له طرفه یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت اَمْ مَّنْ یَّكُوْنُ یا څوك دی چې وی به په
ورځ د قیامت عَلَیْهِمْ وَكِیْلًا ﴿۱۰۹﴾ پرده وی نگهبان یا حامی یا ښگرد عذابه وَمَنْ یَّعْمَلْ سُوْٓءًا اوهر
څوك چې وكړی بدی چې ضرر ئی وبل چا ته راجع وی اَوْ یَظْلِمْ نَفْسَهٗ او یا ظلم وكړی
پرځان خپل ثُمَّ یَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ بیا پس له هغه بخښنه وغواړی له خدایه یَجِدِ اللّٰهَ نو بیا
به موی د خدای غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۱۰﴾ بخښونكی مهربانه وَمَنْ یَّكْسِبْ اِثْمًا اوهر څوك چې
كوی كومه گناه فَاِنَّمَا پس بیشكه هم داخبره ده یَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ط چې كوی د ځان گناه
او باروی ئې پرځان خپل وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای عَلِیْمًا ښه دانا په حال د غله دروغ
گوی حَكِیْمًا ﴿۱۱۱﴾ حكم كونكی په جزا او به قطع ید سره وَمَنْ یَّكْسِبْ اوهر څوك چې وكړی
خَطِیْٓـَٔةً اَوْ اِثْمًا صغیره گناه یا كبیره ثُمَّ یَرْمِ بیا پس له هغه وولی یعنی متهم كی دی
بِهٖ بَرِیْٓـًٔا په دی گناه سره كوم بی گناه لكه طعمه چې خپله گناه لۍ ورښوید وتپله فَقَدِ
احْتَمَلَ پس به تحقیق سره بار ئی وكړی پرځان خپل بُهْتَانًا د بغت دروغ وَّاِثْمًا مُّبِیْنًا ﴿۱۱۲﴾ ع
اوگناه بنكاره غټه وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ اوكه نه وای فضل د خدای عَلَیْكَ پرتا چې په وحی سره
ئی له خیانته د طعمه ته خبر كړی وَرَحْمَتُهٗ اورحمت دده چې ستاغ ئی د ژوندیده ځیر كړی
لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ نو هرا ئینه قصد كړی وو یوی طا ئفی مِّنْهُمْ له دی بنی ظفر وا اَنْ
یُّضِلُّوْكَ د دی چې چپ كړی تاله ربښتینی حكمه څخه وَمَا یُضِلُّوْنَ اونه چپوی دوی له
حقه په واقعه كښې اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ مگر ځانونه خپل چې په بدښت سره داوبال قول ځان
ته راوړی وَمَا یَضُرُّوْنَكَ اوضرر نشی رسولای دوی وتا ته مِنْ شَیْءٍ د هیڅ شی څكه
چې عصمت دخدای ستا نگهبان دی وَاَنْزَلَ اللّٰهُ اوراپرله دی خدای عَلَیْكَ اَلْكِتٰبَ پر
تا قرآن وَالْحِكْمَةَ او سنت وَعَلَّمَكَ اوښوولی ئې دی وتا ته مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ د هغه
شیان چې نه وی ته چې په پوه شوی وای له خپله فكره وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ اودی فضل د
خدای عَلَیْكَ عَظِیْمًا ﴿۱۱۳﴾ پرتا باندی ډیرلوی لَا خَیْرَ نشته هیڅ خیر فِیْ كَثِیْرٍ په ډیروكښی
مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ له پټو سرلرو او تدبیرودقومه طعمه اِلَّا مَنْ اَمَرَ مگر خیر شته په سرلرو هغه

---

۱۰۹ یعنی په پریكولو د لاس د غله ۱۲ ۱۱۰ یعنی وگورنه اوی ۱۲ ۱۱۲ یعنی لاهم اوطریقه دابراهیم علیه السلام ۱۲

چاکښے چے امر کوی بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ پہ خیرات ورکولو یا پہ قرض ورکولو یا پہ اعانت د مظلوم یا پہ هر نیك کار یا مراد له صدقے زکوٰة او له معروف هسے خیرات دی او اِصْلَاحٍ یا امر کوی پہ صلح کولو بَيْنَ النَّاسِ پہ ما بین دخلکو کښے وَمَنْ يَّفْعَلْ اوهر چاچے وکړی ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ کوم یو له دی دریو کارو چے ذکر شوی دپاره د طلب درضا دخدای فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ پس زهٔ دی چے ورښه کړو موږ ده لره اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ ثواب دیولوی وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ اوهر څوك چے مخالفت کوی له امر د رسول مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى چے بنکاره شوه ده ته سمه لاره وَيَتَّبِعْ او پیروی وکړی د هغه لاری غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ چے غیر وی د لاری د مؤمنانو چې دین د اسلام دی نُوَلِّهٖ نو زهٔ یې ښه د موږ دی په هغه شے چې دنیا کښے اووه ښه ئی سپارلے وَمَا تَوَلّٰى او هغه شے چې ده غوره کړی دی چې کفر دی او ارتداد دی وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ او داخل به کړو دی په قیامت کښے په دوزخ کښے وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ او بد دی دا دوزخ له جهته د رجوع روایت دی ـــ چې یو نور وړسیږی رسول علیه السلام لره راغلے او ورته ئی وویل چے تمام عمری په گناه هوکښے تیر شوی دی اما له شرکه مې څان ساتلی دی او اوس پر هغه گناه هوخپلو پښیمان یم نو زهٔ ما به څه حال وی نو نازل شو اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ بیشکه خدای نه بخښے هیڅ ته اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ دا کار چے شریك ونیول شے له ده سره څوك وَيَغْفِرُ مَا او بخښے هغه گناه دُوْنَ ذٰلِكَ چې کښته وی له دی شرکه لکه کبیره وی که صغیره لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ هر چاته چے اراده ئے وشے وَمَنْ يُّشْرِكْ اوهر څوك چے شریك ونیسی کوم څیز (شر) بِاللّٰهِ له خدای سره فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق گمراه شوی دی ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ پر هغه گمراهے چے ډیره لیری ده د لاری حقه روایت دی چے دهری قبیلی له قبآئلو د عرب یو مړ ووچې هغه ښه ئی په انځ د بنی فلان سوبالی لکه لات اومناة اوعزیٰ اود اسے نور ډیر شول او د اتول ښه ئے پښکل د بنځو جوړول اووېل ښه ئی چے د الوتی دخدای دی او دا به خدای په نزد

عه یعنی مد وکړل له مظلوم سره ۱۲ عه او هر چے پردی حقونه دی دی هم که اراده وکړه خدای د بخښے ئی نو د حقدار په ښه کښے به واچوی چے د اسرے وبخښه ۱۲

نه هوږ شفاعت کوی او سجدی به ئې ورته کولی نو نا نرل شو إِنْ يَدْعُوْنَ نه بولی دا مشرکان یعنی عبادت نه کوی مِنْ دُوْنِهٖٓ بیله خدایه إِلَّآ إِنٰثًا مګرد نجګو وَإِنْ يَدْعُوْنَ اونه بولے یعنی عبادت نه کوی دوی په واقعه کښے إِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ مګرد هغه شیطان چے وتلے دی له فرمانه د خدای لَّعَنَهُ اللّٰهُ مړ چے دی لیږی کړی دی خدای له رحمته خپله او هر کله چے دوی د اعبادت په امرده کوی نو ځکه عبادت د بتانو عبادت د شیطان شو وَقَالَ او وویل شیطان په وخت د ملعون کیدو کښے چے لَأَتَّخِذَنَّ هر اینه وا به خلم نړه خانخا مِنْ عِبَادِكَ لـ له بندګانو نستا نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ برخه مقرره کړه شوی مالره چے هغه په نړ او بنځ ادمو کښے نهه سوه ۹۹۶ او نهه نوی دی او یو پکښے خدای لره دی چے حدیث کښے راغلے دی وَلَأُضِلَّنَّهُمْ او هر اینه ګمراهان به ئې کړم خانخا وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ او هر اینه په اږد و باطلو امیدونو ګډ نو کښے به ئې واچوم خانخا لکه طول د حیاة او تاخیر د توبې او شک په بعث په حساب په ثواب په عقاب کښے وَلَآمُرَنَّهُمْ او هر اینه امر به وکړم پرده خانخا فَلَيُبَتِّكُنَّ پس هر اینه ټیرې به د دوی خانخا اٰذَانَ الْأَنْعَامِ غوږونه د چارپایانو لکه چې دوی به د دهغوا وښو چے پنځه واړه د لنګی شوی او پنځم به ئې نړ اوړې نو د هغو غوږونه به ئې ټیرې کړه او ځندی نفعه اخستل به ئې پرځان حرام کړه وَلَآمُرَنَّهُمْ او هر اینه امر به وکړم پر دوی خانخا فَلَيُغَيِّرُنَّ پس تغیر به ورکړی دوی خانخا خَلْقَ اللّٰهِ د خلق د خدای لره لکه خصے کول د مریانو او شنه خالونه اینبوول پرمخ پرشوندو پرلاسو پرپښو یا خوږول (رستوالول) دا ناموخیلو په منهیاتو کښے او تحریم د حلالو او تحلیل د حرامو او داسے نور چې پرشوه وَمَنْ او هر څوک يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا چے ونیسی شیطان د دوست مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه یعنی امرده غوره کړی پرامرد خدای فَقَدْ خَسِرَ پس په تحقیق زیان ئې وکړی خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾ په زیان ښکاره په دوارو جهانو کښے يَعِدُهُمْ وعده کوی شیطان له دوی سره یعنی وسوسے اچوی دوی ته مخالفی له شرع څخه چې نه جنت

عه یعنی دا وږ دوالے د ټ وند ۱۲ عمه یعنی په هغه شیانو کښے چے الله منعه ځندی کړید ۱۲
سه حرامول د حلالو او حلالول د حرامو ۱۲

شته اونه دوزخ اونه بعث اونه حساب وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ د اوامید ونه ورواچوی (ورپیدا کړی) دهغه کار وچه ددوی هیڅ لاس نه په رسیږی وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اووعده نه کوی له دوی سره شیطان اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾ مګر په فریب یعنی په هرهغه کار چې ظاهر نفع او په باطن کښے ئې ضرر وی اُولٰٓئِكَ دابت پرستان اوتابعان دشیطان چې دی مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ځای ددوی دوزخ دی وَلَا يَجِدُوْنَ اونه به مومی (پیدا کړی) دوی عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾ له دی دوزخ څخه هیڅ ځای دخلاصے وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکوی نیک کارونه دوی سَنُدْخِلُهُمْ ژر دی چې داخل به کړو دوی جَنّٰتٍ تَجْرِيْ پرهغه باغونے چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی دمانیو یاد ونو دوی څلور قسمه وَلِيْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ همیشه به وی دوی په دی باغونے ابَدًا دائمی بے انقطاع وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا داوعده ده خدای په حق سره چې هیڅ شك اوشبه پکښے نشته وَمَنْ اَصْدَقُ اوڅوك دی زیات رشتینی مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾ ترخدای په خبره اوپه وعده کښے (روایت دی چې مسلمانان اویهود اونصاریٰ سره جمع شوی وو یوځای او یو پر بل ئے فخر سره کاوی نو یهود وا ونصاریٰ ووبه ویل چې پیغمبران اوکتابونه زمونږ مقدم دی پر پیغمبر اوکتاب ستاسے اوجنت له هم به بیله یهود واونصاریٰ ووبل هیڅوك نه ځی او مسلمانانو ویل چې زمونږ پیغمبر خاتم الانبیاء دی اوکتاب زمونږ ناسخ دی دکتابونو ستاسے نو جنت هم مونږ لره بنائی نو نازل شو لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ نه ترسره کیږی دا کار په اړمانونو وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ او نه په اړمانونو دا هل کتابو (یعنی یهودو اونصاریٰ دو) چې وائی دوی نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ واحباؤه او وائی لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ الَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً اووائی لن ید خل الجنة الامن کان هودًا اونصاریٰ یعنی رضا دخدای اوثواب اوجنت په اړمانونو نه حاصلیږی بلکه په رښتونی او په مشقت دعمل دواړه پورے کیږی لکه چې وائی مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اوهرڅوك چې وکړی بد

عه مونږ زمانه دخدای اودوستان دده یو ۱۲ عه هسه به نه کړی اوو به نه رسیږی ومونږ ته اورد دوزخ مګر یوشورمڅی شمیرل شوی ۱۲ عه هرګز به داخل نه شی جنت مګر هغه څوك چې یهودی یا نصرانی وی ۱۲

یُجْزَ بِهٖ لا نوجزا به ورکړه شے ده لره په دی عمل سره په دنیا او په اخرت کښے او داهلته
که داحکم عام وی او حسن بصری ویلی دی چے مراد له عمل سوء څخه شرک دی حکه
ورپسی والی وَلَا یَجِدْ لَهٗ او نه به مومی دی خپل ځان لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه
وَلِیًّا وَّلَا نَصِیْرًا ﴿۱۲۳﴾ کوم دوست اونه مدد کار چے دی له عذاب به خلاص کړی وَمَنْ
یَّعْمَلْ اوهرڅوک چې وکړی مِنَ الصّٰلِحٰتِ بعض له نیکو عملو او داحکم چے اتیان په
قولو ماموراتو هیڅوک نشی کولای په دلیل ددی آیت کلا لما یقض مَا امره مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى
له نارینه یاله ښځې وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال داچے دی مؤمن وی فَاُولٰٓئِكَ پس دانیکو
کاران چے دی یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ داخل به شے په جنت کښے وَلَا یُظْلَمُوْنَ نَقِیْرًا ﴿۱۲۴﴾ او
ظلم به ونه کړی شے پرددوی په قدر د تکی پورې د خرما وَمَنْ اَحْسَنُ دِیْنًا اوڅوك
دی دیرغوره له جهته ددینه مِمَّنْ اَسْلَمَ له هغه چاچه سالم اوخاص کړی وَجْهَهٗ
ځان خپل یا وسولوی وچولی (تسلیم کړی) خپل په دیرو سجدو سره لِلّٰهِ خدای لره وَهُوَ
مُحْسِنٌ اوحال داچے دی نیکوکار وی وَاتَّبَعَ اوپیروی کړی دا محسن مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ
ددین دابراهیم علیه السلام حَنِیْفًا ؕ په حال دکید ودده کښے یا ددی محسن کښے مائل
له نورو حق قبولو ادیانو دین د اسلام تر وَاتَّخَذَ اللّٰهُ او نیولے دی خدای اِبْرٰهِیْمَ
خَلِیْلًا ﴿۱۲۵﴾ ابراهیم خاص یار لکه په تفسیر کښے ذکر دی چے پرنږما نه دده کښے قحط عظیم
راغلی نوده به وړی مړول ترهغه چے غله ئې قوله تمامه شوه نو په مصر کښے دده یو
یار وو هغه لره ئې دیرا وښیان ولیږل چے غله راولیږی او دهغه دلاسه هم غله
پیدا نه شوه او اوښان ئې فتش پیر تر راغله بیا چے ساروان بنار تر نژدی شو نوده
فی الحال دتسلی دمساکینو دپاره عَنْدی له شکوه ډك کړی کوڅه ئې راننه ایستل اودا قصه
ئې قوله ابراهیم تر وکړه نودی له دیره خفګانه مسجد تر ولاړی اوبی بی سارې بیده وه ناګاه چے
وینبه شوه کاله کښے غوندی ډك پراته وو بیا چے یوئے ترے برسیره کړه سپین پاك اوړه وو

عه یعنی پوره کول د قولو امرو د خدای پاك ۱۲ عه معنی دا چے حقه ده داخبره چے پوره او
اډانګول دے انسان هغه کار ونه چے امرور تر کړی د وخدای پاك ۱۲

نوده وی د ځنډ کې یعنی کړی بیا چې دی راغلے نو وی ویل چې دا چیرے وه نی لی وویل چې دا اوسمه ستا د مصر یا رسالیږ لے دی اوده وویل چې نه ما الله یا رسالیږ لی دی نو ځکه خلیل الله شو وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ او خاص خدای لره دی هر هغه چې په اسمانونو کښے دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه چې په ځمکه کښی دی وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای بِكُلِّ شَيْءٍ پر هر شے ۱۸ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ احاطه کونکی په علم او په قدرت سره روایت دی چې عیینه بن حصین ۱۵ رسول علیه السلام لره راغلے چې مور یې اور وچې له لوڅوا خویندو لره هم په میراث کښے حصه درکوی او مور یې خو بے له جنګیالیو بل چا ته نه ورکوله نو اوس څرنګه راته وائی نو نازل شو وَيَسْتَفْتُوْنَكَ او طلب د فتوىٰ کوی دی له تا فِي النِّسَآءِ په باب د میراث د ښځو کښی قُلِ اللّٰهُ ورته ووایه چې خدای يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ لا فتوىٰ درکوی یعنی بیانوی درته حکم خپل په باب د دوی کښے وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ او بل هغه کلام فتوىٰ درکوی چې لوستل کیږی په رتا سے فِي الْكِتٰبِ په قرآن کښے چې هغه لُوصِيْكُمُ اللّٰهُ دی تر اخره پورے یا مثل دده ﴿يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ﴾ په باب د هغه یتیمانو کښے لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ چې نه ورکوی تا سے دوی لره مَا كُتِبَ لَهُنَّ هغه میراث چې فرض کړه شوی دی دوی لره وَتَرْغَبُوْنَ او میل کوی تا سے اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ دی کارته چې په نکاح کړی تا سے دوی وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ او فتوىٰ درکوی تا سے ته په باب د ضعیفانو کښے مِنَ الْوِلْدَانِ لالهو او رو هلکانو څخه وَاَنْ تَقُوْمُوْا او بل دا حکم درکوی چې د دریږی تا سے لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ط په باب د یتیمانو ښځو کښے په انصاف یعنی په سپارلو د مهرونو او د مالونو د دوی کښے انصاف کوی وَمَا تَفْعَلُوْا او هر هغه چې کوی تا سے مِنْ خَيْرٍ له کومې ښیګړی په باب د یتیمانو او هلکانو او بل چا کښے فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾ دی په هغه خبره داناء وَاِنِ امْرَاَةٌ او که ښځه خپلی ښځے ته اوده دی نه راوده د اولاده نه شکیده او طلاق لے نه خوښاوه اووِسَّرَّتْ فِي ووویله چې ما مه طلاقه وه او هر چیرې چې ته ځی له ما ازاد لے نو نازل شو وَاِنِ امْرَاَةٌ او که ښځه خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا چې ویریده

عه پس جلاء وطنی دهر خیر او د شر ۱۲ جامع البیان

له میږه خپله نُشُوْزًا اله سرکشی اوله منع د حقوقو او له ترک د صحبت دڈ اَوْ اِعْرَاضًا یا له څنګ کولو دده له مجلسه او له خبرو له دی سره فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا پس نشته هیڅ وبال پردوی دواړو اَنْ يُّصْلِحَا له دی چې صلحه وکړي دوی دواړه بَيْنَهُمَا صُلْحًا پخپل مینځ کښے سره په صلح کولو سره په دی شان چې ښځه نفقه یا ځمروروبښلی یا حوّل یا بعض یا خپل وار بښے ته ورکړي اومیړه دی طلاق نه ورکوی اوکنارهٔ دی هم څندی نه کوی اومجلس او خبرې دی هم وسره نه ترک کوی او څوک والی چې صلح داده چې دکاله واك دی مشرۍ ته ورکړي اوعیش دنا ستے ولاړی اود مباشرت اوملا عجے دی کشرۍ ته ورکړي وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ط اوصلح ډیره غوره ده له بیلتانا و له بدسر وزګاره اوله جګړې وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ط اوحاضر کړه شوېدی نفسونه دهرچا بخل ته همیشه نو ښځه اعراض اوبے پرواهی دمیړه ته غاړه نه ایږدی اود میړه سا تلود ښځې ته اوادا دحقوقو ددے ته غاړه نه ایږدی وَاِنْ تُحْسِنُوْا اوکه ساز ګاړی کوی تاسے له خپلو ښځو سره وَتَتَّقُوْا اوپرهیز کوی له نشوزه اوله اعراضه اوله مۀ جباتو د خصومت فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ دی په هغه کارونوچې کوئ تاسے خَبِيْرًا ﴿۱۲۸﴾ ښه خبردار په احسان اوپه خصومت ستاسے وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اوله سره به طاقت رانه وړی تاسے اے دیرو ښځو مړو لو اَنْ تَعْدِلُوْا دی چې برابرۍ وکړی تاسے یعنی په هرشے کښے بَيْنَ النِّسَآءِ په مابین د ښځو خپلو کښے وَلَوْ حَرَصْتُمْ اګرکه دیر حرص وکړی په دی برابرولے کښے فَلَا تَمِيْلُوْا پس میل مه کوی یعنے څنګ مه کوی له یوی كُلَّ الْمَيْلِ په قول میل کولو سره په دی شان چې بڼې لاس څندی واخلے فَتَذَرُوْهَا پس پریږدئ دا كَالْمُعَلَّقَةِ د په مثل داویزاندی چې نه طلاقه وی اونه مړوڼه وَاِنْ تُصْلِحُوْا اوکه لاړ دصلاحیت ونیسے له ښځو سره وَتَتَّقُوْا اوپرهیز کوی له جوړه په اختیارۍ کارونو کښے فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ غَفُوْرًا دی بخښونکی دمیل قلبی رَّحِيْمًا ﴿۱۲۹﴾ مهربانه چې په دی میل تاسے نه نیسی وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا اوکه بیل شے دواړه په طلاق

له یعنی له هغه کارونو چې سبب د جګړې وی ۱۲ سه یعنے د هغه میلی چې په نشوز پورته کښے ۱۲۵۵

سرہ یُغْنِ اللّٰہُ نو بے پروا بہ کری خدای کُلًّا مِّنْ سَعَتِہٖ ط ہر یو لہ دوی لہ فراخ د ژوند خپلہ وَکَانَ اللّٰہُ وَاسِعًا اودی خدای فراخ بخشنہ حَکِیْمًا ﴿۱۳۰﴾ محکم کار وَلِلّٰہِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ اوخاص خدای لرہ دی ہر ھغہ چے پہ اسمانونو کښے دی لہ علو یا تو وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او ھر ھغہ چے پہ مخکہ کښے دی لہ سفلیا تو وَلَقَدْ وَصَّیْنَا الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ چے ورکری شوی دی دوی لرہ کتاب مِنْ قَبْلِکُمْ پخوا لہ تاسے مخہ وَاِیَّاکُمْ اوتاسے تر ھم وصیت کو ویلے امر کو وَاَنِ اتَّقُوا اللّٰہَ ط دد ی چے ځان سائی لہ شرکہ پہ خدای پورے وَاِنْ تَکْفُرُوْا اوکہ کافران شے فَاِنَّ لِلّٰہِ پس بیشکہ خدای لرہ دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ ھر ھغہ چے پہ اسمانونو کښے دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او ھر ھغہ چے پہ مخکہ کښے دی وَکَانَ اللّٰہُ غَنِیًّا اودی خدای بے پروا بی پرواہ چے د چا پکفرا و پہ ایمان دہ تہ ھیڅ نفع او نقصان نہ ورسی حَمِیْدًا ﴿۱۳۱﴾ اوستائی شوی دی داتا کہ څوک حمد وائی اوکہ ئی نہ وائے وَلِلّٰہِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ اوخاص خدای لرہ دی ھر ھغہ چے پہ اسمانونو کښے دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او ھر ھغہ چے پہ مخکہ کښے دی وَکَفٰی بِاللّٰہِ وَکِیْلًا ﴿۱۳۲﴾ او بس دی خدای پورہ کونکی دمعاملو د عبادو اِنْ یَّشَاْ یُذْھِبْکُمْ کہ ئی اراده وشے نو بہ یو نړی تاسے یعنی مړہ بہ موکی اَیُّھَا النَّاسُ ای خلکو وَیَاْتِ بِاٰخَرِیْنَ اوراوبہ ولے یعنی پیدا بہ کړی نور خلق وَکَانَ اللّٰہُ اودی خدای عَلٰی ذٰلِکَ قَدِیْرًا ﴿۱۳۳﴾ پردی کار بنہ قادر مَنْ کَانَ یُرِیْدُ ھر څوک چہ وی پے غواړی ثَوَابَ الدُّنْیَا حاصل دد ے جھان د پاره د غنیمت فَعِنْدَ اللّٰہِ پس د خدای سره دی ثَوَابُ الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَۃِ ط ھم حاصل دد ے دنیا او ھم د اخرت نو دوی ولی بیا نړی دنیا غواړی وَکَانَ اللّٰہُ سَمِیْعًا بَصِیْرًا ﴿۱۳۴﴾ اودی خدای اوریدونکی لیدونکی د قولو اقوالو او افعالو د ھر چا ع ۱۹ ۱۶

یَا اَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے ھغو کسانو چہ تہ وویل چے ئے ایمان راوړے کُوْنُوْا قَوّٰمِیْنَ اوسے ھمیشہ محکم ولاړ بِالْقِسْطِ پہ انصاف سره شُھَدَآءَ لِلّٰہِ شاھدان د پارہ

---

۱۲ یعنی لہ اخرت والے د سخاوت ۱۲ منہ بعضہ مقصود د بند گانو اود مطلوب دوی ۱۲

د خدای وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اګر که وی د اشاهدۍ پرځانونو خپلو چې عبارت دی له اقرار څخه
اَوِ الْوَالِدَيْنِ یا پر مور او پلار خپل وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ او پر خپلوانو اِنْ يَّكُنْ که وی دا مشهود
عَلَيْهِ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا تو انګر یا ناداره فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ځکه الله اولی دی پر هغو
او مهربانی کولو سره پردی غنی او فقیر یعنی خدای خو له تاسے نه زیات مهربان دی لوکه په
ادا ددی شاهدی کښے ئ مصلحت نه لیدلای نو مشروعه کړی به ئ نه وه د اشاهدی او
هرکله چې ده ما مورع کړی تاسے سره له دا سے مهربانه فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى پس پیروی مه
کړی تاسے د خواهش د نفس خپل اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ ده پاره ددی چې عدل وکړی تاسے له حقه
وَاِنْ تَلْوٗٓا اوکه وا مړی تاسے ژبی خپلے له شاهدی اَوْ تُعْرِضُوْا یا څنګه وکړی تاسی له
ادا ددی شاهدی څخه او پته ئ کړی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای کَانَ بِمَا دی په هغه عدل
او میل تَعْمَلُوْنَ چې کوی ئ تاسے خَبِيْرًا ﴿۱۳۵﴾ ښه خبردار او د قولو جزا به درکړی يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اٰمِنُوْا ثابت لری ایمان خپل یا اے اهل کتابو پوره کړی
ایمان خپل یا ای منافقانو خالص کړی ایمان خپل بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ پر خدائ او پر رسول
ده چې محمد دی وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ او پر هغه کتاب نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ چې پارچه ئ راالیږلی دی
پر رسول خپل چې هغه قرآن دی وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ او پر هغه کتاب اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ د چې
غوندې ئ راالیږلی دی پخوا له قرآنه چې تورات، انجیل، زبور او نورې صحیفې وَمَنْ يَّكْفُرْ
بِاللّٰهِ او هرڅوک چې کفر اختیار کړی پر خدای وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او په ملائکو ده وَكُتُبِهٖ او په کتابو
ده وَرُسُلِهٖ او په رسولانو ده وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ د قیامت فَقَدْ ضَلَّ پس په
تحقیق ګمراه شو ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾ په داسے ګمراهۍ چې ویره لیری ده له لاری څخه د حق
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چې ایمان ئ راوړی دی اول پرموسے[1] یعنی یهود
ثُمَّ كَفَرُوْا بیا کافران شوی دی په عبادت د څه سره ثُمَّ اٰمَنُوْا بیا ئ ایمان راوړلے
په توبه سره ثُمَّ كَفَرُوْا بیا کافران شویدی په انکار له عیسےٰ[2] څخه او په اراده د قتل د ده ثُمَّ

---

[1] یعنی هغه څوک چې شاهدی ویلی شے پر هغه باندی ۱۲ منه [2] یعنی هرڅوک چې شاهدی نه ورکړی به ئ نه وه د اشاهدی ۱۲
[3] یعنی هغه څه چې سامری نوی نږه ګرجور کړی وو له ځانونو او نورو تر دې فرعونیانو نو په وخت د تلو د موسیٰ کلیم کوهطور ته ۱۲

ازدادُوا کفرًا بیازیات شوی وی له جهته دکفرځ په انکار، له محمد علیه السلام لَمْ یَکُنِ اللّٰهُ نه دی خدای لِیَغْفِرَ لَهُمْ چې بخښنه وکړي دوی ته حُکمه چې اعتبار خاتمې لره دی اوخاتمه ددوی په علم د خدای کښې پرکفره وَلَا لِیَهْدِیَهُمْ اونه چې وښائ دوی ته سَبِیْلًا ﴿۱۳۷﴾ لارې د خلاصې یا د جنت یا مراد منافقان دی چې ایمان ئ راوړیدے په ظاهر کښې اوکافران دی په باطن کښې او دا کفر ئ بیازیات شویدے په اصرار سره تر وخته د مرګه اوددی ور وستی معنی دا قول مؤ بدد ی بَشِّرِ الْمُنٰفِقِیْنَ زیرے وکړه پرمنافقانو اوذکر زیری دلته تهکماً دی یعنی استهزاء معنی دا چې وویروه دوی بِاَنَّ لَهُمْ په دی چې بیشکه دی دوی لره عَذَابًا اَلِیْمَا ﴿۱۳۸﴾ عذاب دردناك الَّذِیْنَ یعنی هغه کسان یَتَّخِذُوْنَ الْکٰفِرِیْنَ اَوْلِیَآءَ چې نیسی وی کافران دوستان خپل مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ بے له مُؤْمِنانو اَیَبْتَغُوْنَ ایا غواړی دامنافقان عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ ددوی څخه عزت حُکمه ورسره دوستی کوی فَاِنَّ الْعِزَّةَ پس بیشکه عزت چې دی لِلّٰهِ جَمِیْعًا ﴿۱۳۹﴾ خاص خدای لره ځکه تول اوعزت هرچاله هم دی ورکوی بل څوك ئ نه شے ورکولای وَقَدْ نَزَّلَ عَلَیْکُمْ اوپه تحقیق سره یخوا لیږلی دی خدای پرتاسے لاچې په مکه کښې واست فِی الْکِتٰبِ په قران کښې داحکم اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ چې بیشکه شان دادی په هغه وخت کې چې واوری تاسے اٰیٰتِ اللّٰهِ ایتونه دخدای له قرانه یُکْفَرُ بِهَا چې کفر اوانکار کول کیږی په دی ایتو وَیُسْتَهْزَاُ بِهَا اومسخری کول کیږی په هغو پوری په یوه ډله کښې فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ پس مه کښینئ له دوی سره ای مؤمنانو حَتّٰی یَخُوْضُوْا ترهغوچې مجلس بناکړی دا مسخره بازان فِیْ حَدِیْثٍ غَیْرِهٖ په خبره کښې چې بله (بډله) دی له مجلسه څخه دمسخرو اِنَّکُمْ اِذًا بیشکه تاسے په دغه وخت کښې چې ناست اوسے له دوی سره او مسخری کُندی اوری مِّثْلُهُمْ ﴿۱۴۰﴾ په شان ددوی به اوسے په وبال کښې څکه چې نه لیږے کیږی له دوی څخه سره دقدرتر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای جَامِعُ الْمُنٰفِقِیْنَ یو ځای کونکی دی دمنافقانو وَالْکٰفِرِیْنَ اودکافرانو فِیْ جَهَنَّمَ جَمِیْعًا ﴿۱۴۰﴾ په دوزخ

عه یعنی دیاسے دمسخرے دی په دی کفار و پورے ۱۲

کښے دمونږ الَّذِيْنَ هغه منافقان يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ښے همیشه منتظره وی تاسے ته یعنی مدام ستاسے لری اوبری ترګوری فَاِنْ كَانَ لَكُمْ پس که واقع شوه تاسے ته فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ کشایش اوبری له طرفه د خدای لکه غنیمت شه قَالُوْٓا اونوائی دا منافقان تاسی ته اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ زه ایا نه وو مونږ له تاسے سره یعنے وو نو اوس برخه له غنیمته څخه غواړو وَاِنْ كَانَ اوکه وو لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ کافرانو لره برخه له غلبے پر مؤمنانو قَالُوْٓا اونوائی دوی کفار وته اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ ایا غلبه نه وه کړے مونږ پرتاسے یعنی مونږ پرتاسے غالب وو او پردی قادر وو ښے تاسے قتل کړو اما مونږ درباندی صرفه وکړه وَنَمْنَعْكُمْ اوراخلاص کړلاست مونږ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ له مؤمنانو څخه حُکه ښے موږ سستی وکړه په معاونت ددوی کښے نو تاسے پرغالب سواست نو مونږ هم تاسے پخپل غنیمت کښی شریکان کړی فَاللّٰهُ پس خدای يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ حکم به وکړی ستاسے په مینځ کښی سره يَوْمَ الْقِيٰمَةِ په ورځ د قیامت وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ اوله سره به ور نکړی خدای لِلْكٰفِرِيْنَ کافرانو لره عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ پرمؤمنانو باندی سَبِيْلًا (۱۴۱) هیڅ لاره د حجت چی په هغه سره دوی پرمؤمنانو غالب شی یا د اچی له سره به غلبه وه نکړی په دنیا کښی دوی پرمؤمنانو اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ بیشکه منافقان چه دی يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ مکراوفریب کوی له خدای سره په اظهار د اسلام اوبه پټولو د کفر سره وَهُوَ خَادِعُهُمْ ښ او دی جزاورکونکی دی دوی لره ددی فریب په دے شان چه په قیامت به اول دوی لره هم نور ورکړل شے لکه مؤمنانو لره بیا چی پر صراط ئی قدم کښیښوی نو دا نور به ځندی ورک شے او په دوزخ کښی به ولویږی او مؤمنان به د نور په سر نه تیر شے او داحال په سورهٔ حدید کښی مفصل بیان شوے دی وَاِذَا قَامُوْٓا اوپه هغه وخت کی چه پاسے (دلاړسی) دا منافقان اِلَى الصَّلٰوةِ ولمانځه ته قَامُوْا کسالی لا نو پاڅیږی سست کاهلان يُرَآءُوْنَ النَّاسَ بناځی (نښکاره کوی) خلکو ته ځان چپل چه مونږ هم مسلمانان یو وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اونه یاد وی

ع ۲۰ ۱۸

خدای اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۴۲﴾ مگر کم اوهغه هم په حضور د خلگو کښی محض په ریا کاری ـ
مُذَبْذَبِیْنَ په دی حال کښی چی متحیران اومتردد ان وی دوی بَیْنَ ذٰلِكَ قف په
مابین دکفر اود اسلام کښی لَآ اِلٰی هٰٓؤُلَآءِ نه له دی تولی د مؤمنانو سره دی
چی دهغه معامله ورسره وشی وَلَآ اِلٰی هٰٓؤُلَآءِ ط اونه له تولی دکفار وسره دی
چی دهغوی معامله ورسره وشی وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ اوهرڅوك چی گمراه ئی کړی خدای
فَلَنْ تَجِدَ پس نه به مومی ته لَهٗ سَبِیْلًا ﴿۱۴۳﴾ ده لره لارهٖ حق ته یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
ای مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِیْنَ مه نیسی کافران اَوْلِیَآءَ دوستان دمنافقانو
په شان مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ ط بیله مؤمنانو اَتُرِیْدُوْنَ ایا غواړی تاسی اَنْ
تَجْعَلُوْا اداکار چی پیدا کړی تاسی لِلّٰهِ عَلَیْكُمْ خدای لره پرځان دغه ابولو سُلْطٰنًا
مُّبِیْنًا ﴿۱۴۴﴾ حجت اوعذر بشکاره اِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ بیشکه منافقان چی دی فِی الدَّرْكِ
الْاَسْفَلِ په ډیره کښته طبقه کښی مِنَ النَّارِ ج له اوره دوزخ وَلَنْ تَجِدَ او له
سره به نه مومی ته لَهُمْ نَصِیْرًا ﴿۱۴۵﴾ دوی لره مددگار هیڅوك چی له دی عذابه ئی
خلاص کړی او منافقان به تول په دی عذاب کښی وی اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مگر
هغه کسان چی توبه وکاږی له دی نفاقه وَاَصْلَحُوْا اولاره دا صلاح ونیسی پس
له دی وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ اومنگولی ښځ کړی دوی په دین د خدای وَاَخْلَصُوْا او
خالص کړی دوی دِیْنَهُمْ لِلّٰهِ دین خپل خدای لره چی عبادت نه کوی مگر خالص
خدای لره خالی دریا فَاُولٰٓئِكَ پس دا څلور سره کار ونه کونکی چی دی چی توبه
او اصلاح او اعتصام او اخلاص دی مَعَ الْمُؤْمِنِیْنَ ط له مؤمنانو سره به وی په
دوارو وجهانو کښی وَسَوْفَ اوښه ردی یُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِیْنَ چی ورکړی خدای
مؤمنانو لره اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۱۴۶﴾ ثواب ډیر لوی مَا یَفْعَلُ اللّٰهُ څه به کوی خدای
بِعَذَابِكُمْ په عذابولو ستاسی یعنی ولی به عذاب درکوی تاسی ته اِنْ شَكَرْتُمْ

ده ویلی دی قتال چی مراد له کافرانو منافقان دی یعنی چی بیان ئی مکرر تاسی ترخوپورې
دوی پس مه نیسی له دوی څخه دوستان ۱۲

کہ شکر کوی پر نعمتو دده وَ اٰمَنْتُمْ ط اوباور وکړی په وحدانیت دده وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای شَاكِرًا اجرورکونکی شاکر انو ته عَلِيْمًا ۱۴۷ دانا په حقو قو د شکر روایت دی چې یو سړی په یوه قوم کے میلمه شو او دوی طعام ورلره ورنه کړو او هغه به هر چا ته شکایت کولو ددوی د بے مروتے څخه او اصحابو ﷺ په هغه سړی ډیره ملامتیا وویله په سبب ددی شکایت سره نو نازل شو لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ نه خوښوی خدای بنکاره ویل بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ دبدی خبری لکه چے نه خوښوی پټ ویل ددی بد و اما جهر ئ ډیر بد دی له هر چا څخه اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ط مگر بنکاره ویل دهغه چا چے ظلم پرشوی وی او دی بنیرے یا نورو لی کوی یا د ظلمه ئ خلگو ته فریاد کوی نو روا دی اما په قدر د ظلم نه علاوه چے بیا دی ظالم او هغه مظلوم نه شے وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا او دی خدای او ریدونکی د فریاد د مظلوم عَلِيْمًا ۱۴۸ سنه دانادی په ظلم د ظالم اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا که بنکاره کوی تاسے نیکی او طاعت اَوْ تُخْفُوْهُ ئ یا ئے پټ کی اَوْ تَعْفُوْا ایا عفوه کوی تاسے عَنْ سُوْٓءٍ اوکوم قسم بدی چے چا د سره کړی وی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ عَفُوًّا دی عفوه کونکی عاصیانو ته سره له قدرته د اِنْتقام قَدِيْرًا ۱۴۹ سنه قادر پرعذاب د ظالم او پرثواب د مظلوم نو تاسے لره هم پایده ده چے په صفاتو ربانیو عمل کوی چے لایق د فیضان د خواصو د هغه صفاتو شے اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَكْفُرُوْنَ باسّه چے کافران کیږی دوی په خدای وَرُسُلِهٖ او په رسولانو ده وَيُرِيْدُوْنَ اوالمراده لری دوی اَنْ يُّفَرِّقُوْا ددی چے بیلتون واچوی بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ په مابین د خدای او د رسولانو ده کښی او دا حکم چے خدای منی دوی اَوْرَسولان ئ نه منی وَيَقُوْلُوْنَ اووائی نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ چے ایمان راوړو مونږ په بعض پیغمبرانو وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ اوکافر کیږو په بعض پیغمبرانو لکه یهود چے مونږ منے او عیسےٰ او محمد علیهما السلام نه منی او بل نصرئ چے مونږ منے او موسیٰ او محمد علیهما السلام نه منے وَيُرِيْدُوْنَ اوغواړی دوی اَنْ يَّتَّخِذُوْا دا کار چے ونیسی دوی بَيْنَ

۱۴۷ یعنی موسےٰ او عیسےٰ علیهما السلام

ذٰلِكَ په مابین دکفر او داسلام کښے سَبِيْلًا ﴿۱۵۰﴾ بله لاره درمیه اوسره له دی چې بله لاره متصوره نه ده اُولٰٓئِكَ داکسان چې درمیه لاره لټوی په مینځ دکفر او داسلام کښې هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا دوی کافران دی په حق سره ځکه چې منل دبعضو نه منل دی دتولو وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ اوتیارکړی دی مونږ کافرانو له عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ عذاب سپکونکی وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ چې ایمان ئې راوړی پرخدای وَرُسُلِهٖ او پرټولو پیغمبرانو سولا نه دده وَلَمْ يُفَرِّقُوْا او بیلتون ئې نه دی کړی بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ په مابین دیوه کښے هم له دوی په راوړودا ایمان کښے بلکه پرتولو ایمان راوړی اُولٰٓئِكَ داپرتولو ایمان راوړونکی چې دی سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ ژرډی چې ورکړی

۲۱ ع ۱۱ ۱ خدای دوی له اُجُوْرَهُمْ هغه اجرونه ددوی چې وعدې ئې ورسره کړیده وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای غَفُوْرًا تر رَّحِيْمًا ﴿۱۵۲﴾ بخښونکی دګناهو ددوی مهربان په تضعیف دحسناتو ددوی روایت دی چې احبار دیهود و لکه کعب بن اشرف او فنحاص بن عاذورا او نور وامثالو ددوی رسول علیه السلام ته وویل چې که ته واقعې پیغمبر ئے نو مونږ له ډیو کتاب راوړه تیارلیکل شوی له اسمانه یا داسما نیا نو به خطاسره په شان د تورات یا چې مونږ ئې په ستر ګو وګورو چې هغه دی راکښته شے نو نازل شو يُنَزِّلُ عَلَيْهِمْ ـ سوال کوی له تا څخه اَهْلُ الْكِتٰبِ اهل کتاب یعنی یهود اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ دده چې راکښته کړی ته پرده وی كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ یو تیارلیکل شوی کتاب له اسمانه لکه تورات او ته په دی سوال طبیعت مه ملاتړه اے رسوله ځکه چې داچپه سوالونه پخوانی عادت دی ددوی فَقَدْ سَاَلُوْا پس په تحقیق سره پخوا یو سوال کړی وو دوی یعنی نیکه ګانو نه دوی مُوْسٰٓى له موسی څخه اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ ډیر غټ له دی سوال نه فَقَالُوْٓا پس ویلی وو دوی موسی علیه السلام ته اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً وه بنیه مونږ ته خدای ښکاره فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ پس ونیول دوی تندری پرهغه ځای او وی سوځل بِظُلْمِهِمْ ۚ په جهت دظلم خپل چې هغه سوال وو ددوی دبیا رد خدای په دنیا کښے

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ بیا پس له هغه ونیولو دوی خسی په خدائی سره مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ د هغه چے راغلے وی ودوی ته بنکاره ښیے نښے زمونږ لکه تورات اونور معجزی الْبَيِّنٰتُ پس له هغه چے راغلے وی ودوی ته بنکاره ښیے نښے زمونږ لکه تورات اونور معجزی فَعَفَوْنَا پس عفوه وکړه اوتیر شو مونږ عَنْ ذٰلِكَ له دی گناه ددوی په خپل فضل سره پس له پښیمانی ددوی وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى اوورکړی ووموږ موسیٰ ته سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا (۱۵۳) غلبه بنکاره پرددوی ځکه چے په یوه گفټ دده اویاړ روګرسۍ له پرستو په یوه ځانونه خپل سره قتل کړه اوهیڅا پکښے گردن کشی ونه کړه وَرَفَعْنَا اوپورته کړی وو مونږ فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ دپاسه دسرو ددوی کوه طور بِمِيْثَاقِهِمْ دپاره د قبلولو او محکم کولو ددوی عهد خپل یعنی چے وه بیړیږی اومحکم عهد وکړی وَقُلْنَا اوووئیل مونږ لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ دوی ته چې ننوړی په دروازه دایلیا بنار کښے سُجَّدًا په دی حال کښے چې سرونه کښته نیوونکی اوسے له تواضعه اوپه دی وخت کښے کوه طور ئے دسرو دپاسه (سرښیره) ولاړو وَقُلْنَا لَهُمْ اوووئیل مونږ ودوی ته لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ چې مه تیریږی له حدّه په خالی کښے په نیولو دماهیانو سره وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ اوواخسته مونږ له دوی څخه مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا (۱۵۴) عهد دپرکلک ترړی حدّه چې دوی ووئیل سَمِعْنَا واطعنا فَبِمَا نَقْضِهِمْ پس په سبب دماتولو دوی مِّيْثَاقَهُمْ دعهد خپل څوځوانوالو ئے دعقوبا تو مونږ پردوی راوستل لکه لعن اومسخه اوجزیه او داسے نور سَوَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ او په کفر ددوی په اٰیتونو د خدای پورے چې قرآن تورات یا نورے معجزی دی وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ او په وژلو ددوی پیغمبران لکه زکریام یحییٰ او داسے نور شوه بِغَيْرِ حَقٍّ بیله حقه په اعتقاد ددوی کښے هم وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ او په ویلو ددوی داخبره چے زړونه زمونږ په پرده کښے پټ دی نو د هیڅا وعظ او نصیحت نه اوری اوداسے نده لکه دوی چے وائی بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ بلکه

عه یعنی په یوه ویلو مونږ سره ۱۲ عمه یعنی هغه کسانو چے دښے عبادت ئے کړی وو ۱۲ سه طور نورد هغه غره دی چے موسیٰ ع دخدای پالا سره خبرې پرکړی وی ۱۲ صه یعنی ددوی ویل چے اوس و مونږ خبره ستا اواطاعت اوفرمانبرداری کوود امر ستا یعنی ستاحکم په ښه وجه سره منو ۱۲ العزیزی قسم عفا عنا ابونه ۱۲

ممد سنګدلی وهلے دی خدای عَلَيْهَا پرزور ددوی بِكُفْرِهِمْ په سبب دکفر او انکار د
دوی دا یا تر او معجزاتو څخه فَلَا يُؤْمِنُونَ پس ایمان نه راوړی دوی اِلَّا قَلِيلًا ﴿۴۶﴾ مګر کم
لکه ابن سلام او اصحاب ده وَّبِكُفْرِهِمْ او په کفر ددوی وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ او په ویلو
ددوی په بی بی مریمې باندی بُهْتَانًا عَظِيمًا ﴿۱۵۶﴾ دروغ لوی چې نسبت د زنا دی
ودی ته وَقَوْلِهِمْ او په ویلو ددوی دا کفر چې اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ بیشکه موږ چې
یوولړلی دی موږ مسیح یعنی عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عیسیٰ زوی د بی بی مریمې رَسُولَ اللّٰهِ ج
چې رالیږلے دی خدای اوکه دا مقوله ددوی وی نو استهزاء ده اوکه دخدای وے
نو استیناف دی وَمَا قَتَلُوهُ او حال دا چې نه دی وژلے دوی په واقعه کښے دی وَمَا
صَلَبُوهُ اونه ئې په دار کړی وو دے وَلٰكِنْ شُبِّهَ اولیکن مشابه کړی شوی وو هغه
مقتول چې ددوی مشر وو له عیسیٰؑ سره چې نوم ئې طیطایوس وو له یهود و یعنے هغه
د عیسیٰؑ په شکل شو لَهُمْ ط دوی ته لکه قصه ئې په آل عمران کښے تیره شوې ده وَاِنَّ
الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا او بیشکه هغه کسان چې مختلف دی فِيْهِ په حق د عیسیٰؑ کښے لَفِيْ
شَكٍّ مِّنْهُ ط هر اړینه په شک کښې دی له ده یعنی له قتله ئې چې چا به ویل دا په دار
شوی عیسےٰ دی او طیطایوش ملک نشته اوچا به ویل چې دا ملک دی او عیسےٰؑ نشته اوچا
به ویل چې ځ ئې د عیسیٰؑ دی او نور صورت ئې د ملک دی مَا لَهُمْ بِهٖ نشته دوی له ده پر
عیسیٰؑ او په قتل دده مِّنْ عِلْمٍ له پوهې یوه ذره په حقیقت دکار اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ج
مګر محض پیروی د ده دګمان خپل وَمَا قَتَلُوهُ يَقِيْنًا ﴿۱۵۷﴾ او نه دی وژلے دوی عیسیٰؑ
په یقین سره یعنی په واقعه کښې بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ بلکه پورته کړی دی دی خدای اِلَيْهِ
ځان ته یعنی اسمان ته وَكَانَ اللّٰهُ اودی خدای عَزِيْزًا ډیر غالب پرامر اعداؤ د عیسیٰؑ باندې
حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ خاوند د حکمت دی چې دانادی په تدبیر د خلاصے دده وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
اونشته هیڅوک له یهود و اوله نصارٰی وو اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ مګر قسم دی چې ایمان
به راوړی دی خامخا پر عیسےٰؑ باندی قَبْلَ مَوْتِهٖ ج پخوا له مرګه خپله یعنی په وخت

ف یعنی جدا او ځان لره بله جمله او خبره ده ۱۲

دحکندن کښے چی سترگی ئی خیری شے اوله غیبه څخه ورته پرده لیری شے نو دده به یقین شے پرے دی چے عیسیٰ بنده اورسول وو اما دا ایمان به هیڅ فائده ورونه رسوی یا بخواله مرګه دعیسےٰ پس له نزوله دده له اسمانه لکه حدیث دی ینزل عیسےٰ خلیفة علےٰ امتی یدق الصلیب ویقتل الخنازیر ویلبث اربعین سنة ویتزوج ویولد له ثم یتوفےٰ وکیف تهلك امة انا فی اوّلها وعیسےٰ فی اٰخرها والمهدی من اهل بیتی فی وسطها او بیا چے دی راکوونږ (راکښته) شے نو دین د محمدؐ به چلوی او یهود او نصاری به هم قوله دین د اسلام کوی وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ او بیا په ورځ د قیامت يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ وی به عیسےٰ پرده وی شَهِيْدًا (۱۵۹) شاهد پرده وی چے نه یهود دونه مسلم او نصاری وو د خدای زوی بللے فَبِظُلْمٍ پس په سبب د دیر لوی ظلم سره چے دا تیر اوه کار ونه دی چے صادر شوی دی مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا اوله هغو کسانو نه چے دوی یهودیان دی حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ حرام کړی دی مونږ پرده وی طَيِّبٰتٍ هغه پاکیزه طعامونه اُحِلَّتْ لَهُمْ چے حلال کړے شوی وو ودوی ته چے هغه په سورة انعام کښے په تفصیل سره ذکر دی چے هغه دا دی وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حرمنا کل ذی ظفر الآیه وَبِصَدِّهِمْ اوبل په اړولو دوی سره عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لاسه د خدای یعنی له ایمان څخه كَثِيْرًا (۱۶۰) ډیر خلق یا ډیر اړول چے خلګو ته ښی ویل دا هغه موعود پیغمبر نه دی نو ایمان مه پرے راوړی وَاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا اوبل په اخستو د دوی سود له خلګو وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ اوحال دا چے په تحقیق سره منع کړه شوی وو دوی له اخستو د ربوا په توراتو کښے وَاَكْلِهِمْ اوبل په خوړلو د دوی اَمْوَالَ النَّاسِ مالونه د خلګو لره بِالْبَاطِلِ ط په ناروا سره لکه په رشوت او په غصب او په نورو وجوه د حرامو سره وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

عه مخنے دا چے عیسیٰ به له اسمانه راکښته شے په دی حال کښے چی خلیفه نر ما به وی په امت نر ما کښے او دا عیسےٰ به مات او نور نه ژوندی کړی صلیب د نصارٰی وو او خنزیران او دسپان به وکړی په ملګه کښے یعنے ټول به وی خو بیا نه کاله او نکاح به هم وکړی او اولاد به ئے هم وشے پس له هغه به وفات کړه شے او بیا پیغمبر د خدای د ویل چی څو ځله به خراب او هلاك شے هغه امت چے نه ئی په اول او عیسےٰ ئی په اخر کښے وی او امام مهدی چی نر ما د اهل بیتو به وی هغه ئی په مینځ کښے وی حاصل دا چے دا امت ډیر ښه دی فافهم ۱۲ عه یعنی هغه رسول چے وعده ئی کړه شوی ده په توراتو او انجیل کښے یعنی چے یو پیغمبر به پیدا شے او محمد به ئی نوم وی او کتاب به ئے قرآن وی

عبد الاحد

مِنْهُمْ او تیار کړی دی موږ ظالمانو لره له دوی څخه عَذَابًا اَلِيْمًا (۱۶۱) عذاب دردناک
لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ لیکن پخته چې دی فِي الْعِلْمِ په علم شریعت کښے مِنْهُمْ له دوی لکه ابن
سلام او ملګرو ے وَالْمُؤْمِنُوْنَ او ایمان راوړونکی له دوی يُؤْمِنُوْنَ ایمان راوړے
او باور کوی بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ په هغه قرآن چې را لیږلے شوے تا ته وَمَآ اُنْزِلَ او په
هغه چې را لیږلے شوے مِنْ قَبْلِكَ پخوا له تا چې هغه باندے قول کتب الٰهیه دی وَالْمُقِيْمِيْنَ
الصَّلٰوةَ او ایمان راوړی پر تولو دروڼکو دلمانځه چې هغه پیغمبران دی یا دانصب په مدح
دی یعنی اقیمین دی پر دروڼکو دلمانځه وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ اوورکونکی دزکوٰة چې دی وَ
الْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ او ایمان راوړونکی چې دی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت
اُولٰٓئِكَ داکسان چې اوس یادشول سَنُؤْتِيْهِمْ ژر دی ورته کړو موږ دوی لره
اَجْرًا عَظِيْمًا (۱۶۲) اجر دیر لوی چې رښتیا او لګاده اِنَّآ بیشکه موږ چې اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ
وحی کړیدے موږ تا ته كَمَآ اَوْحَيْنَآ لکه چې وحی کړیدے موږ اِلٰى نُوْحٍ نوح ته وَالنَّبِيّٖنَ او نورو
پیغمبرانو ته مِنْ بَعْدِهٖ پس له ده لکه هود صالح لوط شعیب او دا سے نور شول وَاَوْحَيْنَآ
اووحی کړیدے موږ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ودی ځلور وسره ووته وَالْاَسْبَاطِ
اواولاد دیعقوب ته وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ځ اودی پنځو ته اودا منلو ته
اګرکه وَاٰتَيْنَا داخل دی دا ماضی دپاره داظهار دشرافت ددوی نام په نام
شو وَاٰتَيْنَا اوورکړی وو موږ دَاوٗدَ زَبُوْرًا (۱۶۳) داؤد علیه السلام ته کتاب چې نومړی زبور دی
وَرُسُلًا او نور پیغمبران هم لیږلے وو موږ قَدْ قَصَصْنٰهُمْ چې په تحقیق سره قصه
کړیدے موږ ددوی عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ پرتا پخوا له دی څخه لکه یوسف زکریا یحییٰ الیاس
یسع عزیر یا داسے نور شوه وَرُسُلًا او نور پیغمبران هم را لیږلی وو موږ لَمْ نَقْصُصْهُمْ
چې نه دی کړی موږ قصه دهغوی عَلَيْكَ پرتا او موږ په نام یادکړی هم نه دی تا ته وَكَلَّمَ
اللّٰهُ اوخبری به کولے خدای مُوْسٰى تَكْلِيْمًا (۱۶۴) له موسیٰ سره په خبرو کولو سره او لیږلی
وو موږ رُسُلًا داپیغمبران مُّبَشِّرِيْنَ زیری کونکی پر مسو منانو د جنت-

عه یعنی ملاځه کیدلی نه ما له دوی څخه ۱۲ عمه یعنی ملاقات حصول ددوی له ما سره ۱۲

درضاد دیدار وَمُنْذِرِيْنَ او بیرونکی دکافرانو او منافقانو له دوزخ له غضب
له سموم له نر قوم له عذاب له حِجَابٌ لئلا يَكُوْنَ دپاره دی چے پاتے نه شی
لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ خلگو له پرخدای حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ هیڅ عذر او بهانه پرله
پیغمبرانو یعنے چے دوی بیا په قیامت داسے ونه وائی چے موږ دی په دنیا کښے په
دی خبر کړی نه وو او موږ ته ستا پیغام هیڅانه ووړاوړی چے موږ سمه لاره پیدا
کړی وای او ستا په رضا پسے تللی وای وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَزِيْزًا ډیر غالب او
قادر په عذابولو حَكِيْمًا ﴿۱۶۵﴾ محکم کار په امر دنبوت او په قطع د حجت کښے۔
روایت دی چے هرکله چے ایت دانا .اوحینا الیك راغلی نو یهود وویل چے هیڅ حال
نه موږ په کتاب کښی نشته او موږ نه ستا په پیغمبری خبر یو او نه شاهدی پرکوو نو
انزل شو الٰکِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ لیکن خدای شاهدی کوی بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ په حقیقت
دهغه قرآن چے راليږلے دی ده تاته اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ج راليږلے دی ده داقرآن په علم
خپل سره حُکه قول اهل فصاحت او بلاغت عاجزدی له راوړو د مثل دده وَالْمَلٰٓئِكَةُ
يَشْهَدُوْنَ او ملایکی هم شاهدی ورکوی په پیغمبری ستا وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾ او
بس دی خدای شاهد اګرکه دوی شاهدی نه اداکوی اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه
کسان چے کافران شوی دی ستا په پیغمبر یعنے یهود وَصَدُّوْا اړوی خلك عَنْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ له لاری د خدای قَدْ ضَلُّوْا په تحقیق گمراهان شوی دی ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾ په
هغه گمراهے سره چے ډیره لیره ده له لاری څخه دحق اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه
کسان چے کافر شوی دی وَظَلَمُوْا اوظلم یے کړی دی پر رسول پے انکار له نبوت یا
پر مؤمنانو په منع له ایمانه لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ نه دی خدای لِيَغْفِرَ لَهُمْ چے بخښنه وکړی
ودوی ته چے پرخپل کفر ولاړدی وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ اونه چے وښیه د دوی ته طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾

عه یعنی نږدے به ئی کړلو پر مؤمنانو چے له تاسے څخه به خدای راضے وی او دیدار به د خدای هم
وکړی ۱۲ عه له گومراه او څخه ۱۲ سه له خولے ك څخه دهغه ترڅنګ وئی چے نر قوم ئی نومړی دی ۱۲ لعه یعنی په
حجاب به وی له خدایه یعنی خدای به نه وینی ۱۲ صه یعنی انکار کونکو لره له قیامته ۱۲

ھیچ لارہ اِلَّا طَرِیۡقَ جَهَنَّمَ مگر لارہ دوزخ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَاۤ اَبَدًا د ھمیشہ بہ وی دوے پہ دی دوزخ کښے مدام بے انقطاعہ وَكَانَ ذٰلِكَ اودی دا کار عَلَى اللّٰهِ یَسِیۡرًا ﴿۱۶۹﴾ پرخدای دیر اسانہ یَاۤاَیُّهَا النَّاسُ ای خلگو قَدۡ جَآءَكُمُ الرَّسُوۡلُ پہ تحقیق سرہ راغلے دی تاسے تہ استاذی زما بِالۡحَقِّ پہ حق سرہ چے قرآن یا اسلام دی مِنۡ رَّبِّكُمۡ لہ جانبہ دربہ ستاسے فَاٰمِنُوۡا پس ایمان راوړی پردہ اووی منی اوھغہ کار اختیار کړی چی خَیۡرًا لَّكُمۡ د پیر غوړہ دی وتاسے تہ چے ھغہ توحید او ایمان دی وَاِنۡ تَكۡفُرُوۡا اوکہ کفر اختیار کړی تاسے فَاِنَّ لِلّٰهِ پس خاص خدای لرہ دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ ھرھغہ چے پہ اسمانونو کښے دی وَالۡاَرۡضِ ط او پہ ځمکہ کښی دی نوستاسے پہ کفر کښی دہ تہ ھیڅ زیان نشتہ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیۡمًا اودی خدای ښہ دانا پہ مؤمنانو او پہ کافرانو حَكِیۡمًا ﴿۱۷۰﴾ پرحکمت پہ باب دجزا دھری طائفی کښے یٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ ای یھود واونصاریٰ وو لَا تَغۡلُوۡا تجاوز مہ کوی لہ حدہ خپلہ دوارہ طائفی فِیۡ دِیۡنِكُمۡ پہ دین خپل کښے او تجاوز یھود وتفریط دی پہ حق دعیسیٰ کښی چے ولدزنا ئی بولے او تجاوز نصاریٰ وو افراط دی پہ حق دہ کښی چے زوی د خدای ئی بولی وَلَا تَقُوۡلُوۡا اومہ وایاست عَلَى اللّٰهِ پرخدای باندی اِلَّا الۡحَقَّ ط مگر ھغہ چے رشتیا وی چے پاکی دہ لہ شریک څخہ اولہ ولد اِنَّمَا الۡمَسِیۡحُ بیشکہ ھم داخبرہ دہ چے مسیح چی دی عِیۡسَى ابۡنُ مَرۡیَمَ یعنی عیسےٰ چی زوی دے دبی بی مریمی نہ دی خدای رَسُوۡلُ اللّٰهِ ھغہ استاذی دی د خدای وَكَلِمَتُهٗ ج او کلمہ دہ دہ یعنی دا سے څوک دی چے بی پلارہ محض پہ کلمہ دکن سرہ پیدا شوی دے دا سے کلمہ اَلۡقٰىهَاۤ اِلٰى مَرۡیَمَ چے غورہ ځولی وہ خدای دا کلمہ بی بی مریمی تہ یعنے ودی تہ ئی رسولی وہ چے عیسیٰ ئی ددی پہ نس کړی وَرُوۡحٌ مِّنۡهُ زاوروح دی لہ جانبہ دخدای ځکہ چے مړی ژوندی کوی فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړی تاسے پرخدای چے یودی وَرُسُلِهٖ ۚ اوپررسولانو دہ چے بندگان خدای دی او غوړہ کړی دہ دی وَلَا تَقُوۡلُوۡا اومہ وایاست اے نصارےٰ وو چے خدایان ثَلٰثَةٌ ط دری دی چے

عہ یعنے بے خلاصید لو دہ مودی ١٢

دوہ مور او پلار دی یعنی بی بی مریمہ او پروردگار او یوئ ځوی دی چے هغه عیسےٰ دی نعوذ باللہ منها اِنْتَهُوْا او اوړی له نسبته ددرو او اختیار کړی هغه کار چے هغه خَيْرًا لَّكُمْ ط دے یرغوړه دی تاسے تر چے هغه توحید دی اِنَّمَا اللّٰهُ بیشکه هم داخبره ده چے پروردگار چے دی اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط معبود یو دی یوازی بی شریکه سُبْحٰنَهٗ پاک دی دی اَنْ يَّكُوْنَ له دی څخه چې وی لَهٗ وَلَدٌ ده له فرزند لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ دی ده له هر هغه چے په اسمانونو کښے دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط اوهر هغه چے په ځمکه کښے دی وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دی خدای وَكِيْلًا ﴿۱۷۱﴾ وکیل اوحافظ اومدبر دد اړو او ولد عاجز او له پکار دی روایت دی چے ایلچیا نو د نجران رسولُ ته وویل چه ته عیسیٰ ته ولی نسبت د عیب کوی چے بنده ئ بولی د خدای نو رسولُ ووېل چے بنده گی د خدای هیڅوا ته عیب او عار نه ده او نه ئے څوک عار کښی نو په تصدیق د قول دده کښی نازل شول لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ له سره عیب او عار نه کښی او ننګ نه کوی عیسیٰ اَنْ يَّكُوْنَ له دی چے وی دی عَبْدًا لِّلّٰهِ بنده خدای له او هر کله چے عابد نو د ملائکو دوی په لونو د خدای بلل او نسبت د بندگی ددوی ئ ددوی په حق کښے عیب بالی نو ځکه ئ وویل وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ط او نه هغه ملائکی چے مقربی دی د درگاه لکه حاملانی د عرش یا کروبیانی چے پر عرش چاپیره دے دابندگی د خدای عیب او عار بولی وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ او هر هغه څوک چے ننګ کوی عَنْ عِبَادَتِهٖ له بندگی څخه ده وَيَسْتَكْبِرْ او سرکشی اولوئ کوی له دی بندگی څخه ده فَسَيَحْشُرُهُمْ پس شر ردی چے راجمعه به کړی خدای دوی اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾ خپل ځان ته قول یعنی دا مکلفین به قول محشر ته راحاضر کړی فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پس هر چے هغه کسان دی چے ایمان ئ راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عمل کوی د نیکو فَيُوَفِّيْهِمْ پس پوره به ورکړی خدای دوی ته اُجُوْرَهُمْ هغه اجرونه دوی چے وعده ئ ورسره کړی ده وَيَزِيْدُهُمْ اونور یات به ورکړی ودوی ته مِّنْ فَضْلِهٖ ج له فضله خپله وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا او هر چے هغه کسان دی چے ننګ کوی وَاسْتَكْبَرُوْا او

ع ۲۳ ۳

عه یعنی له سره شهر نه د ریزی وعیسے علیه السلام نه ۱۲

لونی کوی له عبادته د خدای فَيُعَذِّبُهُمْ پس عذاب به ورکړی دوی ته خدای عَذَابًا أَلِيمًا د عذاب دردناک وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ اونه به کی پیدا دوی خپل ځان لره مِنْ دُونِ اللَّهِ بغیر له خدایه وَلِيًّا دوست هیڅوک وَّلَا نَصِيرًا ﴿۱۷۳﴾ اومدد کار يَا أَيُّهَا النَّاسُ ای خلکو قَدْ جَاءَكُمْ په تحقیق سره راغلے دی تاسے بُرْهَانٌ مِّن رَّبِّكُمْ دلیل اوحجت له طرفه د ربه ستاسے چے هغه رسول علیه السلام دی وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ اوراولیږلے دی مو به تاسے نُورًا مُّبِينًا ﴿۱۷۴﴾ رڼا بنکاره چے قرآن دی فَأَمَّا الَّذِينَ پس هر چے هغه کسان دی آمَنُوا بِاللَّهِ چے ایمان ئی راوړی دی پر خدای وَاعْتَصَمُوا بِهِ اومنګلی ئی ښځے کړی دی په خدای یا په قرآن فَسَيُدْخِلُهُمْ پس ژر دی ننه کړی خدای دوی فِي رَحْمَةٍ مِّنْهُ په هغه رحمت کښے چے دده له جانبه دی چے جنت دی وَفَضْلٍ او په هغه نورو نعمتونو شی کښے له رحمته چے رضوان اود دیدار دی وَيَهْدِيهِمْ او وبه ښیی خدای دوی ته إِلَيْهِ خپل ځان ته یا دی فضل ته صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿۱۷۵﴾ لاره سمه برابره چې اسلام اوطاعت دی په دنیا کښے يَسْتَفْتُونَكَ روایت دی چے جابر بن عبد الله انصاری مریض وو او رسول علیه السلام ئی پوښتنی لره ورغلے اوده وویل چے نره کلاله یم او خوښدی لرم نو دا مال څنګه کړم؟ نو نازل شو يَسْتَفْتُونَكَ طلب دفتوی کوی دوی له تا څخه په میراث دکلاله کښے قُلِ اللَّهُ ورته ووایه چے خدای يُفْتِيكُمْ فتوی درکوی یعنی حکم کوی پر تاسے فِي الْكَلَالَةِ په میراث دکلاله کښے إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ که یو سړی مړشے دا سړی لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ چے نه وی ده لره فرزند نارینه حُکه چے دی محرومو کونکی خور دی وَلَهُ أُخْتٌ او وی ده لره خور عینیه یا علاتیه حُکه چې اخیافی حکم محکمی تیر شو فَلَهَا پس مقرر دی دی لره نِصْفُ مَا نیم دهغه مال تَرَكَ چې پرایښی دی میت وَهُوَ يَرِثُهَا اودا ورپرے دی میراث وړی له خوره درست مال ددی که دا مړه شوه او ورور لرے ژوندی وو إِن لَّمْ يَكُن که نه وه لَّهَا وَلَدٌ ط دی لره فرزند نارینه حُکه چے دی مُسقط دورور دی فَإِن كَانَتَا اثْنَتَيْنِ پس که وی دا

خویندی دوی فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ پس مقرر دی دوی لره دوه ثلثه مِمَّا تَرَكَ له هغه مال چه پرینبے دی میت وَاِنْ كَانُوْٓا اوکه وو دا وارثان اِخْوَةً ورونه او خویندی رِّجَالًا وَّنِسَآءً نارینه او ښځے سره ګډی وی فَلِلذَّكَرِ پس مقرر دی هر نارینه لره مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ط په قدر د برخے د دوو ښځو يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای لَكُمْ تاسے ته احکام د میراث اَنْ تَضِلُّوْا چے مباد اخطا ونشئے په دی احکامو کښے وَاللّٰهُ اوخدای بِكُلِّ شَيْءٍ پوهر شے له عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ مصالحو د حیات او د ممات د عبادو سَنه دانا دے چې هر امر او نهی په مقتضے د حکمت بالغه سره کوی

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّة

اياتها ﴿۱۲۰﴾ ركوعها ﴿۱۶﴾

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مومنانو اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ وفا کوی په تړلو عهدو سره چے عهد د خدای دی له تاسے سره چے او امر او نواهے دی دده او بل عهد ستاسے دی له خدای سره لکه نذر نه او قسمونه شول او بل عهد ستاسے دی له نورو خلګو سره لکه امانت یا شرکت شو یا نور اُحِلَّتْ لَكُمْ حلال کړه شوی دی تاسے ته پس له ذبح بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ چارپایان د حیوانانو ته لکه اوښان او غوایان او پسونه اوونږی شوی اوهمدا سے صحرائے چارپایان هم لکه هوسی او سوی او دا سے نور شوه اِلَّا مَا مګر هغه قسم څاروی يُتْلٰى عَلَيْكُمْ چے محکمښی به لوستل کیږی پرتاسے غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ په دی حال کښے چې حلال بلونکی نه اوسے تاسے ښکار د وچے وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ط اوحال دا چے تاسے احرام تړلے وی د حج یا د عمرې اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بیشکه خدای حکم کوی په حق د حلالو او د حرامو کښے مَا يُرِيْدُ ﴿۱﴾ په هر هغه شان چے اراده ئے وشی روایت دی چے شریح بن ضبیعه دیماری چے په جهل او په ناپاکی او په بیباکی سره مشهور وو رسول علیه السلام لره راغلے چې ته د خلقو څه کار ته بولے ده وویل و وحدانیت درب ته او تصدیق د رسالت ځپل ته بیا شریح وویل چے نږه به هم له خپلو دوستانو نوسره مصلحت وکړم که اجازه ئې وکړه نو

ع یعنی په ښو ښو کارو ده واړه مه جانز ۱۲

نړه به هم ایمان سړ و رهم بیا چې ړ وان شو نو مدینې او بنان او نور ډ نګر ئ هم په دې
کړه او یا می لړه ئ بو ټله بیا چې ړسول علیه السلام قضاء سړ و پلو دهغه عمرې لړه ړوان
شو چې په کال د حدیبیې ئ احرام تړلے وو او کفار و د مکې ځندې حصار (ښه) کړې
نو اصحابو په لار کښے شریځ ولیدې چې مکې ته ړ وان وو او اوبنان ئ قلاده کړې وه
چې بیت الله شړ (یعنی له ئ) بیوله نو دوې ارادې وکړه چې دې قتل کړو او دا اوبنان
ځندې واخلو نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تُحِلُّوْا امه حلالوې
او مه بے حرمته کوې شَعَآىِٕرَ اللّٰهِ نبې د خدای چې هغه اعمال او مواقف دج دې یا
احکام د دین دې وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ او نه میاشته حرامه په قتال سره په دې کښې
وَلَا الْهَدْیَ او نه هغه هدې یعنی پیشکشی له حیواناتو چې د کعبې په نامه کړې وې امابې
قلادې وَلَا الْقَلَآىِٕدَ او نه هدې چې قلاده داري وې او ذکر د قلائدو پس له ذکره
د هدیې له جهته د شرافت دې او قلاده هغه شے دې چې په غاړه د حیوان کښے واچول
شے مثلاً څیلې یا د خرما وو د پوستکې تو ټه چې هیڅوک وړهره غرض نه کوې وَلَآ آٰمِّیْنَ
الْبَیْتَ الْحَرَامَ او نه وړ تلونکي کعبې شړ یعنی ته د پاره دج یا د عمرې یَبْتَغُوْنَ په دې حال
کښے چې غواړي دوې فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ ثواب له ړ به خپله که مسلمانان وې او سودې
سوداګرۍ کښے که کافران وې وَرِضْوَانًا او ړ ضا منډ که مسلمانان وې او نبه مګر
د دنیا که کافران وې وَاِذَا حَلَلْتُمْ او چې حلال شې تاسے یعنی له احرامه و وتلاست
فَاصْطَادُوْا نو پس ښکار کوې که خواهش ئ لرې وَلَا یَجْرِمَنَّكُمْ او نه دې باعث کوې اوار
دسمې کوې تاسے شَنَاٰنُ قَوْمٍ د بنمنې او بغض د قوم له دکفار و د قریشو اَنْ صَدُّوْكُمْ له دې
جهته چې حصار کړې وو تاسے په کال د حدیبیې کښے عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ له طواف
د مسجد حرام د پاره د عمرې یعنے دا بغض دې تاسے نه باعث کوې اَنْ تَعْتَدُوْا وام پرې دې
چې تیرۍ تاسے له خپله حده او حرمت د دې تیرو شیانو زمات کړې او دا په تاویل د
اَنْ مصدرې سره مفعول دې د لَا یَجْرِمَنَّكُمْ او د دې آیت حکم تر دې ځایه پورې

اوس منسوخ دی غیرلہ ښکارہ وَتَعَاوَنُوْا او مدد گاری کوی یو تر بلہ سرہ عَلَى الْبِرِّ په نیکی وَالتَّقْوٰى او په ترک دبدی وَلَا تَعَاوَنُوْا او مه کوی سرہ مدد گاری عَلَى الْاِثْمِ پرگناہ وَالْعُدْوَانِ او پربدی وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وہ بیریږی لہ خدایہ لوبے فرمانی مه کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ خدای شَدِيْدُ الْعِقَابِ (۲) خاوند دہیرسخت عذاب دی هرکلہ چے رہبے العزت ارادہ دبیان دهغہ حراموا شیاؤ وکړہ چے وعدہ ئی کړی وہ په الا مایتلی علیکم سرہ لونا نرل شو حُرِّمَتْ حرام کړی شویدی عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ پرتاسے لس شیان یوہ مردارہ چے بی ذبحی مړہ وی غیرلہ ماهی او ملخہ۔ وَالدَّمُ اودویم هغہ وینہ چے بهیدونکی دی وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ او دریم غوښہ د خنزیرو او همداسے نورا جزائی هم لکہ وینبتہ، پوستکی، وازگلہ اوهډوکی وَمَا اُهِلَّ اوخلورم هغہ مذبوحہ چی یادکړہ شوی وی لِغَيْرِ اللّٰهِ دبل چا په نوم بے لہ خدایہ بِهٖ په هغہ مذبوحہ لکہ کفارو بہ چے په وخت دذبح کښے نوم دلات اود منات اودعزیٰ پریادول وَالْمُنْخَنِقَةُ اوپنځم هغہ مړہ چے په خفہ کید لوسرہ ئے سا ختلے وی لکہ په دام کښے چے خفہ شوی وی یا چا په لاس لہ مری (په غاړہ) خفہ کړی وی لکہ چے کفارو بہ په دغہ شان مړی کولے اوبیا بہ ئی خوړلی وَالْمَوْقُوْذَةُ او شپږم هغہ مړہ چے په کوتک یا په خونډہ تیږہ چاوهلے وی وَالْمُتَرَدِّيَةُ اواوم هغہ مړہ چے لوید لے وی لہ عزہ یالہ کمری یاپه کوهی کښے وَالنَّطِيْحَةُ اواتم هغہ مړہ چے ډنگر په ښکروهلے وی وَمَا اَكَلَ السَّبُعُ او نهم هغہ مړہ چے خورلی وی ځندی درندگانو ځکہ قدر او بیا ځندی ساختلی وی اِلَّا مَا مگر هغہ مړہ لہ دی پنځو سرہ وو وړ وستیو ځکہ ذَكَّيْتُمْ ئے کړی بیا ذبح کړی وی تاسے په دی حال کښے چی سالاپکښی وے وَمَا ذُبِحَ اولسم هغہ مړہ چے ذبحہ شوی وی عَلَى النُّصُبِ پرهغہ دری سوه شپیتو ولاړو تیږو چے گرد چاپیرہ ولاړوی اودوی بہ قربانی پرکولی دپارہ دتعظیم ددوی او یامراد ځندی مطلق بتان دی چے ددوی دتعظیم دپارہ کوم حیوان ذبح کړہ شی

روایت دی چے عادت د جاهلیت د خلګو داوو چے درے غښے به ئې ټوبرو اوبے پرو به ئے په ګڅوړو کښے ساتلے وو چے په یوه غښے به لیکل شوی وو امرنی ربی او په بل نهانے ربی او د ریم به تش وو بیا په وخت د هرمهم کښی به ئې په ګڅوړه کښے ننه ایستی نو که به ئې غښی د امرنی ربی لاس لره راغلی نو هغه کار به ئې کاوو او که به ئے د نهانی ربی راغلی نو نه به ئې کاوی او که به تش راغلے نو بیا به ئې اعاده وکړه او یا چے او بنان به ئې حلا لول نو غوښے به ئې په دی غښو سره پخولو کی سره برخه کوله بیا هر کله چے رب العزت اراده د منع وکړه له دی کار نه نازل شو وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا او بل د احرام دی چے قسمت د خیر او شر چیل غواړی او معلوموی تاسے بِالْاَزْلَامِ ط په غښو سره دا قسمت چیل معلو مول یا دا برخه کول په دی غښو چے دی فِسْقٌ ط فاسق توب دی او و تل دی له طاعته د ربه او حکم دی په غیب چے هغه خاصه د ربه ده اَلْیَوْمَ نہ وړځ یعنے اوس پس له دی یَئِسَ الَّذِیْنَ نا اُمیده شوی دی هغه کسان کَفَرُوْا چے کافران دی مِنْ دِیْنِکُمْ له دینه ستاسے یعنی له دی چے بیا به دوی دا دین خراب کړی یا غلبه به پرو کړی فَلَا تَخْشَوْهُمْ پس مه بیریږی له دوی شخه وَاخْشَوْنِ ط او بیریږی له ما شخه **روایت** دی چے رسول علیہ السلام په وړځ د حج اکبر پرعرفات و لاړو وچے دا اخرا یت د قرآن نازل شو اَلْیَوْمَ نہ وړځ چے د حج اکبر وړځ ده اَکْمَلْتُ لَکُمْ پوره کړی ما تاسے تر دِیْنَکُمْ دین ستاسے چی پس له دی به نسخ پکښے له سره نه واقع کیږی وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ او پوره کړی ما پرتاسے نِعْمَتِیْ نعمت خپل په پوره کولو د دین یا په هدایت او په توفیق یا په فتح د مکی او په نزولو د بیر غو د کفر سره وَرَضِیْتُ او غوره کړو ما لَکُمُ الْاِسْلَامَ تاسے ته اسلام دِیْنًا ط دین او بیا تاسے می اګاه کړی په دی خبره چے غوره او قبول دین هم دادی په تولوا دیانو کښے په دے

عہ یعنی حکم کړی دی ما ته سر ب ۲ ما ۱۲ سه یعنی منع کړی هم نه ره رب خپل ۱۲ سه چے داحج وداع وو یعنی پیغمبره خدای پس له نا ښه ایدلو د دی آیت او پس له دی شخه یو اتیا ورځے ژوندے وو او بیا ئے سفر (رحلت) وکړی له دی فانی دنیا شخه ۱۲

پہ دی آیت سرہ چے ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منہ الآیۃ ہر کلہ چی رب العزت حرمت ددی لسوا شیاؤ بیان کړی نو اوس ئے بیا اباحت ظاہر وی لیکن پہ حال د ضرورت کښی نو ځکہ وائے فَمَنِ اضْطُرَّ پس ہر هغہ څوک چے اړ کړہ شوئی مَخْمَصَةٍ پہ وخت د دیرے غالبے لوږی کښے او پہ قدر د دفعی د حاجت ئی خوراک ځندی وکړی غَيْرَ مُتَجَانِفٍ پہ دی حال کښے چی نہ وی مائل شوی نہ وی لِّإِثْمٍ د گناہ تہ یعنی خوراک تہ محض د پارہ د لذت یا تیری لہ حاجتہ چے هغہ پہ قدر د ساتلو د سادی فَإِنَّ اللَّهَ بیشکہ چے خدای غَفُورٌ بخښونکی دی پہ دی بہ ئی نہ نیسی رَّحِيمٌ ﴿۳﴾ مہربانہ دی ځکہ د احرام ئی پہ حال ضرور کښی مباح کړی دی ر روایت دی چے عدی بن حاتم او زید بن جبل رسول علیہ السلام لرہ راغلے چی مور بہ سنبلکار کوو پہ سپیو او پہ مرغانو او بیا میلمانہ خپل پہ عذر کوو او کلہ کلہ سنبلکار لاژوندی وی چے ورو سیر بہ نو حلال ئے کړو او کلہ ئی نہ مور بہ تر سید و د مخہ لاوژلی وی نو اوس پہ دوی کښے حلال او حرام مور بہ تہ بیان کړہ نو نازل شو يَسْئَلُونَكَ پرسان (پوښتنہ) کوی دوی لہ تا څخہ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ د چے کوم شے حلال کړہ شوی دی دوی تہ د خوراک پہ شیانو کښے قُلْ أُحِلَّ وویایہ ورتہ چے حلال کړہ شوی دی لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ لاتاسے تہ هغہ پاکیزہ مذبوحے چے نوم د خدای پر یاد شوی وی وَمَا اوبل حلال دی نیولے د هغہ سنبلکار یانو عَلَّمْتُم چے بنوونہ ورتہ کړی وی تاسے مِّنَ الْجَوَارِحِ لہ تولو اقسامو سنبلکارکوونکو څخہ کہ چارپایان وی لکہ سپی یا چیتہ اوکہ مرغان وی لکہ باز یا باښہ یا څرخ یا شاهین مُكَلِّبِينَ پہ دے حال کښے چے بنوونہ کونکی اوسی تاسے تُعَلِّمُونَهُنَّ چے زدہ کوی تاسے ودی سنبلکار کونکو تہ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ ر لہ هغہ علم چے زدہ کړی دی تاسے تہ خدای فَكُلُوا مِمَّا پس خورئے لہ هغہ سنبلکار څخہ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ چے ساتلے دی دوی تاسے تہ او خوراک ئی ځندے نہ وی کړی اګرکہ ئی وژلے وی هم داهلتہ کہ سنبلکار د چارپای وو اوکہ

عہ چیتہ د عربی فہد و د فارسی یوزہ گویند ۱۲

د مرغه وو نو خورلے ئی مطلق ړوادی که ئی خندی خوړلی وی اوکه نه وی اود اسے هلته ده که داما موصوله وی اوکه شرطیه وی نو معنے به ئی هم داسے شی چے اوهر چے هغه دی له بنکار یا نو لونو لی وی تاسے او ښوونه ورته تاسے کړی وی له هغه علمه چے د هغه زده کړی دی تاسے ته خدای نو که کومه شی د ولړه ونیسی نو خوړی له هغه څخه چې د ولړه ساتلی ئے وی نو دا سره شرط اوجزا شوه وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ اویاد وی نو مدخل عَلَيْهِ ص پر هغه بنکار باندی په وخت د ذبحی کښے یا پر هغه بنکاری حیوان باندے په وخت د آلیه کولو کښے وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او بیریږی له خدایه اوحرام مه خوری اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴﴾ ډیر چلت ژر کونکی، دی په حساب کښے اویوه ذره فی هم نه هیریږی اَلْيَوْمَ اُحِلَّ نن ورځ حلال کړه شوی دی لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ط تاسے ته هغه پاکیزه شیان چے حرمت ئی په څلورو اصولو کښے نه دی پیدا شوی وَطَعَامُ الَّذِيْنَ او طعام د هغه کسانو اُوْتُوا الْكِتٰبَ چے ورکړه شوی دی کتاب ووی ته یعنی یهودو او نصارا حِلٌّ لَّكُمْ ص حلال دی تاسے ته که مذبوحه وی اوکه نوره شه وَطَعَامُكُمْ اوهمدا سے هر قسم طعام ستاسے چې دی حِلٌّ لَّهُمْ ژ حلال دی دوی لره یعنے تاسے ته په ورکولو او طعام کښے ووی ته هیڅ باك نشته وَالْمُحْصَنٰتُ اوهمد اسے حلالی دی تاسے ته اصیلی یا پرهیزګاری مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ له مؤمنو ښځو څخه اوداقید د محصنا تو استحبابی دی نه احترازی ځکه چے مینځی هم ړوادی وَالْمُحْصَنٰتُ اوهمدا سے حلالی دی تاسی ته اصیلی یا پرهیزګاری مِنَ الَّذِيْنَ له هغو کسانو څخه اُوْتُوا الْكِتٰبَ چے ورکړه شوی دی دوی ته کتاب مِنْ قَبْلِكُمْ مخکی تر تاسے اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ په هغه وخت کی چے ورکړی تاسے دوی ته اُجُوْرَهُنَّ مهرونه ددوی مُحْصِنِيْنَ په دی حال کښے چې نکاح کونکی اوسے تاسے غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ نه نړ ناکونکی په بنکاره وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ط اونه نیونکی دیارانو په پټه وَمَنْ يَّكْفُرْ اوهر چا چے کفر اختیار کړی بِالْاِيْمَانِ په ایمان پورې یعنی انکار ئی وکړی د احکامو شریعه وو څخه فَقَدْ حَبِطَ پس په تحقیق خراب اوباطل

عه یعنے چه بنکار ته ئے لیږی ۱۲ صه څلور و دلیلونه کښی چے قرآن اوحدیث اواجماع اوقیاس دی

شو عَمَلَہٗ زعمل دده وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اودی چے دی وی به په هغه جهان کښے مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٥﴾ له نه ریکاړ نو څخه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِذَا قُمْتُمْ په هر وخت کی چے ولاړ سے تاسے اِلَى الصَّلٰوةِ ولمانځنه نو اوبے اودسه یاست فَاغْسِلُوْا پس مینځ تاسے وُجُوْهَكُمْ مخونه خپل له ویښتا نو څخه تر نړۍ پورې او دیوی نړۍ څخه دغوږ بیا تر بلے پورې وَاَيْدِيَكُمْ اولاسونه خپل اِلَى الْمَرَافِقِ تر څنګلو پورے وَامْسَحُوْا اومسح وکړی بِرُءُوْسِكُمْ وسرونه خپلو چے په نزد د امام اعظم څلرمه برخه دسر ده وَاَرْجُلَكُمْ اومینځ ښی خپلی اِلَى الْكَعْبَيْنِ ط تر پرکو (بهلکو) پورې وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا اوکه وی تاسے په جنابت کښے فَاطَّهَّرُوْا پس څان ښه پاک کړی په غسل سره وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اوکه وی تاسے ناروغان چے اوبو د رته ضرر رسا وی یا وَعَلٰى سَفَرٍ نه سواست اَوْ جَآءَ یا راسے اَحَدٌ مِّنْكُمْ یو له تاسے مِّنَ الْغَآئِطِ له خایه څخه دبهر تلو یعنے بولے وکړی اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ یا جماع وکړی له ښځو سره فَلَمْ تَجِدُوْا نه مومی پس بیا نه کی پیدا تاسے اوبه څکه چے کړوه لیږی وی یا بیږه وی دډبمن یا دغلو یا دلیوانو یا دکوهے بوقه اوږ سی نه وی یا خرڅیږی او مبلغ نه وے فَتَيَمَّمُوْا پس عزم اوقصد وکړی صَعِيْدًا طَيِّبًا د څکی پاکی یا دهرهغه شی چے له جنسه څخه دمځکی وی اویو واړ وو هے پرهغه باندی دواړه لاسونه خپل فَامْسَحُوْا پس وه موږی دالاسونه بِوُجُوْهِكُمْ پرمخانو خپلو اودویم وار ئی بیا ووهی وَاَيْدِيْكُمْ اووه مونږ پرلاسو خپلو مِّنْهُ ط له دغه صعید طیب څخه لیکن پرطریقه داستیعاب سره مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده نه لری خدای په دی تکالیفو سره لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ چے واچوی پرتاسے مِّنْ حَرَجٍ څه تنګوالے یا سختے وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ اولیکن اراده لری دی لِيُطَهِّرَكُمْ چے پاک کړی تاسے له حدثه یا له جنابته یا له گناه څخه چے اودس کفارت دی دگناهو وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ اوچے پوره کی نعمت خپل عَلَيْكُمْ پرتاسے په سره واکولو د تیمم سره لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٦﴾ بنا ئی چے تاسے شکر گذاره شے پرنعمتونو ده وَاذْكُرُوْا اویاد

ع ٦

عه یعنے سره گیرولو د مخ اود لاسو ١٢ کښی ایستل ١٢

کړی نِعْمَةَ اللّٰهِ هغه نعمت د خدای چې پیژنړ وکړی ئې دی عَلَيْكُمْ پرتاسې په اسلام سره وَمِيثَاقَهُ الَّذِيْ او بل یادکړی هغه عهد دده وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ لږ چې محکم عهد ئې اخیستی دی له تاسې څخه په هغه شې چې عهد دی د الست یا د لیلة العقبة یا د بیعة الرضوان اِذْ قُلْتُمْ چې وویل تاسې سَمِعْنَا واوریدو مونږ قول ستا وَاَطَعْنَا او قبول کړو مونږ فرمان ستا وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه بیریږی له خدای څخه اوعهد مه ماتوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ④ پرهغه شیانوچې په سینوکښې پټ دی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ اوسی محکم ولاړ پرحق لِلّٰهِ شُهَدَآءَ خدای له ره شاهدان بِالْقِسْطِ پرعدل سره وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ او نه دی اړکوی تاسې شَنَاٰنُ قَوْمٍ دښمنی او بغض د څوک د مشرکانو یعنی نه دی باعث کوی تاسې عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا پردی کار چې انصاف به نه کوی په باب د دوی کښې اوعدل به ماتوی دا سې مه کوی بَلْ اعْدِلُوْا بلکه عدل کوی هُوَ دا عدل چې دی اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى زیږ نژدی دی پرهیزګارۍ ته وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه بیریږی له خدایه نو ظلم مه کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خبردار دی پرهغه کارونو چې کوی ئې ⑧ په هغه کارونو چې تاسې کوی وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ وعده کړی ده خدای له هغه کسانو سره اٰمَنُوْا چې ایمان ئې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی نیکو اوهغه وعده داده چې لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ ده دوی لره بخښنه وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ⑨ او اجر ډیرلوی وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان چې کافران شوی دی وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ او نسبت دروغو کوی ایتونو موږ ته یعنی قرآن ته اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ⑩ ملګری د دوزخ دی

روایت

دی چې رسول سره له څلورو یا زانو یره وسرځ بنی قریظه وولره اغلی دپاره د قرض کولو اودوی وویل چې درکوونکی کښینه بیاچې دده یوال خواته کښیناسته نوعمرو بن جحاش یوه ډیره لوی پلنه پیژړه وخیسته او سر بیره پرباندې اغلی چې دبام

دسرہ لئے پورا وغورځوی لونے فی الحال جبرائیل علیہ السلام راغلے اودی لئے دھغہ ځایه سرا ولاړ کړی نو نازل شو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا اے تولے دمؤمنانو یادکړی نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَیْكُمْ دھغه نعمت د خدای پرتا سے اِذْ هَمَّ قَوْمٌ چے اختیار وکړی یوقوم دکفارو اَنْ یَّبْسُطُوْٓا ددی چے سرا وغورځوی دوی اِلَیْكُمْ اَیْدِیَهُمْ تا سے تہ لاسونه خپل دیارہ دقتل فَكَفَّ پس حصار کړہ خدای اَیْدِیَهُمْ ع لاسونه دوی لرتا سے عَنْكُمْ ع وَاتَّقُوا اللّٰهَ اوووپیږی له خدایه نو دا نعمتونه مه هیروی وَعَلَى اللّٰهِ اوخاص پر خدای فَلْیَتَوَكَّلِ ګل الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ بنائی چے توکل دی وکړی مؤمنان روایت دے چے هرکله فرعون غرق شو او موسلے علیہ السلام بیرته مصرته راغلے نو ماموریشو په ورتلو شام ته دپارہ د جنګ دایدیا اودا ریحاله جبارانو کفارو سره اودادواړه بنارونه دے دکنعان چے له نو ابعو دشام دی اودشام نهر بنارہ اودهر بنار په ځای زر باغونه وو او یو وبزے دانګور وبه لئے پنځو سړیو پورته کولای نشو اونیم قولی دانار لاندی به لئے پنځه سړی کښینا ستل اودا جباران چے په عمالقه مشهور وو اته سوه ګزه به اوږده وو او یو پکښے عاج نوی وو چے دری زره اودری دیرش ګزه ځای قدّ وو اودری زره کاله لئے عمر وو چے موسلے اریحا ته نژدی شو او له خپله قومه ځای عهد واخستی چے جنګ به کوو له دښمن سره اوتیښته به نه ځندی کوو نو دوولس کسه جاسوسان لئے ورولیږل چے احوال دهغو خلګو راوړی خوښ چے دا نور په خبر نشے بیا چے دوی بیرته راغله نو قول خپل قوم لئے پُه خبر کړو بیله یوشع بن نون او کالب بن یُوفنا چے دی دواړو وبل چا ته ونه ویل اودا حال چے قوم واوریدلے نو هغه عهد ئی مات کړو اوقول پرشا ولاړل لکه چے وائی وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ اوپه تحقیق سره واخسته خدای مِیْثَاقَ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ع عهد له بنی اسراءیلو څخه په متابعت دموسے اوپه جنګ کولو له جبارانو سره وَبَعَثْنَا اوووه لیږل مورِ عمالقه ووته مِنْهُمُ اثْنَیْ عَشَرَ له دوی څخه دوولس کسه نَقِیْبًا مشران یوهنده له قومه دیارہ دسرا ولیږدا حوالو

لمه داخطا دی عمل په ګول ښه نه دی ۱۲

دھغو وَقَالَ اللّٰہُ اوو ویل خدائے اِنِّیْ مَعَکُمْ چے بیشکہ زہ لہ تاسے سرہ یم پہ مدد کار کینے پردینمنا نو اونورے وسرتہ وویل لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوۃَ قسم دی کہ بر پای لری تاسے لمونځ خپل سرہ لہ تولو حقوقو دھغہ وَاٰتَیْتُمُ الزَّکٰوۃَ اوورکوی تاسے زکوٰۃ خپل مستحقانو لرلہ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ اوایمان راوړی پر رسولانو زما وَعَزَّرْتُمُوْھُمْ او تعظیم کوی دوی او مدد گاری ھم ورسرہ کوی وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰہَ اوقرض ورکوی خدای تہ یعنی ورکړہ کوی دده پہ لار کښے قَرْضًا حَسَنًا بنہ ورکړہ یعنے بی منتہ بی ضررہ او جواب دقسم دادی لَاُکَفِّرَنَّ ھرایئنہ بہ ورژمہ عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ لہ تاسے گناھونہ ستاسے وَلَاُدْخِلَنَّکُمْ اوھرایئنہ داخل بہ کړم تاسے جَنّٰتٍ بخړی پہ دا سے باغونو کښے چے بھیړی مِنْ تَحْتِھَا الْاَنْھٰرُ ترلاندی دو نو دھغو ولے څلورسرہ قسمہ دا وبو دشید وی دشرابو، دشالو فَمَنْ کَفَرَ بِعْدَ ذٰلِکَ پس لہ دی عھد اومیثاق څخہ مِنْکُمْ لہ تاسے څخہ فَقَدْ ضَلَّ پس پہ تحقیق گمراہ شو اوورکہ ئی ورکړہ سَوَآءَ السَّبِیْلِ ﴿۱۲﴾ سمہ لارہ دحق بیاھر کلہ چے بنی اسرائیلو پر ھغہ عھد خپل وفا ونہ کړہ نوځکہ ربہ العزت وویل فَبِمَا نَقْضِھِمْ پس پہ سبب دما تولو دوی اودا مازائدہ دی مِّیْثَاقَھُمْ عھد خپل لَعَنّٰھُمْ ورتل مورد وی لہ رحمتہ خپلہ یا مورد مسخ کړہ یا جزیہ پرکښیښوہ مرد وَجَعَلْنَا قُلُوْبَھُمْ اوکړہ مورد زړونہ دوی قٰسِیَۃً سخت چے پہ ھیڅ پند نہ اخلی یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ چے گرزوی عبارتونہ د تورات یا نعت د رسول عَنْ مَّوَاضِعِہٖ لہ ځایونہ خپلو او پہ خپلہ مدعا ئی اړوی وَنَسُوْا حَظًّا اوھیرہ کړی دہ دوی غنہ برخہ مِّمَّا ذُکِّرُوْا بِہٖ لہ ھغہ شی چے پند ورکړہ شوی وو دوی تہ پہ ھغہ شے چے پند ورکړہ شوی وو دوی تہ پہ تورات کښے چے ھغہ متابعت وو د رسول وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ اوھمیشہ بہ ئی تہ پے مطلع کیږی بہ تہ عَلٰی خَآئِنَۃٍ مِّنْھُمْ پہ خیانت لہ دی یھود و څخہ اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْھُمْ مگر کم لہ دوی لکہ ابن سلام اومګلری دده فَاعْفُ عَنْھُمْ پس عفوہ وکړہ لہ دوی دتیرو کارو کہ لہ تیرو توبہ ویاسے اوپس لہ دی

ایمان راوری وَاصْفَحْ دا اوغ خندے وکړه که جزیه قبلوی یا عفوه اوصفح دواړه مطلق دی اودا آیت منسوخ دی په آیت دسیف سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدائ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ (۱۳) خوښوی نیکوکاران وَمِنَ الَّذِيْنَ اوله هغه کسانو څخه اودامن تعلق نیسے په محکمے اخذنا پورے قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى چې وائ دوی بیشکه مونږ نصرانیان یو اَخَذْنَا مِيْثَاقَهُمْ اخستے وو مونږ عهد د دوی څخه لکه دیهودو فَنَسُوْا حَظًّا پس هیره کړه دوی غټه برخه مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ س له هغه شی چې پند ورکړه شوی وو دوی ته په هغه شے په انجیل کښے چې هغه متابعت وو د رسول فَاَغْرَيْنَا پس واچوله مونږ بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ په مابین د دوی کښے سره د بغمنی وَالْبَغْضَآءَ او بغض اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ د تروړ ځ د قیامت پورے په دی شان چې دوی دری طائفی شوی یوه نسطوریه چې وائ عیسیٰ زوی دخدای دی اودویمه یعقوبیه چې وائ دی پخپله خدای دی اودریمه ملکائیه چې وائ خدایان دری دی اودی ئ دریم دی نعوذ باللہ منها او یا هغه عداوت مراد دی چې د دوی او دیهودو په مینځ کښے دی وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ اوښ ردی چې خبر به کړی دوی خدای بِمَا كَانُوْا پر هغه کار وچې وو دوی يَصْنَعُوْنَ (۱۴) چې کول به ئ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ای اهل کتابو یعنی یهودو اونصاریٰ وو قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق راغلی دی تاسے ته رَسُوْلُنَا استاذی زمونږ يُبَيِّنُ لَكُمْ چې بیا نوی تاسے ته كَثِيْرًا مِّمَّا دیر له هغه شیانو كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ چې واست تاسے پخواپه پټو له مونږ مِنَ الْكِتٰبِ له تورات څخه لکه نعت د رسول او آیت درجم اوهم له انجیل څخه لکه زیری دعیسیٰ په احمد سره وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ او تیریږی له دیرو پتوستاسے یاله تاسے دیرو قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق سره راغلے دی تاسے ته مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ له خدایه نور یعنی رڼا چې رسول دے وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ (۱۵) او کتاب واضح چې قرآن دی يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ چې بنائ پرے دی نور یا کتاب سره خدای مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ هرهغه چا ته چې پیروی کوی دی د رضامندی دده سُبُلَ السَّلٰمِ لاری د سلامتی ته لهعذابه یا دسلام چې نوم دی دخدای یا دجنت وَيُخْرِجُهُمْ اوراوباسے دوے

مِنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکیو دکفرو یادشکه یادجهله اِلَى النُّوْرِ ورنا دایمان یادیقین یادعلم ته باندې یه اراده اوپه توفیق خپل سره وَيَهْدِيْهِمْ اوبرابروی دوی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ ولاری سمې ته لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ په تحقیق سره کافران شوید ے هغه کسان ـ قَالُوْٓا چې وائی دوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چې دی هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ط هم دامسیح دی زوی دبی بی مریمې ځکه چې شروندی کول اوپیلکول اووژل دری سره کولای شی اوداخاصه دخدای ده فَائِدَة :ـ داجاهلان په دی خپل قول پردی ځکه چې دوی ئې پخپله زوی دبی بی مریمې بولی اوهرزهوی خوحادث وی اوحادث لائق دخدای نه دی قُلْ ووایه ورته فَمَنْ يَّمْلِكُ پس هغه څوك دی چې اختیارلری دمنع مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له خدایه دکوم شی یعنې نه ئې لری اِنْ اَرَادَ که اراده وکړی دی اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ددی چې هلاك کړی دی مسیح زوی دمریمې وَاُمَّهٗ اومورده وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اولونږهم هرهغه څوك چې په ځمکه کښې دی جَمِيْعًا ط تول وَلِلّٰهِ اوخاص خدای لره دی مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهی داسمانونو وَالْاَرْضِ اوددی ځمکی وَمَا بَيْنَهُمَا ط اوهر هغه چې په مینځ ددوی کښې دی يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط پیدا کوی هرهغه چې اراده ئې وشی کله له یوازی نارینه ځمنه بیله ښځې لکه بی بی حوا له اادم څخه اوکله له یوازی ښځې څخه بیله نارینه لکه عیسیٰ له بی بی مریمې څخه اوکله بے دواړو لکه پخپله اادم علیه السلام شواوکله اله دواړو څخه لکه دانورخلق پیدا شوه وَاللّٰهُ اوخدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۱۷ پرهرشی بنه قادردی وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ اووائی یهود وَالنَّصٰرٰى اونصارای هم نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ چې موږ نزامن یو دخدای یعنې دی پرموږ داسے مهربانه دی لکه پلار اوموږ داسے ورته گران یو لکه نزامن وَاَحِبَّآؤُهٗ ط اودوستان یو ودده قُلْ ووایه ورته فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ پس نو ولے په عذاب وی تاسے بِذُنُوْبِكُمْ ط په ګناهو سره دتاسے په دنیا کښې په قتل اوپه بندسره اوپه اخرت کښې په دوزخ سره بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ بلکه تاسے هم اادمیان یاست پیدا شوی مِّمَّنْ خَلَقَ ط بعضې له هغه خلګو څخه چې

ف۱ ولے پلار خوښ وی اولونږه ترادب ورکوی خوپه عذاب وی ۱۲ جامع البیان

پیدا کړی دی ده او اختیار هم دده دی یَغْفِرُ بخښنه کوی لِمَنْ یَّشَآءُ هغه چا ته چې
اراده ئې وشی وَیُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ ط او په عذابونو هغه څوک چې اراده ئې وشی
وَلِلّٰهِ اوخاص خدای لره دی مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهي دآسمانونو وَالْاَرْضِ او د ځمکې
وَمَا بَیْنَهُمَا زاو دهر هرڅه چې په مینځ دده وی کښې دی وَاِلَیْهِ الْمَصِیْرُ ﴿۱۸﴾ او خاص هم
ده ته دی بیا ورتله یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ ای یهود او نصاری وو قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق
سره راغلے دی تاسے ته رَسُوْلُنَا استاذی زمور یُبَیِّنُ لَكُمْ چې بیانوی تاسے ته احکاماً
شرعیه عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ په وخت د قطع اود بس کیدو د رسولانو اود وحی
اَنْ تَقُوْلُوْا چې بیا و نه وایاست تاسے په ورځ د قیامت مَا جَآءَنَا چې نه و موږ راغلے
مور ته مِنْۢ بَشِیْرٍ هیڅ څوک زیری کونکی وَّلَا نَذِیْرٍ او نه هیڅوک ویرونکی
فَقَدْ جَآءَكُمْ پس په تحقیق راغلے تاسے ته بَشِیْرٌ وَّنَذِیْرٌ ط هم زیرے کونکی اوهم
ویرونکی وَاللّٰهُ اوخدای عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ پرهرشی قَدِیْرٌ ﴿۱۹﴾ ع ۳ ۱۷ ۳ ښه قادر دی وَاِذْ قَالَ
مُوْسٰى اویاد کړی هغه چې وویل موسیٰ لِقَوْمِهٖ وقوم خپل ته یٰقَوْمِ اذْكُرُوْا
ای قومه زما یاد کړی نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَیْكُمْ نعمت د خدای پرتا سے اِذْ جَعَلَ هغه چې
پیدا کړه ده فِیْكُمْ اَنْۢبِیَآءَ په تاسے کښې پیغمبران وَجَعَلَكُمْ او یې کړه
تاسے مُّلُوْكًا بادشاهان وَّاٰتٰىكُمْ او درکړی ئې دی تاسے ته هغه نعمتونه لکه من او سلوی او سوری او اوریځی او بهیدل د اوبو له تیږی
او چاودل دسینې لَمْ یُؤْتِ اَحَدًا چې نه ئې وو ورکړی هیچا ته مِّنَ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۰﴾
له خلکو د زمانې ستاسے یٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ المُقَدَّسَةَ الَّتِیْ اے قومه زما
څې ننوزی په هغه پاکه ځمکه کښې كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ چې لیکلی یعنی مقرر کړی ده خدای
تاسے له په لوح محفوظ کښې چې هغه ځمکه ده شام او بنارد ایلیا او داریحا تاسے

کری دپارہ دسکو نت خپل وَلَا تَرْتَدُّوْا او بیرتہ مہ ځی عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ پرطرف د شاؤ خپلو له جنګہ یا له دینہ خپلہ یا بیرتہ مصرتہ فَتَنْقَلِبُوْا پس شے بہ تاسی پہ دی بیرتلوسرہ خٰسِرِيْنَ ﴿۲۱﴾ زہر یانکاران قَالُوْا ایمرُ شے نو ویل دوی اے موسےٰ اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا بیشکہ پہ هغہ مځکہ کښے یو قسم مخلوق دی جَبَّارِيْنَ ق شے چے دپرمتغلبانو اوقاهرانو اوقوت ناکہ دی نو زمونږ ورتہ هیڅ طاقت نہ کیږی وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا او بیشکہ مونږ به له سره نہ ننوزو پہ دغہ مځکہ کښے حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ترهغہ پوری چے ووزی دوی له دی مځکی فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا پس که ونہ ږی دوی له دی ځایہ بے جنګہ فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ پس بیشکہ چے مونږ ننو توکلی یو قَالَ رَجُلٰنِ وویل دوو سړیو مِنَ الَّذِيْنَ چے له هغو خلګو څخہ وو يَخَافُوْنَ چے بیږی له خدایہ اَنْعَمَ اللّٰهُ چے ځمر بانی کړی وه خدای عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا پرهغودوا ږوچے یوشع او کالب و و نا ګاه ننوزی عَلَيْهِمُ الْبَابَ ع پردوی له دروازی څخہ دبنار فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ پس هغہ وخت چے ننوزی تاسے په دروازه فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ پس بیشکہ چے تاسے به غالب یاست وَعَلَى اللّٰهِ او خاص پرخدای فَتَوَكَّلُوْٓا پس توکل کړی په دی خدای او مقا بله کښے اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾ که یاست تاسے باور کونکی پروعدهٔ دخدای قَالُوْا یٰمُوْسٰٓى بیا وویل دوی اے موسےٰ اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ بیشکہ چے مونږ به له سره داخل نرشو به دی بنار کښے اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا هیڅیری څو چے وی دوی په دی ځای کښے فَاذْهَبْ اَنْتَ پس ځه ته وَرَبُّكَ اوربّ دی چے معاون ستادی یاته اومشرورږ دی چے هارونږ دی فَقَاتِلَآ پس جنګ وکړی دواړه اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ بیشکہ مونږ دلته ناست یو قَالَ رَبِّ ووویل موسےٰ ای ربه زما اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ بیشکہ زه اختیار نرلرم اِلَّا نَفْسِيْ مګر ځان خپل وَاَخِيْ او دوروړخپل فَافْرُقْ بَيْنَنَا پس بیلتون وکړه په مابین نرمونږ کښے وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ او په مابین کی

عه ده ځان اوهارون اوروړخپل ئی یاد کی اوهغه دوه مسلمانان یوشع اوکالب ئی یاد نه کړه ځکه چے په داد ومره قوم کښے دوه تنه ځه شے دی نو دوی ئی هم په نشته حساب کړل ۱۲ هکذا فی الوجیز

دی قوم کښے چے له دائرے څخه د فرمانه وتلی دی قَالَ فَاِنَّهَا نو وویل رب العزت
پس دا ځکه مقدسه چی ده مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ حرامه کړے شویده له جهته د خوله
پر دوی اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ځلویښت کاله يَتِيْهُوْنَ فِي الْاَرْضِ سرګردانه به ګرځی په
هم دی ځکه کښے فَلَا تَاْسَ پس مه خفه کیږه عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ په دی
قوله د فاسقانو روایت دی چے دا دمره به همیشه غبرلږ دوه اولاده کیدل یو
نارینه او یوه ښځه اودی په دی ماموره ووچے له یوه نارینه سره زیږیدلی ښځه هغه
بل لره ورکوه ځکه چے نور څوک هلته لا نه وه او دا قلیما نوے چی د قابیل جوړه وه او دیره
ښایسته وه هابیل لره ئی مقرره کړه او لیونی اچے د هابیل جوړه وه خو ښایسته نه وه
قابیل لره ئے مقرره کړه او قابیل دا قبوله نه کړه او په غضب شو نو آدم علیہ السلام وټه ووېل
چے باره دواړه قربانی وکړی د هرچا اچے قبوله شوه اقلیما د هغه ده لکه وَاتْلُ
عَلَيْهِمْ او وللوله پرد ی اهل کتابو نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ قصه د دواړه ځامنو د آدم علیہ السلام
چے قابیل او هابیل دی بِالْحَقِّ م په رښتیا سره اِذْ قَرَّبَا کله چے قربانی وکړه دواړو
په قربانی کولو سره چے هابیل یو چاغ پُسه راوستی او یوه خرابه څوده د غنمو ئی راوړه
او دواړه ئی د غرې پر سر کښیښوو فَتُقُبِّلَ پس قبوله کړه شوه د قربانی مِنْ اَحَدِهِمَا
یوه د دوی څخه چے هابیل وو په دی شان چے اور راغلی له اسمانه او پُسه ئی یوسړی
وَلَمْ يُتَقَبَّلْ او قبوله نه کړه شوه مِنَ الْاٰخَرِ له هغه بله څخه چے قابیل وو قَالَ نو وویل
قابیل له دیره غضبه لَاَقْتُلَنَّكَ د قسم دی چے مړ به دی کړم خامخا قَالَ بیا وویل
هابیل پر طریقه د غه سره اِنَّمَا بیشکه هم دا خبره ده يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ چے قبلوی ئی خدے
مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۷﴾ له هغه پرهیزګارانو څخه چې په خالص نیت سره ئے عمل کړی وے
لَئِنْ بَسَطْتَّ که دی راوغځوی تَلِيَ يَدَكَ لاس مانه لاس خپل لِتَقْتُلَنِيْ د پاره د دی چې
مړ کړی مَآ اَنَا نه نوره خو نه یم بِبَاسِطٍ ګډوی غځوونکی د لاس خپل اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ د
تا ته څو مړ کړم تا اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ بیشکه زه بیږیږم له خدایه رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾

ع ۴ ۸

عه اودغه جوړه نبه د قبلید وده ۱۲

چے سرہ د تمام عالم اِنِّیْٓ اُرِیْدُ بیشکه نړه اراده لرم اَنْ تَبُوْٓاَ چے بار کړی اواختر شے
ته بِاِثْمِیْ په گناه د قتل زما وَاِثْمِكَ او په گناه د بے اخلاصی او د قلبی خپلے سړہ فَتَكُوْنَ
پس شے به ته مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ج له ملگرو د دوزخ وَذٰلِكَ اوداچے ده جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۹﴾
جزاده دهغه ظالمانو چے خون کوی په ناحقه سړه فَطَوَّعَتْ لَهٗ پس اسان کړوده ته
یعنے قابیل ته نَفْسُهٗ نفس دده قَتْلَ اَخِیْهِ وژل د وړور خپل اما په وژلو ئے نه پوهیدے
حُکه چے دا اول مرګ وو ناګاه شیطان راغلے په شکل د سړی او په لاس کی ئے یو مرغه
وو نو دده مرغه سړی په تیږه میده کړی او قابیل ورته کا ته بیا چے هابیل بیده
شو نوده ئے هم سر په تیږه سړه میده کړی فَقَتَلَهٗ پس مړے کړی دغه ډول سړه
چے رسول به محکی له پیغمبری عبادت پکښی کولو او هابیل په دی وخت کښے د شلو کالو
وو فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۳۰﴾ پس شو دی له زیانکارانو هم په دنیا کښے چے پس له هغه
ترمرګه پورے مقهور او مردود به وو او هم په آخرت کښے چے عذاب ئے له تمامو د وزخیانو
سړه برابر دے بیا ئے په ښکلو نو پوهیدے حُکه چے دا اول مرے وو او یو کال ئے په غیږ
کښے اچولے پُه شا ئے گرزاوی او لیونے ورپسے منډی وهلی فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا پس
راولیږی خدای یو کاړګه یَّبْحَثُ فِی الْاَرْضِ چے کوغالی ئے کوله په محکمه کښے په منسوخ
خپله سړه او بیا به ئے خاوری په ښکو راایستلی او یو مرکار ګه ئے راوړی او په دی
کوغالی کښے ئے کښینوی او بیا ئے خاوری په ښکو سړه پرواچولے لِیُرِیَهٗ دپاره ددی
چے وښیی وده ته کَیْفَ یُوَارِیْ چے څرنګه پټ کړی دی سَوْءَةَ اَخِیْهِ د خپل وړور پس له کاله قَالَ یٰوَیْلَتٰٓى وویل قابیل اے افسوس دی ماله اَعَجَزْتُ
ایا عاجز وم زه اَنْ اَكُوْنَ له دی څخه چے شم مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ په شان دی کاړګه -
فَاُوَارِیَ پس پټ کړم سَوْءَةَ اَخِیْ د خپل وړور خصاصورت دوړور خپل فَاَصْبَحَ پس شو په دی
قتل سړه مِنَ النّٰدِمِیْنَ ﴿۳۱﴾ له پښیمانی کوونکو څخه له دی جهته چے مور او پلار ئے خفه

غه په حدیث کښے راغلے دی چے هیڅوک نه وژنے چا لره په ظلم سړه مګر خو دا دم د نه وی یعنی
د قابیل برابر حصه ده ورسره له ګناه نه لاړه د وژلو ده ابتدے ده یعنی چے وړور ئے وژلی دی ۱۲ منه

بیزارہ شوہ او درست صورت ئی تک تور شو او په شاګرد ولو دمړی ستومانه شو او دی بیا خپل سړا نده نه وی مړکړی ورځسته تر خوکا لو مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚ په سبب دی قتل سره ع ۴
كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لیکلی وو مور پر بني اسرائیلو اَنَّهٗ چې بیشکه شان دادی مَنْ قَتَلَ نَفْسًا؟ هر چاچې مړکړی کوم شخص بِغَيْرِ نَفْسٍ بیله نفس یعنې بیله دی چې هغه ځوك وژلی وی او پرقصاص ئی کړی اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ یا بیله فساده په ځمکه کښې یعنې چې فساد ئی کړی وی لکه شرك یا الحاد وهل یا نور فساد مخصص فَكَاَنَّمَا پس گویا کَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ مړه ئے کړه قتل خلك یو په دی چې دخون بندیز ئی مات کړی اوبل په دی چې په قتل دیوه سړی سره او د دیرو سړو سره وستل دغضب او دعذاب دخدای برابردی وَمَنْ اَحْيَاهَا او هرڅوك چې ژوندی کړی کوم نفس یعنې سبب ئی شی دبقا دحیوٰة د هغه چې دقصاص عفوه ورته وکړی یا له قتله ځمنه ئی خلاص کړی یا له بلی کوی مهلکی ځمنه فَكَاَنَّمَآ پس گویا کَ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ سبب شو دحیوٰة دخلو خلکو وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ او په تحقیق سره راغلے وو دی بني اسرائیلو ته رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ز رسولان زمونږ په بښکاره معجزو سره ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بیا پس له دی بیشکه ډیرلږ دوی بَعْدَ ذٰلِكَ پس له دې تلو د رسولانو او د معجزو فِي الْاَرْضِ په ځمکه كښې لَمُسْرِفُوْنَ ﴿۳۲﴾ هرا ایښه اسراف کونکی دی په بیباکه قتل کښې ضرورت دی چې په شپږ مړکال دهجرت دوه تولی د عرفنے رسول علیہ السلام لره راغله او اسلام ئی راوړی اوهم هلته ډیره شوه بیا چې څه موده پس رنګونه ئے زیږشوه اونسونه ئے وپرسیدل نو رسول علیہ السلام ته ئے حال ووایه اوده اوبنا نو د صدق ته ولیږل چې شیدی اوبولے ئی وچښی بیا چې وئی څښیلی اوجوړشول نو مرتد شول اوپنځلس اوښان ئے هم پټ کړل اوخپل وطن ته ولاړه اورسول علیہ السلام حضرت یسار ؓ ورپسے وه ولیږی چې ازادکرده ده وو له څوسړو یو سړه اوجنګ ئی وکړو اودی ئے ونیوی اودواړه لاسونه اوپښی ئی ځنډے پرې کړی اوشهید ئے کړو بیا حضرت جابر ؓ ئے ورپسے ولیږی نو قتل ئے نیولی

ع یعنی یا چې مرتاو کړی هغه سړے چې څپلو نکاح حلالہ بښځه کړی ۱۲

راوستل نو نازل شوا اِنَّمَا بیشکه هم داخبره ده جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ په جزاد هغوکسانو
یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ په جنګ اختیاروی دخدای سره یعنی ددوستانو دده سره وَرَسُوْلَهٗ
اولدرسول سره دده وَیَسْعَوْنَ اومندې وهي فِی الْاَرْضِ فَسَادًا په محکه کښې دپاره
دفساد لکه قتل یاقطع طریق یا د تالاکولو اَنْ یُّقَتَّلُوْٓا چې مړه دی کړه شے که یوازی
قتل ئې کړی وی اَوْ یُصَلَّبُوْٓا بلکه په داردی هم کړه شے پس له وژلو که قتل ئې کړی
وو اومال ئې هم اخستی وو اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ بلکه پرې دی کړه شے لاسونه ددوی
وَاَرْجُلُهُمْ او پښې ددوی مِّنْ خِلَافٍ سره مخالف یعنی ښی لاس اوچپه پښه که
یوازی ئې مال اخستی وی اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ط بلکه وړك دی کړل شے له محکمې څخه
په حبس سره یعنی په بندکی دی واچول شے چې بیائے نورو خلکو ته ضرر نه رسیږی
که یوازی ویرول ئې کړی وی بیله قتله اوبیله مال اخستو اولفظ د اَوْ په دری
سره ځایولوکښې په معنیٰ دبَلْ دی اوینفوا په معنیٰ دیُحْبَس دی بیا پس له هغه رسول
امروکړی نوڈوی لاسونه اوپښې ئې پریکړی او په دار ئې کړل ذٰلِكَ دا تیرکارونه
چې دی لَهُمْ خِزْیٌ دوی له خواری اوبے شرمی ده فِی الدُّنْیَا په دنیاکښې وَلَهُمْ
او مقرر دی دوی لره فِی الْاٰخِرَةِ په هغه جهان کښې عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴿۳۳﴾ عذاب لوی
په سبب د لوی ګناه اِلَّا الَّذِیْنَ مګر هغه کسان تَابُوْا چې توبه وکا بدی مِنْ قَبْلِ اَنْ محکې
له هغه تَقْدِرُوْا عَلَیْهِمْ ۚ چې قادر کیږی تاسے پردوی نو دا حدود به ځندی ساقط
شی نه حقوق د بندګانو فَاعْلَمُوْٓا پس پوه شے اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای غَفُوْرٌ
بخښونکی دی په توبه سره رَّحِیْمٌ ﴿۳۴﴾ مهربانه دی پرتائبانو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا ای
مؤمنانو اتَّقُوا اللّٰهَ وه بیریږی له خدایه وَابْتَغُوْٓا اولتوی اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ
وده ته واسطه یعنی هرهغه شی چې په هغه سره وده ته نژدی کیږی لکه کوشش شو
په ترك دمعاصیو کښې اوپه کولو دطاعاتو کښې اوپه پیدا کولو د اخلاص اوپه سر ځیلا
کولو دهغوی ده ته لکه پیغمبران اوملائکی مقربین اوولیان اوعالمان اومتقیان

عه یعنی یا وهل اوشکول دلاری ۱۲ صه الله حدود الله پاك ۱۳

اوصالحان شول وَجَاهِدُوْا اوجهاد کوی فِیْ سَبِیْلِهٖ په لاره دده کښے له اعداؤ ظاهرو اوباطنو سره لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾ بنائی چے تاسے خلاص شے له هرمکروه

فائدہ:- سره الفرت په دی آیت کښے څلور شیان موجب دخلاصے کړه ایمان اوتقویٰ اووسیله ینول اوجهاد نو پردی څلورو سره وو ډیرحرص پکاردی

اوکنا رہ کښینا سته نو نازل شو وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ اومه شمه له مجلسه خپله هغه کسان ـ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ چې بولی دوی رب خپل په هر وخت کی بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ هم سهار او هم ماښام یا لمونځونه کوی دسهار او دماخیګر يُرِيْدُوْنَ چې غواړی دوی په دی بللو یا په دی لمانځه سره وَجْهَهٗ د دی پخپله یا رضا دده مَا عَلَيْكَ نشته پرتا مِنْ حِسَابِهِمْ له حسابه داعمالو دده دوی مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شے وَمَا مِنْ حِسَابِكَ اوهم داسے نشته له حسابه دعمل ستا عَلَيْهِمْ پر دوی مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شی فَتَطْرُدَهُمْ پس چې وشړے دوی له مجلسه خپل څخه اوداجواب دنفی دے فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ پس شے به ته په دے شمار لوسره دظالمانو څخه بیا چې دا آیت نازل شو نو رسول علیه السلام هغه کاغذ دلاسه څخه وه غورځاوی بیا ورغلی اوفقراؤ ته په غاړه شو وَكَذٰلِكَ اوهمدا سے لکه چې پخوا هم ازمایلی وو موږ اغنیاء دامه په فقراؤ دوی فَتَنَّا بَعْضَهُمْ ازمایلے دی موږ بعض دوی چې اغنیاء دی بِبَعْضٍ په بعضو نورو چې فقراء دی داسے چې فقراء مقدم کړی دی موږ په ایمان راوړونکینے پر اغنیاؤ لِيَقُوْلُوْٓا دیاره ددی چې ووائی دا اغنیاء اَهٰٓؤُلَآءِ ایا داخواران له نظره لویدلے چې دی مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ احسان بارکړی دی خدای پردوی مِنْۢ بَيْنِنَا آیا مابین نه موږ کښے اوسره له دی چې موږ ډیرغټان اویا د خدای یو اوسنه لائق د احسان اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ ایا نه دی خدای ډیر پوه یعنی دی بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ په شکرکونکو په نعمت داسلام **روایت** دے چې یوه ځلی دمؤمنانو رسول علیه السلام له راغله چې له موږ څخه ډیرلوی ګناهونه اوډیرغټ تقصیرات شوی دی نو ځمونږ دغه رڼا هیڅ اودمغفرت به هم څه شان وی اوکه به نه وی اورسول علیه السلام هیڅ التفات ورته ونه کړو اوه دوی نا اُمیده ځندی ولاړ شوه نو نازل شو وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ اوپه هغه وخت کی چې راشی تالره هغه کسان يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا چې ایمان راوړی پرآیتونو مونږ یعنی پرقرآن فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ پس ووایه ته چې سلام دی پر تاسے یعنی زیری دی دسلامتی په دنیا ګنه اودرحمت په عقبیٰ کښی اوپس له سلامه بیا داسی ورته

وو ایه کَتَبَ رَبُّکُمْ چے لیکلی دے یعنی لازم کړے دی رب ستاسے عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ پرځان خپل رحمت او بخښش او مهربانی یعنے داسے وعدہ ئی کړیدہ رحمت چی هیڅ خلاف پکښے نشته او داسی ئی ویلی دی اَنَّهٗ بیشکه شان دادے مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ هر څوک چی عمل وکړی له تاسے مخه سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ بدی په نادانے سره ثُمَّ تَابَ بیا توبه وکا بدی مِنْۢ بَعْدِهٖ پس له کولو دهغه عمل وَاَصْلَحَ او سازښت وکړی دکارخپل یعنے چی عزم وکړی دعدم رجوع بیا دے گناه نه فَاَنَّهٗ — پس بیشکه چه دے غَفُوْرٌ بخښونکی دی د تائبانو رَّحِيْمٌ مهربان دی پرډوی چے وعدہ ئے د رحمت کړی ده نظم :-

که مَلَک دی په مور بښکلی گناهونه	خوملاک په ځان دی بښکلی رحمتونه
که گناه له موږه ډیره شے چا پیره	دی رحیم کریم غفور لری نومونه
اورحمت ئی په غضب باندی غالب دی	څه شوخه شوکه ئی دواړه دی وصفونه
څکه نیک په لسو بدپه یو لیکل شے	په قرآن کښی دے راغلی ایتونه
په رشتینی عذر رکیږے قولی	بخښی دی په دی ناطق دی حدیثونه

اِذَا اعْتَذَرَ الصِّدِّيْقُ اِلَيْكَ يَوْمًا	فَجَاوِزْ عَنْ مَعَاصِيْهِ الْكَثِيْرَةِ
چے عذر وکړے دوست تاته یوه ورځ	پس تیر شه له هغه ګناهونو څخه ډیروی هم
فَاِنَّ الشَّافِعِيَّ رَوٰى حَدِيْثًا	بِاَسْنَادٍ صَحِيْحٍ عَنْ مُغِيْرَةَ
بیشکه چه امام شافعی روایت کړی حدیث	په سند صحیح سره له مغیره شخه
بِاَنَّ قَالَ النَّبِيُّ اللّٰهُ يَعْفُوْ	بِعُذْرٍ وَّاحِدٍ اَلْفًا كَثِيْرَةً
چه ویلی دے حضرت ﷺ چه خدای عفوه کوی	په یو عذر سره زر څنا هونه

وَكَذٰلِكَ او همدا سے لکه چی په دی سورة کښی مور دلائل د توحید او د نبوت مفصل

عه څکه چی په دی قول د الله تعالیٰ کښے راغلے دی چی ان ربک لذو مغفرة للناس وان ربک لشدید العقاب یعنی ستا چے رب ستاسو د ټولو خلقو لپاره بخښونکی دی او ستا رب سزا ورکوونکی هم دی او دا هم راغلے دی چی ان ربک لسریع العقاب وانه لغفور رحیم یعنی بیشکه ستا رب ډیر زر سزا ورکوونکی دی او بیشکه هغه ډیر بخښونکی او رحم کوونکی دی نو ځکه ئی په دی ټولو ځایونو کښی د خپلو بندګانو سره د رحمت او بخښنی صفت ذکر کړے دے او د عقاب او سزا ورکولو صفت ئی ذکر نه کړے دے ۱۲ منه

عه یعنی د رحمت صفت د غضب صفت باندی غالب دے ۱۲ منه قال الله تعالیٰ من جاء بالحسنة فله عشر امثالها ومن جاء بالسیئة الی قوله لا یظلمون یعنی څوک چه هر څه نیک کار په خپله راوړی نو د هغه لپاره د لسو برابر ثواب دے او څوک چه یو بد کار راوړی نو هغه ته به یوازے د هغه یو بد کار سزا ورکړے شی او دوی به ظلم نه کړے شی ۱۲ منه

بیان کړی دی نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ په تفصیل سره بیا نو وایتونه په باب د مطیعانو اود عاصیانو کښے چې حق ظاهر شے وَلِتَسْتَبِيْنَ اود پاره د دے چې بنکاره شی سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ لاره د ګناهګارانو یعنے چې حق له باطله بیل شے **روایت** دی چې هرکله چې قریشو هسول وبالی ودین د خپلو اباءو اجدادو ته نوزازل شو قُلْ اِنِّیْ نُهِيْتُ ووایه ووی ته چې بیشکه زه منع کړے شوی یم اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ له دی چې عبادت وکړم د هغو شیانو نو تَدْعُوْنَ چې تاسے یې عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ د بیله خدایه یعنے دُبتانو قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ بیا ووایه چې نه کومزړ پیروی اَهْوَآءَكُمْ د اړ زړه وګانو ستاسے ځکه چې قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا نه تحقیق سره ګمراه شوی به یمزړ په دے وخت کښې چې پیروی وکړم د هوا ستاسے وَمَآ اَنَا اونه به یم زه مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ له لاره موندونکو (پیا کوتکو) **روایت** دی چې نضر بن حارث اونورو مشرانو د قریشو رسولؐ ته وویل چې ته همیشه موږ د عذاب څخه د خدای بیروی نو اوس هر رنګه عذاب چې دی دلاسه کیږی موږ ته ئې راوړسوه اوبیا پس له دی موږ مه بیروه نوزازل شو قُلْ اِنِّیْ ووایه دوی ته بیشکه زه چې یم عَلٰى بَيِّنَةٍ پر بنسټ د حجت اود دلیل ولاړیم مِّنْ رَّبِّیْ له جانبه د رب خپل چې وحی اوقرآن دی وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ او تاسے نه منی هغه دلیل مَا عِنْدِیْ نشته د ما څخه مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ هغه شی چې ژر ئې غواړی تاسے یعنی عذاب اِنِ الْحُكْمُ نه دی حکم د تلوار او ملاړ د هغه عذاب اِلَّا لِلّٰهِ مګر خاص خدای له دی يَقُصُّ الْحَقَّ والی دی حق یا حکم کوی حق وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ او حال دا چې دی بهتر د فیصله کونکو یا د بیا نو نکودی قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِیْ بیا ووایه وودی ته چې که وای د ما څخه مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ هغه شی چې په تلوار ئې غواړی تاسے چې عذاب دی لَقُضِیَ الْاَمْرُ نو هرا ئینه کوتاه شوی به وه مقدمه بَيْنِیْ وَبَيْنَكُمْ زما او ستاسو په مینځ کښے یعنی ژر به می هلاک کړی واست چې مقدمه کوتاه شوی وای وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ او خدای د ډیرو نادی په ظالمانو او په وخت د عذاب د بودی وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ او خاص هم ده سره دی کلیګانے د خزانو د غیب یعنی د هر هغه شیانو چې څخه

پت دی لکه اجل اوخاتمه اوثواب اوعقاب اونوردا سے ویر شیان شوه لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ط نه دی معلومے هغه خوانی بل هیڅا نه مگر پوازی هم وده نه نوجلتی (انوار) اومدار دعذاب هم دده په قدرت کښے دی وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ اودانا دی په هرهغه شی چی په وچه کی دی لکه حیوانات اونباتات اودانورشیان وَالْبَحْرِ ط اوچے په دریاب کښے دی لکه حیوانات اوجواهرات اوداسے نورشیان وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اونه لویږی هیڅ پانه له ونی څخه اِلَّا يَعْلَمُهَا مگرچے دی په عالم اوخبردار دی چے څو پانی څندی ولویږی اوڅو پکښی پاته شوی اودا مبالغه ده په احاطه دعلم کښی پرجزئیا تو دعالم باندی وَلَا حَبَّةٍ اونه لویږی هیڅ دانه فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ په تاریکو د مخکی کښے یعنے تخم دهرقسم نرغونے وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اونه دی هیڅ لوند اونه هیڅ وچ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۹﴾ مگرهغه قول واضح لیکلی دی په کتاب مبین کښے چی لوح محفوظ دی وَهُوَ الَّذِيْ اودے هغه خدای دی يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ چے قبضوی ارواح ستاسے اوحصاروی ئی په شپه کښی له تصرفه په خوب سره وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ اواګاه دی په هغه شه چی کسب کوی تاسے بِالنَّهَارِ دورځے ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ بیا راولیږی کړی تاسے له خوبه په دے ورځ کښے لِيُقْضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى د پاره ددے چی پوره کړه شے هغه موده د مرګ چی په نامه کړه شوی ده ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ بیاپس له مرګه خاص هم ودے ته بیرته ورتلله ستاسے دی ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بیاپس له ورتلواګاه به کړی تاسے په قیامت بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۰﴾ پهغه عملوچے واست تاسے په دنیا کښے ﴿۶۰﴾ چے کول به تاسے د خیر یا د شر اواګاه کول به په دی شان وی چے جزاء دهغه به درکړی وَهُوَ الْقَاهِرُ اودی غالب دی فَوْقَ عِبَادِهٖ پر بندګانو څپلو باندی وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ط او لیږی دی پرتاسے ګڼهګانی له ملایکو چے کرام الکاتبین دی اویکی نیک اوبد عملونه ستاسی جمع کړی اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ترهغه پورې چی راشی اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ویوله تاسے څخه مرګ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا نوقبض کړی ﴿۶۱﴾ دده استاذی نرهغوی له ملایکو یعنے ملك الموت اونورا عوان دده چے څوارلس تنه دی اوثُمَّ

له دوی څخه ملائکة الرّحمة دی او آوګۍ ئې ملائکة العذاب دی نو هر کله چې ملك الموت روح د مؤمن قبض کړی نو ملائکو رحمت ته ئې ورکړی چې علیین ته ئې یوسی او دکافر روح چې قبض کړی نو ملائکو عذاب ته ئې ورکړی چې سجین ته ئې یوسے وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿۶۱﴾ او املائکی هیڅ تقصیر نه کوی په امتثال د امر کښے او یا هیڅ تاخیر نه کوی په قبض د روح کښې پس دیوړه کید و دا جل ثُمَّ رُدُّوا إِلَى اللَّهِ بیا له مرګه پس بر تلل شے بیرته خدای ته د پاره د جزا د عمل خپل مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ د چے باداره دی دی او حق دی اَلَا لَهُ الْحُكْمُ واوری چې خاص هم ده لره دی حکم په دے ورځ د جزا کښے وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ﴿۶۲﴾ اودی ډیر جلد (څرګنده) دی د حساب ترڅو لو حساب بګړو چې د تما مو مخلوقاتو حساب برګوتاه کړی په قدر د لوشلو دیوی میږے کښے قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ وایاید دوی ته چې څوك سائے تاسے مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ له تاریکود دریاب څخه په شپه د صحاب اودغبار اود بخار کښے مراد څندی سخته دی دوچمی او د لوندی تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا په دی حال کښے چې بولی تاسے په زاری سره هم په بنکاره وَخُفْيَةً ۚ اوهم په پته اوداسے وائی چې لَئِنْ أَنْجَانَا مِنْ هٰذِهِ ۚ که ئې خلاص کړو ده موږ له دی سختی او محنت څخه لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ﴿۶۳﴾ نو هراینه شوبه موږ له شکرګذار اوالوتخمه پردی نعمت د نجات قُلِ اللَّهُ وایاید وسره چې خدای يُنَجِّيكُمْ مِنْهَا خلاصوی تاسے له دی ظلماتو څخه د براو د بحر وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ اوله هرډول غم اوخفګان څخه ثُمَّ أَنْتُمْ بیا پس له دی خلاصولو تاسے تُشْرِكُونَ ﴿۶۴﴾ بیا شرك ته ترجوع کوی قُلْ هُوَ الْقَادِرُ وایاید ورته چې دی قادر دی عَلَىٰ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ پردی چې راوه لیږی پرتاسے عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ عذاب د پاسه ستاسے لکه پرقوم د لوط او پراصحاب فیل د پاسه کانی پر اوربدلی وو أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ یا له لاندی ترپښو ستاسے لکه د فرعون او د قارون په شان یا مراد له فوق څخه اوربدل دباران دی او له تحت څخه شنه کیدل د غلے دی أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا یا چې خلط کړی سره تاسے فرقے فرقے چې هر فرقه بیله بیله مدعی او ارزولری او مخالفت بیا موجب د قتال شی او یخپلو مابینو کښے سره قتل کړی

وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ اووشکی دی په بعضو ستا سے بَاْسَ بَعْضٍ ؕ سختے اوتحت دبعضو
نورو اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وګورئ چے څرنګه اړوو(را اړوو مو) ایتونه خپل کلمه په
وعدو اوکله په وعید لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ (۶۵) بنائی چے دوی پوه شے په وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ
او درواغ بولے داقران یا داعذاب قوم ستا یعنی قریش وَهُوَ الْحَقُّ ؕ اوحال داچے
داقران یا عذاب حق دے چی شبه پکښی نلشته قُلْ لَّسْتُ وویایه ورته چے نه یم زه
عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ (۶۶) پرتا سے نگهبان چے ستا سے کار ما ته مفوّض دی بلکه زه
منذر یم فقط لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ څرهر ے خبرے له پوقرارګاه دے چی په هغه کښے
واقع کیږی که وعددی اوکه وعید دی وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ (۶۷) اوشر ردی چی عالمان
به شی تاسے پرَوَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ او په هغه وخت کښے ووینی ته هغه کسان يَخُوْضُوْنَ
فِيْٓ اٰيٰتِنَا چے غوته وهی یعنی پټ مجلس کوی په ایتونه مورد کښے لکه قریشو چی به کول
فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنډه وکړه له دوی څخه اوورسره مه کښینه اوله ناست وی څنډی
ولاسه یږه حَتّٰى يَخُوْضُوْا ترهغو پورې چے ننوړی یعنی مجلس واچوی فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ په
بله خبره کښے بیله قرآنه وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ اوکه هیر کړی درڅخه دا اعراض شیطان
فَلَا تَقْعُدْ پس مه کښینه بَعْدَ الذِّكْرٰى د ذکرئ پس له یاد ید ود نهی مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ (۶۸) له
دی قوتی دظالمانو سره وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ اونشته پرهغوکسا نو يَتَّقُوْنَ چے ځان ساتی
له خوضه دقران دپاسه دمسخرو مِنْ حِسَابِهِمْ له حسابه ددی مسخرئ کونکو مِّنْ شَيْءٍ هیڅ
شے له ګناه یعنی که متقیان وسره کښینی پرته له وخته د مسخرو نو خیر دی وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى
اولیکن پند ورکول شته پردی متقیانو بیا وچولی ترڅو کول بیا څندی یا څیدل دی لَعَلَّهُمْ
يَتَّقُوْنَ (۶۹) بنائی چے دا مسخرئ کونکی ځان وساتی له دی کاره له جهته دشر وَذَرِ
الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا اوپریږده یعنی څنډه وکړه له هغه کسانو څخه چی نیولی ئ دی یعنی جوړ
کړی ئ دی له خپله ځانه دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا دین خپل لوبی اوعبث بی فائدی لکه
عبادت دبتانو او حرام بلل دبحیرو او سایبو یا داسے دنورو اشیاؤ وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

اوغږه کړیدی دوی دی وا په ژوندون څکه منکر شوی دی له بعثه له حشره وَذَكِّرْ بِهٖٓ اوپند ورکړی په دی قرآن سره اَنْ تُبْسَلَ له دی چې مبادا ونه سپارل شې پرهلاک یا رسوا نه شی نَفْسٌ نفس دهرکافر بِمَا كَسَبَتْ ق پـه هغه عمل چې کړی دی ده لَيْسَ لَهَا نشته دی نفس لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ؤ کوم دوست چې مدد ورسړه وکړی او په ځای ورئ خلاص کړی او نه کوم شفاعتګر چې په زاری ئې خلاص کړی وَاِنْ تَعْدِلْ اوکه فدیه ورکړی دا نفس دخپل سر چې ځان په خلاص کړی كُلَّ عَدْلٍ هرقسم فدیه چې وی لَا يُؤْخَذْ مِنْهَا وا به نه څخستل شے له دی نفس څخه یعنی نه به دا خُندی قبول شے او نه به دی پدی له عذابه خلاص شے اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا مذکورین چې دین ئې لعب اولهو نیولی دی هغه کسان دی اُبْسِلُوْا چې سپارل شوی دی پرملائکو عذاب بِمَا كَسَبُوْا ج په سبب دهغه عملو چې کړی دی دوی لَهُمْ شَرَابٌ مقرر دی دوی لره څښل په دوزخ کښے مِّنْ حَمِيْمٍ له اوبو خوتکید لو به اوردد وزخ چې ژړونه ئې جله بله کړی وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌ ا اوعذاب دیردردناک بِمَا كَانُوْا په سبب دی چې وو دوی يَكْفُرُوْنَ ۝ چې کفر ئې اختیار کړی وو روایت دی چې عبدالرحمٰن بن ابی بکر مخوا له ایمان راوړو خپل عبادت دښانو بالی اوپلار ئې رسول علیه السلام ته حال ووایه نو نازل شو قُلْ ووایه اے رسوله! صدیق اکبر ته چې دی دی ووائی خپل ژوی ته اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ایا وبولو موږ بیله خدایه یعنی عبادت وکړو مَا لَا يَنْفَعُنَا دهغه شی چې نفع نه شے رسولے موږ ته که طاعت ئې وکړو وَلَا يَضُرُّنَا او نه هیڅ ضرر رسولے شی که طاعت ئې ونه کړو وَنُرَدُّ اوایا بیرته وګرځو موږ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا پر پوندو خپلو یعنی بیا مرتد شو او شرک اختیار کړو بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ پس له هغه چې وښودہ راته خدای لاره دا سلام اوزا خلاص ئې کړو له کفره اوله ضلالته اوکه بیرته وګرځو نو حال ښه موږ به دا شے كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ لکه حال د هغه چا چې هوا ګیر کړی وی دیوانو له مینځه دکاروان فِي الْاَرْضِ په هغه زمکه کښے چې

ع ۱۹

چول اوبیابان وی اوله کاروان څخه ئې رابیل کړی وی اوله سمې لارې نه ئې وګرځولی وی حَیۡرَانَ ص په دی چې وګرمتحیر وی چې نه لار موی اونه یار موی اونه سر رشته دکار موی لَهٗۤ اَصۡحٰبٌ وی دده لره ملګری څوک یانه په دی کاروان کښې چې له وګرځ شفقته یَّدۡعُوۡنَهٗۤ ناری وهی ودده ته اوبولی ئې اِلَى الۡهُدًى وسمې لارې ته اوورته وائی ائۡتِنَا ؕ چې راڅه موږ ته اودیوان ئې وڅان ته راکښوی اودی په دی مینځ کښې حیران ولاړ وی فَائِدۡهٗ :- داچې کاروانی مثلاً مؤمنان دی اودیوان کفاردی اومرتد هغه حیران دی چې دی دیوانو هوا ګیر کړی وی نوڅه بیا بیرته مؤمنانو ته راوګرځی یا اوتجدید داسلام ئې وکړی نوخلاص شو اوکه نه کفار څرګ پاته شو نوخالد شو په عذاب ابدی کښې قُلۡ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ ووایه بیشکه دین د خدای چې دی اسلام دی هُوَ الۡهُدٰى ؕ هغه داسلام اوبرابر دین دی وَاُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ اومامور شوی یو موږ په دی چې غاړه کښیږدو لِرَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۷۱﴾ ورب د تمام عالمونه وَاَنۡ اَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ اوبل په دی مامور شوی یو چې قایم کړو لمونځ وَاتَّقُوۡهُ ؕ اوبیږی یو له ده څخه په ترک د لمانځه کښې وَهُوَ الَّذِىۡۤ اودی هغه پروردګار دی اِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۷۲﴾ چې هم ده ته به ورجمع کړه شے په قیامت وَهُوَ الَّذِىۡ اودی هغه دی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ چې پیدا کړی دی ده اسمانونه وَالۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ ؕ اوځمکه په حق سره چې دا مصنوعات دلالت وکړی په وجود اوپه قدرت د صانع خپل باندی وَيَوۡمَ يَقُوۡلُ اوبیاد کړه هغه ورځ چې وبه وائی رب العزت په ورځ د قیامت هرهغه شی ته چې ارادهٔ ئې وشی د ایجاد دهغه شی کُنۡ چې موجود شه فَيَكُوۡنُ ؕ پس موجودیږی قَوۡلُهُ الۡحَقُّ ؕ وویل د ده حق دی چې مخالفت څنډی نه شی کیدلای وَلَهُ الۡمُلۡكُ اوخاص هم ده لره ده باچاهی يَوۡمَ يُنۡفَخُ فِى الصُّوۡرِ ؕ په هغه ورځ چې به پوکړل شے په شپیلی کښې عٰلِمُ الۡغَيۡبِ چې دی خبردار دی په هر پټ وَالشَّهَادَةِ ؕ اوپه هرښکاره وَهُوَ الۡحَكِيۡمُ اودی پرحکمت دی چې پیداکول اوفناکول ئې دواړه په حکمت دی الۡخَبِيۡرُ ﴿۷۳﴾ښه دانادی په حساب

او په جزا وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ او یادکړه ودی اهل دمکی ته هغه چې وویل ابراهیم
لِاَبِيْهِ اٰزَرَ پلار خپل ته چې اٰزر وو او دائے لقب وو او نوم ئے تارخ وو او معنے د
اٰزر ددوی په ژبه بت پرست وو اَتَتَّخِذُ ایا نیسے ته اَصْنَامًا هغه بتان چې دی پخپله
توډ لے دی اٰلِهَةً په خدایی سره اِنِّيْٓ اَرٰىكَ بیشکه زه وینم تا وَقَوْمَكَ او قوم ستا
فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾ په بنکاره ګمراهۍ کښې یعنے دمکی خلګو ته دا قصه وکړه چې دوی
ځانونه دابراهیمؑ فرزندان بولے نو میباید چې په توحید کښې دی هم په هغه پسې
اقتداء وکړی وَكَذٰلِكَ اوهمدا سے لکه چې قبح دشرک ورته ښوولے وه موږ نُرِيْٓ
اِبْرٰهِيْمَ ښیلو موږ ابراهیمؑ ته په ستر ګو زړه مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ عجائب اوغرائب
داسمانو وَالْاَرْضِ اودځمکی **روایت** دی چې عجایبونه دا وو اسمانو دابراهیمؑ دځمه
رب العزت لیږی کړه نو په دوی کښے چې څه عجائب غرائب وو هغه ئے ټوله ولیدل
اونظر ئے ولاړی پرعرش ولګیدی او بیائے داوګو محکو عجایبونه هم لیږی کړه نو په دوی
کښے چې څه عجائب اوغرائب وو هغه ئے هم ټول ولیدل اومور دا سے وکړه دپاره
ددی چې په دی سره استدلال وکړی دی په قدرت کامله زه موږ باندی وَلِيَكُوْنَ
اود پاره ددی چې شی دی مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴿۷۵﴾ دیقین کونکو څخه عیاناً لکه چې وو بیاناً او
سره قصے دابراهیمؑ دادی **روایت** دی چې یو باچا د تمام روی زمین چې نوم ئے
نمرود بن کنعان وو او پایه تخت ئے شهر دبابل وو یو شپه ئے په خوب کښے ولیدل
چې دبابل له څنګه یو ستوری راوخوت اورنا د شغلی دهغه رنا دلمراودسپوږمۍ
یعنی ورکه کړه نو له دیره هیبته راویښ شو اودځپل مملکت کاهنان اوحکیمان
ئے راجمع کړه دپاره د تعبیر اودوی ورته وویل چې په دی کال کښے به یو هلک پیدا
شے په بابل کښے چې ستا باچاهی به برهم اوترا وسه لاډ پلار په پشت کښے دی
نو حکم ئے وکړو چې دبابل نارینه اوښځے سره بیلی کړی او چوکیدارانو ئے پرودرول
اوازر چې مقرب د باچا وو له چوکیدارانو پټ دخپلی ښځے سره یوځای شو او دا

حاصله شوه اوصبا (کمار) ته کاهنا نو نمرود ته وویل چې ن شپه هغه هلک له پلاره ځمنه و مورته ولاړې نود ے په غضب شو او پرامید وار ے ښځوئ سړی کښینول چې هلکان ځندی وژنی او انجونی پریږدی او پر مورد ابراهیم علیه السلام باندی تراخره هیڅ اثر د حمل ظاهر نشو بیا چې وخت د لګتوب ئ نژدې شونو له بیری د نمرود ولاړه وصحراته اودی په یوه غار کښی ځندی پیدا شو بیا دې هم په هغه غار کښی پریښووی او د غار خوله ئ بنده کړه اوداکورته ځندی راغله او ازرته ئ وویل چې له بیری ځمنه د نمرود وصحراته ولاړه هلته مړ هلک سړی ځمنه پیدا شو نو هلته می دفن کړی اوس راغله بیا بله ورځ چې ولاړه هلک دوی ګوتې په خوله کښی اچولی وی چې له یوې ګوتې ځمنه ئ شات او دبلی ګوتې ځمنه ئ شیدی راتلے نو پوه خوشحاله شوه او بے غمه کورته راغله اودی به په هفته کې دمیا رشتی قدر او په میاشت کې دکال قدر لوټیدی بیا چې د پنځلسو میاشتو شو او پنځلس کلن قدر به ښکاره کیدی نو ازرته ئے حال ووایه چې مادرواغ درته ویلی وو هلک څوندی دی بیا ازرورته وویل چې کورته ئ راوله بیا چې له غاره ئ راوه ایستی ـــ هلته ګلے دمال کړنې ټیکے نوده له مورځمنه پوښتنه وکړه چې داځه شے دے چې دد ی نومرئ وروه ښووی نو بیا ئ وویل چې دا به خدای هم لری چې پیدا کړے ئ دی اوس وزې هم ورکوی ځکه چې هرمخلوق لره خالق وی چې پرورښت ئ کوی بیا ئ مورته وویل چې زما خدای څوک دی دی وویل چې زه یم بیا ئ ورته وویل چې ستا خدای څوک دی دی وویل چې ستا پلار دی بیا ئ ورته وویل چې دهغه خدای څوک دے دی وویل نمرود دی بیا ئ وویل چې د نمرود خدای څوک دی نو قهر ورته وکړی دے چې داسی وراته خبری مه کوه او په هغه زمانه کښے به چا لمرته سجدی کولی او چا سپوږمۍ ته اوچا ستورو ته لکه چې وائ فَلَمَّا جَنَّ پس هرکله چې تیاره واچوله عَلَيْهِ اَلَّيْلُ پر ده باندی شپے رَاٰ كَوْكَبًا نوروی لیدل ستوری چې بلق ئے وَاهِ يعنی زهره یاشتری قَالَ نو وویل ابراهیم هٰذَا رَبِّیْ ۵ چې دا زما رب دی په زعم ستا سے فَلَمَّآ اَفَلَ پس

هرکله چه ولویدی او غائب شو قَالَ وویل دِه لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِیْنَ ﴿۷۶﴾ چه نه خوښوم زه لویدونکی ځکه چه دا نخښنه (نښه) دزوال دِه اوپروردګار له زه والله پاک دی اودا شپه دځوار لسم وه نو ناګاه سپوږمی راوخته فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ پس هرکله چه ئی وه لیده سپوږمی بازغاً سره اختونکی روښانه قَالَ هٰذَا رَبِّیْ نوو ویل دِه چه دارب زما دی په زعم ستاسے سره فَلَمَّآ اَفَلَ پس هرکله چه دی هم غ په غروب شو قَالَ نو وویل دِه لَئِنْ لَّمْ یَهْدِنِیْ رَبِّیْ هرا ئینه که هدایت کړے نه وای وما ته رب زما دلارے دمعرفت چل لَاَکُوْنَنَّ نو هرا ئینه وم به زه مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّیْنَ ﴿۷۷﴾ له قولی دګمراهانو ځکه بیا چی شنارته رانژدی شو نو شپه وچاوده او لمر راوخاتی او آفتاب پرستان وړته پرسجده پر یواته لکه چه وائی فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ پس هرکله چه ئی وه لیدی لمر بازغة راختونکے او تمام عالم روښانه کونکی قَالَ هٰذَا رَبِّیْ نوو ویل دِه چه دارب زما دی په زعم ستاسے هٰذَآ اَکْبَرُ دا لوی او پر لوی او پرمرتبه روښانه دی له هغه دوارو نورو ځکه فَلَمَّآ اَفَلَتْ پس هرکله چه دی هم پرغروب شو قَالَ یٰقَوْمِ نوو ویل دِه اے قومه زما اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ بیشکه چه زه بیزار یم مِّمَّا تُشْرِکُوْنَ ﴿۷۸﴾ له هغه چه تاسے ئی شریکوی له خدایه سره په استحقاق دعبادت کښے اِنِّیْ وَجَّهْتُ بیشکه زه چه یم ګرزولی دی ما وَجْهِیَ لِلَّذِیْ مخ دزړه هغه خدای ته چه محض په قدرت چل سره فَطَرَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی ئی دی اسمانونه وَالْاَرْضَ او ځمکه حَنِیْفًا په دی حال کښے چی زه مائل یم له هغه طرفه تولو ادیانو چه باطل دی ودین دتوحید ته وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ﴿۷۹﴾ او نه یم زه له شریك ښونکو له خدای سره

روایت دی چه هرکله ابراهیم علیه السلام بنارلره راغلی نو مورئ دنمرود ودین ته وروستی چه مجلس ته حاضر شو نو بوبد شکله سړی ئی ولیدی چه پرتخت ناست دی اوچاپیره ورته مریان لکه ګلونه اومینځی لکه شاپیریانی صفونه ترڅنګ ولاړی دی نو له مورئ ئی پوښتنه وکړه چه دا څوك دی مورئ وویل داد هرچا خدای دی بیاده وویل چه داچاپیره ئی څوك دی دی ورته وویل چه داده پیدا کړی دی نومسکے (خندا کونکی) شواو وی ویل

چې واخلګه خدای دی چې داخپل مخلوق ئې له خانه څخه بنسایسته پیدا کړی دی بایدا دا سے وه چې دی ترتولو بنایسته وو اَلْقِصَّةُ پس ابراهیم علیه السلام به همیشه مذمت دښتا نو کاوی اودوښ عابدان به ئے بد ویل نوقوم به ئې وربسره په جګړه شولکه چې وائے وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ط اوجګړه وربسره وکړه قوم خپل په توحید د خدای او په نفی د شریکانو کښے قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّیْ نو وویل ده چې ایا جګړه کوی تا سے له ماسره فی اللّٰه په وحدانیت د خدای کښې اوبیا غواړی چې پر ما غالب شی وَقَدْ هَدٰىنِ ط اوحال دا چې په تحقیق سره لارد توحید ښوولی ده وما نه رَاَیْتَ دی چې ابراهیم علیه السّلام ډیره جګړه وکړه له قوم خپل سره نودوی ورته وویل چې زمونږ پر معبودانو مسخری کوی نودوی به ډیر ضرر درورسوی اوده په جواب کښے ورته وویل چې وَلَآ اَخَافُ اونه ډیریږم مرنې مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ له هغه بُتانو چې شریکان کوی ئے تاسی د خدای سره اودا حُکمه چې دوی ضرر نشی رسولای وما نه اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ رَبِّیْ مګر که اراده وکړی رَبِّیْ شَیْئًا ط سرب زما دکومه مکروه چې دوی په سبب ئې ما نه ورسوی وَسِعَ رَبِّیْ كُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا ط ای وسع علم ربی کل شئ یعنے رسیدلے دی علم د رب زما وهرشی تر نږهیڅ ضرر چاته نه رسیږی بیله علمه اوارادی دده اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۰﴾ ایا پند نه اخلے اوعاجز له قادره نسی بیلولای تاسی وَكَيْفَ اَخَافُ اوځرنګه به وه بیریږم زه مَآ اَشْرَكْتُمْ له هغه جمادا نو چې شریکان جوړ کړیدی تاسے له خپل خانه وَلَا تَخَافُوْنَ اوحال داچې نه بیریږی تاسے اَنَّكُمْ له دی چې بیشکه تاسے اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ شریک کړی دی تاسے له خدای سره مَا لَمْ یُنَزِّلْ بِهٖ هغه شے چې نه ئې رابرلی دده په شریکولو د هغه شی عَلَیْكُمْ سُلْطٰنًا ط پرتاسی کوم حجت یا کتاب فَاَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ پس کوم یو له دی دواړو ډلو څوچې موحدان اومشرکان دی اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ج لایق تردی په دی امن سره له عذابه د خدای نودی جواب راکړی اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۱﴾ که یاست تاسی چې پوهیږی په دی چې له چاسره ویره بایده ده او هرکله چې دوی سره ئې جواب نه وه نو سرب العزت ئې پخپله جواب ورکړی دے سے چې اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چې ایمان

وقف لازم

ئی را او ړی دی وَلَمْ يَلْبِسُوٓا او نګړی نه دی دوی اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ایمان خپل له شرک سره
اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی لَهُمُ الْاَمْنُ خاص هم دوی لره دی امن له خلودۀ دنا ر
وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ (۸۲) اوهم دوی لاره موندونکی دی وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اوداتیر قول
استدلالات حجت اودلیل نه مورږ وو اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ چې ورکړی وو مورږ ابراهیم
ته چې په هم دی حجت سره دی غالب شو عَلٰى قَوْمِهٖ ط پرقوم خپل باندی نَرْفَعُ
دَرَجٰتٍ پورته کوو مورږ له جهته د درجو مَّنْ نَّشَآءُ ط هرهغه څوك چې اراده وشی
نه مورږ په علم اوپه حکمت کښې اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستاچې دی حَكِيْمٌ حکم کونکی دی
پوره علم کونکی عَلِيْمٌ (۸۳) ښه دانا دی په مستحقانو
درفع اودخفض وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اووزکړی وو مورږ وده ته اِسْحٰقَ اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام چې
نه وی وو ده او یعقوب تولو پیغمبرانو د بنی اسرائیلو وَيَعْقُوْبَ ط او یعقوب (۴)
چې نوسے وو ده كُلًّا هَدَيْنَا ده تولو ته سمه لاره بنوولی ده مورږ وَنُوْحًا هَدَيْنَا
اونوح علیه السلام ته سمه لاره بنوولی وه مورږ مِنْ قَبْلُ پخوا له ابراهیم څخه وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ
اوهم دهغه نسل بعضو نو ته هم له اولاده دنوح علیه السلام سمه لاره بنوولی وه مورږ
لکه دَاوٗدَ داود علیه السلام ته وَسُلَيْمٰنَ اوسلیمان علیه السلام ته چې نه وی ده وو او
دوی له اولاده د یهودا وو وَاَيُّوْبَ او ایوب علیه السلام ته چې نه وی د اموص دی او له
اولاده د عیص بن اسحٰق وو وَيُوْسُفَ اویوسف علیه السلام ته چې نه وی د یعقوب علیه السلام وو وَ
مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ د اودی دواړو سره ونو ته چې نه وی د عمران او له اولاده د لاوی
بن یعقوب وو وَكَذٰلِكَ اوهم دهغسے لکه چې ابراهیم ته جزا ورکړے وه مورږ په رفع د
درجاتو سره نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۸۴) جزا ورکوونکو کارانو ته په قدر د استحقاق سره
وَزَكَرِيَّا او زکریا علیه السلام ته چې نه وی د اَزر بن مسلم وو او له اولاده د رحبعم بن
سلیمان وو وَيَحْيٰى او یحیٰی ته چې نه وی وو ده وَعِيْسٰى او عیسیٰ ته چې زوی وو د
بی بی مریم چې لور وه د عمران او له اولاده د سلیمان وو روایت دی هرکله چې عیسیٰ

ته یعنی له همیشه والی په اور کښې یعنی به اور کښې به همیشه پاته کیږی ۱۲

له ذریت (اولاده) څخه دنوح شو په منطوق دنص سره او حال دده چې لنسب دده خوله مور څخه دی نو امام حسین رضی الله عنه هم له اولاده د رسول علیه السلام شو بے شبهی وَاِلْیَاسَ ؕ او الیاس ته چې په اصح د اقوالو نه روی د بشترین فنحاص بن عیزص بن هارون دی کُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۸۵﴾ دا قول مذکورین له صالحانو څخه دی وَاِسْمٰعِیْلَ او اسماعیل نه چې روی دی ابراهیم دی وَالْیَسَعَ او یسع ته چې زوی د اُخطور و او مشهور وو دے په ابن العجوز سره وَیُوْنُسَ او یونس ته چې زوی د متیٰ وو وَلُوْطًا او لوط نه چې زوی د هاران ابن آزر وو چې ورور دی د ابراهیم وَکُلًّا فَضَّلْنَا او دا قول بهتر کړی دو مور په نبوت سره عَلَی الْعٰلَمِیْنَ ﴿۸۶﴾ پر تمام عالم له ملائکو له انسو له جنو وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ او بعضو ته له پلرو څخه دی پیغمبران نو ته سمه لاره بنو ولی وه مور وَذُرِّیّٰتِهِمْ او بعضو ته له فرزند انو دوی هم وَاِخْوَانِهِمْ ۚ او بعضو ته له ورونو دوی هم وَاجْتَبَیْنٰهُمْ او غوره کړی و وا قول پیغمبران مور وَهَدَیْنٰهُمْ او برابر کړی و مور دوی اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۸۷﴾ لاری سمی ته چې لاره د رضوان ده ذٰلِكَ دا دین چې دغه پیغمبران پرروان و وهُدَی اللّٰهِ دین د خدای دی یَهْدِیْ بِهٖ چې پرسره لاس برابروی خدای په دی دین سره مَنْ یَّشَآءُ هر هغه څوك چې اراده وشی دده دبرابری دهغه مِنْ عِبَادِهٖ ؕ له بندګانو څخه لو وَلَوْ اَشْرَكُوْا اوکه شرك اختیار کړی وای دی پیغمبران نو سره له دی کماله او فضله لَحَبِطَ عَنْهُمْ نو هر اینسنه خراب شوی به وو له دوی څخه مَّا كَانُوْا هغه قول عمل چې وو دوی یَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ چې کړی وو دوی حکم چې کفر حبطه کونکی د تیرو تولو اعمالو دی اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دا قول پیغمبران هغه کسان دی اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چې ورکړی وو مور دوی ته کتاب وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ او حکم د پاره د فیصل د امور و او پیغمبری فَاِنْ یَّكْفُرْ بِهَا پس که کفر اختیار کا په دے کتاب او حکم او نبوت پوری هٰٓؤُلَآءِ دا معاندان د قریشو فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا نو په تحقیق سره وکیلان او تیار کړی دی مور د پاره د ایمان راوړو په دی کتاب او حکم او نبوت قَوْمًا یو داسے قوم لَّیْسُوْا بِهَا چې نه دی دوی په نه دی شیا نو پوری بِكٰفِرِیْنَ ﴿۸۹﴾ نه

عه یعنی په بیان دی آیت مذکور سره ۱۲

منو نکی چے پیغمبران اوتابعان دوی دی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا تیر یادشوی پیغمبران هغه دی هَدَى اللّٰهُ چے لاړو رته ښوولی دی خدای د خپل دین چے اسلام دی فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ پس په طریقه دوی پسی ته هم اقتداء وکړه اے رسوله! په ایمان او په توحید او په اصولو دین کښے نه په شرانګو کښے قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ وودی کفار وته چے نه غواړم زه له تاسے څخه عَلَيْهِ اَجْرًا په دی پیغام رسولو سره څه مزدوری لکه چے نور پیغمبران نوبه نه غواړی پر دعوت اِنْ هُوَ نه دی دا تبلیغ زما یا قران اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۰﴾ مګر پند دی د ټولو عالمیانو لپاره انس اوجنو روایت دی چے مالك بن ضیف لوی یوسر حلقه وو له احبارو د یهودو چے د پیرشرب وو د رسول علیه السلام لوړ راغلی له د لی سره او د یره جګړه کوی وهمره وکړه نو رسول ورته ووایل چے ستا دی په هغه خدای قسم وی چے تورات ئی پر موسےٰ نازل کړی وو چې تاسو تورات کښے لیدلی دی چې خدای له خپله ژبه حبره سره بغض لری د ه ووایل هو په تورات کښے شته بیا رسول ورته ووایل چے هغه څرګنده خوته ئی نو په غضب شو اووی ویل چے خدای پرهیڅ بشر له سره هیڅ کتاب نه دی رانازل نو نازل شو وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ او تعظیم نه دی کړی دی یهودو د خدای حَقَّ قَدْرِهٖٓ حق د تعظیم د ه یعنی چې د ه سره لائق وو اِذْ قَالُوْا چے ووایل دوی مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ نه دے رانازل لے خدای عَلٰى بَشَرٍ پرهیڅ بشر مِّنْ شَيْءٍ د هیڅ شی یعنی نه وحی او نه احکام د شرعے قُلْ ووایه ودوی ته مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ نو چا رانازل دی هغه کتاب جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى چے راوړی موسےٰ نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ په دی حال کښے چې ر ښتیا ئی کونکی دی اور هنما ئی دی د پاره د خلکو تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ چے گرنړوی تاسے دا کتاب پا ني پا ني بیلے بیلے قطعی د پاره د دی چے پکښی خپل تصرف کول د رته ممکن شے په دی شان تُبْدُوْنَهَا چے ښکاره کوی ځنډی هغه قطعی چې ارا ده وشی ستا سے وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا او پټوی ځنډے د یری قطعی لکه لغت د رسول او ایت د رجم او دا سے نور هم وَعُلِّمْتُمْ او اګاه کړی شوی یاست تاسے اے اهل کتابو په دی کتاب سره مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا په هغه احکامو چے نه

پوهیدا ست په هغوسرۍ تاسے د اوامرو اونواهیو د حلالولو او د حرامولو اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ نه تاسے اونه پلرونه ستاسے اوهرکله چه دوی ددے جواب وده ته وسرکړی چه د کتاب پرمونږ چا رانازل کړی دی قُلِ اللّٰهُ لا ونوته وسرته ووایه چه خدای رانازل کړی (الزبیرلی) وو ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ نوبیا دوی پریږده پخپل باطل کښے چه غوڼی وهے يَلْعَبُوْنَ (۹۱) چه لوبے کوی وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ او دا قران یوداسے کتاب دی چه رانازل کړی دی موږ مُبٰرَكٌ چه ډیر برکتناکه دی اوفائده مند دے مُصَدِّقُ الَّذِيْ رشتینی بلونکی دی دهرهغه کتاب بَيْنَ يَدَيْهِ چه وده ترخه تیرسویدے لکه تورات، انجیل، زبور یعنے دا قران موږ رالیږلے دی دد روکاره وو پاره اوّل دبرکت دپاره دوهم دپاره د تصدیق د تیرو کتابونو وَلِتُنْذِرَ اَمَّ الْقُرٰى او دَیم ددے دپاره چه تر په ده سره وبیروی اصل د تولو قریو کلو، چه مکه ده اوودی ته اُمُّ الْقُرٰى حُكْمه وایی چه نوزاف، یعنی وسط د تولو روی زمین ده کذا فی المدارک وَمَنْ حَوْلَهَا اوهغه خوك چه چاپیره دی پرده دمشرقه ترمغربه د شمالنه ترجنوبه وَالَّذِيْنَ اوهرچه هغه کسان دے يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان راوړی پرورځ د قیامت هغه چه دے يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ایمان راوړی پردی قران یا پردی پیغمبر باندے وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ اوحال داچه دوی پرلمانځه خپل باندے يُحَافِظُوْنَ (۹۲) هروخت فهمداروی روایت دی چه هرکله مسیلمة الکذاب او اسود عنسی دعوی د پیغمبرۍ وکړه اودرسول علیه السلام پرنږه مبارك غبار پریواتے اوخاطر شریف یې په دی درواغو ډیرخفه سونو دیاره داظاهر دظلم ددے او دتسلے دخاطر دده نازل سو وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوك دی ډیرظالم مِمَّنِ افْتَرٰى ترهغه چاچه وترې په ناحقه سره عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پر خدای درواغ یعنے چه نږدې پیغمبر کړی یم اَوْ قَالَ اوویاوایی دی اُوْحِيَ اِلَيَّ چه وحی کړه سوے دی وما ته وَلَمْ يُوْحَ اوحال داچه وحی نه وی کړه سوے اِلَيْهِ شَيْءٌ وده ته دهیڅ شی روایت دی چه عبد الله بن سعید چه کاتب دوحی وو په هغه وخت چه دا دری ایاته نازل سو چه وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ او پرکاغذ لیکل بیا چه وَمَا يُدْرِيْكَ تر دے چه انشاناه خَلْقًا اٰخَرَ نو ده ویره تعجب شخنه وویل فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ نو رسول علیه السلام

ورته وویل چې دا هم ولیکه چې ورپسې همدا سې نازل شوی دی نو عبدالله بیرته مرتد شو اووېل ئې چې که دی پیغمبر وی په وحی سره خو برما هم دغه دی وحی راغلې نو دده په باب کښې نازل شو وَمَنْ قَالَ اوېل څوک دی دیر ظالم ترهغه چا چې وائی سَاُنْزِلُ شر دی چې زه به هم نازل کړم مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ط په مثل دهغه کلام چې رالیږلے دی خدای پاک وَلَوْ تَرٰٓى اوکه وویني ته اِذِ الظّٰلِمُوْنَ هغه وخت چې راځصاکړه شي دا ظالمان یعنې هرهغه څوک چې دعویٰ ئې کړی ده پیغمبری یا دوحی فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ په سکراتو اوسختیو د مرګ کښې وَالْمَلٰٓئِكَةُ او ملائکه العذاب چې دی بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ج غځونکی به وی دلاسوخپلو پاره دقبض دروح یا دوهلو په مُتَرکو اتشینو اووائی به ورته چې اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط سړا کاږی ارواح خپل له تنو یا ځانونه خپل دغلبه څخه کهئ را ایستلای شے اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ نن ورځ چې ستاسے نن ورځ چې دمرګ ستاسے ده جزا به درکول کیږی وتاسے ته عَذَابَ الْهُوْنِ په عذاب دخوارولو سره ترابدالابده پورې بِمَا كُنْتُمْ په سبب ددی چې واست تاسے تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ چې ویل به مو پرخدای غَيْرَ الْحَقِّ غیرله حق یعنې درواغ چې دی شریک اوبڅه اوولد لری وَكُنْتُمْ اووائست تاسے عَنْ اٰيٰتِهٖ له آیتونو ده تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ چې گردن کښې به موکوله اوتعظیم اوتامل به مو پکښې نه کاوی وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا اوهر آئینه په تحقیق سره چې راغلاست تاسے مورلره د پاره دحساب او دجزا فرادی یوازی بیله مالله اوبے فرزندۍ بی حشمته بی مرونډۍ بی یاره بی مددګاره اود افرادی جمع دفریدده لکه اسیر او اُسارۍ اوراغلې یاست تاسے په هغه شان كَمَا خَلَقْنٰكُمْ لکه چې پیدا کړی وی مورلره اَوَّلَ مَرَّةٍ اول کرت له مورلره یوازی برښې (لخ) بے هیڅ وَّتَرَكْتُمْ اوپریښوئ تاسے مَّا خَوَّلْنٰكُمْ هغه چې درکړی وو مورلره وتاسے ته په دنیا کښې او دیرغر به کولو تاسے پرخلګو په هغه پریښولو ستاسے وَّرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ج وروسته وشاته اونه موتحکښې ولیږل اونه مودتاسے سره لره وړه وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ اونه وینو مورلره تاسے سره شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ هغه شفاعتګرستاسی

ده په مترکو یعنې په ګومړ ووده ویږځ ۱۲

زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ چے ویل بہ تاسے چی بیشکه دوی فِیْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۱ په تاسی کښے شریکان دی له خدای سره په تربیت ستاسے کښی اوبه استحقاق د عبادت کښی لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَیْنَكُمْ هرایئنه په تحقیق سره پری سوهغه پیوند چے ستاسے په مینځ کښی وو وَضَلَّ عَنْكُمْ او ورك شو له تاسے ځمنه مَّا كُنْتُمْ هغه شی چی واست تاسے تَزْعُمُوْنَ (۹۴) چی ګڼل به تاسے چی دا شفعاء دی اِنَّ اللّٰهَ بے شکه خدای چی دی فَالِقُ الْحَبِّ چوونکی دد انی ډنځم دی چے ډکی ځمنی راوباسی وَالنَّوٰى ۱ او د زړی دی چے نها لګی ځمنی راوباسے یُخْرِجُ الْحَیَّ سره اباسی ژوندی چے شین ډکی دی مِنَ الْمَیِّتِ له مړی چے وچه دانه ده یا ولد له نطفے یا مرغه له هګی، یا مؤمن له کافره یا عالم له جاهله وَمُخْرِجُ الْمَیِّتِ اورا ایستونکی د مړی دی چے دانه یا نطفه یا هګی ده مِنَ الْحَیِّ ۱ له شروندی ځمنه چی شین ډکی یا آدمی یا مرغه دی اوهر هغه چی داقول کارونه چی ستاسی ئی په ستر ګو وینی کولای شے هغه په مړی شروندی کولو هم قادر دی نو تاسے له بعثه و لی انکار کوی ذٰلِكُمُ اللّٰهُ داشروندی کونکے اومړ کونکی چی دی خدای دی چے لایق د عبادت دی نه بتان فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ (۹۵) پس کوم طرف ته ګرځی تاسے لره هغه ځمنه فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۲ چوونکی اوراایستونکی دی د صبح له ظلمت ځمنه دشپی یعنی بیوونکی د تیری (تیاری) اوراایستونکی د رنا دی وَجَعَلَ الَّیْلَ اوګرځولی دی ده شپه سَكَنًا ارام کاه د خلګو چے ستومانی پکښے وباسے له هغه مشقاتو دورځے وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۱ اوهمد اسے ګرځولے دی ده لمر اوسپوږمی حُسْبَانًا ۱ ښے د حساب دمیاشتو اوکلو چے پیدا کیږی دا دواړه له اختلافه د دوران د دوی ذٰلِكَ داګرځول دوی د پاره د حساب تَقْدِیْرُ الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ (۹۶) اندازه ده د هغه خدای چے غالب او دانا دی وَهُوَ الَّذِیْ او دی هغه خدای دی چے په قدرت کامله خپل سره جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ پیدا کړی دی ده تاسے ته ستوری لِتَهْتَدُوْا اِبِهَا د پاره د دے چی لار بیا پیدا کړی تاسے په دی ستر و سره فِیْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ په تاریکو دشپی په بیابان کښے وَالْبَحْرِ ۱ او په دریاب کښے قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ په تحقیق سره روښانه کړی دی موږ نښی د قدرت خپل لِقَوْمٍ

عه هرکلمه چے بیان ئی کړه قدرتے کارونه له ځمکی اودا ځمکنی قدرتی ګاروند اسمان بیانوی ۱۲

يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۷﴾ دپارہ دھغه قوم چے پوهیږی او استدلال کولای شے وَهُوَ الَّذِیْٓ او دی هغه خدای دی اَنْشَاَكُمْ چے پیدا کړی ئی یاست مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ له یوه شخصه چے آدم دی فَمُسْتَقَرٌّ پس قرار گاه مقرر دے تاسے ته په پشت دپلار کښے یا پرسر دنگی باندی وَّمُسْتَوْدَعٌ او خای دامانت اینبوولودی چے هغه رحم دی دمور یا قبردی اوچاپے پرعکس ویلے دی قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ په تحقیق مفصل بیان کړی دی موږ نښی دوحدانیت خپل لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾ دپارہ دهغه قوم چے فهم لری وَهُوَ الَّذِیْٓ اودی هغه خدای دی اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً چې راکښته کړی دی ده له اسمانه اوبه فَاَخْرَجْنَا بِهٖ پس راایستلی دی موږ په دی اوبو سره نَبَاتَ كُلِّ شَیْءٍ نږغونه دهر شی دانے بجمل دواومفصل ئی دادی چې فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ پس راوه ایسته موږ له دے نبات څخه خَضِرًا یوشین وکی چے بیخ اوښاخ لری نُخْرِجُ مِنْهُ چے بیارا باسو موږ له دی شین وکی حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ج دانیو پرېل سپرہ یعنی وږی وَمِنَ النَّخْلِ اورا باسو دخرما ووڅخه مِنْ طَلْعِهَا له غنچی ددوی قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وږی نږدی وځکی ته یا یوبل ته سره له ډیره باره اوداجمع ده دقنوٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ اورا باسو باغونه دانګورو وَّالزَّيْتُوْنَ اورا باسو زیتون وَالرُّمَّانَ او انار مُشْتَبِهًا په دی حال کښې چې بعضی وني ددی انارو په شان دنورو بعضووی په څانګو اوپه پاڼو کښے وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ او مخالف وی سره په خوند کښې دمیوے داسی چے یوه به خوږه وی اویله به تروه وی یوه مایه او بله خشکه اویوه به دانه داره وی اوبله بی دانے اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ وګورئ میوی دهغې یوی وني ته اِذَآ اَثْمَرَ په هغه وخت کی چے په اول کښے میوه راوباسے نوڅرنګه وړه او خامه او بی خوندہ شے وَيَنْعِهٖ او بیاوګورئ وخت درسیدو او پخیدو دی ته چے څنګه خوشرنګه او خوشبویه اوخوشخوړنده شی اِنَّ فِیْ ذٰلِكُمْ بیشکه په دی تیروسوو قولوکښې لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۹۹﴾ هرانښه رنګارنګ نښے دی دپارہ دهغه قوم چے باورکونکی دی په دی قادراوحکیم دی وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ اوپیدا کړی دی دی

کفارو خدای لره شُرَكَآءَ الْجِنَّ شریکان چے جن دی یعنی شیطانان ځکه چی دوی والی چی خالق دهر خیراوده رنافع شی خدای دی اوخالق دهرشراودهرمضرشی شیطان دی وَخَلَقَهُمْ اوحال داچے پیدا کړی دده دی داشیطانان هم اودوی مخلوق له خپل خالق سره شریك بولی وَخَرَقُوا لَهٗ اوسازکړی (زیولی اوجوړ کړی) دوی ده لره خپل ځانه بَنِيْنَ زامن لکه عزیرؑ اوعیسیٰ علیهما السلام وَبَنٰتٍ اولونی لکه ملائکی بِغَيْرِ عِلْمٍ بیله پوهے په دی گفتارخپل سره چے خطا دی که صواب سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى پاك دی خدای اوبلند شان دی عَمَّا يَصِفُوْنَ (۱۰۰) هغه څه چی دوی وایی لره نروی اوشریك بولی بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ پیدا کونکی دی داسمانونو بی نمونی وَالْاَرْضِ اوده ځکی اَنّٰى يَكُوْنُ له کومه به پیدا شے لَهٗ وَلَدٌ ده لره فرزند وَّلَمْ تَكُنْ اوحال داچے نشته لَّهٗ صَاحِبَةٌ ده لره ښځه ځکه نشته چی دخالق اود مخلوق په مینځ کی هیڅ مجانست (مناسبت) نشته سره اویل اچے ولادت له خواصو ځمنه داجسامو دی اودے پاك دی دجسمه څخه وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ او پیدا کړی دی ده هرشی اوخالق خو بی پروا وی دخپل مخلوق څخه وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ (۱۰۱) اودی پرهرشی ښه دانادی ذٰلِكُمُ اللّٰهُ داموصوف چی دی په دی تیرو صفاتو سره دغه خدای دی چے لائق دعبادت هم دی دی رَبُّكُمْ چی رب ستاسے دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته هیڅ معبود لائق دعبادت مگرهم دی دی خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ چے پیدا کونکی دهرشی دی فَاعْبُدُوْهُ نو پس عبادت کوی دده وَهُوَ اودی چے دی عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ (۱۰۲) پر هرشی نگهبان اووکیل اومتولی دامورو دعبادودی لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ نه شی پیدا کولای اواحاطه نشی کولای پرده سترگی دهیڅوا وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ اوپیدا کوی دسترگی یعنی احاطه کوی علم رده پرځاونداونو دسترگو وَهُوَ اللَّطِيْفُ اودی لطیف دی ځکه سترگی ئی نشی لیدلای الْخَبِيْرُ (۱۰۳) ښه خبردار دی په اسرارو ځکه علم ئی پرهر شی محیط دی نوپه دی کښی لف نشر مرتب دی قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ په تحقیق سره راغلے دی وتاسی ته بښکاره ښکی وَمَنْ سَّرِيْكُمْ له جانبه درب ستاسے فَمَنْ اَبْصَرَ پس

هر څوك چې وويني حق او ايمان پرې راوړي فَلِنَفْسِهٖ ۚ پس هغه ئې نفعه دخپل ځان ده وَ مَنْ عَمِيَ او هر څوك چې پوندشي او هغه ښكاره مجترونه ئې ونه ليدل فَعَلَيْهَا ۚ پس پر ده باردي ضرر دهغه پوندُ اله وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ او نه يم زه پرتاسے بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾ نگهبان چې اعمال ستاسے به ساتم او بياتاسے لره جزا پردركوم بلكه زه رسول يم او پرما تش تبليغ دی وَكَذٰلِكَ او همدا سے لكه چې دا تيرا ايتونه بيان كړی دی موږ په مقتضیٰ د حكمت باالفعه سره نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ بيا نوموږ دا ايتونه دقران پس له دی هم كله له خوفه وړجاته اوكله له وعده ووعيد ته چې اوريدونكی پند په وا خلے وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ اوچې دا سے ونه وائی اهل دمكی چې تا داله بل چاځخه زده كړی دی څكه چې دا قسم گفتار مقدور د بشر نه دی وَلِنُبَيِّنَهٗ اوچې بيان كړو موږ دا قران لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ د پاره دهغه قوم چې پوهيږی چې دا كلام د خدای دی **روايت** دی چې يوه ورځ كفارو عرب بولله رسول صلے الله عليه وسلم سره ناست وو اودی ئې دخپلو اباؤ و دين ته وبالی نو نازل شو اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ پيروی كوه اے رسوله دهغه قران چې راليږلی شوی دی اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ وتاته له ربه ستا يعنے د توحيد پرلاره څه چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ نشته لائق د عبادت بل هيڅوك مگر يوازی هم دی دی وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ اوځنگ وكړه د مشركانو څخه او التفات مه كوه د دوئ اقوالو ته وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوكه اراده وای د خدای د ايمان د دوی مَآ اَشْرَكُوْا نو شرك به نه وای اختيار كړی دوی وَمَا جَعَلْنٰكَ او نه ئې مقرر كړی موږ ته عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ پر دوی باندی نگهبان وَمَآ اَنْتَ او نه يې ته عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ پر دوی د اسے وكيل چې د دوی كار پرتا سپارل شوی دی **روايت** دی چې هركله ايت د انكم و ما تعبدون من دون الله حطب جهنم راغلے نو مشركانو زده قريشو و رسول ته وويل چې تا سے نه موږ و خدايانو ته نه رسوږ ول مه وركوی اوكه منعه نه شوی نو بيا به موږ هم ستاسے د خدای زوږ ول وكړو نو نازل شو وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ او نه رسوږ ول مه كوی ای مؤمنانو هغه بتانو ته يَدْعُوْنَ چې بولی ئې د اكفار په خدايانو سره مِنْ

عه معنی دا چې بيشكه تاسے او هغه چې عبادت ئې كوی تاسے خشاك (لرگی) ياست دوه ورځ ۱۲

دُونِ اللّٰهِ بیله خدایه فَيَسُبُّوا اللّٰهَ پس زور ول به وکړی دوی هم بیا وخدای ته عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ له بغضه اوله ظلمه په ناپوهی سره چې دا نسبت پروردګار ته مناسب نه وی او دا حکه چې سبب دزور ولو به وخدای ته تاسی شی كَذٰلِكَ اوهمدا سې لکه چې دا کفار و ته بنایسته کړی دی موږ عملونه د دوی زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ بنایسته کړی دی موږ وهری ټولی ته عَمَلَهُمْ س کړاردد دوی په نظر د دوی کښی که نیک دی یه واقعه کښی اوکه بد دی ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ پس له هغه بیارب د دوی ته مَّرْجِعُهُمْ ورتله د دوی دی فَيُنَبِّئُهُمْ پس خبر به کړی خدای دوی په وخت دعمل کښې بِمَا كَانُوْا اپه هغه عمل سره چې وو دوی يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ چې کولو به ئ په دنیا کښی **روایت** دی چې مشرکانو دقریشو ورسول ته وویل چې ته همیشه موږ واپی چې موږ له تیږی څخه اوبه راخوټکولی وی او عیسیٰ ؑ به مړی راژوندی کول نو ته هم موږ ته یو دا سې معجزه ښکاره کړه نو موږ به هم پرتا ایمان راوړو نو رسول علیه السلام ورته وویل چې خرنګه معجزه غواړی دوی ورته وویل چې دا کوه صفا ستا په دعا سره د سرو زرو شی اوغلیظ (سخت) قسم ونه پی وکړه چې که دا سره زر شی نو موږ به ایمان راوړو بیا چې هرکله ده اراده وکړه د دعا نو نبی علیه السلام راغلی چې رب العزت واپی چې دا کوه صفا به زره اوس زرکړم اما که بیا پی ایمان نه راوړی نو بیخ به ئ راوکا ږم حُکمه چې دا زما سنت جاریه ده نو ستا خوښه ده نو رسول ؑ دُعا موقوفه کړه لکه چې وائ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ اوقسم کوی دوی په خدای سره جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ډیر سخت د قسمونو خپلو لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ چې هر اډینه که راغله ودوی ته هغه ښه چې دوی پی غواړی لَيُؤْمِنُنَّ بِهَا ط نو هر اډینه ایمان به راوړی دوی پر هغه ښه باندی خامخا قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ ووایه ودوی ته چې بیشکه هم دا خبره ده چې اَیتونه چې دی عِنْدَ اللّٰهِ ټوله د خدای سره دی او په راایږو لو سره پی هم قادر دی که ئ راایږ له او دما سره نشته چې د رته ئ راوړم وَمَا يُشْعِرُكُمْ لا او څه شی به آګاه کړی تاسی ته اے مؤمنانو اودا استفهام انکاری دی

یعنی داسے شی نشته اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ چے دا معجزه چے دوی ئ غواړی په هغه وخت کی چی راشے دا معجزه لَا یُؤْمِنُوْنَ (۱۰۹) هم دوی ایمان نه راوړی یعنی ماته دا معلومه ده چے دوی په هیڅ شان ایمان نه راوړی اوتاسی ته دا معلومه نه ده وَنُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ او چپه کوو موږ زړونه دوی له قبلولو څخه دحق وَاَبْصَارَهُمْ اوستر گی دوی له لیدلو څخه دحق نو پرږدی معجزه چے اوس ئ غواړی هم ایمان نه راوړی دوی کَمَا لَمْ یُؤْمِنُوْا بِهٖٓ لکه چی ایمان یی نه دی راوړی په هرهغه معجزه چے ظاهره شویده اَوَّلَ مَرَّةٍ اول ځل مکی تردی لکه شق القمر یا داسے نورې چې وَنَذَرُهُمْ او پرږدو موږ دوی فِیْ طُغْیَانِهِمْ په گمراهی خپله کښی یَعْمَهُوْنَ (۱۱۰) هیشته به متحیروی دجهته دضلالته

وَلَوْ اَنَّنَا اوکه بیشکه موږ چے یو نَزَّلْنَآ اِلَیْهِمُ الْمَلٰٓئِکَةَ راولیږلے وای موږ دوی کفارو ته ملائکی لکه چی دوی ئ غواړی اووائی چے لولا اُنْزِلَ علینا الملٰئکة وَکَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰی او خبری هم وسره کړی وای مړو لکه چی وائی فاتوا بآبائنا الآیة وَحَشَرْنَا عَلَیْهِمْ اوجمع کړی وای موږ پرد وی کُلَّ شَیْءٍ قُبُلًا هرشی چے په دنیا کښی وی مقابل چے شاهدی ئ ویلی وای پر وحدانیت نه موږ اوپرنبوت د رسول مَّا کَانُوْا اهم به نه وای دوی لِیُؤْمِنُوْٓا چے ایمان ئ راوړی وای اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ مگر چی اراده شوی وای دخدای دایمان راوړو دوی وَلٰکِنَّ اَکْثَرَهُمْ اولیکن زیات دے مسلمانانو چی دی یَجْهَلُوْنَ (۱۱۱) نه پوهیږی په دی چی دوی ایمان نه راوړی اگرکه دا معجزه وو یني هم وَکَذٰلِكَ اوهمدا سی لکه چی تالره موږ پیدا کړی دی دښمنان دمشرکانو نځه جَعَلْنَا لِکُلِّ نَبِیٍّ پیدا کړی وو موږ هرنبی لره عَدُوًّا دښمن چی څوک دی شَیٰطِیْنَ الْاِنْسِ گردن کشان دانسو چی کفار دی وَالْجِنِّ او دپیریانو یُوْحِیْ بَعْضُهُمْ چے وسوسه اچوی بعض دوی چے له جنو څخه دی اِلٰی بَعْضٍ او بعضو نورو ته چے له انسو څخه دی یا دانسو انسو ته اودجنو وجنو ته زُخْرُفَ الْقَوْلِ هغه مزین کړی

الجزء السابع ۷

عه معنی داچی ولی نشی نازلولای پرموږ باندی ملائکی یعنی ملائکی دی نازلی شی ۱۲

عه چلوول د سپورې ۱۲

[illegible] دیارلسه غرور لاط دیاره د فریب اودغه کولواو د زړه ورکولو د خلکو پرمعاصي
د [illegible] اوآیاده کړي واي خداي دایمان د دوي مَا فَعَلُوْهُ نو نه به ئي واي
کړي د دې ټولې لږې مهلتې لپاره پس پریږده دوي وَمَا يَفْتَرُوْنَ (۱۱۲) او
هغه دروغ چې جوړوي دوي له خپلې خانه څخه وَلِتَصْغٰٓى اِلَيْهِ او بل دیاره دې
ځي مېل وکړي دې د دې دروغ گفتارته اَفْـِٔدَةُ الَّذِيْنَ زړونه د هغه کسانو لَا
يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چې نه راوړي دوي ایمان پرورځ د قیامت وَلِيَرْضَوْهُ او
بل دیاره دې چې خوښ کړي دا کفار د غه گفتار د دروغو خپل ځان ته وَ
لِيَقْتَرِفُوْا او بل دیاره دې چې وگټي دوي له گناهو څخه مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ (۱۱۳)
هغه چې دوي ئي گمهوڼکي دي او ووایه ووي ته اے رسوله چې اَفَغَيْرَ اللّٰهِ ایا
پس بیله خدایه اَبْتَغِيْ حَكَمًا غواړم زه حکم کونکی نه ما او ستاسے په مینځ کښے
چې حق او باطل سره جلاکړي وَهُوَ الَّذِيْٓ اوحال دا چې دی هغه خدای دی اَنْزَلَ
اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ چې راليږلی دی ده وتاسی ته کتاب یعنی قرآن مُفَصَّلًا ښه دی حال
کښې چې مفصل دی یعنی حق او باطل پکښے بیله بیان شوی دی وَالَّذِيْنَ اوهر چې هغه
کسان دی اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چې ورکړی دی موږ ودوی ته کتاب لکه ابن سلام اوملګري
دده يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ پوهیږی دوی په دې چې بیشکه دا قرآن چې دی مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ
راليږل شوېدی له ربه څخه ستا بِالْحَقِّ په حق سره فَلَا تَكُوْنَنَّ پس مه کیږه ته
اے سامعه مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ (۱۱۴) له شک راوړونکو څخه وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ اوتمام
شو گفتار د رب ستا یعنی پوره شو لدامره اوله نهی اوله وعدې اوله وعیدې کا صِدْقًا
له جهته د صدق گولو په وعدا وپه وعید کښې وَّعَدْلًا اوله جهته د عدل پدامر
اوپه نهی کښې لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ نشته هیڅوک تغیرورکونکی اخبارواو احکامو
دده ته لکه یهود وچې واحکامودتورات ته تغیرورکړي ووئکه چې ده پخپله ویلی دی
اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وانا له لَحٰفِظُوْنَ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (۱۱۵) اودی اوریدونکی

عه یعنی داچې خدای وائی په تحقیق سره موږ نازل کړی دی دا قرآن اوموږ چې یوسا تونکی یو ده ده تغیر (۱۲)

دی د بنکارہ اقوالو د وی او بنه خبردار دی په پتو د دوی وَاِنْ تُطِعْ اوکه خبرہ و منی تہ اَکْثَرَ مَنْ فِی الْاَرْضِ دز یا تو له هغه خلکو چے په محکمه کښی دی یعنے دکفارو محکمه چی اکثرهم د وی دی یُضِلُّوْكَ نو وا به پروی تا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط دلاری څخه د خدای اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ پیروی نه کوی دوی اِلَّا الظَّنَّ مگر د گمان خیل چے هغه دا دی چی پلرونه نرمود قول پرحق وو وَاِنْ هُمْ اونه دی دوی اِلَّا یَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مگر د رواغ تړی پرخدای په حلالو بللو د مرداری کښی او په حرام بللو د بحائرو او سوائبو او په نسبت د دله او د شریک کښی اِنَّ رَبَّكَ بے شکه رب ستاچے دی هُوَ اَعْلَمُ دی بنه دانا دی مَنْ یَّضِلُّ په هغه چاچی لغزیدلی دی عَنْ سَبِیْلِهٖ ج دلاری څخه د ده وَهُوَ اَعْلَمُ او بیا دی بنه دانا دی بِالْمُهْتَدِیْنَ ﴿۱۱۷﴾ په هدایت پیدا کونکو باندی فَكُلُوْا مِمَّا پس خوری له هغه مذبوحی څخه ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَیْهِ چے یادکړہ شوی وی پرهغه مذبوحے باندی په وخت د ذبحی کښی نو مرد خدای اِنْ كُنْتُمْ كه یاست تاسے بِاٰیٰتِهٖ په آیتونو د هغه چی د حلالو او د حرامو په باب کښی دی مُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۱۸﴾ ایمان را وړونکی یعنی د خدای په حکم عمل کوی او د کفارو په ویلو عمل مه کوی چی دوے تاسے د رتہ والی ځی دا بدکارد ی چی تاسے خپلی وڑلی پخپله خوری وَمَا لَكُمْ اوڅه باعث دی پرتاسے اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا پردی چے نه خوری د هغه مذبوحی څخه ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَیْهِ چی یادکړہ شوی وی نو مرد خدای پرهغه باندی په وخت د ذبحی کښے وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ او حال داچے په تحقیق سره واضح بیان کړی دی خدای وتاسے ته مَّا حَرَّمَ عَلَیْكُمْ هغه شیان چی حرام کړی دی د ه پرتاسی په سر د دی سورۃ کښے چی هغه دادی حرمت علیکم المیتۃ والدم الآیۃ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَیْهِ ط مگر هغه شی له دی محرما تو څخه چی ارکړہ شوی یاست وهغه تہ اوورته محتاج کړہ سولاست نو هغه هم حلال دی د رته اما په قدر د دفع د ضرورت وَاِنَّ كَثِیْرًا او بیشکه ډیر له خلکو چی دے لَّیُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ هرا ینه گمراه کوی خلک په تحلیل د حرامو او په تحریم د حلالو سره

پہ اسرزوگا نوخپلو بِغَيْرِ عِلْمٍ بیلہ پوھی یعنی بے حجتہ اود لیلہ پرھغہ باندی اِنَّ رَبَّكَ بیشکہ رب ستاچی دی هُوَ اَعْلَمُ یا لِلْمُعْتَدِيْنَ (۱۱۹) دی بنہ دانا دی پہ تیریدونکو لہ حد خپلہ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ اوپریږدی بنکارہ گناہ وَبَاطِنَهٗ او پتہ لہ دی گناہ یعنی لاس واخلے لہ مطلق گناہ ځکہ کہ بنکارہ وی او کہ پتہ اِنَّ الَّذِيْنَ بے شکہ ھغہ کسان يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ چے کسب کوی دگناہ کہ ظاھرہ وی کہ باطنہ یعنی پتہ سَيُجْزَوْنَ ثرردی چے جزا بہ ورکړہ شی و دوی تہ پہ قیامت کی بِمَا كَانُوْا پہ ھغہ گنا ھونہ چی وو دوی پہ دنیا کښے يَقْتَرِفُوْنَ (۱۲۰) کول بہ ئی داگنا ھونہ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا اومہ خورئے لہ ھغہ مړی لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ چی نہ وی یادکړہ شوی نوم د خدای عَلَيْهِ پرھغہ عَمَدًا پہ نزد دامام اعظمؒ اوکہ سَهْوًا ترك سوی وہ نوخوراك ئی ړوادی وَاِنَّهٗ او بیشکہ خوراك دھغی چے نوم د خدای نہ وی یادسوی اما عمدًا لَفِسْقٌ ط ھرائینہ فاسق توب دی وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ اوبیشکہ شیطانان چی دی لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰٓـئِهِمْ ھرائینہ وسوسے اچوی ودوستانو خپلو تہ لہ کفار وځنې لِيُجَادِلُوْكُمْ ج دپارہ ددی چی جګړہ وکړی لہ تاسی سرہ اود رتہ ووایی چے دابدکوی چے دسړی دوشړلی غوښہ خوری اود خدای دوژلی غوښہ مہ خوری وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اوکہ فرمان ومنی تاسے ددوی پہ حلا لولو حراموکښی اِنَّكُمْ نوبیشکہ چے تاسے لَمُشْرِكُوْنَ ع (۱۲۱) ھرائینہ اوسے بہ تاسے مشرکان پہ ترك د فرمان ددہ سرہ دپارہ دغیر روایت دی چی پہ اول د اسلام کښی رسول علیہ السلام اوومؤمنانو تہ بہ دعمرؓ اود ابوجہل دلاسہ ډیرانرسیدی نوبیا رسول علیہ السلام سوال وکړی چی اے سړیہ دا دین د اسلام قوی کړہ پہ یوہ ددوی دوو سرہ چے عمر بن خطاب دی اوابوجہل دی نودا دعاد عمرؓ پہ حق کښی قبولہ شوہ اودہ اسلام راوړی لکہ چی وائی اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا ایا ھرھغہ څوك چی دی مړوی پہ کفر یا پہ جہل یا پہ ضلالت سرہ فَاَحْيَيْنٰهُ پس ژوندکړو موږ دی پہ اسلام یا پہ علم یا پہ ھدایت سرہ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا اوورکړو موږ دہ لرہ نور دیقین یادحجت اود دلیل چے پہ ھغہ سرہ دی

تمیز دحق کوی دباطله څخه یَمْشِیْ بِهٖ چې تلې کوی دی په دی نور سره فِی النَّاسِ په خلکو کښی پرسمه لار دامثال دعمرؓ دی پس داشان سړی چې وی هغه کله کیدای شی یعنی نشی کیدای کَمَنْ مَّثَلُهٗ په شان دهغه سړی چې حال دهغه داوی فِی الظُّلُمٰتِ چې همیشه په تاریکو دکفراود جهل اودضلالت کښې پروت وی لَیْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا چې نه وی وتونکی له دی تاریکو څخه هیڅوی کَذٰلِكَ همدا سې لکه چې ایمان بنا ئسته کړه شوی دی په زړه د مؤمنانو کښې زُیِّنَ لِلْكٰفِرِیْنَ بنا ئسته کړه شوی دی وکافرانو ته مَا كَانُوْا هغه عمل چې دی دوی یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ چې کوی ئې چې هغه عبادت دی دبتانو وَكَذٰلِكَ اوهمدا سې لکه چې پیدا کړی دی مورږ په مکه کښی اکابرمجرمان جَعَلْنَا فِیْ كُلِّ قَرْیَةٍ پیدا کړی دی مورږ په هر بنار کښی اَكٰبِرَ مُجْرِمِیْهَا مشران عاصیان دهغې قریې چې پر هغه خلکو د پیر جبر اود تعدی کوی لِیَمْكُرُوْا فِیْهَا دپاره ددې چې مکر اوفریب وکړی په دې قریه کی اوخلك ارډوی دلاری څخه دخدای لکه داکفار د مکی چې لاری سائی په وخت د حج کښی اوهر څوك چې پوښتنه درسولؐ څندی وکړی نوددوی ورته وائی چې ساحر او شاعر اوکاهن دی نوږ ب العزت دپاره دتسلی دحبیب خپل وائی چې وَمَا یَمْكُرُوْنَ او مکر اوفریب نه کوی داکفار اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ مګر له خپلو ځانو سره ځکه چې وبال ئې بیا هم دوی ته راجع دی وَمَا یَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ اودوی نه په پوهیږی روایت دی چې هر کله ابوجهل اوتابعانو ددده وویل چې له بنی عبد مناف سره په هرڅه کښې برابر یواو اوس وحی نازلیږی چې په مورږ کی یو پیغمبر پیدا شوید ی نو دا خبره به ئې مورږ له سره ونه منو نو ترڅو چې پرمورږ هم وحی نه راغلې نه وی نو نازل شو وَاِذَا جَآءَتْهُمْ اٰیَةٌ اوچې راشی او دوی ته کوم ایت د قرآن یا کومه معجزه په اثبات د نبوت د رسولؐ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ نو وائی دوی چې دسرلا به ایمان رانه وړو مورږ پردی ایت یا معجزه حَتّٰی نُؤْتٰی تر هغو چې راکړه شی ومورږ ته هم مِثْلَ مَآ اُوْتِیَ په شان دهغه چې ورکړه شوی دی رُسُلُ اللّٰهِ رسولانو د خدای ته

مناجات :- اے سمیعہ هم بصیرہ اے قریبہ هم مجیبہ
اے رحیمہ هم کریمہ مهربانہ ذوالنوالہ دادہ
اے غافرہ هم غفورہ اے غفارہ دبدکارہ
اے وهابہ ذوالمننہ بے عوضہ دی عطادہ
دا موضع دا اجابت دی چی دعا پکښی قبلیږي
څوك چی خواست کړي په دی میاکښے نو قبولہ ئی دعادہ
څکه چی دوہ اسم ذاته بے فاصله دی را غلے
نو دا ځای دعا جزی دے اوبائد ډیره ژړا دہ
دا عاصے چی سر تاپا یه مالامال دی په ګناهو
دائی ځکښی دی راوړی اوزاری ئی تاته دادہ
چی دی غواړی ته شیان مغفرت پسی رضوان
او حیوة ابدی قلب سلیم سره له زاړہ
بل ذوالمن دی دشهود بل سعادت دی ډاډینو
بل چے تیرشے بے حسابه بل فردوس کښے شه مثواده
که ته ډك ئی له ګناه بخښش غواړه له الله
امید وارئے درحمت شه تل زاری کوه مراده
چا چی دی (مراد علی) ته دعا وکړه له اخلاصه
رب دی دی ورسوی په دواړه کونه ترمراده

اَللّٰهُ اَعْلَمُ خدای ښه دانادی حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ط په هغه ځای کی چی ایږدے هلته پیغام خپل سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ ژر دی چے وبه رسیږی وهغوکسانو ته اَجْرَمُوْا چی مجرمان شوی دی په کفر سره صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ خواری اورسوائی په نزد خدای په قیامت کښے وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ اوعذاب سخت بِمَا كَانُوْا په سبب د دی چی وو

دوی یَمْکُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ چی مکر بازی اوفریب به ئی کاوی د مؤمنانو سره فَمَنْ یُّرِدِ اللّٰهُ پس هرڅوك چی اراده وکړی خدای اَنْ یَّهْدِیَهٗ دده ی چی پرسمه لاره برابر کړی دی یَشْرَحْ صَدْرَهٗ نو خلاصه او ارته کړی سینه دده اوپراخ کړی زړه دده لِلْاِسْلَامِ ج دپاره داسلام قبلولو وَمَنْ یُّرِدْ اود هرچا چی اراده ئی وکړی دی اَنْ یُّضِلَّهٗ دده ی چه چپه اوواړه وی دی دایمان دلاری څخه یَجْعَلْ صَدْرَهٗ نو وکړه زړه وی سینه او زړه دده ضَیِّقًا حَرَجًا تنګه اوډکه د سختی څخه داسی چی ګاڼی وتړلی اوحق ته غاړه نه ایږدی کَاَنَّمَا یَصَّعَّدُ گویا که دی خیژی په ډیر مشقت سره فِی السَّمَآءِ ط واسمان ته یعنی داسی تښتی اولیږی کیږی له قبولو څخه د حق چه والئ اسمان ته څنی وتښته کَذٰلِكَ همدا سی لکه چی زړونه دکفارو ئی تنګ کړی دی له قبلولو څخه د حق یَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ مقرره وی خدای رجس یعنی لعنت په دنیاکښی او عذاب په آخرت کښی عَلَى الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ پرهغوکسانو چی ایمان نه راوړی وَهٰذَا اوداسلام چه دی صِرَاطُ رَبِّكَ لاره د رب ستاده چی ده غوره کړی ده مُسْتَقِیْمًا ط په دی حال کښی چه ډیره سمه ده اوهیڅ کوږوالی نه لری قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ په تحقیق سره بیان کړی دی موږ آیتونه د قرآن لِقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ دپاره د هغه قوم چی پند اخلی لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ مقرر دی دوی لره (پند اخستونکو لره) هغه دارد سلام چی جنت دی عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب د دوی ذخیره دپاره د دوی وَهُوَ وَلِیُّهُمْ اود دی دوست اونا صر دی د دوی پر اعمالو د دوی بِمَا کَانُوْا په سبب د هغه عمل چی وو دوی یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ چی کوله به ئی چه هغه تصدیق ووو قرآن او د رسول وَیَوْمَ یَحْشُرُهُمْ جَمِیْعًا او یاد کړی هغه ورځ چه راجمع به کړی خدای دوی تول یعنی جن اوانس بیا به ورته ووائی یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ای ټولی د جنو یعنی د شیطانانو قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ تاسو په تحقیق سره تاسی د پیروی تابع کړه دخپل

ځان مِّنَ الْاِنْسِ له اد میانو اوانسانانو څخه وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ او وبه والی دوستان دوی شیطانانو مِّنَ الْاِنْسِ د انسانانو څخه چه هغه دوی ترڅو لاندی وو رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ ای ربه زمونږ نفعه واخیسته بَعْضُنَا بعضو زمونږ چه انس دی بِبَعْضٍ په بعضو نورو سره چه جن دی یا په عکس دی سره اونفع د انس داده چه دوی کوڅه دا رښوکانو نفس پرانستی ده او نفع د جنود انسو څخه داده چې دوی ئې مطیعان او فرمانبردار ه شوی دی وَبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِيْٓ اوراورسید مونږ وهغه اجل چې ته اَجَّلْتَ لَنَا چه مقرر کړیدی تا و مونږ ته چه هغه ورځ د قیامت ده او مونږ نه منله نو اوس به زمونږ څخه حال وی قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ نو ویه والی ئې خدای چه اور د دوزخ ځای د استوګنی ستاسی دی خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ په دی حال کښی چه همیشه به اوسی تاسی په دی اور کښی اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ط مګر هغه چه اراده وشی د خدای او تاسی د سعیره څخه ونه مهربیر ته بوزی اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ بیشکه رب ستا خاوند د حکمت دی په هغه معامله کښی چه کوی ئې دی او لیاؤ او اعداؤ خپلو سره عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ بنه دانادی په اعمالو د دوا پر و نو جزاء به ورکړی هریوه ته موافقه د عمل وَكَذٰلِكَ اوهمداسی لکه چه کفار د جنو او د انسو مونږ په دنیا کښی یو پر بل مسلط کړی وه نُوَلِّيْ مسلط به کړو مونږ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بعض د ظالمانو بَعْضًا پر بعضو نورو باندی یعنی په دوزخ کښی به ئې سره ایله کړو چې د اخبره بنه ورته معلومه شی چه دلته هیڅوک وبل ته نفع نه شی رسولای بِمَا كَانُوْا په سبب د هغه عملو سره چه وه دوی په دنیا کښی يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ چه کول به ئې د کفر او د معاصیو څخه او بیا به په ورځ د قیامت ورته ووایل شی دپاره د قطع کولو د غدر د دوی يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ای ټولی د پیریانانو وَالْاِنْسِ او د انسانانو اَلَمْ يَاْتِكُمْ ایا نه وو راغلی وتاسی ته په دنیا کښی یعنی راغلی وه رُسُلٌ مِّنْكُمْ پیغمبران له تاسی څخه او اګر که

پیغمبران خود انسو «انسانانو» څخه وو اما هر کله چه دا دواړه طائفی سره یو ځای یادی شوی نو خطاب ود واړو ته صحیح شو یَقُصُّوْنَ عَلَیْكُمْ چه لوستل به ئی پرتاسی اٰیٰتِیْ اٰیتونه وکتاب زما وَیُنْذِرُوْنَكُمْ او بیرولاست به ئی تاسی لِقَآءَ یَوْمِكُمْ دپیښیدلو څخه ددی ورځی ستاسے هٰذَا اوچه هغه ورځ دقیامت ده قَالُوْا نو وبه وائی دوی په جواب کښی شَهِدْنَا عَلٰۤی اَنْفُسِنَا چه شاهدی اداء کوو موږ پرځانو خپلو یعنی اعتراف کوو په کفر خپل سره او په دی سره چه لا نقاں د عذاب یو وَغَرَّتْهُمُ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا اوحال داچه غړه کړی وو دوی دی واړه شوند او دقیامت ورځ ئی بیخی ځنی هیره کړی وه اواوس چه محشر لره راغله نو په ګناهو خپلو قائل سوه وَشَهِدُوْا عَلٰۤی اَنْفُسِهِمْ اوشاهدی ئی اداء کړه پرخپلو ځانو باندی اَنَّهُمْ چه بیشکه دوی چه دی كَانُوْا كٰفِرِیْنَ ﴿۱۳۰﴾ وو دوی کافران ذٰلِكَ دا لیږل درسولانو چه دی اَنْ لَّمْ یَكُنْ رَّبُّكَ دپاره دی چه نه دی رب ستا مُهْلِكَ الْقُرٰی هلاکونکی د اهل دی کلو او د بنارو بِظُلْمٍ په سبب دهغه ظلم چه کړی وی دوی وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ اوحال داچه اهل دی کلو غافلان وی یعنی چه پیغمبر لانه وی ور غلے او دوی ئی نه وی خبر کړی په وجود خدای او په سزا تلود قیامت سره چه بیا داسی و نه وائی سربنا لولا ارسلت الینا رسولا فنتبع اٰیٰتك ونکون من المؤمنین نو ځکه د دوی حجت پرخپل ځان نه پریږدو وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ اوهر چا ته دی مکلفینو مرتبی دی جلا جلا په ثواب اوعذاب کښی مِّمَّا عَمِلُوْا د جزاد هغو عملو چه دوی کړی دی وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ اونه دی رب ستا ناخبره عَمَّا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ د هغو کارونو چه کوی ئی دوی وَرَبُّكَ الْغَنِیُّ اوړب ستا بی پروا دی همد عبادو اوهم د عبادته د دوی ذُو الرَّحْمَةِ ښه وند د مهربانی دی پرد وی چه دوی ئی مکلف کړی دی دپاره د منافعو ابد یه ووخپلو نه دپاره دینولو د دوی وسختی ته اِنْ یَّشَاْ یُذْهِبْكُمْ که ئی اراده وشی نو به بونړی تاسی ای اهل مکه وو «وکی ځکو» یعنی تاسی به لیږی

کړی له دی ځایه وَيَسْتَخْلِفْ او خلیفه ګان او جانشینان به کړی ستاسی مِنْ بَعْدِكُمْ پس د لیری کولو ستاسی مَّا يَشَآءُ هرڅوك چه اراده ئ وشی د اوسولو دهغه دخپلو بندګانو ثمه كَمَآ اَنْشَاَكُمْ لکه چه پیدا کړی ئ یاست تاسی مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ (۱۳۳) د اولاده دنورو خلګو چه اهل دکښتی وه د نوح علیه السلام اوستاسی په شان ګردن کښان (سرکښه) وه اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ بیشکه هغه شی چه وعده کړه شوی ی دتاسی سره هغه خامخا راتلونکی دی چه هغه قیامت اوحساب اوثواب اوعقاب دی وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ (۱۳۴) اونه یاست تاسی عاجز کونکی د خدای چه له بعث اوله حشره (راپاڅیدو) خپله به ئ منع کړی قُلْ ووایه ودی قریشوکفارو ته يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا ای قومه ځما عمل کوی عَلٰى مَكَانَتِكُمْ په قدر حال او په قدر طاقت خپل یعنی هرڅوچه ستاسی طاقت کیږی پخپل کفر او عداوت کلك اوسی اِنِّيْ عَامِلٌ بیشکه زه هم عمل کونکی یم په صبر اوپه استقامت سره پراسلام باندی فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ پس ژر دی چه معلوم به کړی تاسی مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ هرهغه څوك چه ده لره به وی عَاقِبَةُ الدَّارِ بنه خاتمه دهغه جهان اِنَّهٗ بیشکه شان دادی لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ (۱۳۵) چه پیدا به نه کړی ظالمان خلاصی د غدا به څخه یعنی کافران

رکوع ۱۷

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ او ګرځولی ئ دی چه عادت د مشرکانو دعربو به دا ووچه فصل وغله اوشروندی مالونه خپل به ئ قول سره برخی برخی کړه نو بعضی به ئ د خدای په نامه کړه اوبعضی به ئ د بتانو په نامه کړه اود خدای برخه به ئ په فقیرانو اوپه میلمنو صرفوله اود بتانو برخه به ئ پرخاد مانو د بت خانی ویشله اوکله چه به د خدای برخه نیمګړه شوه نو د بتانو برخی څخه به ئ پکښی نه اچوله اوویل به ئ چه دوی پخپله محتاج دی اوچه د بتانو برخه به نیمګړه شوه نو د خدای د برخی څخه به ئ پکښی اچوله اوویل به ئ چه دی غنی دی ودی ته ئ هیڅ حاجت نشته ګله چه والی مِمَّا ذَرَاَ د هغه شی څخه چه

۱۳۶ یعنی کمه اوزانقصه اوتیګری به شوه ۱۲

پیدا کړی دی ده مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ دکښت او د چارپایانو څخه نَصِيْبًا برخه
اوهماسی دپاره د بتانو هم برخه فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ پس وائی دوی چه دغه د خدای
برخه ده بِزَعْمِهِمْ په هغه زعم کړی دوی سره چه باطل دی وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا اودا
بله برخه د شریکانو زمونږ ده یعنی د هغو بتانو ده چه مونږ شریکان ګڼولی دی
د خدای سره فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ پس هغه برخه چه وی د شریکانو دوی
فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ نو پس هغه نه رسیږی د خدای ته یعنی هغه مصارفوته
چه دوی د خدای ته مقرر کړی دی یعنی نه ئی صرفوی وَمَا كَانَ لِلّٰهِ او هغه برخه
چه وی د خدای لره فَهُوَ يَصِلُ پس هغه رسیږی اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ د شریکانو ته
دوی چه بتان دی یعنی په مصارفو د بتانو ئی خرڅوی که د هغو برخه کمه سی
سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ بد دی داحکم چه کوی ئی دوی وَكَذٰلِكَ اوهماسی لکه
چه شیطان داشتمت د امو الو بنائسته کړی دی دوی تهٔ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ بنایسته
کړی دی د ډیرو ته مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ له مشرکانو څخه قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ د ژل د اولادونو
خپلو شُرَكَآؤُهُمْ شریکانو دوی چه شیطانان دی یا خادمان دی د بت خانی
او د اشرکاءِ فاعل دی د زَيَّنَ لِيُرْدُوْهُمْ دپاره د دی چه هلاک کړی دوی یعنی
گمراه ئی کړی وَلِيَلْبِسُوْا او بل دپاره دی چه پکه وګړی د اشیطان عَلَيْهِمْ
دِيْنَهُمْ د پردوی هغه دین دوی چه اسماعیل د ټوله راغلے وو او دوی راوړی
وشرک ته وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده سوی ولی د خدای د نه کولو دی كَارَ مَا فَعَلُوْهُ
نو نه به وو کړی دوی داکار فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ نو پریږده دوی او هغه
دروغ چه دوی ئی وائی وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اووائی دوی چه دا برخی زمونږ دخدایانو
چه دی اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ چه چارپایان اوکښت دی حِجْرٌ ګڼی د احرام دی پرهرچا
لَّا يَطْعَمُهَآ نو نه دی پی خوړی اونه دی پی څښی دا شیان اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ مګر
هرهغه څوک چه اراده وسی زمونږ دخوښولو یا د څښلو دهغه چه هغه خادمان

دبت خانی دی اوبل مطلق نارینه دی غیرله بنځو څخه بِزَعْمِهِمْ محض په ګمان چې سره بیله حجته اوبیله دلیله وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا اونور چارپایان دی چه حرام کړه شوی دی شاګانی ددوی د سپرېدو اوبارولو څخه لکه بحائرو سوائب اوحوام چه شول وَاَنْعَامٌ اونور چارپایان لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ چه نه یادوی دوی نوم د خدای عَلَيْهَا پرهغوی په وخت د ذبح کښی بلکه نوم دبتانو پر یادوی دوی او دا قول کارونه کوی افْتِرَآءً عَلَيْهِ ط پرطریقه د دروغ ترلوسره پر خدای چه دا موږ ته خدای ویلی دی سَيَجْزِيْهِمْ ټرسره دی چه جزا به ورکړی دوی ته بِمَا كَانُوْا په سبب دی چه وو دوی يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ چه دروغ ئی ترل پرخدای وَقَالُوْا اووائی دوی مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ هرهغه څیز چه په نسو دی چارپایا نو کښی دی یعنی دبحیرې اود سائبې د بچو څخه خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا هغه خالص دنارینوڼو موږ دی یعنی یوازی ووی ته حلال دی وَّمُحَرَّمٌ عَلٰٓى اَزْوَاجِنَا او حرام کړه شوی دی دغه پر بنځونو موږ اماکه دمورې شوندی سوی وه (اړیدا سوی ده) وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً اوکه دابچی ئی مړ وو یعنی له مورې مړ پیدا سوی وو فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ط نو بیا دوی په دی مرد ارکښی سره شریکان یعنی نارینه اوښځی به ئی په ګډه سره خوړی سَيَجْزِيْهِمْ وَصْفَهُمْ ط ټرسره دی چه جزاء به ورکړی خدای ودوی ته د دروغو ترلو پرخدای په تحریم اوپه تحلیل سره دی شیانو اِنَّهٗ حَكِيْمٌ بیشکه دی صاحب حکمت دی په حکم د حلالولو اود حرامو کښی عَلِيْمٌ ﴿۱۳۹﴾ ښه دانادی په مصالحود بندګانو خپلو په حل اوپه حرمت کښی قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ په تحقیق سره تاوان کړی دی هغوکسانو قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ چه وژلی ئی دی اولادونه خپل سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ د بې ره حماقته اوجهله او ناپوهی وَّحَرَّمُوْا او حرام کړی دی دوی پرځانو خپلو مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ هغه شیان چه روزنې وسرکړی ده ودوی ته خدای یعنی بحائرو سوائب افْتِرَآءً

عَلَى اللّٰهِ ط په درواغ ترلو سره پرخدای قَدْ ضَلُّوْا په تحقیق سره گمراهان سوی دی
دوی وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ اونه دی دوی لاره موندونکی وحق ته وَهُوَ الَّذِيْ ۱۶ ع ۳
اودی هغه پروردگار دی اَنْشَاَ جَنّٰتٍ چه پیدا کړی دی ده وتاسی ته باغونه د
انګورو مَّعْرُوْشٰتٍ پرچتو سرپټره (سپرتاکان) وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ اوبعض نه سرپټره
سوی پرچتو بلکه هسی پرځمکه پراته وی وَّالنَّخْلَ اوخرما ګانی ئی پیدا کړی دی وَالزَّرْعَ
اوکښتونه رنګارنګ لکه غنم اوارپه بشی اوجواری اووریجی او مقدا اولوبیا اودال
اونور سبزی مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ په داسی حال کی چه مخالف دی هریو د هغه بل څخه په رنګ
اوپه خوند اوپه بوی او په مقدار کښی وَالزَّيْتُوْنَ اوزیتون ئی پیدا کړی دی
وَالرُّمَّانَ اوانار ئی پیدا کړی دی مُتَشَابِهًا په داسی حال کښی چه بعض ولی (رنګ) ئی په شان دبعضو نورو وی په څانګو اوپه پاڼو کښی وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ط اوبعض په
یوشان نه وی په خوند دمیوی کښی ځکه چه یوه به خوړه اوبله به تروه اوبله به مایه
اوبله به خشکه وی اویوه دانه داره اوبله بې دانه وی كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ خوړی
دمیوو څخه دهریوه اِذَآ اَثْمَرَ په هغه وخت کی چه میوه وکړی اګرکه خامه وی
وَاٰتُوْا حَقَّهٗ اوورکوی حق ددی میوی یعنی دشکولو دونو څخه زکوٰة دی چه ثابت بن قیسؓ به
پوه ورځ دریلو دده یعنی دشکولو دونو څخه زکوٰة دی چه ثابت بن قیسؓ به
قریب څخه سوه ونی دخرما ودرلودی دهغو ترلو میوه ئی خیرات کړه اوعیال ته ئی
هیڅ پری نښووه نو نازل شو وَلَا تُسْرِفُوْا ط اواسراف مه کوی په ورکولو کښی چه
توله ورکړی او عیال ته هیڅ قدر پری نږدی اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ بیشکه خدای
نه خوښوی مسرفان وَمِنَ الْاَنْعَامِ اودچارپایانو څخه موږ دوه قسمه پیدا کړی دی
حَمُوْلَةً بعض باربرداری ونکی لکه اوښان اوغویان اوفچری (غاړی) اوخره وَّفَرْشًا اوبعضی خوښی یدونکی (پری ایستونکی) پرځمکه دپاره ځملا لولو (زوجه کولو) لکه میږی (سپرنه)
اووزی اودا سی نور سوه یا حمولة کباً لږ دی انعامودی اوفرش صغاً لږ دوی دی ځکه

چه مخکی ته نژدی وی د فرش په شان كُلُوا مِمَّا خورې د هغو شیا نو څخه رَزَقَكُمُ اللّٰهُ چه حلال کړی دی تاسی ته خدای او پر ځان ئې مه حرامومی د جاهلیت د خلکو په شان وَلَا تَتَّبِعُوا او پیروی مه کوی خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ط د قدمو د شیطان یعنی د ده پرلاس مه ځی په تحلیل او په تحریم کښې لکه د جاهلیت د خلکو په شان اِنَّهٗ لَكُمْ بے شکه چه دی و تاسی ته عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۴۲﴾ دښمن دی بنکاره ر واَیت دی چه عوف بن مالك او ابورسول تله وویل چه زموږ پلرو چه هرڅه حرام کړی وه هغه تولـه تا حلال کړه نو رسول وویل چه ستاسی د پلرو په خولو نه حرام میږی بیا عوف وویل چه دا خدای حرام کړی دی نو نازل شو ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ع اته قسمه دی سره نر او ښځی او اته سره ده حلال پیدا کړی دی که حمولـه دی اوکه فرش دی مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ ط له میږ و ښځه دوه دی یو نر چه پسه دی او یوه ښځه چه کډه (میږ) ده وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ط له بز و ښځه هم دوه دی چه یو نر چه اوز کړی (سیرلی) دی او یوه ښځه ده چه بزه ده قُلْ ووایه ودوی ته ءٰٓالذَّكَرَيْنِ ایا د دواړه نران چه پسه او بزه دی حَرَّمَ حرام کړی دی ده پر تاسی اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اوکه دواړه ښځی ئې حرامی کړی دی چې میږ او اوزه ده اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اوکه ئې هغه حرام کړی دی چه مشتمل وی پرهغه باندی اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط رحمونه د ددغو دواړو ښځو چه میږ او بزه ده یعنی بچیان د دی دواړو که نران وی اوکه ښځی نَبِّـُٔوْنِيْ بِعِلْمٍ خبر کړی تاسی مایه هغه معلوم شی د جانبه د خدای چه دلالت کوی په حرمت د دی شیانو اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ که یاست تاسی رښتینی په دی خبره کښی چه دا شیان خدای حرام کړی دی وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ او د اوښانو څخه هم دوه دی یو نر چه اوښ دی او یوه ښځه چه اوښه ده وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ط او د غویو نو څخه هم دوه دی یو نر چه غویی دی او یوه ښځه چه غواده قُلْ ووایه ودوی ته ءٰٓالذَّكَرَيْنِ ایا دواړه نران چه اوښ او غویی دی حَرَّمَ ده حرام کړیدی پر تاسی اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اوکه هغه ئې

عه رحم ہی زادان ہم ورته وائی ہغه پرده دومره دور چه کښی یه ہیلی کښی اولاد وی ۱۲

حرام کړی دی چه اونبه اوغواړه اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اوکه ئی هغه حرام کړیدی چه مشتمل وی پرهغه باندی اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط رحمونه «زادالونه» دده غه دواړو بنځو چه اونبه اوغواړه یعنی بچیان ددی دواړو کله نران وی اوکه بنځی وی اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ یاواست تاسی حاضران اولیدو ونکی اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ج په هغه وخت کښی چه وصیّت کاوی وتاسی ته خدای په دغه تحریم ددی شیا نو فَمَنْ اَظْلَمُ نوبیا څوك دی ډیرظالم یعنی نسته مِمَّنِ افْتَرٰى ترهغه چاچه وتړی په ناحقه سره عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پرخدای درواغ په تحلیل او په تحریم کښی لِّيُضِلَّ النَّاسَ دپاره ددی چه گمراه کړی خلك بِغَيْرِ عِلْمٍ ط بیله علمه «بیدلوهی» اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ نه ښیي د حق ولی لار وهغوظالمانو ته چه ولاړوی پردین د جاهلیت وړ آیت دی چه هرکله مشرکانو دا آیت واوریدی نو تولو وویل چه دا چارپایان خوقول حلال شول نوحرام پکښی کومه یوشو نو نازل شو قُلْ لَّآ اَجِدُ وواید ووی ته چه نه نیم پیلکو فِيْمَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ په هغه کتاب کښی چه راالیږلی شوی دی وماته مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ کومه شی حرام کړه شوی پرکومه خوړونکی يَّطْعَمُهٗٓ چه خوری ئی اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً مگرچه وی داطعام مړا ر اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا یاوینه وی توی کړه شوی یعنی دذبح وینه وی نه دغوښواو نه اینه او تورې اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ یا غوښه د خنزیروی فَاِنَّهٗ رِجْسٌ نوبیشکه داخنزیر بخس دی اَوْ فِسْقًا یادامذبوحه ذبحه کړه شوی وی پرطریقه دفسق اوهغه داده اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ج چې بنړغ کړه شوی وی په وخت دذبح کښی بیله نامه دخدای دبل چاپرهغه مذبوحه فَمَنِ اضْطُرَّ نوبیا چه هرڅوك اړکړه شو ودی شیانوته له جهته دمخمصی غَيْرَ بَاغٍ په دی حال کښی چه ظالم نه وی دی پر بل چاچه مثل دده وی یعنی هغه هم مضطرب وو دده په شان وَّلَا عَادٍ اونه تیری کونکی «ویرخورونکی» وو ترحاجت څخه فَاِنَّ رَبَّكَ پس بیشکه رب ستا غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾ بخښونکی اومهربان دی پرهرهغه چاچه په وخت دضرورت کښی

عه یعنی بل څوك چه هغه هم دوه پشان وبزی اواړوی ۱۲

په قدر د حاجت وخوری وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا او پر هغوکسانو چه یهودیان دی
حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ حرام کړی وو مور هر نوکداره لکه اوښان درندکان او
مرغان تولو اوشترمرغ هم وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ او دغواوو اوله میږو اوله بزو
حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ حرام کړی وو مور پردوی شُحُومَهُمَا وازګی ددوی اماد پښتورګو
اودلری پرده اوګولمو پرده نه دګولمو وازګه إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا مګر هغه وازګه
چه اغوستی وی شاګانو ددوی اوارخود دوی یعنی چه ددوی پرشایا پرارخ پرته وی
هغه حلاله ده أَوِ الْحَوَايَا یا هغه وازګه چه په ګولمو پوری پیوندہ (مونښتی) وی اوګولمی
په راغونډی سوی وی أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ یا هغه وازګه چه ګډه وی دهډوکو
سره لکه وازګه دورانه اودلکی اومانځنه هم ددوی په شان حلال وه حاصل دا
چه شپږ قسمه حیوانات دی په دوی کښی دری قسمه چه اوښان اودرندکان او
مرغان دی چه نوکان لری دا مطلقا پرحرام وه اودری قسمه نورچه غوایان اومیږی
او بزی دی ددوی وازګی بیا شپږ قسمه دی بیاددی شپږو وازګه دپښتورګو اومنځنی
پرده دلری اودګلمود اوړه قسمه هم پرحرامه وه اوځلورقسمه نوره چه وازګه دشا
اودواړه اسرخواوه ورلنوا ودلکی اودګلمودہ داځلور سره قسمه پرحلا له «ورته حلاله»
وه ذَٰلِكَ ددی شیانو په تحریم سره جَزَيْنَاهُمْ جزاورکړی وه مور ددی یهودوته بِبَغْيِهِمْ
په سبب دظلم ددوی وَإِنَّا لَصَادِقُونَ (۱۴۶) اوبیشکه مور چه پورشتینی یو په اخبار دی
تولو شیانو کښی فَإِنْ كَذَّبُوكَ نوبیاکه تکذیب وکړی دوی ستاپه هغه شی کښی چه مور
وحی کړیدی وتاته فَقُلْ رَبُّكُمْ پس ورته ووایه چه رب ستاسی چه دی ذُو رَحْمَةٍ واسیع
خاوند دارت رحمت دی ځکه چه وتاسی ته مهلت درکوی سره دتکذیبه ستاسی وَلَا يُرَدُّ
بَأْسُهُ اونه سی ردیدلای «اګر زیدلای» عذاب دده سره دا سی دیره رحمته عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ (۱۴۷)
دهغه قوله څخه چه مجرمان دی سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ژر دی چه وبه وائی هغه کسان
چه شرکان دی اودا اخبار دی له غیبه لَوْ شَاءَ اللَّهُ که اراده سوی وای د خدای مَا أَشْرَكْنَا
عه

نوشرك به نه وواختیار کړی مورږ وَلَآ اٰبَآؤُنَا اونه پلرونه مورږ وَلَا حَرَّمْنَا اونه به حرام
کړی وو مورږ مِنْ شَيْءٍ ط هیڅ شی كَذٰلِكَ هم داسی لکه ستاقوم چه تکذیب ستاکوی
كَذَّبَ الَّذِيْنَ تکذیب به کاوی دخپلوسولانوهغوکسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخواتردوی
تیرسوی دی حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ط ترهغو پورې چه وبهٔ ځکی عذاب زمورږ یعنی چه پر
نازل به سو قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ ووایه ودوی ته چه ایا سته ستاسی سره مِّنْ عِلْمٍ څه پوه
پوکومحکم اومعلوم شی چه ددی ویناوودستاسی حجت کیدای سی فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ط
چه بیاراوباسی هغه شی ومورږ ته یعنی نسته بلکه اِنْ تَتَّبِعُوْنَ پیروی نه کوی تاسی د
هیڅ شی اِلَّا الظَّنَّ مگردخپل گمان وَاِنْ اَنْتُمْ اوتاسی نه یاست اِلَّا تَخْرُصُوْنَ (۱۴۸) مگر
داسی قوم چه درواغ وایاست قُلْ ووایه ودوی ته چه که تاسی حجت لری پرخپله ویناد
فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ج نوبیاخدای لره خو داسی حجت سته چه دصحت منتهی ته رسیدلے
دی فَلَوْ شَآءَ که دده اراده سوی وای لَهَدٰىكُمْ اجْمَعِيْنَ (۱۴۹) نو خامخا به ئی وتاسی تولوته
هدایت کړی وای قُلْ هَلُمَّ ورته ووایه چه راولی شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ هغه شاهدان ستاسے
يَشْهَدُوْنَ چه شاهدی اداءکوی پردی خبره اَنَّ اللّٰهَ چه بیشکه چه خدای حَرَّمَ هٰذَا حرام کړی دی داکښت اودا انعام «چارپایان» چه تاسی ئی حرام بولی فَاِنْ شَهِدُوْا نوکله شاهدی
وویله دوی فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ج نوبیاته شاهدی مه اداکوه ددوی سره یعنی داشاهدی
مه قبلوه ددوی ځکه چه په درواغوده وَلَا تَتَّبِعْ اوپیروی مه کوه اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ د
هغو زوګانو ددهغه کسانو چه دوه یره عناده ځکه كَذَّبُوْا اٰيٰتِنَا تکذیب کوی دایتونوزمورږ
په تحلیل اوبه تحریم کښی وَالَّذِيْنَ اودهغوکسانو پیروی مه کوه لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ
چه ایمان نه راوړی پرآخرت چه مشرکان دی وَهُمْ بِرَبِّهِمْ اوحال داچه دوی د
سره خپل سره يَعْدِلُوْنَ (۱۵۰) برابروی بتان په استحقاق دعبادت کښی قُلْ تَعَالَوْا ورته
ووایه چه راسی ای حرام بلونکو دکښت اودانعامو دخپله ځانه ځکه اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ
چه ولولم «ووایم» اودرته ظاهرکړم هغه چه حرام کړی دی رب ستاسی عَلَيْكُمْ پرتاسی

اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا هغه دادی چه شریك مه نیسی دده سره هیڅ شی وَبِالْوَالِدَيْنِ او دخپل مور اوپلار سره احسان کوی اِحْسَانًا ۚ په احسان کولو سره **نکته** په دی ځایه کښی په توحید پسی احسان د والدینو متصل راغلی دی ددی جهته لکه چه پروردګار چه موجد دی ددده دوی هم موجدان دی ددده اما حقیقةً هم داسی دوی دواړه موجدان دی ددده اما مجازًا کما لایخفیٰ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ اومه وژنی اولاد خپل مِّنْ اِمْلَاقٍ ۭ دفقر دویری څخه نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ مونږ روزی درکوو وتاسی ته وَاِيَّاهُمْ ۚ اودوی ته هم نوهرکله چه روزی ئی پرمونږ ده نوتاسی ئی په ناحقه ولی وژنی وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ اومه نژدی کیږی ونا کارهغه کاروته مَا ظَهَرَ مِنْهَا هغه چه بنکاره وی له دی فواحشوڅخه وَمَا بَطَنَ ۚ اوهغه چه پټ وی یا مراد له ماظهر څخه فعل اوله ما بطن څخه نیت دی وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ اومه وژنی هغه شخص حَرَّمَ اللّٰهُ چه حرام کړیدی خدای قتل دهغه اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ مگر په حق سره لکه قتل د قصاص یا د مرتد یا رجم د زانی محصن چه سوئ ذٰلِكُمْ ډاځلور نهی او یوامر چه دی وَصّٰىكُمْ بِهٖ امرکړی دی خدای وتاسی ته په حفظ د دی مذکور سره لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ بنابی چه تاسی عقل وچلوی په دی کښی چه دا امور په نزد د خدای دیرلوی دی وَلَا تَقْرَبُوْا اومه نژدی کیږی مَالَ الْيَتِيْمِ ومال ته د یتیم اوپه هغه کښی تصرف مه کوی اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۚ مگر په هغه وجه چه ډیره غوره وی دده په حق کښی تر تولو وجوهو پرته چه دده د مال ساتنه اوزیاتیدل پکښی راځی حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ ترهغوچه قوت اوبلوغ ته ورسیږی اوبیا چه بالغ شی نومال ئی پرده وسپاری وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اوپوره کوی پیمانه په مکیلا توکښی وَالْمِيْزَانَ او تول په مونږ ونا توکښی بِالْقِسْطِ ۚ په برابری اوپه انصاف سره لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا نه مکلف کوو مونږ هیڅوك اِلَّا وُسْعَهَا ۚ مگر په قدر د طاقت خپل یعنی پس له کوشښته ستاسی په برابرولو د دواړو کښی که څه نږدیات یاکم سی هغه عفوه دی وَاِذَا قُلْتُمْ اوپه هغه وخت چه خبره کوی

په مابین دوو تنوکښی په طریقه دحکومت یاد شاهدی فَاعْدِلُوْا نور شتیاوآیات
وَلَوْكَانَ اوګرکه وی دامقول له یامقول علیه په حکومت یاپه شاهدی کښی ذَاقُرْبٰى
خاوند دخپلوی اوقرابت دقایل سره هم دی میل نکوی وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا او په عهد د
خدای سره وفاکوی اوخپلیانت پکښی مه کوی یعنی هغه عهد چه په ورځ دمیثاق تاسی کړی
دی یاپه امراونهی اووعد اووعید اوندر اویمین باندی ذٰلِكُمْ دادی امره اونهی
نهی چه دی وَصّٰىكُمْ بِهٖ امرکړی دی خدای تاسی ته په حفظ دی مذکورسره لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ بنایی چه تاسی پند په واخلے په دی سره وَاَنَّ هٰذَا اوبیشکه دا قول مذکور
چه دی په دی سورة کښی دد لائلوشخه دتوحید اود اثبات دنبوت اود بیاند دشریعت
صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا لاره زما ده په دی حال کښی چه سمه ده اوبرابره ورغلی ده وجنت
ته فَاتَّبِعُوْهُ پس پیروی کوی دده لاری وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ اوپیروی مه کوی د
نورنګارنګ لارو دهوادنفس یادمختلفواديانو لکه یهودیت اونصرانیت اومجوسیت
اودا سی نورې بدعتونه چه سوه فَتَفَرَّقَ بِكُمْ پس تاربه تاراولیږی په کړی تاسے دا
متابعت عَنْ سَبِیْلِهٖ د لاری شخه دده چه هغه متابعت دوحی دی ذٰلِكُمْ دامتابعت
زما دلاری چه دی وَصّٰىكُمْ بِهٖ امرکړی دی خدای وتاسی ته په حفظ سره دی متابعت
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ بنایی چه تاسی ځان وساتی دګمراهی شخه نقل دی دعبد الله بن مسعودؓ
شخه چه یوه ورځ رسول علیه السلام یواوږد خط راکش کړی بیا ئی وماته وویل چه هغه
سمه لاره دخدای داده بیا ئی دهغه خط پرارخ نورخطونه کا ږی واړه راکش کړل پربنی
طرف اوکین طرف دهغه اووې ویل چه دا هغه چپی لاری دی چه پرهره لارشیطان
ناست دی اونارې وهی وخلګوته نو بیا ئی شاهد داتیرایت پرولوستی «ووایل» فائدهٔ
اورروایت دی دعبد الله بن عباسؓ شخه چه دا تیر دری ایتونه چه مشتمل دی پرلسو
احکامو دا د محکما توشخه دی چه په هیڅ شریعت کښی نسخه ددی احکامونه ده راغلے
ثُمَّ اٰتَیْنَا بیاورکړی وومو مُوْسَى الْكِتٰبَ وموسیٰ تهکتاب تَمَامًا عَلَى الَّذِیْ دی دپاره

دپوره کولو د نعمت پرهغه چا باندی اَحْسَنَ چه نیکه لاره ئ نیولی وی وَ تَفْصِیلًا او د
پاره دبیان لِکُلِّ شَیْءٍ دپاره د هرهغه شی چه په دین کښی احتیاج ورته پریوزی
وَّهُدًی وَّرَحْمَةً اوهمنائی اورحمت لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ بنایی چه دوی به ملاقات ۱۹
د رب خپل یُؤْمِنُوْنَ (۵۴) ایمان راوړی اوباور وکی وَهٰذَا کِتٰبٌ اودا قرآن یوکتاب دے ع ۶
اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ چه رالیږلی دی موږ چه دبرکتناك دی فَاتَّبِعُوْهُ واتّقوا اونیږوی
کوی دده اوځان ساتی د مخالفته تخنیږی لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ (۵۵) بنائی چه پرتاسی باندی
رحم وکړه سی په سبب د دی متابعت سره اودا قرآن رالیږلی دی موږ دپاره دی
اَنْ تَقُوْلُوْٓا چه بیاونه وایاست تاسی تولی دعربو په ورځ د قیامت اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ
بیشکه همدا خبره ده چه رالیږل سوی دی کتاب چه تورات اوانجیل وو عَلٰی طَآئِفَتَیْنِ
پرد وو طائفو چه یهود اونصاری وو مِنْ قَبْلِنَا مونږ مخکی ترموږ وَاِنْ كُنَّا اوبیشکه شان
دادی چه موږ وو دَارَاسَتِهِمْ دلوستلو څخه دکتاب
د دوی لَغٰفِلِیْنَ (۱۵۶) خامخا بی خبره وو یعنی په شړه ئ نه پوهیدو ونو په لوستو ئ قادر
نه وو اَوْ تَقُوْلُوْا یا داسی ونه وایاست لَوْ اَنَّآ چه که وای موږ چه اُنْزِلَ رالیږل سوی
وای عَلَیْنَا الْكِتٰبُ پرموږ کتاب لکه چه پرد وی راغلی وو لَكُنَّآ اَهْدٰی مِنْهُمْ موږ نو
خامخا وو به موږ پرسم اوبرابر پرلاره تردوی نکه چه فکرونه زموږ تیزدی فَقَدْ
جَآءَكُمْ بَیِّنَةٌ پس په تحقیق سره چه راغلی دی وتاسی ته بشکاره حجت مِّنْ رَّبِّكُمْ دربه
ستاسی چه هغه قرآن دی چه هم ستاسی په ژبه راغلی دی وَهُدًی وَّرَحْمَةٌ او
رهنمائی اورحمت دی دخدایه پرمؤمنانو چه متابعت کوی دده فَمَنْ اَظْلَمُ نوڅوك دی
د یرظالم مِمَّنْ كَذَّبَ ترهغه چاچه نسبت د دروغو کوی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ واٰیتونه دخدای
ورسوسته ترهغو چه صحت ئ ورته معلوم سوی وی وَصَدَفَ عَنْهَا اوغ وګرزوی
دی اٰیتونو څخه سَنَجْزِی الَّذِیْنَ ژر دی چه جزاء به ورکړو موږ وهغو کسانو نه
یَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰیٰتِنَا چه غ ګرزوی دا اٰیتونو څخه زموږ سُوْٓءَ الْعَذَابِ په هغه بدتر

دتولو اقسا مود عذاب بِمَا كَانُوا په سبب ددی چه دوی وه يَصْدِفُونَ ﴿۱۵۷﴾ چه مخ ځی
گرزاوی دقرآنه اوداحکامو مخه دده هَلْ يَنْظُرُونَ ایا انتظار کوی دا اهل دمکی یعنی
نه پی کوی ورسوسته ترتکذیبه دپیغمبر او دقرآن إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ مگردوی
خبری چه راسی ودوی ته ملائکی دمرګ یادعذاب أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ یاراسی امردرب
ستاچه عذاب یاقیامت دی أَوْ يَأْتِيَ یاراسی بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ ط بعضی نښی درب ستا
چه دقیامت دپاره پی مقرری کړی دی لکه دلمر راختل دمغرب مخه یاداسی نورې
نښی يَوْمَ يَأْتِي په هغه ورځ چه راسی بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ بعضی نښی درب ستا راوایت
دی چه هرکله لمرد مغرب دطرفه راوخیژی نوهغه شپه به داسی اوږده وی
چه متهجدان اوباقی اهل اوراد به څوخواره خپل اوراد پوره کی اوصبح صادق
اثر به لاهیڅ بنکاره سوی نه وی نوددوی به پوه سی چه څه نوی کارشروع سوی دی
اوپه نزاری او په استغفار به زور راوړی ناګاه به دمغرب دطرفه به رڼا اوبی نوره
راوخیژی اوتول خلق به وریته ګوری اوحیران به سی نوهرکله چه داغته علامه دقیامت
بنکاره سوه اوغیب پڅه عین بدل سواواختیاری ایمان په اضطراری بدل سوپه سبب
ددی لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا نه به سرسوی فائده وهیچا ته ایمان راوړل دده اماداسی نفس
ته لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ چه نه وی دانفس داسی چه ایمان ئی راوړی وی مِنْ قَبْلُ مخکی تر
ظهورهٔ «بنکاره کیدو» ددی علامی أَوْ كَسَبَتْ یاکسب ئی نه وی کړی فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا «په
ایمان خپل کښی دخیر چه اخلاص دی یعنی لکه چه ورسوسته دراختلو دلمرد مغرب
دطرفه ایمان دکافرقبول نه وی همداسی اخلاص دمنافق اوتوبه دعاصی هم
قبوله نه ده که ئی مخکینی توبه نه وی خنی کښلی قُلِ انْتَظِرُوا ورته ووایه چه تاسی
هم منتظره اوسی ودی علاموته إِنَّا مُنْتَظِرُونَ ﴿۱۵۸﴾ بیشکه موږ هم منتظره
یوو دی علاموته او هرکله چه بیا داعلامی بنکاره سی نوتاسی ته به افسوس لو

عه یعنی متهجدکوکی دشپی ۱۲ صه یعنی لوستونکی دوظیفو ۱۲ صه یعنی غائب شی رابنکاره شی چه هغه راختل دلمردی مخکه دا راختل دلمرغائب دی ۱۲


وموږ ته به خوشحالی وی اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ چه تار په تار کړی دی دوی دین خپل چه پر بعضو پیغمبرانو او کتابو ایمان راوړی او پر بعضو نۍ نه راوړی وَکَانُوْا شِیَعًا او سره دوی فرقی فرقی لکه یهود چه یو اُو یا فرقی سوی وه او نصاریٰ چه دوۀ اویا فرقی سوی وه لَسْتَ مِنْهُمْ ته نه ئی له دوی څخه یعنی د حسابه او د عقابه او د تفرقی څخه دوی فِیْ شَیْءٍ ط په هیڅ شی کښی یعنی ته به دوۀ د احوالو څخه نه پوښتل کیږی یا مراد څنی نهی دی د جنګ څخه د دوی سره نو نبی پرے د احکمو منسوخ دی په آیت د سیف سره اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ بیشکه هم د اخبره ده چه کار د دوی اِلَی اللّٰهِ وخدای ته مفوض «سپارل شوی» دی چه انتقام په دنیا کښی څنی اُو له اوکه نۍ وا اخرت ته پریږدی اوکه توبه په کاږی ثُمَّ یُنَبِّئُهُمْ بیا به اګاه «خبر» کړی دوی په ورځ د قیامت بِمَا کَانُوْا په هغو کارو چه دوی وه په دنیا کښی یَفْعَلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ چه کول به ئی مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ هر څوک چه راتله ئی وکړه په یوه نیکی سره فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ نو دی ده لره لس نیکی په مثل د دی وَمَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ اوهر څوک چه راتله ئی وکړه په بدی سره فَلَا یُجْزٰۤی نو جزا نه نه ورکول کیږی و دی بدکونکو ته اِلَّا مِثْلَهَا مګر په مثل دهم هغه بدی یعنی یوه په یوه وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ اوهیڅ ظلم به ونه کړل سی پردی نیکوکارانو او بدکارانو په نقصان د ثواب سره یا په زیادت د عقاب سره قُلْ ووایه ودی تاسو په تاکید ونکو ته په دین کښی اِنَّنِیْ بیشکه زه چه یم هَدٰىنِیْ رَبِّیْۤ برابر کړی یم زه رب خپل اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ۚ وسمی لاری ته دِیْنًا قِیَمًا هغه دین ته چه پایندہ اوسم دی مِّلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ چه هغه دین د ابراهیمؑ دی حَنِیْفًا ۚ په داسی حال کښی چه سم او مائل «میلان کونکی» وو د تولو ادیانو څخه ودین د حق ته چه هغه توحید دخدای دی وَمَا کَانَ مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ﴿۱۶۱﴾ اونه وو دی د مشرکانو څخه قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ ووایه ته چه بیشکه لمونځ زما چه دی وَنُسُکِیْ اوبل هر عبادت یا قربانی یا ج زما چه دی وَمَحْیَایَ اوژوند زما چه دی یعنی هغه اطاعت چه ما

عه یعنی د فرقه فرقه اوګرځیدل ګرانه کیږی د دوی ۱۲

کړی دی په حال د حیوة کښی وَمَمَاتِیْ اومرګ زما چه دی یعنی هغه شی چه نړه به پر مرګ چه ایمان او عمل صالح دی لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ (۱۶۲) دا قول خاص خدای لره دی چه د تمام جهان رب دی لَا شَرِیْكَ لَهٗ نسته هیڅوك شریك ده لره په دی تیرو عباداتو کښی نړما وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ اوهم په دی خلوص سره ماموړ شوی یم نړه وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ (۱۶۳) او نړه اول د مسلمانانو یم ځکه چه اسلام د پیغمبر مقدم (ملکی) وی پر اسلام دامت باندی روایت دی چه یوه ورځ کفارو رسول علیه السلام ته راقول سوه او ډیری زاری او الحاح ئی ورته وکړی چه دخپلو پلرونو دین مه پریږده او بیرته د دوی ودین ته رجوع وکړه نو نازل سو قُلْ اَغَیْرَ اللّٰهِ اَبْغِیْ رَبًّا وغواړم اوطلب کړم رب بل څوك وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَیْءٍ او حال داچه دی پیدا کونکی او مربی (تربیت کونکی) د هرشی دی او مخلوق هیڅ کله لایق د ربوبیت نه وی وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ اوکسب نه کوی هیڅ نفس د بدی اِلَّا عَلَیْهَا مګر هم پرهغه د وبال ئی روایت دی چه ولید بن مغیره به د وی نور وکفارو ته ویل چه ای مشرانو د عربو نړما متابعت کوی نو ستاسو د ګناهو بار به زه پرځان واخلم نو نازل سو وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونه اخلی هیڅ اخستونکی وِّزْرَ اُخْرٰی د بار د ګناهو د بل اوهر څوك به څپل بار وړی ثُمَّ اِلٰی رَبِّكُمْ بیا نوخاص ورب ستاسو تَرْجِعُكُمْ بیرته وړ ته ستاسی د په قیامت فَیُنَبِّئُكُمْ بیا به خبر کړی تاسی بِمَا كُنْتُمْ په هغه شی چه تاسی واست فِیْهِ په هغه شی کښی تَخْتَلِفُوْنَ (۱۶۴) چه اختلاف به مو په کی کاوی وَهُوَ الَّذِیْ اودی هغه خدای دی جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ چه ګرنړولی پی یاست تاسی خلیفګان د ځمکی وړ وسته ترپیرانانو او ملائکو یا تاسی امت د رسول علیه السلام خلیفه ګان یاست د تیرو امتو وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ اوپورته کړی دی ده بعض د تاسی څخه فَوْقَ بَعْضٍ سر بیره پرنور وبعضو دَرَجٰتٍ په مرتبو کښی چه

عه یعنی هغه چه د اخلاص کولو د عبادت سره خاص خدای لره وایی تاسو امر کړه سوی دی ۱۲ سه الحاح یعنی د پیرو کوشش ئی په سوال کولو کښی پرو کړی ۱۲

څوك عالمان كړي اوځوك جاهلان اوځوك باچاهان كړي اوځوك غريبان څوك
ماړه كړي اوځوك وښځي لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ اٰتٰىكُمْ ط دپاره ددې چه وه اخر مايې تاسې
په هرهغه شي چه دركړي يې دي وتاسې ته لكه مال اوجاه چه معلوم اوبيل شي
شاكر اوصابر دناشكره اوبې صبره څخه اِنَّ رَبَّكَ بيشكه ستارب چه دي سَرِيْعُ الْعِقَابِ ز
ډير شر ورکونکی دي دعقوبت وهغه چاته چه بې صبره اوناشكره وي وَاِنَّهٗ اوبيشكه
دي چه دي لَغَفُوْرٌ خامخا بخښونكی دي د شاكرانو رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾ مهربانه دي پرصابرانو



الٓمٓصٓ ﴿۱﴾ تفاسير وپه دې كښې رنګا رنګ تاويلات كړي دي اويوځنې دا دي چه
الف دانا اولام د لطيف اوميم د ملك اوصاد د صبور څخه دي يعنې انا اللطيف
الملك الصبور معنىٰ داچه نږه ډير مهربانه اوصابر باچا يم كِتٰبٌ داكتاب يعنې سورة
دي اوداخبر مبتداء محذوفې دي اى هوكتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ چه راليږل سوى دي
وتاته فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ نو نه دي دزاخې په سينه كښې ستا حَرَجٌ مِّنْهُ شك پكښې
كښې ياتنګي دپيغام درسولو څخه چه په ورسته كې به ئې څوك و نه منې نو ته ئې و
دوى ته ورسوه لِتُنْذِرَ بِهٖ دپاره ددې چه وه بيروى ته دوى په دې كتاب سره
وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾ اوچه پند ورکوى ته په پند ورکولو سره ومؤمنانو ته
اِتَّبِعُوْا پيروى وکړئ مكلفانو مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ دهغه شي چه راليږل سوى دي وتاته
مِّنْ رَّبِّكُمْ دجانبه درب ستاسې چه قرآن دي په اوامرو اوپه نواهيو كښې
وَلَا تَتَّبِعُوْا اوپيروى مه كوى مِنْ دُوْنِهٖٓ بيله دي قرآنه اَوْلِيَآءَ ط دنورو دوستانو
خپلو چه شياطين دي دجن اوداسو څخه چه دوى گمراهان كړي تاسې او و
عبادت تدء بتانو به مو وا روى قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾ لږ پند اخلى تاسې وَكَمْ
مِّنْ قَرْيَةٍ اوډيرې دا هل دكلواوبنارو دكا فرانو اوفاجرانو اَهْلَكْنٰهَا چه

هلاك كړی دی موږ یعنی چه اراده كړی ده موږ د هلاكولو د وی فَجَآءَهَا بَأْسُنَا راغلی
وی اهل دهغه بنارته بَأْسُنَا بَيَاتًا عذاب زمونږ دشپی چه وخت دغفلت
اود خوب دی لکه قوم د لوط علیه السلام اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿۴﴾ یا به د وی دغرمی
په خوب بیه؟ وه لکه قوم د شعیب علیه السلام اود دواړه وختونه ئی حُکمله یاد کړه
چه د اوختونه د راحت دی نو عذاب یکښی پرسخت وی فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ نو
نه وو سوال اونزاری د د وی اِذْ جَآءَهُمْ بَأْسُنَا په هغه وخت کښی چه راته غلی وی د وی
ته عذاب زمونږ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مګر دا به ووچه ویل به د وی اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾
بیشکه چه موږ وو ظالمان پرخپلو ځانونچه تکذیب درسولانو نه موکاوی فَلَنَسْـَٔلَنَّ
الَّذِيْنَ نوخامخا پُرسو ښتو موږ په قیامت هغه کسان اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ چه راليږل
سوی وه و د وی ته پیغمبران چه تاسی د وی خبره منلی وه اوکه مونږ وه منلی
وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶﴾ اوخامخا به بیا و پوښتو رسولان هم د اداء د رسالته
اود تبلیغه څخه د احکامو فَلَنَقُصَّنَّ اوبیا به خامخا بیان کړو اووبه لولو د اقوالو احوال
چه د د وی په میان کښی سوی وه عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ پرد وی په هغه خبرداری سره چه
هیڅکله نه جلاکیږی د موږ نه څخه وَمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾ او نه وو موږ غائبان اوبے
خبره د اقوالو او د افعالو څخه د د وی وَالْوَزْنُ او تول د اعمالو د هرچا چه دی د پاڼه
د معلومولو د سپك اود رانه يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ په هغه ورځ د قیامت حق دی چه
کیږی به د پاڼه د قطع کولو د غدر فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ اوهرڅوك چه د رانه وخاته
اعمال حسنه دده فَاُولٰٓئِكَ نوبیا د غه کسان چه حسنات ئی د رانه ختلی دی هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸﴾ هم د وی برپالی دی وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ اوهرڅوك چه سپك
وخاته اعمال مونږ نه دده یعنی د نظره لویدلی وه حُکمله چه د اعمال د کافرد
اوایمان خودی نه لری او د تشواعمالو بیله ایمانه خدای څخه هیڅ اعتبار اوقدر
نسته نوزد اعمال ئی یعنی د نظره ولویدل حُکمله موازین ئی سپك سوه کذا فی المدارک

فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ پس دا هغه کسان دی خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئی ړسولی
دی وځانونه خپلوته چه د سلامتی لاره ئی پرایښی ده او د عذاب لاره ئی غوره ده
بِمَا كَانُوْا ۹ په سبب د دی چه دوی وه بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ په ایتونو موږ پورې ئی
ظلم کاوه څکه چه د دوی تصدیق نه کاوه او د دوی ئی تکذیب کاوی وَلَقَدْ
مَكَّنّٰكُمْ فِي الْاَرْضِ او خامخا په تحقیق سره قدرت د تصرف درکړی دی موږ
تاسے ته په ځمکه کښی چه کور و نه پکښی اچوی او غلی او باغونه پکښی کری او نور
ډ ډ رنګا رنګ تصرفات پکښی کوی وَجَعَلْنَا لَكُمْ او پیدا کړی دی موږ د تاسی ته فِيْهَا
مَعَايِشَ ط په دی کښی اسباب د معاش هر قسم قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۱۰ لږ شکر
کاوئ تاسی دا مَا زائده دی او قَلِيْلًا مفعول مقدم دی د تشکرون وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ
او خامخا پیدا کړی یاست موږ تاسی یعنی نیکه ستاسی چه آدم ؑ وو له خټو
څخه ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ بیا صورت بندی وکړه موږ ستاسی یعنی د ده چه د هغو خټو
څخه بیا بدن انسانی ساز او جوړ کړی موږ په دی شکل مخصوص کی ثُمَّ قُلْنَا بیا
وویل موږ ورسوسته ترهغه چه صورت بندی د ده وسوه او خلویښت کاله د
مکی او د طائف په مینځ کښی پروت وو بی روحه چه بیا ملائکو ته تخت واچوی او
جنت ته ئی یوړی او هلته روح پکښی د ننه کړه سو لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ق
وملائکو ته چه سجده وکړی و آدم ؑ ته سجده د تعظیم او د تحیی فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط
نو سجده وکړه تولو مګر ابلیس چه دی په سبب د عجب او د حسد لَمْ يَكُنْ مِّنَ
السّٰجِدِيْنَ ۱۱ دی نه وو د سجده کونکو څخه قَالَ مَا مَنَعَكَ نو رب العزت وفرمایه
وویل چه کوم شی منعه کړی ته اَلَّا تَسْجُدَ چه سجده دی ونکړه اِذْ اَمَرْتُكَ ط
په هغه وخت کی چه ما امر د سجدی درته وکړی قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ط نو وویل ابلیس
چه زه غوره یم تر ده نو سجده د دوی ته لایقه نه ده او زه غوره (بهتره) یم تر ده چه
خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ پیدا کړی دی یمنزه د اور څخه او اور جوهر لطیف علوی او نورانی د ده

وَخَلَقْتَهٗ اودی دی پیدا کړی دی مِنْ طِيْنٍ ﴿۱۲﴾ دخټو څخه او خته څخه کثیف سفلی ظلمانی ده قَالَ دالعین دلته خطا وتلی دی چه یوازی پی علت مادی دادهر ته کتلی دی چه خته ده اولونهر ودری سره ووعلو "عقو" ته ئی نظر نه دی کړی چه بهتری دده ورته معلومه سوی وای پرخپل ځان چه علت صوری ته ئی په نفخت فیه من روحی کښی اشاره ده او وعلت فاعلی ته ئی په لما خلقت بیدی کښی اشاره ده اور علت غایی ته ئی په وعلم آدم الاسماء کلها کښی اشاره ده کنانی ابینادی قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا رب لمزت ورته وویل چه کښته سه داسمانه یادجنته څخه فَمَا يَكُوْنُ لَكَ نورډا نه دی وتاته اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا داچه تلوپی اوبے فرمانی کوی په دی جنت کښی فَاخْرُجْ نو وونړه دجنته څخه اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ بیشکه چه ته دخوارانو څخه یی قَالَ اَنْظِرْنِيْ بیا ابلیس ووویل چه ماته مهلت راکړه اومه مې وژنه اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴﴾ ترهغه ورځی پورې چه دا مخلوق پیدا ترڅوندی کیږی یعنی ترقیامته پورې قَالَ اِنَّكَ ووویل رب العزت بیشکه ته چه یی مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۱۵﴾ دمهلت ورکړه شوو څخه یی تر پوکولو د شیطانی پورې قَالَ بیاووویل ابلیس فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ نو په سبب ددی چه تانړه کمراه کړی دی شخص "آدم" په وجه لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ خانخا ب کښینم وده ته اوواولاد دده ته دپاره دا رولو صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۶﴾ پرهغه سمه لاره ستاباندی چه لاړه داسلام دده دپاره دا رولو ددوی ددی لاری څخه ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ بیاب خانخا راځم وده وی ته په هروخت کی مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ دمخ لخواده وی یعنی دآخرت د طرفه نوبه ورته وایم چه بعث "راپاڅیدل" اوحشر اوقیامت اوحساب اوجنت اودوزخ داهیڅ نشته وَمِنْ خَلْفِهِمْ اود شالخواده وی یعنی ددنیا طرفه چه دابه ورته وړه بنایسته کړم وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ اودښی لاسه "راسته طرفه" ددوی یعنی دحسنا تو دطرفه چه مجبور اوړم یا به پکښی ورڅخه وړم وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ اوکښین لاسه "چپه طرفه" ددوی چه سیئات "بدی" به ورته خوږه اوښایسته کړم وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ اوبیا

به نه کی پیدا نه یات دده وی اشکرین ﴿۱۷﴾ شکر کښونکی یعنی کافران به کړم چه ستاسی نعمت به نه منی او منعم ځه وی نه بولی قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا بیا وویل رب العزت چه ځه وونه ه دجنته څخه مَذْءُومًا په داسی حال کښی چه عیب ناکه کړه سوی پی مَدْحُورًا ط لیری کړه سوی د رحمته د خدای لَمَنْ قسم دی وی ز ما پخپل عزت او جلال سره هر څوك تَبِعَكَ مِنْهُمْ چه متابعت وکی ستا د دوی څخه لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ نو خانخانه به ډك کړم دوبرخ مِنْكُمْ د تاسی څخه اود تا بعا نو څخه اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۸﴾ د تولو څخه

که می شروع وه په تفسیر له فکره خامه
ته یې کړه قبول له ای غنی رب الانامه
ربع د قرآن سوله پرده ے آیت تمامه
غواړمه د تا څخه رضوان او عفوه تامه

بیا وویل رب العزت وروسته تر ایستلو دده جنته څخه چه وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ ای آدمه اوسه ته وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ او جوړه ستاچه بی بی حواده په دی جنت کښے فَكُلَا نو خوړی تاسی دواړه د میوو او نورو نعمتو څخه د دی جنت مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا د هرې ځایه څخه چه اراده وسی ستاسی او هرڅه چه خوری وَلَا تَقْرَبَا اومه نژدے کیږی هٰذِهِ الشَّجَرَةَ ودی درختی د څخموبا د انګورو ته د خورلو دپاره اوګه د دی جنس د درختی څخه خورلو کړی فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾ نو به سی دواړه د ظالمانو څخه پرخپلو ځانونباندی فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ نو وسوسه وروا چوله ودوی ته شیطان وروسته تر هغه چه بیا وجنت ته ننوتی په مصلحت د دروا نچا نو (دروازه کوکو) چه هغه ماراوطاؤس دی لِيُبْدِيَ لَهُمَا دپاره د دی چه بسکاره کړی ودوی ته مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا هغه شی چه پټ کړه سوی وو د دوی د واړو څخه مِنْ سَوْاٰتِهِمَا د عوراتو غلیظه ووڅخه د دوی په دی بی فرمانی سره وَقَالَ او وویل ابلیس د دوی د واړو ته مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا چه نه یاست منع کړی تاسی رب څل عَنْ هٰذِهِ

الشَّجَرَةِ دخورك څخه ددی جنس ولې اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مگر ددی دپاره چه نه سی تاسی اوداځکه چه کراهت پکښی مقدر دی یعنی کراهتا ان تکونا مَلَكَيْنِ دواړه ملائکی په مرتبه یا په بنایست یا په بے پیروا ابی کښی دخوراك څخه اَوْ تَكُوْنَا یا چه نه سی تاسی دواړه مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ دهمیشه اوسید ونکو په جنت کښی وَقَاسَمَهُمَآ اوډیر سخت قسم یې ورته وکړی پردی چه اِنِّيْ لَكُمَا بیشکه چه زه تاسی دواړو ته لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ خامخا د نصیحت کونکو اودډیره شفقته څخه درته وایم چه ددے ولې میوه وخوری چه له مرګه څخه یعنی خلاص شی نوآدم ؑ په دی سړه خطا ولې چه په خدای سره بد هیڅوك په دروا غو قسم ونکړی اوده په قول سړ ئی باور وکړی فَدَلّٰهُمَا نوکښته ئی کړه دواړه دپاره دخوراك د میوی ددی ولې اود لوړی مرتبی څخه یې وکښته ته راوغورځول بِغُرُوْرٍ ۚ په فریب اووسوسه سره په دی قسم سره فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ نوهرکله چه دوی دواړو وڅکله میوه ددی منهی عنه ولې نو فی الحال جاې (د کالی) حُلی والوتی اودواړه برینډ (ځ) سوه په عقوبت (سزا) ددی اکل اوخورك سړ لکه چه وَاٰبٰى بَدَتْ لَهُمَا نوښکاره سوه ودوی ته سَوْاٰتُهُمَا عورتونه غلیظه ددوی اوچاداسی ویلی دی چه ددے جاني (د کالی) دنوکانو په شان وی مګر ډیری نرمی اولطیفی اوسپینی وی نوهغه دنوربدن څخه ولاړی اودګوتو پرڅکواوسرو پاته سوی چه هغه دانوکان دی دپاره ددی چه هروخت به ئی دا نعمت یادډیری اوپښیمانی ببرې پر هغه بی فرمانی زیاتیږی وَطَفِقَا اواخته سوه دواړه يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا چه سره پیوند ولی اوتپلی اواښنوله به ئی پرد واړو عورتو خپلو باندی مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ط دپا نوڅخه ددرختو جنت وَنٰدٰىهُمَا ویت دی چه پرعورلرتو به ئی پانی ایښوولی اومنډی ځمناوی به بے وهلی ویوه اوبل طرف ته نوا واز (ږغ) پروسو چه اَفَرَارًا منی یعنی ایا ځغلی د پاړ ځ دتیښتی دماڅخه نوده وویل چه اَلَمْ اَنْهَكُمَا منك یارب یعنی نه بلکه د

جهته دحیا د تا تخمه ای ربه زما بیا اواز وشوچه اے آدمه! یا هغه میوی چه مادرته مباح کړی وی د تولو د رختو د جنت دادی بس نه وی چه ددی ولی "د رختی" منهی عنه تخمه دی هم میلوه وخوړ ده په جواب کښی وویل چه بس می وی خو شیطان په دی تیر ایستم چه زما د اګمان نه وو چه په خدای به څوك په د روا غوقسم اخلی بیا ئی واوریده چه زما دی قسم پخپل عزت او جلال وی چه ددی جنته به دی کښته کړم وګمکی ته اوهلته به بیا روزی نه سی پیدا کولا ئی، نګر په مشقت سره چه لاس به دی په سترې وی بیا راکښته سوه او په کښته کرلو ما مورده سوه نو کرل به ئی اواوړه کول به پی او خښل به پی او چوپل به پی نو ددی ا تو عملو وروسته به قابل د خوراك سی وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ آواواز او وړه وکړه رب د دوی یعنی داسے پی و رته وویل اَلَمْ اَنْهَكُمَا چه ایا ما نه وو ستا منعه کړی تاسی د واړه عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ د خو رك تخمه میوی ددی. رختی وَاَقُلْ لَّكُمَآ اونه مو وویلی وتاسی ته چه فهم کوی اِنَّ الشَّيْطٰنَ ۔ بیشکه شیطان چه دی لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۲﴾ تاسی د واړو ته د بنمن دی بنکاره قَالَا نو وویل دوی پر طریقه د اعتراف او د عذر خواهی سره چه رَبَّنَا ای زمور رَبه ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ستا ظلم کړی دی مور پر ځانو خپلو په دی فرمانی سره وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا او که بخښنه ونه کړی ته مور ته ددی ګناه زمور وَتَرْحَمْنَا او مهربانی ونه کړی پر مور لَنَكُوْنَنَّ نو خانخا سو به مور مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ د زیانکارانو څخه قَالَ اهْبِطُوْا بیا وویل رب العزت وادم او بی حوا او مار او طاؤس ته چه ځی کښته سی تولو وګمکی ته بَعْضُكُمْ په دا سی حال کښی چه بعض د تاسی څخه لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ﴿۲۴﴾ به د بعضو نو رو ته د بنمنان وی وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ او دی تاسی ته په ګمکه کښی مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ قرار ګاه او معاش اِلٰى حِيْنٍ ﴿۲۴﴾ تر یو وخته پورې چه هغه وخت د موت "مرګ" ستاسی دی قَالَ بیا وویل رب العزت فِيْهَا تَحْيَوْنَ چه په هم دی ګمکه کښی به ژوندن کوی تاسی

وَفِيهَا تَمُوتُونَ او په هم دی کښی به مری او بخیری به وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿۲۵﴾ بیا را ایستل کیږی د پاره د حساب او د جزاء
ع ۲ ۹ روایت ای چه عربو به طواف د بیت الله شریفی لخ لغړ کاوی او ویل به یی چه مونږ طواف نړ ـ و په هند جامو
او کالو کښی چه مونږ گناهونه پکښی کړی دی نو نازل سو يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ ای اولادی د آدم
قَدْ اَنْزَلْنَا په تحقیق سره را لیږلی دی مونږ عَلَيْكُمْ لِبَاسًا پرتاسی داسی پوښاک
يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ چه پټوی عورتونه ستاسی لکه قمیص او پرتوګ وَرِيْشًا او
بل پوښاک د پاره د محض زینت لکه د اوزر پوښاکونه وَلِبَاسُ التَّقْوٰى او پوښاک د
پرهیزګاری چه دی چه خلاصے په راځی دغه ابه ذٰلِكَ خَيْرٌ دا د پاره غوره دی
ترتولو پوښاکو ذٰلِكَ دا را لیږل د پوښاک چه دی مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ د ښکو د قضا ، او د
رحمت د خدای دی لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾ بنیادی چه دوی پند واخلی او قدر د دی
نعمت و پیژنی يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ ای اولاده د آدم لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ فریب دی ، ونه
کړی په تاسی شیطان یعنی همیشه په ویره کښی اوسی چه د حق د لاری څخه مو وا
نه روی كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ لکه چه را ایستلی دی د مور او پلار د تاسی مِّنَ الْجَنَّةِ د
جنت څخه نو داسی لحتیدل چه يَنْزِعُ عَنْهُمَا وکاږی د دوی د دواړو څخه لِبَاسَهُمَا د
دوی پوښاک او کالی یعنی سبب د کښلو سو لِيُرِيَهُمَا د پاره د دی چه ووینی په دوی
سَوْاٰتِهِمَا د عورت غلیظه د دوی اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ بیشکه چه دی تاسی وینی هُوَ وَقَبِيْلُهٗ
هم دی او هم قبیله او لښکر دده مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ د داسی طرفه څخه چه تاسے
دوی نه وینی یعنی دوی لطیف دی نو تاسی پی نسی لیدلای او تاسی کثیف یاست
نو دوی تاسی لیدلای سی اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ بیشکه مونږ چه یو مور گرزولے
دی شیطانان اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾ دوستان د هغو کسانو نه چه ایمان
نه راوړی وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً او په هغه وخت کی چه د اکفاریو بد کار وکړی
لکه بت پرستی یا د عورت لخول په طواف کښی قَالُوْا وَجَدْنَا نو دوی وایی چه

مور، پیدا کړی دی عَلَيْهَا اٰبَآءَنَا پردی کار پلرونه خپل وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ط اوخدای هم امر کړی دی مور، ته په کولو دی کا رقُلْ اِنَّ اللّٰهَ ته ورته ووایه چه بیشکه خدای لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ط امر نه کوی په بدو اقوالو او افعالو بلکه عادت ئې دادی چه امر کوی په نیکو کارو او په بنو خصالو اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ ایا په دروغو ترې او وایاست تاسی پرخدای مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ هغه خبری چه تاسی نه په پوهیږی چه نسبت کوی وده ته ددی فحشاء قُلْ اَمَرَ رَبِّيْ ته ورته ووایه چه امر کړی دی رب زما بِالْقِسْطِ په عدل سره چه نه افراط وی اونه تفریط وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ اوبرابر کړی مخان خپل و قبلی ته عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ په نزد هری سجدی یادهرځای د سجدی یا د هرلمانځه یا معنی داچه پر هر مسجد چه برابر سواست په وخت د لمانځه کښی لو په هم هغه مسجد کښی ئې اداء کوی اودخپل مسجد دپاره ئې مه ځنډوی وَّادْعُوْهُ او بولی دی یعنی دده عبادت کوی مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ط په داسی حال کښی چه خالص کونکی اوسی ده لره د طاعت خپل د ریا او عجیبه «خودښی» اودهر نقصانه شخه كَمَا بَدَاَكُمْ لکه چه اول وار ئې پیدا کړی یاست تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ بیا دوهم واره به هم داسی پیدا شے یعنی لکه چه په اول کښی عاجزه نه وودی د پیدا کولو لخه ستاسی اوهم داسی د اعادی «بیا پیدا کولو» شخه عاجزه ندی فَرِيْقًا هَدٰى ډیوی ډلی ته ئې سمه لاره ونبوله چه توفیق د ایمان ئې ورکړی وَفَرِيْقًا او بله ډله ئې گمراه کړه چه د ایمان توفیق ئې ورنکړی بلکه حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ لایقه اوبرابره سوه پردوی باندی گمراهی اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ بیشکه دلګرهاڼ چه دی دوی ټولی دی شیطانان اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دوستان پیله خدایه چه ددوی فرمانبرداره سویدی وَيَحْسَبُوْنَ اودوی ګمان کوی ددی اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ چه بیشکه دوی ښه روان کړیدی پرسمه لاره اوپه واقعه کښی داسی نه ده يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ ای اولادی د آدم خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ واخلی او واغوندی بنایست خپل یعنی بنه پاکی مزینی جامی خپلی عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ په نزد د هر لمانځه ځکه

چه هرلونځ مناجات دی دربه سره او تزئین او تعطر پکښی مستحب دی لکه نظا ئرو دښی
عامرو روایت دی چه بنی عامر وبه په وړځو دج کښی طعام نه خوړی مګر
قُوت لایموت یعنی دومره چه پرځوندی به وه اوغوړبه ئی هم نه خوړه دپاره د
تعظیم نومسلمانانو هم داسی عمل اختیارکړی نونازل سو وَكُلُوا اوخوری
هرقسم ماکولات «خورکی شیان» اوغوړهم په احرام کښی وَاشْرَبُوا اوچښی هرقسم
پاك مشروبات که اوبه وی اوکه شیدی وی اوکه نورشخه وی وَلَا تُسْرِفُوا اوترحد
تجاوزنه مکوی په خوراك دحراموسره یا په نریات خوراك سره ترحد دمورواله
إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ بیشکه چه خدای نه خوښوی اسراف کونکی قُلْ مَنْ حَرَّمَ ع ۱۰
ورته ووایه چه چا حرام کړیدی زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي هغه زینت د خدای چه دجامو
وی اویا نورشخه شخه وی أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ چه راایستلی پی دی دخپلو بندګانو دپاره
دنباتاتوشخه لکه پنبه اوکتان او یاد حیواناتوشخه لکه وریښم یاوړی اویادغړ
شخه لکه زغړ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ اودپاکیزه شیانوداقسا موشخه دروښری
که دخوراك دی لکه غوښی اووازګی دبجاړو اوسوائبو اودوصائلو اوکه دخښلو
دی لکه شیدی ددوی یعنی دایولاهم حرام نه دی قُلْ هِيَ ورته ووایه چه دا
زینت اوطیبات چه دی لِلَّذِينَ آمَنُوا دپاره دهغوکسانودی په اصل کښی چه
ایمان پی راوړی دی یعنی هم ددوی لپاره پیدا سوی دی فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا په
دی واړه شوندکښی هم اما دلته کفارهم ورسره شریك دی په طبع ددوی او
هرچه هغه نعمتونه دی چه هیچیری قطع نه لری هغه به مؤمنانو لره وی
خَالِصَةً یوازی بے شرکته يَوْمَ الْقِيَامَةِ په ورځ دقیامت كَذَٰلِكَ هم داسے
لکه چه مورد احکم مفصل بیان کړی نُفَصِّلُ الْآيَاتِ مفصل بیانوو باقی قول
احکام دین هم خصوصاً حلال اوحرام لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ دهغه قوم دپاره
چه پوهیږی اوفهمولای پی سی قُلْ إِنَّمَا ورته ووایه چه بیشکه هم دا

خبره ده حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ چه حرام کړیدی رب زما گناهونه کبیره چه موجب دلوی عذاب دی مَا ظَهَرَ مِنْهَا هغه چه ښکاره دی دهغو څخه لکه کفر یا ښکاره زنا وَمَا بَطَنَ اوبل هغه چه پټ دی لکه نفاق یا پټه زنا وَالْإِثْمَ اوبله هغه گناه چه مقرر حد ورلره نسته لکه صغیره گناوی وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ اوبل ظلم اوکبر په ناحقه اوبے موجبه وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ اوبل داچه شریک وینسی په خدای پورې مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ هغه شي چه نه دی رالیږلے خدای په عبادت کولو سره دهغه شی سُلْطَانًا هیڅ دلیل اوهجت وَأَنْ تَقُولُوا اوبل داچه په دروغو سره ووایاست اودځانه څخه وترې عَلَى اللَّهِ پرخدای باندی مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۳۳﴾ هغه خبرې چه تاسی نه پوهیږی وَلِكُلِّ أُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ اوهرې مولې لره دکفار ویومقرر وخت دی دپاره دراتلو دعذاب اودا وعیددی دمکی وکفارو ته یا معنی داچه هرچا لره یومقرر وخت دی دپاره د مرګ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ نو په هغه وخت کې چه راشي هغه وخت د وعدې د دوی چه وخت د نزول د عذاب دی یا وعدې د مرګ د دوی لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً نو نه به ورسته کیږی دهغه څخه چې تاکل سوی وعدی څخه یوساعت هم وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿۳۴﴾ اونه به ځنی مخته کیږی يَا بَنِي آدَمَ ای اولادی دادم إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ که راغله وتاسے ته اودا اما زائده دی رُسُلٌ مِنْكُمْ رسولان دتاسے څخه دبنی ادمو يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي د چه لولی ایاتی، پرتاسے ایتونه دکتاب زما یعنی احکام زما دشریعت فَمَنِ اتَّقَى نو هرڅوک چه پرهیزګاری وکړی دشرکه څخه اودتکذیبه وَأَصْلَحَ اونیک یې کړې عمل چې فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ نو بیا نسته قسم بیره پردوی یعنی په امان به وی دهرهغه شی څخه چه دوی ځنی بیریږی وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۳۵﴾ اونه به وی دوی چه خفه کیږی به یعنی هرڅه چه غواړی هغه به ورته رسیږی وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا اوهغه کسان چه تکذیب کوی دایتونو زمونږ وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا اوکبر اوسرکشی کوی د ایمان راوړلو څخه پردی ایتو أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ دا کسان ملګری دا اوردد وزخ دی

هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿۳۶﴾ دوی به په دی اور کښی همیشه وی فَمَنْ اَظْلَمُ څوک دی
ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى ترهغه چاچه دځانه څخه وتړی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پر خدای باندی
درواغ چه وایی خدای ښځه اونږوی، اوشریك لری اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ یا نسبت د
درواغوکوی وایتو ته دده اُولٰٓئِكَ دامګډبان اومُفتریان چه دی يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُمْ
وبرسیږی ودوی ته هغه مقرره برخه ددوی مِنَ الْكِتٰبِ دهغه لیکل سوی څخه
چه ددوی، په حق کښی دی درزقه اودعمره اوداجله یا هغه عذاب چه ددوی پحق
کښی لیکل سویدی په لوح محفوظ کښی حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمْ ترهغو پورې چه راسے و
دوی ته رُسُلُنَا استاذی، نرمونږ چه ملك الموت دی اوا عوان فی دی يَتَوَفَّوْنَهُمْ
چه قبضوی روحان ددوی قَالُوٓا اَيْنَ مَا وبه وایی دامﻻئکی ودوی ته چه څه سره
هغه بتان ستاسے دپاره دشرمندګۍ کولو ددوی كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ چه واست به تاسے
چه بلل به موهمیشه اوعبادت به موکاوی ددوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه قَالُوْا
نوواپی به داکافران په جواب کښی ضَلُّوْا عَنَّا چه اوس ورك سوه دمونږ څخه او
هیڅ مدد پکی نه راورسیږی وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اوشاهدی به اداکی دوی پر
خپلو ځانونو باندی اَنَّهُمْ چه بیشکه دوی كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ وو کافران قَالَ ادْخُلُوْا
نوخدای یا ملائکه به په قیامت ورته وواپی چه ننوزی فِيْٓ اُمَمٍ په هغه ټولو
کښے یعنی دهغوکفارو سره قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ چه تیر سوی دی مخکی ترتاسے
مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ دپیریانانو اوانسانانو څخه یعنی تاسے هم ننوزی کډه
پخوانیوکفارو سره فِى النَّارِ ط په اوردوزخ کښے كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ هرکله چه
به ننوزی یوه ټولیه په دوزخ کښے لَعَنَتْ اُخْتَهَا نولعنت به وایی پرخوخپله یعنی
پرهغوهم جنسا نوخپلو چه دوی اقتداء ورپسی کړی وه لکه یهودو په خپلو
پخوانیو یهودو وپسی اونصاریٰ ووپخپلو نصاریٰ ووپسی اومجوسیانو خپلو مجوسیانو
پسے اوهمدا سے نور حَتّٰٓى اِذَا ادَّارَكُوْا ترهغوپورې چه یو بل سره به بیا پیدا کی

عه یعنی دروغ ویونکی واکثرو مفسرین ۱۲ عه یعنی چه یوبل ته دروغ وایی موبږلوری ۱۲

فِيهَا جَمِيعًا ۙ په هغه اورکښی تولـه یعنی چه تولـه پکښی یوځای اوجمعه سی قَالَتْ أُخْرَاهُمْ نو وبه وایی هغه وروسته راتلونکی متابعان ددوی لِأُولَاهُمْ په باب کی دمخکښیو اومتبوعانو خپلو وخدای ته رَبَّنَا ای زمونږ ربه هَٰؤُلَاءِ دامشران او متبوعان زمونږ چه دی أَضَلُّونَا گمراهان کړی یـی وو مونږ فَآتِهِمْ نو ورکړی دوی لره عَذَابًا ضِعْفًا عذاب دوچنده ترمونږ مِّنَ النَّارِ ۖ د اوره ځکه دوزخ یوه برخه یی دخپلی گمراهی او بله برخه یی دگمراه کولو نورو خلکو قَالَ نو وبه وایی رب لِكُلٍّ ضِعْفٌ چه وتولو ته دوچنده دی ومتبوعانو ته یو دکفر اوبل د اِضلال اوو تابعانو ته یو دکفر اوبل د تقلید وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿۳۸﴾ اولیکن نه پوهیږی تاسے وَقَالَتْ أُولَاهُمْ اوو به وایی مخکښی او متبوعان ددوی لِأُخْرَاهُمْ وو روستنیو اوتابعانو خپلو ته فَمَا كَانَ لَكُمْ نو نسته تاسی لره عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ پرمونږ هیڅ قسم بهتری چه موجب دتخفیف دعذاب ستاسے سی بلکه مونږ دواړه سره برابر یو په کفر کښی فَذُوقُوا الْعَذَابَ نو وڅکی عذاب بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿۳۹﴾ په سبب دهغه کارو چه تاسے به کوله إِنَّ الَّذِينَ بیشکه هغه کسان كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا چه تکذیب کوی دآیتونو زمونږ که قران دی اوکه نورد لیلونه دقدرت دی وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا اوکبر اوسرکښی کوی دایمان راوړلو پرهغو لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ خلاصے به نسی ودوی ته أَبْوَابُ السَّمَاءِ دروازی داسمان دپاره دخپلو داعمالو اودارواحو دوی بلکه سجین ته به بیول کیږی چه تراوی مخکی لاندی دی اوواروا حو اواعمالو د مؤمنانو ته به خلاصے سی دپاره دبیلو وعلیین ته چه داوومره اسمان سریره دی وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ اوداخل به نه سے دامکذبان اومتکبران جنت ته حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ ترهغو پورے چه ننوزی اوښی فی "سَمِّ الْخِيَاطِ" په سپلو "پرسوری" دستنی کښی اودا کار خو محال اوگران دی نو ددوی دخول "ننوتل" وجنت ته هم محال دی وَكَذَٰلِكَ او په مثل دجزا ددی متکبرانو

عه یعنی دگمراه کولو دلاری څخه دخدای ۲ عه یعنی دتقلید "پیروی" کولو په کافرانو پسی بیله دلیل شرعی ۱۲

نَجْزِی الْمُجْرِمِیْنَ ﴿۴۰﴾ جزا ورکو وموږ بجرمانو ته یعنی کافرانو ته لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وی به دوی لره داوږه ددوښخ څخه فرش چه دوی به پرکښینی وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ط اوسرپوره ددوی براغوسته وی له هم دی اوږه څخه وَكَذٰلِكَ او په مثل دجزا ددی خلګو نَجْزِی الظّٰلِمِیْنَ ﴿۴۱﴾ جزا ورکو وموږ وکافرانو ته وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان چه ایمان یې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه یې کړی دی دنیکو لکه منل دکتابو اودرسولانو اوهرکله چه اعمال صالحه چه پیروو اوکول دتولو طاقت بشری څخه وتلی وه نوځکه یې داورلپسی وویل چه لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا نه مکلف کوو اوبارنه اچوو موږ پرهیڅ اَلَّا وُسْعَهَا مګر په قدر دطاقت دده اُولٰٓئِكَ داکسان چه دی اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ملګری دجنت دی هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۴۲﴾ دوی به په دی جنت کښی هیڅکله وی وَنَزَعْنَا مَا اولیری به کړو موږ هغه شی چه فِیْ صُدُوْرِهِمْ چه په درلونو «سینو» دجنتیانو کښی به وی مِّنْ غِلٍّ د بغض اودکینی اودلونو څخه تولوسببونو عداوت څخه تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ج چه بهیږی به لاندی دمسکنو «کورونو» ددوی څخه وسره قسمه ولے وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اودوی به وایی چه ثنا ده هغه خدای لره هَدٰىنَا لِهٰذَا دا څه چه برابر یې کړو موږ وه دی مقام ته وَمَا كُنَّا اونه ووموږ پخپله لِنَهْتَدِیَ چه پیدا کړی وای موږ دا لاره پخپل فکر سره لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ؕ که نه وای برابرکړی موږ خدای پردی لاره او وبه وایی دپاره دشکرګذاری دنعمت دهدایت لَقَدْ جَآءَتْ خامخا به تحقیق سره راغلے وه رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ط استازی دروږ موږ په حق سره اوموږ چه دا سمه لاره پیدا کړه هم ددوی په ښوونه سره وَنُوْدُوْٓا اوبږغ به ورته وسی اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ داسے چه داجنت چه دی اُوْرِثْتُمُوْهَا درکړه سوی دی وتاسے ته مفت لکه میراث چه مفت وی یادکافرانو برخه جنت هم تاسے ته په میراث پاته سو بِمَا كُنْتُمْ په سبب دهغو عملو چه واست تاسے تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ چه کول به تاسے په دنیا کښے چه هغه استقامت وو اومواظبت وو پراواموراواجتناب وو دنواهیو څخه

وَنَادٰٓی اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ او وریږ به کړی جنتیان اَصْحٰبَ النَّارِ و د وریږ خیانو ته دپاره د خفه کولو د وی اَنْ قَدْ وَجَدْنَا داسے چه په تحقیق سره پیدا کړه مونږ مَّا وَعَدَنَا رَبُّنَا هر هغه شی چه وعده کړی وو د مونږ سره رب زمونږ لکه رضوان او دیدار او جنت حَقًّا په حقه سره بیله شکه او شبهې نخه فَهَلْ وَجَدْتُّمْ نو آیا تاسو پیدا کړه اوکه نه مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ؕ هر هغه شی چه وعده کړی وو د تاسے سره رب ستاسی لکه غضب او دوزخ اوحرمان د دیدار نخه قَالُوْا نَعَمْ ۚ نو وبه وایی د وریږ خیان چه هو مونږ هم پیدا کړه هم هغسی لکه چه وعده را سره سوی وه فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌ ۢ نو ږغ به وکړی یو ږغ کونکی یعنی اسرافیل بَيْنَهُمْ په مابین د دی جنتیانو او د وریږ خیانو کښے اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ داسی چه لعنت د خدای دی عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴿۴۴﴾ الَّذِيْنَ پر هغو ظالمانو یعنی کافرانو یَصُدُّوْنَ چه اړوی خلك عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ د لاری نخه د خدای وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۭ او لټوی دوی په دی لاره کښے کږوالے وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ او دوی په راتلونکی د قیامت سره منکروو وَبَيْنَهُمَا او وی به په مابین د دی جنت او د وریږ کی او یا د جنتیانو او د وریږ خیانو حِجَابٌ ۚ پرده چه هغه یوه قلعه به وی چه د دواړو طاقونو په مینځ کښے به وی او د رول شی لکه چه په سورة حدید کښے یې واضح بیان دی چه هغه دادی فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ باب باطنه فِيْهِ الرَّحْمَةُ وظاهره مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ؕ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ ۙ اے اعراف ذٰلك الحجاب یعنی دا الف لام عوضی دی او اعراف جمع د عرف ده او عرف برسر «لوړ سر» اوکاږه ته د هر شی وایی نو معنی یې داده چه وی به په کنګر ودی قلعی باندی سړی او خلك چه د وی به هم جنتیان وینی او هم د وریږ خیان یَعْرِفُوْنَ كُلًّا بِسِيْمٰهُمْ ۚ چه پیژنے به د وی تولو یعنی د دواړه طائفے په نښو او علامو د وی سره چه د جنتیانو نخان به سپین وی او د د وریږ خیانو دا به توره وی وَنَادَوْٓا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ او وریږ به کړی اعرافیان د جنتیانو ته په هغه وخت کښے چه ځ وړاندے وی اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۚ داسے به ورته وایی چه سلام د وی وی پرتاسے لَمْ يَدْخُلُوْهَا چه لا به نه د وی

دا خل سوی دا اعرافیان په جنت کښے وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ او حال داچه دوی به په طمع د دخول کی وی وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ او په هغه وخت کی چه وگرزول سی سترگی د دوی تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ پرطرف د دوزخیانو او په هغوی باندی نظر واقع سی قَالُوْا رَبَّنَا نو دوی به ووایی له ډیره هیبته چه اے ربه زمونږ لَا تَجْعَلْنَا چه مه گرزوه مونږ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ د ډلی دظالمانو سره وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ او بیا به بزغ وکړی اعرافیان رِجَالًا وهغوخلگو ته د دوزخیانو څخه يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ چه پیژنی به یی دوی په نښانو او علامو سره د دوی چه هغه نور والے دی د مخانوذی قَالُوْا نو ووایی به دوزخیانو ته مَآ اَغْنٰى چه هیڅ قد رعذاب دفع نه کړی عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ د تاسے څخه د یروالے د سره یاد مالوستاسے وَمَا كُنْتُمْ او نه هغه چه واست تاسو تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ سرکشی کونکی اوگردن کشان د حق څخه یا متکبران پرخلگو بیا به دا اعرافیان ووایی اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ ایا دا په جنت کښے هغه کسان دی اوگه نه دی یعنی دی اَقْسَمْتُمْ چه قسم به کاوی تاسے په دنیا کښے په دی چه لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ط وبه نه رسوی دوی خدای ورحمت خپل ته یعنی هیڅکله به یی داخل نکړی په جنت کښی بیا به ووایی دوی وجنتیانو ته اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اوسے په دی جنت کښی اویادا مقوله درب العزت ده واعرافیانو ته چه رانوښری په جنت کښے لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ نسته هیڅ بیره پرتاسے وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۴۹﴾ او نه به یاست تاسے چه خفه دی سے په دی جنت کښے لږ آیت دی چه هرکله اعرافیان داخل شے په جنت کښی نو دد ونږ خیانو به هم طمع پیدا سی نو رب العزت ته به سوال وکړی چه زمونږ خپلوان دی په جنت کښے نو اذن «اجازه» راکړه چه یو څو خبری ورسره وکړو نو اذن به ورته وسے او دد وزخه څخه به بزغ ورته وکړی لکه چه ووایی وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ النَّارِ او نارې به وکړی د ونږ خیان د د ونږ خه اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ وجنتیانو ته او ورته به ووایی اَنْ اَفِيْضُوْا

هغه په دی تسلی نه شاړه وه دوی ته پکښے دوی به د وزخیانو ته دغسے نه وی بلکه فی څیزیا به دوی ته ورکړی

عَلَيْنَا دا سے چه راتوی کړی پر موږ مِنَ الْمَاءِ یوشے قدرد او یوشے دجنت چه زموږ تنده
په ماته سی اَوْ مِمَّا یاد نوره هنوا سا موشے دا شربه وویا دا طعمه وو رَزَقَكُمُ اللّٰهُ
چه په رزق د رکړیدی وتاسے ته خدای قَالُوْا نو وبه وایی جنتیان په جواب کښی اِنَّ
اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا چه بیشکه خدای حرام کړیدی داد واړه چه شراب او طعام دجنت
دی عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا پرهغو کافرانو چه دوی نیولے دی دِيْنَهُمْ
لَهْوًا دین خپل هرعبث کار وَّلَعِبًا اوهره لوبه لکه تحریم د بحائرو او د سوائبو او د
وسائلو او تحلیل دهرداری اولوبے اولا سونه تکول داختر په وخت کښے چاپیره
د بیتی اوداقتول به دوی کول وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اومغروړ کړی وه دوی
دی واړه ژوند اود دیره غفلته څخه فِي خدای اواخرت هیرکړی وه فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ
نون ورځ به موږ هیرکړو دوی یعنی په دوزخ کی به ئی پریږدو كَمَا نَسُوْا لکه چه هیر
کړی وو دوی لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا پیښیدل دی ورځی خپلی چه داورځ د قیامت ده
دپاره د حساب وَمَا كَانُوْا اولکه چه وو دوی بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۵۱﴾ په اٰیتونو موږ به
ئی انکارکاوی چه داخدایه څخه نه دی وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ اوخامخا په تحقیق سره
راوړی دی موږ ودی کفارو ته بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ یوکتاب یعنی قرآن چه په تفصیل
سره پکښے بیان کړی دی موږ عقائد اواحکام اومواعیظ اوقصص عَلٰى عِلْمٍ په علم
کامل چښل سره په وجود د تفصیل هُدًى وَّرَحْمَةً په دی حال کښے چه رهنمائی ده او
مهربانی ده لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ دپاره دهغه قوم چه ایمان راوړی هَلْ يَنْظُرُوْنَ ایا
انتظارکوی دا کفار یعنی نه کوی وهیڅ شی نه اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ مگر مال اوعاقبت دی کتاب
ته چه دا اخبارات دده لکه وعد اووعید اوثواب اوعقاب رشتیا دی اوکه دروغ
دی يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ په هغه ورځ چه راشی عاقبت دکارا وموعود دی کتاب
چه قیامت دی يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ نوبه وائی هغه کسان چه هیرکړی ئی وو داکتاب
اوخ پی څنی گرولی وه مِنْ قَبْلُ مخکی تردی په دنیا کښے قَدْ جَآءَتْ په تحقیق سره

راغلے وو وموږ ته رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۴ استاذی درب زموږ په حق سره اوموږ نه وه
منلی اودا ډیره لویه ګناه دموږ څخه شوی وه فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ نوا یاسته موږ
لره اوس شفاعت کونکی فَيَشْفَعُوْا لَنَآ چه دوی شفاعت وکړی زموږ دپاره اَوْ نُرَدُّ یا بیرته
واستول سوموږ ودنیا ته فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ بیا به عمل وکړو موږ غیر دهغه عمل څخه
كُنَّا نَعْمَلُ ط چه وو موږ په دنیا کښے چه کول به موهغه عملونه چه بیا تکذیب اوشرك
پریږدو او تصدیق او توحید به اختیار کړو قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ په تحقیق سره زیان
رسولے دی دوی وځانونه خپلوته وَضَلَّ عَنْهُمْ اوورك سے دوی څخه مَّا كَانُوْا هغه
چه وو دوی يَفْتَرُوْنَ ۵۳ چه درواغ به یې ویل چه دابتان زموږ شفاعتکړی دی اِنَّ
رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ بیشکه چه رب ستاسے چه دی هغه خدای دی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
چه پیدا کړی یې دی اسمانونه اوځمکه فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ په مقدار د شپږو ورځو او
شپږو کښے ځمکه چه هغه وخت لاشپه اوورځ نه وه یا مراد دایام څخه ایام د اخرت دے
چه هره ورځ یې نزدکاله ده دنیا کیږی لیکن اول قول اصح دی ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ق
بیا مستولے سو پرعرش یعنی جاری کونکی دحکم اود قضا اود تصرف پخپل سو پرعرش
اوپه درست محاط دده کښے یا بیا یې قصد وکړی د پیدا کولو د عرش فائدہ منقول
دی د امام جعفر صادق ؒ او د حسن بصری ؒ او د امام اعظم ؒ او د امام مالک ؒ چه استوا
یې معلومه ده او کیفیت یې مجهول دی او ایمان پر واجب دی او انکار څنی کول کفر
دی او سوال څنی کول بدعت دی يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ پټوی دی په تاریکی د شپے
سره رڼا د ورځې او هماغه سے په رڼا د ورځې سره تیاره د شپې يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ
لټوی هر یو د دوی څخه هغه بل چلت ډډ ژر ډډ بے فاصله یعنی متصل د رپسې راځی لکه
طالب وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ اوپیدا کړیدی ده لمر او سپوږمی او ستوری
مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ط تابع کړه سوی دی حکم په فرمان د ده سره اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ اوګوره
چه خاص همده لره دی پیدا کول د تمام عالم د ده څخه ماسیوا وَالْاَمْرُ ؕ اوخاص

همدده لره دی فرمان تَبٰرَكَ اللّٰهُ لوی دی خدای په وحدانیت دالوهیت خپل سره رَبُّ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۴﴾ چه رب دټولوعالمیانوذی اُدْعُوْا رَبَّكُمْ بولے رب خپل هروخت تَضَرُّعًا
وَّخُفْيَةً ؕ په زاری او په پته سره ځکه چه پت دلیل داخلاص دی اِنَّهٗ بیشکه دے
لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۵۵﴾ نه خوښوی د حدّ تیریدونکی په دعاکښے بلکه په هرشے کښی یا
مراد څنی رفع «پورتکول» دصوت دے یا مراد ډیراوږدول ددعادی وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ
اوفساد مه کوی په ځکه کښی په کفر یا په ظلم سره بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وروسته تراابادی
دی په ایمان سره او په عدل سره وَادْعُوْهُ اوبولے دی خَوْفًا وَّطَمَعًا ؕ دویری د
عذاب اوپه طمع دثواب اِنَّ رَحْمَتَ بیشکه چه رحمت دخدای چه دی قَرِيْبٌ مِّنَ
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ د یرنژدی دی ونیکوکارانوته وَهُوَ الَّذِيْ اودی هغه خدای دی يُرْسِلُ
الرِّيٰحَ چه رالیږلے یې دی څلورقسمه بادونه چه دبور، قبول، شمول اوجنوب دی
بُشْرًا ډ زیږی کونکی بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ په مخکښی درحمت دده یعنی مخکے ترڅو تلودباران
حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ ټرهغو پوری چه راواخلے داباد ونه سَحَابًا ثِقَالًا اوریځی درنی پاسوبو
سره سُقْنٰهُ چه رامکښوو اوبیاپو موږ دا اوریځ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ دپاره دژوندی کولود
مړی مخکے دیوکلی فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ ټوراوه اوروو موږ پرهغه مړه مخکه اوبه دے
اوریځی فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نوبیارا باسوموږ په دی اوبوسره مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ دهر
قسم میوښخه كَذٰلِكَ همدا سے لکه چه دامړه مخکه راژوندی کړه موږ په بناتاتو
سره نُخْرِجُ الْمَوْتٰى ژوندی کوو موږ مړی اودقبرونخه به یې راوباسو لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ بنایې چه تاسے په دی سره پند واخلے اودقیامت ژوندی کول پر
قیاس کړی وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ اومتینه مخکه خالی دتیږواوشکونخه اولایق ډکر
چه دی يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ راوزی اونهرغونډی شین گیاوی اووابنه دده په اسانی
سره اوښایسته بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ په حکم دخدای دوغه بلد سره وَالَّذِيْ خَبُثَ اوهغه مخکه
چه ناپاکه خوره ناکه وی لَا يَخْرُجُ نه راوزی شین گیاوی ددده اِلَّا نَكِدًا ؕ مګر

لږ بے منفعته تمثیل زړه دمؤمن هغه متینه نګله ده اودکافر زړه هغه ناپاکه خوړه ناکه نګله ده اونصیحت اوپند دقرآن باران دی چه وه اوریږی پر زړه دمؤمن نو ښه خصال اواقوال اوافعال اواحوال ځنې صادریږی اوچه پرزړه دکافروه اوریږی نودا تخم د نصیحت پکښے خساسے په سبب د پیری خوړے اودکار شے ځنی نه صادریږی کَذٰلِكَ هم داسی لکه چه دامثال موږ بیان کړی نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ بیانوو موږ ایاتونه لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ ﴿۵۸﴾ د پاره د هغه قوم له چه شکر گذاره دی دجهنه دکفره اود عبرته په دی ایاتو چه هغه چا له دمؤمنانو نوده لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا خا نخا په تحقیق سره لیږلے وو موږ نوح چه زوی وود لَمَكَ بْنِ مُتَوَشِّخِ بْنِ اخنوخ چه نومړی داد ریس اِلٰى قَوْمِهٖ وقوم خپل ته چه اکثر یے د اولاده ځمه دقابیل وو اوبت پرستی ئی کوله فَقَالَ نو وویل ده يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے قومه زما عبادت کوی یوازی د خدای مَا لَكُمْ نشته تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ معبود هیڅوك بیله خدایه نو تاسے هم بل څوك د ده سره مه شریکوی په عبادت کښے اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه زه پیریږم پرتاسے عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۵۹﴾ د نزوله د عذاب د هغی لوی ورځے چه وړے د طوفان یاد قیامت ده قَالَ الْمَلَاُ وویل مشرانو مِنْ قَوْمِهٖ د قومه ځمه ددده اِنَّا لَنَرٰىكَ بیشکه موږ خا نخا وینو یا گڼو تا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۰﴾ په بنکاره گمراهی کښی چه موږ د پرو خدایانو ځمه نوځ خدای ته بولے قَالَ يٰقَوْمِ ووییل نوځ چه اے قومه زما لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ نشته په ما پوری گمراهی هیڅکله وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ خا اولیکن زه استازی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۱﴾ د طرفه د پروردگار د تمام جهانان اَبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ چه سرسوم وتاسے ته پیغامونه د رب خپل وَاَنْصَحُ لَكُمْ اونصیحت کومروتاسی ته محض د پاره د نفع ستاسے وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ اوزه پوهیږم د خدایه په هغه وحی سره چه راځی وما ته مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾ هغه چه تاسے نه پوهیږے

عه لمکد په زور د لام اوږدیم سره او په سکون د کاف سره او دی زوی وود متوشلخ په پیښ د میم او په زور د تا اودواړو سره او په سکون د شین او په زیر د لام او جسزم د خا سره ۱۲

هر کله چه قوم د نوح ؑ ځخوله "ځکینی" عذاب د مکذبانو د انبیاؤ نه وو او ورید له ځکه چه ځواهیچیری نه ووواقع سوی او په وحی او په پیغام نه پوهیدل نو چه لفظ درسولؑ یې او ورید نو پیر تعجب یې وکړی ځکه ده ورته وویل أَوَعَجِبْتُمْ أیا تعجب کوی تاسے أَنْ جَاءَكُمْ دد ی څخه چه راغلے دی وتاسے ته ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ پیغام او وحی د طرفه د ربه ستاسے عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ په ژبه د یو سړی له جنسه ستاسے لِيُنذِرَكُمْ د پاره د دی چه و ویروی تاسے دغه ابه په سبب د کفر او معصیت وَلِتَتَّقُوا او بل د پاره د دی چه ځان وساتی تاسے د قهره او د غضبه د خدای وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۶۳﴾ او بل د دی وجهی چه بنایې پرتاسے به رحم وکړه سے په سبب د پرهیز کولو د شرك او معصیت څخه او بیا نوحؑ نه نیمه سوه کاله په دی د عوت کښے تیر کړه اخر یې دا چه دوی دده دعوت نه کی قبول لکه چه وایې فَكَذَّبُوهُ نو ده روا غیجن وبائے دوی دی او ده وخدای ته سوال وکړی چه رب أَنِّي مَغْلُوبٌ تذر عَلَى الارض من الكفرين دیارا نو پیغام ورته وسوچه کښتی سازه کړه زمونږ په ښونه سره بیا چه بے جوړه کړه نو طوفان راغلے او دی د مؤمنانو نوسره پکښے سپوړ او دا مؤمنان یوسل اوشپیته تنه وو وَأَتَيَا پکښی نارینه او اتیا ښځے وی یا نه تنه وه دری یې خپل زامن وه چه سام او حام او یافث، دی او شپږ تنه نور وه فَأَنجَيْنَاهُ نو وسائی مونږ دی د غرقه څخه وَالَّذِينَ مَعَهُ اوهغه کسان چه ده سره ملګری وه فِي الْفُلْكِ په کښتی کښی وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ اومونږ غرق کړه په طوفان سره هغه کسان كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا چه تکذیب یې کاوی د ایاتو نه مونږ إِنَّهُمْ كَانُوا بے شکه چه دوی وه قَوْمًا عَمِينَ ﴿۶۴﴾ یوه ټولی چه راښده وه د زړه په ستر ګوسره وَإِلَىٰ عَادٍ او لیږلی وو مونږ وعاد یا نوته أَخَاهُمْ هُودًا او ورورد دوی یعنی یو د دوی څخه چه هودؑ وه چه زوی د عبد الله بن رباح بن خلود بن عاص بن ارم بن سام بن نوحؑ قَالَ نو وویل ده يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ اے قومه زما عبادت کوی یوازی د خدای مَا لَكُم نشته

ځه یعنی ای زما د ربه صه پر ږده پر ځای دیگه د کافرانو د ځه محمد یا کور یعنی حرف الف کم کړی ۱۲

تاسی لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ د معبود هیڅوك بیله خدایه اوبتان مستحق د عبادت نه دے
اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۶۵﴾ ایا نو ځان نه ساتی تاسے د عذابه ځکه د خدای قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ
وویل هغه مشرانو كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ چه کافران وه د قومه ځکه دده فائدہ د
قومه ځکه د هودؑ بعضو مشرانو ایمان راوړی وو ځکه چه دا الذین کفروا اوسره
راوړی اود قومه دنوحؑ یوه مشرهم ایمان نه وو راوړی نوځکه چه هلته تش (خالی)
قَالَ الملا ویلی وو اِنَّا لَنَرٰىكَ بیشکه چه موږ خا ځمگو تابع (نوکلی) فِيْ سَفَاهَةٍ
په بے عقلی کښے چه زموږ دین پریږدی اولوی دین اختیار وی وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ اوبیشکه
چه موږ خا ځمگان کوو پرتا مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۶﴾ یو له دروغجنو ځکه قَالَ يٰقَوْمِ نو
وویل هودؑ چه اے زما قومه لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ نسته په ما کی بے عقلی اوحماقت
وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ اولیکن زه استاذی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۷﴾ د طرفه ځکه د پروردګار
د رست عالم اُبَلِّغُكُمْ چه زه وتاسے ته رسوم رِسٰلٰتِ رَبِّيْ پیغامونه د چل
رب وَاَنَا لَكُمْ اونه چه یم وتاسی ته نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿۶۸﴾ نصیحت کونکی اوامانت
ساتونکی یم بیله خیانته اَوَعَجِبْتُمْ ایا تعجب کوی تاسی اَنْ جَآءَكُمْ د دی ځکه چه
راغلی دی تاسی ته ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ پند د ربه ځکه ستاسے عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ
پر شړبه د یو سړی ستاسی د جنسه ځکه لِيُنْذِرَكُمْ د دی د یاره چه تاسی وه
بیروی د عذابه ځکه د خدای وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ اویاد کړی هغه
چه کړی یی یاست تاسے خلیفګان اواوسید ونکی په ځایو د دوی کښے د حضرموت
ځکه بیا ترعمانه پوری مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وروسته تر قومه د نوحؑ یعنی وروسته
د غرقید ونځکه د دوی وَّزَادَكُمْ اونیات کړی یی یاست تاسے ده فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً
په پیدایښت کښے د جهته د قوته یا د قد اوقامته چه لنډ سړی د دوی به شپیته
ګزه قد رکیدی اواوږد به یی سل ګزه وو فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ نو یاد کړے
نعمتونه د خدای پرتاسے باندی چه خلافت اواوږده قامتونه دی لَعَلَّكُمْ

تُفْلِحُونَ ﴿۶۹﴾ سنایی چه تاسے خلاصی پیدا کړی قَالُوٓا نو وویل عادیانو وهودؑ ته اَجِئْتَنَا ایا ته راغلی یې وموږ ته لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ دپاره ددی چه مأموره کړی موږ چه عبادت وکړو یوازی دخدای وَنَذَرَ مَا اوپریږدو عبادت دهغه چا کَانَ یَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا چه وو چه عبادت به یې کاوی د هغه پلرونو موږ چه هغه بتان دی نو عبادت د بتانو خو موږ نه پریږدو اوته چه موږ بیروی دعذابه ځمخه فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ نو راوړه وموږ ته هغه شی چه ته موږ یه - بیروی دعذابه ځمخه اِنْ كُنْتَ که ته یې مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷۰﴾ د رشتیا ویونکو ځمخه په نازلیدو دعذاب کښے قَالَ نو وویل هودؑ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ په تحقیق سره واجب یا واقع سویږتاسے مِّنْ رَّبِّكُمْ د جانبه ځمخه درب ستاسے رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ط عذاب اوقهر - اَتُجَادِلُوْنَنِيْ ایا تاسی جګړه کوی دماسره فِيْٓ اَسْمَآءٍ په هغوشیا نو کښے چه تش نومونه دی بیله مسمّیٰ چه هغه بتان دی ځکه چه تاسی دوی اٰلهه (معبودان) یولی او په دوی کښی معنیٰ د اُلوهیت نسته اوبل دا چه ځهر یوه ددی بتانو ته تاسے بیل بیل تصرفات پیدا کړی دی ځکه یې په ساتیه اوپه حافظه اوپه رازقه اوپه سالمه سره بولے په دی ګمان سره چه داستاسی یاران او ساتنه په سفر کښے او روزی او سلامتی دا فالو ځمخه ددوی ځمخه دی اوسره ددی چه دا یوهم پردی قادر نه دی نو خود خالی «رئش» نومونه دی بیله مسمّیا نو سَمَّيْتُمُوْهَآ چه هغه نومونه هم تاسی پرابنے دی اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ بعضی تاسے پخپله پرابنے دی اوبعضی پلرو ستاسے مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا نه دی رالیږلے خدای په جواز د عبادت دووی سره مِنْ سُلْطٰنٍ ط هیڅ حجت اودلیل اوهرکله چه تاسے دحق تر بنکاره کیدو وروسته لاهم په هغه شان په عنادکی د وب روان یاست فَانْتَظِرُوْٓا نو منتظره اوسی دعذاب ونزول ته اِنِّيْ مَعَكُمْ بیشکه زه هم دتاسے سره مِنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ د منتظر یانو ځمخه م روایت دی چه عادیانو به عبادت د بتانو کاوی او

ربُّ العزت هودٌ ورته راولیږی اودوی ونه مانی نوډری کاله بارانونه پرېنډ سو او قحطی ډیر خفه کړه او عادت دهغو خلکو داوو هم د مسلمانانو اوهم د کافرانو چه هرکله به سختی پرراغله نوهغه ځای ته به راغلل چه اوس بیته شرایف پکښې ده او دلته د سرو شګو یوه ځای وو چه هلته به یې سوال وکړی نو هغه سخت به لیږی سوه نوډوی هم یو درے سرکرده ګان چه قیل بن عنز او نعیم بن هزال او مرثد بن سعد چه دی پکښې مسلمان وو دا دری سړی یې داویا تنو مشرانو سره ورولیږل او په هغه وخت کښې هلته حاکم معاویه نومی یو سړی وو چه د دوی خوسړی کیدی نوډوی به یې ډیر عزت او مهمانی کوله او په دی کښې یوه میاشت تیره شوه او معاویه یوه سو چه د دوی هغه مطلب هیر سوید ی د ډیره عیشه اوشرمه ښځه اوده هم مطلب نه سو ورته یادولای نو ده دوی ګڼی وے چه یوه ورده اوبله جراده نومیږی . وهغوته یې وویل چه تاسے په وخت د رقص کښې خفګان اواضطراب د خپل قوم ورته یادګړی نو دوی د رقص په منع کښې دا دوه بیتونه ورته وویل .

الا یا قیل ویحك قم فانهنم ... لعل الله یسقینا غماما
ویسقی ارض عادٍ ان عادًا ... قد امسوا مایبینون الکلاما

حاصل یې دادی چه اے قیله ولاړسه سوال وکړه او بوچه عادیان دی هلته د تندی ښځه مړه سوه نوحادثه ورته یاد سوه بیا چه وسوال ته ولاړ سو نومرثد ورته وویل چه تاسے پرخپل پیغمبر باندی ایمان نه دی راوړی نو هیڅکله به باران درباندی ونه سی نودی یې دځا نه سړه نه پرېښووی او قیل راغلے نوسوال یے وکړی چه اللهمّ ارسق عادًا ماکنت تسقیهم نوډری قسمه اوریځ راپیدا سوه سپینه اوسره او توره بیا اواز وسو د اسمانه ښځه چه اے قیله یوه ستم اوریځ په دی درو کښې غوره کړه نوده توره غوره کړه چه

عه یعنی ای خدایه باران وکړی پر عادیانو لکه چه اول «بخلے» دی باران پرکاوی ۱۲ عبدالواحد

په هغه کښی او به ډیری وی نو دا توره وسرغله دعادیانو سره ته او دوی ډیر په خوشحاله سوه ناگاه سخت باد پرسره والوتے او اوّه شپے اواته ورځے متصل پر وچلیدی نو دوی تولهٔ په هلاك سوه اوهودؑ د مؤمنانو سره په امان پاته سول لکه چه وایی فَاَنْجَيْنٰهُ نو وه ساتی مور. هودؑ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ او هغه کسان هم چه دده سره شریکان وو په دین کښے بِرَحْمَةٍ مِّنَّا په هغه رحمت سره چه زمور. د طرفه ځمخه وو پردوی باندی وَقَطَعْنَا او پریکړی مور. دَابِرَ الَّذِيْنَ بنیاد دهغو خلگو كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب یے کاوی د نبنو «علامو» د قدرت زمور. وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۲﴾ اونه وو دوی ایمان راوړونکی په وحدت د خدای او په رسالت د رسولؑ وَاِلٰى ثَمُوْدَ او مور. لیږلے وُ قبیلی د ثمود ته چه عرب وو او په نامه د خپل نیکه بللکیده چه هغه ثمود بن عابر بن ارم بن سام بن نوحؑ وو او دوے بت پرستے کوله نو پروردگار وروله راولیږی اَخَاهُمْ صٰلِحًا منبی وروړچه صالحؑ دی چه نړوی د عبید بن اسف بن ماسح بن عبید بن حاذر بن ثمود قَالَ وویل صالحؑ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ ای نړما قومه عبادت کوی یوازی د خدای مَا لَكُمْ نسته تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط معبود هیڅوك بیله ده او تبان لائق د عبادت نه دی قَدْ جَآءَتْكُمْ دی چه هرکله صالحؑ ودوی ته دعوت وکی نو دوی ډیے تکذیب وکړی د جهته د غرور په ډیر قوت او مال او سړو او په لویو قدونو خپنو او هلته یوه تیږه پرته وه چه نور ډیے کاتبه وه د بنارهٔ ځمخه لیږی وه نو یو مشر د دوی چه نوم ډیے جندع بن عمرو وو هغه وویل چه که دی تیږے ځمخه یوه اوښه بخته رنگه لویه ببره گیډوړه بلاسرېه راوباسی نو مور. پر تاباندی ایمان راوړو نوده ځوه رکعاته لمونځ وکړی او وخدای ته ډیے سوال وکړی نو دا تیږه سره وښوړیده او دلنگتوب په شان ډیے ناڅی وکړی او وچاودیده او هم هغسے اوښه څنی راووته لکه دوی چه غوښتی وه بیا دی او بنے فی الحال ناری

کړے اوچې څنې پیدا سوده ډې په قدرغټ وو نوهغه جندغ د خپلو تابعانو سره ایمان
راوړی اوبل چا «نورو» نه راوړی بیا به داوښه ډیچ سره ګرځیدلو نے اودرختی به
ئے خورلے او او به به پې پسې څنبلی مګر سر به پې د کوهے «څاه» څخه نه راپورته
کاوی چه ترڅو به پې داوبه توله تماے کړی نه وای او ترا وبو څنبلو وروسته
به یې پښې سره وکښی «لیږی کړی» او وبه د ریدله اوهر چا به لوښله تر څوچه به
توله وخانونه په پوره کړه اولوښې به پې هم توله په یو کړه دبلے ورځې دپاره اوبه
دوبې کښے به سوری «سایه» دی ونیوله اوددوی څاروی «پسونه» به توله ولمړته
وتښتیدل اوپه شړمے کښی به لمرځیکی دی ونیوی اودوی پسونه سایه ته وه نو
داکار پردوی ډیرسخت سو نوداپے حلالله کړه اوغوښې پې سره وه ویشلی اوبچے
پې څنې د تیږی وخواته وځښتل اوصالح ورته وویل چه په بچی پسې ئے ورسی
که لاس ته درغلی گوندی عذاب درڅخه دفع سے اودایه ځکه ورته وویل چه
دوی پردی حلا لولو پښیمانه سوه نوهرکله چه دوی وروروسیدل هغه وهغه
پخوانی تیږی ته ورغلی اودری ناری پے وکړی نوهغه تیږه وچاودیدل اودے
په نښو ئے اودوی ترهغه وروسته دری ورځی پاته سول چه په اوله ورځ پے
مخاڼ ژیړسوه اوپه دوهمه ورځ سره سوه اوپه دریمه ورځ تورسوه اوپه څلورمه
ورځ داسمانه څخه یوه چغه پروسوه نوزړونه پے وچاودل اوقوله هلاک سوه
لکه چه وایې قَدْ جَآءَتْكُمْ په تحقیق سره راغلے ده وتاسے ته بَيِّنَةٌ څخه مِّنْ رَّبِّكُمْ ط
بنکاره معجزه د رسالت څخه ستاسے چه دلالت کوی پرکمال د قدرت دده اوپه صحت
درسالت نرما چه هغه داده هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ دا تیږے څخه راوتلی اوښه
دخدای ده ځکه چه د تیږی څخه پے بې سببه راایستلی ده لَكُمْ اٰيَةً چه تاسے ته
دلیل دی پرپیغمبری نرما فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ نوتاسے داوښه پریږدی چه داشنه
وابنه وخوری فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ په ځکه کښے دخدای وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ اومه

ورو ړی لاس ودی ته په نیت دبدی سره فَيَأْخُذَكُمْ نو وبه نیسی تا سے یعنی درباندی
را به سی عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۷۳﴾ عذاب درد ناکه وَاذْكُرُوا او یاد کړی دانعمت دخدای إِذْ
جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ هغه چه تا سے یې خلیفگان کاست په ځکه کښے مِنْ بَعْدِ عَادٍ وسته تر
هلاکیدو دعاد یانو وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ اوځای دا وسیدو یے درکړی دی وتاسی
ته په ځکه دجګړو کښے تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولِهَا چه نیسی یعنی جوړوی تا سے دنرمواوهوارو
ځایونخه ددی ځکی قُصُورًا جګی بنګلی ددوبے دپاره چه ع: باد پکښے چلیږی وَتَنْحِتُونَ
الْجِبَالَ بُيُوتًا اوکنی (تراشی)، غرونه اوکوتے پکښے جوړوی گرمے دژمے دپاره فَاذْكُرُوا
آلَاءَ اللَّهِ نو یاد کړی دانعمتونه دخدای چه په هواره کښے یې دبنګلو اوپه غروکښے یې
دکندوقوت درکړی دی وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ اوخرابے مه اختیا روی په ځکه کښے
دجګړ مُفْسِدِينَ ﴿۷۴﴾ په داسے حال کښے چه اراده کونکی دفسادیاست بیادوی، صالح
دجواب څخه څنګ وکړی او ونه ږو مؤمنانو ته یے ع: ورواړې ځکه چه وایی قَالَ
الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا اوویل هغو مشرانو چه کبرجن اوسرکښه وه مِنْ قَوْمِهِ دقومه
څخه دصالح لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا اوهغوسانو ته چه ضعیفان ګڼل سوی وو لِمَنْ
آمَنَ مِنْهُمْ وهغه چاته چه ایمان یے راوړی وو ددی ضعیفانو څخه أَتَعْلَمُونَ
أَنَّ صَالِحًا ایا تاسے پوهیږی چه صالح چه دی مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ ط رالیږل سوی دے
دطرفه څخه دربه خپله اودایے دمخو پرطریقه اوویل قَالُوا کوو ویل دی ضعیفانو
إِنَّا بِمَا بیشکه چه موږ پرهغه شے أُرْسِلَ بِهِ چه دی رالیږل سوی دی په هغه شی
سره چه توحید اوعبادت دخدای دی مُؤْمِنُونَ ﴿۷۵﴾ ایمان راوړونکی یو قَالَ الَّذِينَ
اسْتَكْبَرُوا بیا هغوکسانو اوویل چه سرکښه وو دایمان راوړلو څخه پرخدای اوپر
پیغمبر دده إِنَّا بِالَّذِي بیشکه موږ پرهغه شے آمَنْتُمْ بِهِ چه تاسے پرهغه ایمان
راوړی دی كَافِرُونَ ﴿۷۶﴾ منکران یو فَعَقَرُوا النَّاقَةَ نو حلاله یے کړه هغه اوښه
اوحلالونکی یے قدار بن سالف نومے یوسړی وه دخوشو یه رضا (خوښه)، سره وَعَتَوْا

اوسرکښې يې وکړه عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ دفرمانه څخه درب خپل چه ورته ويلے يې وه
وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوْٓءٍ وَقَالُوْا وويل دوی دمسخو څخه يَطَّيَّرْنَا اے صالحه راوړه
وموږ ته بِمَا تَعِدُنَآ هغه شے چه دموږ سره يے وعده کوی چه راته ويلے دی مونږ
چه فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ هغه عذاب الیم اوس هغه عذاب راوله اِنْ كُنْتَ که ته يې مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۷۷
داستا ذو څخه پرحقه سره فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ ونوددوی ونيوله زلزلے ورسته
تراوريدلو دیوی لوی چغې فَاَصْبَحُوْا نوددوی سوله فِيْ دَارِهِمْ په مينه خپلو کښے
جٰثِمِيْنَ ۷۸ قرار پراته بے حرکته بے تکلمه يعنې مړه وچ کلک فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ نو
ځ يے وګرزاوی ددوی څخه اوولاړی ځنې په هغه وخت کښے چه اوښه يې حلال
کړه اودعذاب دروازه يے پرځانونو خلاصه کړه وَقَالَ يٰقَوْمِ اووی ويل چه
اے زما قومه لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ قسم دی چه په تحقيق سره ما ورساوی وتاسے ته
رِسَالَةَ رَبِّيْ پيغام دخپل رب وَنَصَحْتُ لَكُمْ او پرې نصيحت می درته وکړے
وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ۷۹ اوليکن تاسے نصيحت کونکی نه خوښوی وَلُوْطًا
او ياد کړه اے پيغمبره ودوی ته قصه د لوط اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ چه ده وويل
وخپل قوم ته چه په بنا رد سد ومرکښی وه اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ايا تاسے دابدکار
کوی چه لواطت دی يعنې داکارمه کوی مَا سَبَقَكُمْ بِهَا چه نه دی څخې سوی پرې
تاسے باندی په دے بدکار کولو سره مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۸۰ هيڅوک د نړيو خلګو
څخه اِنَّكُمْ بيشکه تاسے چه ياست لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ خامخا راځے وسړيانو ته تاسے
شَهْوَةً دپاره د اشتها دلواطت مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ بيله ښځو چه هغه وتاسے ته
حلالې دی نوتاسے دحق پرلاړ ربرابر نه ياست بَلْ اَنْتُمْ بلکه ياست تاسی قَوْمٌ
مُّسْرِفُوْنَ ۸۱ يو ټولې اسراف کونکی ياست په هر څه کښے وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ
اونه ووجواب دقوم ددې په مقابله دده کښے اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مګر داووچه ووېل
بعضو خلګو ددی قوم دسدوم وبعضو ته اَخْرِجُوْهُمْ چه دوی وباسی يعنی

وشړی لوط دخپله عیاله سره اومؤمنان یې هم مِّن قَرْيَتِكُمْ دوی خپل کلی ځمه
چه سدوم دی اِنَّهُمْ بیشکه دوی چه دی اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۸۲﴾ داسے سړی دی
چه ځان پاک ساتی د فواحشو ځمه یعنی په دی عمل کښے د موږ سره ځان نه گډوی
اوهرکله چه دوی ایمان راوړی اوددی بدکاره ځمه هم بند نه سول نو عذاب
پرنازل سولکه چه وایې فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ نو موږ خلاص کړی دی اوعیال دده اِلَّا
امْرَاَتَهٗ سره مگر ښځه دده چه علة نومیده اوداپته کافره وه كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۸۳﴾
چه داوه دپاته کیدونکوسره یوازی په باطن کښے یا پظاهر اوباطن دواړو کښے وَاَمْطَرْنَا
عَلَيْهِمْ اوهغوه اوراوی موږ پردی سد ومیانو باندی مَّطَرًا یو عجیبه قسم باران
چه وبری دگوګرد اوسره گډی پراوریدلی فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ نو وګوره چه څرنګه
ووعَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ اخره خاتمه دګناهګارانو وَاِلٰى مَدْيَنَ اوالیږلے وو موږ
واولاد دمدین ته چه زوی دابراهیمؑ وو اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ورور دوی یعنی
یوددوی چه شعیبؑ ووچه زوی دمیکیل بن یسخر بن مدین وو قَالَ يٰقَوْمِ ده
وویل چه اے زماقومه اعْبُدُوا اللّٰهَ یوازی دخدای عبادت کوی مَا لَكُمْ نسته
تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط هیڅوك معبود بیله ده ځمه قَدْ جَآءَتْكُمْ په تحقیق سره
راغلے دی وتاسے ته بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ښکاره معجزه اګرکه ذکرسوی نه ده په
قران کښے دجانبه درب ستاسے فَاَوْفُوا الْكَيْلَ نو پوره ورکوی پیمانه وخلګوته
وَالْمِيْزَانَ اوتله هم یعنی هغه شیان چه تَبْخَسُوا کوی یا پیمانه کوی يِ وَلَا تَبْخَسُوا
النَّاسَ اوکم مه ورکوی وخلګو تر اَشْيَآءَهُمْ هغه شیان دوی اوپه وخت کی د
خرید اوفروخت خیانت مه کوی وَلَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ اوفساد مه کوی په
ملک کښے په کفراوخیانت سره بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وروسته تراصلاح کیدو دی
په رالیږلو دپیغمبرانو اودکتابونو ذٰلِكُمْ دا کارچه دی خَيْرٌ لَّكُمْ ډیر غوره وبهتره
دی وتاسے ته اِنْ كُنْتُمْ که تاسے یاست مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ ایمان راوړونکی اودوی لکه

چه په پیمانه کښے خیانت کاوی اوهم داسے به یے لاری وهلے نوځکه وایی وَلَا تَقْعُدُوْا
اومه کښینی بِكُلِّ صِرَاطٍ پرهره لاره دپاره دخلکو دشکولو تُوْعِدُوْنَ چه بیره تیروی
پر لار ویانوباندی وَتَصُدُّوْنَ او اړوی عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دلاری څخه دخدای مَنْ
اٰمَنَ بِهٖ هغه څوك چه ایمان یے راوړی وی پرخدای اودوی به همیشه داسے کوله
چه هرځوك چه به شعیبؑ تهراتلے هغه به دوی ځنے اړاوی وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا
اولتوی دوی دخدای لاری ته کوږ والے یعنے وخلکو ته وایی چه دالاره کږه او
خرابه ده نوتاسو کول پردی لار پکارنه دی وَاذْكُرُوْٓا اویادکړی دااحسان دخدای
پرتاسے باندی اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا هغه چه تاسی لږ واست فَكَثَّرَكُمْ نو بیایی دیر
کړلاست وَانْظُرُوْا اووګورئ كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وه عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾
اخره خاتمه دفسادکونکو لکه قوم دنوحؑ اوهودؑ اوصالحؑ اودلوطؑ وَاِنْ
كَانَ اوکه وه طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ یوه ډله دتاسے څخه اٰمَنُوْا بِالَّذِيْٓ چه ایمان یے
راوړی وی پرهغه دین اُرْسِلْتُ بِهٖ چه راليږل سوی یم زه په هغه دین سره
وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا اوبله ډله وه دعناد کونکو څخه چه ایمان یے نه وو راوړی
فَاصْبِرُوْا نوصبرکوی اے مؤمنانو پرایذاء «ضرر رسولو» دعناد کونکو تاسے تر حَتّٰى يَحْكُمَ
اللّٰهُ ترهغوچه حکم وکړی خدای بَيْنَنَا په مابین کښے زمونږ دوارو وطائفو «ډلو»
وَهُوَ اودی چه دی خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ بهتره دټولو حکم کونکو دی
قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا وویل هغو مشرانو چه دخدای دعبادت څخه
پے سرکشی کوله مِنْ قَوْمِهٖ دقومه دشعیب څخه لَنُخْرِجَنَّكَ یشُعَيْبُ خامخا به وباسو
تا اے شعیبؑ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهغه کسان هم چه ایمان یے راوړیدے مَعَكَ د
تاسره مِنْ قَرْيَتِنَآ دخپل کلی څخه اَوْ لَتَعُوْدُنَّ یا به خامخا بیرته راګرځی تاسے فِيْ
مِلَّتِنَا په دین زمونږ کښے چه کفردی اووشعیبؑ ته نسبت دعود تغلیباً دی ځکه
چه دی خو اول هم پاك وود شرك اوکفر څخه قَالَ نوووایل شعیبؑ اَوَلَوْ كُنَّا ایا

که څه هم یو موږ کَرِهِيْنَ ﴿۸۸﴾ ناخوښه نوهم به تاسے موږ بیرته ګرځوی نو کفارو ورته وویل چه هو بیا شعیب علیه السلام ورته وویل چه خدای لره خوشریك نسته اوکه پرطریقه دفرض د محال سړ موږ وواپو چه سته قَدِ افْتَرَيْنَا نو په تحقیق سره چه دخپله ځانه به موږ ترلے وی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا د رواغ پرخدای په ناحقه سره اِنْ عُدْنَا که بیرته موږ وګرزو یعنے دا مؤمنان چه د ماسره دی چه ایمانه څخه لاس واخلے او بیا داخل سے اونږوزی فِيْ مِلَّتِكُمْ په دین سنا سے کښی بَعْدَ اِذْ وروسته ترهغه نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا چه خلاص کړی یو موږ خدای دی دینه څخه ستاسی وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اونه ده مناسب اوروا وموږ ته اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ داچه بیرته وګرزو او ننوزو په دی ملت دکفر کښے اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ مګر که اراده وکړه دراګرزیدو زموږ خدای رَبُّنَا چه رب زموږ دی نو دهغه د حکم څخه خلاصون نسته وَسِعَ رَبُّنَا رسیدلی دی رب زموږ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا وهرشی ته دجهته دعلم یعنے علم دده محیط دی پرهرشی اوموږ ددی دښکو پاے کښلو سنا سے څخه نه بیریږو خُلّه چه عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا خاص پرخدای باندی توکل کړی دی موږ بیا شعیب پر طریقه دسوال وویل رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا اے ربه زموږ حکم وکړه په مابین کښی زموږ وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ اوپه مابین کی دقوم زموږ په حقه سره وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾ اوته بهتریے دتولو حکم کونکو وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اوووایل هغه اشراف دقبیلے كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چه کافران وه دده قوم څخه و مؤمنانو ته چه لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا که متابعت وکړی تاسے د شعیب پر دین کښے اوخپل زوړ دین د پلرو سره سے مو پریښووی اِنَّكُمْ اِذًا الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾ نو بیشکه تاسے په دغه وخت کښے ډ زیانکاران څخه یاست چه زوړ دین به پریږدی او نوی دین به اختیار کړی بیا هرکله چه په دیر نصیحت سره هم بند نه سول دکفر او دخیانت څخه نو عذاب پرراغلے لکه چه وایی فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ نو ویلو دوی زلزلے او جبرائیل

همچینه پروکړه فَاَصْبَحُوْا نوسول متوله فِیْ دَارِهِمْ جٰثِمِیْنَ ﴿۹۱﴾ په مینو «کورو»
خپلوکښې قرار پراته بیله حرکته بیله تکلمه یعنې مړه وچ کلک اَلَّذِیْنَ کَذَّبُوْا شُعَیْبًا
هغه کسان چه تکذیب یې کړی وو د شعیبؑ داسې هلاک اوورک سول متوله چه
کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ؕ گویا که دسره نه وه اوسیدلے په دغو کورو کښې اَلَّذِیْنَ کَذَّبُوْا
شُعَیْبًا بیا هغه کسان چه دروا عجن یې بللی دی شعیبؑ کَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۹۲﴾
وو دوی هم د دې زیانکارانو په دنیا اوپه اخرت کښې چه دلته مړه ارسول او
هلته په نارسول اوهرکله چه شعیبؑ دعذاب نبني ولیدی نو ارادة د وتلو
یې وکړه لکه چه وایي فَتَوَلّٰی عَنْهُمْ نو مخ یې وګرزاوی د دوی څخه وَ قَالَ یٰقَوْمِ او
ویې ویل چه ای قومه زما لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ ستاسې دی چه په تحقیق سره د رسول ما
وتاسی ته رِسٰلٰتِ رَبِّیْ پیغامونه درب خپل وَ نَصَحْتُ لَكُمْ ؕ او نصیحت می درته
وکړی فَكَیْفَ اٰسٰی نو اوس څرنګه غمجن سم او ارمان وکړم عَلٰی قَوْمٍ كٰفِرِیْنَ ﴿۹۳﴾
په هلاکید لو دهغه قوم چه کافران وه هرکله چه دا قصی دهلاکید ودتیږو امتو
بیان سوی دپاره د عبرت نو اوس رب العزت پرطریقه د عموم سره وفرمایشوته
وایي وَمَاۤ اَرْسَلْنَا اونه وو رالیږلے مونږ فِیْ قَرْیَةٍ په هیڅ کلی او بنار کښې
مِّنْ نَّبِیٍّ هیڅ پیغمبر چه دوی نه دی منلی اِلَّاۤ اَخَذْنَاۤ اَهْلَهَا مګر چه نیولی دی
مونږ اهل د دی کلي یا بنار بِالْبَاْسَآءِ په سختیو او تنګیو سره وَ الضَّرَّآءِ او په
زحمتو او رنځو سره لَعَلَّهُمْ یَضَّرَّعُوْنَ ﴿۹۴﴾ بنایې چه دوی زاری وکړی او پښتو څخه
اوخپل پیغمبر و منی اوهرکله چه په دی سختیو سره سم نه سوه نو راحت
می پرا راوستی چه که په دی سره سم سره سے لکه چه وایي ثُمَّ بَدَّلْنَا بیا بدل کړه
مونږ مَكَانَ السَّیِّئَةِ الْحَسَنَةَ پرځای د بلا او د مرض او د شدت کښې سلامتي
اوصحت او راحت حَتّٰی عَفَوْا ترهغوچه ډیر پیسو سره مال اوهم یې رجال
نوکفر یې وکړی وَّ قَالُوْا او دوی ویل چه دا د زمانې عادت دی چه څوک پورته کوی

او څوک کښته کوی او د اېکفر او ایمان پوری نه دی او دی ته نه گوری چه قَدْ مَسَّ
په تحقیق سره رسید لی دی اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وپلرو زمونږ ته هم سختے پخواتردی
وَالسَّرَّآءُ اوخو ښحالی نو بیا هرکله چه په کفر او په کفران کی لاوریسی کلک سوه
فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً نو ونیول مونږ دوی ناڅاپه اوناخبره وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹۵﴾
او دوی نه پوهیدل په دی چه پرمونږ به عذاب راسی وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى او
که خلګو دی کلوچه مونږ پیغمبران ورلیږلے وه یا خلاک دمکی او دشاوخوا
کلو اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا ایمان بی راوړی وای پرځای دکفر اوځان بی د مخالفته څخه
دخپل پیغمبر ساتلی وای لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ نوڅا څخا به مونږ خلاصے کړی وای پر
دوی باندی بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ دروازی د برکتو دطرفه څخه د اسمان د باران په
اوروولوسره وَالْاَرْضِ او د مځکی دطرفه څخه په شنه کیدلو سره دغلو او میوو
وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا اوليكن تكذيب اختيار كړی دوی زمونږ د رسولانو فَاَخَذْنٰهُمْ نو
مونږ ونیول دوی بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۶﴾ په سبب د دی چه دکفر کسب بی کاوی
او دګناهو اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى ایا نو په امان اوبے غمه دی د دا اهل د دی
مکی اوشاوخوا کلو وروسته ترهلاکولو د دی د ومره خلګو اَنْ يَّاْتِيَهُمْ
بَاْسُنَا بَيَاتًا د دی څخه چه راسی دوی لره زمونږ عذاب دشپی وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۹۷﴾
اوحال داچه دوی بیده وی په خوارۍ خوب اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اوګه په امان
اوبے غمه دی اهل د دی کلو اَنْ يَّاْتِيَهُمْ د دی څخه چه راځی دوی لره بَاْسُنَا ضُحًى
عذاب زمونږ د څاښت پروخت وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ اوحال داچه دوی په لوبو اخته
وی اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ایا نو په امان سوه دا اهل د تکذیب د تاڅاپه نیولو څخه
د خدای فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ نو نه په امان کیږی د ناګاه راتاپیره نیولو څخه د
خدای اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ مګر ټولے د زیانکارانو په کفر او په نفاق سره
اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ ایا نه دی بیان کړی خدای هغوکسانو ته يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ چه

په میراث وړی نکله یعنې چه اوسی په دی نکله کښی مِنۢ بَعۡدِ اَهۡلِهَاۤ روسته ترهلاکه د اهل دهغی نکی اَنۡ لَّوۡ نَشَآءُ ددی چه که اراده وسی زمونږ اَصَبۡنٰهُمۡ بِذُنُوۡبِهِمۡ ج نو به و نیسو دوی په جزا دګناهو خپلو یعنې دوی به هم د پخوانو خلګو په شان هلاک کړو وَنَطۡبَعُ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ اومهر به ووهو پر زړو ددوی فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾ نو بیا به دوی نه اوری په سمع د فهم اود عبرت سره تِلۡكَ الۡقُرٰى دا کلی اوښارونه ددی بیان سوا متوچه دی لکه احقاف اوحجر اومؤ تفکات یاد اسے نۙ نَقُصُّ عَلَيۡكَ بیا نوولۍ اووایو بې وتاته مونږ مِنۡ اَنۡۢبَآئِهَا د بعضې اخبار وشمه دهغو وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ اوخامخا په تحقیق سره راغلے وه ددوے نه رُسُلُهُمۡ پیغمبران ددوی لکه نوحؑ، هودؑ، صالحؑ، لوطؑ، شعیبؑ عَلَيۡهِمُ السَّلَامُ بِالۡبَيِّنٰتِ ج په بنکاره معجزو سره فَمَا كَانُوۡا لِيُؤۡمِنُوۡا نو نه وه دوی داسے چه ایمان بې پر راوړی وای بِمَا كَذَّبُوۡا پرهغه شے چه دروا نجن بې باله مِنۡ قَبۡلُ ط مخکی ترڅو تلود رسولانو بلکه هم هغسې پرخپل کفر کلک ولاړ وه كَذٰلِكَ په مثل دمهر دی مذکورینو ذکر سو يَطۡبَعُ اللّٰهُ مهروهے خدای عَلٰى قُلُوۡبِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۰۱﴾ پرزړو دکافرانو وَمَا وَجَدۡنَا او نه وه د پیدا کړی مونږ لِاَكۡثَرِهِمۡ مِّنۡ عَهۡدٍ ج د زیاتو ددوی څخه وفا پرعهد «وعده» چه په ورځ د میثاق بې کړی وه د مونږ سره یا هغه عهد چه په خپ دنا زلید لود عذاب به بې ویل چه لَئِنۡ انجیتنا من هذه لنکونن من الشکرین وَاِنۡ اوبیشکه شان دادی اودا ان مخففه ده مشقله څخه وَجَدۡنَاۤ اَكۡثَرَهُمۡ چه موند لی «پیدا کړی» دی مونږ زیات ددوی لَفٰسِقِيۡنَ ﴿۱۰۲﴾ خامخا فاسقان یعنې ما تو کی د عهد ثُمَّ بَعَثۡنَا بیا راوه لیږلی مونږ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ د هغوی روسته ترډی تیرو پیغمبرانو مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَاۤ موسیٰؑ د نو معجزو سره زمونږ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وفرعون ته د مصر چه فرعیانو قابوس یا ولید بن معصب بن ریان وو او فرعون بې لقب ووو مَلَا۟ئِهٖ او

عه یعنی ای خدایه که تا خلاص کړو مونږ د دی عذاب څخه چه نازل سوی دی پر مونږ باندی نو ضرور به مونږ سو د ښ کړاو څخه د لغزستا یعنې مؤمنان به سو ۱۲

اکابرو قوم ده ته فَظَلَمُوا بِهَا نو ظلم ئے وکړی پرهغوا یتو باندی یعنی په
کافران سو فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ نو وګوره چه څرنګه وه دوی انکاره وروسته ـ
عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿۱۰۳﴾ اخره خاتمه د فساد کونکو چه اویا لکهه لښکر په یوه
وار غرق سو په دریاب کښے وَقَالَ مُوسٰى يٰفِرْعَوْنُ اے فرعونه
اِنِّي رَسُوْلٌ بیشکه زه استاذی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ د طرفه د پروردګار
د تمام جهان وتاته او قوم ستاته بیا فرعون ورته وویل چه درواغ وایی حکه
ده ورته وویل چه حَقِيْقٌ زه لایق یم د رسالت یادی چه رشتینے
وبلل سم او رالیږل سوی یم عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ په دی شان چه نه وایم زه عَلَى اللّٰهِ
اِلَّا الْحَقَّ پرخدای مګر رشتیا قَدْ جِئْتُكُمْ په تحقیق سره زه راغلے یم وتا سے ته
بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ په بنکاره دلیل سره د چا نبه څخه د رب ستا سے پخپل رسالت
یعنی داسے معجزه می راوړی ده چه شاهد ده پر رسالت زما باندی فَاَرْسِلْ مَعِيَ
نو ولیږه یا خوشی کړه د ما سره بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۰۵﴾ اولاد د یعقوبؑ چه بیرته خپل
وطن ته ولاړ شی یعنی کنعان ته چه دوی څخه راغلی وه او بیا یې اولاد ونه فرعون
خپل مریان جوړ کړه د جهته د یوسفؑ بیا چه موسےٰ راغلے اوده او د یوسفؑ په
مینځ کښے خلور سوه کاله تیر سوی وه او فرعون ته یے وویل چه معجزه می ورته
راوړی ده قَالَ نو فرعون وویل اِنْ كُنْتَ که ته یې جِئْتَ بِاٰيَةٍ چه راغلے یې د معجزی
سره فَاْتِ بِهَآ نو راحاضره کړه د ما ته اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ که چیرې ته
یې درشتیا ویونکو څخه په دی دعوی کښے فَاَلْقٰى عَصَاهُ نو وغورځوله موسےٰ
لکړه خپله فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۷﴾ نو ناڅاپه د الکړه وروسته ترغورځولو ثُعْبَانٌ
اژدها وه ښکاره بے شکه وَنَزَعَ يَدَهٗ او ایت دی چه هرکله یې لکړه وغورځوله نو لوی
ښاما رسوچه خوله یے وازه ښوله وه او اتیا ګزه یے د د وا وړه نه امو مینځ وو
او وفرعون ته ساروان سو نو دی څخه وتښتیدی او ده یرې بیرې څخه جلاب

عه یعنی دجلاب په شان وست دنس څخه ایله سو ۱۲

سو اوپر هغو خلکو یے حمله وکړه نو ماته یه گډه سوه اونیغه ویشت زره مخلوق یه دی تیښته کښے مړه سوه او فرعون چیغی کړی چه ای موسے داونیسه چه زه ایمان راوړم او بنے اسراءیل هم درسره لیږم چه موسے علیه السلام لاس ورواچاوی نو بیرته لکړه سوه او فرعون راغلے بیا پرخپل ځای کښینا ستے او موسے ته یې وویل چه بله کومه معجزه هم لری ده وویل هو لرم یې او بنے لاس یې په گریوان کښے ننه ایستی او په چه تخرلۍ کښے یې وه بیوی وَنَزَعَ يَدَهُ او بیا یې راوه ایستے خپل لاس دگریوان څخه فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ نو ناڅاپه دالاس چه ووتل سپین وو په داسے عجیبه سپینوالے سره چه دیر نورانی وی او مخلوق پرې راجمع کیږی او دیر تعجب ورته کوی لِلنَّاظِرِينَ ﴿۱۰۸﴾ تماشه بینانو ته روایت دی چه موسے علیه السلام غلم رنگه وو او فرعون ته یے اول خپل لاس ورښکاره کړی چه شعاع یې نه درلودی او بیا چه یې په خپل گریوان کښے دننه کړی او بیرته یې راوه ایستے نو داسے شعاع یې پیدا کړی وی چه د لمر پرشعاع باندی دیری غالبی سوی او د لمر رنا یے بیخے ورکه کړه دوهم وار یے بیا لاس په گریوان کښے دننه کړی او چه بیا یې راوه ایستے نو دیخوا په شان سوی وو نو بیا فرعون د خپل قوم مشران راتول کړه د مصلحت دیاره د موسے په باره کښے نو دوی یو کا رغوړ کی لکه چه وای قَالَ الْمَلَأُ وویل مشرانو مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ د قومه څخه د فرعون إِنَّ هَٰذَا بیشکه چه دا موسے چه دی لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ ﴿۱۰۹﴾ خامخا دیر لوی جادوگر دی اوداسے په کی ماهر دی په دی باب د سحر کښی چه لرګے بنامارکوی اولاس لمرکوی يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ دی اراده لری د دے چه تاسے قبطیان وباسے مِنْ أَرْضِكُمْ د خپلی ملګے څخه سنا سے چه مصر دی نو بیا چه فرعون د دوی څخه داخبره واوریده نو وده وی ته یې ووِيل فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿۱۱۰﴾ نو تاسے وماته څه امرکوی او څه تدبیر وایاست په دی باب کښے قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ نو دوی ووِيل چه حصار یے کړی دی او ورورده چه هارون دی یعنی د دواړو ته مهلت ورکړه

او وعدهٔ درسره کښیږده وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ او ولیږه وهغوښتار وته چه تابع دمصردی حٰشِرِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ محصلان راتولونکی دخلکو يَاْتُوْكَ چه دوی تاته راوله بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ﴿۱۱۲﴾ هرجادوګر په پوهنه په سحر کښے روایت دی چه په هیڅ زمانه کښے به داسے ډیر ساحران «جادوګران» نه وه لکه په زمانه د موسے علیه السلام کښے اوخصوصًا په توابعو «الرانو» د مصر کښی بے حده ډیروه مګر په دوی تو لوکښے بیا دوه و رونه وه چه سابور اوهاز ور نومیده هغه دواړه بے نظیره وه اوچه ودوی دواړو ته پیغام د فرعون راغلے چه دهغو لو تابعانو څخه سره راحاضر سی نو دوی و خپلے مورته وویل چه مور د څل پلار قبر ته بونه چه هلته ورغله نو بړغ یې وکړی چه اے پلاره! مور د باچا د مصر بللی یو ځکه چه وده ته دوه سړیان راغلے دی بیله لښکره بیله اسلحې اوباچا یې تنګ کړی دی او یوه لکړه ورڅخه ده چه دی یې وغواړی نو هغه بنامار سے اوهرڅه چه په ځمه ورځی هغه قوله وخوری او باچا مو ږد دوی مخ ته وروله نو د قبر څخه آواز وسوچه هرکله مصر ته راغلے نو پوښتنه وکړی چه دوی بیډ سے نو د الکړه بنامار وی اوکه نه وی که چیرې دا بنامار وی نو دا معجزه ده اوسحر نه دی اوکه نه وی نو دا سحر دی غاړه ورته کښیږده دی نو بیا دا دواړه و رونه ددوولس یا اویا ړوساحرانو سره ومصر ته راغلے لکه چه وایی وَجَآءَ السَّحَرَةُ اوراغلے جادوګران فِرْعَوْنَ وفرعون ته نو بیا چه سره مخامخ سوه قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا بیشکه مور د لره دی خامخا پراجروی اِنْ كُنَّا كه مور سو نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ هم د امور غالبان پر موسے باندی قَالَ نَعَمْ نوفرعون ورته وویل چه هو اجر دی وی وَاِنَّكُمْ اوبل دا دی هم وی چه تاسے به لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ خامخا د نږدی کړه سوځمخه به یاست وما ته نږدچا چه ځمکی به رانونزی او وروسته به زمونږ ګالُوْا يٰمُوْسٰٓى نو بیا ساحرانو ووویل چه اے موسے اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ یا دا خبره ده چه ته ستا لکړه وغورځوه وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ او یا دا خبره ده چه مور نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾

هم دامون غوښ خونکی یو د پرو «رسیاز» او لکړ وخیلو قَالَ أَلْقُوا ۱۶ نو وویل موسے دپره کرمه اوزړ ورتوبه چه تاسے یې اول وړځی فَلَمَّآ أَلْقَوْا پس هرکله چه دوی وغوړځولے پرې اولکړی سَحَرُوٓا أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ نو په سحر سړه پے وترلے ستړګی د خلګو چه دواقع څخه مخالف به یې لیدل یعنے دا پرې اولکړی به یې لوی لوی ماران لیدله چه منډی «ځغستاری» بړے وهلی اویو پربل به سړ سپیدله وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ اوبیر ول دوی داخلك وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ۱۱۶ اودوی راتله وکړه په لوی جادوسړ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ اووحی «پیغام» وکړی موږ و موسے ته أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۰ دا سے چه وغوړځوه لکړه خپله بیا چه ده وغوړځوله نو بنا مار سوچه خوله پے وازه ینولے وه فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ نو ناڅاپه داچه وه وی نغښتله او پیروه وار پے ترحلق تیرکړه مَا يَأْفِكُونَ ۱۱۷ هغه چه درواغ جوړ کړی وه دوی وخلګوته چه هغه څلویښت خوروارو پرې اولکړی پې ددی خلګو په نظر کښے ماران کړی وه وَقَعَ ٱلْحَقُّ نو پیدا اوثابت او واقع سوحق وَبَطَلَ مَا او ورك او خراب اولاندی سوهغه عمل كَانُوا يَعْمَلُونَ ۱۱۸ چه وو دوی چه کوله پے چه هغه سحر وبیا نو ساحران په خپلو کښے سره وویل چه کدا سحر وی نو نهموږ رسی اولکړی به پرتے وی اوبیخی به ورکے سوی نه وای فَغُلِبُوا هُنَالِكَ نومغلوبه سوفرعون اوساحران په دی مقدمه کښی وَٱنقَلَبُوا صَٰغِرِينَ ۱۱۹ اوبیرته ولاړل فرعون اوقوم یې مصرته خوارخسته مقهوړ اوشرمنده وَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ او واچول سول «وغورځول سوه» ساحران پرمخی سُجَّدِينَ ۱۲۰ سجدې کونکی وخدای ته قَالُوٓا ءَامَنَّا ووویل تولوچه ایمان راوړی دی موږ بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۱۲۱ پرپروب دتولوعالمیانو دپاره ددفع ددے وهم چه فرعون به وایے چه دایې نړه ښوولے یم دوی وویل رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۱۲۲ چه دموسے اوهارون رب دی نه فرعون قَالَ فِرْعَوْنُ

عه یعنے قهر دخدای پرکړه سوی ۱۲ منه یعنے فرعون به وایے چه رب دعالمیانو خوزه یم نو دی ساحرانو پرما ایمان راوړی دی نو دوے دیاره دوفع کولو دپاره دروبیل ۱۲

نو فرعون وساحرانو ته وویل اٰمَنْتُمْ بِهٖ تاسے ایمان راوړی پرخدای یا پرموسے
قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ځکی تردی چه نږه ددے ایمان راوړلو اجازه درته وکړم
وتاسے ته اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ بے شکه داکارچه تاسی وکړی خامخا یو فریب دي
مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ چه تاسے اوموسے سره جوړکړی دی په دی بنار د
مصرکښے په اتفاق سره لِتُخْرِجُوْا مِنْهَا اَهْلَهَا ددی دپاره چه وباسے ددی
بنار څخه اهل ددی بنارچه قبطیان دی اوداوطن تاسے او بنی اسرائیلوته
پاته سے فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ نو ژردی چه معلوم به کړی تاسے چه نږه د
تاسی سره څه کوم لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ نوخامخا به پرې کړم لاسونه ستاسے
وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ اوپښے ستاسی چپه اوښی لغه یعنے یو ښے اوبل چپ طرفه
ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ بیا به خامخا اویزانه اوپانسی کړم تاسی په غږه کښے اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾
تولـه د شرمنده کولوستاسے دپاره اود عبرت اخستلو نورو دپاره قَالُوْٓا اِنَّآ نو وی
وویل چه بیشکه چه یوموږ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وسرب خپل ته بیاورتلونکے
یو په موت «مرګ» سره وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اوعیب نه بولے تردموږ څخه اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا
مګردا کارچه موږ ایمان راوړی دی بِاٰيٰتِ رَبِّنَا په ایتو د خپل رب سره لَمَّا جَآءَتْنَا
په هغه وخت کی چه راغله وموږ ته دا ایتونه بیایے د فرعون څخه نږ وګرزاوی
او وخدای ته یې نږ کړي اووی ویل رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا ای زموږ سره توی
کړه اووه اُوسره پرموږ باندی باران دصبر چه د فرعون په وعید اوپه تعذیب
کښے بے استقامته نه سوګ وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ اومړه کړه موږ کردن نهاده وتاته ع ۱۶ ۱۲
وَقَالَ الْمَلَاُ اوووویل مشرانو مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ د قومه څخه د فرعون وده ته
اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ ایا ته پریږدی موسے اوقومه دده لِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ
ددی دپاره چه فساد واچوی په ځمکه کښے وَيَذَرَكَ اوپریږدی عبادت ستا وَاٰلِهَتَكَ
اودغه ستاخدایان چه وخدګوته دی جوړکړی دی وسیله ستا وقرب «نزدیت» ته

سه یعنے پرهغه شیان وسیله اووسطه دی دپاره د قربت اونزدی کیدلو تاته ۱۲

قَالَ نو فرعون وویل سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ ژمردی چه قتل "ہ" به کړو موږ نارامن
ددوی چه نسل یې یعنی قطع اوورک سي وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ع اوژوندی به پریږدو
لونی ددوی دخپل خدمت دپاره وَاِنَّا فَوْقَهُمْ او بیشکه موږ پردوی قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾
غالبه یو اودوی مغلوبه دی بیا چه هرکله بنی اسرائیلو داذکی اوپای کښې او
پیښرفت دفرعون واوربدی نوواړیے خطاسو اوموسےؑ ته یې وژړل نوده وا ده
اوتسلی ورکړه لکه چه وایي قَالَ مُوْسٰى نو ویل موسےؑ لِقَوْمِهِ اِسْتَعِيْنُوْا اوقوم خپل
ته چه مدد اوکړمک غواړې بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ع دخدای څخه اوصبر کوی پرجبر او
تعدی دفرعون باندی اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ یُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ ژ بیشکه چه دا ځکه خاص دخدای دی
میراث چه پدې ورکوی وهغه چا ته چه اراده یې وسی مِنْ عِبَادِهٖ ط
دبندګانو نوخپلو څخه او په دی کښې اشاره ده وهلاک ته دفرعون اوخلافت دبنی
اسرائیلو ته وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ اوښه خاتمه چه ده یا نصرت یا جنت چه دے
پرهیزګارانو لره دی قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا نو بنی اسرائیلو موسےؑ ته وویل چه ایذا رضرر
رسول سوی وو موږ ته اونږهیر سوی وو دفرعون دلاسه مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا مخکی
ترهغه چه ته راغلے وی وموږ ته دمدینه څخه چه زموږ زامن به یې ستاد جهته
وژله وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ط اوورسته ترهغه چه ته راغلے وموږ ته چه اختیا رد
وژلو را ته کوی نوموسےؑ پوهر سو چه په تیره اشاره دوی ونه پوهیدل ځکه دا
واړیے تصریح ورته وکړه قَالَ نوموسےؑ ودوی ته وویل عَسٰى رَبُّكُمْ امیددی
دربه ستاسے څخه اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ چه هلاک کړی دښمن ستاسے چه فرعون
دی وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ او بیاخلیفګان سے تاسي په ځکه کښې یا دمصر یا
دارض مقدسي وروسته ترهلاکیدو ددوی فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ نوګوری
چه بیا تاسے څنګه عمل کوی یعنی چه شکر کاږی اوکه کفران اونا شکری کوی اوطاعت
کوی اوکه عصیان اونافرمانی کوی وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اوخامخا په تحقیق سره چه موږ

ع ۱۵ ۵

ونیول اَلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ تابعان اوخادمان دفرعون په مخطے اوپه تنگی اوپه وچ کالی سره چه اوده کاله پرمخطے وه وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ او په کمولو میوو سره لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ بنایی چه پند واخلے په دی سړه اودکفرخخه واړے اودفرعون څلور سوه کاله عمر وو په دی کښے دری سوه اوشل کاله چه مخکی ترموسےٰ وه اوده دسره خفګان لیدلے نه وو فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ نوهر کله چه به راغله ودوی ته فراخی اوارزانی قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ع نوددوی به ووېل چه دانرموږ دپاره بخته خخه ده دافراخی اړموږ ددی لائق یو وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ اوکه ودوی ته کومه سختی اوتنګی ورسیږی لکه مخطی یا وبا يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى نودوی بدفالی ونیسی په موسےٰ سره وَمَنْ مَّعَهٗ ط اوپه هغه چاسره چه دده سره وی دمؤمنانوخخه اوویل به یے چه دموږ ته دا سختی اوبلا نوله ددوی دجهته یاشامته راڅرسیدلی ده اَلَآ اِنَّمَا واوری چه بیشکه همداخبره ده طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ چه بدفالی اوښکه فالی ددوی چه ده دخدای خخه ده یعنی خیراوشر ددوی خاص دخدای خخه دی اوبل چاته په دی کښے هیڅ دخل نسته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ اولیکن زیات ددوی نه پوهیږی وَقَالُوْا اړویل به دی فرعونیانو وموسےٰ ته چه مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ هر هغه شی چه ته راوړی وموږ ته هغه شے مِنْ اٰيَةٍ دکومی ښے یعنی معجزی څخه لِّتَسْحَرَنَا بِهَا لاډپاڅ ددی چه ته جادو وکړی پرموږ په هغه شی سره فَمَا نَحْنُ لَكَ نوموږ نه یوتا ته په سبب ددی معجزی سړه بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ ایمان راوړونکی فَاَرْسَلْنَا نوراولیږی موږ عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ پردوی باندی پنځه افتونه وار پرواړ اول یے طوفان ووچه اووه شپی اوورځی پرله پسی - باران پراوریدی چه په کور او په فصلو دقبطیانو کښی دا سے اوبه - ودریدلے چه په ولاړی به ترغاړی پوری رسیدلی نودوی به شپه اووځ

ولاړ وه او هلکان به یې پرلوړځای کښینولی وه او داسرائیلو کوتی «خوښ» به هم ورسره پیوسته «مړښتی» وی او په هغوکښی به یو تکی «غاښکی» اوبه هم نه ننوتلی وَالْجَرَادَ او دوبیړ یې ملخ وه چه داهم یوه هفته پرمسلط وه او دوی فصلونه اوباغونه یې تولهٔ وخوارهٔ او داسرائیلو په کور ویوهم نه وه ننوتلے وَالْقُمَّلَ اودریم یې کونی اوسپړی یاپیاده. ملخ وه چه په طعام «خوړو» او په شراب «اوبو» او په کټغانو دوی کښی به ورلویدل اوپه کالپواوجامو به یې گرزیدل اوچیچل «خوړل» به یې اوداهم یوه هفته وه وَالضَّفَادِعَ اوځلرم یې چینکوښی وی اوداهم یوه هفته وی چه په مجا اوپه طعام او پرکټوو کښیے اوپه خوابگاه «دبیدیلو» په ځایوکښیے او دخبر و گولو په وخت کښی به دوی په خولو وتلی اونټوتلی وَالدَّمَ اوینځم یې وینې وی چه دوی او به بیخی وینې سوی تردی حده «اندازی» پورې چه که قبطے او اسرائیلی به پرلوبنی سرهٔ جمعه سوه نو په هم هغه یوه لوښی کښی به د اسرائیلی وطرفته اوبه وی اودقبطی وطرفته به وینې وی اوکه داسرائیلے دخولی څخه به یې اوبه دځان پارهٔ راوه ایستلے نوهغه به دده په خوله کښی وینې سوی اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ تن په دا سے حال کښی چه داپځه سرهٔ ښیے اوعلامی نرمورې دقدرت وی جلاکړه سوی هم یوه دبلی څخه چه دهرودوو ترمینځ به یوه میاشت مفاصله وه اوهره یوه چه به پرلاغله نوړپری سختے سختی وعدی به یې وکړی چه دااُفت راڅخه لیرې کړی نوایمان به پرلاړو و بیاچه به ځنی پورته سو نو وبه یې ویل چه ډیرلوی جادوګرانے فَاسْتَكْبَرُوْا نوکبر وکړی دوی اوسرکشه سوه نرمورې دفرمان «حکم اوامر» څخه وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ اودوی تولهٔ دمجرمانو اومعاندانو نوه چه سرهٔ دښکارهٔ کیدواو ظهورهٔ دایاتوهم ایمان نه راوړی وَلَمَّا وَقَعَ اوهرکله چه به واقع سو عَلَيْهِمُ

الرِّجْزَ پردی فرعونیانو یوقسم ددی تیر واقسا موشخه قَالُوا نو دوی به ویل
پوطریقه دزاری سره یٰمُوسَی اُدْعُ چه ای موسی وبوله لَنَا رَبَّكَ زمور د
پاره رب خپل بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ع په هغه شی سره چه درکړی اوساتلی پے
دی دتاسره یعنی هغه چه وعده پی کړیده دتاسره چه ستاسوال به نه ړوم
لَئِنْ كَشَفْتَ قسم دی که تالیری کړی عَنَّا الرِّجْزَ دموږ څخه داعذاب لَنُؤْمِنَنَّ
لَكَ نو خامخا به پرتا ایمان راوړو وَ لَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ اوخامخا به دتاسره و
لیږو بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ ⑬ دابنی اسرائیل چه بیړته پی ته یوزی وخپل وطن ته
فَلَمَّا كَشَفْنَا نوهر کله چه موږ لیری کړی عَنْهُمُ الرِّجْزَ دووی څخه داعذاب
اوموږ مؤخرکړه اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بَالِغُوْهُ ترهغه نیټی پورې چه دوی وهغې نیټی
ته رسید ونکی دی چه هغه نرمانه دغرق یا دمرګ ده اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ⑮
ناګاه دوی هغه عهدمات کړی فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ نوارادە د انتقام اخستووکړه
موږ د دوی سره فَاَغْرَقْنٰهُمْ نوموږ غرق کړه دا اویا لاکهه مخلوق تراله په
یوه وار فِي الْيَمِّ په سیند «دریاب» دقلزم کښے چه د مصرڅخه وه بِاَنَّهُمْ په سبب
ددی چه دوی وه كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا تکذیب پرې کاوی زمور دایاتو وَكَانُوْا
عَنْهَا اودوی وه د دی ایتو څخه یعنی دفکر وهلو څخه پ دی ایتو کښے اوهیڅ
اخستو څخه پدوی سره غٰفِلِيْنَ ⑯ غافله یعنی بے فهمه اوبی خبره وَاَوْرَثْنَا
الْقَوْمَ الَّذِيْنَ اوموږ میراث ورکړی وروسته ترهغه کیدو د فرعونیانو و
هغه قوم ته كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ چه دوی ضعیفه اوخوارا وذلیله سوی وه او
اورثنا دوه مفعوله خواړی اول پے القوم دی اودویم پی دادی مَشَارِقَ
الْاَرْضِ شرقی اطراف «لرمخیځ طرفونه اوسیمی» د شام دملکی وَمَغَارِبَهَا اوغربی اطراف
«لوېدیځی سیمی» ددی الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا هغه ملکه دشام چه موږ برکت اچولی دی په
هغه ملکه کښی په اورنانی سره اوپه کثرت «ویروالی» د غلواو اشجارو «د ونو» او د

انهارو «ولر» او دابنیاؤ حاصل داچه مونږ میراث ورکړی وبنی اسرائیلو ته د فرعون ترهلاکیدو وروسته مشارق اومغارب دشام یعنی قوله شام وَتَمَّتْ اوتمامه سوه اود وفا حدته ورسیده كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى هغه وعده درب ستاچه ډیره ښه ده عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لا پربنی اسرائیلو باندی چه هغه وعده داقول وو بِمَا صَبَرُوْا اوپه سبب ددی سره چه دوی ډیرصبروکړی پرظلمو اوسختیو دفرعون وَدَمَّرْنَا اوخرابے کړی مونږ مَا كَانَ هغه سرایونه اوکلاګانی اوښکلی تولے چونه کړے يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ چه جوړی کړی وی فرعون او قوم ده وَمَا اوخرابے کړی مونږ هغه پخے پخی مانی كَانُوْا چه دوی وه يَعْرِشُوْنَ (۱۳۷) چه لوړولے به ډی وَجٰوَزْنَا اوتیرکړه مونږ بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ بنی اسرائیل پرسیند دقلزم په سلامتے سره په ورځ دعاشوری او فرعون داویالاکهه لښکره سره غرق سوفَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ نو راغله دابنی اسرائیل پریوداسے قوم دکفارو باندی يَعْكُفُوْنَ چه همیشه ثابت اوقائم وه عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ، پرعبادت دهغو بتانو چه دوی لره وه بیاچه بنی اسرائیلو دابت پرستان ولیدل قَالُوْا انو دوی وویل يٰمُوْسَى اجْعَلْ اے موسے جوړکړه لَّنَآ اِلٰهًا وموږ ته هم یو خدای یعنی بت چه موږ یے هم عبادت کړو كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ لکه دوی لره چه خدایان دی اوعبادت یے کوی قَالَ اِنَّكُمْ وویل موسے چه بیشکه تاسے قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ (۱۳۸) یو داسے قوم یاست چه ناپوهی کوی چه بیله خدایه څخه دبل چا عبادت هم سرا وایی اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بیشکه دابت پرستان چه دی مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ

عه معنی داچه موسی وخپل قوم ته وویل چه نړۍ دی اوقریب دی رب ستاسی دی ته چه هلاک اوخراب کړی دښمن ستاسی چه فرعونیان دی اوتاسی به په ځمکه دهغوی خلیفګان کړی یعنی باچاهان به کړی ۱۲ عه معنی داچه الله تعالے موسی ته ووایل چه مونږ دوی خبری اراده اړولو چه اسلام اومنت وکړو پرهغو کسانو چه عاجزان اوضعیفان سوی دی چه څنګه کیښے یعنے چه بنی اسرائیل دی ۱۲ منه

فِيهِ هلاك کړه سوی دی هغه کار چه دوی په هغه کښی مشغول او اخته دی یعنی خدای بر یې ورک کړی وَبَاطِلٌ مَّا او خراب اونا کاره دی هغه عبادت دبتانو كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۹﴾ چه دی دوی چه دا عبادت کوی قَالَ أَغَيْرَ اللَّهِ بیا موسے وویل چه ایا بیله خدایه أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وغواړم وتاسے ته بل معبود وَهُوَ فَضَّلَكُمْ او حال دا چه ده غوره کړی یاست تاسے عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۱۴۰﴾ پر تمام مخلوقاتو د خپلے زمانی په رنګا رنګ انواعو نعمتو وَإِذْ أَنجَيْنَاكُم او هغه نعمت د ریه یاد کړی چه مونږ خلاص کړلاست مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ د تابعانو څخه د فرعون يَسُومُونَكُمْ چه تاسے ته به یے رسولی سُوءَ الْعَذَابِ سخت عذاب يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ چه ستاسے زامن به یے وژل وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ او ښځه به یے پریښوولے ستاسے ښځے وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ او په دی عذاب ستاسے کښے یولوی محنت وو یا په دی خلاصولو ستاسے کښے یو لوی نعمت وو وَمِن رَّبِّكُمْ د جانبه څخه د رب ستاسی عَظِيمٌ ﴿۱۴۱﴾ ډیر لوی روایت دی چه موسے علیه السلام وعده کړی وه د بنی اسرائیلو سره چه که فرعون خدای هلاک کړی نو زه به وتاسی ته کتاب راوړم بیا چه فرعون هلاک سو نو ده د ربه څخه د کتاب سوال وکړی نو دی په دیر شور وژوسره مأمورو سو د ذوالقعدی د میاشتے بیا چه دا روژی ده پورے کړی نو د چلی خولی سو ربوی بدپرولګیدی نو مسواک یې وواهه او وحی ورته وه سوے چه وتانه دا نده معلومه چه د روژه دارو څخه سو ربوی نرمه ډیر خوښ دی د مشکو ترڅه نو بیا مأمورو سو چه لس روژی نوری وه نیسه د دی سو ربوی د پاره لکه چه وایي وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ او وعده کړی وه مونږ د موسے سره د پاره د کتاب ورکولو ثَلَاثِينَ لَيْلَةً دیرش شپی او ورځی د ذوالقعدی او شپی څخه یا دی سوی چه میاشت د شپی لیدل کیږی وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ او بیا ورباندی دیرش شپی مونږ پورے کړی په

لسوه ذوالحجے سره فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهٖ نو پوره سوه وعده گاه د رب دده اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۴۰ په څلویښتو شپو سره دور څوسره وَقَالَ مُوْسٰى اوموسے علیه السلام وویل لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ وخپل ورور ته چه هٰرُوْنَ وا خْلُفْنِيْ چه زما خلیفه اوسه فِيْ قَوْمِيْ زما په دے قوم کښے اونه وکړه طور ته ځم د راز دیا ره او وکتاب دپاره وَاَصْلِحْ اوکا رساز ے کړه په هر باب کښی ددوے وَلَا تَتَّبِعْ اوته پیروے مه کوه سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ۱۴۲ د فسادکونکو د لارے وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى اوهر کله چه موسے راغلے لِمِيْقَاتِنَا پرهغه نو عده گاه "تا کلی وخت" زمونږ وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ده اوخبرے ورسره وکړے رب خپل په دے شان سره چه اواز به ورته اوریدل کیده بیله جهته اوبیله کوے واسطے دبل چا اوبحض دده په امر سره دا اواز پیدا کیدی چه پرکلام د رب به یے دلالت کاوی روایت دے چه هرکله موسے علیه السلام د رازوخای ته ورغلے نو شاوخوا پرکوه طور یو نشت کړو یه - ملائکے راوگرزیدے اوتوره تیاره سوه بیا یے چه دوه قدمه پرده کښیښوده نو ملکین ده اوشیطان ددده څنی لیږے کړه سوه اوملائکے لې په هوا کښے ولیدے اوعرش هم ورته بنکاره سو اوخلویښت شپه اوورځی راز ورسره وسو اوهرکله چه دے په راز کښے مستغرق سو اوبجت یے جوش وواهے اوپه دے کښے یې ددیدار "لیدو دخدای" طمعه پیدا سوه نو قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ نو موسے ووویل چه اے زما ربه و ما ته خان رابنکاره کړه یعنی ماسته وخپل لیدو لو دپاره قابل کړه چه دسر په ستر گو اَنْظُرْ اِلَيْكَ طنظر اوکا نه وکړم وتا ته قَالَ نو رب ورته ووویل لَنْ تَرٰىنِيْ چه دسره به ته نه وینی ما په دی فانی ستر گو څکه چه

---

۱۲ عه یعنی دپاره د پته پته خبرو کولو د خدای سره ۱۲ عسه یعنی هغه دوی ملائکی چه دسره دی مقرری دی دپاره د عمل ولیکلو دده چه یوه یے پرد ښته ناسته وی اوبله یے کیڼی لیکی او بله یے پرچپه اوبده ناسته دی اوهغی لیکی ۱۲

۱۳ عه یعنی ابلیس لکه د هرسره سره چه مقرر دی اودنده په زړه کښی یے ناست وی دوسوسو اچولو دپاره ۱۲ عبد الوحید

نړه په باقی ستر گو لیدل کیږ مراو هغه بیا خاص دی په جنت پوری وَلٰكِنِ انْظُرْ اولیکن ته وگوره اِلَى الْجَبَلِ ودی غره ته چه نومړی زبیر دی اوپه تولو غروکښی دمدین دیرجاړ دی فَاِنِ اسْتَقَرَّ نو که دی کلک سوا وولاړ پاته سو مَكَانَهٗ پرخپل ځای باندی نړما دتجلی په وخت کښی فَسَوْفَ تَرٰىنِیْ ته نوشړ ردی چه ته به هم ما وویني اوکه دی سره دد ومره کلکوالی اولوی والے او غټوالی راته ښایګ نه سو نو ته هم طمع قطع کړه فَلَمَّا تَجَلّٰى نوهر کله چه ظاهر ؤښکاره ؤ سو بلاکیف رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ ر ب دده و هغه غره ته مګر وړوسته ترهغه چه په ده کښی بے حیاوۃ اوعلم او دید پیدا کړی جَعَلَهٗ دَكًّا نو نړ ری زړ ۍ کړی په دی تجلی سره وَخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا اوولویدی اولا ایله سو موسٰے اوبے سوده اوبے هوښه سود هیبته څخه اویوه ورځ اوشپه بی هوښه پروت وو فَلَمَّاۤ اَفَاقَ نوهر کله چه بیا په هوښ کی راغلے قَالَ سُبْحٰنَكَ نوموسٰے وویل چه پاکی ده تالره دهره نا لایقه یادلیدلو څخه په دنیا کښی تُبْتُ اِلَيْكَ توبه مې وکښه اوړجوع مې وکړه وتاته دد اسے سوالګنه بیله ستنا د اذنه وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۴۳) اونړه اول دمؤمنانو نیم قَالَ يٰمُوْسٰۤى بیارب وویل چه اے موسٰی خفګان مه کوه په منع ددی رؤیت سره نور نعمتونه زما یادکړی چه اِنِّی اصْطَفَيْتُكَ بیشکه چه نړه چه یم غوره کړی مې یې ته عَلَى النَّاسِ پرخلګو باندی په خپله زمانه کښی بِرِسٰلٰتِیْ په پیغامونو خپلو سره دیارلاړ دسولو وخلګو ته وَبِكَلَامِیْ ږ اوبل په خبرو کولو دتاسره بیله واسطے فَخُذْ مَاۤ اٰتَيْتُكَ نوواخله اوونیسه هغه چه درکړی مې دی وتاسے ته د رسالته اود نجاته د ضلالته څخه وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ (۱۴۴) اوسه د شکر کذارانو څخه په دی عطا ؤ ذکره ؤ سره وَكَتَبْنَا لَهٗ اولیکلی وه مونږ وده ته فِی الْاَلْوَاحِ په هغو تختو د تیږو د ؤ برو ؤ یا دلرګو د سدرة المنتهیٰ څخه یا دسرو یاقوتو یا د

شلونه مرد وکښی چه اووه یا نه یالس تختی وی اوهره یوه لس یا دوولس
گزه وه چه کنودی حروف پکښی وه مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً د هرشی پند چه
احتیاج ورته وی د امره تخمه د دین وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ اویبان شافی د
پاره د هرشی داو امرو اونواهیو تخمه اوبیا مور ورته وویل فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ
نو داتختی واخله په بنه کوښښ اوعزم سره وَأْمُرْ قَوْمَكَ اوامروکړه پر
خپل قوم چه په صدق اوپه عزم سره يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا ط چه واخلی دوی
ډیر غوره د هغواحکاموچه په دی الواحو «تختو» کښی دی لکه عفوه اوصبر
سومثلاً نه قصاص او یا نصرت یا فرض سوه سره د نفلو او نه یوازی فرض
یا عزیمت سوند رخصت سَأُورِيكُمْ ژر دی چه درو به بښیم وتاسے ته ای
بنی اسرائیلو دَارَ الْفَاسِقِينَ ﴿۱۴۵﴾ دیره ګاه «سزای» ددی فاسقانو چه فرعون دی
اوقوم یے چه مینی پې په مصر کښی نړیدلی اوخرابی پرتے دی یا دعادیانو
اوثمود یانو دا په شام کښی سَأَصْرِفُ ژر دی چه نړه به پچ اوبند کړم عَنْ آيَاتِيَ
الَّذِينَ د قبلولو تخمه دایتو نړما چه قرآن دی یا دنهمه د هغه دلایلو د قدرت
خپل چه په اتفاق یا په انفس کښی دی ایښی دی هغه کسان يَتَكَبَّرُونَ فِي
الْأَرْضِ چه تکبر کوی په مخلوق کښے بِغَيْرِ الْحَقِّ ط په ناحقه سره مخلوق چه په حق
سره تکبر یوازی خدای له دی وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ اوکه وویني د متکبرانو هر
ایت د قرآن یامعجزه پرصدق د رسول لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا ط نو دوی ایمان نه راوړی
پرهغه باندی دعناده تخمه وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ اوکه وویني دوی د هدایت
لاره لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ط نو نه نیسی دوی هغه لاره د رشد اوطریقه دیوون او
د تلګ خپل وخدای اووجنت ته وَإِن يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ اوکه دوی لاره د ګمراهۍ
وویني يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ط نو نیسی په طریقه دیوون او د تلګ خپل اوهم د هغه
پرمقتضی ځی ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ داچې کیدل اوګمراه کیدل د دوی په دی سبب سره

دی چه بیشکه دوی کَذَّبُوا بِاٰیٰتِنَا نسبت دده رواغوکاوی واٰیاتو زمونږ ته وَکَانُوا عَنْهَا او دوی وه ددی اٰیاتو څخه غٰفِلِیْنَ (۱۴۶) غافلان اوبے خبره دعنادپه وجه نه دجهل په وجه وَالَّذِیْنَ اوهغه کسان کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا چه تکذیب زمونږ دآیاتو کوی وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ او پرپیښیدو دآخرت یعنی چه پراخرت پیښیږی حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ خراب اوباطل سوه هغه عملونه ددوی چه په دنیا کښی بے کړی وه هَلْ یُجْزَوْنَ اٰیا جزا ورکول کیږی ودوی ته یعنی نه به ورکول کیږی اِلَّا مَا کَانُوْا اګر هم دهغه قدرچه دوی وو یَعْمَلُوْنَ (۱۴۷) چه عمل بےپی کاوی ع ۱۶ ۶ ۷ وَاٰیت دی چه هرکله موسےٰ علیه السلام ماموړ سو په ایستلو دبنی اسرائیلو سره دشپی دمصر څخه دپاړه دغرقولو دفرعون نو بنی اسرائیلو په بهانه دبنادی سره دقبطیانو څخه ـ ویرنږیورات واخسته بیا کله چه دوی دشپی وتښتیدل اوفرعون دتوله لښکره سره غرق سو بیا موسےٰ علیه السلام اختیاردکوه طور وکړی دمناجات دپاره اوهارون ته یے پرخپل قوم خلیفه کړی اوبنی اسرائیلو په هغو زیورانو چه کښے خرید اوفروخت شروع کړی نوهارون ؑ دانږیورات توله سره راجمع کړه اودسامری سره یے امانت کښینوول اوده بیا ویلی کړه اودګیلکی قَالَبُ (قالب) یے جوړکړی اوپه هغه کښی یې واچول اودګیلکی شکل یې څنی راوه ایستی اودجبرائیل ؑ دآس د سُمونو (پښو لاندی خاوری چه قدم یې پرایښی وه) خاورو درسره وه چه دګیلکی په خوله کښے یے دروا چوله نوشوندی سو اودهنګر په شان اوازیے وکړی نوسامری وبنی اسرائیلو ته وویل چه دغه ستاسے اودموسےٰ خدای دی اودی کوه طور ته ولاړی نو دوی توله پرسجده ورته پریوانه وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰی اوونیوی یه خدایی سره قوم دموسےٰ مِنْ بَعْدِهٖ وروسته ترتلو دده وکوه طور ته مِنْ حُلِیِّهِمْ دهغو زیوراتو څخه چه دوی دقبطیانو څخه غوښتی وه عِجْلًا جَسَدًا ګیلکی دجثه بدن یعنی په شکل دګیلکی چه غوښی اووینی یې درلودی یا تش بدن بیله روحه لَّهٗ خُوَارٌ

ظهر جمعه بست ہفتم ربیع الثانی سنه ۱۳۷۱ هجری مطابق ۱۲ کهه سال صفر شکست یک دست مراد

چه ده لره اواز و ولکه دګیلګی اَلَمْ یَرَوْا اَنَّهٗ ایا دوی دا نه لیدی چه بیشکه دا
ګیلګی چه دی لَا یُکَلِّمُهُمْ نه دوی سره خبری کولای سی وَ لَا یَهْدِیْهِمْ سَبِیْلًا م
اونه دوی ته کومه لار ورښو لای سی چه دا دوی ګمهلی وی چه دا خدای دی
اِتَّخَذُوْهُ دوی دا ګیلګی په خدایی سره وښیوی خوشے بیله حجته اوبے دلیله وَکَانُوْا
ظٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۸﴾ اوحال داچه دوی ظالمان وه په دی نیولو سره دګیلکی په خدایی سره
وَلَمَّا سُقِطَ اوهر کله چه وغورځول سوخفګان اوپښیمانی فِیْۤ اَیْدِیْهِمْ په لاسو
دوی کښے یعنے پردی چل کار دې پښیمانه نه سوه وَرَاَوْا اَنَّهُمْ اوپوه سوه په یقین
سره چه بیشکه دوی قَدْ ضَلُّوْا الا په تحقیق سره ګمراه سوه قَالُوْا نو دوی وویل دپښیمانی ځمنه لَئِنْ لَّمْ یَرْحَمْنَا رَبُّنَا کچیرې رحم او مهربانی ونه کړی پرموږ باندی
رب زموږ په قبول دتوبے سره دموږ ځمنه وَیَغْفِرْ لَنَا اوبخښه لره ته ونه کړی
دی ګناه نه موږ لَنَکُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۱۴۹﴾ نوقسم دی چه موږ به سوخانخا
دزیانکارانو ځمنه وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰۤی اوهرکله چه بیرته موسے راغلے دکوه طور
ځمنه اِلٰی قَوْمِهٖ وخپل قوم ته غَضْبَانَ اَسِفًا لا په داسے حال کښے چه دپرې
غضب او دپرا افسوس کونکی وو په دی سبب سره چه دی هلته په مناجا
کښی پروردګار خبر کړی وو لکه چه په سورۃ طٰهٰ کښے راغلے دی چه انا قد
فتنا قومك من بعدك واضلهم السامری بیا چه کله وقوم ته راغلے قَالَ
نو موسے ووویل وخپل قوم ته بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِیْ بدکار دی داعبادت د
ګیلګی چه تاسے کړیدی مِنْۢ بَعْدِیْ ج ورسته نه ما ترتلو وکوه طور ته ـ
اَعَجِلْتُمْ ایا تاسے تلوار وکړی په عبادت دګیلګی اوتاسے پرښیوی اَمْرَ رَبِّکُمْ
فرمان دخپل رب یعنے تاسے به انتظار او مدار کړی وای چه ما نورات راوړے
وای او امرد خدای ځنی درته معلوم سوی وای وَاَلْقَی الْاَلْوَاحَ اووغورځولو
دلاسه ځمنه هغه تخته دپره غضبه ځمنه چه ده دکوه طور ځمنه راوړې وی

او تورات پرلیکل سوی وه نوهغه تختې چه بیان او تفصیل د هرشی پکښی وو نوهغه په دی غوږ حُولو سره ماتے سوی او بیرته واسمان ته ولاړی او هغه چه مواعظ او احکام پکښے وه سلامتی پاته سوی وَ اَخَذَ بِرَاْسِ اَخِیْهِ اوخپل وږ وریې ترسره ونیوی چه هٰرُوْنَ وویلے دسر ترښتا نو یَجُرُّهٗۤ اِلَیْهِ ځان ته یے راکشاوی لیکن نه دا هانته بلکه دعتابه چه دوی تاولے نه منع کول ددی کاره ثحمه قَالَ ابْنَ اُمَّ نوهٰرُوْنَ وویل چه اے زما ورور او دایه اصل کښے اُمِّیْ دی بیا تی خُنی حذف سوه دتخفیف دپاره او د میم کسره هم فتحه سوه اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِیْ بیشکه چه دی قوم وپرسپیک کتلی دی وماته اوما هیڅ تقصیر نه دی کړی په منعه کولو کښی ددوی مګر دوی زما په خوله هیڅ باور نه کاوی وَکَادُوْا یَقْتُلُوْنَنِیْ اونږدی سوی وو دوی ودی ته چه ما مړکړی په سبب دډیری منعې زما فَلَا تُشْمِتْ نو ته مه خوشحالوه کوه بِیَ الْاَعْدَآءَ په ما باندی زما دښمنان وَلَا تَجْعَلْنِیْ اوما مه ملګری کوه مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۵۰﴾ ددی ظالمانو دقوم سره قَالَ نوموسےٰ وویل رَبِّ اغْفِرْ لِیْ ای زما به بخښنه وکړه وماته دهغه تقصیر چه دوروږ په حق کښے می کړی دی وَلِاَخِیْ اوورور زما ته هم بخښنه وکړه که تقصیر یے کړی وی په منع کښے ددوی وَاَدْخِلْنَا فِیْ رَحْمَتِكَ ۫ اوموږ داخل کړه دواړه په رحمت خپل کښے یعنی دلته په عصمت اوهلته په جنت کښے وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۱۵۱﴾ اوته ډیر مهربانه یې تر تولو مهربانانو اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ بیشکه هغه کسان چه ګیلګی یې په خدایی سره ونیوله دی سَیَنَالُهُمْ غَضَبٌ ژر دی چه وبه رسیږی ودوی ته غضب مِّنْ رَّبِّهِمْ د رب هغه دوی اوهغه غضب داوچه ماموږ سوه په خپل قتل سره وَذِلَّةٌ اوخواری فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ؕ په دی واړه اولنډ ژوند کښی چه هغه جلاوطنی یا جزیه ده وَكَذٰلِكَ اوهمداسی یعنی دعابدانو (عبادت کونکو) ګیلګی په شان نَجْزِی الْمُفْتَرِیْنَ ﴿۱۵۲﴾ موږ جزا ورکوو تولو دروغ تړونکو ته وَالَّذِیْنَ اوهغه کسان عَمِلُوا

السَّيِّئَاتِ چه دوی بدے وکړی یعنے کفر یا نور گناهونه وکړی که صغیره وی او که کبیره
وی ثُمَّ تَابُوْا بیا رجوع وکړی وخدای ته په توبه سره مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا اوروسته
ترکولو دی سیئاتو او ایمان راوړی پروحدانیت دخدای او پر رسالت د رسول
مګر واهلته که مراد د سیئاتو څخه شرک سی او که مراد څنی غیره شرکه سی نو
دا منوا معنی داچه باور وکړی پر دی چه توبه د توابینو خدای قبلوی اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه ستاسو رب چه دی مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ ورروسته ترډی توبے خامخا بخښونکے
دی ډګناهود دوی که څه هم لوی وی لکه ډګیلګی عبادت یا پیروی لکه نورے
شوخی د بنی اسرائیلو رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ مهربان دی پرډوی په قبلولود توبے سره وَلَمَّا
سَكَتَ اوهرکله چه قرار سواو کښیناستی عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ د موسیٰ څخه قهر
اَخَذَ الْاَلْوَاحَ نو بیا یې راواخیستی هغه تختی چه غورځولے یې وی وَفِيْ
نُسْخَتِهَا او په لیکل سوو دهغو تختو کښے هُدًى وَّرَحْمَةٌ رهنمایی وه وحق تعالیٰ د
مهربانی وه یعنے پاکول وه ډګناهو څخه لِّلَّذِيْنَ وهغوکسانو ته هُمْ لِرَبِّهِمْ چه
دوی د غدابه څخه درب څخه يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ بیریږی رولایت دی چه یوی طائفے
د بنی اسرائیلو وویل چه دا هرڅه چه په دی الواحو تختو کښے لیکلی دی دا
د موسیٰ کلام دی او خدای دسړ ورسره خبری کړی نه دی نو موسیٰ ماموره
سوچه یوځوتنه مشران دخپل قوم میقات لره درسره راوله چه زمونږ خبری
پخپله واوړی اوشا هدان سی نو موسیٰ اویاتنه مشران د ځان سره کوه طور ته
برتله بیاچه میقات ته ورغله نو اوریځ راغله او د موسیٰ اود دوی ترمنځ
سوه نږدوی توله پربیده پریوا ته اوکلام د رب یې واوریدے بیاچه راز تمام
سواو موسیٰ علیه السلام راووایی نو دوی ووایل چه موږ خبری واوریدے اومتکلم
هیڅوک نه لیدی موږ به هلته باور وکړو چه خدای عیاناً پخپلو سترګو ولیږو
ناګاه سخته زلزله راغله اوتند ره پرې راغله اوقتول یې وسوځل لکه چه وا

وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ او موسیٰ غوره کړه دخپل قوم څخه او د لته مِنْ پکښے محذوف دی یعنی مِنْ قومِهٖ سَبْعِيْنَ رَجُلًا کِمِيْقَاتِنَا ج او یا سړیان (درکسان) دپاره د وعدې ګاه ر مونږ لِمِيْقَاتِنَا فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ نو هرکله چه دوی سخته زلزله او صاعقې وښول په سبب د هغه نالایقه سوال چه دوی کړی وو او د بیړی څخه د تهمت دښې اسرائیلو چه دوی تا مړه کړه قَالَ رَبِّ موسیٰ ووایل چه اے زما ربه لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ که ستا اراده سوی وای نو تا به دوی هلاک کړی وای مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ط مخکی تر راتلونر ما وکوه طور ته په سبب د عبادت ګیلګی اونږه ښه د هم هلاک کړی وای په سبب د قتل د بقطی اَتُهْلِكُنَا بِمَا یا ته مونږ هلاکوی په هغه کار فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا چه کړیدی لیونیانو او بے عقلانو د مونږ څخه چه ګیلګی عبادت دی او نالایقه سوال دی اِنْ هِيَ نه دی دا کار که ګیلګی عبادت دی او که دا نالایقه سوال دی اِلَّا فِتْنَتُكَ ط مګر از مایښت ستادی پر دوی دی راوستی تُضِلُّ بِهَا ته ګمراه کوی په دی از مایښت سره مَنْ تَشَآءُ هر هغه څوک چه ستا اراده وسی د هغه ګمراهی وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَآءُ او سمه لار ورښیې (هدایت کوی) د هر هغه چا ته چه ستا اراده وسی د هغه د هدایت اَنْتَ وَلِيُّنَا هم ته یے یار او بادار ر مونږ فَاغْفِرْ لَنَا نو ښښه وکړه د مونږ ته وَارْحَمْنَا او مهربانی وکړه پر مونږ وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ او ته بهتر او خیریې د ټولو ښښونکو وَاكْتُبْ لَنَا او وه لیکه مونږ ته یعنی راته مقرر کړه فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا په دی جهان کښے حَسَنَةً ښه حال چه هغه قبول د توبے دی یا توفیق د طاعت دی یا د حلالو روزی ده یا صدق د مقال دی (راښتینی په وینا او خبرکښی) وَفِي الْاٰخِرَةِ او په هغه جهان کښی هم ښه حال راته مقرر کړی چه هغه مغفرت او رضوان او جنت او دیدار دی اِنَّا هُدْنَآ اِلَيْكَ ط بیشکه چه مونږ بیرته راجع او توبه کار سوی

یو وتاته قَالَ عَذَابِيٓ نوم ب۔ وویل چه زما عذاب چه دی أُصِيبُ بِهِۦ نه رسوم
واعذاب مَنْ أَشَآءُ وه وهر هغه چا ته چه اراده وسے زما دغه ابولو دهغه
وَرَحْمَتِي اونما رحمت چه دی وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ط وهر شی ته رسیدلی دے
په دنیا کښے فَسَأَكْتُبُهَا نوشر ردی چه نه به دا رحمت مقرر کړم لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ
وهغو کسانو ته چه دشرک څخه ځان ساتی وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ اودوی زکوٰة
ورکوی وَالَّذِينَ هُمْ اووهغو کسانو ته چه دوی بِـَٔايَـٰتِنَا پرایتونو مو يُؤْمِنُونَ (۱۵۶)
باور کوی فائدہ هرکله چه په دی ایت کښے یوازی زکوٰة ذکر شو بیله صلوٰة
نوی اراده وبیان دده دقولو احکامو وکړه چه عالم په اسانه طریقه سره۔
مطلب ځنی واخلے نو زکوٰة پردوه قسمه دی یو دنقدینو چه سره اوسپین
زرے اوبل دپنځو قسمو سوائے اودا قوله په یو خوابیا توکښے په رموز سره
بیان سوی دی چه هغه ابیات دادی :۔ غنی اسمع زکوٰة نقد والحلب
یعنے اے غنی دا رمزونه دزکوٰة واوره دوو قسمونقدینو چه هغه سره اوسپین
زردی اوبل دا پنځه قسمه محلوبات دی چه میږی اوبزی اوغواوی اوگاومیښے
اواوښان دی اودا حلب مصدر دی په معنیٰ د محلوب دی ۔ كل نصف بل فوق
هذا پل پیړۍ فی الذهب ۔کاف په ابجد کښے شل دی اولام عبارت دی دمثقال
څخه چه دینار یے هم بولے یعنے په شلو مثقالو دذهبو کښے چه دایے نصاب دے
نیم مثقال زکوٰة کیږی او تردی کښته قوله عفوه دی بیا تردی پورته په هر
خلور مثقالو کښی په ونرۍ لسو دانو اوربشو زکوٰة کیږی غیر دهغه نیم مثقال
څخه إِلَى غير النهاية اوهر مثقال شل قیراطه دی اوهر قیراط پنځه اوربشی دے
رمّ هم فوق هذا مم میړ فی الدرهم ۔ ر په ابجد کښی دوه سوه ده اومیم عبارت
دی له درهم څخه یعنے په دوه سوه درهمه کښی چه دایے نصاب دی پنځه درهمه
زکوٰة کیږی او تردی کښته قوله عفوه دی اوبیا تردی پورته په هر خلوینتو

کښے درهم دی الزمش قُکاب راج تدّ ثم قش قش فی الغنم یعنی هرچه په میږ واو په بزو کښے چه دهغه پنځو قسمو سوا ئموځمه یو قسم دی په څلویښتو کښے چه دپسو نصاب دی یو پسه زکوٰة دی که نروی اوکه بنځه او ترځلویښتو کښته تولّه عفوه دی او بیا پر شپږ شلے «یوسل شل» چه یو زیادت سے دوه پسونه زکوٰة دی بیا تردوه سوو پورې بیاکه یو زیادت سو نو دری پسونه زکوٰة دی بیا تردریو سوه اونهی نوی پورې بیا چه څلور سوه ته ورسیږی نو په څلور سوه کښے څلور پسونه دی بیا په هر سو سو کښے یو پسه زکوٰة دی الی غیر النهایة لغ مَرّ سَعْبٌ عَنْ قَنَبٍ صبح یا عُمر یعنے هرچه په غواوو اوګا میږو کښے زکوٰة دی هغه په دیرشو کښے چه نصاب یې دی تبیع یا تبیعه ده او تردی د تریشو کښته تولّه عفوه دی او په څلوکښتو کښے مُسِنّ یا مُسنّه ده او په شپیتو کښے دوی تبیعی دی او په اویا و وکښے یوه مسنه او یوه تبیعه ده او په اتیا و وکښی دوی مسنی دی او په نوی و وکښے درے تبیعی دی او تبیعه هغه ده چه په دویم کال کښے داخله وی او مسنه هغه ده چه په دریم کال کښے داخله وی فوق هذا لغ مرّ لغ مرّ فی البقر یعنے بیا تردی شپږو قسمو پورې ته په هر دیرشو کښے یو تبیع یا تبیعه ده او په هر څلویښتو کښے یو مسن او یا مسنة ده الی غیر النهایة هش بِتّ یهج کدّ کهض لونِ موق ساع یعنی هرچه په اوښانو کښے زکوٰة دی هغه په پنځو اوښانو کښے یو پسه زکوٰة دی چه داپنځه یې نصاب دی او په لسو کښے دوه پسونه دی او په پنځلسو کښے درے پسونه دی او په شلو کښی څلورې دی او په پنځه ویشتو کښے بنت مخاض دی او په شپږو دیرشو کښے بنت لبون دی او په شپږو څلویښتو کښے حقه ده او په یو شپیتو کښے جذعه ده بنت مخاض هغه جونګی دی چه په دویم کال کښے داخل وی بنت لبون هغه دی چه په دریم کال کښے داخل وی او حقه هغه ده چه په څلورم کال کښی داخله وی جذعه هغه ده چه په پنځم کال

کښے داخله وی عوّیب صاحبت کظّ عفوځ یا شجاع یعنے په شپوږ آو یا کښی دوی بنت لبونے دی او په یوڼوی کښے دوی حقے دی او تردی پورته نه ویشت عفوه دی او دالس قسمه دده نه ویشتو سره شپږ شلی «ایرسشل» سوه او اوس په مخکښے استیناف دی هش یټ یهج کډ کهض لق عفوحځ یعنے ترهغو شپږ شلو پورته بیاپه اولو پنځو اوبنا نوکښے یو پسه دی او په لسو کښے دوه دی او په پنځلسو کښے دری دی او په شلو کښے څلور دی او په پنځه ویشتو کښے بنت مخاض دی تردغه ځایه پوری داول په شان دی او پورته تردی مخالف دی ځکه چه دلته په دیرشو کښے حقه ده اولس بیا عفوه دی او دا شپږ سره قسمه دده لسو سره چه عفوه دی څلو یینبت سوه او دا بیا دهغو تیر و شپږو شلو سره یو سل او شپیته سوه او اوس مخکښے بیا دویم استیناف دے هش یټ یهج کډ کهض لون موق بب یعنی ترهغو تیر و یو سل او شپیتو پورته بیا داول په شان په پنځو اوبنا نوکښے یو پسه دی او په لسو کښے دوه دی او په پنځلسو کښے دری دی او په شلو کښی څلورڅی او په پنځه ویشتو کښے بنت مخاض او په شپږو دیرشو کښے بنت لبون او په شپږو څلو یینبتو کښی حقه ده تردغه ځایه پورې داول په شان دی او په پورته تردی کښے مخالف دے ځکه چه جذعه نسته کان عفرا فوق هذا صار نق نق فی الابل یعنی هغه څلور چه مرموز دی په بب سره په اخر کښے د تیری مصرعے هغه عفوه دی اوبیا تردی یو سل او شپیتو پورته په هر پنځو سوو اوبنا نوکښے یوه حقه ده الی غیر النهایة اوس احکام ذکوٰة تمام سوه دونك استیناف هذا مرتین ولا تمل یعنے دروا خله دا بیرته بیرته استیناف اوګرنر یدل اوبیا دسره څخه نیول اوشروع کول په دی صنف اوقسم کښے دوه واره «اګرته» او وبلے خواته میل مه کوه **فائدہ** :- ددی زکوٰة ډیری خواص «لخاصے» دی یو دهغو څخه دا دی چه

مزکّی «زکوٰۃ ورکونکی» غنی «مالدار» کوی چه په اخلاص اوبیله کوی حیلے وې اوبل دا سخاوت سماحت په پیدا کیږی ځکه چه د مال بذل او بښندل دی چه دزړه قطره ده اوبل دا چه داقبول داقرب دی چه عبادت بدنی دی روایت دی چه هر کله یهود او نصارٰی وواٰیت واورید نو وی ویل چه دا خو هم و موږ ته مقرر دی ځکه چه موږ د خدای پرٰایت هم ایمان لړو پری دی اونږ کوٰۃ هم ورکوو نو داطاعے یے خدای وږ قطع کړه او دا رحمت یې هم په امتِ محمدی «علیٰ صاحبہا الف تحیۃ وسلام» پوری مختص کړی نو یے وویل چه هغه څوک چه زمونږ دا رحمت وږته مقرر کوم خاص اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ هغه کسان دی چه دوی پیروی کوی که یهود دی اوکه نصارٰی دی اوکه بل څوک دی دهغه چا چه هغه موصوف دی په دی لسو صفاتو سره اَلرَّسُوْلَ اول دا چه دی مارالیږلے دی اَلنَّبِيَّ دویم دا چه پیغمبر دی رسول یې وه باله نسبت وخان ته اونبی یې وباله نسبت وخلکو ته اُلْاُمِّيَّ دریم دا چه دی اُمی یعنے ناخوانده نالیکلے نه لیږلے شوے وه دا یے معجزه او عین کمال دی چه بے لوستلو او بے لیکلو دا سے لوی عالم دی اَلَّذِيْ څلورم دا چه هغه پیغمبر دې يَجِدُوْنَهٗ چه دا مؤمنان د بنی اسرائیلو یے موسیٰ اوپیدا کوی دی یعنے نوم اونور صفتونه دده مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ لیکلسوی دوی سره فِي التَّوْرٰىةِ هم په تورات کښے وَالْاِنْجِيْلِ زا وهم په انجیل کښے يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ پنځم دا چه دوی ونیکی ته امر کوی چه هغه توحید دی وَيَنْهٰهُمْ اوشپږم دا چه دوی منع کوی عَنِ الْمُنْكَرِ د ناروا او وځمنه چه هغه شرک دی وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ اواوومه دا چه حلالوی ودوی ته هغه پاکیزه شیان توله چه دجاهلیت - خلکو حرام کړی وه لکه بحیره اوسائبه اووصیله اوحام اوبله وازګه پر یهودو وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ اوا تمه دا چه حرامول پر دوی باندی ناکاره شیان

لکه خنزیر او مردار او وینه او داسے نور خبیث شیان وَيَضَعُ عَنْهُمْ اونهم داچه ایږ دی یعنی لیږی کوی دد وی څخه اِصْرَهُمْ هغه سخت درونه بار دد وی چه قتل وو دخپل ځان یا جلا وطنی وه په قبول د توبے کښی او بل قطع «پرکول» وه د هرهغه اندام چه گناه ځنی سوی وه او بل قطع د پلیت او مردار سوی ځای وه د جامی څخه او داسے نور ډیر سخت کارونه سوه وَالْاَغْلٰلَ الَّتِیْ اولسم داچه لیږی کوی څنی هغه سخت طوقونه كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ چه پراته وه په هغاره د دوی کښے دموسےٰ ؑ دوخته څخه تر اوسه پوری لکه د قصاص لانر میدل بیله عفوی او دیته په قتل عمد او د سهوی «خطا» د واړو کښے او بل سوځل د مال د غنیمت اوداسے نور سخت احکام سوه فَالَّذِيْنَ نو هغه کسان چه دی له دوی څخه اٰمَنُوْا بِهٖ چه ایمان یی راوړی دی پردی پیغمبر وَعَزَّرُوْهُ اوتعظیم کوی دده وَنَصَرُوْهُ اومدد گاری کوی دده سره پر اعداؤ «دښمنانو» وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اوددوی پیروی کوی دهغه نور یعنی چه قرآن دی چه راليږل سوی دی مَعَهٗٓ ۙ دده سره اُولٰٓئِكَ دا موصوف چه دی په دی صفاتو سره هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ هم دوی کامیاب او برالے دی قُلْ ووایه ای رسوله پرطریقه د عموم سره يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ ای تولو خلگو اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ بیشکه چه زه راليږل سوی د خدای یم اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ۚ وتاسے تولو خلگو ته نه وبعضو ته لکه با قی رسولان چه خاص وخپل قوم ته به راليږل کیدل الَّذِيْ هغه خدای لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ چه خاص همده لره ده بادشاهی داسمانو وَالْاَرْضِ ۚ اود ځمکے لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نسته هیڅوك لایق د عبادت مگر همده دی يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ چه همژوندی کول کوی اوهم وژل کوی فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ نو ایمان راوړی تاسے توله پرخدای چه واحد لاشریك دی وَرَسُوْلِهِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الَّذِيْ اوپرهغه راليږل سوی د ده چه پیغمبر نا خواندۍ اونانویسنده دی هغه پیغمبر چه يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

ایمان راوړی پرخدای چه یوی وَكَلِمٰتِهٖ او پر توله کتابونو دده وَاتَّبِعُوْهُ او پیروی کوی دده لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ (۱۵۸) بنایی چه تاسے سمه لاره بیاموی «پیدا کړی» وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى او بعضی خلق د قومه شخه د موسےٰ چه ابن سلام او نور ملګری یی دی اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ یو داسے قوله ده چه دخدای لاره وخلګو ته وربنیی پهحق او په رښتیا سره وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ (۱۵۹) او په هم دی سره عدل او انصاف کوی دوی د خلګو په مابین کښے لکه چه دوی پخپله عمل په کوی وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اوسره بیل اوجلا کړه موږ دا بنی اسرائیل دوولس طائفو ته اَسْبَاطًا اُمَمًا اولاده «لمسیان اونسیان» دده وولسو زامنو د یعقوب علیه السلام قوله قوله یعنی د یعقوب علیه السلام اولاده موږ دوولس طائفے «ډلی» کړه هره قوله د بلی شخه جلا وَاَوْحَيْنَآ اوموږ وحی وکړی اِلٰى مُوْسٰٓى د موسےٰ ته اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ په هغه وخت کښی چه او به وغوښتے دده شخه قوم دده چه موږ ترې سود تیهه په محکمه کښے نو موږ ورته وویل اَنِ اضْرِبْ داسے چه ووهه بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ په لکړه - خپله سره دا تیږه «ډبره» چه پرتاپے بزګ کړی دوه تیهه په لار کښی چه مادر سره واخله چه په کار به دی سم اودا تیږه په قدر دانسان دسره وه نو موسےٰ په لکړه ووهله فَانْۢبَجَسَتْ نو راوخوتکیدی مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا دده دی تیږی شخه دوولس چینی په شمار داسباطو «دوولسو قبیلو» قَدْ عَلِمَ په تحقیق سره معلوم کړی كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ هری قوله دده اسباطو شخه خپل اوبه خور «داوبو چینلو ځای» چه یو به دهغه بل واوبو ته نه ورتلی وَظَلَّلْنَا اوسوری اوسایه کړه موږ عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ پردوی باندی اورږغ چه لمر یے خفه اوپه تکلیف نه کړی وَاَنْزَلْنَا اوسره اورول او نازل به موږ هرسها رعَلَيْهِمُ الْمَنَّ پردوی باندی ترنجبین چه وپرخوږ دی وَالسَّلْوٰى اومرزان کباب سوے دومره قدر چه دهرسړی به ترهغه بل سهاره - پوری بس کیدل بیا موږ ورته وویل كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا چه خوری دهغو

پاکیزه وو شیانو څخه سَرَ قُنَكُمْ ط چه مونږ وتاسے ته درکړی دی اوذ خیره څخ مه ساتی وصیانت چه هغه وخت به بیا نور درکوو اودوی ذ خیره څنے کوله اوذ خیره کوله بیې نوهغه پرښد اوقطع سوه وَمَا ظَلَمُوْنَا او دوی پرمونږ ظلم نه ووکړی په دی ذ خیره ساتلو کښے وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن دوی وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ چه پرخپلوځانونیے ظلم کاوی په نافرمانی سره وَاِذْ قِيْلَ او یادکړی هغه چه وویل سوه لَهُمُ اسْكُنُوْا ودی بنے اسرائیلوته چه تاسے اوسی ورهسته ترجمهٔ د جبار ینو سره هٰذِهِ الْقَرْيَةَ په دی بنار کښی دبیت المقدس وَكُلُوْا مِنْهَا اوخوری دمیو و او دغلو څخه ددی بنار حَيْثُ شِئْتُمْ دهره ځایه څخه چه ستاسے اراده وسی وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ اوداسے وایاست چه وښرهره د مونږ څخه گناهونه زمونږ دایے معنے ده وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا او نوزی په دروازه کښے ددی بنار په داسے حال کښے چه سجده کونکی یا تعظیم کونکی به یاست دتواضع په وجه نَّغْفِرْ لَكُمْ چه مونږ وبخښو وتاسے ته خَطِيْٓـٰٔتِكُمْ ط تولهٔ گناهونه ستاسی سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶۱﴾ اوښه ردی چه مونږ به نیکیات کړو ثواب اوجزا دنیکو کارانو فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ نوبدل کړی هغو کسانو ظَلَمُوْا مِنْهُمْ چه ظلم یې کړی وو پرخپلوځانونو ددی بنی اسرائیلو څخه قَوْلًا هغه لفظ دحِطَّةٌ چه مَا مُوْرِرِيْهِ وه غَيْرَ الَّذِيْ په بل لفظ سره غیر دهغه لفظ څخه قِيْلَ لَهُمْ چه ویل سوی وو وودوی ته یعنے دحِطَّةٌ پرځای به یے حنطة وایې معنے داچه غنم غواړو اودابه یے دمسخرې څخه ویل فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ نومونږ راولیږی پردغو لفظ بدلونکو باندی رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ - عذاب داسمانه چه هغه تندریَا وَباوه بِمَا كَانُوْا په سبب ددی سره چه دوی وه يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۲﴾ چه ظلم یې کاوی په تغییر دلفظ سره روایت دی چه ایله نوسے یو بنار وه دسیند پرغاړه چه دمدین اودکوه طور په مینځ کښے وو او په

عه یعنے چه امر کړه سوی وه په ویلو ورته سره ۱۲

دی بنا رکنے شپږ لکهه مخلوق وو دیهود وچه تولـه عاملان د تورات وه اود
خالی په ورځ به د ماهیانو ښکار پرحرام اونارهاوه اوبیا په حکم د رب سره به په
دغه ورځ ماهیان داوبو پرسر د پرښکارهٔ ګرزیدل اوپه نورو شپږو ورځو
کښے به یوهم نه وو نو بیا دوی هم د خدای سره تګی اوچم وکړی اود سیندپر
غاړه یے لوی لوی ډنډونه جوړکړه اود خالی په ورځ به یے ماهیان ورته
راوړول او مخه به یې پرښنه کړه اوبله ورځ به یے یول لکه چه وایی
وَسْـَٔلْهُمْ او پوښتـه ای رسوله دایهود عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ د حاله او د
قصے ځمنه د هغه ښار كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ چه په غاړه د سیند کښے ۚ اِذْ يَعْدُوْنَ
فِي السَّبْتِ چه تجاوز به یې کاوی د حکم ځمنه د خدای د خالی به ورځ چه دوی
ماهوره وه په ترک "پرسنبه ولو" د ښکار سره په دی ورځ کښے اود دوی په واقعه کښی
ښکار په هدی ورځ کاوی اِذْ تَاْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ چه راتلل به ودوی ته د سیند
ځمنه ماهیان د دوی يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا په ورځ د خالی د دوی کښے ښکارهٔ داوبو
پرمخ چه سره نه به یې جلـه ښوئے وه وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ او په هغه ورځ کښے چه
دوی به په تعظیم د خالی مشغول نه وه یعنے چه د خالی ورځ به نه وه اود دوی به
د ښکارهٔ ځمنه هم منع نه وه لَا تَاْتِيْهِمْ ۚ نو ماهیان به نه راوتل د سیند ځمنه
اود ایوه ابتلا وه چه خدای پرد وی راوستلی وه لکه چه وایی كَذٰلِكَ ۚ
نَبْلُوْهُمْ هم داسے موږ ازمایو دوی بِمَا كَانُوْا په سبب د دی چه دوی وه
يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ چه فسق یې کړی وو په سبب د بې فرمانی روایت دی چه
دوی په باب د ښکار د ماهیانو کښے دری طائفے سوه یوه لکهه خلګو ښکار شروع
کړی په دی تیره حیله اوچم سره او دوه لکهه یې مانع سوه د ښکار کولو ځمنه او دوه
لکهه ترمابین کښې ناستل چه نه یې پخپله ښکار کاوی او نه یے نورځنی منع کول
بلکه ودی مانعینو ته به یے هم ویل چه دځان اختیار یې خپل دی هرڅه چه

وقف لازم

معانقه ۲ النصف

عه یعنے د خدای د حکم ځمنه بے شپږی کاوی ۱۲

کوی تاسے پی ولے منعه کوی لکه چه وا یے وَاِذْ قَالَتْ او بیا دا یهود و پوښته د هغه څخه چه وویل اُمَّةٌ مِّنْهُمْ یوی طائفی دوی څخه چه هغه مینځنی ډله وه و دی مانفینونه لِمَ تَعِظُوْنَ چه ولے پند ورکوی او نصیحت کوی قَوْمًا اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ وهغوخلګو ته چه خدای دوی هلاکونکی دی په دنیا کښے په سبب د نافرمانی اَوْ مُعَذِّبُهُمْ یا عذابونکی او عذاب ورکونکی دی و دوی ته په آخرت کښے عَذَابًا شَدِيْدًا ډیر سخت عذاب سره چه عذاب دوزخ دی قَالُوْا نو دی - مانفینو وویل چه و دوی ته نصیحت کوو مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ د پاره د خپل عذر پیدا کولو ورب ستاسے ته او بل د پاره د اداکولو واجب چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر دی وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ او بل د پاره دی چه بنایی چه دوی وویریږی او ځان وساتی دی ګناه څخه فَلَمَّا نَسُوْا نو هرکله چه دوی هیرکړی یعنی نه پرې کړی قبول مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ هغه نصیحت چه پند ورکړه سوی وو دوی ته په هغه سره اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ نو موږ وساتل هغه کسان چه منع کول به پرې دا نور دبنکار کولو څخه وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا او موږ ونیول هغه کسان چه ظلم پرې کړی وو بعضو په کولو د بنکار سره د خالی په وړځ کښے او بعضو په ترک «د سنبلو» د نهی عن المنکر سره بِعَذَابٍ بَئِيْسٍ په سخت عذاب سره بِمَا كَانُوْا په سبب د دی سره چه دوی وو د ډیره عناده څخه يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ چه فسق پرې کاوی فَلَمَّا عَتَوْا نو هرکله چه دوی سرکشی اختیارکړه عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ د هغه کار څخه چه منع سوی وه دوی د هغه څخه چه هغه دما هیانو بنکار وو په دی وړځ کښے قُلْنَا لَهُمْ نو موږ و دوی ته وویل كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ چه ترتل سوی بیزوګیان سی نو بیا دوی توله بیزوګیان سول او تردروسره پوسری ژوندی ول او په څلرمه ورځ توله مردار سوه وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ او یادکړه هغه چه آګاه وکړه رب ستاد دې

خبری لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ چه قسم دی چه مسلط به کړم پر دی یهود و اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ د قیامت تر ورځی پورې مَنْ يَّسُوْمُهُمْ هغه څوك چه څكوی په دوی یعنی و دوی ته رسوی سُوْٓءَ الْعَذَابِ ط سخت عذاب لکه چه پس د سلیمانؑ څخه اول بخت نصر پر مسلط کړه سوچه د دوی قولی و د انبیاؤ و رخرابه کړی او عیال اطفال یې قوله په بند بوتله او د دوی یې اکثره قتل کړه او کوم څه یې جزیه کښیښوه او تردې وروسته به د مجوسیانو باچاها نو هیڅ جزیه څخه اخیسته د رسولؐ تر زمانې پورې بیا دهٗ هم بعضې قتل کړه او پر باقی پاتو یې جزیه کښیښوه چه تر قیامته به څنی اخیستل کیږی اِنَّ رَبَّكَ بیشکه ربّ ستا چه دی لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۚ خامخا ژر ورکونکی دی د عذاب و دی کفارو ته پر دنیا کښې وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ او بیشکه دی هغه اینه پر بخښونکی دی د هغه چا چه توبه وباسی او بخښنه غواړی رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۷﴾ مهربانه دی چه تر رشتینی توبې وروسته څوك پر تیره گناه نه نیسی وَقَطَّعْنٰهُمْ او تار پر تار کړه موږ دوی فِي الْاَرْضِ په مځکه کښې اُمَمًا ۚ قولی قولی چه هیڅ ملك څنی خالی نه دی مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ بعض د دوی صالحان دی لکه ابن سلام او ملګری دده وَمِنْهُمْ او بعض د دوی څخه دُوْنَ ذٰلِكَ زر اکښته دی د دې تر څخه د صلاح یعنی فاسقان دی او کافران دی وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ او وازمایل موږ دوی هم په ښوسره لکه غنا او تندرستی او معاش او ارزانی وَالسَّيِّاٰتِ او هم په بدوسره لکه فقر او مرض او تنګدستی او غمګینی او قیمتی او درد او مرګ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۶۸﴾ بنایې چه دوی وخدای ته وګرزی او د بد څخه بیزاره سے اما دوی په هیڅ حال کښې وخدای ته راجع نه سوه بلکه چه مارؐ او خوشحاله به سوه نو ویل به یې چه اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ ونحن اغنیاءُ او چه و بدی او بد حاله به سوه نو به یې ویل.

عه یعنی په تحقیق سره خدای فقیر او نادار دے او موږ غنیان او مالدار یو ۱۲

چه یداللہ مغلولة نو په هیڅ وجه سم نه سوه خَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ ورسته
تردی مذکورهینو «ذکرشوو» نور بد خلیفگان راپیدا سوه وَرِثُوا الْكِتٰبَ چه واړان
دکتاب سوه چه تورات دی یعنی هغه علم دتورات چه دخپلو پلرو څخه ورته پاته
سوی وه يَأْخُذُوْنَ دوی اخلی عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى مبلغ ددی خسیسی دنیا
په رشوت او پتولود لغت درسول او دنورو احکاموله کله رجم وَيَقُوْلُوْنَ او
دوی وایی تردی اخیستو وروسته سَيُغْفَرُ لَنَا زمردی چه بخښنه به وکړه مے
ددی کارو موږ ته حکه چه وموږ ته دورځی گناهونه وما بنام ته بخښل کیږی
اودشپی گناهونه وصباته وَاِنْ يَّاْتِهِمْ اوحال داچه که راسے ودوی ته -
عَرَضٌ مِّثْلُهٗ نور مبلغ دپخوانی «لکینی» په مثل به حرامتیا کښے چه په رشوت
یا په نورشه بی حاصل کړی يَّاْخُذُوْهُ نو هغه هم واخلی او داصراره څخه
نه بیریږی دمغفرت په اُمید اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ ایا نه ووا خستل سوی
پردوی یعنی ددوی څخه مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ عهد په تورات کښے اوهغه داوو اَنْ
لَّا يَقُوْلُوْا چه نه دی وایی عَلَى اللّٰهِ پرخدای اِلَّا الْحَقَّ مگر رښتیا اوداچه
دورځی گناهونه مود شپے اودشپی گناهونه مود ورځی بخښل کیږی دادرواغ
ویل دی پرخدای وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ اولوستلے وه دوی هغه احکام چه په تورات
کښے وه اوداحکام یے هم پکښی لید لی وو نوعمل یے ولے نه په کاوی وَالدَّارُ
الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ اوخلاصے دهغه جهان د پرغوره ده لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ دهغو
کسانو ته چه ددرواغو او دحلال بللو څخه دحرامو څخه وساتی اَفَلَا
تَعْقِلُوْنَ (۱۶۹) ایا نو تاسے عقل اوفکر نه کوی اے یهودو چه نعمتونه داخرت
غوره دی ترحرام مبلغ ددے دنیا وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ
چه ساتی اوپرځای لری احکام دتورات وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ اوودروی او
تایدکړی دوی ملونځ خپل یعنی دتولوحقوقو سره یے اداء کوی اِنَّا لَا

هغه یعنی دالله پاک لاس ترلے دی دیهودا تله څه نه ورکړی ۱۲

لَا نُضِيعُ بیشکه موږ نه ضائع کوو اَجْرَ الْمُصْلِحِينَ (۱۷۰) اجر د نیکوکارانو وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ او یادکړه وډی یهود وته هغه چه موږ هغوی کوه طور را پورته کړی فَوْقَهُمْ سر بیره پرسره د دوی كَاَنَّهُ ظُلَّةٌ گویا چه دا کوه طور یو سایه وان دی د دوی پرسر و په هوا ولاړ دی وَظَنُّوٓا اَنَّهُ اودوی په یقین سره داوګڼل چه بیشکه دا غر وَاقِعٌۢ بِهِمْ ، رالویدونکی دی پردوی که یې د توراة احکام قبول نه کړه اوموږ د دوی ته وویل خُذُوا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ چه واخلی اوقبول کړی هغه احکام چه موږ درکړی دی وتاسے ته بِقُوَّةٍ په ښه کوښښ سره وَاذْكُرُوا مَا فِيْهِ او یادکړی هغه اوامر اونواهی چه په دی کتاب کښے دی لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ (۱۷۱) بنایی چه تاسے ځانونه د نافرمانی څخه وساتی وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ او یادکړه ای رسوله هغه چه ستا رب مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ د اولاده څخه د اٰدمؑ اودی پخپله ذکر اویادنه سو په سبب د دې ظهور مِنْ ظُهُوْرِهِمْ د شا ذُرِّيَّتَهُمْ د دوی ذریتونه وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ، او شاهدان یې کړه تولو پرخپلو ځانونو باندی یا بعضے پر بعضو اوورته وویل چه اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ ایا زه ستاسے رب نه یم قَالُوْا بَلٰى ۛ نو تولو په جواب کښے ورته وویل چه ولی نه یې بلکه ته زموږ رب یې بیا رب العزت اوهغه ملائکو چه حاضری وی تولو ووېل چه شَهِدْنَا ۛ چه موږ شاهدان سو ستا سو پردی اقرار باندی اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ چه مبادا بیا تاسی ونه وایاست

په ورځ د قیامت اِنَّا كُنَّا بیشکه چه موږ وو عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ (۱۷۲) د
دی اقرار څخه ناخبره اَوْ تَقُوْلُوْٓا یا دا سے ونه وایاست اِنَّمَآ اَشْرَكَ
اٰبَآؤُنَا بیشکه هم دا خبره ده چه شرك اختیار کړی وو پلرونه موږ
مِنْ قَبْلُ مخکی ترموږ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً او موږ وو پیدا سوی اولاده مِّنْۢ
بَعْدِهِمْ ترډوی وروسته او بیا موږ اقتدا وکړه په دوی پسی اَفَتُهْلِكُنَا
آیا نو ته موږ هلاکوی او عذاب راکوی بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ (۱۷۳) په هغو
کارو سره چه کړی وه بې رښتا رانو وَكَذٰلِكَ اوهم دا سے لکه چه موږ بیان
کړه قصه د میثاق نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ په تفصیل سره بیا نو موږ نښې څرګندې
قدرت چه دوی فکر پکښې وکړی وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ (۱۷۴) او بنایې چه دوی
راوګرځی د تقلید څخه او څرګند فکر وچلوی **روایت** دی چه یوراهب وو
جبارا نو ځنې دکنعان چه نوم یې بلعام بن باعورا وو چه موسیٰ کنعان ته په
نیت د جنګ وسرغلی نو داجبارا ان ځواله بلعام ته وسرغله چه ستا اسم اعظم
یاددی نو پر موسیٰ باندی یې ووایه چه دموږ څخه حصار «بند» سے مګر ده
غاړه وځه نه کښینوو نو بیایې دیر رشوت ورته راوړی اوده ښځې تیې
دیرې زاړی وکړی نو هغه ورپسے سوه اودی یې راضی کړی نو اسم اعظم
یې په موسیٰ پسی ولوست اودتیهه په ځمکه کښې یې څلویښت کاله حصار «بندی»
کړی او دده څخه ایمان سلب سُوْ لکه چه وایې وَاتْلُ عَلَيْهِمْ اوولوله «ووایه»
اے پیغمبره پردی یهودو یا پرخپل قوم باندی نَبَاَ الَّذِيْٓ قصه او حال د هغه
شخص اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا چه موږ ورکړی وه ودې ته خپل اٰیتونه یعنی علم پر
اٰیتو او هغه شخص بلعام بن عوراامیه ابن ابی الصلت ووچه د بعضو څخه انیو
کتابو علم ورکړه سوی وه فَانْسَلَخَ مِنْهَا نو راووتے او بیزاره سو د هغو اٰیتو
څخه په سبب د کفر او اعراض سره فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ نو شیطان ورپسے سو

او دخپل ځان تابع یې کړی فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ (۱۷۵) نو د گمراهانو څخه سو وَلَوْ شِئْنَا اوکه زمونږ ارادہ سوی وای لَرَفَعْنٰهُ بِهَا نو خامخا به مونږ پورته کړی وای په دی ایتو سره ومقام دابرار وتهٔ (اونیکانو تهٔ) وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اولیکن دی چه وومیل یې وکړی اِلَى الْاَرْضِ کښته ومځکی ته دې پیره خساسته څخه وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ او پیروی یې وکړه د نفس خپل د رشوت په قبلولو سره د خپلی بښځی د قول په منلو سره فَمَثَلُهٗ نو مثال او حال دده چه دی په خساست کښې گمثل الْكَلْبِ د اسے دی لکه حال د سپی اِنْ تَحْمِلْ چه که ته حمله وکړی عَلَيْهِ يَلْهَثْ پرده باندی نوژړ به به راوباسی او هُوَ کیږی به (غاړی به) اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ځایا کله چه پرې پریږدی او هیڅ ورته ونه وایې نو هم ژړ به راوباسی او غاړی او دا محکه چه ده هرکله چه موسے علیه السلام ته بنیږی وکړی نو ژړ به یې دا سے را وخرید له او اویزا نه سوه چه پرنامه یې لګید له (پرته وه) او همیشه به لکه سپے غبیدی ذٰلِكَ دا بیان چه سوه مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ حال دی دهغو کسانو او خلګو چه دې پیره کبره اوعناده څخه كَذَّبُوْا تکذیب کوی بِاٰيٰتِنَا د ایتو زمونږ چه هغه اهل دمکی دی چه دقرآن ایتونه نه منی فَاقْصُصِ الْقَصَصَ نو بیان کړه ودوی ته دا قصه لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ (۱۷۶) بنایې چه دوی فکر وکړی چه عاقبت دتکذیب دا سے وی سَآءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ بد دی دجهته دمثاله حال دهغه قوم كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب کوی زمونږ د ایتو وروسته ترعمله په صدق دهغو وَاَنْفُسَهُمْ او پرځانونو خپلو كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ (۱۷۷) دی دوی چه ظلم کوی مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ هرڅوک چه خدای دخپله فضله څخه لار وروښیی فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ نو هغه سمه لار موندونکی (پیدا کوونکی) دی وَمَنْ يُّضْلِلْ اوهر څوک چه دی پرې گمراه کړی فَاُولٰٓئِكَ نو دغه گمراهان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۱۷۸) هم دوی زیانکاران دی وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ اوخامخا په تحقیق سره مونږ په

دوزخ دپاره پیدا کړی دی كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ دپیریانو او انسانانو څخه دپاره د اظهار «انبکاره کولو» دخپلو واړو قسمو صفتو چه جلالی اوجمالی دی لَهُمْ قُلُوبٌ چه دوی لره ښه پرونه دی دا سی بی فائدی چه لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا ژهیځ تعقل اوفکر په دی ز پروسره نه سی کولای چه حق او باطل سره بیل اوجلا کړی وَلَهُمْ أَعْيُنٌ اودوی لره ستر گی دی دا سی بے معنیٰ چه لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا ژهیځ نه سی لیدلای په دی ستر گو سره چه د عبرت په نظر مخلوق ته وگوری اودا بیا وسیله کړی د خالق ووجود ته وَلَهُمْ آذَانٌ او دوی لره غوږونه دی دا سی بے معنیٰ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ط چه نه اوری په دی غوږو سره د حق کلام دا سی چه موجب اوسبب د هدایت سی أُولَٰئِكَ داکسان چه دی كَالْأَنْعَامِ په شان دچارپایانو دی په بے فکری او په اتباع «پیروی» د نفسانی شهواتو کښے او په بے التفاتے کښے د هغو باقیه وو نعمتو د جنت بَلْ هُمْ أَضَلُّ ط بلکه دوی لا ډیر گمراه دی ترچارپایانو هم ځکه چه هغوی خو په دی مکلف نه دی اودوی پی د تکلیف سره کوی بے باکه أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ۹ داکسان چه دی هم دوی غافلان دی چه پخپل غفلت کښی ومنتهیٰ ته رسیدلی دی روایت دی چه یوسړی په لمانځه کښے لفظ دالله ووایه اوبیا یے لفظ درحمٰن هم ووایه اودا ابوجهل واوریده نو پی ووبل چه محمد صلے الله علیه وسلم خووا پی چه زه دیوه خدای عبادت کوم نو دا سړی ولے دوه خدایان بولی نو نازل سو وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ اوخاص خدای لره دی ډیر نومونه قوله بنه بنه فَادْعُوهُ بِهَا س نو دی بولی په دی نومو سره وَذَرُوا الَّذِينَ اوپریږدی پاڅروی دهغو کسانو چه دوه پیره جهله څخه يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ط الحاد کوی په نومو کښے دوه یعنے دخپلو محمانه څخه پی نومونه جوړوی نو یهودو پی ابوالسکارم اوابتیقر الوجه بولی اونصاریانو پی ابوالمسیح بولے اوحکماء پی علة أُولَىٰ بولی سَيُجْزَوْنَ ژر

دی چه جزا به ورکړه سے و دوی ته مَا كَانُوا دا هغو کار وچه دوی وو ـ
يَعْمَلُونَ (۱۸۰) چه کول به ې هغه کارونه او هر کله چه بیرته "محمد" بحث د
دوزخیانو تیر سوی وه نو اوس حال د جنتیانو بیانوی نو وایې وَمِمَّنْ خَلَقْنَا
او بعض د هغو خلګو څخه چه پیدا کړي دی مونږ د جنت د پاره اُمَّةٌ
يَهْدُونَ بِالْحَقِّ یو ټولی ده چه لار ښایې وخلګو ته د حق وَبِهِ ع ۲۲
يَعْدِلُونَ (۱۸۱) او په هم دی حق سره عدل او انصاف کوی په معاملاتو ن ۱۳
خپلو کښے چه هغه مهاجرین او انصار او اتباع د دوی دی وَالَّذِينَ
او هغه کسان كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا چه تکذیب کوی زمونږ د آیتونو سَنَسْتَدْرِجُهُمْ
ټرددی چه مونږ به ونیسو دوی وړو وړومرتبه په مرتبه ترڅوچه
دهلاک ومرتبی تر ې ورلو مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ (۱۸۲) د دا سے طرفه
څخه چه دوی نه پوهیږی یعنی ترڅوچه دوی د یرغړه سے بیا ناګاه ې ونیسم
وَأُمْلِي لَهُمْ او مهلت ورکړم ورته دوی ته د یره مودہ بیا ې ناڅاپه ونیسم
إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ (۱۸۳) بیشکه چه زما نیول د یر سخت دی أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا
ایا فکر نه کوی دا معاندان دوی، مَا بِصَاحِبِهِمْ چه نسته په ملګری کښی
دوی یعنی په رسول کښے مِنْ جِنَّةٍ ط دهیڅ قسمه لیونتوب بلکه کامل
عقل هم دده دی چه مخکی تر نبوت تاسو تو لو محمد امین باله إِنْ هُوَ نه دی
دی إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ (۱۸۴) مګر ښکاره ویرونکی دی د غدابه څخه د خدای أَوَلَمْ يَنْظُرُوا
ایا نظر نه کوی په طریقه د استدلال سره فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ په دی پراخ لوی
ملک کښی د اسمانونو چه دوولس برجونه او بے شماره ستورې دی د نګارنګ چه
څوک سیاره او څوک ثوابت دی او لمر او سپوږمی دی وَالْأَرْضِ او په پراخه
لوڅله کښی چه پکښی رنګارنګ ونې او سبزه ونه او غرونه او حیوانات او

خزنده‌گان او پرنده‌گان دی اوسړنګار رنګ بادونه او اوریځی او باران لونه دی
وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ او هر هغه چه خدای پیدا کړی دی هغه همدوی نه وینی مِنْ
شَیْءٍ او هر شی څخه چه کمال د قدرت دصانع ورته معلوم سی وَّاَنْ عَسٰۤی او
بل په دی کښی فکر نه کوی چه بنایی اَنْ یَّکُوْنَ چه وی داخبره قَدِ اقْتَرَبَ
اَجَلُهُمْ؛ چه په تحقیق سره نژدی سوی وی د دوی د مرګ وخت چه دبدو
څخه تو به کار سے او پر نیکو حرص وکړی فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۢ بَعْدَهٗ نو پرکومه خبره
قردی قرآن ورسوله یُؤْمِنُوْنَ (۱۸۵) دوی به ایمان راوړی مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ
هر څوک چې خدای یې ګمراه کړی او په قرآن سره پند نه واخلی فَلَا هَادِیَ لَهٗ
نوونده ته هیڅوک لار ښوونکی نسته وَیَذَرُهُمْ اوخدای دوی پریږدی
فِیْ طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ (۱۸۶) په خپله ګمراهی کښی چه سرګردان ګرزی یَسْـَٔلُوْنَكَ
دی چه هرکله چه قریشو یا یهودو درسول څخه پوښتنه وکړه چه موږ به قیامت
سره خبر کړی چه کله به وی او دا پوښتنه یې د مسخرو وه ځکه چه دوی یقین وو
چه دا بیله خدایه وبل هیچا ته معلوم نه دی نو نازل سو عَنِ السَّاعَةِ
دوی پوښتنه کړی دتا څخه دحاله دقیامت اَیَّانَ مُرْسٰىهَا چه کله به وی بنکاره
کیدل دهغه قُلْ ورته ووایه اِنَّمَا عِلْمُهَا بیشکه هم داخبره ده چه دهغه دراللو
علم چه دی عِنْدَ رَبِّیْ؛ درب نه ما څخه دی چه هیڅ ملائکه او نبی یې نه دی
یه مطلع کړی اوخبر کړی لَا یُجَلِّیْهَا نه بنکاره کوی دا قیامت لِوَقْتِهَاۤ په وخت کښی
داظهار (بنکاره کولو) دده چه هغه همدده ورته مقرر کړی دی اِلَّا هُوَ؛ مګر هغه
هم دی دی ثَقُلَتْ درونده اوسخت اولوی دی دهشت اوخوف دی قیامت
فِی السَّمٰوٰتِ په اسمانونو کښی پرملائکو وَالْاَرْضِ؛ او په ځمکه کښی پرتولو حیواناتو
خصوصًا پرانسانانو او پیریانانو لَا تَاْتِیْكُمْ چه نه به راځی دا قیامت وتاسے ته
اِلَّا بَغْتَةً؛ مګر ناڅاپه چه هیڅ مقدمه نه لری لکه چه په سورة یٰسٓ کښی

راغلی دی چه تاخذ هُمْ وهم یخصمون ط فلا یستطیعون توصیة ولآ الیٰ اهلهم یرجعون ط یَسْئَلُوْنَکَ دوی پوښتنه کوی دتا شخه دوی قیامت په دی زهم سره کَاَنَّکَ حَفِیٌّ چه گویا که چه ته مهربانه یې پرپوښتنه کونکی باندی اوخوشحاله کیږی په سوال کولو اوپه پوښتنه سره عَنْهَا ط دوی قیامت شخه اوحال داچه ته په دی پوښتنه سره خفه کیږی قُلْ اِنَّمَا ورته ووایه چه بیشکه چه هم داخبره ده چه عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ علم دقیامت خاص دخدای سره دی نه دبل چاسره وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دی لَا یَعْلَمُوْنَ (۱۸۷) نه پوهیږی په دی چه دابل چا ته معلوم نه دی قُلْ لَّآ اَمْلِكُ بیا ورته ووایه ودوی ته چه زه واك نه لرم لِنَفْسِیْ نَفْعًا دخپل ځان دپاره هم نه دلرکشولو دخیر وَّلَا ضَرًّا اونه دد فعه کولو دشر اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ط مگر دهغه شی چه دخدای اراده وسی وَلَوْ کُنْتُ اَعْلَمُ الْغَیْبَ لوکه زه وای علم دغیب چه پوهیدای دغیب په کارو بیله تعلیمه دخدای لَاسْتَکْثَرْتُ نوخامخا به می دیر راجمع کړی اوډیرکړی وای وځان ته مِنَ الْخَیْرِ ۚ خیر یعنی منفعت لکه صحت اوفتح اوغنیمت وَمَا مَسَّنِیَ السُّوْٓءُ ۚ اوومانه به هیڅکله شر نه وای رارسیدلی لکه ضرر اوفقر اوتنگی اوهزیمت اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِیْرٌ نه یم زه مگر بیروونکی یم دغذا به شخه دمنکانو وَّبَشِیْرٌ اونږی کونکی یم دجنت لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ (۱۸۸) پرهغو خلکو چه ایمان راوړی روایت دی چه په قریشو کښی قصی نوے یوسړی ووچه دی هم درسول ﷺ نیکه وو اودی اونجۍ پی دوارعرب وه نو دوارو وخدای ته زاری وکړی چه که دی وموبدته ولد صالح راکړی نوپردی نعمت به دی شکرگذاره سونو بیا خدای خلو رزامن ورکړه نوده اول نوم پیلے عبد مناف اوددویم نوم پی عبد شمس اوددریم نوم پی عبد قصی اودخلرم نوم پی عبد دار کښیښووی نوځکه رب العزت واهل دمکی ته خطاب کړی دی

ع ۱۳ ۲۳

عه صحیح داچه دقیامت به دوی ته راسی ناڅاپه اودوی به بیخبری کوی نو دوی به بیا طاقت نه لری دوصیت کولو اونه به اهل وعیال خپل ته بیرته وګرزی ۱۲

چه دوی دهغه اولاد دی اوچا ویلی دی چه دا قصه دآدم ؑ ده مګر هر کله چه نسبت دواسے نالایقه اقوالو انبیاؤ ته مناسب نه وو نو اصح هم دادی چه قصی ځنی مراد دی لکه چه وایی هُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ دی هغه پروردګار دی چه تاسی پیدا کړی ـ یاست مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ دیوه تنه څخه چه قصی یا آدم دی وَجَعَلَ مِنْهَا او ورکړی وه ده ودی نفس ته دخپله قومه څخه چه قریش دی یا دخپله تنه څخه چه زَوْجَهَا ښځه ؤده چه مورده دعبد مناف یا بی بی حوا ؑ ده لِیَسْکُنَ اِلَیْهَا ، ددی دپاره چه ارام پیدا کړی او الفت ونیسی په دی پوری فَلَمَّا تَغَشّٰهَا نو هر کله یی چه نجامعت وکړی ددی سره حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِیْفًا نو دا حامله سوه په سپک حمل سره په اول کښے ځکه چه تشه «خالی» نطفه وه فَمَرَّتْ بِهٖ ج نو دا به تیریده او را تیریده ددی حمل سره یعنی سپکه سپکه به ګرځیده ځکه چه بار یے سپک وو فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ نو هر کله چه دا درنه سوه په سبب دلویدلو سرخ دحمل او دولد په نفس کښے دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا نو دواړو وخدای ته سوال وکړی چه ددوی رب دی لَئِنْ اٰتَیْتَنَا صَالِحًا چه که دی خامخا وموږ ته ولد صالح راکړی یعنی په بدن روغ او سلامت یا نارینه لَنَکُوْنَنَّ نو خامخا به سوموږ مِنَ الشّٰکِرِیْنَ ﴿۱۸۹﴾ د شکر ګذارانو څخه پر دی نعمت ستا فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا صَالِحًا نو هر کله چه خدای ودوی ته ورکړی فرزند «زوی» په تنه سره روغ نو دوی دواړو یعنی قصی او ښځی یی اوکه مراد څنی آدم او حواء ؑ وی نو دا کلام په حذف دا ولاد سره دی ای جَعَلَا لَهٗ شُرَکَآءَ وګرځول اووی نیول وخدای ته شریکان او دا ځکه چه آدم ؑ او بی بی حواء ؑ دواړه بیزاره دی د شرکه څخه او مراد که نفس آدم او حواء سی نو مراد په شرکاء سره شرکت په نامه کښی دی نه په عبادت کښے ځکه عبد الله یی په عبد الحارث بدل کړی دی فِیْمَآ اٰتٰهُمَا ؕ په هغه کښی چه خدای ودوی ته ورکړی وه چه د عبد الله او د عبد الرحمن او د عبد الرحیم پرځای دوی د عبد مناف او عبد شمس او عبد دار نومونه کښینوول فَتَعٰلَی اللّٰهُ نو بلند شان

عه یعنی پیدا کړی اولاد دآدم ؑ او د حوا ؑ ۱۲

او پاک دی خدای عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۱۹۰﴾ ددی شریکه څخه چه دوی یې پیدا کوی دهغه سره أَيُشْرِكُونَ ایا دوی شریک نیسی دده سره مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا هغه شی چه هغه هیڅ نه سی پیدا کولای چه بتان دی وَّهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿۱۹۱﴾ اوحال داچه دغه بتان پیدا کول کیږی یعنی دوی پخپله دبل چا مخلوق دی نو بیا به څرنګه دبل چا خالقان سی وَلَا يَسْتَطِيعُونَ اوطاقت نه لری دابتان لَهُمْ نَصْرًا دوی خپلو عابدانو ته مدد ګاری نه د نفعی رسولو او نه د ضرر دفعه کولو وَّلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ ﴿۱۹۲﴾ او نه د خپلو ځانونه مدد ګاری کولای سی چه که څوک یې ماتوی او یا یې په نجاست لړی او دوی دی خپل ځان څخه خلاص کړی وَإِنْ تَدْعُوهُمْ اوکه تاسو وبولی ای مؤمنانو دامشرکان إِلَى الْهُدَىٰ ودین دا سلام ته یاکه و بولی اے مشرکانو دا بتان د یاره دهدایت خپل لَا يَتَّبِعُوكُمْ نو یسی درپه نه سی سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ برابره ده پرتاسے داخبره أَدَعَوْتُمُوهُمْ چه ایا تاسی دوی وبولی أَمْ أَنْتُمْ صَامِتُونَ ﴿۱۹۳﴾ یا تاسی چپ اوسی إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ بیشکه هغه کسان چه تاسے یې بولے مِن دُونِ اللَّهِ بیله خدایه عِبَادٌ امثالکم بندګان دی ستاسو مملوك او مسخر دی په مثل ستاسے په مملوکیت او مسخریت کښی فَادْعُوهُمْ نو تاسو دوی وبولی او بیا فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ نو میبایدچه ودی منی دوی دابلل ستاسے إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿۱۹۴﴾ که تاسے رشتینی یاست په دی خبره کښی چه داخدایان دی أَلَهُمْ أَرْجُلٌ ایا دوی لره داسے پښی ستهٔ يَمْشُونَ بِهَا چه دوی په هغوسره تلۍ کوی وخپلو مقاصدو ته أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ اوکه سته دوی لره داسے لاسونه يَبْطِشُونَ بِهَا چه بنول کومی په هغو سره پخپلو حوائجو «حاجتو» کښی أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ اوکه سته دوی لره داسی سترګی يُبْصِرُونَ بِهَا چه لیدل کوی په هغوسره پخپلو مطالبو کښی أَمْ لَهُمْ آذَانٌ اوکه سته دوی لره داسے غوږونه يَسْمَعُونَ بِهَا چه اوریدل کوی په

عه په تابع کیدلو کی د خدای پاک یعنی لکه په تاسی تابع یاست دوی هم تابع او مسخر دی د خدای ۱۲

هغوسره په خپلو معاملاتو کښې قُلِ ادْعُوا اے رسولهٗ ورته ووایه چه وبولی شُرَكَآءَكُمْ هغه شریکان خپل چه دخدایه سره پې سم بولی اوتوله نړۍ په عداوت کښې سره متفق یاست ثُمَّ كِيدُونِ بیاوسره وسته دهغه توله سره کوشش کونکی سے په مکربازی او په ضرر رسولو کښې وماته همرتاسی اوهم داشریکان ستاسے فَلَا تُنظِرُونِ ﴿۱۹۵﴾ نو بیا تاسی هیڅ مهلت مه کوی اِنَّ وَلِيِّيَ اللّٰهُ الَّذِي بیشکه متولی اوناصر زما چه دی په هرکار کښې هغه پروردګار دی نَزَّلَ الْكِتٰبَ چه راليږلی پې دی وماته کتاب یعنی قرآن وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِينَ ﴿۱۹۶﴾ او دی دوسته اوکارسازی کوی دصالحانو وَالَّذِينَ تَدْعُونَ اوهغه بتان چه تاسو پې بولے مِن دُونِهٖ بیله خدایه لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ دې طاقت اوتوان نه لری د مدد کولو دتاسی سره وَلَآ اَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿۱۹۷﴾ اونه دخپلوځانو نوسره مدد کولای سی په هغه وخت کښې چه څوك پې ماتوی وَاِنْ تَدْعُوهُمْ اوکه وبولی ای مؤمنانو تاسے دابتان اِلَى الْهُدٰى وسمې لاری ته لَا يَسْمَعُوا نوهیڅ نه اوری دوی وَتَرٰىهُمْ اد وینې په ته دوی اے رسوله يَنظُرُونَ اِلَيْكَ چه وتاته به ګوری په غټو غټو سترګو سره ځکه چه پشکل دادمی «انسان» دی نو په غټو سترګو سره ګوری په ظاهر کښې وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿۱۹۸﴾ اوحال داچه دوی به هیڅ نه وینې ځکه چه نوریڅه پسترګو کښې نسته خُذِ الْعَفْوَ ونیسه ای نړۍ ماحبیبه دعفوولاړدی مؤمنانو سره او سختی تریې مه نیسه چه درڅخه تارپه تارنه سی وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ اوامرکوه وهر چاته په نیکو اقوالو وافعالو اوحوالوسره چه عقل پې بنه منی اوشرعه یې قبلوی وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِينَ ﴿۱۹۹﴾ اوځنډ وکړه اواعراض وکړه دناپوهانو لیونیانو څخه روایت دی چه هرکله دا ایت نازل سو نو رسولهٗ دجبرائیل څخه پوښتنه وکړه چه ددی ایت حاصل څه دی نوهغه ورته وویل چه ته پې مأموره کړی په دروکارو سره . اول داچه پیوندکوه دهرهغه چا سره چه دتا څخه پیوند

شکوی دوهم داچه و رکول کوه و هرهغه چا ته چه تا محرومکوی د زیږداچه عفوه کوه و هرهغه چا ته چه پرتا جبر او تعدی کوی او دغه درے سره په واقعه کښی دمکارم الاخلاق اصول دی لکه چه وایی ۵

څوک چه زهیر دلره درکړی ورکوه ته ورلره شات ▯ او که څان له تا نه پرے کړی بیا ته سره ورته مات
او که تا کړی دی محروم ورکوه ته ورلره زیات ▯ دا بنه خو یو سړی دی ته به مومی پرے نجات

وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ اوهکه باعث او تیزکړی پرمعصیت تا مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ د طرفه څخه د شیطان کومه وسوسه په وخت کښی د غضب یا بل وخت فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ د نو پناه وغواړه په خدای سره اِنَّهٗ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ﴿۲۰۰﴾ بیشکه چه دی اوریدونکی دی د هرگفتار «ویناء» پوهیدونکی دی په هر اسرار اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا بیشکه هغه کسان چه بیرېږی د خدایه څخه یا خپل څان د شرک او د معاصیو څخه ساتے اِذَا مَسَّهُمْ په هر وخت کښی چه و دوی ته و رسیږی طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّیْطٰنِ کومه وسوسه د طرفه د شیطان تَذَكَّرُوْا انیاد وی امر او نهی د پروردګار فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾ نو ناګاه دوی لیدونکی وی د حق او بیا په دی حق سره د دفعه کړی هغه وسوسه د شیطان وَاِخْوَانُهُمْ او وروڼه ددی کفارو چه دی له شیطانانو څخه یَمُدُّوْنَهُمْ فِی الْغَیِّ راکشوی، ډوی د اکفارو اوکلکوی پی په ګمراهی کښی ثُمَّ لَا یُقْصِرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾ بیا وروسته ترهغه نه لنډ ی د شیطانانو ددوی د نښکولو څخه وَاِذَا او په هغه وخت کی لَمْ تَاْتِهِمْ بِاٰیَةٍ چه ته نه راوړی اے رسوله و دوی ته هغه قسم ایت چه دوی پی غواړی قَالُوْا نو دوی وایی لَوْلَا اجْتَبَیْتَهَا ولی دی غوره نه کړی دا سے ایت او دڅانه څخه دی جوړ نه کړی لکه نور کله چه پی دڅانه جوړوی او راته راوړی پی قُلْ اِنَّمَآ نو وسړته ووایه چه بیشکه هر دا څه چه اَتَّبِعُ پیروی کوم مَا یُوْحٰٓی اِلَیَّ دهغه شی چه وحی کول کیږی و ما ته مِنْ رَّبِّیْ د طرفه څخه د رب خپل او دڅانه څخه پی نه جوړوم هٰذَا بَصَآئِرُ دا قرآن چه

دی ټوله دلیلونه اوحجتونه دی چه په دوی سره حق معلومیږی او معلوم کولای
یی سے مِنْ رَّبِّكُمْ د طرفه ځمه د رب ستاسے وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ او رهنمائی اورحمت
دی لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی پرخدای اوپر رسول
روایت دی چه یو انصاری په رسول پسے په لمانځه کښی ولاړ و واوهر
ځه به چه رسول لوستل په لمانځه کښی هغه به ده هم لوستل ورپسے نو نازل
سو وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ او په هغه وخت کښی چه قرآن لوستل کیږی سے
په لمانځه کښی یعنی امام یی لوله فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ نو غوږ کښیږدی ورته وَ
اَنْصِتُوْا اوچپ ولاړ اوسی تاسے لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ بنایی تاسی لره
چه رحم درباندی وکړل سی وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اویاد کړه اے بنده
رب خپل فِيْ نَفْسِكَ په خپل زړه کښی تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً په زاری
او په بیره سره وَدُوْنَ الْجَهْرِ اوکم تر هسك اولوړ اواز مِنَ الْقَوْلِ د
کفتاره یعنی په نرم اواز سره چه فکر دی مشوش نه سی بِالْغُدُوِّ
وَالْاٰصَالِ هم سهار اوهم ماښام یعنی هر وخت وَلَا تَكُنْ اومه کیږه
اے بنده مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾ د غافلانو څخه دیا دولود خدای اِنَّ الَّذِيْنَ
بیشکه هغه کسان عِنْدَ رَبِّكَ چه ستا درب په نزد دی یعنی ملائکی
لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ کړدن کشی نه کوی عَنْ عِبَادَتِهٖ د عبادته څخه دده
وَيُسَبِّحُوْنَهٗ اوپاکی وایی ټوله
دده په هروخت کښی وَلَهٗ
يَسْجُدُوْنَ ﴿۲۰۶﴾ او
خاص هم
وده ته سجده
کوی

بسم اللہ الرحمن الرحیم

روایت دی چه هرکله جنګ وبد روسو او اویا تنه د کفارو یکښی مروار سوه او اویا تنه یی په بندځنی راغله اوغنیمت یی وبرا وړی نوغازیان په دی غنیمت کښی سره مختلف سوه داسی چه څوانانو به ویل چه جنګ خومونږ کړی دی نو دا قوله مونږ اخلو او نور به ویل چه مونږ هم درسره وو نو مونږ یې هم غواړو نو قوله رسول ته راغله چه ددی قسمت اختیار دچا دی یوازی د مهاجرینو دی اوکه یوازی د انصارو دی اوکه ددواړو نو نازل سو يَسْئَلُوْنَكَ پوښتنه کړی دوی د تا څخه اے رسوله عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ دحکمه دغنیمتو او دا جمع د نفل ده اوده ته نفل ځکه ویل کیږی چه هسی یوه عطا ده محض د فضله د پروردګاره قُلِ الْاَنْفَالُ ورته ووایه ددوی ته چه غنایم چه دی او په دوی کښی اختیار د تصرف چه دی لِلّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ ۚ خاص خدای لره دی او رسول ده لره چه قسمت به یې کوې په هرشان چه ماموړ سے فَاتَّقُوا اللّٰهَ نو وبیریږی د خدایه څخه نزاع اوجګړه مه کوی وَ اَصْلِحُوْا اوجوړه اوبرابره کړی ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۪ معامله اوسروکار خپل په اتفاق او الفت او په محبت سره په خپل مینځ کښی وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ اوومنی دخدای فرمان وَرَسُوْلَهٗۤ اوده درسول په هرشے کښے خصوصًا په باب د غنایمو کښے اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۱ که تاسی ایمان راوړونکی یاست پرخدای اوپر رسول اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ بیشکه هم داخبره ده چه خاص کامل مؤمنان هغه دی اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ چه یاد کړه سی خدای ددوی په وړاندی وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ نو بیریږی زړونه ددوی د ډیره هیبته څخه اودتصور څخه د عظمت او د جلال ددده

وَ اِذَا تُلِيَتْ او په هغه وخت کښې چه ولوستل سی عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ پرده وی باندی اٰیتونه
ده یعنی قرآن زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا نو زیات کړی دا اٰیتونه ایمان ددوی یعنی ایمان
پی جلوه پیدا کړی وَّعَلٰى رَبِّهِمْ او پرخپل رب باندی يَتَوَكَّلُوْنَ ۲ تکیه کوی په
هرکار کښې او بل چا ته تفویض نه کوی اَلَّذِيْنَ دا مؤمنان هغه کسان دی يُقِيْمُوْنَ
الصَّلٰوةَ چه برپا یه لری او اداکوی لمونځ خپل سره دقولوحقوقو دده وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ
او دهغه مال څخه چه موږ ودوی ته ورکړی دی يُنْفِقُوْنَ ۳ دوی پی سندی
پرعیال او پرفقراؤ او پرمساکینو او پرسائلانو اُولٰٓئِكَ داکسان چه اعمال دقلب
اودجوارحو پی سره جمع کړی دی لکه خوف او توکل او صلوٰة اوصدقه هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ
حَقًّا هم دوی مؤمنان دی په حقه سره لَهُمْ دَرَجٰتٌ دوی لره درجې
دی چه بعضی پربعضو پورته دی په قدر دعملو سره عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد رب خپل
چه دادرجې دقرب یا دجنت دی وَمَغْفِرَةٌ اوبخښنه ده ودوی ته دتقصیراتو وَّ
رِزْقٌ كَرِيْمٌ ۴ اوروزی ده پاکه اوصافه **روایت** دی چه هرکله کاروان د
قریشو د شام څخه راغلے د ویره ماله سره اوخلو ینت سواره وړسره وه چه مشر
پی ابوسفیان وو اوحضرت جبرائیلؑ رسول علیه السلام په خبرکړی او ده واصحابو ته وویل
نو دوی په دی سره د ویرخوشحاله سوه چه مال د ویردی او خلګ لږ دی بیا چه کله
اصحاب د مدینې څخه راووته اوکاروان ته دا خبر ورسیدی نو دوی ومکی ته
قاصد ورولیږی چه ژر راورسیږی چه کاروان پی درڅخه ووا هی او ابوجهل
تولو قریشو سره راغلی او دبدر پرځاه اوکوهی پی واړول اوکاروان پی دمسلمانانو
پرخلاف تیر سوا ولاړی دد ریاب پرغاړه او بیا جبرائیلؑ راغلے چه خدای وعده
درسره وکړه چه یوشی به درکړم یا کاروان یا قریش نورسولؐ اصحاب رض و
وښتل چه ستاسی کوم یوخوښ دی نو دوی کاروان غوره اوخوښ کړی
نو دنبیؐ د ویرپه غضب سوا وصدیق اوفاروق دواړو هم دده مصلحت غوره

کړی او بیا سعد بن عبادهؓ وویل چه ته خپل فکر نه ګوره قسم دی چه که عدن ابین ته ته تلی مونږ به هم تول درسره ولاړسو او دانصار وشخه به یو هم پاته نه سی بیا مقدادؓ وویل هرڅه چه رب درته فرمایلی دی هم هغه کوه اومونږ تول درسره ملګری یو اومونږ بنی اسرائیل نه یو چه درته ووایو چه فاذهب انت وربك فقاتلا انا ههنا قعدون بلکه مونږ داسے درته وایو چه اذهب انت وربك فقاتلا انا معكما نو رسول وخندل او خوشحاله سو بیا سعد بن معاذؓ ورته وویل چه خپل کړه کوه قسم په هغه خدای دی چه ته یې په حق سره لیږلی یې چه که ته ودریاب ته لویدی چه مونږ به تول درسره ولویږو او یو یو هم پاته نه سی نو دی وپرخوشحاله سو اووی ویل چه سیروا علی برکة الله اواوس رب العزت وایي چه اختیار دغنا ئمو خاص دخدای او درسول دی سره دخفګان دوی او داخفګان دوی داسی دی كَمَآ اَخْرَجَكَ لکه چه تیې راوه ایستی رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ سره چې خپل ستا دخپله کوره چه په مدینه کښی وو بِالْحَقِّ په حکمت اوپه صواب سره وَاِنَّ فَرِيْقًا او بیشکه یوه فرقه چه وه مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ دمؤمنانو لَكٰرِهُوْنَ ۝۵ خاغا خفه وه په دی وتلو ستا او داکراهت اوخفګان یې طبعی وو دجهته دنا داری اود مخالفت دسفر يُجَادِلُوْنَكَ فِى الْحَقِّ دوی جګړه کوی د تاسره په اختیار ولواوغورځ کولوکښی دحق چه هغه جهاد دی یعنی تیې جهاد ته راکشوی اودوی دکاروان وطرفته زورکوی بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ ورسته ترهغه چه ووی ته بنکاره سوی ده ستا په اخبارسره چه نصرت هم دوی لره دی كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ ګویا که دوی بیول کیږی اوشړل کیږی اِلَى الْمَوْتِ مرګ ته وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝۶ اوحال داچه دوی ګوری په سبب د لږ والی خپل څکه چه دوی

عه یعنی چه بنی اسرائیلو موسی اوهارون علیهما السلام ته وویل دغزا په وخت کښی چه مځه ولاړسه ته اورب ستا دی هم ولاړسی وجنګ نه او دواړه جنګ وکړی اومونږ پرلته یو ۱۲ عه یعنی مړی اوسیر کوی په څکه کښی په برکت دخدای سره ۱۲ عبدالوحید

دری سوه ۳۱۳ دیارلس یا پنځوس یا خلور شپیته وه او په درست لښکر کښی دوه اسونه او شپږ نر غری او اته توره وی وَاِذْ یَعِدُکُمُ اللّٰهُ او یادکړی هغه چه وعده وکړه دتاسے سره خدای اِحْدَی الطَّآئِفَتَیْنِ یوه دوی دووطائفو څخه چه کاروان اولښکر دکفارو دی اَنَّهَا لَکُمْ چه بیشکه دایوه طائفه ځنی تاسے لره مقرره ده وَتَوَدُّوْنَ اوحال دا چه خوښه ګڼی تاسی داخبره اَنَّ غَیْرَ ذَاتِ الشَّوْکَةِ چه بیشکه هغه طائفه چه بے سیاسته اوبی وسلی ده چه هغه کاروان دی تَکُوْنُ لَکُمْ هم هغه دی وی تاسی لره ځکه چه څفے سره څلریښت سړی دی اوکم چه لښکردی هغه نه نیم سوه خلق دی نوتاسے هغه اسانه طائفه غواړی وَیُرِیْدُ اللّٰهُ اوارادہ لری خدای اَنْ یُّحِقَّ الْحَقَّ ددی خبری چه ثابت اوپورته کړی حق بِکَلِمٰتِهٖ په هغوخپلوا ایتوسره چه په باب دجنګ کښی راغلی دی یا په باب دنصرت اودفتح درسول کښی راغلی دی یا په هغو کلماتو ازلیه ووسره چه په باب دقتل اودبند دوی په لوح محفوظ کښی لیکلی دی وَیَقْطَعَ اوچه پری کړی اوړاونړوی دَابِرَ الْکٰفِرِیْنَ ۷ یخ او بنیاد دکافرانو لِیُحِقَّ الْحَقَّ دیاړه ددی چه ظاهر اومعزز کړی دین داسلام په نصرت سره دمؤمنانو وَیُبْطِلَ الْبَاطِلَ او خواړاوضعیفه کړی کفر په قتل اوبه بند دکافرانو سره وَلَوْ کَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۸ که څه هم بده بولی داخبره اوبه خفه کیږی کافران اِذْ تَسْتَغِیْثُوْنَ یادکړی هغه وخت چه استغاثه بهکول تاسے رَبَّکُمْ وخپل رب ته چه ټولوبه ناری وهلی چه اَغِثْنَا یا غیاث المستغیثین فَاسْتَجَابَ لَکُمْ نو واورېده اوقبوله کړه خدای وتاسے ته داستاسے دعا اوداسے یې درته ووېل چه اَنِّیْ مُمِدُّکُمْ بیشکه زه مدد کونکی یم درتاسی سره بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِکَةِ په زرو کسانو دملایکو سره مُرْدِفِیْنَ ۹ یو په بل پسی راتلونکی یا په مؤمنانو پسی راتلونکی دپاڼ دتقویت ددوی وَمَا

۸ یعنے فریادرسی وکړه زمونږ اے فریادرسه دعاجزانو ۱۲

جَعَلَهُ اللّٰهُ او نه دی کړنه ولی دا د ملائکو را تله خدای اِلَّا بُشْرٰی مګر زیری د نصرت وَلِتَطْمَئِنَّ او بل د دی د پاره چه قرار او پرا رام سی به قُلُوْبُكُمْ به دی امداد سره زړو نه ستاسی د خوفه او د بیری څخه د قتل او د ذلته وَمَا النَّصْرُ او نه ده یاری او مدد ګا ری پرد بنمن اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ د مګر د خدای د طرفه څخه ده نه د ملائکو اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ بیشکه چه خدای غالب دی پر مدد کولو د خپلو دوستانو سره حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ حکم کونکی دی په قهر د خپلو د بنمنانو او د ثبیت دی چه هر کله د واړه طائفې سره مخامخ سوی نو په دغه شپه اصحاب کرام د پرخفه وه ځکه چه په دوی څوځوکا رونه وسول پو دا چه د ری چنده لښکر د بنمن پر اړخ اوبل دا چه او به او متینه ځکه هغوځنی لاندی ګړه او د وی پر وچه او شګه پر یواته نو د ډیره غمه څخه خوب نه ور ته ګی مګر پرو ر د ګار د خپلې مهربانی څخه د خوب پر یښانی پر ما وسته د اُحد د ورځی په شان لکه چه وایی اِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ یاد کړی هغه چه واچوله رب العزت پرتا سے پر کالی ﴿پرښانی، خوب﴾ اَمَنَةً مِّنْهُ د پاره د امن ستاسی د خپله جانبه څخه ځکه چه په خوب سره هم بیره و رکیږی او هم صورت په ارامیږی وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ او راوبی او سو لی پرتا سے باندی مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً د طرفه د اسمانه څخه او به د پاره د څلو د کار و لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ چه یو د دی د پاره چه تا سے پاک کړی په دی او بو سره د حدثه او د جنابته څخه وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ او بل د دی د پاره چه لیږی کړی دی د تاسی څخه رِجْزَ الشَّيْطٰنِ د وسوسه د شیطان چه د رته وایی چه ټری به سی او بے او د سه به لمونځونه کوی او په شګو کښی به وی او بیرے ترځنګه نو پری وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ او بل د دی د پاره چه و ټری او واچوی ستاسی په زړو کښی امید د خپلی مهربانی وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿۱۱﴾ او چه ټک ټک کړی دی په د ی او بو د باران سره قدمونه ستاسی او د بنمن قدمونه نښوی سے او نښو نیږی په خټو او چکر کښی په وخت د جنګ کښی اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ یاد کړه اے

رسوله هغه چه وحی وکړی رب ستا اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ وهغو ملائکو ته چه یه نصرت دمؤمنانو راغلی وی اَنِّیْ مَعَكُمْ چه بیشکه زه دتاسے سره یم یه نصرت کښی فَثَبِّتُوا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اوتوده لپوری وکړی دمؤمنانو یه وخت کښی دجنګ په ډیرو لوسره دلښکر او سپاه ددوی یا په ښکاره بشارت سره سَاُلْقِیْ فِیْ قُلُوْبِ الَّذِیْنَ په زړونو کښی دهغوکسانو کَفَرُوا الرُّعْبَ چه کافران دی بیره اوهیبت فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ سرپرده پرګردنو «غاړو» وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ اووهے ددی کفار وځخه كُلَّ بَنَانٍ ﴿۱۲﴾ وړی ګوتی یا واړه اطراف یعنے هم لاسونه اوهم پښی ذٰلِكَ داوهل ددوی ددی دپاره دی بِاَنَّهُمْ چه بیشکه دوی شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ج مخالفت کوی دخدای اودرسول څخه دده وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ اوهرڅوك چه مخالفت کوی دخدایه وَرَسُوْلَهٗ اود رسوله دده فَاِنَّ اللّٰهَ نوبیشکه خدای شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۳﴾ سخت عقوبت دی دخپلو مخالفانو هم په اخرت کښی ذٰلِكُمْ داستاسے عقوبت دی اے مخالفانو یه دنیا کښے فَذُوْقُوْهُ نوڅکی تاسے وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ او بیشکه چه مقرر دی کافرانو ته په اخرت کښی عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۴﴾ عذاب داور ددوزخ يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا په هغه وخت کښی چه پیښ دی مخامخ تاسے په جنګ کښی پرهغوکسانو چه کافران دی زَحْفًا په دی حال کښی چه دوی انبوه وی فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾ نو مه ګرځوی ووی ته شاکافی خپلے په نیت د تیښتی سره وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ اوهرڅوك چه وګرځوی ووی ته يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ په دغه ورځ دجنګ شاخپله اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ مګر په داسے حال کښے چه جوړاوښکونکی وی دپاره دتوره ولو دجنګ یا دپاره دچمکولو ودښمن ته چه په تیښته یې غولوی کړی. اویا پرته وګرزی نوداسے منع نه دی اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ یا ځان رسونکی وی وخوا ته دمؤمنانو په دی تیښته سره نوداهم منع نه دی اوهر

چا چه غیر ددی دوو وحالو څخه تیښته وکړه فَقَدْ بَآءَ نو په تحقیق سره اخته سو او
راوګرزیدی بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ په قهر د خدای وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ط اوځای ددده
دوزخ دے وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶﴾ او بد ځای دی دا دوزخ روایت دی چه
هرکله جنګ د بدر رتو د سو او کفارو په یوه وار رش راو پرې نو رسول علیه السلام
وخدای ته په زاړی سو او ویل یې اَللّٰهُمَّ اَنْجِزْ لِيْ مَا وَعَدْتَنِيْ یعنی اے ربه ترسره کړه
دما سره هغه وعده د نصرت چه دی را سره کړی وه نو جبرائیل راغلے او ورته وی
ویل چه یو موټ شګی او خاوری در واخله او دوی وطرف ته یې وغورځوه بیا
چه پرجنګ سره ګډ سو نو ده یو موټ شګی او خاوری را واخیستی او دکفارو و مخ
ته یې ورو غورځولی او وی ویل چه شَاهَتِ الْوُجُوْهُ یعنی قبیح سو مخونه د دښمنانو
او د اشګی او خاوری پرورسګار یو پرې او دکفارو په ستر ګو کښې یې ورواچولی او
ما ته په ګډه سوه ملائکو او مؤمنانو نو به ښوی او وژل بریې چه او یا تنه یې خنی مړه کړل
او او یا تنه یې خنی په بند را وستل نو بیا اصحابو په دی کار سره فخر کا وی او یوه به
بل ته ویل چه فلانی ما وژلی دی او بل به ویل چه ما نیولی وه نو نازل سو فَلَمْ
تَقْتُلُوْهُمْ نو نه دی وژلی تا سے دا کفار بخپل قوت او بازو سره وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ ز
اولیکن خدای وژلی دی دوی په نصرت سره د ملائکو وَمَا رَمَيْتَ او نه وه غورځولی
تا سے رسوله هغه موټی دخاورو وَاِذْ رَمَيْتَ په هغه وخت کښې چه تا و غورځاوی
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ج اولیکن هغه خدای غورځولی وه په واقعه کښې ځکه چه ستا د
لاسه د تمام لښکرو ستر ګو ته نه سی رسیدلای وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ او دده دپاره
چه احسان او عطاء وکړی پرورسګار مؤمنانو په دی کار سره مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا
د خپله جانبه ښځه بنه عطا چه هغه نصرت او غنیمت دی اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بیشکه چه
خدای اورید ونکی دی دده دعا ستا سے عَلِيْمٌ ﴿۱۷﴾ پوه دی په نیتو ستا سے ځکه
چه دعا ستا سے یې قبوله کړه ذٰلِكُمْ دا تیره عطا خو بنه ده وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدا

چه دی مُوهِنُ کَیۡدِ الۡکٰفِرِیۡنَ ﴿۱۸﴾ سُستونکی اوخوا بونکی دی دمکرا او دچیلے د
کافرانو روایت دی چه هر کله ابوجهل سره د لښکره ارادہ د وتلو وکړه دمکی شخه
نو قوله وکښی ته ولاړه او دکعبی په استانه پوری او یزاته سوه او سوال یې وکړی
چه اے خدایه! موږ د محمدﷺ سره جنګ ارادہ کړی ده نو هر څوک چې دی دواړو
طائفو شخه پرحق دی اودین ښے غوره وی او وتاته ګران وی نو وهغے ته برې
وسکړه نو خکه رب العزت واهل دمکی ته خطاب وکړی پرطریقه د تهکم سره
نو نازل سو اِنۡ تَسۡتَفۡتِحُوۡا اکه فتح او نصرت غواړی تاسے ای دمکی خلګو فَقَدۡ
جَآءَکُمُ الۡفَتۡحُ نو په تحقیق سره درغله هم هغه فتح چه تاسے دکعبی شخه
غوښتی وه یعنی فتح دهغے طائفی چه وماته گرانه ده وَاِنۡ تَنۡتَهُوۡا اوکه تاسے
واوړی ددی عناده اوددی جنګه شخه فَهُوَ خَیۡرٌ لَّکُمۡ نو دا اوښتل د پرغوره
دی وتاسے ته وَاِنۡ تَعُوۡدُوۡا اوکه بیا عود وکړی «راوګرزی» تاسے وجنګ ته د
مؤمنانو سره نَعُدۡ نو موږ به هم بیا عود وکړو «راوبرګرزو» ونصرت ته ددوی
وَلَنۡ تُغۡنِیَ عَنۡکُمۡ اودفعه به نکړی دتاسے شخه هیڅ فِئَتُکُمۡ شَیۡـًٔا دالوبه دلبه
ستاسی هیڅ قدردبلا وَلَوۡ کَثُرَتۡ لا اوګرکه ډیره وی وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ
اوبیشکه چه خدای د مؤمنانو سره دی په نصرت کښے یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا
اے مؤمنانو اَطِیۡعُوا اللّٰهَ فرمان ومنی دخدای وَرَسُوۡلَهٗ او د رسول ددہ وَ
لَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ او مخ مه گرځوی ددہ شخه یعنی غاړه مه غړوی ددہ دطاعته
شخه وَاَنۡتُمۡ تَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۰﴾ اوحال داچه تاسے اوری په قرآن کښے چه دی زما
رسول دی وَلَا تَکُوۡنُوۡا اوتاسے مه کیږی کَالَّذِیۡنَ په شان د هغو کسانو قَالُوۡا
سَمِعۡنَا چه دوی وایی چه موږ واوریدی وَهُمۡ لَا یَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۱﴾ اوحال
داچه دوی یې نه اوری په هغه اوریدو سره چه فعنه پرواخلے لکه کافران
اومنافقان نو ګویا چه دسره یې نه اوری اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ بیشکه بدتر

دگرزید ونکو چه دی پر ځکه باندی عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ په نزد د خدای هغه کانړه دی داورید وځمه دحق الْبُكْمُ الَّذِيْنَ هغه گونگیان دی دو یلو ځمه دحق هغه کسان لَا يَعْقِلُوْنَ (۲۲) چه هیڅ عقل نه لری وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ اوکه معلوم وای وخدای ته فِيْهِمْ خَيْرًا په دوی کښی څه خیر چه هغه نفعه اخیستل د قرآن پرا یتو باندی لَاَسْمَعَهُمْ د نوخامخا به یی د نفع اورید ل ورکړی وه وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ اوکه یی د دوی ته اورولای وای اوحال داچه وده ته خو دوی معلوم دی چه په دوی کښی خیر نشته لَتَوَلَّوْا نوخامخا به یی شاکړی وه دایمانه څخه وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ (۲۳) اوحال داچه دوی څنډه کونکی وی د حق د قبلولو څخه ر والیت دی چه یوه ورځ رسول پرا بی بن کعب باندی تیریږی اوابی په لمانځه کښی وو نو رسول بزغ پر وکړی نوده لمونځ په تلوار سره تمام کړی اوورغلے نوده ورته وویل چه جواب دی ولی اندکړی ابی وویل چه په لمانځه کښی ومر بیا رسول ورته وویل چه تا په قرآن کښی نه دی لیدلی چه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا اے مؤمنانو بزغ ورکوی لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ خدای لره اوهم رسول دده لره اِذَا دَعَاكُمْ په هر هغه وخت کی چه تاسے رسول وبولے لِمَا يُحْيِيْكُمْ ځ دی دپاره چه ژوندی کوی تاسے په علوم و دین سره یا په عقائد وصحیحه سره یا په شهادت سره یا په قرآن سره چه داقول موجب دحیاة قلبی اود سعادت ابدی دی وَاعْلَمُوْٓا اوپوه سے اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ چه بیشکه خدای پرده کیږی بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ په ما بین کے دسړی اود زړه دده کښی او دا مبالغه ده په قرب کښی یعنی دی وهر بنده ته تر خپل زړه هم نژدی دی په علم او په قدرت سره لکه چه وارد دی - وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ من حبل الورید وَاَنَّهٗٓ اوبیشکه شان دادی چه تاسے اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ (۲۴) اوخاص به هم وده ته بیول کیږی په قیامت کښی نوجزا به

عه یعنی الله پاک فرمایلی دی چه موږ د ډیر نژدی یو وبنده خپل ته د غاړی او مړی د اګردن تر رګ ۱۲

درکړی په قدر د طاعت او د اخلاص وَاتَّقُوا فِتْنَةً او ځان وساتی د هغه گناه څخه چه که دهغه عقوبت درسے لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا چه وبه نه رسیږی دا عقوبت وهغوګسانو ته چه ظلم یې کړی دی په کولو دهغه گناه سره مِنْكُمْ خَاصَّةً ۚ د تاسے څخه یوازی یعنی د داسے گناه څخه ډیر ساتی چه کونکی او نه کونکی دواړه پکښے لاهو او تباه کیږی لکه سُستی په جهاد کښے په وخت کښی د ظهور د بدعتو او بے انتظامی او مداهنت په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښے وَاعْلَمُوا آ اوپوه سے أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (۲۵) چه بیشکه خدای سخت عقوبت دی د هرهغه چاچه ضرر د ظلم یے و نوروته متعدی کیږی وَاذْكُرُوا او یاد کړی اے مهاجرو إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ هغه چه تاسی لږ واست مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ بے کسه او خواران دمکې په مخکه کښی د قریشو د لاسه یا ای عربو چه بے کسه او خواران واست د فارس او روم د لاسه تَخَافُونَ بیریدلاست تاسے أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ د دی څخه چه په منګولو کښے به و نتښتوی تاسے خلاف د مرغانو په شان فَآوَاكُمْ نو ځای یې درکړی و تاسے ته په مدینه کښی وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ او قوی او مضبوط یې کړلاست تاسے په خپله مدد ګاری سره په ملا تړلو د انصارو یاد ملائکو په بدر کښی وَرَزَقَكُمْ او روزی یې درکړه و تاسے ته مِنَ الطَّيِّبَاتِ په هغو پاکو غنیمتو سره چه پرنور و امتو باندی حرام وه لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۲۶) بنایې چه تاسے شکر ادا کړی پردی نعمتو باندی د روایت دی چه هرکله رسول د خندق د جنګ څخه فارغ سو او بنی قریضه یې یو ویشت ورځے حصار او بندکړه نو دوی امان وغوښتی او ویله یې چه موږ پریږدی چه شام ته ولاړسو او دا خبره قبوله نه کړه نو دوی وویل چه موږ ته ابولبا به راولیږه چه د دوی مصلحتی و وکځه چه عیال یې په دوی کښے پروت وو بیا ابولبا به ورغلی نو دوی پوښتنه ځنی وکړه چه که موږ ورسو نو تاته څرنګه

بنکاره کیږی نو ده پرخپله غاړه گوته راکش کړه یعنی که ورغلاست نو قتل به می کړی او پرده غه اشاره ئې الحاله پښیمانه سوچه زه خو رسولؐ امین کړی وم او ماخیانت وکړی نو راغلی او دمسجد په ستنه (ټنه) پوری ږلی خان وتاړی او دخو رلواد چښلو څخه لږ هم قسم وکړی نو اووړه ورځې ترلی ولاړ وو او دهیری لوږی څخه بې سده سو نو راولویدی او خدای ږلے توبه قبوله کړه او خلاګ ورته راغله چه خان ایله کړه چه توبه دی قبوله سوه اودې بیا قسم وکړی چه ترلے به او سم چه ترڅو می رسولؐ پخپله ایله نه کړی نو رسولؐ راغلے او دی ږلے ایله او خلاص کړی نو نازل سو آیَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ تاسے خیانت مه کوی د خدای سره وَالرَّسُوْلَ او دده د رسول سره چه د دوی اسرار وخلګو ته بنکاره کوی یا خیانت د فرضو او سنتو څخه مراد دی وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ او خیانت (۲۷) مه کوی په هغه امانا تو چې لوکښے چه ستاسے په منځ کښے سره وی وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ او حال داچه تاسے پوهیږی چه امانت ساتل واجب دی که قولی دی که فعلی او مالی دی وَاعْلَمُوْٓا او پوه سی اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ چه بیشکه مالونه ستاسے چه دی وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ او اولاد ستاسے فتنه دی یعنی سبب د واقع کیدلو ستاسے دی په ګناه او په عذاب کښی یا سبب د محنت دی چه خدای تاسے په امر مالي نو د دوی د دیره محبته څخه خیانت مه کوی وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدای چه دی عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِیْمٌ (۲۸) هم د ده سره ډیر لوی اجر دی ع ۴ ۱۷ اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ که تاسے د خدایه د بیږه یږی او پرهیزګاری اختیار کړی یَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا نو د ربه کړی وتاسی ته هدایت چه په هغه سره به تاسے حق د باطل څخه بیلوی یا نجات د دارینو یا نصرت پر اعداؤ (دښمنانو) یا خلاصے د شبها تو څخه یا ظهور او شهرت ستاسے په تمام عالم کښه وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ او وبه سرڅوی د تاسے څخه سَيِّاٰتِكُمْ

وارہ گناھونہ ستاسے وَيَغْفِرْ لَكُمْ ط او وبہ بخښي وتاسے تہ لوی گناھونہ ستاسے
یا پہ توبہ سرہ ستاسے یا پخپل فضل سرہ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ (۲۹) او
خدای د لوی فضل خاوند دی روایت دی چہ ھرکلہ قریشو د انصارو د
اسلام خبر واوریدی نو تولہ پہ دارالندوہ کښی سرہ جمع سوہ چہ ددی
خبری یو بند وبست وکړو نو ابلیس دیونړو رسړی پہ صورت و رتہ راغلے چہ
نړہ د نجد څخہ و مکی تہ راغلے ومړ دلتہ ستاسے د حادثې اوواقعی څخہ اوس
خبر سوم نو راغلم چہ زہ پہ تدبیر بنہ پوھیږم نو یوہ دی بجلسیانو
څخہ وویل چہ پہ یوہ گوتہ کښے یې واچوی او تولہ سوری یې پسی بند کړی غیر
دیوہ گوتک څخہ چہ ترھغہ بہ خواړہ اوا وبہ ورکښتہ کوو ترڅو بہ داسے بند پاتہ
وی چہ مړسے نو دی زور رسړی وویل چہ داخراب فکر دی حکہ چہ قوم بہ یې
غیرت وکړی او خلاص بہ یې کړی بیا بل یوہ وویل چہ پہ اوښ کښے یې وتړی
او دچلہ ملکہ څخہ یې وباسے نو دی زاړہ سړی وویل چہ دا بے خایہ فکر دې
حکہ چہ پہ بل وطن کښے بہ خلك پہ چم او فریب سرہ خپل دښمان تابع کړی او
بیا بہ پرتاسے جنګ وکړی بیا ابوجھل وویل چہ دھری قبیلی یو یو سړی دی راسے
او تولہ دی یې پہ یوہ وار پہ توره وقطرے قطرے "توتی سوتی" کړی چہ وینی یې پہ تولہ
عربو کښے تار پہ تار سے او بنی هاشم یې د هیڅ څخہ نہ سی گټلای نو دی زاړہ سړے
وویل چہ اُفرین د اډیر بنہ فکر دی نو جبرائیل پہ دی جرګہ سرہ رسول خبر کړی
او د هجرت امریے ورتہ وکړے نو دی د صدیق اکبر سرہ راووتے او پرخپل ځای
یې علی پرې ایستی لکہ چہ وایې وَاِذْ يَمْكُرُ او یادکړہ اے رسولہ هغہ چہ مکر اوفریب
وکړی بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا د تاسرہ هغہ کسانو چہ کافران وو لِيُثْبِتُوْكَ د پارہ دی چہ
دوی تاپندیوان کړی اَوْ يَقْتُلُوْكَ یا تامړ کړی پہ توره سرہ اَوْ يُخْرِجُوْكَ د یا تاد مکی
څخہ وباسے او جلا وطنہ دی کړی وَيَمْكُرُوْنَ او دوی دتاسرہ پټ فریب کوی وَيَمْكُرُ

ھغہ گوتک ہغہ سوری تروائے پہ وگوتی یا خولی پہ چت کښے وی"

اللّٰہُ ط اوجزاء مکرورکوی خدای ودوی تہ وَاللّٰہُ خَیْرُ الْمٰکِرِیْنَ ﴿۳۰﴾ اوخدای بهتره دجزاء ورکونکو دی ومکارانو ته روایت دی چه نضربن حارث په سوداگری تللی ووفارس ته اوهلته یې درستم اوه اسفندیار قصی خرڅولې اوبیا یې په عربی ژبه کړی اوکله چه مکی ته راغلے نوقریشو ته یې وویل چه داسے عجیبه ہے راوړی ده چه محمدؐ ترقصو ډیر ښه خوږی دی نوبنازل سو وَاِذَا تُتْلٰی اوپه هغه وخت کښی چه ولوستل سے عَلَیْهِمْ اٰیٰتُنَا پرده وی یعنی پرنضراودده پرتابعانو باندی اٰیتونه نرمورډ یعنے دقرآن قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا نوده وی اویې چه په تحقیق سره مورډ واوریدی داکلام لَوْ نَشَآءُ کهنرمورډ ارادهوسی لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ آنوخاځا به مورډهم ووایو په شان دی کلام سره اوهغه یې محض دکبره اوعناده څخه ویل ځکه چه په ایت دفاتو بسورة من مثله سره خپل عجز یخوالاورته معلوم سوی ووَاِنْ هٰذَآ نه دی داکلام اِلَّآ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۳۱﴾ مگرد یخوانیوخلګوقصے دی اوداسے قصی نرماډیرې په یاد دی نورسول ورته وویل چه داخود خدای کلام دی چه وخپلو بندګانو ته یے راليږلی دی بیا نضرچه داخبره واوریده نوسوال یے وکړی لکه چه رب العزت وایې وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اویاد کړه هغه چه نضراو تابعانو یے ووایل چه اے پروردګاره اِنْ کَانَ هٰذَا کهوی داقرآن هُوَ الْحَقَّ هم دی حق یعنے په سرشتیا سره راليږل سوی وی مِنْ عِنْدِكَ ستاد جانبه فَاَمْطِرْ عَلَیْنَا نوراوه اوروه پرمورډ باندی حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ تیږی او ډبری داسمان څخه داصحاب فیل په شان اَوِائْتِنَا یاراوړه یعنے راوليږه ومورډ ته بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۳۲﴾ کومربل قسم عذاب دردناکه بیاپروردګارسبب دمهلت اودتوقف دقبلیدو ددی دعابیان کړی چه وَمَا کَانَ اللّٰهُ اوخدای نه دی لِیُعَذِّبَهُمْ چه دوی په عذاب کړی کهځه هم دوی عذاب په تلوارسره اوشړ غوارې وَاَنْتَ فِیْهِمْ اوحال داچه ته به ناستیاپې په دوی کښے ځکه چه تر

څوچه پیغمبر په قوم کښی ناست وی نو هغه قوم ته عذاب نه راځی وَمَا كَانَ اللّٰهُ او بل داچه نه دی خدای مُعَذِّبَهُمْ عذاب ونکی دی قوم وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ او حال داچه دوی استغفار کوی یعنی په دوی کښے مستغفرین وی هغه ضعفاء د مؤمنانو نوچه په دوی کښی پاته سوی دی یا دوی پخپله هیڅ وایی اللّٰهُمَّ غفرانك نو ځکه عذاب نه پرانځی وَمَا لَهُمْ او څه دی دوی لره اوځه ځای دی دی خبری اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ چه نه به دوی په عذابونو خدای وَهُمْ يَصُدُّوْنَ او حال داچه دوی حصاروی ((بند وی)) رسولؐ او مؤمنان عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د دخوله د مسجد حرام د پاره د طواف د بیتی بلکه د مکی څخه هم اوهر کله چه دوی به ویل چه موږ وکدارانو یو د مسجد حرام نوچه زهوږ څوك خوښ سے هغه وړ پریږد دو نو ځکه وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ؕ او نه دی دوی متولیان دی مسجد حرام اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ ؕ نه دی متولیان دوی مسجد اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ مگر پرهیزگاران د شرکه څخه وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اولیکن زیاتره دوی چه دی نه پوهیږی په دی سره چه داوکداری د دوی حق نه ده وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ اونه ده دعا د دوی یاهغه فعل د دوی چه دوی یې د لمانځه پرځای کوی یاچه دوی یې لمونځ بولے هغه الات د لوبو عِنْدَ الْبَيْتِ په کعبه شریفه کښے اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ؕ مگر شپیلی وهل اولاسونه ټکول دی یعنی چه رسول علیه السلام او مؤمنان پرلمانځه د دریږی نو دوی شپیلی ورته وهی اولاسونه ټکوی چه لمونځ یې سره گډ وی سی نو رب العزت وایی چه هرکله دا نیت اوعمل ستاسے وو فَذُوْقُوا الْعَذَابَ نو څکی عذاب د قتل او بند په وړځ د بدر او اوراونړ قوم وشکے په آخرت کښے بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ په سبب دی چه تاسے واست چه کفر مو اختیار کړی وو روایت دی چه هرکله دا لښکر د قریشو د مکی څخه وبدر ته د جنګ په نیت روان سو نو

عه وایی چه اے خدایه موږ بجنسه عواړو ۱۲

دوی ۵ و ولس تنه مشران مقرر کړه د پاره د خرڅ ددی لښکر او هر یوه به هره ورځ لس او ښان حلالول نو ځکه وایي إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بیشکه هغه کسان چه کافران دی يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ ښندی او خرڅوی دوی خپل مالونه لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ د ددی د پاره چه خلك وارووی د خدای د لاری نخه فَسَيُنفِقُونَهَا نو څرر دی چه دوی به دا مالونه و ښندی ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً بیا به د انفقه او ښندل پر دوی غم او پښیمانی سے چه مال یې ولاړی او مطلب یې ترسره نه سو ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۚ بیا به په آخرت کښی مغلوبه سی وَالَّذِينَ كَفَرُوا او هغه کسان چه کافران دی او پر خپل کفر کلك ولاړ دی إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ خاص به د دوزخ ته راپاڅول کیږی او سړکشول کیږی او دا مغلوب کیدل ددی کفارو لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ ددی د پاره دی چه بیل او جلا کړی خدای ناپاکه او پلیت چه کافر ددی مِنَ الطَّيِّبِ د پاك نخه چه مؤمن دی وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ او بیا کښیږدی دی ناپاکه سړه لاندی باندی وخت پروخت بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ بعضې دده پر بعضو نور فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا نو سړه جمع کړی د اخبیث تولو فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ۚ نو غورځوی د اتوله په مینځ کښے د دوزخ أُولَٰئِكَ د اتولی د خبیثا نو یا د مالو د خرڅوکو چه ده په بدر کښی هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾ هم دوی زیانکاران دی قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ووایه وهغو کسانو ته چه کافران دی إِن يَنتَهُوا که واوړی او دکفره بندسی او دعداوت أو دښمنۍ نخه د رسول ﷺ لاس واخلی يُغْفَرْ لَهُم نو وروبښل سے مَّا قَدْ سَلَفَ ۚ هغه بدی او عداوت چه په تحقیق سړه تیر سوی دی وَإِن يَعُودُوا او که دوی بیا عوده وکړی د راوګرزی وقتل او عداوت ته فَقَدْ مَضَتْ نو په تحقیق سړه تیره سوی ده سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ لار د پروردګار د پخوانیو خلکو په حق کښی چه د خپلو پیغمبرانو سره به یې جنګونه او لښکر بازی کولی چه په آخر کښ به ځکند سوه او عذاب به پرنازل سوه او تولو به هلاك سوه وَقَاتِلُوهُمْ او جنګونه کوی اے مؤمنانو

ع ۴ ۹ ۱۸

دکفار وسره حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ تر هغو پورې چه پرسر وی زمین شرک
پاته نه سی وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ اوچه سی دین كُلُّهٗ لِلّٰهِ تولـه خاص خدای لره
اونور باطل ادیان «دینونه» تولـه ورك سے فَاِنِ انْتَهَوْا نوکـه دکفره واوړې
اواسلام راوړې فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه خدای چه دی بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۳۹﴾
په هغو عملوچه دوی پې کوی بینا «لیدونکی» دی وَاِنْ تَوَلَّوْا اوکه دوی شاکړے
فَاعْلَمُوْٓا نو پوه سے اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ط چه بیشکه خدای بادارستاسے دی
نِعْمَ الْمَوْلٰى بنه بادار دی وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۴۰﴾ او بنه مدد کار دے
وَاعْلَمُوْٓا اوپوه سی اَنَّمَا غَنِمْتُمْ چه بیشکه هغه مال چه په لوټ کښی
تاسو دکفارو څخه راوړی دی مِّنْ شَيْءٍ دهغه څیزه څخه چه د شی اطلاق پر
کیږی هغه تولـه سره پنځه ځایه کړی او څلور برخې پې دمقاتلانو «جنګیانو» دی
اوهغه پنځمه برخه پې بیا پنځه ځایه کړی لکه چه وایی فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ نو بیشکه
چه پنځمه برخه د هغی پنځمی برخې څخه خدای لره ده وَلِلرَّسُوْلِ اودده رسول لره
ده اوذکر دخدای تبرګا پکښی سوی دی وَلِذِي الْقُرْبٰى اودویمه ځنی د
رسول د خپلوانو ده خو بنی هاشمو اودبنی مطلبو لپاره ځکه چه دوی مددګار
اوکومك ورسره کړی دی نه دبنی عبد شمس اوبنی نوفل دپاره وَالْيَتٰمٰى اودریمه
ځنی دیتیمانو فقیرانوده وَالْمَسٰكِيْنِ اوځلورمه ځنی دنادارانو نحتاجانو ده چه
حیران وی وَابْنِ السَّبِيْلِ ط اوپنځمه ځنی دمسافرانو رهروپانو ده مګر داحکم
په زمانه کښی دحیوة د رسول وه او بیا دده تروفات ورسته دا دوی
برخې چه یوه دده ده او بله دذوی القربٰی دده ده دغه دواړه به پردی نورو
دروطاقو ویشل کیږی دامام اعظم په نزد بیا رب العزت وایی چه په دی
قسمت راضے سے ای مقاتلانو «جنګیانو» اِنْ كُنْتُمْ که تاسے یاست په دی شان
سره اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ چه ایمان راوړی تاسے پرخدای وَمَآ اَنْزَلْنَا اوپرهغو

اٰیتو یا ملائکو یا نصرت اوفتح چه موږ رالیږلے وه عَلٰی عَبْدِنَا پرخپل بنده باندے
چه رسول دی یَوْمَ الْفُرْقَانِ په هغه ورځ د بیلتانه اوجلاکید ود حق د باطله
څخه چه هغه ورځ د بدر ده یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ ط په هغه ورځ چه دواړی
طائفی د مؤمنانو او د کافرانو سره مخامخ سوی چه هغه د هجرت دوهمه سنه
او د رمضان د میاشتی اووه لسمه نیټه وه وَاللّٰهُ او خدای چه دی عَلٰی کُلِّ
شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۱﴾ پرهر شی باندی بنه قادر دی چه لږ خلك پر ډیرو خلکو غالب
کړی اِذْ اَنْتُمْ یا د کړی هغه چه تاسے واست بِالْعُدْوَةِ الدُّنْیَا پرهغه غاړه
درود چه د مدینی ته نژدی ده وَهُمْ او دوی یعنی کفار چه وه بِالْعُدْوَةِ
الْقُصْوٰی پرهغه غاړه وه چه د مدینی څخه لیرې وه وَالرَّکْبُ اَسْفَلَ مِنْکُمْ
او سپاره خلك د کاروان تر تاسے لاندی وه چه هغه ابوسفیان و ودد چلو ملګرو
سره او دری فرسخه د تاسے څخه لیرې وه د دریاب پرغاړه باندی او حکمت هم په دی
کښی وو چه خدای تاسے او دوی ناڅاپه سره مخامخ کړی وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ او که
چیرې تاسے او دوی وعدهٔ سره کړی وای د جنګ او تاسے د دوی په کثرت سره
مطلع سوے او خبر سوے واست لَاخْتَلَفْتُمْ فِی الْمِیْعٰدِ د نو خامخا به تاسی د دوی
سره مخالفت کړی وای په وعدهٔ کښے د دوی څخه د بیرې په وجه حُکمه تاسے لږ او
بی وسلے واست او دوی ډیر او سره د وسلے وه وَلٰکِنْ لیکن خدای بے وعدے
سره جمع کړلاست لِیَقْضِیَ اللّٰهُ اَمْرًا د دی د پاره چه خدای پوره او ترسره کړی
هغه کار کَانَ مَفْعُوْلًا ۙ چه هغه کار په علم ازلی کښی لایق ووو دی چه هغه
دی وکړه سے چه د اولیاؤ سره نصرت او پراعداؤ څپلو قهر دی لِیَهْلِكَ مَنْ
هَلَكَ د دی د پاره چه هلاك سی ورسته د جنګ د بدر هرڅوك چه هلاکیږی
یا کافر سے هرڅوك چه کافر کیږی عَنْۢ بَیِّنَةٍ په بنکاره حجت سره وَّیَحْیٰی مَنْ
حَیَّ او ژوند دی کوی هرڅوك چه ژوندی دی یا دی مسلمان سی هرڅوك چه

مسلمان کیږی عَنۡ بَیِّنَةٍ ټپه بنکاره دلیل سره چه هغه د مؤمنانو غلبه ده سره
د ډیره ضعفه "کمزوری" او د کفارو ذلت دی سره د ډیره قوته یعنی د بدر ورځ سته
به دهر چا کفر او اسلام سره بنکاره او په ډاګه وی بیله عذره وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِیۡعٌ
او بیشکه خدای خابخا اوریدونکی دی د اقوالو د هر چا هم د مؤمنانو اوهم
د کافرانو عَلِیۡمٌ ﴿۴۲﴾ دانا دی د دوی په نیتو سره نو جزا به ورکړی مطابق
د ده دنیت روایت دی چه رسول ﷺ په دغه شپه چه په داصحابي جنګ
کیږی خوب ولیدی چه کفار ډیر کم دی او تعبیر یې وکړے چه د دښمن به مغلوبه
او هوډ به غالبه سو نو مؤمنان په دی خوب او تعبیر سره ډیر خوشحاله او زړور سوه
ځکه وایي اِذۡ یُرِیۡکَهُمُ اللّٰهُ یاد کړه اے رسوله هغه چه خدائ دوی وتاته وښوول
فِیۡ مَنَامِکَ ستا په خوب کښی قَلِیۡلًا کم او لږ دی د پاره چه ته اصحاب پخبر
کړی او دوی ډاډه او زړور سی او برابر ورسی وَلَوۡ اَرٰىکَهُمۡ کَثِیۡرًا او که دوی
خدای وتاته ډیر ښوولی وای او بیا تا دوی ته ویلی وای لَفَشِلۡتُمۡ نو خابخا
به تاسے بې زړه سوی واست ای اصحابو وَلَتَنَازَعۡتُمۡ فِی الۡاَمۡرِ او خابخا به
تاسی په خپل منځ کښے سره مخالف سوی واست د جنګ په کار کښے چه پرورسو
او که خُنِي وتښتو وَلٰکِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَ ؕ اولیکن خدای تاسے سلامت وساتلست
د نزاع او د بے زړه کیدو څخه اِنَّهٗ عَلِیۡمٌۢ بیشکه دی چه دی دانا دی بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۴۳﴾
پر هغه چه د خلګو په سینو کښے پراته دی که جرات او صبر وی او که جبن او
جزع وی وَاِذۡ یُرِیۡکُمُوۡهُمۡ او یاد کړی اے اصحابو چه خدای وښوول وتاسے
ته د دښمنان ستاسی اِذِ الۡتَقَیۡتُمۡ په هغه وخت کښے چه سره مخامخ سواست
فِیۡۤ اَعۡیُنِکُمۡ قَلِیۡلًا ستاسے په سترګو کښے لږ چه تاسی زړور پرورسی او دا
نه نیم سوه کفار دوی په نظر کښے خدای داسی کم کړی وه چه په وخت د جنګ

عه او دا اول غزا وه چه پیغمبر صلے الله علیه وسلم ورته حاضر سوی وه او روایت حضرت علی رضی الله عنه کړی دی

کنبی ابن مسعودؓ دخیلو ملگر و څخه پوښتنه وکړه چه دا کفار به اوّ یا تنه وی او هغه
وویل چه سل کسه راته معلوم میږی وَ یُقَلِّلُكُمْ فِیْۤ اَعْیُنِهِمْ او کم ښکاره کړاست
تاسے خدای دوډی په ستر ګو کښی چه دوی هم زمونږ دربانډی لښکر نږدی حدّه پوری
چه ابوجهل چې لښکر ته وویل چه وسلے مه وړی لږ دی لښ لاس ورسی او
لاسونه اوپښی پی و روتړی او ژوندی ولے لِیَقْضِیَ اللّٰهُ اَمْرًا ددی دپاره چه خدای
ترسره کړی هغه کار کَانَ مَفْعُوْلًا چه ووکیدونکی دده په علم کښی وَ اِلَی اللّٰهِ تُرْجَعُ
الْاُمُوْرُ ﴿۴۴﴾ اوخاص وخدای ته سره پیرته راجع کیږی تر ولـه کارونه یَاۤ اَیُّهَا الَّذِیْنَ
اٰمَنُوْۤا اے مؤمنانو اِذَا لَقِیْتُمْ فِئَةً په هغه وخت کښی چه پیښ او ملاقی سے
پرتولی د کفارو د دښمنانو په نیت فَاثْبُتُوْا ثابتکلک اوثابت سی او د سره تینښته مه
هٔنی کوی وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِیْرًا اوخدای ډیر یادوی په خوله او په زړه سره لَعَلَّكُمْ
تُفْلِحُوْنَ ﴿۴۵﴾ بنایی چه تاسے په برکت د دی یاد سره پر دښمن بری پیدا کړی وَ اَطِیْعُوا
اللّٰهَ او د خدای فرمان ومنی وَ رَسُوْلَهٗ اودده رسول د جهاد په کار کښے او په وخت
د جنګ کښی سره متفق او ثابت قدمه اوسی وَ لَا تَنَازَعُوْا او پخپل مینځ کښی نزاع مه
سره کوی فَتَفْشَلُوْا نو بے زړه به سی وَ تَذْهَبَ رِیْحُكُمْ اوولاړ به شی یعنی ورک
اوختم به سی قوت اودولت ستاسے وَ اصْبِرُوْا اوصبر کوی په قتال کښے اِنَّ اللّٰهَ
مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۴۶﴾ بیشکه چه خدای د صابرانو سره دی په مدد او په نګهبانی کښی
روایت دی چه هرکله قریش د مکی ښخه د جنګ په نیت راووتله اود جحفے ښخه
قاصد ورته راغلے چه کاروان خلاص سو نو دوی دګرنږدی واپس راوګرځی ارادہ وکړه
او ابوجهل وویل چه اوس بدر ته ورځو چه خپل قوت او د بد به و خلکو ته ښکاره
کړو او هلته شراب وښځینو او کباب ونه اوښ خوړلو او په لاره کښی یوقوم ووچه بنی کنانه
بلل کیده چه د قریشو سره یے زړه بدی وه نو قریش څخه ویره بدله او په ویره کښی وه
چه ناګاه ابلیس سره د لښکره د شیطانانو د سراقه بن مالک په شکل راغلے چه

دښې کنانه وو مشرووا ووقریشوته ویلے چه نړۍ به تاسی دښې کنانه څخه په امن تیرکړم او بدرته ورسړ ولاړی بیا چه جنډۍ جوړسو اوسراقه او حارث بن هشام لاس ترلاسه سړ نیولی اودقریشوسره روان وه او یاته قصه ویے پخپله په قرآن کښې ده نوړب العزت و مؤمنانوته وایی وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ اومه کیږی اے مؤمنانو دهغوکسانو په شان خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ چه دوی دخپلو کورونو څخه راووتل یعنې دمکی څخه بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ دپاره دفخراو ښوولو اوښکاره کولو وخلکوته دشوکت خپل وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ د اوخلك اروی د خدای ولاړی څخه وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (۴۷) اوخدای اګاه اوخبر دی پرهغوکارو باندی چه دوے پی کوی نوجزاء به ورکړی وَإِذْ زَيَّنَ او یادکړی هغه چه ښایسته کړه لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وویوی ته شیطان دسراقه په شکل کښے عملونه دووی چه ورته ویی ویل چه دا ډیرښه کوی وَقَالَ لَا غَالِبَ اووی ویل ودووی ته چه نسته هیڅوك غلبه کونکی لَكُمُ الْيَوْمَ پرتاسی باندی مِنَ النَّاسِ دجهته دخلکو وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ اوبیشکه زه ستاسی ساتونکی چې تاسے ډیرقوت اوشوکت لری فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نوهرکله چه دواړو فرقو اوډلوسړو ولیدل دمسلمانانو اودکفارو او سراقه په دی وخت کښے هشام ترلاس نیولی وو ناګاه دی سراقه چه په واقعه کښې ابلیس وو ملاتکی ولیدلی چه دمؤمنانو په نصرت سړ راغلے وی نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وشاته پی منډی کړی پرپوند وخپلو اودهشام څخه پی لاس راکش کړی نوهغه بډ پروکړی چه اے سراقه داوخت دتښتی نه دی چه موږ ته دی واده راکړی اوپه بلاکښے دی وسرکړو اوته ولاړی وَقَالَ اوسراقه ورته وویل چه إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ بیشکه زه دتاسے څخه بیزاره یم إِنِّي أَرَىٰ بیشکه چه زه ویم

مَا لَا تَرَوْنَ هغه چه تاسی یې نه وینی چه هغه د ملایکو لښکر دی اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ع ۶ ۲
بیشکه زه بیزګیږم د خدای څخه وَاللّٰهُ شَدِیْدُ الْعِقَابِ (۴۸) او خدای سخت عقوبت دے
روایت دی چه هر کله هغه باقی (پاته) قریش بیرته و مکی ته را غله نو سراقه تیې پیغام
ور ولیږی چه موږ دی قول سپك کړو چه ته راڅخه وتښتیدی نو هغه قسم ورته
وکړو چه نه ده هلته د سره حاضر سوی نه یم مګر اوس خبر سوی یم چه تاسی شکست
خوړلی دی او په شکست راغلے یاست نو تردی وروسته ودوی ته معلومه سوه چه
دا شیطان راغلے وه د سراقه په صورت اِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ یاد کړی هغه چه وویل
د مدینې منافقانو وَالَّذِیْنَ اوهغوکسانو هم وویل یې فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه د دوی
په زړونو کښې مرض اوږغ وو د ضعف ایمانی یاد شرك غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ چه مغرور کړی
دی دا مؤمنان دِیْنُهُمْ د دین خپل ځکه دا سے کم خلك پر دومره دیر مخلوق باندی
ورځی نو پرور دګار ردوی په جواب کښے وایی وَمَنْ یَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او هرچا
چه توکل وکړی پر خدای او خپل کار یې پرده وسپاره فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ نو بیشکه
خدای غالب دی خپل متوکلان نه خوشے کوی حَكِیْمٌ (۴۹) پرحکمته اوصاحب د
حکمت دی په هر کار کښے وَلَوْ تَرٰٓى اوکه ته وینی اے رسوله اِذْ یَتَوَفَّى الَّذِیْنَ
هغه چه قبض کوی ارواح د هغوکسانو کَفَرُوا الْمَلٰٓئِكَةُ چه کافران دی هغه
ملایکی یې ساه کا ږدی اوا خلے چه اعوان د ملك الموت دی د بدر په ورځ -
یَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ چه مخان د دوی وهی یې اتشین کړنے وسرونه وَاَدْبَارَهُمْ او
شاګانی د دوی وَذُوْقُوْا اوورته وایی چه وشکی عَذَابَ الْحَرِیْقِ (۵۰) عذاب دسوځو
اور ذٰلِكَ بِمَا داعذاب په سبب د هغو کارو دی قَدَّمَتْ اَیْدِیْكُمْ چه مخکی پیدا کړے
وو ستاسے لاسو وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدای لَیْسَ بِظَلَّامٍ نه دے ظلم
لِّلْعَبِیْدِ (۵۱) کونکی نه دی پر خپلو بندګانو باندی بے ګناه بیا رب العزت وایی د سرسول خپل

عه دا هم ده د رواح دلیل ځکه چه د خسارې څخه پې بیروته وه ګرځیدلے د دی پوه سو چه قوت خو می نشته او نه ئی زړه منع
کولاے کم ۱۲

ته دتسلی د پاره چه ستا حال د قریشو سره دا سے دی کَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ د لکه حال د فرعون د تابعانو د موسیٰ سره وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ د او لکه حال د هغو خلکو چه مخکے تر فرعونیانو نه وه لکه عاد او ثمود او دا سے نور اوعادت د هغو د او وچه کَفَرُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ کفر بے اختیار کړی وو د خدای په ایتو باندی یا په معجزو او یا په لښو اوعلامو د توحید د خدای فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ نو خدای د دوی و نیول بِذُنُوْبِهِمْ د په سبب د خپلو گناهو اِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ بیشکه خدای خښتن «او کړی ده» د قوت د ب شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾ سخت عقوبت دی پر منکرانو باندی ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ داعقوبت په دی سبب دی چه بیشکه خدای لَمْ یَكُ مُغَیِّرًا نِّعْمَةً نه دی تغیر ورکونکے وهغه نعمت ته اَنْعَمَهَا عَلٰی قَوْمٍ چه پیرزو کړی دی ده «او کړی دی ده» و یو قوم ته حَتّٰی یُغَیِّرُوْا تر هغو پورې چه تغیر کړی دوی پخپله مَا بِاَنْفُسِهِمْ د هغه حال ته چه په دوی پورې وی او داحال د قریشو دی چه خپل حال یے په بد حال بدل کړی وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ او بیشکه خدای اوریدونکی دی د نالایقو اقوالو د مشرکانو عَلِیْمٌ ﴿۵۳﴾ دانا او پوه دی د دوی په فاسدو نیتو سره بیا خدای وایی چه د قریشو کار په تکذیب کښې دا سے دی کَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ د لکه عادت د فرعون د قوم چه وه وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ او لکه حال د هغو خلکو چه تر دوی د مخه وه كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ چه تکذیب یې وکړی د خپل رب د ایتو فَاَهْلَكْنٰهُمْ نو مونږ دوی هلاک کړه بِذُنُوْبِهِمْ په سبب د خپلو گناهو وَاَغْرَقْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ او مونږ غرق کړه تابعان د فرعون په بحر د قلزم کښې وَكُلٌّ او دا ټول چه وه یعنے هغه غرق سوی د قبطیا نو څخه او هغه قتل سوی د مشرکانو څخه كَانُوْا ظٰلِمِیْنَ ﴿۵۴﴾ و و دوی ظالمان پرخپلو ځانو باندی په سبب د کفر او د معاصیو سره اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ بیشکه هغه بدتر د ګرځیدونکو چه دی د مخلوقاتو پرځ باندی عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِیْنَ په نزد د خدای هغه کسان دی كَفَرُوْا چه کافران سوی دی لکه ابوجهل او نضر

اوعتبه اودا سے نور دقریشو څخه اولکه کعب بن اشرف اوحیی بن اخطب او
دا سے نور دیهود و څخه فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۵۵﴾ نو دوی ایمان نه راوړی اَلَّذِيْنَ
هغه کسان عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ چه تا دوی څخه عهد اخیستی و و چه هغه بنی قریظه
دی چه د رسول سره یې کړی و و چه د کفارو سره به مونږ مدد اوکو مك نه کوو او بیا
یې په بدر کښی هغه عهد مات کړی بیا یې بیل عهد وکړی او د خندق په جنك کښے
یې هغه هرمات کړی لکه چه وایي ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ بیا دوی ما توی عهد
خپل فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ په هر وار کښے چه عهد وکړی وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۶﴾ او دوی
د عهد د مات و لو څخه ځان نه ساتی فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ نو که بیا ته دوی پیدا کړې
فِي الْحَرْبِ په جنك کښی فَشَرِّدْ بِهِمْ نو و ترهوه "وبره" په دوی سره یعنی د دوی
په قتل سره مَّنْ خَلْفَهُمْ هغه څوك چه تر دوی وروسته راځی یعنی په دوی
کښے داسے قتل وکړی چه زړې "لګځك" یې تر قیامته پاته سے لَعَلَّهُمْ
يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ بنایي چه دا وروسته راتلونکی خلق په دوی سره عبرت واخلے
وَاِمَّا تَخَافَنَّ اوته بیریدے مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً دهغه قوم څخه چه عهد یې درسره
کړی وی د خیانت کولو یعنی د عهد د مات و لو په علامو سره فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ نو
و دوی ته دا د دوی عهد ورو غوځوه عَلٰى سَوَآءٍ ط پر برابره لار په عداوت کښے
یې داسے طریقه سره چه بیا وتاته د عهد د مات و لو نسبت و نه سی او ته خیانت مه
کوه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ خیانت کونکی نه خوښوی وَلَا
يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوګمان دی نه کوی هغه کسان چه کافران دی دی
خبری سَبَقُوْا اطچه دوی مخکے سوه اونږه و د عذاب څخه خلاص سوه دی
جهنه څخه چه اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿۵۹﴾ بیشکه چه دوی مونږ د خپل عذاب
څخه نه سے عاجزه کولای وَاَعِدُّوْا لَهُمْ اوتیار وی اے مؤمنانو دی
ما تونکو ته د عهد یا و مطلق کفارو ته مَا اسْتَطَعْتُمْ ترڅو چه توانیږی او

ع ۱۰ ۳

۵۸ څکه چه دوی په کفر کښے مخکم دی ۱۲

طاقت لری مِّن قُوَّةٍ دقوت یعنی دجنګ داسبابو څخه وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ اوخصوصًا داسانو ترلو څخه دجهاد دپاره تُرْهِبُونَ بِهِ چه بیروی تاسے په دی تیارولو سره عَدُوَّ اللّٰهِ دښمن دخدای وَعَدُوَّكُمْ اوهم دښمن ستاسے چه دمکی کفار دی وَآخَرِينَ او نور کفار هم بیروی مِن دُونِهِمْ نه چه دوی څخه ما سیوادی لکه یهود یا منافقان یا فارس یا جن چه دا سو دا واز وځنه بیر یږی لَا تَعْلَمُونَهُمْ تاسے دوی نه پیژنے اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ بلکه خدای دوی پیژنے وَمَا تُنفِقُوا اوهغه چه تاسے ورکوی مِن شَيْءٍ دیوشے څخه فِي سَبِيلِ اللّٰهِ دخدای په لار کښے يُوَفَّ إِلَيْكُمْ پوره به درکړه سے وتاسے ته جزا دهغه وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿۶۰﴾ اوپرتاسے به ظلم و نه کړه سے په دی جزا درکولو کښے نه په نه ریا تو لوسره دبدی اوند په کمولو سره دنیکی وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ اوکه دی کفار وو صلحے ته میل وکړی فَاجْنَحْ لَهَا نو ته هم میل وکړه ودی مصالحے ته وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط اوتوکل وکړه پرخدای اوددوی دمکره اوحیلے څخه مه بیر یږی إِنَّهُ بیشکه چه دی هُوَ السَّمِيعُ هم دی اوریدونکی دی داقوالو ددوی الْعَلِيمُ ﴿۶۱﴾ دانا دی په رښتیا اودرواغوسره ددوی وَإِن يُرِيدُوا اوکه دوی اراده وکړی أَن يَخْدَعُوكَ دې چه فریب درکړی وتاته په دی صلح سره فَإِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ط ای فالذی یتوله کفایتك هوالله یعنی بیشکه هغه څوك چه متولی دکفایت ستا دی هغه خدای دی هُوَ الَّذِي دی هغه پروردګار دی أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ چه پخپله مدد ګاری سره یے ته قوی کړی چه ملا ټکی پی دبد رپه جنګ کښے راولیږلے وَبِالْمُؤْمِنِينَ ﴿۶۲﴾ او په مؤمنانو سره چه انصار دی یا په مطلق مؤمنانو سره وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ اوپیوند دد وستے پی واچوی په مابین کښے دزړه و ددوی داوس اړ دخزرج کښے وړ وستہ ترهغه چه دریے سوه اوشل کاله ددوی په مینځ کښے سره عداوت اوقتل وو اوداسی سخت عداوت وو لَوْ أَنفَقْتَ که تابنبدلی اوانفقه

کړی وای دپاره ددوی دصلح مَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا هغه مال او متاع چه په ځمکه کښی دی د مشرق ترمغرب د شمالـه ترجنوبه مَّآ اَلَّفْتَ نوتابه نه وای اچولے ویوند اوحبت بَیْنَ قُلُوْبِهِمْ په ما بین کښی ددوی د زړو په سبب د غلبی دعداوت وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدای پخپل قدرت کامله سره اَلَّفَ بَیْنَهُمْ ط دوستی واچوله ددوی په مینځ کښے اِنَّهٗ عَزِیْزٌ بے شکه چه دی غالب دی هرڅه چه غواړی هغه کوی حَكِیْمٌ ﴿۶۳﴾ پُرحکمته دی په هرکار کښی رواَیت دی چه هر کله پرړسولؐ باندی دروَ۲ږیرشو سړواو شپږ۶ونځو اسلام راوړی بیا تردوی ورسته عمرؓ په اسلام مشرف سو او په ده سره څلویښت تنه پوره سوه نونازل سو یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره حَسْبُكَ اللّٰهُ ستابس او کافی دی خدای وَمَنِ اتَّبَعَكَ اوهغه څوك چه ستا پیروی پی کړی ده مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۴﴾ د مؤمنانو ځمنه اوداَیت مخکے ترجنډ د بدر راغلے دی نو مکی دی یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره حَرِّضِ الْمُؤْمِنِیْنَ تیز اوکړه مؤمنان عَلَى الْقِتَالِ ط پرجنډ دکفارو اِنْ یَّكُنْ مِّنْكُمْ که وو دتاسے ځمنه عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ شل تنه صبرکونکے یا استقامت په جنډ کښی یَغْلِبُوْا مِائَتَیْنِ ۚ نو دا شل تنه «کسه» به غالب سے پر دوه سوه کفارو او دا امردی په واقعه کښی یعنی پودی د لسوتنو ځمنه نه تیښتی اودی به پرغالب وی په شرط دصبر سره وَاِنْ یَّكُنْ مِّنْكُمْ اوکه وه دتاسے ځمنه مِّائَةٌ سل تنه یَّغْلِبُوْۤا اَلْفًا نو غالب به سی په تائید د ربانی سره پرزړو تنو باندی مِّنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا دهغوکسانو چه کافران دی اودا غلبه ستاسے چه ده بِاَنَّهُمْ په دی سبب سره ده چه بیشکه دوی قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ دا سے قوم دی چه نه پوهیږی یعنی داسے جاهلان دی چه د خدایه اورسوله اوقیامته او ثواب اوعذاب ځمنه یعنی غافله دی نوهیڅ قدر استقامت نه لری ..

روایت دی چه هر کله دا آیت راغلے او دیوه مسلمان تینبته د لسو کفارو څخه نه ناروا سوه نو دا خبره پر اصحابو ډیره سخته سوه نو دا حکم منسوخ سو او بل حکم راغلے لکه چه وایی اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ او سر خدای سپک کړی داد روند بار د تاسے څخه وَعَلِمَ او پوه سو اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ط چه بیشکه په تاسے کښے سُستی ده یعنے ضعف بدنی دی فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ نو که وه د تاسے څخه مِّائَةٌ صَابِرَةٌ سل تنه صابران يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ج نو پر دوو سو کفارو به غالبه سے وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ او که د تاسے څخه زر تنه وی يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ نو پر دوو زرو کفارو به غالبه سی بِاِذْنِ اللّٰهِ ط د خدای په اذن او مدد گاری سره وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ او خدای د صابرانو سره دی روایت دی چه هر کله په ورځ د بدر راویا تنه بندیان یې راوستل نو رسول علیه السلام د اصحابو څخه مصلحت وغوښتی چه دوی قتل کړو او که فدیه ځنی واخلو نو یو عمر د مهاجرو څخه او یو سعید بن معاذ د انصارو څخه قتل غوره کړی چه د کفر تنا وونه په یوه وار سره غوڅ او پوری سے او نور ټول تر صدیق اکبر پورې فدیه غوره کړه چه اوس به مومنان په قوی سے او دوی بیا گوندی ایمان راوړی او رسول د صدیق اکبر وقول ته میلان وکړی او فدیه به یې ځنی واخیسته نو پر عتاب راغلے او نازل سو مَا كَانَ لِنَبِيٍّ نه ده وړه نه بنایی د هیڅ پیغمبر ته چه اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ د اچه وے ده لره اَسْرٰى بندیان چه فدیه ځنی اخلے حَتّٰى يُثْخِنَ تر هغو چه چوکر په وباسی فِى الْاَرْضِ ط په ځمکه کښی په پرقهر او تندی او قتل سره چه یو وار کفره ټیل او اسلام قوی سی تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ق غواړی او غوره کوی تاسے متاع فانی د دنیا ځکه چه فدیه اخلے وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ط او خدای غواړی د آخرت یعنی د اخوا هش لری چه تاسے ته ثواب او جنت او نور نعمتونه چه باقی دی ورسوی وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ او خدای غالب دی چه و دوستانو ته پلو


ته غلبه ورکوی پر دښمنانو باندی حَكِيمٌ ﴿۶۷﴾ پرحکمته دی چه مناسب دی هم هغه
کوی لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ که نه وای داحکم ازلی چه د جانبه څخه د خدای دی
سَبَقَ عکی لیکل سوی په لوح محفوظ کښی چه وهغه چاته به عذاب نه ورکوم
چه منع صریح «بکاره منه» ونه کړی یا په ناپوهی سره به څوك نه بینم یا اهل بدرو
ته به عذاب نه ورکوم لَمَسَّكُمْ نوخامخا به وتاسے ته رسیدلی وو فِيمَآ اَخَذْتُمْ په
عوض دهغه فدیې کښے چه تاسی اخیستی ده عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۶۸﴾ عذاب وپرلوی
روایت دی چه هرکله دا عتاب اُیتونه راغلل نو رسول او صدیق اکبرؓ
دواړه ناست وه ژړل یے بیاچه عمرؓ راغلے نو درسولؐ ښی پوښتنه وکړه
چه داژړا په کوم سبب سره ده نوهغه وویل چه عذاب راغلی دی دفدیې
داخیستلو په وجه اودغه دی نژدی ولاړی ځکه رحمت نیولے ځکه مخ پوراندی
نه راځے اوکه راغلے وای نو ماسیواد عمره او دسعده به هیڅوك نه وای خلاص
سوی ځکه دوی قتل غوره کړی وو بیا تردی عتاب وړ سته اصحابو وویل
چه موږ دا غنیمت مال دسره نه اخلو نوناازل سو فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ نو
اوس خوری دهغه مال څخه چه تاسے په غنیمت راوړی دی دکفارو څخه او
فدیه هم په کښی حساب ده حَلٰلًا طَيِّبًا ښے حلال پاك وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او
دخدایه څخه وبیریږی او باقی «نورلنو» دده امر څخه مخالفت مه کوی اِنَّ اللّٰهَ
بیشکه چه خدای غَفُوْرٌ بخښونکی دی دګناهو ځکه یې وتاسے ته داګناه
عفوه کړه رَّحِيْمٌ ﴿۶۹﴾ مهربانه دی ځکه یې وتاسے ته داغنیمت حلال کړی
سره ددی چه پرتیرو امتوحرام وو روایت دی چه هرکله عباسؓ دخپلو
دواړو وریرو سره چه یوعقیل بن ابی طالب اوبل نوفل بن حارث دی
دواړه په بندیانو دبدر کښی راغلے وه اورسولؐ ده اوده دواړو وریرو
فدیه هم ده څخه طلب کړه نوده وویل چه دومره مبلغ زه دکومه پیدا

کړم نړۍ خو تاپخپله په مکه کښی لیدلی وم چه ډیر ناداره وم نو رسول ورته
وویل چه هغه هیمانی څه سوی چه پخپله ډراتلو کښی دی د فضل و مورته
ورکړی چه که نړۍ راغلم خو بنه او که نړه نه راغلم نو دا مال ته او څلور سړه
زامن دی پرے سره قسمت کړی بیا عباس ورته وویل چه ما خو په تو ښه شپه
کښے ورکړی وی نو ته چا په خبر کړی نو دهٗ وویل چه خدای خبر کړم نو ایمان
پرے راوړی اود دروسړ وو فدیه پرے هم ورکړه لکه چه وانې یَاَیُّهَا
النَّبِیُّ اے پیغمبره قُلْ لِّمَنْ وواپه وهغه چا ته فِیْۤ اَیْدِیْكُمْ چه په
لاسو ستاسی کښی دی مِّنَ الْاَسْرٰۤی لا دبندیانو څخه اِنْ یَّعْلَمِ اللّٰهُ که
معلوم کړی خدای فِیْ قُلُوْبِكُمْ خَیْرًا ستاسے په زړه وکښی خیر یعنے صحت
دنیت او خلوص دایمان یُّؤْتِكُمْ خَیْرًا نو در به کړی وتاسی ته د پرغوره مِّمَّاۤ
اُخِذَ مِنْكُمْ دهغه مال څخه چه دتاسی څخه پرے فدیه کښی اخیستل سوی دی
وَیَغْفِرْ لَكُمْ اوبخښه به وکړی وتاسے ته وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دی
دهغه ګناهونو چه دشرک په زمانه کښی سوی وی رَّحِیْمٌ ﴿۷۰﴾ مهربانه دی چه تو
ورکوی داسلام فائدهٗ عباسؓ به ویل چه دما سره خدای دوی وعدی کړی
دی یوه غوره عوض وه دفدیې هغه خوپې ترسره کړه څکه چه نن وړځ زما
شل مریان دی اوهر یو شل نره اشرفی راله راچلوی په سود اګری سړ
اوبل داچه زهزمزم پې راکړی دی چه دتما مو مالو څخه دعږیبو وماته زیات
دی اود بلی وعدی طمع هم ځنی لرم چه مغفرت دی وَاِنْ یُّرِیْدُوْۤا اوکه
اراده لری هغه بندیان چه اسلام پې راوړی دی خِیَانَتَكَ ستا دخیانت
چه پیرته مرتد سی یا هغه فدیه درنکړی چه دوی پې ضامنان سوی دی
فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ نو په تحقیق سره دوی دخدای سره خیانت کړی وومِنْ
قَبْلُ مخکی تر دی کفر فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ نو انتقام پې واخیستی دد وی څخه د

بدر چه اوبیا یې مخې مړه کړه او اوبیا یې ځنې بندیان کړه یعنې که یې بیا خیانت وکړی نو بیا به تا پرمسلط کړو وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدائے ښه دانادی په حال دخپلو بندګانو حَكِيْمٌ ﴿۷۱﴾ پر حکمت دی په تولو نواهیو کښې او اوامرو کښې اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی وَهَاجَرُوْا او بیا هجرت یې هم کړی دی دخپل وطن څخه دخدای او درسول دپاره وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ او بیا یې جهاد کړی دی په خپلو مالونو سره چه په خرڅ یا په وسله یا په بل حاجت یې لګولی او مصرف کړی دی وَاَنْفُسِهِمْ او په خپلو ځانونو سره چه په جنګ ورکله سوی دی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره دخدای کښې چه هغه مهاجرین دی وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا او بل هغه کسان چه ځای یې ورکړی دی و مهاجرو ته وَّنَصَرُوْٓا او مدد ګاری یې کړی ده درسول سره چه هغه انصار دی اُولٰٓئِكَ داډوارې طایفې چه دی بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ط بعض ددوی دوستان او متولیان دسے دبعضو نورو په میراث کښې او داحکم په اول داسلام کښې ووځکه مهاجرینو او انصارو به یو دبل سره میراث اخستی په سبب دهجرت او د نصرت سره او نورو اقارنیو یې نه اخیستو بیا وروسته داحکم منسوخ سو ددی سورۃ په اخرآیت سره وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هرچه هغه کسان دی چه ایمان یې راوړی دی وَلَمْ يُهَاجِرُوْا او هجرت یې نه دی دملکی څخه مَا لَكُمْ نسته تاسی لره اے د مدینې مؤمنانو مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ د میراث څخه ددوی مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شی او نه دوی لره هیڅ شی ستاسی د میراث څخه حَتّٰى يُهَاجِرُوْا تر هغو پورې چه دوی هم هجرت وکړی او که یې هجرت وکړو نو ورسته تر هجرت به دوی هم په میراث او په غنیمت کښې درسره شریک وی وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ او که دا مؤمنان طلب د نصرت وکړی چه هجرت یې نه دی کړی د تاسی څخه دجنګ په وخت کښې دکفارو سره فِي الدِّيْنِ دډین په کار کښې فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ نو

واجب دی پر تاسی مدد کول د دوی سره اِلَّا عَلٰی قَوْمٍ مگر لازم نه دی ورتله
ستاسے په هغه قوم پسې د مشرکانو بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ چه په مابین ستاسی
او د دوی کښی مِّيْثَاقٌ د عهد او پیمان وی سره نو په هغه وخت کښی د دوی
سره مدد مه کوی چه ستاسی هغه عهد مات نه سی وَاللّٰهُ اوخدای بِمَا
تَعْمَلُوْنَ په هغه وفا او ما تولو د عهد سره چه تاسے یې کوی بَصِيْرٌ ﴿۷۲﴾ ښه بینا
دی وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوهر چه هغه کسان چه کافران دی بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ
بعضی د دوی دوستان دی د بعضو نورو په معاونت کښی یو د بل سره اِلَّا
تَفْعَلُوْهُ که نه کوئ کړی تاسے د دوستی او مددګاری په خپلو کښے تَكُنْ فِتْنَةٌ نو
لوفتنه به راپیدا سے یعنی موجب اوسیږی د اپورته سے فِي الْاَرْضِ په ځمکه کښے
وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿۷۳﴾ او لوی فساد په دین کښی ځکه چه د اتفاقی ستاسی موجب
«سبب» د کفرو غلبی او د اسلام ذلت ده بیا بیان د هجرت او د نصرت کوی نو وایی
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهر چه هغه کسان دی چه ایمان یې راوړی دی وَهَاجَرُوْا
او هجرت یې کړی دی د خپل وطن څخه په خدای او په رسول پسی وَجٰهَدُوْا
او جهاد یې کړی دی د کفارو سره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره کښی د خدای وَ
الَّذِيْنَ اٰوَوْا او بل هغه کسان چه اسلام یې راوړی دی او بیا یې ځای ور
کړی دی ومهاجرو ته وَّنَصَرُوْٓا او مددګاری یې کړیده د رسول سره د
کفارو په جنګ کښی اُولٰٓئِكَ دا موصوف کسان چه دی په دی صفاتو سره هُمُ
الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا د دوی مؤمنان دی په رښتیا سره لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ د دوی لره
مقرره ده بخښنه د خدایه څخه وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۴﴾ او ښه پریمانه روزی چه منت
او نقصان پکښی نه وی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اوهر چه هغه کسان دی چه ایمان
یې راوړی دی مِنْۢ بَعْدُ ورو سته د حدیبیی د صلحه یا ورو سته د ترڅو نو
مهاجرو مؤمنانو وَهَاجَرُوْا او بیا یې هجرت هم وکړی وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ او

جهاد یې هم دتاسی سره ګډ کړی وی فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ط نو دغه کسان دتاسے ځمخه حساب دی دخدای په نزد وَاُولُوا الْاَرْحَامِ او د خپلوی خاوندان چه دی یعنی اقرباء (قریبان) بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ بعضی د دوی غوره اولائق تردی تربعضونورو په میراث کښی د ایمان اوهجرت چه مخکښی ذکر سو یدی یعنی تردی ورسوسته میراث یوتربله خپلوان سره اخلی اود مهاجرو اوانصارو یوتربله میراث اخستل سره منسوخ دی فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ ط داحکم په لوح محفوظ کښی دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای بِكُلِّ شَیْءٍ پرهرشی د میراث ځمخه عَلِیْمٌ ښه دانا دی



روایت دی چه هرکله مکه فتح سوه د هجرت په اتم کال اواسلام خدای غالب کړی او رسول د بعضونورو عربو سره عهد اوپیمان کړی وو اوبیا اکثرو عهد مات کړی وو نو بیا د هجرت په نهم کال داسورة براءة نازل سو اوپه ترک د تسمیې (په بسم الله نه راوړلو کښی په سر دی سورة کښی) کښی دیر اقوال دی مګر قوی قول یې دادی چه تسمیه (بسم الله) د امان دپاره ده اوداسورة دپاره د پورته کولو د امان رانغلی دی نوځکه فخر به اوفاضحه اومنکله اومسرده هم ورته وایی اوبل کیږی لکه شاوایی

فنهمًا تسلها اوبدءت براءة لتنزیلها بالسیف لست مبسملا

اورسول په دغه کال صدیق اکبر رضی الله عنه امیر حاج کړی اودی سورة داول ځمخه یې دیرش یا څلویښت ایتونه یې ورلره ورکړه چه دا ایتونه دج د موسم وخلکو ته وایه اوبیا یوځوورځی ورسوسته دجبرائیل علیه السلام په امر سره یې حضرت علی رضی الله عنه پرخپله اوښه سپور کړی چه غضباء یې نوم وو اوورپسی وی لیږی چه دا ایتونه دهغه ځمخه واخله اوتریې وخلکو ته وایه اونور

عه یعنی هرکلمه په داسورة وصل کړی اویا شروع به دی سورة سره کوی چه براءة یې نوم دی نو بسم الله به نه وایاست ځکه چه بسم الله دامان دپاره ده اودی دغذاب او غضب پاره دی ۱۲ محمد عفی عنه یعنی حج کو نکو امیر ګ دځپل ځانه ځمخه مقرر کړی ۱۲

دج دمنا سکو تعلیم دی صدیق اکبر کوی بیاچه ورپسی راو رسیدی دلاری
په منیٰ کښے او صدیق د ولایه "دیری" اواز داوښی واوریدلو اووه دریدی
اووه پی ویل چه هٰذا أرغاء ناقة رسول الله صلے الله علیه وسلم بیا چه نژدی راغلے نو
صدیق ؓ ورته وویل چه امیرًا اومامورًا یعنی امیر مقرر سوی یی اوکه مامور
ده وویل چه مامور یعنی مامور یم بیاچه ایام دحج "دحج وړځ" داخلے سوی
نو په هرځای کښی به اول صدیق ؓ پرمنبر وخته او د حج مناسك به یی بیان
کړه بیا به دی د منبر څخه راکښته سو او حضرت علی ؓ به وَخته اودا آیتونه
به یی وخلکو ته ولوستل چه بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ دا بیزاری ده د خدای څخه وَ
رَسُوْلِهٖٓ او د رسول څخه دده اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ وهغو کسانو ته چه عهد
او پیمان تاسی کړی دی د هغوسره مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ① چه عبارت دی د
مشرکانو څخه اوودوی ته وویل اے رسوله چه نرمونږ او ستاسی تیر
عهد ونه ټوله سره مات دی او ددی دوسته بنکاره عداوت سومگر
تاسے ته څه موده مهلت دی فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ نو په ځمکه کښی په امان سره
گرځی بیغمه چه مؤمنان به هیڅ غرض نه درسره کوی اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ څلور میاشتے
چه شوال، ذی قعدہ، ذی الحجة، محرم دی په قول د هغه چا چه وایی چه داسورة
په کوچنی اختر راغلے وو وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اوپوه سی چه اے کفارو چه بیشکه تاسی
غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ نه یاست عاجزه کونکی د خدای د چل عذاب څخه چه درکوی یی
اوکه څومره مهلت یی درکړی وَاَنَّ اللّٰهَ او بیا پوه سی چه بیشکه خدای مُخْزِي
الْكٰفِرِيْنَ ② شرمونکی اوسوا کونکی دی دکافرانو په دنیا کښے په قتل سره
او په عقبیٰ کښی په اورد دوبخ سره وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ او اگاهی ده د خدای د
جانبه وَرَسُوْلِهٖٓ او د طرفه دده د رسول اِلَى النَّاسِ وټولو خلگو ته يَوْمَ الْحَجِّ
الْاَكْبَرِ د حج اکبر په ورځ چه د عرفے ورځ ده چه په دی کښی هغه اعظم دافعال

عه یعنی اواز داوښے د رسول علیه السلام ۱۲

دجو دی چه هغه وقوف یا نخردی چه په هغه کښی اتمام دافعالو دی نوځکه اکبر پی بللی دی یالوی دی په نسبت وعمری ته چه هغه حج اصغر بلل کیږی اَنَّ اللّٰهَ بَرِیْٓءٌ چه بیشکه چه خدای بیزاره دی مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ دمشرکانو اودعهدو څخه ددوی وَرَسُوْلُهٗ ؕ اورسول ددوه هم بیزاردی فَاِنْ تُبْتُمْ نوکه توبه وکښنه تاسے اے مشرکانو دکفر اودغه څخه فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ نو دا ډیره غوره ده وتاسی ته تراصرار کولو پرکفر باندی وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ اوکه تاسی شاکړه اوترک "پریښول" دکفر موونه کړی یادتوبے کښلو څخه پرشاسواست فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ نو پوه سی چه بیشکه تاسی غَيْرُ مُعْجِزِی اللّٰهِ ؕ نه یاست عاجزه کونکی دخدای ذیل عذاب څخه نه په تیښته سره او نه په مقاومت سره وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اوزیری وکړه یعنی وبیروه هغه کسان چه کافران دی بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ ③ په دردناکه عذاب سره په اخرت کښی اوهرکله چه بنی ضمره اوبنی کنانه عهد نه وومات کړی نوځکه وایی اِلَّا الَّذِيْنَ مگرهغه کسان عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ چه تاسی عهد کړی دی ددوی سره چه دمشرکانو څخه دی ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا بیا ئے نقصان نه دی کړی دتاسی سره په هغه عهد کښی دهیڅ شی وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا اودوی سره پی یاری اومدګاری هم نه ده کړی عَلَيْكُمْ اَحَدًا اپرتاسی دهیڅاسره ددښمنانو ستاسے څخه دجنګ په وخت کښی فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ نو پوره اوترسره کړی اے مؤمنانو ددوی ته عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ ؕ عهد ددوی ترځپلی مودی پورے چه هغه ددوی سره تاسی متقیانو کړی ده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝ ④ خوښوی ځان ساتونکی دبے وفایی څخه هرکله چه پی د معاهدانو حکم بیان کړی نو اوس حکم دغیر معاهدانو بیانوی اووایی فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ نوهرکله چه تیری سوی هغه څلور حرامی میاشتی مذکوری چه شوال، ذوالقعده، ذوالحجه اومحرم دی اوشوال پی هم حرام وباله تغلیباً

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ نوښ نی مشرکان چه عهدی نی مات کړی دی حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ په هرځای کښی چه تاسی وی پیدا کړی که په حل کښے وی اوکه په حرم کښی وی وَخُذُوهُمْ اودوی نیسی اوبند یانوی یې وَاحْصُرُوهُمْ او دطواف څخه یې بندکړی وَاقْعُدُوا لَهُمْ اوودوی ته کښینی اوورته ونیسی كُلَّ مَرْصَدٍ هره بندرګاه چه فراخ اوبے غمه نه سی ګرزیدلای په وطنو کښے فَإِنْ تَابُوا نوکه دوی توبه وکښله دشرکه څخه اوایمان یې راوړی وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ اوبرپایه کاوی یې لمونځ دتولوحقوقوسره وَآتَوُا الزَّكٰوةَ اوورکاوی یې زکوٰة فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ نوخوشی اوخالی کړی لاره ددوی یعنی هیڅ غرض مه ورسره لری اومه یې حصاروی «بطواف څخه» إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ بیشکه چه خدای بخښونکی دی دتیروګناهوددوی رَحِيمٌ ⑤ مهربانه دی نخکښی په ثواب ورکړی وَإِنْ أَحَدٌ اوکه یوکوم شخص مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ دمشرکانوڅخه ګواندې توب غواړی دتاڅخه فَأَجِرْهُ نوامان ورکړه اوګاونديې کړه حَتّٰى يَسْمَعَ دومی دپاره چه واورې كَلٰمَ اللّٰهِ کلام دخدای چه قرآن دی اوایمان راوړی ثُمَّ أَبْلِغْهُ بیادی ورسوه کهیې ایمان نه راوړی مَأْمَنَهُ وځای ته دامن دده یعنی وخپل کاله ته ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ داامان ددی په سبب دی چه بیشکه دوی قَوْمٌ لَا يَعْلَمُونَ ⑥ یوداسی قوم دی چه نه پوهیږی چه ایمان اوقرآن اوشریعت څه شی دی اوچه امان ورکړی اودلته قرآن واوری نوشاید چه ایمان راوړی كَيْفَ يَكُونُ څرنګه به وی یعنی نه به وی لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ مشرکانولره عهد اوپیمان عِنْدَ اللّٰهِ دخدای سره وَعِنْدَ رَسُولِهِ اوده درسول سره یعنی ددی په طبع مه اوسی چه ددوی عهد به دخدای اودرسول سره وی سره ددی عذره اوعهد ماتولوددوی إِلَّا الَّذِينَ مګرهغه کسان عٰهَدْتُمْ

چه تا سے عهد او پیمان کړی دی دوی سره او بیا یې مات کړی نه دی چه بنی
ضمره او بنی کنانه دی عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ مسجد حرام سره یعنی حدیبیی
سره چه مکی ته نژدی یوځای دی فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ نو تر څو چه دوی
پردی عهد وتاسی ته ولاړ وی فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ط نو تاسی هم و دوی ته
پرخپل عهد ولاړ اوسی اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ۝٧ بیشکه چه خدای خوښوی
هغه ځان ساتونکی دبلے وفایې څخه كَيْفَ څرنګه به وی دوی لره عهد اووفا
پرعهد وَاِنْ يَّظْهَرُوا عَلَيْكُمْ اوحال داچه که یې پرتاسی لاس برسی
لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ نو نه به وساتی او نه به وګوری ستاسی په باب کښی اِلًّا
وَّلَا ذِمَّةً ط نه وقسم او نه وقرابت تر او نه وعهد ته او بربد به در باندی وکړی
يُرْضُونَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ هسی راضی کوی تاسی تش "خالی" په خپلو خولو سره
چه دایمان راوړلو وعدی درسره کوی وَتَاْبٰى قُلُوبُهُمْ ۚ او دوی زړونه نه
منی داخبری چه په خولو یې درته وایی وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُونَ ۝٨ اونږیات دوی
فاسقان دی رواِیت دی چه ابوسفیان یوه ځولی دمشرکانو نو د رسول ﷺ
تر سره وستل دجنګ دپاره په طمع دځه قدر مبلغ لکه چه وایې اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ
اللّٰهِ اخلی اوپیرودی اوغوره کړی دی دوی دخدای پرآیتو چه قرآن دی ثَمَنًا
قَلِيلًا لږ مبلغ "روپیه" فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِهٖ ط نو څنګه کوی دوی یاحصاروی "رابندی"
خلاق دخدای ولاری څخه یعنی دوینه څخه یا دحج اوعمری څخه اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا
بیشکه دوی چه دی بدکار دی هغه چه دوی دی يَعْمَلُونَ ۝٩ چه دوی هغه
کوی اوچاویلی دی چه دا په حق دیهود وکښی دی لَا يَرْقُبُونَ نه ساتی داعهد
ماتونکی یا یهود ے مُؤْمِنٍ په حق دهیڅ مؤمن کښی اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ط نه قسم
یاقرابت اونه عهد یعنی دوی نه وایې په حق دهیڅ مؤمن کښی چه دوی مې
خپلوان دی اونه داسی وایې چه قسم یا عهد می ورسره کړی دی وَاُولٰٓئِكَ

او د اکسان چه دی هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ﴿۱۰﴾ هم دوی ترحده تیریدونکی په شرارت کښے
فَاِنْ تَابُوْا نو که دوی توبه وکښله دی کفره وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ او لمونځ یې
دتولو حقو قو سره ادا کړی وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ اوزکوٰة یې ورکړی فَاِخْوَانُكُمْ فِي
الدِّيْنِ نو دوی ستاسی ورونه دی په دین کښی نه په نسب کښی وَنُفَصِّلُ
الْاٰيٰتِ او موږ په تفصیل سره دا آیتونه بیانوو لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ دهغه قوم
دپاره چه پوهیږی او فکر یکښی کوی وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ اوکه دی مشرکانو
خپل قسمونه مات کړه مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ ورسته ترعهد اوپیمان کولودوی
دتاسی سره وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ اوطعنی یې وکړی اوعیبونه یې لتوله ستاسی
په دین کښی چه اسلام دی فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ نو قتل کړی سرکرده گان دکفر
اِنَّهُمْ بیشکه دوی چه دی لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ دسره نسته قسمونه دوی لره یعنی
قسم یې دسره قسم نه دی خکه چه په ماتولو یې هیڅ باك نه کوی لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴿۱۲﴾
بنایې چه دوی واوړی ددی شرکه ځخه یا ددی طعنې ځخه په دین کښی روایت
دی چه قریشو په حدیبیه کښی داسی مصالحت وکړی چه یوکرت اووارید رسولؐ
پریږدو چه مکی ته راسی دعمری دپاره اوبیا چه عمره یې لاته وی تمامه کړی چه
دمکی ځخه یې بیرته وبا سوچه سپك سی اوسره ددی چه عهد ونه اوقسمونه
یې ورسره کړی وه لکه چه وایې اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ ایا قتال نه کوی تاسی اے
مؤمنانو دداسی قوم سره نَكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ چه مات کړی دی دوی هغه قسمونه
خپل چه درسولؐ سره یې کړی وه چه ستاسه حق کښی به دچا سره ملا ترنه
کړو اویوه بل حلفاء به نه سره زهیر رواو رسولؐ اوبیا یې د بنی خزاعه سره
چه درسولؐ حلفاء وه جنډ وکړی وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ اواختیار اوقصد
کړی دی دوی په ستا ایستلو د رسولؐ دمکی ځخه په دارالندوه کښی په وخت
دهغه اول هجرت کښی یا په دی عمره کښی وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اوحال داچه هم

عه نوم دی دیری هجری چه قریش دیاره دمشورو راوجرګو جمع کیده وهمدا ره کړی وه ۱۲

دوی شروع کړی دی په ما تولو د عهد پرتاسی اَوَّلَ مَرَّةٍ ط اول وار اَتَخْشَوْنَهُمْ ء
ایا تاسی د دوی څخه ډیریږی فَاللّٰهُ اَحَقُّ نو خدای لایق ترډی اَنْ تَخْشَوْهُ که په
دی سره چه د ده څخه وډیریږی او دکفارو سره قتال وکړی اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳﴾
که تاسی باور کونکی یاست پرعذاب د خدای په ترک "پرښولو" د مأمور به سره —
قَاتِلُوْهُمْ جنګ کوی د دوی سره يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ چه عذاب و رکړی خدای د دوی
ته بِاَيْدِيْكُمْ ستاسی په لاسونه په قتل سره وَيُخْزِهِمْ اورسوا کړی او و
شرموی دوی په مقهوریت او په مغلوبیت سره وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ اوملګاری
وکړی دتاسی سره پردوی وَيَشْفِ دی چه بنی خزاعه یا بوبله قولی د یمنه څخه
مکی ته راغلی وه اواسلام یې راوړی وو اومشرکانو بیا د برخفه کړی وه بیاچه رسول
ته راغله او وده تریې فریاد وکړی دمشرکانو دلاسه ټوده وویل چه ابشر عمرو افان
النصر لقریب نوځکه وایې وَيَشْفِ اوړوغ اویخ کړی صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴﴾
زخمی سینی دهغه قوم چه مؤمنان دی یعنی بنی خزاعه یا یمنیان وَيُذْهِبْ او
لیرې کړی اوبوزی غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ط قهر او خفګان د زړو دوی چه دکفارو
دایذا "ضرر رسولو" څخه پیدا سوی وو وَيَتُوْبُ اللّٰهُ اوخدای توبه پیدا کوی پخپل
فضل سره عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ط پرهر هغه چاچه اراده یې وشی لکه دابیا واقع سوه
چه ابوسفیان اوعکرمه بن ابوجهل اوسهیل بن عمرو اوداسی نورو هم ایمان
راوړی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدای دانادی په توبه سره دتائبانو حَكِيْمٌ ﴿۱۵﴾ حکم کونکی
دی په قبول سره د توبې اَمْ حَسِبْتُمْ ایا ګمان کوی اے هغو مؤمنانو چه د
قتاله څخه بیریږی یا اے منافقانو اَنْ تُتْرَكُوْا داسے چه تاسی به پرهمدی
حال چه یاست پرې به بنوول سی وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اوحال داچه د
سره لاخدای معلوم کړی نه دی هغه کسان جٰهَدُوْا مِنْكُمْ چه جهاد کوی دتاسی
څخه وَلَمْ يَتَّخِذُوْا اونه دی نیولی دوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د الله څخه وَلَا

ف یعنی زیری بترتل کړی او څه شمالی سی چه پرتحقیق سره د زړه دی دی ۱۲

رَسُوْلِهٖ اوغیرد رسولہ څخہ دہ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ اوغیر د مؤمنانو څخہ وَلِيْجَةً ط
پتہ دوستی یعنی خدای ستاسی په تشه دعوه د اسلام باندی اکتفاء نه کوی تر
څوچه مخلص اوغیر مخلص سره بیل اوجلا نه کړی وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ اوخدای بښه
خبردی بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ په هغو کارو سره چه تاسی یې کوی **روایت** دی
چه هرکله عباس د بدر په بندیانو کښی راغلی نو مؤمنانو ورته ملامتیا پر
وویله او په تیره بیا علی چه څو خو د رسول ﷺ دتره زوی وی نو وتاته څه بائده
وه د شرك او قطع د رحم نوده وویل چه تاسی زمونږ بد بنکاره کوی اونیك
مو پوتوی چه مونږ آبادی کوو د مسجد حرام او وکعبی ته پوښ ورکوو او حاجیان
دزمزم په اوبو سره خړوبوو نو نازل سو مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ نه بنایی د مشرکانو
ته اَنْ يَّعْمُرُوْا داچه دوی آبادی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه د خدای اوپه تیره
بیا مسجد حرام یاذکر د مسجد حرام په دی وجه دی چه هغه امام اوسر د تولو
مسجدونو دی نوګویا که ده آبادی د تولو مساجدو آبادی ده شٰهِدِيْنَ په دی
حال کښی چه دوی شاهدی اداکوونکی وی عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ پرخپلو ځانونو باندی
بِالْكُفْرِ ط په کفر سره چه وښتا نو ته سجدی کوی اوسول نه منی اُولٰٓئِكَ دا
مشرکان چه دی حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ج خراب اوباطل دی عملونه ددوی که
عمارت دی اوکه سقایت دی د شرك په وجه وَفِي النَّارِ اوددوزخ په
اورکښی هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ دوی به هیشه وی ددی شرك په سبب اِنَّمَا يَعْمُرُ
بیشکه دا خبره ده چه آباد وی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه د خدای مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ
هغه څوك چه ایمان یې راوړی وی پرخدای سره د رسولانو وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ
اوددقیامت پرورځ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ اوبرپا یه کوی لمونځ د تولو حقوقو سره
وَاٰتَى الزَّكٰوةَ اوورکوی زکوة وَلَمْ يَخْشَ اونه ویریږی د دین په کار کښی
د جهته د چا نه ویری غلی د اخلاص اِلَّا اللّٰهَ مګر یوازی د خدای څخه فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ

عه آباد اول وکښی ۱۲ عه څه ویل وجا جائز ۱۲

نو بنایي چه چه کسان چه موصوفه دی په دی صفتونو سره اَنْ یَّکُوْنُوْا چه وی دوی مِنَ الْمُهْتَدِیْنَ ﴿۱۸﴾ دلاری پیدا کونکو څخه وسعادت ته دداریدونو روایت دی چه هر کله ترة اووسلا ره مفاخرة «ویترېفخرسره کول» سره وکړی عباس په عمارت اوسقایت سره اوعلی په ایمان او جهاد سره نو دعلی دتصدیق په پاره نازل سو اَجَعَلْتُمْ سِقَایَةَ الْحَآجِّ ایا گرنږ ولی اوکړی دی تاسے خرو بول «اوبه ورکول» دحاجیانو دلته مضاف پکښی محذوف دی یعنی هغه څوك چه زمزم اوبه ورکوی وحاجیانو ته وَ عِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اوآبادول دمسجدحرام یعنی هغه څوك چه دډی مسجد آبادی کوی هغه داسی دی کَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ لکه هغه څوك چه ایمان پی راوړی دی پرخدای وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ اوپه ورځ د قیامت وَجٰهَدَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط او جهادکوی دخدای په لاره کښی لَا یَسْتَوٗنَ نه دی برابری سره دا دواړه یعنی عِنْدَ اللّٰهِ ط دخدای په نزد وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۹﴾ اوخدای سمه لاره نه ورښیي وهغوته چه ظالمان دی دکفر په اختیارولو سره اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چه ایمان پی راوړی دی پرخدای اوپر قولو اوامرو اونواهیو دده وَهَاجَرُوْا اوهجرت پی کړی دی دخپله وطنه په خدای اوپه رسول پسی وَجٰهَدُوْا اوجهاد پی کړی دی دمشرکانو سره فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ دخدای په لاره کښی بِاَمْوَالِهِمْ پخپلو مالوسره چه په اسبابو دجنګ اوپه مجاهدینو پی مصرف کړی اونګولی دی وَاَنْفُسِهِمْ اوپه خپلوځانو سره چه په جنګ کښی پی بازلی دی اَعْظَمُ دَرَجَةً ډیرلوی دی په جهته دمرتبے عِنْدَ اللّٰهِ ط په نزد دخدای ترڅاونداونو عمارت اوسقایت وَاُولٰٓئِكَ اوداکسان چه موصوف دی په صفتونو سره هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ هم دوی بریالی دی په فوز سره ابدی سره یُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ زیږی کوی پردوی باندی رب دوی بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ په رحمت اومهربانی سره دده جانبه څخه وَرِضْوَانٍ او رضوان پی وَّجَنّٰتٍ او په کاملهٔ رضامندی

سره او په باغوسره گلهم دینها چه وے به دوی لره په دے باغونکښی نعیم
مقیم ﴿۲۱﴾ رښتیا رنگه نعمتونه دائمی بیله انقطاعه "بیهقی" خلدین فیها ابدا
چه دوے به همیشه اودائمه وے په دے باغونکښی ان الله بیشکه خدای چه
دے عنده اجر عظیم ﴿۲۲﴾ هم دده سره لوی اجردی روایت دے چه هر
کله ورسول ته دهجرت اجازه وسوه نو بعض صحابه په دیره خوشحالے
اودنږه په رغبت سره مدینی ته ولاړه اومال، عیال، اطفال او اباؤ اواقرباؤ
ته یے دسره ونه کتل اوبعضی بیا اقرباؤ اواباؤ اوعیال او اطفالو خپلو په
زاړیو اوپه قسموسره پاته کړه نو نازل سو یاایها الذین امنوا اے مؤمنانو
لا تتخذوا اباءکم مه نیسی خپل پلرونه واخوانکم اولیاء اوورونه
خپل دوستان ان استحبوا الکفر که دوے کفر غوره کړی وه علی الایمان د
پرایمان باندے یعنے ددوے په دوستی سره دهجرت څخه مه راګرځی اومه
پاتیږے ومن یتولهم منکم اوهرڅوک چه دوستی ورسره وکړه ددوی سره د
تاسے څخه فاولئک نوهغه کسان چه دی هم الظلمون ﴿۲۳﴾ هم دوی ظالمان
دے روایت دے چه دده ایت نوناز لیدو وروسته دهجرت پریښونکو وویل
چه موږ اوس ډیر بندیو څکه چه دا پلرونه اوزامن اوورونه اوښځے او
اقرباء اومالونه اوسوداګری اومیني ګورونه "خپل وچاته پریږدو نونازل سوقل
ان کان ته ورته روایه ودے پریښونکو ته هجرت چه وی اباؤکم پلرونه ستاسے
وابناؤکم اوزامن ستاسے واخوانکم اوورونه ستاسے وازواجکم اوښځے
ستاسے وعشیرتکم اوخپلوان ستاسے واموال اقترفتموها او
هغه مالونه چه تاسے ګټلی دے وتجارة تخشون کسادها
اوهغه سوداګری چه تاسی پیریږے د فوتید واوختمیدو
اوتیریدو څخه دهغه وخت

وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اوهغه مینی اوکورونه چی تاسی په نازیږی اوخوښوی یې نوکه
دا اته سره اَحَبَّ اِلَيْكُمْ دیرمحبوب اوغوره وتاسی ته لیکن په محبت اختیاری سره
نه په طبعی سره مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ترخدای اوترسول دده وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ او
ترجهاد کولو دخدای په لار کښی فَتَرَبَّصُوْا نو منتظر اوسی حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ
ترهغو پورې چه راولیږی خدای عذاب خپل دنیوی یا اخروی یا فتح دمکی وَ
اللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾ اوخدای توفیق دهدایت نه ورکوی وهغه قوم ع ۳ ۸ ۹
ته چه فاسقان دی لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ خامخا په تحقیق سره مدد کړی دی خدای
دتاسی سره فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ په ډیر وځایونوکښی لکه دبدر جنګ اودبنی نضیر
اودبنی قریظه اودا حزاب اودحدیبیی اودخیبر اودفتح دمکی اوچاویلی دی
چه په اَثْنَا وځایونوکښی یې مدد کاری کړی ده خدای درسوله سره وَيَوْمَ حُنَيْنٍ
اوخاص کار په ورځ دجنګ دحنین چه یوځای دی دمکی اودطایف په مینځ کښی
روایت دی چه دمکی ترفتح ورسته دوو - قبیلو دطایف چه ثقیف
اوهوازن وو ارادہ دجنګ پې وکړه اوخلونږ خلق جمع سو بیا چه رسول ﷺ په
خبر سو نو دوو لسونو روا صحابو سره ورغلے چه سره مخامخ سوه نو اصحابی
ډیره تعجبه شخه وویل چه لَنْ نُّغْلَبَ الْيَوْمَ مِنْ قِلَّةٍ یعنی دسره به مغلوبه نه سو
موږ نن ورځ دډیرتو دکوالی ددښمن نو ناګاه په اصحابو ما ته کله ده سوه لکه چه
وایي اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ په هغه وخت کښی چه تاسی ته تعجب راوستی كَثْرَتُكُمْ
ډیروالی خپل فَلَمْ تُغْنِ نو دفع نه کړی ډیروالی ستاسی عَنْكُمْ شَيْـًٔا دتاسی شخه هیڅ
شی وَضَاقَتْ ددښمن عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ اوتنګه سوه پرتاسی محکه په
سبب دتیښتی بِمَا رَحُبَتْ سره دداسه فراخه ددی ثُمَّ وَلَّيْتُمْ بیاشاه کړه
تاسی ودښمن ته مُّدْبِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ په داسه حال کښی چه ماته خوړونکی واست تر
روایت دی چه توله لښکر په ماته ولاړی مګر رسول علیه السلام دخلورو

تنو سره ولاړ یاته سو چه عباسؓ او علیؓ او ابی سفیان بن ابی حارثؓ او عبدالله بن مسعودؓ وه او دښمن سړی غلبه پر راوړه نو عباسؓ ته یې وویل چه ودی خلګو ته ور بډ کړه هغه هم په لوړ اواز سره نارے کړی چه یا اصحاب الشجرة نو تولو نارے وهلے چه لبیک لبیک او بیرته سړه راجمع سوه او ملائکی پر برګو «کروړ» اسانو سپړی دی په سپینو جامو «کالو» کښی اوده یوموټ شکی اوخاوری له واخیستی اوددښمن وطرفته یې ور وغورځولی او دایے وویل چه شاهت الوجوه نو دهرکافر ستړګی خنی وکی سوی او ماته په لګیده سوه لسګه چه وایې ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ بیاخدای دل ارامی راولیږله چه موجبه داستقامت دزړه ودمؤمنانو شے عَلٰى رَسُوْلِهٖ پر رسول خپل څکه یوازی پرځلور زړه لښکر باندی ورتلی وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ او پرمؤمنانو باندی هم څکه چه په بډ کړه دعباسؓ توله بیرته راغله وَاَنْزَلَ جُنُوْدًا او لښکره ملائکو یې راولیږی چه پنځه یا اته یا شپاړس زړه به وو لَّمْ تَرَوْهَا چه تاسے دالښکری نه لیدلی اوکفارو به لیدلی چه سپینی جامی اوسری پګړی «لنګوټ» چه شملی یې ترشا اویزانه اوځړیدلی او پرېرګو «کروړ» اسانو به سپړی وی وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او عذاب یې ورکړی وهغوکسانو ته چه کافران وه رڼایت دی چه کفاریی دیرمړه کړه او شپږ زړه بنګی او هلکان او انجونی یې په بندځنی راوړی اوځلیږویشت زړه اوښان او تقریبًا څلویښت زړه میږی اوبزی یې ځنی راوستی اوځلور زړه اوقیے یعنی جوالونه دیرش منه سپین زړه یې ځنی راوړل وَذٰلِكَ اوداکاڅه وسو- جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶﴾ هم دادکافرانو جزاءده ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ بیا دتوبې توفیق ورکوی خدای او خدای مهربانی کوی مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ورسته تردی جنګ څخه عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ پرهرهغه چاچه اراده یې وسی د هدایت لکه چه

عه یعنی ای یارانو دوئی «درښتی» یعنی چه تاسی ترمنځ لاندی دماسره وعده کړی وه چه جنګ به کوو او نور احکام به منو ۱۲

یوه طائفه دثقیفو اودهوازنو څخه تردی چې وروسته راغله اواسلام یې
راوړی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دی دتائبانو رَّحِيْمٌ ﴿۲۷﴾ مهربانه دی
چه ترشیتنې توبې وروسته څوك نه نیسی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے
مؤمنانو اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ بیشکه چه هم داخبره ده چه مشرکان پلیت دی د
خبث باطنی په سبب سره چه عقیدے یې خرابه دی یا د بخاسا تو اوجنابا تو څخه
ځانونه نه ساتی یا بخسل لعین دی لکه سپی فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ نو دوی
دی نه نژدی کیږی ومسجد حرام ته یعنی حج اوعمره دی نه کوی لکه پخوا په
جاهلیت کښی چه برهنه کول بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا د وروسته تردی کال دوه
چه دهجرت نهم کال دی اوپه نزدد امام اعظم دامنع یې دحج اودعمری
څخه ده ددا څلیده وخځه دهیڅ مسجد وَاِنْ خِفْتُمْ اوکه تاسی ببریدلاست
عَيْلَةً د فقرې څخه یعنی هغه سود اوسودا اوکتنه چه به تاسی ددوی سره
کوله په موسم کښی هغه به په منع ددوی سره قطع سی اوتاسی به نادار
سی فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ نوژر دی چه خدای به تاسے بے پرواکړی مِنْ
فَضْلِهٖٓ دخپله فضله اِنْ شَآءَ ط که یې اراده وسی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ بیشکه
چه خدای دانا دی پدا حوالو ستاسی حَكِيْمٌ ﴿۲۸﴾ پُرحکمته دی هم په منع او
هم په اعطاء کښی دا تیر کلام په مقاتله کښی وو دښت پرستانو نوسره اواوس
امرکوی په مقاتله کښی د اهل کتابو سره نو وِاِنْ قَاتَلُوا الَّذِيْنَ تاسوشر فی
هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه ایمان نه راوړی پرخدای وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او
نه په ورځ د قیامت لکه چه بائډه ده وَلَا يُحَرِّمُوْنَ اودوی حرام نه شمیری «رسول»
مَا حَرَّمَ اللّٰهُ هغه چه خدای حرام کړی دی په قرآن کښی لکه خمر او خنزیر وَرَسُوْلُهٗ
اورسول دده په سنت کښی وَلَا يَدِيْنُوْنَ اوخپل دین نه شمیری دِيْنَ الْحَقِّ حق
دین چه اسلام دی یعنی اعتقاد نه پرلری مِنَ الَّذِيْنَ د هغو کسانو څخه اُوْتُوا الْكِتٰبَ

عه یعنی که د مسجد ته نوزی نو غیر دی ناکه نه لری ۱۲

چه دوی تہ کتاب ورکړه سوی دی یعنی توراة او انجیل نو ددوی سره مقاتله کوی
حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ ترهغو پورې چه دوی جزیه ورکړی عَنْ يَّدٍ پخپل لاس وَّهُمْ
صٰغِرُوْنَ (۲۹) اوحال داچه خوارخسته حاله اوذلیله وی په دی شان چه پخپله
دی پې راوړی مگر سپاره به نه وی او په ولاړی دی پې وسپاری او هغه دی
ستاسے په مخ کښی په تاسو واخلے او بیا دی یو څو سوکان په څټ کښی ورکړل سی
دپاره د تذلیل او د اجزیه د امام اعظمؒ په نزد د قولو مشرکانو نه څخه دی اخیستل کیږی
غیر د مشرکانو نه څخه د عربو چه ددوی د پاره یا اسلام دی یا قتل نو د اجزیه پرغنی «ماوردی»
باندی په هرکال کښی اته څلویښت درهمه دی او پر متوسط سړی باندی څلیرویشت
دی او پر نادار کاسب باندی دوولس دی او پر بے کسبه نادار هیڅ نسته روایت
دی چه هرکله بخت نصر بیت المقدس ویران کړی او تورات پې وسوځی او دکوم
چا چه په یاد وو هغه پې تولہ مره کړه او حضرت عزیرؑ پې کمکی «کوهستی» وښد ته یو تلی
او دده تورات په یاد وو بیا چه هرکله راخلاص سو او خپل قوم ته راغلے نو ددوی د
تورات د لیکلو طلب څنی ورکړی نو ده په یو څو سره ووګوتو پوری قلمان وترل او
تورات پې ورته و لیکی نو دی یهودو به ویل چه دی د خدای زوی دی ځکه چه تر
سلو کالو وروسته پې تورات ورياد کړی او عیسیٰؑ هم چه برلږ «پیس نیول» او پاته
به پې سره وغول او مړی به پې ژوندی کول نو نصاری وو به ویل چه دی د خدای زوی
دی ځکه چه د خدای خاصی پکښی ظاهری «بکاره» سوی دی لکه چه وایي وَقَالَتِ
الْيَهُوْدُ اووایي یهود عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ چه عزیرؑ د خدای زوی دی وَقَالَتِ
النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ او نصاری وایي چه عیسیٰؑ د خدای زوی دی ذٰلِكَ
قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ دا قول یوبے هوده او مهمل ګفتا ردی چه دوی پې وایي بِاَفْوَاهِهِمْ ده
پخپلو خولو سره بے دلیله يُضَاهِـُٔوْنَ مشابه کوی دوی داخپل ګفتار قَوْلَ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا د قول او ګفتار سره د هغه کسانو نه چه کافران سوی دی مِنْ قَبْلُ مخکی تر دوی

یعنی مشرکان چه ملائکی به یی د خدای لونی بللی او خدای ته به یی ابواللّٰت او ابوالعزّٰی ویل قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ د خدای لعنت دی وی پردوی اَنّٰی یُؤْفَکُوْنَ ﴿۳۰﴾ چه دوی څرنګه دحق دلاری څخه چپ کړه سوی دی اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ او دی اهل کتابو نیولی دی یعنی یهود وخپل عالمان وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا او نصاریٰ وو عابدان خپل په خدایانو سره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدایه یعنی دوی حلال د خدای حرامولی او حرامه ده حلالولی ددی اربابانو په خولو سره وَالْمَسِیْحَ ابْنَ مَرْیَمَ ۚ او عیسیٰ چه نه روی دی بی مریمی دی هغه هم په خدایی سره نیسی چه د خدای زوی یی بولی وَمَآ اُمِرُوْٓا اودا عابدان یا معبودان نه دی ما موره سوی په تیر وکتابو کښی په هیڅ شی سره اِلَّا لِیَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ مگر په دی سره چه عبادت دی کړی د خدای چه معبود برحق دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ نښته لایق دعبادت مگرهم دی دی سُبْحٰنَهٗ عَمَّا پاك دی د هرهغه چه دده سره یُشْرِکُوْنَ ﴿۳۱﴾ شریکان نیسی یُرِیْدُوْنَ دا یهود او نصاریٰ اراده لری اَنْ یُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ دی چه دوی مړه کړی مشعل «شمله» د نور د خدای چه قرآن یا نبوت دی بِاَفْوَاهِهِمْ په پوکلو سره د خولو خپلو یعنی چه بحوه یی کړی په خپل تکذیب سره وَیَاْبَی اللّٰهُ او نه خوښوی خدای هیڅ اِلَّآ اَنْ یُّتِمَّ نُوْرَهٗ مگر داچه تمامه کړی «پوره کړی» د نړۍ د خپل دین چه له شرق تر غربه پرتو «شعلی اوروښانګی» واچوی او ظلمت د کفر ورک کړی وَلَوْ کَرِهَ الْکٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾ اوګر که بده منی «بدګڼی» داخبره کافران لکه چه په دی باب کښی ویل سوی دی.

رُباعی:- رب چه بل کړی غټ څراغ د بنه تدبیره
که چا پوکړی نو سوئے به خپله بد یره
او دا څکه چه د رب څراغ خونه مړی
اوچه پوسی نو لمبه سی مستند یره

هُوَ الَّذِیْٓ دی هغه حکیم مطلق دی چه محض پخپله مهربانی سره اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ

عه یعنی خدای دلته او دعزیٰ بیا تر پلاره دی ۱۲

راوه لیږی ده استاذی چه محمدؐ دی بالهدٰے په هدایت سره چه قرآن دی وَدِيْنِ الْحَقِّ او په سرشتینی دین سره چه اسلام دی او دا ارسال ددی دپاره دی لِيُظْهِرَهٗ چه ظاهره او غالب کړی داخپل دین عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ پرهرقسم دین باندی اګرکه سماوی هم وی وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ که څه هم داکار بدلګنی مشرکان يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ بیشکه چه ډیر یهود ودد عالمانو څخه وَالرُّهْبَانِ او د نصارٰی وودعابدانو څخه لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ خامخا دوی خوری مالونه دخلګو بِالْبَاطِلِ په رشوت سره وَيَصُدُّوْنَ اوارووی خلګ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ د خدای دلاری یعنی د خدای د دینه څخه وَالَّذِيْنَ اوهغه کسان چه دی که اهل کتاب دی اوکه غیر دی يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ چه سره نه رسره خزانه کوی وَالْفِضَّةَ او سپین زر وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا او نه یی ورکوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ د خدای په لارکښی یعنی چه زکوٰة نه ورکوی او هرهغه مبلغ چه زکوٰة یی ورکول کیږی هغه کنز نه دی اګرکه بنځه وی لکه حدیث دی چه مَا اُدِّيَ زَكٰوتُهٗ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ وَاِنْ كَانَ بَاطِنًا و مابلغ ان یزکیٰ فلم یُزَكِّ فهوکنزوان کان ظاهرًا فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۴﴾ نوزیری وکړه پردوی په عذاب دردناکه سره يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا په هغه ورځ چه بَل به کړل سی پردی خزانو باندی اورعنی دا به ویلی کړه سے فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ په اوردو دوزخ کښی فَتُكْوٰى بِهَا نو داغ به کړل سی په هغوسره پوا واشرفو او مهرانو ویلی کړه سووسره جِبَاهُهُمْ مخانن ددوی وَجُنُوْبُهُمْ اوا پخونه ددوی وَظُهُوْرُهُمْ اوشاګانی ددوی اودا ځکه چه اول به یی وفقیرته ځ اوتندی تر لیدکړه اوبیا به یی څنګ ورګرزاوی اوبیا به یی ورته شا

عه یعنی هر هغه مال اومبلغ چه زکوٰة وهغه دا ګرکل سوی وی نو وهغه ته کنز نه مړوم نه ویل کیږی که څه هم پته اوښخ وی په ځمکه کښی اوهغه مال چه رسیدلے وی زکوٰة وحد ته چه نصاب دی اوبیا زکوٰة ځنی ورنه ګرکل سی نوهغه بدکنز دی که څه هم ظاهرا وښکاره وی اوپته نه وی فافهم ۱۲ عبد الواحد

کړه اوبیا به ورته وویل سی چه هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ دا هغه سړ اوسپین زرو چه تاسی جمع کړی وو لِأَنْفُسِكُمْ دخپلوځانو د پاره او اوس درته ضرر سو فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ نوڅکی خوند دهغه مبلغ چه تاسی واست تَكْنِزُونَ ﴿۳۵﴾ چه تاسی ذخیره کړی وو فائده :- هرکله چه کال پر دوه قسمه وویشمی اوبل قمری وو اوشمسی پرقمری یوولس ورځی تقریبًا زیات وو اوهم داسی میاشتی هم پرده وه قسمه دی یوشمسی دی لکه په دی بیتوکښی چه راغلی دی ۔

یوحمل بل ثور بل جوزا پسی سرطان، اسد
سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدی، دلو، حوت
ویساک، جیٹھ، هاړ ساون، بادرو، اسو، کتک
مګهر، پوه ومناه، پهګن چیتر است اے پُرنمک

اوبل چه دی قمری دی لکه چه په دی بیت کښی راغلی دی ۔

محرم پسی صفر څلور خوینډی ربیع کوره
بیا برات روژه شوال دی ذوالقعدهٔ ذوالحج ورځ

اواکثر احکام دین داسلام پرقمری میاشتوبناء وه لکه صوم اوحج اوزکوٰة اوعدت اوداسی نوراحکام سوه نوځکه وایی اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ بیشکه شمارد میاشتوچه دی عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا دخدای په نزد دوولس میاشتی دی فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ د خدای په کتاب کښی یاپه لوح محفوظ کښی یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دهغه ورځی راهیسته چه ده مخکه اواسمانونه پیدا کړی دی مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ د هغوڅخه څلور میاشتی حرامی دی چه یوه یې پرازی ده اودری یې پرلپسی دی چه ذوالقعدهٔ اوذوالحجه اومحرم دی ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ دا حساب سم روغ دی فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ نو تاسو ظلم مه کوی په دی څلورو یا په دی دوولسو میاشتوکښی اَنْفُسَكُمْ پر خپلوځانو باندی په هتك د حرمت ددی څلورو میاشتوسړه یا په ګناه کولوسره

په دی دوولسو میاشتوکښی اوا کثره علماء وایی چه حرمت دمقاتلی په دی څلورو میاشتوکښی منسوخ سوی دی په دی ماتلونکی قطعه دهدی آیت سره چه هغه دا ده وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ اومشرکان وژنی اوجنګونه وسره کوی كَآفَّةً تولو په دوولسوسره ووميا شتوکښی كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ لکه چه دوی دتاسی سره جنګونه کوی اوتاسی وژنی كَآفَّةً ط تولو — وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ اوپوه سی چه بیشکه خدای مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۶﴾ دپرهیزګارانوسره دی په حفظ اوپه نصرت کښی سره وایت دی چه هرکله پخواعربو — په جاهلیت کښی هم په دی څلورو حرامو میا شتوکښی قتال اوجنګ نه سره کاوی اوحال داچه دوی معامله به همیشه د جنګه سره وه اوکله چه به د جنګ په مینځ کښی شهرحرام داخله سوه نو دوی به د یرپه خفه سول نو بیا به یې یوه داسی حیله جوړه کړه چه دا د جنګ میاشت به یې حلالـه کړه اودی په بدل کښی بریې بله میاشت حرامه کړه نو دی میا شتوتخصیص یې یعنی ورک کړی بلکه په کال کښی به یې څلور میاشتی پورې کولی نو نازل سو اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ بیشکه هم داخبره ده چه وسره وستـه کول د حرمت دوی میا شتوچه دی وهغو نوسره حلالولو میا شتو ته زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ زیا تیدل دی په کفرکښی ځکه چه حلالول د خدای د حرامواو حرامول د حلالو د خدای کفر دی سربیره پر بل کفر يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا چه گمراه کول کیږی په دی عمل سره هغه کسان چه کافران دی يُحِلُّوْنَهٗ حلالوی دوی داحرامی میاشتی چه نَسِيًّا یکښی کوی عَامًا په یوه کال کښی یعنی په هغه کال کښی چه وجنګ تریې حاجت پیښ سی نو دوی پرځای بله میاشته حرامه کړی وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا اوحراموی بیا هم دغه میاشته حرامه په بل کال کښی چه وجنګ تریې پکښی حاجت نه وی اودا کارکوی لِيُوَاطِـُٔوْا دوی دپاره چه برابر اوپوره کړی دوی عِدَّةَ مَا شمار د هغه میاشتو حَرَّمَ اللّٰهُ چه حرامی کړی دی خدای او تخصیص ته نظر نه کوی فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ

اللهُ د نوحلا لوی هغه میاشتی چه خدای حرامی کړیدی دخپل حاجت دپاره اودتعین
رعایت نه کوی زُيِّنَ لَهُمْ بنایسته کړه سوی دی ودوی ته یعنی شیطان ورته مزین
کړی دی سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ د بدی دخپلو عملو وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾
اوخدای توفیق نه ورکوی دکافرانو و ولی ته روایت دی چه هرکله دهجرت په نهم
کال دطایف دجنګ څخه دراګرځیدو اوراتلو ورسته رسولُ دتبوک دغزا
ارادہ وکړه چه په سرومکښی دی اوحال داوو چه نا داری ډیره وه اوګرمی ترحد
تیره وه او سفر ډیرلیرې وه اودښمن ډیرغالبه وو نوداسفر پردوی ډیرسخت
وو اودوی بے زړه وه نونازل سو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو مَا لَكُمْ
څه باعث دی پرتاسی اِذَا قِيْلَ په هغه وخت کښی چه وویل سی لَكُمُ انْفِرُوْا
وتاسی ته چه ځی اوولاړ سی دجهاد دپاره په سفر فِيْ سَبِيْلِ اللهِ دخدای په لاره
کښی دپاره دغزا دودی اثَّاقَلْتُمْ نوډډانه درانه اویوی اوبلی خواته کیږی اومایل
کیږی کښته اِلَى الْاَرْضِ وځکه ته دډیری کاهلی څخه اَرَضِيْتُمْ ایا تاسی راضی سوی
یاست بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دی واړه «کرښی» ژوند سره مِنَ الْاٰخِرَةِ ترثواب دآخرت
فَمَا مَتَاعُ الدُّنْيَا نو نه دی مال اومتاع ددی واړه اولږ ژوند فِي الْاٰخِرَةِ په
مقابله کښی دآخرت اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۳۸﴾ مګر ډیرکم دی اِلَّا تَنْفِرُوْا که چیرې ولاړنه
سی په دی جنګ یُعَذِّبْكُمْ نوخدای به تاسی ته
عذاب درکړی عَذَابًا اَلِيْمًا لا دردناکه عذاب وَيَسْتَبْدِلْ اوپه بدل کښی به
راولی ستاسی پرځای قَوْمًا غَيْرَكُمْ نور خلق غیر دتاسی څخه چه هغه فرما
نبردارہ وی لکه اهل یمن یا اهل فارس وَلَا تَضُرُّوْهُ اوضرر به ورنه وده ته
ونه رسوی یا و رسول ته دده شَيْـًٔا دهیڅ شی څخه چه دی بے
پروادی او رسول ته معصوم دی وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۹﴾

او خدای پر هر شی قادر دی اِلَّا تَنْصُرُوْهُ که تاسی مدد و رسره و نه کړی فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ نو په تحقیق سره خدای پخوا لا مدد و رسره کړی وو نو نبیا به هم مدد و رسرهٔ وکړی اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا په هغه وخت کښی چه دی نبی مکی ځخه راوه ایستی هغو کسانو چه کافران وه او دا اخراج وو دوی ته حُکمه منسوب سو چه دوی لږ ده دقتل د دوی وکړه او دا بیا سبب د سود اجازی د خروج دده نو گویا که هم دوی دمکی ځخه پسی ړ اوځیستی ثَانِیَ اثْنَیْنِ په دی حال کښی چه دی د دوو تنو دویم وو اِذْ هُمَا فِی الْغَارِ په هغه وخت کښی چه دوی دواړه په غار کښی وه چه رسول اوصدیق اکبر وو او په دی غربت کښی خدای مدد و رسرهٔ وکړی او بیان بی داسی دی روایت دی چه دا د جبل ثور په سر کښی یو غار دی چه دمکی ځخه د یمن و طرفته نیم ساعت منزل لیری دی او رسول ﷺ په عُرْوَه « یعنی د ربیع الاول په اول کښی د پنجشنبی په شپه د صدیق اکبرؓ سره و دی غار ته راغلے او په داصبا کفار و رپسی راغله او د سرب په امر سره د غار په خوله کښی کوتری کښینا ستی او هګی بی شر بلی او غنمو اوجو لا گیا نو هم د غار په خوله کښی تار و نه و ځځول او وایه چول او ده مبارک ویل اَللّٰهُمَّ اعم ابصارهم یعنی اے ربه د دوی ستر گی ړندی کړه بیا چه دوی د غار په خوله کښی و دریدل نو صدیقؓ وویل چه که یو د دوی ځخه و خپل قدم ته وګوری نو موږ به و وینی ځکه چه د غار خوله و اسمان ته مائله ده نو رسول ﷺ بی تسلی ورکړه لکه چه والی اِذْ یَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ هغه وخت کښی چه ده و ویل لِصَاحِبِهٖ و خپل ملګری ته چه صدیقؓ دی لَا تَحْزَنْ ته مه خفه کیږه اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا بیشکه چه خدای د موږ سره دی په عصمت کښی او په نصرت سره او دوی دری شپی او ورځی په دی غار کښی وه فَاَنْزَلَ اللّٰهُ نو خدای راولیږله سَکِیْنَتَهٗ عَلَیْهِ دل ارامی پرده یا پرصاحب دده وَاَیَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ او قوت بی و رکړی و ده ته د ملائکو په داسی لښکرو سره لَمْ تَرَوْهَا چه تاسی نه لیدلی یا مراد بدر او احزاب او

حنین دی چه په هغو درو سره وو کښی ملائکی راغلے وی وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ
اوخدای کړه او وې ګرزه وله کلمه دهغوکسانو یعنی شرك یا دکفر دعوت دهغوی
كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ چه کافران دی ډیره کښته وَكَلِمَةُ اللّٰهِ او کلمه دخدای چه ده
یعنی توحید یا دعوت داسلام هِيَ الْعُلْيَا ؕ هغه ډیره بلنده شانه ده وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ
اوخدای غالب دی چه واهل توحید ته یې عزت ورکړی دی حَكِيْمٌ ﴿۴۰﴾ پرحکمته
دی چه اهل شرك یې خوارکړی دی اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّ
ثِقَالًا سپك اودرانه یا پیاده او سپاره یا سروغ اوسرنخوړان "سرپیلان" یا خوان
اونزه یادروپیشان اومارپه یابے اسلحه اواسلحه داران یا ډنګران اوچاغان یا
مریان اواضیلان یاواده والا اوجرګان "لوڼواله" وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ اوغنی ا
کوی اوجهادکوی پخپلو مالوسره په توښه اوپه سلاحه سره وَاَنْفُسِكُمْ اوپخپلو
ځانوسره چه ځان سولوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ دخدای په لارکښی ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
دا تلټ وغن انته وتاسے ته ډیرغوره اوخیردی اِنْ كُنْتُمْ "که تاسی یاست تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾
چه پخپل ګټه اونریان "ټاوان" پوهیږی لَوْ كَانَ که وی داچه ته یې ورلره بیایے
عَرَضًا قَرِيْبًا کوم متاع "سامان" واخیستونه نژدی وَّسَفَرًا قَاصِدًا او سفروی میانه
اواسانه لَّاتَّبَعُوْكَ نوخامخا به دوی ستا پیروی کړی وای ددی مبلغ پرطمع وَ
لٰكِنْۢ بَعُدَتْ اولیکن لیری سوی دی عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ؕ پردوی باندی هغه مسافت
چه په ډیرمشقت سره قطع کیږی وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اوشرر دی چه دوی بقسمونو
کوی په خدای سره یعنی کله چه بیاتاسی دتبوك څخه بیرته راسی نودا پاته سوی
خلك اوکورونه به وتاسی ته قسمونه اخلی لَوِ اسْتَطَعْنَا که زمونږ طاقت وای د
سفر لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ نوخامخا به مونږ دتاسي سره په دی سفر وتلی وواو دا
قوله قسمونه په درواغو اخلے يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ دوی هلاکوی خپل ځانونه په
درواغجنو قسمونو سره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخدای پوهیږی اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۴۲﴾ چه بیشکه

ع ۶ ۱۲

چه دوی خاخا در واینجنان دی په دی قول کښی روایت دی چه هرکله بعضی خلکو د تبوك په غزا کښی د رسول ﷺ څخه اذن اوغدر وپاته کیدلو وغوښتی نو دهٔ و وحی ته انتظار و نه کړی اوپخپل فکر سره پی اذن ورکړی نو عتاب راغلی مگر عفوه پی مخکښی ذکر سوه د پاره داظهار د لطف نو نازل سو عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ عفوه وکړه خدای وتا ته داذن ورکولو وده وی تهٔ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ ولی تا اذن وکړی ودوی ته دپاته کیدلو د غزا څخه بیله مهلته بلکه مهلت اوخُنډ به دی کړی وای په دی اذن کښی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ ترهغوپورې چه بنکاره سوی وای لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وتا ته هغه کسان چه صادقان دی په دی عذر کښی چه وتا ته پی بیان کړی وه وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۴۳﴾ اوتا معلوم کړی وای در واینجنان لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ اذن نه غواړی د تا څخه هغه کسان يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه ایمان راوړی پرخدای د زړه په اخلاص سره وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اوپرورځ د قیامت باندی اَنْ يُّجَاهِدُوْا دا دی خبری چه دوی جهاد وکړی بِاَمْوَالِهِمْ پخپلو مالو سره وَاَنْفُسِهِمْ اوپخپلو ځانو سره وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۴﴾ پرځان ساتونکو باندی دپاتکیدو څخه اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ بیشکه هم داخبره ده چه د تا څخه د پاته کیدلو اذن غواړی هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه دوی ایمان نه راوړی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او د قیامت پرورځ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ او دوی زړونه په شك کښی لویدلی دی دډینه څخه داسلام فَهُمْ نو دوی فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿۴۵﴾ په دی خپل شك کښی سرګردانان او متحیر دی وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ اوکه دوی اراده وای دوتلو غزا ته لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً نو خامخا به دوی ودی خروج ته اسباب د سفر تیار کړی وای او د تاسی سره به وتلی وای وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ اولیکن وخدای ته خوښ نه وه دا سره ایندل اوپورته کیدل د دوی ودی سفر ته فَثَبَّطَهُمْ نو دوی پی موقوفه کړه اوسستی اوکاهلی پی پروکمار له وَقِيْلَ اقْعُدُوْا اوورته وویل سوه

شرد دی چه دوی به خدای داخل کړی فِي رَحْمَتِهِ ځایځپل رحمت کښی إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ بیشکه چه خدای د متصدقانو بخښونکی دی رَّحِيمٌ ﴿۹۹﴾ مهربانه دی پر متقرّبانو باندی وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ او په سرکښی اول ایمان راوړونکی چه دی د تولو مسلمانانو څخه مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ د مهاجرو څخه او دوی هغه څوک دی چه دواړو قبلوته یې لمونځ کړی دی یا چه وبدر ته حاضر سوی دی یا چه په بیعة الرضوان کښی وه وَالْاَنْصَارِ او د انصارو څخه او دوی هغه څوک دی چه اهل د عقبیٰ اولیٰ دی چه اووه تنه وه او اهل د عقبیٰ ثانی دی چه اویا تنه وه او هغه چه د مصعب بن عمیر په لاس یې ایمان راوړی دی نکی د بیعت څخه د عقبیٰ ثانی وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ او بل هغه کسان چه د دی سابقانو متابعت یې کړی دی بِاِحْسَانٍ په نیکی سره چه ایمان او طاعت دی او د انو مهاجرینو او انصارو دی غیر د هغه سابقینو څخه یا نور مسلمانان دی ترقیا مته پورې رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ راضی سو خدای د دوی څخه د طاعت په قبلولو سره وَرَضُوْا عَنْهُ او دوی هم د خدای څخه راضی سوه چه د دین او د دنیا نعمتونه یې پر دوی باندی پیرزه وکړه وَاَعَدَّ لَهُمْ او تیار کړی یې دی دوی لپاره په اخرت کښی جَنّٰتٍ جنتونه تَجْرِيْ باغونه چه بهیږی تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د ونو یا بنګلو د هغو څلور قسمه ولی خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا د تل په وی په دی باغونو کښی همیشه ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۰۰﴾ دا لوی بری دی وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ او بعض د هغه چا څخه چه ترتاسی چاپیره پراته دی مِّنَ الْاَعْرَابِ منافقون ځانونه د صحرا نشینانو نو منافقانو څخه چه هغه اسلم او اشجع او غفار او بعض د جهینو او د مزینو دی وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ تنی او د مدینی د خلکو څخه هم یو قوم دی مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ تن چه عادت یې بنولی دی پر منافقت او داسی ماهر دی په نفاق کښی کله څه تم دومره زیرک یې لَا تَعْلَمُهُمْ د تہ نه سی معلوم ولای دوی نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ د هم د امور د دوی پیژنو او تاد دوی په اسرارو خبرو وو سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ژردی چه دوی به دوه واره په عذاب کړو دلته په رسوایی سره او هلته د قبر په عذاب سره

ع ۱۴

مع ۱۲ وقف منزل

مه یعنی چسل ځلمان نڑدی کرنکی وغنمای ته ۱۲

یا په زکواة او په جهاد سره ثُمَّ يُرَدُّونَ بیا به بیرته دوی بوتلل سی د قیامت په ورځ
إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿۱۰۱﴾ ولوی عذاب ته چه ددوزخ اوردی **روایت** دی چه هرکله
لس تنه خاص مؤمنان دتبوک ځخه پاته سوی وه بیله عذر بیا چه دوی خبرسوه
په ایتو دعتاب د متخلفانو سره نو اووَ کسانو چیل ځانونه مسجد په ستنو پوری
وترل اوقسم یې وکړی چه غیږد رسول ﷺ به په بل چا ځان ایله نه کړو بیا چه دی
دغزا ځخه راغلے او و مسجد ته ننوتی ذَٰلِكَ وَكَانَ ادآکولو دپاره نو دوی یې ترلی ولاړ
ولید ل نو پوښتنه یې وکړه چه دوی ولی ترلی دی اوچا داقوله حال ورته بیان
کړی نو ده هم قسم وکړی چه نرخوا مرنه دی راغلے نو زه به یې هم ایله نه کړم
نو نازل سوا خَرُونَ اعْتَرَفُوا او نورخلك دی غیږ دهغومذکورو منافقانو ځخه چه
دوی قائله سوی دی بِذُنُوبِهِمْ پخپلو گناهو سره خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا دوی ګډ کړی
دی نیك عمل چه پښیمانی ده پر یا تاکید لو دغزا ځخه او اعتراف دی وَآخَرَ سَيِّئًا د
اوبل بدعمل وو چه هغه نه تلك وو وغزا ته عَسَى اللَّهُ بنایی چه خدای أَن يَتُوبَ
عَلَيْهِمْ د داسی وکړی چه ددوی توبه قبوله کړی إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ بیشکه چه خدای
بخښونکی دی دتائبانو رَّحِيمٌ ﴿۱۰۲﴾ مهربانی کونکی دی پردوی **روایت** دی چه هرکله دا
ایت راغلی نو رسول ﷺ دوی ایله اوخلاص کړل نو دوی بیا وویل چه مونږ د مالو محبت
په سبب دجهاد ځخه محروم سو نو دا مال ته واخله او دخدای په لار کښی یې ولګوه نو
ده ورته وویل چه زه ستاسی دمالو په اخیستلو سره مأمور نیم نو نازل سو خُذْ
مِنْ أَمْوَالِهِمْ واخله ای رسوله ددوی دمالو ځخه صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ خیرات یا
زکواة چه ته دوی پاك کړی دګناهو ځخه یا دمال دمحبت ځخه وَتُزَكِّيهِم بِهَا او بیا
ته ښه پاك کړی دوی په نریادت دحسنا توسره ددغه صدقې وَصَلِّ عَلَيْهِمْ د او
مهربانی وکړه پردوی باندی په طلب د مغفرت سره دما ځخه إِنَّ صَلَاتَكَ بیشکه

ده په قهر کولو د مخالفت کولو دغزا ځخه ۱۲ منه یعنی دوه رکعاته لمونځ ئے کاوی ځکه چه دا دوه رکعاته لمونځ
په وخت کښی د راتلو د سفر ځخه مستحب دی ۱۲

ستا دعا چه ده سَكَنٌ لَّهُمْ ط دل ارامی ده دوی لره وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ اوخدای اوریدونکی
دی ستا دده عَلِيْمٌ ﴿۱۰۳﴾ دانا دی په لایق توب ده دوی دعا ته اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا ایا دا تاسُبان
نه پوهیدل اَنَّ اللّٰهَ په دی سره چه بیشکه خدای هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ هم دی توبه
قبلوی عَنْ عِبَادِهٖ د خپلو بندګانو وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ او اخلی یا قبلوی صدقې ده دوی
وَاَنَّ اللّٰهَ اوبیشکه چه خدای چه دی هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾ هم دی توبه قبلونکی
اومهربانه دی پرتوبه ګارانو باندی وَقُلِ اعْمَلُوْا او ته و دوی ته ووایه چه تاسی عمل
کوی اوخطاب وتاسُبانو ته دی دثبات یا وُنوم ته دی دتوبے فَسَيَرَى اللّٰهُ نوښرد ے
چه وبه وینی خدای عَمَلَكُمْ عمل ستاسی که خیروی اوکه شروی وَرَسُوْلُهٗ او
دده رسول بهٗ هم وبینی وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط او مؤمنان بهٖ بی هم وبینی وَسَتُرَدُّوْنَ
اوښرد ی چه تاسی به بیرته په مرګ سره بوتلل سی اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وهغه خبردار ته
په پټوسره وَالشَّهَادَةِ او په ښکاره سره فَيُنَبِّئُكُمْ نو دی به تاسی خبرکړی بِمَا كُنْتُمْ
په هغو کارو سره چه تاسی واست تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ چه کول به موتنبیه :- داچه تیر
سوه دا احوال داوو تنوره دهغولسو تنوځمنه چه د تبوک ځمنه پاته سوی وه اوهرچه -
هغه نوردرے دی چه کعب اوهلال او مراره دی هغوچیل ځانونه ونه ترل مکر
په عذرخواهی سره رسولؐ ته راغله اوده قبول نه کړی اوحکم بې وکړی چه هیڅوک
دی خبرے اوجلس نه ورسره کوی نوده دوی په حق کښی نازل سو وَاٰخَرُوْنَ
اونوردی د متخلفانو ځمنه مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ چه مهلت ورکړه سوی دی دپاره
دامر دخدای ددوی په حق کښی اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ چه یا به په عذاب وی دوی که
اصرار اختیارکړی دوی پرګناه وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ط اویا به توفیق دتوبې ورکه
ددوی ته اومهربانی به وکړی پردوی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدای دانا دی ددوی پاحوالو
حَكِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ پرحکمته دی چه دوی بې اړکړه وتوبې ته روایت دی چه یوسړی ابوعامر
نومیدی داشل فرنځمنه دخزرج دوچه په توراتو اوانجیل کښی د پرما هر دوا وهیشه به

عه یعنی سره دیرځمنه جوړ و دسمی ۱۲ منه دوراسته اړتیه کیږی دوکړو ۱۲

پې د مدینې وخلکو ته د رسولؐ لغت بیانا وی بیا چه دی پخپله مدینې ته راغلے او د خلکو مخ و ده ته سوا بو عامرد ډیره حسدۍ د رسولؐ په ذمه لاس پوری کړی او دبد رتر جنګ وروسته بیا مکې ته وتښتیدی او په اُحد او په حُنین کښې هم دکفارو سره راغلی وو په جنګ کښې اوبیا وروهر ته ولاړی دی دپاره چه د هرقل څخه لښکر راخلی او پر مدینه باندی جنګ وکړی او بیا د هغه ځایه څخه پې ومنا فقانو ترخط راولیږی چه وماته د مسجد قبا پرځنګ یو بل مسجد جوړکړی چه نږه د رسم او درس پکښې وکړم بیا چه دوی مسجد جوړکړی نو رسولؐ ته راغلل چه موږ یو مسجد جوړکړی دی د ضعیفانو او مریضانو دپاره چیرې وی او دلته نه سی راتللای خو اول ته لمونځ پکښې وکړه چه مبارک سی نو ده ؐ ورته وویل چه د تبوک ځنګ راسم نو به لمونځ پکښې وکړم نو بیا چه د تبوک ځنګ راغلی نو دوی بیا په لار کښې ورته راغله نو ده و لمانځه ته د و رتلو اراده وکړه نو نازل سو وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا او هغه کسان چه یو لی یعنی جوړکړی پې ؐ د خپل ځان څخه مَسْجِدًا ضِرَارًا یو مسجد دپاره د ضرر رسولو ومؤمنانو ته وَكُفْرًا او دپاره د تقویت د هغه کفر چه دوی پخپلو نړوکښې پټ کړی دی وَتَفْرِيْقًا او د بیلتون اچولو دپاره بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ په ما بین کښې د مؤمنانو چه په مسجد قبا کښې لمونځ کوی چه جمعه پې سره تا ړه تارسی وَاِرْصَادًا او دپاره د پټو نې جوړولو لِمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ د هغه چا دپاره چه د خدای سره پې جنګ جوړکړی دی وَرَسُوْلَهٗ او د ده د رسول سره مِنْ قَبْلُ د مخکې تر جوړولو دی مسجد په اُحد او په حُنین کښې چه هغه ابو عامر دی وَلَيَحْلِفُنَّ او خامخا دوی قسم کوی که څوک پوښتنه حُنی وکړی چه تاسی دا مسجد ولی جوړکړی دی اِنْ اَرَدْنَآ چه موږ د دی مسجد په جوړولو سره اراده نه ده کړې اِلَّا الْحُسْنٰى د مګر نیکی چه ارتګا هی ده ؐ پرعاجزانو د لمانځه په باب کښې وَاللّٰهُ يَشْهَدُ او خدای شاهدی دا کوی اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ چه بیشکه دوی خامخا دروانجمان دی په دی قسم کښې لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ مه دریږه په دی مسجد کښې هیڅکله د لمانځه دپاره نو بیا رسولؐ اصحاب ورولیږل او هغه مسجد

یې خراب کړی او په هغه ځای کښې یې ویران جوړ کړی لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ خامخا هغه مسجد چه اول تاډی یې ایښو سوی دی عَلَى التَّقْوٰى پر پرهیزګاری باندی چه هغه مسجد قبا یا د رسول مسجد دی مِنْ اَوَّلِ یَوْمٍ د اولی ورځې څخه اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِیْهِ د دیرلایق دی دې چه ته ودریږې په هغه مسجد کښې د لمانځه د پاره چه پرتقوی جوړ سوی دی

اشعار

اے مذله منتقمه هم قهار ذوالجلاله
داعاجزه بنده چه ستاوی دښمنانو کړی ملاله

که دینی که دنیوی دی دده ز ره یې کړی ملول
اوکه عرض یې ته وانه وری په ژړا ورسی چاله

ددی دوه فیلې د مخه دښمنان یې کړه بے پایه
چه یې دی دشر خلاص سی اے قادره لایزاله

دوی اخته پخوا صورت کړی چه یې دی ذکره وری
اوفارغ سی دتشویشه په نعمت دی سی خوشحاله

داسوال ! ته مهربانه قبول کړی له مراده
د حضرت د پاکه رویه اے قیومه بے مثاله

فِیْهِ رِجَالٌ په دی مسجد کښې چه پرتقوی بنا دی سړی دی داسی یُّحِبُّوْنَ اَنْ یَّتَطَهَّرُوْا چه دوی مینه لری پردی چه دوی پاک کړی خپل ځانونه د گناهو او بد وخصلتو یا د جنابته چه په جنابت کښې نه بدیږی وَاللّٰهُ یُحِبُّ الْمُطَّهِّرِیْنَ (۱۰۸) او خدای پاکی کونکی د ځان خوښوی اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْیَانَهٗ ایا نو هغه څوك چه کښیږدی تاډی د بنا د دین خپل عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ پر پرهیزګاری او پر بیره د خدای څخه وَرِضْوَانٍ خَیْرٌ او پر طلب د رضامندی د ده دا ډیر غوره دی اَمْ مَّنْ او که هغه څوك غوره دی اَسَّسَ بُنْیَانَهٗ چه ایښی یې وی تاډی د عاقبت د بنا د دین خپل عَلٰى شَفَا جُرُفٍ پرکناره د هغه رود

چه بخ یې د سیلاب او بو وړی وی او سر بیړه سړی پرځای ولاړ وی هَارِ چه نږدې ونکی وی عنقریب چه چاوړ نه پکښی سوی وی فَانْهَارَ بِهٖ نو ونړیږی دا بنا او ولویږی دهغه باڼی سره فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ دوږخ په اوږکښی فَائْدٓ دامثال ددوا پر وطایفو دی چه مؤمنان او منافقان دی چه مؤمنانو تاوّدی دخپل دین بنا پر پرهیزګاری اینبی دی اوپرطلب دخدای درضامندی نوعاقبت یې جنت دی اوکفارواومنافقانو پرسرکښی اوبے فرمانی اینبی دی نوعاقبت یې دوږخ دی وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ اوخدای سمه لار نه ښیی دظالمانو وړلی ته لَا یَزَالُ بُنْیَانُهُمُ الَّذِیْ هیښه به وی مانی دنفاق ددوی بَنَوْا رِیْبَةً چه دوی بناکړی ده موجب دشك اود نفاق فِیْ قُلُوْبِهِمْ پخپلوزړوکښی اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ مګرچه پارچه پارچه سی زړونه ددوی وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ اوخدای دانا دی ددوی دبنا پرایښولوچه ع ۱۱ ۲ پهکومنیت وی حَكِیْمٌ ﴿۱۱۰﴾ پرحکمته دی په هرڅه کښی اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی بیشکه خدای اینسی مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَنْفُسَهُمْ دمؤمنانو سرونه ددوی وَاَمْوَالَهُمْ او مالونه ددوی یعنی چه سرونه اومالونه خپل په جهاد کښی بسندی بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ په دی چه بیشکه دوی لوړه په عوض کښی جنت مقرر دی په دی شان یُقَاتِلُوْنَ چه دوی به دکفارو سره جنګونه کوی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ دخدای په لار کښی فَیَقْتُلُوْنَ نوهرکله به دوی کفار قتلوی وَیُقْتَلُوْنَ قف اوکله به دوی قتل کیږی دهغود لاسه وَعْدًا عَلَیْهِ حَقًّا وعده کړی ده خدای ددوی سره په دی بیع اوشرا کښی وعده حقه یعنی رښتیا بے خلافه بے شبهی اوهداسی حکم وړ فِی التَّوْرٰىةِ په تورات کښی وَالْاِنْجِیْلِ او په انجیل کښی هم وَالْقُرْاٰنِ ؕ او په قرآن کښی هم وَمَنْ اَوْفٰی اوڅوك دی ډیروفا کونکی بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ پروعده خپله ترخدای ځکه چه هیڅ کریم وعده خلافی نه خوښوی فَاسْتَبْشِرُوْا نوتاسی خوشحاله سی بِبَیْعِكُمُ الَّذِیْ په هغه خرید اوفروخت سره چې بَایَعْتُمْ بِهٖ ؕ

عه یعنی سره دهغه جوړونکی ۱۲ عه سره ددی چه هم ده پیدا کړی دی ۱۲

چه تاسی عقد کړی دی په هغه سړه وَذٰلِكَ او دا بیعه چه ده هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿۱۱۱﴾ هم دالویه برخورداری ده سړایت دی چه هرکله رب العزت د مؤمنانو تیزول او باعث کول پرجهاد باندې کړه تمثیل سړه وبیع اوشرا نو اوس ئې مدحه کوی په دی نوخصلتو سړه نو وایی چه دا لحکی ذکر سوی مؤمنان چه دی اَلتَّآئِبُوْنَ راګرځیدونکی دګناهونو معاصیو څخه اَلْعٰبِدُوْنَ عبادت کونکی دی دزړه په اخلاص سړه اَلْحٰمِدُوْنَ ثنا ویونکی دی درب په هر حال کښی اَلسَّآئِحُوْنَ تلونکی دی په جهاد یا په طلب پسې وعلم اَلرّٰكِعُوْنَ رکوع کونکی دی اَلسّٰجِدُوْنَ سجده کونکی دی پخپل لمانځه کښی اَلْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ امرکونکی دی وخلکو ته په نیک کار سړه چه ایمان اوطاعت دی وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ او منعه کونکی دی د بدو کارو څخه چه کفراوعصیان دی وَالْحٰفِظُوْنَ اوساتونکی اوفهم کونکی دی لِحُدُوْدِ اللّٰهِ د خدای د احکامو وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ اوزیری وکړه پرمؤمنانو یعنی پردغه موصوفینو په دغو صفاتو سړه او مُبَشِّرِ په مخذوف دی د تعظیم دپاره یعنی زیری پروکړه د هغوشیانو چه نه چالیدلی دی اونه چا اوریدلی وی روایت دی چه هرکله ابوطالب په مرض موت سړه پریواتی نو رسول ورته وویل چه اوس سمه وایه چه زما وخدای ته د سفارش عذرجوړ سی اوهغه داخبره قبوله نکړه نو بیایی ورته وویل چه نره به تل د خدای څخه بخښنه درته غواړم ترهغو پورې چه منعه نه وی راغلی نو بیایی پس دمرګه هم بخښنه ورلره غوښتله نو اصحابو وویل چه دتی خپل تره ته بخښنه غواړې ابراهیمؑ هم خپل پلار ته بخښنه غوښتی وه نومور ولی خپلو پلرونو ته بخښنه نه غواړو نو نازل سو مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ نه دی رواو پیغمبر ته وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اونه وهغوکسانو ته چه ایمان یې راوړی دی اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ د اچه بخښنه غواړی د مشرکانو نه ته وَلَوْ كَانُوْٓا اوګه څه هم دامشرکان وی اُولِيْ قُرْبٰى خاوندان د خپلوی مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ روسته ترهغه چه ښکاره سی ودوی ته اَنَّهُمْ چه بیشکه دامشرکان چه دی اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۳﴾ ملازمان د دوزخ دی یعنی پرکفر مړه دی وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ اونه وه بخښنه غوښتل د ابراهیمؑ لِاَبِيْهِ د خپل پلار د پاره

اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ مگر د پاره دوفا په هغه وعده سره وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ چه ده دا وعده کړې وه د دې پلار سره چه د مناظرې په وخت کښې يې ورته ويلې وه چه سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ ربی دې جهته چه پلار ورته ويلې وه چه زه به ايمان نه راوړم فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ نو هر کله چه معلومه سوه ورته اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ چه بيشکه دې د خدای دښمن دې تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ نو بيزاره سوه د ده څخه او بيا يې نه بخښنه ورته ونه غوښته اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ بيشکه چه ابراهيم وو لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾ خامخا د يراه کونکی صبرناکه وو يعنی دير مهربانه اونرم دله وو نو تردې حده چه پلار ورته وويل لَاَرْجُمَنَّكَ واهجرنی ملياً اوده په جواب کښې ورته وويل سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ ربی بيا نو رب العزت عذر خواهی کوی د تيرا ستغفار د رسول اود مؤمنانو او اې وَمَا كَانَ اللّٰهُ اونه دی خدای لِيُضِلَّ قَوْمًا چه ولغزوی "گراه کړی" هيڅ قوم بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ وروسته ترهغه چه ودوی ته يې د اسلام لار وربنوولی ده حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ ترهغو پوری چه بيان کړی ودوی ته مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ هغه شی چه دوی ځان ځنی وساتی اِنَّ اللّٰهَ بيشکه چه خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ پرهر شی دانا ځکه چه هر پوه اوورسوه ستيوا حوالو څخه دده وی اِنَّ اللّٰهَ بيشکه چه خدای چه دی لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ خاص هم ده لره پاچاهی د اسمانونو ده وَالْاَرْضِ ؕ او د ځمکی يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ چه ژوندی کول اووژل کوی وَمَا لَكُمْ او نسته تاسی لره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ بيله خدايه مِنْ وَّلِيٍّ هيڅوک يار وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾ اونه هيڅوک مدد گار لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ خامخا په تحقيق سره خدای توبه قبوله کړه او مهربانی يې وکړه عَلَى النَّبِيِّ پرپيغمبر عليه السلام باندی چه ومنافقانو نه تر يې د پاتی کيدو اذن کړی وو وَالْمُهٰجِرِيْنَ اوپرمهاجرو باندی هم وَالْاَنْصَارِ اوپرانصارو هم چه دغزا څخه يې نفرت کيدی مگر طبعی نه عنادی الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ هغه مهاجراو انصار چه درسول پيروی يې کړی وه فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ

عه يعنی ابراهيم وخپل پلار ته ويلی وه چه ژړی چه زه به ستا د پاره وخپل رب مخه څخه وغواړم ۱۲ عه يعنی پلار د مناظرې په وخت کښې ورته ويل کړی وو چه تر چيری د مسلمانی ډير د څخه راوانه وړی نو خامخا قسم دی په سنگسار به دی کړم اوځه راڅخه ورک سه ويرموده چه ودی نه وسيزم ۱۲

دتنگی اوسختی په وخت کښی هم د مرکب په وجه چه پرلسو تنو به یو اوښ رسیدلی وو
اوهم د توښی په وجه چه دوو تنو به دخرما په یوه دانه ورځ تیروله اوهم داد بو په وجه چه
سره دقلته د مرکبه اوښ به یې حلال کړی او دهغه په رطوبا تو به یې شاعت تیراوی مِنْ
بَعْدِ مَا كَادَ وروسته تر هغه چه نژدی وو د دی ته چه يَزِيغُ مائل سی د هغوی سختی
په سبب سره و بیر ته گرځید لو ته د چا دځمه یاد رسول د متابعت څخه قُلُوبُ فَرِيقٍ
مِّنْهُمْ زړونه د یوی ډلی د دوی څخه ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ بیا خدای رجوع وکړه پردوی
إِنَّهُ بِهِمْ بیشکه چه دی پردوی باندی رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۱۷﴾ ډیر مهربانه اورحم کونکی دی
وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ او خصوصاً پرهغو درو تنو باندی خُلِّفُوا اطه چه د تبوک څخه پاته سوی
وه او حکم الهی ته منتظر او حیران ناست وه اوهیڅوا به ترڅلو لیښتو و رځو پورې
التفات نه ورته کاوی بیا څلی بنځی هم څنی منعکره سوی همداسی ترټیل سوی به
گرځیدله حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ ترهغو پورې چه تنگه سوه عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ پردوی باندی مځکه په
سبب د بی التفاتی سره دخلگو دوی تهبِمَا رَحُبَتْ سره د داسی فراخی ددی وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ
او بل تنلې سوه پردوی أَنفُسُهُمْ خپل ځانونه یعنی زړونه د دوی د دیره غمه څخه وَظَنُّوا أَن
لَّا مَلْجَأَ اودوی په یقین سره پوه سوه چه ځای د تیښتی نسته مِنَ اللَّهِ د قهره څخه د
خدای إِلَّا إِلَيْهِ مگر هم وده ته دی په طلب د مغفرت سره ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ بیا یې رجوع
وکړه پردوی باندی په قبلولو د توبې سره وروسته تر هغو سو رځو لِيَتُوبُوا د دی د
پاره چه دوی داخل سی په تولی کښی د توابینو إِنَّ اللَّهَ بیشکه خدای چه دی هُوَ ع ۱۵ ۲
التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۱۱۸﴾ هم دی قبلونکی د توبې دی مهربانه دی پرتا ئبا نو يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ای مؤمنانو د خدای څخه و بیرېږی او بیا داسی مخالفت مه کوی
وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ﴿۱۱۹﴾ او اوسی همیشه درشتینو سره په ایمان یا په عهد یا په نیت او
قول یا د خدای په دین یا په توبه کښی مَا كَانَ نه دی روا لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ د مدینی و
خلگو ته وَمَنْ حَوْلَهُم او هغه چا ته چه چاپیره دی پردوی مِّنَ الْأَعْرَابِ د صحرا

نشینانو څخه اَنْ یَّتَخَلَّفُوْا دا کار چه پیرته «شاته» پاته سی دوی عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ د خدای درسول څخه او مراد دوی نفی څخه عُنْهُ نهی دی وَلَا یَرْغَبُوْا او نه داچه رغبت او مینه کوی دوی بِاَنْفُسِهِمْ پرخپلو ځانو عَنْ نَّفْسِهٖ ط د نفس څخه درسولؐ یعنی دوی دی دا سی نه کوی چه خپل ځانونه دی پرارام کړی او دی په مشقت کښی پریږدی روایت دی چه ابوخیثمه انصاری دغزا څخه پاته سوی وو بیا یوځورځی وروسته وباغ ته راغلی او ښځی یی ترسوریٔ لاندی ځای ورته سم او آبپاشی کړی او ډرۍ یی پروا چوله او تازه خرما اوښکی اوبه ګوګړته کښیښوی چه ده ورته وکتل نو رسول علیہ السلام یی په یاد سو اووی ویل چه نږه به په دی نعمتو کښی بے غمه وخوب ناستیم او رسولؐ بده اهار د لمر په ګرموبا دوکښی روان وی نو هر څه یی پردغه ځای پرینبوول اوپسی ولاړی ذٰلِكَ داوجوب دمتابعت اونهی دمخالفت څخه چه دی بِاَنَّهُمْ په سبب دی سره دی چه بیشکه دوی چه دی لَا یُصِیْبُهُمْ ظَمَاٌ نه رسیږی ودوی ته هیڅ قدرنده وَّلَا نَصَبٌ اونه هیڅ قدرستومانی وَّلَا مَخْمَصَةٌ اونه هیڅ قدرلوږه فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ د خدای په لارکښی وَلَا یَطَئُوْنَ مَوْطِئًا اونه یا پیماله کوی دوی پرځای د ځانوڅخه دکفارو پخپلو پښو یادا سانو په پښوسره یَغِیْظُ الْكُفَّارَ چه په قهر کوی او خفه کوی کفار وَلَا یَنَالُوْنَ اونه رسیږی ودوی ته مِنْ عَدُوٍّ نَّیْلًا څیله دښمنه څخه رسیدل دڅه قدرخفګان دکوم قسم دخفګان لکه قتل یا جراحت یابند یا هزیمت یا داسی نور اِلَّا کُتِبَ لَهُمْ بِهٖ مګرچه لیکل کیږی به ودوی ته په هغه کار سره یعنی جلا جلا پرهر یوه عَمَلٌ صَالِحٌ ط نیك عمل اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَا یُضِیْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۲۰﴾ نه خرابوی اجرد نیکوکارانو وَلَا یُنْفِقُوْنَ اودوی نه ښندی نَفَقَةً صَغِیْرَةً وړه ښندنه نه یعنی لږ لکه پاته سوی ناړه یا داسی نور څه یا یوچاریك یاپاؤ دخرما دابوعقیل په شان وَّلَا كَبِیْرَةً اونه لویه یعنی ډیره دعثمانؓ او دعبدالرحمن په شان وَّلَا یَقْطَعُوْنَ وَادِیًا اونه قطع کړی دوی کومه کنده په کفارو پسی اِلَّا

عہ یعنی مه وروسته کیږی درسول څخه ۱۲ منه یعنی دوی نه وړکوی پرشی دخدای په لارکښی ۱۲

كُتِبَ لَهُمْ مگر چه لیکل کیږی ودوی ته ثواب د هغه او د اعمالو چه دی لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ
ددی دپاره چه جزاء ورکړی ودوی ته خدای اَحْسَنَ مَا كَانُوْا د هیره غوره د هغه کارو
چه دوی وه يَعْمَلُوْنَ (۱۲۱) چه کول بړیې د خدای په لارکښی رَوَايت دی چه هرکله د
پاته سوو خلکو به حق کښی د پرعتاب راغلے نو مؤمنانو ووېل چه که ددی وروسته
بیا غزا پیښه سوه نو تولو به حُضُوغزاته نو نازل سو وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ اونه بنایې
اونه دی سړوا د مؤمنانو ته لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ط دا چه تولو غزاته سړان سی فَلَوْلَا نَفَرَ
نو ولی داسی نه کوی چه غزاته ولاړ سی مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ د هری قبیلې څخه مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ
ددی مؤمنانو څخه یوه طائفه اونور دی کور پاته سی لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ ددی دپاره
چه ځان پوه کړی په دین کښی چه بیا یې په احکامو سره پخپله عمل کوی وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ او
بل ددی دپاره چه دوی خپل قوم یعنی غازیان وه بیروی اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ په هغه وخت ۱۵
کښی چه بیرته راوګرزی دغزا څخه ودوی ته لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ (۱۲۲) بنایې چه دوی ځان ع ۱۵
وساتی د هغه کار وشخه چه څنی بیروبل کیږی يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو قَاتِلُوا الَّذِيْنَ
جنګ کوی د هغو خلکو سره يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ چه نږدی اوخرمه دی وتاسی ته دکفارو څخه
یعنی دا کفار وژنی الاقرب فالاقرب وَلْيَجِدُوْا اومیباید چه دوی دی پیدا کړی فِيْكُمْ
غِلْظَةً ط په تاسی کښی اے مؤمنانو تندی اوزیږوالی په قول کښی محکی ترقتال اوصبر
اوشجاعت د جنګ په وخت کښی وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ اوپوه سی چه بیشکه خدای مَعَ
الْمُتَّقِيْنَ (۱۲۳) د پرهیزګارانو سره دی په حفظ او په اعانت کښی وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ ربع
او په هغه وخت کښی چه سړه ولیږل سی یوکوم سورت د قرآن فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ نو
بعض ددی منافقانو څخه هغه څوک دی چه وایې وهغه ضعیفانو د مؤمنانو ته پر
طریقه د انکار اود مسخرو سره اَيُّكُمْ زَادَتْهُ چه کوم یو دی د تاسی څخه چه وده ته ورکړی
هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ط دی سورة ایمان یعنی کوم یو دی د تاسی څخه چه دی سورة د هغه ایمان

ف یعنی هغه چه قریب اونږدی دی یعنی قوله کافران وژنی په هر ځای کښی چه وی ۱۲

زیات کړی دی فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نو هرچه هغه کسان دی چه ایمان یې راوړی دی فَزَادَتْهُمْ اِیْمَانًا نو زیات کړه دوی دی سورة دجهته د ایمان یعنی زیات یې کړی ایمان د دوی وَهُمْ یَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ او حال دا چه دوی زیری سړه کوی او خوشحاله کیږی وَاَمَّا الَّذِیْنَ اوهر چه هغه کسان دی فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه د دوی په زړو کښی رنځ د شك او نفاق دی د حسد او د حقد او د بغض دی فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا نو زیاتوی دا سورة دوی د جهته د پلیتی چه هغه کفر دی یعنی د دوی کفر زیاتوی چه دی شان سړه چه دا کفر پیوسته سی اِلٰی رِجْسِهِمْ په هغه کفر سړه د دوی چه پرې خو اینو سورتو باندی وو وَمَاتُوْا او د دوی مړه سوه وَهُمْ کٰفِرُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ اوحال دا چه دوی کافران وو اَوَلَا یَرَوْنَ ایا دوی نه وینی اَنَّهُمْ یُفْتَنُوْنَ چه بیشکه دوی اخته کیږی په رنګارنګ افتو سړه لکه قحطی او مرض او داسی نورا فات فِیْ کُلِّ عَامٍ په هر کال کښی مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَیْنِ یو وار یا دوه واړه ثُمَّ لَا یَتُوْبُوْنَ بیا سړه د دی دوی توبه نه وکاږی د نفاقه څخه وَلَا هُمْ یَذَّکَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ او نه دوی په د ی ابتلاءسړه پند اخلی وَاِذَا مَاۤ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ او په هغه وخت کښی چه راولیږل سی یو سورة د قرآن چه د دوی عیبونه پکښی بیان سوی وی نَظَرَ بَعْضُهُمْ نو کوری یه بعضی د دوی اِلٰی بَعْضٍ ط بعضو نورو ته او یو تر بله به اشاری سړه کوی په ستر کو سړه پرطریقه د انکار او د مسخرو سړه اویا به پچپل مینځ کښی سړه وایی هَلْ یَرٰىکُمْ مِّنْ اَحَدٍ ایا تاسی نه وینی کومړیوه دی مسلمانانو څخه یعنی که د چا فکر وموږ ته نه وی نو موږ به د دی مجلس څخه ولاړ شو او که چیرته وخکه چه د ده خبر وطاقت موږ نه لرو او خندا هم وکړه راځی خو د شرمندګی څخه بیرته ولاړ شو او نوکه به چا لیدل خو نا ست به وی اوکه به چا نه لیدل نو به د مجلس څخه ولاړ شو بیرته لکه چه واړی ثُمَّ انْصَرَفُوْا د نو بیا دوی ولاړ سی او د رسول د مجلس څخه وګرځی صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ خدای د دوی زړونه د قرآن د فهمولو څخه یا د ایمان د قبلولو څخه یا د قبولو نیکیو څخه ماګرځول دی یا تَّهُمْ قَوْمٌ په سبب د دی سړه چه د دوی یو د اسی قوم دی

عه یعنی والله تعالیٰ به از ایشان متنفر باشد ۱۲

لَا یَفْقَهُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ چه پخپل سود او زیان نه پوهیږی لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ خامخا په تحقیق سره وتاسی ته راغلی دی استاذی مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ستاسی دجنس څخه ای بنی آدمو یا ستاسی د نسب څخه اے قریشو یا ستاسی دخپلی ژبی او قوم څخه ای عربو عَزِیْزٌ عَلَیْهِ ډیر سخت اودرونده دی پرده باندی مَا عَنِتُّمْ هرهغه کار چه په محنت اومشقت کښی تاسی په لویږی حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ ډیر حرصناکه دی پر تاسی یعنی ستاسی ایمان اوپرصلاحیت باندی بِالْمُؤْمِنِیْنَ پر مؤمنانو باندی رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾ مهربانه اورحم کونکی دی فَاِنْ تَوَلَّوْا نو که منافقان شاکړی اومنعه وکړی دیاری اومدد کاری او دفرمانبرداری څخه ستاسی فَقُلْ حَسْبِیَ اللّٰهُ وَ نو ته وایه ودوی ته چه بس اوکافی دی زما خدای نوستاسی دشرې څخه به می وساتی اومابه درباندی غالب کړی لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نسته دعبادت لائق هیڅوك مګر یوازی هم دی دی عَلَیْهِ تَوَكَّلْتُ خاص هم پرده باندی ما اعتماد کړی دی وَهُوَ اوحال داچه دی رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ ﴿۱۲۹﴾ ع

څښتن «خاوند» دی د هغه عرش چه ډیر لوی دی

سُوْرَةُ یُوْنُسَ مَكِّیَّةٌ — اَیَاتُهَا ۱۰۹ — رُكُوْعُهَا ۱۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الٓرٰ تاند علماؤ په دې کښی ډیرتاویلات کړی دی اوپه هغوځمه دادی چه الف دانا اولام مراد الله اور درحمٰن څخه دی یعنی انا الله الرحمن معنیٰ داچه زه خدای یم مهربانه تِلْكَ دا په راتلونکی اومحکمه کښی چه ویل کیږی اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِیْمِ ﴿۱﴾ ایتونه د هغه کتاب دی یعنی دقرآن چه پرحکمته دی روایت دی چه هرکله پرې رسول پیغمبری راغله نو مشرانو دقریشو ویل چه ډیر تعجب دی چه خدای بل څوك نه کې پیدا غیږته پیغمبر څخه د ابوطالب چه هغه یې رسول کړی وای نو نازل سوا کَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا ایا و دی خلقو ته عجبه بنکاره کیږی اَنْ اَوْحَیْنَاۤ د اکار چه موږ

وحی وکړی اِلٰی رَجُلٍ مِّنْهُمْ ویره سړی ته دوی د جنسه او قبیلی څخه اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ دی ډاروه چه دانسانانو مخلوق نه ما د عذاب څخه وبیروه وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اونیری وکړه پرهغوکسانو نوچه ایمان یې راوړی دی اَنَّ لَهُمْ چه بیشکه دوی لره مقرره ده قَدَمَ صِدْقٍ لویه مرتبه د صدق قول اود نیت څیل عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په نزد د څیل پروردګار قَالَ الْكٰفِرُوْنَ نو کافران وایی د رسول ترمل تلو ورسته اِنَّ هٰذَا بیشکه داسړی چه دی لَسٰحِرٌ مُّبِیْنٌ ۝۲ خامخا بښکاره جادوګر دی اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ بیشکه چه ستاسی پروردګار هغه خدای دی چه په څیل قدرت یا علم سره یې خَلَقَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی ده اسمانونه وَالْاَرْضَ او ځمکه فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ په شپږو ورځوکښې چه اوله یې یکشنبه اوآخره یې جمعه وه ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ بیادی پرعرش مستولی سو چه اعظم دی د مخلوقاتو تَوْیِیْدُ بِرُّ الْاَمْرَ دی تد بیرکوی دکائناتو دامورو په حکمت بالغه سره مَا مِنْ شَفِیْعٍ نشته هیڅوک شفاعت کونکی دقیامت په ورځ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ط مګردده ترڅو ذن ورسته ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ داپروردګار چه موصوف دی په دی صفاتو سره رب ستاسی فَاعْبُدُوْهُ ط نو هم دده عبادت کوی اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝۳ ایا نوتاسی پند نه اخلی اِلَیْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِیْعًا ط خاصهم ودهٔ ته ورتله ستاسی دی دتولو ترمرګ ورسته وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ط دا خدای وعده ده په رښتیا سره اِنَّهٗ یَبْدَؤُا الْخَلْقَ بیشکه چه دی اول پیدا کوی دا مخلوق ثُمَّ یُعِیْدُهٗ ګ بیا به یې ژوندی کړی مرګ ورسته اودابیا ژوندی کول چه دی لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دده دپاره دی چه جزا ورکړی دی وهغوکسانو ته چه ایمان یې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوښکو عملونه یې کړی دی بِالْقِسْطِ ط په عدل سره وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا اوهرچه هغه کسان دی چه کافران سوی دی لَهُمْ شَرَابٌ مقرر دی دوی لره مخښل مِّنْ حَمِیْمٍ د هغه اوبو چه ایشیدلی وی دوبخ په اورسره وَّعَذَابٌ اَلِیْمٌ ۝ اوبل

درد ناکه عذاب دی بِمَا كَانُوا پە سبب ددی سرہ چه دوی وه يَكْفُرُونَ ۴ چه کافران سوی وه هُوَ الَّذِي دی هغه خدای دی جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً چه ده کړنه ولی ده دلمرتکه درنا خاوندهٔ وَالْقَمَرَ نُورًا او تکه دسپوږمۍ دنورخاوندهٔ کړنه ولے ده پخپل قدرت کامله سره فَائِدَهٔ علماء وایی چه که سرنا بالذات «دخپله خانه» څخه وه نوضیاء ورته ویل کیږی اوکه بالواسطه «دبل شی څخه» وه نو نور بلل کیږی نو ځکه رب العزت وشمس «لمر» ته نسبت دضیاء وکړی او وقمر «سپوږمۍ» ته یې دنور نسبت وکړی چه ددی رنا دلمر څخه ده په هغه وجه کله غټه سی او کله نری سی ځکه دا تکه توره اوډیره صافه کُرّهٔ ده لکه «اینه رهنداره» نو هر کله چې دا شمس «لمر» او قمر دواړه دموږ څخه ویوه طرف ته سی نو هغه نیم نورانی مخ اوطرف یې دموږ څخه یعنی پناه سی او دا قریب تر دوو سرخو پورې وی نو ځکه خلاف وایی چه اوس میاشت دوو به سوه اوبیا چه یوشه قدر ځنی لیری سی نو نری راښکاره سی اوخلاف وایی چه اوس میاشت راوخته نو بیا چه هرځونه ځنی لیری کیږی نو هغه نورانی مخ یې دموږ ته زیات راښکاره سی اوچه منتهی دکمت ته «اخره لیرالی» ورسیږی او موږ ددی او شمس «لمر» ترمینځ سو نو هغه نورانی مخ یې موږ ته قوله راښکاره سی او هغه بدر بلل کیږی اوبیا چه کرار کرار شمس «لمر» ته نژدی کیږی نو بیا بیا کرار کرار نری کیږی ترڅوچه بیا اته ویشتمه ورځ «یعنی اورکت» ۲۸ دوبه سی لکه چه وایی وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ او په اندازه یې کړی سیږدی «لمر» ته اته ویشتو منزلوکښی په اسمان کښی چه نو مونه یې دی شرطین، بطین، ثریا، دبران، هقعه، هنعه، ذراع، نثره، طرفه جبهه، زبره، صرفه، عوا، سماك، غفر، زبانا، اکلیل، قلب، شوله، نعایم، بلده سعد ذابح، سعد بلع، سعد السعود، سعد اخبیه، فرغ مقدم، فرغ موخر، رشا اوداقرده دی اته ویشتو منزلوځخه په هریوه کښی یوه یوه شپه تیروی اوداندازه رب العزت وکړه لِتَعْلَمُوا دوی پاره چه تاسی معلوم کړی عَدَدَ

السِّنِيْنَ شمارہ کلو او میاشتی پخپله په کلو کښی پرتی دی نو حُکه هغه یې نه کړی یا دی وَالْحِسَابَ ط او حساب د میاشتو او د ورځو پخپلو معاملا تو کښی مَا خَلَقَ اللّٰهُ نه دی پیدا کړی خدای ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ج دا مذکور قوله مګر په حق سره نه عبث حُکه چه سره شته د روزګار او موجب د عبرت سی يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ په تفصیل سره بیانوی خدای نبی د خپل قدرت لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۵ د داسی قوم د پاره چه پوهیږی او عبرت په اخلی اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ بیشکه چه په مخا لفت کید لو کښی د شپی وَالنَّهَارِ او د ورځی کښی د جهتو ذلو او د راتلو یا د جهتو د نقصان او د زیادة او یا د جهتو د نورا و د ظلمت وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ او په هغو شیا نو کښی چه خدای پیدا کړی دی فِي السَّمٰوٰتِ په اسمانو کښی ملایکی او لمر او سپوږمۍ او ستوری او نور شیان وَالْاَرْضِ او په مخکه کښی لکه بحار او اشجار او انهار او جبال او حیوانات او نور شیان لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۶ خامخا نښی دی د هغه قوم د پاره چه ځان ساتی د شرّ خامخا تمی څخه او د دلائل دی پر وجود د صانع او پر کمال د علم او د قدرت دده اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا چه اُمید نه لری زمونږ د ملاقات یعنی چه منکرې د حشره وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا او خوښ سوی دی په دی وارې ژوندون سره وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا او دِل ارامی پې پیدا کړی ده په دی دنیا سره یعنی خپل همت پې یې پرهم دی لذا تو «خوند و» صرف کړی دی او د هغه باقی نعمتو او لذ تو څخه غافل سوی دی وَالَّذِيْنَ هُمْ او بل هغه کسان چه دوی عَنْ اٰيٰتِنَا زمونږ د کتاب د اینو څخه یا زمونږ د قدرت د دلائلو څخه غٰفِلُوْنَ ۷ ناخبره وه اُولٰٓئِكَ د اخلاقو چه په څکښی یاد سوه مَاْوٰىهُمُ النَّارُ ځای د دوی دوزخ دی بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۸ په سبب د هغو عملو سره چه وه دوی چه کول بې اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان بې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د نیکو عملونه کوی

یَهْدِیْهِمْ رَبُّهُمْ لا ردجنت به برابره کړی و دوی ته رب د دوی بِاِیْمَانِهِمْ ج په سبب د نورځ ایمان د دوی د قیامت په ورځ تَجْرِیْ چه بهیږی به مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ لاندی ترمینو ر(کورو) د دوی څلور قسمه ولی فِیْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ ⑨ په هغو باغونکښے چه د نعمتو به ډک وی دَعْوٰىهُمْ فِیْهَا سُبْحٰنَكَ د دوی چه به وی خدای لره په دے جنت کښی د دیارہ دکوم مطلب یا د دیارځ د لذت په ذکر څه دده دا به وی چه د دوی به وایی سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ په پاکی سره تا یا د دوو اے پروردگاره نو هر مطلب د دوی چه وی په دی ویلو سره به هغه د دوی ته حاضر سی وَتَحِیَّتُهُمْ فِیْهَا سَلٰمٌ ج او پیشکښے د دوی چه به وی په دی جنت کښی سلام به وی یا د دوی پخپل مینځ کښی سره یا د ملائکو پر دوی یا ندی وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ او اخر ته دبلنی د دوی چه دہ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ دا به وی چه دوی به وایی چه ثنا خدای لره ده رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ⑩ چه د تمام جهان رب دی روایت دی چه هرکله مشرکانو ته په عذاب کښی د پرتلوار کاوی لکه نضر کافر چه ویل چه اے خدایه که دی په حق سره رسول دی نو پرمونږ د اسمان څخه کانی راوړه اوروه یا بل یو سخت عذاب راولیږه نو نازل سو وَلَوْ یُعَجِّلُ اللّٰهُ اوکه خدای تعالی راکړی وای لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَیْرِ د خلکو د پاره د شر په شان د دوی د تلدار په طلب د خیر کښی په قبلولو سره د دوی د دعا لَقُضِیَ اِلَیْهِمْ اَجَلُهُمْ ط نو خامخا به ورلیږل شوی وو د دوی ته اجل د دوی یعنی هلاک سوی به وه فَنَذَرُ الَّذِیْنَ نو مونږ پریږدو هغه کسان لَا یَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا چه د دوی زمونږ د ملاقات امید نه لری یعنی د قیامت څخه منکردی فِیْ طُغْیَانِهِمْ په یاغیتوب یعنی پخپل شرک او ضلال کښی یَعْمَهُوْنَ ⑪ سر گردانه به گرزی وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ او په هغه وخت کښی چه انسان ته سختی یا مرض ورسیږی دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖۤ نو د دی مونږ پرابخ پروت بولی د جمعه د مرض د زړه په اخلاص سره اَوْ قَاعِدًا یا په ناسته سره اَوْ قَآئِمًا ج یا په ولاړه

سرع او مطلب دی تردیدې څخه تعمیم دا حوالودی یعنی په قولو احوالو دمرض کښے به د مومړ ته زاری کوی فَلَمَّا كَشَفْنَا نوهرکله چه مونږ لیږی کړو عَنْهُ ضُرَّهُ دده څخه هغه سختی او مرض دده مَرَّ نو دی څې تیرسی پرهم هغه زړه لاړه لکه چه مخکښی تردی مرض وو او داسی سی كَأَنْ لَمْ يَدْعُنَا چه گویا که ده دسړه مونږ نه وو بللی إِلَىٰ ضُرٍّ مَسَّهُ ط ودفع ته دهغه ضر راوسختی چه وده ته رسیدلی وه یعنی هغه حال دمخنت یعنی هیرکړی كَذَٰلِكَ زُيِّنَ هداسی ښایسته کړه سوی دی لِلْمُسْرِفِينَ واسراف کونکو ته پخپل کفر کښې مَا كَانُوا هغه کفر او معصیت چه دوی وه يَعْمَلُونَ ﴿۱۲﴾ چه کول به یې وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ اوخامخا په تحقیق سړه مونږ هلاك کړی دی اهل دنړۍ مانو مِنْ قَبْلِكُمْ پخوا (ځکه) دتاسی څخه ای د مکی اهل لَمَّا ظَلَمُوا هر کله چه دوی ظلم وکړی په تکذیب دپیغمبرانو سړه وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ اوحال داچه ودوی ته رسولان راغلی وه بِالْبَيِّنَاتِ په ښکاره معجزو سړه وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا اودوی داسی نه وه چه ایمان به یې راوړی دا کله هلاك سوی نه وای اوشروندی یا ته سوی وای اودا په سبب دخدلان الهی سړه كَذَٰلِكَ هداسی نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿۱۳﴾ جزا به ورکوو مونږ وهغه قوله ته د مجرمانو دا هل دمکی چه تکذیب درسول کوی ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ بیا مونږ کولاست ورکړ تاسی اے هغه خلکو چه سړسول وتاسی ته راولیږل سوی دی خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ خلیفگان په مخکه کښی مِنْ بَعْدِهِمْ وروسته ترهغه قرنونو (قومونو) چه هلاك سوی دی لِنَنْظُرَ دده پاره چه مونږ وګورو په ښکاره سړه وروسته نه مونږ ترعلم غیبی كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿۱۴﴾ چه تاسی څرنګه معامله کوی دخپل رب سړ روایت دی چه هر کله کفارو د قریشو د بتانو او دعا بدانو ذکر مې په قرآن کښی واوریدی نو رسول ته یې وویل چه مونږ ته یو داسی ایت راوړه چه دا دم نه وی پکښی یا هم دا منزل کړه په دی شان چه پرځای دایت دعذاب ایت درحمت کښیږده

اودم دبتانو او دعا بدانو نو یې لیږی کړه څنی نو نازل سو وَ اِذَا تُتْلٰی او په هغه وخت کښی ولوستل سی عَلَیْهِمْ اٰیَاتُنَا پردی کفارو دمکی نړمونږ اٰیتونه یعنی قرآن بَیِّنٰتٍ ۵ په داسی حال کښی چه واضح دی قَالَ الَّذِیْنَ نو وایی هغه کسان لَا یَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ناچه امید نه لری د ملاقات نړمونږ و رسول ته ائْتِ بِقُرْاٰنٍ چه وموږ ته راوړه یوداسی قرآن غَیْرِ هٰذَآ چه دی قرآن څخه غیروی چه اوس یې ته وموږ ته لولی (دوایې) یعنی داسی قرآن چه پرموږ اونړموږ پرخدای نوبد نه وایې اَوْ بَدِّلْهُ ۵ یا هم دغه بدل کړه یعنی نړموږ او دبتانو دم څنی لیږی کړه اودغه اب دآیت پرځای آیت د رحمت ولیکه قُلْ مَا یَکُوْنُ لِیْٓ ته ووی ته دوایه چه وما ته نړوا او باندې نده اَنْ اُبَدِّلَهٗ داچه نړه بدل کړم داقرآن په بل یوه باندی مِنْ تِلْقَآیِٔ نَفْسِیْ ۵ دخپله ځانه اِنْ اَتَّبِعُ نړه متابعت نه کوم اِلَّا مَا یُوْحٰٓی اِلَیَّ ۵ مگر هم د هغه شیز چه راليږل سوی دی وما ته بیله نړیادته اونقصانه اِنِّیْٓ اَخَافُ بیشکه چه نړه بیریږم اِنْ عَصَیْتُ رَبِّیْ که بے فرمانی وکړم نړه دخپل رب په تبدیل سړ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ⑮ د عذاب څخه د هغه لوی ورځی قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ بیا ته ورته ووایه چه که دخدای اراده وی مَا تَلَوْتُهٗ عَلَیْکُمْ نو ما به نه وای لوستلی داقران پرتاسی وَلَآ اَدْرٰىکُمْ بِهٖ اونه به خدای تاسی اګاه کړی واست په دی قران سړ فَقَدْ لَبِثْتُ فِیْکُمْ نو په تحقیق سړ نړه په تاسی کښی وسیلے وړ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ۵ د یرعمر چه هغه څلویښت کاله وو مخکی د قران ترنا نړلید و اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ⑯ ایا نو تاسی عقل نه لری چه که ما دځانه څخه جوړ والی نو پخوابه می جوړ کړی وای اونړه به افتراء (دځانه نیونه خبره) په ہل چاپوری ترڼل په خدای پوری ولی کوم ځکه چه فَمَنْ اَظْلَمُ نو څوک دی د یرظالم مِمَّنِ افْتَرٰی ترهغه چاچه دځانه دوتری عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا پرخدای دروغ اَوْ کَذَّبَ بِاٰیٰتِهٖ ۵ یا تکذیب وکړی دده دآیتو اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ⑰ بیشکه شان دادی چه د عذاب څخه

نه سی خلا صیدای کافران وَيَعْبُدُونَ او دا کفار عبادت کوی مِن دُونِ اللّٰهِ غیر دخلایه مَا لَا يَضُرُّهُمْ دهغه بتا نو چه ودوی ته هیڅ ضرر نه سی رسولای چه عبادت پی ونه کړی وَلَا يَنفَعُهُمْ اونه نفعه ورسوسولاسی کړئ عبادت وکړی وَيَقُولُونَ هٰؤُلَاءِ او دوی وایی چه دا بتان چه دی شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللّٰهِ نزمور بشفاعت گر یه نزد دخدای قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللّٰهَ ته ورته ووایه چه ایاتا سے خدای آگاه کوی بِمَا لَا يَعْلَمُ په هرهغه شی چه وده ته معلوم نه دی فِي السَّمٰوٰتِ په اسمانونکښی وَلَا فِي الْأَرْضِ ط اونه په محکه کښی او انتفاء علم دجهته دانتفاء دمعلوم ده یعنی دی دسړ شریك نه لری نو حکه ورته معلوم نه دی سُبْحٰنَهُ وَتَعٰلٰى پاك دی خدای اوبلند شا نه دی عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۱۸﴾ دهغه څخه چه دوی شریکان ورسره پیدا کوی وَمَا كَانَ النَّاسُ اونه وه داخلك إِلَّا أُمَّةً وَّاحِدَةً مگر یوه تولی متفقه پریوه دین دا سلام لکه پخوا «عکی» ترقتل دهابیل پاورسته ترطوفان او یا پریوه دین دکفرلکه په وخت دبعثت دابراهیمکښی فَاخْتَلَفُوا او نوڅتلف سوه سړ په سبب دبعث درسولانو چه بعضو ایمان راوړی اوبعضی پرکفر باندی مصرسوه وَلَوْلَا كَلِمَةٌ اوکه نه وای هغه کلمه سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ چه پخوا مقرر سوی دی په ازل کښی دربه څخه ستا په تاخیر سره دعذاب تر بیلتون «جلاکیدو» پوری دمحققانو دمبطلانو څخه لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ نو خامخا به حکم کړه سوی وای دوی په مابین کښی فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۹﴾ په هغه شی کښی چه په هغه کښی دوی اختلاف کوی وَيَقُولُونَ او دوی وایی لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ ولی نه راليږل کيږی پرده آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ج هغه قسم معجزه چه موږ یی غواړو د طرفه څخه دپرورد گاردده فَقُلْ نو ته ودوی ته په جواب کښی ووایه إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ چه بیشکه هم دا خبره ده چه علم غیب خاص خدای لره دی نو شاید چه مصلحت به نه وی ددی آیت په راليږلوکښی فَانتَظِرُوا ج نوتاسی

انتظار کوی ونزول ته دهغه آیت چه تاسی پې غواړی اِنِّیْ مَعَکُمْ بیشکه چه زه هم دتاسی سره مِّنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ ﴿۲۰﴾ د انتظار کونکو څخه یم چه دتاسی سره به خدای څه کوی په عوض کښی ددی عناد او انکار روایت دی چه هرکله په قریشو کښی اووه کاله قحط وو چه تر له نړۍ سوی وه وهلاک ته چه بیا باران پروسو او اسرزانی سوه نو په آیتو پورې به پې مسخری کولی او د رسول سره به پې فریبونه (چمونه) کول نو نازل سو وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً او په هغه وخت کښی چه مونږ وځکو په دی خلګو د مکی سره رحمت خپل لکه صحت او فراغی مِّنْ بَعْدِ ضَرَّآءَ ورسوسته تر وږیری سختی لکه مرض او قحط مَسَّتْهُمْ چه ودوی ته رسیدلی وی اِذَا لَهُمْ مَّکْرٌ ناګاه دوی لره مکر یعنی طعنه وی فِیْ اٰیٰتِنَا په آیتو زمونږ کښی اوفریب وی په باب درسول کښی قُلِ اللّٰهُ ته دوی ته ووایه چه خدای دی اَسْرَعُ مَکْرًا ډیر چلت (تلواری) دی په درکولو کښی دجزا دمکرستاسی او په ما لیږلو سره دعذاب اِنَّ رُسُلَنَا بیشکه چه استاذی زمونږ چه دی یعنی کرام الکاتبین یَکْتُبُوْنَ مَا تَمْکُرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لیکی دوی هغه فریب چه تاسی پې کوی یعنی هرکله چه زمونږ د ملائکو څخه ستاسی مکر پټ نه دی نو مونږ څخه به کله پټ وی نو انتقام به درڅخه واخلو هُوَ الَّذِیْ دی هغه پروردګار دی یُسَیِّرُکُمْ چه تاسی کړی فِی الْبَرِّ کله چه پروچه یاپیاده په خپلو پښو او یا سپاره پرخروا وپرقچرو او پراسانو او پراوښانو اوپرفیلانو وَالْبَحْرِ اوکله په لنده یا په سیند وکښی په لامبو او په خیږاو په جاله او په بیړی او په دریاب کښی په جهازاو په غراب کښی حَتّٰٓی تر هغو پورې چه تاسی داجهازونه گرزوی چه څلور حادثې درپیښی سی اودا چه اِذَا کُنْتُمْ فِی الْفُلْكِ ۚ په هغه وخت کښی چه تاسی په جهازو کښی سپاره اوسی وَجَرَیْنَ بِهِمْ او داجهازونه سره روان

عه یعنی هغه دوی ملائکی چه پر هرکس باندی مقرری دی د پاره دیکلو د عمل دده چه لیږلی مونږ یې کرام الکاتبین دی ۱۲

سے دھفہ خلگو سرِ چہ پکنبی ناست دی فَاسْرَعُ پہ دی عدہ[عہ] ول کبنی دخطاب ہ شخہ وغیبت تہ دوہ کارِ دی یوداچہ پہ دی کبنی مبالغہ دہ یعنے دا تلہ پہ جھاز وکبنی لکہ چہ بند دی ونخا طبینو تہ ھدا سے وغاثبینو تہ ھم دی او بل داچہ پہ دی کبنے خفی اشارہ دہ وہ دیری جلتی "تہ" دجھاز یعنی چہ کنتم ویل کیدہ نو دوی پہ حد دخطاب کبنی وہ سنبت و اھل سا حل تہ او بیا فی الفلک جریں تہ چہ ویل کیدہ نو دوی بیا دحدہ شخہ دخطاب وتلی وہ نوخکہ پرخای دبکم بھم وویل سو بِرِیْحٍ طَیِّبَةٍ پہ ھغہ باد سرہ چہ ښہ نرمہ وی او پرمقتضے دجھاز برابروی وَفَرِحُوْا بِهَا او دا دجھاز خلک خوشحالہ سے پہ دی باد مراد سرہ جَآءَتْهَا نوناگاہ پردی جھاز وراسے یعنی راوالوزی رِیْحٌ عَاصِفٌ تند باد یعنی جکړاو مخالف چہ قولہ دریاب سرہ بنوروی اودویم داچہ وَجَآءَهُمُ الْمَوْجُ اوښ سی دوی لرہ موج یعنی دریاب څپی مِنْ كُلِّ مَكَانٍ دھرِ طرفہ شخہ یعنے دمخ اودشا اودراستہ طرفہ اوچپہ طرفہ اودریم داچہ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اودوی گمان وسے چہ بیشکہ دوی چہ دے اُحِيْطَ بِهِمْ لاچہ پردوی احاطہ وکړہ سوہ یعنے ھغہ موجبات دھلاک قولہ پرچا پیرہ سوہ اوخلرم داچہ دَعَوُا اللّٰهَ دوی خدای وبولی دپارہ دخلاصے ددی اُ افاتو شخہ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ پہ دا سے حال کبنی چہ دوی خالص کونکی وی خدای لرہ ددین خپل او دپیرہ خوف شخہ یعنی شیطان ھیرکړی اووایی لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا کہ دے موږ خلاص کړو مِنْ هٰذِهٖ ددی مُهلکے شخہ لَنَكُوْنَنَّ نوخامخا بہ موږ سو مِنَ الشّٰكِرِيْنَ (۲۲) دقولہ شخہ دشکر گذارانو ستا پردی نعمت فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ نوھرکلہ چہ دوی خلاص کړی اووچہ تہ سے اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ نوناگاہ دوی فسادکوی فِي الْاَرْضِ پہ ځمکہ کبنی بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ پہ ناحقہ سرہ بیلہ موجبہ دفساد يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلگو اِنَّمَا بَغْيُكُمْ

عہ یعنے پہ دی کرم دخدای دخطاب ہ شخہ وغائب والے تہ یعنی اول خدای وفرمایل چہ ترسہنو پوری چہ تاسے پہ کښتیر کښی سی اوبیا پے وفرمایل چہ داکښتی روانہ اوجاری سی پہ دوی باندی اوداسے یې ونہ ویل چہ جاری سی دا کښتی پتاسے باندی ۱۲ عہ یعنے دوی ځمایہ شخہ دہلاکت ۱۲

بیشکه هم داخبره ده چه دافساد ستاسی چه دی عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ لا ستاسی پرخپلو ځانونو دی ځکه چه وبال یې هم تاسی ته بیرته راجع کیږی او اوس یې کوی تاسی مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا زداعیش ددی واړه شړوندون پو څوورځی ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ بیا خاص وموږ ته راتله ستاسی ده پَنَبِّئُكُم نو موږ به تاسی خبرکړو بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۳﴾ په هغه عملو چه واست تاسی چه کول به مو إِنَّمَا بیشکه هم داخبره ده مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مثال ددی واړه شړوند چه دی په ژر تیریدو او په شر شا کولو کښی داسی دی كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ په مثل داو بود باران دی چه راکښته کړی وی موږ هغه او به مِنَ السَّمَآءِ د اسمان دطرفه ځمه یعنی اوریږی فَٱخْتَلَطَ بِهِۦ نو دیرګمنوالی په سبب سره خلط اوګډ سی ددی اوبو په سبب نَبَاتُ الْأَرْضِ هرزرغونه دځمکی مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ دهغه قسم ځمه چه انسانان یې خوری لکه غلی اومیږی او سبزی وَالْأَنْعَٰمُ ط اوچه چارپایان یې خوری لکه دوښو انواع اوانسام حَتَّىٰٓ ترهغو پورې إِذَآ أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا چه ځمکه خپل زرینت واخلی وَٱزَّيَّنَتْ او ویرښائیسته سی دا ځمکه په اقسامو دنباتاتو او په انواعو شکلونو پې او په اصنافو درنګونې لکه ناوی چه په رنګا رنګ جامو اوزیورونو ښائیسته سی وَظَنَّ أَهْلُهَآ اوګمان وکړی خاوندان ددی ځمکی أَنَّهُمْ قَٰدِرُونَ عَلَيْهَآ چه بیشکه دوی قادر دی پر دی ځمکه یعنی دغلو پراخیستلو اودمیوو پرټولو دی أَتَىٰهَآ أَمْرُنَا نوناګاه دی ځمکی لره راسی زموږ فرمان په خرابی سره دی غلو اومیوو لَيْلًا أَوْ نَهَارًا شپی یا ورځی فَجَعَلْنَٰهَا حَصِيدًا نو موږ داکښت وکرنه وولکه ریبلی یاوبنجه ختلی كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِٱلْأَمْسِ گویاکه دسره زرغون سوی نه وه لاپرون په دی ځمکه کښی كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَٰتِ همداسی په تفصیل سره موږ بیانوو دلیلونه دخپل قدرت لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿۲۴﴾ د هغه قوم د پاره چه په دی مثال کښی فکرکوی اوعبرت په اخلی "تمثیل" همداسی حال دی ددی دنیا لکه چه سړی په اول وارخ پرزیاتید و اوختوسی نو داسړی دولت

او مبلغ پیدا کړی او واده به وکړی او اولاد به راوړی او بنګلی به واچوی او ټولی به واخلی او ګلی او سړی به جوړی او سازی کړی او سر تر پایه به په نعمتو کښی پټ او ډوب سی او د ډیره کیږه څخه به خو تکیږی او خدای ته به یعنی شاکری ناګاه د اجل غشی راسی او د تخت څخه یی پر تخته پری یا سی او مالونه یی وارثان سره وویشی او په تنګ قبر کښی یوازی پریوزی او د غذاب دروازی پر اخلاصی سی چه ترقیامته د دوزخ په لمبو کښی سوځی او په ګونډو به و هل کیږی او د هغه مالو به هیڅ خیر نه ورسیږی غیر د شر وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا او خدای خپل بندګان بولی اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ط وحویلی «سرای» ته د سلامتیا چه جنت دی وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ او لاره برابروی وهغه چا ته چه اراده یی وسی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۵﴾ وهغه سمی لاری ته چه برابره وړلی دی د دارالسلام ته چه اسلام یا سنت درسول دی اما دا دعوت عام دی په لسګانه درسول او هدایت خاص دی په توفیق د خدای پوری لِلَّذِيْنَ مقرر دی هغه کسانو ته اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى چه بنه کوی بنه جزاء ده یعنی چه ایمان راوړی پر خدای او پر رسول نو جزاء یی جنت وی وَزِيَادَةٌ او زیاده به هم وی پر چه هغه یا دیدار یا مغفرت او رضوان یا محبت قلبی دی وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ او نه به پټوی مخونه د دوی قَتَرٌ تور ګرد او غبار وَّلَا ذِلَّةٌ او نه خواری او رسوایی اُولٰٓئِكَ دا محسنان چه دی اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ج اهل د جنت دی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۶﴾ دوی به په دی جنت کښی هیشه وی وَالَّذِيْنَ او هر چه هغه کسان دی كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ چه د بد یو کسب یی کړی دی لکه کفر او نفاق جَزَآءُ سَيِّئَةٍ م جزاد بدی چه ده بِمِثْلِهَا لایه قدر د بدی ده نه نریا ته وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ط او دوی به خواری او رسوایی پټوی یعنی اثار د خواری به پوری ولاړ وی مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ نه به وی دوی لره د خدای څخه یعنی د عذاب څخه دده مِنْ عَاصِمٍ ج ساتونکی كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ گویا که پټ کړه سوی دی وُجُوْهُهُمْ مخان د

دوی قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ پہ قطعو د شپی مُظْلِمًا ۱ پہ داسی حال کښی چہ تاریک وی یعنی نخان بہ پی تك تور وی لکہ توږ شپہ دیږہ غمہ څخہ أُولَٰئِكَ دا مُسِيئًا ،، بدکاران ،، چہ دی کہ کفار کہ منافقان دی أَصْحَابُ النَّارِ ۱ اهل دوږخ دی هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۷﴾ دوی بہ پہ دی دوږخ کښی هميشہ وی وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا اووہ بیږیږی دهغہ ورځی څخہ چہ موږ بہ راټر وندی کړو دوی تول یعنی هم نیکان او هم بدان ثُمَّ نَقُولُ بیا بہ موږ و وایو لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا او هغہ کسانو تہ چہ شرك پی اختیار کړی وو مَكَانَكُمْ ځای پرځای و دیږی أَنتُمْ وَشُرَكَاؤُكُمْ ۚ تاسی اوهم شریکان ستاسی چہ بتان او کہ غیږ دی نو وګوری چہ نږہ دتاسی سرہ څہ کوم فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ نو موږ بہ بیلتون ،، جلاوالی ،، وکړو بہ مابین کښی دوی عابدانو او معبودانو نو اول بہ دا عابدان وپوښتو چہ تاسو و لی دوی عبادت کاوی بیلہ اذ نہ څخہ نږ ما او دوی بہ ووایی چہ موږ تہ هم دی معبودانو ویلی ووچہ زموږ عبادت کوی بیا بہ دا معبودان پوښتو وَقَالَ شُرَكَاؤُهُم او وبہ وایی شریکان دوی مَّا كُنتُمْ ۖ چہ نہ واست تاسی إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿۲۸﴾ چہ زموږ عبادت بہ موکاوی تاسی بلکہ تاسی دخپل هوا او نفس تابع واست هرڅہ چہ هغہ درتہ ویل تاسی بہ هم هغہ کول فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ۱ نو بس دی خدای شاهد بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ پہ ما بین کښی زموږ او ستاسی إِن كُنَّا بیشکہ چہ موږ و وعَنْ عِبَادَتِكُمْ دعبادتہ څخہ ستاسی لَغَافِلِينَ ﴿۲۹﴾ خامخا بے خبرہ ۱ حکہ چہ موږ نہ ستاسی درلودی او نہ غوږ ونہ او نہ عقل هُنَالِكَ تَبْلُوا پہ دغہ ځای کښی بہ بیا پیدا کړی او وبہ څکی كُلُّ نَفْسٍ هر یو شخص مَّا أَسْلَفَتْ جزا دهغہ عمل چہ ده پخوا لیږلی وی کہ نیك وی او کہ بد وی وَرُدُّوا إِلَى اللَّهِ او بیرتہ بہ دوی بوتلل سی و خدای تہ او مخامخ بہ پرموقف دعرض ودرول سی پہ قیامت کښی دپارہ دجزاد عمل خپل مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ هغہ چہ بادار او واکدار ددوی دی پہ واقعہ کښی

نه هغه بتان چه دوی په دروا غو سره خدایان کړي وو وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورک به شي
دوی څخه مَّا كَانُوا هغه شی چه دوی وه يَفْتَرُونَ ﴿۳۰﴾ چه دروغ به یې ویل
دشفاعت کولو دبتانو قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ ته ووی ته وایه چه هغه څوك دی
چه تاسی ته رزق درکوی مِّنَ السَّمَاءِ د اسمانه څخه چه باران راووړی وَ
الْأَرْضِ اود ځمکی څخه چه دانه اووابنه راشنه کوی أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ یا هغه
څوك دی چه قادر وی پر پیدا کولو دغوږ واو بینایی پرځیل حد وَمَنْ يُخْرِجُ اوبیا یې دافاتو
څخه وسانی وَالْأَبْصَارَ اوهمداسی سترګی هم وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ اوهغه څوك دی
چه راباسی څرونديز لکه بچے اوحیوان اوکښت او مؤمن اوعالم مِنَ الْمَيِّتِ د مړی
څخه لکه هګی او نطفه اودانه اوکافراوجاهل وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ اوراباسی مړی
مِنَ الْحَيِّ د ژوندی څخه لکه داوږه وستی پخه چه بینایی راوباسی دهغه لومړیو پنځو
څخه وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ او هغه څوك دی چه په سامان سره دتمام عالم کارونه کوی
فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ نو ښه ردی چه دوی به ووایی چه هغه خدای دی چه داکارونه
کوی اوانکار به نه سی کولای ځکه چه دډیره وضوحه به انکار نه سی کولای فَقُلْ
نو ته وسته ووایه وړوسته تردی اقراره چه أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿۳۱﴾ایا نو تاسی نه بیریږی
دعذابه څخه دداسے خدای یعنی وه بیریږی او بتان مه وړسره شریکوی فَذَٰلِكُمُ اللَّهُ
نوداموصوف په دی صفاتو مذکورسره چه دی هغه خدای دی رَبُّكُمُ الْحَقُّ چه
ستاسی رب دی لایق دعبادت دی په حق سره چه هیڅ شك پکښی نشته فَمَاذَا
بَعْدَ الْحَقِّ نوڅه شی دی وړوسته تردی حق چه عبادت دخدای دی یعنی هیڅ شی
نسته إِلَّا الضَّلَالُ مګر گمراهی فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿۳۲﴾ نو تاسی وکوم طرفته گرنول کیږی
دحق څخه وباطل ته او دتوحید څخه وشرك ته كَذَٰلِكَ هماسی لکه چه ربوبیت لایق
دی وخدای ته حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لایق سوحکم درب ستاسی یعنی لازم سوعذاب
دده عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا پرهغو کسانوچه ښخ او پټ دی په کفرکښی أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۳۳﴾

چه بیشکه دوی ایمان نه راوړی قُلْ ته ووی ته ووایه هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ ایاسته
ددی شریکا نوستاسی څخه چه دخدای سره پی شریکوی یعنی بتان مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ
هغه څوك چه داخلك په اول کښی پیدا کوی ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ بیا وروسته ترمرګ پی
ژوندی کولای سی اوهر کله چه بعض کفار واعاده نه منله نو حکه رسول ماموړ
سود هغود طرفه چه قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ته ورته ووایه چه خدای پیدا کوی
داخلك په اول کښی ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ بیا پس دمرګه بړپی بیرته راژوندی کوی فَاَنّٰى
تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ نو تاسے وګومره طرف ته اړول کیږی دسمی لاری څخه وچپی ته قُلْ بیا
ته ورته ووایه چه هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ ایاسته ددی شریکانوستاسی څخه مَّنْ
يَّهْدِيْٓ هغه څوك چه وخلګوته لاسه ورښیی په لیږلوسره درسولانو اودکتابو
اِلَى الْحَقِّ ؕ وجانب ته دحق چه دین داسلام دی قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ بیاهم ته ورته
ووایه چه خدای لاره ښیی وخلګوته اِلَى الْحَقِّ ؕ طرفته دحق روایت دی چه هرکله
عادت دبُت پرستانو داووچه کله به دیوه ځای څخه وبل ځای ته تللل نوداپتان
به پی پر بارګیرو تړل لکه ګوګی اودځان سره به پی یوړه نوحکه رب العزت وایی
اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ ایا نوهغه څوك چه وبل ته لاروښیی اِلَى الْحَقِّ دحق وجانب ته
اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ دپرلایق دی ددی چه متابعت پی وکړل سی اَمَّنْ اوکه هغه څوك
دپرلایق دی لَّا يَهِدِّيْٓ چه پخپله هم لاره نه سی پیدا کولای اودا په اصل کښی يَهْتَدِيْ
ووبیا ت دال سوه اودال په دال کښی مدغم سو اوګ مکسوره سوه دپاره دالتقاء
دساکنینو نو يَهِدِّيْ سو اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ؕ مګرچه بوتلل سی یعنی بل پی بوسی لکه
بتان فَمَا لَكُمْ څه نوځه کومه باعث دی پرتاسی سره ددومره عقله كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۵﴾
چه داخرنګه حکم کوی چه محتاج الیه دچپل محتاج سره برابروی وَمَا يَتَّبِعُ او
متابعت نه کوی اَكْثَرُهُمْ زیات ددوی یعنی مشرکان پی اِلَّا ظَنًّا ؕ مګر دفاسدګمان
اودچپل باطل خیال چه هغه دخپلوآباؤ وپیروی ده اِنَّ الظَّنَّ بیشکه ګمان چه دی

لَا يُغْنِيْ نه بے پروا کوی هیڅوك مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ۵ دحقه ځمه یعنی دعلمه اودصاف اعتقاده ځمه هیڅ یعنی دا ګمان دمشرکانو چه دا بتان زمونږ شفاعتګردی هیڅ نفع به ودوی ته ونه رسوی په دفع کولو دعذاب کښی اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ ۳۶ بیشکه چه خدای دانا دی بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۳۶ پرهغه کار چه دوی یې کوی چه هغه تعظیم دبتانو دی اوتحقیر درسولانو دی وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ او نه دی داقران سره دداسی فصاحته او بلاغته او اعجاز اَنْ يُّفْتَرٰى چه په دروغو جوړکړه سی اوبل څوك يې وړاندې مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر دخدایه یعنی داسی نه ښایی چه دادی کلام دبشروی وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ لیکن مصدق دی دهرهغه کتاب بَيْنَ يَدَيْهِ چه تیرسوی دی په ځکښی دده اوپه صدق یې هرڅوك قائل دی چه تورات اوانجیل اونږ بوردی اودودی پکښی اصولو ددین کښی مطابق دی نو ډیر تعجب دی چه هغه حق سو اودې نه سو وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ اومفصل بیانونکی دی دهرهغه شی چه لیکلی سوی دی پر تاسی داوامرو اونواهیو ځمه لَا رَيْبَ فِيْهِ نسته هیڅ شك په ده کښی ځکه چه راغلی دی مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۳۷ د پروردګاره ټولو ځمه دتمامو عالمیانو خوکفار داخبره نه منی اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۵ بلکه دوی وایی چه دا کلام محمد صلی الله علیه وسلم دځانه جوړکړیدی قُلْ فَاْتُوْا نو ته ووایه چه تاسی یې هم راوړی بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ یوا دانی سورة دده قران په شان په فصاحت کښی اوبلاغت کښی که داسی بلیغ اوفصیح کلام هر څوك دځانه جوړ ولای سی ځکه چه تاسی هم نږ مایه شان عرب یاست بلکه ما عربی دنه تاسی ټولو ځمه نږ ده کړی ده اوکه تاسی یوازی دامعارضه نه سی ترسره کولای نو دنږ وخلګو ټولو ځمه مدد وغواړی وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ اوراوبولی هرهغه څوك چه ستاسی دلاسه کیږی ودی معارضی نه دمعاونت دپاره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر دخدایه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۳۸ که تاسی رښتینی یاست په دی کښی چه دا کلام دی دځانه وایی اودوی بیا یوسورة هم راوړلای نه سو بَلْ كَذَّبُوْا بلکه دوی تکذیب

وکړی دی قرآن دفعتً مخکښی تر تدبره او تفکره دده په معاینو کښی بِمَا لَمْ يُحِيطُوا
پرهغه قرآن چه دده وی افکارو لا احاطه نه وه کړی بِعِلْمِهٖ پرعلم او کنه دهغه
وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهٗ ؕ اوحال داچه لا نه وه راغلی دهغه سره دوی ته یعنی معنیٰ او
حقیقت دده قرآن لا نه وه سربیره کَذٰلِكَ هلدا سی لکه ستاد زمانی کفارو چه
تکذیب کوی كَذَّبَ الَّذِيْنَ تکذیب کړی وو دخپلو انبیاؤ هموکسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه
پخوا تر دوی وه فَانْظُرْ نو ته وګوره كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۹﴾ اخره
خاتمه ظالمانو وَمِنْهُمْ او بعض دده مکذبانو څخه مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ هغه څوک
دی چه باور لری پر دی قرآن چه دخدای څخه حق راغلی دی مګر پټ په زړه کښی
او اظهار یی د ویره عناده څخه نه کوی وَمِنْهُمْ او بعض نور دوی څخه مَّنْ لَّا
يُؤْمِنُ بِهٖ هغه څوک دی چه ایمان نه راوړی او باور نه پرلری د ویره جهلا و
ناپوهی څخه وَرَبُّكَ اَعْلَمُ اوستا رب ستا ښه دانا دی بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿۴۰﴾ په حال د مفسدانو
یا معنیٰ دده ایت داده چه بعض ستا د قوم څخه به پر دی قرآن ایمان راوړی او ډیر ستر
تر دی او بعض به ایمان نه راوړی او پر کفر به مړه سی وَاِنْ كَذَّبُوْكَ اوکه دوی
ستا تکذیب وکړی او ترتیبی د ایمان راوړو څخه ناامیده سوی فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ نو ته
ووایه چه مالره نږدی عمل جزاده وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ او تاسی لره جزا د
عمل ستاسی ده اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ تاسی بیزاره یاست مِمَّآ اَعْمَلُ دهغه کار څخه
چه زه یی کومه وَاَنَا بَرِيْٓءٌ اوزه هم بیزاره یم مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ د هغو کارو
څخه چه تاسی یی کوی یعنی یو دبل په عمل به نه نیول کیږی او څوک وایی چه دا
ایت په ایت د سیف سره منسوخ دی وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض دده کفارو څخه هغه
کسان دی يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ داچه غوږ ونه نیسی وتاته په هغه وخت کښی چه ته قرآن
لولی «وایی» اوویوپوهیږی تاسو کوی محض د پاره د مسخرو اود زړه غوږ ونه نیولو

ع ۴ ۱۰ ۹

عه یعنی دوی به هم د هغوی پرشان په عذاب کړه سی په دی ایت کښی تسلی درکول دی پیغمبر لره او ویردل دی کافرانو لره ۱۲ عه یعنی د رواځ د پرنګی د څخه د د قرآن ۱۲

یعنی کا نه دی دا وریدو څخه دحق اَفَاَنْتَ اٰیا نو ته تَسْمِعُ الصُّمَّ اوریدل کوی و
مادرزاده کا نه ته یعنی نه پی سی کولای وَلَوْ کَانُوْا اواګرکه دوی وی لَا یَعْقِلُوْنَ (۴۲)
داسی چه عقل نه لری هیڅ قدر یعنی اګرکه سمعه پی نه وی اما عقل پی وی نو
استدلال به پی په ترپرکی سره کاوی اوچه دواړه پی مفقود سوه نو یعنی داسے
سولکه دیوال وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعض ددوی څخه هغه څوك دی یَّنْظُرُ اِلَیْكَ ط چه
وتا ته دسرپه ستړګو ګوری او نبی «علای» دنبوت او دلائل دصدق درکښی
وینی مګر دډیره عناده څخه نه په قائلیږی ځکه چه دزړه ستړګی پی بخی رندی
دی اَفَاَنْتَ اٰیا نو ته تَهْدِی الْعُمْیَ لاسروبینې ومادرزاده نه لیندې ته یعنی نه
پی سی ښودلای وَلَوْ کَانُوْا اګرکه دوی وی لَا یُبْصِرُوْنَ (۴۳) داسی چه دزړه دیدهم
نه لری یعنی کله څه هم بصر پی نه وی او بصیرت پی وای نو دزړه په فکرسره به پی
ادراك کولای اوچه دواړه پی نه وه نو یعنی داسے سولکه خر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای لَا یَظْلِمُ النَّاسَ شَیْئًا ظلم نه کوی پرخلګو هیڅ قدر په وزکولو دعقلو او
حواسو دوی سره وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اولیکن خلق چه دی اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ (۴۴)
پرخپلو ځانونو ظلم کوی چه باسباب دادراك دا بیتود قدرت چه هغه عقل اوحس
دی هغه بے ځایه په مصرف کښی مستعملوی وَیَوْمَ یَحْشُرُهُمْ اویادکړه هغه ورځ
چه راجمع به کړی دا کفارو داعمر ددنیا اودقبر به ورته دډیره هیبته څخه ترهغې
ورځې د پرکوتلو اولږ ښکاره سی لکه چه وای کَاَنْ لَّمْ یَلْبَثُوْٓا ګویا که دوی مدار نه
ووکړی په دنیا اوپه قبرکښی اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ مګر په قدر دیوه ساعت
دورځې یَتَعَارَفُوْنَ بَیْنَهُمْ ط په داسی حال کښی چه دوګډ به پرچل میندې کښی پر
بل سره پیژنی اما دا معرفت به په وخت کی دخروج دقبروڅخه وی اوبیاچه د
هَوْلِ څخه دقیامت سختی پرډیره سی نو دا تعارف به پی سره ورك سی قَدْ خَسِرَ
الَّذِیْنَ په تحقیق سره زیانکاران دی هغه کسان کَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ چه دمن

ملاقات د خدای یعنی د حشره او حساب ځخه منکردی وَمَا كَانُوا او دوی نه دی
مُهْتَدِينَ ﴿۴۵﴾ لاره موندونکی وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ او که خامخا مو ور د رو ښیو و تا ته
بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ بعض د هغه عذاب ځخه چه مو ورپې د دوی سره وعده کوو
یعنی ستا په ژوندکښی به عذاب پرې راولو لکه په ورځ د بدر خو ښې أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ
یا خامخا تا وفات کړو مخکی تر عذاب ښودلو فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ نو خاص موږ ته
بیا راتله د دوی دی نو هلته به د دوی عذاب درته و ښیو ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ نو بیا خدای
شاهد دی د هر وسته تر عذاب ښودلو و تا ته یا د هر وسته تر وفات ستا عَلَىٰ مَا
يَفْعَلُونَ ﴿۴۶﴾ پر هغو کارو چه دوی پې کوی نو جزا د عمل به د هر لره و رکړی وَلِكُلِّ أُمَّةٍ
رَسُولٌ ج او د هر امت لپاره د تبر و امتو ځخه به یو استاذی و و د خدای د طرفه چه
دوی به پې دین حق ته راوبلل او په توحید به پې خبر ول فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ نو په هغه
وخت کښې چه و د دوی ته به د دوی استاذی راغلی او د دوی به و نه مانی قُضِيَ بَيْنَهُمْ
بِالْقِسْطِ نو حکم به وکړه سو په مابین کښی د دوی په عدل سره چه مکذبان به هلاك
سوه او رسول به د مؤمنانو نو سره په امان پاته سو وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿۴۷﴾ او حال دا
چه دوی چه د ی ظلم به پرونه کړه سی یعنی چه د رسول ثواب کم سی او پر مکذبانو تر
خپل اسحقاق تیری وسی روایت دی چه هر کله کفار و د مکی ایت دا مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ
و ر یدی نو دوی و ویل چه دا عذاب به کله وی چه د ی همیشه مور په بیروی نو هغه
جلت راغلی چه مور د ولیدی نو نازل سو وَيَقُولُونَ او دوی وا پې پر طریقه د استبعاد
او د مسخر و سره مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ چه کله به وی داوعده د عذاب د راتلو او ولی نه راځی
إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿۴۸﴾ که تاسی رښتینی یاست په د ی کښی چه عذاب به راشی قُلْ
لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي تہ و ر ته و وایه چه نه ز ه د خپل ځان د پاره اختیار نه لرم ضَرًّا وَلَا
نَفْعًا نه د زیان او نه د ګټی نو هر کله چه د ځان والك هم نه لرم نو ستاسی په عذاب
کښی به څرنګه تلوار و کړای سم إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ مګر د هغه شی چه د خدای اراده

وسی لِکُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ط دهری طائفی د هلاك دپاره یووخت مقرر دی اِذَا جَآءَ
اَجَلُهُمْ نو په هغه وخت کښی چه دوی د عذاب وخت راغی فَلَا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً
نو دوی به نه وروسته کیږی ترهغه وخت خپل یوساعت هم وَّلَا یَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ او نه به ځنی
مخته کیږی قُلْ اَرَءَیْتُمْ ووایه ته وما ته چه ایا تاسی وینی نو ماهم خبر کړی اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ
چه که تاسی ته دده عذاب راسی چه تاسی پکی په تلوارغواړی بَیَاتًا اَوْ نَهَارًا د شپی چه خوارہ
خوب بیده سی یا د ورځی چه پخپلو کارونو مشغول یاست نو دیر به پښیمانه سی په دی
شرمونو غوښتلو سره او هر کله چه حال داسی دی نو ثُمَّ اِذَا مَا یَسْتَعْجِلُ هغه کوم قسم عذاب دی
چه تاسی پکی په تلوارغواړی مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ د هغه عذابه ځمنه یعنی هغه عذاب دا مجرمان
یعنی مشرکان او سره ددی چه غذ ابونه تولو سخت دی روایت دی چه هر کله دا آیت را
نازل سو نو کفارو وویل چه موږ به دی عذاب باور نه لرو او څرنګه یې غواړود پاره د
مغاینی او بیا چه راغلی نو ایمان به راوړو نو نازل سو آٰاَثُمَّ ایا نو وروسته ترشرمونو غوښتلو
ستاسی اِذَا مَا وَقَعَ په هغه وخت کښی چه عذاب راغی او تاسی وَلِیْدِیْ اٰمَنْتُمْ پرې د ایمان
به راوړی او په دی عذاب به باور وکړی نو بیا به درته وویل سی آٰلْـٰٔنَ چه ایا تاسی اوس
ایمان راوړی د عذاب ترنا نه لیدو وروسته وَقَدْ كُنْتُمْ اوحال داچه په تحقیق سره
تاسی واست بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ په دی عذاب سره یعنی په نا نه لیدو د ده سره تاسی تلوار
کاوی په سبب سره د تکذیب او د مسخرو ثُمَّ قِیْلَ بیا به وویل سی لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا هغه
کسانو ته چه پرخپلو ځانونو یې ظلم کړی دی په شرك او په تکذیب سره ځکه چه دیاس
«ناسیده» ایمان قبول نه دی ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ چه وڅکی او ووچښی هغه عذاب
چه دائمی دی هَلْ تُجْزَوْنَ ایا جزا به درکول کیږی وتاسی ته یعنی نه به درکول کیږی
اِلَّا بِمَا مگر په سبب د هغه شرك او تکذیب سره كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾ چه تاسی واست
چه تمام عمر به موکول څرایت دی چه هرکله یو یهودی د مدینی چه حُیَیّ ابن اخطب
نومیدی هغه پخوا «مکی» ترهجرت مکی ته راغلی وو په سوداګری پسی او هلته یې د رسول

اواخره واوریده نوور لره راغلی نوور ته وایی ویل چه اے محمدؐ ایته چه دا دعوی کوی رشتیا وایی اوکه مسخری کوی او دا کلام چه ته یی لولی "وایی" واقعی وحی دی اوکه یی ته دځانه څخه جوړ وی نو ناڑل سو وَيَسْتَنْبِئُونَكَ اوکه دوی دتاڅخه پوښتنه کوی اَحَقٌّ هُوَ آ چه ایا داقران اودا دعولی دنبوت رشتیا دی اوکه هسے مسخری دی قُلْ اِیْ وَرَبِّیْٓ نو ته ورته ووایه چه هو زما دی پخپل رب سره قسم وی چه رشتیا دی اوبل داچه اِنَّهٗ لَحَقٌّ بیشکه چه داقران یا دعوت یا عذاب چه موعود دی هغه خامخا په حق سره راتلونکی دی وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾ اوتاسی نه یاست عاجزه کونکی دخدای دعذاب راڅیر لوڅخه وَلَوْ اَنَّ اوکه بیشکه چیری مملوك سی لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ دهرهغه شخص چه ظلم یی کړی دی پرخپل ځان په کفر اوپه شرك سره مَا فِی الْاَرْضِ هغه توله مال اومتاع چه په ځمکه کښی دی دشرق څخه ترغربه اودشمال څخه ترجنوبه اودی دعذاب څخه په خلاصیدای سی لَافْتَدَتْ بِهٖ نو خامخا به داتوله مبلغ اومال په فدیه کښی ورکړی اوځان به په خلاص کړی دعذاب څخه وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ اوښکاره به کړی دوی پښیمانی یا بربی پیټه کړی اودا ځکه چه دالفظ داسرّ واضداد وڅخه دی نواطلاق یی پردواړو درست "صحیح" دی لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ په هغه وخت کښی چه دوی عذاب وویني وَقُضِیَ بَیْنَهُمْ بِالْقِسْطِ اوحکم به وکړه سی په مابین کښی ددوی په عدل اوپه انصاف سره یعنی دظالمانو اود مظلومانو یا دکافرانو اومؤمنانو وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾ اوحال داچه دوی چه دی هیڅ ظلم به پرونه کړه سی دعقاب په نه ریا تولوسره یا دثواب په کمولوسره اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ واوری چه بیشکه خاص خدای لره دی پرطریقه دمملوکیت سره مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه چه په اسمانونکښی دی اوپه ځمکه کښی دی نوردی به ځرنګه دچا څخه فدیه قبلوی چه دی غنی اوبے پرواه دی دفدیې څخه دهرچا خصوصاً دکفارو اوقادردی پرثواب اوپرعقاب لکه چه وایی اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ واوری چه بیشکه دخدای وعده رشتیا ده په ثواب اوپه عقاب کښی

لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اونړیات دی کفار وچه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ نه پوهیږی هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ دی ژوندی کول او وژل کوی اوبل هیڅوك پې نه سی کولای وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾ او بیاهم وده ته بېرته بیول کیږی په قیامت دحساب اود جزا د پاڼ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلګو قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ په تحقیق سره راغلے دی تاسی ته پند مِّنْ رَّبِّكُمْ دجانبه درب ستاسے وَشِفَآءٌ لِّمَا او شفا اودوا ده د پاڼ دهغوتو لوامراضو فِي الصُّدُوْرِ لاچه دخلګو په سر ینه وکښی دی لکه جهل اوګمراهی اوشك اونوری فاسدی عقیدے وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ اورهنمایئ او مهربانی ده دخدای لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ د پاڼ دمؤمنانو یعنے داقرار راغلی دے دخدایه اوجامع دی دتولوفوائدو چه هم پند دی اوهم راکشونکی دی دخلګو و توحید ته اوامردی په هرخیراومانع دی دهرشر قُلْ وایه ته ودی مؤمنانو ته چه خوشحاله اوسی بِفَضْلِ اللّٰهِ په هغه فضل دخدای سره چه پرتاسی دی چه هغه قرآن یامعرفت یاخلود یا دیدار دی وَبِرَحْمَتِهٖ او په مهربانی دده سره چه پرتاسی ده چه هغه رسولؐ یا توفیق یا عصمت یانجات دی داوړ ځمه فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا نو په دی راپدیل سوی دی میباید چه دوی خوشحاله سی ځکه چه هُوَ خَيْرٌ دامذکور دیرغوره دی مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ دهغه اموالو فاینو ځمه چه دوی پې جمع کوی ځکه چه دی مال دد نیا ته هیڅ بقا نسته قُلْ ته وایه وګمشرکا نو دعرابو ته اَرَءَيْتُمْ ایاتاسے ګوری مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ وهغه شی ته چه خدای وتاسی ته راپدیلی دی مِّنْ رِّزْقٍ دروزی ځمنه لکه انواع دغلواو دچارپایانو فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ نو تاسی کړی دی بعض دهغه رزقه ځمنه حَرَامًا وَّحَلٰلًا ځینی حرام اوځینی حلال لکه په سورۃ انعام کښی چه تیرسوه قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ ته ورته وایه چه ایا خدای اذن کړی دی ودے تحریم اوتحلیل وتاسی ته اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ اوکه پرخدای درواغ تړی چه دا واپاست چه ده اذن کړی دی وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ اوڅه ګمان دی دهغوکسانو —

يَفْتَرُوْنَ چه دځانه ترې عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پرخدای باندی درواغ په دی تحریم د حلالو او په تحلیل د حراموکښی يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ په ورځ د قیامت چه دی به څه ورسره وکړی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ خامخا خښتن «خاوند» د فضل دی پرخلګو په ډیرلږ د ورسولا نو او د کتابو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات هدوی چه دی لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۰﴾ شکر نه کاږی پردی نعمت وَمَا تَكُوْنُ اوته نه اوسی مشغول فِيْ شَاْنٍ په کوم کارکښی د څلوکاس وځمخه وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ اوته نه ولولی «ونه وایی» نه هیڅ اٰيَةٍ یاسورت د دی رالیږل سوی څخه د خدای یعنی مِنْ قُرْاٰنٍ د قرآن څخه وَّلَا تَعْمَلُوْنَ اوتاسی نه کوی اے انسانانو مِنْ عَمَلٍ کوم کار د کاروځمخه اِلَّا كُنَّا مګرموږ يو عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا پرتاسی شاهدان نګهبانان اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ په هغه وخت کښی چه تاسی غوته وهی او اشتغال کوی په هغه کارکښی وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ اونه لیږی کیږی او نه پناه کیږی د عمل څخه د پروردګار څخه مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ په قدر د ډیر وړاړه میږی یا د پوټی دګرد فِي الْاَرْضِ نه په ځمکه کښی وَلَا فِي السَّمَآءِ اونه په اسمان کښی وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ اونه ډیر د وړکی قردی ذرے وَلَآ اَكْبَرَ اونه ډیرغټ تردی اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۶۱﴾ مګرد اتوله لیکلی پرانه دی په کتاب واضح کښی چه لوح محفوظ دی اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ واوری چه بیشکه دوستان د خدای چه دی لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ نسته هیڅ بیره پرد وی درسیدو څخه دکوم مکروه ودوی ته وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾ اونه به دوی خفه کیږی د فوت څخه دکوم مامول فَائِدَةٌ : دا اولیاء هغه طائفه ده چه د بنمنان د خپل نفس دی یاچه د وی ولیدل سی نوخدای یاد سی یاچه ظاهریے پرشرع ارا سته وی او باطن یے په نور د معرفت منور دی یاچه یوه بل سره فِي اللّٰهِ دوستی لری یاچه مؤمنان پرهیزګاران وی لکه چه پخپله وایی اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنی هغه څوک دی دا اولیاء چه ایمان یے راوړی دی پرهرهغه چه د خدای څخه راغلی دے

وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ اودوی دی چه ځان ساتی د شرك او د معاصیو څخه لَهُمُ الْبُشْرَىٰ دوی لره زیری دی پراقسامو فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا هم په دی واړه ژوند کښی په قرآن په لسانه درسولؐ په سړو یای صالحه په مکا شفاتو په لسانه د ملائکو په وخت کښی د مرګ وَفِي الْآخِرَةِ ط او په اخرت کښی چه ملائکی به د سړه راځی او سلام پراچوی اووایی او د فونه اوذکرامته مبارکی به ورکوی لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللّٰهِ ط نسته هیڅ بدلول کلما تو د خدای لره یعنی هیڅ خلاف نسته په وعدو کښی دده ذٰلِكَ دازیری د دواړو جهانونو چه دی هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾ دابری دی لوی تر ادراك پورته وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ مراوتادی نه ملا له کوی اے رسوله د اګفتار د دوی چه ماته شریکان وایی او ستا تکذیب کوی او مصلحتونه دقتل دی کوی إِنَّ الْعِزَّةَ څکه چه بیشکه غلبه چه ده لِلّٰهِ جَمِيعًا ط خدای لره ده قوله نزد تاسړه به مدګاری وکړی او دین به غالبه کړی هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾ دی اوریدونکی دی د اقوالو دوی اودانا دی پراحوالو دوی أَلَا إِنَّ لِلّٰهِ واوری چه بیشکه خدای لره دی مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ هرهغه څوك چه په اسمانونو کښی دی لکه ملائکی وَمَنْ فِي الْأَرْضِ ط او هرهغه څوك چه په ځمکه کښی دی لکه جن وانس روایت دی چه هرکله دا درسید سړ طائفی چه هم اشراف دی د مکه نو اوهم ذوی العقول دی اوسړ د دی چه هیڅوك د دی لائقت د ربوبیت او د شرك نه لری د ده سړ څکه چه دوی قول مخلوق او مملوك دی د ده نو هغه بتان چه بیعقله بے ادراکه دی هغه کله لایق دی د ربوبیت او د شرك او پیروی نه کوی هغه کسان يَدْعُونَ چه بولی او عبادت کوی مِنْ دُونِ اللّٰهِ شُرَكَاءَ ط غیر د خدایه د شریکانو نو پخپل گان نه په واقعه کښی بلکه إِنْ يَتَّبِعُونَ دوی متابعت نه کوی په عبادت د دی شریکانو نو إِلَّا الظَّنَّ مګر د گمان خپل چه دابتان یې د خدای سړ شریکان مقرر کړی دی وَإِنْ هُمْ اونه دی دوی إِلَّا

يَخْرُصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مگر درواغ وائی په دی نسبت د شرکت کښی هُوَ الَّذِیْ دی هغه
پروردګار دی جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ چه پیدا کړی ده ده وتاسی ته شپه لِتَسْكُنُوْا
فِيْهِ د پاڑه د دے چه پرارامه سی تاسی په دی کښی او فارغ سی له مشقته ډکارو
اوستوماني خپله وباسی په خوب سره وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اوده پیدا کړی ده وړځ
روښانه چه خپل کارونه او معاشونه پکښی کوی اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه په دی پیدا
کولو شپی اود ورځی اود ظلمت اود نور کښی لَاٰيٰتٍ خامخا د پرد لیلونه دی پرتوحید
او پرحکمت دصانع لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٧﴾ د پاڑه دهغه قولی چه د اقرار ان د زړه په
غوږو سره اوری قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وائی یوه طائفه دبنی مدلجو چه بنولی دی
خدای وَلَدًا زوی یعنی ملائکی پې په زوی بنولی دی سُبْحٰنَهٗ ؕ پاك دی دی دبنولو
د زوی څخه هُوَ الْغَنِیُّ ؕ دے بے پرواه دی چه هیڅ تهپه وخت کښی دهیڅ شی
قدر احتیاج نه لری اوولد بنول د احتیاج څخه کبیری لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ خاص
دهغه لره دی هرهغه چه په اسمانونو کښی دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ اوهرهغه چه په زمکه کښی
دی په طریقه د مملوکیت سره نه په طریقه د فرزندسره اِنْ عِنْدَكُمْ نشته تاسی سره
مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ هیڅ دلیل اوحجت پردی چه خدای زوی بنولی دے اَتَقُوْلُوْنَ
عَلَى اللّٰهِ ایا تاسی وابا سته پرخدای باندی په درواغو سره مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ هغه
خبری چه تاسی نه په پوهیږی قُلْ اِنَّ الَّذِيْنَ ته وسره ووایه چه بیشکه هغه کسان
يَفْتَرُوْنَ چه دغه نه ترې عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پرخدای درواغ چه نسبت دولد اود
شریك ورته کوی لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ خلاص به نه سی دوبه څخه اوجنت به په
سترګو نه وینی مَتَاعٌ فِی الدُّنْيَا دوی لره پنځه ورځی معاش دی په دی دنیا
کښی ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ بیا خاص موږ ته بیرته راتله دوی دی وروسته تر
مرګه ثُمَّ نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ بیا به موږ په دوی سخت عذاب وڅکوبما
كَانُوْا په سبب د دی سره چه دوی وه يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ چه نه به پې منلو قرآن اوهم

رسول وَاتْلُ عَلَيْهِمْ اوولوله ودی خپل قوم ته نَبَاَ نُوْحٍ م قصه دنوح اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ هغه چه دی نوح ؑ وویل وهغه مشرکانو ته دخپل قوم يٰقَوْمِ اے زما قومه اِنْ كَانَ که چیری وی دا سے کار كَبُرَ عَلَيْكُمْ چه ډیر لوی او سخت سوی دی پرتا سے مَّقَامِيْ زما اقامت په تا سی کښی وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ او هغه زما پند چه و تا سی ته ډیر درکوم په بنکاره ښودو خدای پر وحدانیت دده اونر ما پر تصدیق اوبے موجبه می ازاروی فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ نو ما خاص پرخدای توکل کړی دی په دې فعه کښی د شرستاسی فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ نو راغونډ اومحکم کړی کار خپل اوړا کړدا وجمعه کړی مشرکان خپل وَشُرَكَآءَكُمْ او هغه شریکان خپل چه تاسی دخدای سره مقرر کړی اوشریک کړی دی یعنی خپل قوله قوت سره راغونډ (یوځای) کړی ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ بیا دی نه وی دا کار تاسے نر ما په باب کښی عَلَيْكُمْ غُمَّةً پرتاسی پټ یعنی قوله پوه بنکاره ملا راپسی وتړی ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ بیا وما ته هرقسم ضرر راورسوی چه ستاسے نږدې غواړی وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾ او وما ته هیڅ قدر مهلت مه کوی فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ نو که تاسے نر ما وډی پند او نصیحت ته شاکړه فَمَا سَاَلْتُكُمْ نو ما دتاسے څخه نه دی غوښتے دی پیغام په ر سولو سړ مِّنْ اَجْرٍ هیڅ قدر مزدوری چه هغه به ستاسے په دی اعراض د ما څخه پاته سی اِنْ اَجْرِيَ نه دی نر ما اجر ستاسے دی بلکې اِلَّا عَلَى اللّٰهِ لا مګر پر خدای دی وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ او نږه ما مور سړ سوی یم په دی سړ چه نږه اوسم مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۷۲﴾ د تولې څخه د ګردن نهاد ګانو او امرته د خدای فَكَذَّبُوْهُ نو دوی دده تکذیب وکړی او پرخپل فکر لاپسی کلک سو نږد الزامه دحجت وروسته مور طوفان پر راوستی فَنَجَّيْنٰهُ نو مور دی د غرق څخه وساتے وَمَنْ مَّعَهٗ او هغه څوک چه دده سړه وه فِي الْفُلْكِ په کښتی کښی چه انبیا یا ته تنه وه وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ او مور هغه کړه دا کښتی خلک خلیفګان د هغه غرق شوو خلګو څخه پر مخ د ځمکی وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ

عه یعنے په دی مخ ګرزولو ستاسی د ما څخه ۱۲ عفا عنه اینبو نکو ۱۲۔

او موږ غرق کړه په طوفان سره هغه کسان کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا چه نه موږ د نبوت تکذیب پې کاوی په معجزو سره چه موږ نوح تر ورکړی وی فَانْظُرْ کَیْفَ کَانَ نو وګوره چه څرنګه وَعَاقِبَةُ الْمُنْذَرِیْنَ ﴿۷۳﴾ اخره خاتمه د پیرو لوسوو یعنی د هغو مشرکانو د قوم ثمود نوح او د اقصه د رسولو د تسلی د پاره اوه کفار د پیرو لو د پاره ذکر سوی ده ثُمَّ بَعَثْنَا بیا موږ ولیږل مِنْ بَعْدِهٖ رُسُلًا د هغه نوح نه وسته تر نوح نه رسولان اِلٰی قَوْمِهِمْ هر یو خپل قوم ته لکه هودؑ وهاد قوم ته او صالحؑ وثمود قوم ته او ابراهیمؑ واهل بابل ته او شعیبؑ واصحاب الایکه ته او مدین ته فَجَآءُوْهُمْ نو دا رسولان وخپلو قومونو ته راغله بِالْبَیِّنٰتِ په بنکاره معجزو سره فَمَا کَانُوْا لِیُؤْمِنُوْا نو دا امتونه نه وه د دی خبری چه ایمان راوړی پر رسولانو لږ مما کَذَّبُوْا بِهٖ په سبب د دی چه تکذیب یه د دوی کاوی پر بعثت د رسولانو مِنْ قَبْلُ د مخکی تر دې نه درسولانو یعنی د دوی به لاپخوا دا عادت وو په جاهلیت کښی د تکذیب نو چه رسولؑ به ور لوړه راغلے نو پرهم هغه پخوانی عادت به سره وان سوه او ایمان به یې نه راوړی کَذٰلِكَ هدا سے لکه چه مهر ولی وو موږ د دا امتونو پر نه نَطْبَعُ موږ مهر وهو عَلٰی قُلُوْبِ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۷۴﴾ پر نه رود تیریدونکو د خپل حد څخه په تکذیب کښی یعنی مکذبان د قریشو ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ بیا موږ را ولیږله تر دی رسولانو نه وسته مُوْسٰی وَهٰرُوْنَ موسٰے اوهارون علیهما السلام چه د عمران زامن وه اِلٰی فِرْعَوْنَ د مصر وفرعون ته چه نوم یې ولید یا قابوس وو وَمَلَا۟ئِهٖ او د اشرافو ته د قوم دده په بنکاره معجزو سره نه موږ چه هغه نه معجزی وی فَاسْتَكْبَرُوْا نو دوی لویی او کړن کشی وکړه د هغه د امر څخه او فرمان یې نه مانی وَكَانُوْا او دوی وه قَوْمًا مُّجْرِمِیْنَ ﴿۷۵﴾ قوم د عاصیانو پرګنا هو نه پر روه نو څکه یې د اسے کار وکړی فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ نو هر کله چه دوی ته حق راغلے مِنْ عِنْدِنَا زموږ د جانبه څخه چه موسٰےؑ وو او معجزی ورته بنکاره کړی قَالُوْٓا نو دوی به د دوی په عناد ه څخه ویل اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دا تاچه بنکاره کړی لَسِحْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۷۶﴾ خامخا بنکاره جادو دی قَالَ مُوْسٰٓی نو موسٰےؑ دوی قائللا نو ته وویل اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ ایا تاسے دوی رشتینی معجزی ته

وایاست لَمَّا جَآءَكُمْ ط په هغه وخت کښې چه تاسے ته راغله چه دا معجزه نه ده او سحر دی
اَسِحْرٌ هٰذَا ط ایا دا سحر دی وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ او حال داچه برے ځانه کې پیدا ساحران
قَالُوْٓا نو دی فرعونیا نو وموسٰے ته وویل اَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا ایا ته موږ ته دی دې لارے
بې چه موږ وا وړی عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ دهغه کار څخه چه موږ پیدا کړی دی پرهغه کار
اٰبَآءَنَا خپل پلرانو چه عبادت د فرعون دښتا نو دی وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ او ښه
دی د یارچه تاسے دواړو لره فِي الْاَرْضِ ط په مملکه کښې وَمَا نَحْنُ لَكُمَا او
موږ نه یو پرتاسے دواړو بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ باور کونکی وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ اوفرعون
وخپلو مقربانو ته وویل چه ماته راولی بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿۷۹﴾ هرهغه ساحر چه ښه ماهر
وی د سحر په فن کښے چه دموسٰے سره معارضه وکړی نو ساحران یې راجمع کړه لکه په
سورۃ اعراف کښې چه یې تفصیل تیرسوی دی فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ نو هرکله چه ساحران د
معارضے میدان ته راغله قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى نو موسٰے ودوی ته وویل چه اَلْقُوْا مَآ وغورځو
هغه چې اوکړی اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿۸۰﴾ چه تاسے یې غورځونکی یاست فَلَمَّآ اَلْقَوْا نو هرکله
چه دوی واړپه اوکړه وغورځولی اود خلکو سترګی یې په جادو وترلے نو وتولو
ته به داسې ښکاره کیدل چه دا مارانِ دی منډے وهے قَالَ مُوْسٰى نو موسٰے ورته وویل
مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ ط هرهغه شے چه تاسے دمعارضے میدان ته راوړے اوحاضر کړی
دی هغه جادو دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی سَيُبْطِلُهٗ ژردی چه باطل اوبے
فائدے ښه کړی اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ بیشکه چه خدای تقویت نه ورکوی عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۱﴾
کارلره دمفسدانو وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ او بیاښه ردی چه حق به خدای باقی اوثابت
کړی یعنی هغه نرما راوړی دین بِكَلِمٰتِهٖ په قضا او حکم سره دخپلو کلمو وَلَوْ كَرِهَ
الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸۲﴾ که څه هم کافران په راضی نه وی روایت دی چه هرکله موسٰے د
مدین څخه مصر ته راغله اوبنی اسرائیل یې وخپل دین ته راوبلل نو زړو خلګو ایمان
پرې راوړی او بعضو خو انانو ایمان پرې راوړے مګر سره دویرے بیرے د فرعون

لکه چه وایی فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى نو ایمان نه وو راوړے په اول کښې پر موسے باندے
اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ مګر کم عمره فرزندان نو د قوم څخه د موسے عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ
او هغه هم سره د بیرې د فرعون څخه وَمَلَا۟ئِهِمْ او د خپلو مشرانو څخه د دې جهتې چه
موږ به د خپل مشران د بنې اسرائیلو د فرعون د بیرې څخه بیرته کفرته واړوی یا له قوم
د فرعون څخه حُکمه چه دده دقوم څخه هم ځینې کسانو ایمان راوړی وو دوه نارینه وه
یو مؤمن دآل څخه د فرعون وو او بل خزانچی دده وو او د ریو ځینو یو بی بی اسیه او
بله ځنۍ د خزانچی او بله هغه ځنۍ چه د فرعون د ږیره یې بر منځوله اَنْ يَّفْتِنَهُمْ د
دې چه عذاب به ورکړی د افرعون ودې ایمان راوړونکو ته یا ودې مشرانو ته
چه تاسے د خپل کشران بیرته وکفرته راواړی وَاِنَّ فِرْعَوْنَ او بیشکه فرعون چه
وو لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ د خانخا جابر او متکبر وو د مصر په مُحکه کښې وَاِنَّهٗ او بیشکه د
چه وو لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ خانخا د مسرفانو او سرکشانو څخه وو تر دې حده چه
ده د خپلې دعوې وکړه وَقَالَ مُوْسٰى او موسے د مؤمنانو ته وویل د خپل قوم په
هغه وخت کښې چه په دوی کښې یې د خوف اثار ولیدل يٰقَوْمِ اے زما قومه اِنْ
كُنْتُمْ که تاسے یاست اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ چه ایمان مو راوړی وے پر خدای او پوهیږی
چه خیر او شر قوله دده څخه دی فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا نو خاص هم پر ده توکل وکړی او
هم پر ده ځان وسپاری اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ که تاسے غاړه ایښونکی یاست وحکم
او قضا ته دده فَقَالُوْا نو دوی وویل عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا خاص پر خدای موږ توکل
کړی دی نو بیا دوی سوال دنجات او د عصمت وکړی د اسے چه رَبَّنَا اے زمونږ ربه
لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً موږ مه گرزوه لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ د هغه قوم د پاره چه ظالمان دی یعنی پر موږ یې مسلط نه کړی چه پر موږ به عذابونه
نیږوی وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ او موږ د خپلې رحمت سره مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾
د کافرانو د قولې څخه رَوایت دی چه هرکله د مؤمنانو د لمانځه او د نورو عبادت

د پاره مساجد او معابد جوړ کړه هم د خپلو کورونو په څنډ کښې اوهم په بازار وکښې
بیا چه فرعون په خبر سو نو هغه تولږ بې وران کړه بیا موسیٰؑ مأموره سوچه د ننه په
خپلو کوتو کښې بې عبادت خانی جوړی کړی چه کافران په خبر نه سی لکه چه والې
وَاَوْحَيْنَآ اوموږ پیغام وکړی اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ د موسیٰؑ او وړورته دده چه
هٰرُوْنَ وو اَنْ تَبَوَّاٰ اِلِقَوْمِكُمَا دا سے چه تاسے جوړی کړی دواړه د خپل قوم دپاره
بِمِصْرَ بُيُوْتًا د مصر په ښار کښې د ننه کوټے په کو روکښې چه لمونځ اولوړ عبادت
پکښې وکړی وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ اوو ګرځوی دا خپلے کوټی چه عبادت خانی دی قِبْلَةً
مساجد متوجه وطرفته د قبلے یعنی کعبی ته اوداځکه چه موسیٰؑ په اول کښې دا سی
ما موړ سوی وه چه په لمانځه کښې مخ د قبلے (کعبے) ته کړی وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ما اداء اوکړی
لمونځ سره د تولو حقوقو په هغه مساجد وکښې وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۷﴾ اوزېرے ورکړه
اے موسیٰؑ پر مؤمنانو په نصرت سره د لته او په جنت سره هلته وَقَالَ مُوْسٰى اوموسیٰ
وویل پر طریقه د تضرع رَبَّنَآ اِنَّكَ اے زمونږ ربه بیشکه ته چه اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ تا ور
کړی دی وفرعون ته وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً اوهم تولے د تا بعا نوده ده ته قول اسباب د زینت
لکه رنګارنګ نفیسی (ښې ښایسته) جامے اوهر یو قیمت بها فرشونه اوزرین لوښے اوهم
داسے نور د کاله اسباب وَّاَمْوَالًا اوهر ډول مالونه لکه نغدی بے شماره اواتواع د سامانونو
اواقسام د چارپایانو فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا لا په دے د ډیر ژوند ون کښې رَبَّنَا اے زمونږ
ربه لِيُضِلُّوْا اعَنْ سَبِيْلِكَ ؕ د الام دعاقبت دی نو معنیٰ داچه عاقبت د دولت د دوی
داسوچه گمراه کوی بندګان ستا د لاری څخه لکه چه دوی گمراه دی یعنی ستا د عبادته
څخه پې د فرعون عبادت ته اړوی رَبَّنَا اطْمِسْ اے ربه زمونږ د هلاکت ښنې را
ولږوه عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ پر مالونو دوی نو دا نقود (نغدی) پې قوله تیږی کړه شوه که
دراهم وه که دنانیر اوچاولے دی چه باقی مالونه پے هم قوله تیږی سَوَاشْدُدْ
عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اومهر د قسوت ووهه پر زړونو دوی چه سخت د له سی فَلَا يُؤْمِنُوْا

عه (یعنی د زړونو سختی ۱۲)

نو دوی ایمان نه راوړی حَتّٰۤی یَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ﴿۸۸﴾ تر څوچه دوی وویني درد ناکه عذاب چه هغه غرق وو په بحر قلزم کښی اود ایبے ځکه وویل چه وده ته معلومه سوی وه په وحی سره چه دوی ایمان نه راوړی قَالَ نو پروردګار وویل قَدْ اُجِیْبَتْ دَّعْوَتُکُمَا په تحقیق سره قبوله سوه دا دعا ستاسے دواړو ځکه یا دسوه چه موسیٰ دعا کوله اوهارون به امین وویل فَاسْتَقِیْمَا نو دواړه کلک ولاړ اوسی پرده عوت اوپر تبلیغ خپل باندی اوتلوار مه کوی په بنکاره کید و کښی د اثر ددی دعا چه په تاخیر کښی به حکمت وی او تردی وروسته بیا ځلویښت کاله تیر سوه نو فرعون غرق سو وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ اودسره پیروی مه کوی به تعجیل کښے ددی دعا چه ژر قبوله سوی وای سَبِیْلَ الَّذِیْنَ دلاری دهغو کسانو لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ چه نه پوهیږی په حکمت سره د تاخیر اوشړ ربی غواړی روایت دی چه هرکله پروردګار د غرق اراده د فرعون وکړه نو موسیٰ تر ربی امر وکړی چه د شپی د مصر څخه ووزه دتولو بنی اسرائیلو سره بیا دی بحر قلزم ته ورغلی او فرعون د څلیر ویشت لاکهه لښکر سره ورپسی ورسیدلا نوده دریاب په لکړه وواهه او دوولس کوڅے پکښی جوړی سوی او بنی اسرائیل پکښی تیر سوه په اما ن سره او فرعون چه د خپل لښکره سره په دے کوڅو کښی راننوتی نو دریاب پرهوا راوګډ سو او قول پکښی غرق سوه لکه چه وایی وَجٰوَزْنَا اومو بر تیر کړه بِبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ الْبَحْرَ بنی اسرائیل د قلزم پر دریاب په خیر او په سلامتی سره فَاَتْبَعَهُمْ نو په دوی پسی راورسیده فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ فرعون او دده لښکر بَغْیًا وَّعَدْوًا ظلم اود جفا پر بنی اسرائیلو حَتّٰۤی اِذَاۤ اَدْرَکَهُ الْغَرَقُ لا تر هغو پورې چه غرق ورپسی ورسیدی چه په ډوبیدو سوه او دځان څخه ئې طمع قطع سوه قَالَ اٰمَنْتُ نو ده ووویل چه ما ایمان راوړی اَنَّهٗ پردی چه بیشکه شان دادی لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیْۤ چه نسته لایق دعبادت بل هیڅوک مګر لوازی هم هغه خدای دے

عه نوم دیوه دریاب دی ۱۲

اٰمَنْتُ بِهٖ چه ایمان راوړی دی پرهغه بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ بنی اسرائیلو په دعوت سره د موسیٰ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ (۹۰) او زه د غاړه ایښوونکو دقولې څخه یم وامر ته دخدای روایت دی چه یوه ورځ جبرائیل په جامه کښی د عرضیا نوم فرعون و محکمی ته راغلے او عرض یې وکړو چه څه حکم دی د اسیر دهغه مریې په حق کښی چه د خپل مولے په نعمتو کښی لوی سوی او د تما مو مریانو خپلو څخه یې په دی مرتبه کښے پورته کړی وی نو بیا ناګاه د خپل مولی څخه یاغی سی او خپلهٔ دعوی د مولی توب وکړی نو فرعون پخپل د ستخط سره ورته ولیکل چه یقول ابوالعباسؓ ولید بن مصعب جزاء الله عبد الخارج علی سیده الکافر فعساء ان یغرق فی البحر. بیا د غرقید و په وخت کښی جبرائیلؑ هغه کاغذ ورښکاره کړی چه داکار ستاسره هم ستا په فتوی سوی دی او بیا یې ورته وویل چه اٰلْـٰٔنَ ایا اوس ایمان راوړی وروسته ترهغه چه خپل اختیار درڅخه ولاړی وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ اوحال داچه بے فرمانی یه دی کوله محکمې تړدی او د رسولؑ فرمان دی نه مانی وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ (۹۱) اوته د فسادکونکو څخه وی رباعی هرغوض لره یوخت وی مقرر دذوالجلاله

چه که ورا ندی سی یاوروسته نفع نه ترآی لالله

لکه څوک چه سی ناجوړه دواغواړی دطبیبه

اوچه مړشی وخت یې تیرسی فائده نسته بیا دوالله

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ نو زه ورځ به تاوساتو د حال څخه ستا د لښکرچه دوی به په بیخ کښی دد ریاب پریږدو اوتا به داوبو پرسر ساپورته کړو اویا به تا دد ریاب د بیخ څخه ووچے ته راوغورځو و بِبَدَنِكَ تشه تنه ستا بیله روحه یا بیله جامے یا بیله د هغه سر ونړوند زغرې چه په غاړه دی وه اوداغورځول د فرعون پروچه محکمه وه چه بنی اسرائیلو باور نه کاوی پردی چه دی مړدی نو زه ریاب په دی سره ماموړ سوچه دی وډباندی وچه محکمې ته وغورځوی

عه معنی داچه فرعون والې چه جزاء د هغه مریې چه پرخپل ځان یې لښکر شه سوی او د ژمنې دی دا سی ګړیې چه کافر سی وی نو دهغه جزا داوه چه ډوب او غرق دی کړه سی په دریاب کښی ۱۲

چه دوی یے پخپله وویني او تسلي یې وسي حاصل دا چه تنه ستا به د او بو ټخمه راوباسو
لِتَكُوْنَ دې د پاره چه ته سې لِمَنْ خَلْفَكَ وهرهغه چا ته چه ترتا وروسته راځي تر
قیامته پورې یا وښې اسرائیلو ته اٰيَةً لويه نښه چه هرځوك عبرت په واخلي چه هر
بنده چه دخپل مولے ټخمه سرکشه وي او دعوٰی دانَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى وکړي نو دغه فِيْ جزاء
وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ اوبیشکه ډیر خلګو چه دي عَنْ اٰيٰتِنَا زمونږ د قدرت دنښو ټخمه ۹
لَغٰفِلُوْنَ (۹۲) خامخا غافله دي چه نه فکر پکښې کوي او نه عبرت په واخلي وَلَقَدْ بَوَّاْنَا ع ۱۰
او خامخا په تحقیق سره مونږ ډیره کړې وه بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ بنی اسرائیل مُبَوَّاَ صِدْقٍ په ۱۲
داسے ډیره ګاه کښې چه لائق اومرغوبه او ښایسته وو چه مصر او شام وو وَرَزَقْنٰهُمْ
او مونږ وو دوی ته روزی ورکړی وه مِّنَ الطَّيِّبٰتِ د پاکیزه وو لذتنا کو شیانو ټخمه یا
مراد څنی یهود د مدینې دي چه ودوی ته غوره ځایونه اوښه نعمتونه او پاکیزه لذتناکے
خرماوی هم لندی اوهم وچې ورکړه سوی وی فَمَا اخْتَلَفُوْا نو اختلاف نه ووکړی دوی
پخپل دین کښې یا درسول په شان کښې حَتّٰى ترهغو پورې جَآءَهُمُ الْعِلْمُ چه ودوی
ته علم راغے پرا حکامو د تورات یا پرنعت محمدیﷺ باندی او بیا یې په دواړو کښې تغیر ووکړ
اِنَّ رَبَّكَ بیشکه ستا رب چه دي يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ حکم به وکړي په ما بین کښې د دوی يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ د قیامت په ورځ فِيْمَا كَانُوْا په هغه شی کښې چه دوی وه فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ (۹۳)
په هغه کښې چه اختلاف به یې کاوی فَاِنْ كُنْتَ نو که ته یې فِيْ شَكٍّ په ګمان کښې يِّمَّآ
اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ د هغه قصو او احکامو څخه چه مونږ وتاته رالیږلے دي په قرآن کښې فرضًا
فَسْـَٔلِ الَّذِيْنَ نو وپوښته هغه کسان يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ چه دوی کتاب لولی مِنْ قَبْلِكَ د
مخکښې ترتا یعنی تورات او انجیل ځکه چه ستا په حال هنرکښې مفصل پروت دی بیاچه دا
حکم راغے نو رسولﷺ وویل چه لا اشك ولا اسأل یعنی نه می شك پکښې سته او نه
څوك پوښتم لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ خامخا په تحقیق سره وتاته حق راغلے دي مِنْ رَّبِّكَ د

عه معنی دا چه فرعون وځپلو نا بلدانو ته بلکه وقو لو خلګو ته ویلے وه چه زه ستاسی لوی رب یم یعنی دا ښان مقوله
خدایان دی اوزه لوی خدای یم ۱۲

طرفہ شخہ ۔ رب ستا فَلَا تَكُوْنَنَّ نو مہ کیرہ تہ خاخا مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ (۹۴) دشک کونکو شخہ وَلَا تَكُوْنَنَّ او مہ کیرہ تہ خاخا مِنَ الَّذِيْنَ دھنو کسا نو شخہ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ چہ دوے تکذیب کوی دایتو د خدای یعنی د قران فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (۹۵) نو تہ بہ سی د زیانکارانو شخہ کہ دی تکذیب وکړی اود اخطابو نہ پہ واقعہ کښی وتولہ امت تہ دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکہ ھغہ کسان حَقَّتْ عَلَيْهِمْ چہ پردوی واجبہ سوی دہ كَلِمَةُ رَبِّكَ گفتار د رب ستا یعنی نوشتہ د لوح محفوظ چہ دوی بہ پرکفر مری یا دا چہ هَؤُلَآءِ فِي النَّارِ ولا اُبالی یا دا چہ لَا يُؤْمِنُوْنَ (۹۶) دوی دسړہ ایمان نہ راوړی وَلَوْ جَآءَتْهُمْ او اګر کہ دوی تہ راسی كُلُّ اٰيَةٍ هرھغہ معجزہ چہ دوی پې غواړی حُكمہ چہ سبب دایمان پہ واقعہ کښی تعلق دی دارادی د خدای اوھغہ دلتہ مفقود دی حَتّٰى تر هغو پورې يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ (۹۷) چہ دوی وویني د ردنا کہ عذاب پہ وخت کښی د نزع دروح نوھلتہ بہ بیا ایمان راوړی مګر فائدہ بہ نہ لری یا پہ قیامت مګر نہ بہ قبلیږی فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ نو ولے نہ وہ اھل دکومہ ښوہ چہ بنارد بنارو شخہ چہ مور ہلاک کړی دی اٰمَنَتْ دا سے چہ ایمان پیدا کړی وای او د کفر شخہ توبہ کار سوی وای مخکی د عذاب ترلید واود فرعون پہ شان تاخیر پیدا نہ وای کړی فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ نو نفع ورتہ رسولے وای ایمان خپل چہ خدای خُنی قبول کړی وای حُکمہ چہ پخوا «مخکی» بہ وو ترمعاینی «ترلیدو» اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ لیکن یوقوم دیونس ھدا سے وکړہ چہ لَمَّآ اٰمَنُوْا ھر کلہ چہ ایمان راوړی دوی مخکی د عذاب ترنازلیدو پردوی بلکہ پہ صرف لید دسړہ د علامو د عذاب دوړاندې كَشَفْنَا عَنْهُمْ لیږی کړی مور دوی عَذَابَ الْخِزْيِ عذاب د شرمندګی اودرسوایی فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا پہ دی شرو ند کښی د دنیا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ (۹۸) او شرو ندی پاتہ کړہ مور دوی تر یو

عہ معطی دا چہ رب لعزت فرمایلے دی پہ روزازل کښی چہ دمخلوق می پیدا کړی دی دوزخ دا دراپیدا کړہ اوابیح ہاکہ اوخفګان مے نسته ۱۲ عہ معنی دا چہ وګ بہ کړم جھنم د تاسی شخہ ۱۲ عہ یعنی پہ دوخت د زکندن کښی ۱۲

وخته پوری چه وخت د اجل دے اود اهلته که استثناء منقطع سی اوکه متصله سی نو دالولا به نافیه سی اومعنیٰ به داسے سی چه ایمان نه وو راوړی اهل دهیڅ قریے مگر یوقوم دیونس ؑ راوړے وو اوقصه دیونس ؑ بجمله داسے ده چه دی د نینوا بنار ته مبعوث سو چه یو بنار دے د ولایته څخه د موصل نو دوی ته یے ځه موده دعوت وکړی دوی ایمان پرے نه وړی نو وعدهٔ د عذاب پے ورسره و کړه ورسوسته تر دو یا څلویښتو اودے ځنی ولاړه بیاچه هغه وعدهٔ راغله اومیاشت دذوالحجے وه چه یوتکه توره اوهیبتناکه اوریځ د پاسه پرے کښته سوه او د اور لمبی اوغټ بخرې په ړاوریدو سوه نو پردوی هیبت اوبیره غالبه سوه او پوه سوه چه ده رشتیا ویلے وه نو په ده پسے یے د یرکوښښ وکړی خو پیدا ایسے نه کړے نو قوله نړاوښځے د اولاد و او مالوسره وصحراته وواته اوکندونه یے واغوستل اوزامن یے دمینه وڅخه بیل کړه واسنا نو اوهم د چا رپایانو «حیرانانو» حقوق پے پغپلو مینځو کښی قوله سره ادا کړه اوتوبه یے په اخلاص سره وکښه اوقولو په ډاره وویل چه امتنا بما جآء بہ یونس اوترڅلویښتو ورځو پورے د اسی نارے وهلی اونزاری به یے کولے بیا دعا شور یے د ورځ پے توبه قبوله سوه اوعذاب څخه پورته اولیږی سورت دی چه هرکله رسول د خپل قوم پرایمان د یرحرص کاوی تردے حده چه په دی به یے طبعیت مبارک د یرخفه وو نوناز ل سو وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ اوکه اراده سوی ولی ستا رب د مؤمنانو کولو د قولو خلکو کَامَنَ مَنْ فِی الْاَرْضِ نو ایمان به راوړی وو هرهغه چا چه په ځمکه کښی دی كُلُّهُمْ جَمِيْعًا د قولو په یوه واړا فَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ ایانوته مجبوره کوی خلك بیله زما دارادی حَتّٰى يَكُوْنُوْا په دی سره چه دوی قوله مُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ ایمان راوړونکی سے اودا ایت منسوخه سوی دے د قتال په ایت سره وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اونه دی ممکن وهیڅ شخص ته اَنْ تُؤْمِنَ د اچه ایمان راوړی اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ مگر په اراده اوتوفیق اوبه قضاسره د خدای وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ او اچوی «اوررې» خدای خپل غضب عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ پرهغو کسانو چه عقل و

فکر نه کوی په دلیلو او په آیتو کښی قُلِ انْظُرُوْا ته ورته ووایه وډی مشرکانو ته چه وګوری په نظر د عبرت او د استدلال سره مَاذَا فِی السَّمٰوٰتِ چه څه قسم عجائب او غرائب دی په اسمانونو کښی لکه د لمر او د سپوږمی تلپ او اختلاف د شپی او د ورځی او د اسو نور د پیر وَالْاَرْضِ او په ځمکه کښی لکه شنه کیدل د هر قسم غلو او د هر صنف میوی او د رنګارنګ ګلانو او د نورو او د بوټو چه تاسے ځنی معلوم کړی د قدرت کامله او حکمت بالغه د خدای او استدلال معلوم کړی چه بیا ستاسے د پاره مُوْجِبِ د ایمان سی وَمَا تُغْنِی الْاٰیٰتُ او نه د ډیر ډیر کوی صرف لیدل د قدرت د علامو او نښو وَالنُّذُرُ او د ویرید ولو کلام د پیرونکو چه هغه رسولان دی عَذاب او قهر د خدای عَنْ قَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ د هغه قوم څخه چه په علم د خدای کښی داسے مقرر دی چه ایمان نه راوړی دوی فَهَلْ یَنْتَظِرُوْنَ نو آیا انتظار کوی د مشرکانو یعنے وهیڅ شی تر یې نه کوی اِلَّا مِثْلَ اَیَّامِ الَّذِیْنَ مګر هغه حادثے او عذاب ته چه په شان د حادثو او د عذابونو د هغو کسانو دی خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ د چه تیر سوی دی مخکی تر دوی لکه عاد او ثمود او اصحاب د ایکے او د مؤتفکات قُلْ فَانْتَظِرُوْا نو ته ووایه چه انتظار کوی وعذاب ته اِنِّیْ مَعَکُمْ بیشکه زه هم د تاسے سره مِنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ د انتظار کونکو څخه یم ستاسے وهلاک ته او بیا چه عذاب به راغلے نو رسول او مؤمنان به ځنی خلاص سوه او کفار به هلاک سوه لکه چه وایی ثُمَّ نُنَجِّیْ رُسُلَنَا بیا چه موږ وساتل رسولان خپل د هغه عذابه څخه پرمکذبانو راغلے وو وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان هم چه ایمان یې راوړی وو پرډی رسولانو کَذٰلِکَ ۚ هم داسے لکه دا رسولان او مؤمنان چه ساتلی وه موږ حَقًّا عَلَیْنَا دا رشتینی وعده وه چه موږ پرځان لازمه کړے ده په وخت کښی د هلاک د مشرکانو نُنْجِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۰۳﴾ موږ به وساتو مؤمنان چه رسول او اصحاب دده دی قُلْ ته ووایه اے رسوله واهل د مکی ته یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اے خلګو اِنْ کُنْتُمْ که تاسی یاست فِیْ شَکٍّ مِّنْ دِیْنِیْ په ګمان کښی زما دین چه صحیح دی او که نه دی نو بیان یې واورے چه هغه دادی فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِیْنَ نو عبادت

ع ۱۰ ۱۱ ۱۵

نہ کومہ نہ رہ دھنو تَعْبُدُوْنَ چہ تاسے یی عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدایہ کہ بتان دی کہ ملا نکی دی وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِیْ ولیکن نہ رہ عبادت کومہ دھغہ خدای یَتَوَفّٰىكُمْ چہ تاسے وژنی چہ ھغہ ابتداء د تعذیب ستاسے وہ نو دھغہ د احاصل دے دین زما نو تاسے عقل پکښے وکړی چہ صحت یی د رتہ معلوم سے وَاُمِرْتُ اونہ ما مورہ سوی یم اَنْ اَكُوْنَ پہ دے سرہ چہ نہ رہ سم مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ د مؤمنانو د ثولی ثمخہ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ اوبل پہ دے سرہ ما مورہ سوی یم چہ و د رومخ خپل یعنے خالص او مستقیم کړہ خپل عمل لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۚ د پارہ د خپل دین پہ دا سے حال کښے چہ مائل وی د ا ستاخ د ثولو اد یانو ثمخہ ودین د اسلام تہ یا مستقیم لرہ خپل مخ پہ لمانځہ کښے د قبلی وطرف تہ وَلَا تَكُوْنَنَّ او تہ مہ کیږہ د سرہ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ د ثولی ثمخہ د مشرکانو نو او دا خطاب پہ واقعہ کښی د امت تہ دی وَلَا تَدْعُ اومہ بولہ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدایہ مَا لَا يَنْفَعُكَ ھغہ شی چہ نفعہ نہ رسوی وتا تہ بلنہ د ھغہ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ اوضرر نہ رسوی وتا تہ بلنہ د ھغہ فَاِنْ فَعَلْتَ نو کہ تادا سے وکړہ یعنی د اشی دی وبالہ فَاِنَّكَ اذًا نو بیشکہ چہ تہ پہ دغہ وخت کښی چہ د اشے دی وبالہ مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ ځانا د ظالمانو ثمخہ بہ سے وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ اوکہ خدای وتا تہ ورسوی بِضُرٍّ کوم قسم خفگان لکہ مرض یا فقر یا نورہ سختی فَلَا كَاشِفَ لَهٗ نو نستہ هیڅوك لیری کوونکے د ھغہ اِلَّا هُوَ ۚ مگر هم دی دی وَاِنْ يُّرِدْكَ اوکہ د تاسرہ ارادہ وکړی بِخَيْرٍ د کوم قسم خوشحالی لکہ صحت یا غنا یا کوم بل راحت فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۭ نو نستہ هیڅوك اړوونکی د مهربانی د دہ يُصِيْبُ بِهٖ دی رسوی د ا خیر مَنْ يَّشَآءُ ۭ هرهغہ چا تہ چہ ارادہ یی پہ وسی مِنْ عِبَادِهٖ ۭ د خپلو بندگانو ثمخہ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۷﴾ اوهم دے بخښونکی اومهربانہ دی قُلْ تہ بیا ورتہ وایہ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اے خلکو قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ پہ تحقیق سرہ تاسے تہ راغے حق یعنی قران یا رسول مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ د جانبہ ثمخہ د رب ستا سے نو اوس هیڅ عذر نہ سو پاتہ فَمَنِ اهْتَدٰى نو هرڅوك چہ لارے پیدا کړہ وایمان او

طاعت ته فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ نو بیشکه هم داخبره ده چه لاره یے پیدا کړه لِنَفْسِهٖ ۚ دخپل ځان د پاره یعنے نفع یے هم وده ته راجع ده وَمَنْ ضَلَّ او هر څوک چه گمراه سے په انکار او په تکذیب سره فَاِنَّمَا یَضِلُّ عَلَیْهَا ۭ نو بیشکه هم داخبره ده چه گمراه کیږے خپل ځان یے اوضرر یے هم وده ته راجع دی وَمَآ اَنَا اونه نیم عَلَیْكُمْ بِوَكِیْلٍ ﴿۱۰۸﴾ پرتا سے باندی نگهبان چه ستا سے دا مور و متولی اوسم بلکنه محض بشیر او نذیر یم وَاتَّبِعْ مَا او ته پیروی کوه دهغه شی یُّوْحٰٓى اِلَیْكَ چه راالیږل کیږی وتا ته یعنے ته پخپله هم عمل کوه اونورو ته یے هم رسوه وَاصْبِرْ اوصبر کوه پرتکذیب او پرایذا دوی حَتّٰى یَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ ترهغو پوری چه حکم وکړی خدای په نصرت او په غلبے سره ستا یا په قتل سره دوشنی او په جزیه سره دکتابی وَهُوَ خَیْرُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ اودے غوره دحکم کونکودی ع ۱۱ ۱۶

سُوْرَةُ هُوْدٍ مَّكِّیَّةٌ — رکوعها ۱۰ — ایاتها ۱۲۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الٓرٰ اقد اکثرو علما وو دی مقطعاتو په تاویل کښے سکوت کړی دی اوبعضو یا تاویلات پکښے کړے دی چه یو دهغو څخه دا دے چه الف د اول څخه دا ناد ی اولام د وسط څخه دالله دی اوراء د اخره څخه د بصیر ده یعنے اَنَا اللّٰهُ الْبَصِیْرُ معنی داچه زه خدای یم چه نیک اوبد وینم د هرچا نو مطابقه جزا به ورکړم كِتٰبٌ دا یو کتاب دی اُحْكِمَتْ اٰیٰتُهٗ چه ایتونه یے محکم کړه سوی دی دده چه هیڅ خلل او نقصان نه سی پکښے راتللای ثُمَّ فُصِّلَتْ بیا یے فرائدی په تفصیل سره بیان سوی دی یعنی عقائد او احکام اومواعظ او اخبارات اودا ستحکام او تفصیل یے سوی دی مِنْ لَّدُنْ حَكِیْمٍ خَبِیْرٍ ﴿۱﴾ د جانبه څخه دهغه خدای چه پرحکمته او دانا دے په هر یت او بنکاره سره اودا سے وایی اَلَّا تَعْبُدُوْٓا چه عبادت مه کوی دبل هیڅا اِلَّا اللّٰهَ ؕ مگر یوازی د خدای اوورته ووایاے

رسوله اِنَّنِیْ لَکُمْ چه بیشکه زه وتاسی ته مِّنْهُ نَذِیْرٌ د طرف څخه ډده ډیرونکی یم دا نسواو دجنود عذابه څخه ډیے په سبب د شرك او د طغیان سره وَّبَشِیْرٌ ۲ او زیری کونکی یم د ثواب او د رضوان او د جنت او د دیدار په ایمان او په توحید سره یعنے اول امر د ته کوم په توحید سره او بیا دا سے د ته وایم وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّکُمْ چه بخښنه وغواړی د خپله رب څخه د تیرو گناهو ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَیْهِ بیا توبه وکاږی و ده ته د گناه کولو څخه پس د ده څخه یا بخښنه وغواړی د تیره شرك څخه او رجوع وکړی و ده ته په طاعت سره یُمَتِّعْکُمْ چه اوبده څوند درکړی سره د معاشه مَّتَاعًا حَسَنًا په غوره معاش سره یعنے صحت او امن او انواع د نعمتو اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی تر هغه وخته پورے د مرګ چه په نامه سوے دی وَّیُؤْتِ او چه دی ورکړی کُلَّ ذِیْ فَضْلٍ و هرخاوند د فضل ته په دین کښے فَضْلَهٗ د ثواب او جزاء د فضل د ده هم په دنیا اوهم په اُخرت کښے او خاوند د فضل هغه دی چه حسنات ډیے پرسیٹ او تر باندی زیات وی وَاِنْ تَوَلَّوْا او که تاسے شاوګرځوی اے کفارو د اسلام پازما د متابعت څخه او د په اصل کښے تتولوا دی بیا یوه تَ حُنی حذف سوی ده فَاِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْکُمْ نو بیشکه زه پرتاسے بیریږم عَذَابَ یَوْمٍ کَبِیْرٍ ۳ د عذاب څخه د هغه ورځی چه لویه ده چه هغه د قیامت ورځ ده اِلَی اللّٰهِ مَرْجِعُکُمْ ج خاص وخدای ته بیرته ورتلله ستاسے دی هُوَ اودی عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۴ پرهرشی قادر دی نوستاسے اعاده ورته اسانه ده اَلَآ اِنَّهُمْ واوری بیشکه دا کفار چه دی چه دا سے وایی چه که موږ خانونه په جا موکښی ونغاړو او پرده سے پرځان راکښته کړو او خپل زړونه پکښی ولړکړو د عداوته څخه د محمدﷺ نو دے به څه په خبرسے یَسْتُوْنَ صُدُوْرَهُمْ دوه قته کوی دوی خپلی سینی او د اکنایت دی د شیا نو پتو لو څخه په زړه کښی یعنی دوی د رسولﷺ عداوت پټوی پخپلو زړونو کښے لِیَسْتَخْفُوْا مِنْهُ د ده څخه د اعداوت پټ کړی خدای اَلَا بیا واوری

حِیْنَ یَسْتَغْشُوْنَ په هغه وخت کښی چه دوی واغوندی تِیَابَهُمْ خپلے جامی او
ځان پکښی و نغاړی دپاڼ دخوب یا چه قرآن واندوری یَعْلَمُ مَا یُسِرُّوْنَ دی پوهیږی
په هغه شی سره چه دوی پټوی په خپلو سینو کښی وَمَا یُعْلِنُوْنَ ؕ او په هغه شی سره
چه دوی یې بښکاره کوی اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۵ بیشکه چه دے داناد دی
په هغه څو لواسره سره چه په درنو اوسینو کښی پټ پراته دی

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ او نسته هیڅ ګرځیدونکی فِی الْاَرْضِ په ځمکه کښی اِلَّا عَلَی
اللّٰهِ مګر چه ده پرخدائ باندی رِزْقُهَا روزی دهغه اما تفضلاً نه وجوباً وَیَعْلَمُ
مُسْتَقَرَّهَا او پیژنی ځای دا وسیدلو دده وَمُسْتَوْدَعَهَا او ځای دقبردده
یا قرارګاه دده وروسته ترشوندون یې لکه ځمکه یا اوبه یا هوا او هدا سے ځمکی تر
شوندون لکه صلب یا رحم یا هګی کُلٌّ داټول چه دواب دی سره دخپله رزقه
اودده وارده قرارګاه وده دوی فِیْ کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ ۶ په واضح کتاب کښی چه لوح
محفوظ دی لیکلی پراته دی وَهِدَایَت دی چه هرکله قضاربانی اوارادهٔ صمدانی
په ایجاد د عالم پوری متعلقه سوه دپاره دخپل معرفت لکه حدیث قدسی دے
چه کُنْتُ کَنْزًا مَخْفِیًّا فَاَحْبَبْتُ اَنْ اُعْرَفَ فَخَلَقْتُ الْخَلْقَ لِاُعْرَفَ نو نوربی د
حضرت پیدا کړی اول دخپله نوره شخه لکه حدیث دی اَنَا مِنْ نُوْرِ اللّٰهِ وَ
الْخَلْقُ مِنْ نُوْرِیْ بیا دا نوره په جنبش سو نوبوه شته ملغلره خُنی پیدا سوه
بیا پودے ملغلره نو بیا پردے ملغلره دقهر نظر وسو نودیره هیبته
شخه دوه ځایه سوه نو دیوی توتی شخه بی عرش عظیم جوړ کړی اوپردویمه
توټه بیا دقهر نظر وسو نودیره خوفه شخه اوبه سوه اود اعرش عظیم ﷺ اوبو
پرشا کښینوو بیا بی باد هم پیدا کړی اود غه اوبه بی ددغه بادپر شا

عه معنی دا چه الله پاک فرمایلے دی چه زه پته خزانه وم نو دا خبره می خوښه سوه چه وپیژندلے سم زه نو
دا خلق می پیدا کړه چه زه وپیژندلے سم ۱۲ عه یعنی زه دخدای دنوره شخه پیدا یم او خلق زما دنوره
شخه پیدا دی ۱۲

کښیښووی نو بیا دا او به په موج سوی او پرسر یې نړلې پیدا سوا د ویره لو ږده
هم ځنی پیدا سوه نو اول یې ډډے نړکه څخه مخکه جوړه کړه او غږونه او سرونړی ګانے
دهر فریق او انتهار او ښځار یې پکښی کښیښوول بیا د دے لو ږدی څخه یې اسمانونه
جوړ کړه او ملړاو سپو ږدی او ستارې یې پکښی کښیښول او د اقوله ابادی
په شپږو ورځو کښے سوی د ه چه غیږ د خالی څخه د ی یعنے ما سیوا د شښی د ورځی څخه لکه چه وئے

اشعار

د اوله هیڅ شے نه وو نه او به نه باد او نه نار
نه دا مخکے اسمانونه لمړ سپو ږے لیل و نهار
نه دا انس او جن نبات سیند و نه غږونه وے
مګر ذات بیجهات وو تل ثابت پر یوه قرار
بیا د رب ارا ده وسوه چه نړه وه پیڅرندل سم
نو پیدا د حضرت نور په محبت کړے کردګار
ناګاه نور په جنبش سو ځنے ما خلره سوه پیدا
بیا د قهر نظر وسو نو د وه ځایه کړه فټهار
دیوے قطعے یې جوړ کړی هغه لوی عرش مجید
بیا یې باد پسے پیدا کړے په قدرت سره بسیار
پرد ویمه قطعه باندی نظر د قهر وسو
د هیبت څخه او به سوه او د خوف تار په تار
بیا یې عرش پر اوبو کښیښود او او به پرشا د باد
بیا نو مخکے اسمانونه عزم کړه پرور دګار
بیا او به سوے په موج اوزلې پر اغے د یر او تیر
رب ځنے جوړه کړله مخکه او هم غږونه او اشجار
او په دغه موج و هلو ویرے لو ږے ځنے ولاړی
نو ځنے جوړ سوه اسمانونه پکښے ستوری بیشمار

منشأ د موجود اتو چہ بیان کړلہ مراد څوك چہ یے واوری سوال دی وکړی چہ ئے وښنے غفار

لکہ چہ وایے وَهُوَ الَّذِيْ او دے هغہ پرور دګار دے خَلَقَ السَّمٰوٰتِ چہ دہ پیدا کړے دی اسمانونہ وَالْاَرْضَ او ځمکہ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ پہ مقدار د شپږو ورځو د دنیا کښے چہ شروع یے ئے دیکشنبی ځخہ وہ او ختم یے پہ جمعہ وہ فَائِدَہ : دا خلقت ئے شپږو ورځو کښے و خلګو تہ تعلیم دی ئے چہ پخلو امور و کښی مهلت کوی او بل دا چہ وهر کار تہ یوہ ورځ مقرره وے او بل دا چہ پرله پسے د شیانو پیدا کول د عالم مدبر او مرید چہ پخپل اختیار سره تصرف کوے دد ے سببہ د ے چہ د ے پرخلقت پہ یوہ لحظہ کښے هم قادر د ے مګر عرش او بادونہ او اوبہ د دی د ځخہ پیدا سوی دی چہ هغہ د عالم ابتداء، ده وَكَانَ عَرْشُهٗ او حال دا چہ و و عرش دده ځمکی تر پیدا کیدو د ځمکی او اسمانو عَلَى الْمَآءِ پر اوبو باندے فَائِدَہ : دا عرش او اسمانونہ او ځمکہ او نور پہ دے مینځ کښے چہ هوښ پیدا د ے هغہ لذ اتها خدای نہ دی پیدا کړے بلکہ د دے د پاره چہ پہ دی کښے ده و قدرت د د لائلو انواع او اقسام د ے ځمکہ چہ راغلے دی ربنا ما خلقت هٰذا باطلًا اول او بل اما د ے د وجود او اسباب د معاش او مقتضیات د عمل او موجبات د استدلال ستاسے دی نوځمکہ ئے د اتو لہ پیدا کړہ لِيَبْلُوَكُمْ د دے د پاره چہ تاسی وازمایی اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ط چہ کوم یو د تاسے ځخہ ډیر سنہ دی د جهتہ د عمل یعنی کوری چہ پہ تاسے کښی ځوك عاقل او شاکر او مطیع او متورع او عبرت اخستونکی دی پہ دے شیا نو کښی چہ تو بہ کښونکی سی او ځوك ابلہ او کفور او عاصے او بے باکہ او سرونده او کوږ دی چہ معاقب او پہ عذاب دی سے وَلَئِنْ قُلْتَ او خامخا کہ تہ وخپل قوم تہ و وایے اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ چہ بیشکہ تاسے بیا ژوندی کیدونکی یاست مِنْۢ بَعْدِ الْمَوْتِ ترمرګ ور وسته لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا نو خامخا به وایی هغہ کسان چہ کافران دے اِنْ هٰذَآ نہ دے دا قرآن چہ دا بیا ژوندون وایی اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۷

مگر بنکاره جادو دے وَلَئِنْ اَخَّرْنَا اوکه موږ وروسته کړو عَنْهُمُ الْعَذَابَ د دوے څخه هغه عذاب چه موعود دے اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ تر یو معلوم وخته پوری لَيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ط نو دوی خاخا وایی دے مسخره څخه چه کوم شی دا عذاب بندکړی دے او ولی نه راځی وموږته اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ واوری په هغه ورځ چه دا عذاب راسی دوی ته لکه چه د بدر په ورځ راغلے وَلَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ نو نه به وے دا عذاب دفعه کړه سوے دوی څخه وَحَاقَ بِهِمْ او چاپیره به سے پردوی او داصیغه د تحقق دپاره ده مَّا كَانُوْا بِهٖ هغه شی چه وه دوے چه په هغه پوری یې یَسْتَهْزِءُوْنَ (۸) مسخرے کولی اوشر ربه یې غوښتی وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ اوخاخاکه موږ په انسان سره وځکو یعنی ورکړو مِنَّا رَحْمَةً رحمت دخپله جانبه څخه یعنی صحت اوامن اوفراخی ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ه بیا یې بیرته دانعمت دده څخه راغول کړو یعنی ځنې وایی خلوا اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ (۹) بیشکه چه دے خاخا ناامیده اوناشکره وے وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ اوخاخاکه موږ په ده وځکو نعمت لکه صحت اوفراخی بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ وروسته ترهغې سختۍ چه وده ته رسیدلے وے لکه مرض اوفقر لَيَقُوْلَنَّ نو خاخا به دے وایی ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ط چه دماڅخه هغه سختی ولاړه چه نږه به یې خفه کولم اِنَّهٗ لَفَرِحٌ بیشکه خاخادی ډیر خوشحاله اومغروره وے په ده نعمت سره فَخُوْرٌ (۱۰) ډیر فخر کونکی وے پر خلکو اودشکر څخه ددے نعمت غافله وے اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا مګر هغه کسان چه صبر کوے پر سختۍ باندے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ط اودنیکو عملونه کوے یعنی پر نعمت اونرحمت دوارو شاکران وے اُولٰٓئِكَ داکسان چه دے لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ مقرر دے دوی لره بخښش دګناهو وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ (۱۱) اوډیر لوی اجر چه ادنی یې جنت اوعلی یې دخدای دیدار دے۔

مؤمنان په آخرت له خلده حوره سر تر پایه نعمتو کښې وی معموره
نه به بې درده نه به بې مرګه اونه خفګان وی تل به وی په لذتو کښې مخمور

چه ناشاپه به دید اړپرسا نبکاړ سے نود خلد حورے به ټې وونړی د شعوره
رڼ ایت دے چه هر کله به کفار و په رسول پورے سپکے خبرے او مسخری کولے
چه که دے واقعی رسول وے نو دا لوړے او تندے به ږے نه تیرولی او دولت
او خزانه به ورلره سا غلے وه چه هم ږے پخپله خوړلاے او هم ږے وخلګو ته ورکولاے
دباچها نو په شان او یا به ملائکه ورسره سا غلے وه چه دده تصدیق به ږے کاوے نو
دے به په دی خبرو ډیر تنګ دله سو ځکه چه ده به د رب کلام و رته وایې او دوے
به نه قبلولو بلکه پوری خندل به ږے نو نازل سو فَلَعَلَّكَ نو بنایې چه ته تارِكٌ پرېښونو نکی
ږے او دا استفهام په معنیٰ دلهنی دے یعنی مه پریږده بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ بعض دهغه
قرآن څخه چه وتاته سا لیږل کیږے یعنی هغه زمه دبتا نو چه د مشرکا نو د رأیے څخه مخالف
دے وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ او دهغه په بنکا ړ کولو سره ستاسینه تنګیده ونکی ده اَنْ يَقُولُوا
دوے بیرے څخه چه دوی به وایې لَوْلَا أُنْزِلَ چه ولی نه ده سا لیږل سوی عَلَيْهِ كَنْزٌ
پرده باندے خزانه چه وخلګو ته ږے ورکړی چه تا بعان ږے وِيرسی أَوْ جَاءَ یا ولی نه
راځی مَعَهُ مَلَكٌ ده ده ملائکه د پاره د شاهدی پر نبوت ده نو ته د دوی په دے
خبرو سره څپل تبلیغ مه پریږده ځکه چه إِنَّمَا أَنْتَ نَذِيرٌ بے شکه هم د اخبره ده چه
ته ږیر ونکی ږے یعنی دتا څخه به د انذار پوښتنه کیږے نه د دوی د اقتراحاتو او افعالو وَاللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿۱۲﴾ او خدای پر هر شی شاهد او نګهبان دے أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ د بلکه
دا کافران وایې چه دا خانه څخه د رواخ جوړوی او وایې چه و ما ته وحی سوی دی د قرآن
قُلْ فَأْتُوا او ته ورته ووایه چه تاسے ږې هم سا لوړی بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ لس سورتونه د
قرآن په شان په فصاحت او بلاغت کښے مُفْتَرَيَاتٍ د خانه جوړ کړه سوی ځکه چه قصے
او اخبار او اشعار ستاسے لا ډیر یا دی وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ اولږ و بولی هر هغه
څوک چه ستاسے د لاسه کیږی د مدد ګاری د پاره په دے معارضه کښی مِنْ دُونِ اللَّهِ
غیر د خدای څخه اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿۱۳﴾ که تاسی رښتینی یاست په دی کلام کښی چه دا

قرآن پے دخانه جوړکړی دی فَاِلَّمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَکُمْ نوکه دوی دا خبره قبوله نه کړه د تاسے سره او دا جمع د ضمیر د تعظیم د پاره ده یا د رسول د مؤمنانو سره مراد دے فَاعْلَمُوْٓا نو بوه سی اَنَّمَآ اُنْزِلَ چه بیشکه هم دا خبره ده چه ما لیږل سوی دی دا قرآن بِعِلْمِ اللّٰهِ په هغه علم سره چه خاصه د خدای ده وَاَنْ او په دے هم پوه سے چه لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نه شته لایق د عبادت هیڅوك مګر هم دے فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ (۱۴) نو آیا تاسے واسلام ته غاړه ایښوونکی یاست و روسته تر دی حجت قاطعه نو غاړه و نه کښیږ دے مَنْ کَانَ هر څوك چه وی د دنیا کم همتی څخه یُرِیْدُ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا چه غواړی یوازے دی دنیا ژوندون وَزِیْنَتَهَا او بنایسته دوے پے عوض د خپلو نیکیو کښی نُوَفِّ اِلَیْهِمْ نو پوره به ورکړو مو د دوی ته اَعْمَالَهُمْ فِیْهَا جزا د دوی د عملو په هم دے دنیا کښی یعنے صحت او دولت او فراخی د رزق او ډیر اولاد به ورکړو وَهُمْ فِیْهَا او حال دا چه دوی به په دے دنیا کښے لَا یُبْخَسُوْنَ (۱۵) کم ورکړل سوے به نه کیږے یعنی د دوی اجر به هیڅ نه سی ښنډولای او مراد څخه منافقان یا یهود او نصاری یا ریاکاران دے اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دا هغه کسان دی لَیْسَ لَهُمْ چه نسته دوے لره فِی الْاٰخِرَةِ په هغه جهان کښی اِلَّا النَّارُ مګر اور دے وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِیْهَا او خراب سو هغه عمل چه دوی په دی دنیا کښے کړے وو وَبٰطِلٌ مَّا کَانُوْا او باطل دے هغه کار چه دوی وه یَعْمَلُوْنَ (۱۶) چه کاوی به پے اَفَمَنْ کَانَ آیا نو هغه څوك چه وی دے یعنے دے تللو کوی عَلٰی بَیِّنَةٍ په هغه واضح دلیل عقلے چه را غلے وی وده تر مِّنْ رَّبِّهٖ د جانبه څخه د رب ده چه د سمے لارې ښوونه ورته کوی وَیَتْلُوْهُ او بیا په دے عقلی دلیل پسے را غلے دے شَاهِدٌ مِّنْهُ گواه د دے دلیل د خدای د طرفه چه هغه قرآن دی وَمِنْ قَبْلِهٖ او مخکی تر دی قرآن کِتٰبُ مُوْسٰٓی کتاب د

موسٰے وو یعنے تورات چه هغه هم شاهد وو پرصحت د دے دلیل اِمَامًا وَّرَحْمَةً ط په داسے حال کښے چه پیشوا وو په دین کښے او موجب د مهربانی وو پر منونکو د ده باندے حاصل دا سے وایی چه پر ما باندی هغه شخص چه په دے صفاتو سره موصوف دے دهغه چا په شان دے چه یوازی دنیا غواړی او اخرت نه پیژنی شاوی یعنے نه دے دهغه په شان اُولٰٓئِكَ داکسان چه پردے دلیل سره روان دے يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ط ایمان راوړے پردی قرآن وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ اوهرڅوك چه په دی قرآن کافر سے مِنَ الْاَحْزَابِ د دی قولیو څخه چه اهل مکه او ملګری د دوے په عداوت د رسول کښے فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ نو د دوزخ اور وعده کاه د دی دده چه بیشکه بے شبهی به وسره اړه وی فَلَا تَكُ تـه مه کیږه فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ ق په شك کښے دی قرآن یا د دے موعده څخه اِنَّهُ الْحَقُّ بیشکه چه دا وعده رشتیاده مِنْ رَّبِّكَ د جانب د رب ستا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دی لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾ باور نکوی په دے خبره وَمَنْ اَظْلَمُ اوڅوك دی پر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى تر هغه چا چه دروغ نه څخه ترے عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا باندے پر خدای باندی دروغ چه نفی دی دوے یا اثبات دی د شریك ده سره اُولٰٓئِكَ يُعْرَضُوْنَ داکسان به د قیامت په ورځ د رسول سے اوعرض به کړه سے عَلٰى رَبِّهِمْ پر خپل رب باندی وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ او وبه وایی شاهدان یعنے کرام الکاتبین یا پیغمبران یا اعضاء هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ چه دا هغه کسان دے چه د دوی په عناده څخه كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ دروغ یے ترے دی پر خپل رب باندی په نیولو د ولد او د شرك سره اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ خبردار د خدای د وی عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۸﴾ الَّذِيْنَ پر هغه ظالمانو یعنے کافرانو چه يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ چه اړوی خلك د لاری د خدای یعنے دده دین څخه وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ط اوستاپی والا روخلګو ته په کږو والی سره چه ورته وایی چه دا لاره د دیره چه ده وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ اودوی په هغه جهان کښے هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ هم دوی بے

باوره دے اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُونُوا داکسان نه دی مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ عاجزه کونکی د
خدای په مخکه کښے یعنے د غه ابولوځخه په دنیا کښے که یی اراده وسے وَمَا كَانَ لَهُمْ او
نه به وی دوی لره مِّن دُونِ اللَّهِ غیر د خدای څخه مِنْ أَوْلِيَاءَ مه دوستا نو
څخه هیڅوک چه عذاب دے څنی دفعه کړی مگر خدای دوی پخپله پرایښی دی
و قیامت ته اوهلته یی يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ط دوچنده به کړه سی ودوی ته
عذاب په قیامت کښے یعنی دیر به یرنړیات کړه سی دی جهته چه مَا كَانُوا نه وه
دوی په دنیا کښے يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ چه طاقت یی وای داوریدلو یعنے د حق د
اوریدلو څخه کا نه وه وَمَا كَانُوا اوودوی نه وه يُبْصِرُونَ ﴿۲۰﴾ چه لیدلی یی وای
یعنے دقدرت دجهته د رسوند والی اُولٰٓئِكَ الَّذِينَ داهغه کسان دے خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ
چه نړیان یی په رسولی دے وخپلو ځانونه چه د خدای عبادت یی د بتانو په عبادت
بدل کړے وَضَلَّ عَنْهُم اوورک سو دوی څخه مَّا كَانُوا هغه چه دوی وه يَفْتَرُونَ ﴿۲۱﴾
چه درواغ به یی ویل په دنیا کښے چه داښتان زمونږ شفاعتگر دے لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ
نسته هیڅ شبه په دی کښے چه بیشکه دوی فِي الْآخِرَةِ په هغه جهان کښی هُمُ
الْأَخْسَرُونَ ﴿۲۲﴾ هم دوی زیانکاران دے إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا بیشکه هغه کسان
چه ایمان یی راوړے دی وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ اوعملونه دنیکو کوی وَأَخْبَتُوا
اوارام یی بنولے دی اود هرڅه څخه یی ځان راشکولے دی إِلَىٰ رَبِّهِمْ ده ویا دګیری
اوعبادت ته د رب خپل اُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ج داکسان اوسیدونکی دجنت دی
هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۳﴾ دوے به په دی جنت کښی هیشه وے مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ مثال
اوحال ددے دواړو وطائفو د کافرانو اود مؤمنانو څه دے كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ
د کفار وداداسے دی لکه هرونډ اوکوڼ یعنے داکفار چه نده اوهم کا نه
دے چه نه د قدرت ښځے وینی اونه کلام حق اوری وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ اود
مؤمنانو داداسے دی لکه لیدونکی اواوریدونکی یعنے داهغه مؤمنان ښځی د

قدرت وینی اوکلام دحق اوری ځکه عبرت په اخلی هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ایادادواړه ۲
طالبفی پیروه شان والی کښی سړ برابرے دے یعنے نه دے سړ برابرے اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾ ع ۲
ایانو تاسے په دے شالوسره پند نه اخلے اوفکر نه پکښے کوی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اوخامخا
په حقیق سړ موږ نوح لیږلے وونُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ نوح وخپل قوم ته اوودوی ته یے وویل
اِنِّيْ لَكُمْ چه بیشکه زه وتاسے ته نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۵﴾ ښکاره ویرونکی یم چه عذاب اوثواب
دواړه درته بیانوم اوواړه درته وایم اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اسے چه عبادت مه کوی دهیچا اِلَّا اللّٰهَ ؕ
مگر یوازی دخدای اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه زه ویرږم پرتاسے که دبل چا عبادت وکړی
عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۶﴾ د عذاب ښخه دهغه ورځی چه دردناکه ده یعنے عذاب دهغی دردناکه
دے فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ نو مشران اووویل كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چه کافران وه دقوم ښخه وده
مَا نَرٰىكَ چه موږ تا نه وینو اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا مگر یوسړی زموږ په شان وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ
اوبیا موږ تادا سی نه وینو چه متابعت کړی دی ستا بل هیڅا اِلَّا الَّذِيْنَ مگر یوازی هم
هغه کسانو هُمْ اَرَاذِلُنَا چه دوی هغه کم پایه اوخسیسان زموږ دے بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ
چه سرسری فکره دے اوعقل نه لرے چه دعاقبت ته دکار نظر وکړی وَمَا نَرٰى لَكُمْ اونه
وینو موږ تاسے لره یعنے تاسوستاتاته بعانو لره عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ پرموږ باندی هیڅ قدر
بهترې چه ستاسو متابعت وکړو بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾ بلکه موږ پرتاسے دروغجنو
گمان کوو قَالَ يٰقَوْمِ ووویل نوح چه اے زما قومه اَرَءَيْتُمْ ایاتاسے وینی نو ماهم خبر
کړے اِنْ كُنْتُ که زه يم عَلٰى بَيِّنَةٍ پرښکاره دلیل ولاړ مِّنْ رَّبِّيْ د طرفه ځمنه د
خپل رب چه زما دعوئ پرصحت شاهدی وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً اوده وما ته عطا راکړی
ده مِّنْ عِنْدِهٖ د خپله جانبه ځمنه چه نبوة دے فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ نوپټ کړه سوی دی
پرتاسے دادلیل اَنُلْزِمُكُمُوْهَا ایا موږ تاسے وقبلولو دی دلیل ته ترڅو وَاَنْتُمْ لَهَا
اوحال داچه تاسے ودی حجت ته كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ غوښتونکی نه یاست او په خفه کیږے
وَيٰقَوْمِ اوای زما قومه لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ زه نه غواړم دتاسے ښخه پردی

عرض ۱۲

تبلیغ ثمہ مبلغ چہ پرتاسے پئے اداء سختہ دہ نوٹکہ دما ثمہ تبستیری اِنۡ اَجۡرِیَ نہ دے اجرنہ ما اِلَّا عَلَی اللّٰہِ مگر پرخدای دی بیا پے قوم ورتہ وویل چہ مونږ پہ دی خوارلو شرمیږو چہ ستا مجلسیان دی نوکہ مونږ درغواړے نو دوی بہ د ځان ثمہ شریف اوده پہ جواب کښی ورتہ وویل وَمَآ اَنَا اونہ نہ یم بِطَارِدِ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا شرونکے دھغوخلگو چہ ایمان پے راوړی دی اِنَّهُمۡ بیشکہ چہ دوی مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ ملاقات کونکی دے دخپل رب سرہ او مقربان دده دی نونہ پے خرنگہ وشرمږ وَلٰكِنِّیۡۤ اَرٰىكُمۡ اولیکن نږہ تاسی وینم قَوۡمًا تَجۡهَلُوۡنَ ﴿۲۹﴾ داسے قوم چہ ناپوهی کوی وَیٰقَوۡمِ ای زما قومہ مَنۡ یَّنۡصُرُنِیۡ څوک بہ دما سرہ مدد کاری وکړی چہ وَ مِنَ اللّٰہِ دخدای ثمہ یعنی دعذاب ثمہ دده اِنۡ طَرَدۡتُّهُمۡ ط کہ نږہ دوی وشرمږ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ ایا نو تاسے پند نه اخلی بیا دوی ورتہ وویل چہ داستا تابعان پہ باطن کښی ستا سرہ مخالف دی نوده پہ جواب کښی ورتہ وویل وَلَاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ اونہ وتاسے تہ نہ وایم عِنۡدِیۡ خَزَآئِنُ اللّٰہِ چہ دما سرہ خزانی دعلم دخدای دی وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَیۡبَ اونہ نہ پوهیږم پہ غیب سرہ چہ دخلگو پہ درلوړاونہ پوه وخبرسم وَلَاۤ اَقُوۡلُ اِنِّیۡ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوۡلُ لِلَّذِیۡنَ اونہ نہ وایم داچہ فرشتہ یم اونه داسے وایم نږہ پہ حق کښی دھغوکسانو تَزۡدَرِیۡۤ اَعۡیُنُكُمۡ چہ پہ سپک نظرسرہ ورتہ گوری ستاسے دمؤمنانو نادارانو ثمہ لَنۡ یُّؤۡتِیَهُمُ اللّٰہُ خَیۡرًا دچہ دسرہ بہ خدای ودوی تہ خیر ورنہ کړی حُکہ چہ دوی اخرت غوره کړی دی او هغہ معاشونہ درغوره دی دنیا ترمعاشو اَللّٰہُ اَعۡلَمُ خدای بنه پوهیږے بِمَا فِیۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ ۚ پہ هغہ صدق اواخلاص سرہ چہ دوودی پہ درنو زړونو کښی پروت دی اِنِّیۡۤ اِذًا بیشکہ چہ نږہ یم پہ دغہ وخت کښی چہ داسی وایم لَّمِنَ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۳۱﴾ خامخا بہ دظالمانو ثمخہ سم قَالُوۡا یٰنُوۡحُ بیا دوی وویل چہ اے نوحؑ قَدۡ جٰدَلۡتَنَا پہ تحقیق سرہ دمونږ سرہ دی جګړہ وکړہ فَاَكۡثَرۡتَ جِدَالَنَا نو تہ دیره جګړہ دراسره کړہ مونږ سره فَاۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ نو تہ مونږ تہ راوړہ هغہ عذاب چہ دمونږ سره

یے وعدہ کوے اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ کہ تہ یے درشتینو شخہ پہ دے وعید کښی
قَالَ نوحؑ ورتہ وویل اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بیشکہ همدا خبرہ دہ چہ سرا بَوَلی وتاسے تہ یے
اللّٰهُ اِنْ شَآءَ خدای هغہ عذاب کہ یے ارادہ وے اوس یا پہ قیامت کښی وَمَآ اَنْتُمْ
اونہ یاست تاسے کہ داعذاب راغلی بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾ عاجزہ کونکی دخدای کہ یے راوستے
وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ او صحیح نفع نہ درسوی وتاسے تہ نصیحت نہ ما اِنْ اَرَدْتُّ کہ زہ
ارادہ وکړم اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ دے چہ زہ وتاسے تہ نصیحت وکړم اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ
کہ خدای وے چہ دے ارادہ لرے اَنْ يُّغْوِيَكُمْ چہ تاسے گمراہ کړی هُوَ رَبُّكُمْ خپلہ دی
ستاسے رب دی هرهغہ چہ غواړی هغہ کولای سے دتاسی سرہ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۴﴾
او بیا بیرتہ هم وده تہ بیول کیږے ورسوستہ ترمرګ پہ قیامت کښی اَمْ يَقُوْلُوْنَ
افْتَرٰىهُ ؕ بلکہ دوی وایی چہ دے دخپلہ خانہ شخہ درواغ جوړوی قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ
تہ ورتہ ووایہ کہ ما دخپل خانہ شخہ داوحی جوړی کړی وی پہ درواغو سرہ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ
نو یوازی بہ پرماوے وبال دے دخپلی گناہ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ اونہ بیزارہ یم مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿۳۵﴾
دهغہ گناہ شخہ چہ تاسے یے کوی چہ ما مفتری بولی وَاُوْحِيَ اِلٰى نُوْحٍ اووحی وکړہ سوے
ونوحؑ تہ اَنَّهٗ چہ بیشکہ شان دادے لَنْ يُّؤْمِنَ چہ ایمان بہ رانہ وړی دسرہ تردی
ورو سنہ هیڅوک مِنْ قَوْمِكَ ستادقوم شخہ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ مګر هغہ څوک چہ پہ
تحقیق سرہ ایمان یے راوړے دی مخکی تردے فَلَا تَبْتَئِسْ نو مہ دلګیرہ کیږہ بِمَا
كَانُوْا پہ هغہ تکذیب اوایذاء سرہ چہ دوی دے يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ چہ کوی اوروسوی
یے وتاتہ حُكْمِهٖ چہ وخت دانتقام پی راترڅہ سوی دی وَاصْنَعِ الْفُلْكَ او
کښتی جوړہ کړہ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا زمونږ پہ نګهبانی سرہ اونږمونږ پہ پیغام سرہ
دکوترے پہ شکل وَلَا تُخَاطِبْنِيْ او ومانہ مخ مہ راګرزوہ دشفاعت دپاره فِي
الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ پہ حق کښی دهغو کسانو نو چہ کافران سوی دے دپاره دد فع کولو
د عذاب ددوے شخہ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۳۷﴾ چہ بیشکہ چہ دوی غرقیدونکی دے

روایت دے چه هر کله نوح علیه السلام د کښتی په جوړولو سره ما مورع سوا وده لرگی وغوښتل نو امر ورته وسوچه د ساج ونے وکړه بیا چه ده وکړلے نو ترشلو کالو هغه هم لوے سوی او ده دوی واړه «کرښی» هلکان هم بلوغ ته ورسیدل او د خپلو پلرو تابع سو او باقی قول شنډ سوه نو بیا یے داونے پریکړے او په کښتی جوړولو ئی شروع وکړه لکه چه وایے وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ تنه اوده به کښتی جوړه وله وَكُلَّمَا مَرَّ اوهر کله چه به تیریدله عَلَيْهِ مَلَأٌ پرده یو دله د مشرکانو مِنْ قَوْمِهِ دده قوم څخه سَخِرُوا مِنْهُ ځانو پرده به یے مسخرے کولی چه اول پیغمبری او اوس نجار سوے اودا ځای داوبو څخه دیر لیرې وه نو دوی به ورته ویل چه اوبه به دکومه کړے قَالَ نو نوح وویل إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا که تاسے په موږ پورے مسخرے کوے فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ نو بیشکه موږ به یے هم په تاسے پورې وکړو كَمَا تَسْخَرُونَ (۳۸) لکه چه تاسی اوس په موږ پورے مسخرے کوی فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۞ نو ښه زده سے چه تاسی به معلوم کړے مَنْ يَأْتِيهِ هغه څوك چه ورلره راځی عَذَابٌ يُخْزِيهِ داسے عذاب چه دے شرموی او رسوا کوی یے چه غرق دے وَيَحِلُّ عَلَيْهِ اوراکښته کیږے به پرده باندی عَذَابٌ مُقِيمٌ (۳۹) دائمے عذاب چه حرق دے په آخرت کښے بیا نوح ؑ د کښتی ترجوړیدو وروسته دانور اسباب د گدمان «زړوند تیرولو» په دوه کاله کښی برابرکړه حَتَّىٰ ترهغو پورې إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا چه زموږ امر راغلے وَفَارَ التَّنُّورُ ۞ اوراوخوتکیدے داوبو هغه تنور چه بی بی حواء به پکښی پخیدل کوله اودتیږی «کرښی» څخه وواوهغه بیا د نوح ؑ ته په میراث کښی راغلے وو بیا چه عذاب شروع سو نو قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا موږ وورته وویل چه سپاره کړه په دی کښتی کښی مِنْ كُلٍّ دهری نوعی څخه د حیوانانو چه نفعه پراخیستل کیږی زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ دوه دوه یعنے نر او ښځه اولفظ داثنین محض تاکید دے وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ او خپل عیال دے هم سپور کړه مگر هغه څوك د دوی څخه مه سپروه سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ چه لمړے «اول» سوی دی پرهغه باندی حکم د غرق چه کنعان او مور یے

ده چه راغله نومیدۍ ځکه چه دواړه کافران وه وَمَنْ اٰمَنَ ط او بل هغه څوک هم سپارلی کړه چه ایمان یې راوړے دی ستاد قوم څخه وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ او ایمان نه ووړلو پرے دده سره اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۴۰﴾ مګر لږ و خلګو اود دوی په عد د کښی اقوال دیر دے امّا اخری قول دا دے چه یو پنځله نوحؑ وو او یو ه یې مسلمانه نښځه وه اودرے یې زامن وه سام، حام، یافث اودرے دده وی نښځی وی نو دا ته سول اود قوم څخه یې شپږ دیرش نارینه او شپږ دیرش یې ښځی وی او قوله اتیا سوه وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا او نوح وی قولوته وویل چه سپاره سے په دے کښتی کښی چه طول یې دری سوه یا نهه رادوده سوه کزه وو او عرض یې پنځوس یا شپږ سوه کزه وو او ارتفاع یې دیرش گزه او خانے یې درے وی په لاندی خانه کښی د مرغانو اقسام وه او په منځ کښی یې انواع د بهایمو اود سباعو وه او په سر کښی دوی پنځله وه سره د څلو اسبابو او څلویښت شپی اوورځی به د قوله مګی څخه او به راخوتکیدی اود قول اسمان څخه به هم راواوریدے چه قول سړی زمین سره او به سوا و دا او به دونه پورته وختے چه پرهغه اعظم دجبالو پر سر لوړ شو چه دوه نیم فرسخه کیږی یځلس گزه لوړی وختی او کښتی د اوټو سر سوه او نوح ووایل چه دا سے ویل کوی بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا چه په نامه د خدای سره دی روانول دے وَمُرْسٰىهَا ط اودرول دده دی یعنے چه دروانولو اراده یې وکړے نو بسم الله وویا یه نو روانه به سی او بیا چه دده درولو اراده یې وکړے نو بسم الله وویا یه نو وبه دریږے اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۱﴾ خامخا بخښونکی او مهربانونکی دے پر مؤ منانو باندے چه د غرقه ځخه د طوفان یې خلاص کړی دی وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ اود اکښتی به سره وابه وه دده دوی سره یعنی دوی به یې داو بو پر سر گرځوله وَنَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ په موجو د پر موجو د څپر کښی یعنی په څپو او په خیزو د او بو کښه چه دا څپه په جګوالی کښی دا سے وی كَالْجِبَالِ تند لکه غرونه وَنَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ او ناری کړے نوحؑ وخپل زوی ته چه کنعان وو وَ

كَانَ فِي مَعْزِلٍ او حال داچه دا کنعان وو پرخپلې دکښتۍ اوبا بیړا ډ دخپل پلار ددینه څخه اوده کان مسلمان پرکاوه حکه یې ورته وویل چه یٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا اے زویکیه نرما راسه دموږ سره په کښتۍ کښې سپور سه چه دغرقه څخه په امان سے وَلَا تَكُنْ اومه کیږه تَّمَعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ دکافرانو سره چه غرق به سی قَالَ سَاٰوِيْٓ نوکنعان ووویل ثه روی چه زه به پناه وروړم اوهسك پرته ہډ شم اِلٰى جَبَلٍ وکوم غره ته يَّعْصِمُنِيْ نوما به وساتے مِنَ الْمَآءِ ط داوبو څخه چه پکښې غرق نسم قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ نوزوح ووویل چه نن ورځ دے هیڅوك سا تونکی نشته مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ د غذاب څخه دخدای اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ مگر یوازی هم هغه څوك سا تونکی دے چه همیشه پرخپلو بندګانو مهربانی کوی او دا پلار او زوی لا سره په دے بحث کښې وه چه ناګاه اوبرجولان وکی وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ اوپرده سوه دوی دواړو په مینځ کښے وطوفان څپه فَكَانَ نوزه کنعان سو مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ دغرق سو دتولی څخه روایت دی چه هرکله نوزح د رجب د میاشتے پرلسمه نیټه دکوفے یا دهند یا دجزیرے څخه سپور سوی وو او شپږ میاشتی دا کښتۍ پراوبو کښ ږیده او پر تمام روے زمین "پر قرارغ دلکی" نږدغه سر دژوندی شی" پاته نه سو غَيْضَ دے کښتی څخه بیا چه درب ارادہ وسوه دطوفان دبس کولو نوامر یې وکړے لکه چه وایی وَقِيْلَ اوووویل سو یعنے پرورډګار ومحکی ته ووویل چه يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ ای محکی بیرته درجذب کړه خپلی اوبه وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ او اے اسمانه نوږ بس کړه مه اوریږه وَغِيْضَ الْمَآءُ اوکمی کړه سوی اوبه د مخه څخه دمحکی وَقُضِيَ الْاَمْرُ او ترسره کړه سوه هغه وعده چه رب العزة کړے وه د نوځ سره دهلاك د قوم وَاسْتَوَتْ اوکښتی ود ریده عَلَى الْجُوْدِيِّ پرجودی غره باندی چه د موصل څخه دی دعاشور په ورځ وَقِيْلَ بُعْدًا اوووویل سو چه هلاك دی سی اوږنه دی پرې ورك سی لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ دولی دظالمانو نَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ اوښاغ وکړی یعنے سوال وکړی نوځ د خپله رب سره څخه فَقَالَ رَبِّ نوزوی ووویل چه اے زما رب بیا اِنَّ ابْنِيْ

بیشکه دا زما سره وی چه کنعان وو مِنْ اَهْلِیْ نه ما د اهل څخه وو او تا وعده کړې وه چه ستا عیال به نه هلاکوم او دے خو هلاك سو وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ او بیشکه ستا وعده رشتینې ده وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۴۵﴾ او ته حاکم عالم او عادل یې تر تولو حکم کونکی قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ نوح وویل چه اے نوحهٗ بیشکه دا کنعان چه دے لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ه نه دے حساب ستا د عیاله څخه چه اِنَّهٗ عَمَلٌ بیشکه دے دهغه عمل خاوند دے او دا حکه چه دا کلام په حذف د مضاف سره دی یعنی ذُوْ عَمَلٍ غَيْرُ صَالِحٍ ګڼه چه نیك نه دے حکه چه پټ د تا څخه کافر وو فَلَا تَسْـَٔلْنِ نو دوباره دما څخه سوال مه کوه مَا لَيْسَ لَكَ دهغه شی چه تا لره نه وی بِهٖ عِلْمٌ ط پر هغه شی باندی پوه په دے چه د دی شی سوال روا دے او که نه دی اِنِّيْٓ اَعِظُكَ بیشکه زه وتاته پند درکوم او منع کومه دی اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۴۶﴾ دے چه د نادانانو څخه سے په نا لایقو سوالونو سره قَالَ رَبِّ نوح ووویل چه ای زما ربه اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ بیشکه زه پناه غواړم په تا پورې اَنْ اَسْـَٔلَكَ د دی چه زه سوال وکړم د تا څخه مَا لَيْسَ لِيْ دهغه شی چه ما لره نشته بِهٖ عِلْمٌ د پرهغه شی باندی پوه یعنی په جواز د سوال دهغه وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ او که نه بخښنه ونه کړې ته وما ته وَتَرْحَمْنِيْٓ او رحم ونه کړے پرما باندی اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۴۷﴾ زه نږدے به سم د زیانکارانو څخه قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بیا ووویل سوه چه اے نوحهٗ را کښته سه د کښتی څخه بِسَلٰمٍ مِّنَّا سره د اسلامه یا سره د سلامتی د غرق څخه نه مو د طرفه او جانبه څخه وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ او سره د برکتونو پرتا باندے یا د دیرو الی ستا په نسل کښے حکه چه ترقیا متدهم دده اولاد سره وان دے دا سے عرب او فرنس د شام اولاد دے او هند د حام د ده اولاد ترك د یافث د ده نوحکه دے آدم ثانی بلل کیږے او د نوح مسلمانانو اولاده نه ده پاته سوے وَعَلٰٓى اُمَمٍ او هغه سلامه او برکتونه دی وے پر یو څو طایفو چه وروسته تر دے به پیدا کیږے تر قیا متدپورې مِّمَّنْ مَّعَكَ ط د

هغه چاچه دتاسره دی په کښتی کښی یعنی ستا نزامن اومراد هغه طائفی دے چه مؤمنان دی وَاُمَمٌ اویوخونوری طائفی به هم وی چه پیدا سوی وی دی زامنوشخه سَنُمَتِّعُهُمْ شرردے چه مونږ به دوی بهره من کړو په دنیاکښی په فراخ رزق اوپه بنه عیش سره ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا بیا به ورسیږی ودوی ته زمونږ دجانبه شخه عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۸﴾ عذاب دردناکه مراد دځنی کفاردی تِلْكَ داقصه د نوحؑ چه ده مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ دبعضی اخبارو دغیب شخه ده نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ؤ چه مونږ يې لږ لږ وتاته اے رسوله په واسطه سره دجبرائيلؑ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ ته نه وې داسی چه پوهیدے په دی قصه سره اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ نه ته اونه قوم ستا مِنْ قَبْلِ هٰذَا ؤ پخوا تردے اخباره نه مونږ فَاصْبِرْ ؤ پس صبرکوه په رسولو دپیغام سره اوپر ایذاد قوم دوخؑ په شان اِنَّ الْعَاقِبَةَ بیشکه بنه خاتمه چه ده لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾ پرهیزګارانولره ؤ وَاِلٰى عَادٍ او لږ لے وه مونږ وقوم ته دعاد اَخَاهُمْ هُوْدًا ط ورورددوی یعنی دخپله خپله شخه «خپل پښی شخه» پی هودؑ قَالَ ده وویل يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے زما قومه یوازی دخدای عبادت کوئی حُكه چه مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ نسته تاسی ته معبود هیڅ غَيْرُهٗ ط بیله ده شخه اوتاسے شریکان ور لره پیدا کوے اِنْ اَنْتُمْ تاسے نه یاست اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ مګر دروغ ترپونکی پرخدای چه نسبت دشریکانو وده تاکوی يٰقَوْمِ اے زما قومه لَآ اَسْـَٔلُكُمْ زه نه غواړم د تاسے شخه عَلَيْهِ اَجْرًا ط پردی تبلیغ درسالت شما اُجرت اِنْ اَجْرِيَ نه دی اجرزما اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ؤ مګر پرهغه خدای چه زه یې پیدا کړی یم اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ ایا نوتاسے خپل عقل اوفکر نه کوی چه حق دباطل شخه جلاکړی اوسرشتینی ددروا شخه شخه زړاوی دی چه هرکله عاد یانوده دعوت د هودؑ قبول نه کړی نودری کاله باران پربند سی اودوی هم تولـه شنه سوه اونسل یې قطعه سی او دیرتناټ سول په دے نوهُوْدٌ ورته وویل چه استغفار وکړی اوتوبه وکاږی لکه چه

۵۰ په مدرکولوسره ۲ دنیاکښی پاتولږ مرتبه ورکولوسره ۲ الخیرت کښی ۱۲

وایئے وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا اواے نہ ما قومہ بخښنه وغواړی رَبَّكُمْ د خپل رب څخه
دایمان په راوړلو سره ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ بیا رجوع وکړے تولہ وده تہ دبلچاد
عبادت څخه دده دپاره يُرْسِلِ السَّمَآءَ چه دی اسمان راولیږی عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا
پرتاسے په دُرنړ هاری سره یعنی په شیبو باران به درباند ے راوه اوروی د
اسمانه څخه وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً اونړیات به کړی تاسے دجهته د قوته اِلٰى قُوَّتِكُمْ
ستاسے په قوت پوری یعنی چه اولاد هم درلره درکړی او دهغو قوت ستاسے
دقوت سره ضم سے نو پر دښمنا نو به غالب سی وَلَا تَتَوَلَّوْا او شا مه کړی ماته
اودعوت زما تہ مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ په داسے حال کښے چه کلک یاست پرخپلو گناهو باندے
قَالُوْا يٰهُوْدُ دوی وویل اے هُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ تا نه دی راوړی وموږ
ته یو داسے دلیل اوحجت چه ستا دد عوے پرصحت دلالت وکړی سره ددے
چه ده معجزه وړ بنکاره کړے وه مگر په هغے پۍ اکتفاء نه وکړے وَمَا نَحْنُ اونیو
موږ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا پریښونکی دخپلو خدایانو نه یعنے دعبادت یے عَنْ قَوْلِكَ ستا
په ویلوسره چه راته وایے چه دبتانو عبادت پریږدی اویوازی دخدای عبادت
کوی وَمَا نَحْنُ اوموږ نه لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ پرتا ایمان راوړونکی اِنْ نَّقُوْلُ نه
وایو موږ هيڅ اِلَّا اَعْتَرٰىكَ مگرهم دا وایو چه ړسولی دی وتا نه بَعْضُ اٰلِهَتِنَا
بِسُوْٓءٍ د بعضو زموږ دخدایانو څخه جنون یعنی زموږ وخدایانو نه دے زړه وتے
کولے اوند ے منل نو ته یے لیونے کړی ځکه دا سے پرتی وایۍ قَالَ نو هود ؑ وویل
اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ چه بیشکه زه خدای شاهد کوم وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ اوتاسے هم
شاهدان اوسی پردی چه بیشکه زه بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ بیزاړ یم دهغه
خدایانو څخه ستاسے چه دده سره یے شریکوی مِنْ دُوْنِهٖ غیر دده څخه فَكِيْدُوْنِيْ
نو د مکر حیلی او فریب خپل تمام کړے زما په اهلاك کښی جَمِيْعًا تولہ یعنے
تاسے وخپلو خدایانو سره ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ نو بیا وما ته هيڅ قدر انتظار

عه یعنے دلیږو نو په شان خبری کوی ۱۲

مه کوے اوهرځه چه ستاسے مقتضیٰ وی هغه قوله را باندے وکړی اِنِّیْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ بیشکه ما تکیه او اعتماد کړے دی پرهغه خدای رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ چه هغه رب زما او ستاسے دے نو دتاسے څخه هیڅ نه بیریږم سړه ددی قوته او شوکته او کثرته ستاسے اود هغوخدایانو څخه مې څه خوف «بیره» کیږے چه جمادات دی مَا مِنْ دَآبَّةٍ نسته هیڅ ګرځیدونکی په عالم کښی اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا هغه نیونکی دی پښاصیتها ۵ په بیښتا نوسړه د نزلی دده اود اکنایت دی د ملك اود قدرته اود غلبی څخه پرتصوف دهغه نده سړ اِنَّ رَبِّیْ بیشکه زما رب چه دے عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾ پرحق برابردی یا پرحقه لار سړی برابر دے فَاِنْ تَوَلَّوْا نو که تاسے یکړی او زما دعوت ونه منی فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ نو په تحقیق سره ما وتاسے ته ورسولو مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ هغه پیغام چه زه په هغه سړه را لیږل سوے وم اِلَيْكُمْ ما وتاسے ته چه هغه را بللی وه وتوحید ته اوهرکله چه تاسے نه کړی قبول نو تاسے به خدای هلاك کړی وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّیْ او خلیفه به کړی زما رب یعنی ستاسے پرځای به . راولی قَوْمًا غَيْرَكُمْ خلك ما سیوا دتاسی څخه وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا اوتاسے به وده ته ضرر ونه رسوی دهیڅ شی اِنَّ رَبِّیْ بیشکه رب زما عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ پرهرشی نګهبان دے اوهرکله چه دے قوم په هیڅ شان وتوحید ته غاړه کښینے نه بنووه نو عذاب پرا غلے لکه چه وایے وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا اوهرکله چه زمونږ عذاب را غلے نَجَّيْنَا هُوْدًا نو مونږ وساتی ددے عذابه څخه هود وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ او هغه کسان هم چه ددے سره یے ایمان را وړے ووچه څلورزره خلك وو بِرَحْمَةٍ مِّنَّا په هغه مهربانی سړه چه د مونږ څخه وه پرعمل ددوی وَنَجَّيْنٰهُمْ او مونږ ددوی وساتل مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ د هغه سخت عذاب څخه چه هغه ددوزخ ګرم باد و وچه په پزه به یے ننوتے اود بری څخه به یے راوواتی اوددوی اندامونه به یے

تو تی تو تی کړه وَتِلْكَ عَادٌ ځکه اودا په قبر وکښی پراته اودا نزید لی کندو والی داحقاف
عاد دی جَحَدُوا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ چه منکر سوی وه په ایاتو سره دخپل رب وَعَصَوْا
رُسُلَهٗ او بے فرمانی یې وکړه د رسولا نو نزده اودا حکه چه نه منل دیوه رسول
داسی دی لکه نه منل د ټولو رسولانو وَاتَّبَعُوْٓا اوپیروی یې وکړه اَمْرَ كُلِّ
جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾ د فرمان دهرجبار معاند یعنی دخپلو مشرانو متابعت یې کولو
داسے مشران چه د دیره عناده به یے خلق په قهر اوجبر سره دخدای دلاری څخه
ارول وَاُشْرِبُوْا اووه لیږل سو به دوی پسی فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً په دنیا
کښی لعنت وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ اوپه ورځ د قیامت هم یعنی په دواړو ځایونو کښے
لائق د لعنت سوه اَلَآ اِنَّ عَادًا اواوری بیشکه عادیان چه دی كَفَرُوْا رَبَّهُمْ
کافران سوی وه پخپل رب پورې اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ بیا واوری چه لیرې والی دی
عاد یانو لره د رحمت څخه قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ چه قوم د هودؑ وو وَاِلٰى ثَمُوْدَ اولیږلے
وو مورږ ثمود ته اَخَاهُمْ صٰلِحًا ورور دوی یعنی دخپل خیله اودخپلے پښی څخه
یې وه چه صالحؑ وو قَالَ ده وویل يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ ای زما قومه عبادت کړی
یوازی د خدای څخه چه مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ نشته تاسی لره معبود غَيْرُهٗ د هغه پرته
هُوَ اَنْشَاَكُمْ هم ده پیدا کړی یاست تاسے مِّنَ الْاَرْضِ د ځمکی څخه حکه چه آدم
او ستاسے د نطفی ماده دواړه دځاورو څخه د ی وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا اواوسپارده
عمرونه اوژوند اوبقایے درکړی ده وتاسے ته په دی ځمکه کښی لکه چه صاحب
دمدارك ویلی دے چه د دوی عمرونه به د درے سوو څخه تر نهو کلو پورې وه
یا معنیٰ داچه تاسے پې ابادی کونکی پیدا کړی یاست په دے ځمکه کښی لکه عمارت
د مصارو اوحفر د انهارو اوغرس د اشجارو (اسپنول د رخت) فَاسْتَغْفِرُوْهُ نو
بخښنه وغواړی د ده څخه په راوړلو سره دایمان ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ بیا رجوع
وکړی وده ته د عبادت څخه دځل چا اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ بیشکه رب زما نژدی دی

د جهنه د رحمت و امید وا را نوته يُجِيبُ (۶۱) قبلونکی دے دُعا قَالُوا يٰصٰلِحُ دوی وویل چه اے صالح قَدْ كُنْتَ په تحقیق سړ ته وی فِينَا مَرْجُوًّا په مور کښی امید کړه سوی یعنے په تا کښی به نښی د رُشد او د پُختگی کُلید لی و مور ته قَبْلَ هٰذَآ مخکی تر دی دعوے او اوس نه مور طمع د رخمنه قطع سوه په دے دعوے سره اَتَنْهٰنَآ ایا ته مور منع کوی اَنْ نَّعْبُدَ د دی خمنه چه مور عبادت کوو مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا د هغه بتانو چه نه مور پلرونه یے عبادت کولو وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ او بیشکه مور خامخا په شک کښے لوید لی یو مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ د هغه توحید خمنه چه ته مور وهغه ته بولی مُرِيْبٍ (۶۲) دا سے شک چه په اضطراب او په بے ارامی کښی سړی اچوی قَالَ يٰقَوْمِ بیا صالح ووېل چه اے نه ما قومه اَرَءَيْتُمْ ایا تاسے وینی نو ما هم خبر کړی اِنْ كُنْتُ چه نه وی یم عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ پر بنسکاره دلیل د طرفه خمنه د خپل رب وَاٰتٰنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً او وده راکړے دی وما ته د خپل فضل خمنه رحمت یعنی پیغمبری فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ نو څوك دے چه نه ما مددګاری به وکړی او ما به خلاص کړے مِنَ اللّٰهِ د خدای خمنه یعنی د عذابه خمنه پی اِنْ عَصَيْتُهٗ تر کله چه نه وے فرمانے وکړم د وده خمنه په نه سولو پیغام کښی او عجبه دا چه نه ره تاسے وخدای ته بولم او تاسے ما وبتانو ته بولی فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ نو تاسے نه نه زیاتوی ما لره غَيْرَ تَخْسِيْرٍ (۶۳) هیڅ شی غیر د زیانکاری خمنه وَيٰقَوْمِ او اے نه ما قومه هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ دا اوښه د خدای ده چه ده پیدا کړے ده لَكُمْ اٰيَةً وتاسے لره په داسی حال کښی چه ده د قدرت کامله اوښه ده فَذَرُوْهَا نو دا پریږدی تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ چه خوراك کوی او څری د خدای په ځمکه کښی یعنی روزی د خدای خوری او شیدی وتاسے ته درکوی نو یے پریږدی وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ او لاس مه وروړی ودی ته په نیت د بدی سړ ځمکه چه تاسے ودی ته بد اختیا رکړی فَيَاْخُذَكُمْ نو به تاسے وه نیسی عَذَابٌ قَرِيْبٌ (۶۴) نژدی عذاب یعنی متصل په دی ازار ولو پسی فَعَقَرُوْهَا

نو دوی دا او ښه حلال کړه دچهار شنبی په ورځ فَقَالَ تَمَتَّعُوْا نو صالح ورته
وویل چه څو ورځی دا سی تر دی حلالولو وروسته فِیْ دَارِکُمْ ثَلٰثَةَ اَیَّامٍ ط په
خپلو کورو کښی یا په دنیا کښی درے ورځی ذٰلِكَ وَعْدٌ دا وعده ده غَیْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿۶۵﴾
چه هیڅ درواغ پکښی نسته نو بیا دخالی شنبی په ورځ هلاك سوه لکه چه وایی
فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نو هر کله چه زمونږ دا عذاب راغلے نَجَّیْنَا صٰلِحًا نو مونږ صالح
خلاص کړے وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ اوهغه کسان هم چه ده سره یے ایمان راوړے
وو دده غذاب ښخه بِرَحْمَةٍ مِّنَّا په هغه مهربانی سره چه څو ځله ښخه وه نه په
خپل عمل سره وَمِنْ خِزْیِ یَوْمَئِذٍ ط اود شرمندگی ښخه ددی ورځی یا د رسوایی ښخه
د قیامت د ورځی اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستاسو دی هُوَ الْقَوِیُّ الْعَزِیْزُ ﴿۶۶﴾ هم دی
توانا دے پر نجات دمؤمنانو او غالب دی پرهلاك دکافرانو وَاَخَذَ الَّذِیْنَ او
ونیول هغه کسان ظَلَمُوا الصَّیْحَةُ چه ظلم یے کړی وو پرخپلو ځانونو باندی په
کفر سره اوازد جبرائیل چه ډیر هیبتناکه دی فَاَصْبَحُوْا فِیْ دِیَارِهِمْ نو تر ډله پخپلو
کورو کښی سوه جٰثِمِیْنَ ﴿۶۷﴾ مړه پراته كَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ط گویاکه دسره نوه او
سید لی په دی کورو کښی اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا واوری بیشکه ثمود چه وه كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ط
کفر یے اختیارکړی وو په خپل رب پوری اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿۶۸﴾ بیا واوری چه
درحمت څخه لیرې والی دی ثمود لره وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَا اوخامخا په تحقیق سره
راغلے وی هغه ملایکی را لیږل سوی زمونږ چه درے یا نهه یا دوولس وی
په شکل دزلمو اوهلکانو نو خوشرنګله اوسپین مخو اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی وابراهیم
ته په زیږیدو سره دزوی یا په هلاك سره دقوم دلوط بیا چه وده تحاضر سوه
قَالُوْا سَلٰمًا ط نو دوی وویل چه مونږ پرتا سلام اچوو په سلام اچولو سره او
دی په دی پوه نه سوچه دا ملایکی دی قَالَ سَلٰمٌ نو ده وویل چه زما دی هم
سلام وی پرتاسے باندی فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ نو ده ځنډ ونکړی او په تلوار

سره ئی ورته راوړے بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿۶۹﴾ کیلگی چاغ اوپر توده تیږه کباب کړه سوی او
دوی لاس ورنه وړی فَلَمَّا رَآ أَيْدِيَهُمْ لَا نوهرکله چه وليدل لاسونه ددوی لَا
تَصِلُ إِلَيْهِ چه نه ورورسیږی کیده ددی کباب ته نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ نو ناڅاپه وشنا ورته
بنکاره سوه او پته یے پے زړه کښی راوسته مِنْهُمْ خِيفَةً ددوی څخه بیره
حُکه چه په دوی کښی داقاعده وه چه دهرچا به دبل چا سره دښمنی وه په
زړه کښی نو دهغه طعام به یے نه خوړی بیا چه دوی دده په بیره پوه سوه
قَالُوا لَا تَخَفْ نو دوی وابراهیمؑ ته وویل چه دمورږ څخه مه بیریږه إِنَّا أُرْسِلْنَا
چه بیشکه مونږ راليږل سوی يوٓ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿۷۰﴾ وقوم ته دلوط د هلاکولو دپاره
وَامْرَأَتُهُ قَآئِمَةٌ اوښځه ددده چه ساره بنت هارون وه پټه ولاړه وه دمجلس
دا وریدو دپاره یا بنکاره ولاړه وه دخدمت دپاره فَضَحِكَتْ نو وړې خندل په
سبب دلیرې کید ودبیرې یا د هلاکید ودښمن یا دتمثیل کید وړ په شکل کیدو دملایکو
په بشری صورت سره یا دبے خبرې ددده داسے نڅړدے عذاب څخه فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَٰقَ نو مونږ ښاریږی وسرکړی دملایکو په ژبه سره په پیدا کید وسره دزوی اسحاق نامے
وَمِنْ وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿۷۱﴾ او ترا سحٰقؑ وروسته په پیدا کیدلو دلمسیره یعقوبؑ
نامی چه دپښتو څخه دا سحٰقؑ دی اودا زیری یوازی پردی باندی حُکه وسوچه د
بی بی هاجرے زوی ووادده نه وو بیا چه دا بشارت ورکړے شو او ورږدی قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰ
نو دے وویل چه اے ویرتعجب دی مالره ءَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ ایا زه به اولاد ولرم وړه
قردی وروسته او حال داچه زه زړیم وزوی کالو وَهَٰذَا بَعْلِي شَيْخًا او دا ابراهیم
چه زما خاوند دے په دا سے حال کښی دی چه زوړ دی دسلو یا دیوسل اوشلو
کالو دے إِنَّ هَٰذَا بیشکه دا کار چه تاسے وایاست لَشَيْءٌ عَجِيبٌ ﴿۷۲﴾ خامخا یو ویر
عجیبه شی دی غَادٌ ﴿۷۳﴾ قَالُوا أَتَعْجَبِينَ بیا ملائکو وویل ته وویل چه ایا ته تعجب کړے
مِنْ أَمْرِ اللَّهِ دخدای دکاره اوسره ددے چه ددده قدرت ته دا هیڅ عجیبه نه ده رَحْمَتُ

اللّٰہُ وَبَرَکٰتُہٗ رحمت دخدای او برکتونہ دده دے وی عَلَیْکُمْ اَھْلَ الْبَیْتِ د پرتا سے
باندی اے خانوادہ د نبوت یا اے ابراھیمؑ اِنَّہٗ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ﴿۷۳﴾ بیشکہ چہ دی ستایل
سوی دے پہ ډیرہ عطاء سرہ اولوی دی چہ بندہ تہ غټ نعمت ورکوی بیلہ سببہ
فَائِدَہ یود برکتو شخہ دخدای پردوی داوو چہ او یا نورہ پیغمبرانو پہ دودہ دملاشخہ
پیدا کړہ چہ اول پہ اِ سحٰقؑ او اخر پہ عیسیٰؑ وو فَلَمَّا ذَھَبَ لوڅہ چہ ولاړہ
عَنْ اِبْرٰھِیْمَ الرَّوْعُ دابراھیمؑ شخہ بیرہ اوھیبت وَجَآءَتْہُ الْبُشْرٰی اودہ لرہ راغلے
نرېدے داولاد پیجاړہ کنا نو جګړہ پہ شروع کړہ دموږ سرہ یعنی زموږ د ملاګومۍ
فِیْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿۷۴﴾ پہ حق کښی د قوم د لوطؑ اوھغہ بحادلہ داسے وہ چہ ھرکلہ
دوی وویل چہ موږ دابنارھلاکو نودہ ورتہ وویل اګرچیرې سل تنہ مسؤمنان ھم
پکښی وی نودوی وویل چہ نہ بیادہ ورتہ وویل کہ نوی تنہ وی ھم نودوی وویل چہ نہ
بیادہ ورتہ وویل کہ اتیا تنہ وی نوھم نودوی ورتہ وویل چہ نہ اوھمداسی لسلس
بہ پیے کمول چہ پاتہ اخرکښی لوطؑ تہ راغلے نودہ ورتہ وویل چہ لوطؑ ھم نودوی ورتہ وویل
چہ نہ نوترڅو وروستہ دہ ورتہ دہ ورتہ وویل چہ لوطؑ پکښی دی نودوی ورتہ
وویل چہ ھغہ بہ ځنی وباسود ځپل عیالہ سرہ ماسیوا دبنځی شخہ اِنَّ اِبْرٰھِیْمَ
بیشکہ ابراھیم چہ وو لَحَلِیْمٌ خاخا ډیر صابر وو چہ پہ انتقام کښی بہ پی د دښمنہ
شخہ تلوار نہ کاوی اَوَّاہٌ ډیر آہ کونکی وو د خدای د خوف شخہ اود شفقتہ پرخلکو
مُّنِیْبٌ ﴿۷۵﴾ بیا راګرځیدونکی وو یعنی ډیرزر ملہ اود لسونو نہ وہ نو دودی تہ
پی وویل چہ دی قوم پہ عذاب کښی توقف وکړی چہ ګوندی یو څوک ایمان ځنی
راوړی نو ملا نکوورتہ وویل یَا اِبْرٰھِیْمُ اے ابراھیمؑ اَعْرِضْ عَنْ ھٰذَا ھغہ واوړہ
دی جګړے شخہ اِنَّہٗ قَدْ جَآءَ بیشکہ شان دادی چہ بہ تحقیق سرہ راغلے دی
ودی قوم تہ اَمْرُ رَبِّکَ د عذاب دربستا وَاِنَّھُمْ اوبیشکہ دوی چہ دی اتیہم
سرہ تلونکی دی ودوی تہ عَذَابٌ غَیْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ چہ نہ دے ګرزول سوے

په هیڅ شان نو دوی بیا دابراهیم څخه رُخصت سوُاومُوتفکات ته روان سوه او دابراهیمؑ اود لوطؑ دکلیو په مابین کښی څلورفرسخه لاروه وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا اوهرکله چه نږمورښاستاذی راغله لُوطًا ولوطؑ ته اوده ددوی بناڅت او غوره دول پاڅ ولیدی اوپه دے سړ پوه نه سوچه دا ملائکی دی سِیٓءَ بِهِمْ نودی ډیرد لگیره کړه سو په دوی باندی چه دوی په شکل دښایسته هلکانو راغلے وی اوده قوم بچه بازان «ډک بازان» وه نو دی بیریگ چه مبادا دغه زما قوم ودی میلمنوته خَفْتَخِزُونِ نه رسوے وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا اوتنگه سوه دجهته ددوی سینه دده وَقَالَ هٰذَا اوده وویل چه دا یَوْمٌ عَصِیْبٌ (۷۷) یوه ډیره سخته ورځ ده

روایت دی چه دمُوتفکاتو څلورښارګوه او په هرښار کښی یولاکهه سړے وه تول تورپالی وه بیا چه هرکله دا ملائکی وسدوم ته راغلل چه یو ښارووه د لوطؑ اوده وخپل کور ته راروان کړه او قوم ډیے په لاړ کښی ولیدل یا هغه کافری بنځے دده خبرکړه چه نږمورکره ښایسته ښځی راغلے دی نوقوم ډیے دبدکاری په نیت ورلره راغلے لکه چه وایی وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ اوراغلے ده لره قوم دده یُهْرَعُوْنَ اِلَیْهِ ط چه منډے ډیے راوهلے وده ته دبدکاری دپاره وَمِنْ قَبْلُ کَانُوْا اوتکی تردے به هم دوی وه یَعْمَلُوْنَ السَّیِّاٰتِ ط چه کول به ډیے بدکار وخو لکه لواطت اودشپیلی وهلو اوکورتبازی اوداسے نورکارونه قَالَ یٰقَوْمِ نو لوطؑ وویل چه اے قومه نږما هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِیْ دا منکوحے ستاسے چه دی لونی نږمادی ځکه چه هرپیغمبر دخپل قوم پلار دے یا مراد ځنی دده خپلی لونی وے ځکه چه ده دقوم دوه مشران وه نو دوے ته ډیے ویلی وه چه دا نږمادواړی لونی تاسی په نکاح واخلے چه په هغه وخت کښی د مسلمان اود کافر نکاح سره روا وه هُنَّ اَطْهَرُ لَکُمْ دا ښځے ډیری بنی دی وتاسے ته ترلواطت فَاتَّقُوا اللّٰهَ نو د خدایه ځخه وه بیریږی اودا بدکارمه کوی وَلَا تُخْزُوْنِ فِیْ ضَیْفِیْ ط اومامه شرموی په حق کښی نږمادِ

میلمنو ځکه چه دا شر مول دمیلمه شر مول ذکر به دی اَلَيْسَ مِنْكُمْ ایا نسته دتاسے څخه رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾ یو پوه سړے چه وتاسے ته نصیحت وکړی چه دا بدکار بد دے نو مه پے کوی قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ نو دوے وویل چه خامخا په تحقیق سړ ته پوهیږی پخپله چه مَا لَنَا نسته موږ لره فِيْ بَنٰتِكَ ستا په لونو کښی مِنْ حَقٍّ هیڅ حاجت وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ او بیشکه چه ته هرائینه پوهیږے مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ په هغه کار چه موږ پے اراده لرو چه لواط دی قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ وویل بیا لوط چه کاشکی که دما سړ وای بِكُمْ قُوَّةً په دفع کولو ستاسے کښی دخپله ځانه څخه زور نو تاسی به می دخپله ځانه څخه دفع کړی ولاست اَوْ اٰوِيْ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾ یا می پناه نیولای سو په زور اور پوری چه دیر سخت وای چه زه پی دتاسے څخه خلاص کړی وای روایت دے چه هرکله داقوم لوط دروازی ته راغلی نو ده دروازه ورته بنده کړه او دباندی پی ددوی سړ مباحثه کوله چه ناګاه دوی دیوال سوری کړی یا سر بیړه ړ وخاته نو دی دیرمضطرب سو بیاچه دده دا خبرګان ملائکو ولیدی قَالُوْا يٰلُوْطُ نو دوی وویل چه اے لوط اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ بیشکه موږ استا ذی یو درب ستا نوته خوشحاله اوسه چه لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ چه دسړ به دوی ونه رسیږی وتاته په ضرر سره بیا جبرائیل دتولو پرستر ګو خپل وزړ ومنبلول نوځکه ړ ناړ سوه او دهغه کورسړ وتښتید ل چه دامیلمانه جادوګرد ے بیا جبرائیل وده ته وویل فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ نوته بوزه خپل عیال ددے بناړ څخه وبل طرف ته بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ په یوه حصه کښی دشپی وَلَا يَلْتَفِتْ او شاته دی نه ګوري مِنْكُمْ اَحَدٌ دتاسے څخه هیڅوک ځکه چه که وګوری نو هغه عذاب به هم درلره راشے اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ مګر هغه ښځه ستا چه کافره ده نو هغه مه درسره بیایه یا به هغه وشاته وګوری اِنَّهٗ بیشکه شان دادی مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ چه رسید ونکی دے ودی ته هغه عذاب

چه ودوی ته سر سیږه بیالوط ؑ دویرے تنګدلی څخه وویل چه پر دوی به عذاب کله راځی نو جبرائیل ؑ ووِیل اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ؕ بیشکه وعده د نزول د عذاب پردوی باندی صبح صادق دی بیالوط ؑ ووِیل چه کاشکی تردی وخت لاړ شوای نو جبرائیل ؑ په جواب کښی ورته ووِیل اَلَیْسَ الصُّبْحُ بِقَرِیْبٍ ﴿۸۱﴾ ایا صبح صادق نه دے نږدی یعنے نږدی دی فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نو هرکله چه زمونږ عذاب راغلی نو زمونږ په فرمان سره جبرائیل څپل وزر تردے بنار ولاندی کړه اود هرڅه سره یے پورته یو وړه چه دوه ګانو اذانونه اود سپو غیا د اسمان خلګو واوریدے بیا یے راچپه کړه لکه چه وایی جَعَلْنَا عَالِیَهَا نو مونږ وګرځولی پورته طرف ددی سَافِلَهَا کښته طرف ته ددوی یعنے پورته یے کښته اوکښته یے پورته سوه وَاَمْطَرْنَا عَلَیْهَا اومونږ وه اوږول پردی بنار وترچپه کید وورسته حِجَارَةً مِّنْ سِجِّیْلٍ ﴿۸۲﴾ د تیږی (د پرسی) د قرنکا نو یاد سجین یعنے دوزخ څخه بیا دا تیږے په لام سره بدل سوی دے مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ پے در پے (پرپسی) مُّسَوَّمَةً په داسے حال کښے چه نښه کړه سوی وی (علامه (لاړسی وی)) په قومونو کښو سره یا په کر نښو سره یا دهر سړی نوم پرلیکل سوے وو عِنْدَ رَبِّكَ په نزد د رب ستا د پاره د عذاب د دوی

روایت دی چه دا تیږی وی غټه به یې د څخه قدر وه او وړه به یې د منګی قدر وه اودهرچا نوم به پرلیکلی وه هم په هغه سړی پسی به ګرځیدله نو که به په کاله کښی به وو نو هم هلته به پرولویده له اوکه به په سفر تللی وه نو هلته به ورپسی ورتله تردی حده پورے چه یو ددوی څخه په حرم د مکی کښی ننوتلی وو او ترڅنګل یې نښتو وخو پورے هلته وو اودا تیږه سر یې په هوا ورته ولاړه وه ترڅو چه دی د حرم څخه را ووتی نو دا پرا ولویده وَمَا هِیَ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ اودنه دی دا تیږی یا دا د مؤ تفکا توبنارو دی ظالمانو څخه یعنی د مکی د کفارو څخه بِبَعِیْدٍ ﴿۸۳﴾ لیرے ځکه چه دوی همیشه شام ته په سوداګری پسی ځی او هغه ځای په لار کښی دے یا معنی دا چه دا تیږی د دی کفارو

ع ۷ ۱۵ النصف

عه یعنی «اسجیل په اصل کښی سجین وو خو دا «ل» بیا په لام بدل سوی دی ۱۲

ومکی شخه لیږے نه دی حُکه چه دوی هم لایق نه دے وَاِلٰی مَدْیَنَ اوموږ ورلیږلی
وو وښاړ یا واولاد مدین ته اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ط ورور دوی یعنی دوی دځپله خیله
"پښی" شخه شعیبؑ قَالَ ونده وویل یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے زما قومه پرازی دخدائے
عبادت کوی مَالَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ حُکه چه نسته تاسے ته هیڅوك لایق دعبادت غَیْرُهٗ ط
بیله خدای شخه وَلَا تَنْقُصُوا الْمِکْیَالَ اومه کموی پیمانه وَالْمِیْزَانَ اوتله یعنی هر
شی چه خلگو ته ورکوی په پیمانه یا په تله سره نوقصان مه پکښی کوی اِنِّیْٓ اَرٰىکُمْ
بِخَیْرٍ بیشکه چه زه تاسے ویښم ماره پټ په دولت یعنے دانقصان تاسے داحتیاج
شخه نه کوی بلکه دخپله خیانت سره عَذَابَ یَوْمٍ مُّحِیْطٍ ﴿۸۴﴾ دعذاب شخه دهغے ورځی چه
احاطه کونکی ده سختی اوالم دهغے پرنجومانو باندی وَیٰقَوْمِ اے زما قومه اَوْفُوا
الْمِکْیَالَ پوره ورکوی پیمانه وَالْمِیْزَانَ بالقسط اوتله هم په انصاف اوعدل سره
وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اومه کموی وخلگوته اَشْیَآءَهُمْ شیان یعنے مالونه دوی وَلَا
تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ اوخرابی مه کوی په ملکه کښی مُفْسِدِیْنَ ﴿۸۵﴾ په داسے حال کښی چه
فساد کونکی یاست بَقِیَّتُ اللّٰهِ باقی پاته کړے دخدای چه هغه حلال وے ستاسی
په حق کښے ترحرام پرینبولو روسته خَیْرٌ لَّکُمْ هغه ډیرغوره دی تاسے لره تردی غنیمت
اوسود اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۚ که تاسے مؤمنان اوباور کونکی یاست زما په خبره سره وَمَآ
اَنَا عَلَیْکُمْ بِحَفِیْظٍ ﴿۸۶﴾ پرتاسے نگهبان چه دبد او دعذاب شخه به تاسے ساتم بلکه
تاسے ته رسول ناصح یم اودا حُکه چه بعض رسولان به په جنك سره ماموړ وه
لکه موسیٰؑ اوداؤدؑ اوسلیمانؑ اوبعض په تش نصیحت سره ماموړ وه سوی وه بیله
جنگه لکه دانوراوشعیبؑ هم نو وماموړ قَالُوْا یٰشُعَیْبُ نوقوم دده وویل چه
اے شعیبؑ ! اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ آیا دا دیر لمونځ کول ستا امرکوی تاسے اَنْ نَّتْرُكَ
ددے چه موږ پریږدو مَا یَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا هغه چه عبادت به کاوی دهغو پلرو

زموږ اَوْاَنْ نَّفْعَلَ یا ددے چه موږ وکړو فِیْۤ اَمْوَالِنَا پخپلو مالونو کښې مخالف تصرف دخپلو پلرونو څخه مَا نَشٰٓؤُا اط هغه چه نه موږ ارادہ وښی دنقصانۤ اودکیلو اودوزنه اود پریکولو دا طرافو ددراهمو اوددنانیرو اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ﴿۸۷﴾ خامخا هم ته صابر اوپر لارسم پے اودایے پرعکس ویل یعنے بی صبره او گمراه یے تَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا مِنْهَا یا پخپل نرعمه یا نه موږ په نزد چه د حلیم اود رشید معامله نه لرې سره کوی قَالَ يٰقَوْمِ بیا شعیبؑ وویل چه اے نه ما قومه اَرَءَيْتُمْ ایا تاسے وښی نوماهم خبر کړی اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ که زه به پرښکاره دلیل مِّنْ رَّبِّيْ دجانبه څخه دخپل رب وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ اوده راکړی وی وما ته د خپله جانبه څخه رِزْقًا حَسَنًا ط بنایسته روزی یعنے نبوت اورسالت یا حلال مال بیله دنده وهلو نوایا وما ته داسروادی چه خیانت پکښې وکړم وَمَآ اُرِيْدُ اونه ارادہ نه لرم اَنْ اُخَالِفَكُمْ دده چه زه تاسے څخه مخالفت وکړم او لاسم اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ دوهغه کار ته چه تاسے د هغه کار څخه منع کوم یعنے تاسے دده دپاره څنې منع کوم چه وما ته رایاته سی بلکه نه اول پخپله څنې منع سوی یم اِنْ اُرِيْدُ نه ارادہ نه لرم اِلَّا الْاِصْلَاحَ مګر دا صلاح اودسازګاری ستاسے مَا اسْتَطَعْتُ ط ترڅوچې نه ما طاقت وی وَمَا تَوْفِيْقِيْ اونه دی نه ما توفیق ستاسے په کارسازۍ کښے اِلَّا بِاللّٰهِ ط مګر په مدد ګاری د خدای سره دی عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ خاص هم پر ده ما توکل کړے دی وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿۸۸﴾ اوهم وده ته زه رجوع کوم په هرڅه کښے وَيٰقَوْمِ اواے نه ما قومه لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْۤ ګنه دے نه کوی وتاسی ته دښمنۍ اومخالفت زما خامخا اَنْ يُّصِيْبَكُمْ دا چه وتاسے ته ورسیږی مِّثْلُ مَآ اَصَابَ په شان دهغه عذاب چه ورسید لی وو مخکې ترتاسے قَوْمَ نُوْحٍ وقوم د نوحؑ چه هغه غرق وو اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ یا وقوم د هودؑ چه هغه تند باد وو اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ د یا وقوم د صالحؑ چه هغه نرلزله وه نو میبا ید چه دده وی څخه تاسے

عبرت واخلے اوکه په هغوسرع عبرت نه سی اخستلای په سبب د بُعد د زمانے
نو وَمَا قَوْمُ لُوطٍ اونه دے قوم د لوط مِّنكُم بِبَعِيدٍ ﴿۸۹﴾ دتا سے څخه لیری نه په
زمانه کښی اونه په مکان کښی نو په هغوخو خا خا عبرت واخلے وَاسْتَغْفِرُوا
رَبَّكُمْ اوبخښنه وغواړی دخپله ربه څخه دایمان په راوړلوسره ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ
بیا رجوع وکړیے وده ته په خصوص اوپه خلوص دعبادت سره إِنَّ رَبِّي بیشکه
چه رب زما رَحِيمٌ وَدُودٌ ﴿۹۰﴾ مهربا نه دی پربخښنه غوښتونکو باندی دوست
دے د تا ښا نو قَالُوا يَا شُعَيْبُ نړوی په جواب کښے وویل چه اے شعیبه مَا
نَفْقَهُ مونږ نه پوهیږو وَكَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ په صحت د پرو د هغه خبرو چه تا یے
ومونږ ته وا یی لکه لزوم د توحید او منعه د تطفیف څخه وَإِنَّا لَنَرَاكَ اوبیشکه مونږ
خا خا تا وینو فِينَا ضَعِيفًا په مونږ کښی ضعیفه اونا توانه وَلَوْلَا رَهْطُكَ اوکه
نه وای قوم ستا چه د مونږ سره په دین کښی شریك دے یعنی عزت او رعایت د
دوی که مونږ نه کولای لَرَجَمْنَاكَ نو خا خا به مونږ ته سنګسار کړے وای وَمَا أَنتَ
عَلَيْنَا اوته نه یے پرمونږ باندے بِعَزِيزٍ ﴿۹۱﴾ هیڅ قدرګران اوغښتلی چه ستا څخه
عزت درجم څخه مانع سے قَالَ يَا قَوْمِ نړوه ووچه اے زما قومه أَرَهْطِي ایا د زما
خپلوان چه دے أَعَزُّ عَلَيْكُم پر تاسو عزیز او څومره دی پر تا سے مِّنَ اللَّهِ د خدای
څخه وَاتَّخَذْتُمُوهُ اوتاسے د ده مردخدای نیولی دی وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا شا ته او
پرسوسته تر
شا ګانو خپلو دے لکه یوشی هیر کړه سوی دهیرې بے التفاتے څخه و شاتہ غورځول
سوی إِنَّ رَبِّي بیشکه چه رب زما بِمَا تَعْمَلُونَ پر هغو کارو باندے چه تا سے یے
کړی مُحِيطٌ ﴿۹۲﴾ احاطه کونکی دے خبردار ه دی چه یوشی هم څنی پټ نه دے نو
دتوحید جزا به درکړے وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا اواے زما قومه عمل کوی عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ
پرځای یا په جهت یا پرمرتبه خپله د شرك اونه ما د ښمنی یعنے هرشه چه ځنه
کښی تاسی نیولی دی پرهم هغه کلك ولاړ اوسی إِنِّي عَامِلٌ بیشکه چه زه هم

عمل کونکی یم اوکلك ولاړیم پرخپله مرتبه په نصرت سره دخپل رب سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ لاشرر دے چه معلوم به کړی تاسے مَنْ یَّاْتِیْهِ هغه څوك چه ورته راسے عَذَابٌ یُّخْزِیْهِ داسے عذاب چه دے به وشرموی وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ اوهغه څوك چه دے دروغجن دے وَارْتَقِبُوْٓا اوانتظار کوی دهغه شی چه مادرته ویلی دے اِنِّیْ مَعَكُمْ رَقِیْبٌ ﴿۹۳﴾ بیشکه چه زه هم دتاسے سره انتظار کونکی یم وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا اوهرکله چه زمونږ عذاب راغلے نَجَّیْنَا شُعَیْبًا نومونږ خلاص کړی دهغه عذابه څخه شعیبؑ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ اوهغه کسان هم چه ایمان یے راوړے وو دده سره بِرَحْمَةٍ مِّنَّا په هغه مهربانی سره چه زمونږ دجانبه څخه وه وَاَخَذَتِ الَّذِیْنَ اوونیول هغه کسان ظَلَمُوا الصَّیْحَةُ چه ظلم یے کړے وو په کفر سره اواز دجبرائیل چه مُوْتُوْا جٰثِمِیْنَ ﴿۹۴﴾ مړه پرځمکه پراته کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ډاډه چه گویا کـ د سره دوی په دے کورو کښے اوسیدلی نه وه اَلَا بُعْدًا لِّمَدْیَنَ واورې چه لیرې والے دی درحمته څخه اوهلاك دی وقوم ثمود مدین کَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ﴿۹۵﴾ لکه هلاك اوملعون سوی چه ووقوم ثمود وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى اوخاځا په تحقیق سره موږ رالیږلی وو موسےؑ بِاٰیٰتِنَا په معجزوسره زمونږ چې دلالت یے کافرصحت دنبوت دده وَسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۹۶﴾ او په بنکاره دلیل سره چه هغه لکړه وه اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ وفرعون اوو مشرانو ته دقوم دده فَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ فِرْعَوْنَ نو پیروی وکړه دوی مشرانو دفرعون دفرمان په نه منلو سره دموسےؑ وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ اونه وو فرمان دفرعون بِرَشِیْدٍ ﴿۹۷﴾ پرسمه لاره برابرونکی یَقْدُمُ قَوْمَهٗ مخکښی به سے دافرعون دخپل قوم یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په ورځ دقیامت لکه په دنیاکښے چه دے مخکښے اوقوم ورپسے وه فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ نو دوی به سره داخل کړی دده دوزخ په اوركښی وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ ﴿۹۸﴾

ع ۸ ۳ ۱۸

او بد ځای دے دا چه ددوی ورتله ورلره سوی دی یعنی دوبرخ وَاُشْرِبُوْا
اومتبوع سو یعنی و لیږل سو په دوی پسی فِیْ هٰذِهٖ لَعْنَةً په دے دنیا
کښے لعنت وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ د او په ورځ د قیامت هم بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ﴿۹۹﴾
بده عطاده دالعنت ددارینو چه ورکړه سوی دی ددوی ته ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى
دابیر ته «محکے» ذکرسوی د احوالوشخه دهغه کلیوډی چه په سبب دخپل ظلم
هلاك سوی دی نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ چه قصے یے موږ وتا ته تیروو مِنْهَا قَآئِمٌ چه
بعض دهغه قرئو لاهم هغسی کنډ والے ولاړدے لکه دعاد یانو اوثمود یانو وَّ
حَصِيْدٌ ﴿۱۰۰﴾ او بعضے دهغوشخه ریبل سوی دی یعنی هیڅ قدر نښے یې نه دی
پاته سوے لکه قوم دنوح وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ او موږ پر دوی ظلم نه وکړو یه
هلاکولوکښی وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ اولیکن دوی ظلم کړے وو پرخپلوځانونو
باندی په سبب دکفراو عناد سره فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ نودوی هیڅ شی دفع نکړی
اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ هغو باطلو خدایانو دوی يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه دوی
په بلل غیر دخدای شخه اود هغو عبادت به یے کاوی دډیره حماقته شخه مِنْ
شَيْءٍ هیڅ شی لَّمَّا جَآءَ په هغه وخت کښی چه راغلے اَمْرُ رَبِّكَ د عذاب درب
ستا وَمَا زَادُوْهُمْ اوهیڅ زیات نکړے دغه خدایانو یے ودوی ته غَيْرَ
تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾ بیله زیانکارۍ اوهلاکه وَكَذٰلِكَ اوهم دډغه نیولو په شان دے
اَخْذُ رَبِّكَ نیول درب ستا اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى په هغه وخت کښی چه ډے ونیسی
اهل ددے قرئو وَهِيَ ظَالِمَةٌ د او حال داچه اهل یے ظالم وے اِنَّ اَخْذَهٗٓ بیشکه
نیول ددوه چه ډے اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۰۲﴾ دردناکه اوسخت ډے اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه
په ډے قصوکښی لَاٰيَةً یقیناً خاخا د عبرت دی دپاڅه دهغه چاچه یبریږی
عَذَابَ الْاٰخِرَةِ دډغه په شخه دهغه چاهان ذٰلِكَ یَوْمٌ دا دقیامت ورځ یردے
ورځ ده مَّجْمُوْعٌ د اله النَّاسُ چه جمع به کړه سی په دی کښے مټوله خلك وَذٰلِكَ

عه پښے چه دوه دیرلږ څوك خلاصیدای نه سی ۱۲

يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿۱۰۳﴾ او دا ایره ورځ ده چه حاضر به کړه سے پکښی اهل د اسمانونو او
د ځمکی وَمَا نُؤَخِّرُهُ او موږ د داورځ نه وروسته کوو یعنے اخلاسے اِلَّا لِأَجَلٍ
مَّعْدُودٍ ﴿۱۰۴﴾ مګر د پاره د یو ټاکید لو د هغه مودی چه شمیرل سوی ده يَوْمَ يَأْتِ
په هغه ورځ کښے چه دامشهود راسے لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ چه بڼ نه به نه کوی هیڅوك
إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ مګر دده په اذن سره فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ نو د موقف د خلګو څخه به بدبخته
وی وَسَعِيدٌ ﴿۱۰۵﴾ او نیك بخته به وی فائدہ ۱۔ د نیك بخته پڼځه علامی دی، نرم دله
شرم ناکه، ژړا کونکی، لنډ امیده، ځ ایے پر دنیا او د بد بخته هم پڼځه علامے
دی سخت دله، بے حیا، وچی سترګی، دراز امیده، ځ ایے پر دنیا رباعی

څنی رب کړه په ازل کښی سعیدان مخونه سپین
او د څینو ایے کړه تور او شقی بنکلی پرجبین
هم ایے څوك په عدل چل سره اصحاب کړه د شمال
هم ایے څوك په موج د فضل څنی اصحاب کړه د یمین

فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا نو هرچه هغه کسان دے چه بد بخته وی فَفِي النَّارِ نو په اور
د دوزخ کښی به وے لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وی به دوی لره په دے اور کښی کله سخت
اواز وَشَهِيقٌ ﴿۱۰۶﴾ او کله نرم اواز په مثال د څره خَالِدِينَ فِيهَا په دے حال
کښی چه دوی به په دی اور کښی همیشه وی مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ ترڅو چه
دا اسمان ولاړ وی وَالْأَرْضُ او ځمکه إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ ط مګر هغه وخت چه
اراده وسی د رب سته چه دا وره بیا نه مهر یږ ته بونږی إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب
ستا چه دے فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿۱۰۷﴾ په کامل سره کونکی دے د هر هغه کار چه
اراده یے وسی دا قسامو څخه وَتغذیب وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا او هرچه هغه
کسان چه نیك بختان کړه سوی دی فَفِي الْجَنَّةِ نو په جنت کښی به وے

خَالِدِينَ فِيهَا په دا سی حال کښی چه همیشه به وے دوی په دی جنت کښی مَا

عدیخه تر څو چه پیے وخت نه دے راځلے تر هغلو به قیامت نه کیږی ۱۲

دَامَتِ السَّمٰوٰتُ تر څوچه دا اسمانونه ولاړ دي وَالْاَرْضُ او ځمکه دواړه دآخرت حاصل داچه اسمانونه او ځمکه دآخرت هم شته چه هغه به نه فنا کیږي او دليل ورباندې دا آيت دے يوم تبدل الارض غير الارض والسموات که اې اهل مکه إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ط مگر هغه وخت چه ستا درب اراده وسي چه دخلود ځمنه نعمتونو بې ديدارته بوزي سره د رضوانه عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾ په داسې حال کښې چه دا دا سے عطاده چه قطع اوانتها نه لري فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ نو ته مه کيږه په شک کښې مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ط دوی ځمنه چه دا عبادت دې بتانو چه دے چه دامشرکان پے کوی داعين ضلالت اوګمراهي ده بيشکه مَا يَعْبُدُوْنَ دوے عبادت نه کوے دوی بتانو اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ مگر دا سے پے کوی لکه عبادت به پے کاوی اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ط پلرونه دوی پخوا پر باطله وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ او بيشکه ۹ ع ۱۲ ۹ چه مونږ خامخا پوره ورکونکي يو دوی ته نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿۱۰۹﴾ برخه دوے بيله نقصانه وَلَقَدْ اٰتَيْنَا اوخامخا په تحقيق سره مونږ وکړے وو مُوْسَى الْكِتٰبَ او موسیٰ ته کتاب چه تورات وو فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ط نو اختلاف وکړو سو په دے تورات کښې چه بعضو وه مانی او بعضو نه مانے لکه چه په قرآن کښې ستا قوم اختلاف کړے دی وَلَوْلَا كَلِمَةٌ اوګه نه وای حکم سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ چه لومړے سويدی دجانبه ځمنه درب ستا په تاخير د عذاب سره تر قيامته پورې لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط نو خامخا به حکم کړه سوی وو په مابين کښې دوی يعنې لږ عذاب به را غلے وو چه محقق پے دمبطله ځمنه جلا کړی وای وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ اوبيشکه داقوم ستا خامخا په داسې شک کښې پراته دے مِّنْهُ دد مے قرآن يا دد مے عذاب ه ځمنه مُرِيْبٍ ﴿۱۱۰﴾ چه په اضطراب کښې اچونکی دے وَاِنَّ كُلًّا اوبيشکه داقوال چه دے يعنې مومنان اوکافران لَّمَّا داپه اصل کښې لَمَنْ مَا وو بيا دا رنون » ميم سولږ دے ميم جمع سو

نولمړے ځنی حذف شو نو لمّا سو او دا لام قسمیه دے یعنے لَمَنِ الَّذِیْنَ معنے دا چه قسم دے چه دوی دهغه طائفی څخه دے لَیُوَفِّیَنَّهُمْ چه خامخا به ورسوی ورته دے تولو ته رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ستا رب جزا دعملو دوی که ایمان وے که کفر وو اِنَّهٗ بِمَا یَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ ﴿۱۱۱﴾ بیشکه چه دے په هغو کارونو چه تاسے یې کوی اګاه دے فَاسْتَقِمْ كَمَاۤ اُمِرْتَ نو مستقیم اوسه پرهغه شان چه ما موړ سوی یے وَمَنْ تَابَ مَعَكَ اوهغه څوك چه راګرځیدلی دے د شرك څخه وایمان ته دتا سره هغه دی هم مستقیم سے وَلَا تَطْغَوْا اوتر هغه حده مه تیریږے چه درته ویل سوی دی اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۱۱۲﴾ بیشکه چه دے په هغه کارونو چه تاسے یې کوے بینا دے وَلَا تَرْكَنُوْۤا اوځنګ مه نږدی کوی اِلَى الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا اوهغه کسانو ته چه ظالمان دے فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ لا نو تاسے به وسوځی دوزخ اور وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِیَآءَ اونښته تاسے لره غیر دخدایه څخه دوو ستانو څخه هیڅوك چه عذاب درڅخه دفعه کړی ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ بیا به هیڅ مدد درسره ونه سے روایت دے چه هرکله عمرو بن عتبه به خرماوی خرڅولے چه یوه بنائسته دخرماوود را نیولو دپاره ورغله نوده ورته وویل چه دننه په کوټه کښی ښه اوغوړ خرماوی دے بیا چه دا ننوته نوده یخه ځنی واخیسته اوفی الحاله پښیمانه سو او پیښ رسول ته راغلے اودا حال یې ورته بیان کړی نو نازل سو وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ اوبرپایه اوقائم لره لمونځ طَرَفَیِ النَّهَارِ په دواړو طرفو کښے دورځی دسهار په اول طرف کښے اودماپښین او ماښګر په اخر کښے وَزُلَفًا مِّنَ الَّیْلِ داو په هغه نږدے ساعتو کښے دشپی وورځی ته چه ماښام اوماخستن دے اِنَّ الْحَسَنٰتِ بیشکه نیکی چه دی یُذْهِبْنَ السَّیِّاٰتِ دمحوه کوی بدی ذٰلِكَ دا فرمان اووعده چه دی ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِیْنَ ﴿۱۱۴﴾ پند دے پند قبلونکولره وَاصْبِرْ اوصبر کوه په کولو سره داوامرو اوپه منع کیدلو سره دنواهیو څخه فَاِنَّ

الله نو بیشکه خدای چه د ے لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۱۵﴾ نه ضایع کوے اجرد
دنیکوکارانو فَلَوْلَا كَانَ نو ولے نه وو دا لولا دلته په معنیٰ د نفی د ے یعنی نه
وو مِنَ الْقُرُونِ د اهل د هغه زمانو مِن قَبْلِكُمْ چه پخواوه تر تاسے أُولُوا بَقِيَّةٍ
خاوندان د فکر او د عقل يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ چه منعه کول بے مفسدان د فساد
کولو څخه فِي الْأَرْضِ په ځمکه کښی چه عذاب نه وای پرے علے إِلَّا قَلِيلًا مگر کم
وه مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ د هغه خلکو څخه چه مونږ خلاص کړی وه د عذاب څخه
د اهله څخه د هغه تیرو قریو د جهته څخه د نهی د دوی د منکر څخه وَاتَّبَعَ الَّذِينَ
ظَلَمُوا اوپیروی وکړه هغوکسانو چه کافران وه مَا أُتْرِفُوا فِيهِ د هغه شی چه
ناز پرورده کړه سوے وه دوی په هغه کښے چه مقتضا طبعی اوشهوت نفسانی
د دوی وو وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿۱۱۶﴾ او دوی کافران وه حاصل دا چه واورے اے
امت مرحومه چه سبب د هلاکت د تیرو امموچه مذکور د ے په د ے
سورت کښی او بیخکن سوی دی هغه څلور شیان وه یو کفر، بل ظلم، بل اشتغال
په مقتضیا د نفس بل ترک د نهی د منکر څخه نو میبا ید چه تاسے د ځان وسائے
د ے څلور د سره وو څخه پیښتحق د بیخکنی نه سے وَمَا كَانَ او نه د ے رَبُّكَ رب
ستا اراده کونکی لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ د ے چه هلاک کړی دا مخلوق د د ے
قریو په کفر سره وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿۱۱۷﴾ او حال دا چه اهل د د ے قریو منصفان
وی پخپلو مابینو کښے یعنی یوازی په کفر سره یے نه هلاکوی تر څو چه ظلم ور
سره نه سی وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ او که اراده سوی وای ستا رب لَجَعَلَ النَّاسَ
أُمَّةً وَاحِدَةً نو خامخا به یے دا قول خلق یوه ټولی پر ایمان او پر طاعت
متفق گرځولی وای په اختیار سره لیکن اراده یے نه ده کړے د اتفاق د د ے
نو متفق به نه سے وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿۱۱۸﴾ او همیشه به وی دوی مخالف
یو د بله سره په کفر او په ایمان کښے إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ ۚ مگر هغه څوك چه

رحم پروکړی ستا رب او داختلاف څخه پرته وساتی نو دوی به متفق سی
سره په دین دحق کښی وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ط اودپاره دغه اختلاف لپی داخلاف
پیدا کړی دے یا دپاره درحمت پرے دامر حومین پیدا کړے دی وَتَمَّتْ كَلِمَةُ
رَبِّكَ اوترسره سوه وپل درب ستا یعنی هغه خبره چه ملائکو ته دده کړی
وه چه هغه داده لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ چه خامخا به زه داوبرخ پرتے مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ دپیریانا نو اوانسانانو نوځه اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ دټولو څخه وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ
اوداټول اخبار چه موږ پرے پرتالولو "واړه" اے رسوله مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ
داخبار اوداحوالوڅخه دتیرو رسولانو مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ج هغه دے
چه موږ کلکوو اوقوی کوو پرهغه سره زړه ستا پرزیادت دیقین سره یعنی
فائده پرے قصه درسولانو نوکښی داده چه ستا زړه وادوه شی وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ
الْحَقُّ اوراغلے تا ته پرے سورة یا پرے اخبار کښی هغه چه حق دے وَ
مَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى اوپند اویادګیری ده لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ ومؤمنانو ته
وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اووایه اے رسوله وهغوسانو ته لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا چه
ایمان نه راوړی چه عمل کوی عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ط پرځای یاپرجهته یاپرمرتبه
خپله دشرکه اونورما دد بنمنی یعنی هرڅه چه تاسے پرهغه کښی نیولی دی پرهم
هغه کلک ولاړ اوسی اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ بیشکه چه موږهم عمل کونکی اوکلک
یو پرخپله مرتبه دنصرته دخپل رب وَانْتَظِرُوْا اوانتظار کوی تاسے ومونږ
ته دګډوشه دزمانی اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ چه بیشکه موږهم انتظار کونکی
یو وتاسی ته دنزول دعذاب وَلِلّٰهِ اوخاص خدائ ده غَيْبُ السَّمٰوٰتِ علم پر
پټو داسمانونو وَالْاَرْضِ اودځمکی وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ اوخاص هم ده ته بیرته کار
ګرزول کیږی كُلُّهٗ، ټوله که ستادی اوکه ددوی دے فَاعْبُدْهُ نو ته دده عبادت
کوه چه مرجع دټولوهم دی دی وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ اوتوکل وکړه پرده باندی

وَمَا رَبُّكَ اونہ دے رب ستا بِغَافِلٍ بے خبرہ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۱۲۳) دھغو کارونو څخہ چہ تاسے یې کوی ع ۱۰ ۱۰

اٰيَاتُهَا سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ رُكُوْعُهَا

(۱۱) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۱۲)

الٓرٰ تہ دے مقطعا تو حال پہ سورۃ ھود کښی بیان سوی دے چہ چا سکوت پکښی کړی دے ۔ اوچا تاویلات پکښی کړی دی چہ یو دھغو څخہ دا دے چہ دغہ حروف دا سماؤ څخہ د پروردګار ڈی مثلاً آلف دا اللہ څخہ دی ا و لٓ د لطیف څخہ دی اور ر رحیم څخہ دہ نو پہ دی نو موسرہ یے قسم کړے دی او جواب دقسم دا دے تِلْكَ دا الٓكِتٰبِ الکتب الْمُبِيْنِ (۱) ایتونہ دھغہ سورت دی چہ بنکاره دی معانی او اعجاز یے وھغہ چا تہ تدبر او تفکر پکښی کوی یا واضح بیا نونکی د ھغہ قصے دی ځکہ چہ یھودو و یلی و و مشرکا نو تہ چہ تاسے محمدؐ و پوښتی چہ اولاد یعقوبؑ دشام څخہ ولی مصر تہ راغلے وہ او قصہ د یوسفؑ څرنګہ وہ نو نازل سوا تَّا اَنْزَلْنٰهُ بیشکہ چہ مونږ را لیږ لی وو دا کتاب یعنے سورۃ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا پہ دا حال کښی چہ لوستل سوی دی پہ عربی ژبہ سرہ لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ (۲) بنایئ چہ تاسے پې معنیٰ وفہموی ځکہ چہ ستاسے خپلہ ژبہ دہ روایت دی چہ ھرکلہ اصحابو درسولؐ څخہ دد اسے قصے سوال وکړی چہ مشتملہ وی پرعشق او پرمحبت باندی اوخالی وی دا وامرو او دنواھیو اودوعدہ او دوعیدا څخہ نو نازل سو نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ مونږ لولو (راوړو) وتاتہ اَحْسَنَ الْقَصَصِ ھغہ قصہ چہ ډیرہ بنایستہ دہ ترھغو لوقصو ځکہ چہ څښتن (فرمانونہ) بے بنایستہ وی اومشتملہ دہ پر ډیرو محاسنو اوغرائبو عبرتو باندی بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ پہ وحی نرمونږ سرہ وتاتہ هٰذَا الْقُرْاٰنَ دغہ دی لوستل سوی سورۃ

وَاِنْ كُنْتَ اوبیشکه چه ته وی مِنْ قَبْلِهٖ پخوا «عکی» تر نزوله ددی سورت لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ③ خامخا د ناخبر وخمخه په دے قصه اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ یادکړه هغه چه یوسف وخپل پلار ته وویل چه یعقوبؑ دی اود ے په دغه وخت کښی د دولسو کالو وه اوپه شپه د جمعی د پلار پرخنګ بیده سوچه ناګاه په هیبت سره راپورته سو اوپلار ریے پوښتنه خُنی وکړه چه څه سبب دی نوده ورته وویل يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اے پلارګ زما بیشکه چه ما ولیدل په خوب کښی اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا یوولس ستوری وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ اولمړاو سپوږمے رَاَيْتُهُمْ ما دوی ولیدل لِيْ سٰجِدِيْنَ ④ ماته سجده کونکی په دے شان سره چه زه پریوه هسک «عکی» غره ناست یم اوچا پیره ږے انهار او اشجار دی ناګاه دا اقوال واسمان څخه راکښته سول اوما ته پرسجده پریوا ته اودے خوب اود تعبیر دوقوع په مابین کښی څلویښت یا اتیا کاله وه قَالَ يٰبُنَيَّ نو یعقوبؑ وویل چه اے زما زویکیه لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ مه وایه داخوب دے اومه ږے بنکارګ کوه عَلٰٓى اِخْوَتِكَ ووړه وخپلوته فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ءاے نو حیله به جوړه کړی وهلاک ستاته حیله سازی په وسوسه شیطانی سره اِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ بیشکه چه شیطان انسان لره عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ⑤ بنکاره دښمن دے نوما دا چه دوی به په زهږ کښی ستاسره کینه پیدا کړی وَكَذٰلِكَ اوپه شان د دغه غوره والی چه دا ستا خوب دلالت پرکوی يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ غوره به کړی تارب ستا وَيُعَلِّمُكَ او ښودنه به وکړی وتاته مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ د تعبیر د خوبونو یا د بیان د کتب منزله وو او د احادیثو د انبیاؤ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ او پوره به کړی خپل نعمت پرتا یعنے دا تعبیر ونه به دی پوره کړی په نبوت سره یا دا نعمتونه د دنیا د اخرت په نعمتوسره وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ اوپرنورو فرزندانو د یعقوبؑ هم كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ لکه چه پوره کړے وو ده دا اولاد ۱۲۵

نعمت پر دواړو پلرو ستا سو مِنْ قَبْلُ مخکی تردی اِبْرٰهِیْمَ چه یو ابراهیمؑ
وو چه رسالت او خلت او نجات یے داوړه څخه د نمرود ورکړی وو وَاِسْحٰقَ
او بل اسحٰقؑ وو چه یعقوبؑ یے سره دد اسباط څنی پیدا کړی اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه رب ستا عَلِیْمٌ حَكِیْمٌ ﴿۶﴾ دانادی پرمستحقانو د اجتباء پرحکمته دی
چه هرکا رپخپل مناسب سړی بیانوی لَقَدْ كَانَ فِیْ یُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖۤ اٰیٰتٌ څحقیقی سړه
چه وو په قصه دیوسفؑ کښی وَاِخْوَتِهٖ او دوروڼو دده کښی نښانې
علامات او دلالات پرقدرت او حکمت د خدای لِّلسَّآئِلِیْنَ ﴿۷﴾ د پوښتنه کونکو
د دی قصی د پاړه یا د یهودو د پاړه چه د رسول ﷺ څخه پوښتنه کړی وه فائدګ
د یعقوبؑ مقوله نامن دوولس وه بیا شپږ د دوی څخه چه یهودا، روئیل،
شمعون، لاوی، یالون، یشجر د دوی د یوی مورۍ وو چه لیَا نومیده او
د یعقوبؑ خپله تروړزئ وه او دوه نور چه بنیامین او یوسفؑ وه دوی
د بلے مورۍ څخه وه چه راحیل نومیده او د لیَا خور وه چه د لیَا تر وفات
وړوسته یے په نکاح کړی وه او څلور نور وه چه یادان، نفتالی، جاد،
شړدی دوی د دوو سرینځو څخه وه چه زلفه او بلهه نومیده اِذْ قَالُوْا یا وکړی
هغه چه وویل دوی لسو ورونو یوپل ته لَیُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اوخامخا یوسفؑ
او وړوردده چه بنیامین دے اَحَبُّ اِلٰۤی اَبِیْنَا مِنَّا د پرګران دی نرمور و
پلار ته ترمور وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اوحال دا چه مور لویه ډله او یو قوتناکه
ټولی یو اودوی دواړه ترمور واړه اوهم ضعیفه اوهم بیکاره دی نو
لایقه او مناسبه داسے وه چه دمور سړے یے تردوی محبت زیات وی
لیکن اِنَّ اَبَانَا بیشکه چه زمور پلار لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۸﴾ خامخا په لویه
سرګردانی کښی لویدلے دی او تدبیر د نیوی څنی خطا سوی دی چه
دواړه یے په څنګ کښی نیولی دی او مور یے وشاته غورځولی یو

روایت دی چه هرکله شیطان دا خبری ددوی څخه واوریدی نو په صورت دیوسپین بزیری وړته راغلے او وړته یے وویل چه یوسف اوس اختیار ددے لری چه تاسے څپل مریان کړی نو دوی وړته وویل چه اوس یے څه تدبیر وکړو نو ده هم او بعضو ددوی همداسے وویل چه اقْتُلُوا يُوسُفَ مرکړی یوسف اوداقائل یادان یاشمعون وو اَوِ اطْرَحُوهُ اَرْضًا یا دی وداسی محکی ته وه غوړځوی چه دا بادی څخه لیری وی اولیوان پکښی ډیروی يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيكُمْ چه غ د پلار څپل درته خالی سے یعنی چه دے تاسی د پلار د مخی څخه لیری کړی نو د پلار غ ببیخی هم وتاسے ته سی وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهٖ او سی به تاسی وړوسته ترقتل یاطرح د یوسف قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۹ یوقوم د صالحانو یعنے توبه کښونکی وخدای ته یاصلح کونکی د څپل پلار سره قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ نو وویل یو یونکی ددوی څخه چه یهودا یا روئیل وو لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ مه وژنی یوسف چه د بے گناه وژل عظیمه گناه ده وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ اووی غورځوی په یو بیخ دکوهے کښی يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ چه بیا یے واخلی بعض تیریدونکی پرلاسه چه ډیر لیری وطن ته یے یوسی اوتاسی یعنی څنی خلاص سی اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۱۰ که تاسے کونکی یاست د دی کار په مصلحت سره زما بیا پرهم دی څولو اتفاق وکړو او پلار لره غله اوفریب یے ورو ړاندی کړی چه اے بابا! وخت د پسرلی دی اوتوله صحرا گلزاره ده او نر موښ ارا ده دښکاره ده اونر موښ وړوړ یوسف چه دے کوچنے هلک دی نړه به یے تماشے اوخوشحالی غواړی نو د موښ سره یے ولیږه چه ورځ په خوشحالی تیره کړو او ما بنام به بیرته کورته راسوزده منع وکړه چه نر مایوساعت بیله ده نه تیریږی لکه چه وائی قَالُوْا يٰٓاَبَانَا نو دوی ووویل اے نر موښ پلاره مَالَكَ لَا تَاْمَنَّا څه باعث دی پرتا او

څه تقصیر دے لید لی دے د موږ څخه چه ته په موږ سره اعتبار نه کوے
عَلٰی یُوْسُفَ په حق د یوسف کښی ا وصحرا ته یے د موږ سره نه لیږی وَاِنَّا
لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ (۱۱) او حال داچه بیشکه موږ ده لره خامخا نصیحت گر او
خیرخواهان او مهربانان یو اَرْسِلْهُ دے ولیږه مَعَنَا غَدًا د موږ سره
صباوړځ صحرا ته یَرْتَعْ چه فراخه میوه وخوړی او معاش وکړی وَیَلْعَبْ
اولوبے وکړی په بنکار او په غشی ویشتلو سره وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (۱۲) او
بیشکه چه موږ ده لره خامخا نگهبانان یو او د هره ضرر او اسیبه څخه
به یے ساتو قَالَ اِنِّیْ نو یعقوب ووېل چه بیشکه زه چه یم لَیَحْزُنُنِیْٓ خامخا
ماخفه کوی اوس اَنْ تَذْهَبُوْا په داچه دی تاسی د ما څخه بونړی نو یوخو
دا کار سخت د ے چه زه مفارقت نسم قبلولای وَاَخَافُ اوبل داچه زه
بیریږم اَنْ یَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ د دے چه د ے به لیوه وخوری حُکه چه هلته
لیوان ډیر د ے وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ (۱۳) او حال داچه تاسے به د ده څخه
ناخبره یاست په سبب د اشتغال په بنکار او په تماشه سره قَالُوْا ویا د وے
وویل لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ خامخا که د ے لیوه وخواړی وَنَحْنُ عُصْبَةٌ او
حال داچه موږ داسے لوی قوت ناکه ډله یو اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ (۱۴) او بیشکه
موږ په دغه وخت کښی خامخا د زیانکارانو څخه یو الغرض اخر یے د لاسه کړی
او غاړه یے ورته کښیښوول نو رخصت یے کړی وړسره اودوی یرا وړه سپور
کړی او ځنی روان سوه لکه چه وایی فَلَمَّا ذَهَبُوْا نو هرکله چه دوی بوتلو یه
یوسف او د پلار څخه یے غائب کړی نو هرڅه چې د دوی د لاسه کیدل هغه یے
تولـه یه وکړه د انو اعود تعذیب څخه چه دا فقیر یے د بیان څخه عاجزه دی
وَاَجْمَعُوْٓا او اتفاق یے سره وکړی اَنْ یَّجْعَلُوْهُ پرد ی چه د ے وغوڅوی
فِیْ غَیٰبَتِ الْجُبِّ د کوهے په بیخ کښی او داکوهی د کنعان څخه درے فرسخه

عه یعنی د شیطان او د بیرانو د یرا نو ۱۲

لیږے وو او او یا گزه یا څه نږیات څرورو نو یوسف یے دکوهی پر غاړه ودراوی او قمیص یے خنی وکښی او لاسونه یے ورو تړل او په ملا کښی یے پری ورواچاوی او دکنعانه څخه لږ دی کوهی پورے هرځونږا دی چه ده به کولی دوی تولو ته یوه هم خنی چا نه قبلوله او هغه به لا موجب ذیادت د تعذیب دده سوی ترد ے حده چه مړ شے ته یے نږدی کړی وو او ما یهودا خنی خلاص کړی او بیا به یے وو وی ته ناری کړی چه د خدای په جهت دا قمیص می په غاړه کښی واچوی چه صورت می پټ سی نو دوی به ورته په جواب کښی وو یل چه لمړا و سپوږ می او یو ولس ستوری وته وسره ناری کړه چه سجده یے د رته کوله نو اوس به قمیص هم درته راوړی الغرض په کوهی کښے یې کښته کړی بیا چه مینځ ته یے ورسیدی نو پری یے غوڅ (پری) کړی او پر جبرائیل د سدرة المنتهی څخه امر وسو چه شر رکه او په هوا یے ونیسه نو ده هم په هوا وه بیوی او په دی کوهی کښی یوه تیږه ترا و بو جگه اولوړه وه پرهغه یے کښینا وی او دیوسف په غاړه یو توښوند ووچه په هغه کښی یو قمیص وو د جنت د حریره څخه چه ابراهیم ته راغلے وو په هغه وخت کښی چه نمرود واور ته غورځاوی او د هغے برښنه اولخ کړی او هغه بیا وده ته په میراث راغلے وو هغه جبرائیل راوه ایستی او ده ته یے ور په غاړه کړی او د رب العزت څخه وحی هم ورته راغلی لکه چه وایی وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ او موږ وده ته وحی وکړی په همدغه کوهی او څاه کښی چه هیڅ غم مه کوه چه تا به د دے کوهی څخه موږ د باسوا و بیا د باچاهی پر تخت به دے کښینوو او د اورونو به د رته کښینوو په دیره خواری او عاجزی سره او بیا لَتُنَبِّئَنَّهُمْ خاخا به ته دوی آگاه کړی بِاَمْرِهِمْ هٰذَا په هغه کار د دوی سره چه د تاسره یے کړی دی چه هغه داده وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ (۱۵) او حال داچه دوی به نه

عه یعنی سبب وزړ ا تر اے د غنا پیدا لودده وو ۱۲

پوهیږی په ده سره چه ته یوسف ؑ یې وَجَآءُوْۤ اَبَاهُمْ او دوی د غله وخپل پلار ته عِشَآءً یَّبْكُوْنَ (۱۶) ماخوستن (د نماز خفتن) چه په درواغو یې شړل چه پلار یې دا آواز واوریدی نو وه بیریدی او وې غلی چه ولې ژاړی او یوسف چیرې دی قَالُوْا یٰۤاَبَانَاۤ نو دوی وویل چه اے زمونږ پلاره اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ بیشکه چه مونږ وصحراته ولاړو وچه یو تر بله به سره مخته کیدلو په منډو او په غشی ویشتو کښی وَتَرَكْنَا یُوْسُفَ او مونږ یوسف ؑ یواځی پریښوی عِنْدَ مَتَاعِنَا زمونږ د سامان او د اسبابو سره فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ نو دی لیوه وه خواړی وَمَاۤ اَنْتَ او ته نه یې بِمُؤْمِنٍ لَّنَا باور کونکی پر مونږ باندی په دے خبره کښی وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِیْنَ (۱۷) که څه هم مونږ رښتینی سو وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِیْصِهٖ او دوی راوړه پر قمیص دده باندی بِدَمٍ كَذِبٍ د ویني په درواغو سره داسے چه یو اونږ کړی یې ذبح کړی وو او دده قمیص یې دهغه په وینو لړلے وو چه دا خبره یَعْقُوْبُ ؑ ددوی څخه واوریده نو ویې ویل چه دا قمیص یې په وینو لړلے وه لیدی چه سړوخ وو او هیڅ ځای یې پکښے څیر سے سوی نه وو نو ددوی ته یې وویل چه عجبه انصاف دارہ لیوه وو چه د قمیص سره یې هیڅ غوښه نه دے کړے او یوسف ؑ یې په احتیاط سره څنے ایستلی او کښلی دی او خو سره لی یې دی قَالَ نو یعقوب ؑ ددوی ته وویل چه دا تولہ درواغ دے بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ بلکه تاسے ته بنایسته کړے دی اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا او ځانونو خپلو یعنی زړه وستاسے کوم یو لوی او ویر بدګټه راختیار کړیدے فَصَبْرٌ جَمِیْلٌ نو زه ماته کار رهغه صبر دے چه بنه ته پکښی شکایت نه وی وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ اوخدای چه دی مدد څخه غوښتل سوی دی یعنی هم د ده څخه مدد غواړم عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ (۱۸) په هغه کار کښی چه تاسی یې بیانوی د هلاکه د یوسف ؑ اودے په هغه کوهے کښی درے وهلی وو په څلورمه ورځ

خدائے بیا د خروج سبب ورته پیدا کړی لکه چه وایی وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ او راغلے کاروان د مدینه څخه چه مصر ته تلل مګر لاړه یے خطا کړی وه نو پرچول بیابان را غله اوده سے کوهی پرځنډ یے وار ول فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ نو دوی خپل اوبه راوړونکی چه نوم یے مالك ځوی د زجرخزاعی وو ورولیږی فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ط نو ده وروځړول څولاغه داوبو ودی څاته داوبو دپاره اویوسف ته وحی وسوی چه ابوکه ونیسه بیا چه مالك بوکه پورته راکش کړه نو ده یوه درنه وه نو قَالَ يَا بُشْرَىٰ مالك په لوړ اواز وویل چه اے خلګو زما یرے یا اے زما اغا یا اے زما مربیه چه نوم دے بُشْرَىٰ دی هله راسه دا بوکه راسره وکا ده چه هَٰذَا غُلَامٌ ط داغه دے هلك چه په بوکه کښی ناست دی نو دکوهے څخه یے راوه ایستی وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً ط او پټ یے کړے دلونړ کاروانه څخه په حال کښی د کید و ده مال دسوداګری یعنے دد ے دپاره چه خرڅ به یے کړو یا خپلو ورونو ده حال د ده دکاروانیانو نو څخه پټ کړی او یوسف ته ئے پخپله شر به وویل چه مور ب ستاپه حق کښی هرڅه چه ودوی ته وویل تر چپ اوسه اوګه دی بز غ وکړی نو مږ به د ے کړو اوکاروانیا نو ته یے ووایل چه دا زمور مربی دے بے فرمانه اوقبنستیدونکی دی که یے تاسے اخلی د ریاندی خرچ به یے کړو وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿۱۹﴾ او خدای اګاه «خبر» وو بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿۱۹﴾ په هغو کاروکړو سره چه دوے دخپله پلاره اووروسره کول هغه انواع «قسمونه» دبی ادبی اود بے رحمی وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ اود ے یے خرچ کړی په کم اولږ قیمت یا په ناکره «ناچلنده» سره دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ چه هغه په شمار یوشو دراهم وه چه شل دراهم وه چه مجموعه یے قریب دشپږ نیمو سو پوړو په قدر وه ع ۲ ۱۲ ۱۲ وَكَانُوا فِيهِ اوووداوروزنه په باب د یوسف کښی مِنَ الزَّاهِدِينَ ﴿۲۰﴾

عه نکه چه دوی به هر ورځ دوه خپرا خسته راجمع ایسان

د بے رغبتانو یا دا کاروانیان بے رغبته وه دجهته بے فرمانے اودتیښتی دده
تښیه :- دهغه وخته څخه چه د ے مالك رانیوی بیا ترهغه وخته پوری
چه په مصر کښی پے خرڅ کړی په د ے مابین کښی د یر عجائب اوغرائب تیر
سوی د ے مگر دلته اوس تلڼ په متابعت دکلام ریے پکاردی نوالغرض
یوسفؑ پیے او مصرته راوستی اوخرڅ پے کړی وَقَالَ الَّذِی اشْتَرٰىهُ اوهغه
سړی وویل چه رانیوی پے مِنْ مِّصْرَ د اهل د مصر څخه چه نوم پے عزیز وو
چه وزیرا وخزانچی اوکل اختیارد باچا ووچه سړیان بن ولید وه نوم د ے
عزیز وویل لِامْرَاَتِهٖٓ وخپلی ښځی ته چه نوم پے زُلیخا وه په ضمه سړه د
اول اوپه فتحه سړه دثانی اَكْرِمِیْ مَثْوٰىهُ چه په عزت ورته ځای ددی مړیی
یعنی بنه مور اوپټ اوخوشحاله پے ساته عَسٰٓى اَنْ یَّنْفَعَنَآ بنایی چه د ے
ومور ته گټه ورسوی په کاروبار اوپه معاملا تو د رونړ کا رکښی اَوْ نَتَّخِذَهٗ
وَلَدًا ط یا به مور د ے په فرزند سړه ونیسو چه دواړه اولاد نه لرو وَكَذٰلِكَ او
همداسی لکه چه مور عزیز پرده مهربانه کړی وو مَكَّنَّا لِیُوْسُفَ ځای اوارامگاه
ورکړی وه مور ویوسفؑ ته فِی الْاَرْضِ په مځکه کښی د مصر او مور دی باچا
کړی وو چه با چاهانه تصرفات پے پکښی کول پوه پاره د دادخوا هی وَلِنُعَلِّمَهٗ
او بل د پاره د د ے چه نړه کړو مور د وه ته مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ د تعبیره
ځخه وخوبونو یا د معاینو څخه دخدای دکتاب وَاللّٰهُ غَالِبٌ اوخدای غالب د ے
عَلٰٓى اَمْرِهٖ پرخپل کار باندی چه حکم بے هیڅوك نه سی رد ولای په هرباب
کښی یا پرارادی د یوسفؑ په باب کښی وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن نړیات خلك
چه د ی لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱﴾ په د ے پوهیږی وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ چ اوهرکله چه
یوسفؑ وخپل قوت ته ورسیدی یعنی چه دا تلسو یا دیرشتو کالو سو
اٰتَیْنٰهُ حُكْمًا نو مور د ه ته حکمت ورکړی یعنی علم سړه د عمله یا حکم په ما

بین کښی دخلگو وَّعِلْمًا ط اوپوه په تعبیرو وَكَذٰلِكَ اوهدا سے نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۲﴾
جزا ورکوو موږ وینکو کار انو ته وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ اوطلب وکړی دیوسف ؑ څخه
هغه ښځی هُوَ فِيْ بَيْتِهَا چه د ے دهغی په کور کښی وو یعنی زُلیخا عَنْ نَّفْسِهٖ
دنفس څخه دده یعنی خپل مراد یے ځنی طلب کړی چه د ماسره جفت سه اوده
یے د ننه په اومه کوټه کښی ننوییستی دهغو اووکو توچه دی دهم دی مطلب
دپاره جوړی کړی وی هره یوه د بلی څخه د ننه وه وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ اود ے
کلکی پوړی کړی ((بندی کړی)) دا اوه سره دروازے د د ے کوستو او بیا یے ـ
قلف اوځنځیرهم کړی وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ط او بیا یے ورته وویل چه جلب راځه
یاشه رمخ که وماته اوداهیت لك اسم فعل دی دتَعَالَ یا دَاقْبِلْ په معنیٰ
دراسه بیا چه یوسفؑ داحال ولیدی قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ ووده ووویل چه
پناه غواړم په خدای پوړی د د ے بد کار څخه په پناه ینولوسره اِنَّهٗ رَبِّيْ
چه بیشکه دی رب زما دی اَحْسَنَ مَثْوَايَ ط چه بلنده کړے یے ده مرتبه
زما پخپل دربار کښی ونوزه هم دده دامر څخه مخالفت نه کوم یا معنیٰ دا
چه عزیز زما څښتن د ے او ډیره نیکی یے هم راسره کړیده چه وتاته
یے ویلی دی چه اکرمِی مَثْوٰیه ونوزه هم دده په حرم کښی خیانت نه کوم
چه کفران د نعمت کیږی اِنَّهٗ بیشکه شان دا دے لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾
چه نه سی پیدا کولای خلاصون هغه ظالمان چه د نیکی پرځای بدکوی یا زیانکاران
وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ج اوخامخا په تحقیق سره دِی اراده وکړه یعنی زلیخا دیوسف
سره اختلاط کاوی د عزم پرطریقه وَهَمَّ بِهَا اوده هم ددی سره اراده و
کړه نه پرطریقه د عزم بلکه هسی په مجرد میل طبعی سره سره د منع اختیار
او دا میل د اختیاره څخه و تلی دی نو حکه بنځه نه دی په مأخوذه بلکه ده
د خپل نفس سره په د ے مقام کښی د یرا ستقامت اوډیره مجاهده

کړیدۀ ځکه دے د مدح مستحق سوی دی اوهرچه داعبارت دی لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ که ده نه وای لیدلی بُرْهَانَ رَبِّهٖ د دلیل قاطع دخپل رب نو دے عبارت جواب محذوف دے چه هغه دادے لکان ماکان یعنی نوسوی به وای هغه کار چه سوی به وو بیا په دے برهان کښی ۽ پرا قوال دی چه جبرائیلؑ ږے ولیدی یا ږے خپل پلار وه لیدی چه ولار دی اود حیرته شخه خپلے گوتی چیچی یا اواز وسو چه فهم کړ چه ته پیغمبر ږے او داکار د پیغمبرانو نه دے مگر اصح دادی چه هغه برهان څخ عصمت الٰهی وو وَكَذٰلِكَ هم داسی موږ دده ته حکمت الٰهی ورکړی وو لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ دده دپاره چه موږ دده څخه بدی چیچه کړو یعنی خیانت د عزیز په حرم کښی وَالْفَحْشَآءَ او ناکاره فعل چه زنا ده اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ (۲۴) بیشکه چه دی زموږ د خاصو بندګانو څخه وو یعنی د هرنا لایقه کار څخه پاک وه رَوایت دی چه هرکله یوسفؑ پوه سو چه په هیڅ شان می نه پریږ دی نو ځنی منډه ږے کړه او دی هم ورپسی منډه کړه اوچه دے به وهری دروازی ته وو رسید ے هغه به د خدای په حکم سره پخپله خلاصه سوه اوهلاسی دواړو منډی سره وهلی تراوومی دروازی پورې لکه چه وَاِفِي وَاسْتَبَقَا الْبَابَ اویو تربله سره مخکی کیدل ودروازی ته یوسفؑ د پاره د ځان خلاصولو اوزلیخا د پاره د راپنولو چه ناګاه ورورسید ه نو لاس ږے دده وګریوان ته ورواچولو وَقَدَّتْ قَمِيْصَهٗ اوده خیرې کړې په دی راګشولو سره قمیص دیوسفؑ مِنْ دُبُرٍ د طرفه څخه دشا وَاَلْفَيَا سَيِّدَهَا اومخامخ سوه دوی دواړه د زلیخا د خاوند سره چه عزیز وو لَدَا الْبَابِ د دورسیدلی دروازی سره چه دے دبیړه وَاَلْفَيَا څخه را ځلے اودوی د دننه څخه ورغله بیا چه عزیز دواړه ساه وهونکی او زیر رنګی ولیدله نو ګمان ږے وسو چه سره اخته دی نو

پوښتنه یې وکړه چه داولی نو زُلیخا دخپلی بیری څخه په جواب کښی تلوار
وکړی نو قَالَتْ مَا جَزَآءُ دی وویل چه نه ده جزا مَنْ دهغه چا اَرَادَ بِاَهْلِكَ
سُوْٓءًا چه اراده اوکړی ستاد عیال (اکرو دای) سره دبدی اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ مگر داچه
په زندان کښی دی واچول سی اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ (۲۵) یا سخت اودردناکه عذاب
دی ورکړل سی چه بیا داسے کا رونه کړی بیا چه یوسف پوه سو چه اوس سے
زندان ته بیاپائی نو قَالَ ده وویل هِيَ رَاوَدَتْنِيْ چه هم طلب دے کړید ے
دماڅخه عَنْ نَّفْسِيْ د نفس زما یعنی خپل مراد پے راڅخه وغوښت اومادا
خبره قبوله نه کړه بیا عزیز وویل چه دادرواغ اورشتیا به زه څرنګه معلوم
کړم نو یوسف وویل چه په دی کاله (اکورہ) دد سرویادخلورومیاشتو هلك دی
هغه زما شاهد دی نو عزیز دی خبری څخه استبعاد وکړی (اینے داخبرہ نی لیری ویلی)
مگر هلك بی وپوښتی لکه چه وائی وَشَهِدَ شَاهِدٌ او شاهدی اداکړه یو
شاهد مِّنْ اَهْلِهَآ د خپلخانی اوداهله څخه دد ی چه اے عزیزه وگوره اِنْ كَانَ
قَمِيْصُهٗ که ووقمیص دده یعنی گریوان یے قُدَّ مِنْ قُبُلٍ که څیری کړه سوی
وو د مخ د طرف فَصَدَقَتْ نو رشتیا ویلے دی زلیخا وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ (۲۶)
نو دے د درواغ ویونکو څخه دے حُکه چه دے به وسر وراندی سوی وی
اودے به ترگریوان نیولی وی او بیرته پوښتی وهلی وی نوگریوان به یې
د مخ دخواخیرے سوی وی وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ اوکه قمیص دده وو قُدَّ
مِنْ دُبُرٍ چه څیرے کړه سوی وی دشاهدانو فَكَذَبَتْ نو درواغ ویلی دی
زلیخا وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (۲۷) او دے د رشتیا ویونکی څخه دی حُکه چه ده
به تیښته کړی وی او دے به ترگریوان راښیولی وی نوگریوان به یے دشاهدانو
خیری سوی وی فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ نو هرکله چه عزیز وه لیدی قمیص دده
قُدَّ مِنْ دُبُرٍ چه څیری وو دشاهدانو قَالَ نوده د دیره غضبه څخه وویل

عه یعنے شاته به یے پوری وهلی وی ۱۲

إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ ۖ بیشکه د اکارد مکره او دفریبه څخه ستاسو د ښځو دے
إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿۲۸﴾ بیشکه چه مکراوفریب ستاسو پرلوی دے نوسړے
څه رتیرباسی بیا عزیز ویوسف ته پرطریقه دعذر خواهی سړ وویل يُوسُفُ
أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اے یوسفه ته اعراض اوتغاړل وکړه دد ی خبری څخه او
بل چا ته یے مه وایه بیا یے وزلیخا ته وویل چه وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ ۖ او
اے زلیخا ته بخښنه وغواړه دخدای څخه دخپلی گناه چه خپل گنهگار ځان
دی پاك گڼی او پاك سړی دے گنهگار گڼی إِنَّكِ كُنْتِ بیشکه چه ته یے
مِنَ الْخَاطِئِينَ ﴿۲۹﴾ ع دخطا کارانو څخه روایت دے چه اگرکه «کهٔ شرهم»،
عزیز پریوسف باندی د پتولو د پرتاکید کړی وو مگر داسے خبری کله
پتی پاتے کیږی نو داخبره د مصر د ښځو په خولو کښی کښیوته او د زلیخا د
بدنامی اواز خپور سو لکه چه وایی وَقَالَ نِسْوَةٌ او وویل یو څو ښځو
با چا د خواصو خلگو چه یوه د حاجب «چرکیدار او پاڼیره دار» او بله د ساقی، بله د
اشپز، بله د میرا خور، بله د زندانی وه فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ په بنار
د مصر کښی چه ښځه د عزیز د مصر چه ده تُرَاوِدُ فَتَاهَا طلب کوی د خپله
مریی څخه عَنْ نَفْسِهِ ۚ د نفسه څخه دده چه خپل مراد ځنی غواړی قَدْ
شَغَفَهَا حُبًّا ۖ په تحقیق سړ د اخل سوی دی د زړه په پرده کښی د دے
محبت د یوسف ۖ إِنَّا لَنَرَاهَا بیشکه چه مونږ خامخا د ښځه وینو فِي ضَلَالٍ
مُبِينٍ ﴿۳۰﴾ په بنکاره گمراهی او خطا یی کښی څه چه خپل ځښتن «خاوند، میړه» لری
او په زړ رخږیدلی مریی پسی گرځی فَلَمَّا سَمِعَتْ نو هرکله چه زلیخا واوریدله
بِمَكْرِهِنَّ د اهکر یعنی پته خبره د دوی چه زلیخا پرخپل مریی عاشقه ده
او دے ځنی تښتی أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ نو یوځوك یے وهغوی ته د ور ولیږه
نو څلویښت ښځی راغلی پنځه پکښی هم هغه ښځی او پنځه دیوښ نوری وسړ

راغلے وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً اوتیار ے کړی دپارہ ددوی دعزت تکیه گاه
دقیمتی بالښتانو څخه چه تکیه پرو کړی وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ اوبیا دے
ورکړی وهری یوی ته ددے څلویښتو څخه سِكِّيْنًا قلم تراش دپارہ د
پریکولو ناڑیانو نواودغوښو اودووی ځکه چه هغوی دووی په لاسو
نه ماتوله نوبیا یے یوسف ته دننه قیمتی جامی ورواغوستلی وَقَالَتِ اخْرُجْ
اوورته وی ویل چه دباندی راوځه اوراښکاره سه عَلَيْهِنَّ ج پردوے
باندے نودی راووتے فَلَمَّا رَاَيْنَهٗ نوزهٗ کله چه دوی ولیدی یوسف اَكْبَرْنَهٗ
نوډیر عظیم الشان یے پیدا کړی هم په جمال اوهم په کمال کښی اود ډیره حیرته
څخه یے خپل لاسونه بیخے هیر سو وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ اوغوڅ «پری» یے کړه لاسونه
خپل په قلم تراش سره وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ اودوی ټولوویل دډیره تعجب څخه
چه پاکی ده خدای لره چه داسے شی یے پیدا کړی دی مَا هٰذَا بَشَرًا نه دی
دامړیې انسان اِنْ هٰذَآ نه دے دا شخص اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ مګر ملائکه ده
مقربه وخدای ته ځکه چه داجمال اوداکمال سره له داسے عصمت او شانه
څخه دبشر نه دے بیا چه زُلیخا دا ښځے ولیدی چه دډیره حیرته ځان او
جهان ځنی وړاندے سو قَالَتْ نودی ودغو ښځو ته وویل فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ نودا
هغه شخص دے لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ط چه ملامتیا به تاسے ویله پرما باندی په
محبت کښی دده نواوس پوه سواست په دے چه ما کښی هیڅ ملامتیا نوره
وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ اوخامخا په تحقیق سره مادده څخه طلب کړی دی عَنْ نَّفْسِهٖ
دنفس څخه دده چه زما مدعی وکړه فَاسْتَعْصَمَ ط نوځان یے وساتی اوزما
مطلب یے پوره نه کړی وَلَئِنْ لَّمْ يَفْعَلْ اوخامخا که دی ونه کړی مَآ اٰمُرُهٗ
هغه کار چه زه ورته وایم لَيُسْجَنَنَّ نوخامخا به په زندان کښی کړه سی وَلَيَكُوْنًا
مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ اوخامخا به دخوارانو اوذلیلانو څخه سی نوبیا چه

یوسف ددی دازجراو تهدید واوریدے قَالَ نوده دپیره اضطرابه شحنه
وویل رَبِّ السِّجْنُ چه اے زما ربه بندی خانه چه ده اَحَبُّ اِلَیَّ دپیره
خوښنه ده زما مِمَّا یَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَیْهِ ترهغه کار چه دا بنځی ما وهغه
کار ته بولی چه ددوی فرمانبرداری ده وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّیْ اوکه ته و نه
گرزوی پخپل فضل دما شحنه کَیْدَهُنَّ مکراوفریب ددوی نوزه عاجزه بنده
یم اَصْبُ اِلَیْهِنَّ نوزه به ودوی ته میل وکړم وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۳۳﴾ او
زه به سم په سبب ددے میل هیره دنادانانو شحنه فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ نوقبوله
کړه ده لره رب ده دا دعا فَصَرَفَ عَنْهُ كَیْدَهُنَّ ط نوچپ یے کړی دده شحنه
دامکراوفریب ددوی اِنَّهٗ بیشکه دی چه هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۴﴾ هم
دی اوریدونکی ددعا دسائلانو دی دانا دی په حال دهر چا ثُمَّ بَدَا
لَهُمْ بیا څه موده وروسته ودوی ته یوبل مصلحت بنکاره سو یعنی عزیز
اوعیال ده مِنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰیٰتِ وروسته ترهغه چه دوی دیوسف
دپاکی نبنی هم ولیدی لکه شاهد یے دهلك اوځیږیوالے دقمیص دشالخوا
اوپریکول دلاسو په قلم تراشوسره اوهغه مصلحت داوو لَیَسْجُنُنَّهٗ چه
دوی ښځا یوسف په زندان کښی واچوی حَتّٰى حِیْنٍ ﴿۳۵﴾ تریوموخته پورے
ددے دپاره چه په خلکو کښی یے نوم ولاسی چه زلیخا پاکه اوداوخائن
هم دے وواوده ے هم عبرت واخلی نویوسف یے په زندان کښی
واچولو وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ اوننوائته دده سره په زندان کښی فَتَیٰنِ ط
دوه مریان دباچا دربار یان یوساقی اوبل اشپز ددده په تهمت سره د
زهرواو په زندان کښی دوی ولیده چه بند یانو به یوسف ته خوښونه
ویل اوده به تعبیرونه ورکول نودوی دواړو هم دازما یښت لپاره د
ځانه خوښونه په درواغورته جوړکړه لکه چه وایی قَالَ اَحَدُهُمَآ

وویل یوه ددوی دوو تخمه چه ساقی وواتِیَ اَرٰنِیۡۤ بیشکه زه چه یم وینم
خپل ځان په خوب کښی اَعۡصِرُ خَمۡرًا چه راښنتیځم انګور د شرابو لپاره وَ
قَالَ الۡاٰخَرُ اووویل هغه بل چه اشپز وواتِیَ اَرٰنِیۡۤ بیشکه چه زه وینم
خپل ځان اَحۡمِلُ فَوۡقَ رَاۡسِیۡ چه زه وړم پر سر خپل خُبۡزًا ډوډی
تَاۡكُلُ الطَّيۡرُ مِنۡهُ ؕ چه خوری مرغان دهغه نَبِّئۡنَا بِتَاۡوِيۡلِهٖ ؕ
خبر کړه مونږ په تعبیر سره د هغو خوب اِنَّا نَرٰىكَ بیشکه چه مونږ تا وینو
مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۳۶﴾ د نیکو کارانو څخه چه ښه یا نو سره د یر احسان کوے
نو یوسف په تعبیر کښی جلتی (الهام) ونه کړه ځکه چه اشپز ته یکښی نقصان
وه اشما وعده یے ورته کښینبنوه لکه چه واپی قَالَ لَا يَاۡتِيۡكُمَا ووویل یوسف چه
لاښه به وی راغلے تاسے دواړو لره طَعَامٌ تُرۡزَقٰنِهٖۤ طعام چه روزی ورکول
کیږی په هغه تاسے ته اِلَّا نَبَّاۡتُكُمَا مگرچه زه به تاسی دواړه خبر کړم بِتَاۡوِيۡلِهٖ
په تعبیر سره د هغه خوب یا په احوال سره د هغه طعام چی تاسی ته به راځی چه
کوم قسم طعام به وی او رنګ او خوند، به یے څرنګه وی قَبۡلَ اَنۡ يَّاۡتِيَكُمَا ؕ مخکی
ترهغه چه تاسی دواړو ته راځی ذٰلِكُمَا د تعبیر یا د طعام نو د وی ورته
ووویل چه موږ دکهانا نو څخه هغه لاسی خبری اوړو بیا ده ورته ووویل
چه د اکهانت نه دے بلکه دا زما معجزه ده مِمَّا عَلَّمَنِيۡ رَبِّيۡ ؕ د هغه یا به
چه ما ته نه ما رب ښوونه کړیده اِنِّيۡ تَرَكۡتُ بیشکه چه ما پری ایښی دے
مِلَّةَ قَوۡمٍ دین د هغه خلکو لَّا يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ چه ایمان نه راوړی پر خدای
وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ اوحال دا چه دوی په قیامت پوری هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۷﴾
هم دوی ناباوره دی وَاتَّبَعۡتُ مِلَّةَ اٰبَآءِيۡۤ اوپیروی کړی ده ما د
دین د خپلو پلرو اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ ؕ د چه د اډری سره دی اودا
اظهار ریے ددی د پاره وکړے چه ددوی رغبت په سبب د هغو سره ددده

ودین ته پیدا سے مَا كَانَ لَنَآ موږ لره نه ده بائده اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ط داچه موږ شریك ونیسو خدائے سره ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ دا توحید د فضیلة څخه دخدائے دی عَلَيْنَا پرموږ باندی په وحی سره چه موږ ته یې کړی دی وَعَلَى النَّاسِ او پرخلکو باندی هم چه موږ یې داګاهی دپاره ورته لیږلے یو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دے لَا يَشْكُرُوْنَ (۳۸) شکر نه کاږی پرسرا تلود دے پیغمبرانو باندے يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اے دواړو ملګرو د بند ے خانی ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ ایا هر قسم خدایان ستاسے چه بعضی د تیږو او بعضی د لرګیو او بعضے د سپینو زرو څخه تاسے جوړ کړے دی خَيْرٌ دا غوره دی اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (۳۹) اوکه هغه خدائے غوره دے چه یوانږی دے شریك نه لرے په الوهیت کښی غالب دے په ټولو سره چه هیڅوك مقابله نه سے ورسره کولاے مَا تَعْبُدُوْنَ تاسے عباد نه کوی مِنْ دُوْنِهٖٓ غیر د خدا یې اِلَّآ اَسْمَآءً مګر د تشو نومونو حکه چه یې مسمیا تو کښے پې هیڅ نسته او بیا هم هغه مسمیات سَمَّيْتُمُوْهَآ په نامه کړید ے هم تاسے دخپله ځانه څخه بِهَا هیڅ برهانه اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ تاسے او پلرونه ستاسی مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ چه نه دے رالیږلے خدای د سره بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ د پر عبادت کولو د دوی هیڅ دلیل اِنِ الْحُكْمُ نه دی اختیار د هیڅ شی اِلَّا لِلّٰهِ د مګر خاص خدائے لره دی اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا فرمان پے کړی دے دے چه عباد ت مه کوی د بل هیڅا اِلَّآ اِيَّاهُ د مګر هم دده ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ دا هغه دین دے چه سم او حق دی او بنکاره دی وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دے لَا يَعْلَمُوْنَ (۴۰) نه پوهیږی دحق په لاړ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اے دواړو نو ملګرو د بند ے خانے

عه که بتان دی او که نور څه دی ۱۲ عه یعنے د څښتو لو د دوی په احکامو دین ۱۲ سه خاوندان دوی نوموړ ۱۲

اَمَّآ اَحَدُکُمَا هر چه یودتاسے دوا روچه هفه ساقی دے فَیَسْقِیْ رَبَّهٗ خمرًا
نوهفه به چښی پخپل باچا سره شراب یعنی بیرته به پرخپله مرتبه ودریږی
وَاَمَّا الْاٰخَرُ اوهر چه هفه پل دے چه اشپزدے فَیُصْلَبُ نوښه وړنده
یعنی په دار به سی فَتَاْکُلُ الطَّیْرُ نوخوری به مرغان غوښی مِنْ رَّاْسِهٖ
دده سره څخه بیا دوی ورته وویل چه موږ درواغ ویلی ووخوب مے
نه وه لیدلی نوده ورته وویل چه قُضِیَ الْاَمْرُ الَّذِیْ اوس مقرراوثابت
کړه سوهغه تعبیرد خوبوستاسے فِیْهِ تَسْتَفْتِیٰنِ (۴۱) چه په هغه کښی تاسے
فتوے اوتعبیرغوښتی دما څخه اوس چه هرڅه ماویلی دی هم هغه به وسے
وَقَالَ لِلَّذِیْ اویوسف اوهغه سړی ته وویل ظَنَّ اَنَّهٗ ناچ چه دی پوهیدے
چه دے خلاصیدونکے دی هم دزندانه څخه اوهم دقتل څخه مِنْهُمَا اذْکُرْنِیْ
ددوے دواړو څخه چه ساقی ووهغه ته لے وویل چه ما یادکړه په هغه وخت
کښی چه ته پرخپله مرتبه ودریږے عِنْدَ رَبِّكَ دخپل باد اسړ څخه یعنی زما
پاکی ورته ظاهره «بیکاره» کړه چه دبنده می وباسے بیا څوورځی ورروسته
باچا ته معلومه سوه چه خیانتګر یوازی اشپزوو نوردے ورځی ورروسته
بې دواړه طلب کړه اواشپز یے په دار کړے اوساقی یے بیا پرخپل منصب
ودراوی اوبیا چه هرکله ساقی په خپل معاش کښی کښیوتی فَاَنْسٰىهُ الشَّیْطٰنُ
نو شیطان څنی هیرکړے ذِکْرَ رَبِّهٖ یادول دیوسف وخپل بادارته فَلَبِثَ
فِی السِّجْنِ نوپاته سودی په هفه بندے خانه کښی بِضْعَ سِنِیْنَ (۴۲) اووه
کاله دجمهورو په نزد او بضع د درو او د نوو ترمابین عدد وته ویل کیږی
او حدیث شاهد دے چه رَحِمَ اللّٰهُ اَخِیْ یُوْسُفَ لَوْلَمْ یَقُلْ اذْکُرْنِیْ عِنْدَ
رَبِّكَ لَمَا لَبِثَ فِی السِّجْنِ بِضْعًا وَقَالَ الْمَلِكُ اوباچا ووویل وسروسته

ع ۵ ع ۱۵

عه څرباندی سی خدای زما پر ورور یوسف علیه الصلوٰة والسلام باندی کښه وه نه وای ویلے چه ما وخپل بادار ته وریادکړه نو په بندی خانه کښی به اووه کاله نه وو پاته سوی ۱۲

تر اوۀ کالوا اِنِّیۡۤ اَرٰی چه بیشکه ما ولید له په خوب کښی سَبۡعَ بَقَرٰتٍ
سِمَانٍ اوۀ غواوی چاغی چه دوچه سیندۀ شخه راوولی یَّاۡکُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٌ
چه وخوړے داځر بی ،، چاغی ،، اوۀ نور وخواړه وډانگړو ،، وَّسَبۡعَ سُنۡۢبُلٰتٍ خُضۡرٍ او
بیا اوۀ شنه وږی می ولیدۀ وَّاُخَرَ یٰبِسٰتٍ ما او نور اوه می ولیده وچ
چه داوچ وږی پرهغو شنو ولړ چاپیره سوه او هغه پے هم وچ کړه یٰۤاَیُّهَا الۡمَلَاُ
اے و لے د معتبرانو او کا هنا نو اَفۡتُوۡنِیۡ فتوی یعنے تعبیر راکړی تو له ومانه
فِیۡ رُءۡیَایَ په دے خوب کښی زما اِنۡ کُنۡتُمۡ که تاسے یاست لِلرُّءۡیَا یَا
تَعۡبُرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ . چه دخوب تعبیر کولای سی قَالُوۡۤا نو وویل دی معتبرانو
اَضۡغَاثُ اَحۡلَامٍ ۚ چه دا خوشی باطل خیالونه دی دخوبو وَمَا نَحۡنُ او
موږ نه یو بِتَاۡوِیۡلِ الۡاَحۡلَامِ په تعبیرو دخوشی باطلو خیالو بِعٰلِمِیۡنَ ﴿۴۴﴾ پوهیدو
بلکه موږ تعبیرد رشتینو خوبونو کو وَقَالَ الَّذِیۡ او وُیل هغه سړي نَجَا مِنۡهُمَا
چه خلاص سوی وو د مرګ شخه دهغو دواړو مړیا نو د بندی خانی چه
سانی رو وَادَّکَرَ بَعۡدَ اُمَّةٍ او یاد یے سو تعبیرد یل د یوسف ترډیرے
مودے وروسته نو هغه ووِیل اَنَا اُنَبِّئُکُمۡ بِتَاۡوِیۡلِهٖ چه زه تاسے ته خبر
کړم په تعبیرد دے خوب فَاَرۡسِلُوۡنِ ﴿۴۵﴾ نو تاسے ما و لیږی وبندیخانے
ته هلته یو د پرښه معتبرد ے نو دوی و لیږی بیا چه و رغلی نو ورته وے
و یل یُوۡسُفُ اے یوسفه اَیُّهَا الصِّدِّیۡقُ اے ډیره راست گویه اَفۡتِنَا
فتوا ے یعنی موږ ته تعبیر راکړه فِیۡ سَبۡعِ بَقَرٰتٍ په اوۀ غواو کښی سِمَانٍ
چه چاغے وی یَّاۡکُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٌ چه وخوړلی دا اوۀ چاغے اُوو،
نور وخوارو وَّسَبۡعِ سُنۡۢبُلٰتٍ خُضۡرٍ او بل په او وشنو وږو کښی وَّاُخَرَ
یٰبِسٰتٍ ۙ او اوۀ نور وچ وږی چه داوچ پرهغو شنو چاپیره سو او هغه
پے هم وچ کړه په دی تعبیر کښے هلته مخلوق حیران ګوته پے تعبیر

عه یعنے تعبیر خو نکی او خوبونو ته پوهیدونکی ۱۲

را ته وایه چه لَعَلِّيْٓ اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ بنایی چه نو ور سم بیرته هغه خلکو ته چه باچا او تابعان یې دی لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ بنایی چه دوی معلوم کړي دا تعبیر یا علم او شرف ستا قَالَ تَزْرَعُوْنَ وویل یوسف چه کری به تاسے یا امر دے په صورت داخبار ییني وکری تاسے هر قسم غله سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا اووه کاله په هم هغه پخوانی عادت خپل چه هغه اوڅه غواوی چاغی اشارت دی ودغه اووه اباد وکلو ته فَمَا حَصَدْتُّمْ نو هر هغه چه تاسے درو ے غلو څخه وریبل فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖٓ نو پریږدے تاسے هغه ریبل سټے غله پخلو و بروکښي ییني مه یې غوبل کوی اومه یې باد وے اِلَّا قَلِيْلًا مگر لږ په قد ر حاجت مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ د هغه غلے چه تاسی یې خورې نوهغه قدر ځنی پاک کړی ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ بیا به راسی وروسته تردی اووکلو سَبْعٌ شِدَادٌ نوږ اووه کلونه سخت چه اووه خواری ''ډنګری'' غواوی اشارت دی ودغو خوا بو کلونه يَّاْكُلْنَ چه وبه خوری اهل ددی اووو سختو کلو مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ هغه غلے چه پخوا ''مخکی'' تاسے ذخیره کړی دی دقحط کلو د پاره اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾ مگر لږ د هغه غلے چه تاسے یې تخم ته ساتی ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ بیا به راسے وروسته تردی قحطو کلو یو کال چه يُّغَاثُ النَّاسُ چه په هغه کال کښی به خلکو فریاد واوریدل سے یا به پردوی بارانونه وکړل سی وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ او په هغه ی کال کښی به ونښتیځنی دا خلق هغه شیان د ونښتیځلو لکه انګور اودا سے نور د یرشیا بیا سائی چه باچا ته راغلے او تعبیر یې ورته بیان کړی نو هغه یرې خوښ سواودده خبرې اقتضاء یې وسوه چه نوره یې پخپله ځنی واورهر نو راوی غوښتی لکه چه وایی وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ او باچا وویل چه ما ته یوسف فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ نو هر کله چه استاذی راولی

دباچا راغلے قَالَ ارْجِعْ نو یوسفؑ وفرمایه وویل چه بیرته ولاړسه اِلٰى رَبِّكَ
فَسْـَٔلْهُ وخپل بادارته نو ته سوال وکړه وباچا ته چه دَ ے دِی نړما دحال
تفحص وکړے چه مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِیْ څه حال وو د هغو ښځو قَطَّعْنَ اَیْدِیَهُنَّ
چه هغوے خپل لاسونه د زُلیخا په مجلس کښی پریکړی وو اوده دے نو مړی د
ډیره ادبه اوکړه وفرمایه وانه خستی اِنَّ رَبِّیْ بیشکه زما رب چه دی بِكَیْدِهِنَّ
عَلِیْمٌ ﴿۵۰﴾ د دوی په مکرسره دانادے نو بیا باچا داخولے ښځی راحاضری کړی د زلیخا
سره دپاره د تفحص قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ نو باچا ودوی ته وویل چه ستاسے څه حال
وو اِذْ رَاوَدْتُّنَّ یُوْسُفَ په هغه وخت کښی چه تاسے د یوسف څخه وغوښتی عَنْ
نَّفْسِهٖ د دده د نفس څخه یعنے تاسے چه خپل مراد څخه وغوښتی نو ده بیا څه د سره
وکړه قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ نو دوے ته ولو وویل چه پاکی ده خدای لره چه یوسفؑ بے
دا سے پاک پیدا کړے دی مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ موږ نه پرې پوهیدلی پرده مِنْ سُوْٓءٍ د څیز
قدر بدی نه دلږ سے اونه دویمے اونۍ لیخا هم په دی پوه سوه چه فائده د سرتړسرۍ
په راستے کښی ده نو دے هم اقرار وکړے لکه چه وایه قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ
الْـٰٔنَ وویل ښځے د عزیز یعنے زُلیخا چه اوس حَصْحَصَ الْحَقُّ ظاهر سو رشتیا
اَنَا رَاوَدْتُّهٗ چه هم دا ما طلب وکړی ده څخه عَنْ نَّفْسِهٖ د ده د نفس څخه یعنی ما
وصال غوښتی د ده څخه وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۵۱﴾ او بیشکه دے خامخا د رشتیا
ویونکو څخه وو په هغه قول کښے چه یے عزیز ته ویلے ووچه دا راپسی ده بیا باچا
پیغام ورولیږے چه ښځے پخپله گناه قائلی سوی نو اوس ولاسه چه په تعزیر یے کړو
ورته بیا یوسفؑ وفرمایه وویل چه دا تفحص می د تعزیر د پاره نه دی کړی بلکه ذٰلِكَ دا
تفحص چے می وکړے لِیَعْلَمَ اَنِّیْ دے د پاره چه عزیز په دے پوه سی چه بیشکه ما لَمْ
اَخُنْهُ بِالْغَیْبِ خیانت نه وکړے ما ده په پټه اوحرمت دعیال او د تربیت د ده ی سره
وَاَنَّ اللّٰهَ اوبیشکه چه خدای لَا یَهْدِیْ نه لاره برابروی كَیْدَ الْخَآئِنِیْنَ ﴿۵۲﴾ د خائنانو
مکر دخیانت گرانو

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِيْ ۚ اونه نه پاکوم خپل ځان یعنې دا سے نه وایم چه ما دخیانته دا خپل ځان پخپله سا تلے دے بلکه محض په عصمت الٰهي سره دی او دا سے هم نه وایم چه زما نفس د میله ځخه پاك دے ځکه چه اِنَّ النَّفْسَ بیشکه نفس چه دے لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوْٓءِ خامخا د برا امرکونکی دی په بدئ سره په هروخت کښے اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيْ ط لیکن په هغه وخت کښے نه دے چه مهربانی وکړی رب زما په خپل عصمت سره اِنَّ رَبِّيْ غَفُوْرٌ بیشکه چه زما رب بخښونکی دے د هغه ارادی چه وفعل ته نه وی تللی رَّحِيْمٌ ﴿۵۳﴾ مهربانه دے چه په عصمت سا تنه کوی او څوك دا سے وایی چه دادرے سره ایتونه حکایت دی د زلیخا د قوله او مستثنیٰ ځنے نفس د یوسف دی بیا ور وسته ترظهور د استقامت او دعفت د باچا عجب ورسره زیات سو نو بیا یے څوك ور پسے راولیږل لکه چه وایی وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖٓ او باچا وویل چه یوسف ما له راولی اَسْتَخْلِصْهُ چه خالص یے کړم لِنَفْسِيْ د خپل ځان د پاره روایت دے چه هرکله چه وباچا استاذ ے ور له راغلے سره د اویا حاجبانو او اویا مرکبو او انواع د لباسونو باچاهانو نوده ذ زندان ځخه راووتی او غسل یے وکړی او هغه جامے یې واغوستی او راروان سو نو باچا یې مخ ته راغلے او په ډیر عزت او حرمت یې خپل ځای ته راوستی فَلَمَّا كَلَّمَهٗ نو هرکله چه یے مجلس ور سره وکړی قَالَ نو باچا ورته وویل اِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا چه بیشکه چه ته نن ورځ زمونږ ځخه مَكِيْنٌ خاوند عزت او دلوی مرتبې یې اَمِيْنٌ ﴿۵۴﴾ امانتګر یے په هر باب کښے ځکه چه په هیڅ باب کښے خیانت نه دی د ځخه لیدلے سوی روایت دی چه هرکله یوسف ورته وویل چه اوس الله سے بائده وه چه په دے او وکلو کښے غلی جمع کړی بیا چه د قحطی کلونه راغلل نو د اطراف ځخه به خلك راځی او اوغلے به د ځخه رانیسی نو د آخزانی به جمع کړی چه بل هیڅوا نه وی جمع کړے نو باچا ورته وویل چه دا سرشته به څوك وکړی قَالَ اجْعَلْنِيْ نو یوسف

وویل چه ما مقرر کړه عَلٰی خَزَآئِنِ الْاَرْضِ ۵ پرخزانو د ځمکی اِنِّیْ حَفِیْظٌ بیشکه چه زه
ښه ساتونکی یم د مال عَلِیْمٌ ﴿۵۵﴾ ښه پوه یم په وجوه د تصرف تو نو ویې باچا تاج اوخپل
ځمها و خپله توره او د سر زه روتخت چه درست په ملغلرو او په یا قو توجه رسره
ورلره ورکړه اوخپل کار یې هم قوله پر وسپارلو وَكَذٰلِكَ اوپه مثل دے تمکین مَكَّنَّا
لِيُوْسُفَ عزت یا داستوګنی ځای موږ ورکړی دو و یوسف ته فِی الْاَرْضِ ۵ په ځمکه
کښے د مصر چه طول او عرض یې هر یو څلویښت فرسخه وو يَتَبَوَّاُ مِنْهَا چه ځای
داستوګنی به یې تیار اوی دی ځمکے څخه د مصر حَيْثُ يَشَآءُ ط په هر ځای کښی
چه اراده یې وسی اوهیڅوك یې مانع نه وو نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا موږ رسوو خپل
رحمت مَنْ نَّشَآءُ هر هغه چا ته چه زمونږ اراده وسی وَلَا نُضِيْعُ اومونږ نه
خرابوو اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ اجر نیکوکارانو وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اوخامخا اجر هغه
جهان چه دے خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د پرغوره دے هغوکسانو ته چه ایمان یې
راوړے دی یعنے مطلق مؤمنانو ته ترقیا مته پوری که یوسف وی اوکه بل څوك وی
وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ اوه دوی چه ځان به یې ساتے د شرکه اودنافرمانۍ څخه

روایت دے چه بیا یوسف خلك قوله دغلو په کړلو سره ما مورة کړه اوانبار
خانی یې د پرجوړی کړے او په دے اووکلو کښی چه هر څوڼه غلے به کیدلی هغه
به یې قولی په انبار خانو کښی ساتلی ایسا سره د وږو مګر په قدر د
خورلو اوضرورت به یې وخلګوته ورکولے بیا تر اووکلو وروسته قحطی راغله په
تمام جهان کښی په مصر او په شام او په نورو وطنو کښی اوخلك لوږی وارخطا
کړه ځمکه چه اووه کاله پرلپسې قحطی وه نو اول کال به یې په نقد وغله راپوله
اوه وم کال یې په کښو اوه ریم کال یې په مینځو او مریانو اوخلورم کال یې په
چارپایانو او پنځم کال په ځمکو اوشپږم کال یې په زامنو چلو او اووم کال یې
پخپلو سرو بیا یې قوله اذا ذکره اوهغه مالونه یې هم بیرته ورلره ورکړه بیا

چه دا قحطی کنعان ته ورغله او دیوسفؑ ورونه لوبے وار خطا کړه نو د پلار ه
څخه یې اجازه وغوښته چه عزیزه مصره یرسخی او غریب نوازه دی چه وکاږ
سو او غله څنی راو پرو نو اجازه یې ورکړه مګر بنیامین یې د خپل خدمت د
پاره څنی راوګرزاوی نو دوی لس اوښان د خپل خان او نور بنیامین د مبلغ
سره د کنعان سره واخسته او مصر ته راغله لکه چه وایی وَجَآءَ اِخْوَةُ یُوْسُفَ
اوراغله ورونه د یوسفؑ دکنعانشخه قَدَخَلُوْا عَلَیْهِ نو را ننوا ته پر یوسفؑ باندے
فَعَرَفَهُمْ نو ده دوی دوا یه ویژندل وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۸﴾ او دوی یوسفؑ لره
نا پیژند ونکی وه د حجاب په سبب یا د پیری مودے په سبب چه په دے مابین
کښی څلویښت کاله تیر سوی وه روایت دے چه هرکله دوے د یوسفؑ سره
په عبرانی شر به ن غیدل نو ده پوښتنه څنی وکړه چه تاسے څوک یاست او دغه
کار د پاره راغلے یاست نو دوے ووېل چه د شام یو او غلے ته راغلی یو بیا ؤ ورته
ووېل چه جاسوسان خو نه یاست؟ نو دوی ووېل معاذ الله چه مونږ د پیغمبر
زامن یو بیاد ه ورته ووېل چه د هغه څو زامن دے دوی ووېل چه دوولس
وه اَمَّا یُوْسُفُ څنی پخوا «ګمی» لیوه خو رلی دے او د هغه یوسکه وړوړوکه هغه پلار
د ځان سره د خپل خدمت د پاره ساتلے دی اوس مونږ لس تنه راغلے یو بیا د ه
ورته ووېل چه د اخبره کړه رشتیا وے نو که بیا راتلاست نو هغه هم درسره
راوړلے لکه چه وایی وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ اوهرکله چه یوسفؑ تیار کړی دوی لره
بِجَهَازِهِمْ اسباب د سفر د دوی اوهر یوه ته یے یو اوښ د غنمو بار ور
کړے نو دوے ووېل چه نو مونږ د هغه ورور بنیامین چه پاته سوی دے
اوښ بار نه سو تښل پاته سو قَالَ ائْتُوْنِیْ نو یوسفؑ ووېل چه مالره راولی بَاَخٍ
لَّكُمْ مِّنْ اَبِیْكُمْ د هغه یو ور ورستاسے چه د پلار د طرفه ستاسے ورور دے
یعنے علاتی دے نو اعیانی چه د هغه اوښ هم د ربارکړم چه نږه په شما د سره و

غله ورکوم نه په شمار د اوښانو لا ترون انې ایا تاسے نه وینې چه بیشکه زه اوفې الکیل پوره ورکوم پیمانه اوحق د هیچا نه ستنوم و انا خیر المنزلین (۵۹) اونه غوره د غذر ونکو میلمنویم یعنے میلمانه په د یرعزت اواکرام سره عذر وم فان لم تاتونی به نو که تاسے نه راوستی مالره دغه خپل علاقې وسره ورقلا کیل لکم عندی نو له سره نسته تاسے لره پیمانه د ما څخه ولا تقربون (۶۰) اومه را نژدې کیږی ما ته قالوا د وی وویل سنراود عنه ابا ه څرد ے چه ... مور به د ے په د یروزاری سره د ده د پلار څخه وغواړو وانا لفعلون (۶۱) اوبیشکه چه مور به خامخا د ے کار کونکی یو وقال اویوسف ووایل لفتیٰنه اجعلوا وهغه مریانو پیمانه گرو و خپلوته چه تاسے کښیږ د ے بضاعتهم هغه مبلغ د وی چه د غلے د پاره ے راوړی وو فی رحالهم په بار وکښې د وے پته لعلهم یعرفونها بنایې چه د وی د اخپل بضاعت وپژنے اذا انقلبوا په هغه وخت کښے چه بیرته ورسے الی اهلهم وخپل عیال ته لعلهم یرجعون (۶۲) بنایې چه د وی بیا راسے دهغه د وبا نتدارے د سپارلو د ے مبلغ اوبیا ورهم د خان سره راوله فلما رجعوا نو هرکله چه د وی بیرته راغله الی ابیهم وخپل پلار ته قالوا یا با نا نو د وی وویل چه اے زمور پلاره منع منا الکیل منعه کړه سوه د مور څخه پیمانه یعنے باچا راته ویلے دی چه که بل وار بنیامین نه وو د رسره راغلے نو پیمانه به درنه کړم فارسل معنا اخانا نو ته د مور سره ولیږه د ا وزمونږ مور نکتل چه پیمانه واخلو هم خپله هم د ده و انا له لحفظون (۶۳) اوبیشکه چه مور به د ده ساتونکی یو خامخا سا تونکی یه اوسود هر افته څخه قال نو یعقوب ووایل هل امنکم علیه چه ایا امینان به کړم تاسے په د ے بنیامین یعنی امینان به مونه کړم پر اخیه کما امنتکم مگر په هغه شان لکه چه امینان

کری می واست عَلٰٓ اَخِیۡهِ پرهغه بل ورور دده چه یوسفؑ وو مِنۡ قَبۡلُ ما تحکی تردے
نوره اوس ستاسے په حفظ هیڅ باور نه لرم فَاللّٰهُ خَیۡرٌ حٰفِظًا نو خدای ډیر
غوره دے په داسے حال کښے چه ساتونکے دی وَّهُوَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِیۡنَ ﴿۶۴﴾ او دے
ډیر مهربانه دے وَلَمَّا فَتَحُوۡا مَتَاعَهُمۡ اوهرکله چه دوے
خپل بارونه خلاص کړه وَجَدُوۡا بِضَاعَتَهُمۡ نو دوی پیدا کړی مبلغ خپل
رُدَّتۡ اِلَیۡهِمۡ چه بیرته راکړل سوی وو دوی ته قَالُوۡا یٰۤاَبَانَا نو دوے ووویل
چه اے زمونږ پلاره مَا نَبۡغِیۡ دده احسانه به نه ږیات موږ څه غواړو
چه هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا دغه دے هغه مبلغ چه موږ غله په راینولی وه رُدَّتۡ اِلَیۡنَا
چه بیرته زمونږ ته راکړل سوے دی نو میباید چه بیا ولاړسو د ی خوش
اخلاقه باچا ته وَنَمِیۡرُ اَهۡلَنَا اوغله به راوړو خپل عیال ته وَنَحۡفَظُ اوساتو
اونگهبانی به کړو اَخَانَا دخپل ورور وَنَزۡدَادُ کَیۡلَ بَعِیۡرٍ اوزیات به کړو بوبار دار
اوښ دښیامین په بیلو سره ذٰلِكَ دا بوبار دوه اوښ چه دے کَیۡلُ یَسِیۡرٌ ﴿۶۵﴾
کیل دے لږ اسانه چه باچا به نه په ستومانه کیږی قَالَ نَبِیُّ یعقوبؑ ووویل لَنۡ اُرۡسِلَهٗ
مَعَكُمۡ دسره به یے ونه لیږم مردتاسے سره حَتّٰی تُؤۡتُوۡنِ ترهغو پورے چه تاسے
ماته راکړے مَوۡثِقًا مِّنَ اللّٰهِ عهد دخدای پرده دے خبره چه لَتَاۡتُنَّنِیۡ بِهٖۤ خامخا
به دے بیرته وماته راولے اِلَّاۤ اَنۡ یُّحَاطَ بِكُمۡ مگرکه عذاب درباندے راچاپیره
سواو قوله هلاك سواست فَلَمَّاۤ اٰتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ نو هرکله چه دوی وخپل
پلار ته عهد اوپیمان خپل ورکړی په دے شان سره چه قوله وویل چه زمونږ
دے په رب د محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ قسم وی چه دښیامین په باب کښی به هیڅ ټکی نه کړو
قَالَ اللّٰهُ نو بیا یعقوبؑ ووویل چه خدای چه دے عَلٰی مَا نَقُوۡلُ وَكِیۡلٌ ﴿۶۶﴾ په هغه عهد
او پیمان چه موږ یے سره وایو نگهبان اوگواه دے وَقَالَ یٰبَنِیَّ اوبیا یعقوبؑ
ووویل دوه یره شفقته څخه چه اے زما زامنو لَا تَدۡخُلُوۡا څو چه مه ننوزی و

بنا رته د مصر مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ ویوے دروازی څخه چه نظر وانه خلے وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ اونورزی دوه دوه یا درے دے دروازو وَّتَفَرِّقَةٍ بیلو بیلو اود مصر څوارلس دروازے دے وَمَآ اُغْنِیْ عَنْکُمْ اونه نه سم دفع کولای د تاسے څخه مِّنَ اللّٰهِ د قضا څخه د خدا مِنْ شَیْءٍ هیڅ شی اِنِ الْحُکْمُ اَلَّا لِلّٰهِ نه دے اختیار مګر د خاص خدای لره دے هر چه اراده کړے وی هغه کوی عَلَیْهِ تَوَکَّلْتُ ما خاص هم پرده باندے ما توکل کړے دی وَعَلَیْهِ اوهم پرده باندے فَلْیَتَوَکَّلِ الْمُتَوَکِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾ هغه نو توکل دی وکړے توکل کونکی وَلَمَّا دَخَلُوْا او هر کله چه دوی ومصرته ننوا ته مِنْ حَیْثُ هغه طرفه څخه اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ چه دوے امر کړے وه پلار د دوے بیلو دروازو د ننوتلو مَا کَانَ نه وه دا فکر د یعقوب یُغْنِیْ عَنْهُمْ چه دفع کاوے یے دے دوی څخه مِّنَ اللّٰهِ د هغه قضا څخه د خدائے چه پرے دوے مقرر وه مِنْ شَیْءٍ هیڅ شی اِلَّا حَاجَةً لیکن دا یو حاجت وه فِیْ نَفْسِ یَعْقُوْبَ په زړه کښے د یعقوب علیه السلام چه هغه شفقت وو پر اولاد قَضٰهَا هغه یے پوره کړه ترسره کړے چه وصیت د افتراق وو وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ اوبیشکه چه دے خاخا خاوند د پوهی وو لِّمَا عَلَّمْنٰهُ په سبب د دے ورسره چه مونږ دے پوه کړے ځکه یے ویل چه نه هیڅ نه سم د فعه کولای وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دے لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ نه پوهیږی چه تقدیر پر تدبیر هر کله غالب دے روایت دے چه هر کله ورونه د بنیامین سره و مصرته راغله او د یوسف مجلس ته حاضر شوه او دے پر تخت ناست وو نو دوی ته یے وویل چه تاسی څوك یاست دوی وویل چه مونږ هغه کنعانیان یو چه تا مأمور کړے وو په راوستلو سره د خپل علاق وږو رهغه دادے مونږ د خانه سره راوستلی دے بیا دوے یے د خانه سره کښینول او شپږ

ع ۱۱ ۲

عه یعنے ورته ویلی یے وه چه دبیلی بیلی دروازے څخه جلا جلا ننوتلو پریږده دروازه مه ورځی ۱۲

ستر خوانونه د طعام ورلره راوړه او ورته وی ویل چه دوه دوه تنه کښینی نو
مونږ سره کښینا ستل او بنیامین یوازے پاته سو نوموے ژړل کله چه ما وروړ
یوسف ژوندے وای نو اوس به د ما سره ناست وو نو دے یوسف دځان
سره کښینا وی او ورته وے ویل چه پرده کښی چه دا دی نه ده خوښه
چه زه د یوسف پرځای ستا وروړسم نو بنیامین ورته ویل چه ستا په
شان وروړ به څوک پیدا کړے خوارمان چه د یعقوب علیہ السلام او د راحیل د
پشت څخه نه یے نو په دے خبره یوسف بے طاقته سو او حجاب یې د خپله
ځانه څخه لیرے کړے او ورته تر غاړه سو چه یوسف خو هم دا زه یم لکه چه وائے
وَلَمَّا دَخَلُوا عَلٰى يُوْسُفَ اوهر کله چه وروڼه راننوتله پر یوسف اٰوٰى اِلَيْهِ
اَخَاهُ نو راڼژدے کړے وخپل ځان ترخپل وروړ چه بنیامین وو قَالَ نو یوسف
ورته وویل اِنِّيْٓ بیشکه زه چیرم اَنَا اَخُوْكَ هم دا زه ستا وروړیم چه نوم
یے یوسف وو فَلَا تَبْتَئِسْ نو ته مه خفه کیږه بِمَا كَانُوْا په هغه کار وچه وودے
يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ چه کول یے پخوا دموږ سره مگر خبردار چه دوے په دی اګاه نه
کړے روایت دی چه بنیامین ورته وویل چه زه خوښیا د تاځخه بیلیږم
نو یوسف وویل چه پلار پخوا لا هم زما د جدته غمزده دے او په دے بے بے
لاغم زیات سے مګر په دے بهانه به دے ځنی راوګرزوم لکه چه وائی فَلَمَّا
جَهَّزَهُمْ نو هر کله چه یوسف دوی لره تیار کړے بِجَهَازِهِمْ اسباب د سفر د
جَعَلَ السِّقَايَةَ نوده کښینبوری خپل د اوبو چښلو جام چه د زر وی یا د زبر
جد وو سره د جواهرو بیا چه غله دیره عزیزه سوه نو هغه بے پیمانه کړه
فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ په بارکښے د خپل وروړ پته د هرچا بیا چه کاروان دبنارو
څخه ولاړے ته وائے نو ایها العِيْرُ وړ پسے وراغله ثُمَّ اَذَّنَ ګډوډ ژن نو بیا بنډ غ
وکړے جارچی چه اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اے کاروانیا نو وه رِيْدِي اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾

بیشکه تاسے خامخا غله یاست یعنی دجهته د پټولوستاسے یوسفؑ لره دخپله پلارهٔ څخه قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ نو وویل و روغو د یوسفؑ او حال دا چه دوے نے لرگرد، ولی وو وے ایلچیا نو ته تَمَارُوْا تَفْقِدُوْنَ ۷۱ چه هغه شے ورک تاسے لټوے قَالُوْا نَفْقِدُ نو ایلچیا نو وویل چه موږ لټوو صُوَاعَ الْمَلِكِ پیمانه دباچا وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ او مقرر دے هرهغه چاله چه دا پیمانه راوړے حِمْلُ بَعِيْرٍ بار دیو اوښ دغلے څخه وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ۷۲ اوزه دده اوښ بار دغلے ضامن یم چه ورکوم به یے و پید اکړنکی ته دوے پیمانے قَالُوْا تَاللّٰهِ نو وویل دے ورو غو د یوسفؑ چه قسم دے په خدا سے لَقَدْ عَلِمْتُمْ نو خامخا په تحقیق سره تاسے پوهیږ یے تُمَا جِئْنَا چه موږ نه یو راغلے دکنعانه څخه لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ د دے د پاره چه فساد وکړو په ځمکه کښے دمصر اوکه فساد وکړنکی وای نو د خپلو اوښانو نوخولے به مونه ترلے چه د چا مال ونه خوړی په لارکښے وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ۷۳ اوموږ غله نه یو اوکه واے نو دکنعانه به موږ یرته هغه مبلغ نه واے راوړے چه زموږ په بارکښے یرته کنعان ته تللے وه قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗ بیا ایلچیا نو وویل چه څه جزا به وے دهغه پیمانے که وخلا په تاسے کښی اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ۷۴ که تاسے دروا غجن سواست قَالُوْا جَزَآؤُهٗ نو ورو غو یے وویل چه جزا د دے غلا چه ده مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ هم هغه خولك دے چه پیدا سوے وی دپیمانه د هغه په بارکښی فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ط نو هم دے ددی غلا جزا دے یعنی جزا یے داده چه د هغه غلا په جرم کښی ځے هم دے د هغه مال د خاوند مریې کړه سے كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۷۵ هدا سے موږ جزا ورکوو غلو ظالمانو لره یعنی زموږ د پلار دین همدا سے دے چه غل د مال د مالك مریې کیږ ے نو بیرته یے نوله بوتله اوپه دربارکښه یے بارونه څخه واړول فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ نو شروع وکړه جارچی یا ده پخپله په خلاصولو

سرہ دبارو دوے قَبْلَ وِعَآءِ اَخِیْهِ مخکے تر بار دخپل وروردیارہ دنفی دتہمت
ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا بیا یے راوہ ایستہ داسقایہ مِنْ وِّعَآءِ اَخِیْهِ ط د
بارہ څخہ دخپل وروروکَذٰلِكَ كِدْنَا لِیُوْسُفَ ط همدا سے حکمت بنوولے وہ موږ و
یوسفؑ تہ مَا كَانَ نہ وودے پخپلہ لِیَاْخُذَ اَخَاهُ پہ دے شان سرہ چہ و نیسی خپل
وروروتہ موږ بے بنوولے فِیْ دِیْنِ الْمَلِكِ دباچا پہ دین کښی څکہ چہ دین د
باچا وهل او پہ عذابول او دوہ چند مال څخہ اخیستل وہ دغلہ څخہ نہ مریی
کول نو دہ پہ حکم دد ے دین سرہ نہ سوځے ـ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ
لیکن د خدائے ارادہ وسوہ د اگر نہ ولو یے نو څکہ یے داسے حکمت وروبنودے
نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ موږ پورتہ کوو درجہ ـ د مراتبو پہ علم او پہ حکمت کښی مَّنْ نَّشَآءُ ط
هرهغہ څوک چہ نہ موږ ارادہ وسے وَفَوْقَ كُلِّ ذِیْ عِلْمٍ عَلِیْمٌ ﴿۷۶﴾ اوسر پیرہ
پوهہ لوړ پوہ باندے بل پوہ پہ بندگانو کښے پہ مرتبہ کښی دے یادقولو عالمانو
پورتہ یو علیم دے چہ دا قول تر لاندے دی چہ پروردگار دے قَالُوْٓا اِنْ یَّسْرِقْ
نو ورور د موږ یے وویل چہ کہ بنیا مین غلا وکړہ نو پہ دے کښی هیڅ تعجب نسته
څکہ دد وے پہ کهول اوکور کښے غلا راروانہ دہ څکہ چہ فَقَدْ سَرَقَ نو پہ تحقیق
سرہ چہ همدا سے غلا کړے وہ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ط یو اعیانی وروردہ تحکی نزدے
یعنی یوسفؑ اوهغہ داسے ووچہ دے بُت خانے تہ راغلے وو او دکفارو یو کرچنے
بُت وو د سوُنہ روو هغہ یے پہ خاورو کښی څنے بنخ کړی وہ یا چہ مور
یے وفات سوہ نو دے بہ خپلے نزور سایتے نو یوہ ورځ یوہ سائل سوال وکړے
او دا یہ کور کښے نہ وہ او دہ پوخپل سر دد ے چرتہ وهغہ سائل تہ ورکړی

عہ حاصل دا چہ خدای دا ئی کہ موږ یوسفؑ بنوونہ نہ وایے کړی دوی چہ تہ دوی څخہ پوښتنہ
وکړہ چہ دوی پہ دین کښی د غلہ جزا څہ شی وہ او بیا یے دوی بیان ورتہ وکړی نو کہ چیرے دا بنوونہ نہ خدائے
نہ وای ورتہ کړی نو دا بنیا مین بہ یے نہ وو را گرزولی څکہ چہ دوی پہ دین کښی د غلہ جزا را گرزول نہ وہ بلکہ وہل ۱۲

یاد دے یو کمربند وہ چہ دخپلہ پلار ځخہ ورپاتہ سوی وو بیاچہ یعقوبؑ دے دخپل کور تہ بیوسے نو دا پہ دے ډیرہ خفہ کیدلہ نو دبیولو پہ وخت کښی دے کمربند پټ پو ملا ورونو ترے بیایے اوازہ چکہ وکړہ چہ زما کمربند نشتہ نو بیا چہ یے یوسفؑ تلاشے کړے نو دده پہ ملا پورے ترلی وہ نو پہ دے حکمت سرہ یے د پلار ځخہ بیرتہ دخپل کور تہ بوتلے فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ نو دا خبرہ دده دے یوسفؑ پتہ پخپل زړہ اوسینہ کښے وساتلہ وَلَمْ يُبْدِ هَا لَهُمْ ۚ اوودوے تہ یې نہ کړہ بنکارہ قَالَ اَنْتُمْ اودہ پتہ پخپل زړہ کښی وویل چہ تاسی شَرٌّ مَّكَانًا ۚ ډیر بد یاست دجمعے ځخہ دمرتبے چہ ورور مودہ پلار ځخہ پټہ کړیدے وَاللّٰهُ اَعْلَمُ اوخدای ښہ پوهیږے بِمَا تَصِفُوْنَ ﴿۷۷﴾ پہ هغہ درواغو یاخبرو چہ تاسے یې وایاست روایت دی چہ هرکلہ یوسفؑ دخپلو سرپو پہ لاس کښی بنیامین ورکړے نو ورونو پے اول ډیرکوشش وکړے دده پہ خلاصے کښی مگرقبول نہ سوہ بیاروئیل پہ غضب سو اوویې ویل چہ یاسے داور ورراپریږدہ اویا بہ یوہ چیغہ وکاږم چہ دمصر حاطے ښځے بہ تولہ پکی واچوی نو یوسفؑ خپل زړوی تہ وویل چہ ورسہ دخپل اکاوشاتہ دے ودریږہ اوهرکلہ چہ پہ غضب سو نو پرشاپے پتہ لاس راکش "راتیر" کړہ چہ غضب پے پورتہ کیدلای نہ سی بیاچہ روئیل پرجوش راغلے اودہ لاسونہ راکش کړی نو ددے ځخہ هم عاجزہ سو بیامتولہ ورتہ پہ زارے سوہ لکہ چہ قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ بیا دیوسف علیہ السلام ورونو ویل چہ اے عزیزہ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا بیشکہ چہ دده یوپلار دے شَيْخًا كَبِيْرًا زوړ اومعتبر "دوږمر" اوهغہ دده سرہ الفت ښولی دے دیوسفؑ ترهلاك ورسوستہ نَخُذْ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ نو یوړدمونږ ځخہ دده پرځای ونیسہ اودے پریږدہ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ بیشکہ چہ مونږ تادینوډنکو

کا را نو څخه قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ نو یوسف ؑ وویل چه نړه پناه غواړم په خدای سره په
غوښتلو سره اَنْ نَّاْخُذَ دده څخه چه موږ ونیسو بے گناه اِلَّا مَنْ
وَّجَدْنَا مگروهم هغه څوك به نیسو چه موږ پیدا کړے دی مَتَاعَنَا
عِنْدَهٗ لا مال خپل د هغه سره اوکه دهغه پرځای بل څوك ونیسو اِنَّآ اِذًا ۹
لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ نو بیشکه چه موږ به دغه وخت کښې خامخا د ظالمانو څخه ع ۱۱
سو ستاسے په مذهب سره حُکمه چه دے خو موږ ستاسے په حکم نیولی ۳
دے فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ نو هر کله چه دوے نا اُمیده سوه د یوسف څخه چه
هیڅ شان سره وړور نه را سره پریږدے خَلَصُوْا نَجِيًّا نو دمصر یانو
څخه سره راګوښه سوه په داسے حال کښے چه پخپل منځ کښے سره مصلحت او
مشوره کونکے وه قَالَ كَبِيْرُهُمْ نو د دوی هغه مشر دویل په عمر کښې چه روئیل
وه یا په عقل کښے چه یهودا وه اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ ایا تاسے په دې نه
پوهیږے چه بیشکه چه پلار ستاسے قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ په تحقیق سره اخیستی پې ده
پوتاسے یعنے دتاسے څخه مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ هغه سخته وعده د تولو عهدو څخه د خدای د
بنیامین په حفظ «ساتلو» سره اوس داسے حادثه پیښه سوه وَمِنْ قَبْلُ او مخکې تردے
مَا فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ؕ تاسے تقصیر کړی وه د یوسف ؑ په باب کښې د الفظ د ما
زائده دے فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ نو زه به ګرسره دده مخکې څخه جلا نه سم یعنے
هیڅکله به هم دلته اوسم حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْ ترهغو پورې چه پلار اذن اواجازه
را ته کوے چه دې می وخپل ځان ته ورغواړی اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ «یا خدای پرما د
خروج «وتلو» یا موت «مرګ» یا دده دوی سره د قتال «جنګ» حکم وکړی وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۰﴾
اوده بهتره د تولو حکم کونکو دے اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ تاسے بیرته ګرځی او ولاړ
سے وخپل پلار ته فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ نو ورته ووایاست چه اے زموږ پلاره اِنَّ
ابْنَكَ سَرَقَ ۚ چه بیشکه چه ستا زوے غلا وکړه وَمَا شَهِدْنَآ

او نه ده لودے مور شاهدے اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا مگر په هغه کارچه معلوم سوی دے و مور ته چه پیمانه دباچا نر مور په مخکښی دده دباره شخه راوو ته وَمَا كُنَّا او نه وو مور لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۱﴾ د پټ کار نگهبانان چه دا پیمانه دده پټه کړی وه اوکه بل چا دده په بارکښی ایښی وه وَسْـَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ او ترپڅله و پوښته خلاڼ د هغه کلی كُنَّا فِيْهَا چه مور وو په هغه کښی یعنی مصریان وَالْعِيْرَ الَّتِيْ او هغه کاروان هم و پوښته اَقْبَلْنَا فِيْهَا ط چه مور په هغه کاروان کښے نخ راکړے وو و وخپل کور اوکاله ته چه دمصر شخه کنعان ته راتلو وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ او بیشکه چه مور خامخا په دے کښی رښتینی یواو یوا دوی په حکم د سرویل یا دیهودا سره کنعان ته راغله او داحال یې وپلار ته وویلو قَالَ نوده وویل چه داسے نه ده لکه چه تاسے وایاست بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ بلکه بیا بنا یسته کړی دی وتاسے ته اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ځانونو ستاسے کوم کاراوکه داسی نه وی نو باچا په دے شخ خبر ووچه په غلا سره هم هغه مریبی کیږی فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ط نوما ته هغه صبر په کار دے چه هیڅ تا به شخه نه وایي عَسَى اللّٰهُ اُمید دے چه خدای اَنْ يَّاْتِيَنِيْ چه مالره به راولی بِهِمْ جَمِيْعًا ط دوی تولهٔ یعنی یوسف او بنیامین او هغه سره وریے چه په مصر کښی وسره پاته سوی دی اِنَّهٗ بیشکه خدای چه دی هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۸۳﴾ هدے دانادی په حال سره زما پرحکمته دی چه هیڅ کار یې دحکمته شخه خالی نه دے وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ اوهغے یې وگرزاوی دده نه زما منو شخه وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى اوویل به یې چه اے زما افسوسه عَلٰى يُوْسُفَ اوغمه یوسف پرفراق دیوسف وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ اوتکی سپینی سوے دواړه سترگی د ده مِنَ الْحُزْنِ دغمه شخه فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾ نوده د لږ وو قهره شخه

عہ پیغمبر علیہ السلام وجد پیدا سی معجزه یوسته وکړه په یعقوب علیہ السلام شومره غمجن دو او شومره اجر درکول کیږی نوده وویل چه داویا شخومره قدر غمجن وواو دسلو شمیرا نو قدر اجر ورکړه سوه ۱۲

په واقعه کښی د جهته د اولاده او په ظاهر کښی د خپل قهر زغمونکی وو او
سترګی یې ځکه سپینی اوبلے نوره سوی وی چه په ما بین کښی د فراق اود
وصال دده د یوسفؑ سره اتیا کاله تیر سوی وه بیا چه دوی د خپل پلار
اضطراب ولیدی قَالُوْا تَاللّٰهِ نو دوی ووایل چه قسم په خدای دی تَفْتَؤُا
تَذْكُرُ يُوْسُفَ همیشه به اوسی ته چه یا دوی به یوسفؑ په یاد او فریاد
سره حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا ترهغو پورې چه ته قریب الموت (مرګ ته نژدی) سی دیره
غمه اَوْ تَكُوْنَ یا ته سی مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ هلاکیدونکو څخه قَالَ نو یعقوبؑ
ووایل اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ بیشکه چه همدا خبره ده چه شکایت اوشرا کوم
زه د خپل غم وَ حُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ او د خفګان خپل یوازی وخدای ته نه
تاسی او بل چا ته وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ او زه پوهیږم د رحمته څخه د خدای مَا لَا
تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ پرهغو کار وچه تاسے نه پوهیږی لکه خیاتت د یوسفؑ او
دا ځکه چه دده ملك الموت په خوب کښی پوښتلی وه د حاله د یوسفؑ همغه
ورته ویلی وه چه څوندی دی یا یے ددی څخه معلومه کړی وه چه د روژو
لا سجده نه ده ورته کړی نو مرنه دے او د اجدایئ د یوسفؑ د خپله پلار څخه
اتیا کاله دے وجهی وه چه یعقوب علیه السلام یوه میاشته را نیولی وه د دولده
سره بیا یے هغه ولد څنی خوځ کړی او دے د پیرو رپسی ژړا ل تر څو چه د واړه
سترګی یې ړندی سوے کذا فی المدارک یٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا اے زما زامنو لاړ سے
فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ نو پوښتنه کوی د حاله څخه د یوسفؑ وَاَخِيْهِ او د حاله
څخه د ورور ورده وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ او مه نا امیدۍ کیږے د
رحمته څخه د خدای اِنَّهٗ بیشکه شان دادی لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ چه
نه نا امیده کیږی د رحمته څخه د خدای اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾ مګر ټولی
د کافرانو نو بیا دریم وار د خپل پلار څخه رخصت شول او مصر ته راغله

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ نو هرکله چه راننوا ته و رونه یې پر یوسف باندی قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ نو دوی و ویل چه اے عزیزه مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ رسیدلے دے مور ته او عیال زمور ته سختی او لوږه وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ او راغلی یو مور په یوځونا کار وپیسو چه هیڅوک یې نه قبلوی فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ نو پوره راکړه مور ته پیمانه وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا او خیرات وکړه پر مور دے پیسو په قبلولو سره إِنَّ اللَّهَ بیشکه چه خدای يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ (۸۸) جزاورکوے خیرات ورکونکو ته بیا هر کله چه یوسف دوی دا د یری زاری او عاجزی وه لیده نو رحم پرغالبه سوا وطاقت د پټولو یې پاته نه سونو قَالَ وے ویل وو رو مونو ته چه هَلْ عَلِمْتُم ایا تاسے پوهیږے مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ په قباحت دهغه کار سره چه تاسے د یوسف سره کړے وو وَأَخِيهِ او ده دوه ورور سره چه خوارخسته اوترتلی به موسا إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ (۸۹) په هغه وخت کښے چه تاسے ناپوهه واست یعنے بے التفاته د قباحته دوی فعل یا د عقوب شخه د پلارخپل اوا یے پرطریقه د نصیحت ورته وویل نه پر طریقه د شرهولو اوراکشولو اوده دے ویلو سره یې پرده د مخ شخه لیږی کړه اودوی و پژندلو قَالُوا أَإِنَّكَ دوی وویل ایا بیشکه ته چه یې لَأَنتَ يُوسُفُ خامخا هم ته یوسف یې اودا استفهام د تقریر دی یعنے هم ته یې یقیناً قَالَ أَنَا يُوسُفُ نوده وویل چه رشتیا هم دا زه یوسف یم وَهَٰذَا أَخِي اودا می ورور دے بنیامین قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا په تحقیق سره منت او احسان باركړيدی پرمور باندے خدای چه ترانیا کالوږه وستنه یې سره یوځای کړو إِنَّهُ بیشکه شان داد ے مَن يَتَّقِ هرڅوک چه د خدای شخه بیره کوی وَيَصْبِرْ او صبر وکړی د معاصیو شخه یا پرطاعاتو باندے فَإِنَّ اللَّهَ نوبیشکه چه خدای لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (۹۰) نه ځرابوی اجر د نیکوکارانو

بیاچه ورونویے یوسفؑ وپیژند لو نوهیبت او ښکالت پرغالبه سوقالُوا
تَاللّٰهِ نو دوی وویل چه قسم په خدای دے چه لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا خامخا
په تحقیق سره ته خدای غوره کړی یے پرمونږ باندے وَاِنْ كُنَّا اوبیشکه
چه مونږ وو لَخٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۱﴾ خامخا ګنهګاران په هغه کارکښی چه مونږ کړے
وو قَالَ نو یوسفؑ وویل ودوی ته چه لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ط نسته هیڅ
مشقت اوسرزنش پرتاسے باندی نن ورځ نه ماد جانبه څخه يَغْفِرُ اللّٰهُ
لَكُمْ ربښنه دے وکړے خدای تاسے ته چه پرخپله ګناه قائله سواست وَ
هُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾ اودے ډیرمهربانه دے ترټولو مهربانانو نوبیا
ئے د پلار حال ددوی څخه وپوښتی چه څرنګه دے دوی وویل چه دډیری
ژړا څخه یے ستړګی نابینا، (رښتیا) سوی دی نوده ورته وویل چه اِذْهَبُوْا
بِقَمِيْصِيْ هٰذَا ایوسی داقمیص زما چه جبرائیل دجنت څخه راوړی وو و
ابراهیمؑ ته فَاَلْقُوْهُ نوداقمیص واچوی عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ نه ماد پلار پرمخ
يَاْتِ بَصِيْرًا چه بیرته بینائے وَاْتُوْنِيْ اوراسے تاسی مالوړه ټول یعنی
تاسی سره د پلاره بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۳﴾ دټول عیال سره ځکه چه ډیره ۱۰ ع ۱۴ ۴
موده غمونه اومشقتونه دربانډی تیر سوی دے نوراسی چه اوس معاش
وګوری وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ اوهرکله چه بیا د مصر څخه راووتی اوراجلا سو
کاروان اوباد صبا د پروردګار څخه اذن وغوښته د زیری ورسولو و
کنعان ته او اذن ورته وسو نو د قمیص بوی ئے راوخستی او ترڅو یعقوبؑ
پوری اَتٰى فرسخه لاړه نو دا بوی ئے هلته وروړی او د یعقوبؑ په
پزه ئے ورو لګاوی لګه چه وایی قَالَ اَبُوْهُمْ نو ووئیل پلار ده دوی وهغه
چا ته چه هلته هغه وخت حاضر وه اِنِّيْ لَاَجِدُ بیشکه چه زه خامخا پیدا
کوم رِيْحَ يُوْسُفَ بوی د یوسفؑ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾ که نسبت دکم عقل

تاسے وما تہ نہ کوے او دا سے نہ راتہ ویاست چہ اوس زور رسوئ نو پرتہ
د غیبو ی قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ نو هغو حاضرو وویل چہ بیشکہ تہ هم هغسی لا
پروت یے لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِیْمِ ﴿۹۵﴾ خاخکا پہ هم هغہ پخوانی زړہ سرګردانی
کښی او د ډیرہ محبتہ تخمہ یے هروخت یا دوی اولا پہ طبع د ملاقات
هم یے فَلَمَّاۤ اَنْ جَآءَ الْبَشِیْرُ نو هرکلہ چہ زیری کونکی را غلی قمیص پکلاس
کښی چہ پهودا وو اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ نو دا قمیص یے و غورځاوی پرمخ د
یعقوبؑ فَارْتَدَّ بَصِیْرًا لہ نو بیرتہ بینا سو نو قَالَ نو ده وویل هغو خلکو تہ
چہ ملا متیا یے پرویلے وہ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ چہ ایا ما نہ وہ ویلی وتاسی تہ
اِنِّیْۤ اَعْلَمُ چہ بیشکہ زہ پوهیږم مِنَ اللّٰهِ د بسوونی تخمہ د خدای مَا لَا
تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ هغہ چہ تاسے نہ پوهیږے نو بیا یے و زړہ پہ اتفاق سره
راغله پہ ډیرہ عاجزی او زاری سره قَالُوْا نو دوی وویل یٰۤاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا
چہ اے زمونږ پلارہ بخښنہ وغواړہ د خدای تخمہ مونږ لره ذُنُوْبَنَا د ګناهو
زمونږ اِنَّا كُنَّا بیشکہ چہ مونږ یو خٰطِـِٕیْنَ ﴿۹۷﴾ ګنهګاران ستا او د یوسفؑ
پہ حق کښی اوس مونږ توبہ وکښلہ قَالَ نو یعقوبؑ ووی تہ وویل سَوْفَ
اَسْتَغْفِرُ شرد ے چہ زہ بہ بخښنہ وغواړم لَكُمْ رَبِّیْ ؕ وتاسی تہ د خپلہ ربہ
تخمہ ور وسته تردے د جمعی پہ سهار کښے یا ور وسته تر عفوے د یوسفؑ یا
ور وسته تر ور تلو و مصرتہ چہ قوله پہ جمع سره وخدای تہ سوال وکړو
اِنَّهٗ بیشکہ دے چہ دی هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۹۸﴾ هم دی بخښونکی دے
د تائبانو نو مهربانہ دے پردوی روایت دی چہ هرکلہ یعقوبؑ مصرتہ
را نژدے سو نو یوسفؑ او ریتیان باچا د قوله لښکره سره او اهل د مصر هم
قوله وخې تہ و زلره راغله او یعقوبؑ پہ لوړہ ور تہ ناست وو د دے
مخلوق تماشا یے کوله ناګاه جبرائیل ور تہ راغلے چہ پور تہ وګوره چہ د مخکے

څخه تر اسمانه پوری تولہ ملائکی دی چه خوشحالی اوستاسے د ملاقات تماشے ته راغلی دی بیا چه نظر پے پر پلار ولګیدی نو د اس څخه راکښته سو اول پے د پلار تعظیم اونکریم وکړے او بیا هغه دواؤ یا تنه چه د پلار د خیلخانے څخه پے وه او د کنعانه څخه دده سره راغلے وه دهغو تولو سره پے طریقه د عزت اود حرمت اداکړه او بیاد ے راغلے چه د مصر په څنګ کښی دده یوه بنګله وه نو مخکی دے راغلے اوهلته کښته سو بیا دوی هم ورغله لکه چه وایی فَلَمَّا دَخَلُوا عَلٰی یُوْسُفَ نو هرکله چه دوی راننوتله پر یوسف په هغه بنګله کښی اٰوٰی اِلَیْهِ نو را نژدی پے کړله وخپل ځان ته او هرکله پے وکړی اَبَوَیْهِ دمور او د پلار خپل سره او اګر که دایے مور نه وه بلکه تروره پے وه مګر عرب تروره ته هم مور وایی لکه چه پلار وایی و تره ته وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ او یوسف ورته وویل چه راننوزی د مصر و بنارته اِنْ شَآءَ اللّٰهُ که د خدای اراده وی اٰمِنِیْنَ (۹۹) په داسے حال کښی چه په امن اوسی د تحطی بلکه د هری سختی اومشقته څخه وَرَفَعَ اَبَوَیْهِ اوپورته پے د خپلو پلار او تروره خپل دواړه د تعظیم عَلَی الْعَرْشِ پر تخت خپل وَخَرُّوْا لَهٗ او پریوتل دا دیا رکس سره ودده ته چه پلار او تروره او یو رکس ورونه پے وه سُجَّدًا په داسے حال کښی چه سجده کونکی وه ودده ته او سجده د تحیه او د اکرام په هغه وخت کښی داسے وه لکه اوس قیامه او مصافحه اُوْدَلَا سو مچول نن ورځ یعنی حرام نه وه یا و خدای ته پر سجده پریوتله دپاره د اداء کولو شکر د ده د ملاقات وَقَالَ یٰۤاَبَتِ اویوسف ووویل چه اے زما پلاره هٰذَا تَاْوِیْلُ رُءْیَایَ دا تعبیره د هغه خوب زما چه لیدلی می وو مِنْ قَبْلُ زیخوا په هلکتوب کښی قَدْ جَعَلَهَا په تحقیق سره وګرزاوی د اخوب رَبِّیْ

حَقًّا د رب زما رشتینی وَقَدْ اَحْسَنَ بِیْٓ او په تحقیق سره ویره ښکی کړی
وه دما سره رب زما اِذْ اَخْرَجَنِیْ مِنَ السِّجْنِ داچه را ایستلی یمه زه
وه د بندی خانی څخه او بیا یمه پر تخت کښینولم او کوهی «څا» یمه یا د نه کړی
چه ورونه بیمه په ځمل سی وَجَآءَ بِکُمْ مِّنَ الْبَدْوِ او تاسی یمه را وستاست
د کوهستانه څخه وهواری ته او بیا یمه مونږه سره یوځای کړو مِنْۢ بَعْدِ اَنْ
وروسته ترهغه چه نَّزَغَ الشَّیْطٰنُ غوته کړه شیطان او مخالفت یمه واچاوی
بَیْنِیْ وَبَیْنَ اِخْوَتِیْ د په ما مابین کښی زما او د وروڼو زما اِنَّ رَبِّیْ بیشکه
رب زما چه دے لَطِیْفٌ لِّمَا یَشَآءُ د مهربانی کونکی دی پر هرهغه چاچه
اراده یې وسی اِنَّهٗ بیشکه دے چه دے هُوَ الْعَلِیْمُ الْحَکِیْمُ ﴿۱۰۰﴾ هم دے دانا
دے په تدبیر دهرکار سره پرحکمته دی په تعیین د مواضعو کښی رَوَایت
دی چه هرکله ترڅو ملاقات ورسته دهغې خلیرویشت کاله تیرسوه نو
یعقوب وفات سو او دده تر وفات وروسته چه درویشت کاله نور تیرسول
نو یوسف پلار سره په خوب ولیدے چه ورته وایی چه اے یوسفه ویدین ته
دی د پیرمشتاق یمر لرځه راسه نو بیاچه راوینس سوخپل ورونه یمه یے
راوبلل او وصیت یے ورته وکړی او یهودا یے ولی عهد کړی او پرخپل ځای
یې کښیناوی او خپل ذامن یے پروسپارل نو بیا یے دخپل رب سره
مناجات وکړے چه رَبِّ اے زما ربه قَدْ اٰتَیْتَنِیْ په تحقیق سره چه را
کړی دی د ی مالره مِنَ الْمُلْكِ د باچاهی او د تصرف څخه وَعَلَّمْتَنِیْ او
را ښوولی دے دی وما ته مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ بعض د تعبیر څخه دخوبو
یا د بیانه څخه دکتابو فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ټه اے پیدا کونکی د اسمانو
او د ځمکی بے نمونے اَنْتَ وَلِیّٖ هم ته یے دوست زما او واکداره دکاری
یے فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ د هم په دنیا او هم په اخرت کښی تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا

ما وفات کړه په داسی حال کښی چه وتاته غاړه اینبو ونکی اوسم وَّ اَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ (۱۰۱) او ته ما ورسوی او پیوست می کړی په ټولو د صالحانو پوری یا پخپلو پلرو پوری چه صالحان دی ذٰلِكَ داقصه دیوسفؑ چه ده مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ د اخبارو ځخه د غیب ده چه د اعجاز د پاره ده نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ۚ رالیږو یې موږ وتاته اے رسوله وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ او ته نه وی دزامنو سره دیعقوبؑ اِذْ اَجْمَعُوْۤا اَمْرَهُمْ په هغه وخت کښی چه دوی راټول کړی فکر خپل په غورځولو دیوسفؑ په کوهی کښی وَهُمْ یَمْكُرُوْنَ (۱۰۲) او حال دا چه دوی مکر اوفریب کاوی دیوسفؑ سره یعنی دا اخبارد ے محض دغیبه ځخه چه وتاته حاصل سوی دی خاص پرطریقه دوحی سره ځکه چه نه ته هلته حاضروی چه دیعقوبؑ زامنو خپل وروړ په کوهی کښی غورځولو او نه بل چا داقصه درته کړیده وَمَاۤ اَكْثَرُ النَّاسِ اونه دی زیات خلك یا اهل دمکی وَلَوْ حَرَصْتَ که څه هم ته حرص وکړی پرایمان راوړلو دوی بِمُؤْمِنِیْنَ (۱۰۳) ایمان راوړونکی دجهته دعناده وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَیْهِ او ته نه غواړی ددوی ځخه په دے پیغام رسولو سره زما یا په بیانولو سره دی قصود قرآن مِنْ اَجْرٍ ۚ ځه مزدوری لکه دانور قصه خوانان چه ئی غواړی اِنْ هُوَ نه دے دا قرآن اِلَّا ذِكْرٌ مگر پند دی دطرفه ځخه دخدای لِّلْعٰلَمِیْنَ (۱۰۴) دپاره دټولو مخلوقاتو نه خاص دا اهل مکی دپاره وَكَاَیِّنْ مِّنْ اٰیَةٍ او ډیری دے دنبو ځخه چه دلالت کوی پروجود دصانع او پرقدرت کامله دده فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هم په اسمانو اوهم په ځمکه کښی اودا معاندان یَمُرُّوْنَ عَلَیْهَا هروخت چه تیریږی پرهغه او په ستړګو یې هم وینی وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ (۱۰۵) اوحال دا چه دوی د هغه نښی ځخه ځنډ کونکی دی همیشه

ع ۱۱ ۵

عه یعنی د پاره د عاجزه کولو د کافرانو جو ږ دلو ځخه د قرآن په شل سره دی قرآن ۱۲ اصه چه نه فکر پکښے کوی او د نصیحت په اخلی ۱۲

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ او ایمان نه راوړی زیات دوی اهل د مکی یا عام مشرکان
بِاللّٰهِ إِلَّا وَهُمْ پرخدای پرته دوی لا په دے وخت کښی هم مُّشْرِكُونَ ﴿۱۰۶﴾
شریك نیونکی دی له خدای سره دبل شی څکه چه داسے هم وایی چه رب
زمون خدای دی او بیا داسے هم وایی چه ملائکی بے لوڼی دی فَأَمِنُوا
أَن تَأْتِيَهُمْ ایا نو په امان سول دا مشرکان دے څخه چه راسی دوی لره
غَاشِيَةٌ عقوبت احاطه کونکی پر دوی مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ د عذاب د خدای
أَوْ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً یا دے قیامت ناڅاه څخه چه راسی دوی لره قیامت ناڅاه
وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۱۰۷﴾ او دوی هیڅ په خبر نه وی او هیڅ تیاری بی ورته
نه وی کړی قُلْ هٰذِهِ سَبِيلِي ته ووایه اے رسوله چه دا بلنه چه ده
وایمان او توحید ته سَبِيلِي لاره زما ده او پرهدی لاره نړه همیشه روان
یم أَدْعُو إِلَى اللّٰهِ ټه چه نړه بولم قوله خلك و خدای ته عَلَىٰ بَصِيرَةٍ پر
بینایی یعنی پر بنکاره حجت أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي دا هم زه او هم هرهغه څوك
چه زما پیروی کوی وَسُبْحَانَ اللّٰهِ او پاکی ده خدای لره دهغه شریکانو څخه
چه تاسے بی ورسره بولی وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۱۰۸﴾ او نړه نه یم د شریك
نیونکو څخه په خدای پوری روایت دی چه هرکله چه کفارو به ویل
چه د خدای سره خو ملائکی دی نو هغه بے ولی نه رالیږلی چه
ته بے رالیږلی نو نازل سو وَمَا أَرْسَلْنَا او مونږ به نه رالیږله مِن
قَبْلِكَ مخکی ترتا په رسالت سره إِلَّا رِجَالًا مگر سړی بنی آدم نه ملائکی
او نه جن او نه ښځی نُّوحِي إِلَيْهِمْ چه وحی به وکړی مونږ د دوی ته
مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ د دا هله څخه د ښارونو او دکلو نه د بدوانو او دبانډو
څخه أَفَلَمْ يَسِيرُوا ایا دا کافران نه گرځی فِي الْأَرْضِ په ځمکه کښی فَيَنظُرُوا
نو چه دوی وگوری په نظر د عبرت سره كَيْفَ كَانَ چه څرنگه وو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ اخره خاتمه د هغو د رواغجنو مِنْ قَبْلِهِمْ ط چه مخکی تیر سوی
دے تر دوے چه د هغوی د حاله څخه عبرت واخلے او د نکذیبه څخه د قرآن او د
پیغمبر نو واوری وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ او خانخاحویلی د هغه جهان چه د ه یعنی جنت
او نعمتونه د هغه خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا د پرهغوړه دی هغوکسانو ته چه
خان ساتی د شرکه او د بے فرمانی څخه اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ ایا نو تاسے عقل نه
کوی چه دا بهتر دی اکهغه او تیرو امتو ته به مو د مهلت و رکاوی په هغه
طغیان او تکذیب چل کښی حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ تر هغو پورې چه نا
امیده به سوه رسولان د ایمان راو پرلو څخه د دوی وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ او گمان به
وکړی رسولانو چه بیشکه د وی قَدْ كُذِبُوْا په تحقیق سره د رواغجن کړه سودے
جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ناگاه به راغلے د وی ته مدد زمونږ یعنی عذاب به را غلے
پرقوم د دوی فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ط نو وبه ساتلے سود ے عذاب به څخه هغه
څوك چه زمونږ اراده به وه د هغه د ساتلو یعنے پیغمبران او تابعان د دوی
وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا او نه سی گرزولای عذاب زمونږ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ د
قولی څخه د کافرانو په هغه وخت کښی چه یو وار پر راسی لَقَدْ كَانَ فِيْ
قَصَصِهِمْ خانخاپه تحقیق سره چه دے په دے قصو د پیغمبرانو او د امتو کښے
یا د یوسف او د ورونو د ده کښی عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ط د پیرلوی پند دے
خاوندانو د خالص عقل لره مَا كَانَ حَدِيْثًا گپ نه دے د قرآن دا
گفتار چه وَلٰكِنْ د رواغ ویل سوی دے لکه د اکفار چه يُّفْتَرٰى
وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ او لیکن مصدق او موافق دے د هغه شی سره بَيْنَ يَدَيْهِ چه تر ده مخکے تیر سوی دے
د کتابونو څخه د خدای په راستی کښی وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ او بیانونکے د هر هغه شی د چه احتیاج
ورته پینیږی په کار د دین او د دنیا کښے وَّهُدًى وَّرَحْمَةً او رهنمایی د هریوه او مهربانی
د ه لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی پر خدای او پر رسول باندی

یا ایها — سورة الرعد مدنیة — رکوعها ۶

(۴۳) بسم الله الرحمن الرحیم

الکتاب په دے حروفو کښی هم متاخرینو تاویلات کړے دی اویوه هغو څخه دا دے چه انا الله العلیم البصیر یعنی زه خدای یم چه هم پوهیږم په هر څه اوهم یے ویلی دی ذٰلِكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ دا چه دی ایتونه دی دے سورۀ یاد دے قرآن وَالَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ اوهغه قرآن چه رالیږل سوی دی وتاته مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ د جانبه څخه درب ستا دی هغه رښتیا دے اوهیڅ شك پکښے نشته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ① اولیکن زیات خلق ایمان نه پرراوړی اَللّٰهُ الَّذِیْ خدای هغه قادر مطلق دی رَفَعَ السَّمٰوٰتِ چه لوړ پیدا کړی دی ده اسمانونه بیا پے درولی دے بِغَيْرِ عَمَدٍ بیله ستنی چه پر تکیه سوی تَرَوْنَهَا چه تاسے پے وینی پخپله یا پے درولی دے بغیر دهغه قسم ستنی چه بنکاره کیږے وتاسے ته ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ بیا متوجه سو وعرش ته په توجه د حفظ او تدبیر سره وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او مسخر کړی دی ده لمر او سپوږمی دپاره دمصالحو دعباد واو د منافعو دبلادو كُلٌّ يَّجْرِیْ داتول روان دی لِاَجَلٍ مُّسَمًّى د ترهغه معین وخت پورې چه قیام دقیامت دے يُدَبِّرُ الْاَمْرَ تدبیر دهرکار کوی دملکوت څخه لکه ایجاد او اعدام اواعزاز اواذلال اوا حیاء اوا ماتت اود اسے نور يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ دے په تفصیل سره دا یتونه بیا نوے یا پیدا کوی دلیلونه د څخه قدرت یوه په بل سره لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ بنایی چه تاسے په ملاقات دخپل رب سره تُوْقِنُوْنَ ② یقین راوړی پرده ے حال . چه هرڅوك چه قادر دے دی په اول کښی پرایجاد دعالم هغه قادر دی پراعاده هم وَهُوَ الَّذِیْ اودے هغه پروردګار دے مَدَّ الْاَرْضَ چه غوړولی ده ده ځکه پرسر د

او بو او بیا شوریدله نوډرنه یې کړه وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ او پیدا یې کړه په دی ځکه کښی میخونه محکم ولاړ پرځای چه غړنه دی وَأَنْهَارًا اوولی یې هم پکښی پیدا کړی دے داو بو وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ او دهر قسم میوو څخه جَعَلَ فِيهَا ـ پیدا کړی یې دی په ځکه کښی زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ دوه دوه جوړی لکه سړ او سپین یا ژړ، او تور یا خواږه او ترړه یا غټ او وارې يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ اغوندی شپه په ورځ لکه قمیص نو په اول کښی رڼا وی بیا تیاره سی إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه چه په دی قسم تقلیبا تو کښی عالم لَآيَاتٍ خامخا رنګا رنګ نښی دی دلالت کونکی پر وجود د صانع علیم حکیم باندی لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ۳ دهغه قوم د پاره چه فکر کړی په دی تقلیبا تو کښی وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ او په ځکه کښی هم قطعے دی مُّتَجَاوِرَاتٌ خنډ پرځنډ بعض د بعض سره پیوسته یا بعض متینه او بعض شکلنه او بعض خوړه ناکی او بعض بے خوړه ناکی او بعض قابله د کښت نه دونو او بعض پرعکس وَجَنَّاتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ اونور باغونه دی په ځکه کښی دانګور وَزَرْعٌ او کښت دی وَنَخِيلٌ او خرماګانی دی چه بعض صِنْوَانٌ غځیے وی د خرماګا نو څخه د یوه بیخ څخه د یرې پورته سوی وی وَغَيْرُ صِنْوَانٍ او بعض څنی غځیے نه وے بلکه د یوه بیخ څخه به یوه خرما پورته سوی وی يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ ټول چه او به کیږی هر یو د دی دواړو قسمو څخه په یو او بوسره وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا اوغوړه کوو موږ بعض د دوی څخه عَلَىٰ بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ پر بعض خوړو میوو باندے دجهته د رنګ او د خوند او دبوی إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه چه په دی ذکر سوو کښی لَآيَاتٍ خامخا بښکاره دلیلونه دی لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۴ دهغه قوم د پاره چه عقل لری وَإِن تَعْجَبْ اوکه ته تعجب کوی اے رسوله د انکار ه څخه د دوی د بعث څخه فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ نو ډیر عجیبه دی د اقول د دوی

یعنی په واقعه کښی ځای د تعجب دا قول د دوی دے چه ءَاِذَا كُنَّا تُرَابًا ایا په هغه وخت کښی چه موږ خاوری سو یعنی وړوسته ترهغه چه مړه سو او بیا خاوری سو موږ ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ایا سو به موږ خامخاپه نوی پیدایښت کښی یعنی بیا به ژوندی سو او سره د دے چه دوی بے خالق د اسمانونو او د ځمکی هم بولی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا هغه کسان دی كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ چه کافران سوی دی په خپل رب سره ځکه چه دوی د دغه د قدرت څخه پربعث منکردی وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ او بیا دوی هغه کمراهان دے چه د ګمراهی طوقونه د دوی په ګرد نو کښی پراته دے چه بیا بے وخلاصی ته لار نسته یا په قیامت کښی بہ تشنین طوقونه ورته په غاړه سی وَاُولٰٓئِكَ او بیا داعاقبت خرابه چه دے اَصْحٰبُ النَّارِ اوسیدونکی داوردی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۵ دوی به په دی اوږکښی هیڅه وی روایت دی چه هرکله به کفاره د رسول ته ویل چه هغه عذاب چه ته موږ په ویروی هغه ولی شر نه راځی نو نازل سو وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ او دوی پرتا تلوارکوی بِالسَّيِّئَةِ په غوښتلو سره د هغه عذاب او عقوبت چه مقرر دی دوی لره قَبْلَ الْحَسَنَةِ مخکی ترعافیت وَقَدْ خَلَتْ او حال داچه د پر سوی او تیر سویدی مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ د مخکی تردوی عقوبات پرتیر ومکذبانو باندی لکه څنګف او مسخ او ضیحه او رجفه او طوفان او ریح «باد» وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه چه رب ستا لَذُوْ مَغْفِرَةٍ خامخا خاوند د بخښنی دی لِّلنَّاسِ وخلګو ته یعنے کفار و ته که ایمان راوړی عَلٰى ظُلْمِهِمْ سره د هغه ظلمه یعنی کفره د دوی چه پخوا ئے کړے وی ځکه چه ایمان محوه کونکی دے د تیرو بے فرمانیو وَاِنَّ رَبَّكَ او

عنف، څنګف د وسیدل په ځکر کښی لکه قارون چه خسف سوی دو مسخ: بدلول او مسخ کول د صورت په بل شکل سره لکه د اصحاب د سبت صیحه: لکه د اواز د جبرئیل پرثمود یانو رجفه یعنی زلزله او نبوید ل د ځکی طوفان یعنی سیلاب او دیری څښی دا نبو لکه د فرعون او قوم د ده باندی ریح یعنی دیرتند باد لکه پرعاد یانو ۱۲

بیشکه چه رب ستا لَشَدِيدُ الْعِقَابِ ⑥ خاخا سخت دی عقوبت دده که دا کفار پرخپل کفر کلک وی یا معنی دا ځنځونکی دمؤمنانو دے په توبه او استغفار سره او په عذابونکی دکافرانو دے په انکار او په استکبار سره وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا او وایی هغه کسان چه کافران دے لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ ولی نه نازلیږی پردے محمدﷺ باندے آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ د یوه اسے معجزه چه مونږ یے غواړو جانبه څخه درب چل نوږب العزت ورته وویل چه إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ بیشکه هم دا خبره ده چه ته بیرونکی یے او نور دتولو امورو تفویض وخدای ته دے وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ⑦ او دهری طایفی او دهرقوم دپاره یو رهنما مقرر دے یعنی هر پیغمبر پخپله زمانه کښی دخپل قوم بلونکی وود توحید ولاری ته اللَّهُ يَعْلَمُ خدای پوهیږی یعنی ترتولو مخکی لا ورته معلوم دے مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَىٰ هرهغه چه بارا خلی هره ښځه چه ددی په نس کښی نر دے اوکه ښځه سپین دے اوکه تور دے بنایسته دی اوکه بدرنګه اوږد دی اوکه لنډ دے اوهدا سے نور وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ او په هغه هم پوهیږی چه رحمونه یے کموی یعنی خدای یے په رحمونو کښی کموی وَمَا تَزْدَادُ او په هغه هم پوهیږی چه زیاتوی یے ارحام مراد ددے کمولو او زیاتولو څخه شمار دی دولد ځکه چه دیوه ولد څخه ترځلور و پوری په نس کښے جمع کیږی او یا دحمل موده مراد ده ځکه چه دشپږو میاشتو څخه تر دووکالو پوری په نس کښی پاته کیږی او دا دواړه په نزد دامام اعظمؒ دی او یا بدن دے دولد ځکه چه کله یے اعضاء ترمتعارف کم وی اوکله ترزیات وی وَكُلُّ شَيْءٍ او هرشی چه دے عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ ⑧ دده سره په اندازه دے چه نه ترهغه کمیږی اونه ترزیاتیږی عَالِمُ الْغَيْبِ دانا دے په هرپټ وَالشَّهَادَةِ او په هرښکاره الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ ⑨ چه بلند شانه دی ترهرچا په قدرت کښی سَوَاءٌ مِنْكُمْ برابر دی تاسے

نسبت د علم دده ته مَنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ هر هغه څوک چه خبره پټوی په زړه کښے وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ او هر هغه څوک چه وبل چا ته یے بنکاره کوی وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِالَّيْلِ او هر هغه څوک چه پټو ونکی د څپل عمل وی په شپه کښی وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ ⑩ او هر هغه څوک چه بنکاره کونکی وی د څپل عمل په ورځ کښی یعنی هیڅ قول او فعل چه پټ وی او که بنکاره هغه د دده څخه مخفی نه دی حکه چه لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مقرر دی خدای لره د هغه چا د پاره چه څپل قول او فعل پټوی د هر چا څخه تر ولی د ملائکو چه یے د ریے راځی دده وساتنی ته مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ دده د مخ د طرفه وَمِنْ خَلْفِهٖ او دده د شا د طرفه يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ چه ساتی یے د خدای د غذاب څخه د بخښنی په غوښتلو سره که دده څخه گناه وسی یا په فرمان د خدای سره او د ملائکی کرام الکاتبین بلل کیږی حکه چه دوی لیکی هر څه چه دبندگا نو څخه صادریږی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ تغیر نه ورکوی د هغه نعمت او عافیت ته چه د کومے طایفے سره وی حَتّٰى يُغَيِّرُوْا تر هغو پوری چه تغیر ورکړی دوی مَا بِاَنْفُسِهِمْ د هغه حال ته چه په دوی پوری وی یعنی څوچه اخلاق حمیده او طاعات څپل پر اخلاق قبیحه وو او په معاصیو سره بدل نه کړی وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ او په هغه وخت کښے چه اراده وکړی خدای بِقَوْمٍ سُوْٓءًا پر کوی طاغی د غذاب لو لَا مَرَدَّ لَهٗ نو نه شته گرځیدل د هغه وَمَا لَهُمْ لِلنّٰسِ دُوْنِهٖ او نه به د وی دوی لره غیر د خدای څخه مِنْ وَّالٍ ⑪ هیڅوک متولی د کار د دوی چه د اغذاب څخه یے دفع کړی هُوَ الَّذِيْ دے هغه خدای دی يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ چه بنیی دی تاسے ته د اسے بریښنا چه دوه جهته لری خَوْفًا د پاره د ویرې د تندری یاد باران څخه او خاص هغه چا ته چه مسا فر یا بے کورنی وی یا هغه ملک ته چه ابی وی وَّطَمَعًا او بل د پاره د باران د امید هغه چا ته چه ورته محتاج

وے وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾ اوراپورتہ کوے دے اوریخی پہ اوبو درنے
پہ هوا کښی پہ خپل قدرت کامله سره وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ او تسبیح وایی
رعد سره د ثنا ددہ یعنی هغه ملائکه چه رعد پے نوم دی اوپرا وریخو
مسلط دی وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ. او نوری ملائکی هم تسبیح وایی د خدای
دبیرے اودهیبته څخه ددہ روایت دے چه هرکله عامر او اربد دهجرت
پہ نهم کال ورسول ﷺ ته راغلل د قتل پہ نیت او جګړه یے ورسره برپا یه
کړه پہ وجدانیت اوپه بعث کښے نوزے پہ مطلب سره ددوی پوهه سو اووی
ویل چه اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمَا بِمَا شِئْتَ یعنے اے خدایه دفعه کړے دماڅخه دا
دواړه پہ هرڅه چه ستا اراده وسی نو پرا ربد تندره ولویدله اوپه
عامر بیړه و لګیدی اودواړه مړه سوله چه وایے وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ
اورالیږے دے صاعقے فَيُصِيْبُ بِهَا نورسوے دی: اصاعقے یعنے تندرے
مَنْ يَّشَآءُ وهرهغه چا ته چه اراده یے وسی وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ
اوحال داچه دوی جګړے کوے پہ حق د خدای کښی دجهته د قدرته د
دہ پراعادہ د مخلوق وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾ اوحال داچه دے سخت
عقوبت دے پرنجاد لانز لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ځانګړے خاص هم دہ لره دہ بلنه
دحق چه کلمه طیبه دہ یا خاص دہ عبادت کول دے یا بلنه دہ خاص
ددہ عبادت ته وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ اوهغه خدایان چه داکفار ریے بولی
یا هغه کفار چه داخدایان بولے مِنْ دُوْنِهٖ غیر د خدایه لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ
اجابت نه کوی اوسوال نه قبلوے لَهُمْ بِشَيْءٍ دوی لره پہ هیڅ شی کښی د
مطالبو څخه ددوی اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ مګر داسے قبلول لکه هغه ځوئنکی د
دواړو ورغوړ و خپلو اِلَى الْمَآءِ اوبو ته دځا (کړی) بیله رسی اوبیله بوکی
لِيَبْلُغَ فَاهُ ددے دپاره چه راو رسیږے دا اوبه وخولے ته ددہ وَمَا

عه دادواړه د کافرانو نومونه دی ۱۲

هُوَ بَالِغِهٖ اوحال داچه نه دے دااو به رسید ونکی دده وخولے ته په تشه دعا بیله رسی او بیله بوکے حُکه چه دااو به جاددے اوجماد په بلنه نه راځی بے اسبابه اونه په بلنه پوهیږی وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ او نه ده بلنه دڈے کافرانو اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾ مگر په گمراهی اونا اُمیدۍ او بطلان کښے ده یعنی هیڅ قدر فائده نه ده پرمرتبه وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ او خاص خدائے ته سجده کوے مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه څوك چه په اسمانو او مځکه کښے دی په سجده دتعبد اودانقیاد سره طَوْعًا څوك په خوښه لکه ملایکے اومؤمنان وَّكَرْهًا اوڅوك په ناخوښے سره لکه منافقان اوکافران دسختی په وخت کښے وَّظِلٰلُهُمْ اوسورے ددوے هم سجده کوی په طبع دخپل اصل سره بِالْغُدُوِّ په وخت دصبا، سحار، کښی دمغرب وطرف ته وَالْاٰصَالِ ﴿۱۵﴾ او په وخت دښگاه ((بنام)) کښے دمشرق وطرفته قُلْ مَنْ ته ووایه وده وی ته چه څوك دے رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط پیدا کوونکی دا سمانو او دمځکی قُلِ اللّٰهُ ط بیاهم ته ووایه چه خدای دے مځکی تر ویلو دده وے حُکه چه غیر دده څخه بے بل جواب نشته نو بیا ملامتی پرواچوه داسے چه قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ ته ووی ته ووایه چه ایا تاسے نیولے دی مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ غیر دده څخه دوستان اومعبودان چه بتان دی لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ چه اختیار نه لری دوی دخپلو ځانونو پاره هم نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط نه دنفع اونه دضرر دفع کولو اوڅوك چه دخپل ځان والك هم نه لری نوهغه به بل ته څه نفع ورسوے قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى ته ووایه چه ایا برابریږی پروند چه بت پرسته دی وَالْبَصِيْرُ ط او بینا چه خُدای پرسته دی یعنی نه برابریږے سره اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ اوکه برابریږے تیارے چه شرك اوانکار

دے وَالنُّوْرُ ۵ اور نا چہ توحید او معرفت دے اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ بلکہ
ساز کړے دی دوی خدائ لرہ شریکان خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ چہ پیدا کول کوی دوے
په مثل د پیدا کولو د خدای فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ط نو ګډ کړہ سوی دی
پردوی او نه یے سی سړہ بیلولای چہ مخلوق د خدائے کوم دے او د شرکاؤ
داکوم دے حاصل داچہ دوی د خدائے سره دا سے شریکان نه دی پیدا
کړے چہ هغه هم دده په شان پیدا کول کوے چہ د دوی دا سے اشتباه پیدا
سے چہ هرکله دوی هم د خدائے په شان خالقان سوه د هغه په شان د عبادت
لائیقان هم سوه قُلِ اللّٰهُ تہ دوی تہ وواید چہ خدائے خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ پیدا کونکے
د هرشی دے او په دے خالقیت کښی هیڅوك د هغه سره شریك نه دے چہ په
معبودیت کښی هم د هغه سره شریك سی بلکه یوازے هم دے دی وَهُوَ الْوَاحِدُ
الْقَهَّارُ ۱۶ او دے یگانه دے پخپل ربوبیت کښی او پرهرچا غالب دی اَنْزَلَ
مِنَ السَّمَآءِ مَآءً را لیږلے دی ده د اسمان د طرفه او به فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌ ۵ نو
وبهیږے په دے او بو سړ کندی د هرطرف تہ بِقَدَرِهَا په خپله اندازه سره چہ
لوی یا وړے یا ارتے یا تنګی وی فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ نو پرسر راو خستی دے سیلاب
زَبَدًا رَّابِيًا ط راپورته سوے دا بو پرسر وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ او بعض د هغو
شیا نو څخه چہ د اخلك په هغه شی سره لمبی بلوے يبغه وِيلی کوی يے لکه زر
او مس او ژیر او قلعی او جست او اُسپینه فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ په اور کښے د
پاره د طلب د کیمنی اَوْ مَتَاعٍ یا لوښے او نورا سباب د معاش لکه توره ے او
چړے او چاقو کان او بیاتی کانی او تبی او نفره ے او هرکار ے او توپکان او
بیلچی او دا سے نور پیرشیان سوه زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ط زلۀ او خیره دی په شان
د زلۀ او د خیرے دا بو كَذٰلِكَ په مثل دے مذکور سړ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ
مثالونه تړی خدائے د حق وَالْبَاطِلَ ط او باطل فَاَمَّا الزَّبَدُ نو هرچہ زلۀ او

خیرے دے داو بو یا د کیفو یاد نورو اسبابو پرے فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ نو ولاړ سی په داسے حال کښے چه د نظرہ ساقط اوبے اعتباره وے وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ اوهرچه هغه شی دے چه وخلگو ته نفع ړسوے لکه صافی اوبه او پارچے چه ویلی بے کړے بیله غیشه فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ط نو هغه ولاړ پاته سے په مځکه کښے چه خلك نفعه پروا نخلے كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ⑰ هدا سے خدای ترے مثالونه حاصل دا چه لکه او به او زر پرے اود مسو او دا سے نورو شیا نو پرے چه نافع اومفید دے وخلگو ته همدا سے گمتارد حق چه د قرآن ایتونه دے هغه هم نافع اومفید دے او لکه چه زلۀ او خیرے بے منفعته او سریع الزواله دی هدا سے قول باطل اوهواجس د نفس یعنے خواهشات د نفس او وساوس د شیطان هم بے منفعته او سریع الزواله دے لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا مقرر دے هغو کسانو لره چه فرمان منی لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ط د څښل رب جنت او دیدار او رضوان دے وَالَّذِيْنَ اوهر هغه کسان لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ چه د خدا ے فرمان نه منے او ایمان پرده نه راوړے لَوْ اَنَّ لَهُمْ که وے بیشکه دوے لره مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا هغه مبلغ چه په مځکه کښے دے تولو د نقدو د جنسه او د متاع د جنسه او د شرقه څخه تر غربه او د شماله څخه تر جنوبه وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ او په مثل د دے مذکورو دنو ر هم وے د ده سره او دا تولو بیا په تصرف کښے دکافرانو سے د قیامت په ورځ لَافْتَدَوْا بِهٖ نو خامخا به دا تولو په فدیه د څښل خان کښی ورکړے چه د عذابه څخه په خلاص سے اُولٰٓئِكَ لَهُمْ داکسان چه دے مقرر دے دوی لره سُوْٓءُ الْحِسَابِ لا بد حساب یعنے سخت چه نه بریلے نیکی قبلیږے او نه بریلے بدے محوه كَيْفَ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط او ځای د استوګنی د دوے د دوزخ دے وَبِئْسَ الْمِهَادُ ⑱ او بد ځای دے دا دوزخ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ ایا نو هغه څوك چه پوهیږے اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ چه بیشکه هغه قرآن چه را لیږل سوی دے

ع ۲ ۲ ۸

وتا ته مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ د طرفه څخه د رب ستا هغه حق دے كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ط هغه دا سے دے لکه هغه څوك چه د زړه په سترګو وندوے يعنے نه دے د هغه په شان اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ بيشكه هدا خبره ده چه پند اخلے په دے قران سره اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۹﴾ خاوندان د خالص عقل خالي د وهم او معارضي او د بحاد لي څخه الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ هغه كسان چه وفاكوے بِعَهْدِ اللّٰهِ په هغه عهد سره د خداے چه په روح د ميثاق بے څنې اخيستې وه وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾ او دوے نه ماتوى هغه عهد وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ او بل هغه كسان چه پيوندوى مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ هغه شى چه خدا امر كړى دى په هغه سره اَنْ يُّوْصَلَ داسے چه پيوند دے كړه سى يعنى صله رحمى اوبل پيوند د خپلولى اوبل پيوند د رسول او د نورو مؤمنانو سره د جهته د ايمان چه اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ وارِدْ دے او د اپيوند په شفقت او په احسان او په نصرت او د سلام په اچولو سره او د مريض په پوښتنه سره او د ضرر په نه رسولو سره او په هم دى كښى بيا داخل دے رعايت د حقوقو د خاد مانو او د گاونديانو او د ملگرو د سفر او د سبق او د مجلس وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ او بيريږى دوے د خپله رب به څخه يعنى د عذاب څخه يې وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ او بيريږى د سختى څخه د حساب د قيامت وَالَّذِيْنَ او بل هغه كسان صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ چه صبر كوے د پاره د طلب د رضا مندے د خپل رب پر مصيبتونو او د مال پر هلاكيدو او پر سختيو د تكليفو د شرع يا پر جهاد وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ او پر پاڼه لرے د لمونځ د پنځو وقتو وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او د هغه څه د خداے په لار كښى بعض د هغه حلال مال څخه چه موږ ورته وركړے دے سِرًّا وَّعَلَانِيَةً هم په پټه او هم په بنكاره وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ او دفعه كوے د دوى بدى په نيكى سره كه څوك بده خبره ورته وكړے نو د دوى بنه كوى او كه څوك ظلم پرى وكړى

غه معنے د چه خداى فرمايلى دى چه خبره داده بلكه نه ده چه مؤمنان سره د رونه دى يعنے دا مؤمنان مثل له كه نسبى د رونه نه دى مگر اسلامى د رونه خو مثل له دى ۱۲

نو دوے عفوہ ورتہ کوے اوکہ څوك قطع څنی وکړی نو دوی وصل ورسرہ کوی او
کہ یے څوك محروم کړی دوی هغوے تہ ورکړہ کوے اوکہ گناہ څنی وسی نو
توبہ وکا ړے اوکہ معصیت څخنے وسی نو طاعت ور لپسی وکړی اوکہ چیری
دکفار وشخہ ماتہ وکړے نو بیرتہ ورتہ راځی اوکہ دچا شخہ کوم منکروونی نو
هغہ څنی بندوے نو دا ا تہ کارونہ چہ دے خلاصونکی دے دا تو سرہ وو دروازہ
دجنت لکہ چہ وایی اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ (۲۲) دا کونکی ددے اتو کارو چہ دی لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ
مقرر دی دوی لرہ ښہ عاقبت دهغہ جهان چہ هغہ جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونہ دے
بے خزانہ يَدْخُلُونَهَا چہ دوے بہ پہ هغو کښے ننوزی او بیا بہ هیشہ پکښے وے
وَمَنْ صَلَحَ او بل بہ هغہ څوك پہ ننوزے چہ صالح وے یعنے ایمان یے راوړی
وی مِنْ اٰبَآئِهِمْ دوے د پلرو شخہ وَاَزْوَاجِهِمْ او دوے د بښځو شخہ وَذُرِّيّٰتِهِمْ
اودوے د اولا د وشخہ وَالْمَلٰٓئِكَةُ او ملائکی چہ دے يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ را
ننوزی بہ پرتہ دوے باندے مِنْ كُلِّ بَابٍ مقدار دهری شپی اودورځی کښے دا یا مورو رو څخہ ددنیا
څخہ درے وارہ سرہ د پیښکښو او د زیری د رضوان سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ (۲۴) د هرے
دروازے څخہ د دربار ودوی او بیا بہ وایی تہ وایی سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ سلام
دی پرتاسے یعنی زیرے د دوام دسلامتی بِمَا صَبَرْتُمْ پہ سبب د دی سرہ چہ
تاسے صبر کړی وو د نفس د شهوتو څخہ پرا وامرو د خدا فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ (۲۴)
نو ښہ دے عاقبت دهغہ جهان چہ تاسے مومنان لے دی چہ رضوان او خلود د
جنت او د دیدار دے۔

نظم

څوك چہ د فع د بدی کا پہ نیکی سره اے یاره
یعنی کړی کے تل تر تلہ پہ دنیا کښی اتہ کاره
د بدے پرځای نیکی کا او د ظلم پرځای عفوہ
او د قطع پرځای وصل کا د خدای رضا د پاره

اوکه سی خنی معصیت نوژر طاعت و رلیسی کا
اوکه څولك یے کړے محروم نوے ورکړے بے شماره
اوکه سی خنی گناه نوے توبه وکا بړے ژر
اوکه وویني منکر نوکوی منعه د بد کاره
اوس که مات سی په کوم جنلۍ کښے دکفارو د لښکره
نو بیا بیرته سی راستون اونه بیریږی د کذاره
څولك چه دا اته افعال کا اته دروازی د جنت دے
پری به پرانزی خالق د دے عمل د اختیاره
همت ورکړی اے الله تل د دے اتو کارو
ودے مرادته چه عاصے دی اے حیم غفاره

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ اوهرچه هغه کسان دے چه دوی ماتوی عَهْدَ اللّٰهِ هغه عهد د خدای چه د دوی څخه یے اخیستے وو مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وروسته ترمحکم کولو هغه عهد په اقرار او په قبول سره وَيَقْطَعُوْنَ اودوی پری کوی مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ هغه شی چه امر کړی دے خدای په هغه سره اَنْ يُّوْصَلَ دا سے چه پیوند دے کړه سے وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ او فساد کوی دوی په مخکه کښی په کفر او په ظلم سره اُولٰٓئِكَ داکسان چه دی لَهُمُ اللَّعْنَةُ مقرر دی دوے لره لعنت یعنی د خدای د رحمت څخه لیرے والے وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ اودی دوی لره بد عاقبت د دنیا او عذاب د دوبخ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ اوخدای فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ وهغه چا ته چه اراده یے وسی وَيَقْدِرُ اوتنګوی یے پرهغه چا چه اراده یے وسی وَفَرِحُوْا اوخوشحاله سوی دی دا اهل د مکی بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا د دنیا پرژوند دے وایه ژوند اوپه متاع د دے سره وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اونه دے د امکی ژوندون فِي الْاٰخِرَةِ په څنګ د هغه جهان کښی اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾ مګر

لږ شی دے لکه د مسافر توښه یاد کاله اسباب وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا او وائی هغه کسان چه کافران دے لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ ولی نه دے رالیږلے سوی پرتے محمد صلے اللہ علیہ وسلم باندے آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ د هغه قسم آیت چه موږ ہے غواړو د طرفه ځمخه د رب دده قُلْ إِنَّ اللَّهَ تر دوی ته ووایه چه بیشکه خدای يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ گمراه کوے هر هغه څوك چه اراده یے وسی چه خوځ ساخته آیت غواړی وړ وسته ترظهوره د معجزې وَيَهْدِي إِلَيْهِ اولاړ ښیي دے وخپل ځان ته غیږ ډکید لو دا آیت مَنْ أَنَابَ (۲۷) وهر هغه چا ته چه ځ کړی وحق ته اوداځ کونکی چه دے وحق ته الَّذِينَ آمَنُوا هغه کسان دی چه ایمان یے راوړیدے وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ اوارام کوی زړونه دوی بِذِكْرِ اللَّهِ پرياد کیږی سره د خدای أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ واورے چه پریاد دلوسره د خدای تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ (۲۸) ارام نیسی زړونه دمؤمنانو الَّذِينَ آمَنُوا هغه کسان چه ایمان یے راوړیدے وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ اودنیکوعملونه کوی طُوبَىٰ لَهُمْ خوشحالی ده دوی لره وَحُسْنُ مَآبٍ (۲۹) اوښه مرجع ده چه جنت دے كَذَٰلِكَ همدا سے لکه محکی ترتا چه موږ رسولان رالیږلے وه أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ لیږلے یے موږ ته په امت دے قولی کښی قَدْ خَلَتْ چه په تحقیق سره تیرسوی دے مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ محکی تردے نوری وړی قولی د نوح د زمانی ځمخه د عیسیٰ ترزمانی پوری نوراستاقوم اخرد دے دتولو امتو اوته اخرواخاتم یے دتولو انبیاؤ اوته راغلی یے ودے خپل قوم ته لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي دے دے وپاړ چه ته ولولے پرډوے باندی هغه قرآن أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ چه درلیږلے دی موږ وتاته وَهُمْ يَكْفُرُونَ اوحال داچه دوے کفراختیارکړی بِالرَّحْمَٰنِ په خدای پورے چه یوڼوم یے رحمن دی چه رحمت یے وپراخ دے هرچا ته راغلے دے قُلْ هُوَ رَبِّي ته ووایه چه دی زما رب دی لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ نشته بل هیڅوك لایق

عه یعنی دلکانه څخه جوړه کړی معجزه د پیغمبر څخه غواړی ۱۲

د عبادت مګر یوازی هم دے دی عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ هم پرده می توکل کړی دے
پخپل نصرت کښی پرتاسے وَإِلَيْهِ مَتَابِ (۳۰) اوهم وده ته بیا ورتله زماد ے
روایت دے چه هرکله بعض قریشو وو رسول علیه السلام ته وویل چه ته زمونږ
متابعت غواړے نو په دے قرآن سره مونږ تدرے کارونه راوکړه یو داچه
داغرونه چه ترمکے چاپیره پراته دے داتوله په لیری کړه چه وطن راته
فراخ سی اوبل داچه دمکے ځکی په ځیرے کړه اوچینی ځنی راوه بَيِّنَةٌ چه
داوطن ابی سی اومونږ غلے پکښی وکړو او بل زمونږ پلرونه په راژوندے کړه
چه ومونږ ته ووایی چه دارشتیاپیغمبر دے نونازل سو وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا او
که چیرے یوداسے کتاب وی په دے جهان کښی سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ چه
روانیږے په ده سره غرونه دخپلو ځایونځه په وخت کښے دلوستلو دهغه کتاب
أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ یاځیرید له په ده سره ځکه په وخت دقرأت کښی أَوْ
كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ یا بر غیدګلا په برکت دقرأت دهغه سره مړی نوخاخځاپه هغه
هم داقرآن وو دپاره دکیدو دده په اقصی مرتبه کښی دتذکیر او دتخویف
اود انذار مګر که څه هم داقرآن لیاقت ددے تولوکارولرے لیکن ظهور شکلیږی
ددے پے دتاځنه غواړے بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا بلکه خاص خدا ے لره دے
اختیار ددی تصرف تو تولونوهرکله چه پے ارادہ وسی نونبکاره به یے کړی
أَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِينَ آمَنُوا آیا نه دے نا اُمیده سوے هغه کسان چه ایمان پے
راوړے دی دایمان راوړلوځنه ددغوخلکوچه داقسم معجزه غواړی اوسره
ددے چه ورته معلومه ده أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ داخبره چه که دخدای ارادہ
سوے وای لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا نوخاخابه یے سمه کاره بنوولی وای ده
تولوخلکوته وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا اوهمیشه به وی هغه کسان چه کافران
دے تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا چه رسیږے به ددوی ته په سبب دهغه تکذیب

او عناد سره چه دوے کړے دی قَارِعَةٌ هغه عذاب چه مبیده کونکی او بیخ کښونکی دے دوے اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا یا واړوے او ډیره سی دا قارعه نژدے په ځنلې کښے مِّنْ دَارِهِمْ د میشنو دوے چه د اوربخړے ورته را الونږی او دوے همیشه ځمنے په بیره کښے وی او داهلته که مراد دکفارو ځمنه عام وے او که یوازی مراد قریش وے تَحُلُّ خطاب دے ورسولؐ نه یعنے واوړے نه او ډیره سے نژدے و دوے ته چه مدام چا پے پرکوی او سړے او مالونه پے ځنے راولی او همیشه به پے عذاب اخته وے حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ترهغو پورے چه راسے وعدهٔ د خدائے چه موت یا فتح د مکی ده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائے لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ (۳۱) هیڅیرے نه خلافوے خپله وعده بیا تسلی کوی د رسولؐ پد دی شان سړ چه دا تکذیب او عناد او مسخرے یوازے په تاپورے نه کیږے بلکه دا یو سنتؐ جاریه دے پخوانے نوځکه وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ اوخامخا په تحقیق سره چه مسخرے کړه سوی دے بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ په رسولانو پورے مخکے ترتا لکه دا ستاقوم چه پے پتا پورے کوے فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا نو مهلت به می ورکړی و هغوکسانو ته چه کافران دے څه موده یعنی په خوشحالی او پخپل معاش کښے به می پریښوول ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ بیا می ناګاه په عقوبت سړ وینول فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ (۳۲) نوڅرنګه به وو عقوبت زما یعنے دیر به سخت وو اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ ایا هغه څوك چه دے نګهبان وے عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ پر هر شخص که صالح دے که طالح بِمَا كَسَبَتْ په هغه عمل سړ چه دا شخص پے کوی نیکی وے که بدګ او بیا دے دوا ړو په عوض کښے پے جزا هم ورته مقرره کړی وے دے دهغه چا سړ برابر ګڼے چه داسے نه وی یعنی خدائے خو هیڅکله دبتا نوسړ نه برابریږے وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ د او پیدا کوی دا کافران خدائے سره شریکان په خدائے کښے چه بتان دے قُلْ سَمُّوْهُمْ ووایه ورته چه نومونه دځانه پرایښودے بیله حجته اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بلکه دے تاسے اګاه کوی بِمَا


غه زاړو انو طریقه ۱۲

لَا يَعْلَمُ په هغوشیانو سره چه وده ته معلوم نه دی فِي الْأَرْضِ په ځمکه کښې یعنې دے دسره شریکان نه لرے اوکه واې نوده ته به معلوم واے أَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ یا یے مسمې کوے په تش ظاهر دګفتار یعنې هسې ظاهر ودے نو مه ته ګوری چه داد خداے شریکان دے او معنې ته یے نظر نه کوے چه دے یوهم دخداے کار نه سی کولاے لکه حبشي چه په کافور سره بلل کیږے محض دجهته دتورو والی بیله اعتبار ه دبوے بَلْ زُيِّنَ بلکه ښائسته کړه سوېدے لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرُهُمْ وهغوکسانو ته چه کافران سوېدے فریب او درواغ خپل وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ او چپ کړه سوېدے دوے دسمې لاری څخه وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ اوهر هغه څوك چه ګمراه یے کړے خداے فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾ نو نه به وے ده لره سمه لارښونکی هیڅوك لَهُمْ عَذَابٌ مقرر دے دوی لره عذاب فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا په دے واره ژوند کښے په قتل او په بند او قحط او په زخم او په نورو سزاګانو غمونو سره وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ اوخامخا عذاب دهغه جهان چه دے أَشَقُّ ډیر سخت دی وَمَا لَهُم مِّنَ اللَّهِ اونه به وے دوے لره دعذاب څخه دخداے مِن وَاقٍ ﴿۳۴﴾ هیڅوك سا توڼکی مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي صفت اوحال دهغه جنت چه دے وُعِدَ الْمُتَّقُونَ چه وعده کړه سوی دی په هغه سره پرهیزګاران چه پکښې ننوزے بې تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ چه بهیږ ے هیشه لاندې ترباغونو یا دمیوو کړوو دهغه څلورقسمه ولے أُكُلُهَا دَائِمٌ میوه دهغو باغونو چه ده هیشه به وے چه خزان به هیڅکله نه پرږا ځي په خلاف دمیوو ددنیا وَظِلُّهَا اوسوړ دهغو باغونو به هم هیشه وے په مثل دمیوو اوهیڅ تغیر به نه لرے په خلاف دسوړ تِلْكَ دا جنت چه ځکی ذکر سو عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا انجام دهغو خلقو دے چه تقوا یعنې ایمان یے راوړے او منلې وه عُقْبَى الْكَافِرِينَ انجام دهغو کسانو دے چه پرهیزګاري یے نه ده کړې النَّارُ ﴿۳۵﴾ اوپه عاقبت کښې ځای دا ستوګنې دکافرانو دوزخ اوردے وَ

الَّذِیْنَ اوهرچه هفه کسان دے اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ چه مون ورکړے دے ودوی ته کتاب اوبیا یې اسلام هم راوړے دی که یهود دی لکه ابن سلام اوملګری یې اوکه نصاریٰ دے لکه نجاشی او ملګری یې یَفْرَحُوْنَ خوشحالیږی دوی بِمَآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ پرهغه قرآن چه رالیږل سوید ی وتا ته وَمِنَ الْاَحْزَابِ او د ټولیو څخه دد غه اهل کتابو مَنْ یُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ۱ هغه څوك دے چه نه منی بعض دد ے قرآن یعنی هغه بعض چه مخالف دی دوے د شریعته څخه اوهغه منکر لکه کعب بن اشرف اوحیی بن احطب اونور اتباع یې داد یهود وڅخه اوسید او نور اتباع یې داد نصاریٰ ووڅخه قُلْ ته ودوے ته ووایه اِنَّمَآ اُمِرْتُ چه بیشکه هم داخبره ده چه نړه مأموره سوی یم اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ په دے چه نړه دے عبادت کوم یواز ے دخدا ے وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ ۱ او شریك دی نه نیسم دده سره بل هیڅوك په عبادت کښی لکه تاسے چه عزیرؑ اومسیحؑ دواړه په خدایی سره نیولی وه اِلَیْهِ اَدْعُوْا خاص هم هغه خدای ته بولم مَتٰبِ مرجع عالم وَاِلَیْهِ مَاٰبِ (۳۶) او خاص هم وده ته بیا ورته نړ ماد ے وَكَذٰلِكَ اوهمدا سی لکه چه نور وپیغمبرانو ته یې څو اکتابونه لیږلے ووموږ په ژبه د قوم دهریو دوی اَنْزَلْنٰهُ مونږ لیږلے دی موږ دا قرآن تاته کتاب حکم کونکی په مابین کښی د حق اود باطل په ژبه د هریو سره چه دوی فهم ومعنی ځینے کولای سی بے کلفته یاد حکماً معنیٰ سائل سوی د تغیر اود تبدیله څخه وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ اوخامخا که ته پیروے وکړی دارنړوکا نو ددے مشرکا نو چه تادخپلو پلرو ودین ته بولی بَعْدَ مَا جَآءَكَ وړسوله ترهغه چه تاته راغله مِنَ الْعِلْمِ دپوهی پربطلان دین دوی مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ نو نه به وی تاله وغذابه څخه دخدای مِنْ وَّلِیٍّ یار هیڅوك چه نفعه وتاته ورسوی وَّلَا وَاقٍ (۳۷) اونه ساتونکے ستا هیڅوك د عذابه څخه روایت دے چه هرکلمهٔ یهود و ویل چه داخرنګه پیغمبر دی چه

چل هست یے قوله و نیځو او نکاح ته صرف کړے دی اوکه دے په رشتیا پیغمبر وے نو پخپل نبوت سره به مشغول وو او دد دنیا و معاش ته به یے څه نه وو نو نازل سو وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا اوخامخا په تحقیق سره مونږ لیږلے وه رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ د پیغمبرانو مخکے ترتا وَجَعَلْنَا لَهُمْ اوورکړے وے مونږ دهغوی ته أَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ښځے اولادونه وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ اونه ده بائدہ اونه ده رواهیچ رسول ته یعنے دطاقته څخه یے وتلی ده أَنْ يَّأْتِيَ بِآيَةٍ داکار چه دے کومه داسے معجزه راوړے چه قوم یے ځنی غواړے إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ مگر په اذن یا په تقدیر سره د خدا ے لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ (۳۸) دهرحکم د پاره یو معین وخت لیکل سوی دے نو هرکله چه هغه وخت راسے نو دے ظاهره سے يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ محوه کوی خدا ے هرهغه چه اراده یے وسی دهغه دنسخ وَيُثْبِتُ ثبت یے اومقرره وے دهغه په عوض کښے بل شی چه ده حکمت بالغه یے غواړے یعنے محوه کوے سیئات د تانبانو یا قوت د ځوانانو یا بعض احکام شرعیه د قرآن په مصلحة الوقت سره اوثابتوی دهغه په عوض کښے حسنات یا ضعف یا نور احکام شرعیه وَعِنْدَهٗ أُمُّ الْكِتٰبِ (۳۹) اوده سره دے اصل دهرکتاب چه لوح محفوظ دی څکه چه هیڅ کاش نسته مګرچه په هغه کښے لیکل سوے وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ اوکه خامخا مونږ وتاته و بنیو بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ بعض دهغه عذاب څخه چه مونږ دده کفار و سره وعده کړیده أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ یا مونږ تا وفات کړو مخکے تر بنو ولو دهغه عذاب فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ نو بیشکه هم داخبره ده چه پرتا رسول اوبیانول دا حکام مودے وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ (۴۰) اوبیا پر مونږ باندے دی حساب اوجزا ورکول و دوے ته أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ ایادا اهل د مکی نه وینی چه بیشکه مونږ ل خو د مخکی ته دکفارو نَنْقُصُهَا چه مونږ ورځ په ورځ دا څکه کمو وو مِنْ أَطْرَافِهَا د طرفونو او چاپیره کنارو څخه دوے په غلبه او په تصرف سره د مسلمانانو وَاللّٰهُ يَحْكُمُ او خدا ی حکم کوی

پہ غلبہ اوپہ اقبال دا سلام سرہ او پہ مغلوبیت او پہ شکست دکفر سرہ لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْكُمْ ط نسته هیڅوك حصار ونکی ،، درسره نه کړنکی ،، دحکم دده وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴۱﴾ اودے شر حساب کونکی دے نو پہ آخرت کښې شر حساب ورسره وکړی وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ او پہ تحقیق سره مکر کړی وه هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخکی وه ستاد زمانی دکفار وتخه یعنی پخوا نیو کفارو به هم داسے مکرونه اوفریبونه کول پخپلو پیغمبرانو لوری فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ط نو خاص دخدائے سره ډیر ډیر دقسمه مکرونه دی يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ دے پوهیږی دے پہ هر هغه کار سره چه کوی یے كُلُّ نَفْسٍ ، هر شخص که خیروی اوکه شر او بیاد هغه جزا اورته تیاروی وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ اوشاردے چه معلوم به کړے دا کفار پہ قیامت کښې لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾ چه چا لره وی غوره خاتمه دهغه جهان وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اووایی هغه کسان چه کافران دی لَسْتَ مُرْسَلًا ط چه ته نه یے رالیږل سوے پہ نبوت سره دوعوت دیاره قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ تہ ووی ته وایه چه بس دے خدائے شاهد بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ پہ ما ویں کښې زما اوستاسے پرده چه نه پیغمبر یم وَمَنْ عِنْدَهٗ ۤ اوبل هغه څوك هم شاهد دے چه دهغه سره عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴿۴۳﴾ علم وقران دے چه اهل د بلاغت اوفصاحت دے دمؤمنانو تخه یا علم د تورات دی چه عبدالله بن سلام د اومګرې دده دے یا علم د لوح محفوظ دے چه جبرائیل دے حکه چه دے وحی د لوح محفوظ تخه اخلے .



الٓرٰ ۚ الف واول تخه دآ آ اولام دوسط تخه دالله اور دا اخر تخه دخبیر دے اَنَا اللّٰهُ اَرَى یعنی زه خدائے یم پہ هر څه خبردار چه دا قرآن كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ یو کتاب دے چه مونږ رالیږلے دے اِلَيْكَ وتاته لِتُخْرِجَ النَّاسَ دے دپاره چه

الْمَدِيْنَةِ اودسدوم خلك راغله چه دهغه بنار نوم وه د لوط ؑ وکاله اوکورته
يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۶۷﴾ چه ډیرے یے کاوی یوه پربل باندے د فاحشی په طمع سره قَالَ
اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِيْ نو لوط ؑ ووویل چه بے شکه دا میلمانه زما دے فَلَا تَفْضَحُوْنِ
نو زما مه رسوا کوی په فضیحت سره دده وَاتَّقُوا اللّٰهَ اودخدائے ښځه وبیریږ ے

او فاحشے مه کوے وَ لَا تُخْزُوْنِ ﴿۶۹﴾ او ما د میلمنو په مخ کښے مه شرمولے قَالُوْٓا اَوَ لَمْ نَنْهَكَ بیا دوے ولوط ته وویل ایا موږ ته نه وے منع کړے عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۰﴾ د خلکو څخه چه مه مانع کیږه نه موږ د هیڅوك څخه یا هیڅوك دوو څخه مه میلمه کوه قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ نو لوط وویل چه دغه دے لونی زما یعنے بنځے ستاسے اود اځکه چه هر پیغمبر د خپل قوم پلار وے یا پیغے خپلے لونی وړ ښووله لیکن په شرط د اسلام یا په هغه دین کښے نکاح د کافرو د مسلمانے سره روا وه اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۷۱﴾ که تاسے کوونکی یاست دوے کار چه ښه درته وایم لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ قسم دے په عمر سره ستا اے رسوله چه بیشکه دوے لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ خامخا پخپله مستی یا گمراهے کښے ـ د ویره غفلته څخه يَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾ حیران او سرگردان وو فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ نو ونیول اولاندی کړه دوی اواز مُشْرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ په وخت د اشراق کښے په دے شان سره چه جبرائیل خپل وزر دوے تر بنار ولاندے کړی او تراسما نه پورے یے یووړے بیا یے راښکور کړے لکه چه وایي جَعَلْنَا عَالِيَهَا نو موږ وګرځولے سر بیره طرف دوے بنار وَسَافِلَهَا لاندے طرف د هغو یعنے لاندے یے دبا ندے ـ او د باندے یے لاندی سوے وَ اَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ او وه اوسره ولے موږ پر دوی باندے حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۷۴﴾ تیږے د ترتکا نو څخه چه پرهره یوه به د خپل منځ جوړ نوم لیکلے وو اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے هلاکولو کښے د لوط د قوم لَاٰيٰتٍ لَّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴿۷۵﴾ خامخا ډیرے نښے دے د عبرت اختیلو د پاره وزیرکانو چه تامل او فکر کښے وکړے او بیا عبرت په واخلے وَاِنَّهَا او بیشکه دا لښے چه دے د وے بنار د لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ خامخا په چلند ه لار کښے دی چه شپه او ورځ قائمے پر تیریږے اوحال یے وینی اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے هلاکښے یا دوشو کارو کښے لَاٰيَةً لَّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۷﴾ خامخا غټه نښه ده د قدرت ربانی د پاره د هغے چا چه ایمان راوړے دے

دمؤمنانو وَاِنْ كَانَ اوبیشکه چه وه اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ اصحب دایکه یعنے قوم دشعیبؑ
ظٰلِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ خا نخا ظالمان دکفر په سبب سره فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ مر نوانتقام واخستے
مور دوے ځخه وَاِنَّهُمَا اوبیشکه دابنارونه دقوم دلوطؑ اود شعیبؑ چه دے
لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۹﴾ خا نخا په لویه اوښکاره لارکښے دی هرځوك پرتیریږی اود شپے
اوورځے یے کورے وَلَقَدْ كَذَّبَ او خا نخا په تحقیق سره تکذیب کړے وه اَصْحٰبُ
الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۸۰﴾ اصحاب دحجر رسولانو یعنے قوم دصالحؑ اوهر کله چه تکذیب
دیوه رسول تکذیب دټولوروه نوځکه جمع یاده سوه اوحجر یوه کنده ده په مابین
کښے دشام اومدینے اواصحاب ثمود دے وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا اوورکړے وے مور دوے
ته معجزے خپلے چه خروج دناقے وود تیږے څخه اوبیا فی الحال لنګیدل وه دے او
بیا دوه سره شیدے ورکول وه چه دتما موثمود یانو به بسر کیدلے اوپورته کیدل
دارنګه وه دکوهه دے په وار کښے فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾ نو دوے وود دے معجزے
څخه مخ گرځونکی وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ اودوے وو چه کندل اوټوټل بریښے مِنَ الْجِبَالِ
بُيُوْتًا دغرو څخه کوټی اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ په دا سے حال کښے چه په امان به وودوے دنږدے
څخه دوے کوتو اود سوے کولو څخه دغلو فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ نو دوے راونیول اولاندے
کړل مُشْرِقِيْنَ اواز مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾ په دا سے حال کښے چه دوے داخلیدل په وخت دصبا
کښے دیکشنبی په ورځ دجبرائیل په چیغه سره فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ نو دفعه نه کړے د
دوے څخه هیڅ عذاب مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۴﴾ هغه چه دوے وه چه کسب یے کاوو دهغه
لکه مال اومتاع اوکلکی مخلی ثمینی یعنے دایو بے هم پکار نه سو وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ اومور نه دے پیدا کړے دا اسمانونه اوځمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ اوهر هغه چه
په مابین کښے دے دوارودے اِلَّا بِالْحَقِّ مگر په رښتیا سره اوپه حکمت سره
وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ اوبیشکه قیامت چه دے خامخا راتلونکے دے نوستا
انتقام به خدای دمکذبانو څخه ستاوخط فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿۸۵﴾ نوتیرسه

او عفوه وکړه ودوے ته په ښه عفوه سره یعنې دخپلو حقوقو انتقام مښځنی اخله اوچاوپلے دے چه داحکم منسوخ سوے دے په ۱ ایت دسیف سره اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستاچه دے هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۶﴾ هم دے پیدا کونکی دی ستاسے اردانا دے په حال ستاسے که ته پرے اوکه دوسے دی روایت دے چه هرکله یوه روح ومکے ته اووتۀ کاروانه دقریشو راننوتل سره دا قسا مودرختو اوغلو نو اصحابو وویل چه که دامالونه نر مونږ څخه واخے نو دا قوله به مونږ د خداے په لارکښے ورکړے واے اویاد رسولؐ په خاطر مُبَارَكٌ کښے دا سے راوګرځیده چه مؤمنان دا سے ویر وبنے دی اوکافران دا سے ویر ماړه دے اودے خبرے ویر خفګان وسره وستی نوناذل سو وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ اوخانخا مونږ درکړے دے تالره سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ اووه ۱ یتونه دهغه سورت چه غبرلږ دے چه فاتحه ده اودا حکه چه ۱ په هرلانځه کښے دوه واره لوستل کیږے اویاد اچه دوه واره نازل سوید یوواړ په مکه کښې اوبل واړ په مدینه کښے وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿۸۷﴾ اوبل مونږ درکړے دی هغه قرآن چه عظیم الشان دے اوداعطف دعامد ے لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ مه پورته کوه اووازے مه نیسه ته ستړګی خپلے اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ وهغه شی ته چه په معاش کړیدے مونږ په هغه سره اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ اصناف دوے لکه یهود اونصارے اومجوس اومشرکان یعنې دامالونه مړله نسبت وهغه شی ته چه وتاته درکړه سوے دی ویرحقیر دے نو ته وهغه ته دسره میلان مه کوه وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ اوته خفګان مه کوه پردے مؤمنانو یعنې پرناداړے ددوے وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ اوکښته کړه خپل وښر یعنې نرمی اوتواضع اوخوش خوئی کوه لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ دمؤمنانو سره وَقُلْ اِنِّيْۤ اووایه ته ودے اصنافو ته دکفاروچه بیشکه زه چه یم اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۹﴾ هم دانږه یم بنکاره بیرونکے ستاسے دا سے چه خداے ویلی دے چه که ایمان نه راوړی دوی نوداسے عذاب به مونږ پرنازل کړو كَمَاۤ اَنْزَلْنَا لکه چه نازل کړے وو مونږ عذاب

عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ ﴿۹۰﴾ الَّذِينَ پرهغو دوولسو تنو قسمت کونکو باندې جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ ﴿۹۱﴾
چه کړے وو دوے قرآن پارچے پارچے یعنی چا به په سحر بالے اوچا په شعر اوچا
په کهانت اوچا په دروغ اوچا په قصوره پخوانیو اوداسے دولس تنه وه چه ولید
بن مغیره مقرر کړے وه د حج په موسم کښے چه په دوولسو لارو کښې به کښینا ستل
اوحاجیان به یے بدبڼه کول دایمان راوړ لوڅخه پر رسولؐ باندے اوورته ویل
به یے چه ساحر اوشاعر اوکاهن دے اوقرآن به یے په سحر اوشعر سره بالله بیا دا
قوله دبدر په ورځ په بدر نکی سړی هلاك سول فَوَرَبِّكَ نو قسم دے په رب ستا
لَنَسْئَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۹۲﴾ چه خامخا به موږ د اقوالو پوښتنه عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۹۳﴾
دهغه قسمت یا نسبت د سخڼو چه دوے وه چه کاوے به یے رواياتو دی چه
رسولؐ به تربیت وروسته دے کاله د اخلاقو توحید ته پټ راباللو خوف څخه د
کفارو بیا تردو کالو وروسته نازل سو فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ نو ښکاره اوپه جهر
کړه اے رسوله هغه اوامر اونواهی چه ته په مأموره کیږے وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿۹۴﴾
اوڅنګ وکړه د مشرکانو اوده دوے ویلو ته هیڅ قدر التفات مه کوه إِنَّا بیشکه
موږ چه يَكْفَيْنَكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿۹۵﴾ الَّذِينَ کفایت کړیدی اوبس سوی یوموږ
ستاد طرف د هغو پڅوکسانو مسخرې کونکو په تاپورے چه ولید بن مغیره اوعاص بن
وائل اواسود بن عبد المطلب اواسود بن یغوث اوحارث بن قیس دے چه هریو
بیا په ناکاره مرض گرفتاره کړه خدائے اومرداره رسول يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ چه دوی
پیدا کوے اوشریك نیسی د خدائے سړی چه معبود برحق دے إِلَٰهًا آخَرَ بل خدائے
په باطل سره فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿۹۶﴾ نو څرګند دے چه دوے به معلوم کړی عاقبت دد ے
چل کار دجزا په وخت کښے وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ اوخامخا په تحقیق سره موږ پوهیږو
چه بیشکه ته چه يے يَضِيقُ صَدْرُكَ تنګی راوړی سینه ستا بِمَا يَقُولُونَ ﴿۹۷﴾ په
سبب سره د هغو خبرو چه دا کفار یے وایی یعنی چه خدای لره شریك جوړ لے

اوقران ته شعر وایی او په تاپورے مسخره کړے فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ نو مدام تسبیح وایه وحمده سره دخپل رب وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ (۹۸) او اوسه مدام د سجدهٔ کونکو څخه یعنی په ذکر او په لمانځه مدام مشغول اوسه چه راکښل دبار د بلا د رته آسان سی په مشاهدهٔ دخپل محبوب کښے وَاعْبُدْ رَبَّكَ اوعبادت دخپل رب کوه حَتّٰى تَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ (۹۹) څه راځی تا لره مرګ حاصل اچه ورونکے او ګ عبادته لاس مه اخله

سُورَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّة

اَبْيَاؤُهَا (۱۲۸) رُكُوعُهَا (۱۶)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه هرکله به معاند انو پرطریقه دتکذیب او د مسخره سره وسرسول ته ویل چه هغه قیامت اوعذاب چه ته مونږ هیشه په بیرګو هغه اوس ولے نه راځی شر یے راوله چه مونږ یے ګورو فرنازل سو اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ را ځلے فرمان دخدائے په قیامت یا په عذاب سره دکفارو یعنی وخت د ظهور یے را نژدے سو فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ نو په تلوار سره یے مه غواړی مکی ترخپل وخت نو بیا به دوے ویل چه اول به عذاب نه وے اوګه وی نو نږ مونږ خدایان خوسته مونږ به څنی خلاص کړی نو ځکه وائی چه سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۱) پاکی ده ده لره اوبلند شانه دی د هغه څخه چه دوے په ده پوری شریکان نیسی يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ را لیږ لے پی دے ملایکے بِالرُّوْحِ په وحی یا په قرآن سره اوودے دوا رو ته ځکه روح ویل کیږی چه هر یو د دین په حق کښے داسے دی لکه روح د بدن په حق کښے اویا هغه شے رونه چه په جهل سره مړه دے هغه په دوے سره ژوندے کیږی مِنْ اَمْرِهٖ پخپل امر سره عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ پرهغه چا چه اراده یے وسی د هغه د پیغمبر کولو مِنْ عِبَادِهٖۤ د خپلو بندګانو څخه او بیاوایه و پیغمبرانو ته اَنْ اَنْذِرُوْۤا اے چه بیرګو د اخلاصِ د عُدَ ابه څخه او بیایے په دے سره هم اګاه کړی چه اَنَّهٗ بیشکه شان دادے لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا چه فسته لایق د عبادت هیڅوک مګر هم دا زه یم چه خالق او رازق یعنی د تما مو مخلوقا تو فَاتَّقُوْنِ (۲) نو د

ما څخه وبیریږي او دبل چا عبادت مه کوی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ ده پیدا کړی دی اسمانونه
وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ اوځمکه په حق سره تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝۳ بلند شانه دے دهغه څخه
چه دوے شریکان ورپوری نیسی روایت دے چه هرکله اُبَیّ بن خلف یووړست
هډوکی دبنی آدم وړسول ته راوړے اوورته وے ویل چه دا به بیرته څرنګه
ژوندے کړی نو نازل سو خَلَقَ الْاِنْسَانَ ده پیدا کړیدے بنی آدم مِنْ نُّطْفَةٍ ومنی
څخه چه نه حس لری اونه فهم او نه تشکل قبلوی او نه صنع وجهته دنړی اوددے
سره ده بیا یو عجیبه شکل څنی جوړ کړی او ادراک اوفکر اوعقل اوفهم پے پکښے
کښیښوے فَاِذَا هُوَ نوناګاه دے چه وو خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝۴ جګړه کونکی وو بنکاره وَ
الْاَنْعَامَ اوداانه قسمه چارپایان خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ ده تاسے لره پیدا کړے دے اویا
دالفظ دلَكُمْ دما بعد سره تعلق لره یعنی سته تاسے لره فِيْهَا دِفْءٌ پوه دے
انفاموکښی اسباب دځان ساتلو یعنی څخه لکه شړے اوکوټ اوجرابے او
داسے نور وپرشیان وَّمَنَافِعُ اونور ے ګټے ګټے لکه لښکیدل او سپرېدل
اوکرایه کړل اولوښل او سودا کړے کول اوداسے نور وپرکارونه سوه وَمِنْهَا
تَاْكُلُوْنَ ۝۵ اوډهډغه چارپایانو څخه تاسے خوری لکه غوښه اووازګه اوغوری
اوکوچی اومستی اوشیدے اوشلمبی اوقرت اوپنیر اوپوخه اوخریرے وَلَكُمْ فِيْهَا
جَمَالٌ اوسته تاسے لره په دے چارپایانو کښے زیب اوزینت حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ په هغه
وخت کښے چه تاسے یے بیرته راولے د څرولو څخه دورځی پاڼ اخرکښے وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ۝۶
اوپه هغه وخت کښے چه دکوره څخه یے تاسے د څرولو پاره وباسے دورځی په اول کښے
اوراتله یے مقدم کړه "محکم کړه" پرتلو باندے دے وجهې چه دصحرا څخه مړه ګیدی
او دګی غولانځی کوسته راځی نو په دے کښے ترتللو زینت ویږدے وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ
اووړے داچارپایان دراته باروونه ستاسے اِلٰى بَلَدٍ هغه بنارته لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ
چه تاسے نه سے کید لاے رسید ونکے وهغه بنارته دوے باروسره اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ؕ

مگر په کلفت او په مشقت دا بدا نوٗ سره او یا مراد دا ثقالو څخه خپل ابدان دے
او خطاب د اهل د مکے ته دے چه تاسے خو مدام د شامه او د یمنه او د نورو
او ظاهرٌ څخه اونور هر څه اسباب پرا و بنا نور راوړے او که دا نه وے نو دا څیزونه
به تاسے په ویر مشقت راوړے وے اِنَّ رَبَّكُمْ بیشکه ستاسے رب چه دے
لَرَءُوْفٌ خاخا ګهر بانه دے چه دا یے پیدا کړیدے ستاسے ونفعی ته رَّحِيْمٌ ۝۷
رحم کونکے دے چه پرتاسے یے مشقت کم کړیدے وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ او
ده پیدا کړے دی اسان او ګټور اوخره لِتَرْكَبُوْهَا دوے دپاره چه تاسے پرد وے
سپرے وے وَزِيْنَةً ط او بنایست کوے په دو سره په بنایست کولو سره وَيَخْلُقُ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۸ او پیدا کړے دے هغه شیان چه وتاسے نه معلوم نه دے لکه خزندګان
او پرندګان او موا شے او نور مخلوقات دجنت او د دوزخ وَعَلَى اللّٰهِ او پرخداے دے
لیکن فضلًا نه وجوبًا قَصْدُ السَّبِيْلِ بیا نول د میانه لارے چه رسونکی ده وحق ته
وَمِنْهَا جَآئِرٌ ط او بعض د دے څخه چه خلاف پرسروان دے چپه اوکږه تللے ده د
مقصود څخه لکه د کفر او د شرک او هوا او د بدعت لاسے وَلَوْ شَآءَ اوکه ـــ اراده
سوے واے د ده لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝۹ نو خاخا به یے سمه لارو تاسے قبولوته بُولے
واے یعنے توفیق د ایمان راو رلو به یے وتولوته د رکړے واے هُوَ الَّذِيْ دے هغه
قادر مطلق دے اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً چه ده راایږولے دے د طرفه څخه د اسمان دا اوږے
او به لَكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ چه دے تاسے لره دے او نو څخه څښل او یا دا لَكُمْ د هغه
تیرانزل پسره تعلق نیسی وَمِنْهُ شَجَرٌ او د هغه غه او نو څخه وَفِيْهِ هم ده او مراد دے
وني څخه هغه وابنه دے چه د ونګر یے خورے فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ۝۱۰ چه په هغه ګیاه
کښے تاسے خپل د ونګر څروے يُنْۢبِتُ لَكُمْ دے وتاسے ته زرغونه کوے بِهِ الزَّرْعَ
په دے او بوسره کښت دپاره د دوښی ستاسے وَالزَّيْتُوْنَ او النَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ
او زیتون او خرما ګانے او د انګورو تاکونه وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ط او بعض د هر

قسم میوو څخه او من تبعیضیه یے ځکه راوړے چه تولے میوے په دنیا کښے نه سے پیدا کیدا ے غیږد جنت څخه اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً بیشکه چه په دے نږ رغونه کولو کښے دوغو تیږو شیانو څخا لویه نښه ده پر حکمت او پر قدرت الٰهی باند ے لِّقَوْمٍ یَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۱﴾ دهغه قوم دپاره چه فکر کوے وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ اوډه مسخر کړیدے تاسے لره شپه یعنی دپاره د نفعے اخستلو ستاسے چه خوب اوارام پکښے کوے وَالنَّهَارَ لا اوورځ چه معاش اوکسب پکښے کوے وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او لمر او سپوږے دواړه هم چه په ورځ او په شپه کښے تاسے تر نا کوے اوکښتونه اومیوے په یخیږے او حساب دمیاشتو او کلونځے معلومیږے وَالنُّجُوْمُ او ستورے چه دے مُسَخَّرٰتٍۢ بِاَمْرِهٖ د مسخر کړه سوے دی حکم په فرمان دده سره چه متصرف مطلق دے اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ بیشکه چه په دے تصرفاتو کښے خامخا ډیرے نښے دے دوحدانیت دصانع حکیم لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۲﴾ دهغه قوم دپاره چه عقل چلوے په احوال دده مذکورا تو کښے وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ فِی الْاَرْضِ اونور هغه شیان چه تاسے ته یے په ځمکه کښے پیدا کړے دے یعنی هغه یے هم مسخر کړیدے دنفع ستاسے دپاره لکه حیوانات او اشجار او اثمار او مطاعم او مشارب اوملابس او مراکب اومنالح چه ستاسے حاجت ورته پیښیږی مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ د په دے حال کښے چه دهغه رنګونه اوشکلونه اوقسمونه سره مخالف دے اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً بیشکه چه په دے مخلوقاتو کښے خامخا غته نښه ده پر وحدانیت اوپر قدرت دحکیم مطلق باندے لِّقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ دهغه قوم دپاره چه پند په اخلے وَهُوَ الَّذِیْ او دے هغه قادر مطلق دے سَخَّرَ الْبَحْرَ چه مسخر کړیدے ده سیند اودریاب چه هم بیړی اوجهازونه دخلو منافعو دپاره پکښے گرځوے اوبل دماهیانو نښکار پکښے کوے لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ دے دپاره چه تاسی وخوړی دده سیند اودریاب څخه یعنی دنښکار څخه ده لَحْمًا طَرِیًّا تازه غوښه وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ اوبل دے دپاره

چه تاسے راوباسے دوے دریاب څخه په غوته وهلوسره حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا کینی لکه ملغلرے اومرجان چه استعمالوے یے تاسے پنځے ستاسے دپاره دځان بنایسته کولو وتاسے ته بزګویا چه تاسے یے پخپله اغوندے وَتَرَى الْفُلْكَ اوبل داچه ته به دابیږے اوبجهازونه وینی مَوَاخِرَ فِيْهِ سړوان په دے دریاب کښے چه څیرے پخپله سینه سره دااوبه دوے دپاره چه تاسے پورے باسے و بعض مطالبوته ستاسی وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ او بل دے دپاره چه تاسے لټوی دفضله دده یعنے چه په دے بیږیو کښے اوجهازونه کښے تاسے سپیږیږے د دیرمال سره وسود اګرۍ ته اود خدای شکر کَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وبل داچه بنایے وتاسے ته چه شکروکاږے پرده نعمتود خدا چه پرتاسے یے پیرزدګړیدے وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ اوده غورځولے دی یعنے پیدا کړے یے دی په دے ځمکه کښے رَوَاسِيَ میخونه کلك یعنی غروته په هغه وخت کښے چه داخدای پیدا کړه کُرَّةَ پرسره داوبو اوامکان داوسیدنے وربانګه نه ووځمکه چه شړقیده اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ دوے دپاره چه قرارم ودریږ پرځای چه تاسے نه شرقوے وَاَنْهٰرًا اوسودونه اوولے فِيْ پکښی پیدا کړے لکه نیل اوفرات اود جله اوجیحون اوسیحون اوداسے نورسړه دیر سره وَسُبُلًا اولاره یے پکښی پیدا کړے دهرځای څخه وبل ځای ته لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ بنایے چه تاسے لاره پیدا کړے وخپلومنازلوته اومقاصدوته وَعَلٰمٰتٍ او نښے یے پیدا کړے دی دپاره دلارم وهونکوچه لار په معلوم لکه منارګانو اوغرونه اوځنګلونه اوداسے نورسړه دیر سره وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ او په ستورسړه واقریش لارم پیدا کړے دشپی په سیند اوپه دواګو کښے په هغه وخت کښی چه په سړه اګرے یسی ځکه قطب اوګروپ اونورهر او پیرونه اوتلے او داسے نور اَفَمَنْ يَّخْلُقُ ایا نو هغه څوك چه داقول مخلوق پیدا کوے چه مخکی ذکر سړه كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ط داسے دی لکه هغه څوك چه صحیح شی نه سی پیدا کولای لکه دوے خدایان

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ ایا نو تاسے پند نه اخلے چه خالق بیل او جلاکړے د غیر خالق نه شی
وَاِنْ تَعُدُّوْا اوکه تاسے دوے اراده وکړے چه وشمیری نِعْمَتَ اللّٰهِ هغه نعمتونه د
خدائے چه پرتاسے ہے پیژنه وکړیدے لَا تُحْصُوْهَا نو هیڅکله به ہے ونه شمیرے او هر
کله چه نعمتونه نه سی شمیرلے نو شکر به ہے څنګه ادا کړے سره د قصور اِنَّ
اللّٰهَ بیشکه چه خدائے لَغَفُوْرٌ خامخا بخښونکے دے و مقصرانو ته د شکر دده رَّحِيْمٌ ﴿۱۸﴾
مهربانه دے چه په دے تقصیر سره نعمت نه څنی بندوی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخدائے
پوهیږی مَا تُسِرُّوْنَ په هغه عقائدو سره چه تاسے پټوے وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۱۹﴾ او
په هغه اعمالو سره چه تاسے ہے بنکاره کوے وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ اوهر چه هغه باطل
خدایان دے چه دا د مکے اهل ہے په خدایے سره بولے او سجدے ورته کوے مِنْ
دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدایه لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا دوی نه سی پیدا کولای هیڅ شی وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۲۰﴾
اوحال داچه دوے لاهم پیدا کړه سویدے اوهر څوك چه هم مخلوق اوهم ممکن اوهم
محتاج وے هغه کله لایق کیدلے سے دوے چه شریك سی د هغه چا چه هم خالق او
هم واجب الوجود اوهم غنی وی بلکه دوے سره د مخلوقیت اَمْوَاتٌ مړه دے
غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ نه ژوندۍ حکه چه نه څه وینی او نه څه وایی اونه څه اوری وَمَا
يَشْعُرُوْنَ ۙ اونه په دے پوهیږی اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۲۱﴾ چه کله به دوے راوپاڅیږی ع ۲ ۱۲ ۸
یعنے عابدان ہے او څوك چه نه حیوة لری اونه شعور لرے د اسے چه په احوالو
خپلو عابدانو واقف سے هغه کله لایق د معبودیت وے نو په دے تیرو خبرو
سره دا ثابته سوه چه لایق د معبودیت بل هیڅوك نه دے نو اِلٰهُكُمْ معبود
ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ یگانه خدائے دی یعنے یوازے بے شریکه فَالَّذِيْنَ
نو هرچه هغه کسان دے لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه باور نه لرے پر ورځ د قیامت
قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ زړونه دوے نا اشنا او منکر دی د وحدانیت څخه وخدائے وَّهُمْ
مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۲۲﴾ اودوے کبر او سرکشی کونکے دے د متابعت څخه د رسول یا د ایمان

د قبلو لوځخه لا جَرَمَ ـ شتیا او واقعے دا خبره ده چه اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ بیشکه خدائے پوهیږے مَا یُسِرُّوْنَ په هغه مکاوفریب د رسول سره چه دوے یے پټوے وَمَا یُعْلِنُوْنَ ط او په هغه جنك او جګړه سره چه بنکاره کوے یے دوے د هغه سره اِنَّهٗ بیشکه چه خدائے لَا یُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِیْنَ ﴿۲۳﴾ نه خوښوے متکبران او سرکشان د وحدانیت ځخه د خدائے او د تصدیق ځخه د رسول وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ او په هغه وخت کښے چه دوے متکبرانو ته وویل سے مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ـ د څه شے ښکته لیږلے دے رب ستاسے پر رسول باندے قَالُوْٓا نو دوے وایے په جواب کښے چه اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۲۴﴾ خوشے قصے دے د پخوانیو خلګو نو رب العزت وایے چه داویل کوے دوے لِیَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ دده د پاڅه چه دوے په شا اخلے پیتی د خپلو ګناهونو کَامِلَةً یَّوْمَ الْقِیٰمَةِ ـ د قیامت په ورځ پوره وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِیْنَ او هغه اسے د اخلے پیتی د ګناهونو د هغو کسانو یُضِلُّوْنَهُمْ بِغَیْرِ عِلْمٍ ط چه ګمراه کړے یے دے په ناپوهے سره اَلَا سَآءَ وارے چه بد دے مَا یَزِرُوْنَ ﴿۲۵﴾ هغه خپل اوږے پیتی چه په شاپے دوے اخلے روایت دے چه نمرود په بابل کښے پنځه زره ګزه یا دوه فرسخه مانۍ هسکه کړے وه چه اسمان ته خیژم او له خدائے سره مقدمه کوم ناګاه خدائے باد راولیږه او دا مانۍ یے د بیخه ړاوغورځوله او قوم یے قوله تر لاندې سوا وهلاك سوا و پرده خدائے غوماشه مسلط کړه چه د پزې ځخه یے د مغزونه نتوته او هلته بیا نیم وچ سوا وهغه شروندے نیم یے څلور سوه کاله په مغزو کښے وو او دده ماغزه به یے خوړل او په دے مروده کښے بریدے سره هیشه چه کومه شے ټکول کیدله نو هلته به یے ساعت تیریدے او بیا په ډیره بے خونده سره یے هلاك کړه لکه چه وایے قَدْ مَكَرَ الَّذِیْنَ په تحقیق سره مکر کړے وو هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخکے تیرسوی دے تر دے اهل د مکے په اراده کښے د تکذیب د خپلو پیغمبرانو لکه نمرود یا ابن کنعان فَاَتَى اللّٰهُ بُنْیَانَهُمْ نو راغلے خدائے یعنے حکم دده د اباد یوته د میندو دوے د خرابولو د پاڅه مِّنَ الْقَوَاعِدِ د طرفه ځخه د تهدا بود

دبوالو څخه عَلَيْهِمُ السَّقْفُ نو راولویدے پرو دے باندے بام د دوے د کوتو مِنْ فَوْقِهِمْ د
پاسه پرسرو د دوے وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ او راغلے دوی لره عذاب مِنْ حَيْثُ د
دا سے طرفه څخه لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ چه دوے نه پوهیدل یعنے کښته د ځمکے د څخه چا چه
اباد ے یے تولے خرابے سولے ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ بیا د قیامت په ورځ يُخْزِيْهِمْ وبه
یے شرمو ے یا به یے په عذاب کړے په اوږده لکه چه په دنیا کښے یے په عذاب
کړی وه د ما ښیو او د نورو میندو په نړولو سره او د غو ماشے په مسلط کولو سره
وَيَقُوْلُ اووبه وایے ورته خدائے اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چه چیرے دی یعنے اوس څه
سول هغه زما شریکان ستاسے په زعم سره كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ چه تاسے واست په
دنیا کښے چه مخالفت به موکاوے د رسول او د مؤمنانو سره فِيْهِمْ ط په باب د دے
شریکانو کښے قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ نو وبه وایے هغه کسان چه علم ورکړه ورکړه
سوے چه انبیاء او علماء دے چه دوے به یے د توحید ته بلل یا ملائکے اِنَّ الْخِزْيَ
الْيَوْمَ چه بیشکه رسوائی اوخواری چه ده نن وړځ وَالسُّوْٓءَ او بد ے یعنے عذاب چه دے
عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۷﴾ الَّذِيْنَ پرهغه کافرانو د تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چه وفاتوے دوی
یعنی قبضوے ارواح د دوے ملائکی ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ص په داسے حال کښے چه ظلم
کونکے وے دوے پرخپلو ځانونو باندے په کفر سره اوبیا چه مړلے د وینی فَاَلْقَوُا السَّلَمَ
نو د دوے به راوړاندے کړے صلح او اقرار به وکړے په وحدانیت اوس بوبښت سره او
انکار به وکړے د هرے بدے څخه نو وبه وایے مَا كُنَّا نَعْمَلُ نه وو موږ چه عمل به موکاوے
مِنْ سُوْٓءٍ د هیڅ قسم بد نه د کفر او نه د ظلم چه شرک وو او نه د معصیت نو رب العزت
به ورته وایے بَلٰٓى چه ولے نه کاوے بلکه کاوے تاسے کفر او معصیت او اوس د رواغ
وایاست اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بیشکه چه خدائے بنه دانا دے بِمَا كُنْتُمْ په هغه کار وسره
چه تاسے واست په دنیا کښے تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ چه کول به موکاو فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ نو ننوزی
اوس د دوزخ په دروازو کښے یا په هغه د نکا تردے دوزخ چه تیار کړه سوے دی تاسے

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ په دا سے حال کښے چه هیشه اوسی په هغه کښی فَلَبِئْسَ نو خامخا بد دے مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۲۹﴾ ځای د استوګنی د متکبرانو د اور دوزخ وَقِيْلَ او چه ووایل سے لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا وهغو کسانو ته چه ځان یې ساتلے دے د شرک څخه چه مؤمنان دے مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ چه څه شے دے چه رب ستاسو لیږلے دے قَالُوْا خَيْرًا ؕ نو دوے وایی چه خیر زموږ یې لیږلے دے یعنی قرآن چه جامع دے د قولو انواعو د خیرونو او برکت او دنیکی هم صورةً او هم معنیً هم په دنیا اوهم په آخرت کښی لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مقرر دے هغو کسانو لره چه نیکی یې کړیده هم قولے اوهم فعلی او هم مالے یا چه ویلے یې ده کلمه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا په دے دنیا کښے حَسَنَةٌ ؕ نیکی د طرفه څخه د خدائے په عوض کښے د نیکی دوه او نیکی د خلقو په امان کیدل دے د سړو د مال د ودے اوعزت اونصرت او فتح ده پر اعداؤ بانده وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ اوخامخا هغه جهان چه دے یعنی هغه ثواب اوجزا یې چه دوی ته به ورکول کیږي خَيْرٌ ؕ او برغوړه دے توږه جزاء، دوے د دنیا وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۰﴾ اوخامخا ښه دے ځای د استوګنی د پرهیزګارانو جنت اوهغه دارد متقیانو چه دے جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونه دائمه اقامت به وے يَّدْخُلُوْنَهَا چه داخل به سی دوے په هغه باغونو کښے تَجْرِيْ چه بهیږي به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د دوو نیاد میلو دوۍ څلور سره فتمه وله لَهُمْ فِيْهَا چه وي به دوے لره په دے باغونو کښے مَا يَشَآءُوْنَ ؕ هر هغه شی چه اراده یې وکړي دوے د انواعو مشتهیا تو ور د هغوی مشتهیا نو سره دوے ښکلی كَذٰلِكَ په شان د دوه جزا يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چه قبضه یې کړي روح ملایکو پاک طَيِّبِيْنَ ۙ پاک وظلم څخه پرځپل ځان په کفر او په معاصیو سره یا خو ځانه له د ملایکو په زیږه يَقُوْلُوْنَ چه وایی به د املایکو دوۍ ته په وخت د نزع د روح کښے سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ چه سلام دی وی دخدا پرتاسے اوبیا په آخرت کښے به ورته وایی ادْخُلُوا الْجَنَّةَ ننوزے په دے جنت

کښے چه تاسے لره مقرر سوے دی بِمَا كُنْتُمْ په سبب د هغو بیکوسے چه واست
تاسے په دنیا کښے تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾ چه کوله به مو هَلْ يَنْظُرُوْنَ ایا انتظار کوے د کفار
یعنی نه یے کوے دهیڅ شی اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ مگر دے خبرے چه راشے دوے لره
ملایکے د پاره د قبض کولو د روحانو اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ط یا چه راشے د رب لره فرمان د
رب ستا یعنی عذاب بیخکن یا قیامت كَذٰلِكَ په مثل د دغه شرك او تکذیب د دوے
فَعَلَ الَّذِيْنَ فعل کړی د هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه تر دوے مخکے تیر سوے وه لکه عاد
او ثمود او مؤتفکات او دا سے نور د دیر سوو نوهغو ته د رسیدلو هر هغه چه د رسیده
وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ اوظلم نه وو کړے دے پردوے خدای دا چه هلاك یے کړه
وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن دوے وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ چه پرخپلو ځانونو به یے ظلم کاوے په
کفر او په معاصیو سره فَاَصَابَهُمْ نو د رسیدلو دوے ته سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا اجزا د هغه
بدیو چه دوے کړے وی وَحَاقَ بِهِمْ ثمّا اونازل یعنی محیط سو پر دوے هغه موعود عذاب ع ۴
كَانُوْا بِهٖ چه دوے وه چه په هغه عذاب پورے يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾ مسخرے به یے کولے ع ۹
وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اوویل به هغه کسانو چه شرك یے اختیار کړے وو لَوْ شَآءَ اللّٰهُ ۱۰
که د خدای اراده وای مَا عَبَدْنَا نو عبادت به نه وو کړے مونږ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ
غیر د دهیڅ شی نَحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا نه مونږ او نه پلرونه مونږ وَلَا حَرَّمْنَا اونه به
واے حرام کړے مونږ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ط بیله حکمه د دهیڅ شی نه بحیره او نه
سائبه او نه وصیله او نه حام كَذٰلِكَ په مثل د کفر د اوو د مکے د خلکو فَعَلَ الَّذِيْنَ کار
کړے وو هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخکے تر دوے تیر سوے وو چه شرك او تکذیب او تحریم
د حلال او تحلیل د حرام به یے کاوے فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ ایا سته پر رسولانو یعنی هیڅ
د رباندے سته اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۵﴾ مگر د اسے پیغام رسول دے چه حق لاره بنکاره
سره ته وَلَقَدْ بَعَثْنَا اوخامخا په تحقیق سره لیږلے وه مونږ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا
په هر قوم کښے یو پیغمبر لکه ته چه وے ته رالیږلے یے اوهر رسول به مأمور

وو په دے سره چه وخپل قوم ته وویایه اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ دا چه عبادت کوے یوازے خدائے وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ اوځان ساتے دعبادت څخه دطاغوت چه شیطان دے فَمِنْهُمْ مَّنْ نو بعضے ددوے څخه هغه څوك وو هَدَى اللّٰهُ چه خدائے سمه لار ورو وښودله اود ایمان توفیق یے ورکړے وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض دوے څخه هغه څوك وو حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ط چه واجب سوه پرهغه گمراهے په خدلان الٰهی سره فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ نو وگرځے اے مشرکانو په ځمکه کښے فَانْظُرُوْا نو وگورئ په نظر د عبرت سره كَيْفَ كَانَ چه څرنگه وو عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۶﴾ خاتمه د تکذیب کونکو د عاد یا نو ثمود یا نو اود اسے نور وو پر ان تَحْرِصْ که تر وو پرحرص اوکوښښ وکړے اے زما رسوله عَلٰى هُدٰىهُمْ پرلارې ره موندلو دوے مشرکانو فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدائے لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ سمه لار نه بنیي وهغه چا ته چه گمراه کړے یے وَمَا لَهُمْ اونه به وے د دے گمراهانو تَّنْ نَّصِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ هیڅوك د مدګار انو یار انو نو څخه د ترڅ ایت دے چه دیوه مسلمان پریوه کافر باندے د قرض وو نو دے مسلمان د قرض غوښتو په وخت کښې پیره کار پورے وویل چه قسم دے په هغه خدائے چه پس د مرګه یے د ملاقات اُمید واریم نو دے کافر ورته وویل چه ته پس د مرګه لاد څرونډ اُمید لرے نو دے وویل چه هو لرم یے نو بیا دے کافر په سخت قسمونه وکړل چه پس د مرګه به بیا هیڅوك ژوندے نه سے نو نازل سو وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ او دوۍ قسمونه کوے په خدائے سره جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لا په هغه سخت غلیظو قسمونو چې لوسره لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ چه څرونډے به نه کړے خدائے بیا مَنْ يَّمُوْتُ ط هغه څوك چه پریوار مړسے نو رب العزت وایي چه بَلٰى لے ولی به څرونډے نه کړے بلکه ژوندے به یے کړے ځکه چه خدائے دے دیرم ژوند وعدې کړیدې وَعْدًا عَلَيْهِ په وعدې کولو سره دا سے وعدې چه لازم مدګرځیدې وه پرځان ترسره کول دوۍ وعدے حَقًّا وعده رشتینې چه هیڅ شك پکښے نسته وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ اولیکن زیات خلك چه دي لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ دوی نه پوهیږے په دے سره اود اخلك چه بیا څرونډے

کوے به یې خدای غرض ځنی دا دے لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يوڅه دپاره چه بیان او
بنکاره کړے خدای وڅه ته هغه بعث او حشر يَخْتَلِفُونَ فِيهِ چه دوٴ په هغه کښې اختلاف
کوے وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا او بل دے دپاره چه خدآ معلوم کړے هغه کسان چه
کافران سوے دی أَنَّهُمْ دا خبره چه بیشکه دوے كَانُوا كَاذِبِينَ (۳۹) وه دوے دروانجن
په دے انکار کښې د قیامت دراتلو او دا بعث او حشر هیڅ سخت نه دے پر موږ ځکه
چه إِنَّمَا قَوْلُنَا بیشکه هم داخبره ده چه ویل زمونږ چه دے لِشَيْءٍ ویوه شي ته د
شیانو إِذَا أَرَدْنَاهُ په هغه وخت چه مونږ دهغه د پیدا کولو اراده وکړو أَنْ نَقُولَ لَهُ
کُنْ هم داقدر ده چه مونږ دهغه شي ته ووایو چه موجود سه فَيَكُونُ (۴۰) نو هغه فی
الحاله موجود سے روایت دے چه د مدینې ته د هجرت د ځکه د کفارو دلاسه پر
اصحابو ډیره سختی راغله نو بعضے ځنی وحبشو ته ولاړل او هلته په ډیر غربت
کښې وو نو پروردګار دفراخے وعدې ورسره وکړه نو نازل سو وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ
او هغه کسان چه وطن یې پرایښے دی په اذیتونو کولو سره د حق خدای چه راضی سی
مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا او روسته ترهغه چه ظلم پروکړه سو لَنُبَوِّئَنَّهُمْ خامخا به مونږ
ځای درکړو د دوے ته فِي الدُّنْيَا په دنیا کښې حَسَنَةً ښه ځای د استوګنې چه
مدینه منوره ده وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ او خامخا د هغه جهان اجر چه ډیر لوی
اوغوره دے د دنیا نه اجر لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ (۴۱) که د کفارو وے چه پوهیدلای چه
ومهاجرو ته خدای په دواړو جهانونو کښې غوره برخه درکړه نو دوے به هم ورسره
موافقت کړے وو په ایمان او په هجرت کښې یا که دوے مهاجرو ته څومره اجر معلوم
سوے وو نو لا ډیر کوښښ او صبر به یې کاوو الَّذِينَ صَبَرُوا هغه کسان چه صبر یې کړے دے
دخپل وطن ځخه او د کفارو د ایذاء باندے وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ او
خاص پر خپل رب يَتَوَكَّلُونَ (۴۲) توکل کوے په هرشی کښې روایت دے چه هر کله
قریشو وویل چه خدآ لږے ترډے کار چه رسول دده بشر دے بلکه ملایکه به

پے را لیږلے وہ کہ پے دا رسال ارادہ وے نو د پاڑہ درد قول دد ۓ نازل سو د ما
اَرْسَلْنَا او نہ وہ را لیږلے مو د مِنْ قَبْلِكَ مخکے ترتا اِلَّا رِجَالًا مکر سړے ستا پہ
شان د انسانانو نخہ نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ چہ پیغام بہ وکړے مو د وے تہ یعنی زمو د
پخوانے عادت ھم دا سے جاری دی چہ رسول بنی آدم را لیږو نہ ملایکہ فَسْـَٔلُوْٓا
اَهْلَ الذِّكْرِ نو پوښتی تاسے اہل کتاب یعنی عالمان د ۓ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۳﴾
کہ یاست تاسے چہ نہ پوھیږئ بخیلہ پہ د ے چہ بخوانے رسولان بہ تولہ آدمیان وہ
او د ارسولانو را لیږلے وہ مو د بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ط پہ بنکاړ معجزو او پہ کتابونو سره

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ اوس را لیږلے د ے مو د وتا تہ پند چہ قرآن د ے لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ
یو د ۓ د پاڑہ چہ تہ وخلګو تہ بیان کړے مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ ھغہ چہ را لیږل سو یے د وے
تہ پہ د ے قرآن کښے د او امر و د نواھیو نخہ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۴﴾ او بل د ی
د پارہ چہ بنایے چہ د وے فکر و کړی چہ د اکلام د مخلوق نہ د ے اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ ایا نو پہ
اماں سول ھغہ کسان مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ چہ مکرونہ او فریبونہ د بدۍ کړیدی د پا ره د
ھلا کولو د پیغمبرانو اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ د ے نخہ چہ خدائے وچو ے خدائے بِهِمُ
الْاَرْضَ پرد ے مخکہ د قارون پہ شان اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ یا د ے نخہ چہ راسے
ورلرہ عذاب د خدائے مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾ د ا سے طرفہ نخہ چہ د وی نہ پہ پوھیږے
او نہ پے د ھغہ طرفہ د را تلو طمع وے د لوط د قوم پہ شان اَوْ يَاْخُذَهُمْ یا د ے
نخہ چہ خدائے پے ونیسی فِيْ تَقَلُّبِهِمْ پہ وخت کښے د کرنډ یدلو د ۓ د سوداګری
د پارہ د یو ہ بنائے نخہ و بل بنائے تہ یا پہ وخت کښے د او بنتلو د یو ہ اوبخ نخہ و بل اوبخ
تہ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾ نو نہ د ے د وے عاجزہ کونکی د خدائے د عذاب د
را لیږلو نخہ پہ یو ہ وخت کښے ھم د ے د رو وخت نخہ اَوْ يَاْخُذَهُمْ یا د ے نخہ
چہ خدائے د وی ونیسی عَلٰى تَخَوُّفٍ دا ے علے تَنَاقُصٍ یعنی پہ د رو د رو کمولو سره
د د ے پہ د ے شان سره چہ یو ہ د رخ پے باغ د ھلے بلہ د رخ پے محکہ

بله ورځ یې نږدې سر بله ورځ یې خپل ځان مقابل دتیرایت چه من حیث لا یشعرون ۵ وه فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ نو بیشکه چه رب ستاسے خانخا مهربانه دے چه صبر کوے وخپلو بندګانو ته رَّحِيْمٌ ۴۷ رحم کونکے دے پرو دے چه د عذاب په لیږلو سره تلوار نه کوے پرو دے اَوَلَمْ يَرَوْا ایا نه ګوری دا کفار اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ وهر هغه شے نه چه خدائے پیدا کړیدے مِنْ شَيْءٍ دیوشی څخه چه حیوان اوکه نبات اوکه جماد دی يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ چه ګرځی ګرزی او اړخ پراړخ اوږی سیوري دهغه عَنِ الْيَمِيْنِ دښی طرفه څخه وَالشَّمَآئِلِ اوچپو طرفو څخه سُجَّدًا لِّلّٰهِ په داسی حال کښے چه سجده کونکی دے داسیوري وخدائے ته وَهُمْ دَاخِرُوْنَ ۴۸ اوحال داچه ډګه شیان خوارۍ لیل متواضع وی وحکم ته دخدائے وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ اوخاص وخدائے ته سجده کوے مَا فِي السَّمٰوٰتِ هرهغه چه په اسمانونکښے دی وَمَا فِي الْاَرْضِ اوهرهغه چه په ځمکه کښے دے مِنْ دَآبَّةٍ دګرزیدونکو څخه پرځمکه او ملایکی هم یعنے داقتول سجده کوے وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۴۹ اوحال داچه دوی کبر لوسر کښے نه کوے دوه څخه فائده :- صاحب تبیان ویلے دی چه سجده پردوه قسمه ده یوه سجده د عبادت ده اوهغه داده چه پرتندی اینبو لوسره وی پرځمکه باندے اود اسجده خاص ذوی العقول وده اوبله سجده بخضوع وتسخیر اوه ودتذلل اوله ودخضوع ده بیلا اینبو لو تنګ اود اسجده د غیر ذوی العقول ده يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ بیریږی دا ملایکی دخپله رب څخه مِّنْ فَوْقِهِمْ دفوق خپل یعنے دوے څخه بیریږی چه پاسه به عذاب راولیږے یا ځنی بیریږی په دا سے حال کښے چه دے پرد پاسه اوسیږی دے په قهر اوغلبه کښے وَيَفْعَلُوْنَ اودوے کوے مَا يُؤْمَرُوْنَ ۵۰ هرهغه کار چه په مأموره کیږی که ډکروے اوکه نورعبادت وے وَقَالَ اللّٰهُ اوخدائے ویلی دی لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ چه مه نیسی دوه خدایان اولفظ داثنین محض د تاکید دپاره دے اِنَّمَا هُوَ بیشکه هم داخبره ده چه خدائے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

معبود یگانه دے بے شریکه یعنے دالوهیت سرے وحدت لازم دے ځکه چه واحکم په اَدِلّه واصحه وُسره ثابت سوے چه الوهیت شرکت نه قبلوے لکه شاعر چه ویلے دے

زبانکی :- اَربا واحداً ام الف رب ادین اذا تقسمت الامور

عه ترکت اللّٰت والعزّٰی جمیعًا کذالك یفعل الرجل البصیر

فَاِیَّایَ نوځاص دما ځخه فَارْهَبُوْنِ (۵۱) نوراځخه وبیریږه اودا التفات دغیبته ځخه وتکلم ته دمبا لغی دپاره دے په بیر ولوکښے وَلَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ اوخاص هم ده لره دے طاعت اوعبادت واجب دملاکیت سره وَلَهُ الدِّیْنُ وَاصِبًا اوخاص هم ده لره دے طاعت اوعبادت واجب الاکنم چه هم دے معبود دے یوازے اَفَغَیْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ (۵۲) ایا نوغیرد خدا ے ځخه دبل چا ځخه بیریږے تاسے اوسره ددے چه ضَارّ اونافع هم دے لکه پخپله چه وَمَا بِکُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ اوهرهغه چه دتاسے ځخه دے یوقسم نعمت یعنے چه تاسے ته رسیلے دی پته یا بنکاره لوے یاکوچنے دینی یا دنیوی یا علمی یا عملی داخلی یاخارجی جلبی یا سلبی فَمِنَ اللّٰهِ نوداقوله دجانبه ځخه دخداے دی ثُمَّ اِذَا مَسَّکُمُ الضُّرُّ نوهغه ځخه چه بیا وتاسے تدور سیږے یونوع سختی لکه مرض یانا داری یا محطی یا غرق یا حرق یا یوه بله سختی دی فَاِلَیْهِ تَجْئَرُوْنَ (۵۳) نوخاص هم وده ته فریاد او زاری کوے ثُمَّ اِذَا کَشَفَ الضُّرَّ عَنْکُمْ نوردوسته ترهغه بیا هغه وخت چه دا سختی لورے کړے وتاسے ځخه اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْکُمْ ناګاه یوه تولے دتاسے ځخه چه هغه کفار دے بِرَبِّهِمْ یُشْرِکُوْنَ (۵۴) دسره خپل سره شریکے بل ځوك په عبادت کښے او یا په لیږے کولوکښے دیخته او پدې سولوکښے دنعمت لِیَکْفُرُوْا بِمَآ اٰتَیْنٰهُمْ ددے دپاره چه کفران اوبے قدرے وکړے دوے په هغه شي پورے چه ورکړے دومره ددوے ته که نعمت وواوکه کشف دزحمت وو فَتَمَتَّعُوْا تاسے خوند واخلئ زمعاش کوے په دنیا کښے

عه ایا دیورب عبادت کوم یاد زهرو کاسره ونه چه قریش سی نه ماوره
عزّٰی به پریږدم دهرلات ورسره دبینا وُدغه کاره دے زماوره

یو خو ورے فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ (۵۵) نو ښه زړے چه تاسے به معلوم کړے عاقبت د خپل کار
وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ او مقرر ے د اکفار د هغه بتانو د پاره چه په هیڅ نه پوهیږ
حُکمه چه جمادات دے یا چه دے ځپله نه پوهیږ په احوالو او عاقبت د دے بتانو او
بے ځایه اعتقاد پرکوے چه دوے به و مومږ ته نفعه ورسوے او ضرر به ړ انځمخه دفعه
کړے او ببا به په قیامت نړ مومږ شفاعت هم وکړے نو هغه بتانو ته دوے مقرر دے
نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ برخه د هغه کښتو او چارپایانو چه مومږ د رکړے دی ودے ته
لکه چه په سورة انعام کښے د دے قصے تفصیل بیان تیر سوے تَاللّٰهِ قسم دے په خدا ے
لَتُسْـَٔلُنَّ چه خامخا به تاسے و پوښتل سے په قیامت کښے عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ (۵۶) د هغه
څخه چه تاسے د رواغ ترړے په خدای پوری په دے ویلو سره چه دا بتان نړ مومږ خدایان
دے او په دے برخه مقرر ولو سره مومږ د دوے ته نژدیکت کوو چه بیا نړ مومږ شفاعت
وکړے وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ او بل دا چه دوے د خدا ے ته لونې پیدا کوے لکه خزاعو
او کنانو به ویله چه ملایکے د خدا ے لونې دے سُبْحٰنَهٗ پاک دے دی د دی څخه
چه لونې ساړه ړ ے وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ (۵۷) او دوے لره دے یعنے د دوی خوښ ځانو
لره هغه شی چه اشتها د ړ ے و ړ ته کیږ ے چه نړ امن دے وَاِذَا بُشِّرَ او په هغه
وخت کښے چه زیږ ے وسی اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى پرېوه د دوے د لور پیدا کیدلو
سره یعنے وکوم کافرته چه څوک ووایی چه لور دے پیدا سوه ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا
نو وګرزے مخ د ده تك تور د ړ ے غمه او شرمندګی څخه د خپل قوم په مخ کښے
وَّهُوَ كَظِيْمٌ (۵۸) او حال دا چه دے د لړ ے وی د قهر پرخپله ښځه چه لور دے
وَلی لړ ے يَتَوَارٰى پټوی ږ ے او پر ځنك ګرزے مِنَ الْقَوْمِ د خپل قوم څخه مِنْ سُوْٓءِ
مَا بُشِّرَ بِهٖ د له بدے اوله خفګانه څخه د هغه شی چه زیږ ے سوے پرده د هغه شی
چه لور ده اودے حیران وے په دی د دوکار وکښی چه اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ ایا
دے وساتے دا مولو د سره ذخواری او ذلته اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ط او که ے ږ ے پټ کړی

دے په خاورو کښے یعنی چه څوندے یے بنخه کړه اَلْاَسْاَءَ واورے چه بد دے
مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۵۹﴾ هغه چه حکم کوے دا مشرکان چه نسبت دولادت دی وخدائے
لِلَّذِيْنَ دے هغوکسانو لره لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه باور نه لرے پرهغه جهان
مَثَلُ السَّوْءِ بدصفت چه حاجت وایی دخدائے وبنځے او اولادته اودځان په
حق کښے دزامنو ساتل اود لوڼو په مخکه کښے څوندے بنځول غواړی وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ
الْاَعْلٰى اوخدائے لره دے بنه صفت بلند شانه دے چه وجوب ذاتی اوغناء ع ۷
مطلق دے اوپاکی ده هم دبنځے اوهم داولادده وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۶۰﴾ اودے ۱۰
غالب اوقادر دے پرهلاك دکفارو حکم کونکی دے په مهلت ددوی ترمعلومه ۲۴
وخته پورے وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ اوکه نیولای خدائے داخلقو بِظُلْمِهِمْ
په ظلم یعنی په کفراو په معاصیو سره ددوے مَا تَرَكَ عَلَيْهَا نو نه به پے دوپرې ایښے
پرځ ددی مځکے مِنْ دَآبَّةٍ هیڅ ګرنږید ونکی بلکه قوله به پے یوه واړهلاك کړے
وای پوجه دخپل ظلم وَلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اولیکن مهلت ورکوے ددوے تراِلٰى
اَجَلٍ مُّسَمًّى ترهغه وخته پورے چه په نامکړه سویدے دعذاب دپاڅ یادمرګ
دپاره فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ نو په هغه وخت کښے چه راغله هغه وعدګاه دعذاب یا
دمرګ ددوے لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً نو نه به ورسوسته کیږے دوے ترهغه
وخت یوساعت هم وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۶۱﴾ اونه به ځنی مخ ته کیږے وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ
اوپیدا کوے دوے وخدائے ته اومنسوبه کوے ورته مَا يَكْرَهُوْنَ هغه شی چه دوے
پے وخپل ځان ته نه خوښوے اونفرت ځنے کوے یعنی خدائی لره هم لوڼی اوشریکان
پیدا کوے اوخپل ځان ته نه لوڼی اونه شریکان خوښوے په مشری کښے وَتَصِفُ
اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اوسره لـه دے چه ددوی شړبی درواغ وایی چه دادی اَنَّ لَهُمُ
الْحُسْنٰى دچه بیشکه ددوے ته به لوړه مرتبه دخدائے ضره وے که دوے بیا
څوندے سی یا به جنت وے نوربّ العزت وایی چه دوے دا قوله درواغ وایی

بلکه لَاجَرَمَ حق اوْ اقعی داده چه اَنَّ لَهُمُ النَّارَ بیشکه دوْ لره مقرر دے اورد
دوبخ وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ﴿۶۲﴾ اوبیا بیشکه چه دوے شرر بیول سوی به وی یا پر
اینی اوهیرکره سوی بره پ هغه اورکښی اوبیا درسولْ د تسلی دپاره وایے
تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ قسم په خدای چه خانخا په تحقیق سره رالیږلے وه مونږ پیغمبران
اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ وهغه قوليرته چه تیرسویے مخکے ترتا فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ نو
بناپسته کړی وه ودوے ته شیطان اَعْمَالَهُمْ هغه بدعملونه دوْ دے نوکلک بهیر
ولاس وو فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ نو دا شیطان دوست دے دوی نن ورځ وَلَهُمْ عَذَابٌ
اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ اومقرر دے دوی لره دردناکه عذاب وَمَآ اَنْزَلْنَا اونه دے رالیږلے مونږ
عَلَيْكَ الْكِتٰبَ پرتا داکتاب یعنی قرآن اِلَّا لِتُبَيِّنَ مگر دے دپاره چه بیان اوښکاره
کړے ته لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ورته دوی ته هغه شی چه دوی اختلاف کړی په هغه
کښے چه توحید اوقیامت دے وَهُدًى دے وَّرَحْمَةً اورهنمایی اورحمت دی دا قرآن
لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾ د هغه قوم دپاره چه ایمان راوړے وَاللّٰهُ اَنْزَلَ اوخدای رالیږلے دے مِنَ السَّمَآءِ مَآءً د اسمان طرفه څخه یعنی د اوبو یعنی څخه اوبه فَاَحْيَا
بِهِ الْاَرْضَ نوژوندے کړے یعنی ښنه یے کړے په دی اوپرسره دا مخکه بَعْدَ مَوْتِهَا
وروسته ترمړلو دے یعنی وچوالے دے اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے
ښنه کولو کښے تروچوالے وروسته لَاٰيَةً خانخا ډیره لویه نښه ده پر قدرت کامله
د مونږ باندے لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾ د هغه قوم دپاره چه اوریدل د زیړه په غوږ
سره کوے اوبیا عبرت هم په اخلی روایت دے د اطباؤ «طبیبانو» څخه هر کله حیوان
یوه غذا په خوله کړے نو دے وخته څخه ترهغه وخته پورے چه د اجزاء کیږے د
دغه حیوان څخه څلور هضمه ورته راځی اول هضم یے د خولے څخه ترمعدی
پورے دا سے چه په خوله کښے یے واړوے اوبیا یې په غاښو میده کړے اوبیا د
معدے ته ورسی اوهلته د حرارت غریزی په واسطه سره جوش وخوړه نوبیا

نرم او کلك سره بیل شی نوهضم اول دلته تمام سی او کلك پی چه فضله ده دی
هضم غائط یا خوشیاپی یا خرشنه یا پوچی سی او طبیعت پے د فعه کړی وکلموته
داخراج دپاره او دویم پے د معدے څخه تر اینے پورے داسے دی دالعاب چه
کیلوس بلل کیږی بیاد معدے څخه دهغو رگو په واسطه چه ماسا ریقا نومیږی اینے ته
ولاړسی او هلته جوش وخوښی نوزاپیا کیموس بلل کیږی او په دے کیموس کښے
بیا څلور خلطه پیدا سے د قدرے مائیه څخه او هغه څلور خلطه صفراء اوسوداء او
بلغم اوویته دے صفراء تریخی ته ولاړه سی اوسوداء توړی ته نوهضم ثانی دلته
تمام سی او هغه رطوبت چه د هغه قدر د حاجت څخه زیات سی په دی کښی چه
فضله دوے هضم ده هغه بولے سی او طبیعت پے د فعه کړے و پښتورگوته او هغه پے
بیا د فعه کړے و شاته ته داخراج دپاره او دریم پے د اینے څخه دے تراخره پورے د
عروقو داسے چه داوینه او بلغم سره خلط پرته رگو کښے روان سی لکه اوبه پرلښتی کښے
سره دیو څه قدر صفراد پخولو دپاره او یو څه قدر داوبو د نرمولو دپاره دوے د دوخلطو
نوهضم ثالث دلته تمام سے او هغه خیرے چه فضله ده دے نوطبیعت پے د پوستکے
ته د فعه کړے داخراج دپاره او څلورم هضم پے د عروقو رگو څخه دی تر منتهی اخره
پورے د تولو اعضاؤ بدن داسے چه دلته څخه ترسره پورے داخلوط د وینو
او د بلغم راکشوے او په تولو اعضاؤ کښے پے خپور کړے نو چه غوښے ته ولاړسی نو
هلته غوښه سی او چه هډوکی ته ولاړسی هلته هډوکی سی او چه مغزو ته ولاړسی
نو هلته ماغزه سی نوهضم رابع دلته تمام سی او هغه سرهری چه فضله ده دے
هضم نوطبیعت پے د فعه کړے و د ماغ ته او دے د ماغ څخه پے بیا د فعه کړے په
هغو دوو رگو کښے چه ترغوږ دووسره وسته کښته تللی دے د ملاد بندو و معزو ته
بیا پے دے معزو څخه د فعه کړے په هغه رگو کښے چه پراتشین لگید لے دی انشیئنو
ته اوهلته بیا منی سی او ذخیره سی دپاره د ابقاء د نوعے مگر د اهلته که

حیوان نرو واوکه بنځه وه نو په هغې کښې اخلاط زیات وی ترقدره دغذا ددے په سبب د غلبې د برودت اورطوبت په مزاج د دے کښې بیاکه دا بنځه حامله وه نوهغې ته ښه یا ته تری اورطوبت ورسی دپاره د غذا د جنین اوبیا چه د اجنین پیدا سے نوهغه رطوبت غولا نزی "روتیاز" ته ورسی او هلته بیا سپین سے څکه چه دا غولا نزے سپینی پلے دے نوداهم ښه څنی واخلے لکه چه وایے وَاِنَّ لَكُمْ اوبیشکه چه دے تاسے لره فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ط په دے چارپایانو کښے خاخا ویرلوے عبرت دے چه موجب دے دعبور یعنی دتیریدلو د جهله څخه وعلم ته اوهغه دادے نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا چه وڅکو مو ربه تاسے دهغه شی څخه فِيْ بُطُوْنِهٖ چه په نسو کښې دیرے نوے ددے چارپایانو څخه هغه لنګی دے مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ په مابین کښے د خوشیوا وینو لَّبَنًا خَالِصًا شیدی صافی او پاکی دخوشیودبوی څخه اود وینو د رنګ څخه سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿۶۶﴾ښوی تیریدونکے ترحلق اوخوندور دپاره د چیبنو نکو وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ او د هغو میوو څخه دخرما گانو نوهم وَالْاَعْنَابِ اود میوو څخه دتاکوهم هغه سے چیبنو مو ربه تاسے سره په دے شان سره چه تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ جوړوی تاسے ددے میوو څخه دلعاب څخه دے سَكَرًا سکر او سکراو بو دخرما گانو نه ترایے او دا بیا هلته حکم دخمرو واخلے چه جوش وخورے او بنه ټینګ سی اوبے سُدّتے پیدا کړے اوکه داپکښې نه وه "یعنی بے سده راوله" نوحلال دے په اتفاق سره حاصل داچه جوړوی څنی تاسی هغه سکرچه بے سده کونکے دی لکه خمر وَّرِزْقًا حَسَنًا اوبل روزی بنایسته لکه سرکه اوخرما او دا سی نور د پرسوه اوبیا په دے آیت کښې دوه احتماله دی یوداچه داحکم پخواله تحریمه دخمره وه اواوس منسوخ سوید اوبل داچه دا آیت جامع دے دعتاب اوداحسان اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے میوو کښے که ګنډی وی اوکه وچې اوکه بیا نور څه څنی سوی وی لکه سرکه یا داسی بل

شی لَاٰیَۃً خا مخا دیرہ لویہ نښہ وہ پرحکمت بالفہ باندے لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ دھغہ قوم دپارہ چہ عقل پکښے چلوی اونظر وتامل پکښے کوی وَاَوْحٰی رَبُّکَ او الہام وکړی رب ستا اِلَی النَّحْلِ د شاتو وپحموچے تہ یعنے دوحی پہ زړہ کښے پے واچول اَنِ اتَّخِذِیْ دا خبرہ چہ ونیسی اوجوړوے مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا د غرونو څخہ یعنی پہ سوریو او پہ چاوړو دھغو کښے ځالی چہ پز شپږ کونجہ برابرے خانی لرے چہ هیڅ قدر کوږ والے پکښے نہ وے وَّمِنَ الشَّجَرِ او دونو څخہ یعنے پہ ونو کښے پے هم جوړوے دا هلتہ کہ مالک تاسے لرہ نہ وو وَمِمَّا یَعْرِشُوْنَ ﴿۶۸﴾ او دهغو ځایونو څخہ چہ خلګ لوړے لوړے مینی اچولے وی دا هلتہ کہ تاسے مالک درلودی ثُمَّ کُلِیْ مِنْ کُلِّ الثَّمَرٰتِ نو بیا خوری دهر قسمہ میوو څخہ کہ خوښہ وے او کہ ترخہ وی یعنے غوښتی اوګلونہ پے اوبیا چہ دا وخوری فَاسْلُکِیْ نو ځی اوتلہ کوے سُبُلَ رَبِّکِ پہ لاړو دچښل رب کښی یعنے پر هغہ لارو چہ دہ درتہ بښولی دی پہ باب کښی دشاتو جوړولو یا معنے دا چہ هرکلہ غوښتی اوګلونہ وخوری پہ یوہ لیږو طن کښے نو بیا برابرے راځی وخپلو ځالو تہ پرهغولارو چہ رب درتہ بښولے دی اوو بل طرفتہ مہ تہ ځی ذُلُلًا پہ دا سے حال کښی چہ ذلیلی اوساڼے دی دالاری پاچہ تاسے ذلیلی او منقادے اوسی وامرتہ دخداے چہ هغہ امرداسے دی چہ دوی هرکلہ دا غوښتی اوګلونہ وخوړے او پہ نسو کښے پے دا قولہ سړہ خوږی اوبہ سې سرے ښنا کہ نو بیا هغہ اوبہ بیرتہ تے کړے دپارہ دژمی دتړنے لکہ چہ وایی یَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا د ماوزے دنسو څخہ دوے شَرَابٌ اوبہ دچښلو یعنے شات مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ چہ سړہ مختلف وی رنګونہ دوے شاتو پہ دے شات سړہ چہ دځوانانو داسپین وی اودمیانہ وو دا ژیړ وی او دزړہ وو دا سړہ وی اویا دا چہ اختلاف درنګونو پہ دښتہ دفصلو یا دخوړلو کود دوے وی فِیْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ د چہ دہ پہ دے شاتو کښے شفا دخلګو دپارہ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکہ چہ پہ دے پوهیږو کښے او پہ شاتو کښے لَاٰیَۃً

خانخاوپره لویه ئښه ده پرقدرت اوپرحکمت زمالِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿۶۹﴾ دهغه
قوم دپاره چه فکرکوی په عجائبواوغرائبو دده پحیواوشاتوکښے وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ
اوخدائے پیدا کړے یاست تاسے یعنی دعدم څخه پے وجود تړاوه ایستلاست
ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ بیا به تاسے په څپل اجل سره وژنی وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اوبعض دتاسے
څخه هغه ځوك دے چه تردکول کیږی اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ وهغه خوارژوند ته یعنی د
کمال نه وړوالے وحد ته چه هغه پنځه اویا ۷۵ اویا اتیا یا نوی ۹۰ دے لِكَيْ لَا يَعْلَمَ ددی
دپاره چه نه پوهیږی دے په سبب دزړه والے سره بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا تر پوهی
وروسته دځوانی په حال کښے په هیڅ شی لکه چه پخوا دطفولیت ۹ ع ۱۵
هیڅ نه پوهیدے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۷۰﴾ دانا توانا دے پرهرشے
چه خواهش پے وسی روایت دے چه هرکله به مشرکانو احرام وه تاړی نوتلبیه
به پے داسے ویله چه لبیك لاشریك لاشریكاً هولك یعنی دروغلم نسته بل شریك تا
لره مګر یوهغه چه ستا شریك دے نو دپاڅ درد دده قول ددوے نازل سو
وَاللّٰهُ فَضَّلَ اوخدائے غوره کړیدے بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ بعض ستاسے پربعضونورو
باندے فِي الرِّزْقِ په روزی کښی یعنی دد نیا په مال کښی چه څوك ځمانړه او
څوك پے وړے کړه اوځوك پے بادادان اوځوك پے نوکران کړه سره ددی چه
حواله دیره نیکه لمسیان دے فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا نو نه دے هغه کسان چه غوره کړه
سویدے بِرَآدِّيْ رِزْقِهِمْ ردکوونکے یعنی ورکونکی دخپل مال عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ
پرهغه چاچه مالکان ئے دی لاسونه ددوی یعنی تاسے خروخپلو مریانو نه روزی
ورکوی اوپه باقی مال کښے پے نه شریکوی دځانه سره ځکه چه که پے شریکان کړی
فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ځانونه اوځښتنان اومریان په دے مال کښی سره برابرسی اوفرق
به پاتے نه سی په مابین کښی دځښتن اودمریئ کښی هرکله چه تاسے دخپلومریانو
سره شرکت نه خوښوی دد نیا په مال کښے نوبتان دخدائے سره څنګه شریکوی په

ربوبیت کنے اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ ایا نو پہ دے نعمت د خدائے چہ دا سے واضح مثال او دلیل پے او رتہ دو رسولو دے یَجْحَدُوْنَ ﴿۷۱﴾ دوے انکار کوے وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ اوخدائے پیدا کړیدے وتاسے تہ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا د خپلہ جنسہ څخہ ستاسے ښځے چہ ستاسے زامن او سرہ پہ ارام شی وَّجَعَلَ لَكُمْ اوبیا پے پیدا کړہ وتاسے تہ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ د ښځو څخہ ستاسے بَنِيْنَ وَحَفَدَةً ۔ زامن او لونی یا لمسیان اونرومان وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ اوسرہ زی پے درکړہ بعضی د پاکیزہ وو اولذ تناکہ ﴿خوندورو﴾ شیانو باطلو او بعض پے حکمہ وویل چہ دا تول هسی نو مونہ دی دا خرت اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ ایا نو پہ باطل سرہ باور کوے او ایمان لړی دا مشرکان چہ هغہ شفاعت او نعمہ دہ وښتا نو وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ او پہ نعمت سرہ د خدائے چہ اسلام دے هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۲﴾ دوے باور نہ کوے او ایمان نہ راوړے یا باطل هغہ دے چہ شیطان پرحرام کړیدے نکہ بحیرے او سائبے او وصیلے سترے او نعمت هغہ دے چہ خدائے پرحلال کړی دی یا باطل شیطان دے او نعمت رسول دے وَيَعْبُدُوْنَ اوو دے عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیلہ خدایہ مَا لَا يَمْلِكُ دهغہ شی چہ هیڅ اختیار نہ لرے لَهُمْ رِزْقًا دوے د پاڑہ درونړی ورکولو مِّنَ السَّمٰوٰتِ هم د اسمانونو څخہ پہ اوسرہ وَالْاَرْضِ اوهم د حکے څخہ پہ زمغو نولو سرہ اوهر کلہ چہ بتان دا یوهم نہ سی کولای نو دوے اختیار نہ لرے د رونړے ورکولو وخپلو عابدانو تہ شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾ د هیڅ شی او نہ طاقت لرے کہ څہ هم اختیاد ورتہ ورکړہ سے حکہ چہ جمادات دی فَلَا تَضْرِبُوْا اے لَا تَجْعَلُوْا یعنے مہ پیدا کوے لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ د خدای تہ مثلونہ یعنے شریکان پہ الوهیت کښے چہ بتان دے اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ اوخدائے پوهیږی پہ فساد وگفتارستاسے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾ اوتاسے نہ پوهیږئے اوکہ پوهیدائے نو دا کار بہ مونہ کاوی بیارب العزت دوئے د پوهولو د پاڑہ دوہ مثالونہ ترلی اوویلے دے پہ معبود حق او باطل پورے اول پے دا دے چہ وایی ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا تری خدای یو مثال عَبْدًا

مَمْلُوكًا چه مریے وے نه رخریدلے اونه مکاتب وی اونه ماذون لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ چه قادر نه وے پرهیڅ شی د نفعے او د ضرر وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ اوبل هغه څوك وی چه موږ ورکړے وے ده لره مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا د خپله جانبه ښځه رونړے یعنے بنه مال وَّهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ نود ے شریك بدل چاچه تصرف پے هم دده وے سِرًّا وَّجَهْرًا د هم پهپته اوهم په ښکاره سرّ یعنے په هرشان چه نږه پے غواړی هغسی پے ورکوی هَلْ يَسْتَوٗنَ ط ایا سره برابرے دے وی یعنے برابر نه دے نو هرکله چه مملوك عاجزه د مالك قادر متصرف سرّ نه سی برابر یدلاے نو عاجزه بتان چه تر تولو مخلوقاتو عاجز تر دے کله برابر یدلای سی د قادر مطلق سرّ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ط ثنا توله خدای لره ده چه مالك د تولو نعمتو دے بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلکه زیات ددے مشرکانو یعنے توله پے لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ نه پوهیږی حکمه پے نسبت د غیرته کوے اودویم مثال دادے چه وایی وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا او بیا خه اے بل مثال تری رَّجُلَيْنِ چه دوه سړیان وی اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ چه یو دے دوارو څخه گونګ ما در زاد ی (چه مور زیږولے وی گونګی) چه پخپله هم په هیڅ نه پوهیږی او بل هم نه سی پوه کولای لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ چه نه قادر یږ دے (قدرت نلری) پرهیڅ کار او تدبیر د بے عقلی په سبب سرّ وَّهُوَ كَلٌّ اوحال داچه د غه پیتی وے دوا پرو اوښو چه بار وے عَلٰى مَوْلٰىهُ لا پرخپل متولی (متصرف) باندے اوهغه متولی پے پخپل کار کښے حیران وی حکمه چه اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ و هرطرفته چه دے مولے ولیږے لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ نو نه ورله راوړی خیر یعنے هغه کار پے د سرّ نه کړے اودے وخپل مدعا ته ونه رسوے هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ایا برابریږی دغه گونګی بے خیره وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ لا اوهغه څوك چه فرمایش کوی وخلګو ته په عدل او په انصاف سرّ حکمه چه سلیم الحواسه، فصیح اللسان، فهیم، رشید، دیندار اوجامع د

ع ۱۰ ۱۶

تو لو فضائلوا و مکارموے وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ او حال داچہ دے پخپل هم روان دے پرسمہ لار چہ ژوند سوونکے دہ و مقصود تہ رسوایت دے چہ هر کلہ د توحیدو کفار و مسخرو پرطریقہ و پرتلوار کاوے د قیامت پہ مسئلہ تلو کښے نو نازل سوو لِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ او خاص خپلواکہ دے علم پر پتہ د اسمانونو وَالْاَرْضِ ؕ او د محکمے وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اونہ دے امر یعنی قیام د قیامت د جهتہ د تلوار د اسانی اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ مگر پہ مثل د رپولو د سترگے اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ بلکہ هغہ قیام د پرنڑدے دی تردے د رپولو هم محکم چہ دا دوہ کارہ دے چہ یو خای کول دے د دوہ او پرځیږ مواو بیایے سرہ لیږے کول دی او هغہ پوکار دے نو دا ممکن دے چہ هغہ دے پہ زمانہ د نیم رپ کښے واقع سی محکم چہ اِنَّ اللّٰهَ بیشکہ چہ خدائے عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾ پرهرشی توانا دے کہ بعث دی کہ حشر بیا وایے چہ ولی استدلال نہ کوے د قدرت محمد د مبتدا پرقدرت د معاد اونہ گورے چہ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ اوخدائے راوہ ایستلا تاسے مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ د نسو څخہ دخپلو میندو كَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا لاچہ نہ پرهیدلست پہ هیڅ شی سره یعنی نہ پہ جلب د نفعی اونہ پہ شَلب د ضرر وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ اودرکړے پے دی تاسے تہ غوږونہ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ لا او سترگی اونہ زړونہ یعنے اسباب د پوهے پے تولہ د رکړی دے چہ بنکارد مسموعاتو او د مبصراتو او معقولاتو پہ کوے د پاره د دے چہ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ بنایے چہ تاسے شکر وکاږے پردے نعمتونو باندے اَلَمْ يَرَوْا ایا نہ گورے د دا د میان د انسانان پرطریقہ د استدلال پرقدرت الٰہی باندے اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ د مرغانو تہ چہ مسخرکړہ سوے الوتونکو پہ زړہ روسره فِىْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ پہ هوا د اسمان کښے نو نه لیږے د محکمے څخہ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ چہ نہ ډیے ساتی پہ دے هوا کښے مگر خدائے اوکہ دہ نہ دے ساتلے نو دا ثَلٰثُ بَدَلٌ فِىْ خرمقتضی د لوید د دے پر محکمہ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ بیشکہ چہ پہ دے تسخیر کښے لَاٰيٰتٍ خامخا نښے لوے نښی دے د قدرت کامله لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ د هغہ قوم د

پارہ چہ ایمان راوړی لکھ چہ ستر گی ھم دوے لرے وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ او خدائ پیدا کړی دے تاسے لرہ مِّنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا د کوڅو ستاسے څخہ ځای د استوګنی لکہ د پرو او خښتو او د خټو کوټی وَّجَعَلَ لَكُمْ او پیدا کړی پے دی تاسے لرہ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ د پوستو څخہ د چارپایانو بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا نوړے کوټی چہ سپکی پے پیدا کوی تاسے پہ پورتہ کولو او د ځان سرہ ګرځولو کښے چہ کر. دی دی يَوْمَ ظَعْنِكُمْ پہ ورځ د کوچ او د سفر ستاسے کښی وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ لا او پہ ورځ کښی د اړولو ستاسی پہ منزل ګاہ کښی وَمِنْ اَصْوَافِهَا او د وسو یو څخہ د میږو وَاَوْبَارِهَا او د وبرو یو څخہ د اوښانو وَاَشْعَارِهَا او د اوجغنو څخہ د بزو پے پیدا کړی دی تاسے لرہ اَثَاثًا ګرځتونہ او پوښاکونہ او کمبلی او نوړ د پیراسبابونہ وَّمَتَاعًا او بل هرهغہ شی چہ فائدہ پراخیستل کیږے لکہ خرید او فروخت پہ هغو کښی اِلٰى حِيْنٍ ﴿۸۰﴾ تر یوہ وخته پورے چہ تاسے مړی یا د وی مړی وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ او خدائ پیدا کړیدے تاسے لرہ مِّمَّا خَلَقَ د هغو شیانو څخہ چہ د ہ پیدا کړیدے لکہ وئے او د ویالونہ او با مونہ او غرونہ او اوربے او د اسے نوړ د یرشیان ظِلٰلًا سیورے چہ لمرہ او د ګرمی څخہ ځان پہ ساتے وَجَعَلَ لَكُمْ او ده پیدا کړیدے تاسے تہ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا د غرو څخہ غارونہ د پوتیدو لو د پارہ وَّجَعَلَ لَكُمْ او پیدا کړیدے د ہ تاسے لرہ سَرَابِيْلَ قمیصونہ او نوړے د پنبہ و وجامی او د وبرو او د کتانو او د نوړ د شیانو تَقِيْكُمُ الْحَرَّ چہ تاسے د ضرر څخہ د ګرمی او د یخنے ګیلکن دائے نہ کړہ یاد د پارہ د اکتفاء ”بس والے“ پہ یوہ د د وو ضد یو نہ سرہ یا بہ د د وی احتیاج د ګرمے و د ڤے تہ د یرد او ستر د عورت او زینت هم پکښے داخل دے وَسَرَابِيْلَ او بل قسم قمیصان دے د اوسپنی یعنے زغرے تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ط چہ تاسی سانی د ضرر څخہ د جنګ ستاسی یعنے د دښمن د وسلو څخہ د جنګ پہ وخت كَذٰلِكَ هم داسے لکہ د اتیر نعمتونہ چہ پے پورتہ تاسے تمام کړیدی يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ پورہ کوی خپل نعمت پرتاسے لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ بنا یے

ے څان پہ ساتے ۳

چه تاسے اسلام راوړی اویا غاړه کښیږدے فَاِنْ تَوَلَّوْا نو که دوے شاکړه داسلام څخه فَاِنَّمَا نو بیشکه هم داخبره ده عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۲﴾ چه دے پرتا بنکاره پیغام رَسول يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ پیژنے دامشرکان نعمت د خدائے یعنے په خولوسره وایی چه داد خدایه دے ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا بیا منکرسی څنی په وخت د فعل کښے حالانکه عبادت د بل چاکوے غیر د منعم یا په سختی کښے یے منی او په اسانی کښے یې نه منی یا په خوله یے منی او په زړه یے نه منی وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾ او نیایت یعنے تولـه کافران دے وَيَوْمَ نَبْعَثُ اوو به یوه ورځ دوے د هغی ورځے چه راولاړ به کړو موږ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا د هرے تولی څخه شاهد پرایمان او پرکفر دوی یعنی پیغمبر د هرامت ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ بیا به نه ورکول کیږے اذن د عذر خواهے یا درجوع کولو بیرته دنیا ته لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسان نو ته چه کافران دی وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۸۴﴾ او نه به وی دوی چه اذن د راضی کولو رب به ورته وسی په نیك عمل سره حکه چه پس ترمرګه بیا تکلیف نسته وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اوپه هغه وخت کښے چه ووینی هغه کسان ظَلَمُوا الْعَذَابَ چه ظلم یعنے شرك یے کړی دے عذاب د دوزخ او بیا یکښنی وغورځول سی نو تخفیف «سپکوالے» د عذاب به ورغواړے دمالکه څخه فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ نو نه به سپك کیږے د هغوے څخه عذاب وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۵﴾ او نه به ودوی ته مهلت ورکول کیږے وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا او په هغه وخت کښی چه وه وینی هغه کسان چه شرك یے اختیار کړی وو شُرَكَآءَهُمْ شریکان خپل یعنی بتان قَالُوْا رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ نو دوی به وایی اے زمونږ ربه داچه دے شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ هغه شریکان زمونږ دے كُنَّا نَدْعُوْا چه موږ وو په دنیا کښے چه بلل به موږ په خدایے سره او دوے عبادت به موکاوے مِنْ دُوْنِكَ ۚ بیله تا فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ الْقَوْلَ نو وبه غورځوی دا بتان ودوی ته خبره یعنی دا بتان به خدای گویا کړے اوودے مشرکا نو ته به وایی اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۸۶﴾ چه بیشکه

تا سے خانخا دروا نجمنان یاست ځکه چه تا سے په واقعه کښی نه موږ عبادت نه کولو بلکه په هواد خپل نفس پسی روان واست نو پردی به حجت لازم سی او ویژشرهنده اوخجل سی وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ اوبیا به وغورځوی دوی وخدای ته يَوْمَئِذِ السَّلَمَ په دغه ورځ یعنی بیا به صلح اواعتراف وپاندے کړے اَمَّا یوبه هم فائده ورونه رسوی وَضَلَّ عَنْهُمْ اوورک یعنی باطل به سے دوی څخه مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۸۷﴾ هرهغه چه وه دوے چه درواغ به یے ترل پرخدائے چه دابتان دخدائے شریکان دے اودوے به دموږ سره مدګاری کوی اوشفاعت زموږ به کوی اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هرچه هغه کسان دے چه پخپله هم کافران سوید وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اونور خلك هم اړوے دلاری څخه دخدائے یعنی دایمان څخه زِدْنٰهُمْ عَذَابًا زیات به کړو موږ ودوے ته یوعذاب چه دضد برخه ده فَوْقَ الْعَذَابِ سربیره پربل عذاب چه دخپل کفر برخه یے ده بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿۸۸﴾ په سبب دهغے سره چه دوے وه چه فساد به یے کاوے چه خلك به یے داسلام څخه منعه کول وَيَوْمَ نَبْعَثُ اویادکړه اے رسوله هغه ورځ چه راولاړ به کړو موږ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا په هره قوم کښے شاهد عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ پردوے یعنے دهغوے پراقوالو اوافعالو باندے داسے پیغمبر چه دوی د خپلو څخه نو څخه وی یعنے دخپله قومه څخه یے وَجِئْنَا بِكَ اوراوړو به ولو موږ تاهم شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ شاهد پردے په ولو ستاد دے دپاره چه ته شاهدي اداکړے پر تصدیق دموږ منو اوپرتکذیب دمشرکانو وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اوراولیږلے دی موږ پرتا دا قرآن تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ واضح بیان دهرشی دامورو څخه دوین فائده:- اصول دوین خوځلور دے چه کتاب اوسنت اواجماع اوقیاس دے اوبیا نوښکے دوے قولوهم دے دی ځکه چه هرچه منطوق دده دے هغه خوپخپله ظاهر دے اوهرچه په سنت سره ثابت سوے دے نوهغه هم په هغه کښے داخل دے

پہ دے ایت سرہ چہ و ما اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فخذوہ و ما نھٰکم عنہ فانتھوا او ھرچہ پہ اجماع سرہ ثابت سوی دے ھغہ ھم پہ ھمدے کښے داخل دے پہ دی ایت سرہ وَمَنْ یَّتَّبِعْ غَیْرَ سَبِیْلِ الْمُؤْمِنِیْنَ نولہٖ ما تولے و نصلہٖ جھنم وسآءت مصیرا او ھرچہ قیاس دے ھغہ ھم و ھمدے دروسرہ وتہ راجع دے نو داخبرہ ثابتہ سوہ چہ دے تبیان دے د ھرشی وَّھُدًی او رھنمائی دہ وحقۃ وَّرَحْمَۃً اومھربانے دہ پر ھرھغہ چاچہ ایمان پر راوړے وَّبُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ ﴿۸۹﴾ اونیږے دجنت دے دپارہ د مسلمانانو اِنَّ اللّٰہَ بیشکہ خدائے چہ دے فائدہ ۔ علماؤ ددین متین ویلے دے چہ دا ایت جامع دے د ھرخیراود شر دا سے چہ درے پکښے اوامردے اودرے نواھے دے اوبیا ھر یو مشتمل دے پرانواعود مواعظو حُکمہ یے پہ اخرد ھرے خطبے کښے واعظان دایی نوھغہ درے اوامرداد ے چہ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ امرکړے دی پہ عدل سرہ یعنے پہ میانہ تلے سرہ پہ ھرشے کښے اعم تردے چہ اعتقادیات وی لکہ توحید سوچہ دے متوسط دے پہ مابین کښے د تعطیل اود تشریک کښے یا قولیات وے لکہ قول پہ کسب سوچہ دے متوسط دے پہ مابین د جبر اود قدر کښے یا عملیات وی لکہ تبد سو پہ اداء واجبا توسرہ چہ دے متوسط دے پہ مابین د بطالت اود ترھب کښے یا خلقیات وی لکہ سخاوت سوچہ دے متوسط دے پہ مابین د بخل اود تبذیر کښے اوبل شجاعت دے چہ دے متوسط دے پہ مابین د جبر اود تھور کښے وَالْاِحْسَانِ اوبل امرکوے پہ احسان کولو سرہ پہ طاعاتو کښے یا دجھتہ د کیت لکہ تطوع سو پہ نوافلو سرہ اویا دجھتہ د کیفیتہ لکہ عبادت پہ حضور سرہ د زہ وَاِیْتَآئِ ذِی الْقُرْبٰی

ع ۱۸

عہ مخے دا چہ ہر سرہ شی چہ تاسی تہ یے رسول درکوی نو ھغہ اخلے او ہرشی چہ تاسے منعہ کوی رسول نو تاسے منعہ کیږے یعنی پہ ہرشی سرہ چہ امر درتہ کوی نو ھغہ کوی او چہ تاسے منعہ کوی نو ھغہ منعہ کوی ۱۲ منہ یعنی ہر ھغہ شوک چہ پیروی کوی پرلاری دمؤمنانو دبلے لارے نو موږ بہ وگرزوو دی ھغہ شی تہ دی ورتہ گرزیدلے دی یعنی ہرواو یفتح اوزرڈیچہ یاتہ داخل کړو پہ جہنم کښی او بڑھای دی دا جہنم دجھتہ دگرزیدو ۱۲

او بلا مرکوے په ورکولو سره وخپلوا نو ته دهر هغه شی چه د دوی احتیاج ورته وی
او هغه در سره نواهے دا دے چه وَيَنْهٰى اود ے منعه کوے د هغو کارو څخه چه
عقل او شرع یے د واړه بد بولے لکه چه وایے چه منعه کوے د ے عَنِ الْفَحْشَآءِ
یو د هغه کاره څخه چه موجب یے افراط د قوت شهوانے وی لکه زنا یا لواطت
یا داسے نور وَالْمُنْكَرِ او بل د هغه بد و کارو څخه چه موجب یے افراط د قوت غضبے
وے لکه قتل یا ضرب یا شتم یا اخیستل د مال بیله حقه وَالْبَغْيِ ۚ او د هغه بد و
کارو څخه چه موجب یے افراط د قوت وهمے وی لکه پرخلګو ځان پورته کول په استعلاء
او په استیلاء او په تکبر او په تخبر سره يَعِظُكُمْ پند درکوی تاسے ته په دے اوامرو
او نواهیو سره لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۹۰﴾ بنا یی چه تاسے په دے سره پند واخلے وَاَوْفُوْا
بِعَهْدِ اللّٰهِ او د فاکوے په عهد سره د خدای اِذَا عٰهَدْتُّمْ په هغه وخت کښے چه
تاسے عهد وکړے چه هغه عهد د میثاق د روځی د ے یا عهد د بیعة الرضوان دی یا
عهد د ایمان بالله دے یا هغه عهد دے چه یوے طائفے د رسول سره کړی وو بیا چه ضعف
د اسلام او قوت د کفر یے ولیدے نو شیطان د عهد ما تولو وسوسه ورواچول وَلَا
تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ او مه ما توی قسمونه خپل یعنی عهد ونه بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا وروسته
ترهغه کولو د هغو په قسمونو سره وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ او حال داچه په تحقیق سره خدای
گرنر ولی د ے تاسے عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ؕ پرخپلو ځانونو شاهد او نگهبان اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۹۱﴾ پوهیږی په هغه سره چه تاسے یی کوے یعنی چه عهد
او سوګند ما توے رَوایت دے چه یوځا په عرب کښی یوه ربطه سعد نومی یوه لیونی
بنځه وه او مینځ یے هم د لره د نو دا به پخله هم کښینا سته او مینځے به یی هم
کښینولے وخر خوته او ترغر مو به یے تا سره ونه ویشل او بیا ترغرے د روسته
به یے ترما بنا مه پورے هغه تا سره ونه او مه کول او غوږول چه یعنی بیے د مالیت
څخه وه ایستل نو ځکه رب العزت وایی چه وَلَا تَكُوْنُوْا او مه کیږے تاسے په

ما تولو کښی دعهد اود میثاق خپل کَالَّتِیْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا دهغه ښځی په شان چه خپل وریښمو سوی اوغوړل سوے به یے بیرته او مه کول اوغوړول مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ وروسته ترقوت پیدا کولو ددے تار و په تار ولو او پیچلو سرہ اَنْكَاثًا ط متوقے توټی بے تاره ښخے دکاره وتلے یعنی تاسے هم هغه عهد چه په قسمونو سره قوی کړے دی نو بیرته پے ماتوی چه داکار د عاقل سړه نه بنایی تَتَّخِذُوْنَ اَيْمَانَكُمْ چه تاسی یښی خپل عهد ونه اوپیمانونه دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ مکار او فریب او مفسده اوخیانت یخپل مابین کښے سړے چه یو بل سره غولوے اوسړے تیرباسے په دی عهد وسړے اَنْ تَكُوْنَ اُمَّةٌ په سبب د دے چه سی یوه قوله یعنے د قریشو هِيَ اَرْبٰى مِنْ اُمَّةٍ ط هغه ډیر زیات ترهغه بلی قوله چه مؤمنان دے په سړو مال کښی اِنَّمَا بیشکه هدا خبره ده چه يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ط ازمایی خدای تاسی په دے عهد سړے چه وفا به کوی اوکه پے نه پے کوی وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ اوخامخا به خدای تاسے ته بیان کړی يَوْمَ الْقِيٰمَةِ د قیامت په ورځ مَا كُنْتُمْ هغه بحث اوجراچه تاسے واست فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۲﴾ چه په هغه کښی به مواختلاف سړ کاوی نو بیا به په هغه وخت کښے جزا دخپلو عملو تاسے سره ووینی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه خدای اراده وای لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۭ نو خامخا به پے تاسے ګومړه ولے واست یوه قوله متفقه پردین د اسلام وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ اولیکن ګمراه کوے دی هرهغه څوك چه اراده پے وسی وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ط اودحق په لارې برابروے دی هرهغه څوك چه اراده پے وسی وَلَتُسْـَٔـلُنَّ عَمَّا اوخامخا به تاسے و پوښتل سے دهغو عملو څخه كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ چه تاسے واست په دنیا کښے چه کول به مو وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اَيْمَانَكُمْ اوتاسے مه نیسی عهد ونه اوپیمانونه خپل دَخَلًۢا بَيْنَكُمْ مکار او غدر یخپل مابین کښے اوکه تاسی داکار وکړے فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ نو وبه بنکیږے قدم ستاسے داسلام د لاړے څخه بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وروسته ترکلکیدو د هغه وَتَذُوْقُوا السُّوْٓءَ او وبه څکی تاسے محنت اوخواړے په دے دنیا کښے بِمَا صَدَدْتُّمْ په سبب سره د اوښتلو او وتلو ستاسے عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ د خدای د لاړے څخه یعنی د

وفا پر عهد خپل باندی وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۹۴﴾ او بیا به تاسے لره وے لوی عذاب په
اخرت کښی رَوایت دے چه هر کله هغه طایفے مذکور ے ته ضعفاؤ د اهل
اسلام قریشو وویل چه که بیا راګرزیږ ے استه زمونږ ودین ته او د رسول ﷺ
سره موهغه عهد مات کړے نو ویرمُبَلِّغٌ به درکړو نو نازل سو وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ
اللّٰهِ اومه اخلے په عهد د خدای او په بیعت د رسول ﷺ باندے ثَمَنًا قَلِيلًا مبلغ
کم چه لږ مال به وا خلے او خدای او رسول ﷺ به پریږ ے دے اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ بیشکه
هغه چه خدای ﷻ سره دے یعنے نصرت او غنیمت په دنیا کښے او ثواب په اخرت
کښے هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ هغه ویرغوره دے تاسے تر اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۹۵﴾ که
تاسے پاست چه پوهیږ ے په سود او زیان سره او هغه حُکمه غوره دے چه مَا
عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ هغه مال دد نیا چه د تاسی ځمنه دے هغه به تیر او فنا سی وَمَا
عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ او هغه خزانے د رحمت ﷻ د خدای ځمنه دے هغه همیشه باقی دے
چه فنا نه لرے وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ اوخامخا به جزا ورکړو مونږ وهغو کسانو له صَبَرُوا
چه صبر یے کړی دی پر ایذاء د مشرکانو او پر فقر او پر فاقه او پر تکلیفو د اسلام
یا پر هغه عهد چه پل اَجْرَهُمْ اجر د محبت د دوے بِاَحْسَنِ مَا په ویره بنه وجه
سره یعنے ویر زیات د هغه کار ﴿ كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۹۶﴾ چه دوی وه چه کاوی به یے
هغه عمل چه نیك دے لکه لمونځ او روژه او زکوٰة او حج او صدقه او دا سے نور
ویر سوه مَنْ عَمِلَ صَالِحًا هر څوك چه وکړے نیك عمل مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى د سړی یا
د ښځے ځخه وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال داچه دے مؤمن وے چه عمل بے ایمانه هیڅ
مقبول نه لرے فَلَنُحْيِيَنَّهٗ نو خامخا به مونږ ژوندون ورکړو د ده ته په دنیا کښے
حَيٰوةً طَيِّبَةً پاکیزه ژوندی یعنے حلال له روزے یا د طاعت حلاوت یا قناعت
پر موجود یا عمل صالح یا بنه خاتمه یا رضا بالقضاء وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ او
خامخا به مونږ جزا ورکړو د وے ته اجر د محبت د دوے بِاَحْسَنِ مَا په ویره

بنه وجه سره یعنی زیات ترهغه عمل کَانُوا یَعْمَلُونَ ﴿۹۷﴾ چه دوی وو چه کولو به یې هغه عمل فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ نو هغه وخت چه اراده وکړې ته د قرآن ویلو فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ نو ځکی تړه سے شروع کولو پناه وغواسه په خدای پورے مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿۹۸﴾ د هغه شیطان څخه چه ترټل سوی دے یعنی اول وواید چه أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ط إِنَّهُ بیشکه دا شیطان چه دی لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ نسته ده لره هیڅ قدرتسلط اوغلبه عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا اپرهغوکسانوچه ایمان یې راوړے دے پرحق وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿۹۹﴾ اوپرربخپل توکل کوی یې دفعه دوسوسو کښے إِنَّمَا سُلْطَانُهُ بیشکه هم دا خبره ده چه تسلط دده عَلَى الَّذِينَ پرهغوکسانوده يَتَوَلَّوْنَهُ چه دده سره دوستی کوے وَالَّذِينَ او بل هغه کسان دے هُم بِهِ مُشْرِكُونَ ﴿۱۰۰﴾ چه دوے په خدای پورے یا په سبب د تسلط د شیطان شریك پیدا کونکے دے ۱۳ ع ۱۱ ۱۹

او چه کله مونږ آیت منسوخ کوو په آیت کښے او الله ښه پوهیږی په هغه څه چه هغه نازلوی هغوی وایی چه بیشکه ته یې دروغ ترونکے یې خو بلکه زیات د دوی نه پوهیږی

په حکمت سره د نسخ قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ ته دوے ته وواید چه سره د قرآن

هغه روح چه پاکیزه دے چه جبرائیلؑ دے اونږ یے دغه ځمنه نه جوړوم بلکه هغه ښه راوړے دے مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ د طرفه ځمنه د رب ستا په حق سره لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د پاڼ ددے چه محکم کړے په دے نسخ سره هغه کسان چه ایمان پے راوړے دی پرد غه خپل ایمان باندے وَهُدًى اورهنمایی دے وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ اونږ یے د جنت دے د مسلمانانو لپاره روایت دی چه د عامر حضرمے یو مړی وو چه جبر نومیدے یا دوه وه چه یو جبر او بل یسار نومیدے چه په مکه کښے بږیے پشپښت پیرګیږے کوله او تورات بږیے هم وایئے اورسولؐ به کله کله پر هغه لاړ تیریدے اودا تورات به بږیے د دوے ځمنه اوریدی او په بل روایت کښی دے چه د حویطب بن عبد العزیٰ یو نصرانی مړی وو عایش یا یعیش نومیدے چه اسلام پے راوړے وو او د شپی به رسولؐ ته راتلے د پاڼ د زده کولو د قرآن نو د ے کفارو ویل چه دے دهغو دا روړ یا عایش خبرے زده کړے او بیا پے وموند ته وایی نو نازل سو وَلَقَدْ نَعْلَمُ اوخامخا په تحقیق سره موږ پوهیږو اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ چه بیشکه دوی چه دے دوی وایی اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ځمنه چه بیشکه همدا خبره ده چه ښوونه ورته کوے انسان چه جبر یا عایش دے او په واقعه کښے دا سے نه ده ځکه چه لِسَانُ الَّذِيْ ځمنه ژبه د هغه چا چه د هغه يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ چه نسبت د ښوونے کوی دوی وهغه ته چه دے تعلیم ورته کوے اَعْجَمِيٌّ کږ کیچن او عجمی دے چه فصاحت د سره نه لرے وَّهٰذَا لِسَانٌ اودا قرآن چه دے ژبه ده عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾ واضح او فصیح عربی چه تمام عرب خصوصاً قریش سره د دا سے فصاحت او بلاغت خله دیوادنیٰ سورة مقابله ورسره نه سی کولای او نبیاً نسبت ورد اسے کږ کیچن ته کوی نو دا خبره بنکاره دروا ده اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لاچه ایمان نه راوړے پرایتونو خدا ے چه قرآن دے اونه وایی چه دا د خدایه دے لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ نه ورښیي خدا ے ودوے ته لاره د نجات او د جنت وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ او مقرر

دے دوسے لوہ وردناکہ عذاب پہ آخرت کښی د جهنم د نہ منلو د قرآن او پہ نسبت د افترآء و رسولؐ تہ اوسرہ دوے چہ مفتریان هم دوی دی لکہ چہ وایی اِنَّمَا یَفْتَرِی الْکَذِبَ الَّذِیْنَ چہ درواغ تړی هغہ کسان لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰہِ چہ ایمان نہ راوړے پر آیتونو خدائے چہ قرآن دے وَاُولٰٓئِکَ اوهم کسان چہ دے هُمُ الْکٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ هم دوے درواغجن دی روایت دے چہ هر کلہ عمارؓ اوپلاړلے یا سرؓ او موړے سمیہؓ دا وړے واړہ قریشو پہ نړوړہ مرتد کول او دوے دا خبرہ نہ قبلولہ نو اول پے سمیۃؓ ددوو اوسنبا لو پہ مابین کښی اویژلہ نہ کړہ او پہ عورت غلیظہ بہ پے پہ نیزو وهلہ چہ تادپارہ ددفع د شهوت اسلام راوړے دی او شهیدہ پے کړہ او بیا یاسرؓ پے هم پہ هغے شان شهید کړے اودادواړہ اول د قتیلینو دے پہ اسلام کښے بیا پے د عمارتہ هم وویل چہ کلمہ دکفر وویلہ نو دہ لہ ویړے ځخہ وویلہ او دا خبرہ ورسول تہ وړسیدہ چہ عمارؓ بیرتہ مرتد سو نو رسول وویل چہ دا سے نہ دہ بلکہ عمارؓ د سرؓ ترقدمہ قول ډک سو د ایمان ځخہ او ایمان خلط سو د غوښو او د وینو سرہ دد ہ بیا چہ پے پرمینبوی نو رسولؐ تہ راغے او د سرتہ وویل ژړل نو ده پہ ځوکولے پاکولے او د سرتہ وویل پے چہ ولے ژاړی کہ پے بیا د رتہ وویل نو بیا هم هغہ الفاظ د سرتہ وویلہ چہ پخوا پے د رباندے وویلی وہ نو پہ تصدیق ددے کښے نازل سو مَنْ کَفَرَ بِاللّٰہِ هر څوک چہ کافر سے پہ خدائے پوری مِنْۢ بَعْدِ اِیْمَانِہٖٓ د رسوستہ تر ایمان راوړلو دده لکہ ابن خطل او طعمہ او دا سے نور هغہ مستحق دے د قهر الهی اِلَّا مَنْ اُکْرِہَ مگر مستحق[عه] د عذاب نه دے هغہ څوک چہ جبر پرکړہ سوے وی یعنی چہ کلمہ دکفر پہ زور د سرہ پہ ویل سوے وی وَقَلْبُہٗ مُطْمَئِنٌّۢ اوحال د اچہ زړہ ده د ایمان نیونکی وو بِالْاِیْمَانِ پہ ایمان پورے او عقیدہ پے پرځای وہ لکہ عمارؓ وَلٰکِنْ مَّنْ شَرَحَ اولیکن هغہ څوک چہ پرانستلے وی دہ بِالْکُفْرِ صَدْرًا پہ کفر سرہ سینہ خپلہ یعنی دکفر تہ خپلہ

عه یعنی لائق د عذاب او د قهر د خدائے نه دی ۱۲

سینه اړته کړی او بیرته د کفر معتقد سوی وی فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ نو دے پرده ئے غضب د طرفه څخه د خدای وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۰۶﴾ او دے دپاره لوی عذاب دګناه چه ارتداد دے ذٰلِكَ والوی عذاب چه دے بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا په سبب دے چه دوے دوست اوغوره کړی ئے دی دا کمکی "کرښی" ثروند عَلَى الْاٰخِرَةِ لا پرنعمتو دهغه جهان وَاَنَّ اللّٰهَ او بل په دے چه بیشکه خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ نه ښیي لار د استقامت او ایمان وقوم ته دکافرانو اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ داهغه کسان دے طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ چه مهر وهلی دے خدای په زړونو ئے دوی نو حق هیڅ اثر نه پکښی کوی وَسَمْعِهِمْ اوپرغوږونو ئے دوی نو د حق خبره نه اوری وَاَبْصَارِهِمْ اوپرسترګو ئے دوی نو اثار د قدرت نه وینی وَاُولٰٓئِكَ اودا خلق چه دی هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ هم دوے ناخبره اوجاهلان دے د حق څخه لَا جَرَمَ دا خبره واقعی ده اوشبه نسته پکښی چه اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ بیشکه دوے چه دی په هغه جهان کښی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ هم دوے زیانکاران دے ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ بیا وروسته تر دے بیشکه ستا چه دی لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا د هغوکسانو نو د پاره چه هجرت ئے کړی دی د خپله وطنه څخه چه مکه ده مِنْۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا اوروسته ترهغه چه مفتون سوی دے یعنی عذابونه ئے کش کړیدی دکفارو لاسه ثُمَّ جٰهَدُوْا بیا ئے جهاد هم کړیدی تر هجرت وروسته د مشرکانو نوسره وَصَبَرُوْٓا اوصبر ئے کړیدی پرجهاد اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دی مِنْۢ بَعْدِهَا وروسته تر دے هجرته اوجهاده او ترصبره لَغَفُوْرٌ خامخا بخښونکی دے د تیرو ۱۴ ع ۱۰ ۳۰ گناهو دوے رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۰﴾ مهربانه دے چه توفیق ورکړی وو دوی ته مخکښی تر طاعت يَوْمَ تَاْتِيْ یادکړه هغه ورځ چه راښه سی كُلُّ نَفْسٍ هرشخص تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا چه جګړه به کوی د خپل ځان سره یعنی چه هرشخص به پرخپل ځان ملامتیا وایی که عاصی وو نوپه خپل عصیان به ئے ملامتوی او که مطیع وو نو په نقصان د طاعت سره یا هرڅوک به د خپل ځان په خلاصی وی او نفسی

ع ۱۲ بیرته وګرځه ګرزیدل ۱۲

نفسی نارے بہ وھی وَ تُوَفّٰی کُلُّ نَفْسٍ او پورا بہ ورکړہ سی وھر شخص تہ ما عَمِلَتْ جزا د ھغہ عمل چہ دہ کړیدے وَھُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ (۱۱۱) او حال دا چہ پردی باندی بہ ظلم ونہ کړہ سی دا جڑ پہ کمو لوسرہ وَضَرَبَ اللّٰہُ او تړی خدائے مَثَلًا قَرْیَۃً کومثال پہ یوہ بنار پورے د اچہ د ھغہ د اھل سرہ دہ ډیرا حسانونہ کړی وی او ھغو بیا پہ سبب د دے نعمتو سرہ طغیان اختیار کړی وے او بیا خدائے پہ افاتو سرہ مبتلا کړی وے یا ئے پہ مکہ پوری تړی ”یعنی دا“ کَانَتْ اٰمِنَۃً چہ دوی وہ پہ امان کښی دھرہ افتہ څخہ لکہ قتل یا چپاؤ یا قحط یا نورا فات مُّطْمَئِنَّۃً دل ارام او اسودہ یَّاْتِیْھَا رِزْقُھَا چہ راتلہ بہ ورتہ روزی دے دے رَغَدًا مِّنْ کُلِّ مَکَانٍ فراخہ ډیرہ د ھر ځایہ څخہ د نو احیو څخہ فَکَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰہِ نو بے قدرے او کفران ئے اختیار کړی پہ نعمتو پوری د خدائے او شکر گذاری پرے ونہ کړہ فَاَذَاقَھَا اللّٰہُ نو وشکی خدائے پہ دے باندے لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ پوښاک د لوږے او د بیرے یعنے او وہ کالہ یوہ قحط او بل بیرہ د مؤمنا نو د اسے پرچا پیرہ سوہ لکہ پوښاک چہ پر سړے چا پیرہ وے دا سے چہ د ډیرے لوږے بہ پے مرداری خوړلے او د ډیرے بیرے بہ د کوڑ څخہ نہ سوہ وتلای بِمَا کَانُوْا یَصْنَعُوْنَ (۱۱۲) پہ سبب د ھغو عملو چہ دوے وہ چہ کول بہ پے ھغہ عملونہ وَلَقَدْ جَآءَھُمْ اوخامخا پہ تحقیق سرہ راغلے د دوی تہ رَسُوْلٌ مِّنْھُمْ رسول د دوی د ښیل قومہ څخہ یعنی محمد صلی اللہ علیہ وسلم فَکَذَّبُوْہُ نو تکذیب وکړی دوی د ھغہ فَاَخَذَھُمُ الْعَذَابُ نو ونیول دوی عذاب یعنی قحط او بیرے وَھُمْ ظٰلِمُوْنَ (۱۱۳) او حال دا چہ دوے ظالمان وہ پہ شرک او پہ تکذیب سرہ وَ روایت دے چہ ھر کلہ قحطی او بزدہ سوہ د مکی پرخلگو نو د قریشو بنځو د رسولؐ تہ یو ځوک د رولیږے چہ کہ د مور او نارینہ وو د تاسرہ د بنہ منی کړی وی نو زہ مور او وو دے ھلکوا نو څخہ گناہ وہ چہ قتل د لوږے څخہ ھلاکیږے نو رسولؐ غلہ د رولیږلہ او پر ھغو ئے قیمت کړہ او نازل سو فَکُلُوْا مِمَّا رَزَقَکُمُ اللّٰہُ نو خورے د ھغہ

(ورپیشل ۱۲)

طعام څخه چه خدای درسول په لاس درکړی دی وتاسے ته حَلٰلًا طَیِّبًا ص حلال پاکیزه پرځای دهغو حرامو خبیثو څخه چه دارے اوغلاوے به موکولی اوپردے مالونه به موخواړه وَاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اوقدردانی کړے دنعمت دخدای اِنْ كُنْتُمْ كه تاسے یاست اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ چه هم دده عبادت کوے اوفرمان یے منی نو بیا خپل محرمات به شماری چه اِنَّمَا حَرَّمَ بیشکه همدا خبره ده چه حرامه کړیدی خدای عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ پرتاسے مردار ه وَالدَّمَ اوهغه وینه چه بهیږے وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ اوغوښه دخنزیر اوهمدا سے نور شیان چه خوراکی دے وَمَآ اُهِلَّ اوبل هغه مذبوحه چه اوازایستل سوی وی لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ دیارم دغیر دخدای پرهغه مذبوحه چه دذبحے په وخت کښی یعنی چه په وخت دذبح کولو کښی نوم دبتانو پریاد سوی دے فَمَنِ اضْطُرَّ نو هرڅوك چه محتاج کړه سو وخوراك ته دیوه شی دده سے محرماتو څخه دجهته دمخمصے (دیږی لوږی) غَيْرَ بَاغٍ چه نه طالب دلذت وی وَّلَا عَادٍ او نه دزیادت دقدر دضرورت فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ نو بیشکه چه خدای بخښونکی دے رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ مهربانه دے چه رخصت یے ورکړی دی اوبیا دوے منعه کوی دهغه تحریم او تحلیل څخه چه دوی دخپل نفس په هوا سره کړی دی نوروایئ وَلَا تَقُوْلُوْا اوموږ وایاست لِمَا تَصِفُ دده جهته چه وایی اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ ژبی ستاسی درواغ چه هغه دا دی هٰذَا حَلٰلٌ چه دا حلال دی یعنی هغه بچے چه دبحیرے په نس اودسائبے په نس کښے دے هغه حلال دے نر موږ پر نارینه وو باندے وَّهٰذَا حَرَامٌ اودا حرام دے یعنی دا بچی یے پرښځو زموږ او دا حکم تاسی کوی لِّتَفْتَرُوْا ددے دپاره چه وتړے عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ط پرخدای باندے درواغ چه دا موږ ته ده امرکړی دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَفْتَرُوْنَ چه دوے تړی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پرخدای باندے درواغ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ نجات اوخلاصے پیدا نه کړی دعذاب څخه ددوزخ دقیامت پرورځ اوهغه شی چه

دوے دھنہ دپارہ پرخدائے دراوغ تړی مَتَاعٌ قَلِيلٌ ص ھنہ لږ نفعہ دہ چہ شر ربہ ختمہ او قطعہ سی وَلَهُمْ او بیا بہ وے دوے لرہ پہ اٰخرت کښے عَذَابٌ اَلِيمٌ ۱۱۷ دردناکہ عذاب پہ سبب دد غو دروغو سرہ وَعَلَى الَّذِيْنَ اوپرھغو کسانو باندے هَادُوْا چہ یھودیان دے حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ حرام کړی وہ موږ ھغہ شی چہ بیان کړے او واضح کړی دی موږ پرتا مِنْ قَبْلُ مخکی ترد ے پہ سورۃ انعام کښے یعنے چہ موږ ویلے وہ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ الاٰية وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ او موږ پردوے ظلم نہ وکړے پہ دی حرامولو کښے وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اوليکن دوی وہ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۱۱۸ چہ پرخپلو ځانونو بہ پے ظلم کاوے پہ بے فرمانی سرہ جھڑا عمداً رپہ نښکاره اوپہ قصدسرہ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ بیا بیشکہ رب ستاچہ دے لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ ھغوکسانو لرہ چہ دوی گناہ وکړہ بِجَهَالَةٍ پہ ناپوھی سرہ دغلبے دشھوتہ اود ھواځخہ نہ د سرکشی اودعناد ځخہ دمولے لکہ چہ ویلے یے دی۔ راعی :-

الٰهِيْ ما عصيتك مِن عنادٍ ولٰكِن شِقوَتي بلغت مداها
صرفت العمر في لهوٍ ولعبٍ فاهَا ثمَّ اٰها ثمَّ اٰها

ثُمَّ تَابُوْا بیا توبہ وکاږی دوی اوخدائے تہ رجوع وکړے مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ورڅخہ ترکولو دھغہ بدعمل وَاَصْلَحُوْٓا اوخپلہ کارسازی یے وکړہ یعنی جبیرہ یے وکړہ دھغہ بدعمل اِنَّ رَبَّكَ بیشکہ رب ستاچہ دے مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ پس ترڅو توبے کښلو بخښونکے دی دتیرو گناھو رَّحِيْمٌ ۱۱۹ مھربانہ دی چہ دبندگانو توبے قبلوے اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً بیشکہ ابراھیمؑ چہ وویلے ئے پہ ځان کښے یوامت وو امتوځخہ پہ سبب سرہ دکمال دده پہ قولو صفاتو کښے دخیرہ پہ شاد کولو پرتے

ع ۱۵ ۹ ۲۱

عہ خدایہ نہ وکړے مایے فرمانے دتاځخہ پہ دشمنی سرہ لیکن بدبختی می رسیدلی وہ ونہایت تہ
صرف کړی می دی عمر پہ عبثو او پہ لوبو نو افسوس دی بیا افسوس دی بیا افسوس دے

ربما کی داعجبه نه ده دخدایه چه قادر دی پرهرشی
چه دے جمعه پرکښه کړے په قدرت په یوه سړکښی
اوداهم نه ده عجبه ډډه وزوړه اوقسوته
چه دے خای کړی دریاب قول په یوه کړه کښی

قَانِتًا لِّلّٰهِ فرمانبردار ده خدای یعنی بنه ولاړ پرامر ده حَنِيْفًا ط مائل دتولو باطلو ادیانو نخه وحق دین ته وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ اود ے نه وو د مشرکانو نخه لکه قریش چه وایی شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ط قدردان وه دنعمتونو ده اِجْتَبٰىهُ غوره کړی وه خدای دی په نبوت سره وَهَدٰىهُ او برابر کړی یے وه اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۲۱﴾ وسمی لارے ته چه د توحید اود اسلام لاړه ده وَاٰتَيْنٰهُ اومو ورکړی وه وده ته فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً ط په دے دنیا کښی نیکی لکه ذکر جمیل یا محبت دده دخلکو په زړو کښے یا نیك اولاد یا ابوت درسول وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ اوبیشکه چه دے په هغه جهان کښی لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ خانخه صالحانو نخه جنتیانو نخه به وی ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ بیا اوس مو وتاته وحی وکړی اَنِ اتَّبِعْ دده چه پیروے وکړی ته په توحید کښی مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ط دین دابراهیم چه مائل وو دتولو باطلو ادیانو نخه وحق دین ته وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اونه وو دے د مشرکانو نخه لکه قریش چه وایی چه مونږ دخپل نیکه په دین یو روایت دے چه مونږ د بنی اسرائیلو ته وویل چه خدای امرکړیدے چه ورځ د جمعی خاص وعبادت ته فارغه کړی اوبل کا د مه پکښے کوی نو بعضو دا امر قبول کړی اونه یا تو وویل چه مونږ دخالی ورځ کووځکه چه خدای فارغه سوی دے په دے کښی د عالم وپیدا کولو نخه نو دی اختلاف په وجه سره خدای هم تعظیم دخالی پردوے فرض کړے لکه چه وایی اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ بیشکه هدا خبره ده چه مقرر سوے یعنی فرض کړه سویدے تعظیم دخالی عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ط پرهغه کسانو نوچه اختلاف فی کړی

دے په دے وړځ کښی او تعظیم یې دا وه چه غیر د عبادت نه دے څوک بل هیڅ کار نه پکښی کوی تر دے حده چه موسیٰؑ په دغه وړځ یوځوک ولید ے چه اسباب یې په شا کړی دے او یوځای ته یې وړے نو امر یې وکړی چه گرځ یې وړے وو هے "سړے پری کړی" او دمرغانو ته یې وړے واچوی چه وې خوری وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه ربّ ستا چه دی لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ خا نخا حکم به وکړی په مابین کښی دووے يَوْمَ الْقِيٰمَةِ د قیامت په وړځ فِيْمَا كَانُوْا په هغه شی کښی چه دوی وه فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ چه په هغه کښی یې اختلاف کاوی چه هغه وړځ دعبادت وه اُدْعُ تـه بولـه اے رسوله داخلق اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ ولاړی ته دخپل رب چه توحید او اسلام دے بِالْحِكْمَةِ په محکمه خبره سره وخواصوته یعنی په هغه دلیل سره چه حق په ثابتیږی ے او په ذهن کښی کښینی اوشك اوشبه په ورکیږ ے وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ او په بنه پند سره وعوامو ته یعنی په رهبت او په رغبت او انذار او بشارت ا وپه حکایا تو نافعه دوسره وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ او جګړه یعنی مباحثه کوه دے معاند انو سره پر هغه طریقه هِيَ اَحْسَنُ چه هغه ډیره بنه وی یعنی په نرمی سره په نرمو خبرو او په فراخ او وړین تندے سره او په داسی عبارا تو سره چه زړونه ویښوی او عقلونه صافوی او د نفسونه پند ورکوی اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دی هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ دے بنه دانا او په وه دے په هغه چا سره چه گمراه سوی وی عَنْ سَبِيْلِهٖ د لاری څخه دده چه اسلام دے وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ او بیا دی بنه دانا دی په لارښوونکو باندے رِوایت دی چه مشرکانو د اُحد په وړځ امیر حمزهؓ چه د رسول ﷺ تره وه مثله کړی وه چه ده نس یې ور څیر لے وه او عضو یې مخصوص یې څنی پرې کړی وه او په خوله کښی یې ورکړی وه نو ده قسم وکړی چه که می لاس ورور سیږی نو ویا تنه به

ستا په عوض کښی مثله کړم نو نازل سو وَاِنْ عَاقَبْتُمْ او که تاسی ویرچاته عذاب ورکړے په عوض کښی د عذاب دبل چا فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا نو عذاب ورکوی په مثل دهغه سره عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ط چه عذاب درکړه سوے وی وتاسی ته په هغه عقوبت سره نه زیات ترهغه وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ اوخامخا که تاسے صبر وکړے یعنی عفوه وکړے اود عقوبت څخه. یعنی تیرسی لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ (۱۲۶) نوخامخا دا خو دیر بهتر دے وصابرانو ته ترانتقام اخیستلو بیایے وَرسول ته وویل چه ته خو په صبر سره مأموره یے لکه چه وایی وَاصْبِرْ اوصبر وکړه ته اوانتقام د سره مه اخله وَمَا صَبْرُكَ اونه دے صبر ستا اِلَّا بِاللّٰهِ مگر په توفیق د خدائے سره دے وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ او مه دلگیره کیږه په دے کافرانو باندی چه ولی ایمان نه راوړی یا په دی مؤمنانو باندے چه دا سے کار په وسو وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ اوته مه کیږه په تنگسه لی کښی یعنی مه تنگوه زړه خپل مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ (۱۲۷) د هغه مکره اوفریبه څخه چه دوی یے په تاکوی اِنَّ اللّٰهَ. بیشکه خدائے چه دی مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا د هغوکسانو سره دی چه ځان دکفر او معصیته څخه ساتی وَّالَّذِيْنَ اود هغوکسانو سره دی هُمْ مُّحْسِنُوْنَ (۱۲۸) چه دوے نیکوکاران دے

۱۶ ع ۹ ۲۲

سُوْرَةُ بَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ مَكِّيَّة — اٰيَاتُهَا (۱۱۱) — رُكُوْعُهَا (۱۲)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دے چه رسول علیه السلام یوکال ترهجرت څخه دوه شپنی په شپه دکعبی په څنگ کښی یا دبی بی اُمِّ هَانِیٔ په کاله کښی وو په ربیع الاول یا په ربیع الاخر یا په رمضان یا په شعبان کښی مگر مشهور هم دا دے چه دربیع الاول په شپږمه شپه وه او دیرشمه حصه د شپی تیره وه چه جبرائیل ورله راغلے د براق سره اودے یے ومسجد اقصیٰ ته دبیت المقدس بوتلے لکه چه وایی

سُبْحٰنَ الَّذِیْ پاکی ده هغه پروردګار لره اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ چه ده بیولی دے خپل بنده چه محمد صلے الله علیه وسلم دے لَیْلًا د شپی یعنے په یوه حصه کښے د شپی مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د مسجد حرام څخه یا بے د مینځه څخه یا بے د څنګه څخه اِلَی الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ وهغه مسجد اقصے تہ بٰرَکْنَا حَوْلَهٗ چه موږ برکت اچولی دے پرشا وخوا ده چه ملك د شام دے چه هم ددین برکت پکښے دے ځکه چه هم مَهْبَط د وحی او هم مَعْبَد د انبیاؤ دے او هم د دنیا برکت پکښے دے ځکه چه د زراعت انی د غلو او فواخی د عیش او پریمانی د میوو او انبوه «د پیرولی» د درختو او ولودے په هغه کښی نوډے موږ وداسے عجیبه وطن ته بوتلی لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَا ط د دے د پاره چه هلته موږ وده ته و ښیو بعضی د دلائلو څخه د خپل قدرت چه یو د هغو څخه د ده تلے دے په یوه کمه حصه کښی د شپی د هغه ځای ته چه د څلو بینتو د رځمزل دے اِنَّهٗ بیشکه دے چه دی هُوَ السَّمِیْعُ هم دی اوریدونکی دے د اقوالو د ده وَالْبَصِیْرُ ۱ بینا د اولیدونکی دی په احوالو د مصدقانو وَاٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ اوورکړے وو موږ د موسیٰ ته کتاب یعنی تورات وَجَعَلْنٰهُ اوګرځولے وو موږ د اکتاب یا مولیٰ هُدًی رهنمائی لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ د یعقوبؑ د اولادے د پاره اوموږ وددی ته ویل اَلَّا تَتَّخِذُوْا داسی چه مه نیسی مِنْ دُوْنِیْ وَکِیْلًا ۲ ؕ یعنی ما څخه بل وکیل یعنے متولی اومتصرف د کارو ستاسے ذُرِّیَّةَ مَنْ حَمَلْنَا اے اولاده د هغه چا چه موږ سپو رکړی په کښتی کښی مَعَ نُوْحٍ ط د نوحؑ سره مراد څنی سام بن نوح دے چه بنی اسرائیل د هغه د اولاد دے څخه دے اِنَّهٗ کَانَ بیشکه دے چه وو عَبْدًا شَکُوْرًا ۳ د یر شاکره بنده وو چه پرهرحال به ده شکر کښے که به په سختی کښی وو او که به په راحت کښی وو نو پکاردہ چه تاسی هم اقتدا اوپسی وکړے وَقَضَیْنَآ او پیغام

عه ځای در اګښته کیدلو او ساتلو دمخی دی ۱۲ عه یعنی ځای د عبادت پیغمبر او ۱۲

کړی وو موږ اِلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ د یعقوبؑ واولاده ته فِی الْکِتٰبِ په تورات کښی په دے شان سره چه تاسے لَتُفْسِدُنَّ فِی الْاَرْضِ خامخا به فساد وکړے په مخکه کښی دشام مَرَّتَیْنِ دوه واره چه اول فساد دے به مخالفت وود احکامو څخه د تورات او قتل یاحبس وو دارمیاء علیه السلام او دویم فساد دے قتل وو د زکریاؑ او د یحییٰؑ اوبل د عیسیٰؑ د قتل ارادہ وه وَ لَتَعْلُنَّ اوبیا به خامخا لویئ اوسرکشی اختیارکړے نو موږ وطاعت څخه یا به ظلم او کبر اختیارکړی پر مخلوقو تو باندے خامخا عُلُوًّا کَبِیْرًا ﴿۴﴾ لویئ دیره زیاته فَاِذَا جَآءَ نوهر کله او په هغه وخت کښی چه راغله وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا وعده د اول وارد هغو دوارو څخه بَعَثْنَا عَلَیْکُمْ نو مسلط کړل موږ پرتاسے عِبَادًا لَّنَآ یوقسم بندګان چه موږ لره وو یعنی چه مخلوق نو موږ وو نه مطیع (فرمانبردار) اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ چه خاوندان د ډیر سخت جنګ وه چه هغه بخت نصر یا جالوت یا سنجاریب وو سره د خپلو لښکرو فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّیَارِ ط نو ګرد وګرزېدل دوی ستاسے د کورونو په مینځ کښے د پاره د تالاکولو او د قتل او بند ستاسے وَکَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ﴿۵﴾ اوو د اکار یو وعده کیدونکے او مقرره سوی خامخا بیا چه هرکله په ننو تل نو اول بے د دوی علماء قتل کړه او تورات بے وسوزی او مسجد اقصیٰ بے و نړاوی او اوبا زه خلاص بے بندیان بوتله ثُمَّ رَدَدْنَا بیا بیرته راوګرزاوی او درکړی موږ لَکُمُ الْکَرَّةَ عَلَیْهِمْ وتاسی ته دولت او غلبه پردوی وروسته ترهغه چې تاسے توبه کاره سواست د هغه خپل فساد څخه او بندیان هم بیرته ورته راغله او طالوت بستاسے باچا سو او جالوت د داؤدؑ په لاس مړ او رسو وَاَمْدَدْنٰکُمْ او موږ وتاسی سره مدد کاری وکړه بِاَمْوَالٍ په درکولو سره د هرقسم مالو وَّبَنِیْنَ او په ډیره ولوسره د زامنو ستاسے وَجَعَلْنٰکُمْ او موږ وتاسے کړلاست اَکْثَرَ نَفِیْرًا ﴿۶﴾ د یرزیات د جمعه د ملاتړه اِنْ اَحْسَنْتُمْ که تاسے نیکی وکړه اَحْسَنْتُمْ

لِاَنْفُسِكُمْ تف نو نیکی به وکړی دخپلو خانو د پاره ځکه چه نفعه یې هم وتاسی ته راجع ده وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا اوکه بدی وکړی نو هغه به هم باردی پرهم دغه نفسو ستاسی باندے ځکه چه د هغه ضرر هم ودغه نفسو ستاسے ته راجع دے فَاِذَا جَآءَ نو په هغه وخت کښی چه راغله وَعْدُ الْاٰخِرَةِ وعده د هغه اخیری وار د هغو د پاره د واړو څخه نو طرطوس روی موږ راوه لیږی وتاسی ته د لښکر سره لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ دے د پاره چه دوی بدکړی مخان ستاسی یعنی د غم اثار ستاسے په مخا نو کښی ښکاره کړے وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ اوبل دځے د پاره چه دوے ننوزے د مسجد ته یعنے د بیت المقدس ته كَمَا دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ لکه چه د هغه ته اول وار ننوتلے وه یعنے لکه چه پخوا بخت نصر راغلے وو او مسجد یې خراب کړی وه اوهدارکم به طرطوس راسے او مسجد به خراب کړے وَلِيُتَبِّرُوْا اوبل ددی د پاره چه دوی هلاك اوخراب کړے مَا عَلَوْا هر هغه شی چه دوی پرباالادسته اوغالبه سی تَتْبِيْرًا ۞ په هلاکولو سره او په خرابولو سره اوددی دواړو فسادو په مینځ کښی دوه سوه اولس کاله وه رَوایت دی چه ددوی باچا یوه ورځ د قربانی وځای ته راغلے نو ناګاه یې وینه ولیدله چه د ځکی څخه جوش وهی لکه چینه نو دوی ته یې وویل چه د ادځه شی وینه ده نو دوی وویل چه یوه قربانی د موږ څخه قبوله سوی نه وه دا دهغی وینه ده نو ده ورته وویل چه دا تاسی درواغ راته ووایل او په زړها ووخلئ یې ځنی قتل کړه اووینه بیاهم ونه دریده نو بیا یې ودوی ته وویل چه کله تاسے رشتیا راته ونه ویل نو قوله به قتل کړم نو دوی ورته وویل چه دا یحیٰی علیه السلام وینه ده چه دلته شهید سوېدے نو باچا ووېل چه اے یحیٰیؑ! خدای ته معلوم دے هغه عذاب چه ستا دجهتہ دی وقوم ته ورسېدے نو اوس دے ودی وینوته ووایه چه په اذن د خدای سره ودریږی ځکی تر هغه چه دا قوله قوم دے ترتیغ تیروم "یعنی وژنم"

نو د اوینه ووریده عَسٰی رَبُّکُمْ بنایی چې رب ستاسی به که توبه وکاږی ورسره ستنه
نو دی دویم عقوبته اَنْ یَّرْحَمَکُمْ ځ دا چه رحم به وکړے پر تاسی باندے او هغه
پخوانی نعمتونه به بیا درکړے وَاِنْ عُدْتُّمْ اوکه بیا دریم وار را وګرزیدے است
زمونږ وبے فرمانے ته عُدْنَا نو مونږ به هم را وګرزو و په عقوبت ستاسی
سره او دوے دریم وار بیا عود "راګرزیده وبے فرمانی ته" وکړے په تکذیب د رسول ص
نو پردوے هم بیا عود وسو په قتل سره او په جلاوطنی او په جزیه او په (۸)
خوارے سره لکه چه وعده د سره سوے وه وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْکٰفِرِیْنَ حَصِیْرًا
اوکړے دی مونږ دوزخ دکافرانو پاره بندی خانه اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ بیشکه دا
قرآن چه دے یَهْدِیْ لِلَّتِیْ برابروے عاملان خپل وهنی لاری ته هِیَ اَقْوَمُ
چه هغه ډیره سمه اومحکمه ده چه توحید د خدائے او باور پر رسول ص اوعمل
په حقو لو اوامرو اونواهیو دے وَیُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِیْنَ اونیږے کوے پرهغو
مؤمنانو یَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ چه دوے عملونه کوی دنیکو اَنَّ لَهُمْ دوے چه بیشکه
دوے لره دے اَجْرًا کَبِیْرًا (۹) لوے اجر چه جنت دے وَّاَنَّ الَّذِیْنَ اودا سے وایے
چه بیشکه هغه کسان چه دے لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه دوی ایمان نه راوړی پر
اخرت باندے یعنی پرشوندباندے اَعْتَدْنَا لَهُمْ مونږ تیار کړی دے ودوے
ته عَذَابًا اَلِیْمًا (۱۰) درد ناکه عذاب وَیَدْعُ الْاِنْسَانُ او دعاکوے انسان یعنی
نضربن حارث دغضب په وخت کښی د استهزاء او توکو په طریقه سره اوسوال
کوے وخدای تر بالشر دشر په غوښتو سره یعنی د عذاب په غوښتو سره چه وایے
اَمْطِرْ عَلَیْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اوائتنا بعذاب الیم دُعَآءَهٗ بِالْخَیْرِ ط په مثل
سره دسوال دده وخدای ته په غوښتو د خیر سره د سختی په وخت کښی وَ
کَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا (۱۱) او انسان تلوارکوونکی دی په غوښتو کښی د خیراوشر
دواړو بیله تامله او د اسوال د نضر بیا قبول سوچه د بد د په وخ یے گردن

ع ۱ ۱۰ ۱

ف ۱ ۱۱

مه ده اوږه پرمونږ باندی کامل د اسمان ټوټه اوبل راوړه د ردناکه عذاب ۱۲

وو هل سو وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ او گرځوو لے دی موږ شپه او ورځ دوارہ
آيَتَيْنِ نښی «علامی» دقدرت کامله خپل فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ نو بیا موږ محوه کړه
نښه او علامه د شپی او دا اضافت بیانی دی یعنی شپه پخپله د لمر په رڼا
سره وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ او موږ گرځوو لے ده نښه د ورځی مُبْصِرَةً
روښانه چه هر څه پکښی ښکاره کیږی لِتَبْتَغُوْا دد سے دپاره چه تاسی په
رڼا کښے دے طلبوی فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ نریا تو الے د خپل معاش د خپله رب
څخه یعنی کسب او سوداگری پکښی کوے وَلِتَعْلَمُوْا اوبل دد سے دپاره چه تاسے
معلوم کړے په دے حرکا توشمسیه وو او قمریه وو سره عَدَدَ السِّنِيْنَ شمار د کلو
وَالْحِسَابَ ط او بل حساب د توارنځو اود مودو او د وختو او د اځمالو عملونو وَكُلَّ
شَيْءٍ او هر هغه شی چه ستاسے احتیاج ورته پیښیږی دے که امور ددین وی او
که د دنیاوی فَصَّلْنٰهُ تفصیلًا (۱۲) هغه موږ بیان کړی دی په واضح بیا نو لوسره
وَكُلَّ اِنْسَانٍ او هر سړے که مسلمان وے او که کافر وے اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ لازمه
کړی ده موږ د ده سره هغه اعمال نامه چه په قیامت به والوزی او دے به بے
ونیسی فِيْ عُنُقِهٖ ط په گردن کښی د ده وَنُخْرِجُ لَهٗ او موږ به ورلے وباسو د ده دپاره
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا په ورځ د قیامت کښی یو دفتر مکتوب چه د ده د اعمالو -
صحیفه ده يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا (۱۳) چه دے به پرے وینی خلاصه اوغوره یدلے اوبیا به
وهر سړے ته ووایل سی چه اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ط ولوله اووایه داخپله عمل نامه
كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ بس دے هد اځان ستانن ورځ عَلَيْكَ حَسِيْبًا (۱۴)
پرتا حساب کونکے ونیکو او د بد وستا مَنِ اهْتَدٰى هر څوک چه سمه لارے
ونیوله فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ نو بیشکه هد اخبره ده چه دے پرلارے سمیږے
لِنَفْسِهٖ ج د خپل ځان د پاره ځکه چه دا تلك پرسمه لارهم دے ومطلب ته
ورسوے وَمَنْ ضَلَّ اوهر څوک چه گمراه سو فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ط نو بیشکه

چه هدا خبره ده چه گمراه کیږی پرخپل ځان باندے ځکه چه گمراهی دده هم دے هلاکوی وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونه اخلی هیڅ اخیستونکے وِّزْرَ اُخْرٰی د بار دگناهو دبل چا لکه ولید بن مغیرهٔ او نورو کفارو ته وویل چه که زما تابعان سواست نوستاسے دگناهو بار به نه پرځان واخلم وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ اونه یو موږ عذاب ورکونکے هیڅ طائفی لره حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ ترهغو پوری چه موږ راوده لیږو ورسول چه د توحید لار ورته بیان کړے او عذر ورته جوړ سے وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً چه هلاکوو یو بنار اَمَرْنَا نو مأمورانو کړو په طاعت سره د شیطان یا د پیرکړو یا امیران کړو موږ مُتْرَفِيْهَا مشران او غټان د هغه بنار فَفَسَقُوْا فِيْهَا نو دوی فسق او فجور وکړی په دے بنار کښی فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ نو لازم سی پرے دے بنار «قریے» باندے هغه کلمه د عذاب چه په ازل کښی ورته مترتب وه فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ نو ښجے او بنیاد یے ړاوکاږو او هلاک یے کړو په سخته هلاکولو سره وَكَمْ اَهْلَكْنَا او څومره موږ هلاک کړی دی مِنَ الْقُرُوْنِ د اهله څخه د تیرو قرنونو او قرن څلویښت یا اتیا د شپږ شپږ څلو کالو ته وایی مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ د نوح وروسته تر وفات د نوح لکه عادیان او ثمودیان او مؤتفکات او داسی نور پیرسوه وَكَفٰى بِرَبِّكَ اوبس دے رب ستا بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ﴿۱۷﴾ په گناهو د خپلو بندگانو که څه هم دوے یے په سینو کښی پټوی بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ بینا دے که څه هم دوی پرده پرا چوے مَنْ كَانَ هر څوک چه دے وی يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ چه فقط د اچهان غواړی یعنی لذتونه او نعمتونه یے چه لاس په لاس اوشر ردے عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا نو موږ به ښر ورکړو هغه چه په دے دنیا کښی مَا نَشَآءُ هغه قدر چه زموږ ارادهٔ دگا اقتضا موځنه د نعمتو اوداهم ټول لِمَنْ نُّرِيْدُ د هرهغه چا ته دے طالبانو څخه د دنیا چه زموږ اراده وشی ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ع بیا به تیار

کړ مومړ وده ته جهنم یې اخرت کښې یَصْلٰهَا چه سړی به دے په دغه دوزخ کښې مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ غضب کړه سوی او لیرې کړه سوی د رحمت څخه د خدای وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ او هرڅوک چه هغه جهان غواړے یعنی جنت وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا او بیا سعی هم کوے دے اخرت د پاره هغه چه لایق دے د سعی په کولو سړه د نیکو اعمالو وَهُوَ مُؤْمِنٌ اوحال داچه دے بیا مؤمن هم وے خالص یعنی خالی د شرابیې څخه د شرک او د تکذیب فَاُولٰٓئِكَ نو دغه کسان چه دی چه دا درے سړه کار وکړے پکښې وے چه طلب د اخرت دی او سعی لائق او خالص ایمان دے كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾ د هغه د سعی د دوے مقبوله د خدای د څخه كُلًّا دا تنوین عوضی دے یعنی وهر یوه ته دے دواړو وطائفو څخه چه طالبان د دنیا دے او طالبان د عقبیٰ دی نُّمِدُّ مو ږ ورکول کوو هٰٓؤُلَآءِ هم ودے اولې طائفې ته په قدر د کفایت د دوی وَهٰٓؤُلَآءِ اوهم دے ودے دوېمې طائفے ته په قدر د همت د دوے یعنی یوه طائفه هم محرومه نه پرېږو دوبلکه د دواړو وته د ورکول کوو مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ط د داده اوورکولو څخه د رب ستا وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ او نه دے ورکول د رب ستا په دنیا کښې مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾ منعه کړه سوے نه د مؤمن څخه او نه د کافر څخه اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا وګورړ د عبرت په نظر سړه چه مو ږ څرنګه غوره کړی دی بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ د بعضے دے بنی اد مو څخه پر بعضو لوړ و باندے په دنیا کښې په حکمت بالغه سړه په صحت په اعتدال په ناداری په مال په قبحه په جمال په فرحت په ملال په بے کمالی په هدایت په ضلال په بُعد په وصال کښې او د اسے نور وَلَلْاٰخِرَةُ او خامخا اخرت چه دے اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ ډیر لوی دے د جهتو څخه د مرتبو وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿۲۱﴾ او ډیر لوے دے د جهتو څخه د فضلو نکته: هغه چه مخکے ذکر سوے وه هغه تفاوت د دنیوی وه او هرچه تفاوت اُخروی دے د

هغه دیوړ یات دے ځکه چه په جنت کښی تفاوت په درجو سره دے او هره درجه دهغه بلی څخه دومره جگه ده لکه اسمان د ځمکی څخه او په دوزخ کښی تفاوت په درکا توسره دے او هره درکه د بلے څخه دومره کښته وی لکه ځمکه د اسمانه څخه لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ مه پیدا کوه اے بنده د خدای سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدای او که دے پیدا کړی فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا لوتـه به سی غضب کړه سوے ۲ ۱۲ ۲
مَّخْذُوْلًا ﴿۲۲﴾ محروم د قوله خیر څخه وَقَضٰى رَبُّكَ اوحکم کړی دے رب ستا اے رسوله پرمکلفانو قطعًا جزمًا اَلَّا تَعْبُدُوْٓا په دے سره چه عبادت مه کوے د بل هیچا اِلَّآ اِيَّاهُ مگر یوازے هم دده بے شرکته د بل چا وَبِالْوَالِدَيْنِ او بیایے درپسی د احکم کړی دی چه احسان کوے د موراو پلار خپل سره ... اِحْسَانًا ټاټ په احسان کولو سره نکته:- احسان دوالدینو بے پیوست کړی پخپل عبادت پوری بے فاصله ځکه چه دے اوددوے علت دے د وجود ولد مگردے حقیقي اوددوے بجازی او په دے کښی بل هیڅوك ورسره شریك نه دے فقط اِمَّا يَبْلُغَنَّ که خامخا ورسیدی او دا اِنْ شرطیه دے او چه مَا پرے زائد سوی دے دپاره د تاکید بے پرفعل داخل سوے دی او چه یوازی اِنْ وے بیله مَا نو دنون تاکید پرفعل داخلول نه دی روا عِنْدَكَ اَلْكِبَرَ ستاسره ځ زوړوالی وجد ته اوو خدمت ته محتاجه سی او بل هیڅوك بے د خدمت نه وے اَحَدُهُمَآ یودوی یعنی یا پلار او یا مور اَوْ كِلٰهُمَا یا دواړه یعنی اے بنده که ستا په ځ کښی درے کاروته وسوله ستاد مور او پلار سره یو داچه زاړه سو بل داچه محتاجه سوه وخدمت ته بل داچه ستا څخه ماسیوا بل هیڅوك د خدمت نه وو نو پرتا پخپله کار ونه لازم دی لکه چه وایی فَلَا تَقُلْ نو تـه مه وایه لَهُمَآ اُفٍّ دوی دواړو ته کلمه د اُف اودا یو لفظ دی چه هر کله یو څوك په یوه کار ستړی یا ستومانه سی نو وایی بے یعنی مه د

دد وے پہ خدمت کښے ستومانی نیکاړه کوه اومه یې پہ صحبت او مجلس سړه ملا لره (ستړی اوخفه) کیږه وَلَا تَنْهَرْهُمَا اومه یې تر تپه اومه سخت جواب وسړه کوه وَقُلْ لَّهُمَا اوویه ددوے دواړو ته قَوْلًا كَرِيمًا (۲۳) نرمه خبره پہ ادب سړه یعنے خبره داسی وسړه اړوه لکه عاجزه گنهکار رمیرې چې یې دخپله قاهره اوتند خویه مولے سره اړوی وَاخْفِضْ لَهُمَا اوکښته کړه ددوے دواړو دپاړه جَنَاحَ الذُّلِّ ونیږدتذلل اودتواضع اوتکبر اوترافع (خان لوړے) ور سړه مه کوه مِنَ الرَّحْمَةِ دډیرے مهربانی څخه حکه چې پہ اول کښے ته محتاجه وی اوددوے بہ ستا تربیت کاوے سره د شفقته نواوس چې دوے محتاجه سوی دی نوته یې خدمت کوه سړه دتذلله اوددوے دپاړه مدام وماته سوال کوه وَقُلْ اوته وایه رَّبِّ ارْحَمْهُمَا چې اے زما ربه مهربانے اوبخښنه وکړه ددوے دواړو ته او دتولو غمونو څخه یې وساته كَمَا رَبَّيٰنِي لکه چې دوے دواړو نه ما تربیت کړے وو اودتولو غمونو څخه یې ساتلے ومه صَغِيرًا (۲۴) پہ هغه حال کښې چې زه کوچنے وم اوخپل ځان می پخپله نه سوساتلاے حدیث شریف دے چې رضاء الله في رضاء الوالدين وسخطه في سخطها او بل حدیث شریف دے چې ایاکم وعقوق الوالدين فان الجنة توجد ريحها من مسيرة الف عامٍ ولا يجد ريحها عاق اوروایت دے چې يفعل لبار ما شاء ان يفعل فلن يدخل النار ويفعل العاق ما شاء ان يفعل فلن يدخل الجنة كذا في المدارك رَبُّكُمْ أَعْلَمُ رب ستاسے بنه دانا دے بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ پہ هرهغه سړ چې ستاسے پہ سینوکښے

عه معنی داچې رضاء الله پاک په رضا کیدلو دموراو پلارسره ده او په غضب کیدل د الله پاک په خفګان سره دموراو پلار دے ۱۲ عه معنی داچې ځان دساتی دعاق والے څخه دموراو پلار څخه چې دجنت بوی نیکوکار نه زرکاله دمخه پیدا کوی اودموراو پلارسره جفا کار نه به دجنت بوی هم پیدا نه کړی ۱۲ عه کوی دی نیکی کونکی دموراو پلارسره هرڅه چې غوښه یې سی نو هیڅکله به داور ته داخل نه سی اوکوی دی جفا کار دموراو پلارسره هرڅه چې غوښه یې سی اوبیشکله به وجنت ته داخل نه سی ۱۲

سورہ اولیاء سورہ ۱۷ حقاء ۱۲

پرا تہ دے کہ وفادہ د والدینو سرہ او کہ عقوق دی ددوے اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ
کہ تاسے اوسی صالحان یعنی بنہ کونکے دخپل پلار او مور سرہ فَاِنَّهٗ كَانَ
نو بیشکہ چہ خدای دے لِلْاَوَّابِيْنَ د توبہ کبنونکو د پارہ د عقوق ځخمہ د مور او
پلار یا دھرے گناہ ځخمہ چہ ددوے ځخمہ سوی وی غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ د پریښنونکی دے
روایت دے چہ ھرکلہ کفارو د مکی بہ خپل مالونہ دریا او د شاباسی د پارہ
دخلگو بے مصرفہ لگول پہ دے شان او طریقہ سرہ چہ دیوہ میلمہ د پارہ بہ یے
دیرا و بنان حلال کړہ او چہ ځای بہ دلگو لورا غلی لکہ پرحقدارانو نوھلتہ بہ
یے نہ لگاوے نو د پارہ د امر پہ ادا کولو د حقوقو سرہ او د منع کولو ځخمہ د اسراف نو
نازل سو وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى او ورکوہ اے بندہ د قریبانو تہ حَقَّهٗ حق دده یعنے
نفقہ دده کہ محرم وو او نادارہ وو پہ نزد د امام اعظم وَالْمِسْكِيْنَ او د مطلق
نادارہ تہ وَابْنَ السَّبِيْلِ او د مسافرتہ ھم حق دده د زکوٰۃ ځخمہ وَلَا تُبَذِّرْ
تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ او اسراف مہ کوہ پہ اسراف کولو سرہ یعنی بے ځایہ یے مہ بنندہ اِنَّ
الْمُبَذِّرِيْنَ بیشکہ اسراف کونکے چہ دے كَانُوْٓا دوے دی اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ط
د رونہ د شیطانانو پہ اتلاف د مال کښی وَكَانَ الشَّيْطٰنُ او دے شیطان لِرَبِّهٖ
كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ رب خپل لرہ منکر دده د نعمتو ځخمہ روایت دے چہ ھرکلہ فقراء و
اصحابو لکہ بلال یا صھیب یا خباب چہ د رسول ځخمہ بہ یے د اسی شی وغوښتی
چہ ھغہ بہ دده سرہ نہ وو نو دہ بہ و دوے تہ دویری حیا ځخمہ ځنلہ وسرگرزل وی نو
نازل سو وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ او کہ تا اعراض کاوے او د اعبارت ھم دتیرا تا یبلغن
پشان دے پہ قولو احکامو کښی عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ دده محتاجانو د اصحابو
یا د ھغہ تیرو د روسرہ ووطائفو ځخمہ د پارہ د انتظار د رونہ مِّنْ رَّبِّكَ د
جانبہ ځخمہ د خپل رب تَرْجُوْهَا چہ تہ د ھغہ روزی امید لرے یعنی کہ اعراض
دے کاوے ددوے ځخمہ یو وخت ددے د پارہ چہ کہ د رب د طرفہ ځخمہ ماتہ

څه راغله نو دا سوال ددوے به هغه وخت ادا کړه فَقُلْ لَّهُمْ نو ته ووایه تر فی الحال ووایه قَوْلًا مَّيْسُوْرًا (۲۸) نرمه خبره یاد عایا وعده دا حسان نو بیا ددوے آیت ترنازلیدو وروسته چه به هرچا سوال څنی وکړی چه دده سره به هغه شی حاضر نه وو نو ورته وو به ویل چه دښرقنا الله وایاکم روایت دی چه یوه ورځ یو هلك راغلے ورسول ته چه مورمی دتا څخه قمیص غواړی نو ده ورته وویل چه یو ساعت ورروسته راسه نو هرکله چه هغه بیا راغلے چه زما مورستاد غاړی قمیص غواړے نو ده قمیص دغاړی څخه راوکښی او ورپه کړے او دی دننه کښینا ستی بیا چه بلال اذان وکړے نو دے دجمعه دلوڅ والے څخه نه راووتے نو نازل سو وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ او ته مه نیسه لاس څپل مُغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ کلك نیولے لکه چه ترلی دی په خپل گردن پورې اردا کنایه ده د امساك څخه یعنی امساك مه کوه وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ اومه پے غځوه په ښځې ډیر غځولو سره یعنی اسراف هم مه کوه فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا نو ته به سی ملامت کړه سوی هم وخدای ته اوهم ومخلوق ته چه خپل ځان دی ولی داسی حیران کاوی مَّحْسُوْرًا (۲۹) پښیمانه پاته دومره ورکولو سره. رباعی

راسه مه کوه امساك چه لاس دی پروت وی په گردن کښی
داناکاره کاردے ورروره په مذهب دعا قلانو
اواسراف ترهغه زیات دے په بدی کښی
چه تل ناست به پے تش لاس اوملامت دناقلانو

بلکه لازم داعتدال ونیسه چه نه پکښی تقصیر اونه تبذیر «نقصان ازیادت» یو دے جهته چه خیر الامور اوسطها اوبل ددے جهته چه اِنَّ رَبَّكَ بیشکه چه رب ستا يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی سړوزی لِمَنْ يَّشَآءُ دهغه چا دپاره چه اراده پے وسی وَيَقْدِرُ او تنگوی پے پرهغه چا چه اقتضایے وسی اِنَّهٗ

عه لاس بندول اوچا ته څه نه ورکړل ۱۲ سه بهتر دکار ومیانه روی ۱۲

ع ۸ ۳

بیشکه چه دے کَانَ بِعِبَادِہٖ دے پرمصالحو دخپلو بندگانو باندی خَبِیْرًۢا بَصِیْرًا (۳۰)
دا اوبینا وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ اوتاسے مه وشرنی اولاد خپل خَشْیَةَ اِمْلَاقٍ
دبیرے ځمنه دفقرچه که اولاد دپرسی نوروزے به رابانديتنگه کړی نَحْنُ
نَرْزُقُهُمْ ځکه چه موږ ودوے تهروزی ورکوو وَاِيَّاكُمْ ط اوبلکه لاوتاسے
ته هم نوددوی دروزے غم دسره مه خوری اِنَّ قَتْلَهُمْ بیشکه قتل ددوے
چه دی كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا (۳۱) دے یولوے خطا کارځکه چه یوخوپکښی قطع
دچپل نسل ده اوبل ددے نوعی وراکول دے وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اوتاسے مه
نژدے کیږے ونږ نا ته فضل تردے چه مباشیرت ورسره وکړے یعنی ددولعیو
اوبلونکوځمنه یے ځان وساتے لکه لمس (لاس وروړل) یاقبله (پرچه خپښل) یاداسے
نورسره اوکه نهی (منعه کول) دنفس نږ نا ځمنه وای نوولاتږ نوا به یے ولیلی وای
اِنَّهٗ كَانَ بیشکه داږ نا چه ده فَاحِشَةً ط داسے بدکاردے چه نه یے شرع او
نه یے عقل خوښوی وَسَآءَ سَبِيْلًا (۳۲) اوبددے داعمل دجهنم دروښه ځکه
چه داپه واقعه کښی غصبیږدے د بضعی (بضعه) چه هغه بیا مفضی کیږی یود نسب
وختمیدو ته اوبل دوږو وفتنو وراپورته کیدو ته وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ
اوتاسے مه وژنی هغه نفس یعنی هغه مؤمن او ذمّی او معاهد حَرَّمَ اللّٰهُ
چه خدائے حرام کړیدے قتل دهغه اِلَّا بِالْحَقِّ ط مگر په حق سره چه دقتل
مستحق سی په کفرسره ترایمان راوړلو وروسته یا په نا سره ترا حصان
(واده کولو) وروسته یا په قتل سره دمعصوم مؤمن عمدًا (په قصد سره) وَمَنْ
قُتِلَ مَظْلُوْمًا اوهرڅوک چه قتل کړه سو په داسے حال کښی چه ظلم پر
کړه سوے وه یعنی پرناحقه مروی فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ نوپه تحقیق سره
موږ ورکړیدے ووارث ته دهغه سُلْطٰنًا تسلط اوغلبه اوقوت پرقاتل
چه مړے کړے فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ط نواسراف دی بیانه کوی داوارث

عه یعنی خپلدل وخپل نسل ۱۲ صه کمږن لارے ۱۲ صه کافرچه دامن نومسه یے خپښتل سوی دی ۱۲

پہ وژلو کښی چہ وُقتل شُخہ ما سیو اہل خوك مرکړے یا دیوہ پرځای دوہ مړہ کړے اِنَّہٗ بیشکہ دے چہ دی کَانَ مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾ دے مدد کړہ سوی دے اود ا ضمیر د اِنَّہٗ درے احتمالہ لری کہ اول مقتول تہ راجع وی نو معنیٰ داچہ دے منصور دے هم په دنیا کښے چہ بل پرقتل کیږے اوهم پاُخرت کښی چہ ثواب ورکول کیږے اوکه والی تہ راجع سی نو معنیٰ داچہ دے منصور دی چہ د قصاص اختیار ورکړہ تہ ورکړہ سویدے اوکه هغہ دویم مقتول تہ راجع سے چہ په اسراف سرہ ویږے وژلے دے نو معنیٰ داچہ دے منصور دے چہ بیا به بل پرمرکیږے وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْیَتِیْمِ اومه نژدے کیږے دے دیتیم ومال تہ فضل تردے چہ تصرف پکښی وکړے اِلَّا بِالَّتِیْ مگر په هغہ طریقہ سرہ هِیَ اَحْسَنُ چہ هغہ ډیرہ بنہ وی یعنی چہ په هغہ کښی ساتل بلکه زیاتول د مال دده وی اود ا معامله بیا تاسے کوی حَتّٰی یَبْلُغَ اَشُدَّہٗ ترهغو پوری چہ دی دبلوغ وحد تہ ورسیږے او اثاراو علامی درشد پکښی بښکاره سی وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ او وفاکوی په هغہ وعدہ سرہ چہ خلاے دتاسے سرہ کړی دہ داوامرو اود نواهیو یا په هغہ وعدہ سرہ چہ تاسے پے سرہ کوی په خپل مینځ کښے اِنَّ الْعَهْدَ بیشکه عهد چہ دے کَانَ مَسْئُوْلًا ﴿۳۴﴾ دے دا عهد پوښتل سوے دعاهد شخہ یا داعاهد پوښتیدل سوی دے دعهد شخے دجهتہ دوفاء پورہ کولو، شخہ او دغیرہ وفاء نہ پورہ کولو شخہ، په تقدیر سرہ دعَنْہُ وَاَوْفُوا الْکَیْلَ او پورہ کړے پیمانہ اِذَا کِلْتُمْ په هغہ وخت کښی چہ شے پیمانہ کوی وچاتہ او نقصان مہ پکښی کوے وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِیْمِ او تول کوے په تله اوترازو سم اوبرابرسرہ یعنے هغہ تول یا په ترازو سرہ چہ قلعی پکښی نہ وی ذٰلِكَ خَیْرٌ داپورہ کول وپیمانے اود تول ډیرغوره دے په دنیا کښے وَّاَحْسَنُ تَاْوِیْلًا ﴿۳۵﴾ اوډیر بنہ دے دجهتہ دعا قبتہ وَلَا تَقْفُ مَا او پیروے مہ کوہ

دھنہ کار لَیْسَ لَکَ بِهٖ عِلْمٌ ط چہ نہ وے وتاتہ پہ ھغہ سرہ پوھ یعنی ترڅو چہ دے پخپلہ لیدلے یا اوریدلے نہ وے ترھغو پورے یے مہ وایہ چہ ما اوریدلے یا لیدلے دے یا مراد شاھدی دہ پہ دروا غوسرہ اِنَّ السَّمْعَ بیشکہ غوږ چہ دے وَالْبَصَرَ اوستر گہ چہ دہ وَالْفُؤَادَ اوزړہ چہ دے کُلُّ اُولٰٓئِكَ ھر یودی دروسرہ دوچہ دے کَانَ عَنْهُ وی بہ دے دخپلہ خانہ یا دخپلہ صاحبہ څخہ مَسْئُوْلًا ﴿۳۶﴾ پوښتنیدل سوی چہ صاحب ستاسے بہ پہ تاسی سرہ څہ کار کاوی پہ دنیا کښے یا چہ تاسی ولی گناہ کولہ وَلَا تَمْشِ اوتہ تلہ مہ کوہ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا ج پہ تکڑہ کینی پہ خیال اوپہ تکبر سرہ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ بیشکہ چہ تہ بہ دسرہ محکمہ څیرے نہ کړے پہ دربولو سرہ دخپلو پښو د ډیرہ تکبرہ څخہ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾ اودسرہ بہ تہ نہ ورسیږے دغرو وسرو تہ دجھنہ څخہ اوږدوالی یعنے دلوړ سرتہ بہ یے ونہ رسیږے پہ ډیرو جگید وسرہ دډیرے نخرو کولو سرہ كُلُّ ذٰلِكَ داتولہ چې تہ ذکر سوہ چرپوولس امرہ دے اوخوارلس نہی دی دولہ تجعل څخہ راپہ دیخوا كَانَ سَيِّئُهٗ دہ بدی دھغہ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿۳۸﴾ پہ نزد دروب ستانا خوښہ اومبغوضہ ذٰلِكَ داھر څہ چې تہ ذکر سول داحکام څخہ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ دھغہ قسمہ څخہ دے چہ رالیږلے دی وتاتہ رَبُّكَ رب ستا مِنَ الْحِكْمَةِ ط دحکمت علمی څخہ چہ معرفت دحق پہ حاصلیږے اودعملی څخہ ھم چہ بنہ اعمال پہ معلومیږے وَلَا تَجْعَلْ اومہ پیدا کوہ مَعَ اللّٰهِ د خدائے سرہ اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدائے اوگڼے پیدا کړے فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ نو وبہ غورځول سی تہ پہ دوزخ کښی مَلُوْمًا پہ داسے حال کښی چہ ملامت کړہ سوی بہ اوسی تہ هم دمؤ منانو اوهم دملائکو مَّدْحُوْرًا ﴿۳۹﴾ ترتل سوی د درگاہ څخہ دروب اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ ایا نو غوره کړی یاست تاسی خپل رب

عہ یعنی څوک چہ نہ محکمہ څیرہ لای سی اونہ دغہ سرہ برابر پیدا لای سی نو کبر اولویۍ ولی کوی
دخدا رد پیدا کړی بےۍ رب پاک راسہ انقاد پہ عاشق کښی سہ بے باک

بالبنین په نرامنوسره چه تاسی ته پیغلی ورکړی دی وَاتَّخَذَ او ده خپل ځان ته نیولی دی مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا د ملایکو څخه بنځی یعنی لوڼی اِنَّكُمْ بیشکه تاسی چه یاست لَتَقُوْلُوْنَ خامخا تاسی وایاست قَوْلًا عَظِيْمًا (۴۰) ډیره لوی خبره څکه چه اَوْلاد ورته ثابتوی چه دا اولاد دجسم د خاصو څخه دی دَوِیم یا هغه قسم اولاد چه تاسی په شرمیږی چه هغه لوڼی دے وَلَقَدْ صَرَّفْنَا او خامخا په تحقیق سره موږ مکرر کړے او بیان کړی ده په څو ځایونو کښې په دې قرآن کښی لِيَذَّكَّرُوْا دے د پاره چه دوی پند په واخلی وَمَا يَزِيْدُهُمْ اونه ورزیاتوی دوی ته دا تکرار اِلَّا نُفُوْرًا (۴۱) مګر تښتنه او لیرے کیدل د حق څخه قُلْ لَّوْ كَانَ ته ووایه چه که وی مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ د رب العلمین سره نور خدایان هم كَمَا يَقُوْلُوْنَ لکه دا مشرکان چه وایی اِذًا لَّابْتَغَوْا نو خامخا به دے خدایانو طلب کړی وای اِلٰى ذِى الْعَرْشِ وخاوند دعرش او دمالك ته دملك سَبِيْلًا (۴۲) لاره دور تلو لکه چه دا عادت دی دبادشاهانو چه په خپل مقابل کښې هیشه مقدمه وروړے سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى پاك دی خدائے او بلند شانه دے عَمَّا يَقُوْلُوْنَ د هغه څخه چه دوے یے وایی عُلُوًّا كَبِيْرًا (۴۳) ډیر لوړ بلند شانه سره رڼا یت دے چه یوه ورځ د رسول په لاس کښی یو چوږ لرګی وه چه ناګاه یے تسبیح وویل په دا سے چه اولو اوازسره چه حاضرو تولو واورېده نو دوے د ډیره تعجبه څخه وویل چه یا رسول الله! دا وچ لرګی څنګه تسبیح وایی نو نازل سو تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ تسبیح وایی ده لره اووه سره اسمانونه وَالْاَرْضُ اوځمکه هم وَمَنْ فِيْهِنَّ د اوهر هغه څوك هم چه په دوے کښی دی د ملایکو اود پیرانو نو اود انسانانو نو څخه وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اونسته هیڅ شی د مخلوقاتو څخه اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ مګر چه تسبیح وایی

د خدای دده د ثنا سره پیوسته مگر دی روحیږي په شر به اولسانه سره وایي اونور
ږي په لسانه د حال سره وایي لکه چه حدیث دی چه ما اصطید حوتٌ فی البحر ولا
طائر یطیر الا بما یضیع من تسبیح الله کذا فی المدارک وَلٰکِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ اولیکن
تاسی نه پوهیږے تَسْبِیْحَهُمْ ط په تسبیح ویلو سره د دوی د پاره د اختلاف د
لغاتو اِنَّهٗ بیشکه چه دے کَانَ حَلِیْمًا صابر دے په جهل د بندګانو سره غَفُوْرًا (۴۴)
بخښونکی دے د مؤمنانو د ګناهونو وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ او دده
ملګرو د ا ارادې وکړه چه تردے وروسته به وررسول تد قرآن د قرائت
په وخت کښی ضرور دسوو نو بیا د قرائت په وخت کښی به دے خدائے د کفارو
د ستر ګو غائب کړی لکه چه وایي وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ او په هغه وخت کښی
چه ته قرآن وایي جَعَلْنَا بَیْنَكَ نو موږ پیدا کوو په مابین ستا وَبَیْنَ الَّذِیْنَ
او په مابین کښی د هغو کسانو نو لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان نه راوړی په
راتلونکی د قیامت حِجَابًا مَّسْتُوْرًا (۴۵) پرده پته د ستر ګو څخه د دوی چه
نه وینی تا ترآیت دے چه د ابی لهب بنځے وروسته ترنزوله د سورة
تبت یده لویه تیږه ولاخیسته چه رسول په وه ولی اوده په کوته کښی
د صدیق قرآن لوست نو دے بنځی د صدیق څخه پوښتنه وکړه چه ملګری
دے چیری دے چه د هغه هجو اوبد ویلو انتقام څنی واخلم چه په ما پوری
یے شاعری جوړی کړی دی چه وایي حمالة الحطب فی جیدها حبل من مسد
بیا رسول وصدیق ته وویل چه ته یے ویو بنسته چه په دے کوته کښی بے
له ما څخه بل څوک سته که نسته ؟ بیا چه دایے ویو بنستل نو دے قسم
وکړے چه بیله تا هیڅوک نسته پکښی وَجَعَلْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ او اچولے دی
موږ پر زړونو د دوے اَكِنَّةً اَنْ یَّفْقَهُوْهُ پردے د دی د پاره چه دوے

عه معنے دا چه د سی بنسکار کولای ما سے په دریاب کښی او نه مرغی چه الوزی په وزر وسره مګر په سبب د ضائع
کولو او غافل کیدو د دوه د ذکر څخه د الله نه یعنے چه هر کله د ذکر د خوا نے غافل سی نو څه غضب پرنازل سی ۱۲

و نه فهموی د قرآن اود اپرده یې په مابین کښی حائلی سی وَ فِیْٓ اٰذَانِهِمْ او په غوږونو کښی ددوی ایږد دموږ وَقْرًا کومنوالے چه قرآن واله ورے وَ اِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ او په هغه وخت کښی چه یادکړی ته خپل رب فِی الْقُرْاٰنِ په قرآن کښے وَحْدَهٗ یوازے بے له الهه ددوی وَلَّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ نو بیرته دګرنږی دوی پرشاوخپلو نُفُوْرًا (۴۶) په دا سے حال کښی چه دوی تر هغه ونکی وے داورید لوڅمه د توحید روایت دے چه نضربن حارث ویل چه نږه نه پوهیږم چه محمدﷺ دا څه وایی نو ابوسفیان ویل چه بعض خبرے یې رشتیا بنکاره کیږے او ابوجهل ویل چه بحنون دے او ابولهب ویل چه کاهن او حویطب ویل چه شاعر دی نو نازل سو نَحْنُ اَعْلَمُ موږ ښه پوهیږو بِمَا یَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ په هغه کار چه دوے اورید ل کوی د قرآن د هغه مطلب د پاره چه طعنے او مسخری دی یعنی بائده خو داسی وه چه د قرآن یې په نیت د تعاظ «پندهیتلو» اورید لای لیکن دوی ئے مسخره واوطعنو د پاره اورے اِذْ یَسْتَمِعُوْنَ اِلَیْكَ په هغه وخت کښی چه دوی وتا ته غوږ نیسی وَ اِذْ هُمْ نَجْوٰٓى او په هغه وخت کښی چه دوے سره ګوښه وی نو ځوک یے سحر او ځوک یے شعر او ځوک یے کهانت بولی اِذْ یَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ په هغه وخت کښے چه والی ظالمان یعنی مشرکان و اصحابو ته اِنْ تَتَّبِعُوْنَ چه پیروی نه کوی تاسے اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا (۴۷) مګر د دا سی سړے چه جادو په کړه سوی دی یا جادو ګردی اُنْظُرْ كَیْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ وګوره چه دوے په تا پوری څنګه مثالونه وایی چه ځوک دی ساحر او ځوک دی شاعر او ځوک دے بحنون بولی فَضَلُّوْا نو ګمراه او څپ سوه دوے (چا د ورځ) د حق د لاری څخه فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ سَبِیْلًا (۴۸) نو طاقت نه لری دے د پیدا کولو د حق د لاری وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا اود دے والی چه ایا په هغه وخت کښے چه موږ سو تر مرګه وریوسته عِظَامًا وَّرُفَاتًا تش هډوکی او خاورے میده سوے ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ایا بیشکه چه موږ به بیا خامخا راولاړ او ژوندے

کړه سو خَلْقًا جَدِيْدًا ۴۹ په نوی پیدا کولو سره یعنی وچه خاورې به بیا څرنګه لکه د غوښې سی او د استخوان دے قُلْ کُوْنُوْا حِجَارَةً تہ دوے تہ وویا یه چه ډبری او تیږے سی که کیدے سے اَوْ حَدِيْدًا ۵۰ یا اوسپنه سی اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ صُدُوْرِكُمْ ط په سینو ستاسی کښی لکه غږ یا مخکه یا اسمان یا یو بل شی چه احیاء "ژوندی کول" پرے ډیر سخت وے فَسَيَقُوْلُوْنَ نو څرګند وے چه دوے به وایی چه مَنْ يُّعِيْدُنَا ناطه هغه څوک دے چه بیرته به موږ ژوندی اوشړوندے کړی موږ ترمړلو وروسته قُلِ الَّذِيْ تہ ورته وویا یه چه هغه څوک به موږ بیرته ژوندی کړی فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ چې پیدا کړی یئے یاست اول واړه خاورو څخه فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ نو څرګند وے چه دوے به وښورولے ستا وخوا ته رُءُوْسَهُمْ خپل سرونه د پرے استهزاء او تمسخر څخه وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ؕ او دوی به درته وایی چه دا بعث اوحشر به کله وی قُلْ عَسٰٓى نو ته ورته وویا یه چه بنایئ او داعسی دوجوب د پاره دے اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ۵۱ چه دا بعث نژدے وی څکه چه واخلکښئے دے يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ په هغه ورځ چه خدائے تاسے وبولی یا اسرافیل په دویمه نفخه "وروسم دار پښیلی کښی پرکل" د پاره د راپورته کولو د قبرو څخه فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ نو جواب به ورکوے تاسے وخدائے یا اسرافیل تہ په داسی حال کښی تاسے به ثنا ویونکی یاست د رب لکه چه روایت دے چه دوی به د قبرو څخه راولاړ پرے اوده څپلو سرو څخه به خاوری څنډی اووائی به چه سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وبِحَمْدِكَ وَتَظُنُّوْنَ اوګمان به کوی تاسے د دیره هیبته څخه اِنْ لَّبِثْتُمْ چه مدار اوونه ډنډ دے کړی تاسے په دنیا اویا په قبرو کښی اِلَّا قَلِيْلًا ۵۲ مګر لږ روایت دے چه هرکله ایذاء "ضرر رسول" د مشرکانو د پرسو پراصحابو باندے نوده وے د رسول اجازه د جنګ وغوښته نوده ورته وویل چه زه په دی سره نیم مأمور سوی نو نازل سو وَقُلْ لِّعِبَادِيْ اوته وویا یه اے رسوله زما وبندګانو ته یعنی ومؤمنانو

۱۲ ۵

عه یعنی راڅرګندې دے اور اڅرګندې خوږتړوی وی ۱۲

ته یَقُوْلُوا الَّتِیْ چه دوے دی وایی ومشرکانو ته هغه خبره هِیَ اَحْسَنُ ط چه هغه ویره
بنه یعنی نرمه وے لکه یُهَدِّیکُمُ الله چه سو اوځیږه خبره دی نه ورته کوے ځکه
چه اِنَّ الشَّیْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے یَنْزَغُ بَیْنَهُمْ د دښمنی اچوی اوشر پورته
کوی دده وی په مینځ کښے نوداپیاولوے فساد ته مفضی سی اِنَّ الشَّیْطٰنَ کَانَ بیشکه
چه شیطان دے لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا ښکاره دښمن چه دسړے پے
په بنیګړه سره خوښ نه دے رَبُّکُمْ اَعْلَمُ بِکُمْ د سړ ب ستاسے دانادے په حال ستاسے
یعنی په څوندیو مشرکانو نصیحت مه کوی چه دوے اهل نادے بلکه داسے ورته وایا
اِنْ یَّشَاْ یَرْحَمْکُمْ چه که پے اراده وسی نو رحم به درباندی وکړی په هدایت اوپه توفیق
سړ اَوْ اِنْ یَّشَاْ یُعَذِّبْکُمْ ط یا که پے اراده وسی نوتاسے به په عذاب کړی په ضلالت
سره وَمَآ اَرْسَلْنٰکَ اومونږ تنبیے رالیږلے عَلَیْهِمْ وَکِیْلًا ۵۴ پرده وے نګهبان روښانه
دے چه هرکله قریشو وویل چه داخبره ویره بعیده اونالائقه ده چه یتیم د ابو
طالب پیغمبرا و بوځوکسه ودے اوبر بنده اولخړ به دده تابع سی نونازل سو وَرَبُّکَ
اَعْلَمُ اورب ستابنه دانادے بِمَنْ فِی السَّمٰوٰتِ په هرهغه چاچه په اسمانونو کښے دی
وَالْاَرْضِ ط اوپه ځمکه کښی دی اوپه قولو احوالودوے سړ نوزده نبوت د پاره هغه
څوک چه دده اراده وسی غوره کوی پے وَلَقَدْ فَضَّلْنَا اوخامخا په تحقیق سړ مونږ
غوره کړیدی بَعْضَ النَّبِیّٖنَ عَلٰی بَعْضٍ بعضے پیغمبران پر بعضو نورو باندی په
کمالا تو نفسیا توسړ نه په ډیر مال اوپه ډیرو تابعانو سړ اوپه دے کښی اشارت دے
وبهترے ته د رسولؐ پر نورو انبیاؤ باندے وَاٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۵۵ اومونږ ورکړی
وو- وداؤدؑ ته کتاب چه نوم پے زبور وو نزد هغه مرتبه په دی کتاب سړ وه نه
په باچاهے سړ اوداهم دلالت کوی پر بهترے د رسولؐ چه دے خاتم الانبیاء دے
اوده امت خیرالامم «بهتره دامتر» دے اوداقوله دده «ایت څخه معلومیږی چه

عه خلای سوړ پاڼه برابر کړه ۱۲ صه رسول نکی سی ۱۲
صه پیغمبرانو سره ۱۲ سه دنیا نو څخه ترلیکے ۱۲

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ۝ او مراد دے صالحانو څخه رسول اوامت دده دے روایت دے چه هرکله قریش په اوښه ده قحطے سره مبتلا سوه اولوږے اوسختے ورپوکړے نو دپاڼو الزام ددوے نازل سو قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ نوته ووایه اے رسوله ودے کفارو ته چه تاسی راوده بولے هغه کسان زَعَمْتُمْ چه تاسی گمان کوے چه دوے خدایان دی مِنْ دُونِهِ غیر د خدای څخه هرڅوك چه دے چه دا سختے اوبلا دتاسی څخه لیرے کړے فَلَا يَمْلِكُونَ نو دوے اختیار نه لرے كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ د لیرے کولو د سختے اود بلا دتاسے څخه لکه مرض یا فقر یا قحط وَلَا تَحْوِيلًا ۝ او نه د تغیر ورکولو یا د بیولو دے قبیلی څخه وبلے ته روایت دے چه بنی ملیحو به د ملائکو اوبنی خزاعه وو به د پیریانا نو عبادت کاوے اود ے پیریانو بیا ایمان راوړے اوداعابدان پے هم هغسی په کفر کښے پاتے سوه نو نازل سو أُولَٰئِكَ الَّذِينَ دادوی معبودان هغه څوك دے که ملائکے دے اوکه پیریان دے يَدْعُونَ اے یدعونهم یعنے چه دوے پے په خدایانو سره بولے اودا اُولَٰئِكَ مبتدا ده اوداجمله د الذین پے صفت دے اوخبر پے دا دے چه يَبْتَغُونَ دوے طلبوے یعنے دامعبودان پے إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ وخپل رب ته یوه وسیله یعنے بوطاعت اوعبادت اویا بل دخیرکار چه په هغه سره ودهٔ نژدے سی أَيُّهُمْ أَقْرَبُ هغه دوی چه ډیر نژدے دی د درگاه ته درب اوداای موصوله دے اوداا قرب پے صله ده مگر سره د مبتدا، او مفضل علیه اوعائده ځکه چه دا په اصل کښے هو اقرب منهم وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ او اُمید لرے دامعبودان که ملائکے دے اوکه پیریانان ګے دده د رحمت وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ او دوے پیریږے دده د عذاب څخه حاصل کلام دا چه هرکله چه هغه معبودان دډوهم وخدائے ته محتاج دے نو په کار ده چه دے پخپله په طریقه اولے سره هم دده ودرگاه ته شبیه او سره

عه اوخانخاچه څنګه سره موږ لیکلے دے په زبور کښے ورسره تر لیکلو په تورات کښے هم ځکه به زمانیکان خدمګان په میراث سره دلے ۱۲

راجع دے او عذابہ ئے هم هروخت په بیره کښی دے ځکه چه اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ بیشکه چه عذاب درب ستاچه دے كَانَ مَحْذُوْرًا (۵۷) ځنډ رکړه سوی دے یعنی داعذاب دده کار لایق دے چه هرځوك په هروخت کښی او په هرځای کښی ځنی په بیره کښی سے وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ او نسته هیڅ بنار پرمخ دمځکی اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا مگرچه موږ دهغه هلاکوئکے یو یعنے دهغه داهل په مرلئ او په فنا سرۀ که مؤمنان وه اوکه صالحان وه قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مخکی دقیامت تر وروځے اَوْ مُعَذِّبُوْهَا یا عذابونکی یو دهغه په قتل او په قحطے او په توږو قسمونو دبلا عَذَابًا شَدِيْدًا اه په سخت عذاب سره که کافران او فاسقان وه رَوَایت دے دمقاتل ځخه چه دے وایے ما دضحاك په کتابونو کښی لیدلے دے ددے آیت په تفسیر کښے چه مکه به دحبشو دلاسه خرابه سی او مدینه به په لوږه سرۀ او بصره به عرات سره او کوفه دترکو دلاسه اوغرونه به په تندره او په زلزله سره او بلخ به په شکست اوماته سرۀ او بد خشان دبعضو خلگو دلاسه اوترمذ به وبا سره او صنعا ترواشجره پوری به قتل عام سره او سمرقند او فرغانه اوشاش او اسبیجاب اوخوارزم دا پنځه سره به قتل عام سره دبنو قطورو وو دلاسه او بخارا به قحطی او به لوږه او مروه به سپږو سره اوهرات به ماراونو سره چه پرده به اوسیږے اودوی به تولو وخورے او نیشاپور به تنا او بربینبنا او به تیارو سره اورئ به قتل سرۀ دطبرانو اودیلمنانو به وجه ددوے دغلبی او ارمنیه او اذربایجان دا اسانو به سمونو سره او به لښکرو او به زلزلو او به تندرو سره او همدان به باراونو اوحلوان به داسے باد سره چه دشپی به به خوب کښی پرلږ والوزے او سهارته به تولو خلگو زیران او بیزوگیان سوی وے او سجستان به سخت باد او به شکست اوماته سرۀ اوکرمان او اصفهان اوفارس به دښمن سره کړائی المدارك كَانَ ذٰلِكَ دے داحکم فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا (۵۸) په لوح محفوظ کښی لیکل سوے رَوَایت دے چه قریشو درسولؐ ځخه معجزه وغوښته چه داکوه صفا (صفا غونډۍ)

دے دسرہ نہ روسی او داشاد خواغرہ نہ دے د مکی څخہ قولہ ورتہ سی چہ وطن قولہ ھوار د الہ سی او بیا و لے پکښی روانے کړہ سی چہ کښت او کرھنہ پکښی کیږے او باغونہ پکښی کښینوول سی نو دا معجزہ پرورد گار ورتہ بښکارہ نہ کړہ او نازل سو وَمَا مَنَعَنَآ اَوھیڅ شی موږ نہ یو منعہ کړے اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰیٰتِ دے څخہ چہ موږ دا معجزے چہ د ځانہ څخہ جوړی سوے د قریشو دے راوہ لیږو اِلَّآ اَنْ کَذَّبَ مگر یو کار چہ تکذیب کړی وو بِھَا الْاَوَّلُوْنَ ط پہ ھغہ خوند ساختہ معجزو خپلو سرہ مخکینیو کفارو یعنی ھغہ تیرو سو امتو بہ معجزے وغوښتلی او موږ بہ ورتہ بښکارہ کړے او بیا بہ یے دوی تکذیب وکړے نو موږ بہ یے بیخ راوکښی نو اوس دا معجزہ کہ و قریشو تہ ھم بښکارہ کړو او سرہ دد دے چہ موږ تہ دا ھم معلومہ دہ چہ دوے ایمان نہ پرانوړے نو پکار دہ چہ بیخکنی "بیخ کښہ سوی" کړو دوے او حکم ازلی نہ موږ داسے دی چہ دوی دے بیخکن نہ سی ځکہ چہ دوے د نسل څخہ بہ موږ مؤمنان پیدا کړو او یوامت د ھغو مکذبانو امتو څخہ ثمود وہ لکہ چہ وایی وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ اَز موږ ورکړی وہ ثمود وو قوم تہ اوښہ چہ صالح دوے پہ طلب سرہ د تیرے څخہ راایستلی وہ مُبْصِرَةً بښکارہ معجزہ فَظَلَمُوْا بِھَا نو دوے ظلم وکړی پرخپلو ځانونو پہ سبب د گوډولو سرہ چہ اول یے پښی پہ توږہ سرہ پہ ولاړے ځنی پرے کړی بیا چہ پرے توتہ نو حلال لہ یے کړہ نو دوے قولہ ھلاک سوہ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰیٰتِ او موږ نہ راليږو دا خود ساختہ معجزے دد وی اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾ مگر د پارہ د بیرولو د دوے د عذاب څخہ د اخرت وَاِذْ قُلْنَا لَكَ او یاد کړہ ھغہ چہ موږ وتاتہ وویل یعنی چہ موږ وعدہ د رسرہ وکړہ چہ تہ ھیڅ خفگان مہ کوہ ځکہ چہ اِنَّ رَبَّكَ بیشکہ چہ رب ستا چہ دے اَحَاطَ بِالنَّاسِ احاطہ کړیدہ علم او قدرت دد ہ پر خلگو یعنے پہ قریشو چہ قول د دہ پہ قبضہ کښی دے نو ستا انتقام بہ ځنی واخلے او ھغہ وعدہ چہ رب د رسرہ

کړی وه هغه داده چه آیت پخوا راغلے وه چه سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ اوبل داوو چه قُلْ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ الایة اوبیا هغه انتقام د بدر په ورځ ځنے واخیستل سو چه او یا تنه ځنی قتل سوه او او یا تنه ځنی بندیان سوه وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيٓ او موږ نه دے کړے ولے هغه خوب اَرَيْنٰكَ چه موږ وتاته بنوولے وه د بدر د واقعی په باب کښی چه د جنډۍ ترمخه دے واصحابو ته د هریوه ځای د قتل بیل بیل اوجلا جلا په گوته ور بنوولے نو دا خوب نه وه اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ مگر ازمایښت د خلگو د پاره یعنے د قریشو اوداځکه چه هرکله داخبره ورته ورسیده نو خندل به یے او مسخرے به یے کولے او ویل به یے چه دا به کله وی وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ اوهغه اسے موږ نه ده گرزولے هغه ونه لعنت کړه سوے فِے الْقُرْاٰنِ ط په قرآن کښی مگر د خلگو د پاره ازمایښت ځکه دوے واړید لے د زقوم په باب کښی چه اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِے اَصْلِ الْجَحِيْمِ نو ابوجهل او نورو قریشو به ویل چه وګورئ تعجب دے چه محمد داسے هم وایی چه د دوزخ اور وبرے او تیږے سوځی اوبیا اسے هم وایی چه په دوزخ کښی ونے او درختی شنه کیږی اوده دے وګوره حماقت ودے ته نه گورې چه هغه قادر مطلق دی چه د سمندر نوی چینجے وینښته دنبی په اوږه کښی او کولی د شترمرغ چه د او رسکوټی خورے د سوځلو څخه ساتے نو هغه پردے هم قادر دے وَنُخَوِّفُهُمْ لا او موږ دوی ویروو په زنګارنګ عذابو سره فَمَا يَزِيْدُهُمْ نو نه زیاتوے دوی لره د ایمان راوړل زموږ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿۶۰﴾ مگر یا غیتوب او سرکشی لویه یعنی هرڅوچه موږ پے ویروو نو هغونه دوے سرکشی او یاغیتوب لا پسی زیاتوی او هرکله چه د اطغیان او تکبر د دوی په وجه سره د غلبے د ابلیس وه چه سره متمرد او انوا و متکبرانو دی نو ځکه یے د ده قصه ورپسی راوړه لکه چه وایی وَاِذْ قُلْنَا اویاد کړه هغه چه موږ وویل

عه ژړدی چه ماته به ورکړه سی دکفارو د ولے ته اوشاوی به ورګرزوی ۱۲ عمه دوایه دکفارو ته چه حاجزه به کړه سی ۱۲ سه دایره درخته ده چه راوزی د دوزخ په بیخ کښی ۱۲ صه سرکشانو ۱۲

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا ملائکو تہ چہ سجدہ وکړے لِاٰدَمَ وادم تہ دده دپارہ فَسَجَدُوْٓا
اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط نو تولو سجدہ وکړہ مگر ابلیس چہ دہ سجدہ ونہ کړہ بیا چہ رب دده
څخہ پوښتنہ وکړہ چہ ناولی سجدہ وہ نہ کړہ قَالَ ءَاَسْجُدُ نوده وویل چہ ایازہ بہ
سجدہ کوم یعنی نہ بہ یے کوم لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا (۶۱) وهغہ چا تہ چہ تا دخو څخہ
پیدا کړی دے نو بیا پروردګار دے دخپل درګاہ څخہ وترانتی اوده لعنت داغ بے پر
کښیښوو ے قَالَ اَرَءَيْتَكَ نو بیا ابلیس وویل چہ ما خبر کړہ دحالہ څخہ هٰذَا الَّذِيْ
كَرَّمْتَ عَلَيَّ زچہ دغہ شخص چہ تا پرمالوی کړی او دهغہ تر کړیدے دا بہ کوم سبب سره دے
سره دده دے دخاورودے اوزه دا وده یم لَئِنْ اَخَّرْتَنِ قسم دی کہ دی زہ
درڼوستہ کړم اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ دقیامت تر ورځی پورې یعنی کہ دے مرنہ کړم او
شړوندے دی پرلیښووم لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ نو خامخا بہ زہ دبچیہ راوکاږم اولادده
دہ یعنی داسے بہ یے وښکوم چہ بیا بہ هغو لہ پہ عذابولو سره بچکن نہ شی اِلَّا قَلِيْلًا (۶۲)
مگرلږ چہ تا بخص پہ خپل عصمت اوحمایت سره راڅخہ وساتل قَالَ اذْهَبْ نو رب
العزت ورتہ وویل چہ ځہ پہ دے مهم کار پسې دے اوداخلك وځان ترا اړوہ
فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ نو هرڅوك چہ دده وی څخہ ستا پیروی وکړی اوستا فرمان
ومنی فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ نو بیشکہ چہ دوزخ ستاسے جزاده یعنی ستا او د
تابعانو پیروانو ستا جَزَآءً مَّوْفُوْرًا (۶۳) پوره جزا وَاسْتَفْزِزْ اووچمپوہ یعنی د
ځایه څخہ یے بے ځایہ کړہ اوده یے بنکوه مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ هرهغہ څوك د
دوے څخہ چہ طاقت اووسع دی کیږے بِصَوْتِكَ پہ خپل اواز سره یعنی پہ بللو
سره وفساد تہ یا پہ اواز سره دسرو زدشیا نو لکہ باجہ اورباب اوسورنا اوداسې
نورڅکہ چہ دا هرډیونارواوازدے دشیطان وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ اوراتول اوراجمع
کړہ پردوے باندې دګمراہ کولو اوښکولو دپاره بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ پہ اسانو یعنی
سپرو خپلو سره اوپہ پیاده ووخپلو سره اوتوله لښکر دے پسې راوبوغوه

وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ او ته شریك سه دوی سره هم په مالونکښی چه باعث یے
کړه هم په راجمع کولو سره په ناروا سره لکه په غلا او په ربوا او په خما را وپه سوال
او زکوٰة په نه ورکولو او په فاسد واو باطلو عقدونو سره اوهم بیا په صرفولو سره په
ناروا ووکښی لکه په ډ مالونو او په پتو یارانو او په بے مصرفه بناؤ او په ریا او په
ناموس او داسی نورو وَالْأَوْلَادِ اوهم په اولاد کښے داسے چه په زنا یے راوړے
یا عبد العزیٰ او عبد الشمس او عبد الدار او یاد اسے بل نوم پرکښیږدے وَعِدْهُمْ او
تیریږے باسه په باطلو وعدو او په دروغجنو خبرو سره لکه د بتانو شفاعت او د
توبے تاخیر او چرت او دلاوری پرگناهو او انکار کول د بعثه «بیاژوندی کیدو» او
حشره او د جنته او د دوزخه اوحسابه څخه وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ او وعده
نه کوے د دوی سره شیطان اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾ مگر په مکرا و په فریب سره داسے چه خطا
په صورت د صواب کښی ورښکاره کړے اِنَّ عِبَادِيْ بیشکه چه خالص بندگان زما
چه دے لَيْسَ لَكَ نسته تاله عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ پردوے هیڅ قسم تسلط او قدرت
او غلبه وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿۶۵﴾ او بس دے رب ستا نگهبان د خپلو بندگانو نه بیشکه لو
اولغزولو څخه د شیطان رَبُّكُمُ الَّذِيْ رب ستاسے هغه قادر مطلق دے يُزْجِيْ لَكُمُ
الْفُلْكَ چه روانوے تاسے لره کښتی او اگوتونه فِي الْبَحْرِ په سیند او په دریاب
کښی پخپل قدرت کامله سره لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ د دے د پاره چه تاسی طلب کړی
د دے د فضل څخه یعنی د روزی یاد سَوْدَهٗ یاد هغه اسبابو څخه چمتا سیو او پوری و تو
څخه تر دریاب ولاس ته نه راځی اِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۶۶﴾ بیشکه چه خدای پر تاسی
ډیر مهربانه دے وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ او په هغه وخت کښی چه وتاسی ته
یوه سختی ورسیږے په دریاب کښی یعنی د غرقیدو یبیړه وے ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ
نو ورك سی او ستاسی د فکره څخه د روزی هغه څوك چه تاسی یے د حاجت
په وخت کښی بولی او عبادت یې هم کوی اِلَّا اِيَّاهُ نو مگر یوازی خدای چه په هغه

وخت کښی بیاهم دے بولی اونزاری ورته کوی فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ نوهر کله چه بیا دے تاسی خلاص کړے دغرق ځمنه اوتاسے ورسوی اِلَى الْبَرِّ ووچے ته او دغرق ځمنه په امان سی اَعْرَضْتُمْ نو تاسی څخنۍ اواعراض وکړے دتوحید ځمنه اوبیرته وخپلو خدایانو ته وګرزے وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ﴿۶۷﴾ او انسان ناشکره دی پرنعمتو دخپل رب اَفَاَمِنْتُمْ ایا نو تاسی په امان سواست چه دابو ځمنه ووچے ته راوو تلاست او بے غمه سواست یعنے بیغمه کیږے اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ دے ځمنه چه وچوی دے په تاسی سره جَانِبَ الْبَرِّ یو طرف دووچی ځمکی اوتاسے پکښی کښته کړی لکه قارون اَوْ يُرْسِلَ یا دے ځمنه بیغمه سواست چه دے راولیږے عَلَيْكُمْ حَاصِبًا پرتاسی داسی سخت باد چه سنګریزی ولی او اوروی اود برو باران درباند ے وکړی ثُمَّ لَا تَجِدُوْا نو بیا به تاسے نه کړی پیدا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿۶۸﴾ وخپل ځان ته نګهبان چه دے خسفه ځمنه تاسی وساتی اَمْ اَمِنْتُمْ اوکه په امان اوبیغمه سواست تاسے اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ دے ځمنه چه تاسے په دی دریاب کښی راننه باسی تَارَةً اُخْرٰى بیا دویم وار یعنی چه بیا ستاسے حاجت پیدا کړی ودریاب ته اوتاسی په کښتی کښے سپاره سی فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ نو نابیره پرتاسے راولیږے قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ ماتونکے دهرشی دسخت باد ځمنه فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا نوتاسے غرق کړی په سبب د کفراو شرک ستاسے ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ نو بیا به تاسے پیدا نه کړے وخپل ځانته عَلَيْنَا بِهٖ تَبِيْعًا ﴿۶۹﴾ پرمونږ باندے په سبب دے غرقولو ستاسی راپسی راتلونکے هیڅوک دپاره دانتقام اخیستلو ستاسے حاصل داچه تاسے همیشه خپل خدایان بولی مګر په وچه کښی بیا چه واوبو ته سے نوهغه مقوله درځمنه هیرسی غیر د خدای ځمنه اوبیا چه وچی ته راووزے نو بیاهم هغه خپل خدایان بولی اوسړ دے چه خدای خو په وچه کښی هم قادر دے لکه په اوبو کښی نوتاسے چابیغه کړی یاست چه تاسی ژوندے په ځمکه کښی وروب کړی یا تاسے په کښتی کښے

سپارہ کړی او دا کښتۍ په باد سره خوتی خوتی کړے چه تاسے غرق سی او بیا دخپل انتقام اخیستو دپارہ بهم څوک پیدا نه کړے وَلَقَدْ كَرَّمْنَا او خامخا به تحقیق سره موږ دیر عزت ورکړیدے بَنِيْٓ اٰدَمَ او اولاد ته دادم وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ او موږ دوے سپارہ کړیدی په وچه کښی پرچارپایانو باندی وَالْبَحْرِ او په دریا کښی په کښتیو او اګو خوکښے وَرَزَقْنٰهُمْ او روزی ورکړیده موږ دوی ته مِّنَ الطَّيِّبٰتِ دپاکیزه ووطعامونځه وَفَضَّلْنٰهُمْ او موږ دوے غوره کړیدے عَلٰى كَثِيْرٍ پر ډیرو باندے مِّمَّنْ خَلَقْنَا دهغه چا څخه چه موږ پیدا کړی دی تَفْضِيْلًا ۝ په غوره کولو سره او مراد دوے کثیر څخه قول دے فائدہ :- یوه وجه دغوره والی یے داده چه قوله عالمیانو دده دپاره پیدا کړی دے اودے یې خپل ځان ته پیدا کړیدے اوبله وجه داده چه په ملائکو کښی عقل دی بیله شهوته او په بهائمو او چارپایانو کښی شهوت دے بیله عقله او په انسان کښی دواړه دے نو پرهر چا چه شهوت غالب وو هغه بد تر دے تر بهائمو او په هر چا کښی چه عقل غالب و و هغه وخدای تعالیٰ ته دیر ګران دے تر ملائکو ځکه چه په حدیث شریف کښی راغلے دی چه المؤمن اکرم علی اللہ من الملئکة کذا فی المدارک يَوْمَ نَدْعُوْا یاد کړے هغه ورځ چه موږ به وه بولو كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ هر هر قوم دانسانانو د خپل پیشوا په نامه سره یعنی نبی یا بیل پیشوا یا کتاب یا دین یا عمل نامه لکه یا امت محمد او یا اتباع فلان او یا اهل الکتب او یا اهل دین المجوسیة او اهل سجل الخیر او یا دا امام جمع دامه دے لکه خفاف جمع دخف دے یعنی برلو به یې د خپلو مینډو په نوموسره لکه یا ابن فلانة او په دے کښی لوی حکمت دی چه یو اجلال دعیسیٰ دے او بل اظهار د شرافت د حسنینو دے او بل ستر د حال د ولدالزنا دے فَمَنْ اُوْتِيَ نو هر څوک چه وده ته ورکړه سوه كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ عمل نامه دده په بنی لاس کښے فَاُولٰٓئِكَ نو داوښی لاس خاوندان چه دے يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ واپی به دوے خپلے عمل نامے په ډیره

خو شحالی او په شوق سره په سبب سره دهغه خپلو نیکیو چه دوی ئې پکښې دینی
وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا (۷۱) اوظلم به ونه کړه سی پر دوی په قدر د پلیتی د خیرے
په گوتو کښی د اجر په کمولو سره او د اصحاب شمال "چه عمل نامے ئے پر چپه لاس کښی وی"
حال ئے نه کړے ذکر چه کفار دے د پاره د اکتفا په دے قول سره چه وَمَنْ كَانَ او
هر څوك چه دی وی فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى په دے دنیا کښی د زړه په ستر گو سره وی
چه خپل خیر او شر نه وینی فَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى نو هغه څوك به په آخرت
کښے هم روند وے چه د خپلے خلاصی لاره به نه وینی وَاَضَلُّ سَبِيْلًا (۷۲) او تر پاینده
به لاهم د پر گمراه وے د جهته څخه د لاری د ورکوالے د ے چه هر کله
ثقیفو د رسول ته وویل چه موږ به پرتا ایمان نه راوړو تر هغو پورې چه یو څو
کارونه را سره ونه کړے چه سبب ز موږ د څخه سره پر قو لو عربو باندے یو دا چه
موږ یو کال نور هم پریږده چه بت پرستی وکړو او بل دا چه دا تحکم د طائف
هم حرم کړه د مکی په شان او بل نه کړ ۀ او جهاد هم پر موږ موقوف لره او بل
رکوع او سجده هم په لمانځه کښی را ته عفوه کړه او که عربو پوښتنه د څخه وکړه
چه ولی د ے داسی وکړه نو ته ورته ووایه چه خدا ے داسی را ته ویلی د ے نو نازل
سو وَاِنْ كَادُوْا یعنی بیشکه شان داد ے چه ثقیف نژد ے سوی وه يَفْتِنُوْنَكَ
د ے کار ته چه دوی خامخا تا وار وی عَنِ الَّذِيْٓ د هغه امرا و نهي او وعد او وعید څخه
اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ چه موږ د تا ته را لیږلے د ی لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهٗ وَ د ے د پاره چه
ته د ترے په دروغو سره پر موږ باند ے ما سیوا نه موږ د هغه را لیږل سو څخه
یعنی چه ته ووایه چه د اخدای را ته ویلے د ی وَاِذًا او په دغه وخت کښی چه
ته دا سے ووایه لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا (۷۳) نو خامخا به دوی تا خاص یار ونیسی وَ
لَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ اوکه نه وای دا سے کار چه محکم کړے نه وای موږ ته پرحق باند ے
په خپل عصمت سره لَقَدْ كِدْتَّ نو خامخا به تحقیق سره ته نژد ے سوی وی

ودے تہ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ چہ تہ میل وکړے ددوے واړہ واوخواهش تہ ددوے شَيْئًا قَلِيْلًا (۷۴) لږ میل اوکه دے لږ قدر میل وکړی ددوے تہ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ نو په دغه وخت کښی به مونږ خامخا په تا سړے وڅکو ضِعْفَ الْحَيٰوةِ عذاب ددے ژوند یعنی په دنیا کښی وَضِعْفَ الْمَمَاتِ اوعذاب د مړے یعنی په اخرت کښی ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ نو بیا به تہ نه کړے پیدا وخان دپاره عَلَيْنَا نَصِيْرًا (۷۵) پر مونږ باندے مدد گار چہ تا وددے عذابه څخه خلاص کړے وَاِنْ وایت دے چه هرکله قریش درسول په ایستلوکښے د یرکوښښ کونکی سوه نو دا سے مصلحت یے سره وکړی چه د یرسخته دښمنی ورسره بر پا یه او ترسره کړو چه دا وطن پرتنګه سی او وتښتی نو نازل سو وَاِنْ كَادُوْا او بیشکه شان دادے چه خواهش لرے د اقریش لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ ددے چه خامخا دوی تا ولا ړکړی اوودے باسی دملکی دمکی څخه لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا ددے دپاره چه دوے تا دد ی ملکی دمکی څخه په فریب اوپخپل عداوت سره وباسی وَاِذًا او په دغه وخت کښی چه دوی تا وځنی وباسی لَّا يَلْبَثُوْنَ نو مړاړ او درنګ به ونه کړے دوی ستا ترایستلو ورسته اِلَّا قَلِيْلًا (۷۶) مګر لږ موده اوبیاهم دا سے وسوه چه ترهجرت ورسته لږ موده تیره سوه چه د بدر په جنګ کښی ووژل سوه سُنَّةَ مَنْ دا مصدر دی د فعل محذوف ای سنناؤ لك سنة من یعنی دا یوه لار ترلے ده مونږ لاردتړل دهغه چا دپاره قَدْ اَرْسَلْنَا چه په تحقیق سره استولے وه مونږ قَبْلَكَ مخکی تر تا مِنْ رُّسُلِنَا د رسولانو څخه زمونږ اوهغه دا متوهلاکول وه د رسولانو په تکذیب سره وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا اوته به پیدا نه کړی ودے لاری ته زمونږ تَحْوِيْلًا (۷۷) هیڅ تغیر اوتبدیل اَقِمِ الصَّلٰوةَ برپا یه کړه لمونځ اودے ایت څخه پنځه سره لمونځونه راخیژی اومعلومیږی لکه چه بیا یږی لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ ورسته تر زوال د لمر اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ تر تاریکی پوری د شپے نو په دے کښی څلور لمونځونه راغلل دوه نهاری «ورځنی» چه ماپښین اوماښګر

دے او دوہ لیلے "شینئ" دے چہ ما بنام او ما خوستن دے وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ط اوبل ادا کوہ دسما رلمونځ او دا لمونځ یے پہ قرآن سرہ مسمّٰی "ناماره" کړے ځکہ چہ اوږد قراءت پکښی ویل کیږ ے کذا فی المدارک اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ بیشکہ دسما رلمونځ چہ دے کَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ لیدل سویدے یعنی د ملائکو دواړہ ډلی پے وینی هم د شپی ملائکے او هم د ورځے ملائکی او د شپی ملائکی پے د خپل دفتر پاځرکینی لیکی او د ورځے ملائکے پے د خپل دفتر پہ اول کښی لیکی نو پہ دے لمانځہ کښی ډیر اهتمام کول پکار دی ځکہ چہ هم پے شاهدان ډیر دے او هم پہ دوہ دفتره کښے لیکل کیږ ے فائدہ:- دا لمونځ د نورو لمنځو څخہ ځکہ بیل او جلا کړہ سوچہ دا نہ خالص لیلی دے "نو پہ شپہ کښی دی" او نہ خالص نهاری دے "نہ خالص پہ ورځ کښی دی" بلکہ چہ د لمر د تکی وښکاره کیدو تہ وکتل سے نو لیلی دی "نو پہ شپہ کښی دی" ځکہ چہ د لمر تکی پہ کښی بنکاره نہ ده او که د صبح صادق د راختو تہ وکتل سی نو نهاری دی "نو پہ ورځ کښی دی" نو ځکہ دواړہ ډلی د ملائکو پرجمع کیږ ے وَمِنَ الَّيْلِ او پہ یوہ حصہ کښے د شپی فَتَهَجَّدْ بِهٖ نوښیداری کوہ د قرآن پہ ویلو سرہ پہ لمانځہ کښی نَافِلَةً لَّكَ د زائد یات عبادت دے تاله خاص پرهغو لمنځو باندے یعنی دا تهجد یوازی پر تا فرض دے عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ بنايئ داچہ تاوده روی رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾ رب ستا پہ هغہ مقام کښی چہ ستایل سویدے چہ په اصح د روایا نو هغہ مقام شفاعت دی وَقُلْ رَّبِّ اوته ووایه چہ اے ربہ ما ربه اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ ننه باسه ما پہ قبر کښی پہ ښه ننه ایستو سره چہ د ګناه څخہ پاک یم وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ او بیا ما ځنی راوباسه پہ غوره او بهتره ایستو سره چہ د الله د طرفہ څخہ مکرم یعنی اوه امدخل او مخرج دواړہ مصدر میمی دے یعنی ادخال او اخراج صدق او یا می ننه باسه پہ مدینه کښی د کرامت سره اوه مکی څخہ می راوباسه د سلامتیا سره یا پہ هر کار کښی یا پہ هر ځای کښی پہ احسنه اوا فضله وجه سره اوبیاهم داسے

ے او باسه د هرکاره یاد هر خایه په اکرام او په اسلمه وجه سره وَاجْعَلْ لِّیْ او ما کړه وما ته مِنْ لَّدُنْكَ دخپله جانبه څخه دی سُلْطٰنًا نَّصِیْرًا ﴿۸۰﴾ حجت او قوت مدد گار ے کوئکے د اسلام سره پرکفر یا ند ے وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ او ته ووایه چه حق راغلے یعنی اسلام یا قرآن وَزَهَقَ الْبَاطِلُ او ولاړ ے باطل یعنے شرك یا شیطان اِنَّ الْبَاطِلَ بیشکه باطل چه دے كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ تلونکے دے بے بقا او ورکیدونکے دے وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ اوما لیږو موږ وتا ته د قرآن څخه مَا هُوَ شِفَآءٌ هغه شی چه هغه شفاء دی د مرض ود ظاهره او باطنه وڅخه او د مِنْ یا بَیَانِیَّه دے اَو مراد څنی قوله قرآن دے او یا تبعیضیه دے مراد څنی بعض د قرآن دے لکه فاتحه "الحمد لله" یا د شفا ایت یا د اسی نور وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ۱۷ ورحمت دے د مؤمنانو لپاره چه نفعه پرا خلے وَلَا یَزِیْدُ الظّٰلِمِیْنَ اونه زیاتوی د اقرآن ظالمانو یعنی کافرانو اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾ مگر زیان کار ے اوهلاك په سبب د کفر او د تکذیب د دوی وَاِذَآ اَنْعَمْنَا او په هغه وخت کښی چه موږ خپل نعمتونه راتوی کړو عَلَى الْاِنْسَانِ پرانسان باندے لکه صحت او پراخی د رزق او بیښی او د اسے نور اَعْرَضَ نو دے مخ وگرځوے دیاد څخه د خدائے وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ او څنی لیرے سی په اړخ گرځولو سره د ډیره کبره څخه وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ او په هغه وخت کښی چه یو څه قدر سختے ورورسیږ ے لکه فقر یا بیره یا رنځ یاد اسی نور كَانَ یَئُوْسًا ﴿۸۳﴾ نو دی ژر ناامیده سی قُلْ كُلٌّ یَّعْمَلُ تہ ورته ووایه چه هرڅوك عمل کوی عَلٰى شَاكِلَتِهٖ پرهغه طریقه چه دده دحاله سره مناسبه وی د خیر او شر او هدایت او د ضلالت څخه فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ نو رب ستاسی ډیر دانا دے بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى پرهغه چا چه دے اَهْدٰى سَبِیْلًا ﴿۸۴﴾ سم او برابر دے د جهتہ دلاری رَوَایت دی چه هرکله قریشو دوه سړے ومدینی ته ورولیږل د رسول ﷺ د حال د تفتیش

ع ۹

د پاڑہ دیهود د څخه چه پیغمبر د ے اوکه نه د ے نو هغو رسته وویل چه پوښتنه
ځنی وکړی د اصحاب کهف او ذی القرنین د قصے اودد ے چه روح څه شی د ے
که یے د هغو جواب درکړے نو هم پیغمبر نه د ے اوکه یے د هغو جواب نه کړے
د نو هم پیغمبر نه د ے اوکه د بعضو جواب یے درکړے اود بعضو جواب یے د ر
نه کړے نو پیغمبر د ے بیا چه د ے پوښتنه ځنی وکړه نو د د ے وجواب راغلے او یو
روح په جواب کښی نازل سو وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ط اود ے د تا څخه پوښتنه
کوی د هغه روح د کیفیت څخه چه موجب او سبب د حیوٰة او د تد بیر انسانی د ے
قُلِ الرُّوحُ ته و د ے ته و وایه اے رسوله چه روح یو شی د ے مِنْ أَمْرِ رَبِّي د
امره څخه د رب نه ما یعنے د هغو مبدعاتو څخه چه بیله مادے څخه پیدا سو ے محض
په امر سره د کښ اوعلم پر روح د رب خاصه د ه وَمَا أُوتِيتُمْ او نه د ه د رکړه سوے
وتاسے ته حصه مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۸۵﴾ د علم څخه مگر لږ نسبت د خداے وعلم ته
بیا رب العزت اراده وکړه د بیا نزول د نعمت د وحی نو یے د وویل چه وَلَئِن شِئْنَا اوکه
نه مونږ اراده وسی لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي نو خامخا به مونږ بیړته یو سو هغه شی
أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ چه مونږ وتاته راليږلے د ی یعنی که نه مونږ اراده وسی نو د قرآن
به بیړته محوکړو هم د خلکو د سینو څخه اوهم د مصاحفو څخه چه هیڅ اثر یے
پاته نه سی ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِ تا ته نه کړے پیدا د خپل ځان د پاره وروسته د د ه
ترمحوه کید و بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿۸۶﴾ پر مونږ کومه وکیل چه پر مونږ اعتماد لری د بیړته
راد و لو د ے قرآن مَسْطُورًا او محفوظ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ط لیکن دا رحمت دی
د طرفه څخه د رب ستا چه د رته پرا یښی یے د ے او نه یے محوه کوی إِنَّ فَضْلَهُ
بیشکه چه فضل د د ه كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿۸۷﴾ د ے پرتا و یرلوی چه ته یے د هغو انسانانو
سره د رکړی او خاتم د انبیا وئیے کړی او بل یے بیړغ د حمد او مقام محمود یے هم
وتاته درکړے د ی او بل یے د قرآن درکړیدگے او بیا ترقیاته پورے یے ستا

په اُمت کښے باتے پرایښی دے رَوایت دے چه هرکله نضربن حارث وویل چه لونشاءُ لَقُلْنَا مثل هٰذا یعنے که ارادہ سوے وای زمونږ نو مونږ به هم دے قرآن په شان ویل کړی وای نزدے ده په جواب کښے نازل سو قُلْ ته ووی ته ووایه اے رسوله په جواب کښے لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ نوخاتخا که دا مقوله انسانانو سره راغوتل سی وَ الْجِنُّ او پیریان عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا پرے چه دوی راوړے بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په شان دے قرآن سره په فصاحت او په بلاغت او په حسن د نظم کښے لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ نو دوے به نه راوړے په شان سره دده په دے تیرو صفتونو کښے وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ اوکه څه هم سی بعض دوے لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿۸۸﴾ دبعضو نورو سره پُشتی او مدد گار وَلَقَدْ صَرَّفْنَا اوخاتخا په تحقیق سره بیان کړے اومکرر کړیدے مونږ لِلنَّاسِ وخلگو ته فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قرآن کښے مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ز د هرقسم معنے چه په شان د مثل دے په حسن او په غرابت کښی فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ نو غالبه خلگو نه ریا تو خلگو اوراضے نه سول په هیڅ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۸۹﴾ مگر په انکار او په ناشکرے سره رَوایت دے چه هرکله اعجاز د قرآن ظاهر سو او معاندان د قریشو پے د مقابلے څخه عاجزه سول نزدے پرے وار خطا پے څخه چه شه بے پی خولے ته راتلل هغه به یے ویل لکه چه وایی وَقَالُوْا اودوی وایی لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ چه دسره به ایمان پرتا راوړو او اوغاړه به درته کښینږو حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا ترهغو پورے چه ته مونږ ته راوخوتگوے مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿۹۰﴾ دمکے دمطلگی څخه چینه چه تل وگله وے داو یو څخه اودسره نه وچیږے اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ یاچه پیدا سی و تاته یو باغ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ دخرما گانو او دانگورو څخه فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ نو بیاته روانے کړے ولے خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿۹۱﴾ په منځ کښی دده باغ په سروانولو سره اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ یاچه ته اسمان راوغورځوے كَمَا زَعَمْتَ لکه چه ته وایے اِنْ نَّشَاْ نَسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ عَلَيْنَا كِسَفًا پرمونږ توټے توټے

اَوۡ تَاۡتِیَ بِاللّٰہِ یا ته راوله خدای وَالۡمَلٰٓئِکَۃِ قَبِیۡلًا (۹۲) او ملایکے هم مخامخ یا شاهدان
پوصحت د رسالت ستا اَوۡ یَکُوۡنَ لَکَ بَیۡتٌ یا چه پیدا سی وتا ته یوکوته مِّنۡ
زُخۡرُفٍ د سرو زنو روچه ته پکښی کښینی اَوۡ تَرۡقٰی فِی السَّمَآءِ ؕ یا چه ته پورته
ولاړسی په اسمان کښی وَلَنۡ نُّؤۡمِنَ او دسره به مودِ ایمان راته راوړی لِرُقِیِّکَ په
تش خپل ستا واسمان ته حَتّٰی تُنَزِّلَ عَلَیۡنَا تر هغو پورے چه ته راکښته کړے
پر مودِ کِتٰبًا نَّقۡرَؤُہٗ ؕ یو کتاب چه مودِ پے وایو اوستا تصدیق وکښے قُلۡ
ته ووایه دوی ته تعجبه څخه سُبۡحَانَ رَبِّیۡ پاکی ده زما رب لوړ دے
څخه چه څوک په پرده حکم جاری کړے اویا دده په باچاهی کښی بل څوک
ورسره شریک سی هَلۡ کُنۡتُ ایا زه یم یعنی نه یم اِلَّا بَشَرًا رَّسُوۡلًا (۹۳)
مگر یوسړے راولیږلے سوے دنورو رسولانو په شان وَمَا مَنَعَ النَّاسَ او
نه وه منعه کړے داخلانو یعنے اهل دمکے اَنۡ یُّؤۡمِنُوۡۤا دے چه دوے ایمان راوړے
اِذۡ جَآءَهُمُ الۡهُدٰۤی په هغه وخت کښی چه دوی ته راغلے دحق بیان درسول
په شرابه سره اِلَّاۤ اَنۡ قَالُوۡۤا مگر دے منعه کړی وه چه دوے به ویل اَبَعَثَ اللّٰہُ
ایا خدای راولیږلے دی بَشَرًا رَّسُوۡلًا (۹۴) انسان رسول اوملایکه یے ولے نه
راولیږله قُلۡ لَّوۡ کَانَ فِی الۡاَرۡضِ ؕ دوے ته ووایه چه که وے په مځکه کښے مَلٰٓئِکَۃٌ
ملایکے د انسانانو پرځای یَّمۡشُوۡنَ مُطۡمَئِنِّیۡنَ چه دوے گرځیدلے سے په مځکه کښے
په آرام سره د انسانانو په شان لَنَزَّلۡنَا عَلَیۡهِمۡ نوخامخا به مودِ راولیږلے وه پر
دوے باندے مِّنَ السَّمَآءِ د اسمان څخه مَلَکًا رَّسُوۡلًا (۹۵) ملائکه استاذی حکمه چه
تناسب اونجانس "هم جنسولے" دے په تعلیم اوتعلم کښے نوخامخا هرکله چه په مځکه
کښے انسانان اوسیدل نوحکمه رسول هم انسان ورته راغلے قُلۡ کَفٰی بِاللّٰہِ
بیا ته وه وے ته ووایه چه بس دے خدای شَهِیۡدًۢا بَیۡنِیۡ وَبَیۡنَکُمۡ ؕ شاهد په
ما بین کښی زما اوستاسی اوشاهدی وخدای بنکاره کول د معجزو دے

پرلاس در سولؐ رانّهٗ بیشکه چه خدای کَانَ بِعِبَادِهٖ دوے پربنده کا نوخپلو باندے خَبِیْرًا بَصِیْرًا (۹۶) اگاه اوخبردار په پتو دودی بینا اولیدونکے دی پرښکارهٗ دو دوے وَمَنْ یَّهْدِ اللّٰهُ اوهرهغه څوک چه خدای لاس درښیی فَهُوَ الْمُهْتَدِ نوهغه برابره لاس پیدا کونکے دے وَمَنْ یُّضْلِلْ اوهرهغه څوک چه دی بے مګره کړے فَلَنْ تَجِدَ نوزده به نه کړے پیدا لَهُمْ اَوْلِیَآءَ دوے لره دوستان مدد کونکے مِنْ دُوْنِهٖ بیلهٔ خدایه وَنَحْشُرُهُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اومونږ به دوے راجمع کړو دقیامت په ورځ پراته عَلٰی وُجُوْهِهِمْ پرمخانوخپلو باندے عُمْیًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ړانده اوګونګیان اوکانه په سبب دخپلو اعمالو وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ځای ددوے دوزخ دے كُلَّمَا خَبَتْ هرکله چه کښینی اوتهیته سی لمبه یے زِدْنٰهُمْ سَعِیْرًا (۹۷) نوموږ به ددوے دپاره زیات کړو تیز اور ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ داعذاب ددوے جزاده بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰیٰتِنَا په سبب سره ددے چه دوے کافران سوے نږ موږ په ایاتو سره وَقَالُوْٓا اودوے به ویل ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ایا چه موږ خاورے اورژړیدلے هډوکی سو ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ایا نوموږ به بیا راښوندے سو خَلْقًا جَدِیْدًا (۹۸) په نوی پیدا ایښت سره اَوَلَمْ یَرَوْا ایا دوے نه وینی اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ چه بیشکه هغه خدای چه په قدرت کامله سره یے خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دے ده اسمانونه اومځکه سره دوه مره غټوالے اولویی دوی قَادِرٌ عَلٰٓی اَنْ یَّخْلُقَ هغه قادر دے پردے چه پیدا کړی مِثْلَهُمْ مثل ددوے یعنی دوی به بیا په هغه شان پیدا کړی ترمرګ ورسته وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا او مقرر کړی ده ده دوے لره یوه موده لَا رَیْبَ فِیْهِ چه هیڅ شك په هغه کښی نسته فَاَبَی الظّٰلِمُوْنَ نوغاړه نه کښینوونه ظالمانو سره د دلایلو «یعنی» دواضح کیدلوا اِلَّا كُفُوْرًا (۹۹) مګر په انکار کولو سره د بعث اود حشر څخه قُلْ ته ددے کفار وته ووایه لَّوْ

زمرګ ورسته راپورته کول ۱۲

اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ چه که تاسی مالکان او واکداران سی خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّیْ د خزانو
څخه د رونړی درب نه مایا د نوره و نعمتو اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ نو په دے وخت کښی
به هم خامخا تاسی بخل کوی خَشْیَةَ الْاِنْفَاقِ ط د پیسے څخه د فقر وَكَانَ الْاِنْسَانُ
قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾ او بخیل انسان جمع کونکی دی وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی او خامخا په تحقیق ع ۱۱
سره و رکړی دی موږ و موسےٰ نه تِسْعَ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ نهه معجزی بنکاره چه هغه
عصا "لکړه" او ید بیضاء "سپینه لاس" او جراد "ملخان" او قمل "سپرۍ" او ضفادع "چنګښی"
او دم "وینی" او حجر او بحر او پورته کول د کوه طور او بعضو پرځای د دې و روستنیو
درو طوفان او قحط او نقص د ثمراتو "کیدل دیسرو" و یلی دی فَسْـَٔلْ نو ته و
پوښته اے رسوله بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ یعنی عالمان د دوی د دے نوا یا تو په پاره کښی یاد
هغے واقعے څخه چه د موسےٰ او د فرعون په مینځ کښی تیره سوی وه اِذْ جَآءَهُمْ په هغه
وخت کښی چه موسےٰ د دوے ته راغلے فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ نو فرعون د دوی ته وویل
اِنِّیْ لَاَظُنُّكَ بیشکه چه زه خامخا پر تا گمان کوم یٰمُوْسٰی مَسْحُوْرًا ﴿۱۰۱﴾ اے موسیٰ
جادو کړه سوی او بیځایه کړه سوے د عقل تا نه قَدْ عَلِمْتَ بیا موسےٰ په جواب کښی
درته وویل چه خامخا په تحقیق سره ته پخپل نړه کښی پوهیږے چه کوم تلفظ
نه په کوی مَاۤ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ چه نه دے راولیږلے دا ټه معجزے اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ
مګر رب د اسمانو وَالْاَرْضِ بصائِرَ ۚ او د ځمکی بنکاره واضحه چه هر یو لے زما
پر صدق دلالت کوی وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ بیشکه چه زه خامخا پر تا گمان کوم یٰفِرْعَوْنُ
مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾ اے فرعونه د هلاک سوی یا د مغلوب یاد کم عقل فَاَرَادَ اَنْ
یَّسْتَفِزَّهُمْ نو اراده وکړه فرعون د دے چه ولاړ کړے او لیږے کړی موسےٰ او
قوم د ده مِّنَ الْاَرْضِ د ځمکی څخه د مصر فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ نو موږ غرق
کړے د ی او نور هغه څوک چه د ده سره وه جَمِیْعًا ﴿۱۰۳﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ
او موږ وویل ور وسته تر غرقیدو د ده لِبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ و

بنی اسرائیلو ته چه اوس اوسی په دے محکم کښی د مصرچه دوے تاسی څخه
ایستلاست فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ نو په هغه وخت کښی چه راغله وعده د
اخرت یعنی د قیامت جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ﴿۱۰۴﴾ نو تاسے به راولو سره گډ وډ یعنے دواړه
ډلی سبطیان او قبطیان چه حق وحقدار ته وسپارو وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ اوپه حق
او په راستی سره راليږلے دے موږ د قرآن وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ط او په حق او په
راستی سره کښته سوی او نازل سوی دی یعنے ابتداء او انتهاء یے دواړه د شیطان
دتصرف څخه محفوظ دی وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ او نه یے راليږلے موږ ته اِلَّا مُبَشِّرًا مگر
زېرې کوونکے پرفرمانبردارو باندے د جنت وَّنَذِيْرًا ﴿۱۰۵﴾ او بېرووونکے د ګنهګارانو
د دوزخ څخه وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ او د قرآن تاریه تار موږ راليږلے دی یعنی آیت
آیت او سورت سورت لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ د وے د پاره چه ته یے پرخلګو واړے
عَلٰى مُكْثٍ په څنډ او په مهلت سره چه حفظ او یاد ول یے پرده وی اسانه وی
وَنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ﴿۱۰۶﴾ او موږ د قرآن راليږلے دے یے راليږلو سره په حسب د حوادثو
یعنے هروخت چه کومه حادثه اووا قعه پیښیه سویده نو په قدر د دو فقه کولو هغه
حادثے پوه تر ته او حصه څنی راغلے ده او په درویشتو کالو کښی تمام سویدے
قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ ته ووایه چه پرده قرآن ایمان راوړی اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ط
یا ایمان نه پرراوړے یعنے اختیار می تاسی ته درکړی دے نوچه نعمتونه اخلی
او که عذابونه اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه علم ورکړه سوی دی
مِنْ قَبْلِهٖٓ مخکی ترنازله لیدلو دے قرآن لکه ابن سلام د څلورملګرو سره د یهود واو
نجاشی د څلورملګرو سره د نصارٰی وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ په هغه وخت کښی چه ویل
سی اوه لوستل سے پرده د قرآن يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ نو سنګر پرپوزی دے
پرخپلو نرنګنو پرمحکم باندے څپلو تندیا نوسره سُجَّدًا ﴿۱۰۷﴾ په دے حال کښی
چه سجده کوونکے وی د تعظیم د پاره د امر د خدای یا د پاره د پرځای کولو د

هغه وعده وشوه چه دوے په تورات او په انجیل کښی لیدلے وی
د نبی علیه السلام د راتلو او د قرآن د نازلیدو وَيَقُولُونَ او دوی وائی
سُبْحٰنَ رَبِّنَا پاکی ده ذات د رب زمونږ لره د مخالفت کولو څخه د
خپلی وعدے اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا بیشکه چه ده وعده د رب
زمونږ لَمَفْعُولًا ﴿۱۰۸﴾ خامخا واقع کیدونکی ده وَيَخِرُّونَ لِلْاَذْقَانِ
اونسکوړ «پرمخ» پریوزے پرخپلو تندیو نو باندی او تکرار د خزوع
دوو حالو د پاره دے چه یوه سجده ده او بله بکاء «ژړا» ده لکه
چه وائی يَبْكُونَ چه دوی ژاړی د خدای د بیری څخه وَ السجدة
يَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿۱۰۹﴾ اوزیاتوے ورته دوی ته اوریدل د دی قرآن
تواضع او شکستگی «ماتیدل» د نفس روائیت دے چه هرکله
مشرکانو د رسول علیه السلام څخه واوریدله چه یا الله یا رحمٰن نو دوے
ووئیل چه دے خو پخپله موږ دوو خدایانو څخه منعه کوی
او دے پخپله دوه بولے نو نازل سو قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ ته ووایه
ته دوو چه خدای دالله په نامه سره بولے اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ
یا د رحمٰن په نامه سره بولی اَيًّا مَّا تَدْعُوا په هر
یوه چه یے بولے یعنی که په الله سره وے او که په رحمٰن
سره وے او که په نورو نومونو سره وے خوچه دے بولی فَلَهُ
الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ج نو ده لره ښه ښه نومونه دی

عه یعنی د یخرون لفظ
د وه واړه سره اوریدل دوو
حالونو پسره د دے ۲

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلٰوتِكَ او په جهر سره لوستنه مه وایه قرائت په لمانځه کښی چه مشرکان به مسخره درپورے کوی وَلَا تُخَافِتْ بِهَا او دا سے کوار یے او پست یې هم مه وایه دا قرائت چه مقتدیان دی هم نه اوری وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ اوطلبوه دجهر او مخافت په مینځ سَبِيْلًا ﴿۱۱۰﴾ میانه لاره وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ او دا وویایه چه ثناهنه خدای لره ده لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا چه ده اولاد نه ده نیولے لکه یهود او نصاریٰ چه وایی وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ اونسته ده لره شَرِيْكٌ فِی الْمُلْكِ شریك په پاچاهی کښی لکه مشرکان چه وایی وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ اونسته ده لره وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ یو دوست د ځمکنتوب دعاجزی چه مدګاری ورسره وکړے وَكَبِّرْهُ او ددده لویی وایه ډیره وډیره ښه تکبیر ﴿۱۱۱﴾ په لویو یلو سره:

سُبْحٰنَ رَبِّیَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○

خاتمه تصنیف و اختتام تفسیر و اعتذار از قصور مصنف عفا الله عنه از جانب خود

صد هزاران حمد گویم از خداوند نصیر		آنکه آسان میکند بر بنده کارش هر عسیر
آن خداوندے که محض از فضل خود توفیق داد		بهرم از تصنیف اول جلد تفسیر بیر
من زبیضاوی مدارک جمدی هم از ذخیر		واز جلالین وحسینی اخذ وی کردم چو شیر
ختم شد در ماه کم نه سال تصنیفش به خیر		خالق این سعی را بالطف خویش از من پذیر
سال صاعز ظهر شنبه پنجم ماه صیام		دارم از وهاب امید عطاهای کثیر
خاصه جب ذات و رضوان مغفرت قلب سلیم	۱۰-۹-۲۰۰۹	هم حیوة جاودان اخلاص وصدق مستنیر

گرچه تو بس شرمسار و روسیاه ای مرداد
از کریم است و کریم و دل نواز هر حقیر

مسمی محمد لاہور
۱۰-۹-۲۰۰۹